بسم الله الرحمن الرحیم

تفسیر دیوبندي

۳

تفسیر دیوبندي

مرتب

الحاج مولوي عبدالحنان

فاضل جامعة العلوم الإسلامیة بنوري ټاون

معاون

احمد یاسین

انجنیر عبدالرحیم

مکتبه حبیبیه

کندهار


اقرأ باسم
ربك الذي خلق
۱۴
۳۸
باور کتابتون
BAWAR KETABTOON

فهرست

د تفسیر دیوبندي اصل په دوو (۲) ټوکو کښي چاپ سوی دی، البته د ډېر حجم پر بنیاد مو دغه پي ډي ایف کاپي په څلورو ټوکو باندي وویشی.

جلد اول (۱)

جلد دوهم (۲)

جلد دریم (۳)

جلد څلورم (۴)

قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكَ اِنَّكَ لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ مَعِىَ صَبۡرًا ﴿٧٥﴾

قَالَ	اَلَمۡ اَقُلۡ	لَّكَ	اِنَّكَ	لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ	مَعِىَ	صَبۡرًا
نو وويل	آيا مانهٔ ويلي	تاته	چې بيشكه! ته	له سره به ونه كړې سې طاقت	له ما سره	د صبر

نو وويل (خضر موسىٰ ته) آيا مانهٔ ويلي تاته چې بيشكه! ته له سره به ونه كړې سې طاقت له ما سره د صبر.

قَالَ اِنۡ سَاَلۡتُكَ عَنۡ شَىۡءٍۢ بَعۡدَهَا فَلَا تُصٰحِبۡنِىۡ‌ۚ

قَالَ	اِنۡ سَاَلۡتُكَ	عَنۡ شَىۡءٍۢ	بَعۡدَهَا	فَلَا تُصٰحِبۡنِىۡ
نو وويل (موسىٰ)	كه چيرې وپوښتم زه تا	د څه شي	وروسته له دې سؤاله	پس ملګرتيا مه كوه له ما سره

نو وويل (موسىٰ) كه چيرې وپوښتم زه تا (اې خضره) د څه (منكر) شي وروسته له دې سؤاله پس ملګرتيا مه كوه له ما سره

قَدۡ بَلَغۡتَ مِنۡ لَّدُنِّىۡ عُذۡرًا ﴿٧٦﴾ فَانۡطَلَقَا‌ ۗ حَتّٰٓى اِذَاۤ اَتَيَاۤ اَهۡلَ

قَدۡ	بَلَغۡتَ	مِنۡ لَّدُنِّىۡ	عُذۡرًا	فَانۡطَلَقَا	حَتّٰٓى	اِذَاۤ	اَتَيَاۤ	اَهۡلَ
په تحقيق	ورسيدې ته	له طرفه زما	عذر ته	بيا روان سول دواړه	ترهغه پورې	كله چې	راغلل	اهل

په تحقيق ورسيدې ته له طرفه زما (حد د) عذر ته. بيا روان سول دواړه ترهغه پورې كله چې راغلل اهل

قَرۡيَةِ اِسۡتَطۡعَمَاۤ اَهۡلَهَا فَاَبَوۡا اَنۡ يُّضَيِّفُوۡهُمَا

قَرۡيَةِ	اِسۡتَطۡعَمَاۤ	اَهۡلَهَا	فَاَبَوۡا	اَنۡ	يُّضَيِّفُوۡهُمَا
ديوه كلي ته	نو طعام وغوښت دوى	له خلكو دهغه څخه	پس منع راوړه	له دې څخه	چې ميلمستيا وركړي دغه خلک دوى ته

ديوه كلي ته نو طعام وغوښت دوى له خلكو دهغه (كلي) څخه پس منع راوړه له دې څخه چې ميلمستيا وركړي دغه خلک دوى ته

فَوَجَدَا فِيۡهَا جِدَارًا يُّرِيۡدُ اَنۡ يَّنۡقَضَّ فَاَقَامَهٗ‌ ؕ قَالَ

فَوَجَدَا	فِيۡهَا	جِدَارًا	يُّرِيۡدُ	اَنۡ يَّنۡقَضَّ	فَاَقَامَهٗ	قَالَ
بيا پيدا كړ دوى (دواړو)	په هغه كښې	يو ديوال	چې اراده ئې وه	چې ونړيږي	پس سم كړ (خضر) هغه ديوال	وويل (موسىٰ)

بيا پيدا كړ دوى (دواړو) په هغه كلي كښې يو ديوال چې اراده ئې وه چې ونړيږي پس سم كړ (خضر) هغه ديوال وويل (موسىٰ)

لَوۡ شِئۡتَ لَتَّخَذۡتَ عَلَيۡهِ اَجۡرًا ﴿٧٧﴾ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيۡنِىۡ

لَوۡ شِئۡتَ	لَتَّخَذۡتَ	عَلَيۡهِ	اَجۡرًا	قَالَ	هٰذَا	فِرَاقُ	بَيۡنِىۡ
كه اراده كړې وى تا	نو خامخا به دې اخيستي وى	پر دغه	مزدوري	وويل (خضر)	دادې	وخت د بيلتون	په مينځ زما

كه اراده كړې وى تا (داخيستلو د اجر) نو خامخا به دې اخيستي وى مزدوري. وويل (خضر) دادې وخت د بيلتون په مينځ زما

قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكَ اِنَّكَ لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ... حضرت موسى عليه السلام چې كله دعادت سره نا اشنا عمل وليدى نو سوال يي وكى :

حضرت خضر عليه السلام چې كله دموسى عليه السلام سوال او اعتراض وليدى نو ورته يي وويل چې آيا ماتاته نه وه ويلي چې ته به زما سره صبر ونه كړى سې موسى عليه السلام ورته وفرمايل چې خير دا وار بيا معافي وكړه ليكن كه ددې واري وروسته ما ستا څخه ديوې خبرې پوښتنه وكړه نو ته بيا ما دځان سره مه ساته بيشكه ته به زما دطرف څخه انتها دعذر ته رسيدلى يي په دې وار حضرت موسى عليه السلام دهيري عذر پيش نه كى ددې څخه معلوميږي چې دا سوال دوى قصدا دخپل پيغمبرانه حيثيت مطابق كړى وو بيا دوى دواړه مخكې روان سول تر دې چې ديو كلي خلګو ته راغلل نو ددغه كلي دخلګو څخه يي خوراک وغوښتى چې موږ ميلمانه يو نو هغوى ددوى دميلمنو كولو څخه انكار وكړى په دې كې بيا دوى هلته يو ديوال وليدى كم چې نړيدو ته نژدې وو نو دغه بزرګ يعني حضرت خضر عليه السلام دلاس په اشاره سره : **پاته بيان پر راروان مخ وګورى :**

اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ... د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری: په طور د خرق عادت هغه سیده کی موسی علیه السلام وفرمایل چي که تا غوښتلای نو پر دې کار به دي اجرت اخیستی وای چي دا وخت به زموږ کار هم په سوی وای او د دوی د به خوی اصلاح به هم سوې وای دې بزرګ وویل اوس زما او ستا د جدا کیدو وخت دی لکه چي تا مخکې دا شرط په خپله اینبی وو او س زه دې شیانو حقیقت تا ته ښیم چي ستا څخه صبر و نه سو. **(فایده)** هغه کلی پر کم چي حضرت موسی علیه السلام او حضرت خضر علیه السلام راغلي وه د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه په نزد داد انطاکیه کلی دی او د ابن سیرین رحمة الله علیه په نزدد ایکه کلی دی او د حضرت ابو هریره رضی الله عنه په نزد دا داندلس کلی دی: پاته سو د دغو شیان حقیقت څه وو؟ هغه دا دی هغه کښتی چي موږ ماته کړه نو هغه دیو خو غریبانو خلګو وه چي د دې په ذریعه به یي په دریاب کي محنت او مزدوري کوله او په دې یي د کور ګذاره روانه وه پس ما وغوښتل چي عیبنا که یه کړم وجه د دې داوه: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾

وَبَيْنِكَ	سَأُنَبِّئُكَ	بِتَأْوِيْلِ	مَا	لَمْ تَسْتَطِعْ	عَّلَيْهِ	صَبْرًا
او په مینځ ستا کښې	اوس به زر خبر کړم تا	په مطلب	د هغه کار	چې ونه کړی سو طاقت تا	په هغه باندې	د صبر

او په مینځ ستا کښې اوس به زر خبر کړم تا (موسیٰ) په غرض (مطلب) د هغه کار چې ونه کړی سو تا طاقت په هغه باندې د صبر

اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ فِي الْبَحْرِ فَاَرَدْتُّ

اَمَّا السَّفِيْنَةُ	فَكَانَتْ	لِمَسٰكِيْنَ	يَعْمَلُوْنَ	فِي الْبَحْرِ	فَاَرَدْتُّ
هر څه هغه بیړی	نو وه	د پاره د هغو عاجزانو	چې کار به ئې کاوه	په بحر کښې	نو وغوښته ما

هر څه هغه بیړی (چې ماسورئ کړې وه) نو وه د پاره د هغو عاجزانو چې کار به ئې کاوه په بحر (سیند) کښې ،نو وغوښته ما

اَنْ اَعِيْبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ

اَنْ اَعِيْبَهَا	وَكَانَ	وَرَآءَهُمْ	مَّلِكٌ	يَّاْخُذُ	كُلَّ	سَفِيْنَةٍ
چې عیب جنه	حال دا چې ؤ	په مخکې د دوی	یو پاچا	چې اخیسته به ئې	هره	یوه بیړی

چې عیب جنه کړم هغه حال دا چې په مخکې د دوی (ؤ لږ څه لرې له دوی څخه) یو پاچا چې اخیسته به ئې هره یوه بیړی

غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَاَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَآ اَنْ يُّرْهِقَهُمَا

غَصْبًا	وَاَمَّا	الْغُلٰمُ	فَكَانَ	اَبَوٰهُ	مُؤْمِنَيْنِ	فَخَشِيْنَآ	اَنْ يُّرْهِقَهُمَا
په زور سره	او هر څه	هلک	پس وه	مور او پلار د ده	مؤمنان	پس وبیریدو موږ	له دې چې غالب به سی پر دوی

په زور سره (نو ځکه می سورئ کړه). او هر څه هلک پس وو مور او پلار د ده مؤمنان پس وبیریدو موږ له دې چې غالب به سی پر دوی

طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَاَرَدْنَآ اَنْ يُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا

طُغْيَانًا	وَّكُفْرًا	فَاَرَدْنَآ	اَنْ يُّبْدِلَهُمَا	رَبُّهُمَا
په سرکشی	او کفر کښې	نو وغوښته موږ	دا چې بدل ورکړی دوی ته	رب د دوی

(مکلف به کړی دغه هلک) دوی په سرکشی او کفر (که ژوندی وی). نو وغوښته موږ دا چې بدل ورکړی دوی ته رب د دوی

خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَاَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ

خَيْرًا	مِّنْهُ	زَكٰوةً	وَّاَقْرَبَ	رُحْمًا	وَاَمَّا	الْجِدَارُ	فَكَانَ
بهتر	له دې هلک څخه	په پاکی کښې	او ډیر نژدې به وی	له جهته د رحم مهربانی	او هر څه (هغه)	دیوال	پس ؤ

(غوره) له دې هلک څخه په پاکی کښې (صلاح) او ډیر نژدې به وی له جهته د رحم مهربانی. او هر څه (هغه) دیوال پس ؤ

لِغُلٰمَيۡنِ يَتِيۡمَيۡنِ فِي الۡمَدِيۡنَةِ وَكَانَ تَحۡتَهٗ كَنۡزٌ لَّهُمَا

لِغُلٰمَيۡنِ	يَتِيۡمَيۡنِ	فِي الۡمَدِيۡنَةِ	وَكَانَ	تَحۡتَهٗ	كَنۡزٌ لَّهُمَا
دهغو دوو هلكانو	يتيمانو	په (هغه) ښاركښې	او ؤ	لاندې دهغه (ديوال)	خزانه دغو دواړو

دهغو دوو هلكانو يتيمانو په (هغه) ښاركښې او ؤ لاندې د هغه (ديوال) خزانه د دغو دواړو

وَكَانَ اَبُوۡهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنۡ يَّبۡلُغَاۤ اَشُدَّهُمَا

وَكَانَ	اَبُوۡهُمَا	صَالِحًا	فَاَرَادَ	رَبُّكَ	اَنۡ يَّبۡلُغَاۤ	اَشُدَّهُمَا
او ؤ	پلار ددوى	صالح	نو اراده وكړه	رب دتا	چې ورسيږى	قوت (دځلميتوب) خپلو ته

او ؤ پلار د دوى صالح، نو اراده وكړه رب د تا چې ورسيږى (دغه دواړه) قوت (د ځلميتوب) خپلو ته

وَيَسۡتَخۡرِجَا كَنۡزَهُمَا ۖ رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلۡتُهٗ

وَيَسۡتَخۡرِجَا	كَنۡزَهُمَا	رَحۡمَةً	مِّنۡ رَّبِّكَ	وَمَا فَعَلۡتُهٗ
اوبيا ئې راوباسي	هغه خزانې خپل	له جهته درحم مهربانى	له جانبه د رب دتا	او نه دي كړي ما دغه تير اعمال

او بيا ئې راوباسي هغه (ښخې كړې) خزانې خپلې له جهته د رحم مهربانى له جانبه د رب دتا، او نه دي كړي ما دغه تير اعمال

عَنۡ اَمۡرِيۡ ؕ ذٰلِكَ تَاۡوِيۡلُ مَا لَمۡ تَسۡطِعۡ عَّلَيۡهِ صَبۡرًا ﴿٨٢﴾ ع

عَنۡ اَمۡرِيۡ	ذٰلِكَ	تَاۡوِيۡلُ	مَا	لَمۡ تَسۡطِعۡ	عَّلَيۡهِ	صَبۡرًا
له خپله ځانه	دغه دى (درى واړه)	جوابونه	دهغوپيبنو	چې طاقت نسو كولى تا	پر هغه	دصبر

له خپله ځانه (او په حكم او فكر خپل) دغه دى (درى واړه) جوابونه د هغو پيښو چې طاقت نسو كولى تا پر هغه دصبر.

ع ۱۰ / ۱۲

وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنۡ ذِي الۡقَرۡنَيۡنِ ؕ قُلۡ سَاَتۡلُوۡا عَلَيۡكُمۡ

وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ	عَنۡ	ذِي الۡقَرۡنَيۡنِ	قُلۡ	سَاَتۡلُوۡا	عَلَيۡكُمۡ
او پوښتنه كوى مشركان له تا څخه	له قصى	د ذوالقرنين	ووايه (اى محمده!)	اوس به زه ووايم	پرتاسى

او پوښتنه كوى مشركان (په ښوولو د يهودانو) له تا څخه له قصى د ذوالقرنين، ووايه (محمده!) اوس به زه ووايم پر تاسى

مِّنۡهُ ذِكۡرًا ﴿٨٣﴾ؕ اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِي الۡاَرۡضِ وَاٰتَيۡنٰهُ مِنۡ كُلِّ شَيۡءٍ

مِّنۡهُ	ذِكۡرًا	اِنَّا	مَكَّنَّا	لَهٗ	فِي الۡاَرۡضِ	وَاٰتَيۡنٰهُ	مِنۡ كُلِّ شَيۡءٍ
له ده	څه احوال	بيشكه! چې موږ	قدرت وركړى ؤ	ده ته	په ځمكه كښې	او وركړى ؤ موږ ده ته	له هر شي څخه

له ده څه احوال. بيشكه! چې موږ قدرت وركړى ؤ ده ته په ځمكه كښې او وركړى ؤ موږ ده ته (له هر محتاج اليه) شي څخه

لِغُلٰمَيۡنِ يَتِيۡمَيۡنِ فِي الۡمَدِيۡنَةِ وَكَانَ... دتير مخ پاته بيان دلته وګورى:
چي په دې خلګو يو ظالم پاچا پسي وو چي هره يوه ښه كښتى به يي په زرو نيوله كه ما په ظاهره كښتى بې عيبه كړې نه واى نو دا كښتى به يي هم ورڅخه اخيستې واى او ددې غريبانو دمزدورى آسره به هم ختمه سوې واى په دې وجه په ماتولو كي يي دا مصلحت وو او پاته سو هغه هلک پس دده مور او پلار ايمانداره وه او كه دى لوى سوى واى نو كافر ظالم به واى او دمور او پلار دده سره ډير محبت وو پس زمونږ سره بيره پيدا سوه چي دى په دوى دواړو د سركښى او كفر اثر وانه چوي يعني دزوى په محبت كي دوى هم بې دينه نه سي پس مونږ ته دا منظوره سوه چي دده خبره ختمه سي بيا دده په بدله كي ددوى پروردګار دوى ته داسي اولاد وركى برابره خبره ده كه هلک وي او كه انجلى وي كم چي په پا كيزګي يعني دين كي دده څخه ښه وي او دمور او پلار سره په محبت كولو كي دده څخه زيات وي يعني دمور او پلار به زيات تابع او فرمانبرداره وي:
(معارف القرآن ج ۶ پ ۱۶ ص ۱)

سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَاَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ

سَبَبًا	فَاَتۡبَعَ	سَبَبًا	حَتّٰٓى	اِذَا بَلَغَ	مَغۡرِبَ
یوه لاره	پس ونیوله ده	لاره	ترهغه پورې	چې ورسید	ځای د پریوتلو

یوه لاره (روښانه رسوونکی مقصد ته). پس ونیوله ده لاره، ترهغه پورې چې ورسید ځای د پریوتلو

الشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِىۡ عَيۡنٍ حَمِئَةٍ وَّوَجَدَ عِنۡدَهَا

الشَّمۡسِ	وَجَدَهَا	تَغۡرُبُ	فِىۡ عَيۡنٍ	حَمِئَةٍ	وَّوَجَدَ	عِنۡدَهَا
دلمر ته	نو پیدا یئ کړی دغه (لمر)	چې ډوبیده	په چینه کښې	له تورو خټو	او پیدا یئ کړی	نژدې هغه ته

د لمر ته نو پیدا یئ کړی دغه (لمر) چې ډوبیده په (لویه) چینه کښې (لکه سیند ډک) له تورو خټو، او پیدا یئ کړی نژدې هغه ته

قَوۡمًا ؕ قُلۡنَا يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ اِمَّاۤ اَنۡ تُعَذِّبَ

قَوۡمًا	قُلۡنَا	يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ	اِمَّاۤ اَنۡ تُعَذِّبَ
یو قوم (دکفارو)	وویل موږ	ای ذوالقرنینه	یا خو په عذاب کړه دغه خلګ

یو قوم (دکفارو)، وویل موږ ای ذوالقرنینه یا خو په عذاب کړه دغه خلګ (که ایمان رانه وړی په قتل سره)

وَاِمَّاۤ اَنۡ تَتَّخِذَ فِيۡهِمۡ حُسۡنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ اَمَّا مَنۡ ظَلَمَ فَسَوۡفَ

وَاِمَّاۤ اَنۡ تَتَّخِذَ	فِيۡهِمۡ	حُسۡنًا	قَالَ	اَمَّا	مَنۡ ظَلَمَ	فَسَوۡفَ
او یا ونیسه	په دوی کښې	یوه ښه لاره	نو وویل	هرڅه	هغه څوک چې ظلم ئی وکړ	پس ژر به

او یا ونیسه په دوی کښې یوه ښه لاره (که ایمان راوړی). نو وویل (ذوالقرنین) هرڅه هغه څوک چې ظلم ئی وکړ پس ژر به

نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكۡرًا ﴿٨٧﴾

نُعَذِّبُهٗ	ثُمَّ	يُرَدُّ	اِلٰى رَبِّهٖ	فَيُعَذِّبُهٗ	عَذَابًا	نُّكۡرًا
په عذاب کړو دی	بیا به	بوتلی سی	طرف د رب خپل ته	پس په عذاب به کړی (الله) دی	په عذاب	لوی سره

په عذاب کړو دی (په دنیوی عذاب) بیا به بوتلی سی (طرف د) رب خپل ته پس په عذاب به کړی (الله) دی په عذاب لوی سره.

وَاَمَّا مَنۡ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨالۡحُسۡنٰى ۚ وَسَنَقُوۡلُ

وَاَمَّا مَنۡ	اٰمَنَ	وَعَمِلَ	صَالِحًا	فَلَهٗ	جَزَآءَ	الۡحُسۡنٰى	وَسَنَقُوۡلُ
او هر هغه چې	ایمان ئی راوړ	او عمل ئی وکړ	دنیکو	پس ده ته ده	جزا	نیکه	او ژر ده چې وبه وایو

او هر هغه چې ایمان ئی راوړ او عمل ئی وکړ صالح (دنیکو) پس ده ته ده جزا نیکه. او ژر ده چې وبه وایو

فَاَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ الشَّمۡسِ
ذوالقرنین څوک وو؟ په کمه زمانه او کم ملک کې وو؟ او ده ته ذوالقرنین ولې وایي؟ دذوالقرنین نوم ولې ذوالقرنین دی؟ ددې په وجه کې ډېر شمیره مختلف اقوال دي ځینې وایي چې دده دوې څوڼې وې په دې وجه ورته ذوالقرنین وایي ځینې وایي چې دی دمشرق او مغرب پر ملکونو حکمران سو په دې وجه ورته ذوالقرنین وایي: او ځینې بیا وای چې دده دسرپر دواړه طرفونو باندې دزخم نښانونه وه په دې وجه ورته ذوالقرنین وایي: او ځینې بیا وایي چې دده په سرکې څه داسې نښانې وې لکه ښکرونه چې دي په دې وجه ورته ذوالقرنین وایي: مګر دومره خبره خو متعینه ده چې قرآن کریم په خپله دده نوم ذوالقرنین نه دی ایښی بلکې دا نوم یهودو ایښی دی په دوی کې په دغه نامه سره دی مشهور وو دذوالقرنین دواقعې چې څومره حصه قرآن کریم ښوولې ده هغه یوازې دومره ده چې هغه یو نیک صالح عادل پاچا وو چې مشرق او مغرب ته ورسیدی او دا ملکونه یې فتح کړل او په دوی کې یې په عدل او انصاف سره حکمراني وکړه الخ.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص ۱۲)

لَهٗ مِنۡ اَمۡرِنَا يُسۡرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ

لَهٗ	مِنۡ اَمۡرِنَا	يُسۡرًا	ثُمَّ	اَتۡبَعَ	سَبَبًا	حَتّٰۤى	اِذَا	بَلَغَ
ده ته	له کاره خپله	آسانه	بیا ئی	ونیوله	بلەلاره	ترهغه پوری	کله چی	ورسید ځای

ده ته له کاره خپله آسانه (په ده باندی). بیا ئی ونیوله بلەلاره. ترهغه پوری کله چی ورسید ځای

مَطۡلِعَ الشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَطۡلُعُ عَلٰى قَوۡمٍ لَّمۡ نَجۡعَلۡ لَّهُمۡ

مَطۡلِعَ	الشَّمۡسِ	وَجَدَهَا	تَطۡلُعُ	عَلٰى قَوۡمٍ	لَّمۡ نَجۡعَلۡ	لَّهُمۡ
دراختولو	دلمرته	نو پیدا یئ کړ هغه (لمر)	چی راختی	پر یوه قوم باندی	چی نه وه گرځولی موږ	دوی ته

دراختولو د لمرته نو وئی موند هغه (لمر) چی راخوت پر یوه قوم باندی چی نه وه گرځولی موږ دوی ته

مِّنۡ دُوۡنِهَا سِتۡرًا ﴿٩٠﴾ كَذٰلِكَ ؕ وَقَدۡ اَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ

مِّنۡ دُوۡنِهَا	سِتۡرًا	كَذٰلِكَ	وَقَدۡ	اَحَطۡنَا	بِمَا لَدَيۡهِ
له لاندی د دی (لمر)	کومه پرده	هم داسی	او په تحقیق	احاطه کړی و موږ	په هغه شی باندی چی د ده څخه ؤ

له لاندی د دی (لمر) کومه پرده. هم داسی ؤ (حال د ذوالقرنین) او په تحقیق احاطه کړی و موږ په هغه شی باندی چی د ده څخه ؤ

خُبۡرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ بَيۡنَ السَّدَّيۡنِ

خُبۡرًا	ثُمَّ	اَتۡبَعَ	سَبَبًا	حَتّٰۤى	اِذَا بَلَغَ	بَيۡنَ	السَّدَّيۡنِ
له جهته د خبردارئ	بیا	ونیوله ده	بلەلاره	ترهغه پوری	چی ورسید	مینځ	د دواړو غرونو ته

له جهته د خبردارئ. بیا ونیوله ده بلەلاره (اوتیارئی کړ نور اسباب)، ترهغه پوری چی ورسید مینځ د دواړو غرونو ته

وَجَدَ مِنۡ دُوۡنِهِمَا قَوۡمًا ۙ لَّا يَكَادُوۡنَ يَفۡقَهُوۡنَ

وَجَدَ	مِنۡ دُوۡنِهِمَا	قَوۡمًا	لَّا يَكَادُوۡنَ	يَفۡقَهُوۡنَ
نو پیدا یی کړ	وړاندی د دغو دواړو (غرونو)	داسی قوم	چی نهٔ نژدی	چی وپوهیږی

نو پیدا یی کړ وړاندی د دغو دواړو (غرونو) داسی قوم چی نهٔ نژدی (اکثر ددوی) چی وپوهیږی

قَوۡلًا ﴿٩٣﴾ قَالُوۡا يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ اِنَّ يَاۡجُوۡجَ وَمَاۡجُوۡجَ مُفۡسِدُوۡنَ

قَوۡلًا	قَالُوۡا	يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ	اِنَّ	يَاۡجُوۡجَ	وَمَاۡجُوۡجَ	مُفۡسِدُوۡنَ
په خبره باندی	وویل دغو	ای ذوالقرنینه!	بیشکه! چی	یاجوج	اوماجوج	فساد کوونکی دی

په خبره (د ذوالقرنین) باندی. وویل دغو (ترجمانانو) ای ذوالقرنینه! بیشکه! چی یاجوج او ماجوج فساد کوونکی دی

ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَطۡلِعَ.. دیاجوج او ماجوج متعلق دحدیثو روایتونه: دقرآن او حدیث دوضاحتونو څخه دومره خبره خو بیشکه ثابته ده چي یاجوج او ماجوج دانسانانو قومونه دي دعاموانسانانو په شان دحضرت نوح علیه السلام داولاد څخه دي: ځکه چي په قرآن کریم کي صریح نص دی (وجعلنا ذریته هم الباقین) یعني دحضرت نوح علیه السلام دطوفان څخه وروسته چي څومره انسانان پر مځکه باندي باقي پاته دي او اوسي دغه ټول دحضرت نوح علیه السلام داولاد څخه دي: حدیث شریف کي دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي یوه ورځ دسهار په وخت کي ددجال ذکر وفرمایي او په دې ذکر کي یي ځیني خبري دده متعلق داسي وفرمایلې چي دکمو څخه دده سپکوالی او ذلیل والی معلومیدی مثلا داچي په یوه سترگه به ړوندوي او ځیني خبري یي دده متعلق داسي وفرمایلې چي دهغه څخه معلومیده چي دده فتنه به ډیره سخته اوعظیمه وي مثلاجنت او دوږخ به ورسره وي او نورداسي خوارق عادت شیان: پاته حدیث پر راروان مخ باندي وگوری.

فِي الْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰٓ أَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا

فِي الْأَرْضِ	فَهَلْ	نَجْعَلُ	لَكَ	خَرْجًا	عَلَىٰٓ	أَنْ تَجْعَلَ	بَيْنَنَا
په مځکه کښې	پس آیا	مقرر کړو	تاته	څه مال	په دې شرط چې	جوړ کړې ته	په مینځ زموږ

په مځکه کښې پس آیا (حکم کوی ته چې) مقرر کړو تاته څه مال په دې شرط چې جوړ کړې ته په مینځ زموږ

وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ

وَبَيْنَهُمْ	سَدًّا	قَالَ	مَا مَكَّنِّي	فِيهِ	رَبِّي	خَيْرٌ
او په مینځ د دوی کښې	یو دیوال	وویل	هغه چې اقتدار راکړی دی ماته	په هغه کښې	رب زما	خیر ډیر غوره دی

او په مینځ د دوی کښې یو دیوال. وویل (ذوالقرنین) هغه چې اقتدار راکړی دی ماته په هغه (شی) کښې رب زما خیر ډیر غوره دی

فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

فَأَعِينُونِي	بِقُوَّةٍ	أَجْعَلْ	بَيْنَكُمْ	وَبَيْنَهُمْ
پس مرسته وکړئ تاسی له ماسره	په قوت سره	چې جوړ کړم	په مینځ د تاسی	او په مینځ د دوی کښې

پس مرسته وکړئ تاسی له ما سره (په زیار) په (انسانی) قوت سره چې جوړ کړم په مینځ د تاسی او په مینځ د دوی کښې

رَدْمًا ﴿٩٥﴾ آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ

رَدْمًا	آتُونِي	زُبَرَ	الْحَدِيدِ	حَتَّىٰٓ	إِذَا سَاوَىٰ	بَيْنَ
یو محکم دیوال	راوخلئ تاسی ماته	تختی	د اوسپنی	ترهغه پورې	چې برابر سو دا دیوال	په مینځ

یو محکم دیوال. راوخلئ تاسی ماته تختی د اوسپنی ترهغه پورې (ئې اینبودلې چې) برابر سو دا دیوال په مینځ

الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوا حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ

الصَّدَفَيْنِ	قَالَ	انْفُخُوا	حَتَّىٰٓ	إِذَا جَعَلَهُ	نَارًا	قَالَ
د دوو څوکو (دغرو)	نو وویل	چې پو کړئ!	ترڅو چې	وګرځوله دغه (اوسپنه)	اور	وویل (ذوالقرنین)

د دوو څوکو (دغرو) نو وویل (ذوالقرنین) چې پو کړئ! ترڅو چې وګرځوله دغه (اوسپنه) اور وویل (ذوالقرنین)

آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا اسْطَاعُوا أَنْ يَظْهَرُوهُ

آتُونِي	أُفْرِغْ	عَلَيْهِ	قِطْرًا	فَمَا اسْطَاعُوا	أَنْ يَظْهَرُوهُ
راوړی ماته	چې توئ کړم	پر دې دیوال	ژړ (ویلی سوی)	پس طاقت به نه وی د دوی	چې وخیژی پری

راوړی ماته چې توئ کړم په دې دیوال ژړ (ویلی سوی). پس طاقت به نه وی د دوی چې وخیژی پری

قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي. دتیرمخ پاته حدیث دلته وګوری:

دنبي کريم ﷺ دبيان څخه پر موږ باندي داسي بيره راغله چي ګواکي دجال دخرماوو په باغ کي دی يعني نږدې موجود دی کله چي موږ مابنام دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سونو دوی ﷺ زموږ دزړه په اثراتو باندي پوه سو او پوښتنه يي وکړه چي تاسي څنګه ګڼله؟ موږ عرض وکی چي تاسي ددجال ذکر کوی او ځيني خبري مو دده متعلق داسي وفرمايلې چي په کمو سره دده معامله سپکه او آسانه معلوميده او ځيني خبري مو داسي وفرمايلې دکمو څخه چي معلوميده چي دده به لوی قوت وي دده فتنه به ډيره عظيمه وي موږ ته خو داسي محسوسه سوه چي دی زموږ په خوا کي دخرماوو په دې باغ کي موجود دی: نبي کريم ﷺ وفرمايل ستاسي په باره کي چي دکمو فتنو څخه زما بيره ده په دوی کي ددجال په نسبت نوري فتنې زياتي دبيري قابلي دي که زما په موجودګی کي هغه راووتې نو زه به يي په خپله مقابله وکړم: دحديث شريف پاته حصه پر راروان مخ وګوری.

وَمَا اسْطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ﴿۹۷﴾ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ

وَمَا اسْطَاعُوْا	لَهٗ	نَقْبًا	قَالَ	هٰذَا	رَحْمَةٌ	مِّنْ
او نه به طاقت وی د دوی	دغه ته	دسوری کولو	وویل (ذوالقرنین)	دغه	رحمت دی	له جانبه

اونه به طاقت وی د دوی دغه (غره) ته دسوری کولو. وویل (ذوالقرنین) دغه (اقتدار زمو پر په جوړولو دهغه) رحمت دی له جانبه

رَّبِّيْ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّيْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا ﴿۹۸﴾

رَّبِّيْ	فَاِذَا جَآءَ	وَعْدُ	رَبِّيْ	جَعَلَهٗ	دَكَّآءَ	وَكَانَ	وَعْدُ	رَبِّيْ	حَقًّا
درب زما	نو هر کله چی راغله	وعده	درب زما	نو وبه گرځوی دا	هوار برابر له مځکی سره	او ده	وعده	درب زما	حقه

د رب زما نو هر کله چی راغله وعده د رب زما نو وبه گرځوی دا (سد) هوار برابر له مځکی سره او ده وعده درب زما حقه .

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ وَّنُفِخَ

وَتَرَكْنَا	بَعْضَهُمْ	يَوْمَئِذٍ	يَّمُوْجُ	فِيْ بَعْضٍ	وَّنُفِخَ
او پری به ږدو	ځینی د دوی	په دغه ورځ کښی	چی موج به وهی	په ځینو نورو کښی	او پو به کړی سی

او پری به ږدو ځینی د دوی په دغه ورځ (دوتلو) کښی چی موج به وهی (له ډیره ازدحامه) په ځینو نورو کښی او پو به کړی سی

فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنٰهُمْ جَمْعًا ﴿۹۹﴾ وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ

فِي الصُّوْرِ	فَجَمَعْنٰهُمْ	جَمْعًا	وَّعَرَضْنَا	جَهَنَّمَ	يَوْمَئِذٍ
په شپیلی کښی	پس را جمع به کړو موږ دغه (مخلوقات)	ټول	او راوړاندی به کړو	جهنم	په دغی ورځی کښی

په صور (شپیلی) کښی پس راجمع به کړو موږ دغه (مخلوقات) ټول (لپاره د جزاء) او راوړاندی به کړو جهنم په دغی ورځی کښی

لِّلْكٰفِرِيْنَ عَرْضًا ﴿۱۰۰﴾ الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ فِيْ غِطَآءٍ

لِّلْكٰفِرِيْنَ	عَرْضًا	الَّذِيْنَ	كَانَتْ	اَعْيُنُهُمْ	فِيْ غِطَآءٍ
کافرانو ته	په وړاندی کولو سره	هغه کافران	چی وی (دزړه)	سترګی د دوی	په پرده کښی

کافرانو ته په وړاندی کولو سره (دپاره د هیبت). هغه کافران چی وی (د زړه) سترګی د دوی په پرده کښی (له ډیره غفلته)

عَنْ ذِكْرِيْ وَكَانُوْا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴿۱۰۱﴾ اَفَحَسِبَ

عَنْ ذِكْرِيْ	وَكَانُوْا	لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ	سَمْعًا	اَفَحَسِبَ
له یاده زما	او وه دوی	چی نه توانیدل	د اوریدلو	آیا ګمان کوی

له یاده زما او وه دوی چی نه توانیدل اوریدل (د کلام د حق له جهته د بغض د نبی). آیا ګمان کوی

قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ
فَاِذَا جَآءَ.. دتیر مخ پاته
حدیث دلته وګوری: او که
دجال زما څخه وروسته
راغی نو هر سړی به دخپل
وس مطابق دده مقابله
کوي اودده دمغلوبه کولو
کوشش به کوي الله جل جلاله به
زما په غیرموجودګی کي
دهر مسلمان ناصر او
مددګار سي دده نښانه
داده چي دغه یوځوان
سختو پیچلو ویښتو والا
دی دده یوه سترګه بوټه
راوتلي ده او په بله سترګه
ړوند دی او که زه دده
دقبیح او بدرنګه صورت
تشبیه دیو چاسره
ورکولای سم نو هغه
عبدالعزی ابن قطن دی
دادجاهلیت دزماني دبنو
خزاعة قبیلي یو بد شکله
سړی وو که په تاسي کي
یو مسلمان ددجال سره
مخامخ سي نو ده ته پکار
دي چي دسورت کهف
اولني ایتونه ووایي په دې
سره به ددجال دفتني څخه
محفوظه سي دجال به
دشام او عراق په مینځ کي
راووزي او هر طرف ته به
فساد راپیداکي ای دالله
جل جلاله بندګانو دده په مقابله
کي مضبوط او ثابت قدمه
اوسی موږ عرض وکی چي
یارسول الله صلی الله علیه وسلم هغه به پر
مځکه څومره موده وي ؟
پاته حدیث شریف پر
راروان مخ وګوری

۱۱ ع ۹ ۲

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اَنْ يَّتَّخِذُوْا	عِبَادِيْ	مِنْ دُوْنِيْٓ	اَوْلِيَآءَ
هغه کسان	چې کافران سوي دي	د دې چې نيسي دوی	بندګان زما	پرته له ما څخه	دوستان (معبودان)

هغه کسان چې کافران سوي دي د دې چې نيسي دوی بندګان زما (عيسیٰ، عزير، ملائک) پرته له ما څخه دوستان

اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ

اِنَّآ	اَعْتَدْنَا	جَهَنَّمَ	لِلْكٰفِرِيْنَ	نُزُلًا	قُلْ	هَلْ	نُنَبِّئُكُمْ
بيشکه! موږ	تيار کړې مو دی	جهنم	دپاره د کافرانو	ميلمستيا	ووايه (محمده!)	آيا	خبر کړو تاسی

بيشکه! موږ تيار کړې مو دی جهنم دپاره د کافرانو پر او (يا ميلمستيا). ووايه (ای محمد!) آيا خبر کړو تاسی

بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ﴿١٠٣﴾ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ

بِالْاَخْسَرِيْنَ	اَعْمَالًا	اَلَّذِيْنَ	ضَلَّ	سَعْيُهُمْ
په ډيرو سختو زيانکارانو باندی	له جهته د عمله	دوی هغه کسان دی	چې برباد سول	کوششونه د دوی

په ډيرو سختو زيانکارانو باندی له جهته د عمله. دوی هغه کسان دی چې ورک (اوتوی تللی) دی منډې د دوی

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾

فِي الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَهُمْ	يَحْسَبُوْنَ	اَنَّهُمْ	يُحْسِنُوْنَ	صُنْعًا
په دغه ژوندون	د دنيا کښې	حال دا چې دوی	ګمان کوی د دې	چې بيشکه! دوی	ښه کوی	کار (او عمل)

په دغه ژوندون په دنيا کښې، حال دا چې دوی ګمان کوی د دې چې بيشکه! دوی ښه کوی کار (او عمل)

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهٖ

اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِاٰيٰتِ	رَبِّهِمْ	وَلِقَآئِهٖ
دغه کسان	هغه کسان دی	چې کافران سوی دی	په آياتونو	د رب خپل	او په ملاقات د دغه (الله)

دغه کسان (چې بيرته يادسول) هغه کسان دی چې کافران سوی دی په آياتونو (دقدرت) د رب خپل او په لقاء د دغه (الله)

فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذٰلِكَ

فَحَبِطَتْ	اَعْمَالُهُمْ	فَلَا نُقِيْمُ	لَهُمْ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	وَزْنًا	ذٰلِكَ
پس باطل خراب سول	عملونه د دوی	پس و به نه دروو	دپاره د دوی	په ورځ	د قيامت کښې	تله	دغه

پس باطل خراب سول عملونه د دوی پس و به نه دروو د پاره د دوی په ورځ د قيامت کښې تله. (کار) دغه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ.. د تير مخ پاته حديث شريف دلته وګوری: دوی وفرمايل چې څلويښت ورځې به وي ليکن اوله ورځ به يې ديو کال برابر وي دوهمه ورځ به يې ديوې مياشتې برابر وي اودريمه ورځ به يې دهفتې برابر وي او باقي ورځې به يې دعامو ورځو برابر وي موږ عرض وکی چې يارسول الله ﷺ کمه ورځ چې دکال برابر وي ايا موږ به يوازي په دغه ورځ کې ديوې ورځې لمونځونه کوو؟ دوی ﷺ وفرمايل نه بلکې دوخت اندازه به کوی دپوره کال لمونځونه به اداء کول وي بيا موږ عرض وکی چې يارسول الله ﷺ دی به پر مځکه څومره په تيزی سره سفر کوي؟ وې فرمايل دهغه وريځې په شان به تيز روان وي په کمې پسې چې موافقه هوا لګيدلې وي نو دجال به پر يو قوم باندي راسي او دوی ته به دخپلې باطلې عقيدې دعوت ورکي هغوی به په ده ايمان راوړي نو دی به وريځو ته حکم ورکي نو هغه به اووه ريږي او مځکې ته به حکم ورکي هغه به سر سبزه او شادابه سي او ددوی حيوانان به په کښې څريږي: پاته حديث پر راروان مخ وګوری

جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ

جَزَآؤُهُمْ	جَهَنَّمُ	بِمَا	كَفَرُوْا	وَاتَّخَذُوْٓا	اٰيٰتِيْ	وَرُسُلِيْ
جزا د دوی ده	دوزخ	په سبب د دی	چې کافران سوی ؤ دوی	او نیولی ؤ دوی	آیاتونه زما	او رسولان زما

جزا د دوی ده دوزخ په سبب د دی چې کافران سوی ؤ دوی او نیولی ؤ دوی آیاتونه (د قدرت) زما او رسولان زما

هُزُوًا ۝١٠٦ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ

هُزُوًا	اِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	كَانَتْ لَهُمْ
مسخره	بیشکه!	هغه کسان چې	ایمان ئی راوړی دی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)	سته دوی ته

مسخره. بیشکه! هغه کسان چې ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) سته دوی ته (په علم الله کښې)

جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ۝١٠٧ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ

جَنّٰتُ	الْفِرْدَوْسِ	نُزُلًا	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	لَا يَبْغُوْنَ
جنتونه	دفردوس (اعلیٰ، غوره)	بهتر ځای دهستوګنې (دی)	چې تل به وی	په دغو کښې	نه غواړی دوی

جنتونه د فردوس (اعلیٰ.غوره) بهتر ځای د هستوګنې (میلمستیا دی). چې تل به وی په دغو (جنتونو) کښې نه غواړی دوی

عَنْهَا حِوَلًا ۝١٠٨ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ

عَنْهَا	حِوَلًا	قُلْ	لَّوْ كَانَ	الْبَحْرُ	مِدَادًا	لِّكَلِمٰتِ
له دغو (جنتونو) څخه	ګرځیدل	ووایه (محمده!)	که سی	(اوبه د) بحر	سیاهی	دپاره (دلیکلو) دکلماتو

له دغو (جنتونو) څخه ګرځیدل (او وتل بل ځای ته). ووایه (محمده!) که سی (اوبه د) بحر سیاهی دپاره (دلیکلو) دکلماتو

رَبِّيْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ

رَبِّيْ	لَنَفِدَ	الْبَحْرُ	قَبْلَ	اَنْ تَنْفَدَ	كَلِمٰتُ	رَبِّيْ	وَلَوْ جِئْنَا	بِمِثْلِهٖ
درب زما	نو خامخا تمام به سی	بحر	پخوا له هغه څخه	چې تمام سی	کلمات	درب زما	او اګر که راوړو موږ	په مثل د دغه بحر

درب زما نو خامخا تمام به سی بحر پخوا له هغه څخه چې تمام سی کلمات د رب زما، او اګر که راوړو په مثل د دغه بحر

مَدَدًا ۝١٠٩ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ

مَدَدًا	قُلْ	اِنَّمَآ	اَنَا	بَشَرٌ	مِّثْلُكُمْ	يُوْحٰٓى	اِلَيَّ
مددګار	ووایه (محمده)	بیشکه! هم داخبره ده	چې زه	یو بشر سړی یم	په شان ستاسی	چې وحی راځی	ماته

(نوربحرونه هم) مددګار. ووایه (محمده!) بیشکه! هم داخبره ده چې زه یو بشر سړی یم په شان ستاسی چې وحی راځی ماته

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ... دتیر مخ پاته حدیث دلته وګوری: او ماښام چې کله واپس راسي نو ددوی بوکونه (شاګاني) به دمخکي څخه زیات لوړ وي او غولانځي به یې دشیدو څخه ډکي وي او تشي به یې پړسیدلي وي یعني ښه به ماړه وي: بیا به دجال پر یو بل داسي قوم باندي راسي او دوی ته به هم خپل دکفر او ګمراهی دعوت ورکي لیکن هغه خلګ به دده خبره رد کي نو دی به ورڅخه مایوسه اوځني ولاړ به سي نو دغه مسلمانان به په قحط سالی کي اخته سي او ددوی سره به هیڅ مال او دولت پاته نه سي او بیا به دی پر غیر آبادي مځکي باندي راسي نو به ورته خطاب او ږغ وکي چي خپلي خزاني دباندي راوباسه نو دمځکي خزانې به په ده پسې داسي ورپسي وي لکه دشاتو او عسلو مچمچی چي په خپل سردار باندي پسي وي: بیابه دجال یو سړی راوبلي چي ښه دځوانی په جوش کي به وي او دی به یې په توره ووهي دوې ټوټې به یې کي او دواړې ټوټې به پر دومره فاصله سره وغورځوي: پاته حدیث پر راروان مخ وګوری.

فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ..د تير مخ پاته حديث دلته وګورى:
ځومره فاصله چي دغشي ويشتونكي او نښاني په مابين كي وي بيا به دى هغه راوبلي نو هغه به ژوندى سي د دجال طرف ته به د هغه پر د غه كار خندا كوونكى روښانه مخ راسي په دي مينځ كي به الله ﷻ حضرت عيسى عليه السلام نازل كي نو هغه به دوه رنګداره ځادرونه اغوستي وي د جامع دمشق د مشرق جانب پر سپينه مناره به داسي راكښته سي چي خپل دواړه لاسونه به يي د دوو ملايكو پر وزرو باندي ايښي وي كله چي خپل سر مباك كښته كي نو داوبو قطرې به ورڅخه داسي ځاځي لكه چا چي اوس غسل كړى وي او كله چي سر پورته كړي نو به هم ورڅخه دغه وخت داوبو ځاځكي د ملغلرو په شان صفا راوځاځي كم كافر ته چي دده دسا داخيستو هوا ورسيږي هغه به پر هغه ځاى مري او دده وى دسا هوا به دومره ليري رسيږي تر ځومره پوري چي دده وى نظر رسيږي: حضرت عيسى عليه السلام به د دجال تلاش شروع كي تر دې چي پر باب اللّد باندي به يي لاندي كړي: پاته حديث پرراروان مخ وګورى.

۱۲ ع ۴

اَنَّمَآ اِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ رَبِّهٖ

اَنَّمَآ	اِلٰـهُكُمْ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	فَمَنْ	كَانَ	يَرْجُوا	لِقَآءَ	رَبِّهٖ
چي بيشكه! هم داخبره ده	چي معبود ستاسى	معبود دى	يو	پس هر څوک چي	وى	چي اميد لرى	د ملاقات	د رب خپل

چي بيشكه! هم داخبره ده چي معبود ستاسى معبود دى يو پس هر څوک چي وى چي اميد لرى د (اخروى) ملاقات د رب خپل

فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴿١١٠﴾

فَلْيَعْمَلْ	عَمَلًا	صَالِحًا	وَّلَا يُشْرِكْ	بِعِبَادَةِ	رَبِّهٖٓ	اَحَدًا
نو ښائى چي عمل وكړي	عمل	صالح	او نه دى شريكوى	په عبادت	د رب خپل كښى	هيڅوک

(په ښه وجه سره) نو ښائى چي (تل) عمل وكړي عمل صالح (ښه) او نه دى شريكوى په عبادت د رب خپل كښى هيڅوک.

أياتونه ٩٨ ۔ ١٩ سُوْرَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ ٤٤ ۔ ركوعي ٦

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ﴿٢﴾ اِذْ

كٓهٰيٰعٓصٓ	ذِكْرُ	رَحْمَتِ	رَبِّكَ	عَبْدَهٗ	زَكَرِيَّا	اِذْ
كاف، ها، يا، عين، صاد	ذكر	د رحمت مهربانى	د رب ستا دى	پر بنده خپل	زكريا	كله چي

كاف، ها، يا، عين، صاد. دغه (چي بيرته لوستلى كيږى) ذكر د رحمت مهربانى د رب ستا دى پر بنده خپل زكريا. كله چي

نَادٰى رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ

نَادٰى	رَبَّهٗ	نِدَآءً	خَفِيًّا	قَالَ	رَبِّ	اِنِّيْ	وَهَنَ
سوال ئى وكړ	رب خپل ته	سوال	په پټه	وويل (زكريا)	اى ربه زما	بيشكه! زه چي يم	سست ضعيف سوى دى

بږغ (سوال) ئى وكړ رب خپل ته بږغ په پټه (په نيمه شپه). وويل (زكريا) اى ربه زما بيشكه! زه چي يم سست ضعيف سوى دى

الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ

الْعَظْمُ	مِنِّيْ	وَاشْتَعَلَ	الرَّاْسُ	شَيْبًا	وَّلَمْ اَكُنْ	بِدُعَآئِكَ
ټول هډوكى	له ما څخه	او شعلى وهى	سر (زما)	له جهته د سپينوالى	حال دا چي هيچيرى نه يم پاتى سوى	په سوال له تا څخه

ټول هډوكى له ما څخه او شعلى وهى سر (زما) له جهته د سپينوالى حال دا چي هيچيرى نه يم پاتى سوى په سوال (زما) له تا څخه

رَبِّ شَقِيًّا ④ وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ

رَبِّ	شَقِيًّا	وَاِنِّيْ	خِفْتُ	الْمَوَالِيَ	مِنْ وَّرَآءِيْ	وَكَانَتِ
ای ربه زما	محروم نا امیده	او بیشکه! زه	بیریږم	له دی خپلوانو	له وروسته (د مرګه) زما	او ده

ای ربه زما محروم نا امیده. او بیشکه! زه بیریږم له دی خپلوانو له وروسته (د مرګه) زما (دخرابولو د دین ستا) او ده

امْرَاَتِيْ عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ⑤ يَّرِثُنِيْ

امْرَاَتِيْ	عَاقِرًا	فَهَبْ لِيْ	مِنْ لَّدُنْكَ	وَلِيًّا	يَّرِثُنِيْ
ښځه زما	وچه	نو وبخښه ماته	له طرفه خپله	یو وارث	چې میراث یوسی له ما څخه

ښځه زما وچه نو وبخښه ماته له طرفه خپله یو متولی (د دینی امورو حق وارث) چې میراث یوسی له ما څخه (دینی امور)

وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ⑥ يٰزَكَرِيَّآ

وَيَرِثُ	مِنْ	اٰلِ يَعْقُوْبَ	وَاجْعَلْهُ	رَبِّ	رَضِيًّا	يٰزَكَرِيَّآ
او میراث یوسی	له	خاندان د یعقوب څخه	او وګرځوی دی	ای ربه زما	غوره کړی سوی	ای زکریا

او میراث یوسی (علم او حکمت) له آل د یعقوب څخه او وګرځوی دی ای ربه زما غوره کړی سوی. ای زکریا

اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ اسْمُهٗ يَحْيٰى لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ

اِنَّا	نُبَشِّرُكَ	بِغُلٰمِ	اسْمُهٗ	يَحْيٰى	لَمْ نَجْعَلْ	لَّهٗ	مِنْ قَبْلُ
بیشکه! موږ	زیری درکوو تاته	په یو داسی هلک سره	چې نوم ئې	یحیٰی دی	نه مو دی ګرځولی	ده ته	پخوا له دی څخه

بیشکه! موږ زیری درکوو تاته په یو داسی هلک چې نوم ئې یحیٰی دی نه مو دی ګرځولی ده ته پخوا له دی څخه

سَمِيًّا ⑦ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امْرَاَتِيْ

سَمِيًّا	قَالَ	رَبِّ	اَنّٰى	يَكُوْنُ	لِيْ غُلٰمٌ	وَّكَانَتِ	امْرَاَتِيْ
هم نامه	وویل (زکریا)	ای ربه زما	څرنګه به وی	ماله	هلک	او ده	ښځه زما

په دغه نامه (او صفت بل سم نامه). وویل (زکریا) ای ربه زما څرنګه به وی ماله هلک او ده ښځه زما

عَاقِرًا وَّقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ⑧ قَالَ كَذٰلِكَ

عَاقِرًا	وَّقَدْ	بَلَغْتُ	مِنَ الْكِبَرِ	عِتِيًّا	قَالَ	كَذٰلِكَ
وچه	او په تحقیق	رسیدلی یم زه	له ډیر زوړوالی څخه	آخری حد ته	وفرمایل	هم داسی دی

وچه او په تحقیق رسیدلی یم زه له ډیر زوړوالی څخه ډیر ضعف ته. وفرمایل (الله کار) هم داسی دی (لکه چی تا وویل)

وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ...د تیر مخ پاته حدیث دلته وګوری:

(دغه کلي اوس هم دبیت المقدس په خوا کي په دغه نامه سره موجود دی) هلته به حضرت عیسی ﷺ د جال لره قتل کي بیا به حضرت عیسی ﷺ خلګو ته تشریف راوړي او په طور دشفقت به ددوی پر مخانو باندي لاس راتیرکړي او په جنت کي به ورته داعلی درجې خوشخبري ورکړي حضرت عیسی ﷺ به لا په دغه حالت کي وي چي دالله ﷻ دطرفه څخه به حکم ورته وسي چي زه پر خپلو بندګانو باندي داسي خلګ راباسم چي دمقابلې یې په هیڅ چا کي طاقت نسته ته مسلمانان راجمع کړه او دطور غره ته یې بوزه چنانچه حضرت عیسی ﷺ به داسي وکړي او الله ﷻ به یاجوج او ماجوج راوباسي نو دوی به دډیر تیز تللو په سبب ده هرلوړ ځای څخه را ښوییدونکي ښکاره کیږي ددوی اولني خلګ به پر بحیره طبریه باندي راسي نوددې ټولي اوبه به وچینبي او داسي به یې کړي چي کله په دوی پسې نور خلګ پر دې دریاب باندي راسي نودریاب به وچ ووینې: پاته حدیث پر راروان مخ وګوری.

قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ

قَالَ	رَبُّكَ	هُوَ عَلَيَّ	هَيِّنٌ	وَّقَدْ	خَلَقْتُكَ	مِنْ قَبْلُ	وَلَمْ تَكُ
فرمايلي دی	رب ستا	چې دا کار پر ما	آسان دی	او په تحقيق	پيدا کړی مې ئې ته	پخوا له دی څخه	او نه وی ته

فرمايلي دی رب ستا چې دا کار پر ما آسان دی او په تحقيق پيدا کړی مې ئې ته پخوا له دی څخه او نه وی ته

شَيْـًٔا ﴿٩﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ

شَيْـًٔا	قَالَ	رَبِّ	اجْعَلْ لِّيْٓ	اٰيَةً	قَالَ	اٰيَتُكَ
هيڅ شي	ووېل (زکريا)	ای ربه زما	وګرځوه ماته	يوه نښه	وفرمايل (الله)	چې نښه ستا دا ده

هيڅ شي. ووېل (زکريا له ډيرې خوشحالۍ) ای ربه زما وګرځوه ماته يوه نښه وفرمايل (الله) چې نښه ستا دا ده

اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾ فَخَرَجَ عَلٰي

اَلَّا تُكَلِّمَ	النَّاسَ	ثَلٰثَ	لَيَالٍ	سَوِيًّا	فَخَرَجَ	عَلٰي
چې ته به خبرې نسی کولی	له خلګو سره	درې	شپې	چې روغ او جوړ به او سې	پس ووت (زکريا)	پر

چې ته به خبرې نسی کولی له خلګو سره درې شپې (او ورځې) په دې حال چې روغ او جوړ به او سې. پس ووت (زکريا) پر

قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿١١﴾

قَوْمِهٖ	مِنَ الْمِحْرَابِ	فَاَوْحٰٓى	اِلَيْهِمْ	اَنْ سَبِّحُوْا	بُكْرَةً	وَّعَشِيًّا
قوم خپل	له خپل محراب څخه	پس اشاره ئې وکړه	دوی ته	داسې چې تسبيح وايئ تاسې	په سهار	او ماښام کښې

قوم خپل له خپل محراب (حجرې) څخه پس اشاره ئې وکړه دوی ته داسې چې تسبيح وايئ تاسې په صبا او بيګا کښې.

يٰيَحْيٰى خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ۭ وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾

يٰيَحْيٰى	خُذِ	الْكِتٰبَ	بِقُوَّةٍ	وَاٰتَيْنٰهُ	الْحُكْمَ	صَبِيًّا
ای يحيٰی	واخله	دغه کتاب	په قوت	او ورکړی ؤ موږ دغه يحيٰی ته	حکم	په دغه حال کښې چې دی هلک ؤ

ای يحيٰی واخله دغه کتاب (توريت) په قوت (د زړه سره) او ورکړی ؤ موږ دغه يحيٰی ته حکم په دغه حال کښې چې دی هلک ؤ.

وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ۭ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَّبَرًّۢا بِوَالِدَيْهِ

وَّحَنَانًا	مِّنْ لَّدُنَّا	وَزَكٰوةً	وَكَانَ	تَقِيًّا	وَّبَرًّۢا	بِوَالِدَيْهِ
او حال دا چې مهربان ؤ	له طرفه زموږ	او پاکی	او ؤ (يحيٰی)	پرهيزګار	او نيکو کار	پر مورؤ پلار خپل

او حال دا چې رحم دله وو (پر خلق الله) له نزد زموږ او پاکی (له معاصيو) او ؤ (يحيٰی) پرهيزګار. او نيکو کار پر مورؤ پلار خپل

قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ...د تير مخ پاته حديث دلته وګورئ:

حضرت عيسى عليه السلام او د ده ملګري به په کوه طور کې پنا واخلي او نور مسلمانان به په خپلو قلعه ګانو او محفوظو ځايونو کې پناه واخلي او د خوراک او څښاک سامان به ورسره وي مګر هغه به کم سي نو ديوغوايي سر به ددوه سوه ديناره څخه غوره وګڼل سي حضرت عيسى عليه السلام او نور مسلمانان به د خپل تکليف دفع کيدو د پاره د الله جل جلاله څخه دعا وغواړي الله جل جلاله به ددوی دعا قبوله کړي او پر هغوی به په وبايي صورت کې يوه بيماري راوليږي او ياجوج او ماجوج به په لږ وخت کې ټول مړه سي: بيا حضرت عيسى عليه السلام او دده ملګري به د کوه طور څخه راکښته سي نو وبه ويني چې په مځکه کې يوه لويشت ځای هم د دوی د لاشونو مړو څخه خالي نسته او د لاشونو د ورستيدو په وجه به سخت بد بويي خپوروي دا حالت چې ووينې نو دوباره به حضرت عيسى عليه السلام او دده ملګري الله جل جلاله ته سوال وکي چې دا مصيبت ليري سي: پاته حديث پر راروان مخ وګورئ.

ع ۱۵

وَلَمۡ يَكُنۡ جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿۱۴﴾ وَسَلٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ

وَلَمۡ يَكُنۡ	جَبَّارًا	عَصِيًّا	وَسَلٰمٌ	عَلَيۡهِ	يَوۡمَ	وُلِدَ
او نه ؤ دی	سرکښه	نافرمانه	او سلام دی وی	پر دغه	په هغه ورځ چې	پیدا کړی سوی دی

او نه ؤ دی سرکښه نافرمانه (له ربه). او سلام دی وی پر دغه (یحیٰی له جانبه د الله) په هغه ورځ چې پیدا کړی سوی دی

وَيَوۡمَ يَمُوۡتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيًّا ﴿۱۵﴾ وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ

وَيَوۡمَ	يَمُوۡتُ	وَيَوۡمَ	يُبۡعَثُ	حَيًّا	وَاذۡكُرۡ	فِي الۡكِتٰبِ
او په هغه ورځ چې	مری به دی	او په هغه ورځ چې	پورته کړسی دی	ژوندی	او یاد کړه	په دغه کتاب کښې

او په هغه ورځ چې مری به دی او په هغه ورځ چې پورته کړ سی دی ژوندی. او یاد کړه په دغه کتاب کښې (قصه د)

مَرۡيَمَ ۘ اِذِ انۡتَبَذَتۡ مِنۡ اَهۡلِهَا مَكَانًا شَرۡقِيًّا ﴿۱۶﴾ۙ

مَرۡيَمَ	اِذِ انۡتَبَذَتۡ	مِنۡ اَهۡلِهَا	مَكَانًا	شَرۡقِيًّا
مریمه	کله چې په څنګ سوه	له کورنی خپلی	هغه ځای ته	چې (د کورپه) شرقی طرف وو

مریمه کله چې په څنګ سوه (ولاړه) له کورنی خپلی هغه ځای ته چې (د کورپه) شرقی طرف وو.

فَاتَّخَذَتۡ مِنۡ دُوۡنِهِمۡ حِجَابًا ۖ فَاَرۡسَلۡنَاۤ اِلَيۡهَا رُوۡحَنَا

فَاتَّخَذَتۡ	مِنۡ دُوۡنِهِمۡ	حِجَابًا	فَاَرۡسَلۡنَاۤ	اِلَيۡهَا	رُوۡحَنَا
پس ونیوله دی	له طرفه د دوی	پرده	نو ولیږه موږ	دی ته	روح (جبرائیل) خپل

پس ونیوله له طرفه د دوی پرده (دپاره د غسل د حیض) نو ولیږه موږ دی ته (پس له غسله او اغوستلو دجامو) روح خپل

فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿۱۷﴾ قَالَتۡ اِنِّيۡۤ اَعُوۡذُ بِالرَّحۡمٰنِ

فَتَمَثَّلَ	لَهَا	بَشَرًا	سَوِيًّا	قَالَتۡ	اِنِّيۡۤ	اَعُوۡذُ	بِالرَّحۡمٰنِ
پس شکل خپل ئی جوړ کړ	دی ته	دسړی	کامل	نو وویل	بیشکه! زه	پناه غواړم	په رحمٰن

پس شکل خپل ئی جوړ کړ دی ته د سړی کامل (نورانی ځوان). نو وویل (مریمی دغه ځلمی ته) بیشکه! زه پناه غواړم په رحمٰن

مِنۡكَ اِنۡ كُنۡتَ تَقِيًّا ﴿۱۸﴾ قَالَ اِنَّمَاۤ اَنَا رَسُوۡلُ رَبِّكِ ۖ

مِنۡكَ	اِنۡ كُنۡتَ	تَقِيًّا	قَالَ	اِنَّمَاۤ	اَنَا رَسُوۡلُ	رَبِّكِ
له تا څخه	که ئی ته	پرهیزګار سړی	وویل (جبرئیل)	بیشکه! هم داخبره ده	چې زه رالیږلی سوی	درب ستا یم

له تا څخه که ئی ته پرهیزګار سړی (زما څخه ایسته سه!). وویل (جبرئیل) بیشکه! هم داخبره ده چې زه رالیږلی سوی درب ستا یم

وَسَلٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوۡتُ...دتیر مخ پاته حدیث دلته وګوری؛
الله ﷻ بــه ددوی دغـه سـوال قبـول کـړي او ډیر غـټ غـټ مارغـان بـه راولیږي چې ښتونه به یي داوښانو دښتونو په شان وي دوی بـه دغـه لاښـونه پورته کړي او کم ځای چې دالله ﷻ رضا وي هلته به یي وغورځوي یا به یي دریاب ته واچوي بیا به الله ﷻ باران وکـي یوښار او ځنګل به داسي نه وي چې باران به پرونه سي ټولـه مځکه به ومینځل سي او دڅیښې په شان به صفا سي بیا به الله ﷻ مځکي ته حکم ورکي چې دخپلې خیټي څخه میوې او ګلونه راوباسي او دنـوي سـره څخـه خپـل برکتونـه ظاهرکړي نو داسي به هم وسي داسي برکتونه به ښکاره کړي چې یوه دانار دانـه بـه دپـوره جماعـت دپاره کافي سي او خلګ بـه دآنـار دپوسـت څخه سایوان او چتری جوړوي او دیوې اوښې شیدې به دیولـوی جماعـت دپـاره کـافي سـي اودیـوې غواشیدي به دیوې قبیلې دټولوخلګو دپاره کـافي سي او دیوې بزې شیدې بـه دټـولي بـرادری دپـاره کـافي سـي: پاتـه حـدیث پـر راروان مـخ وګـوری.

لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ

لِاَهَبَ	لَكِ	غُلٰمًا	زَكِيًّا	قَالَتْ	اَنّٰى يَكُوْنُ	لِيْ غُلٰمٌ
دپاره د دی چی وبخښم	تاته	یو هلک	صالح	وویل (مریمی)	څرنګه به پیدا سی	ماته زوی

دپاره د دی چی وبخښم تاته (په امر درب) یو هلک صالح. وویل (مریمی له ډیره تعجبه) څرنګه به پیدا سی ماته زوی حال دا چی

وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ وَّلَمْ اَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذٰلِكِ

وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ	بَشَرٌ	وَّلَمْ اَكُ	بَغِيًّا	قَالَ	كَذٰلِكِ
حال دا چی نه دی رسیدلی ماته	هیڅ بشر	او نه وم زه هیڅیری	بدکاره	نو وویل (جبرئیل)	هم داسی

نه دی رسیدلی ماته هیڅ بشر (نه په نکاح) او نه وم زه هیڅیری بدکاره. نو وویل (جبرئیل) هم داسی دی (لکه چی ته وائی لیکن)

قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ وَلِنَجْعَلَهٗٓ اٰيَةً لِّلنَّاسِ

قَالَ	رَبُّكِ	هُوَ	عَلَيَّ هَيِّنٌ	وَلِنَجْعَلَهٗٓ	اٰيَةً	لِّلنَّاسِ
فرمایلی دی	رب ستا	دغه (کار)	پر ما باندی آسان دی	او چی وګرځوو موږ دغه	علامه دلیل	دپاره د خلګو

فرمایلی دی رب ستا دغه (کار) پر ما باندی آسان دی، او چی وګرځوو موږ دغه (هلک لویه) علامه دلیل دپاره د خلګو

وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتْهُ

وَرَحْمَةً	مِّنَّا	وَكَانَ	اَمْرًا	مَّقْضِيًّا	فَحَمَلَتْهُ
او رحمت	له (طرفه) زموږ	او دی	یو کار	مقرر کړی سوی	پس حامله سوه په دغه (عیسیٰ) سره

او رحمت له (طرفه) زموږ، او دی (پیدا کیدل د ده بی پلاره) یو کار مقرر کړی سوی. پس حامله سوه (مریمه) په دغه (عیسیٰ) سره

فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ اِلٰى جِذْعِ

فَانْتَبَذَتْ	بِهٖ	مَكَانًا	قَصِيًّا	فَاَجَآءَهَا	الْمَخَاضُ	اِلٰى جِذْعِ
نو په څنګ سوه	سره له دغه (عیسیٰ)	یو ځای	لری ته	پس راوسته مریمه	درد دلنګیدلو	و بیخ

نو په څنګ سوه سره له دغه (عیسیٰ) یو ځای لری ته. پس راوسته مریمه درد د لنګیدلو و بیخ

النَّخْلَةِ ۚ قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿٢٣﴾

النَّخْلَةِ	قَالَتْ	يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ	قَبْلَ	هٰذَا	وَكُنْتُ	نَسْيًا	مَّنْسِيًّا
د درختی دخرما ته	وویل	کشکی مړه وی زه	پخواله	له دی حاله	او وی زه	هیره سوی بیخی	له زړونو وتلی

د درختی دخرما ته وویل (مریمی) کشکی مړه وی زه پخوا له دی حاله او وی زه هیره سوی بیخی له زړونو وتلی.

قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ...دتیر مخ پاته حدیث دلته وګوری

دغه غیر معمولي برکتونه او دامن او امان زمانه به ترخلوېښتو کلونو پوري دپاته کیدو څخه وروسته کله چي دقیامت وخت راسي نویوه خوشګوار هوا به راسي چي ددې په وجه به الله ﷻ دټولو مسلمانانو په تخرګونو کي کي یوه خاصه ناروغي راپیدا کړي او ټول به وفات سي او یوازي شریران او کافران به باقي پاته سي کم چي به پر مځکه ډاګ په ډاګه حرام کاري دحیوانانو په شان کوي بیا به قیامت پر داسي خلګو باندي قایم سي :په بعضي روایتونو کي دي چي دجال به دمدینې منورې څخه لیري اوسیږي او دمدیني پر لارو به هم دده را تلل ممکن نه وي نو دی به دمدينې منورې په خوا کي یوې ښیره ناکي مځکي ته ورسیږي دغه وخت به یو سړی دجال ته راسي او دته به ووایي چي زه په یقین سره وایم چي ته هغه دجال یي دکم چي موږ ته نبي کریم ﷺ خبر راکړی دی الخ : که مو تردغه لازیات تفصیل پکار وي نو تفسیر معارف القران ته رجوع وکړی.

(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص ۲۳)

فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِيْ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ

فَنَادٰىهَا	مِنْ تَحْتِهَآ	اَلَّا تَحْزَنِيْ	قَدْ	جَعَلَ	رَبُّكِ
پس ږغ وکړ (ملائیکی) دغی ته	له لاندی طرفه د دی	چی مه خپه کیږه	په تحقیق	ګرځولی ده	رب ستا

پس ږغ وکړ (ملائیکی) دغی (مریمی) ته له لاندی طرفه د دی چی مه خپه کیږه په تحقیق ګرځولی ده رب ستا

تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّيْٓ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَيْكِ

تَحْتَكِ	سَرِيًّا	وَهُزِّيْٓ	اِلَيْكِ	بِجِذْعِ	النَّخْلَةِ	تُسٰقِطْ	عَلَيْكِ
لاندی دتا	چینه	او وښنده	خپل ځان ته	بیخ	د رختی دخرما	چی راتوی کړی	پرتا

لاندی (له قدمونو) دتا چینه (یا سردار چی عیسٰی دی). او وښنده خپل ځان ته بیخ د خرما چی راتوی کړی پر تا

رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا

رُطَبًا	جَنِيًّا	فَكُلِيْ	وَاشْرَبِيْ	وَقَرِّيْ	عَيْنًا
خرما پخی	لوندی تازه	پس خوره	او څښه	او (ربی) یخی کړه	سترګی خپلی

خرما پخی لوندی تازه. پس خوره (دا خرما) او څښه (دا اوبه) او (ربی) یخی کړه سترګی خپلی (په عیسٰی او خوشحاله سه)

فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا فَقُوْلِيْٓ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا

فَاِمَّا تَرَيِنَّ	مِنَ الْبَشَرِ	اَحَدًا	فَقُوْلِيْٓ	اِنِّيْ	نَذَرْتُ	لِلرَّحْمٰنِ	صَوْمًا
پس که ولید تا	له خلکو څخه	یو څوک	نو ووایه	بیشکه! زه چی یم	نذر کړی می ده پر ځان	رحمٰن ته	روژه

پس که ولید تا له خلکو څخه یو څوک، نو ووایه بیشکه! زه چی یم نذر کړی می ده پر ځان رحمٰن ته روژه (له کلامه)

فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا

فَلَنْ اُكَلِّمَ	الْيَوْمَ	اِنْسِيًّا	فَاَتَتْ	بِهٖ	قَوْمَهَا
پس له سره به خبری ونه کړم زه	نن ورځ	له هیڅ یوه انسان سره	پس راغله (مریمه)	سره له دغه (عیسٰی)	قوم خپل ته

پس له سره به خبری ونه کړم زه نن ورځ له هیڅ یوه انسان سره . پس راغله (مریمه) سره له دغه (عیسٰی) قوم خپل ته

تَحْمِلُهٗ ۚ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يٰٓاُخْتَ

تَحْمِلُهٗ	قَالُوْا	يٰمَرْيَمُ	لَقَدْ	جِئْتِ	شَيْئًا	فَرِيًّا	يٰٓاُخْتَ
چی اخیستی یی وه هغه	نو وویل (یهودانو)	ای مریمی	په تحقیق	راوړی دی تا	یو شی	عجیبه ډیر بد له عادته	ای خوری!

چی اخیستی یی وه هغه (عیسٰی) نو وویل (یهودانو) ای مریمی په تحقیق راوړی دی تا یو شی عجیبه ډیر بد له عادته. ای خوری!

فَقُوْلِيْٓ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا. دخاموشي روژه په اسلامي شريعت کي منسوخ سويده:

داسلام څخه مخکي د خاموشی روژه په عبادت کي دننه داخله وه چي دخبرو روژه به نيسي دسحر څخه تر شپې پوري به دچا سره خبري نه کوي اسلام دا منسوخه کړه او دا يي لازمه کړه چي صرف دبدو خبرو بنسکنځلو درواغو او غيبت وغيره څخه دي پرهيز کول کيږي: عامي خبري پرينبوول په اسلام کي څه عبادت نه دی پاته سوی: په دې وجه ددې نذر منل هم جايز نه دي لکه چي روايت کړی دی ابوداودمرفوع روايت (لايتم بعد الاحتلام ولا صمات الى اليل) يعني کوچني ته دبالغيدو وروسته دپلار په مرګ سره يتيم نه سي ويل کيدای پرده ديتيم احکام نه سي جاري کيدای او دسهار څخه تر ماښامه پوري خاموش پاته کيدل په اسلام کي څه عبادت نه دی: اودبچي کيدو په درد کي داوبواو خرماو استعمال په طبي لحاظ سره هم مفيد دی دخوړلو او څښلو حکم په ظاهره داباحت دپاره معلوميږي نه دوجوب دپاره: والله اعلم.
(معارف القرآن ج۶پ ۱۶ص ۶۰)

هٰرُوْنَ مَا كَانَ اَبُوْكِ امْرَاَ سَوْءٍ وَّمَا كَانَتْ اُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾

هٰرُوْنَ	مَا كَانَ	اَبُوْكِ	امْرَاَ سَوْءٍ	وَّمَا كَانَتْ	اُمُّكِ	بَغِيًّا
دهارون	نه ؤ	پلار ستا	سړی د بدی	او نه وه	مور ستا	بد عمله

د هارون! نه ؤ پلار ستا سړی د بدی او نه وه مور ستا بد عمله (نو دا ته ولی داسی سوی؟)

فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ ۖ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ

فَاَشَارَتْ	اِلَيْهِ	قَالُوْا	كَيْفَ	نُكَلِّمُ	مَنْ كَانَ
نو اشاره وکړه	هغه ته	وویل (خلګو)	څرنګه	خبری وکړو موږ	له هغه چا سره چی دی هغه

نو اشاره وکړه (مریمی) هغه ته (چی له عیسٰی سره وړغیږی) وویل (خلګو) څرنګه خبری وکړو موږ له هغه چا سره چی دی هغه

فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ اِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ۛ اٰتٰىنِيَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِيْ

فِي الْمَهْدِ	صَبِيًّا	قَالَ	اِنِّيْ	عَبْدُ	اللّٰهِ	اٰتٰىنِيَ	الْكِتٰبَ	وَجَعَلَنِيْ
په ځانګو کښی	وړوکی	وویل (عیسٰی)	چی بیشکه! زه	بنده	د الله یم	راکړی ئی دی ماته	کتاب	او ګرځولی یم زه الله

په ځانګو کښی وړوکی. وویل (عیسٰی) چی بیشکه! زه بنده د الله یم، راکړی ئی دی ماته کتاب او ګرځولی یم زه الله

نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ ۠ وَاَوْصٰنِيْ

نَبِيًّا	وَّجَعَلَنِيْ	مُبٰرَكًا	اَيْنَ مَا	كُنْتُ	وَاَوْصٰنِيْ
نبی	او ګرځولی یم زه (الله)	برکت ناک	په هر ځای کښی	چی او سیږم	او تاکیدی حکم ئی فرمایلی دی ماته

نبی. او ګرځولی یم زه (الله) برکت ناک په هر ځای کښی چی او سیږم او تاکیدی حکم ئی فرمایلی دی ماته

بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ ۖ وَّبَرًّا ۢبِوَالِدَتِيْ

بِالصَّلٰوةِ	وَالزَّكٰوةِ	مَا دُمْتُ	حَيًّا	وَّبَرًّا	بِوَالِدَتِيْ
په لمانځه سره	او په زکوة سره	ترڅو چی زه یم	ژوندی	او نیکی کوونکی	له مور خپلی سره

په لمانځه سره او په زکوة سره ترڅو چی زه یم ژوندی. او (ګرځولی یم زه الله) نیکی کوونکی له مور خپلی سره

وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ

وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ	جَبَّارًا	شَقِيًّا	وَالسَّلٰمُ	عَلَيَّ	يَوْمَ
او نه ئی یم ګرځولی زه	سرکښه	بدبخته	او سلام دی	پرما	په هغه ورځ

او نه ئی یم ګرځولی زه سرکښه بدبخته. او (وویل عیسٰی) سلام دی پرما په هغه ورځ

وَاَوْصٰنِيْ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ.. لمونځ او زکواة په شریعت کي داهمو فرائضو څخه دي:

لمونځ او زکوة داسي عبادتونه دي چي دحضرت آدم ﷺ څخه واخله تر خاتم الانبیاء ﷺ پوري دهر نبي او رسول په شریعت کي فرض پاته سوي دي البته په مختلفو شریعتونو کي ددې تفصیلات او جزئیات مختلف پاته سوي دي دحضرت عیسی ﷺ په شریعت کي هم لمونځ او زکوة فرض وو پاته سوه دامعامله چي حضرت عیسی ﷺ خو هیڅکله هم مالداره نه وو پاته سوی او نه یي کور جوړ کړی دی ، او نه یي څه جمع کړي دي بیا دته دزکوة حکم ورکول پر څه بنا باندي دي؟ نو ددې واضح مقصد دادی چي ددوی په شریعت کي قانون دا جوړ سوی وو چي دکم سړي سره مال وي پرهغه زکوة فرض دی حضرت عیسی ﷺ هم ددې مخاطب وو چي کله مال په قدر دنصاب سره جمع کړي نو زکواةدي اداء کړي بیا که په ټول عمر کي هم مال هیڅکله جمع نه سي نو داد هغه منافي نه ده ځکه چي دا خو یو عام حکم وو چي بیان سو.
(معارف القرآن ج۶پ۱۶ص ۶۵)

وُلِدْتُّ وَيَوْمَ اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾ ذٰلِكَ

وُلِدْتُّ	وَيَوْمَ	اَمُوْتُ	وَيَوْمَ	اُبْعَثُ	حَيًّا	ذٰلِكَ
چی ځیږولی سوی یم	او په هغه ورځ	چی مرم به	او په هغه ورځ	چی پورته به کړی سم	ژوندی	دغه (موصوف)

چی ځیږولی سوی یم او په هغه ورځ چی مرم به او په هغه ورځ چی پورته به کړی سم ژوندی. دغه (موصوف)

عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٣٤﴾

عِيْسَى	ابْنُ مَرْيَمَ	قَوْلَ	الْحَقِّ	الَّذِيْ	فِيْهِ	يَمْتَرُوْنَ
عیسٰی	زوی د مریمی دی	(فرمایلی دی الله) خبره	حقه	هغه چی	په دی کښی	سره جګړی کوی (خلګ)

عیسٰی زوی د مریمی دی (فرمایلی دی الله) خبره حقه رښتیا هغه چی په دی کښی سره جګړی کوی (خلګ).

مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ۭ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا

مَا كَانَ	لِلّٰهِ	اَنْ يَّتَّخِذَ	مِنْ وَّلَدٍ	سُبْحٰنَهٗ	اِذَا	قَضٰٓى	اَمْرًا
نه ښائیږی	الله ته	داچی ونیسی	ولد (هیڅوک)	پاکی ده ده ته	هر کله چی	حکم وکړی دی	دیوه کار

نه ښائیږی الله ته دا چی ونیسی ولد (هیڅوک) پاکی ده ده ته (له نیولو د ولد) هر کله چی حکم وکړی دی دیوه کار

فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٣٥﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ

فَاِنَّمَا	يَقُوْلُ	لَهٗ كُنْ	فَيَكُوْنُ	وَاِنَّ	اللّٰهَ	رَبِّيْ
پس بیشکه! همدا خبره ده	چی وائی	هغه ته (موجود) سه	پس هغه موجود سی	او بیشکه!	الله	رب زما دی

پس بیشکه! همدا خبره ده چی وائی هغه ته (موجود) سه پس هغه موجود سی. او (وویل عیسٰی) بیشکه! الله رب زما دی

وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٣٦﴾ فَاخْتَلَفَ

وَرَبُّكُمْ	فَاعْبُدُوْهُ	هٰذَا	صِرَاطٌ	مُّسْتَقِيْمٌ	فَاخْتَلَفَ
او رب ستاسی دی	پس عبادت کوئ تاسی د الله	هم دغه	لاره	سمه صافه برابره	نو بیا اختلاف وکړ

او رب ستاسی دی پس عبادت کوئ تاسی د الله، هم دغه لاره سمه صافه برابره، نو بیا اختلاف وکړ

الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ

الْاَحْزَابُ	مِنْۢ بَيْنِهِمْ	فَوَيْلٌ	لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ
ډلو (د نصارٰی)	له مینځه د دغو (خلګو)	نو خرابی ده	دپاره دهغو کسانو	چی کافران سوی دی	له

ډلو (د نصارٰی په باب د عیسٰی کښی) له مینځه د دغو (خلګو) نو خرابی ده دپاره د هغو کسانو چی کافران سوی دی له

ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ. دحضرت عیسی علیه السلام متعلق دیهودو او نصاراوو بیهوده خیالات: دحضرت عیسی علیه السلام متعلق دیهودو او نصاراوو په بیهوده خیالاتو کي دافراط او تفریط دا حال وو چي نصاراوو خو په تعظیم کي دومره زیاتی وکی چي دده څخه یي خدای جوړ کی یا دخدای زوی جوړ کړی، یا دریم دخدایانو جوړ کړی: او یهودو یي بیا دومره توهین وکی چي دی یي بیا دیوسف نجار نا جآیز اولاد وګڼی معاذالله الله جل جلاله ددوی دواړو غلط کارو غلطي ښوولي ده دده صحیح حیثیت یي په دې ایاتونو کي وښووی: (قول الحق) دلام په فتحې سره ددې واضح ترکیب نحوي دادی چي (اقول قول الحق) ددې اصل دی یعني الله جل جلاله فرمایي چي زه رشتیا وایمه: او په ځیني روایاتو کي دلام په ضمه سره دی نو په دې صورت کي به یي مراد داسي چي حضرت عیسی علیه السلام په خپله قول حق دی لکه چي ده ته دکلمة الله لقب هم ورکول سوی دی ځکه چي دده پیدایش بې له واسطې دظاهري اسبابو څخه دالله جل جلاله په قول سوی دی.
(معرف القرآن ج۶ پ۱۶ ص ۶۷)

وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ الْاَمْرُ...كفار او مشركين الله ﷻ دقيامت دورځي څخه بيرولي دي:

دغي ورځي ته يوم الحسرة ځكه ويل كيږي چي ددوږخيانو داحسرت او افسوس كول په كښي ښكاره وي چي كه دوى مومنان او صالحان واى نو جنت به ورلره وركړل سوى واى اوس ددوږخ په عذاب كي گرفتار دي نويو خاص قسم حسرت به جنتيانو ته هم وي لكه چي دحضرت معاذ رضي الله عنه په روايت كي چي دي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل چي دجنتيانو به بل په هيڅ شي پسي حسرت نه وي بغير دهغو وختونودلمحاتو څخه كم چي بغير دالله ﷻ دذكر څخه تير سوي دي: او بغوي په روايت دابوهريرة رضي الله عنه نقل كوي چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي هر مړكيدونكى به دافسوس او پښيمانى سره مخ سي صحابه كرامو رضي الله عنهم پوښتنه وكړه چي داافسوس او پښيمانتيا به پر څه شي باندي وي؟ نو نبي كريم ﷺ وفرمايل چي نيك عمله به وايي چي ما نيكى ولي ډيري ونه كړى او بدعمله به وايي چي زه ولي دبدوكارونو څخه راونه گرځيدم. (معارف القرآن ج٦ پ١٦ ص٦٧)

مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ٣٧ اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ يَوْمَ

مَّشْهَدِ	يَوْمٍ	عَظِيْمٍ	اَسْمِعْ	بِهِمْ	وَاَبْصِرْ	يَوْمَ
حاضريدو	دهغي ورځي	ډيرلوئي	څه ډير ښه اوريدونكي به وى	دوى	او څه ډير ښه ليدونكي به وى	په هغي ورځ كښي

حاضريدو دهغي ورځي ډيرى لوئي (قيامت) .څه ډير ښه اوريدونكي به وى دوى او څه ډير ښه ليدونكي هغي ورځي كښي

يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ٣٨ وَاَنْذِرْهُمْ

يَاْتُوْنَنَا	لٰكِنِ	الظّٰلِمُوْنَ	الْيَوْمَ	فِيْ ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ	وَاَنْذِرْهُمْ
چي رابه سي دوى موږته	ليكن	ظالمان	نن ورځ	په گمراهي	ښكاره كښي دى	او ويږوه ته دوى

چي رابه سي دوى موږ ته ليكن ظالمان نن ورځ په گمراهي ښكاره كښي دى. او ويږوه ته دوى

يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ الْاَمْرُ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ وَّهُمْ

يَوْمَ	الْحَسْرَةِ	اِذْ قُضِيَ	الْاَمْرُ	وَهُمْ	فِيْ غَفْلَةٍ	وَّهُمْ
له ورځي	پښيماني	كله چي فيصله كړى سي	كار	حال داچي دوى	په غفلت كښي دى	او دوى

له ورځي د حسرت كله چي فيصله كړى سى كار (د حساب او كتاب) حال داچي دوى (په دنيوى) غفلت كښي دى او دوى

لَا يُؤْمِنُوْنَ ٣٩ اِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْاَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَاِلَيْنَا

لَا يُؤْمِنُوْنَ	اِنَّا	نَحْنُ	نَرِثُ	الْاَرْضَ	وَمَنْ	عَلَيْهَا	وَاِلَيْنَا
ايمان نه راوړى	بيشكه! موږ چي يو	هم دا موږ	وارث كيږو	دمځكى	او دهغه چاچي	پر دغه مځكى دى	او خاص موږ ته به

ايمان نه راوړى. بيشكه! موږ چي يو هم دا موږ وارث كيږو د مځكى او دهغه چا چي پر دغه مځكى دى او خاص موږ ته به

يُرْجَعُوْنَ ٤٠ ع وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ ۬ اِنَّهٗ

ع ٢ ٢٥ ٥

يُرْجَعُوْنَ	وَاذْكُرْ	فِي الْكِتٰبِ	اِبْرٰهِيْمَ	اِنَّهٗ
راوستى سى دوى	او ياد كړه	په كتاب (قرآن) كښى	(قصه د) ابراهيم	بيشكه! دغه (ابراهيم)

راوستى سى دوى (دپاره د جزاء) . او ياد كړه (اى محمده!) په كتاب (قرآن) كښى (قصه د) ابراهيم، بيشكه! دغه (ابراهيم)

كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ٤١ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا

كَانَ	صِدِّيْقًا	نَّبِيًّا	اِذْ قَالَ	لِاَبِيْهِ	يٰاَبَتِ	لِمَ تَعْبُدُ	مَا
وُ	صديق	نبى	كله چي وويل (ابراهيم)	پلار خپل ته	اى پلاره	څه د پاره عبادت كوى ته	دهغه شى

وُ صديق (ډير رښتينى) نبى. كله چي وويل (ابراهيم) پلار خپل ته اى پلاره څه د پاره عبادت كوى ته دهغه شى

لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْـًٔا ﴿٤٢﴾ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ

لَا يَسْمَعُ	وَلَا يُبْصِرُ	وَلَا يُغْنِيْ	عَنْكَ	شَيْـًٔا	يٰٓاَبَتِ	اِنِّيْ
چې نه اوري	او نهويني	او نه دفع کولی سی	له تا څخه	هيڅ شی	ای پلاره زما	بيشکه! زه چې يم

چې نه اوري او نه ويني او نه دفع کولی سی له تا څخه هيڅ شی. ای پلاره زما بيشکه! زه چې يم

قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ فَاتَّبِعْنِيْٓ اَهْدِكَ

قَدْ	جَآءَنِيْ	مِنَ الْعِلْمِ	مَا	لَمْ يَاْتِكَ	فَاتَّبِعْنِيْٓ	اَهْدِكَ
په تحقيق	راغلی دی ماته	له علمه	هغه قدر چې	نه دی راغلی تاته	نو متابعت وکړه زما	چې وبه ښيم تاته

په تحقيق راغلی دی ماته له علمه هغه قدر چې نه دی راغلی تاته نو متابعت وکړه زما چې وبه ښيم تاته

صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يٰٓاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ؕ اِنَّ

صِرَاطًا	سَوِيًّا	يٰٓاَبَتِ	لَا تَعْبُدِ	الشَّيْطٰنَ	اِنَّ
لاره	سمه برابره	ای پلاره زما	مه کوه عبادت	دشيطان	بيشکه!

لاره سمه برابره. ای پلاره زما مه کوه عبادت د شيطان (په ارتکاب دمنهياتو) ، بيشکه!

الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْٓ اَخَافُ

الشَّيْطٰنَ	كَانَ	لِلرَّحْمٰنِ	عَصِيًّا	يٰٓاَبَتِ	اِنِّيْٓ	اَخَافُ
شيطان	دی	له رحمٰن څخه	ډير نافرمانه	ای پلاره زما	بيشکه! زه چې يم	بيريږم

شيطان دی له رحمٰن څخه ډير نافرمانه (سرکشه). ای پلاره زما بيشکه! زه چې يم بيريږم

اَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾

اَنْ يَّمَسَّكَ	عَذَابٌ	مِّنَ	الرَّحْمٰنِ	فَتَكُوْنَ	لِلشَّيْطٰنِ	وَلِيًّا
له دی څخه چې وبه رسيږی تاته	عذاب	له	رحمٰن څخه	پس سی به ته	شيطان ته	دوست

له دی څخه چې وبه رسيږی تاته عذاب له رحمٰن څخه (له وجی د متابعت د شيطان) پس سی به ته شيطان ته دوست (ملګری)

قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ۚ

قَالَ	اَرَاغِبٌ	اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ	يٰٓاِبْرٰهِيْمُ
ووېل	آيا مخ ګرځونکی يئ	ته له معبودانو زما	ای ابراهيمه

ووېل (آزر پلار د ابراهيم) آيا مخ ګرځونکی يئ ته له (عبادت د) معبودانو زما ای ابراهيمه،

يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا...خپلو مشرانو ته دنصيحت طريقه او دهغه اداب: (ياآبت) دعربي لغت په اعتبار سره دالفظ دپلار دتعظيم او دمحبت خطاب دی حضرت خليل الله عليه السلام ته چې الله جل جلاله کم مقام دجامعيت داوصافو او کمالاتو ورکړی وو دهغه داتقرير کم چې دخپل پلار په وړاندي کوي دمزاج داعتدال او داضدادو درعايت يو بې مثله تقرير دی چې يو طرف ته پلار په شرک کفر او ښکاره ګمراهی کي نه صرف اخته بلکي دهغه دعوت کوونکی ويني دکم دورانولو دپاره چې حضرت خليل الله عليه السلام پيدا سوی وو بل طرف ته دپلار ادب او عظمت او محبت دی ددغه دواړو ضدينو حضرت خليل الله عليه السلام څنګه سره جمع والی وکړی ؟اول خو د (ياآبت) لفظ کم چې دپلار دمهرباني او محبت داعي دی دهرې جملې په شروع کي کي يې ددې لفظ اضافه والی وکړی په دې سره يې خطاب وکی بيا په يوه جمله کي دپلار طرف ته څه لفظ داسي منسوبه کړی نه دی چې دده توهين يا دل آزاري په وسي چې ده ته ګمراه يا کافر ووايي.
(معارف القرآن ج۶ پ ۱۶ ص ۷۱)

لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ قَالَ سَلٰمٌ

لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ	لَاَرْجُمَنَّكَ	وَاهْجُرْنِيْ	مَلِيًّا	قَالَ	سَلٰمٌ
كه منع نسوى ته	نو خامخا وبه ولم هرومرو تا په كانو سره	ليرى سه زما څخه	ډير مدت	وويل (ابراهيم)	سلام دى وى

كه منع نسوى ته نو خامخا وبه ولم هرومرو تا په كانو سره او ليرى سه زما څخه ډير مدت. وويل (ابراهيم) سلام دى وى

عَلَيْكَ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ ۚ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ﴿٤٧﴾ وَاَعْتَزِلُكُمْ

عَلَيْكَ	سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ	رَبِّيْ	اِنَّهٗ كَانَ	بِيْ	حَفِيًّا	وَاَعْتَزِلُكُمْ
پر تا باندى	ژر به مغفرت غواړم تا ته	له رب خپل	بيشكه! چي الله دى	پر ما	ډير مهربان	او پر څنګ به سم له تاسى

پر تا باندى. ژر به مغفرت غواړم تا ته له رب خپل (څو مسلمان سى)، بيشكه! چي الله دى پر ما ډير مهربان. او پر څنګ به سم له تاسى

وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ ۖ عَسٰٓى اَلَّآ اَكُوْنَ

وَمَا تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	وَاَدْعُوْا	رَبِّيْ	عَسٰٓى	اَلَّآ اَكُوْنَ
او له هغه څه چي تاسى ئى عبادت كوئ	غير له	الله	او عبادت به كوم	درب خپل	اميد لرم ددى	چي نسم زه

او له هغه څه چي تاسى ئى عبادت كوئ غير له الله، او عبادت به كوم (يوائى) د رب خپل اميد لرم د دى چي نسم زه

بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا

بِدُعَآءِ	رَبِّيْ	شَقِيًّا	فَلَمَّا	اعْتَزَلَهُمْ	وَمَا
په عبادت	درب خپل كښي	بدبخته	كله چي	پرڅنګ سو له دوى څخه په هجرت سره	او له هغه شي

په عبادت درب خپل كښي بدبخته (نااميده). كله چي پر څنګ سو (ابراهيم) له دوى څخه په هجرت سره او له هغه شي

يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ۖ

يَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	وَهَبْنَا	لَهٗ	اِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ
چي دوى ئى عبادت كاوه	غير له	الله څخه	نو وبخښل موږ	ده ته	اسحق	او يعقوب

(چي دوى ئى) عبادت كاوه غير له الله څخه نو وبخښل موږ ده ته (زوى) اسحق او (لمسى) يعقوب،

وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا

وَكُلًّا	جَعَلْنَا	نَبِيًّا	وَوَهَبْنَا لَهُمْ	مِّنْ	رَّحْمَتِنَا
او هريو	ګرځولى ؤ موږ	نبى	او بخښلى ؤ موږ دوى ته	له	رحمته خپل (نبوت او حكمت)

او هريو (له دوى دواړو) ګرځولى ؤ موږ نبى. او بخښلى ؤ موږ دوى (درى واړو) ته له رحمته خپل (نبوت او حكمت)

قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ... حضرت ابراهيم ؑ وخپل پلار ته په اخركي وفرمايل (سلامٌ عليک) : دلته لفظ دسلام ددوو معناوو دپاره كيداى سي اول دا چي سلام دتعلقاتو دختميدو دپاره وي يعني دچا سره چي څوک تعلقات ختموي نو شريفانه او مهذبه طريقه يي داده چي دخبري دجواب وركولو پر ځاى لفظ دسلام ووايي او جدا سي ورڅخه لكه چي په قرآن كريم كي الله ﷻ دخپلو مقبولو او صالحانو بندګانو په صفت كي فرمايلي دي (واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاما) يعني كله چي جاهلان خلګ ددوى سره جاهلانه خبري كوي نو دوى ورته دجواب وركولو پر ځاى ورته لفظ دسلام وايي چي مطلب يي دادى چي سره له مخالفته زه تاته هيڅ نه وايم او تكليف او ضرر نه دررسوم: اودوهم مطلب يي دادى چي دلته سلام دعرفي سلام په معنى كي دى نو په دې كي فقهي اشكال دادى چي كافر ته مخكي سلام كول دحديث په وجه سره منع دى: دغه اشكال او اعتراض سره دجوابه په معارف القرآن تفسير كي وګورى.
(معرف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۷۱)

ع۳ ۲

وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ۝٥٠ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ

وَجَعَلْنَا	لَهُمْ	لِسَانَ	صِدْقٍ	عَلِيًّا	وَاذْكُرْ	فِي الْكِتٰبِ
او کرځولی وه موږ	دوی ته	ژبه	دصدق رښتینې	ډیره پورته مشهوره	او یاد کړه (محمده)	په کتاب (قرآن) کښې

او کرځولی وه موږ دوی ته ژبه دصدق رښتینې ډیره پورته مشهوره. او یاد کړه (محمده) په کتاب (قرآن) کښې (قصه د)

مُوْسٰٓى اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ۝٥١ وَنَادَيْنٰهُ

مُوْسٰٓى	اِنَّهٗ كَانَ	مُخْلَصًا	وَّكَانَ	رَسُوْلًا	نَّبِيًّا	وَنَادَيْنٰهُ
موسٰی	بیشکه! چې دی ؤ	خالص کړی سوی	او ؤ دی	رسول	نبی	او اواز کړی وو موږ دغه (موسٰی ته

موسٰی، بیشکه! چې دی ؤ خالص کړی سوی (دالله له طرفه) او ؤ دی رسول نبی. او اواز کړی وو موږ دغه (موسٰی) ته

مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ۝٥٢

مِنْ جَانِبِ	الطُّوْرِ	الْاَيْمَنِ	وَقَرَّبْنٰهُ	نَجِيًّا
له جانبه د (غره د)	طور	چې ښی طرف ته ؤ	او رانژدې کړی ؤ موږ دی	حال دا چې موږ له ده سره د راز خبرې کولې

له جانبه د (غره د) طور چې (دموسٰی) ښی طرف ته ؤ او رانژدې کړی ؤ موږ دی حال دا چې موږ له ده سره د راز خبرې کولې.

وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ۝٥٣ وَاذْكُرْ

وَوَهَبْنَا	لَهٗ	مِنْ رَّحْمَتِنَآ	اَخَاهُ	هٰرُوْنَ	نَبِيًّا	وَاذْكُرْ
او بخښلی ؤ موږ	دغه (موسٰی) ته	له رحمت خپله	ورور د ده	هارون	حال دا چې نبی ؤ	او یاد کړه (ای محمده!)

او بخښلی ؤ موږ دغه (موسٰی) ته له رحمت خپله ورور د ده هارون حال دا چې نبی ؤ (زما او وزیر وو د موسٰی). او یاد کړه (محمده!)

فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا

فِي الْكِتٰبِ	اِسْمٰعِيْلَ	اِنَّهٗ كَانَ	صَادِقَ	الْوَعْدِ	وَكَانَ	رَسُوْلًا
په کتاب (قرآن) کښې	(قصه د) اسمٰعیل	بیشکه! چې دی ؤ	صادق	په وعده کښې	او ؤ	رسول

په کتاب (قرآن) کښې (قصه د) اسمٰعیل بیشکه! چې دی ؤ صادق (رښتنی) په وعده کښې او ؤ رسول

نَّبِيًّا ۝٥٤ وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۠ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ

نَّبِيًّا	وَكَانَ	يَاْمُرُ	اَهْلَهٗ	بِالصَّلٰوةِ	وَالزَّكٰوةِ	وَكَانَ	عِنْدَ	رَبِّهٖ
نبی	او ؤ دی چې	حکم به ئې کاوه	اهل خپل ته	په لمانځه سره	او په زکوة سره	او ؤ دی	په نزد	د رب خپل

نبی. او ؤ دی چې حکم به ئې کاوه اهل (قوم یا امت) خپل ته په لمانځه سره او په زکوة سره، او ؤ دی په نزد د رب خپل

اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا ... دوعدې پوره کول هر شریف سړی ضروري بولي: دوعدې پوره کول یو داسې ښه خوی دی چې هر شریف سړی دا ضروري ګڼي او ددې خلاف کول یو رذیل حرکت ګڼي په حدیث شریف کې یې وعده خلافي ته دنفاق نښه ویلې ده په دې وجه دالله ﷻ یو نبي اورسول هم داسې نسته کم چې دوعدې رښتینی نه وي مګر دکلام په دې سلسله کې دخاصو خاصو انبیاوو علیهم السلام دذکر سره څه خاص وصف هم ذکر کړی دی: ددې مطلب دا نه دی چې دا وصف نو په نورو کې نسته بلکې دا اشاره ده ددې طرفته چې په ده کې دا خاص صفت یو امتیازي حیثیت لري لکه اوس چې مخکې دحضرت موسی علیه السلام دذکر سره دمخلصوالي صفت بیان سو حال دا دی چې دا صفت په نورو انبیاوو علیهم السلام کښې عام دی مګر حضرت موسی علیه السلام ته په دغه صفت کښې یو خاص امتیاز حاصل وو په دې وجه یې دغه صفت دده سره ذکر وفرمایه همدا شان داد وعدې صداقت دحضرت اسمعیل علیه السلام یو خاص امتیاز وو الخ.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص ۷۶)

مَرۡضِيًّا ۝٥٥ وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ اِدۡرِيۡسَ ۡ اِنَّهٗ كَانَ

مَرۡضِيًّا	وَاذۡكُرۡ	فِي الۡكِتٰبِ	اِدۡرِيۡسَ	اِنَّهٗ كَانَ
غوره کړی سوی	او یاد کړه (محمده!)	په کتاب (قرآن) کښې	(قصه د) ادریس	بیشکه! چې دی ؤ

پسندیده (غوره کړی سوی). او یاد کړه (ای محمده! امت ته) په کتاب (قرآن) کښې (قصه د) ادریس بیشکه! چې دی ؤ

صِدِّيۡقًا نَّبِيًّا ۝٥٦ وَّرَفَعۡنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ۝٥٧ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ

صِدِّيۡقًا	نَّبِيًّا	وَّرَفَعۡنٰهُ	مَكَانًا	عَلِيًّا	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيۡنَ
صدیق	نبی	او پورته کړی دی موږ ده لره	ځای	ډیر اوچت ته	دغه	هغه کسان دی چې

صدیق (ډیر رښتینی) نبی. او پورته کړی دی موږ ده لره (ژوندی) ځای ډیر اوچت (جنت) ته. دغه هغه کسان دی چې

اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنۡ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۡ وَمِمَّنۡ

اَنۡعَمَ	اللّٰهُ	عَلَيۡهِمۡ	مِّنَ النَّبِيّٖنَ	مِنۡ ذُرِّيَّةِ	اٰدَمَ	وَمِمَّنۡ
انعام کړی دی	الله	پر دوی	له انبیاؤ څخه	له اولادی	د آدم	او له اولادی د هغو کسانو

انعام کړی دی الله پر دوی له انبیاؤ څخه له اولادی د آدم (لکه شیث، ادریس) او له اولادی د هغو کسانو

حَمَلۡنَا مَعَ نُوۡحٍ ۡ وَّمِنۡ ذُرِّيَّةِ اِبۡرٰهِيۡمَ وَاِسۡرَآءِيۡلَ ۡ وَمِمَّنۡ

حَمَلۡنَا	مَعَ	نُوۡحٍ	وَّمِنۡ ذُرِّيَّةِ	اِبۡرٰهِيۡمَ	وَاِسۡرَآءِيۡلَ	وَمِمَّنۡ
چې بار کړی دی موږ	سره له	نوح په بیړی کښې	او له اولادی	د ابراهیم	او د اسرائیل (یعقوب)	او له هغه چا څخه

چې بار کړی دی موږ سره له نوح په بیړی کښې، او له اولادی د ابراهیم او له اولادی د اسرائیل (یعقوب) او له هغه چا څخه

هَدَيۡنَا وَاجۡتَبَيۡنَا ؕ اِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُ

هَدَيۡنَا	وَاجۡتَبَيۡنَا	اِذَا تُتۡلٰى	عَلَيۡهِمۡ	اٰيٰتُ
چې لاره مو ښوولې وه	او غوره کړی مو وه	هرکله چې وبه لوستلې سو	پر دوی باندی	آیاتونه

چې لاره مو ښوولې وه (دوی ته) او غوره کړی مو وه (دوی نبوت ته) هرکله چې وبه لوستلې سو پر دوی باندی آیاتونه

الرَّحۡمٰنِ خَرُّوۡا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ۩ ۝٥٨ فَخَلَفَ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ

الرَّحۡمٰنِ	خَرُّوۡا	سُجَّدًا	وَّبُكِيًّا	فَخَلَفَ	مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ	خَلۡفٌ
د رحمٰن	نولویدل به	سجده کوونکی	او ژړیدونکی	پس پیدا سول	پس له دوی څخه	خلیفګان

د رحمٰن نو لویدل به (پر مځکه) سجده کوونکی او ژړیدونکی. پس پیدا سول پس له دوی څخه (داسی بد) خلیفګان

وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتٰبِ اِدۡرِيۡسَ ۡ اِنَّهٗ كَانَ... د حضرت ادریس علیه السلام تعارف او لنډه پیژندنه: حضرت ادریس علیه السلام د حضرت نوح علیه السلام څخه زر ۱۰۰۰ کاله مخکي د حضرت نوح علیه السلام په نیکه ګانو کي تیر سوی دی او دی د حضرت آدم علیه السلام څخه وروسته اولنی نبي او رسول دی پر کم چي الله جل جلاله دیرش صحیفي را نازلي کړي دي: او حضرت ادریس علیه السلام د ټولو څخه مخکنی انسان دی کم ته چي علم نجوم او علم الحساب په طور د معجزې ورکړه سوی دی: او دی د ټولو څخه اولنی انسان دی چا چي په قلم سره لیکل کړي دي او دی اولنی انسان دی چا چي جامي ګنډل ایجاد کړي دي دده څخه مخکي به خلګو په عام طور سره د حیوانانو څرمني د کالو پر ځای استعمالولې او دی اولنی هغه انسان دی چي د ټولو څخه یي مخکي د ناپ او تول طریقې ایجاد کړي دي او دی اولني هغه انسان دی چي د اسلحې ایجاد یي کړی دی دوی اسلحه تیاره کړه او د بنو قابیل چي یو قوم د کافرانو وو د هغو سره یې جهاد وکړی: تفسیر بحر محیط او مظهري.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۷۸)

السجدة ۵

أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ

أَضَاعُوا	الصَّلٰوةَ	وَاتَّبَعُوا	الشَّهَوٰتِ	فَسَوْفَ	يَلْقَوْنَ
چی ضائع کړ دوی	لمونځ	او متابعت وکړ دوی	دشهواتو	پس ژر به	یو ځای سی دوی

چی ضائع کړ دوی لمونځ او متابعت وکړ دوی د شهواتو (نفسانی خواهشونو) پس ژر به یو ځای سی دوی

غَيًّا ﴿٥٩﴾ إِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولٰٓئِكَ

غَيًّا	إِلَّا	مَنْ تَابَ	وَاٰمَنَ	وَعَمِلَ	صَالِحًا	فَأُولٰٓئِكَ
له بد عاقبت خپل سره	مګر	هغه چا چی توبه ئی ویستله	او ایمان ئی راوړ	او عمل ئی وکړ	نیک	پس دغه کسان

له بد عاقبت خپل سره. مګر هغه چا چی توبه ئی ویستله او ایمان ئی راوړ او عمل ئی وکړ نیک پس دغه کسان

يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْـًٔا ﴿٦٠﴾ جَنّٰتِ عَدْنٍ

يَدْخُلُونَ	الْجَنَّةَ	وَلَا يُظْلَمُونَ	شَيْـًٔا	جَنّٰتِ	عَدْنٍ
به ننوځی	په جنت کښی	او ظلم به پر دوی ونه کړی سی	هیڅ قدر	جنتونه	دتل اوسیدلو

به ننوځی په جنت کښی او ظلم به پر دوی ونه کړی سی هیڅ قدر (په تقلیل دثواب). جنتونه د تل اوسیدلو

الَّتِيْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهٗ كَانَ وَعْدُهٗ

الَّتِيْ	وَعَدَ	الرَّحْمٰنُ	عِبَادَهٗ	بِالْغَيْبِ	إِنَّهٗ كَانَ	وَعْدُهٗ
هغو ته	چی وعده ئی کړی ده	رحمٰن	له بندګانو خپلو سره	په غیب باندی	بیشکه! شان دادی چی ده	وعده د ده

هغو ته چی وعده ئی کړی ده رحمٰن له بندګانو خپلو سره په غیب باندی بیشکه! شان دادی چی ده وعده د ده (چی جنت دی)

مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلٰمًا

مَأْتِيًّا	لَا يَسْمَعُونَ	فِيهَا	لَغْوًا	إِلَّا	سَلٰمًا
خامخا راتلونکی ده	نه به اوری دغه (جنتیان)	په دغه (جنت) کښی	چتی (فضول) خبره	مګر	(اوری به) سلام

خامخا راځی به ورته (اهل ئی). نه به اوری دغه (جنتیان) په دغه کښی چتی (فضول) خبره مګر (اوری به) سلام،

وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ

وَلَهُمْ	رِزْقُهُمْ	فِيهَا	بُكْرَةً	وَّعَشِيًّا	تِلْكَ	الْجَنَّةُ	الَّتِيْ	نُوْرِثُ
او دی دوی ته	رزق د دوی	په دغه (جنت) کښی	سهار	او ماښام	دغه	جنت دی	هغه چی	په میراث به ور کوو موږ

او دی دوی ته رزق (روزی) د دوی په دغه (جنت) کښی صبا او بیګا. دغه جنت دی هغه چی په میراث به ور کوو موږ

أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ.. لمونځ بې وخته یا بغیر دجماعت څخه کول دلمونځ ضایع کول دي او داعظیمه ګناه ده: دلته دلمونځ دضایع کولو څخه دجمهورو تفسیرو لیکونکو په نزد لمونځ دده دوخت څخه وروسته کول دي: او ځیني علماء بیا فرمایي چي دلمانځه په آدابو او شرطونو کي په څه کي کوتاهي کول دادلمانځه ضایع کول دي: او ځیني حضرات بیا فرمایي چي لمونځ په کور کي کول دلمونځ ضایع کول دي: حضرت فاروق اعظم ﷺ دحکومت خپلو ټولو کارکوونکو ته دا هدایت نامه لیکلې وه چي (انّ اهم امورکم عندی الصلوة فمن ضیعها فهو لما سواها اضیع) یعني زما په نزد په ټولو کارونو کي دټولو څخه اهم زیات لمونځ دی نو کم سړي چي لمونځ ضایع کی دغه سړی به نور ټول ددین احکام هم ضایع کوي: حضرت حذیفه ﷺ یو سړی ولیدی چي دلمونځ په آدابو او دارکانو په برابرولو کي یې کوتاهي کوله نوده ورڅخه پوښتنه وکړه چي ته دکله څخه دا لمونځ کوې هغه وویل: پاته حدیث شریف پر راروان مخ وګوری.

مِنۡ عِبَادِنَا مَنۡ كَانَ تَقِيًّا ۝٦٣ وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمۡرِ رَبِّكَ ۚ

مِنۡ عِبَادِنَا	مَنۡ كَانَ	تَقِيًّا	وَمَا نَتَنَزَّلُ	اِلَّا	بِاَمۡرِ رَبِّكَ
له بندګانو خپلو	هغه چاته چې وی	پرهیزګار	او نه نازلیږو موږ (ملائیکی)	مګر	په حکم د رب ستا

له بندګانو خپلو هغه چا ته چې وی پرهیزګار. او (وویل جبرئیل) نه نازلیږو (موږ ملائیکی) مګر په حکم د رب ستا

لَهٗ مَا بَيۡنَ اَيۡدِيۡنَا وَمَا خَلۡفَنَا وَمَا

لَهٗ	مَا بَيۡنَ	اَيۡدِيۡنَا	وَمَا خَلۡفَنَا	وَمَا
خاص الله ته دی (علم)	پر هر هغه شی	چې په مخ زموږ کښی دی	او پر هغه شی چې وروسته زموږ دی	او هر هغه شی چې

خاص الله ته دی (علم) پر هر هغه شی چې په مخ زموږ کښی دی او پر هغه شی چې وروسته زموږ دی او هر هغه شی چې

بَيۡنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ۝٦٤ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا

بَيۡنَ	ذٰلِكَ	وَمَا كَانَ	رَبُّكَ	نَسِيًّا	رَبُّ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَمَا
په مینځ	د دغه کښی دی	او نه دی	رب ستا	هیروونکی	(الله) رب	دآسمانو دی	او د مځکی دی	او د دغو شیانو دی

په مینځ د دغه کښی دی، او نه دی رب ستا هیروونکی (دتا). (الله) رب د آسمانو دی او د مځکی دی او د دغو شیانو دی

ع ۱۵

بَيۡنَهُمَا فَاعۡبُدۡهُ وَاصۡطَبِرۡ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهٗ سَمِيًّا ۝٦٥

بَيۡنَهُمَا	فَاعۡبُدۡهُ	وَاصۡطَبِرۡ	لِعِبَادَتِهٖ	هَلۡ تَعۡلَمُ	لَهٗ	سَمِيًّا
چې په مینځ د دوی کښی دی	نو عبادت کوه دده	او صبر کوه	په عبادت د دغه (الله) کښی	آیا پیژنی ته	دده ته	کوم هم نام

چې په مینځ د دوی کښی دی نو عبادت کوه د ده او صبر کوه په عبادت د دغه (الله) کښی، آیا پیژنی ته دده ته کوم هم نام.

وَيَقُوۡلُ الۡاِنۡسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ لَسَوۡفَ اُخۡرَجُ حَيًّا ۝٦٦

وَيَقُوۡلُ	الۡاِنۡسَانُ	ءَاِذَا	مَا مِتُّ	لَسَوۡفَ	اُخۡرَجُ	حَيًّا
او وائی	انسان	آیا کله چې	مر سم زه	خامخا ژر به	را و ایستلی سم (له مځکی)	ژوندی

او وائی (له بعثه منکر) انسان آیا کله چې مر سم زه نو خامخا ژر به را وایستلی سم (له مځکی) ژوندی (بلکه نه ژوندی کیږم)

اَوَلَا يَذۡكُرُ الۡاِنۡسَانُ اَنَّا خَلَقۡنٰهُ مِنۡ قَبۡلُ وَلَمۡ يَكُ شَيۡـًٔا ۝٦٧

اَوَلَا يَذۡكُرُ	الۡاِنۡسَانُ	اَنَّا	خَلَقۡنٰهُ	مِنۡ قَبۡلُ	وَلَمۡ يَكُ	شَيۡـًٔا
آیا نه یادوی	انسان	چې بیشکه! موږ	پیدا کړی ؤ دی	پخوا له دی څخه	او نه ؤ دی	هیڅ شی

آیا نه یادوی (له بعثه منکر) انسان (دا خبره) چې بیشکه! موږ پیدا کړی ؤ دی پخوا له دی څخه او نه ؤ دی هیڅ شی.

وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمۡرِ رَبِّكَ
لَهٗ مَا بَيۡنَ... د تیر مخ پاته
حدیث شریف دلته وګوری
چې د ځلوینښتو کالو څخه ده ورته وفرمایل چې تا یو لمونځ هم نه دی کړی او که ته داسې لمونځونه کوې او مړ سې نو یاد ساته چې د محمد ﷺ د فطرت څخه خلاف به مړ سې: د حضرت ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې د هغه سړي لمونځ نه کیږي کم چې په لمانځه کې اقامت نه کوي: مراد دا دی چې څوک په رکوع او سجده او د رکوع څخه په پورته کیدو کې او د دوو سجدو تر مابین د کښیناستو اهتمام نه کوي د ده لمونځ نه کیږي: لنډه دا چې کم سړي په اودس او پاکۍ کې کوتاهي وکړه یا یې د لمونځ په رکوع او سجده کې کوتاهي وکړه یا د دواوړو تر مینځ په ناسته کې کوتاهي وکړه د ده لمونځ ضایع کیږي:
حضرت حسن رحمة الله علیه
د لمونځ ضایع کولو او د شهواتو د تابعداری په باره کې فرمایي چې مسجدونه یې پرېښوول او په تجارت، صنعت، او خواهشاتو او لذتونو کې مشغوله سول.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۸۲)

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيٰطِيْنَ ثُمَّ

فَوَرَبِّكَ	لَنَحْشُرَنَّهُمْ	وَالشَّيٰطِيْنَ	ثُمَّ
پس قسم دی په رب ستا باندی	چی خامخا راجمع به کړو موږ هرومرو دوی	او شیطانان	بیا به

پس قسم دی په رب ستا باندی چی خامخا راجمع به کړو موږ هرومرو دوی او شیطانان (ټول)، بیا به

لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ

لَنُحْضِرَنَّهُمْ	حَوْلَ	جَهَنَّمَ	جِثِيًّا	ثُمَّ	لَنَنْزِعَنَّ	مِنْ كُلِّ
خامخا راحاضر کړو موږ هرومرو دوی	چاپیر	له دوزخ	پر گونډو پراته	بیا	خامخا وباسو	له هری

خامخا راحاضر کړو موږ هرومرو دوی چاپیر له دوزخ پر گونډو پراته. بیا خامخا وباسو له هری

شِيْعَةٍ اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ اَعْلَمُ

شِيْعَةٍ	اَيُّهُمْ	اَشَدُّ	عَلَى	الرَّحْمٰنِ	عِتِيًّا	ثُمَّ	لَنَحْنُ	اَعْلَمُ
فرقی څخه	هر هغه د دوی	چی ډیر سخت دی	پر	رحمٰن باندی	له جهته د سرکشی	بیا	خامخا موږ	ښه عالم یو

فرقی څخه هر هغه د دوی چی ډیر سخت دی پر رحمٰن باندی له جهته د سرکشی. بیا به خامخا موږ ښه عالم یو

بِالَّذِيْنَ هُمْ اَوْلٰى بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا

بِالَّذِيْنَ	هُمْ	اَوْلٰى	بِهَا	صِلِيًّا	وَاِنْ	مِّنْكُمْ	اِلَّا
پر هغو کسانو	چی دوی	ښه لائق دی	له دغه (دوزخ) سره	له جهته د غورځولو	او نسته هیڅوک	له تاسی	مگر

پر هغو کسانو چی دوی ښه لائق دی له دغه (دوزخ) سره له جهته د غورځولو (سوځولو، داخلولو). او نسته هیڅوک له تاسی مگر

وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ

وَارِدُهَا	كَانَ	عَلٰى	رَبِّكَ	حَتْمًا	مَّقْضِيًّا	ثُمَّ	نُنَجِّي	الَّذِيْنَ
چی تیریدونکی دی پر هغه	دی	پر	رب ستا	یقینی	حکم پری کړی سوی	بیا به	نجات ورکړو	هغو کسانو ته

چی دی واردیدونکی نتوتونکی دی دغه ته، دی (دغه عبور النار) په رب ستا یقینی حکم پری کړی سوی. بیا به نجات ورکړو

اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ

اتَّقَوْا	وَّنَذَرُ	الظّٰلِمِيْنَ	فِيْهَا	جِثِيًّا	وَاِذَا	تُتْلٰى	عَلَيْهِمْ
چی پرهیزگاری ئی کړی ده	او پری به ږدو	ظالمان	په دوزخ کښی	پر گونډو پریوتلی	او کله چی	ولوستی سی	پر دوی

هغو کسانو ته چی پرهیزگاری ئی کړی ده، او پری به ږدو ظالمان په دوزخ کښی پر گونډو پریوتلی. او کله چی ولوستی سی پر دوی

وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ... دهر انسان ورود به یو وار پر جهنم باندي کیږي: الله جل جلاله فرمايي چي يو انسان مومن يا کافر به داسي نه وي دکمو ورود چي پر جهنم نه وي: دورود څخه مراد دخول نه دی بلکي تيريدل دي لکه چي دابن مسعود رضي الله عنه په يو روايت کي لفظ دمرور هم اغلی دی او که چيري دخول ور څخه مراد واخيستل سي نو دمومنانو متقيانو دخول به داسي وي چي جهنم به ددوی دپاره برد او سلام يعني يخ او دسلامتی ځای جوړ سي چي دوی ته به هيڅ تکليف محسوس نه سي :لکه چي دحضرت ابو سميه رضي الله عنه په روايت کي دي چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي يو نيک سړی يا فاجر سړی به پاته نه سي کم چي به په اول کي وه جهنم ته داخل نه سي مگر دغه وخت به مومنانو او متقيانو ته جهنم برد او سلام جوړ سي ددې څخه وروسته به مومنانو لره نجات ورکي او جنت ته به بوتلل سي او همدغه معنی ددغه آيت په راتلونکي جمله کي ده (ثمّ ننجی الذین آمنوا) او دا مضمون دابن عباس رضي الله عنه څخه هم منقول دی:
(معارف القرآن ج٦ پ١٦ ص ٨٧)

اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ

اٰيٰتُنَا	بَيِّنٰتٍ	قَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِلَّذِيْنَ
آیتونه زموږ	په‌دی حال کښی چی واضح ښکاره دی	وائی	هغه کسان	چی کافران سوی دی	هغو کسانو ته چی

آیتونه (د قرآن) زموږ په‌دی حال کښی چی واضح ښکاره دی وائی هغه کسان چی کافران سوی دی هغو کسانو ته چی

اٰمَنُوْٓا ۙ اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ

اٰمَنُوْٓا	اَيُّ	الْفَرِيْقَيْنِ	خَيْرٌ	مَّقَامًا	وَّاَحْسَنُ	نَدِيًّا	وَكَمْ
ایمان ئی راوړی دی	چی کوم یو	له دغو دواړو فرقو څخه	خیر بهتر دی	له جهته د مقامه	او ډیر ښه دی	له جهته د مجلسه	او څومره

ایمان ئی راوړی دی چی کوم یو له دغو دواړو فرقو څخه خیر بهتر دی له جهته د مقامه او ډیر ښه دی له جهته د مجلسه. او څومره

اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّرِءْيًا ﴿٧٤﴾

اَهْلَكْنَا	قَبْلَهُمْ	مِّنْ قَرْنٍ هُمْ	اَحْسَنُ	اَثَاثًا	وَّرِءْيًا
هلاک کړی دی موږ	پخوا له دوی څخه	له اهل د زمانی چی هغوی	ښه وو	له جهته د سامانونو	او له جهته د شکل او ډول او منظری

هلاک کړی دی موږ پخوا له دوی څخه له اهل د زمانی چی هغوی ښه وو له جهته د سامانونو او له جهته د شکل او ډول او منظری.

قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ حَتّٰٓى اِذَا

قُلْ	مَنْ كَانَ	فِي الضَّلٰلَةِ	فَلْيَمْدُدْ لَهُ	الرَّحْمٰنُ	مَدًّا	حَتّٰٓى	اِذَا
ووایه (محمده!)	هرڅوک چی وی	په ګمراهی کښی	پس زیاتوی ده ته	رحمٰن	په زیاتولو سره	ترهغه پوری	کله چی

ووایه (ای محمده!) هرڅوک چی وی په ګمراهی کښی پس زیاتوی ده ته رحمٰن په زیاتولو سره، ترهغه پوری کله چی

رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ ۭ فَسَيَعْلَمُوْنَ

رَاَوْا	مَا يُوْعَدُوْنَ	اِمَّا الْعَذَابَ	وَاِمَّا السَّاعَةَ	فَسَيَعْلَمُوْنَ
وګوری دوی	هرهغه شی چی وعده ورسره کړی سوی وی	یا عذاب	یا قیامت	نوژر به پوه سی دوی

وګوری دوی هرهغه شی چی وعده ورسره کړی سوی وی (دهغه) یا عذاب یا قیامت، نو ژر به پوه سی دوی

مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

مَنْ هُوَ	شَرٌّ	مَّكَانًا	وَّاَضْعَفُ	جُنْدًا	وَيَزِيْدُ	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ
چی څوک دی هغه	ډیر بد	له جهته د ځای	او ډیر ضعیف	له جهته د فوجه	او زیاتوی	الله	هغو کسانو ته

چی څوک دی هغه ډیر بد له جهته د ځای او ډیر ضعیف له جهته د فوجه. او زیاتوی الله (په دنیا کښی) هغو کسانو ته

اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ. کفارو د مسلمانانو دغلطولو دپاره دوه شیان پیش کړل

په دغه آیت کي الله ﷻ فرمايي چي کفارو دمسلمانانو دغلطولو دپاره دوه شیان پیش کړل: اول ددنیا ساز او سامان: دوهم خادمان او خپله ډله او جماعت چي دا په ظاهره کفاروته په نسبت د مسلمانانو زیات حاصل وه او هم دادوه شیان دي چي دانسانانو دپاره دنشي کار کوي او ددي فخر اوغرور ښه ښه هوښیاران او ذهین خلګ پر غلطو لارو باندي روانوي او دتیر دور دلویو سرمایه دارو حکومت او سلطنت والا وودعبرت خیز تاریخ څخه غافله دي خپل موجوده حال ذاتي کمال او ددایمي راحت ذریعه ګني بغیردهغه خلګو څخه کم چي دقرآن کریم دتعلیم مطابق ددنیا مال او دولت عزت او مرتبه خپل ذاتي کمال یا دایمي ملګری نه ګني په دي دالله ﷻ شکر په ژبه سره هم اداء کوي اودده د ورکړي نعمت په خرڅولو کي هم دده د احکامو پابندي کوي او ددي دفنا کیدو یا کمیدو دخطري څخه هیڅ وخت غافله نه وي:

(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص ۸۹)

اهْتَدَوْا هُدًى ؕ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ

اهْتَدَوْا	هُدًى	وَالْبٰقِيٰتُ	الصّٰلِحٰتُ	خَيْرٌ	عِنْدَ	رَبِّكَ
چې سمه لاره ئې پیدا کړې وی	هدایت او یقین	او باقی پاتې کیدونکی	نیک عملونه	خیر بهتره دی	په نزد	درب ستا

چې سمه صافه لاره ئې پیدا کړې وی هدایت ثبات او یقین ، او باقی پاتې کیدونکی نیک عملونه خیر بهتره دی په نزد درب ستا

ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ

ثَوَابًا	وَّخَيْرٌ	مَّرَدًّا	اَفَرَءَيْتَ	الَّذِيْ	كَفَرَ
له جهته دثواب	او خیر بهتر دی	له جهته د بیرته ورتللو	آیا پس لیدلی دی تا	هغه څوک	چې کفر ئې اختیار کړې

له جهته د ثواب او خیر بهتر غوره دی له جهته د بیرته ورتللو . آیا پس لیدلی دی تا هغه څوک چې کفر ئې اختیار کړی

بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٧٧﴾ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ اَمِ

بِاٰيٰتِنَا	وَقَالَ	لَاُوْتَيَنَّ	مَالًا	وَّوَلَدًا	اَطَّلَعَ	الْغَيْبَ	اَمِ
په آیتونو زموږ	او وائی	خامخا راکول کیږی ماته	مال	او ولد	آیا خبر سوی دی	پر غیبو	یا

په آیتونو زموږ او وائی خامخا راکول کیږی (په آخرت کښې) ماته مال او ولد . آیا خبر سوی دی پر غیبو یا

اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ؕ سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ وَنَمُدُّ لَهٗ

اتَّخَذَ	عِنْدَ	الرَّحْمٰنِ	عَهْدًا	كَلَّا	سَنَكْتُبُ مَا	يَقُوْلُ	وَنَمُدُّ لَهٗ
اخیستی ده	په نزد	درحمٰن	وعده	نه دی داسی	موږ لیکو هغه	چې وائی یې	او وبه غځوو ده ته

اخیستی ده په نزد درحمٰن وعده . نه دی داسی موږ لیکو هغه چې وائی او وبه غځوو ده ته

مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَّنَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾

مِنَ الْعَذَابِ	مَدًّا	وَّنَرِثُهٗ مَا	يَقُوْلُ	وَيَاْتِيْنَا	فَرْدًا
له عذابه	په غځولو	او په میراث به اخلو هغه	چې وائی	اوراځی موږ ته دی	یواځی

له عذابه په غځولو (چې دیوه دپاسه بل). او په میراث به اخلو (له ده په مرګ سره) هغه چې وائی او راځی موږ ته یواځی .

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ؕ

وَاتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	اٰلِهَةً	لِّيَكُوْنُوْا	لَهُمْ	عِزًّا	كَلَّا
او نیولی دی (کفارو)	غیر له	الله څخه	باطل معبودان	پاره د دی چې سی	دوی ته	سبب د عزت	نه دی داسی

او نیولی دی (کفارو) غیر له الله څخه باطل معبودان د پاره د دی چې سی دوی ته سبب د عزت (او مدد) . نه دی داسی

وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٧٧﴾ اَطَّلَعَ... کفارو به داخرت دورځي په راتلو پسې مسخرې کولې :

دحضرت خباب ابن الارت رضی الله عنه څخه روایت دی چې دده څه قرض پر عاص ابن وائل کافر باندې وودی یې دغوښتلو دپاره ولاړی هغه ورته وویل چې زه خو ستا قرض تر هغه وخته نه درکوم تر څو پورې چې ته دمحمد ﷺ سره دکفر او انکار معامله ونه کړې ده جواب ورکی چې زه خوداکار نه سم کولای تر څو چې ته مړ نه سې او بیا ژوندی نه سې عاص ابن وائل وویل چې ښه ده زه به مړ سم او بیا به ژوندی سم ؟ که داسې وي نو بس ستا قرض به هغه وخت درکړم کله چې دوباره ژوندی سم ځکه چې هغه وخت به زما سره هم مال وي او هم به اولاد :

قرآن کریم ددې احمق په جواب کې فرمایي چې ده ته دا څنګه معلومه سوه چې ددوباره ژوندي کیدو په وخت کې به هم دده سره مال او اولاد وي ایا ده دغیب خبرې معلومې کړې دي یا یې دالله ﷻ دمال او اولاد دپاره څه عهد اووعده کړېده او داخو ظاهره ده چې داسې څه شی نسته الخ.

(معرف القرآن ج۶ پ ۱۶ ص ۹۱)

عٰ ۵/۸

سَيَكۡفُرُوۡنَ بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُوۡنُوۡنَ عَلَيۡهِمۡ ضِدًّا ﴿۸۲﴾

سَيَكۡفُرُوۡنَ	بِعِبَادَتِهِمۡ	وَيَكُوۡنُوۡنَ	عَلَيۡهِمۡ	ضِدًّا
بلکه ژر به منکر سی	په عبادت د دوی	او سی به دغه (معبودان)	پر دغو (عابدانو) خپلو	دښمنان

بلکه ژر به منکر سی (دغه معبودان) په عبادت د دوی او سی به دغه (معبودان) پر دغو (عابدانو) خپلو دښمنان.

اَلَمۡ تَرَ اَنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا الشَّيٰطِيۡنَ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ تَؤُزُّهُمۡ

اَلَمۡ تَرَ	اَنَّاۤ	اَرۡسَلۡنَا	الشَّيٰطِيۡنَ	عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ	تَؤُزُّهُمۡ
آیا نه گوری نه ئی خبر	بیشکه! موږ	لیږلي مسلط کړی مو دی	شیطانان	پر کافرانو باندی	چی راپورته کوی دوی

آیا نه گوری نه ئی خبر (ای محمده!) بیشکه! موږ لیږلي مسلط کړی مو دی شیطانان پر کافرانو باندی چی او چتوی تیزوی دوی

اَزًّا ﴿۸۳﴾ فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡ ؕ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدًّا ﴿۸۴﴾

اَزًّا	فَلَا تَعۡجَلۡ	عَلَيۡهِمۡ	اِنَّمَا	نَعُدُّ لَهُمۡ	عَدًّا
په راپورته کولو سره	پس تلوار مه کوه	پر دوی	بیشکه! هم دا خبره ده	چی شمیرو موږ دوی ته	په شمارولو سره

په او چتولو تیزولو سره (په گناه). پس تلوار مه کوه پر دوی بیشکه! هم دا خبره ده چی شمیرو موږ دوی ته په شمارولو سره.

يَوۡمَ نَحۡشُرُ الۡمُتَّقِيۡنَ اِلَى الرَّحۡمٰنِ وَفۡدًا ﴿۸۵﴾ وَّنَسُوۡقُ

يَوۡمَ	نَحۡشُرُ	الۡمُتَّقِيۡنَ	اِلَى الرَّحۡمٰنِ	وَفۡدًا	وَّنَسُوۡقُ
یاد کړه هغه ورځ	چی جمع به کړو	پرهیزگاران	رحمٰن ته	سواره میلمانه بللی سوی	او شړو

یاد کړه هغه ورځ چی جمع به کړو پرهیزگاران رحمٰن ته سواره میلمانه بللی سوی. او شړو (په شدت سره)

الۡمُجۡرِمِيۡنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وِرۡدًا ﴿۸۶﴾ لَا يَمۡلِكُوۡنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا

الۡمُجۡرِمِيۡنَ	اِلٰى	جَهَنَّمَ	وِرۡدًا	لَا يَمۡلِكُوۡنَ	الشَّفَاعَةَ	اِلَّا
مجرمان	(طرف د)	دوزخ ته	پیاده تږی	نه مالکان کیږی	د شفاعت (دهیڅا)	مگر

مجرمان (طرف د) دوزخ ته پلی (پیاده) تږی. نه مالکان کیږی (هیڅ یو د دوی) د شفاعت (دهیڅا) مگر

مَنِ اتَّخَذَ عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا ﴿۸۷﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحۡمٰنُ

مَنِ اتَّخَذَ	عِنۡدَ	الرَّحۡمٰنِ	عَهۡدًا	وَقَالُوا	اتَّخَذَ	الرَّحۡمٰنُ
هغه څوک چی اخیستی ئی ده	په نزد	د رحمٰن	وعده	او وائی	نیولی دی	رحمٰن

هغه څوک چي اخیستی ئی ده په نزد د رحمٰن وعده (او په شفاعت مجاز وی). او وائی (کتابیان، مشرکان) نیولی دی رحمٰن .

فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡ ؕ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدًّا... د دنیا ورځې به ژر پوره سي او کافران به په سزا ورسيږي

په دغه آیت کي الله جل جلاله نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته خطاب کړی دی چي ته د کفارو د عذاب په باره کي د تلواري څخه کار مه اخله ځکه چي دا خو ډیر ژر کیدونکی دی ځکه چي په دنیا کي د استوگني د پاره کمي د شمیر ورځي چي موږ ورکړیدي هغه ژر پوره کیدونکي دي او د دې څخه وروسته عذاب او عذاب دی: بیا الله جل جلاله فرمايي (نعد لهم) یعني موږ د دوی د پاره شمیر کوو د دې مطلب دادی چي د دوی هیڅ شی آزاد نه دی د دوی د عمر شپې او ورځي ټولـه شمیرل کیږي د دوی سا اخیستل د دوی د نقل او حرکت یو یو قدم او د دوی لذتونه د دوی د ژوند یوه یوه لحظه موږ شمیرو د دې شمیر د پوره کیدو سره به پر دوی عذاب راسي: مامون الرشید یو وار سورت مریم ووایه کله چي د دې آیت ته راورسیدی نو ابن سماک رحمة الله علیه ته اشاره وسوه چي د دې څه مطلب دی؟ هغه وفرمایل چي کله موږ سا اخلو نو هغه شمیرل کیږي دا د الله جل جلاله وعده ده. (معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص ۹۳)

وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

وَلَدًا	لَقَدْ	جِئْتُمْ	شَيْـًٔا	إِدًّا	تَكَادُ	السَّمٰوٰتُ
ولد	خامخا په تحقیق	راتله کړی دی تاسی	په یو شی	بد سره	نژدی دی	آسمانونه

ولد (زوی، لور). خامخا په تحقیق راتله کړی دی تاسی په یو شی لوی سره له حیثیته د ګناه، نژدی دی آسمانونه

يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾

يَتَفَطَّرْنَ	مِنْهُ	وَتَنْشَقُّ	الْأَرْضُ	وَتَخِرُّ	الْجِبَالُ	هَدًّا
چی وچوی	له دی (نسبته)	او توټی توټی سی	مځکه	او ولویږی	غرونه	ذری ذری

چی وچوی له دی (نسبته) توټی توټی سی مځکه او ولویږی غرونه ذری ذری

أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنْۢبَغِي لِلرَّحْمٰنِ أَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾

أَنْ	دَعَوْا	لِلرَّحْمٰنِ	وَلَدًا	وَمَا يَنْۢبَغِي	لِلرَّحْمٰنِ	أَنْ يَّتَّخِذَ	وَلَدًا
له جهته د دی چی	بولی دوی	رحمٰن ته	زوی	او نه ښائی	رحمٰن ته	چی ونیسی	زوی

له جهته د دی چی بولی دوی رحمٰن ته ولد (لور، زوی). او نه ښائی رحمٰن ته چی ونیسی (دی ځوک) ولد (لور، زوی)،

إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ إِلَّآ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾

إِنْ كُلُّ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْأَرْضِ	إِلَّآ اٰتِي	الرَّحْمٰنِ	عَبْدًا
نه دی ټول	هغه چی دی	په آسمانونو کښی	او په مځکه کښی	مګر راتلونکی دی	رحمٰن ته	په دغه حال کښی چی بنده وی هر یو

نه دی ټول هغه چی دی په آسمانونو کښی او په مځکه کښی مګر راتلونکی دی رحمٰن ته په دغه حال کښی چی بنده وی هر یو

لَقَدْ أَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾

لَقَدْ	أَحْصٰىهُمْ	وَعَدَّهُمْ	عَدًّا
خامخا په تحقیق	احاطه کړی ده (الله) دوی لره	او شمیرلی دی (الله) دوی	په شمیرلو سره

خامخا په تحقیق احاطه کړی ده (الله) دوی لره او شمیرلی دی (الله) دوی په شمیرلو سره.

وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

وَكُلُّهُمْ	اٰتِيْهِ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	فَرْدًا	إِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
او دا ټول چی دی	راتلونکی دی دغه (الله) ته	په ورځ	د قیامت کښی	یوازی	بیشکه!	هغه کسان چی	ایمان ئی راوړی دی

او دا ټول چی دی راتلونکی دی دغه (الله) ته په ورځ د قیامت کښی یوازی. بیشکه! هغه کسان چی ایمان ئی راوړی دی

وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا..په مځکه او اسمانونو اوغرونو کي هم یو قسم احساس سته: ددغه ایاتونو څخه داسي معلومه سوه چي په مځکه او غرونو او ددوی په ټولو شیانو کي یو خاص قسم عقل او شعور موجود دی که څه هم هغه ددې درجې نه دی چي دالله ﷻ احکام پر مرتب سي لکه دانسان دعقل او شعور په شان بلکي داهغه عقل او شعور دی دکم په وجه سره چي ددنیا هر شی دالله ﷻ دنوم تسبیح کوي لکه چي دقرآن کریم ارشاددی (وان من شئ الا یسبح بحمده) یعني یو شی هم په دنیا کي داسي نسته کم چي دالله ﷻ دحمد سره تسبیح نه کوي ددې شیانو داشعور او ادراک دی چي ذکر یي په دغه ایاتونو کي راغلی دی چي دالله ﷻ سره دچا په شریکولو خاص بیا دالله ﷻ دپاره د اولاد په مقررولو سره مځکه او غرونه سخت بیریږي: حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چي دپیریانو او انسانانو څخه علاوه نور ټول مخلوقات د خدای ﷻ سره په شریک جوړولو باندي ډیر بیریږي چي دوی به ذره ذره سي. (معرف القرآن ج۶پ۱۶ص ۹۵)

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا

وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	سَيَجْعَلُ	لَهُمُ	الرَّحْمٰنُ	وُدًّا	فَإِنَّمَا
اوکړي ئې دي	ښه (عملونه)	ژربه وګرځوي	دوی ته	رحمٰن	دوستی محبت	پس بیشکه! هم داخبره ده

او کړي ئې دي ښه (عملونه) ژربه وګرځوي دوی ته رحمٰن دوستي محبت (په زړونو دخلګو کښې). پس بیشکه! هم داخبره ده

يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنْذِرَ

يَسَّرْنٰهُ	بِلِسَانِكَ	لِتُبَشِّرَ	بِهِ	الْمُتَّقِينَ	وَتُنْذِرَ
چې آسان کړی دی موږ دغه (قران)	په ژبه ستا	دپاره د دې چې زیری ورکړې ته	په دې سره	پرهیزګارانو ته	او چې وبیروې

چې آسان کړی دی موږ دغه (قرآن) په ژبه ستا دپاره د دې چې زیری ورکړې په دې سره پرهیزګارانو ته او چې وبیروې

بِهِ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ

بِهِ قَوْمًا	لُّدًّا	وَكَمْ	أَهْلَكْنَا	قَبْلَهُمْ	مِّنْ قَرْنٍ
په دې سره قوم	جګړه کوونکی	او ډیرو ډیر	هلاک کړی دی موږ	پخوا له دوی څخه	له (اهل د) زمانې

په دې سره قوم جګړه کوونکی. او ډیرو ډیر هلاک کړي دي موږ پخوا له دوی څخه له (اهل د) زمانې

هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾

هَلْ	تُحِسُّ	مِنْهُمْ	مِّنْ أَحَدٍ	أَوْ تَسْمَعُ	لَهُمْ	رِكْزًا
آیا	محسوسوی ته	له دوی څخه	یو تن	یا اورې ته	له دوی	کوم نرم پړغ هم

آیا محسوسوی (پیداکوی وینې) ته له دوی څخه یو تن یا اورې له دوی کوم نرم پړغ هم؟

آیاتونه ١٣٥ — ٢٠ سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ ٤٥ — رکوعې ٨

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

طٰهٰ ﴿١﴾ مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰى ﴿٢﴾ إِلَّا

طٰهٰ	مَا أَنْزَلْنَا	عَلَيْكَ	الْقُرْاٰنَ	لِتَشْقٰى	إِلَّا
ط، ها،	نه دی نازل کړی موږ	پرتا باندې	قرآن	دپاره د دې چې ته په تکلیف کښې پریوزې	مګر

ط، ها. نه دی نازل کړی موږ پر تا باندې قرآن دپاره د دې چې مشقت محنت پر خپل ځان بار کړې مګر (نازل کړی دی موږ)

مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰى...د سورت طه فضائل او خصوصیات:

دحضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي الله جل جلاله دمځکي او د اسمان دپیدا کولو څخه دوزره ٢٠٠٠ کاله مخکي سورت طه، او سورت یس وویل یعني ملایکو ته یي واورول: نو ملایکو وویل چي ډیر خوش نصیب او مبارک امت دی هغه امت چي دا سورتونه پر دوی نازل سي او مبارکي دي هغه سیني کمي چي دا یادي کړي او مبارکي دي هغه ژبي کمي چي دا وایي: دا هغه مبارک سورت دی کم چي دنبي کریم دقتل په اراده راوتلی عمر ابن خطاب رضي الله عنه یي پر ایمان قبلولو او دحضرت نبي کریم ﷺ پر قدمونو پرلویدلو باندي مجبوره کی چي واقعه یي دسیرت په کتابونو کي معروفه او مشهوره ده: دابن اسحاق رحمة الله عليه روایت داسي دی چي عمر ابن خطاب رضي الله عنه یوه ورځ توره راواخیسته او دنبي کریم ﷺ دقتل په اراده دکوره ووتی په لاره کي نعیم ابن عبدالله ورسره یوځای سو پوښتنه یي ځني وکړه چي چیري دي اراده ده؟ پاته قصه پر راروان مخ وګوری.

نصف — ع ٢/٩

تَذۡكِرَةً لِّمَنۡ يَّخۡشٰى ۞ تَنۡزِيۡلًا مِّمَّنۡ خَلَقَ الۡاَرۡضَ وَالسَّمٰوٰتِ

تَذۡكِرَةً	لِّمَنۡ	يَّخۡشٰى	تَنۡزِيۡلًا	مِّمَّنۡ	خَلَقَ	الۡاَرۡضَ	وَالسَّمٰوٰتِ
نصيحت	دپاره دهغه چاچې	بيريږي	په نازليدلو	له طرفه دالله	چې پيدا کړی ئی ده	مځکه	او آسمانونه

تذکره پند دپاره دهغه چا چې بيريږي (له الله څخه). په نازليدلو له طرفه د (هغه) الله چې پيدا کړی ئی ده مځکه او آسمانونه

الۡعُلٰى ۞ اَلرَّحۡمٰنُ عَلَى الۡعَرۡشِ اسۡتَوٰى ۞ لَهٗ مَا

الۡعُلٰى	اَلرَّحۡمٰنُ	عَلَى	الۡعَرۡشِ	اسۡتَوٰى	لَهٗ	مَا
لوړ لوړ	رحمٰن	پر	عرش باندی	قايم او غالب دی	خاص الله لره دی	هغه شيان

لوړ لوړ (اوچت اوچت). (دغه خالق) د رحمٰن پر عرش باندی مستولی او غالب دی. خاص الله لره دی هغه شيان

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَمَا تَحۡتَ

فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا فِي	الۡاَرۡضِ	وَمَا بَيۡنَهُمَا	وَمَا تَحۡتَ
چې په آسمانونو کښې دی	او هغه شيان چې	په مځکه کښې دی	او هغه شيان چې په مينځ د دوی کښې دی	او هغه چې لاندې

چې په آسمانو نو کښې دی او هغه شيان چې په مځکه کښې دی، او هغه شيان چې په مينځ د دوی کښې دی او هغه چې لاندې

الثَّرٰى ۞ وَاِنۡ تَجۡهَرۡ بِالۡقَوۡلِ فَاِنَّهٗ يَعۡلَمُ السِّرَّ وَاَخۡفٰى ۞

الثَّرٰى	وَاِنۡ	تَجۡهَرۡ	بِالۡقَوۡلِ	فَاِنَّهٗ	يَعۡلَمُ	السِّرَّ	وَاَخۡفٰى
دلوندی مځکی څخه دی	او که	لوړ والی کوی	په وينا سره	پس بيشکه! دغه (الله)	عالم دی	په پټه خبره	او په ډيره پټه

د لوندی مځکی څخه دی. او که جهر کوی په وينا سره پس بيشکه! دغه (الله) عالم دی په پټه خبره او په ډيره پټه.

اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰى ۞ وَهَلۡ اَتٰىكَ

اَللّٰهُ	لَاۤ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	لَهُ	الۡاَسۡمَآءُ	الۡحُسۡنٰى	وَهَلۡ	اَتٰىكَ
الله (چې دی)	نشته بل	برحق معبود	مګر	يوازی هم دی دی	خاص هم ده ته	ستهٔ نومونه	نيک	او آيا	راغلی ده تاته

الله (چې دی) نشته بل برحق معبود مګر يوازی هم دی دی خاص هم ده ته ستهٔ نومونه (صفتونه) نيک. او آيا راغلی ده تاته

حَدِيۡثُ مُوۡسٰى ۞ اِذۡ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهۡلِهِ امۡكُثُوۡۤا اِنِّيۡۤ

حَدِيۡثُ	مُوۡسٰى	اِذۡ رَاٰ	نَارًا	فَقَالَ	لِاَهۡلِهِ	امۡكُثُوۡۤا	اِنِّيۡۤ
قصه	دموسیٰ	کله چې وليد	اور	نو وی ويل	اهل خپل ته	واوسئ (تاسی دلته)	بيشکه! ما

قصه د موسیٰ. کله چې وليد (موسیٰ) اور نو وی ويل اهل خپل ته واوسئ (تاسی دلته) بيشکه! ما

تَنۡزِيۡلًا مِّمَّنۡ خَلَقَ الۡاَرۡضَ وَالسَّمٰوٰتِ الۡعُلٰى... د تير مخ پاته قصه دلته وګوری: عمر ابن خطاب رضی الله عنه ورته وويل چې زه دهغه ګمراه سړي دکار دتماميدو دپاره ځم کم چې په قريشو کي تفرقه اچولې ده دقريشو دين او مذهب ته يي بد وويل بې عقلان يي ورڅخه جوړ کړل او ددوی بتانو ته يي بد وويل نعيم ورته وويل چې عمره ستا نفس ته په دوکه کي اچولی يي ايا ته داګڼې چي ته به محمد صلی الله عليه وسلم قتل کړې او دهغه قبيله عبد مناف به تا ژوندی پريږدي چي ته به پر مځکه وګرځي که په تا کي عقل وای نو دخپلي خور او دهغې دخاوند خبر واخله چي هغوی مسلمانان او دمحمد صلی الله عليه وسلم ددين تابع سوي دي پر حضرت عمر رضی الله عنه باندي دې خبري اثر وکی او ددې ځايه څخه دخپلي خور دکور طرف ته روان سو دهغو په کور کي حضرت خباب ابن ارت رضی الله عنه صحابي دی دواړو ته يي دقرآن کريم سورة طه ويل کم چي په يوه صحيفه کي ليکل سوی وو: داخلګ چي کله پوه سول چي عمر بن خطاب رضی الله عنه راغی نو حضرت خباب رضی الله عنه دکور په يوه کنج کي پټ سو: پاته قصه پر راروان مخ وګوری

اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَى

اٰنَسْتُ	نَارًا	لَّعَلِّيْٓ	اٰتِيْكُمْ	مِّنْهَا	بِقَبَسٍ	اَوْ اَجِدُ	عَلَى
ولید	(یو) اور	ښايي مالره	چي زه راوړم تاسي ته	له هغه اوره	کومه لګولی لنبه	یا پیدا کړم زه	په

ولید (یو) اور ښايي مالره چي زه راوړم تاسي ته له هغه اوره کومه لګولی لنبه یا پیدا کړم زه په

النَّارِ هُدًى ⑩ فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ⑪ اِنِّيْٓ

النَّارِ	هُدًى	فَلَمَّآ	اَتٰىهَا	نُوْدِيَ	يٰمُوْسٰى	اِنِّيْٓ
اور باندی	لاربنوونکی	پس کله چي	راغی هغه ته	نو ږغ ورته وکړی سو	چي ای موسٰی	بیشکه! زه چي یم

اور باندی لار ښوونکی. پس کله چي راغی هغه (اور ته) نو ږغ ورته وکړ سو چي یې ای موسٰی. بیشکه! زه چي یم

اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ⑫

اَنَا	رَبُّكَ	فَاخْلَعْ	نَعْلَيْكَ	اِنَّكَ	بِالْوَادِ	الْمُقَدَّسِ	طُوًى
هم دا زه	رب ستا یم	پس وباسه	څپلی خپلی	بیشکه! ته چي یئ	په کنده	پاکه	دطوی کښی ئی

هم دا زه رب ستا یم پس وباسه (له دواړو پښو) څپلی خپلی بیشکه! ته چي په کنده پاکه د طوی کښی ئی.

وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ⑬ اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ

وَاَنَا اخْتَرْتُكَ	فَاسْتَمِعْ	لِمَا	يُوْحٰى	اِنَّنِيْٓ	اَنَا اللّٰهُ
او ما غوره کړی ئی ته	پس غوږ کښیږده	هغه حکم ته	چي وحی کیږی	بیشکه! زه چي یم	هم دا زه الله یم

او ما غوره کړی ئی ته (په رسالت) پس غوږ کښیږده هغه حکم ته چي وحی کیږی. بیشکه! زه چي یم هم دا زه الله یم

لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ ۙ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ⑭ اِنَّ السَّاعَةَ

لَآ اِلٰهَ	اِلَّآ	اَنَا	فَاعْبُدْنِيْ	وَاَقِمِ	الصَّلٰوةَ	لِذِكْرِيْ	اِنَّ	السَّاعَةَ
نسته لایق د عبادت بل هیڅوک	مګر	هم دا زه یم	پس عبادت کوه زما	او سم دروه	لمونځ	دپاره د ذکر زما	بیشکه!	قیمت

نسته لایق د عبادت بل هیڅوک مګر هم دا زه یم پس عبادت کوه زما او سم دروه لمونځ دپاره د ذکر زما. بیشکه! قیامت

اٰتِيَةٌ اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا تَسْعٰى ⑮

اٰتِيَةٌ	اَكَادُ	اُخْفِيْهَا	لِتُجْزٰى	كُلُّ	نَفْسٍ	بِمَا	تَسْعٰى
راتلونکی دی	زه اراده لرم	دا چي پټ کړم دغه	دپاره د دی چي جزا ورکړه سی	هر	نفس ته	په هغو عملونو	چي کوی ئی دی

راتلونکی دی، زه اراده لرم د دی چي پټ کړم دغه، دپاره د دی چي جزا ورکړه سی هر نفس ته په هغو عملونو چي کوی ئی.

سْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ... دتیر مخ پاته قصه دلته وګوری: اوخور یي دا صحیفه تر پوړني لاندي پټه کړه مګر دحضرت عمر رضي الله عنه غوږونو ته دحضرت خباب رضي الله عنه دتلاوت اواز رسیدلی وو په دي وجه پوښتنه یي وکړه چي دا تاسي څه ویل چي ما واوریدل دوی وویل چي هیڅ نسته مګر حضرت عمر رضي الله عنه خبره ښکاره کړه چي زه خبر سوی یم چي تاسي دواړه دمحمد صلی الله علیه وسلم سوي یاست اسلام مو راوړی دی او ددغه سره یي پر خپل اخښي سعید ابن زید باندي حمله وکړه فاطمې خور چي یي دا ولیدل نو دخاوند دمحفوظه کولو دپاره ورپاځیدی عمر رضي الله عنه دا هم په وهلو سره زخمي کړه: کله چي خبره دې ته ورسیده نو خور او اخښي ورته په جمع وویل چي واوره موږ بیشکه چي مسلمانان سوي یو او پر الله جل جلاله او دهغه پر رسول صلی الله علیه وسلم مو ایمان راوړی دی اوس چي ته څه کولای سې کوه یي دخور دزخم څخه یيویني رواني وې دا حالت چي یي ولیدی نو عمر رضي الله عنه هم ستومانه سو او خور ته یي وویل چي هغه صحیفه ماته وښیه: پاته قصه پر راروان مخ وګوری

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا مَنۡ لَّا يُؤۡمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ

فَلَا يَصُدَّنَّكَ	عَنۡهَا	مَنۡ	لَّا يُؤۡمِنُ	بِهَا	وَاتَّبَعَ	هَوٰىهُ
پس نه دی منع کوی تا خامخا	له دغه	هغه څوک چي	نه لری ایمان	په هغه	او متابعت کوی	د خواهش خپل

پس نه دی بندوی نه دی منع کوی تا خامخا له دغه هغه څوک چي نه لری ایمان په هغه او متابعت کوی د خواهش خپل

فَتَرۡدٰى ﴿۱۶﴾ وَمَا تِلۡكَ بِيَمِيۡنِكَ يٰمُوۡسٰى ﴿۱۷﴾ قَالَ هِىَ عَصَاىَۚ

فَتَرۡدٰى	وَمَا تِلۡكَ	بِيَمِيۡنِكَ	يٰمُوۡسٰى	قَالَ	هِىَ	عَصَاىَ
پس ته به هلاک سی	او څه شی دی دغه	په راسته لاس ستاکښی	ای موسٰی	نو وویل (موسٰی)	دا	همسا زما ده

پس ته به هلاک سی. او څه شی دی دغه په راسته لاس ستاکښی ای موسٰی. نو وویل (موسٰی) دا همسا زما ده

اَتَوَكَّؤُا عَلَيۡهَا وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِىۡ وَلِىَ فِيۡهَا مَاٰرِبُ

اَتَوَكَّؤُا	عَلَيۡهَا	وَاَهُشُّ	بِهَا	عَلٰى	غَنَمِىۡ	وَلِىَ	فِيۡهَا	مَاٰرِبُ
چي تکیه کوم	پردی	او وهم	په دی سره	پر	پسونو خپلو	او دی ماته	په دغه کښی	کارونه

چي تکیه کوم پردی او وهم (ښندم) په دی سره (پاڼی د ونی چي توئی سی) پر پسونو خپولو او دی ما ته په دغه کښی مطالب

اُخۡرٰى ﴿۱۸﴾ قَالَ اَلۡقِهَا يٰمُوۡسٰى ﴿۱۹﴾ فَاَلۡقٰهَا فَاِذَا هِىَ

اُخۡرٰى	قَالَ	اَلۡقِهَا	يٰمُوۡسٰى	فَاَلۡقٰهَا	فَاِذَا	هِىَ
نور هم	وفرمایل (الله)	چي وغورځوه دغه	ای موسٰی	پس وئی غورځوله دا	پس ناڅاپه	دا

حوائج نور هم. (بیا) وفرمایل (الله) چي وغورځوه دغه (همسا) ای موسٰی پس وئی غورځوله دا (همسا) پس ناڅاپه دا

حَيَّةٌ تَسۡعٰى ﴿۲۰﴾ قَالَ خُذۡهَا وَلَا تَخَفۡ سَنُعِيۡدُهَا سِيۡرَتَهَا

حَيَّةٌ	تَسۡعٰى	قَالَ	خُذۡهَا	وَلَا تَخَفۡ	سَنُعِيۡدُهَا	سِيۡرَتَهَا
مار ؤ ژوندی	چي منډی ئی وهلی	وفرمایل (الله)	ونیسه دا (همسا)	او مه بیریږه	ژر به وگرځوو موږ دغه	هم هغه شکل خپل ته

مار ؤ ژوندی چي منډی ئی وهلی. (بیا) وفرمایل (الله) ونیسه دا (همسا) او مه بیریږه! ژر به وگرځوو موږ دغه هم هغه شکل

الۡاُوۡلٰى ﴿۲۱﴾ وَاضۡمُمۡ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ

الۡاُوۡلٰى	وَاضۡمُمۡ	يَدَكَ	اِلٰى جَنَاحِكَ	تَخۡرُجۡ	بَيۡضَآءَ
چي اولنی دی	او پیوست کړه	لاس خپل	تخرګ خپل ته	حال دا چي راوبه وځی	تک سپین

رومبنی (اولنی) خپل ته. او پیوست کړه (ننی) لاس خپل تخرګ خپل ته حال دا چي راوبه وځی تک سپین (روښانه)

قَالَ هِىَ عَصَاىَۚ اَتَوَكَّؤُا عَلَيۡهَا وَاَهُشُّ بِهَا. دتیر مخ پاته قصه دلته وګوری: کمه چي تاسي ویله چي زه یې هم ووینم چي د محمد ﷺ تعلیم څه دی؟ خور یې وویل چي زه بیریږم که یې تاته درکړم نو ضایع به یې کړې یا به یې بې ادبي وکړې عمر بن خطاب رضی الله عنه په خپلو بتانو قسم واخیستی چي تاسي مه بیریږی زه یې ګورم او بیرته یې درکوم فاطمې چي داواوریدل نو څه امید یې پیدا سو چي شاید دی مسلمان سي نو دغه وخت یې وویل چي وروره خبره داده چي ته ناپاکه یې او دې صحیفې ته دپاک سړي څخه علاوه بل څوک لاس نه سي وروړلای که ته یې کتل غواړې نو غسل وکړه ده هم غسل وکړی او بیا یې دشروع حصه وویله نو بیا یې وویل چي داکلام ډیر ښه کلام دی خباب ابن ارت رضی الله عنه ورته وفرمایل چي ای عمره زما داامید دی چي الله جل جلاله دنبي کریم ﷺ هغه دعا قبوله کړیده کمه چي یې ستا مسلمانیدو په حق کي کړې وه هغه وچي دنبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو په اسلام سره مشرفه سو: (معارف القرآن ج ۶ پ ۱۶ ص ۷۸) باختصار یسیر:

مِنۡ غَيۡرِ سُوۡٓءٍ اٰيَةً اُخۡرٰى ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنۡ اٰيٰتِنَا الۡكُبۡرٰى ﴿٢٣﴾

مِنۡ غَيۡرِ	سُوۡٓءٍ	اٰيَةً	اُخۡرٰى	لِنُرِيَكَ	مِنۡ اٰيٰتِنَا	الۡكُبۡرٰى
بې له	عیبه	حال داچې دغه معجزه ده	بله	دپاره د دې چې وښیو تاته	ځینې له هغو معجزاتو	چې ډېرې لوئې دی

بې له عیبه (دبرګوالی) حال داچې دغه معجزه ده بله دپاره د دې چې وښیو تاته ځینې له هغو معجزاتو چې ډېرې لوئې دی.

اِذۡهَبۡ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اشۡرَحۡ لِىۡ ع ۴ ۱۰

اِذۡهَبۡ	اِلٰى فِرۡعَوۡنَ	اِنَّهٗ	طَغٰى	قَالَ	رَبِّ	اشۡرَحۡ لِىۡ
ولاړ سه	فرعون ته	بیشکه! چې	سرکښي يې کړې ده	وويل (موسٰی)	ای ربه زما	خلاصه کړه ماته

ولاړ سه فرعون ته (سره له دغو معجزو) بیشکه! چې هغه باغي سوی دی. وويل (موسٰی) ای ربه زما پرانیځه ارته کړه

صَدۡرِىۡ ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرۡ لِىۡۤ اَمۡرِىۡ ﴿٢٦﴾ وَاحۡلُلۡ عُقۡدَةً مِّنۡ لِّسَانِىۡ ﴿٢٧﴾

صَدۡرِىۡ	وَيَسِّرۡ لِىۡۤ	اَمۡرِىۡ	وَاحۡلُلۡ	عُقۡدَةً	مِّنۡ لِّسَانِىۡ
سینه زما	او آسان کړه ماته	دغه مهم امر زما	او خلاصه کړه	غوټه	له ژبې زما

ما لره سینه زما. او آسان کړه ماته دغه مهم امر زما (چې تبلیغ دی). او پرانیځه غوټه له ژبې زما

يَفۡقَهُوۡا قَوۡلِىۡ ﴿٢٨﴾ وَاجۡعَلۡ لِّىۡ وَزِيۡرًا مِّنۡ اَهۡلِىۡ ﴿٢٩﴾

يَفۡقَهُوۡا	قَوۡلِىۡ	وَاجۡعَلۡ لِّىۡ	وَزِيۡرًا	مِّنۡ اَهۡلِىۡ
چې پوهېږي خلګ	په خبرو زما	او وګرځوه ماته	یو وزیر (مددګار)	له اهله زما

چې پوهېږي خلګ په خبرو زما (په وخت د تبلیغ). او وګرځوه ماته یو وزیر (مددګار) له اهله زما

هٰرُوۡنَ اَخِى ﴿٣٠﴾ اشۡدُدۡ بِهٖۤ اَزۡرِىۡ ﴿٣١﴾ وَاَشۡرِكۡهُ فِىۡۤ اَمۡرِىۡ ﴿٣٢﴾

هٰرُوۡنَ	اَخِى	اشۡدُدۡ	بِهٖۤ	اَزۡرِىۡ	وَاَشۡرِكۡهُ	فِىۡۤ اَمۡرِىۡ
هارون	وروړ زما	قوی کړه	په ده سره	ملا زما	او شریک کړه دغه	په دې کار زما کښې

هارون (چې دی) وروړ زما. قوی کړه په ده سره ملا زما او شریک کړه دغه (هارون له ما سره) په دې کار زما کښې.

كَىۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيۡرًا ﴿٣٣﴾ وَّنَذۡكُرَكَ كَثِيۡرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ

كَىۡ نُسَبِّحَكَ	كَثِيۡرًا	وَّنَذۡكُرَكَ	كَثِيۡرًا	اِنَّكَ
دپاره د دې چې تسبیح ووایو ستا	ډېره زیاته	او یادوو تا په ذکر ثناء	ډېره	بیشکه! ته چې ئې

دپاره د دې چې تسبیح ووایو ستا ډېره او یادوو تا په ذکر ثناء ډېره بیشکه! ته چې ئې

قَالَ رَبِّ اشۡرَحۡ لِىۡ صَدۡرِىۡ ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرۡ لِىۡۤ

حضرت موسی علیه السلام دالله جل جلاله څخه یوڅو خواستونه وکړه: اول خواست حضرت موسی علیه السلام داوکی چې یا الله جل جلاله زما سینه خلاصه کړې په دې کې داسې فراخي وفرمایل چې دنبوت دعلومونو تېنګوونکی سي او خلګو ته دایمان ددعوت په رسولو کې چې دهغوی دطرف څخه څه سختې سختې اوري ددې برداشت کول هم په دې کې شامل دي: دوهمه دعايي داسې وکړل (ويسّرلی امری) يعني زما کار ماته آسانه کړې: داپوهه او عقل هم دنبوت ثمره وه چې دڅه کار مشکل کول يا اسانول هم دظاهري تدبيرونو تابع نه دي دا هم دالله جل جلاله دطرفه څخه عطيه وي: هغه که غواړي نو دچادپاره د مشکل څخه مشکل کار آسانه کوي او کله چې غواړي نودآسان کار څخه آسان کار مشکل سي په دې وجه په حديث شريف کې مسلمانانو ته ددې دعا تلقين سوی دی چې دخپلو کارونو دپاره دالله جل جلاله څخه داسې غواړي (اللهم الطف بنا فی تيسير کل عسير فانّ تيسير کل عسير عليک يسير): (معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۱۱۲)

كُنتَ بِنَا بَصِيرًا ﴿٣٥﴾ قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٣٦﴾

كُنتَ	بِنَا	بَصِيرًا	قَالَ	قَدْ	أُوتِيتَ	سُؤْلَكَ	يَٰمُوسَىٰ
ئی ته	په (احوالو) زموږ	بنه خبردار لیدونکی ئی	وفرمایل الله	په تحقیق	درکړی سوی دی تاته	سؤال ستا	ای موسیٰ

ئی ته په (احوالو) زموږ بنه خبردار لیدونکی ئی. وفرمایل الله په تحقیق درکړی سوی تاته سؤال د تا ای موسیٰ.

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰٓ ﴿٣٧﴾ إِذْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ

وَلَقَدْ	مَنَنَّا	عَلَيْكَ	مَرَّةً	أُخْرَىٰٓ	إِذْ أَوْحَيْنَآ	إِلَىٰٓ أُمِّكَ
او خامخا په تحقیق	احسان کړی ؤ موږ	پر تا	یو واری	بل	کله چې وحی کړی وه موږ	مور ستا ته

او خامخا په تحقیق احسان کړی ؤ موږ پر تا یو واری بل (پخوا له دی څخه). کله چې وحی کړی وه موږ مور ستا ته (الهاماً)

مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾ أَنِ اقْذِفِيهِ فِى التَّابُوتِ فَاقْذِفِيهِ فِى الْيَمِّ

مَا يُوحَىٰٓ	أَنِ اقْذِفِيهِ	فِى التَّابُوتِ	فَاقْذِفِيهِ	فِى الْيَمِّ
هغه چې اورول کیږی	چې وغورځوه دغه	په تابوت کښی	وغورځوه دغه	په دریاب کښی

هغه چې اورول کیږی. چې وغورځوه دغه (موسیٰ) په تابوت (صندوق) کښی وغورځوه دغه (تابوت) په سیند کښی

فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّى وَعَدُوٌّ لَّهُۥ

فَلْيُلْقِهِ	الْيَمُّ	بِالسَّاحِلِ	يَأْخُذْهُ	عَدُوٌّ لِّى	وَعَدُوٌّ لَّهُۥ
پس و دی غورځوی هغه صندوق لره	سیند	پر کناره باندی	چې ونسی دغه	دښمن زما	او دښمن د ده

پس و دی غورځوی هغه صندوق لره سیند په ساحل کښی، چې ونیسی دغه (موسیٰ) دښمن زما او دښمن د ده،

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّى وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِىٓ ﴿٣٩﴾

وَأَلْقَيْتُ	عَلَيْكَ	مَحَبَّةً	مِّنِّى	وَلِتُصْنَعَ	عَلَىٰ	عَيْنِىٓ
او اچولی مې ؤ	پر تا	محبت مینه	له طرفه زما	او چې تربیت ستا وسی	په	لیدلو زما سره

او اچولی مې ؤ پر تا محبت مینه له طرفه زما، او (ومی کړه دغه کارونه) چې تربیت ستا وسی په لیدلو زما سره

إِذْ تَمْشِىٓ أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُۥ

إِذْ تَمْشِىٓ	أُخْتُكَ	فَتَقُولُ	هَلْ	أَدُلُّكُمْ	عَلَىٰ مَن	يَكْفُلُهُۥ
کله چې تله	خور ستا	پس وی ویل	آیا	زه وښایم تاسو ته	هغه څوک	چې تربیت وکړی د ده

کله چې تله خور ستا (ویه لیدی چې دهیڅچا تی نه نیسی) وی ویل آیا دلالت وکړم زه تاسی ته په هغه چا چې تربیت وکړی د ده

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰ... پر حضرت موسی علیه السلام دالله جل جلاله احسانات او دهغو ذکر: پر حضرت موسی علیه السلام چې کم انعامات او عنایات دحق داوخت مبذول سوي دي چي دهمکلامی شرف ورته حاصل سو، نبوت او رسالت ورته عطاء سو، خاص معجزې ورته ورکړه سوي ددې سره حق تعالی جل جلاله خپل هغه نعمتونه هم دوی ته یادوي کم چي دپیدایش دشروع څخه تر دې وخته دژوند په هر دور کي پر دوی مبذول سوي دي او دمسلسل ازمایشونو او دځان دخطرو په مینځ کي قدرت حق په څنګه حیرانوونکو طریقو سره ددوی حفاظت وفرمایي دانعمتونه چي ذکر یي مخ ته راځي دزماني دواقع کیدو په اعتبار سره اول دي دلته چي یي ددې څخه داخری په لفظ سره تعبیر کړي دي ددې دا معنی نه ده چي دا نعمتونه ددې څخه وروسته دي بلکي لفظ داخری کله دبل په معنی سره هم راځي چي په دې کي د مخکني او وروستني څه مطلب نه وي دلته هم دغه لفظ په دغه معنی کي استعمال سوی دی: والله اعلم:
(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۱۱۷)

فَرَجَعۡنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَىۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَلَا تَحۡزَنَ ؕ

فَرَجَعۡنٰكَ	اِلٰٓى اُمِّكَ	كَىۡ تَقَرَّ	عَيۡنُهَا	وَلَا تَحۡزَنَ
پس بیرته راوستی مونږ ته	مور خپلې ته	دپاره د دې چې یخې سې	سترګې د دې	او خفه نسي

(او مونږ راوسته او تیئ یې ونیوه) پس بیرته راوستی مونږ ته مور خپلې ته دپاره د دې چې یخې سې سترګې د دې او خفه نسي

وَقَتَلۡتَ نَفۡسًا فَنَجَّيۡنٰكَ مِنَ الۡغَمِّ وَفَتَنّٰكَ فُتُوۡنًا ۬ ۚ

وَقَتَلۡتَ	نَفۡسًا	فَنَجَّيۡنٰكَ	مِنَ الۡغَمِّ	وَفَتَنّٰكَ	فُتُوۡنًا
او مړ کړی ؤ تا	یو سړی	پس نجات مونږ درکړ تاته	له غمه	او ومو ازمویلې ته	په ازموینې سره

او مړ کړی ؤ تا یو (قبطی) سړی پس نجات مو درکړ تاته له غمه (دقصاص)؛ او ومو ازمویلې ته په ازموینې سره،

فَلَبِثۡتَ سِنِيۡنَ فِىۡۤ اَهۡلِ مَدۡيَنَ ۙ ثُمَّ جِئۡتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوۡسٰى ﴿٤٠﴾

فَلَبِثۡتَ	سِنِيۡنَ	فِىۡۤ اَهۡلِ	مَدۡيَنَ	ثُمَّ	جِئۡتَ	عَلٰى قَدَرٍ	يّٰمُوۡسٰى
پس واوسیدې ته	څو کاله	په اهل	دمدین کښې	بیا	راغلې ته	پر مقرر وخت	ای موسٰی

پس واوسیدې ته څو کاله په اهل د مدین کښې بیا راغلې ته (او دلته) پر هغه مقدار (دعمر چې اندازه کړې ؤ ما) ای موسٰی.

وَاصۡطَنَعۡتُكَ لِنَفۡسِىۡ ﴿٤١﴾ اِذۡهَبۡ اَنۡتَ وَاَخُوۡكَ بِاٰيٰتِىۡ

وَاصۡطَنَعۡتُكَ	لِنَفۡسِىۡ	اِذۡهَبۡ	اَنۡتَ	وَاَخُوۡكَ	بِاٰيٰتِىۡ
اوجوړ کړی ئی ماته	دپاره د ځان خپل	لاړ سه	ته	او وروړ ستا	په معجزو زما سره

او جوړ کړی (غوره کړی) ئی ماته دپاره د ځان خپل (په رسالت). لاړ سه ته (ای موسٰی) او وروړ ستا په معجزو زما سره

وَلَا تَنِيَا فِىۡ ذِكۡرِىۡ ﴿٤٢﴾ اِذۡهَبَاۤ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ اِنَّهٗ طَغٰى ۖۚ ﴿٤٣﴾

وَلَا تَنِيَا	فِىۡ ذِكۡرِىۡ	اِذۡهَبَاۤ	اِلٰى فِرۡعَوۡنَ	اِنَّهٗ	طَغٰى
او سستی مه کوئ	په یاد د زما کښې	لاړ سئ	فرعون ته	بیشکه! چې دی	باغی سوی دی په دعوی د الوهیت سره

او سستی مه کوئ په یاد د زما کښې. لاړ سئ (تاسې دواړه) فرعون ته بیشکه! چې دی باغی سوی دی په دعوی د الوهیت سره

فَقُوۡلَا لَهٗ قَوۡلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوۡ يَخۡشٰى ﴿٤٤﴾ قَالَا

فَقُوۡلَا	لَهٗ	قَوۡلًا	لَّيِّنًا	لَّعَلَّهٗ	يَتَذَكَّرُ	اَوۡ يَخۡشٰى	قَالَا
پس ووایئ	ده ته	خبره	پسته	بنائیږي چې دی	پند واخلي	یا وبیریږي	وویل (دواړو ورونو)

پس ووایئ ده ته خبره پسته بنائیږي چې دی پند واخلي (که ستا رسالت ورته محقق سی) یا وبیریږي. وویل (دواړو ورونو)

فَرَجَعۡنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَىۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا. حضرت موسی ؑ پس له جدايي دمور څخه الله ﷻ بيرته ومورته واپس کی: الله ﷻ فرمايي چې مونږ موسی ؑ په خپل تدبير سره وخپلي مور ته واپس کی ځکه چې هغه دده په جدايي باندې غمجنه وه ددې دپاره چې دهغې سترګې يخې سي او بيا غم نه کوي لکه ترلږوخت پورې چې هغه ستا په جدايي غمجنه وه او چې لوی سوې نو يوبل احسان مو درباندي وکی چې تا په غلطی سره يو سړی مړ کی چې دهغه قصه په سورة القصص کې په تفصيل سره راروانه ده او کله چې تا هغه سړی مړکړی نو ته وبيريدې دانتقام څخه هم اودعذاب څخه هم بيا مونږ تاته ددې څخه نجات درکی دعذاب دبيرې څخه خو داسې چې داستغفار توفيق مو درنصيب کړی او قبول موکی درڅخه اودبيرې دانتقام څخه داسې چې د مصر څخه مو مدين ته بوتلې: او مدين ته تر رسيدو وروسته بيا مونږ ته په سختو سختو محنتونو اوخواريو کې واچولې او ددې څخه مو هم آخر خلاصون درته درکی چې ذکر يې په سورة قصص کې دی: (معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۱۱۷)

رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ﴿٤٥﴾ قَالَ

رَبَّنَآ	اِنَّنَا	نَخَافُ	اَنْ يَّفْرُطَ	عَلَيْنَآ	اَوْ اَنْ يَّطْغٰى	قَالَ
ای ربه زمونږ	بیشکه! مونږ	بیریږو	چی زیاتی به وکړی	پر مونږ	یا به نافرمانی وکړی	وفرمایل (الله)

ای ربه زمونږ بیشکه! مونږ بیریږو چی تلوار به وکړی پر مونږ (په عقوبت سره) یا به لانافرمانه سی. وفرمایل (الله)

لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى ﴿٤٦﴾ فَاْتِيٰهُ

لَا تَخَافَآ	اِنَّنِيْ	مَعَكُمَآ	اَسْمَعُ	وَاَرٰى	فَاْتِيٰهُ
مه بیریږئ	بیشکه! زه	له تاسی سره یم	آورم	او وینم	پس ورسئ ده ته

مه بیریږئ (تاسی دواړه). بیشکه! زه له تاسی سره یم (په معاونت او نصرت) آورم او وینم. پس ورسئ (تاسی دواړه) ده ته

فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ فَاَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ

فَقُوْلَآ	اِنَّا	رَسُوْلَا	رَبِّكَ	فَاَرْسِلْ	مَعَنَا	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	وَلَا تُعَذِّبْهُمْ
پس ووائی	چی بیشکه! مونږ	یو رسولان	د رب ستا	نو ولیږه	له مونږ سره	بنی اسرآئیل	او مه یې عذابوه دوی

پس ووائی چی بیشکه! مونږ یو رسولان د رب ستا نو ولیږه (ای فرعونه) له مونږ سره بنی اسرآئیل او مه یې عذابوه دوی

وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ قَدْ جِئْنٰكَ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ ؕ وَالسَّلٰمُ عَلٰى

قَدْ	جِئْنٰكَ	بِاٰيَةٍ	مِّنْ رَّبِّكَ	وَالسَّلٰمُ	عَلٰى
په تحقیق راغلی یو	مونږ تاته	سره له معجزی	له جانبه د رب ستا	او سلامتی ده	پر

(په سختو سختو تکالیفو سره)، په تحقیق راغلی یو مونږ تاته سره له معجزی له جانبه د رب ستا، او سلامتی ده (له عذابه) په

مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى ﴿٤٧﴾ اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰى

مَنِ اتَّبَعَ	الْهُدٰى	اِنَّا	قَدْ	اُوْحِيَ اِلَيْنَآ	اَنَّ	الْعَذَابَ	عَلٰى
هغه چاچی متابعت وکړی	د سمی صافی لاری	بیشکه! مونږ چی یو	په تحقیق	وحی کړی سوی ده مونږ ته	چی بیشکه!	عذاب	پر

هغه چاچی متابعت وکړی د سمی صافی لاری. بیشکه! مونږ چی یو په تحقیق وحی کړی سوی ده مونږ ته چی بیشکه! عذاب به

مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى ﴿٤٩﴾ قَالَ

مَنْ كَذَّبَ	وَتَوَلّٰى	قَالَ	فَمَنْ	رَّبُّكُمَا	يٰمُوْسٰى	قَالَ
هغه چادی چی تکذیب کوی	او مخ گرځوی	نو وویل	پس څوک دی	رب ستاسی	ای موسیٰ	وویل (موسیٰ)

هغه چادی چی تکذیب کوی او مخ گرځوی. نو وویل (فرعون) پس څوک دی رب ستاسی ای موسیٰ. وویل (موسیٰ)

رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ... حضرت موسی علیه السلام ولي بیریدی؟

حضرت موسی علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام دلته دالله جل جلاله په حضور کي ددوو قسمو بیري اظهار وکی یو ده. ان یفرط: په لفظ سره چي ددې اصلي معنی ده حدڅخه تجاوز کول دي: نو مطلب دا سو چي شاید فرعون زمونږ دخبري داوریدو څخه مخکي پر مونږ حمله وکړي دوهمه بیره یي د. ان یطغی: په لفظ سره بیان کړه چي مطلب یي دادی چي ممکنه ده هغه ددې څخه هم زیاته سرکښي وکړي چي ستا په شان کي څه نامناسبه الفاظ ووایي: دلته دا سوال پیداکیږي چي دکلام په اول کي کله چي حضرت موسی علیه السلام ته درسالت او نبوت منصب ورکول سو او دوی دحضرت هارون علیه السلام دځان سره د شریکولو درخواست وکی او دادرخواست قبول هم سو نو دغه وخت الله جل جلاله ده ته دا ښوولې وه چي مونږ ستا تولـه اوپوره کومک کوو نو تر دغه وعدې وروسته بیا دته څنگه دابیره ورپیدا سوه او ددې اظهار ده څنگه په خپلو الفاظو سره وکړی؟ دسوال جواب پرراروان مخ وگوری

قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ. دتیر مخ دسوال جواب دلته وگوری: ددې سوال یو جواب دادی چي اوله وعده چي موږ به تاته غلبه درکړو او دغه خلگ به تاته څه ویلی نه سي دایوه مبهمه وعده ده چي مراد دغلبې څخه دحجت او دلیل غلبه هم کیدای سي او مادي غلبه هم کیدای سي: دارنگه داخیال هم کیدای سي چي پر هغوی به غلبه هلته وي چي هغوی ددوی دلیلونه واوري او معجزې هم ویني مگر خطره داده چي هغوی دکلام تر اوریدو مخکي پر دوی حمله وکړي او دشرح صدر دپاره دالازمه نه ده چي طبعي بیره به هم نه وي: دوهمه خبره داده چي دبیرې دشیانو څخه طبعي بیره دټولو انبیاوو علیهم السلام سنت ده کم چي په وعدو باندي دپوره ایمان او یقین باوجود هم وي په خپله حضرت موسی علیه السلام دخپلي همسا څخه چي کله مار جوړ سو وبیریدی نو الله جل جلاله ورته وفرمایل: لاتخف: مه بیریږه اونور پر ټولو داسي موقعو باندي به هم داسي کیده چي طبعي او بشري بیره به ورته راتله نو بیا به الله جل جلاله پـه خوشخبری سره لیري کړه الخ. (معارف القرآن ج۶پ۱۶ص۱۵۰)

رَبُّنَا الَّذِيْٓ اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ۝٥٠ قَالَ

قَالَ	هَدٰى	ثُمَّ	خَلْقَهٗ	كُلَّ شَيْءٍ	اَعْطٰى	الَّذِيْٓ	رَبُّنَا
وویل فرعون	لاره هم وربنوولی ده	بیا یئ	صورت شکل دده	هر شی ته	چی ورکړی یئ دی	هغه ذات دی	رب زموږ

رب زموږ هغه ذات دی چی ورکړی ئی دی هر شی ته (له مخلوقاتو) صورت شکل د ده بیا ئی لاره هم وربنوولی ده .وویل فرعون

فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ۝٥١ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ

فِيْ كِتٰبٍ	رَبِّيْ	عِنْدَ	عِلْمُهَا	قَالَ	الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى	فَمَا بَالُ
په کتاب کښی	درب زما دی	په نزد	چی علم دهغو	وویل (موسیٰ)	(حال) دخلگو پخوانیو	پس څهٔ

پس څهٔ (حال) د خلگو پخوانیو. وویل (موسیٰ) چی علم د هغو په نزد د رب زما دی په کتاب (لوح محفوظ) کښی (لیکلی)

لَا يَضِلُّ رَبِّيْ وَلَا يَنْسَى ۝٥٢ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ

الْاَرْضَ	جَعَلَ لَكُمُ	الَّذِيْ	وَلَا يَنْسَى	رَبِّيْ	لَا يَضِلُّ
مځکه	چی گرځولی یئ ده تاسی ته	هغه الله	او نه یئ هیروی	رب زما	چی نه یئ ورک کوی

چی نه ئی ورک کوی رب زما او نه ئی هیروی (هیڅ شی). هغه الله چی گرځولی ئی ده تاسی ته مځکه

مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

مَآءً	مِنَ السَّمَآءِ	وَّاَنْزَلَ	سُبُلًا	فِيْهَا	وَّسَلَكَ لَكُمْ	مَهْدًا
اوبه	د آسمانه	او نازلی کړی دی موږ	لاری	په دی کښی	او روانی کړی یئ دی تاسی ته	فرش

فرش او روانی کړی ئی دی تاسی ته په دی کښی لاری، او نازلی کړی دی موږ (له طرفه) د آسمانه اوبه ،

فَاَخْرَجْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ۝٥٣ كُلُوْا

كُلُوْا	شَتّٰى	مِّنْ نَّبَاتٍ	اَزْوَاجًا	بِهٖٓ	فَاَخْرَجْنَا
وخورئ تاسی تری	رنگ په رنگ	له وښو څخه	هر هر قسم	په دی سره	پس راباسو موږ

پس راباسو موږ په دی (اوبو) سره هر هر قسم دنبو وښو څخه رنگ په رنگ. وخورئ تاسی تری

وَّارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ۝٥٤

ربع ۲
۱۱

النُّهٰى	لِّاُولِي	لَاٰيٰتٍ	فِيْ ذٰلِكَ	اِنَّ	اَنْعَامَكُمْ	وَّارْعَوْا
دعقل	دپاره دخاوندانو	خامخا دلائل دی	په دی کښی	بیشکه!	حیوانات خپل	او څروئ

او څروئ (پکښی) چارپایان خپل، بیشکه! په دی (مذکورو شیانو کښی) خامخا دلائل دی دپاره دخاوندانو دعقل.

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ

مِنْهَا	خَلَقْنٰكُمْ	وَفِيْهَا	نُعِيْدُكُمْ	وَمِنْهَا	نُخْرِجُكُمْ
له دی (مځکی څخه)	پیدا کړی یئ موږ تاسی	او په هم دی مځکی کښی	ننه باسو تاسی	او له دی څخه	راباسو تاسی

(خاص) له دی (مځکی څخه) پیدا کړی یئ موږ تاسی او هم دی مځکی کښی ننه باسو تاسی او له دی څخه راباسو تاسی

تَارَةً اُخْرٰى ﴿٥٥﴾ وَلَقَدْ اَرَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ

تَارَةً	اُخْرٰى	وَلَقَدْ	اَرَيْنٰهُ	اٰيٰتِنَا	كُلَّهَا	فَكَذَّبَ
وار	بل	او خامخا په تحقیق	ورښوولی وی موږ دغه (فرعون لره)	معجزی	ټولی	نو تکذیب ئی وکړ

وار بل (دوهم ځلی). او خامخا په تحقیق ورښوولی (ورپیژندلی) وی موږ دغه (فرعون لره) معجزی ټولی نو تکذیب ئی وکړ

وَاَبٰى ﴿٥٦﴾ قَالَ اَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ

وَاَبٰى	قَالَ	اَجِئْتَنَا	لِتُخْرِجَنَا	مِنْ اَرْضِنَا	بِسِحْرِكَ
او منع ئی راوړله	وویل (فرعون)	آیا راغلی ئی ته موږ ته	دپاره د دی چی وباسی موږ	له مځکی زموږ	په جادو خپل سره

او منع ئی راوړله (له ایمانه). وویل (فرعون) آیا راغلی ئی ته موږ ته دپاره د دی چی وباسی موږ له مځکی زموږ په سحر خپل

يٰمُوْسٰى ﴿٥٧﴾ فَلَنَاْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ

يٰمُوْسٰى	فَلَنَاْتِيَنَّكَ	بِسِحْرٍ	مِّثْلِهٖ	فَاجْعَلْ	بَيْنَنَا	وَبَيْنَكَ
ای موسٰی	پس خامخا رابه وړو هرومرو تاته	جادو	پشان د دی سحر	پس مقرر کړه	په مینځ زموږ	او په مینځ ستا کښی

ای موسٰی. پس خامخا رابه وړو هرومرو تاته سحر پشان د دی سحر پس مقرر کړه په مینځ زموږ او په مینځ ستا کښی

مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَلَآ اَنْتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ قَالَ

مَوْعِدًا	لَّا نُخْلِفُهٗ	نَحْنُ	وَلَآ اَنْتَ	مَكَانًا	سُوًى	قَالَ
یو وعده	چی نه به کوو مخالفت له هغه	موږ	او نه ته	یو ځای	هوار	وویل (موسٰی)

یو وعده چی نه به کوو مخالفت له هغه موږ او نه ته یو ځای هوار (متوسط په مینځ د طرفینو کښی). وویل (موسٰی)

مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾

مَوْعِدُكُمْ	يَوْمُ	الزِّيْنَةِ	وَاَنْ يُّحْشَرَ	النَّاسُ	ضُحًى
وخت د وعدی ستاسی	ورځ	دښایست ده	او دا چی راټول به کړل سی	خلک	په وخت د څاښت کښی

وخت د وعدی ستاسی ورځ د جشن (دقبطیانو) ده او دا چی راټول به کړل سی خلک په وخت د څاښت کښی.

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ... دهریوانسان په خمیر کي دنطفې سره دهغه ځای خاوره هم شامله وي کم ځای چي دی دفن کیږي دمنها ضمیر دمځکي طرف ته راجع دی او معنی یي داده چي موږ تاسي دمځکي دخاورو څخه پیدا کړاست او دآیت مخاطب ټوله انسانان دي حال دادی چي دعامو انسانانو پیدایش دخاوري څخه نه بلکي دنطفې څخه سوی دی بغیر دحضرت آدم عليه السلام څخه چي دی سیدا په سیدا دخاورو څخه پیدا سوی دی نو داخطاب یا خو په دې بنا سره کیدای سي چي دانسان اصل او دټولو پلار حضرت آدم عليه السلام دی دده په واسطه سره دټولو دپیدا کیدو نسبت خاورو ته سوی دی: ځیني حضرات بیا فرمایي چي هره نطفه دخاورو پیداوار دی په دې وجه دنطفې څخه پیدا کیدل په حقیقت کي دخاورو څخه پیدا کیدل دي: امام قرطبي رحمة الله عليه فرمایي چي دقرآن دالفاظو څخه دا ظاهره ده چي دهر انسان پیدائش دخاوري څخه دی: او ځیني علماء بیا فرمایي چي د هر انسان په پیدایش کي الله جل جلاله په خپل قدرت سره خاوري شاملوي:

معارف القرآن ج ۶ پ ۱۶ ص ۱۵۵

فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿۶۰﴾ قَالَ لَهُمْ

فَتَوَلّٰى	فِرْعَوْنُ	فَجَمَعَ	كَيْدَهٗ	ثُمَّ	اَتٰى	قَالَ	لَهُمْ
پس مخ وګرځاوه	فرعون	پس راټول ئې کړې	مکر فریب خپل	بیا	راغی	وویل	دغو (ساحرانو) ته

پس مخ وګرځاوه (خپلو مشرانو ته) فرعون پس راټول ئې کړل (اسباب) دمکر فریب خپل بیا راغی، وویل دغو (ساحرانو) ته

مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ

مُّوْسٰى	وَيْلَكُمْ	لَا تَفْتَرُوْا	عَلَى	اللّٰهِ	كَذِبًا	فَيُسْحِتَكُمْ	بِعَذَابٍ
موسیٰ	هلاکت دتاسی	مه تړئ	پر	الله باندی	دروغ	پس هلاک به کړی تاسی	په عذاب سره

موسیٰ (نازل کړی دی الله پر تاسی) هلاکت دتاسی مه تړئ پر الله باندی دروغ پس هلاک به کړی تاسی په عذاب سره

وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿۶۱﴾ فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ

وَقَدْ	خَابَ	مَنِ افْتَرٰى	فَتَنَازَعُوْٓا	اَمْرَهُمْ
او په تحقیق	خراب او ناامیده سو	هر هغه څوک چی دروغ ئی وتړل	پس سره جګړه وکړه دغو	په کار خپل

او په تحقیق خراب او ناامیده سو هر هغه څوک چی دروغ ئی وتړل (پر الله). پس سره جګړه وکړه دغو (ساحرانو) په کار خپل

بَيْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿۶۲﴾ قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ

بَيْنَهُمْ	وَاَسَرُّوا	النَّجْوٰى	قَالُوْٓا	اِنْ هٰذٰنِ	لَسٰحِرٰنِ	يُرِيْدٰنِ
پخپلو مینځونو کښی	او پټ ئی وساته	دغه راز	وویل (جادوګرانو)	دا دواړه خامخا	جادوګران دی	اراده لری دوی دواړه

پخپلو مینځونو کښی، او پټ ئی وساته دغه راز. وویل (جادوګرانو) دا دواړه خامخا ساحران دی اراده لری دوی دواړه

اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ

اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ	مِّنْ اَرْضِكُمْ	بِسِحْرِهِمَا	وَيَذْهَبَا	بِطَرِيْقَتِكُمُ
چی وباسی تاسی	له مځکی دتاسی	په جادو خپل سره	او بوځی	لاره (ددین) دتاسی

چی وباسی تاسی له مځکی (ملک) دتاسی په سحر خپل سره او بوځی (محو کړی دوی دغه)

الْمُثْلٰى ﴿۶۳﴾ فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا

الْمُثْلٰى	فَاَجْمِعُوْا	كَيْدَكُمْ	ثُمَّ	ائْتُوْا	صَفًّا
چی ډیره غوره ده	پس راجمع کړئ تاسی	مکر خپل	بیا	راسئ میدان دمعارضی ته	صف صف

لاره (د دین) دتاسی چی ډیره غوره ده. پس راجمع کړئ تاسی (اسباب) او مکر خپل بیا راسئ میدان د معارضی ته صف صف

فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى. فرعون دحضرت موسی علیه السلام په مقابله کي جادوګران و ساحران راجمع کړل: فرعون خپل مکر یعني دحضرت موسی علیه السلام د مقابلې په تدبیر کي یي ساحران اوددوی آلات راجمع کړل: دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه ددغو جادوګرانو شمیر دوو اویا ۷۲ نقل سوی دی او نور هم اقوال ددوی په شمیر کي مختلف دي دڅلورو سوو څخه واخله تر ترنهو لکه پوری نقل دي او دوی ټولو دخپل یو سردار شمعون نامي شخص تر امر لاندي کار کوی اوویل کیږي چي ددوی سردار یو ړوند سړی وو: دجادو مقابله په معجزو سره د کولو څخه مخکي حضرت موسی علیه السلام جادوګرو ته همدردانه نصیحت آمیز خطاب وکړی او دوی یي دالله جل جلاله دعذاب څخه وبیرول هغه الفاظ دادي: ویلکم لاتفتروا علی الله کذبا فیسحتکم بعذاب وقد خاب من افتری. یعني ستاسي هلاکت مخ ته راغلی دی په الله جل جلاله پوري درواغ مه تړی چي دهغه سره په خدایي کي بل څوک شریکوی که مو داسي وکړه نو الله جل جلاله به تاسي په عذاب کي واچوي او بیخ او ریښي به مو راوباسي.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۱۶۳)

وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ

وَقَدْ	اَفْلَحَ	الْيَوْمَ	مَنِ اسْتَعْلٰى	قَالُوْا	يٰمُوْسٰٓى	اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ
اوپه‌تحقيق	بريالى سو	نن ورځ	هغه څوک چې غالب سو	وويل	اى موسىٰ	يا به ته غورځوى (اول)

او په تحقيق بريالى (كامياب) سو نن ورځ هغه څوک چې غالب سو. وويل (كوډګرانو) اى موسىٰ يا به ته غورځوى (اول)

وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ اَلْقُوْا

وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ	اَوَّلَ	مَنْ	اَلْقٰى	قَالَ	بَلْ	اَلْقُوْا
يا به سو موږ	اول	دهغه چاچې	غورځوى	وويل (موسىٰ)	بلكه	وغورځوئ تاسى اوله

يا به سو موږ اول دهغه چاچې غورځوى (همساڅېله). وويل (موسىٰ) بلكه وغورځوئ تاسى رومبى (اولنى)

فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا

فَاِذَا	حِبَالُهُمْ	وَعِصِيُّهُمْ	يُخَيَّلُ	اِلَيْهِ	مِنْ سِحْرِهِمْ	اَنَّهَا
پس ناڅاپه	هغه‌پړى د دوى	او همساګانى د دوى	په‌خيال كښې راوستى كيدى	دغه (ته)	له‌وجه د سحره د دغو	داسى چې بيشكه! دغه

پس ناڅاپه (دغه وخت) هغه پړى د دوى او همساګانى د دوى په خيال كښې راوستى كيدى دغه (موسىٰ ته) له وجه د سحره د دغو

تَسْعٰى ﴿٦٦﴾ فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ

تَسْعٰى	فَاَوْجَسَ	فِيْ نَفْسِهٖ	خِيْفَةً	مُّوْسٰى	قُلْنَا	لَا تَخَفْ
چې منډى وهى	بيا پيدا كړه	په‌نفس خپل كښى	بيره	موسىٰ	وموويل موسىٰ ته	مه‌بيريږه

داسى چې بيشكه! دغه (ماران دى) چې منډى وهى. بيا وموندله په نفس خپل كښى بيره موسىٰ، ومو ويل موسىٰ ته مه بيريږه

اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى ﴿٦٨﴾ وَاَلْقِ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ

اِنَّكَ	اَنْتَ	الْاَعْلٰى	وَاَلْقِ	مَا	فِيْ يَمِيْنِكَ	تَلْقَفْ
بيشكه! ته‌چې ئې	هم‌دا ته‌ئې	ډير غالب	او وغورځوه	هغه‌چې	په‌راسته‌لاس ستاكښې دى	چې له‌حلقه كښته‌تير كړى

(په‌زعم‌خپل) بيشكه‌ته چې ئې هم‌دا ته‌ئې ډير غالب. او وغورځوه هغه شى چې په ښه‌لاس دتاكښې دى چې له حلقه كښته‌تير كړى

مَا صَنَعُوْا ؕ اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سِحْرٍ ؕ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ

مَا صَنَعُوْا	اِنَّمَا	صَنَعُوْا	كَيْدُ	سِحْرٍ	وَلَا يُفْلِحُ	السَّاحِرُ
هغه‌شيان چې دوى جوړكړى دى	بيشكه! هغه‌شى	چې جوړ كړى دى دوى	مكر	دجادوګردى	او برى نه‌پيداكوى	جادوګر

هغه شيان چې دوى جوړ كړى دى. بيشكه! هغه شى چې جوړ كړى دى دوى مكر دساحر دى، او برى نه پيد كوى ساحر (كوډګر)

يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى.. دفرعون دجادوګرو جادو يو قسم نظربندي وه: ددغه آيت څخه معلوميږي چې دفرعوني جادوګرانو جادو يو قسم نظر بندي وه كم چې دمسمريزم په ذريعه كيداى سي چې كتونكو ته دغه لكړې او رسي ماران منډې وهونكي ښكاريدل او په حقيقت كي هغه ماران نه وه او اكثره جادو ددې قسمه څخه وي: **فاوجس فى نفسه خيفة موسى:** يعني پر حضرت موسى ﷵ ددې صورت حال دليدو سره بيره راغله چې ده په خپل زړه كي پټه ساتله او نورو ته يې ښكاره نه كړه دابيره كه څه هم پر حضرت موسى ﷵ باندې دخپل ځان دپاره راغله خو دبشريت په مقتضى سره داسې كيدل دنبوت څخه خلاف نه دي ليكن ظاهره داده چې دابيره دخپل ځان نه وه بلكي ددې وه چې ددې خلګو دګنې په مخكي يې دساحرانو غلبه محسوسه كړه نوكم مقصد چې دنبوت ددعوت وو هغه به پوره نه سي په دې وجه دالله ﷻ ارشاد ورته وسو چې ته غالبه يې اى موسى غم مه كوه او بيريږه مه او داخطره يې ليري كړه الخ:

معارف القرآن ج۶پ۱۶ص۱۶۳

حَيْثُ اَتٰى ﴿۶۹﴾ فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوْٓا اٰمَنَّا

حَيْثُ	اَتٰى	فَاُلْقِيَ	السَّحَرَةُ	سُجَّدًا	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا
هرچیرته چي	راسي	پس پرې وتل	کوډګران	په دغه حال کښې چي سجده کوونکي ؤ	وويل	ايمان مو پر راوړى دى

هرچيرته چي راسي. پس وغورځول سول کوډګران (نسکور) په دغه حال کښې چي سجده کوونکي ؤ وويل ايمان مو راوړى دى

بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ﴿۷۰﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ

بِرَبِّ	هٰرُوْنَ	وَمُوْسٰى	قَالَ	اٰمَنْتُمْ	لَهٗ	قَبْلَ	اَنْ	اٰذَنَ لَكُمْ
په رب	دهارون	او موسٰى	وويل (فرعون)	چي تصديق وکړ تاسي	ده ته	پخوا له هغه	چي	حکم درکړم زه تاسي ته

په رب د هارون او (رب د) موسٰى. وويل (فرعون) چي تصديق وکړ تاسي ده ته پخوا له هغه چي حکم درکړم زه تاسي ته

اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَاُقَطِّعَنَّ

اِنَّهٗ	لَكَبِيْرُكُمُ	الَّذِيْ	عَلَّمَكُمُ	السِّحْرَ	فَلَاُقَطِّعَنَّ
بيشکه! چي دى	خامخا مشر دتاسي دى	هغه چي	ښوولى ئى دى تاسي ته	جادو	نو اوس به پرې کړم زه خامخا

بيشکه! چي دى خامخا مشر دتاسي دى هغه چي ښوولى ئى ده تاسي ته جادو، نو اوس به پرې کړم زه خامخا

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ

اَيْدِيَكُمْ	وَاَرْجُلَكُمْ	مِّنْ خِلَافٍ	وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ	فِيْ جُذُوْعِ
لاسونه د تاسي	او پښې دتاسي	مخالفي	او خامخا وبه زړوم هرومرو تاسي	په تنو

لاسونه دتاسي او پښې دتاسي له خلافه او خامخا ځوړند به کړم هرومرو تاسي په تنو

النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰى ﴿۷۱﴾

النَّخْلِ	وَلَتَعْلَمُنَّ	اَيُّنَآ	اَشَدُّ	عَذَابًا	وَّاَبْقٰى
دخرماؤ کښې	او خامخا معلوم به کړئ تاسي هرومرو	چي کوم يو له موږ څخه	ډير سخت دى	له جهته د عذاب	او ډير پاتي کيدونکى دى

دخرماؤ کښې او خامخا معلوم به کړئ تاسي هرومرو چي کوم يو له موږ نه ډير سخت دى له جهته د عذاب او ډير پاتي کيدونکى دى

قَالُوْا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِيْ

قَالُوْا	لَنْ نُّؤْثِرَكَ	عَلٰى	مَا جَآءَنَا	مِنَ الْبَيِّنٰتِ	وَالَّذِيْ
وويل	چي له سره به غوره نه کړو تا	پر	هغه چي راغلي دى موږ ته	له ښکاره ؤ معجزو	او هغه (الله)

وويل (کوډګرانو) چي له سره به غوره نه کړو تا په هغه چي راغلي دى موږ ته له ښکاره ؤ معجزو او هغه (الله)

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ..فرعون الله ﷻ دلوى ګنې ګوني په مخ کي رسوا کى: کله چي دحضرت موسى علیه السلام لکړى دجادوګرانو لکړې او رسۍ تيري کړې نو جادوګران پر سجده سوه ايمان يي راوړى مسلمانان سوه فرعون الله ﷻ ددې عظيم الشانه ګني ګوني په مخ کي رسوا کى نو حيران سو اول خويي ساحرانو ته دا وويل چي بغير زما داجازت څخه تاسي څنګه په ده ايمان راوړى؟ ګوياخلګو ته دا ښوول مقصد وه چي زما داجازې څخه بغير ددې جادوګرو هيڅ قول او فعل معتبر نه دى مګر ظاهره ده چي دداسي ښکاره معجزې څخه وروسته دچاداجازت ضرورت ديو هوښيار انسان په نزد باندي هيڅ حيثيت نه لري په دې وجه يي په جادوګرو ددې سازش الزام ولګوى چي اوس معلومه سوه چي تاسي ټول دموسى علیه السلام شاګردان یاست دې جادوګر تاسي ته جادو ښوولى دى او تاسي سازش وکى دده په مخکي مو خپله ماته ومنله او بيا يي جادوګران دسختي سزا څخه وبيرول چي لاسونه او پښې به مو در پريکړم.
معارف القرآن ج۶پ۱۶ص۱۶۴

فَطَرَنَا فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ ۭ اِنَّمَا تَقْضِيْ

فَطَرَنَا	فَاقْضِ	مَآ اَنْتَ	قَاضٍ	اِنَّمَا	تَقْضِيْ
چې پیدا کړی ئی یو موږ	پس وکړه ته	هغه کار چې ته ئی	کوونکی ئی	بیشکه! هم دا خبره ده	چې حکم به ورکړی ته

چې پیدا کړی ئی یو موږ پس وکړه ته هغه کار چې ته ئی کوونکی ئی بیشکه! هم دا خبره ده چې حکم به ورکړی ته

هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝٧٢ اِنَّآ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا

هٰذِهِ	الْحَيٰوةَ	الدُّنْيَا	اِنَّآ	اٰمَنَّا	بِرَبِّنَا	لِيَغْفِرَ لَنَا	خَطٰيٰنَا
په دی	ژوندون	د دنیاکی	بیشکه! موږ	ایمان موراوړی دی	په رب خپل	چې وبخښی موږ ته	ګناهونه زموږ

په دی ژوندون لږ خسیس بیشکه! موږ ایمان مو راوړی دی په رب خپل چې وبخښی موږ ته ګناهونه زموږ

وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۝٧٣

وَمَآ اَكْرَهْتَنَا	عَلَيْهِ	مِنَ السِّحْرِ	وَاللّٰهُ	خَيْرٌ	وَّاَبْقٰى
او هغه چې تا مجبوره کړی یو موږ	په هغه شی باندی	له جادو	او الله	خیر غوره دی	او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی

او هغه چې تا مجبوره کړی یو موږ په (کولود) هغه شی باندی له سحره او الله خیر غوره دی او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی

اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ۭ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا

اِنَّهٗ	مَنْ يَّاْتِ	رَبَّهٗ	مُجْرِمًا	فَاِنَّ	لَهٗ	جَهَنَّمَ	لَا يَمُوْتُ	فِيْهَا
بیشکه! شان د دادی	هر څوک چې راسی	رب خپل ته	کافر	پس بیشکه!	سته ده ته	جهنم دوزخ	چې نه به مری	په دی دوزخ کښی

بیشکه! شان دادی هر څوک چې راسی رب خپل ته کافر پس بیشکه! سته ده ته جهنم دوزخ چې نه به مری په دی دوزخ کښی

وَلَا يَحْيٰى ۝٧٤ وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ

وَلَا يَحْيٰى	وَمَنْ يَّاْتِهٖ	مُؤْمِنًا	قَدْ	عَمِلَ	الصّٰلِحٰتِ
او نه به ژوندون کوی	او هر څوک چې راسی دغه ته	په دی حال کښی چې مؤمن وی	چې په تحقیق	کړی ئی وی	ښه (عملونه)

او نه به ژوندون کوی. او هر څوک چې راسی دغه (الله) ته په دی حال کښی چې مؤمن وی چې په تحقیق کړی ئی وی ښه (عملونه)

فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ۝٧٥ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

فَاُولٰٓئِكَ	لَهُمُ	الدَّرَجٰتُ	الْعُلٰى	جَنّٰتُ	عَدْنٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا
پس دغه مؤمنان چې دی	سته دوی ته	مرتبی	ډیری لوړی	جنتونه دی	د (تل) هستوګنی	چې بهیږی	له لاندی د دغو

پس دغه مؤمنان چې دی سته دوی ته مرتبی ډیری اوچتی. (چې هغه) جنتونه دی د (تل) هستوګنی چې بهیږی له لاندی د دوی

فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ اِنَّمَا تَقْضِيْ. هغه جادوګر چې مسلمانان سوي وه فرعون ته یې اخطار ورکړی او قربانی ته تیار سول هغه مسلمانانو فرعون ته وویل چې اوس ته څه غواړې هغه وکړه زموږ سره او څه چې غواړې ویې تاکه: انما تقضی هذه الحیوة الدنیا: یعني که تا موږ ته سزا راکړه نو هغه سزا به صرف ددنیا دیو څوو رځوتر ژوند پوري محدوده وي دمرګ څخه وروسته خو ستا قبضه پر موږ نه سي پاته کیدی په خلاف دالله ﷻ څخه چې موږ دهغه په قبضه کي دمرګ څخه مخکي هم یو او دمرګ څخه وروسته هم نو دهغه سزا فکر دهر څه څخه مقدم دي: وما اکرهتنا علیه من السحر: جادوګرو اوس پر فرعون داالزام ولګوی چې موږ پر جادو کولو تا مجبوره کړې وو کنې موږ به داعبث کار ولي کوی اوس موږ ایمان راوړی او دالله ﷻ څخه ددي جادو دګناه هم معافی غواړو: او ته بیا دومره ملعون انسان یې چې اوس موږ کم حقیقت ولیدی او هغه مو ومنی او ته موږ د هغه څخه دلیري کولو په کوشش کي اخته یې: (معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۱۶۵)

ع ٣ ٢٢ ١٢

وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ..دمصر څخه دوتلو په وخت کي دبني اسرائيلو ځيني حالات او ددوی شمير:

په تفسير روح المعاني کي دا روايت دی چي حضرت موسی علیه السلام دشپې په شروع کي بنی اسرآئيل دځان سره کړل دمصر څخه ددريای قلزم طرف ته ووتل بني اسرآئيلو ددې څخه مخکي دښار په خلگو کي دامشهوره کړې وه چي زموږ اختر دی موږ به داختر لمانځلو دپاره دباندي ځو او په دې بهانه سره يي دقبطيانو څخه څه کالي په رعايت سره غوښتي وه چي داختر څخه راسو نو واپس به يي کړو: دبني اسرآئيلو شمير دغه وخت شپږ لکه درې زره او په بل روايت کي دي چي شپږ لکه اويا زره وه: البته دا اسرآئيلي روايتونه دي په دي کي مبالغه کيدای سي ليکن دومره خبره دقرآن کريم او دحديثو داشاراتو څخه ثابته ده چي ددوی دوولس قبيلې وې او په هره قبيله کي ډير لوی شمير وو: داهم دحق تعالی جل جلاله دقدرت يوه عظيمه مشاهده وه چي کله دا حضرات مصر ته راغلله نو دوی دوولس وړونه وه: پاته بيان پس راروان مخ وگوري.

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ جَزٰۗؤُا مَنْ تَزَكّٰى ۝٧٦ وَلَقَدْ

الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	وَذٰلِكَ	جَزٰۗؤُا	مَنْ تَزَكّٰى	وَلَقَدْ
ويالی	هميشه به وی دوی	په دغو کښی	او دغه	جزاء ده	دهغه چاچي ځان ئی پاک کړی وی	او خامخا په تحقيق

ويالي هميشه به وي دوي په دغو (جنتونو) کښي او دغه جزاء ده د هغه چا چي ځان ئي پاک کړی وي . او خامخا په تحقيق

اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى ڏ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ فَاضْرِبْ لَهُمْ

اَوْحَيْنَآ	اِلٰى مُوْسٰٓى	اَنْ اَسْرِ	بِعِبَادِيْ	فَاضْرِبْ لَهُمْ
وحی کړی وه موږ	موسٰی ته	داسی چي دشپي وباسه	بندگان زما	پس جوړه کړه دوی ته

وحی کړی وه موږ موسٰی ته داسی چي دشپي وباسه (له مصره) بندگان زما (بنی اسرآيل) پس جوړه کړه دوی ته

طَرِيْقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰى ۝٧٧

طَرِيْقًا	فِي الْبَحْرِ	يَبَسًا	لَّا تَخٰفُ	دَرَكًا	وَّلَا تَخْشٰى
لاره	په بحر کښی	وچه	نه به بيريږی ته	دنيول کيدو څخه	او نه به بيريږی د غرقيدو څخه

(په وهلو د همسا خپلی سره) لاره په بحر کښی وچه نه به بيريږی ته په تعقيب (د فرعون) او نه به بيريږی (له ډوبيدلو)

فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ۝٧٨

فَاَتْبَعَهُمْ	فِرْعَوْنُ	بِجُنُوْدِهٖ	فَغَشِيَهُمْ	مِّنَ الْيَمِّ	مَا غَشِيَهُمْ
پس راغي په هغو پسی	فرعون	سره د لښکرو د ده	پس لاندی کړل دوی	له سيند څخه	هغه شی چي لاندی ئی کړه دوی

پس راغی په هغو (بنی اسرآئيلو) پسی فرعون سره د لښکرو د ده پس لاندی کړل دوی له سيند څخه هغه شی چي لاندی يئ کړه .

وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰى ۝٧٩ يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ

وَاَضَلَّ	فِرْعَوْنُ	قَوْمَهٗ	وَمَا هَدٰى	يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ
او گمراه کړ	فرعون	قوم خپل	او ونه ښودله لاره سمه	ای بنی اسرآئيلو

او گمراه کړ فرعون قوم خپل او (ورته ئی) ونه ښودله لاره سمه. (وفرمايل الله چي) ای بنی اسرآئيلو

قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ

قَدْ	اَنْجَيْنٰكُمْ	مِّنْ عَدُوِّكُمْ	وَوٰعَدْنٰكُمْ
په تحقيق	نجات درکړ موږ تاسی ته	له دښمنه د تاسی	او وعده کړی ده موږ له تاسی سره

په تحقيق نجات درکړ موږ تاسی ته له دښمنه د تاسی (له فرعون) او وعده کړی ده موږ له تاسی سره (په واسطه د موسٰی)

جَانِبَ الطُّوْرِ الْاَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ﴿٨٠﴾

جَانِبَ	الطُّوْرِ	الْاَيْمَنَ	وَنَزَّلْنَا	عَلَيْكُمُ	الْمَنَّ	وَالسَّلْوٰى
جانب	دطورغر	راسته (جانب دی)	او نازل کړموږ	پرتاسي	من	او سلوٰی

جانب د طور (چې) ښي (جانب دی) او نازل کړموږ پرتاسي من (ترنجبين) او سلوٰی (سره کرې کرکان)

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ

كُلُوْا	مِنْ طَيِّبٰتِ	مَا رَزَقْنٰكُمْ	وَلَا تَطْغَوْا	فِيْهِ
خورئ تاسي	له پاکو	هغه چې رزق روزی موږ درکړی ده تاسي ته	او تجاوز مه کوئ	په هغه کښی

خورئ تاسی له طيبو (پاکيزه ؤ شيانو) هغه چې رزق روزی موږ در کړی ده تاسی ته او تجاوز مه کوئ په هغه (مرزوق کښی)

فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ

فَيَحِلَّ	عَلَيْكُمْ	غَضَبِيْ	وَمَنْ	يَّحْلِلْ	عَلَيْهِ	غَضَبِيْ	فَقَدْ
نو را شوه به سی	پرتاسي	غضب قهر زما	او هر څوک چې	را کښته سی	پر ده	غضب زما	پس په تحقيق

پس واجب لازم راکوز به سی پر تاسی غضب قهر زما او هر څوک چې لازم واجب راکوز سی پر ده غضب زما پس په تحقيق

هَوٰى ﴿٨١﴾ وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

هَوٰى	وَاِنِّيْ	لَغَفَّارٌ	لِّمَنْ	تَابَ	وَاٰمَنَ	وَعَمِلَ	صَالِحًا
سخت وغورځيد	او خامخا زه	هرومرو ښه مغفرت کوونکی يم	هغه چاته چې	توبه ئې وويسته	او ايمان ئې راوړ	او عمل ئې وکړ	صالح

سخت وغورځيد . او خامخا زه هرومرو ښه مغفرت کوونکی يم هغه چاته چې توبه ئې وويسته او ايمان ئې راوړ او عمل ئې وکړ صالح

ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿٨٢﴾ وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمْ

ثُمَّ	اهْتَدٰى	وَمَآ اَعْجَلَكَ	عَنْ قَوْمِكَ	يٰمُوْسٰى	قَالَ هُمْ
بيا	يی سمه لار پيدا کړه	او څه شي په تلوار کړی ته	له قومه خپله	ای موسٰی	وويل (موسٰی) دوی

بيايئ سمه لار پيدا کړه . او څه شي راګړندی کړی ته له قومه خپله ای موسٰی وويل (موسٰی) دوی

اُولَآءِ عَلٰٓى اَثَرِيْ وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿٨٤﴾

اُولَآءِ	عَلٰٓى اَثَرِيْ	وَعَجِلْتُ	اِلَيْكَ	رَبِّ	لِتَرْضٰى
دغه دی	راپسی له وروسته زما	او تلواره وکړه ما	تاته	ای ربه زما	دپاره د دی چې راضي سی ته

دغه دی راپسی له وروسته زما (ډيرنژدی) او جلتی مو وکړه تاته (په راتلو کښی) ای ربه زما دپاره د دی چې راضي سی ته .

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ... دتير مخ پاته بيان دلته وګوری: اوس ددوولسو وړونو ددوولسو قبيلو دومره لوی شمير دمصر څخه ووتی چې دشپږو لکو څخه زيات سول فرعون ته چې کله ددوی دوتلو اطلاع ورسيده نو خپل فوجونه يي جمع کړل چي اووه لکه سپاره وه کله چي دوروسته څخه دافوجي سيلاب او دمخکي څخه دريابي قلزم بني اسرآئيلو وليدی نو وبيريدل او حضرت موسی عليه السلام ته يي فرياد وکی چي: انّا لمدركون: چي موږ خوونيول سو حضرت موسی عليه السلام تسلي ورکړه چي: انّ معی ربی سيهدين: زما سره زما رب دی هغه به موږ ته لار راکړي بيا يي دالله جل جلاله په حکم درياب په لکړه او همسا سره ووهی او وچ دوولس سړکونه په کښي جوړ سول دبني اسرآئيلو دوولس قبيلي پر پوري وتلي څه وخت چي فرعون او دده لښکر دلته راورسيدی نو دفرعون لښکر چي دا حيرانوونکی منظر وليدی نو وبيريدل چي ددوی دپاره په درياب کي لاري خنګه جوړي سوي مګر فرعون دوی ته وويل چي داټوله معجزه زما دهيبت ده: پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

قَالَ فَاِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۡۢ بَعۡدِكَ وَاَضَلَّهُمُ

قَالَ	فَاِنَّا	قَدۡ	فَتَنَّا	قَوۡمَكَ	مِنۡۢ بَعۡدِكَ	وَاَضَلَّهُمُ
وفرمايل (الله)	پس بيشكه! موږ چي يو	په تحقيق	ومو آزمويه	قوم ستا	وروسته له (له راتللو دستا)	او گمراه كړل دوى

وفرمايل (الله) پس بيشكه! موږ چي يو په تحقيق ومو آزمويه قوم ستا وروسته له (راتللو دستا) او گمراه كړل دوى

السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوۡسٰۤى اِلٰى قَوۡمِهٖ غَضۡبَانَ اَسِفًا ۚ

السَّامِرِيُّ	فَرَجَعَ	مُوۡسٰۤى	اِلٰى قَوۡمِهٖ	غَضۡبَانَ	اَسِفًا
يوه زرگر	پس راوگرځيدى	موسىٰ	قوم خپل ته	ډير غضبناک	خورا غمجن

يوه زرگر (سامرى) (په عبادت د خسى سره). پس راوگرځيد موسىٰ قوم خپل ته ډير غضبناک خورا غمجن

قَالَ يٰقَوۡمِ اَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ وَعۡدًا حَسَنًا ۬ اَفَطَالَ

قَالَ	يٰقَوۡمِ	اَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ	رَبُّكُمۡ	وَعۡدًا	حَسَنًا	اَفَطَالَ
وويل (موسىٰ)	اى قومه زما	آيا وعده نه وه كړې له تاسي سره	رب دتاسي	وعده	نيكه	آيا پس اوږده سوه

وويل (موسىٰ) اى قومه زما آيا وعده نه وه كړې له تاسي سره رب دتاسي وعده حسنه (نيكه ښه) ، آيا پس اوږده سوه

عَلَيۡكُمُ الۡعَهۡدُ اَمۡ اَرَدۡتُّمۡ اَنۡ يَّحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبٌ مِّنۡ

عَلَيۡكُمُ	الۡعَهۡدُ	اَمۡ اَرَدۡتُّمۡ	اَنۡ يَّحِلَّ	عَلَيۡكُمۡ	غَضَبٌ	مِّنۡ
پر تاسي	زمانه	او كه اراده كړې وه تاسي	چي لازم واجب راكښته سي	پر تاسي	غضب قهر	له جانبه

پر تاسي زمانه (دبيلتون زما) او كه اراده كړې وه تاسي چي لازم واجب راكښته سي پر تاسي غضب قهر له جانبه

رَّبِّكُمۡ فَاَخۡلَفۡتُمۡ مَّوۡعِدِيۡ ﴿٨٦﴾ قَالُوۡا مَاۤ اَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ

رَّبِّكُمۡ	فَاَخۡلَفۡتُمۡ	مَّوۡعِدِيۡ	قَالُوۡا	مَاۤ اَخۡلَفۡنَا	مَوۡعِدَكَ
د رب دتاسي	مخالفت وكړ تاسي	د وعدى زما	وويل	چي نه مو دى كړې مخالفت	دوعدى ستا

د رب دتاسي پس خلافه كړه تاسي هغه وعده زما. وويل (بني اسرآئيلو) چي نه مو دى كړې خلاف دوعدى ستا

بِمَلۡكِنَا وَلٰكِنَّا حُمِّلۡنَاۤ اَوۡزَارًا مِّنۡ زِيۡنَةِ الۡقَوۡمِ

بِمَلۡكِنَا	وَلٰكِنَّا	حُمِّلۡنَاۤ	اَوۡزَارًا	مِّنۡ زِيۡنَةِ	الۡقَوۡمِ
په اختيار خپل سره	وليكن موږ	بار كړې سوى يو	په پيتو او بوج	له زيوراتو او كاليو	دقبطيانو د قوم

په اختيار خپل سره وليكن موږ بار كړې سوى يو په پيټو له گاڼو (زيوراتو) او كاليو دقبطيانو د قوم

قَالَ فَاِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۡۢ بَعۡدِكَ. دتير مخ پاته بيان دلته وكورى: چي درياب ودريدى او لاري په كښي جوړي سوې دا يي وويل او فورا مخكي سو او خپل آس يي پر دغه لاره ورروان كى او ټول لښكر ته يي په ځان پسې دراتلو حكم وكى څه وخت چي فرعون سره دخپل ټوله لښكر ددې درياب پر لارو مينځ ته راورسيدى نو دغه وخت الله ﷻ درياب ته د گډيدو حكم وركى او ددرياب ټولي حصې ديو او بل سره يو ځاى سوې الله ﷻ يي حكايت داسي كړى دى. فغشيهم من اليم ما غشيهم. ددغه جملې هم دغه مطلب دى چي راپټ كړه او رالاندي كړه درياب دوى په هغه څه كي چي راپټ يي كړه دوى: دفرعون څخه دنجات او ددرياب څخه تر پوري وتلو وروسته دحضرت موسى عليه السلام سره او دده په واسطه دټولو بني اسرآئيلو سره الله ﷻ داوعده وفرمايله چي دوى دي دطور دغره راسته طرف ته راسي چي حضرت موسى عليه السلام ته تورات وركول سي او بني اسرآئيل په خپله هم د الله ﷻ سره دده خبري كول مشاهده كړي الخ.

معارف القرآن ج٦ پ١٦ ص١٦٩

فَقَذَفۡنٰهَا فَكَذٰلِكَ اَلۡقَى السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَاَخۡرَجَ لَهُمۡ

فَقَذَفۡنٰهَا	فَكَذٰلِكَ	اَلۡقَى	السَّامِرِيُّ	فَاَخۡرَجَ	لَهُمۡ
پس ومو غورځولی هغه	او همداسی	وغورځولی	سامری	نو راوویست	دوی ته

پس ومو غورځولی هغه (زیورات په اور کښی) او همداسی وغورځولی(په اور کښی) سامری. نو راوویست دوی ته

عِجۡلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوۡا هٰذَاۤ اِلٰـهُكُمۡ وَاِلٰهُ مُوۡسٰى ۬

عِجۡلًا	جَسَدًا	لَّهٗ	خُوَارٌ	فَقَالُوۡا	هٰذَاۤ	اِلٰـهُكُمۡ	وَاِلٰهُ	مُوۡسٰى
یو کیلکی	یو جسد	چې ؤ ده ته	اواز	نو وویل	دغه	خدای ستاسی دی	او خدای	دموسٰی دی

یو کیلکی یو جسد چې ؤ ده ته بږغ (دخسی) نو وویل (سامری او تابعانو ئی) دغه دتاسی خدای دی او خدای د موسٰی دی

فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ اَفَلَا يَرَوۡنَ اَلَّا يَرۡجِعُ اِلَيۡهِمۡ قَوۡلًا ۬ۙ وَّلَا يَمۡلِكُ

فَنَسِيَ	اَفَلَا يَرَوۡنَ	اَلَّا يَرۡجِعُ	اِلَيۡهِمۡ	قَوۡلًا	وَّلَا يَمۡلِكُ
پس هیر کړی دی ده	آیا نه ګوری دوی	بیشکه! شان دادی چی بیرته نه ګرځوی دا	دوی ته	خبره	او نه مالک دی

پس هیر کړی دی ده. (نو فرمائی الله) آیا نه ګوری دوی بیشکه شان دادی چی بیرته نه ګرځوی دادوی ته خبره او نه مالک دی

لَهُمۡ ضَرًّا وَّلَا نَفۡعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدۡ قَالَ لَهُمۡ هٰرُوۡنُ مِنۡ قَبۡلُ

لَهُمۡ	ضَرًّا	وَّلَا نَفۡعًا	وَلَقَدۡ	قَالَ لَهُمۡ	هٰرُوۡنُ	مِنۡ قَبۡلُ
دوی ته	دضرر	او نه دنفعی	او خامخا په تحقیق	وویل دوی ته	هارون	پخوا

دوی ته د ضرر او نه دنفعی. او خامخا په تحقیق وویل دوی ته هارون پخوا ،

يٰقَوۡمِ اِنَّمَا فُتِنۡتُمۡ بِهٖ ۚ وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحۡمٰنُ

يٰقَوۡمِ	اِنَّمَا	فُتِنۡتُمۡ	بِهٖ	وَاِنَّ	رَبَّكُمُ	الرَّحۡمٰنُ
ای قومه زما	بیشکه! هم داخبره ده	چې ازمویلی سوی یئ تاسی	په (عبادت) د خسی	او بیشکه!	رب دتاسی	هم دا رحمٰن دی

ای قومه زما بیشکه هم داخبره ده چې ازمویلی سوی یئ تاسی په (عبادت) دخسی او بیشکه! رب دتاسی هم دا رحمٰن دی

فَاتَّبِعُوۡنِيۡ وَاَطِيۡعُوۡۤا اَمۡرِيۡ ﴿٩٠﴾ قَالُوۡا لَنۡ نَّبۡرَحَ عَلَيۡهِ عٰكِفِيۡنَ

فَاتَّبِعُوۡنِيۡ	وَاَطِيۡعُوۡۤا	اَمۡرِيۡ	قَالُوۡا	لَنۡ نَّبۡرَحَ	عَلَيۡهِ	عٰكِفِيۡنَ
نو متابعت وکړئ زما	او اطاعت وکړئ	دحکم زما	وویل (بنی اسرآئیلو)	چې همیشه به اوسو	پر عبادت د ده	محکم ولاړ

نو متابعت وکړئ زما او اطاعت وکړئ دحکم زما. وویل (بنی اسرآئیلو) چې همیشه به اوسو په (عبادت د) دی خسی محکم ولاړ

فَاَخۡرَجَ لَهُمۡ عِجۡلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ.. سامري بد بخته وبني اسرائيلوته دحضرت موسى عليه السلام تر تګ وروسته ګيلګی جوړ کړی: حضرت موسى عليه السلام چي کله دتورات په راوړلو پسې ولاړی او قوم يي وهارون عليه السلام ته حواله کړی نو سامري بدبخته راولاړ سو هغه خواست کړي سره زر او سپين زر دقبطيانو يي ويلي کړه پر اور باندي او دګيلګي مجسمه يي ځيني جوړه کړه چي آواز يي هم ايستی او اواز يي هم دغوا وو: دلفظ د :جسد څخه ځيني مفسرينو دا خبره را ايستلې ده چي دامحض يو جسد او جسم وو ژوند په دي کي نه وو او اوازېـه هم ديو خاص صفت په سبب سره دده څخه وتی: اوعام مفسرين بيا فرمايي چي يا په ده کي ژوند وو نو هغه ووچي سامري او دده ملګرو دغه ګيلګی خبري کوونکی وليدی نورو بني اسرائيلو ته يي وويل چي داستاسي او دموسی خدای دی دموسی عليه السلام څخه لاره ورکه سويده بلي خواته تللی دی پر دغه طريقه بد بخته انسان په قوم کي دبني اسرآئيلو تفرقه او جلاوالی راپيدا کی ځينو يي خبره ومنل او ځينو بياه ونه منل:

معارف القرآن ج۶ پ۱۶ ص۱۷۸

ع ٤ ١٣

حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰى ﴿٩١﴾ قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ

حَتّٰى	يَرْجِعَ	اِلَيْنَا	مُوْسٰى	قَالَ	يٰهٰرُوْنُ	مَا مَنَعَكَ
ترهغه پورې	چې بيرته راسي	موږته	موسٰی	وويل موسٰی	(پس له راتګه) اې هارون	څه شی منع کړی وی ته

ترهغه پورې چې بيرته راسي موږ ته موسٰی (له طوره). وويل موسٰی پس له راتګه له طوره اې هارونه څه شي منع کړی وی ته

اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ﴿٩٢﴾ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ۭ اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ ﴿٩٣﴾

اِذْ رَاَيْتَهُمْ	ضَلُّوْٓا	اَلَّا تَتَّبِعَنِ	اَفَعَصَيْتَ	اَمْرِيْ
کله چې تاوليدل دوی	چې ګمراهان سول	له دې چې متابعت دې ونه کړی زما	آيا پس نافرماني وکړه تا	له حکمه زما

کله چې تاوليدل دوی چې ګمراهان سول له دې چې متابعت دې ونه کړی زما آيا پس نافرماني وکړه تا له حکمه زما .

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ ۚ اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ

قَالَ	يَبْنَؤُمَّ	لَا تَاْخُذْ	بِلِحْيَتِيْ	وَلَا بِرَاْسِيْ	اِنِّيْ	خَشِيْتُ	اَنْ
وويل (هارون)	اې زويه د مور زما	مه نيسه	ږيره زما	او نه سر زما	بيشکه! زه	وويريدم	له دې څخه چې

وويل (هارون) اې زويه د مور زما مه نيسه ږيره زما او نه (وربښتان د) سر زما. بيشکه! زه وويريدم له دې څخه چې

تَقُوْلَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ﴿٩٤﴾

تَقُوْلَ	فَرَّقْتَ	بَيْنَ	بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ	وَلَمْ تَرْقُبْ	قَوْلِيْ
وبه وائی ته	چې بيلتون دی واچاوه	په مينځ	دبنی اسرائيلو کښی	او ودی نه کتل	امر زما ته

وبه وائی ته (راته) چې بيلتون دی واچاوه په مينځ دبنی اسرائيلو کښی او ودی نه کتل امر (خبرې) زما ته .

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا

قَالَ	فَمَا خَطْبُكَ	يٰسَامِرِيُّ	قَالَ	بَصُرْتُ	بِمَا
وويل (موسٰی)	پس څه وو ستا کار	اې سامری	وويل (سامری)	چې نظر غورځولی ؤ ما	په هغه شی

وويل (موسٰی) پس څه وه ستا کار اې سامری (چې خلک دی ګمراه کړل). وويل (سامری) چې نظر غورځولی ؤ ما په هغه شی

لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ

لَمْ يَبْصُرُوْا	بِهٖ	فَقَبَضْتُ	قَبْضَةً	مِّنْ	اَثَرِ	الرَّسُوْلِ
چې نظر نه ؤ غورځولی دوی	په هغه شی باندی	پس واخيستله ما	يو موټی (خاوره)	له	قدمه د (آس د)	رسول (جبرئيل)

چې نظر نه ؤ غورځولی دوی په هغه شی باندی پس واخيستله ما يو موټی (خاوره) له قدمه د (آس د)رسول (جبرئيل)

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ..

حضرت موسی عليه السلام خپل ورور هارون عليه السلام ډېره خفګانه د سرا و ږيري تر وربښتو ونيوى : په بني اسرآئيلو کي د سخوندرګي دعبادت فتنه چي کله راپورته سوه نو حضرت هارون عليه السلام دحضرت موسی عليه السلام دنيابت حق اداء کی او قوم يي پوه کی ليکن څنګه چي مخکي ويل سوي دي چي په دوی کي درې فرقې جوړي سوې يوه ډله دحضرت هارون عليه السلام سره پاته سوه دده حکم يي ومنی او د سخوندرګي عبادت يي ګمراهي وبلله ددې ډلي شميره دولس زره کسان ويل سوي دي : پاته دوې فرقې د سخوندرګي په عبادت کي شريکي سوې مګر فرق يي دومره وو چي په دې دواړو کي يوې فرقې دااقرار وکی چي حضرت موسی عليه السلام واپس راسي او ددې څخه منع وکړي نو موږ به منع سو دوهمه فرقه دومره پخه وه چي ددوی يقين داوو چي که حضرت موسی عليه السلام هم واپس راسي بيا به هم دامعبود جوړوو او موږ په هر حال کي ددغي طريقې پرينبوونکي نه يو کله چي حضرت هارون عليه السلام ددغو.

پاته بيان پر راروان مخ وګورى

فَنَبَذْتُهَا وَ كَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾ قَالَ

فَنَبَذْتُهَا	وَ كَذٰلِكَ	سَوَّلَتْ	لِيْ نَفْسِيْ	قَالَ
پس ومی غورځوله دا	او هم داسی	ښائسته کړی ؤ ماته (داکار)	نفس زما	وویل (موسیٰ)

پس ومی غورځوله دا (خاوره په خوله دګیلګی کښی) او هم داسی ښائسته کړی ؤ ماته (داکار) نفس زما. وویل (موسیٰ)

فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ وَاِنَّ لَكَ

فَاذْهَبْ	فَاِنَّ	لَكَ	فِي الْحَيٰوةِ	اَنْ تَقُوْلَ	لَا مِسَاسَ	وَاِنَّ	لَكَ
پس ځه	پس بیشکه!	سته تاته	په دغه ژوندون کښی	داچی ته به وائی	چی مه لګیږه	او بیشکه!	تالره

پس ځه (له موږ لری سه) پس بیشکه! سته تاته په دغه ژوندون کښی دا (عاقبت) چی وبه وائی چی مه لګیږه (په ما) او بیشکه!

مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰۤى اِلٰهِكَ الَّذِيْ

مَوْعِدًا	لَّنْ تُخْلَفَهٗ	وَانْظُرْ	اِلٰۤى اِلٰهِكَ	الَّذِيْ
وعده (دعذاب) ده	چی مخالفت به نه سی کیدای له تاسره د هغی	وګوره	معبود خپل ته دی	هغه

تاته (په آخرت) وعده (دعذاب) چی له سره به خلاف ونه کړسی له تاسره له هغی وعدی، وګوره معبود خپل ته دی هغه

ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ؕ لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ

ظَلْتَ	عَلَيْهِ	عَاكِفًا	لَنُحَرِّقَنَّهٗ	ثُمَّ	لَنَنْسِفَنَّهٗ	فِي الْيَمِّ
چی وی ته	پر عبادت د هغه	محکم ولاړ	خامخا سوځوو موږ هرومرو هغه	بیا	به ئی بادوو تار په تار کوو	په سیند کښی

چی وی ته په عبادت د هغه کښی محکم ولاړ خامخا سوځوو موږ هرومرو هغه بیا به ئی بادوو، تار په تار کوو په سیند کښی

نَسْفًا ﴿٩٧﴾ اِنَّمَاۤ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ

نَسْفًا	اِنَّمَاۤ	اِلٰهُكُمُ	اللّٰهُ	الَّذِيْ	لَاۤ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ
په بادولو تار په تار کولو سره	بیشکه! هم دا خبره ده	چی معبود ستاسی	الله دی	هغه چی	نسته بل معبود د عبادت	مګر	هم دی دی

په بادولو، تار په تار کولو سره. بیشکه! هم دا خبره ده چی معبو د ستاسی الله دی هغه چی نسته بل معبود د عبادت مګر هم دی دی

وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾ كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ

وَسِعَ	كُلَّ شَيْءٍ	عِلْمًا	كَذٰلِكَ	نَقُصُّ	عَلَيْكَ	مِنْ اَنْۢبَآءِ	مَا قَدْ	سَبَقَ
راګیر کړی دی هغه	هر شی	په علم سره	همداسی	قصی کوو	پر تا	له اخبارو	دهغو امورو چی په تحقیق	پخوا تیر سوی

راګیر کړی دی هغه هر شی له جهته د علم. هم داسی قصی کوو پر تا له اخبارو دهغو امورو چی په تحقیق پخوا تیر سوی دی

قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ...د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری: دواړو فرقو دا جواب واوریدی چي موږ د حضرت موسی علیه السلام تر راتلو پوري دګیلګي او سخوندرګي پر عبادت باندي به ټینګ یو نو حضرت هارون علیه السلام خپل دوولس زره ملګري ددوی څخه جدا کړل مګر داوسیدو او ناستي او ولاړي ځایونه یي هم هغه وه اودوی په دي کي دهغو سره شریک وه: حضرت موسی علیه السلام چي واپس راغی نو اول یي بني اسرآئیلو ته هغه خطاب وکی کم چي په تیرو ایاتونو کي بیان سوی دی بیا یي خپل خلیفه حضرت هارون علیه السلام ته مخ کی او پر ده یي دسختي غصې اوقهر اظهار وکی دده ږیره اودسر وریښته یي ونیول او ویي فرمایل چي کله تا دابني اسرآئیل ولیدل چي په ښکاره ګمراهی یعني په شرک او کفر کي اخته سول او ګمراهان سول نو تا زما اتباع ولي ونه کړه یعني په ماپسې به دطور غره ته راغلی وای: یایي مطلب دادی چي تا ولي ددوی مقابله نه کوله ځکه که زما په موجودګی کي داسي سوي وای: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾ مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ

وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ	مِنْ لَّدُنَّا	ذِكْرًا	مَنْ اَعْرَضَ	عَنْهُ	فَاِنَّهٗ	يَحْمِلُ
او په تحقيق دركړى دى موږ تاته	خاص له جانبه خپله	ذكر	هرڅوك چې مخ وګرځوى	له دغه	پس بيشكه! دى به	بار كړي

او په تحقيق دركړى دى موږ تاته خاص له جانبه خپله ذكر. هرڅوك چې مخ وګرځوى له دغه (قرآن) پس بيشكه! دى به بار كړي

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ؕ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ

يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	وِزْرًا	خٰلِدِيْنَ	فِيْهِ	وَسَآءَ لَهُمْ	يَوْمَ
په ورځ	د قيامت كښې	لوى بار	چې تل به وى	په دغه كښې	او بد دى دوى ته	په ورځ

په ورځ د قيامت كښې لوى بار (د عذاب) چې تل به وى په دغه (عذاب) كښې او بد دى دوى ته په ورځ

الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ

الْقِيٰمَةِ	حِمْلًا	يَّوْمَ	يُنْفَخُ	فِي الصُّوْرِ	وَنَحْشُرُ
د قيامت كښې	له جهته د بار ولو	په هغه ورځ كښې	چې وپوكل سى	په صور (شپيلى) كښې	او راجمع به كړو

د قيامت كښې له جهته د بار ولو (عذاب د دوى د ګناه). په هغه ورځ كښې چې وپوكل سى په صور (شپيلى) كښې او راجمع به كړو

الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾ يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ

الْمُجْرِمِيْنَ	يَوْمَئِذٍ	زُرْقًا	يَّتَخَافَتُوْنَ	بَيْنَهُمْ
مجرمان	په دغه ورځ	شين سترګى	چې ورو ورو پټى پټى خبرى به كوى	په مينځ خپل كښې

مجرمان په دغه ورځ شين سترګى (تورمخى). چې ورو ورو پټى پټى خبرى به كوى په مينځ خپل كښې

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ

اِنْ لَّبِثْتُمْ	اِلَّا	عَشْرًا	نَحْنُ	اَعْلَمُ	بِمَا	يَقُوْلُوْنَ	اِذْ يَقُوْلُ
نه ياست پاته سوى تاسى	مګر	لس ورځى	موږ	ښه عالمان يو	په هغو اقوالو	چې دوى ئې وائى	كله چې ووائى

درنګ نه دى كړى تاسى مګر لږى (ورځى په دنيا كښې). موږ ښه عالمان يو په هغو اقوالو چې دوى ئې وائى. كله چې ووائى

اَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ

اَمْثَلُهُمْ	طَرِيْقَةً	اِنْ لَّبِثْتُمْ	اِلَّا يَوْمًا	وَيَسْـَٔلُوْنَكَ
ډير كامل د دوى	له حيثه د عقل او رايى	چې ځنډ نه دى كړى تاسى	مګر يوه ورځ	او پوښتنه كوى دوى له تا څخه

ډير كامل د دوى له حيثه د روش چې ځنډ (تاخير) نه دى كړى تاسى (په دنيا كښې) مګر يوه ورځ. او پوښتنه كوى له تا څخه

ع ٥ ١٥ ١٤

مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ. د تير مخ پاته بيان دلته وګورى نو مابه يقينا پر دغه كفر او شرک باندي دپاته كيدونكو سره جهاد كړى واى تاسي داولي ونه كړل؟ په دواړو صورتونو كي دحضرت موسى عليه السلام د طرفه څخه پر حضرت هارون عليه السلام باندي دا الزام وو چي دداسي ګمراهي په صورت كي يا خو ددوى سره مقاتله او جهاد كيداى سو، يا بيا ددوى څخه به دي ځان جدا كړى واى او په ماپسي به راغلى واى ددوى سره پاته كيدل او اوسيدل دحضرت موسى عليه السلام په نزد ددوى خطاء او غلطي وه حضرت هارون عليه السلام ددي معاملي باوجود په پوره ادب سره دحضرت موسى عليه السلام د نرمولو دپاره خطاب په لفظ د: يبنؤم: سره وكى يعني اى زما دمور بچيه. په دي خطاب كي يوه خاص اشاره دسختي معاملي نه كولو طرف ته وه چي زه ستا ورور يم څه مخالف خو نه يم په دي وجه ته زما عذر واوره بيا يي عذر دا بيان كي چي ماته دا بيره وه چي په دغه مقابله او مقاتله كي به په بني اسرآئيلو كي تفرقه او جلاوالي راپيدا سي الخ.
معارف القرآن ج ٦ ص ١٨٠

عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّيْ نَسْفًا ﴿۱۰۵﴾

عَنِ الْجِبَالِ	فَقُلْ	يَنْسِفُهَا	رَبِّيْ	نَسْفًا
له غرونو	پس وواېه دوی ته	چې تار په تار او تيت ؤ پرک به کړی دغه (غرونه)	رب زما	په تار په تار کولو سره

له (احوال د) غرونو پس وواېه دوی ته چې تار په تار او تيت ؤ پرک به کړی دغه (غرونه) رب زما په تار په تار کولو سره.

فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿۱۰۶﴾ لَّا تَرٰى فِيْهَا عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ﴿۱۰۷﴾

فَيَذَرُهَا	قَاعًا	صَفْصَفًا	لَّا تَرٰى	فِيْهَا	عِوَجًا	وَّلَآ اَمْتًا
پس پرې به ږدي دا مځکه	يو تش ډاگ	هوار	چې نه به وينې ته	په دغه کښې	کښته والی	او نه اوچت والی

پس پرې به ږدي دا مځکه يو تش ډاگ هوار، چې نه به وينې ته په دغه (مځکه) کښې کښته والی او نه اوچت والی (هيڅ قدر).

يَوْمَئِذٍ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ

يَوْمَئِذٍ	يَّتَّبِعُوْنَ	الدَّاعِيَ	لَا عِوَجَ	لَهٗ	وَخَشَعَتِ	الْاَصْوَاتُ
په دغه ورځ کښې	به متابعت وکړی دوی	د بلونکی	نه به وی کوږوالی	له دغی بلنی	او چپ به سی	ږغونه

په دغه ورځ (د قيامت) کښې به متابعت وکړی (دامخلوق) د بلونکی نه به وی کوږوالی له دغی او چپ به سی ږغونه (له هيبته)

لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ﴿۱۰۸﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ

لِلرَّحْمٰنِ	فَلَا تَسْمَعُ	اِلَّا	هَمْسًا	يَوْمَئِذٍ	لَّا تَنْفَعُ
دپاره د رحمٰن	پس نه به اوری ته	مگر	کښهار د قدمونو	په دغه ورځ کښې	نه رسوی فائده

دپاره د رحمٰن پس نه به اوری ته مگر کښهار د قدمونو. په دغه ورځ (قيامت) کښې نه رسوی فائده

الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِيَ لَهٗ قَوْلًا ﴿۱۰۹﴾

الشَّفَاعَةُ	اِلَّا	مَنْ اَذِنَ	لَهُ	الرَّحْمٰنُ	وَرَضِيَ	لَهٗ	قَوْلًا
شفاعت	مگر	هغه چاته چې اجازه کړې وی	هغه ته	رحمٰن	راضي سوی وی	ده ته	له حيثيته د وينا

شفاعت (د هيچا ته) مگر هغه چاته چې اذن کړی دی د هغه په حق کښې رحمٰن راضی دی (الله) له دغه له حيثيته د وينا.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ

يَعْلَمُ	مَا	بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ	وَمَا خَلْفَهُمْ	وَلَا يُحِيْطُوْنَ
عالم دی الله	په هر هغه څه	چې په وړاندې د دوی دی	او په هر هغه څه چې وروسته د دوی دی	او نه به سی احاطه کولی دوی

عالم دی الله په هر هغه څه چې په مينځ کښې د دوی وی او هر هغه شی چې پسی شا د دوی دی او نه به سی احاطه کولی دوی

يَوْمَئِذٍ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهٗ. دقيامت په ورځ به ټوله مخلوق ديوې اواز کوونکي فرشتي په ږغ راپورته سي: په دغه آيت کي الله ﷻ دقيامت د ورځي پس منظر بيان کړی دی چې هغه داسي ورځ ده چې داغټ غټ او کلک کلک غرونه به الله ﷻ ذره ذره کړي او وابه الوزي بيا به مځکه يو هوار ميدان جوړه کړل سي په دي کي به تاسي نه ژوره ووينی او نه لوړه ټوله به يو لاس هواره وي ټول مخلوق به په خدايي بلونکي يعني شپيلی وهونکي ملايکي پسي په وينا سي يعني هغه فرشته به ټوله دخپلي شپيلی په آوزا سره دقبرونو څخه راوبلي او دوی به راپورته سي دهغې په مخکي به په هيڅ چا کي څه کوږوالی نه وي چې گوندي دقبر څخه به نه راووزي لکه چې همدغه خلگ په دنيا کي دپيغمبرانو په مخکي کاږه گرځيدل چې تصديق يې نه کوی او دډېر هيبت څخه به دټولو اوازونه دالله ﷻ په مخکي غلي سي نو ای انسانه ته به بغير دپښو دکښهار څخه چې ميدان دحشر ته به غلي غلي روان وي بل هيڅ هم وانه اوري:
معارف القرآن ج ۶ پ ۱۶ ص ۱۸۸

بِهٖ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ ۭ وَقَدْ

بِهٖ	عِلْمًا	وَعَنَتِ	الْوُجُوْهُ	لِلْحَيِّ	الْقَيُّوْمِ	وَقَدْ
په (ذات) د دغه	له جهته د علم	او ذلیل سوی به وی	ډیر مخونه	تل ژوندی	قائم تدبیر والا ته	او په تحقیق

په (ذات او په معلوماتو) د دغه (الله) له جهته د علم. او ذلیل سول مخونو هغه تل ژوندی قائم تدبیر والا د عالموته ، او په تحقیق

خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

خَابَ	مَنْ حَمَلَ	ظُلْمًا	وَمَنْ يَّعْمَلْ	مِنَ الصّٰلِحٰتِ	وَهُوَ مُؤْمِنٌ
خراب نا امیده سو	هر هغه څوک چی پورته ئی کړ بار	د ظلم	او هر هغه څوک چی وکړی	له ښو عملونو	حال دا چی وی دی مؤمن

خراب نا امیده سو هر هغه څوک چی پورته ئی کړ بار د ظلم. او هر هغه څوک چی وکړی له ښو (عملونو) حال دا چی وی دی مؤمن

فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا

فَلَا يَخٰفُ	ظُلْمًا	وَّلَا هَضْمًا	وَكَذٰلِكَ	اَنْزَلْنٰهُ	قُرْاٰنًا
پس نه بیریږی	له ظلم بی انصافی	او نه له نقصان	او هم داسی	نازل کړی دی موږ دغه کتاب	قرآن

پس نه بیریږی (دی په آخرت کښی) له ظلم بی انصافی او نه له نقصان. او هم داسی نازل کړی دی موږ دغه کتاب قرآن

عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ

عَرَبِيًّا	وَّصَرَّفْنَا	فِيْهِ	مِنَ الْوَعِيْدِ	لَعَلَّهُمْ	يَتَّقُوْنَ
په عربی (ژبه)	او بیا بیا راوړی دی موږ	په دی قرآن کښی	له آیاتونو د وعید	دپاره د دی چی دوی	پرهیز وکړی

په عربی (ژبه) او بیا بیا راوړی دی موږ په دی قرآن کښی له آیاتونو د وعید (سزا) دپاره د دی چی دوی پرهیز وکړی

اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ

اَوْ يُحْدِثُ	لَهُمْ	ذِكْرًا	فَتَعٰلَى	اللّٰهُ	الْمَلِكُ	الْحَقُّ
یا پیدا کړی دغه (قرآن)	دوی ته	پند	نو لوی او چت دی	الله	چی پادشاه دی	حق دی

یا پیدا کړی دغه (قرآن) دوی ته ذکر (پند). نو لوی او چت دی الله (په ذات او صفاتو کښی) چی پادشاه دی حق دی

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ ۡ وَقُلْ

وَلَا تَعْجَلْ	بِالْقُرْاٰنِ	مِنْ قَبْلِ	اَنْ يُّقْضٰٓى	اِلَيْكَ	وَحْيُهٗ	وَقُلْ
او تلوار مه کوه ته	په (لوستلو د) قرآن	پخوا له هغه	چی پوره کړه سی	تا ته	وحی د ده	او وو ایه (محمده)

او تلوار مه کوه ته (ای محمده!) په (لوستلو د) قرآن پخوا له هغه چی پوره کړه سی تا ته وحی د ده او وو ایه (ای محمده!)

وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ ۭ وَقَدْ خَابَ

دقیامت په ورځ به دټولو مخونه دالله ﷻ په مخکي کښته وي: په دغه آیت کي بیا الله ﷻ دقیامت دورځي پس منظر بیان کړی دی چي هغه داسي دهیبت او خوف او دبدبې ورځ ده چي ټول مخونه به ددغه ژوندي او همیشه قایم پاته کیدونکي ذات په مخکي کښته وي او دټولو تکبر کوونکو او انکار کوونکو انکار به ختم سي او په دي صفت کي به ټول شریک وي بیا مخکي به په دوی کي دافرق وي چي داسي سړی خو به په هر ډول ناکامه وي کم چي دظلمه او شرک سره راغلی وي البته چاچي نیک کار کړی وي او دی ایمانداره هم وي پس ده ته به پوره ثواب ورکړه سي نه به دده سره دڅه زیاتي بیره وي او نه دڅه کمي بیره وي مثلا داچي څه ګناه دده په عملنامه کي زیاته ولیکل سي او یا یې څه نیکي کمه ولیکل سي او دا کنایه ده دکامل ثواب ورکولو څخه : او دقرآن کریم ټوله مضامین موږ صفا صفا بیان کړي دي چي په هغه کي دقیامت دورځي عذابونه هم راځي او ثوابونه هم را ځي.

معارف القرآن ج ۶ پ ۱۶ ص ۱۸۹

رَّبِّ زِدۡنِیۡ عِلۡمًا ﴿۱۱۴﴾ وَلَقَدۡ عَهِدۡنَاۤ اِلٰۤی اٰدَمَ مِنۡ قَبۡلُ

رَّبِّ	زِدۡنِیۡ	عِلۡمًا	وَلَقَدۡ	عَهِدۡنَاۤ	اِلٰۤی اٰدَمَ	مِنۡ قَبۡلُ
ای ربه زما	زیات کړی ما	له جهته د علمه	او خامخا په تحقیق	حکم کړی ؤ موږ	آدم ته	پخوا له دی څخه

ای ربه زما زیات کړی ما له جهته د علمه. او خامخا په تحقیق حکم کړی ؤ موږ آدم ته پخوا له دی څخه

فَنَسِیَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهٗ عَزۡمًا ﴿۱۱۵﴾ وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓئِكَةِ

فَنَسِیَ	وَلَمۡ نَجِدۡ لَهٗ	عَزۡمًا	وَاِذۡ قُلۡنَا	لِلۡمَلٰٓئِكَةِ
پس هیر ئی کړ	او پیدا مو نه کړه ده ته	پخه اراده	او یاد کړه هغه وخت چی وویل موږ	ملائیکو ته

پس هیر ئی کړ (حکم) او و مونه موند ده ته استقامت (صبر له منهی عنه) څخه. او یاد کړه هغه وخت چی وویل موږ ملائیکو ته

اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوۡۤا اِلَّاۤ اِبۡلِیۡسَ ؕ اَبٰی ﴿۱۱۶﴾ فَقُلۡنَا

اسۡجُدُوۡا	لِاٰدَمَ	فَسَجَدُوۡۤا	اِلَّاۤ	اِبۡلِیۡسَ	اَبٰی	فَقُلۡنَا
چی سجده وکړئ	آدم ته	پس سجده وکړه (ټولو)	مګر (ونه کړه)	ابلیس	چی منع ئی راوړه	پس وویل موږ

چی سجده وکړئ (تعظیماً) آدم ته پس سجده وکړه (ټولو) مګر (سجده ونه کړه) ابلیس، چی منع ئی راوړه پس وویل موږ

یٰۤاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوۡجِكَ فَلَا یُخۡرِجَنَّكُمَا

یٰۤاٰدَمُ	اِنَّ	هٰذَا	عَدُوٌّ لَّكَ	وَلِزَوۡجِكَ	فَلَا یُخۡرِجَنَّكُمَا
ای آدمه	بیشکه!	دا (ابلیس)	دښمن ستا دی	او (دښمن) د ښځی ستا دی	پس و دی نه باسی خامخا تاسی

ای آدمه بیشکه! دا (ابلیس) دښمن ستا دی او (دښمن) د ښځی ستا دی پس و دی نه باسی خامخا تاسی

مِنَ الۡجَنَّةِ فَتَشۡقٰی ﴿۱۱۷﴾ اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوۡعَ فِیۡهَا وَلَا تَعۡرٰی ﴿۱۱۸﴾

مِنَ الۡجَنَّةِ	فَتَشۡقٰی	اِنَّ	لَكَ	اَلَّا تَجُوۡعَ	فِیۡهَا	وَلَا تَعۡرٰی
له جنته	پس په مشقت کښی به پریوځی	بیشکه!	مقرر دی تاته	چی نه به وږی کیږی	په دی کښی	لڅ لغړ کیږی به نه

له جنته پس په مشقت کښی به پریوځی. بیشکه! مقرر دی تاته چی نه به وږی کیږی په دی (جنت) کښی او نه به بربنډ کیږی

وَاَنَّكَ لَا تَظۡمَؤُا فِیۡهَا وَلَا تَضۡحٰی ﴿۱۱۹﴾ فَوَسۡوَسَ اِلَیۡهِ

وَاَنَّكَ	لَا تَظۡمَؤُا	فِیۡهَا	وَلَا تَضۡحٰی	فَوَسۡوَسَ	اِلَیۡهِ
او بیشکه! ته به	نه تږی کیږی	په دغ جنت کښی	او نه به دی ګرمی کیږی	پس وسوسه واچوله	دغه (آدم) ته

او بیشکه! ته به نه تږی کیږی په دغه جنت کښی او نه به دی ګرمی کیږی. پس وسوسه واچوله دغه (آدم) ته

وَلَقَدۡ عَهِدۡنَاۤ اِلٰۤی اٰدَمَ مِنۡ قَبۡلُ. دحضرت ادم علیه السلام دقصي مناسب اجزاء دلته بیانیږي: الله جل جلاله فرمایي چي ای محمد صلی الله علیه وسلم موږ ددې واقعې متعلق ستا څخه مخکي حضرت آدم علیه السلام ته یو وصیت کړی وو یعني تاکیدي حکم مو ورته کړی وو هغه دا چي یوه معینه درخته الله جل جلاله ده ته ښوولې وه چي دادرخته یعني ددې میوه یا ګلونه یا نور اجزاء ونه خوری او دې ته مه نږدې کیږی: باقي دټول جنت باغونه او نعمتونه ستاسي دپاره آزاد دي استعمالوی یې او دا یې هم ورته ښوولې وه چي ابلیس ستاسي دښمن دی دده په لمس او چم کي رانه سی ځکه چي ستاسي دپاره به مصیبت جوړ سي مګرد حضرت آدم علیه السلام څخه هیر سول او په ده کي موږ دارادې پوخوالی نه کی پیدا: که فکر وسي دلته دوه لفظونه راغلي دي: یو نسیان: اودوهم: عزم: دنسیان مشهوره معنی ده هیریدل، په غفلت کي پریوتل: او دعزم لفظي معنی دیوکار دپاره خپله اراده مضبوطول.د دې دواړو لفظونو څخه دلته څه مراد دي؟ په دغه دپوهیدو څخه مخکي پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

ع ۱۵

الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ

الشَّيْطٰنُ	قَالَ	يٰٓاٰدَمُ	هَلْ اَدُلُّكَ	عَلٰى شَجَرَةِ	الْخُلْدِ	وَمُلْكٍ
شیطان	وی ویل	ای آدمه	آیا زه وښیم تاته	یوه درخته	د تل ژوندی پاتې کیدلو	او پاچاهي

شیطان وی ویل ای آدمه آیا دلالت وکړم تاته په ونه د تل ژوندی پاتې کیدلو او په پاچاهي

لَّا يَبْلٰى ﴿١٢٠﴾ فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا

لَّا يَبْلٰى	فَاَكَلَا	مِنْهَا	فَبَدَتْ	لَهُمَا	سَوْاٰتُهُمَا
چې نه زائیلیږي	پس وخوړله دوی دواړو	له (میوې) د دغې ونې	پس ښکاره سول	دوی ته	غلیظ عورتونه د دوی

چې نه زائیلیږي. پس وخوړله دوی دواړو له (میوې) د دغې ونې پس ښکاره سول دوی ته غلیظ عورات د دوی

وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصٰٓى اٰدَمُ

وَطَفِقَا	يَخْصِفٰنِ	عَلَيْهِمَا	مِنْ وَّرَقِ	الْجَنَّةِ	وَعَصٰٓى	اٰدَمُ
او شروع وکړه دواړو	چې نښلولې پوریکولې دواړو	په ځانونو پورې	له پاڼو د (ونې)	دجنت	او نافرمانی وکړه	آدم

او شروع وکړه دواړو چې نښلولې پوري کولې دواړو پر ځانونو پورې له پاڼو د (ونې) دجنت او نافرماني وکړه آدم

رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ

رَبَّهٗ	فَغَوٰى	ثُمَّ	اجْتَبٰهُ	رَبُّهٗ	فَتَابَ	عَلَيْهِ
درب خپل	پس هغه په غلطی کی ولویدی	بیا	غوره کړ دغه (آدم) لره	رب د ده	پس رجوع وکړه (الله)	په آدم په قبول د توبی سره

(له حکم) د رب خپل پس چپ سو. بیا غوره کړ دغه (آدم) لره رب د ده پس رجوع وکړه (الله) په آدم په قبول د توبی سره

وَهَدٰى ﴿١٢٢﴾ قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

وَهَدٰى	قَالَ	اهْبِطَا	مِنْهَا	جَمِيْعًا	بَعْضُكُمْ	لِبَعْضٍ
او هدایت ئې ورته وکړ	وفرمایل (الله)	چې کښته سئ	دواړه له دغه جنته	ټول	ځینې د تاسې	دځینو نورو

او هدایت ئې ورته وکړ. وفرمایل (الله) چې کښته سئ دواړه له دغه جنته (یا له آسمانه) ټول ځینې د تاسې د ځینو نورو

عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى ۙ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ

عَدُوٌّ	فَاِمَّا	يَاْتِيَنَّكُمْ	مِّنِّيْ	هُدًى	فَمَنِ	اتَّبَعَ	هُدَايَ	فَلَا يَضِلُّ
دښمنان یئ	پس که	راغي تاسې ته	له طرفه زما	هدایت	پس هرچا چې	متابعت وکړ	دهدایت زما	پس نه به گمراه کیږي

دښمنان یئ !، پس که راغي تاسې ته له طرفه زما هدایت پس هر چا چې متابعت وکړ د هدایت زما پس نه به گمراه کیږي

قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: اول دلته داپیژندل ضروري دي چې حضرت آدم عليه السلام دالله جل جلاله په اولوالعزمه پیغمبرانو کي دی او پیغمبران ټول دګناهونو څخه محفوظ او معصوم دي: په اولني لفظ کي په آدم عليه السلام باندي دهیري دراتلو ذکر دی او څونکي هیریدل غیر اختیاري کار دی په دې وجه داپه ګناه کي نه سي شمارل کیدای لکه په صحیح حدیث کي چي دي: رفع عن امتی الخطاء والنسیان: یعني زما امت ته دخطاء کیدو او هیریدو ګناه معاف سویده: اودقرآن کریم ارشاد دی: لايكلف الله نفسا الا وسعها: یعني الله جل جلاله یوه سړي ته داسي حکم نه ورکوي کم چي دده داختیار اوقدرت څخه بهر وي لیکن دا هم ټولو ته معلومه ده چي الله جل جلاله په دنیاکي داسي اسباب هم پیدا کړي دي چي که دغه په پوره احتیاط سره استعمال سي نو انسان دهیریدو اودخطاء څخه محفوظه کیدای سي انبیا علیهم السلام څونکي دالله جل جلاله مقرب بندګان دي ددوی څخه په دومره خبره کي هم مواخذه کیدای سي الخ: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

وَلَا يَشْقٰى ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً

وَلَا يَشْقٰى	وَمَنْ	اَعْرَضَ	عَنْ ذِكْرِىْ	فَاِنَّ	لَهٗ	مَعِيْشَةً
اونه به بدبخت سی	او هرچاچي	مخ وګرځاوه	له ذکره زما	پس بیشکه!	ده ته	ژوند

اونه به بدبخت سی (په عقبٰی کښې). او هرچاچي مخ وګرځاوه له ذکره (پنده) زما پس بیشکه! ده ته دی ژوند

ضَنْكًا وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿١٢٤﴾ قَالَ

ضَنْكًا	وَّنَحْشُرُهٗ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	اَعْمٰى	قَالَ
تنګ دی	او پورته به کړو موږ دی (له قبره)	په ورځی	د قیامت کښې	ړوند	وبه وائی (دغه)

تنګ (په دنیا یا سخت عذاب په قبر کښې). او پورته به کړو موږ دی (له قبر) په ورځی د قیامت کښې ړوند. وبه وائی (دغه)

رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ

رَبِّ	لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ	اَعْمٰى	وَقَدْ	كُنْتُ	بَصِيْرًا	قَالَ
ای ربه زما	ولی دی پورته کولم زه	ړوند	حال داچي په تحقیق	زه وم	لیدونکی	وفرمایل (الله)

ای ربه زما ولی دی پاځولم (راوستلم) زه ړوند حال داچي په تحقیق زه وم بینا (په دنیا کښې). وفرمایل (الله)

كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾

كَذٰلِكَ	اَتَتْكَ	اٰيٰتُنَا	فَنَسِيْتَهَا	وَكَذٰلِكَ	الْيَوْمَ	تُنْسٰى
هم داسی	راغلی وه تاته	آیتونه زموږ	پس هیر کړل تا هغه	او په مثل (د هغو)	نن ورځ	هیر به کړی سی ته

هم داسی راغلی وه تاته آیتونه زموږ پس هیر کړل تا هغه او په مثل (دهغو هیرولو ستا) نن ورځ هیر به کړی سی ته

وَكَذٰلِكَ نَجْزِىْ مَنْ اَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْۢ

وَكَذٰلِكَ	نَجْزِىْ	مَنْ اَسْرَفَ	وَلَمْ يُؤْمِنْۢ
او په مثل دهم دی	جزا ورکوو موږ	هغه ته چی له حده ووتی	او ایمان ئی رانه وړ

هم پرېښود به سی ته په عذاب کښې. او په مثل د هم دی جزا ورکوو موږ هغه ته چی له حده ووتی او ایمان ئی رانه وړ

بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿١٢٧﴾

بِاٰيٰتِ	رَبِّهٖ	وَلَعَذَابُ	الْاٰخِرَةِ	اَشَدُّ	وَاَبْقٰى
په آیتونو	درب خپل	او خامخا عذاب	دآخرت	ډیر سخت دی	او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی

په آیتونو د رب خپل، او خامخا عذاب د آخرت ډیر سخت دی او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی .

وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: چي دوی ددغو اسبابو ځخه ولي کار وانه اخیستی دکمو په ذریعه چي ددې هیریدو ځخه محفوظ کیدای سو: ډیر واره دحکومت دیو وزیر دپاره هغه کار دمؤاخذې قابل ګڼل کیږي کم چي دعامو نوکرانو دپاره دانعام قابل وي: حضرت جنید بغدادي رحمة الله عليه فرمايلي دي: حسنات الابرار سيئات المقربين: یعني دامت دصالحانو او نیکو خلګو ډیر نیک عملونه دډیرو مقربانو ددربار الهي په حق کي ګناهونه او خطاګاني ګڼل کیږي: دحضرت آدم عليه السلام داواقعه اول خو دنبوت او رسالت ځخه مخکي ده چي په دغه کي دانبیاوو عليهم السلام ځخه دځه ګناه کیدل داهل سنت دځینو عالمانو په نزد دعصمت ځخه خلاف نه دی: دوهم په حقیقت کي داهیره ده کمه چي ګناه نه ده مګر دحضرت آدم عليه السلام دلوړ مقام او الله جل جلاله ته دنژدیکت په لحاظ سره دایي هم دده په حق کي یوه خطاء وګڼله چي دالله جل جلاله دطرفه ځخه زورنه ورته وسوه او دپوهې دپاره یې ددې تعبیر په عصیان سره وکی

معارف القرآن ج٦ پ١٦ ص١٩٦

اَفَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ اَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُمۡ مِّنَ الۡقُرُوۡنِ

مِّنَ الۡقُرُوۡنِ	قَبۡلَهُمۡ	كَمۡ اَهۡلَكۡنَا	اَفَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ
له اهل دزمانو	پخوا له دوی څخه	چې ډیر هلاک کړی دی موږ	آیا پس نه دی ښکاره سوی دوی ته

آیا پس نه دی ښکاره سوی (دغو کفارو ته دا) چې ډیر هلاک کړی دی موږ پخوا له دوی څخه له اهل د زمانو

يَمۡشُوۡنَ فِيۡ مَسٰكِنِهِمۡ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

لَاٰيٰتٍ	فِيۡ ذٰلِكَ	اِنَّ	فِيۡ مَسٰكِنِهِمۡ	يَمۡشُوۡنَ
خامخا ډیر دلائل دي	په دغه کښې	بیشکه!	په کلیو (منازلو) ځایونو د دوی کښې	چې تیریږي دوی

چې ئې تیریږي دوی په کلیو (منازلو) ځایونو د دوی کښې، بیشکه! په دغه (اهلاک) کښې خامخا ډیر دلائل (دعبرت دي)

لِّاُولِي النُّهٰى ﴿١٢٨﴾ وَلَوۡلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ مِنۡ رَّبِّكَ لَكَانَ

ع ٣٠
١٦

لَكَانَ	مِنۡ رَّبِّكَ	سَبَقَتۡ	وَلَوۡلَا كَلِمَةٌ	النُّهٰى	لِّاُولِي
نو خامخا ؤ	(له طرفه) درب ستا	چې پخوا ویلی سوی ده	او که چیری نه وی هغه وینا	دعقلوته	لپاره دخاوندانو

دخاوندانو د عقلوته، او که چیری نه وی هغه وینا چې پخوا ویلی سوی ده (له طرفه) د رب ستا نو خامخا ؤ

لِزَامًا وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا يَقُوۡلُوۡنَ

يَقُوۡلُوۡنَ	عَلٰى مَا	فَاصۡبِرۡ	مُّسَمًّى	وَّاَجَلٌ	لِزَامًا
چې دوی ئې وائی	پر هغو خبرو	پس صبر کوه	معومه	او که نه وی نیته	دغه لازم

دغه (هلاک د دوی) لازم او که نه وی اجل (نیته) معلومه. پس صبر کوه (محمده) پرهغو خبرو چې دوی ئې وائی

وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوۡبِهَا ۚ

غُرُوۡبِهَا	وَقَبۡلَ	الشَّمۡسِ	طُلُوۡعِ	قَبۡلَ	رَبِّكَ	بِحَمۡدِ	وَسَبِّحۡ
له پریوتلو د دغه	او پخوا	دلمر	ختلو	پخوا له	درب خپل	سره له حمد، ثناء	او تسبیح وایه

او تسبیح وایه سره له حمد، ثناء درب خپل (لمونځ کوه) پخوا له ختلو د لمر (سهار لمونځ) او پخوا له پریوتلو د دغه

وَمِنۡ اٰنَآئِ الَّيۡلِ فَسَبِّحۡ

فَسَبِّحۡ	الَّيۡلِ	اٰنَآئِ	وَمِنۡ
پس تسبیح وایه	دشپې	له ساعتونو	او په ځینو اوقاتو کښې

(لمر دظهر او عصر لمونځ)، او په ځینو اوقاتو کښې له ساعتونو د شپې پس تسبیح وایه (لمونځ ادا کړه دمغرب او عشاء)

فَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا يَقُوۡلُوۡنَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ... ددښمنانو دازارونو څخه دمحفوظه کیدو علاج صبر او دالله ﷻ په یادو کي مشغوله کیدل دي: داخبره حقیقت لري چي ددښمنانو څخه په دي دنیاکي هیڅ لوی، کوچنی، ښه او بد انسان ته نجات نسي ورکول کولای او دهر سړي څه ناڅه دښمن خامخا وي او دښمن که هر څومره سپک او کمزوری وي خو خپل مخالف ته څه نا څه آزار رسوي برابره خبره ده که زباني ښکنځل وغیره هم وي که مخامخ یي نه سي کولای نو په شا پسي خو یي کوي په دې وجه ددښمن څخه دمحفوظه کیدو فکر دهر سړي سره وي قرآن کریم ددې ښه او کامیابه نسخه پر دوو شیانو مرکب فرمایلې ده: **اول صبر**: یعني خپل نفس په واک کي ساتل او دبدل اخیستو په فکر کي نه پریوتل: **دوهم**: **دالله ﷻ په یادو او عبادت کي مشغولیدل**: تجربه شاهده ده چي صرف دانسخه ده په کمي سره چي ددې تکلیفونو څخه نجات حاصلیږي کنې نو دبدل اخیستو په فکر کي پریوتونکي که هر څومره قوي وي خو ډیر واره دمخالف څخه په بدل اخیستو نه سي قادره کیدای:

معارف القرآن ج ۶ پ ۱۶ ص ۲۰۵

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلٰى مَا مَتَّعۡنَا... ددنيا دولت ديو څوورځو دپاره دى دادالله ﷻ په نزد دمقبوليت نښه نه ده: په دغه آيت كي نبي كريم ﷺ ته خطاب دى او په اصل كي هدايت وامت دنبي كريم ﷺ كول دي چي ددنيا مالدارانو او سرمايه دارانو ته قسم قسم ددنيا ډول اوډال او قسم قسم نعمتونه حاصل دي ته دوى ته گر سره گوره هم مه ځكه چي دا ټول فاني عيش او ديو څو ورځو دي الله ﷻ چي كم نعمتونه تا او ستا په واسطه سره مومنانو ته وركړيدي دغه په ډيرو درجو ددوى ددې څو ورځو دژوند درونق څخه ښه دي: په دنيا كي كافرانو او فاجرانو ته عيش او عشرت او دولت او حشمت دهميشه دپاره هر سړي ته دا سوال جوړوي چي كله دا خلگ دالله ﷻ په نزد مبغوض او ذليل دي نو ددوى سره دا نعمتونه څنگه دي؟ او مومنان خوران مفلسان او غربت وهلي دي حتى تر دې پوري چي حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه غوندي عالي قدر بزرگ دې سوال متاثره كي كله چي دى دنبي كريم ﷺ حجرې مباركي ته داخل سو: پاته بيان پر راروان مخ وگورى:

وَأَطۡرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضٰى ۝١٣٠ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ

وَأَطۡرَافَ	النَّهَارِ	لَعَلَّكَ	تَرۡضٰى	وَلَا تَمُدَّنَّ	عَيۡنَيۡكَ
او په طرفونو	دورځی كښی	ښائی چی ته به	راضی سی	او مه اوږدوه	ستر گی خپل

او په طرفونو د ورځی كښی، ښائی چی ته به راضی سی. او مه اوږدوه (نظر د) ستر گی خپل

إِلٰى مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَاجًا مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ الۡحَيٰوةِ

إِلٰى مَا مَتَّعۡنَا	بِهِۦٓ	أَزۡوَاجًا	مِّنۡهُمۡ	زَهۡرَةَ	الۡحَيٰوةِ
هغه شی ته چی نفع وركړی ده موږ	په هغه شی سره	چی قسما قسم دی	دغو (كفارو) ته	ښائست	دژوندانه

هغه شی ته چی نفع وركړی ده موږ په هغه شی سره چی قسما قسم دی دغو (كفارو) ته ښائست دژوندانه

الدُّنۡيَا ۙ لِنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِ ۚ وَرِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٌ

الدُّنۡيَا	لِنَفۡتِنَهُمۡ	فِيهِ	وَرِزۡقُ	رَبِّكَ	خَيۡرٌ
د دنيا	دپاره د دی چی وازمايو دوی	په دی كښی	اورزق روزی	درب ستا	غوره ده

لږ خسيس دپاره د دی چی وازمايو دوی په دی كښی، او رزق روزی د رب دتا خير

وَأَبۡقٰى ۝١٣١ وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَا

وَأَبۡقٰى	وَأۡمُرۡ	أَهۡلَكَ	بِالصَّلٰوةِ	وَاصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَا
او اوږده ده	او امر كوه	اهل خپل ته	په كولو دلمانځه	او ته هم كلك اوسه پر هغه

او اوږده ده (له دنيوی نعماؤ). او امر كوه په اهل (بيت يا په اهل دين) خپل په كولو دلمانځه او ته هم كلك پری ولاړ اوسه،

لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقًا ۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَ ۗ

لَا نَسۡـَٔلُكَ	رِزۡقًا	نَّحۡنُ	نَرۡزُقُكَ
نه غواړو موږ له تا څخه	روزی	موږ	رزق روزی دركوو تاته

نه غواړو موږ له تا څخه روزی (نه ستا او نه دا هل ستا بلكه) موږ رزق روزی دركوو تاته

وَالۡعَاقِبَةُ لِلتَّقۡوٰى ۝١٣٢ وَقَالُوا۟ لَوۡلَا يَأۡتِينَا بِـَٔايَةٍ

وَالۡعَاقِبَةُ	لِلتَّقۡوٰى	وَقَالُوا۟	لَوۡلَا يَأۡتِينَا	بِـَٔايَةٍ
او عاقبت ښه خاتمه	خاوندانو دپرهيزگاری ته ده	او وائی	ولی نه راوړی محمد موږ ته	يوه معجزه

او عاقبت ښه خاتمه خاوندانو د پرهيزگاری ته ده. او وائی (كفار) ولی نه راوړی محمد ﷺ موږ ته يوه معجزه

مِّنْ رَّبِّهٖ اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِى الصُّحُفِ

مِّنْ	رَّبِّهٖ	اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ	بَيِّنَةُ	مَا فِى	الصُّحُفِ
(له طرفه)	درب خپل	آیا نه دی راغلی دوی ته	واضح دلایل	دهغه شی چی په	کتابونو

(له طرفه) درب خپل ، آیا نه دی راغلی دوی ته مصدق دلیل برهان د هغه شی چی په کتابونو

الْاُوْلٰى ﴿١٣٣﴾ وَلَوْ اَنَّاۤ اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ

الْاُوْلٰى	وَلَوْ اَنَّاۤ	اَهْلَكْنٰهُمْ	بِعَذَابٍ	مِّنْ قَبْلِهٖ
پخوانیو کښې ؤ	او که چیرې موږ	هلاک کړې وی دوی	په عذاب سره	پخواله دغه

پخوانیو کښې ؤ. او که چیرې موږ هلاک کړی وی دوی په عذاب سره پخوا له دغه (قرآنه یا له محمده)

لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَاۤ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ

لَقَالُوْا	رَبَّنَا	لَوْلَاۤ اَرْسَلْتَ	اِلَيْنَا	رَسُوْلًا	فَنَتَّبِعَ
نو خامخا به ویلی وی دوی	ای ربه زموږ	ولی ونه لیږه تا	موږ ته	یو رسول	نو چی متابعت کړی وی موږ

نو خامخا به ویلی وی دوی ای ربه زموږ ولی ونه لیږه تا موږ ته یو رسول نو چی متابعت کړی وی موږ

اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ

اٰيٰتِكَ	مِنْ قَبْلِ	اَنْ نَّذِلَّ	وَنَخْزٰى	قُلْ	كُلٌّ
دآیاتونو ستا	پخوا له هغه	چی ذلیل سوی وای	یا شرمنده سوی وی موږ	ووایه (محمده!)	چی هر یو

دآیاتونو ستا پخوا له هغه چی ذلیل یا شرمنده سوی وی موږ (په دنیا یا په عقبا کښی). ووایه (ای محمده ! دوی ته) چی هر یو

مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ

مُّتَرَبِّصٌ	فَتَرَبَّصُوْا	فَسَتَعْلَمُوْنَ
انتظار کوونکی دی	پس تاسی هم انتظار کوئ	پس ژر پوه به سئ تاسی

(له تاسی او له موږ عاقبت د امر ته) انتظار کوونکی دی. پس تاسی هم انتظار کوئ پس ژر پوه به سئ تاسی

مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ﴿١٣٥﴾ ع

مَنْ اَصْحٰبُ	الصِّرَاطِ	السَّوِيِّ	وَمَنِ	اهْتَدٰى
چی څوک دی یاران	دلاری	سمی صافی	او کوم یو دی چی	په سمه صافه لاره روان دی

چی څوک دی یاران د لاری سمی صافی او کوم یو دی چی په سمه صافه لاره روان دی (موږ که تاسی).

اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِى الصُّحُفِ الْاُوْلٰى...دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:

چي نبي کريم ﷺ دخاشو پر چتایي باندي پروت وو او دهغي نښي درسول الله ﷺ پر بدن مبارک باندي لګیدلي وي نو دی مبارک په ژړا سو او عرض یي وکی چي یا رسول الله ﷺ دکسری او قیصر او ددوی امیران په څنګه څنګه نعمتونو او راحتونو کي دي او تاسي په ټول مخلوق کي د الله جل جلاله منتخب رسول او محبوب یاست او ستاسي دا حال دی نبي کريم ﷺ وفرمایل ای زویه دخطاب آیا ته تر اوسه پوري په شک او شبه کي اخته یي دا هغه خلګ دي چي ددوی مزې او خوندونه الله جل جلاله دوی ته په دنیا کي ورکړي دي په اخرت کي ددوی څه حصه نسته هلته عذاب او عذاب دی: او دمومنانو معامله ددې بر عکس ده همدا وجه ده چي نبي کريم ﷺ ددنیا دښایست او راحت طلبي څخه بالکل بې نیازه او بې تعلقه ژوند خوښوی سره ددې چي دته د الله جل جلاله دطرفه څخه دهر څه دورکولو دپاره پیشکش سوی وو: اللهم احفظنا من حب الدنیا وما یقرّب الیه :

معارف القرآن ج ۶ پ ۱۶ ص ۲۰۶

ع ٨ ١٧

آیاتونه ١١٢ — ٢١ سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءِ مَكِّيَّةٌ ٧٣ — رکوعونه ٧

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ

اِقْتَرَبَ	لِلنَّاسِ	حِسَابُهُمْ	وَهُمْ	فِيْ غَفْلَةٍ
نژدی سو	خلکو ته	حساب د دوی	حال داچې دوی	په غفلت کښې دی

نژدی سو خلکو ته (وخت د) حساب (او جزا) د دوی حال داچې دوی په غفلت کښې دی (له دی حساب او جزا خیلی)

مُّعْرِضُوْنَ ① مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ

مُّعْرِضُوْنَ	مَا يَاْتِيْهِمْ	مِّنْ ذِكْرٍ	مِّنْ رَّبِّهِمْ	مُّحْدَثٍ
مخ گرځوونکی دی	او نه راځی دوی ته	هیڅ نصیحت	له (طرفه د) رب د دوی	نوی (رالیږلی سوی)

مخ گرځوونکی دی (له ایمان راوړلو څخه). او نه راځی دوی ته هیڅ نصیحت له (طرفه د) رب د دوی نوی (رالیږل سوی)

اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ② لَاهِيَةً

اِلَّا	اسْتَمَعُوْهُ	وَهُمْ	يَلْعَبُوْنَ	لَاهِيَةً
مگر	خو اوری دوی هغه	حال داچې دوی	لوبی پری کوی	په دی حال کښې چې بوخت وی

مگر خو اوری دوی هغه (له خیل رسول څخه) حال داچې دوی لوبی پری کوی په دی حال کښې چې بوخت وی

قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ

قُلُوْبُهُمْ	وَاَسَرُّوا	النَّجْوَى	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا
زړونه د دوی	او پټوی	راز (خپل)	هغه کسان	چې ظلم ئې کړی دی

زړونه د دوی (په دنیوی چارو). او پټوی راز (خپل) هغه کسان چې ظلم ئې کړی دی (په ځانونو خپلو)

هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ

هَلْ هٰذَآ	اِلَّا	بَشَرٌ	مِّثْلُكُمْ	اَفَتَاْتُوْنَ	السِّحْرَ	وَاَنْتُمْ
نه دی دا (محمد)	مگر	خو یو انسان دی	په شان ستاسی	آیا پس راځئ تاسی	هغه جادو ته	حال داچې تاسی

نه دی دا (محمد) مگر خو یو انسان په شان ستاسی آیا پس راځئ تاسی هغه جادو ته (دعقیدی له مخی) حال داچې تاسی

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ... د سورة انبیاء

فضیلت : حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایي چي سورت کهف ، سورت مریم ، سورت طه ، اوسورت انبیاء دا څلور واړه سورتونه دنزول په اعتبارسره اولني سورتونه دي او دا زما پخوانی دولت او گټه ده چي زه یې همیشه حفاظت کوم

قرطبي : الله ﷻ فرمایي چي هغه وخت نژدې راغلی دی کله چي به دخلگو څخه ددوی دعملونو حساب واخیستل سي مراددې څخه قیامت دی او ددې نژدي راتلل ددنیا دتیر عمر په لحاظ سره دي ځکه چي داامت آخري امت دی : اوکه مراد ورڅخه عام حساب واخیستل سي نو دقبر حساب هم په دي کي شامل دی کم چي به دمرگ څخه وروسته فورا هر سړی ورکوي او په دې وجه یې دهر سړي مرگ ته دده شخصي قیامت ویلی دی من مات فقد قامت قیامته یعني کم سړی چي مړ سو دده قیامت اوس قایم سو ددې معنی په اعتبار سره دحساب وخت نژدي کیدل خو بالکل واضح او ښکاره دي چي دهر سړي مرگ خو لیري نه دی نژدې دی.

(معرف القرآن ج ۶ پ۱۷ ص۴)

تُبۡصِرُوۡنَ ③ قٰلَ رَبِّیۡ یَعۡلَمُ الۡقَوۡلَ فِی السَّمَآءِ

فِی السَّمَآءِ	الۡقَوۡلَ	رَبِّیۡ یَعۡلَمُ	قٰلَ	تُبۡصِرُوۡنَ
په‌آسمان کښې	په‌وينا	رب زما عالم دی	وويل (رسول دوی ته)	ګورئ

ګورئ (چې دا جادو دی). وويل (رسول دوی ته) رب زما عالم دی په‌وينا (د هر هغه چا چې وی) په‌آسمان کښې

وَالۡاَرۡضِ ۫ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ ④ بَلۡ قَالُوۡۤا

بَلۡ قَالُوۡۤا	الۡعَلِیۡمُ	السَّمِیۡعُ	وَهُوَ	وَالۡاَرۡضِ
بلکه وائی (دغه کفار)	ښه عالم دی	ښه اوريدونکی	او هم دی	او په مځکه کښې

او په مځکه کښې او هم دی ښه اوريدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی. بلکه (دغه کفار) وائی (چې دغه قرآن)

اَضۡغَاثُ اَحۡلَامٍۭ بَلِ افۡتَرٰىهُ بَلۡ هُوَ شَاعِرٌ ۚۖ فَلۡیَاۡتِنَا

فَلۡیَاۡتِنَا	شَاعِرٌ	بَلۡ هُوَ	بَلِ افۡتَرٰىهُ	اَحۡلَامٍۭ	اَضۡغَاثُ
پس بايد راوړی موږ ته	شاعر دی	بلکه دی	بلکه له‌خپل ځانه‌ئې جوړ کړی دی	خوبونه دی	ګډ وډ

ګډ وډ خوبونه دی بلکه له‌خپل ځانه‌ئې جوړ کړی دی بلکه دی شاعر دی پس بايد راوړی موږ ته

بِاٰیَۃٍ کَمَاۤ اُرۡسِلَ الۡاَوَّلُوۡنَ ⑤ مَاۤ اٰمَنَتۡ

مَاۤ اٰمَنَتۡ	الۡاَوَّلُوۡنَ	کَمَاۤ اُرۡسِلَ	بِاٰیَۃٍ
(وويل الله) نه‌ؤ راوړی ايمان	لومړنی (انبياء په‌هغو سره)	لکه هغه چې ليږلی سوی وو	کوم‌لوه معجزه

کوم‌لوه معجزه لکه هغه (معجزه) چې ليږلی سوی وو لومړنی (انبياء په‌هغو سره). (وويل الله) نه‌ؤ راوړی ايمان

قَبۡلَهُمۡ مِّنۡ قَرۡیَۃٍ اَهۡلَکۡنٰهَا ۚ اَفَهُمۡ یُؤۡمِنُوۡنَ ⑥

یُؤۡمِنُوۡنَ	اَفَهُمۡ	اَهۡلَکۡنٰهَا	مِّنۡ قَرۡیَۃٍ	قَبۡلَهُمۡ
ايمان راوړی	آيا پس دغه کفار به	چې هلاک کړی دی موږ اهل د هغه	هيڅ (اهل د) کلی	پخوا له‌دوی څخه

(په معجزو) پخوا له‌دوی څخه هيڅ (اهل د) کلی چې هلاک کړی دی موږ اهل د هغه آيا پس دغه کفار به ايمان راوړی

وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا قَبۡلَکَ اِلَّا رِجَالًا نُّوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ فَسۡـَٔلُوۡۤا

فَسۡـَٔلُوۡۤا	اِلَیۡهِمۡ	نُّوۡحِیۡۤ	رِجَالًا	اِلَّا	قَبۡلَکَ	وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا
پس پوښتنه وکړئ	دوی ته	چې وحی به کوله موږ	خو سړی	مګر	پخوا له تا	او نه‌ؤ ليږلی موږ

او نه‌ؤ ليږلی موږ پخوا له تا (ای محمده!) مګر خو سړی (نه ملائيکې) چې وحی به کوله موږ دوی ته پس پوښتنه وکړئ

بَـلۡ قَالُـوۡۤا اَضۡـغَاثُ اَحۡـلَامٍۭ بَـلِ افۡتَرٰىـهُ. کفارود مکې به ويله چې قران کريم دنبي کريم ﷺ دشاعرانه کلام خيالات دي: اضغاث احلام: هغه خوبونو ته ويل کيږي په کمو کې چې څه نفساني يا شيطاني خيالات شامليږي په دې وجه ددې ترجمه په پريشانه خيالاتو سره سويده يعني دې منکرينو به اول ورا ويله چې قرآن کريم جادو دی: بيا چې په دې کې يوڅه نور مخکې سول نو ويې ويل چې دا خوپر خدای ﷻ باندي درواغ او بهتان دی چې دی وايي چې داد هغه کلام دی: بيا يې وويل چې اصل خبره داده چې دايو شاعر سړی دی او دادده دکلام شاعرانه خيالات کيدای سي: فلياتنا بآية: يعني که دی واقعي نبي او رسول وي نو زموږ غو ښتل سوي خاص معجزې دې وښيي ددې په جواب کې حق تعالی ﷻ فرمايي چې په تيرو امتونو کې ددې هم تجربه او مشاهده سويده چې هغوی څنګه معجزه غوښتې ده د الله ﷻ درسول په لاسو هغه معجزه ښکاره سويده مګر بيا هم هغوی ايمان نه دی راوړی او دغوښتلي معجزې په ليدو سره چې چا ايمان نه راوړی نو تباه سوله الخ.
(معارف القرآن ج ۶ پ ۱۷ ص ۵)

اَهۡلَ الذِّكۡرِ اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ۝٧ وَمَا جَعَلۡنٰهُمۡ

اَهۡلَ	الذِّكۡرِ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	لَا تَعۡلَمُوۡنَ	وَمَا جَعَلۡنٰهُمۡ
له خاوندانو	د ذكره	كه يئ تاسى	چې نه پوهيږئ	او نه وو گرځولى موږ

له خاوندانو د ذكره (دكتابيانو له علماؤ څخه) كه يئ تاسى چې نه پوهيږئ. او نه وو گرځولى موږ (دغه پخوانى رسولان)

جَسَدًا لَّا يَاۡكُلُوۡنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوۡا خٰلِدِيۡنَ ۝٨

جَسَدًا	لَّا يَاۡكُلُوۡنَ	الطَّعَامَ	وَمَا كَانُوۡا	خٰلِدِيۡنَ
داسې جسدونه	چې نه ئې خوړ	طعام (خواړه)	او نه وو دوى	تل پاتې كيدونكى

داسې جسدونه چې نه ئې خوړ طعام (خواړه) او نه وو دوى تل پاتې كيدونكى (په دنيا كښې بلكه طعام به ئې خوړل).

ثُمَّ صَدَقۡنٰهُمُ الۡوَعۡدَ فَاَنۡجَيۡنٰهُمۡ وَمَنۡ نَّشَآءُ

ثُمَّ	صَدَقۡنٰهُمُ	الۡوَعۡدَ	فَاَنۡجَيۡنٰهُمۡ	وَمَنۡ نَّشَآءُ
بيا	رښتيا كړه موږ د هغو سره	وعده	پس نجات وركړ موږ هغو ته	او هغو ته چې زموږ اراده وه

بيا رښتيا كړه موږ د هغو سره وعده (د نجات د دوى) پس نجات وركړ موږ هغو ته او هغو ته چې زموږ اراده وه (د نجات د دوى)

وَاَهۡلَكۡنَا الۡمُسۡرِفِيۡنَ ۝٩ لَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكُمۡ كِتٰبًا

وَاَهۡلَكۡنَا	الۡمُسۡرِفِيۡنَ	لَقَدۡ	اَنۡزَلۡنَاۤ	اِلَيۡكُمۡ	كِتٰبًا
او هلاك كړل موږ	مسرفان	خامخا په تحقيق	نازل كړى دى موږ	تاسى ته	يو كتاب

او هلاك كړل موږ مسرفان (له حده تيريدونكى) . خامخا په تحقيق نازل كړى دى موږ تاسى ته يو كتاب

فِيۡهِ ذِكۡرُكُمۡ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ۝١٠ وَكَمۡ قَصَمۡنَا

فِيۡهِ	ذِكۡرُكُمۡ	اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ	وَكَمۡ قَصَمۡنَا
چې په هغه كښې	ذكر ستاسى دى	آيا پس تاسى عقل نه لرئ	او ډير توټې توټې كړى دى موږ

چې په هغه كښې ذكر (پند) ستاسى دى ، آيا پس تاسى عقل نه لرئ . او ډير توټې توټې كړى دى موږ (په هلاك كولو سره)

مِنۡ قَرۡيَةٍ كَانَتۡ ظَالِمَةً وَّاَنۡشَاۡنَا بَعۡدَهَا قَوۡمًا اٰخَرِيۡنَ ۝١١

مِنۡ قَرۡيَةٍ	كَانَتۡ	ظَالِمَةً	وَّاَنۡشَاۡنَا	بَعۡدَهَا	قَوۡمًا	اٰخَرِيۡنَ
له اهل د كليو	چې وو هغوى	ظالمان	او پيدا كړل موږ	وروسته له هغو څخه	قومونه	نور

له اهل د كليو چې وو هغوى ظالمان او پيدا كړل موږ وروسته له هغو څخه قومونه نور (د دوى په ځاى)

فَسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الذِّكۡرِ اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ. كفارو دمكې ته دنبي كريم ﷺ دنبوت پر حقانيت باندي دليل وركول:

الله ﷻ فرمايي چې اى كفارو دمكې كه چيري تاسي ددغه نبي او دقرآن كريم په حقوالي كي شكويني نو داهل كتابو دعلماوو څخه پوښتنه وكړى چي هغه دتورات او انجيل عالمان دي كمو چي په نبي كريم ﷺ باندي ايمان راوړى وو مطلب دادى چي كه تاسي ته دتيرو پيغمبرانو حال معلوم نه وي چي هغوى انسانان وه او كه ملايكي نو دتورات دعالمانو څخه معلومه كړى ځكه چي دغه ټول پوهيږي چي تير ټول پيغمبران انسانان وه او دغو علماوو بيا خصوصا دنبي كريم ﷺ دنبوت پيشگوياني په خپلو كتابونو كي ليدلي دي او بيا يي هغه ومنلې چي نتيجه يي داسوه ايمان يي پر نبي كريم ﷺ راوړى:

مسئله: په تفسير قرطبي كي دلته ليكلي دي چي ددې آيت څخه معلومه سوه چي جاهل سړى چاته چي دشريعت احكام نه وي معلوم پر هغه باندي دعالم تقليد واجب دى چي پوښتنه به كوي: (معارف القرآن ج ٦ پ ١٧ ص ٥)

ع ١

فَلَمَّآ اَحَسُّوْا بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَرْكُضُوْنَ ۝١٢

فَلَمَّآ	اَحَسُّوْا	بَاْسَنَآ	اِذَا هُمْ	مِّنْهَا	يَرْكُضُوْنَ
پس هر کله چې	پیدا کړ دوی	عذاب زموږ	ناڅاپه دوی به	له دغه عذابه	تنبتیدل

پس هر کله چې حس به کړ (وبه موند) دوی عذاب زموږ ناڅاپه دوی به له دغه عذابه تنبتیدل (په ډیره تلوار سره نو ملائیکو

لَا تَرْكُضُوْا وَارْجِعُوْٓا اِلٰى مَآ اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ

لَا تَرْكُضُوْا	وَارْجِعُوْٓا	اِلٰى مَآ	اُتْرِفْتُمْ	فِيْهِ
(ملائیکو به ورته ویل) مه تنبتئ	او بیرته لاړ سئ	هغه ځای ته	چې ښه ژوند درکړی سوی ؤ تاسی ته	په هغه کښې

به په تمسخر سره ورته ویل) مه تنبتئ او بیرته لاړ سئ هغه ځای ته چې ښه ژوند درکړی سوی ؤ تاسی ته په هغه کښې

وَمَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُوْنَ ۝١٣ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ

وَمَسٰكِنِكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تُسْـَٔلُوْنَ	قَالُوْا	يٰوَيْلَنَآ
او کورونو خپلو ته	ښائی چې له تاسی څخه	پوښتنه وکړه سی	وبه وائی	ای هلاکته زموږ

او کورونو خپلو ته ښائی چې له تاسی څخه پوښتنه وکړه سی. وبه وائی ای هلاکته زموږ (راحاضر سه دغه دی وخت دی)

اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۝١٤ فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى

اِنَّا كُنَّا	ظٰلِمِيْنَ	فَمَا زَالَتْ	تِّلْكَ	دَعْوٰىهُمْ	حَتّٰى
بیشکه! موږ وو	ظالمان	پس تل به وی	دغه	بلنه د دوی	ترهغو پوری چې

بیشکه! موږ وو ظالمان. پس تل به وی دغه بلنه د دوی (هلاک لره) ترهغو پوری چې

جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ۝١٥ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ

جَعَلْنٰهُمْ	حَصِيْدًا	خٰمِدِيْنَ	وَمَا خَلَقْنَا	السَّمَآءَ	وَالْاَرْضَ
وبه گرځول موږ دوی	ریبل سوی	مړه یخ پراته	او نه دی پیدا کړی موږ	آسمان	او نه مځکه

وبه گرځول موږ دوی ریبل سوی، مړه یخ پراته. او نه دی پیدا کړی موږ آسمان او نه مځکه

وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ۝١٦ لَوْ اَرَدْنَآ

وَمَا بَيْنَهُمَا	لٰعِبِيْنَ	لَوْ اَرَدْنَآ
او نه هر هغه چې په مینځ د دوی کښې دی	په داسی حال کښې چې لوبی کوونکی وو موږ	او که اراده کړی وی موږ

او نه هر هغه چې په مینځ د دوی کښې دی په داسی حال کښې چې لوبی کوونکی وو موږ. او که اراده کړی وی موږ

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا.
اسمانونه او مځکي او دمابین تولـه نظام الله ﷻ عبث او بیکاره نه دي پیدا کړي: په دغه آیت کي د الله ﷻ ارشاد مبارک دی چي موږ مځکي او اسمانونه او ددې دواړو په مابین کي چي کم نظام او شیان دي دامو عبث نه دي پیدا کړي: په تیرو ایاتونو کي دځینو کلو دهلاکت او تباه کیدو ذکر وو په دې آیت کي یي ددې خبري طرف ته اشاره وکړه چي لکه څنګه چي دمځکي او آسمان پیدا کول او په دې کي دټولو مخلوقاتو پیدا کول پر لویو مهمو حکمتونو اومصلحتونو باندي مبني دی کم کلي چي تباه سویدي دهغوی تباه کول هم عین حکمت وو ددې مضمون تعبیر یي په دې آیت کي داسي وکی چي داد دتوحید یا درسالت څخه منکر خلگ آیا زموږ دکامل قدرت او علمي بصیرت دې ښکاره نښوته کم چي دمځکي او اسمان په پیدایش کي او دټولو مخلوقاتو په جوړولوکي لیدل کیږي دې ته دوی نه گوري او که یا داسي یي گڼي چي دا موږ فضول پیدا کړي دي دلوبو دپاره؟
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۱۱)

اَنۡ نَّتَّخِذَ لَهۡوًا لَّاتَّخَذۡنٰهُ مِنۡ لَّدُنَّآ ۖ اِنۡ كُنَّا فٰعِلِيۡنَ ﴿١٧﴾

اَنۡ نَّتَّخِذَ	لَهۡوًا	لَّاتَّخَذۡنٰهُ	مِنۡ لَّدُنَّآ	اِنۡ كُنَّا	فٰعِلِيۡنَ
چې ونیسو موږ	لهو	نو خامخا نیولی به وه موږ هغه لهو	له طرفه خپله	که وی موږ	کوونکی ددی کار

چې ونیسو موږ لهو (اسباب د شغل) نو خامخا نیولی به وه موږ هغه لهو له طرفه خپله که وی موږ کوونکی د دی کار.

بَلۡ نَقۡذِفُ بِالۡحَقِّ عَلَى الۡبَاطِلِ فَيَدۡمَغُهٗ فَاِذَا

بَلۡ نَقۡذِفُ	بِالۡحَقِّ	عَلَى الۡبَاطِلِ	فَيَدۡمَغُهٗ	فَاِذَا
بلکه ویشتل کوو موږ	په حق سره	په باطل باندی	بیا سرماتوی دهغه (باطل) او محو کوی ئی	پس ناڅاپه

بلکه ویشتل کوو موږ په حق سره په باطل باندی بیا سر ماتوی دهغه (باطل) او محو کوی ئی پس ناڅاپه

هُوَ زَاهِقٌ ؕ وَلَكُمُ الۡوَيۡلُ مِمَّا تَصِفُوۡنَ ﴿١٨﴾ وَلَهٗ

هُوَ زَاهِقٌ	وَلَكُمُ	الۡوَيۡلُ	مِمَّا تَصِفُوۡنَ	وَلَهٗ
دا باطل هلاک کیږی	او تاسی ته	(اور، افسوس،) خرابی ده	له هغه څخه چې بیانوئ یئ تاسی	او خاص ده له دی

دا باطل هلاک (او ورک) کیږی او تاسی ته اور افسوس عذاب، خرابی ده له هغه څخه چې ثابتوئ تاسی. او خاص ده لره دی

مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَمَنۡ عِنۡدَهٗ

مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَمَنۡ	عِنۡدَهٗ
هرهغه څوک چې په آسمانونو کښې دی	او په مځکه کښې دی	او هغه (ملائیکی)	چې ده ده سره دی

هر هغه څوک چې په آسمانونو کښې دی او په مځکه کښې دی (د پیدائښت، ملکیت) او هغه (ملائیکی) چې ده څخه دی

لَا يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ عَنۡ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُوۡنَ ﴿١٩﴾

لَا يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ	عَنۡ	عِبَادَتِهٖ	وَلَا يَسۡتَحۡسِرُوۡنَ
نه کوی کبر (سرکشی) دوی	له	عبادت د ده (الله)	او نه ستومانه کیږی (له عبادته ئی)

نه کوی کبر (سرکشی) دوی له عبادت د ده (الله) او نه ستومانه کیږی (له عبادته ئی)

يُسَبِّحُوۡنَ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُوۡنَ ﴿٢٠﴾ اَمِ اتَّخَذُوۡٓا

يُسَبِّحُوۡنَ	الَّيۡلَ	وَالنَّهَارَ	لَا يَفۡتُرُوۡنَ	اَمِ اتَّخَذُوۡٓا
تسبیح وائی	په شپه	او په ورځ کښی	نه سست کیږی	آیا نیولی دی دوی

تسبیح وائی (هم) په شپه او (هم) په ورځ کښی نه سست (او ضعیف) کیږی. آیا نیولی دی دوی

وَمَنۡ عِنۡدَهٗ لَا يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ عَنۡ عِبَادَتِهٖ.. فرښتې د الله ﷻ دعبادت او طاعت څخه سرکشي نه کوي او نه هم په عبادت ستړي کيږي

الله ﷻ فرمايي چي زموږ کم بندګان چي زموږ سره دي مراد ورڅخه ملايکي دي هغه هر وخت زموږ په عبادت کي بغير دڅه وقفې څخه هميشه مشغوله وي که تاسي زموږ عبادت نه کوی نو زموږ په خدايي کي څه فرق نه راځي انسان چونکي نور هم په خپل حال او ځان باندي دقياس کولو عادي او فکر وهونکی دی ده ته هميشه دعبادت څخه دوه شيان مانع کيدای سي: اول خو داچي دچا عبادت کول دخپلي درجې او مقام څخه خلاف ګڼي په دې وجه عبادت ته نه نژدې کيږي: دوهم داچي عبادت کول غواړي مګر هميشه پرله پسې يي ځکه نه سي کولای چي په مقتضی دبشريت په لږ کار کولو سره هغه څه وخت ستړی کيږي په ملايکو کي دادواړه عادته نسته چي نه هغه زموږ دعبادت څخه تکبر کوي او نه په عبادت کولو سره ستړي کيږي بلکي هميشه دالله ﷻ په عبادت او ذکر کي مشغوله وي.

(معرف القرآن ج٦پ ١٧ ص١٣)

اٰلِهَةً مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ۝٢١ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ

اٰلِهَةً	مِّنَ الْاَرْضِ	هُمْ يُنْشِرُوْنَ	لَوْ كَانَ	فِيْهِمَآ
نور معبودان	له مځکې څخه	چې دوی به هم ژوندي کوي مړي	که چیرې وی	په دغه آسمان او مځکه کښې

نور معبودان له مځکې څخه (یا په مځکه کښې) چې دوی به هم ژوندي کوي مړي . که چیرې وی په دغه آسمان او مځکه کښې

اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ

اٰلِهَةٌ	اِلَّا	اللّٰهُ	لَفَسَدَتَا	فَسُبْحٰنَ	اللّٰهِ	رَبِّ	الْعَرْشِ
نور معبودان	بې له	الله څخه	نو خامخا وران سوي به وو دواړه	نو پاک دی	الله	چې رب	د عرش دی

نور معبودان(حاکمان) بې له الله څخه نو خامخا وران سوي به وو دواړه، نو پاک دی الله چې رب د عرش دی

عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝٢٢ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ

عَمَّا	يَصِفُوْنَ	لَا يُسْـَٔلُ	عَمَّا	يَفْعَلُ	وَهُمْ
له هغو	چې دوی ئې منسوبوی ورته	نه پوښتیدلی کیږی (الله)	له هغه	چې کوی ئې	او دوی

له هغو (ناکارو خبرو) چې دوی ئې منسوبوی ورته. نه پوښتیدلی کیږی (الله) له هغه (شیانو) چې کوی ئې او دوی

يُسْـَٔلُوْنَ ۝٢٣ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ۭ قُلْ

يُسْـَٔلُوْنَ	اَمِ اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِهٖٓ	اٰلِهَةً	قُلْ
پوښتیدلی کیږی	آیا نیولی دی (مشرکانو)	بې له دغه الله څخه	نور معبودان	ووایه (ای محمده!)

پوښتیدلی کیږی (د دوی له افعالو). آیا نیولی دی (دغو مشرکانو) بې له دغه الله څخه نور معبودان و ووایه (محمده!)

هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ۭ

هَاتُوْا	بُرْهَانَكُمْ	هٰذَا	ذِكْرُ مَنْ	مَّعِيَ	وَذِكْرُ	مَنْ قَبْلِيْ
چې راوړئ	سند خپل	دغه (قرآن) دی	بیان د هغو چا چې	له ما سره دی	او بیان	د هغه چا دی چې پخوا له ما تیر سوی دی

چې راوړئ سند خپل، دغه (قرآن) دی بیان د هغو چا چې له ما سره دی او بیان د هغه چا دی چې پخوا له ما تیر سوی دی

بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝٢٤

بَلْ اَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	الْحَقَّ	فَهُمْ	مُّعْرِضُوْنَ
بلکه زیاتره د دوی	نه پوهیږی	په حقه خبره	پس دوی	مخ گرځوونکی دی

بلکه زیاتره د دوی نه پوهیږی په حقه خبره (توحید او قرآن) پس دوی مخ گرځوونکی دی (له توحید یا ستا له رسالت څخه).

لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ ... که دیوه خدای څخه علاوه نور خدایان هم وای نو دانظام به ړنګ سوی وای : په دغه آیت کي الله ﷻ پر خپل توحید باندي عادتي دلیل بیان کړی دی چي دعامو عادتونو پر اعتبار باندي مبني دی او په دي کي ددلیل عقلي طرف ته هم اشاره ده چي ددې مختلف تقریرونه دعلم کلام په کتابونو کي ذکر دي : او دلیل عادي په دې بنا سره دی چي که په مځکه او آسمان کي دوه خدایان وای او دواړه مالکان او مختاران وای نو ظاهره خبره داده چي ددواړو حکمونه پر مځکه او اسمان کي پوره پوره نافذه پکار وای او عادتا دا ممکنه نه ده چي کم یو حکم وکړي هغه دي بل هم وکي یا کم شی چي یو خوښوي هغه دي بل هم خوښ کړي نو په دې وجه کله کله درایي اختلاف اودحکمونو اختلاف خامخا لازمي دی او کله چي ددوو خدایانو حکمونه په مځکه او آسمان کي مختلف سول نو نتیجه یي ددې دواړو دفساد څخه ماسوا بله نسته یو خدای به وایي چي ورځ دي وي هغه بل به وایي چي شپه دي وي نتیجه یي خرابي او جنجال دی آلخ :
(معرف القرآن ج۶ پ۱۷ ص ۱۴)

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحۡمٰنُ وَلَدًا سُبۡحٰنَهٗ. كفارو دمكي يوه عقيده داوه چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ اولاد لري الله جَلَّ جَلَالُهٗ يي دلته رد كوي: الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرمايي چي دغه مشركين خلگ چي كم په دوی كي ځينی داسي وايي چي نعوذ بالله الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرشتې دځان اولاد گرځولي دي دا خبره او عقيده ساتل غلط دي الله جَلَّ جَلَالُهٗ ددې څخه پاک دی او ملايكي دهغه اولاد نه دي بلكي دهغه مقرب او عزتمند بندگان دي په دغه سره دغو بې عقلانو ته دا اشتباه راپيدا سوه: او ددغو دبندگي اوتر حكم لاندي كيدواو دادب داحال دی چي هغوی يعني فرشتې دالله جَلَّ جَلَالُهٗ په مخكي خبره نه سي كولای بلكي دحكم منتظره اوسيږي او هغوی دهغه دحكم موافق كار كوي دهغه څخه خلاف كار كولای نه سي ځكه چي هغوی پوهيږي چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ دهغوی څخه دمخكي او وروسته حالات ټوله پيژني نو دالله جَلَّ جَلَالُهٗ هر حكم چي وي اوهركله چي وي نو موافق دحكمت وي په دې وجه دوی نه عملي مخالفت كوي د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دحكم څخه اونه قولي مخالفت كوي بلكي منل ددوی كار دی.
(معارف القرآن ج ۶ پ ۱۷ ص ۴)

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا نُوۡحِيۡۤ اِلَيۡهِ اَنَّهٗ

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا	مِنۡ قَبۡلِكَ	مِنۡ رَّسُوۡلٍ	اِلَّا	نُوۡحِيۡۤ	اِلَيۡهِ	اَنَّهٗ
او نه ؤ لیږلی موږ	پخوا له تا څخه	هیڅ رسول	مګر	چی وحی به کوله موږ	هغه ته	چی بیشکه! شان دا دادی چی

او نه ؤ لیږلی موږ پخوا له تا څخه هیڅ رسول مګر چی وحی به کوله موږ هغه ته (داسی) چی بیشکه! شان دادی چی

لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعۡبُدُوۡنِ ﴿٢٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحۡمٰنُ

لَآ اِلٰهَ	اِلَّآ اَنَا	فَاعۡبُدُوۡنِ	وَقَالُوا	اتَّخَذَ	الرَّحۡمٰنُ
نشته برحق معبود	مګر زه یم	نو بندګی کوئ تاسی زما	او وائی دغه (منکران)	نیولی دی	رحمٰن

نشته برحق معبود مګر زه یم (یوازی) نو بندګی کوئ تاسی زما. او وائی دغه (منکران) نیولی دی رحمٰن

وَلَدًا سُبۡحٰنَهٗ ؕ بَلۡ عِبَادٌ مُّكۡرَمُوۡنَ ﴿٢٦﴾

وَلَدًا	سُبۡحٰنَهٗ	بَلۡ عِبَادٌ	مُّكۡرَمُوۡنَ
ولد (زوی او لور)	پاک دی دغه (الله)	بلکه (دوی) بندګان (دالله) دی	مکرم مقرب معزز

ولد پاک دی دغه (الله له ولد څخه)، بلکه (دوی) بندګان (د الله) دی مکرم مقرب معزز (دالله په دربارکښی په عزت سره)

لَا يَسۡبِقُوۡنَهٗ بِالۡقَوۡلِ وَهُمۡ بِاَمۡرِهٖ يَعۡمَلُوۡنَ ﴿٢٧﴾

لَا يَسۡبِقُوۡنَهٗ	بِالۡقَوۡلِ	وَهُمۡ	بِاَمۡرِهٖ	يَعۡمَلُوۡنَ
چی نسی مخکی کیدی دوی له دغه (الله) څخه	په خبره سره	او دوی خاص	په حکم دالله	عمل کوی

چی نسی رومبی (اولنی) کیدی دوی له دغه (الله) څخه په خبره سره او دوی خاص په حکم دالله عمل کوی.

يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يَشۡفَعُوۡنَ

يَعۡلَمُ	مَا	بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ	وَمَا خَلۡفَهُمۡ	وَلَا يَشۡفَعُوۡنَ
معلوم دی الله ته	هغه څه چی	په مخکی د ددوی دی	او هغه څه چی وروسته د دوی دی	او نه کوی شفاعت دوی

معلوم دی الله ته هغه څه چی د وړاندی د دوی دی او هغه څه چی وروسته د دوی دی، او نه کوی شفاعت دوی

اِلَّا لِمَنِ ارۡتَضٰى وَهُمۡ مِّنۡ خَشۡيَتِهٖ مُشۡفِقُوۡنَ ﴿٢٨﴾ وَمَنۡ

اِلَّا	لِمَنِ	ارۡتَضٰى	وَهُمۡ	مِّنۡ خَشۡيَتِهٖ	مُشۡفِقُوۡنَ	وَمَنۡ
مګر	دپاره د هغه چاچی	راضی وی (تری الله)	او دوی	له هیبت دالله څخه	بیریدونکی دی	او هر څوک چی

مګر دپاره د هغه چا چی راضی وی (تری الله)، او دوی له هیبت دالله څخه بیریدونکی دی. او هر څوک چی

يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ

يَّقُلْ	مِنْهُمْ	اِنِّيْٓ اِلٰهٌ	مِّنْ دُوْنِهٖ	فَذٰلِكَ	نَجْزِيْهِ
ووائی	له دغو (ملائکو څخه)	چی بیشکه! زه معبود یم	بی له الله څخه	پس دغه	جزاء به ورکوو موږ ده ته

ووائی له دغو (ملائکو څخه چی) بیشکه! زه معبود یم بی له الله څخه پس دغه (ویونکی چی دی) جزا به ورکوو موږ ده ته

جَهَنَّمَ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾ اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

ع ۲ ۱۹ ۲

جَهَنَّمَ	كَذٰلِكَ	نَجْزِى	الظّٰلِمِيْنَ	اَوَلَمْ يَرَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا
دوزخ	هم داسی	جزا ورکوو	ظالمانو ته	آیا نه دی لیدلی	هغه کسانو	چی کافران سوی دی

دوزخ، هم داسی جزا ورکوو ظالمانو ته (چی دغیر الله عبادت کوی). آیا نه دی لیدلی هغه کسانو چی کافران سوی دی

اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ

اَنَّ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	كَانَتَا	رَتْقًا	فَفَتَقْنٰهُمَا
چی بیشکه!	آسمانونه	او مځکی	وو دواړه	سره نښتی	پس بیل کړ موږ دوی دواړه

چی بیشکه! آسمانونه او مځکی وو دواړه سره نښتی (ضم پیوسته په اول کښی) پس بیل کړ موږ دوی دواړه

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ؕ اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۰﴾

وَجَعَلْنَا	مِنَ الْمَآءِ	كُلَّ شَيْءٍ	حَيٍّ	اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ
او پیدا کړی دی موږ	له اوبو څخه	هر یو شی	ژوندی	نو آیا ایمان نه راوړی دوی

او پیدا کړی دی موږ له اوبو څخه هر یو شی ژوندی، نو آیا ایمان نه راوړی دوی.

وَجَعَلْنَا فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ بِهِمْ ۖ

وَجَعَلْنَا	فِى الْاَرْضِ	رَوَاسِىَ	اَنْ تَمِيْدَ بِهِمْ
او پیدا کړی دی موږ	په مځکه باندی	درانه محکم غرونه ولاړ	چی ونه ښوری دا مځکه په دوی

او پیدا کړی دی موږ په مځکه باندی درانه محکم غرونه ولاړ چی ونه ښوری دا مځکه په دوی

وَجَعَلْنَا فِيْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۳۱﴾

وَجَعَلْنَا	فِيْهَا	فِجَاجًا	سُبُلًا	لَّعَلَّهُمْ	يَهْتَدُوْنَ
او ګرځولی دی موږ	په دغه کښی	پراخی	لاری	دپاره د دی چی دوی	لاره پیدا کړی

او ګرځولی دی موږ په دغه (مځکه او غرونو) کښی پراخی لاری دپاره د دی چی دوی پیدا کړی (بی تکلیف مقصود ته ورسیږی)

اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا...اسمانونه او مځکي بندوه الله ﷻ راخلاص کړل: ددغه آیت دالفاظو ترجمه داده چي الله ﷻ فرمايي چي اسمان او مځکه بندوه موږ دوی خلاص کړل په دي کي دبندوالي او خلاصيدو څخه څه مراد دي؟ ددې په مراد کي دمفسرينو اختلاف دی اوقولونه يي هم مختلف دي: په دي ټولو کي چي کمه معنی صحابه کرامو ﷺ او جمهورمفسرينو اختياره کړيده هغه داده چي دبنديدو څخه مراد دآسمان باران اودمځکي حاصلات بنديدل دي او دخلاصو لو څخه يي مراد ددې دواړو خلاصول دي: په رواياتو کي دي چي يو سړی راغی دحضرت عبدالله ابن عمر ﷛ څخه يي ددغه آيت په باره کي پوښتنه وکړه دوی د حضرت ابن عباس ﷛ طرف ته اشاره وکړه وې فرمايل چي ورسه ددغه شيخ څخه پوښتنه وکړه هغه چي څه جواب درکی راسه ماته يي هم ووايه دغه سړي دحضرت ابن عباس ﷛ څخه پوښتنه وکړه د :رتقاً : او فتقاً : په باره کي چي ددې څه مطلب او څه مراد دی ؟ پاته روايت پر راروان مخ وګوری :

وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ۚ وَّهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا

وَجَعَلْنَا	السَّمَآءَ	سَقْفًا	مَّحْفُوْظًا	وَّهُمْ	عَنْ اٰيٰتِهَا
او ګرځولې دې موږ	آسمان	چت	ساتل سوی	او دغه کفار	له علائمو د آسمانونو څخه

او ګرځولی دی موږ آسمان چت ساتل سوی (له پرېوتلو) او دغه کفار له علائمو د آسمانونو څخه

مُعْرِضُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ

مُعْرِضُوْنَ	وَهُوَ	الَّذِىْ	خَلَقَ	الَّيْلَ	وَالنَّهَارَ
مخ ګرځوونکي دي	او دغه (الله)	هغه (مطلق قادر دی)	چې ئې پیدا کړی ده	شپه	او ورځ

مخ ګرځوونکي دي. او دغه (الله) هغه (مطلق قادر دی) چې ئې پیدا کړی ده شپه (د ارامتیا دپاره) او ورځ (د کار دپاره)

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِىْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿٣٣﴾

وَالشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ	كُلٌّ	فِىْ فَلَكٍ	يَّسْبَحُوْنَ
او لمر	او سپوږمی	دغه هر یو له دغو (شپه، ورځ، لمر، سپوږمی)	په فلک کښې	حرکت کوی او ګرځی

او لمر (د رڼا دپاره) او سپوږمی (روښنائتیا دپاره) دغه هر یو له دغو په فلک او مدار کښې حرکت کوی او ګرځی .

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ اَفَا۟ئِنْ مِّتَّ فَهُمُ

وَمَا جَعَلْنَا	لِبَشَرٍ	مِّنْ قَبْلِكَ	الْخُلْدَ	اَفَا۟ئِنْ	مِّتَّ	فَهُمُ
او نه دی ګرځولی موږ	هیڅ یوه انسان ته	پخوا له تا څخه	تل ژوندی پاتی کیدل	آیا پس که ته	مړسی	پس دوی به

او نه دی ګرځولی موږ هیڅ یوه انسان ته پخوا له تا څخه (ای محمده) تل ژوندی پاتی کیدل آیا پس که ته مړ سی پس دوی به

الْخٰلِدُوْنَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَنَبْلُوْكُمْ

الْخٰلِدُوْنَ	كُلُّ نَفْسٍ	ذَآئِقَةُ	الْمَوْتِ	وَنَبْلُوْكُمْ
تل پاتی کیدونکی وی	هر یو نفس	څکونکی	د مرګ دی	او ازمایو موږ تاسی

تل پاتی کیدونکی وی (په دنیا کی بلکه دا سی نه ده). هر یو نفس څکونکی د مرګ دی (یعنی مری)، او ازمایو موږ تا سی

بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ؕ وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَاِذَا

بِالشَّرِّ	وَالْخَيْرِ	فِتْنَةً	وَاِلَيْنَا	تُرْجَعُوْنَ	وَاِذَا
په شر، بدی	او په خیر، نیکی سره	په ازموینه	او خاص موږ ته به	راوستلی سئ تاسی	او کله چې

په شر، بدی او په خیر، نیکی سره په ازموینه، او خاص موږ ته به راوستلی سئ تاسی (د جزا دپاره). او کله چې

وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا.. د تیر مخ پاته روایت دلته وګوری:
حضرت ابن عباس رضی الله عنه ورته وفرمایل چې اول اسمانونه بند وه باران ورڅخه نه اوریدی او مځکه بنده وه بوټي او وابنه اونباتات نه ورڅخه راشنه کیدل کله چې الله جل جلاله پر مځکه انسان آباد کی نو د آسمان باران یې پر راخلاص کی او د مځکي نشو اونما یې پر راپورته کړه: دغه سړي چې د آیت تفسیر معلوم کی حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته واپس راغی او څه چې یې د ابن عباس رضی الله عنه څخه اوریدلي وه هغه یې ورته بیان کړه نو حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل چې اوس ماته دا ثابته سوه چې واقعي حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته د قرآن علم ورکول سوی دی د دې څخه مخکي ما د قرآن کریم د تفسیر په باره کي د حضرت ابن عباس رضی الله عنه بیانونه یوه زړه ورتیا بلله چې زما به خوښه نه وه او س ماته دا معلومه سوه چې الله جل جلاله ده ته د قرآن کریم د علمونو یو خاص ذوق او شوق ورکړی دی نو ځکه دوی د: رتقاً: او فتقاً ښه مدلل تفسیر وفرمایي: الله جل جلاله دې موږ ته هم داسي ذوق قرآني رانصیب کړي:
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۴)

رَاٰكَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اِنۡ يَّتَّخِذُوۡنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ

رَاٰكَ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡۤا	اِنۡ يَّتَّخِذُوۡنَكَ	اِلَّا	هُزُوًا
ووينی تا	هغه کسان	چې کافران سوی دی	نو نه نيسی دوی تا	مګر	مسخره کړی سوی

ووينی تا هغه کسان چې کافران سوی دی نو نه نيسی دوی تا مګر مسخره کړی سوی، (او وائی پخپلو منځونو کښی)

اَهٰذَا الَّذِىۡ يَذۡكُرُ اٰلِهَتَكُمۡ ۚ وَهُمۡ بِذِكۡرِ

اَهٰذَا	الَّذِىۡ	يَذۡكُرُ	اٰلِهَتَكُمۡ	وَهُمۡ	بِذِكۡرِ
آيا دا	همغه څوک دی چې	يادوی	معبودان ستاسی	حال دا چې دغه کفار	په يادولو

آيا دا همغه څوک دی چې يادوی (په بدی او سپکه) معبودان ستاسی حال دا چې دغه کفار په يادولو

الرَّحۡمٰنِ هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ۞ ٣٦ خُلِقَ الۡاِنۡسَانُ مِنۡ عَجَلٍ ؕ

الرَّحۡمٰنِ	هُمۡ	كٰفِرُوۡنَ	خُلِقَ	الۡاِنۡسَانُ	مِنۡ عَجَلٍ ؕ
د رحمٰن	هم دوی	کافران دی	پيدا کړی سوی دی	انسان	له تلوار (بی صبری)

د رحمٰن (په وحدانيت) هم دوی کافران دی. پيدا کړی سوی دی انسان له تلوار (بی صبری)،

سَاُورِيۡكُمۡ اٰيٰتِىۡ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنِ ۞ ٣٧ وَيَقُوۡلُوۡنَ

سَاُورِيۡكُمۡ	اٰيٰتِىۡ	فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنِ	وَيَقُوۡلُوۡنَ
ژر به وښيم تاسی ته	آيات خپل	پس تلوار مه کوئ تاسی	او وائی (دا کفار)

ژر به وښيم تاسی ته آيا ت خپل (موعود عذاب) پس تلوار مه کوئ تاسی (په راتللو د عذاب). او وائی (دا کفار)

مَتٰى هٰذَا الۡوَعۡدُ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ۞ ٣٨ لَوۡ يَعۡلَمُ

مَتٰى	هٰذَا	الۡوَعۡدُ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	صٰدِقِيۡنَ	لَوۡ يَعۡلَمُ
کله به وی	دغه	وعده	که چيری يئ تاسی	صادقان رښتينی	که پوهيدلی وی

کله به وی دغه وعده (د راتلو د عذاب يا قيامت) که چيری يئ تاسی صادقان رښتينی. که پوهيدلی وی

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا حِيۡنَ لَا يَكُفُّوۡنَ عَنۡ وُّجُوۡهِهِمُ

الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	حِيۡنَ	لَا يَكُفُّوۡنَ	عَنۡ وُّجُوۡهِهِمُ
هغه کسان	چې کافران سوی دی	په هغه وخت کښی	چې نه به سی منع کولی	له مخونو خپلو

هغه کسان چې کافران سوی دی هغه وخت کښی چې نه به سی منع کولی له مخونو خپلو

خُلِقَ الۡاِنۡسَانُ مِنۡ عَجَلٍ

سَاُورِيۡكُمۡ... بې ځايه او بې موقع تلواري مذمومه او بده ده: لفظ دعجل په معنی دتلواري دی چې حقيقت يي څه شی دوخت څخه مخکي طلب کول دي او دا وصف فی نفسه مذموم دی په قرآن کريم کي يي بل ځای هم دا دانساني کمزوری په طور سره ذکر کړی دی: **وکان الانسان عجولا:** يعني انسان ډير تلواري دی: حضرت موسی عليه السلام کله چي کوه طور ته دخپل قوم څخه مخکي دالله جل جلاله په دربار کي حاضر سو نو هم هلته پر دغه تلواره کولو ورته عتاب وسوا و دانبياوو **عليهم السلام** او صالحانو په باره کي چي کم ځای په نيکيو کي دتلواري او مخکي کيدو په طور دمدح ذکر سوی دی دغه دجلد بازی او تلواري په معنی کي داخل نه دی ځکه چي دغه دوخت څخه مخکي ديو شي طلب نه دی بلکي پر وخت باندي دنيکيو دډيرولو کوشش کول دي الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته رانصيب کړي.
(معارف القرآن ج۶ پ ۱۷ ص ۲۶)

النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٣٩﴾

النَّارَ	وَلَا عَنْ	ظُهُوْرِهِمْ	وَلَا هُمْ	يُنْصَرُوْنَ
اور (د دوزخ)	او نه له	شاګانو خپلو	او نه به له دوی سره	مرسته وکړی سی

اور (د دوزخ) او نه له شاګانو خپلو او نه به له دوی سره مرسته وکړی سی (دعذاب په منع کولو کښي نو نه به کافران کيدل)

بَلْ تَأْتِيْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

بَلْ تَأْتِيْهِمْ	بَغْتَةً	فَتَبْهَتُهُمْ	فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ
بلکه رابه سی دوی ته	ناڅاپه	پس حیران به کړی (هغه) دوی	پس طاقت نه لری دوی

بلکه رابه سی دوی ته (دغه قیامت) ناڅاپه (بی له مقدمی) پس حیران به کړی (هغه) دوی پس طاقت نه لری دوی

رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ

رَدَّهَا	وَلَا هُمْ	يُنْظَرُوْنَ	وَلَقَدِ	اسْتُهْزِئَ	بِرُسُلٍ
دلری کولو دقیامت	او نه به دوی ته	مهلت ورکاوه سی	او خامخا په تحقیق	مسخری سوی دی	په رسولانو

د لری کولو د قیامت او نه به دوی ته مهلت ورکاوه سی (دتوبی او عذر). او خامخا په تحقیق مسخری سوی دی په رسولانو

مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا

مِّنْ قَبْلِكَ	فَحَاقَ	بِالَّذِيْنَ	سَخِرُوْا	مِنْهُمْ	مَّا كَانُوْا
پخواله تا	پس بیرته نازل سو	په هغو کسانو چي	مسخری ئی کولی	له پخوانیو امتونو څخه	هغه شی چي وو دوی

پخواله تا پس بیرته نازل سو په هغو کسانو چي مسخری ئی کولی له پخوانیو امتونو څخه(جزا) دهغه شی چي وو دوی

بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤١﴾ ع قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ

بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ	قُلْ	مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ	بِالَّيْلِ	وَالنَّهَارِ
چي په هغه سره	به ئی مسخری کولی	ووایه (محمده!)	څوک ساتی تاسی	دشپی	او د ورځی

چي په هغه سره به ئی مسخری کولی. ووایه (ای محمده! دوی ته) څوک ساتی تاسی د شپی او د ورځی

مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ

مِنَ الرَّحْمٰنِ	بَلْ هُمْ	عَنْ ذِكْرِ	رَبِّهِمْ
له عذاب د رحمٰن څخه	بلکه دوی	له یاده	د رب خپل

له عذاب د رحمٰن څخه (که ئی درپیښ کړی؟ هیڅوک نسته)، بلکه دوی له یاده د رب خپل (یا له قرآن څخه)

وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ. کافران به د قیامت په ورځ داور لمبې دخلورو طرفو څخه راګیرکي: په دغه آیت کي الله ﷻ دقیامت په ورځ چي کفارو ته کم عذاب ورکول کیږي دهغه ذکر کړی دی داسي چي کاشکي داکافران دهغه وخت دعذابه څخه خبروای کله چي دوی دهر طرف څخه ددوږخ اورراګیر کړي اوداخلګ به نه دغه اور دخپل مخ څخه منع کولای سي او دخپلي شا څخه او نه به ددوی څوک حمایت کوي که چیري دغه کافران ددغه مصیبت څخه خبر وای نو داسي خبري به یي نه جوړولای او داچي کم دوی په دنیا کي داور دعذاب دپاره فرمایش کوي نو داضروري نه ده چي داور عذاب دي په دې دنیا کي پر دوی باندي راسي بلکي دغه اور به یودم دوی راونیسي اوبیا به دوی بد حواسه کړي بیا به نه دهغه دلیري کولو دوی ته قدرت وي او نه به دوی ته څه مهلت ورکول سي او داخبره چي دوی وایي نمونه یي راوښیاست په دنیا کي نو ددې جواب دادی چي دتیرو انبیاوو علیهم السلام پر قومونو باندي هغه عذابونه راغلل په کم پوري چي دوی مسخرې کولې: (معارف القرآن ج ۶پ١٧ص٢٢)

ع٣/٢/٣

مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿٤٢﴾ اَمۡ لَهُمۡ اٰلِهَةٌ تَمۡنَعُهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِنَا ؕ

مِّنۡ دُوۡنِنَا ؕ	تَمۡنَعُهُمۡ	اٰلِهَةٌ	اَمۡ لَهُمۡ	مُّعۡرِضُوۡنَ
غیر له موږ څخه	چې ساتی دوی (له عذابه)	نورمعبودان	آیا سته د دوی دپاره	مخ گرځوونکی دی

مخ گرځوونکی دی. آیا سته د دوی دپاره نور معبودان چې ساتی دوی (له عذابه څخه) غیر له موږ څخه

لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ نَصۡرَ اَنۡفُسِهِمۡ وَلَا هُمۡ مِّنَّا يُصۡحَبُوۡنَ ﴿٤٣﴾

يُصۡحَبُوۡنَ	مِّنَّا	وَلَا هُمۡ	اَنۡفُسِهِمۡ	نَصۡرَ	لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ
ساتلی کیږی	زموږ له (عذاب څخه)	او نه دوی	دخپلو نفسونو	دمرستی	طاقت نه لری

طاقت نه لری (دغه معبودان) د مرستی دخپلو نفسونو او نه دوی زموږ له (عذاب څخه) ساتلی کیږی

بَلۡ مَتَّعۡنَا هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمۡ حَتّٰى طَالَ

طَالَ	حَتّٰى	وَاٰبَآءَهُمۡ	هٰٓؤُلَآءِ	بَلۡ مَتَّعۡنَا
اوږده سوه	تر هغه پوری چې	او پلرونو د دوی ته	دغو کفارو	بلکه نفع رسولی ده موږ

(یا ملگرتیا ورسره کاوه سی). بلکه نفع رسولی ده موږ دغو کفارو او پلرونو د دوی ته ترهغه پوری چې اوږده سوه

عَلَيۡهِمُ الۡعُمُرُ ؕ اَفَلَا يَرَوۡنَ اَنَّا نَاۡتِى الۡاَرۡضَ نَنۡقُصُهَا

نَنۡقُصُهَا	الۡاَرۡضَ	نَاۡتِى	اَنَّا	اَفَلَا يَرَوۡنَ	الۡعُمُرُ	عَلَيۡهِمُ
په داسی حال چې کموو هغه	مځکی (دکفارو) ته	کوو راتگ	چې بیشکه! موږ	آیا پس نه وینی (کفار)	عمرونه	په دوی باندی

په دوی باندی (موده د) عمر، آیا پس نه وینی چې بیشکه! موږ راتگ او (قصد) کوو مځکی ته په داسی حال چې کموو هغه

مِنۡ اَطۡرَافِهَا ؕ اَفَهُمُ الۡغٰلِبُوۡنَ ﴿٤٤﴾ قُلۡ اِنَّمَآ

اِنَّمَآ	قُلۡ	الۡغٰلِبُوۡنَ	اَفَهُمُ	مِنۡ اَطۡرَافِهَا
بیشکه! هم دا خبره ده	ووایه (ای محمده!)	غالب دی (په مؤمنانو)	آیا پس کفار	له څنډو د دغی (مځکی)

له څنډو (غاړو) د دغی (مځکی) ، آیا پس کفار غالب دی (په مؤمنانو) ووایه (محمده!) بیشکه! هم دا خبره ده

اُنۡذِرُكُمۡ بِالۡوَحۡىِ ۖ وَلَا يَسۡمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنۡذَرُوۡنَ ﴿٤٥﴾

مَا يُنۡذَرُوۡنَ	اِذَا	الدُّعَآءَ	الصُّمُّ	وَلَا يَسۡمَعُ	بِالۡوَحۡىِ	اُنۡذِرُكُمۡ
ویرولی سی دوی	کله چې	دعاء (بلنه)	کوڼ	او نه اوری	په وحی سره	چې زه ییروم تاسی

چې زه ییروم تاسی په وحی سره او نه اوری کوڼ دعاء (بلنه) کله چې ویرولی سی (حقه خبره نه اوری).

اَمۡ لَهُمۡ اٰلِهَةٌ تَمۡنَعُهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِنَا لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ...

دکفارو معبودان به هم دقیامت په ورځ ددوی سره څه کومک نه سي کولای: په دغه آیت کي الله ﷻ فرمايي چي ايا ددوی معبودان به ددوی سره کومک وکړي دقيامت په ورځ ؟ الله ﷻ فرمايي دا سي هم نه سي کيدای ځکه چي هغه خواران خو دخپل ځانونو دحفاظت تـوان او طاقت نه لري مثلا که خوک ددوی په ماتولو شروع وکړي نو دوی خپل ځان ورڅخه هم نه سي خلاصولای لکه دالله ﷻ دغه قول چي دی: وان يسلبهم الذباب شيئا: الاية : يعني دابتان خواران دومره کمزوري دي که چيري مچ غوندي کمزوری حيوان يو شی ددوی څخه واخلي او يا يي ځيني وتښتوي دوی دهغو څخه يي لا هم نه سي بيرته اخيستلای نو دغه معبودان نه ددوی څه کومک کولای سي او نه زموږ په مقابله کي څوک ددوی ملگرتيا کولای سي او داخبره چي سره ددلائلو بياهم دوی خبره نه مني داددې وجي نه دي چي زموږ په دلائلو يا دعوو کي څه خلل دی بلکي په دوی کي دغفلت خلل او نقصان پروت دی الخ.
(معارف القرآن ج ٦ پ١٧ص٢٣)

وَلَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ

وَلَئِنْ	مَّسَّتْهُمْ	نَفْحَةٌ	مِّنْ عَذَابِ	رَبِّكَ	لَيَقُوْلُنَّ
او كه	ورسيږي دوى ته	يوه شپه	له عذابه	درب ستا	نو خامخا وائي هرومرو

او كه ورسيږي دوى ته لږ شه تپ له عذابه د رب ستا نو خامخا وائي (كفار) هرومرو

يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ

يٰوَيْلَنَآ	اِنَّا كُنَّا	ظٰلِمِيْنَ	وَنَضَعُ
اى هلاكه زموږ	بيشكه! چي موږ وو	ظالمان (په كفر سره)	او ايږدو موږ

اى هلاكه زموږ بيشكه! چي موږ وو (پخوا له دغه عذاب څخه) ظالمان (په كفر سره). او كيږدو

الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ

الْمَوَازِيْنَ	الْقِسْطَ	لِيَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	فَلَا تُظْلَمُ	نَفْسٌ
تلى	دانصاف	دپاره دورځى	دقيامت	پس ظلم به ونه كړى سى	په هيڅ نفس

تلى د انصاف دپاره د (اهل د) ورځى د قيامت پس ظلم به ونه كړى سى په هيڅ نفس،

شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ؕ

شَيْـًٔا ؕ	وَاِنْ كَانَ	مِثْقَالَ	حَبَّةٍ	مِّنْ خَرْدَلٍ	اَتَيْنَا بِهَا
دهيڅ شي	او كه وى	په قدر	ديوى دانى	سپيلنى (اورى)	نو رابه وړو دغه (دانه)

د هيڅ شي (هيڅ) او كه وى (دغه عمل) په قدر د يوى دانى سپيلنى، اورى نو رابه وړو دغه (دانه)،

وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى

وَكَفٰى بِنَا	حٰسِبِيْنَ	وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوْسٰى
او بس يو موږ	حساب كوونكى	او خامخا په تحقيق	وركړى ؤ موږ	موسىٰ

او بس يو موږ حساب كوونكى (يا ساتونكى د بندګانو د اعمالو) او خامخا په تحقيق وركړى ؤ موږ موسىٰ

وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾

وَهٰرُوْنَ	الْفُرْقَانَ	وَضِيَآءً	وَّذِكْرًا	لِّلْمُتَّقِيْنَ
او هارون ته	فرقان	او رڼا	او نصيحت	دپاره دپرهيزګارانو

او هارون ته فرقان (د حق او باطل بيلوونكى كتاب) او رڼا (حق له باطل څخه پيژندل) او نصيحت دپاره د پرهيزګارانو .

وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ.. په قيامت كي دعملونو حساب او دهغه ميزان : لفظ دموازين دميزان جمع ده كم چي دتلي په معنى سره راځي دلته الله ﷻ دميزان دپاره دجمع كلمه استعمال كړيده ددې څخه ځينو علماوو داګڼلي ده چي دعملونو دتول دپاره به ډيري تلي استعماليږي برابره خبره ده كه دهر سړي دپاره جلا جلا تله وي يا دخاصو خاصو عملونو دپاره جلا جلا تلي وي: مګر جمهور عالمان پر دې متفق دي چي تله به يوه وي خو دجمع په كلمه يي ورڅخه ځكه تعبير كړى دى چي دابه دډيرو تولونو كار كوي ځكه چي دټولو مخلوقاتو دحضرت آدم عليه السلام څخه واخله تر قيامته پوري چي شمير يي الله ﷻ ته معلوم دى ددې ټولو عملونه به په دغه تله تلل كيږي : او دقسط معنى عدل او انصاف ده : معنى داده چي دغه تله به په عدل او انصاف سره تول كوي هيڅ كمى او زياتى به نه كوي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي هغه تله به دومره غټه وي كه مځكه اوآسمانونه هم په كښي تلل وغواړي په كښي ځاى به سي الخ (معرف القرآن ج ٦پ١٧ص٢٧)

الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ

الَّذِيْنَ	يَخْشَوْنَ	رَبَّهُمْ	بِالْغَيْبِ	وَهُمْ	مِّنَ السَّاعَةِ
(متقيان) هغه کسان دی	چي بيريږی	له رب خپل	په غيب سره	او دوی	له قيامت څخه

(متقيان) هغه کسان (دی) چي بيريږی له رب خپل په غيب سره او دوی (تل) له قيامت څخه

مُشْفِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ اَفَاَنْتُمْ

مُشْفِقُوْنَ	وَهٰذَا	ذِكْرٌ	مُّبٰرَكٌ	اَنْزَلْنٰهُ	اَفَاَنْتُمْ
بيريدونکی دی	او دا (قرآن)	نصيحت دی	مبارک	چي نازل کړی موږ هغه	آيا پس تاسی

بيريدونکی دی. او دا (قرآن) نصيحت دی مبارک چي نازل کړی (ليږلی دی) موږ هغه (په محمد باندی) ، آيا پس تاسی

لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ ع ۴ ۴ نصف

لَهٗ مُنْكِرُوْنَ	وَلَقَدْ	اٰتَيْنَآ	اِبْرٰهِيْمَ	رُشْدَهٗ	مِنْ قَبْلُ
له دی څخه انکار کوونکی يئ	نو خامخا په تحقيق	ورکړی وه موږ	ابراهيم ته	نيکه حقه لاره د ده	پخوا له

له دی نه انکار کوونکی يئ. نو خامخا په تحقيق ورکړی وه موږ ابراهيم ته نيکه حقه لاره د ده (په عقائدو او اعمالو) پخوا له

وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ

وَكُنَّا	بِهٖ عٰلِمِيْنَ	اِذْ قَالَ	لِاَبِيْهِ	وَقَوْمِهٖ	مَا هٰذِهِ
او وو موږ	په ده باندی پوه	کله چي وويل (ابراهيم)	پلار خپل ته	او قوم خپل ته	چي څه دی دغه

او وو موږ په ده باندی پوه. کله چي وويل (ابراهيم) پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل (بابليانو) ته چي څه دی دغه

التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ

التَّمَاثِيْلُ	الَّتِيْٓ	اَنْتُمْ	لَهَا عٰكِفُوْنَ	قَالُوْا	وَجَدْنَآ
بتان	هغه چي	تاسی	دوی ته ولاړ يئ په عبادت سره	نو وويل دوی	پيدا کړی دی موږ

بتان هغه چي تاسی دوی ته ولاړ يئ په عبادت سره (لکه مجاوران). نو وويل دوی چي پيدا کړی دی موږ

اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ

اٰبَآءَنَا	لَهَا	عٰبِدِيْنَ	قَالَ	لَقَدْ	كُنْتُمْ اَنْتُمْ	وَاٰبَآؤُكُمْ
پلرونه خپل	دغو (بتانو) ته	عبادت کوونکی	وويل (ابراهيم)	خامخا په تحقيق	ياست تاسی	او پلرونه ستاسی

پلرونه خپل دغو (بتانو) ته عبادت کوونکی. وويل (ابراهيم) خامخا په تحقيق يئ تاسی او پلرونه ستاسی (په سبب د بتانو)

وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ... حضرت ابراهيم عليه السلام ته الله جل جلاله ته دده دشان مناسبه ښه پوهه ورکړې وه: په دغه راروانو ايـاتونو کـي الله جل جلاله دابراهيم عليه السلام هوښياري او فهم او هغه خداداد عقل بيانوي کم چي الله جل جلاله دده ته ورنصيب کړی وو فرمايي چي موږ د حضرت موسی عليه السلام تر زماني مخکي حضرت ابراهيم عليه السلام ته دده دشان مناسبه ښه پوهه ورکړې وه او موږ علمي او عملي کمالات دهغه ښه پيژندل يعني هغه ډير لوی او کامل شخصيت وو دده هغه وخت دیادولو قابل دی کله چي دوی خپل پلار ته او خپلو خلګو ته چي دوی يي په بت پرستی کي مشغول وليدل وفرمايل چي څه عبث بتان دي په کمو چي دعبادت دپاره تاسي چهله سوي ناست ياست يعني دوی هيڅکله دعبادت قابل نه دي دغو خلګو په جواب کي وويل چي موږ خپل مشران ددی په عبادت کولوباندي ليدلي دي او هغه خلګ هوښيار وه ددي څخه معلوميږي چي دا بتان دعبادت لائق دي ده عليه السلام ورته وفرمايل چي تاسي او ستاسي پلرونه په ښکاره غلطی کي اخته ياست الخ: (معارف القرآن ج۶پ۷ص۲۶)

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ

فِيْ ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ	قَالُوْٓا	اَجِئْتَنَا	بِالْحَقِّ	اَمْ اَنْتَ
په ګمراهی	ښکاره کښې	نو وويل	آيا راغلې ئې ته موږ ته	په حق سره	او که يئ ته

په ګمراهی ښکاره کښې (هر عاقل ته). نو وويل (بابليانو ابراهيم ته) آيا راغلې ئې ته موږ ته په حق سره او که يئ ته

مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

مِنَ اللّٰعِبِيْنَ	قَالَ	بَلْ	رَّبُّكُمْ	رَبُّ	السَّمٰوٰتِ
له لوبو کوونکو څخه	وويل (ابراهيم)	بلکه	رب ستاسی	رب	دآسمانونو

له لوبو کوونکو څخه. وويل (ابراهيم) بلکه رب ستاسی رب د آسمانونو

وَالْاَرْضِ الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ۖ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ

وَالْاَرْضِ	الَّذِيْ	فَطَرَهُنَّ	وَاَنَا	عَلٰى ذٰلِكُمْ
او (رب) دمځکی دی	هغه (الله) چې	پيداکړی ئې دی دا	او زه	په دغو

او (رب) د مځکی دی هغه (الله) چې پيداکړی ئې دی دا او زه په دغو (چې ومی ويل له توحيد څخه)

مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ

مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ	وَتَاللّٰهِ	لَاَكِيْدَنَّ	اَصْنَامَكُمْ	بَعْدَ اَنْ
له شاهدانو څخه يم	او قسم دی په الله	خامخا څه تدبير او علاج به وکړم هرومرو	(چې مات کړم) بتان ستاسی	پس له هغه

له شاهدانو څخه يم. او قسم دی په الله خامخا څه تدبير او علاج به وکړم هرومرو (چې مات کړم) بتان ستاسی پس له هغه

تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ

تُوَلُّوْا	مُدْبِرِيْنَ	فَجَعَلَهُمْ	جُذٰذًا	اِلَّا	كَبِيْرًا	لَّهُمْ
چې وګرځئ تاسی	شاکوونکی	پس وئې ګرځول دا بتان	ټوټې ټوټې	مګر	لوی	د دی بتانو

چې وګرځئ تاسی شاکوونکی (بتانو ته مخ په ميله). پس وئې ګرځول دا بتان ټوټې ټوټې مګر لوی د دی بتانو

لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴿٥٨﴾ قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا

لَعَلَّهُمْ	اِلَيْهِ	يَرْجِعُوْنَ	قَالُوْا	مَنْ فَعَلَ	هٰذَا
دپاره د دی چې دوی	هغه ته	بيرته راسی	وويل دوی	چا کړی دی	دا کار

دپاره د دی چې دوی هغه ته بيرته راسی (اوتری پوښتنه وکړی). وويل دوی چا کړی دی دا کار

وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا.. ابراهيم عليه السلام ددوی دبتانو دعلاج دپاره قسم پورته کړی: ددغه آيت دظاهره څخه داسي معلوميږي چي دا خبره ابراهيم دخپل قوم په مخکي کړې وه مګر پر دې خبره باندي بيا داشبه کيږي چي حضرت ابراهيم عليه السلام دوی ته وفرمايل چي: انی سقيم: زه مريض يم او ددوی سره يې اختر ته دتللو څخه ځان خلاص کړی او کله چي دبتانو دماتيدلو واقعه پيښه سوه نو خپلو خلګو ددې تلاش شروع کی چي داکار چا کړی دی که دحضرت ابراهيم عليه السلام داخبره دمخکي څخه خپلو خلګو ته معلومه وای نو داټولي خبري به څنګه کيدای ددې جواب دادی چي حضرت ابراهيم عليه السلام يکي يوازي يو سړی وو دټولي برادری په مقابله کي ددوی هيڅ حيثيت دوی نه ګڼی ممکنه ده چي ددوی خبري ته يې هيڅ التفات نه وای کړی او هيري سوي يې هم وي. بيان القرآن: او دا هم ممکنه ده چي ددغه کار تحقيق اوتلاش کوونکي نور خلګ وه کمو ته چي دحضرت ابراهيم عليه السلام ددې خبرو علم نه وو الخ.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص ۳۵)

بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا سَمِعْنَا

بِاٰلِهَتِنَآ	اِنَّهٗ	لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ	قَالُوْا	سَمِعْنَا
په معبودانو زموږ	بیشکه! چی دی	خامخا له ظالمانو دی	وویل (ځینو کفارو)	چی اوریدلی وو موږ

په معبودانو زموږ بیشکه! چی دی خامخا له ظالمانو دی (په دی کار کښی). وویل (ځینو کفارو) چی اوریدلی وو موږ

فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰٓى

فَتًى	يَّذْكُرُهُمْ	يُقَالُ لَهٗٓ	اِبْرٰهِيْمُ	قَالُوْا	فَاْتُوْا	بِهٖ	عَلٰٓى
له یوه ځوان شخه	چی یادول به ئی دا بتان	چی ویلی سی ده ته	ابراهیم	وویل (نمرود)	چی راولئ	هغه	په

له یوه ځلمی شخه چی یادول به ئی دا بتان (په بدی سره) چی ویلی سی ده ته ابراهیم. وویل (نمرود) چی راولئ هغه په

اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ﴿٦١﴾ قَالُوْٓا ءَاَنْتَ

اَعْيُنِ	النَّاسِ	لَعَلَّهُمْ	يَشْهَدُوْنَ	قَالُوْٓا	ءَاَنْتَ
مخکښی د سترګو	د خلګو	ښائی چی دوی	ووینی	وویل (بابلیانو)	آیا تا

مخکښی د سترګو د خلګو (چی وئی وینی) ښائی چی دوی ووینی (هغه او شاهدی ورکړی). وویل (بابلیانو) آیا تا

فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖۤ

فَعَلْتَ	هٰذَا	بِاٰلِهَتِنَا	يٰٓاِبْرٰهِيْمُ	قَالَ بَلْ	فَعَلَهٗ
کړی دی	دا کار	په معبودانو زموږ	ای ابراهیمه؟	وویل (ابراهیم) بلکه	کړی دی دا کار

کړی دی دا کار په معبودانو زموږ ای ابراهیمه؟ وویل (ابراهیم) بلکه کړی دی دا کار

كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٣﴾

كَبِيْرُهُمْ	هٰذَا	فَسْـَٔلُوْهُمْ	اِنْ كَانُوْا	يَنْطِقُوْنَ
مشر د دوی	چی دا دی	نو پوښتنه وکړئ تاسی له دوی	که وی دوی	چی خبری کوی

مشر د دوی چی دا دی نو پوښتنه وکړئ تاسی له دوی که وی دوی چی خبری کوی (چی چا ټوټی ټوټی کړی یئ؟)

فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾

فَرَجَعُوْٓا	اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ	فَقَالُوْٓا	اِنَّكُمْ	اَنْتُمُ	الظّٰلِمُوْنَ
پس رجوع وکړه دوی	نفسونو خپلو ته	نو وویل	بیشکه! تاسو	یئ	ظالمان

پس رجوع وکړه (دغو کفارو په فکر کولو سره) نفسونو خپلو ته نو وویل (ځینو ځینو نورو ته) بیشکه! تاسو یئ ظالمان.

قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ..د حضرت ابراهیم علیه السلام قول دروغ نه وو بلکي یوه کنایه وه: یعني کله چي حضرت ابراهیم علیه السلام دده دبرادری خلګو ټینګ او ونیوی نو رايي وستی او دده څخه یي داقرار اخیستو دپاره پوښتنه وکړه چي ایا تا زموږ دبتانو سره دا معامله کړیده ؟ نو حضرت ابراهیم علیه السلام جواب ورکی چي نه بلکي ددوی مشر داکار کړی دی تاسي په خپله دده څخه پوښتنه وکړی که دی خبري کولای سي: دلته اوس یو سوال داپیدا کیږي چي داکار خو ده په خپله کړی وو بیا ددي څخه انکار او دلوی بت طرف ته یي نسبت کول په ظاهره دواقعي څخه خلاف کار دی چي دې ته خو درواغ ویل کیږي او حضرت خلیل الله علیه السلام خو ددي څخه ډیر لوړ دی: ددي جواب دپاره مفسرینو ډیر احتمالات بیان کړي دي په دي کي یو دادی چي دحضرت ابراهیم علیه السلام دغه قول په طور دفرض وو یعني تاسي داسي ولي نه فرضوی چي داکار به دې لوی بت کړی وي او په طور دفرض باندي خلاف واقعه خبره په درواغو کي نه ده داخله الخ.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۳۶)

ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ

ثُمَّ	نُكِسُوْا	عَلٰى رُءُوْسِهِمْ	لَقَدْ	عَلِمْتَ
بیا	نسکور کړل سول دوی	پر سرونو خپلو	چي خامخا په تحقيق	پوه ئی ته

بیا نسکور کړل سول دوی پر سرونو خپلو (یعنی شرمنده سول) چي خامخا په تحقيق پوه ئی ته

مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

مَا هٰٓؤُلَآءِ	يَنْطِقُوْنَ	قَالَ	اَفَتَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ
چي نه دي دا بتان	چي خبري کوی	نو ووېل (ابراهيم)	نو آيا پس تاسی عبادت کوئ	بی له	الله څخه

چي نه دي دا بتان (قابل د دی) چي خبري کوی. نو ووېل (ابراهيم) نو آيا پس تاسی عبادت کوئ بی له الله څخه

مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ ﴿۶۶﴾ اُفٍّ لَّكُمْ

مَا لَا يَنْفَعُكُمْ	شَيْـًٔا	وَّلَا يَضُرُّكُمْ	اُفٍّ	لَّكُمْ
دهغه شی چي نه نفع رسوی تاسی ته	دهيڅ شي	او نه ضرر رسولی سی تاسی ته	نو افسوس دی	تاسی ته

دهغه شی چي نه نفع رسوی تاسی ته د هيڅ شی ا و نه ضرر رسولی سی تاسی ته (دهيڅ شی). نو افسوس دی تاسی ته

وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾

وَلِمَا	تَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ
او هغه ته	چي عبادت ئی کوئ	بی له	الله	نو آيا نه لرئ تاسی دومره عقل هم

او هغه ته چي عبادت ئی کوئ بی له الله نو آيا نه لرئ تاسی دومره عقل هم (چي دخپلو افعالو په قباحت او بدی وپوهيږئ)

قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

قَالُوْا	حَرِّقُوْهُ	وَانْصُرُوْٓا	اٰلِهَتَكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ
ووېل (نمروديانو)	وسوځوئ تاسی دغه (ابراهيم)	او مرسته وکړئ تاسی	دمعبودانو خپلو	که چيری يئ تاسی

ووېل (نمروديانو) وسوځوئ تاسی دغه (ابراهيم) او مرسته وکړئ تاسی د معبودانو خپلو که چيری يئ تاسی

فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾

فٰعِلِيْنَ	قُلْنَا	يٰنَارُ	كُوْنِيْ بَرْدًا	وَّسَلٰمًا	عَلٰٓى	اِبْرٰهِيْمَ
کوونکی	وويل موږ	ای اوره!	سه يخ	او خاوند دسلامتيا	پر	ابراهيم باندی

کوونکی (د دی مرستی د خپلو بتانو سره) .وويل موږ ای اوره! سه يخ او خاوند د سلامتيا پر ابراهيم باندی .

قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ... قوم دابراهيم عليه السلام دافيصله وکړه چي دی دي په اور کي وسوزول سي: په تاريخي رواياتو کي دي چي تريوې مياشتي پوري دټول ښار خلګو ددې کار دپاره خاشاک او بوټي وغيره سامان جمع کوی بيا يي اور ورته ورکی تر اوو ورځو پوري يي هغه ته پوکل ورکول او تيزوی به يي نژدې وه چي دهغه اور شغلي په فضاکي آسمان ته دومره لوړي سوې چي يوه مرغی که به لوړه تيريدله پر دغه شعلو باندي نو سوزيدله به دغه وخت دوی ارده وکړه چي حضرت ابراهيم عليه السلام دي اورته ورواچول سي نو اوس دا فکرپيدا سوچي دی به اورته څنګه ورواچول سي دغه ته ورتلل خو دهيچا په وس کي نه وو نو شيطان دوی ته دمچوغولی په ذريعه يا دتال په ذريعه دوراچولو ترکيب وښووی څه وخت چي دالله جل جلاله خليل ددغو اسبابو په ذريعه وه دي اورته ورواچول سو نو ټولي ملايکي بلکي مځکه او آسمان او ددې ټول مخلوقات په چيغو سول چي ياربه ستا پر خليل څه تيريږي: پاته بيان پر راروان مخ وګوری

وَاَرَادُوۡا بِهٖ كَيۡدًا فَجَعَلۡنٰهُمُ الۡاَخۡسَرِيۡنَ ۝٧٠

وَاَرَادُوۡا	بِهٖ	كَيۡدًا	فَجَعَلۡنٰهُمُ	الۡاَخۡسَرِيۡنَ
او اراده وکړه (نمروديانو)	پر ابراهيم	کيد (مکر د سوځولو)	نو وګرځول موږ دوی	سخت زيانکاران

او وغوښتل (نمروديانو) پر ابراهيم کيد (مکر د سوځولو) نو وګرځول موږ دوی سخت زيانکاران (په خپل فعل کښې).

وَنَجَّيۡنٰهُ وَلُوۡطًا اِلَى الۡاَرۡضِ الَّتِىۡ بٰرَكۡنَا فِيۡهَا

وَنَجَّيۡنٰهُ	وَلُوۡطًا	اِلَى الۡاَرۡضِ	الَّتِىۡ	بٰرَكۡنَا	فِيۡهَا
او نجات موږ ورکړ دغه (ابراهيم) ته	او لوط ته	مځکې	هغه ته	چې برکت اچولی ؤ موږ	په هغې کښې

او نجات مو ورکړ دغه (ابراهيم) ته او لوط ته (چې ځئ له عراقه) مځکې هغه ته چې برکت اچولی ؤ موږ په هغې کښې

لِلۡعٰلَمِيۡنَ ۝٧١ وَوَهَبۡنَا لَهٗۤ اِسۡحٰقَ ؕ وَيَعۡقُوۡبَ نَافِلَةً ؕ

لِلۡعٰلَمِيۡنَ	وَوَهَبۡنَا	لَهٗۤ	اِسۡحٰقَ	وَيَعۡقُوۡبَ	نَافِلَةً
دپاره د خلګو	او ومو بخښل	دغه (ابراهيم ته)	اسحق	او يعقوب	زيات

دپاره د خلګو (چې شام دی). او ومو بخښل دغه (ابراهيم) ته (زوی) اسحٰق او (لمسی) يعقوب زيات

وَكُلًّا جَعَلۡنَا صٰلِحِيۡنَ ۝٧٢ وَجَعَلۡنٰهُمۡ اَئِمَّةً يَّهۡدُوۡنَ

وَكُلًّا	جَعَلۡنَا	صٰلِحِيۡنَ	وَجَعَلۡنٰهُمۡ	اَئِمَّةً	يَّهۡدُوۡنَ
او دغه ټول	ګرځولی دی موږ	نيکان	او ګرځولي وو موږ دوی	امامان	چې سمه صافه لاره ئې ښووله

او دغه ټول ګرځولي دی موږ نيکان. او ګرځولي وو موږ دوی (داسې) امامان چې سمه صافه لاره ئې ښووله

بِاَمۡرِنَا وَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡهِمۡ فِعۡلَ الۡخَيۡرٰتِ وَاِقَامَ

بِاَمۡرِنَا	وَاَوۡحَيۡنَاۤ	اِلَيۡهِمۡ	فِعۡلَ الۡخَيۡرٰتِ	وَاِقَامَ
په حکم زموږ سره	او وحی کړې وه موږ	دوی ته	دکولو د خيراتونو	او د قائمولو

په حکم زموږ سره (خلګو ته). او وحی کړې وه موږ دوی ته د کولو د خيراتونو (نيکو کارونو) او د قائمولو (سم اداء کولو)

الصَّلٰوةِ وَاِيۡتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوۡا لَنَا عٰبِدِيۡنَ ۝٧٣ ۙ

الصَّلٰوةِ	وَاِيۡتَآءَ	الزَّكٰوةِ	وَكَانُوۡا	لَنَا عٰبِدِيۡنَ
دلمانځه	او د ورکولو	دزکوة	او وو دوی (ټول)	خاص موږ ته عبادت کوونکی

دلمانځه او د ورکولو د زکوة، او وو دوی (ټول) خاص موږ ته عبادت کوونکی.

وَاَرَادُوۡا بِهٖ كَيۡدًا فَجَعَلۡنٰهُمُ الۡاَخۡسَرِيۡنَ...د تير مخ پاته بيان دلته وګورئ: الله جل جلاله دې تولو ته د حضرت ابراهيم عليه السلام د مدد کولو اجازت ورکړی ملايکو د مدد کولو دپاره د حضرت ابراهيم عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چې څه کومک وکړو امر کوی نو ده په جواب کې ورته وفرمايل چې زما الله ماته کافي دی هغه ماويني حضرت جبرآئيل امين عرض وکړ چې که ستا زما څخه مدد ته ضرورت وي نو چې زه خدمت وکړم جواب يې ورکړ چې حاجت مې سته خو ستا د طرف څخه نه بلکې د خپل رب د طرف څخه: هغه وو چې الله جل جلاله اور ته امر ورکړ چې ای اوره زما خليل درروان دی نو پرده باندې يخ سه او سلامتي والا يخ سه هغه وو چې اور د الله جل جلاله په امر سره پر حضرت ابراهيم عليه السلام باندې يخ سو نور خو اور وو سوځل يې کولاه خو فقط دی يې نه سوځی. په رواياتو کې دي چې حضرت ابراهيم عليه السلام په دغه اور کې تر اوو ورځو پورې وو او ده به فرمايل چې ماته په ټول عمر کې دومره استراحت نه دی رسيدلی لکه په دې اور کې:
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۴۲)

وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ

وَلُوْطًا	اٰتَيْنٰهُ	حُكْمًا	وَّعِلْمًا	وَّنَجَّيْنٰهُ	مِنَ الْقَرْيَةِ
او لوط ته	ورکړې ؤ موږ ده ته	حکم	او پوهه	او نجات ورکړی ؤ موږ دغه (لوط) ته	له کلي

او لوط ته ورکړې ؤ موږ ده ته حکم (نبوت) او پوهه او نجات ورکړی ؤ موږ دغه (لوط) ته له (خلکو د) کلي

الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ

الَّتِيْ	كَانَتْ	تَّعْمَلُ	الْخَبٰٓئِثَ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	قَوْمَ
هغه چې	وو هغوی	چې کول به ئی عملونه	خبیث ناپاکه	بیشکه! چې هغوی	وو	قوم

هغه چې وو هغوی چې کول به ئی عملونه خبیث ناپاکه بیشکه! چې هغوی وو قوم

سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ ع ۵ ۲۵ ۵

سَوْءٍ	فٰسِقِيْنَ	وَاَدْخَلْنٰهُ	فِيْ رَحْمَتِنَا	اِنَّهٗ	مِنَ الصّٰلِحِيْنَ
د بدی	نافرمان	او داخل کړی ؤ موږ دی	په رحمت خپل کښې	بیشکه! دی	له نیکانو څخه دی

د بدی نافرمان. او داخل کړی ؤ موږ دی په رحمت خپل کښې، بیشکه! دی له نیکانو څخه دی.

وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ

وَنُوْحًا	اِذْ نَادٰى	مِنْ قَبْلُ
او (یاد کړه ای محمده!) نوح	کله چې ږغ ئی وکړ	(په بنیرا د قوم خپل) پخوا

او (یاد کړه ای محمده! قصه د) نوح کله چې ږغ ئی وکړ (په بنیرا د قوم خپل) پخوا (پخوا له ابراهیم او لوط څخه

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ	فَنَجَّيْنٰهُ	وَاَهْلَهٗ	مِنَ الْكَرْبِ	الْعَظِيْمِ
پس قبول کړ موږ ده ته	نو نجات ورکړ موږ ده ته	او کورنۍ د ده ته	له غمه	لویه

پس قبول کړ موږ ده ته (سوال د ده) نو نجات ورکړ موږ ده ته او کورنۍ د ده ته له غمه لویه (چې د طوفان بیره او

وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

وَنَصَرْنٰهُ	مِنَ الْقَوْمِ	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا
او مرسته مو وکړه له ده سره	له قومه	هغه چې	نسبت د دروغو ئی کړی ؤ

د کافرانو ضرر ؤ) او مرسته مو وکړه له ده سره (په انتقام اخیستو د ده) له قومه هغه چې نسبت د دروغو ئی کړی ؤ

وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا

حضرت لوط عليه السلام ته هم الله جل جلاله حکمت او علم ورکړی وو: په دغه ایت کې الله جل جلاله فرمایي چې موږ خپل بنده او نبي لوط عليه السلام ته هم د انبیاوو د شان مناسب علم او حکمت ورکړی وو او موږ ده ته دهغه کلي څخه نجات ورکړی د کمو او سیدونکو چې ګنده ګنده کارونه کول چې په هغو کې د ټولو څخه زیات ناکاره لواطت وو او نور هم د ډیر بې هوده او ناکاره کارونو داخلګ عادت وه ، شراب چیښل ، غزلي اورول ، ږیره خرئیل ، بریت اوږدول ، کوتربازي ، لوټي ویشتل ، شپیلی وهل ، ریښمي جامې اغوستل :حضرت لوط عليه السلام ته چې د کم کلي څخه د نجات ورکولو ذکر په دې ایاتونو کې راغلی دی د دغه کلي نوم سدوم وو د دې تابع اووه کلي نور هم وه کم چې جبرآئیل عليه السلام پاستر او لاندې باندې کړل صرف یو کلی یې باقي پریښودلی وو چې په هغه کې حضرت لوط عليه السلام سره د خپلو متعلقینو مومنانو واوسیدی: تعمل الخبائث ډیرو خبیثو او ګنده عادتونو ته خبائث ویل کیږي.

(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۴۳)

بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۷۷﴾

بِاٰيٰتِنَا	اِنَّهُمْ كَانُوْا	قَوْمَ	سَوْءٍ	فَاَغْرَقْنٰهُمْ	اَجْمَعِيْنَ
آیتونو زموړ ته	بیشکه! دوی وو	قوم	بد (ناکاره)	نو غرق کړل موږ دوی	ټول

آیتونو زموږ ته، بیشکه! دوی وو قوم بد (ناکاره) نو غرق کړل موږ دوی ټول

وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِي الْحَرْثِ

وَدَاوٗدَ	وَسُلَيْمٰنَ	اِذْ يَحْكُمٰنِ	فِي الْحَرْثِ
او (یادکړه ای محمده) داؤد	او سلیمان	کله چې حکم کاوه هغو دواړو	په (دعوی) د کښت

او (یاد کړه ای محمده! قصه د) داؤد او سلیمان کله چې حکم کاوه هغو دواړو په (دعوی او نزاع د) کښت (فصل)

اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ

اِذْ نَفَشَتْ	فِيْهِ	غَنَمُ	الْقَوْمِ	وَكُنَّا	لِحُكْمِهِمْ
کله چې د شپې څرېدلې وه	په هغه کښې	رمه	د (هغه) قوم	او وو موږ	حکم د دوی ته

کله چې د شپې ګډه سوې وه (بې له شپانه) په هغه (کښت) کې رمه د (هغه) قوم او وو موږ حکم د دوی ته

شٰهِدِيْنَ ﴿۷۸﴾ فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا

شٰهِدِيْنَ	فَفَهَّمْنٰهَا	سُلَيْمٰنَ	وَكُلًّا	اٰتَيْنَا	حُكْمًا
حاضر	پس وموپوهاؤ په هغه	سلیمان	او هر یوه د دوی دواړو ته	ورکړې ؤ موږ	حکم (نبوت)

حاضر. پس وموپوهاؤ په هغه (فتویٰ، فیصله) سلیمان او هر یوه د دوی دواړو ته ورکړې ؤ موږ حکم (نبوت)

وَّعِلْمًا ۫ وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ؕ

وَّعِلْمًا	وَّسَخَّرْنَا	مَعَ دَاوٗدَ	الْجِبَالَ	يُسَبِّحْنَ	وَالطَّيْرَ
او پوه	او تابع کړی وو موږ	له داؤد سره	غرونه	چې تسبیح به ئې ویلی	او مرغان هم

او پوه، او تابع کړی وو موږ له داؤد سره غرونه چې تسبیح به ئې ویلی او (هم داسې تابع کړی وو موږ) مرغان هم

وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۷۹﴾ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ

وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ	وَعَلَّمْنٰهُ	صَنْعَةَ	لَبُوْسٍ	لَّكُمْ
او وو موږ کوونکی	او ښوولی ؤ موږ دغه (داؤد) ته	جوړول	دزغری (لباس)	تاسی ته

او وو موږ کوونکی (د داسې کارونو) . او ښوولی ؤ موږ دغه (داؤد) ته جوړول د زغری تاسی ته

وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِي الْحَرْثِ.. دحضرت داوداو سلیمان علیهما السلام قصه او فیصله: په دغه آیت کي الله جل جلاله خطاب نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته کړی دی چي تاسي دداود او سلیمان علیهما السلام قصه ذکر کړی کله چي دواړو حضراتو دفصل په باره کي چي غله په کښي وه یا دانګورو تاکونه وه فیصله کوله کله چي په دې فصل کي د څه خلګو بزې دشپې په وخت کي ورو ختې او په هغه کي وڅریدې او موږ دا فیصله کمه چي دمقدمه کوونکو خلګو متعلق وسوه لیدله نو موږ ددې فیصلې داسان صورت پوهه سلیمان علیه السلام ته ورکړه او هسي هم موږ دواړو ته حکمت او علم ورکړی وو یعني د داود علیه السلام فیصله هم د شریعت څخه خلاف نه وه: صورت دفیصلې داوو چي څومره دفصل نقصان سوی وودهغه قیمت دبزو د قیمت سره برابروو: داود علیه السلام په تاوان کي دفصل خاوند ته هغه بزې ورکړې او اصل مقتضی هم د شرعي قانون داوه مګر په دې کي دبزو دخاوندانو بالکل نقصان کیدی په دې وجه سلیمان علیه السلام په طور دمصالحت **پاته بیان پر راروان مخ وګوری:**

لِتُحۡصِنَكُمۡ مِّنۢ بَأۡسِكُمۡ ۚ فَهَلۡ اَنۡتُمۡ شٰكِرُوۡنَ ﴿٨٠﴾

لِتُحۡصِنَكُمۡ	مِّنۢ بَأۡسِكُمۡ	فَهَلۡ اَنۡتُمۡ	شٰكِرُوۡنَ
دپاره د دی چی وساتی تاسی	له ضرره د جنګ ستاسی	پس آیا یئ تاسی	شکر کوونکی

دپاره د دی چی وساتی تاسی (دازغره) له ضرره د جنګ (د دښمنانو) ستاسی، پس آیا یئ تاسی شکر کوونکی.

وَلِسُلَيۡمٰنَ الرِّيۡحَ عَاصِفَةً تَجۡرِىۡ بِاَمۡرِهٖۤ

وَلِسُلَيۡمٰنَ	الرِّيۡحَ	عَاصِفَةً	تَجۡرِىۡ	بِاَمۡرِهٖۤ
او (تابع کړی ؤ موږ) سلیمان ته	باد	توند	چی روانیده	په حکم د ده

او (تابع کړی ؤ موږ) سلیمان ته باد توند (تیز) چی روانیده په حکم د ده (سلیمان او رساوه به ئی)

اِلَى الۡاَرۡضِ الَّتِىۡ بٰرَكۡنَا فِيۡهَا ؕ وَكُنَّا بِكُلِّ شَىۡءٍ عٰلِمِيۡنَ ﴿٨١﴾

اِلَى الۡاَرۡضِ	الَّتِىۡ	بٰرَكۡنَا	فِيۡهَا	وَكُنَّا	بِكُلِّ شَىۡءٍ	عٰلِمِيۡنَ
مځکی	هغی ته	چی برکت اینبی ؤ موږ	په هغی کښی	او یو موږ	په هر شی	عالمان

مځکی (د شام ته) هغی ته چی برکت اینبی ؤ موږ په هغی کښی، او یو موږ په هر شی عالمان.

وَمِنَ الشَّيٰطِيۡنِ مَنۡ يَّغُوۡصُوۡنَ لَهٗ

وَمِنَ	الشَّيٰطِيۡنِ	مَنۡ يَّغُوۡصُوۡنَ	لَهٗ
او ځینی	له شیطانانو څخه	هغه چی غوتی به ئی وهلی (په سیند کښی)	د ده دپاره

او (تابع کړی وو موږ ده ته) ځینی له شیطانانو څخه هغه چی غوتی به ئی وهلی (په سیند کښی) د ده دپاره

وَيَعۡمَلُوۡنَ عَمَلًا دُوۡنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمۡ حٰفِظِيۡنَ ﴿٨٢﴾ ۙ وَاَيُّوۡبَ

وَيَعۡمَلُوۡنَ	عَمَلًا	دُوۡنَ	ذٰلِكَ	وَكُنَّا لَهُمۡ	حٰفِظِيۡنَ	وَاَيُّوۡبَ
او کول به ئی	کارونه	بی له	دی څخه	او وو موږ دوی لره	ساتونکی	او (یاد کړه ای محمده!) ایوب

او کول به ئی (نور ډیر) کارونه بی له دی څخه او وو موږ دوی لره ساتونکی (له فساد څخه). او (یاد کړه ای محمده!) ایوب

اِذۡ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّىۡ مَسَّنِىَ الضُّرُّ وَاَنۡتَ

اِذۡ نَادٰى	رَبَّهٗۤ	اَنِّىۡ	مَسَّنِىَ	الضُّرُّ	وَاَنۡتَ
کله چی ندا یوغ ئی وکړ	رب خپل ته	چی بیشکه! زه	رسیدلی دی ماته	ضرر	او ته

کله چی ندا یوغ ئی وکړ رب خپل ته چی بیشکه! زه رسیدلی دی ماته ضرر (رنځ او سختی په بدن کښی) او ته

وَلِسُلَيۡمٰنَ الرِّيۡحَ عَاصِفَةً تَجۡرِىۡ بِاَمۡرِهٖ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: کم چي موقوف وو دجانبینو پر رضامندی باندي داصورت په کم کي چي ددواړو دپاره رعایت او آسانی وي خوښ وفرمایي چي دخورځو دپاره دي بزې دفصل خاوند ته وسپاره سي چي په شیدو وغیره یي خپل ګذاره کوي او دبزو خاوندانو ته دي دغه فصل وسپاره سي چي خدمت وغیره یي کوي نو کله چي فصل بیا پر خپل زوړ حالت برابر سي بیا دي فصل او بزې خپلو خپلو مالکانو ته وسپارل سي لکه چي داسي بیان په درمنشور کي راغلی دی پس ددې څخه معلومه سوه چي په دواړو فیصلو کي څه تضاد نسته چي دیوې صحت دي دهغه بلي دعدم صحت مقتضي سي په دې وجه الله ﷻ فرمایي چي: کلاً آتینا حکما و علماً: تردې ځایه پوري دهغه عام کرامت ذکر وو چي الله ﷻ دواړو ته ورکړی او دوی په هغه کي سره مشترک وه: په راروانو ایاتونو کي بیا الله ﷻ دخاصو خاصو کرامتونو بیان کوي چي دواړو ته یي جلا جلا ورکړي وه الخ.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۴۶)

أَرۡحَمُ الرّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَاسۡتَجَبۡنَا لَهٗ فَكَشَفۡنَا مَا بِهٖ

اَرۡحَمُ	الرّٰحِمِيۡنَ	فَاسۡتَجَبۡنَا	لَهٗ	فَكَشَفۡنَا	مَا بِهٖ
ډیر مهربان ئی	له ټولو مهربانانو څخه	پس قبوله کړه موږ	دعاء د ده	پس لري کړ موږ	هغه چې ؤ په ده باندی

ډیر مهربان ئی له ټولو مهربانانو څخه. پس قبوله کړه موږ دعاء د ده پس لري کړ موږ هغه چې ؤ په ده باندی

مِنۡ ضُرٍّ وَّاٰتَيۡنٰهُ اَهۡلَهٗ وَمِثۡلَهُمۡ مَّعَهُمۡ رَحۡمَةً

مِنۡ ضُرٍّ	وَّاٰتَيۡنٰهُ	اَهۡلَهٗ	وَمِثۡلَهُمۡ	مَّعَهُمۡ	رَحۡمَةً
له ضرره	او ورکړ موږ دغه (ایوب) ته	اهل د ده	او په مثل د هغوی	له هغوی سره	په رحمت سره

له (بدني او مالي) ضرره او ورکړ موږ دغه (ایوب) ته اهل د ده او په مثل د هغوی له هغوی سره په رحمت سره

مِّنۡ عِنۡدِنَا وَذِكۡرٰى لِلۡعٰبِدِيۡنَ ﴿٨٤﴾ وَاِسۡمٰعِيۡلَ وَاِدۡرِيۡسَ

مِّنۡ عِنۡدِنَا	وَذِكۡرٰى	لِلۡعٰبِدِيۡنَ	وَاِسۡمٰعِيۡلَ	وَاِدۡرِيۡسَ
له نزده زموږ	او نصیحت	دپاره د عبادت کوونکو	او (یاد کړه ای محمده!) اسمٰعیل	او ادریس

له نزده زموږ، او نصیحت دپاره د عبادت کوونکو. او (یاد کړه ای محمده! قصه د) اسمٰعیل او ادریس

وَذَا الۡكِفۡلِ ؕ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿٨٥﴾ وَاَدۡخَلۡنٰهُمۡ

وَذَا الۡكِفۡلِ	كُلٌّ	مِّنَ الصّٰبِرِيۡنَ	وَاَدۡخَلۡنٰهُمۡ
او ذوالکفل	دغه ټول دی	له صبر کوونکو څخه	او داخل کړی وو موږ دوی

او ذوالکفل، دغه ټول دی له صبر کوونکو څخه (په طاعت او مصیبت او له معصیت څخه). او داخل کړی وو موږ دوی

فِيۡ رَحۡمَتِنَا ؕ اِنَّهُمۡ مِّنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿٨٦﴾ وَذَا النُّوۡنِ

فِيۡ رَحۡمَتِنَا	اِنَّهُمۡ	مِّنَ الصّٰلِحِيۡنَ	وَذَا النُّوۡنِ
په رحمت خپل کښې	بیشکه! چې دوی دی	له صالحانو ، نیکانو ، کاملانو	او یاد کړه خاوند د ماهی

په رحمت خپل کښې (چې نبوت او جنت دی) بیشکه! چې دوی دی له صالحانو نیکانو کاملانو. او یاد کړه خاوند د ماهی

اِذۡ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنۡ لَّنۡ نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ

اِذۡ ذَّهَبَ	مُغَاضِبًا	فَظَنَّ	اَنۡ لَّنۡ	نَّقۡدِرَ	عَلَيۡهِ
کله چې لاړ	حال دا چې په قهر ؤ	پس ګمان ئی وکړ	چې	له سره به نسو موږ قادر	په نیولو د ده

کله چې لاړ حال دا چې په قهر ؤ (په قوم خپل) پس ګمان ئی وکړ چې له سره به نسو موږ قادر په نیولو د ده

فَاسۡتَجَبۡنَا لَهٗ فَكَشَفۡنَا مَا بِهٖ مِنۡ ضُرٍّ... د حضرت ایوب علیه السلام حالات او قصه: په قرآن کریم کي خو دومره ثابته ده چي دوی ته څه سخت مرض ورپیښ سوی وو چي ده صبر پر کړی وو آخريي الله جل جلاله ته دعا وکړه نو ددغه څخه یي نجات پیدا کی او دا چي ددې مریضی په زمانه کي ددوی اولاد او دوستان ټول غائب سوي وه برابره خبره ده که دمرګ په وجه سره وه یا په بله وجه سره بیا الله جل جلاله ده ته صحت او عافیت ورکی او څومره اولادونه چي یي وه هغه یي ټول ده ته واپس کړه بلکي دومره یي نور ورکړه : حضرت ایوب علیه السلام ته الله جل جلاله په اول کي مال او دولت او جائداد او شانداره مکانات او سپرلی او اولاد او نوکران او خادمان بلکي ډیر څه ورکړي وه بیا الله جل جلاله دی په پیغمبرانه ازمایش کي مبتلاکی دا ټول شیان دده ده لاس څخه ووتل او پر بدن یي هم داسي سخته مریضي ولګیده لکه جذام چي وي دبدن یوه حصه یي هم بغیر دژبي او زړه څخه ددې مریضي څخه محفوظه نه سوه ده به په دې حالت کي هم ژبه او زړه دالله جل جلاله په یاد کي ساتي.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۵۶)

فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ

فَنَادٰى	فِي الظُّلُمٰتِ	اَنْ لَّآ	اِلٰهَ	اِلَّآ اَنْتَ	سُبْحٰنَكَ	اِنِّيْ
پس ږغ ئی وکړ	په تیارو کښې	چې نشته	بل برحق معبود	مگر ته ئی (یوازې)	پاکې ده تاته له عیبونو	بیشکه! چې زه

پس ږغ ئی وکړ په تیارو کښې (داسې) چې نشته بل برحق معبود مگر ته ئی (یوازې) پاکې ده تاته له عیبونو بیشکه، چې زه

كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۷﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ

كُنْتُ	مِنَ الظّٰلِمِيْنَ	فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ	وَنَجَّيْنٰهُ
وم	له ظلم کوونکو څخه	پس قبوله کړه موږ دعا د دغه (یونس)	او نجات موورکړ دغه (یونس) ته

وم له ظلم کوونکو څخه (په خپلو تللو بې له حکم). پس قبوله کړه موږ دعاء د دغه (یونس) او نجات مو ورکړ دغه (یونس) ته

مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ نُـْجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾ وَزَكَرِيَّآ اِذْ

مِنَ الْغَمِّ	وَكَذٰلِكَ	نُـْجِي	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَزَكَرِيَّآ	اِذْ
له غمه	او هم داسې	نجات ورکوو موږ	مؤمنانو ته	او (یاد کړه ای محمده!) زکریا	کله چې

له غمه (دسیند او ماهی) او هم داسې نجات ورکوو موږ مؤمنانو ته. او (یاد کړه ای محمده! قصه د) زکریا کله چې

نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ

نَادٰى	رَبَّهٗ	رَبِّ	لَا تَذَرْنِيْ	فَرْدًا	وَّاَنْتَ	خَيْرُ
ږغ وکړ	رب خپل ته	ای ربه زما	مه پرېږده ما	یوازې (بې اولاده)	او ته ئی	غوره

ږغ وکړ رب خپل ته (داسې چې) ای ربه زما مه پرېږده ما یوازې (بې اولاده) او ته ئی غوره

الْوٰرِثِيْنَ ﴿۸۹﴾ ۖ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَاَصْلَحْنَا لَهٗ

الْوٰرِثِيْنَ	فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ	وَوَهَبْنَا لَهٗ	يَحْيٰى	وَاَصْلَحْنَا لَهٗ
له (ټولو) وارثانو څخه	پس قبوله کړه موږ دعاء د دغه	او وموبخښنه دغه (زکریا) ته	یحیٰی	او صالحه مو کړه ده ته

له (ټولو) وارثانو څخه. پس قبوله کړه موږ دعاء د دغه (زکریا) او ومو بخښنه دغه (زکریا) ته یحیٰی او صالحه مو کړه ده ته

زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ

زَوْجَهٗ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	يُسٰرِعُوْنَ
ښځه د ده	بیشکه! دغه (مذکور انبیاء)	وو دوی	چې تلوار به ئی کاوه

ښځه د ده (دولادت له پاره)، بیشکه! دغه (مذکور انبیاء) وو دوی چې تلوار به ئی کاوه (په کولو د نیکو عملونو او طلب)

اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ.. دحضرت یونس عليه السلام **قصه**: په تفسیر ابن کثیر کې دي چې حضرت یونس عليه السلام دموصل په علاقه کښې دیو کلي نینوی خلگو ته دهدایت دپاره لیږل سوی وو حضرت یونس عليه السلام دوی ته دایمان او نیک عمل دعوت ورکی دوی دنافرماني او دسرکښی څخه کار واخیستی نو حضرت یونس عليه السلام ددوی څخه زیات ناراضه سو دکلي څخه ووتی او دوی ته یې وویل چې په درې ورځو کې پر تاسي عذاب راتلونکی دی حضرت یونس عليه السلام کلی پریښووی او ووتی نو اوس ددوی سره دافکر پیدا سو چې اوس به عذاب الهي پر دې قوم باندې راځي په ځینو روایاتو کې دي چې دعذاب څه نښې او نښانې هم راغلې وې نو هغه وو چې قوم یې دخپل کفر او شرک څخه توبه وکړه او دکلي ټول سړي او ښځې او ماشومان دځنګل طرف ته ووتل او خپل څاروي او حیوانان اودهغو بچیان یې هم دځان سره بوتلل او بچي یې دخپلو میندو څخه جلا کړل اوټولو ژړا او فریاد شروع کی او په زاری سره: پاته قصه پر راروان مخ وگوری:

وَيَدۡعُوۡنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ۚ وَكَانُوۡا لَنَا... دتیر مخ پاته

قصه دلته وګورئ: سره يي دالله ﷻ څخه پناه و غوښته دحيوانانو بچيان کم چي يي دمېندو څخه جدا کړي وه ځان ته شور او فرياد جوړکی الله ﷻ ددوی رښتيني توبه او زاری او فریاد قبول کړل او عذاب يي ددوی څخه بند کی بلي خواته حضرت يونس عليه السلام په دې انتظار کي وو چي پر قوم باندي عذاب راغی اودوی به هلاک سوي وي کله چي ده ته پته ولګيده چي عذاب رانغی او قوم صحيح سالم دی نودافکر ورسره پيدا سوچي اوس به زه درواغجن وګڼل سم او دده په قوم کي بيا دارسم هم ووچي څوک به درواغجن وختی هغه به قتل کيدی: په دې وجه دحضرت يونس عليه السلام سره دخپل ځان بيره پيدا سوه نو ده مبارک پر ځای ددې چي دقوم خواته ورسي يوبل ځای ته هجرت شروع کړی په لاره کي درياب وو تر هغه دپوريوتو دپاره په يوې کښتی کي سپور سو اتفاقي خبره وه کښتی په داسي څپو او ګرداب کي ومبتله چي دغرقيدو خطره يي پيدا سوه آخرکار پاته قصه پرراروان مخ وګورئ

فِي الۡخَيۡرٰتِ وَيَدۡعُوۡنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ۚ وَكَانُوۡا لَنَا

فِي الۡخَيۡرٰتِ	وَيَدۡعُوۡنَنَا	رَغَبًا	وَّرَهَبًا	وَكَانُوۡا	لَنَا
په نيکوکارونو کښې	او بللو به ئی موږ	له جهته د مينې	او له جهته د بيرې	او وو دوی	خاص موږ ته

دخيراتونو او بللو به ئی موږ له جهته د مينې (دثواب) او له جهته د بيرې (د عذاب) او وو دوی خاص موږ ته

خٰشِعِيۡنَ ﴿٩٠﴾ وَالَّتِيۡۤ اَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا

خٰشِعِيۡنَ	وَالَّتِيۡۤ	اَحۡصَنَتۡ	فَرۡجَهَا	فَنَفَخۡنَا
بيريدونکی متواضع	او (يادکړه!) هغې	چې پاک ئی ساتلې ؤ	اندام خپل	پس پو کړ موږ

بيريدونکی متواضع. او (ياد کړه ای محمده! قصه د) هغې (جينئ مريمې) چې پاک ئی ساتلې ؤ اندام خپل پس پو کړ موږ

فِيۡهَا مِنۡ رُّوۡحِنَا وَجَعَلۡنٰهَا وَابۡنَهَاۤ اٰيَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٩١﴾

فِيۡهَا	مِنۡ رُّوۡحِنَا	وَجَعَلۡنٰهَا	وَابۡنَهَاۤ	اٰيَةً	لِّلۡعٰلَمِيۡنَ
په (ګريوان د) هغې کښې	له روحه خپله	او موږ وګرځوله دغه (مريمه)	او زوی د دې	دليل	دپاره د خلګو

په (ګريوان د) هغې کښې له روحه خپله او موږ وګرځوله دغه (مريمه) او زوی د دې (عيسیٰ) دليل (د قدرت) دپاره د خلګو

اِنَّ هٰذِهٖۤ اُمَّتُكُمۡ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّاَنَا رَبُّكُمۡ فَاعۡبُدُوۡنِ ﴿٩٢﴾

اِنَّ	هٰذِهٖۤ	اُمَّتُكُمۡ	اُمَّةً	وَّاحِدَةً	وَّاَنَا رَبُّكُمۡ	فَاعۡبُدُوۡنِ
په تحقيق	دا	ملت ستاسی	ملت	يو دی	او زه رب ستاسی يم	پس عبادت کوئ زما

په تحقيق دا ملت (د توحيد ملت) ستاسی ، ملت يو دی او زه رب ستاسی يم پس عبادت کوئ زما (خاص نه د بل).

وَتَقَطَّعُوۡۤا اَمۡرَهُمۡ بَيۡنَهُمۡ ؕ كُلٌّ اِلَيۡنَا رٰجِعُوۡنَ ﴿٩٣﴾

وَتَقَطَّعُوۡۤا	اَمۡرَهُمۡ	بَيۡنَهُمۡ	كُلٌّ	اِلَيۡنَا	رٰجِعُوۡنَ
او ټوټې ټوټې کړ دوی	کار (د دين) خپل	په منځونو خپلو کښې	ټولې فرقې	موږ ته	راتلونکی دی

او ټوټې ټوټې کړ (دغو پخوانيو امتونو) کار (د دين) خپل په منځونو خپلو کښې، ټولې فرقې موږ ته راتلونکی دی

فَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٌ فَلَا كُفۡرَانَ

فَمَنۡ	يَّعۡمَلۡ	مِنَ الصّٰلِحٰتِ	وَهُوَ	مُؤۡمِنٌ	فَلَا كُفۡرَانَ
پس هر څوک	چې عمل وکړی	له نيکو (کارونو) څخه	حال دا چې دی	مؤمن وی	نو نسته بې قدری ضياع

پس هر څوک چې عمل وکړی له نيکو (کارونو) څخه حال دا چې دی مؤمن وی نو نسته بې قدری ضياع

ع ۱۸

لِسَعۡيِهٖ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوۡنَ ﴿٩٤﴾ وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرۡيَةٍ

لِسَعۡيِهٖ	وَاِنَّا لَهٗ	كٰتِبُوۡنَ	وَحَرٰمٌ	عَلٰى	قَرۡيَةٍ
کوښښ د ده	او بیشکه موږ دغه لره	لیکونکي یو	او حرام دی	پر (اهل د)	هر هغه کلي چي

د کوښښ د ده او بیشکه! موږ دغه (کوښښ د ده) لره لیکونکي یو. او حرام دی پر (اهل د) هر هغه کلي چي

اَهۡلَكۡنٰهَاۤ اَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُوۡنَ ﴿٩٥﴾ حَتّٰۤى اِذَا فُتِحَتۡ

اَهۡلَكۡنٰهَاۤ	اَنَّهُمۡ	لَا يَرۡجِعُوۡنَ	حَتّٰۤى	اِذَا	فُتِحَتۡ
هلاک کړي دي موږ دوی لره	چي بیشکه! دوی	به نه راځي بیرته	ترهغه پوري	کله چي	پرانستلې سي

هلاک کړي دي موږ دوی لره (داکار) چي بیشکه! دوی به نه راځي بیرته (موږ ته). ترهغه پوري کله چي پرانستلې سي

يَاۡجُوۡجُ وَمَاۡجُوۡجُ وَهُمۡ مِّنۡ كُلِّ حَدَبٍ يَّنۡسِلُوۡنَ ﴿٩٦﴾

يَاۡجُوۡجُ	وَمَاۡجُوۡجُ	وَهُمۡ	مِّنۡ كُلِّ	حَدَبٍ	يَّنۡسِلُوۡنَ
یا جوج	او ماجوج	او دوی به	له هري	لوړی څخه	چابک راځغلي

یا جوج او ماجوج (او دیوالئ له مخه لري سي) او دوی به له هري لوړی (وچتی) څخه چابک راکښته کیږي.

وَاقۡتَرَبَ الۡوَعۡدُ الۡحَقُّ فَاِذَا هِىَ شَاخِصَةٌ اَبۡصَارُ الَّذِيۡنَ

وَاقۡتَرَبَ	الۡوَعۡدُ	الۡحَقُّ	فَاِذَا هِىَ	شَاخِصَةٌ	اَبۡصَارُ	الَّذِيۡنَ
او نژدې سوه	وعده	حقه	پس ناڅاپه قصه دا ده	چي خلاصي به پاته وي	سترګي	دهغو کسانو چي

او نژدې سوه وعده حقه (قیامت) پس ناڅاپه قصه دا ده چي خلاصي به پاته وي سترګي دهغو کسانو چي

كَفَرُوۡا ؕ يٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِىۡ غَفۡلَةٍ مِّنۡ هٰذَا

كَفَرُوۡا	يٰوَيۡلَنَا	قَدۡ كُنَّا	فِىۡ غَفۡلَةٍ	مِّنۡ هٰذَا
کافران سوي دي	ای هلاکه زموږ راحاضر سه دغه دي وخت دی	په تحقیق وو موږ	په غفلت کښې	له دغې ورځې

کافران سوي دي، (او وائي به) ای هلاکه زموږ راحاضر سه دغه دي وخت دی په تحقیق وو موږ په غفلت کښې له دغې ورځې

بَلۡ كُنَّا ظٰلِمِيۡنَ ﴿٩٧﴾ اِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ

بَلۡ	كُنَّا ظٰلِمِيۡنَ	اِنَّكُمۡ	وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ
بلکه وو موږ	ظالمان	بیشکه! تاسي	او هغه (بتان، شیطانان) چي عبادت ئې کوئ تاسي	بې له

بلکه وو موږ ظالمان (په خپل ځان په کفر سره). بیشکه! تاسي او هغه (بتان، شیطانان) چي عبادت ئې کوئ تاسي بې له

وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرۡيَةٍ اَهۡلَكۡنٰهَاۤ اَنَّهُمۡ... د تیر مخ پاته قصه

دلته وګوري: کښتي وانانو داخبره مقرره کړه چي په کښتي کي دسپرو خلګو څخه یو دریاب ته وغورځول سي نو پاته خلګ به بچ سي ددې کار دپاره په کښتي کي دخلګو په نومونو کي هسکه وسوه اتفاقي خبره وه هسکه دحضرت یونس ﷺ پر نوم باندي راووته کښتي والاوو ته چي شاید دده بزرګي معلومه وه دده یي ودریاب ته دغورځولو څخه انکار وکی او دوباره یي هسکه وکړه بیاهم په کښي دده نوم مبارک راووتی نو حضرت یونس ﷺ ودریدی او خپلي غیر ضروري جامې یي ویستلي او خپل ځان یي دریاب ته ورواچوی بل طرف ته الله ﷻ په بحر اخضر کي یوه ماهي ته حکم وکی هغه په منډه منډه ځان دده ته راورسوی او حضرت یونس ﷺ یي په خپله خیټه کي واخیستی الله ﷻ ماهي ته دا وصیت کړی وو چي نه به دده غوښو ته څه نقصان رسوي او نه دده هډوکو ته څکه چي دا ستا خوراک نه دی بلکي ستا نس دده دپاره دیو خو ورځو قیدخانه ده الخ: (معارف القرآن ج۶پ۱۷ص ۶۴)

اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ اَنۡتُمۡ لَهَا وٰرِدُوۡنَ ﴿٩٨﴾

اللّٰهِ	حَصَبُ	جَهَنَّمَ	اَنۡتُمۡ	لَهَا	وٰرِدُوۡنَ
اللہ څخه	خس (خشاک)	د دوزخ یئ	تاسی	دی دوزخ ته	ننوتونکی یئ

اللہ څخه خس (خشاک) د دوزخ یئ، تاسی (له معبودانو خپلو سره) دی دوزخ ته ننوتونکی یئ.

لَوۡ كَانَ هٰۤؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوۡهَا ؕ

لَوۡ كَانَ	هٰۤؤُلَآءِ	اٰلِهَةً	مَّا وَرَدُوۡهَا
که چیری وی	دغه (بتان)	معبودان	نو نه به وو داخل سوی په دی دوزخ کښی

که چیری وی دغه (بتان شیطانان په ربنتیا سره) معبودان نو نه به وو داخل سوی په دی دوزخ کښی

وَكُلٌّ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٩٩﴾ لَهُمۡ فِيۡهَا

وَكُلٌّ	فِيۡهَا	خٰلِدُوۡنَ	لَهُمۡ	فِيۡهَا
او دا ټول	به په دی دوزخ کښی	تل پراته وی	وی به دغو (عابدانو) ته	په دغه (دوزخ) کښی

او دا ټول (بتان او بت پرستان) به په دی دوزخ کښی تل پراته وی. وی به دغو (عابدانو) ته په دغه (دوزخ) کښی

زَفِيۡرٌ وَّهُمۡ فِيۡهَا لَا يَسۡمَعُوۡنَ ﴿١٠٠﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ

زَفِيۡرٌ	وَّهُمۡ	فِيۡهَا	لَا يَسۡمَعُوۡنَ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ
شور او غوغا	او دوی به	په دی دوزخ کښی	نه اوری هیڅ	بیشکه!	هغه کسان چی

چغی سوری او دوی به په دی دوزخ کښی نه اوری هیڅ (شی د دوزخ د شور ما شور له سببه). بیشکه هغه کسان چی

سَبَقَتۡ لَهُمۡ مِّنَّا الۡحُسۡنٰٓى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنۡهَا

سَبَقَتۡ	لَهُمۡ	مِّنَّا	الۡحُسۡنٰٓى	اُولٰٓئِكَ	عَنۡهَا
مخکی سوی ده	دوی ته	له (جانبه د) موږ	نیکه مرتبه	دغه کسان به	د دوزخ څخه

رومبی (مخکنی) سوی ده دوی ته له (جانبه د) موږ نیکه مرتبه (سعادت، نجات) دغه کسان به له دی دوزخ څخه

مُبۡعَدُوۡنَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسۡمَعُوۡنَ حَسِيۡسَهَا ۚ وَهُمۡ فِىۡ مَا

مُبۡعَدُوۡنَ	لَا يَسۡمَعُوۡنَ	حَسِيۡسَهَا	وَهُمۡ	فِىۡ مَا
لری کړی سوی وی	نه به اوری دغه (جنتیان)	آواز (لمبو د) دوزخ	او دوی به	په هغو نعمتونو کښی وی

لری کړی سوی وی. نه به اوری دغه (جنتیان) ږغ د (لمبو د) دوزخ او دوی به په هغو نعمتونو کښی وی

اِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ. **کفار او ددوی باطل خدایان به ددوږخ خاشاک جوړسي**: په دغه ایت کي الله ﷻ فرمایي چي کافران او ددوی خدایان به دقیامت په ورځ ددوږخ خاشاک جوړسي او په دغه آیت کي دټولو باطلو معبودانو دکمو چي ناجائز عبادت دکفارو مختلفو ډلو په دنیا کي کړی دی ډټولو په جهنم کي داخلیدل بیان سوي دي پردې داشبهه کیدای سي چي ناجائز عبادت خو دعیسی عليه السلام او دعزیر عليه السلام او ملایکو هم سوی دی نو دټولو جهنم دتللو څه مطلب دی؟ ددې جواب حضرت ابن عباس رضي الله عنه ورکړی دی هغه داسي چي دی مبارک فرمایي چي کله دقرآن کریم دغه آیت نازل سو نو دقریشو کافرانو سخت بد وګڼل اوویي ویل چي په دې خو زموږ دمعبودانو سخت توهین سوی دی او دحضرت عیسی عليه السلام او عزیر عليه السلام خو هم عبادت سوی دی الله ﷻ راروان آیت نازل کی چي عیسی او عزیر عليهما السلام او ملایکي به ددې څخه مستثنی وي ځکه چي دهغو دغه عبادت نه خوښ وو او نه یي امر ورکړی وو په هغه سره الـخ.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص ۷۳)

اشْتَهَتْ اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿١٠٢﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ

اشْتَهَتْ	اَنْفُسُهُمْ	خٰلِدُوْنَ	لَا يَحْزُنُهُمُ
چې غواړی ئې	نفسونه د دوی	تل به وی	نه به خفه کوی دوی (جنتيان)

چې غواړی ئې نفسونه د دوی تل به وی. نه به خفه (غمجن) کوی دوی (جنتيان)

الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ

الْفَزَعُ	الْاَكْبَرُ	وَتَتَلَقّٰهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	هٰذَا يَوْمُكُمُ
بيره	ډيره لويه	او ملاقات به کوی له دوی سره	ملائيکی	(او وائی به) دا ورځ د تاسی ده

بيره ډيره لويه او ملاقات به کوی له دوی سره ملائيکی (استقبالاً)(او وائی به) دا ورځ د (ثواب د) ستاسی ده

الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿١٠٣﴾ يَوْمَ نَطْوِي

الَّذِيْ	كُنْتُمْ	تُوْعَدُوْنَ	يَوْمَ نَطْوِي
هغه چې	وی تاسی	چې وعده درسره کړی سوی وه	(ياد کړه ای محمده!) هغه ورځ چې راونغاړو موږ

هغه چې ويئ تاسی چې وعده درسره کړی سوی وه (په دنيا کښی).(ياد کړه ای محمده!) هغه ورځ چې راونغاړو موږ

السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاْنَآ اَوَّلَ

السَّمَآءَ	كَطَيِّ	السِّجِلِّ	لِلْكُتُبِ	كَمَا بَدَاْنَآ	اَوَّلَ
آسمان	لکه نغښتل	دليکل سوی کاغذ	دپاره د ليکل سويو کاغذونو	لکه چې ابتدا ء کړی ؤ موږ	د اول

آسمان لکه نغښتل د سند، طومار دپاره د ليکل سويو کاغذونو لکه چې ابتداء کړی ؤ موږ د اول

خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿١٠٤﴾

خَلْقٍ	نُّعِيْدُهٗ	وَعْدًا	عَلَيْنَا	اِنَّا كُنَّا	فٰعِلِيْنَ
پيدا ښت	بيا اعاده کوو ئې	وعده ده	په موږ	بيشکه! موږ يو	کوونکی (دهغه موعود کار)

پيدا ښت بيا اعاده کوو ئې وعده ده په موږ، بيشکه! موږ يو کوونکی (دهغه موعود کار)

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ

وَلَقَدْ	كَتَبْنَا	فِي الزَّبُوْرِ	مِنْۢ بَعْدِ	الذِّكْرِ	اَنَّ
او خامخا په تحقيق	ليکلی دی موږ	په زبور کښی	وروسته	له نصيحت څخه	دا چې بيشکه!

او خامخا په تحقيق ليکلی دی موږ په زبور کښی وروسته له نصيحت څخه دا چې بيشکه!

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰهُمُ... متقين مسلمانان به دقيامت دورځي دغټ خوف او وهم څخه په امن کي وي: ددغه آيت په تفسير کي حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي دفزع اکبر څخه مراد دوهمه شپيلی ده چي په دې سره به ټول مړي ژوندي سي او د حساب دپاره به ودريږي ځيني حضراتو اوله شپيلی فزع اکبر ګڼلې ده: دامام ابن عربي رحمة الله عليه قول دادی چي شپيلی به درې واره وهل کيږي: اوله شپيلی به دفزع وي چي په دې سره به دټولي دنيا خلګ وبيريږي دې ته يي دلته فزع اکبر ويلی دی: او دوهمه شپيلی به شپيلی دصعق وي چي ټول به په مړه سي او فنا به سي: دريمه شپيلی به شپيلی دبعث وي چي په دې سره به ټوله مخلوقات بيرته راژوندي سي: امام ابن عربي رحمة الله عليه دخپل دغي خبري په دليل او شهادت کي دمسند ابي يعلی او بيهقي عبد ابن حميد ابو الشيخ ابن جرير طبري وغيره څخه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه يو حديث نقل کړی دی چي په هغه حديث شريف ددې خبري بيان راغلی دی: **مظهري**: (معرف القرآن ج۶ پ۱۷ ص ۷۴)

الْاَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ﴿١٠٥﴾ اِنَّ فِيْ هٰذَا

الْاَرْضَ	يَرِثُهَا	عِبَادِيَ	الصّٰلِحُوْنَ	اِنَّ فِيْ هٰذَا
دغه مځکه	مالکان کیږی به ئی	بندګان زما	چی نیکان دی	بیشکه! په دی (تیر بیان کښی)

دغه مځکه مالکان کیږی به ئی (بالاخرهغه) بندګان زما چی نیکان دی (او په میراث به ئی وړی). بیشکه! په دی (تیربیان)

لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿١٠٦﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً

لَبَلٰغًا	لِّقَوْمٍ	عٰبِدِيْنَ	وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ	اِلَّا	رَحْمَةً
خامخا کافی مضمون دی	دپاره د قوم	عبادت کوونکو	او نه ئی لیږلی موږته (ای محمده!)	مګر	رحمت

خامخا (سبب د) وصول د مطلب دی دپاره د قوم عبادت کوونکو. او نه ئی لیږلی موږته (ای محمده!) مګر رحمت

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ

لِّلْعٰلَمِيْنَ	قُلْ	اِنَّمَا	يُوْحٰٓى	اِلَيَّ	اَنَّمَآ
دپاره د (ټولو) مخلوقاتو	ووایه (محمده!)	بیشکه! خبره هم دا ده	چی وحی کولی سی	ماته داسی	بیشکه! هم دا خبره ده

دپاره د (ټولو) عالمیانو. ووایه (ای محمده!) بیشکه! خبره هم دا ده چی وحی کولی سی ماته داسی بیشکه! هم دا خبره ده

اِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٠٨﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ

اِلٰـهُكُمْ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	فَهَلْ	اَنْتُمْ	مُّسْلِمُوْنَ	فَاِنْ تَوَلَّوْا	فَقُلْ
چی الله ستاسی	الله	یو دی	آیا پس	یئ تاسی	اسلام راوړونکی	پس که وګرځیدل دوی	نو ووایه (ای محمده!)

چی الله ستاسی الله یو دی آیا پس یئ تاسی اسلام راوړونکی. پس که وګرځیدل دوی (له ایمان څخه) نو ووایه (محمده!)

اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ وَاِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ

اٰذَنْتُكُمْ	عَلٰى	سَوَآءٍ	وَاِنْ اَدْرِيْٓ	اَقَرِيْبٌ	اَمْ بَعِيْدٌ
چی خبروم زه تاسی	په	برابری سره	او نه پوهیږم زه	چی آیا نژدی دی	که لری دی

چی خبروم زه تاسی (په هغه شی چی زه په مکلفه یم) په برابری سره، او نه پوهیږم زه چی آیا نژدی دی که لری دی

مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿١٠٩﴾ اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ

مَّا تُوْعَدُوْنَ	اِنَّهٗ	يَعْلَمُ	الْجَهْرَ	مِنَ الْقَوْلِ
هغه څه چی ستاسی سره وعده سوی دی	بیشکه! چی دغه (الله) ته	معلوم دی	ښکاره	له خبرو

هغه څه چی ستاسی سره وعده سوی دوی. بیشکه! چی دغه (الله) ته معلوم دی ښکاره له خبرو (بلکه له کارونو هم)

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ.. نبي کريم ﷺ دتمام جهان دمخلوقاتو دپاره رحمت دی : عالمين جمع دعالَم ده چي ټول مخلوقات انسانان ،پيريان ، حيوانات ، نباتات ، جمادات ، ټول په کښي داخل دي دنبي کريم ﷺ ددې ټولو شيانو دپاره رحمت کيدل داسي دي چي دټولو کائناتو حقيقي روح دالله ﷻ ذکر او دهغه عبادت دی : داوجه ده چي کله دمځکي څخه داروح ووزي او پر مځکه يو څوک الله ﷻ ويونکی پاته نه سي نو ددې ټولو شيانو مرگ يعني قيامت به راسي او کله چي دا معلومه سوه چي ددې ټولو شيانو روح دالله ﷻ ذکر او عبادت دی نو دنبي کريم ﷺ رحمت کيدل ددې ټولو شيانو دپاره خودبخوده ښکاره او ظاهره سوه ځکه چي په دې دنيا کي تر قيامته پوري دالله ﷻ ذکر او عبادت ددوی ﷺ په قدم قدم او تعليماتو سره قائم دی په دې وجه نبي کريم ﷺ فرمايي چي: انا رحمة مهداة: چي زه دالله ﷻ دطرف څخه راليږل سوی رحمت يم اودنبي کريم ﷺ جهاد کول هم يو قسم رحمت دی الخ.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص ۷۸)

وَيَعۡلَمُ مَا تَكۡتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنۡ أَدۡرِيۡ لَعَلَّهٗ فِتۡنَةٌ

وَيَعۡلَمُ	مَا تَكۡتُمُونَ	وَإِنۡ أَدۡرِيۡ	لَعَلَّهٗ	فِتۡنَةٌ
او معلوم دی دته	هغه چې پټوئ ئې تاسی	او نه پوهیږم زه	ښائی چې دغه تاخیر دعذاب	ازمایښت وی

او معلوم دی هغه چې پټوئ ئې تاسی (له حسد کینی او نورو هم). او نه پوهیږم زه ښائی چې دغه تاخیر د عذاب ازموینه وی

لَّكُمۡ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾ قٰلَ رَبِّ احۡكُمۡ بِالۡحَقِّ


لَّكُمۡ	وَمَتَاعٌ	إِلَىٰ حِينٍ	قٰلَ	رَبِّ	احۡكُمۡ	بِالۡحَقِّ
تاسی لره	او نفع وی	تر یوه وخته پوری	وویل (رسول)	ای ربه زما	حکم وکړه (په مینځ زموږ کښی)	په حقه سره

تاسی لره او نفع وی تر یوه وخته (دمرګه) پوری. وویل (رسول) ای ربه زما حکم وکړه په مینځ زموږ کښی په حقه سره.

وَرَبُّنَا الرَّحۡمٰنُ الۡمُسۡتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوۡنَ ﴿١١٢﴾

وَرَبُّنَا	الرَّحۡمٰنُ	الۡمُسۡتَعَانُ	عَلٰى مَا	تَصِفُوۡنَ
اورب زموږ	ډیر مهربان دی	مرسته تری غوښتل سوی ده	په هغو خبرو	چې بیانوئ ئې تاسی

او رب زموږ ډیر مهربان دی مرسته تری غوښتل سوی ده په هغو خبرو چې بیانوئ ئې تاسی.



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ ۚ اِنَّ زَلۡزَلَةَ السَّاعَةِ

يٰٓاَيُّهَا	النَّاسُ	اتَّقُوۡا	رَبَّكُمۡ	اِنَّ زَلۡزَلَةَ	السَّاعَةِ
ای	خلګو	ځان وساتئ تاسی	له (عذابه د) رب خپل	بیشکه! چې زلزله	دقیامت

ای خلګو ځان وساتئ (وبیریږئ) تاسی له (عذابه د) رب خپل، بیشکه! چې زلزله د قیامت

شَيۡءٌ عَظِيۡمٌ ﴿١﴾ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ

شَيۡءٌ	عَظِيۡمٌ	يَوۡمَ	تَرَوۡنَهَا	تَذۡهَلُ	كُلُّ	مُرۡضِعَةٍ
(یو) شی دی	ډیر لوی	په هغه ورځ چې	ووینئ تاسی هغه چې	غافله به سی	هره	تی ورکوونکی

(یو) شی دی ډیر لوی. په هغه ورځ چې ووینئ تاسی هغه چې غافله به سی هره تی ورکوونکی (د دی ورځی له هیبت څخه)

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ ۚ اِنَّ زَلۡزَلَةَ... دسورت حج

خصوصیات: ددغه سورت په مکي کیدو یا مدني کیدو کي اختلاف دی: دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دغه دواړه روایتونه نقل دي دجمهورو تفسیر لیکونکو قول دادی چي داسورة دمکي او مدني ایاتونو څخه مخلوط جوړ دی قرطبي دا خبره صحیح ګڼلې ده او بیا فرمایي چي ددغه سورت په عجائباتو کي داخبره ده چي ددي دایاتونو نزول دځینو ده په شپه کي سوی دی دځینو ده په ورځ کي دځینو دپه سفر کي، دځینو ده په حضر کي، دځینو ده په مکه کي، دځینو ده په مدینه کي، دځینو ده دجنګ اوجهاد په وخت کي، او دځینو ده دصلح اوامن په حالت کي سوی دی او په دي کي ځیني ایاتونه ناسخ دي او ځیني بیا منسوخ دي او ځیني بیا محکم او ځیني بیا متشابه دي ځکه چي داسورت دتنزیل پر ټول اقسامو باندي مشتمل سورت دی: او الله جل جلاله دسورت په شروع کي وخپلو بندګانو ته د ایمان او طاعت داختیاره کولو حکم ورکړی دی په عنوان دتقوی سره الخ.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص ۷۹)

نصف ع ١٩

عَمَّآ اَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا

عَمَّآ	اَرۡضَعَتۡ	وَتَضَعُ	كُلُّ	ذَاتِ حَمۡلٍ	حَمۡلَهَا
له هغه ماشومه	چې تې ورکوی هغه ته	او وبه غورځوی	هره	خاوندهٔ دحمل	حمل خپل

له هغه ورو کی چی تی ورکوی هغه ته او وبه غورځوی هر میرمن حامله (امیدواره) حمل (بچی) خپل

وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمۡ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ

وَتَرَى	النَّاسَ	سُكٰرٰى	وَمَا هُمۡ	بِسُكٰرٰى	وَلٰكِنَّ	عَذَابَ
او وبه وینی ته	خلک	بی هوشه	او نه به وی	بی هوشه	ولیکن	عذاب

او وبه وینی ته خلک بی هوشه او نه به وی بی هوشه ولیکن عذاب

اللّٰهِ شَدِيۡدٌ ﴿٢﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ

اللّٰهِ	شَدِيۡدٌ	وَمِنَ	النَّاسِ	مَنۡ يُّجَادِلُ	فِي	اللّٰهِ
دالله	ډیر سخت دی	او ځینی	له خلکو څخه	هغه دی چی جګړه کوی	په (حق او خبرو د)	الله کښې

د الله دی ډیر سخت او ځینی له خلکو څخه هغه دی چی جګړه کوی په (حق او خبرو د) الله کښې

بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطٰنٍ مَّرِيۡدٍ ﴿٣﴾ كُتِبَ

بِغَيۡرِ	عِلۡمٍ	وَّيَتَّبِعُ	كُلَّ شَيۡطٰنٍ	مَّرِيۡدٍ	كُتِبَ
بی له	پوهی	او متابعت کوی	د هر شیطان	سرکش	لیکل (حکم) سوی دی

بی له پوهی (له خپلی ناپوهی) او متابعت کوی د هر شیطان سرکش. لیکل (حکم) سوی دی

عَلَيۡهِ اَنَّهٗ مَنۡ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ

عَلَيۡهِ	اَنَّهٗ	مَنۡ تَوَلَّاهُ	فَاَنَّهٗ	يُضِلُّهٗ
په دغه چی	بیشکه! شان دادی چی	هر څوک چی دوستی او متابعت وکړی د شیطان	پس بیشکه! (دا شیطان)	ګمراه کوی دغه

په دغه چی بیشکه! شان دا دی چی هر څوک چی دوستی او متابعت وکړی د شیطان پس بیشکه! (دا شیطان) ګمراه کوی دغه

وَيَهۡدِيۡهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيۡرِ ﴿٤﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنۡ كُنۡتُمۡ فِيۡ رَيۡبٍ

وَيَهۡدِيۡهِ	اِلٰى عَذَابِ	السَّعِيۡرِ	يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	فِيۡ رَيۡبٍ
او لاره ښیی ده ته	عذاب	د دوزخ ته	ای	خلګو!	که یئ تاسی	په شک کښې

(تابع خپل) او لاره ښیی ده ته (بیا یی ئی) عذاب د دوزخ ته. ای خلګو! که یئ تاسی په شک کښې

وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا... دقیامت دورځي زلزله به کله وي؟

دقیامت دقائمیدو او د خلګو ددوباره ژوندي کیدو څخه وروسته یا ددې څخه مخکي؟ ځیني فرمایي چي دابه دقیامت څخه مخکي په دې دنیا کي وي او دقیامت دآخري نښانو څخه به شماروي دکم ذکر چي دقرآن کریم په ډیرو ایاتونوکي راغلی دی: (اذا زلزلت الارض زلزالها :وحملت الارض والجبال فدکتا دکة واحدة : اذا رجت الارض رجا) او ځینو حضراتو دتیرذکر سوي حدیث څخه استدلال کړی دی او دایي ګڼلې ده چي دازلزله به دحشراو نشر اوددوباره ژوندي کیدو څخه وروسته وي او حقیقت دادی چي په دواړو کي څه منافات نسته: دقیامت څخه مخکي زلزله هم دقرآن کریم په ایاتونو او صحیح احادیثو سره ثابته ده او حشر او نشر څخه وروسته کیدل یي هم په ذکر سوي حدیث سره ثابت دي: دقیامت ددغي زلزلې کیفیت په دغه آیت کي داسي ذکر سوی دی چي په دغه ورځ به حملداره ښځي خپل حمل دډیره هیبته او بیري څخه وغورځوي (معارف القرآن ج۶پ۱۷ ص۸۰)

مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن

مِّنَ الْبَعْثِ	فَإِنَّا	خَلَقْنَاكُم	مِّن تُرَابٍ	ثُمَّ مِن
له راپورته کيدو څخه	پس بيشکه! چي موږ	پيدا کړي دي موږ (نيکه د) تاسي	له خاوري	بيا له

له بعث څخه (چي خلګ بيا ژوندي پورته کيږي) پس بيشکه! چي موږ پيدا کړي دي (نيکه د) تاسي له خاوري بيا له

نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ

نُّطْفَةٍ	ثُمَّ	مِنْ عَلَقَةٍ	ثُمَّ	مِن مُّضْغَةٍ	مُّخَلَّقَةٍ	وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ
يوه څاڅکي څخه	بيا	له کلکي پرنډي ويني	بيا	له يوی توټي غوښي	چي مکمله وی	او نا مکمله

يوه څاڅکي (مني) څخه بيا له (يوی توټي) کلکي پرنډی ويني بيا له يوی توټي غوښي چي مکمله وی او نا مکمله وی

لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ

لِّنُبَيِّنَ	لَكُمْ	وَنُقِرُّ	فِي الْأَرْحَامِ	مَا نَشَاءُ
چي بيان کړو موږ	تاسی ته	او ثابت پريږدو موږ	په ارحامو کښي	هغه شي چي اراده وکړو

چي بيان کړو موږ تاسی ته (حکمت او قدرت) او ثابت پريږدو موږ په ارحامو کښي هغه شي چي اراده وکړو (دهغه داثبات)

إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا

إِلَىٰ	أَجَلٍ	مُّسَمًّى	ثُمَّ	نُخْرِجُكُمْ	طِفْلًا	ثُمَّ	لِتَبْلُغُوا
تر	نيټي	معلومي پورې	بيا	راوباسو موږ تاسی	ماشوم	بيا	ترهغه پورې چي ورسيږئ تاسی

تر نيټي معلومي پورې بيا راوباسو موږ تاسی (له نسونو دميندو ستاسی) طفل (وئ) بيا ترهغه پورې چي ورسيږئ تاسی

أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم

أَشُدَّكُمْ	وَمِنكُم	مَّن يُتَوَفَّىٰ	وَمِنكُم
کمال او قوت خپل ته	او ځيني له تاسي څخه	هغه دي چي وفات کولي سي	او ځيني له تاسي څخه

کمال او قوت خپل ته او ځيني له تاسي څخه هغه دي چي وفات کولي سي او ځيني له تاسي څخه

مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا ۚ

مَّن يُرَدُّ	إِلَىٰ أَرْذَلِ	الْعُمُرِ	لِكَيْلَا يَعْلَمَ	مِن بَعْدِ	عِلْمٍ	شَيْئًا
هغه دي چي رد کاوه سی	ترناکاره	عمره پوری	دپاره د دې چي نه پوهيږي	وروسته	له پوهي	په هيڅ شي

هغه دي چي رد کاوه سی ترناکاره عمره پوری دپاره د دې چي نه پوهيږي وروسته له پوهي په هيڅ شي .

فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ... دمور په نس کي دانسان دجوړيدو مختلفي درجې او مختلف حالات: په دغه آيت کي الله ﷻ دمور په نس او ګيډه کي دننه دانسان دجوړيدو دمختلفو درجو بيان کړی دی: دديٓ تفصيل په يوه حديث شريف کي داسي راغلي دی دکم چي دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي او هغه رشتيا ويونکي او په رشتيا پوهيدونکی دی چي دانسان ماده تر څلويښتو ورځو پوري په رحم کي جمع وي بيا دڅلويښتو ورځو څخه وروسته علقه يعني منجمده وينه سي، بيا په څلويښتو ورځو کي دغه مضغه يعني غوښه جوړه سي دديٓ څخه وروسته دالله ﷻ دطرف څخه يوه ملايکه وليږل سي کمه چي په دې کي روح پوکي او ددې متعلق څلور خبري دغه ملايکه ليکي: اول داچي ددې عمر به څومره وي: دوهم دا چي ددې رزق به څومره وي: دريم داچي څه عمل به کوي: څلورم داچي دی به بدبخته شقي وي، اوکه خوش نصيبه نيک به وي: الحديث نقله القرطبي. (معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص ۸۴)

وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ...دانسان دابتدايي جوړيدو څخه وروسته دعمر مختلفي درجي اوحالات: دحضرت انس ابن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي بچی تر څو پوري بالغ سوی نه وي دده نيک عمل دده دپلار يا مور او پلار په حساب کي ليکل کيږي او کم چي بدعمل کوي نو هغه نه دده په حساب کي ليکل کيږي نه دمور او پلار په حساب کي ليکل کيږي بيا چي کله دی بالغ سي نو دحساب قلم دده دپاره جاري سي او دوې ملايکي کمي چي دده سره اوسيږي هغوی ته هم حکم کيږي چي دده حفاظت کوي او قوت ته يي ورسوي کله چي داسلام په حالت کي دڅلويښتو کالو عمر ته ورسيږي نو الله جل جلاله دی ددرې قسمه مريضيو څخه محفوظه کي يعني دجنون، جذام، اوبرص، څخه کله چي دپنځوسو کالو عمر ته ورسيږي نو الله جل جلاله دده حساب سپک کړي کله چي شپيتو کالو ته ورسيږي نو الله جل جلاله ورته خپل طرف ته درجوع توفيق ورکړي او کله چي اويا کالو ته ورسيږي نو ټول اسمان والا دده سره محبت شروع کړي.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۸۰)

وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ

وَتَرَى	الْاَرْضَ	هَامِدَةً	فَاِذَآ	اَنْزَلْنَا	عَلَيْهَا	الْمَآءَ
او وینی به ته	مځکه	وچه شاړه	نو هر کله چي	نازلی کړو موږ	په دغی	اوبه

او وینی به ته مځکه وچه شاړه نو هر کله چي نازلی کړو موږ په دغی (وچي مځکی د آسمان له خوا) اوبه

اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍ بَهِيْجٍ ⑤

اهْتَزَّتْ	وَرَبَتْ	وَاَنْۢبَتَتْ	مِنْ كُلِّ	زَوْجٍ	بَهِيْجٍ
نو ښورېږي	او وپړسیږي	او زرغونه کړی	له هر قسم	نباتاتو څخه	ښائسته تاند

نو وخوځیږي او ده شي او زرغونه کړی له هر قسم نباتاتو څخه ښائسته تاند، تنکی تیغ (د وښو په شنه کیدلو سره).

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ

ذٰلِكَ	بِاَنَّ	اللّٰهَ	هُوَ الْحَقُّ	وَاَنَّهٗ	يُحْيِ	الْمَوْتٰى	وَاَنَّهٗ
دغه	په سبب د دی چي بیشکه!	الله	هم دی دی حق	او بیشکه! دی	ژوندی کوی	مړی	او بیشکه! الله

دغه (قسم قسم پیدا کول) په سبب د دی چي بیشکه! الله هم د ی دی حق او بیشکه! دی ژوندی کوی مړی او بیشکه! الله

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ⑥ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	وَّاَنَّ	السَّاعَةَ	اٰتِيَةٌ	لَّا رَيْبَ
په هر شی	ښه قادر دی	او بیشکه! چي	قیامت	راتلونکی دی	چي نشته هیڅ شک

په هر شی (چي اراده وکړی) ښه قادر دی. او بیشکه! چي قیامت راتلونکی دی چي نشته هیڅ شک

فِيْهَا ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ⑦ وَمِنَ

فِيْهَا	وَاَنَّ	اللّٰهَ	يَبْعَثُ	مَنْ فِي	الْقُبُوْرِ	وَمِنَ
په (راتلو) د دغه کښی	او بیشکه! چي	الله	بیاژوندی راپورته کوی	هر هغه چي	په قبرونو کښی دی	او ځینی له

په (راتلو) د دغه (قیامت) کښی او بیشکه! چي الله بیاژوندی راپاڅوی هر هغه چي په قبرونو کښی دی. او ځینی له

النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى

النَّاسِ	مَنْ يُّجَادِلُ	فِي	اللّٰهِ	بِغَيْرِ	عِلْمٍ	وَّلَا هُدًى
خلکو	هغه دی چي جګړه کوی	په (حق، قدر یا کلام د)	الله کښی	بی له	پوهی	او بی له دلیله لاری سمی

خلکو هغه دی چي جګړه کوی په (حق یا قدر یا کلام د) الله کښی بی له پوهی او بی له دلیله لاری سمی

وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۙ﴿۸﴾ ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ

وَّلَا كِتٰبٍ	مُّنِيْرٍ	ثَانِيَ	عِطْفِهٖ	لِيُضِلَّ	عَنْ سَبِيْلِ
او بی له کتابه	روښانه	چې تاوونکی وی	د څنګ خپل	چې ګمراه کړی خلګ	له لارې

او بی له کتابه روښانه. په داسی حال چې اړوی څنګ خپل چې ګمراه کړی خلګ له لارې

اللّٰهِ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

اللّٰهِ	لَهٗ	فِي الدُّنْيَا	خِزْيٌ	وَّنُذِيْقُهٗ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
دالله	سته ده لره	په دنیا کښی	رسوائی	او وبه څکوو موږ ده لره	په ورځ د قيامت کښی

د الله، سته ده لره په دنیا کښی رسوائی او وبه څکوو موږ ده لره په ورځ د قيامت کښی

عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۹﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ

عَذَابَ	الْحَرِيْقِ	ذٰلِكَ	بِمَا	قَدَّمَتْ	يَدٰكَ
عذاب	سوځوونکی	دا عذاب او رسوائی	په سبب د هغو عملونو دی	چې پخوا لیږلی دی	دواړو لاسونو ستا

عذاب (د اور) سوځوونکی. دا عذاب او رسوائی په سبب د هغو عملونو دی چې پخوا لیږلی دی دواړو لاسونو ستا

وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۰﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

وَاَنَّ	اللّٰهَ	لَيْسَ	بِظَلَّامٍ	لِّلْعَبِيْدِ	وَمِنَ	النَّاسِ	مَنْ
او بیشکه!	الله	نه دی	ظلم کوونکی	پر بندګانو	او ځینی	له خلګو	هغه څوک دی

او بیشکه! الله نه دی ظلم کوونکی پر بندګانو (خپلو). او ځینی له خلګو هغه څوک دی

يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ

يَّعْبُدُ	اللّٰهَ	عَلٰى	حَرْفٍ	فَاِنْ	اَصَابَهٗ	خَيْرٌ
چې عبادت کوی	دالله	په	څنګ باندی	پس که	ورسیږی ده ته	کوم خیر

چې عبادت کوی د الله په څنګ باندی (شک او شبهه) پس که ورسیږی ده ته کوم خیر (په سبب د دین سره لکه صحت او غنٰی)

اطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا

اطْمَاَنَّ بِهٖ	وَاِنْ	اَصَابَتْهُ	فِتْنَةٌ	انْقَلَبَ	عَلٰى وَجْهِهٖ	خَسِرَ	الدُّنْيَا
نو قائم پاتی سی په دغه	او که	ورسیږی ورته	کوم مصیبت	نو بیرته وګرځی	پر مخ خپل	زیانکار سو	په دنیا کښی

نو قائم پاتی سی په دغه او که ورسیږی ورته کوم مصیبت نو بیرته وګرځی پر مخ خپل (کفرته نو) زیانکار سو په دنیا کښی

ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ۔۔ ځيني كسان دالله ﷻ عبادت داسي كوي لكه څوك چي ديو شي په كناره باندي ولاړ وي: دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چي كله نبي كريم ﷺ هجرت وكړى اوپه مديني منورې كي مقيم سونو ځيني نور داسي خلګ به راتلل مسلمانيدل چي په زړونو كي يي دايمان پوخوالى نه وو كه داسلام راوړلو څخه وروسته به ددوى په اولاد او مال كي زياتوالى راغى نو ويل به يي چي دادين ښه دين دى اوكه ددې خلاف به وسول يعني كه به يي په مال او اولاد كي كمى راغى نو ويل به يي چي دادين ښه دين نه دى دداسي خلګو په باره كي الله ﷻ داآيت نازل كى اووې فرمايل چي دغه خلګ دايمان پر يوه كناره باندي ولاړ دي كه دده ته دايمان څخه وروسته دنيوي راحت ،مال او اسباب حاصل سي نو پر اسلام باندي پاته سي او كه په طور دازمايش په څه تكليف او پريشانى كي اخته سي نو ددين څخه واپس سي يعني تر مطلبه كار كوي اخلاص او للهيت نه وي ورسره.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۸۸)

ع-۸

وَالۡاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الۡخُسۡرَانُ الۡمُبِيۡنُ ⑪ يَدۡعُوۡا

وَالۡاٰخِرَةَ	ذٰلِكَ	هُوَ الۡخُسۡرَانُ	الۡمُبِيۡنُ	يَدۡعُوۡا
او په آخرت کښې	دغه	هم دغه زيان دی	ښکاره	عبادت کوی

او (زيانکار سو په) آخرت کښې دغه (د دواړو جهانو زيان) هم دغه زيان دی ښکاره. غواړی دی (عبادت کوی مشرک)

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنۡفَعُهٗ ؕ

مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مَا لَا يَضُرُّهٗ	وَمَا لَا يَنۡفَعُهٗ
غير له	الله	دهغه څه چی نه ضرر رسولی سی ورته	او دهغه چی نه نفع رسولی سی ورته هغه

غير له الله دهغه څه چی نه ضرر رسولی سی ورته او دهغه چی نه نفع رسولی سی ورته دغه (عبادت ماسوی د الله)

ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الۡبَعِيۡدُ ⑫ يَدۡعُوۡا لَمَنۡ ضَرُّهٗۤ

ذٰلِكَ هُوَ	الضَّلٰلُ	الۡبَعِيۡدُ	يَدۡعُوۡا	لَمَنۡ	ضَرُّهٗۤ
هم دغه	گمراهي ده	ډيره لری	عبادت کوی دوی	دهغه (معبود)	چی ضرر د هغه

هم دغه گمراهي ده ډيره لری (له حقه له مقصده). بولی دوی (عبادت کوی مشرکان) دهغه (معبود) چی ضرر دهغه

اَقۡرَبُ مِنۡ نَّفۡعِهٖ ؕ لَبِئۡسَ الۡمَوۡلٰى وَلَبِئۡسَ الۡعَشِيۡرُ ⑬

اَقۡرَبُ	مِنۡ نَّفۡعِهٖ	لَبِئۡسَ	الۡمَوۡلٰى	وَلَبِئۡسَ	الۡعَشِيۡرُ
ډير نژدی دی	له گټی د هغه	خامخا بد	دوست دی (دا بت)	او خامخا بد	ملگری دی (دا بت)

ډير نژدی دی له گټی د هغه (معبود) خامخا بد دوست دی (دا بت) او خامخا بد ملگری دی (دا بت).

اِنَّ اللّٰهَ يُدۡخِلُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

اِنَّ	اللّٰهَ	يُدۡخِلُ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ
بيشكه! چی	الله	ننه باسی	هغه کسان چی	ايمان ئی راوړی دی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)

بيشكه! چی الله ننه باسی هغه کسان چی ايمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه په داسی)

جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفۡعَلُ

جَنّٰتٍ	تَجۡرِىۡ	مِنۡ تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَفۡعَلُ
په جنتونو کښی	چی بهيږی	له لاندی دهغو	ويالی	بيشكه! چی	الله	کوی

جنتونو کښی چی بهيږی له لاندی (د ونو او ماڼيو د هغو ځلور قسمه) ويالی. بيشكه! چی الله کوی

ذٰلِكَ هُوَ الۡخُسۡرَانُ الۡمُبِيۡنُ

کفر او دالله ﷻ نافرماني انسان ددنيا اوداخرت دناکامی سره مخ کوي:

الله ﷻ فرمايي هغه کسان چي زما دحق ذات څخه ماسوا دنورو باطلو خدايانو عبادت کوي هغوی هم په دې دنيا کي ناکامه سول او دآخرت ناکامي خو يي ښکاره ده ددنيا نقصان خو په دنياوي ازمايش کم چي په يو مصيبت سره وي او دآخرت نقصان يي داسو چي اسلام او خدای يي پريښووی اودداسي شي په عبادت شروع سول کم چي دومره عاجزه او بې وسه دي چي نه دوی ته نقصان رسولای سي او نه دوی ته نفع رسولای سي يعني که يي دوی عبادت ونه کي نو هغوی ورته څه نقصان نه سي رسولای او که يي عبادت کوي نو دنفع رسولو اختيار نه لري او داښکاره خبره ده چي دقادر مطلق ذات عبادت پريښوول او داسي بې وسه شيان اختيارول سراسر تاوان دی او داددوی دانتهايي درجې گمراهي ده او صرف دانه چي نفع نه سي ورته رسولای بلکي چپه ضرر او نقصان دی چي نتيجه يي ددوږخ اور دی.
(معرف القرآن ج۶پ۱۷ص۸۸)

مَا يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ

مَا يُرِيْدُ	مَنْ كَانَ	يَظُنُّ	اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ
هر هغه چي اراده وکړي	هر څوک چي وي	چي گمان کوي	ددی چي له سره به مرسته ونه کړي له دغه (محمد) سره

هر هغه چي اراده وکړي. هر څوک چي (داسی) وي چي گمان کوي د دی چي له سره به مرسته ونه کړي له دغه (محمد) سره

اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ

اللّٰهُ	فِي الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةِ	فَلْيَمْدُدْ	بِسَبَبٍ	اِلَى السَّمَآءِ	ثُمَّ
الله	په دنیا کښی	او په آخرت کښی	نو ودی غځوی	یو پړی (رسئ)	آسمان ته	بیا دی

الله په دنیا کښی او په آخرت کښی نو ودی غځوی یو پړی آسمان ته (یا چت ته او ځان دی پری ځوړند کړی) بیا دی

لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿۱۵﴾

لْيَقْطَعْ	فَلْيَنْظُرْ	هَلْ يُذْهِبَنَّ	كَيْدُهٗ	مَا يَغِيْظُ
پری کړی	بیا دی وگوری چي	آیا بیا زائلولی سی	هیله تدبیر دهغه	هغه شی لره چي دی ئی په قهر کړی دی

پری کړی (چي ولویږی او مړ سی) بیا دی وگوری چي آیا بیا زائلولی سی هیله تدبیر د هغه، هغه شی لره چي دی ئی په قهر کړی دی

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ

وَكَذٰلِكَ	اَنْزَلْنٰهُ	اٰيٰتٍ	بَيِّنٰتٍ	وَّاَنَّ	اللّٰهَ	يَهْدِيْ
او په شان (ددغو)	نازل کړی لیږلی دی موږ	آیتونه	ښکاره	او بیشکه! چي	الله	سمه صافه لاره ښیئ

او په شان (د دغو) نازل کړی لیږلی دی موږ آیتونه ښکاره او بیشکه! چي الله سمه صافه لاره ښیئ

مَنْ يُّرِيْدُ ﴿۱۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا

مَنْ يُّرِيْدُ	اِنَّ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَالَّذِيْنَ	هَادُوْا
هر هغه چاته چي اراده وکړي	بیشکه! هغه کسان چي	ایمان ئی راوړی دی	او هغه کسان چي	یهودیان دی

هر هغه چا ته چي اراده وکړي. بیشکه هغه کسان چي ایمان ئی راوړی دی او هغه کسان چي یهودیان دی

وَالصّٰبِـِٕيْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ

وَالصّٰبِـِٕيْنَ	وَالنَّصٰرٰى	وَالْمَجُوْسَ	وَالَّذِيْنَ	اَشْرَكُوْٓا
او صابیان دی	او نصرانیان دی	او مجوسیان دی	او هغه کسان چي	شریک ئی پیدا کړی دی له الله سره

او صابیان دی او نصرانیان دی او مجوسیان دی او هغه کسان چي شریک ئی پیدا کړی دی له الله سره

مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ.. الله جل جلاله خپل ورکړی نبوت بیا دنبي کریم ﷺ څخه نه اخلي: مطلب دادی چي د اسلام لار بندوونکي عنادگر کم چي غواړي چي الله جل جلاله دخپل رسول او دده ددین مددونه کړي نو دوی دي پوه سي چي داخو هله کیدای سي چي خدای مه کړه دنبي کریم ﷺ څخه دنبوت منصب واخیستل سي او پرده وحي راتلل بند سي ځکه چي الله جل جلاله چاته نبوت او رسالت وسپاری او دی په وحي الهي سره ونمانځی نو دده په دنیا اوآخرت کي دمدد کولو دهغه دطرف څخه پخه وعده وي او عقلا هم ددي خلاف کیدل نه دي پکار نو کم سړی چي ستا او ستا ددین ترقي منع کول او بندول غواړي ده ته که دده په واک کي وي نو داسي تدبیر کول پکار دی چي دادنبوت منصب دده څخه واخیستل سي او وحي الهي بندي سي: دامضمون یي دیوفرض محال په عنوان سره داسي تعبیر کړیدی چي که دنبي کریم ﷺ څخه وحی بندول غواړي نو په یوړول سره دي اسمان ته ورسیږي او دهغه ځای څخه دی ددې وحي سلسله ختمه کړي الخ.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۸۹)

اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى

اِنَّ	اللّٰهَ	يَفْصِلُ	بَيْنَهُمْ	يَوْمَ الْقِيٰمَةِ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى
بيشكه! چي	الله	به فيصله وكړي	په مينځ د دوى كښې	په ورځ د قيامت كښې	بيشكه! چي	الله	په

بيشكه! چي الله به فيصله وكړي په مينځ د دوى كښې په ورځ د قيامت كښې، بيشكه! چي الله په

كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿١٧﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ

كُلِّ شَيْءٍ	شَهِيْدٌ	اَلَمْ تَرَ	اَنَّ	اللّٰهَ	يَسْجُدُ لَهٗ	مَنْ
هر شى باندى	ښه عالم شاهد دى	آيا نه وينى نه پوهيږى ته	چي بيشكه!	الله	چي سجده كوى ده ته	هر هغه

هر شى باندى ښه عالم شاهد دى. آيا نه وينى نه پوهيږى ته چي بيشكه! الله چي دى سجده كوى (عبادت كوى) ده ته هر هغه

فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ

فِى السَّمٰوٰتِ	وَمَنْ	فِى الْاَرْضِ	وَالشَّمْسُ	وَالْقَمَرُ
چي په آسمانونو كښې دى	او هر هغه	چي په مځكه كښې دى	او لمر	او سپوږمى

چي په آسمانونو كښې دى (له علوياتو) او هر هغه چي په مځكه كښې دى (سفلياتو) او لمر او سپوږمى

وَالنُّجُوْمُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِيْرٌ

وَالنُّجُوْمُ	وَالْجِبَالُ	وَالشَّجَرُ	وَالدَّوَآبُّ	وَكَثِيْرٌ
او ستورى	او غرونه	او ونى	او ښوريدونكى ذى روح (دمځكى په تګ سره)	او ډير

او ستورى او غرونه (په چينو او معادينو سره) او ونى او ځاروى (دمځكى په تګ سره) او ډير

مِّنَ النَّاسِ ؕ وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ وَمَنْ

مِّنَ النَّاسِ	وَكَثِيْرٌ	حَقَّ	عَلَيْهِ	الْعَذَابُ	وَمَنْ
له خلكو په عبادت سره	او ډير دى	چي ثابت سوى دى	پر هغه	عذاب	او هر څوك چي

له خلكو (چي مؤمنان دى) په عبادت سره او ډير دى (له كفارو) چي ثابت سوى دى پرى عذاب، او هر څوك چي

يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ

يُّهِنِ	اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ مُّكْرِمٍ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَفْعَلُ
سپك ئى كړى	الله	پس نسته ده ته	هيڅوك عزت وركوونكى	بيشكه! چي	الله	كوى

سپك ئى كړى الله پس نسته ده ته هيڅوك عزت وركوونكى، بيشكه! چي الله كوى

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِى... دټولو مخلوقاتو دتابعداره او فرمانبرداره كيدو حقيقت: دټولو كائناتو اومخلوقاتو دخپل خالق تر حكم لاندي كيدل او دهغه دمشيت تابع كيدل يو خو په تكويني او تقديري طور سره غير اختياري دي چي دډي څخه يو مخلوق هم كه مومن وي كه كافر وي، ژوندي وي، كه مړوي، جمادات وي، كه نباتات وي مستثنى نه دي په دې مشيت كي ټول په جمع په يو ډول دالله ﷻ تر حكم اومشيت لاندي دي ددنيا او جهان يوه ذره يا يو غر دده داذن او مشيت څخه بغير يو ادنى غوندي حركت هم نه سي كولاى: دوهم قسم اطاعت او فرمانبرداري اختياري ده: په دي كي بيا دمومن او كافر فرق دى چي مومن اطاعت كوونكى فرمانبردار وي او كافر ددي څخه منحرف او منكر وي په دي آيت كي يې چونكي دمومن او كافر فرق بيان كړى دى نو څكه داقرينه ددي ده چي په دي كي دسجدي او فرمانبردارى څخه مراد تكويني او تقديري اطاعت نه دى بلكي اختياري او ارادي اطاعت دى الخ.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۹۱)

السجدة ۲

مَا يَشَآءُ ۩ ﴿١٨﴾ هٰذٰنِ خَصۡمٰنِ اخۡتَصَمُوۡا فِيۡ رَبِّهِمۡ

مَا يَشَآءُ	هٰذٰنِ	خَصۡمٰنِ	اخۡتَصَمُوۡا	فِيۡ رَبِّهِمۡ
هر هغه کار چې اراده ئې وکړي	دا دواړه	جګړه کوونکي دي	چې جګړه ئې وکړه	په (ذات) د رب خپل کښې

هر هغه کار چې اراده ئې وکړي. دا دواړه (ډلې مؤمنان او کافران) مدعيان دي چې جګړه ئې وکړه په (ذات) د رب خپل کښې

فَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٌ مِّنۡ نَّارٍ

فَالَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	قُطِّعَتۡ	لَهُمۡ	ثِيَابٌ	مِّنۡ نَّارٍ
پس هغه کسان چې	کافران سوي دي	پرې کولې به سي	د دوی دپاره	جامې	له اوره

پس هغه کسان چې کافران سوي دي پرې کولې (جوړولې) به سي د دوی دپاره جامې له اوره

يُصَبُّ مِنۡ فَوۡقِ رُءُوۡسِهِمُ الۡحَمِيۡمُ ﴿١٩﴾ يُصۡهَرُ بِهٖ مَا

يُصَبُّ	مِنۡ فَوۡقِ	رُءُوۡسِهِمُ	الۡحَمِيۡمُ	يُصۡهَرُ	بِهٖ مَا
اچولې به سي	له پاسه	د سرونو د دوی	اوبه سرې يشيدلې	چې خوړين به سي	په دغو اوبو سره هغه

اچولې به سي (په شدت سره) له پاسه د سرونو د دوی اوبه سرې يشيدلې، چې خوړين به سي په دغو اوبو سره هغه

فِيۡ بُطُوۡنِهِمۡ وَالۡجُلُوۡدُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُمۡ مَّقَامِعُ مِنۡ حَدِيۡدٍ ﴿٢١﴾

فِيۡ بُطُوۡنِهِمۡ	وَالۡجُلُوۡدُ	وَلَهُمۡ	مَّقَامِعُ	مِنۡ حَدِيۡدٍ
چې په نسونو د دوی کښې دي	او پوستکي	او وي به د دوی دپاره	ګرزونه	له اوسپنې

چې په نسونو د دوی کښې دي او پوستکي (د دوی هم). او وي به د دوی دپاره څټکونه (ګرزونه) له اوسپنې

كُلَّمَآ اَرَادُوۡٓا اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ اُعِيۡدُوۡا

كُلَّمَآ	اَرَادُوۡٓا	اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا	مِنۡهَا	مِنۡ غَمٍّ	اُعِيۡدُوۡا
هر کله چې	اراده وکړي	ددې چې ووځي	له دغه	له غمه	نو بيرته ګرځولې سي دوی

هر کله چې اراده وکړي (دوزخيان) د دې چې ووځي له دغه (دوزخ څخه) له غمه نو بيرته ګرځولې سي دوی

فِيۡهَا وَذُوۡقُوۡا عَذَابَ الۡحَرِيۡقِ ﴿٢٢﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدۡخِلُ

فِيۡهَا	وَذُوۡقُوۡا	عَذَابَ	الۡحَرِيۡقِ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُدۡخِلُ
په دغه (اور) کښې	او وڅکئ تاسې	عذاب	سوځوونکي	بیشکه! چې	الله	ننه باسي

په دغه (اور) کښې او وبه ويل سي ورته چې وڅکئ تاسې عذاب (د اور ډير) سوځوونکي. بیشکه! چې الله ننه باسي

ع ۲ ۹

هٰذٰنِ خَصۡمٰنِ اخۡتَصَمُوۡا فِيۡ رَبِّهِمۡ... مسلمانان دکفارو سره جنګ او جګړه دالله ﷻ ددين دحفاظت او سرلوړي دپاره کوي:

دغه دواړې فرقې دکمو ذکر چي په دې آيت کي دی عام مومنان دي او ددوی په مقابله کي دکفارو ټولې ډلي دي بيا نوبرابره خبره ده که داولنی زمانې وي او که دوروسته راتلونکو زمانو: البته ددغه ايت نزول دهغو دوو فريقو په باره کي سوی دی کم چي په ميدان دبدر کي په جنګ کي ديو بل په مقابله کي وه دمسلمانانو څخه حضرت علي رضي الله عنه، او حضرت حمزه رضي الله عنه او حضرت عبيده رضي الله عنه وو او دکفارو څخه عتبه ابن ربيعه، او ددزوی وليد، آودده ورور شيبه، وو په دوی کي کفار درې سره قتل سول او په مسلمانانو کي حضرت علي رضي الله عنه او حضرت حمزه رضي الله عنه سالم واپس راغلل خو حضرت عبيده رضي الله عنه سخت زخمي راغی او دنبي کريم ﷺ قدمونو ته راورسيدی او سا يي ورکړه: ليکن دآيت حکم عام دی په دوی پوري خاص نه دی داحکم دټول امت دپاره عام دی په هره زمانه کي چي وي او په هرځای کي چي وي.

(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص ۹۴)

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ
هغه کسان چي	ایمان ئی راوړی دی	او کړی ئی دی	ښه (عملونه)	په جنتونو کښی	چي بهیږی

هغه کسان چي ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه په داسی) په جنتونو کښی چي بهیږی له

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ

مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	يُحَلَّوْنَ	فِيْهَا	مِنْ اَسَاوِرَ
له لاندی د هغو	ویالی	اچولی به سی دوی ته	په دغه (جنت) کښی	له باهو ګانو

لاندی (دمانیو او ونو) د هغو ویالی ګانه (زیورات) به وا اچول سی (جنتیانو ته) په دغه (جنت) کښی له باهو ګانو (وښیو)

مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۭ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوْٓا

مِنْ ذَهَبٍ	وَّلُؤْلُؤًا	وَلِبَاسُهُمْ	فِيْهَا	حَرِيْرٌ	وَهُدُوْٓا
له سرو زرو	او له مرغلرو څخه	او جامی د دغو به	په دغه (جنت) کښی	ریښمینی وی	او لاره ښوولی سوی ده دوی ته

له سرو زرو او له مرغلرو څخه، او جامی د دغو به په دغه (جنت) کښی ریښمینی وی. او لاره ښوولی سوی ده دوی ته

اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ښ وَهُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ

اِلَى الطَّيِّبِ	مِنَ الْقَوْلِ	وَهُدُوْٓا	اِلٰى	صِرَاطِ
طیبی پاکی ته	له قول څخه	اولار ښوولی سوی ده	طرف	دلاری د الله ته

طیبی پاکی ته (چي لا اله الا الله ده) له قول څخه، اولار ښوولی سوی ده (جنتیانو ته په دنیا کښی) طرف د لاری ته چي

الْحَمِيْدِ ﴿٢٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

الْحَمِيْدِ	اِنَّ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَيَصُدُّوْنَ	عَنْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ
ستایل سوی دی په ښو ښو صفتونو سره	بیشکه! هغه کسان	چي کافران سوی دی	او اړوی	له لاری	د الله

ستایل سوی دی په ښو ښو صفتونو سره ، بیشکه! هغه کسان چي کافران سوی دی او اړوی (خلک) له لاری د الله (اسلام نه)

وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِيْ جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ سَوَاۗءَۨ

وَالْمَسْجِدِ	الْحَرَامِ	الَّذِيْ	جَعَلْنٰهُ	لِلنَّاسِ	سَوَاۗءَۨ
او له مسجد	حرام څخه	هغه چي	ګرځولی دی موږ دغه مسجد ځای د عبادت	دپاره د (ټولو) خلکو	برابر دی

او له مسجد حرام څخه هغه (مسجد) چي ګرځولی دی موږ دغه مسجد ځای د عبادت دپاره د (ټولو) خلکو برابر دی

يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا . جنتیانو ته د بنګړو اغوستلو **حکمت**: دلته دا شبه کیدای سي چي بنګړي په لاسونو کي اچول خو د ښځو کار دی او ددوی کالي دي د سړو دپاره داکار معیوب ګڼل کیږي: **جواب دادی** چي د دنیا دپادشاهانو یو امتیازي شان پاته سوی دی چي پر سریي تاج او په لاسونو کي یي بنګړي استعمالول وي: لکه چي په حدیث شریف کي دي چي کله نبي کریم ﷺ دهجرت په سفر کي روان وواو سراقه ابن مالک ددوی دګرفتارولو دپاره ووتی اودی دغه وخت مسلمان نه وو دده آس دخدای ﷻ په حکم سره په مځکه ننوتی او ده بیا توبه وکښله نو دنبي کریم ﷺ په دعا سره آس راووتی دغه وخت نبي کریم ﷺ دده سره وعده کړې وه چي دفارس دکسری پادشاه بنګړي چي دغنیمت په مال کي دمسلمانانو ته په لاس راسي هغه به تاته درکول سي او کله چي دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه په زمانه کي فارس فتح سو اودایران څخه دابنګړي په غنیمست کي راغله نو دسراقه ابن مالک په غوښتنه ده ته ورکړه سوه الخ: (معارف القرآن ج ٦ پ ١٧ ص ٩٥)

ع ٣ ١٠

الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ ۚ وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ

الْعَاكِفُ	فِيهِ	وَالْبَادِ	وَمَنْ يُرِدْ	فِيهِ	بِإِلْحَادٍ	بِظُلْمٍ
اوسیدونکی	په دغه کښې	اوله بهره راتلونکی	او هرچاچې اراده وکړه	په دغه کښې	دبې لارې	په ظلم سره

او سیدونکی په دغه (مسجد) کښې او له بهره راتلونکی، او هر چا چې اراده وکړه په دغه کښې دبې لارې په ظلم سره

نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ

نُذِقْهُ	مِنْ عَذَابٍ	أَلِيمٍ	وَإِذْ بَوَّأْنَا	لِإِبْرَاهِيمَ	مَكَانَ
نو به څکوو موږ په هغه	له عذاب	دردناک څخه	او هغه وخت چې ښکاره کړ موږ	ابراهیم ته	ځای

نو به څکوو موږ په هغه له عذاب دردناک څخه، او (یادکړه ای محمده!) هغه وخت چې ښکاره کړ موږ ابراهیم ته ځای

الْبَيْتِ أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ

الْبَيْتِ	أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي	شَيْئًا	وَطَهِّرْ	بَيْتِيَ
دبيت (الله)	چې مه شریکوه له ما سره	هیڅ شی	او پاک ساته	کور زما

دبيت (الله)، (او ورته وو وویل دا) چې مه شریکوه له ما سره هیڅ شی، او پاک ساته کور زما

لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّنْ

لِلطَّائِفِينَ	وَالْقَائِمِينَ	وَالرُّكَّعِ	السُّجُودِ	وَأَذِّنْ
دپاره د طواف کوونکو	او دپاره د قیام کوونکو	او رکوع کوونکو	او سجده کوونکو	او اعلان وکړه

دپاره د طواف کوونکو او دپاره د قیام کوونکو (په مکه کښې) او رکوع کوونکو او سجده (لمونځ) کوونکو او اوږغ وکړه

فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ

فِي النَّاسِ	بِالْحَجِّ	يَأْتُوكَ	رِجَالًا	وَعَلَىٰ	كُلِّ	ضَامِرٍ
په خلکو کښې	دحج دپاره	چې راسی تاته	پیاده	او (سواره) پر	هر	ډنګر اوښ

(ای ابراهیمه) په خلکو کښې دحج (د ادا کولو) دپاره چې راسی (حاجیان) تاته پیاده او (سواره) په هر ډنګر اوښ

يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ

يَأْتِينَ	مِنْ كُلِّ	فَجٍّ	عَمِيقٍ	لِيَشْهَدُوا	مَنَافِعَ	لَهُمْ
چې راځي	له هرې	لارې	ډیرې لیرې څخه	دپاره د دې چې حاضر سي	ګټو	خپلو ته

چې راځي له هرې لارې لرې (ژورې لرې) څخه. دپاره د دې چې حاضر سي (دغه خلک) ګټو خپلو ته،

وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ...څوک چې په حرم شریف کي دظلم سره دبې دینی دیوکاراراده وکي نو هغه ته به عذاب ورکول کیږي: دالحاد معنی په لغت کي دنیکي لاري څخه یوخواته کیدل دي: دلته دالحاد څخه مراد دامام مجاهد رحمة الله علیه اوقتاده رحمة الله علیه په نزد کفراوشرک دی: مګر نورو مفسرینو بیا داپه خپله عامه معنی کي استعمال کړی دی چي هره ګناه اودالله جل جلاله او درسول صلی الله علیه وسلم نافرماني په کښي داخله ده تر دي چي خپل نوکرته ښکنځل کول هم په کښي داخل دي اوددې معنی په لحاظ سره حضرت عطاء رحمة الله علیه فرمایي چي په حرم کي دالحاد څخه مراد په دي کي بغیر داحرام څخه داخلیدل یا دحرم دممنوعاتو څخه دیو ممنوع شي کول دي لکه دحرم ښکار کول یا یي درخته پریکول وغیره اوکم شیان چي په شریعت کي منع دي هغه ټول هرځای ګناه او موجب دعذاب دي دحرم شریف تخصیص پر دې بنا وسو چي لکه څنګه چي دمکې په حرم کي دنیکی ثواب ډیر زیاتیږي دغه شان دګناه عذاب هم ډیر زیاتیږي (معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۹۹)

وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا

وَيَذْكُرُوا	اسْمَ	اللّٰهِ	فِيْٓ اَيَّامٍ	مَّعْلُوْمٰتٍ	عَلٰى مَا
اوچي يادكړي	نوم	دالله	په هغو ورځوکښې	چې معلومې دي	پر (ذبح د) هرهغه حيوان

او چې ياد كړي نوم دالله په هغو ورځو (دلوى اختر) كښې چې معلومې دي په (ذبح د) هر هغه حيوان

رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا

رَزَقَهُمْ	مِّنْۢ	بَهِيْمَةِ	الْاَنْعَامِ	فَكُلُوْا	مِنْهَا
چې وركړې دى الله دوى ته	له	بې ژبو	چارپايانو څخه	پس خورئ تاسې	له هغې (غوښې) څخه

چې وركړې دى الله دوى ته له بې ژبو چارپايانو څخه ، پس خورئ تاسې له هغې (غوښې) څخه

وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ

وَاَطْعِمُوا	الْبَآئِسَ	الْفَقِيْرَ	ثُمَّ لْيَقْضُوْا	تَفَثَهُمْ
او خوروئ ئې	په بد حال	فقير (محتاج)	بيا دې لرې كړي	خيرى خپل

او خوروئ ئې په بد حال فقير (محتاج). بيادې لرې كړي (حاجيان حاجتونه او) خيرى خپل

وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿٢٩﴾

وَلْيُوْفُوْا	نُذُوْرَهُمْ	وَلْيَطَّوَّفُوْا	بِالْبَيْتِ	الْعَتِيْقِ
او پوره دې اداء كړي	نذرونه خپل	او طواف دې وكړي	په هغه كور چې	قديم كريم دى

او پوره دې اداء كړي نذرونه خپل (او دحج واجبات) او طواف دې وكړي په هغه كور چې قديم كريم دى.

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ

ذٰلِكَ	وَمَنْ يُّعَظِّمْ	حُرُمٰتِ	اللّٰهِ	فَهُوَ	خَيْرٌ لَّهٗ
دا حكم مو واوريد	او هر چاچې تعظيم وكړ	د احكامو	دالله	پس دا كار	غوره دى ده ته

داحكم مو واوريد (يا امر هم دا دى چې تير سو) او هر چا چې تعظيم وكړ د احكامو د الله پس دا كار غوره دى ده ته

عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا

عِنْدَ رَبِّهٖ	وَاُحِلَّتْ	لَكُمُ	الْاَنْعَامُ	اِلَّا	مَا
په نزد د رب د ده	او حلال كړې سوې دي	تاسې ته	څاروى (پس له ذبحې)	مگر	هغه څاروى

په نزد درب د ده او حلال كړې سوې دي تاسې ته (خوراک د غوښې د) څاروى (پس له ذبحې) مگر (حرام دي) هغه څاروى

وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ دبيت الله شريفي زيارت دالله ﷻ دذكر دپاره غته ذريعه ده وبيت الله شريفي ته دحاجيانو دجمع كيدو يوه فايده خو هغه وه چې لوړ په آيت كي ذكر سوه چي دوى خپلي ديني او دنيوي نفعي او فايدې وينسي: دوهمه فايده يي داوښوولە چي حاجيان ددې دپاره دلته راجمع كيږي چي هغوى دالله ﷻ نوم ذكر كړي په ورځو معلومو كي پر هغه حيوانانو باندي كم چي دالله ﷻ له طرفه دوى ته وركړه سوي دي په دې كي دټولو څخه اوله خبره خو داده چي دقرباني په غوښه او ددې څخه په حاصليدونكو فائدو باندي نظر كول نه دي پكار بلكي اصل شى د الله ﷻ ذكر دى كم چي په دې ورځو كي پر قرباني كوونكو حيوانانو باندي دقرباني په وخت كي كول كيږي كم چي دعبادت روح دى دقرباني غوښه ددوى دپاره حلاله سوه دانور زيات انعام دى: او دايام معلومات څخه هغه ورځي مراد دي په كم كي چي قرباني رواه ده يعني لسم ،يوولسم ، او دوولسم تاريخونه د ذي الحجي دمياشتي.
معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۰۴)

يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ

يُتْلٰى	عَلَيْكُمْ	فَاجْتَنِبُوا	الرِّجْسَ	مِنَ الْاَوْثَانِ
چې لوستل کيږي	پر تاسي	پس ځان ساتئ تاسي	له پليتي شخه	چې بتان دي

چې لوستل کيږي پر تاسي (حرام والی ئی) پس ځان ساتئ تاسي له پليتي شخه چې بتان دي ،

وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ ۝۳۰ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ

وَاجْتَنِبُوْا	قَوْلَ	الزُّوْرِ	حُنَفَآءَ	لِلّٰهِ	غَيْرَ
او ځان ساتئ تاسي	له وينا	د دروغو شخه	چې غاړه اېښودونکي يئ په اخلاص سره	خاص الله ته	نه يئ

او ځان ساتئ تاسي له وينا د دروغو شخه. په داسي حال کښي چې غاړه اېښودونکي يئ په اخلاص سره خاص الله ته نه يئ

مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ

مُشْرِكِيْنَ	بِهٖ	وَمَنْ يُّشْرِكْ	بِاللّٰهِ	فَكَاَنَّمَا	خَرَّ	مِنَ السَّمَآءِ
مشرکان	په ده باندي	او هرچا چې شريک ونيوی	له الله سره	پس لکه چې	راوغورځيد	له آسمانه شخه

مشرکان په ده باندي، او هرچا چې شريک ونوی له الله سره پس لکه چې راوغورځيد له آسمان شخه

فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ

فَتَخْطَفُهُ	الطَّيْرُ	اَوْ تَهْوِيْ	بِهِ	الرِّيْحُ
پس وتښتوی دی په چابکی سره	مرغان	يا وغورځوی	دی	باد

پس وتښتوی دی په چابکی سره مرغان (او بوټی بوټی کوی ئی) يا وغورځوی دی باد (له کوم اوچت ځای شخه)

فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ۝۳۱ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا

فِيْ مَكَانٍ	سَحِيْقٍ	ذٰلِكَ	وَمَنْ يُّعَظِّمْ	شَعَآئِرَ	اللّٰهِ	فَاِنَّهَا
په ځای	لیری کښي	دا حکم مو واوريد	او هرچا چې تعظيم وکړ	دعلائمو د (دين)	دالله	پس بيشکه! دا

په لری ژور (ختکته) ځای کښي. دا حکم مو واوريد او هرچا چې تعظيم وکړ د علائمو د (دين د) الله پس بيشکه! دا (تعظيم)

مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ۝۳۲ لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰۤى

مِنْ تَقْوَى	الْقُلُوْبِ	لَكُمْ	فِيْهَا	مَنَافِعُ	اِلٰۤى
له تقوٰی	د زړونو دی	ستاسي ته	په دغو حيواناتو کښي	فائدي	تر

له (افعالو د خاوندانو د) تقوٰی د زړونو دی. ستاسي ته په دغو حيواناتو (ذهبيو) کښي (ډيری) فائدي تر

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ.. بت پرستي په حقيقت کښي يوه ګندګي ده چي په کفارو پسې مبنتي ده : د رجس معنی ده ناپاکي او ګندګي : او اوثان جمع د وثن ده معنی يي بت دی بتان نجاست ځکه وګڼل سول چي دا د انسان باطن د شرک د پليتی شخه ډکول دي: واجتنبوا قول الزور :د قول زور شخه مراد دروغ دي :د حق شخه خلاف څه چي وي هغه په باطلو او دروغو کي داخل دي برابره خبره ده که د شرک او کفر فاسدي عقيدي وي يا په معاملو او شهادتونو کي دروغ ويل وي : نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي په ټولو کبيره ګناهونو کي غټ کبيره ګناهونه دادي د الله ﷻ سره شريک جوړول و د مور او پلار نافرماني کول ، او د دروغو شاهدي ورکول او په عامو خبرو کي دروغ ويل نبي کريم ﷺ اخري لفظ (وقول الزور) باربار وفرمايي : او په بل حديث شريف کي دي چي د منافق سري درې علامې دي: په خبرو کي دروغ ويل ، پر وعدې وفا نه کول ، او په امانت کي خيانت کول او امانت بيا عام دی الخ.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص ۱۱۰)

أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾

أَجَلٍ	مُّسَمًّى	ثُمَّ	مَحِلُّهَآ	إِلَى الْبَيْتِ	الْعَتِيقِ
وخت	معلوم‌پورې	بيا	ځای (د حلالولو) د دوی ته	ترهغه کوره	چې پخوانی دی

وخت معلوم پورې (چې د دوی د حلالولو وخت دی) بيا (رسونه ده) ځای (د حلالولو) د دوی ته تر بيت عتيق پورې.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ

وَلِكُلِّ	أُمَّةٍ	جَعَلْنَا	مَنسَكًا	لِّيَذْكُرُوا	اسْمَ	اللَّهِ	عَلَىٰ
او د پاره د هر	امت	مقرره کړې ده موږ	قرباني	د پاره د دې چې ياد کړي دوی	نوم	د الله	پر

او د پاره د هر امت (مؤمن) مقرره کړې ده موږ قرباني د پاره د دې چې ياد کړي دوی نوم د الله پر

مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ

مَا رَزَقَهُم	مِّن	بَهِيمَةِ	الْأَنْعَامِ
هر هغه شي چې رزق ګرځولی دی (الله) دوی ته	له	بې ژبو	حيواناتو څخه

هر هغه شي چې رزق، روزي ګرځولي دي (الله) دوی ته له بې ژبو حيواناتو څخه (په وخت د ذبحې)

فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾

فَإِلَٰهُكُمْ	إِلَٰهٌ	وَاحِدٌ	فَلَهُ	أَسْلِمُوا	وَبَشِّرِ	الْمُخْبِتِينَ
پس حق معبود ستاسي	الله حق معبود	يو دی	پس خاص هم ده ته	غاړه کښېږدئ	او زيری ورکړه	عاجزی کوونکو ته

پس حق معبود ستاسي الله حق معبود يو دی پس خاص هم ده ته غاړه کښېږدئ، او زيری ورکړه عاجزی کوونکو ته،

الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ

الَّذِينَ	إِذَا ذُكِرَ	اللَّهُ	وَجِلَتْ	قُلُوبُهُمْ	وَالصَّابِرِينَ	عَلَىٰ مَآ	أَصَابَهُمْ
هغه کسان	کله چې ياد کړ سی	الله	نو بيريږي	زړونه د دوی	او صبر کوونکو ته	پر هغو چې	رسيدلی دی دوی ته

هغه (عاجزی کوونکی) کله چې ياد کړ سی الله نو بيريږي زړونه د دوی او صبر کوونکو ته پر هغو چې رسيدلی دی دوی ته

وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ

وَالْمُقِيمِي	الصَّلَاةِ	وَمِمَّا	رَزَقْنَاهُمْ
او قائموونکی	دلمانځه	او هغو کسانو ته چې ځينی له هغو شيانو څخه	چې ورکړی دی موږ دوی ته

او زيری ورکړه قائموونکی د لمانځه ته او زيری ورکړه هغو کسانو ته چې ځينی له هغو شيانو څخه چې ورکړی دی موږ دوی ته

أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ.. دحج د څارويو او حيواناتو څخه استفاده کول ترڅه وخته پوري رواه ده ؟: په دغه آيت کي الله جل جلاله فرمايي چي ای حاجيانو دڅارويو او ځناورانو څخه شيدي ، سپرلی باربرداري او دهر قسم نفع حاصلولو ستاسي دپاره تر هغه وخته پوري حلال دي تر څو چي دوی دمکې په حرم کي دذبح کولو دپاره تاکلي نه وي :دقرباني څاروي نه وي ورڅخه جوړ سوي : **هدی** هغه حيوان ته وايي کم چي حج يا عمره کوونکی دځان سره يو حيوان بيايي چي دابه په حرم کي ذبح کيږي کله چي داحيوان دحرم دپاره نامزد او مقررسو نو بيا دده څخه څه قسم نفع اخيستل بغير دڅه خاص مجبوری څخه جائز نه ده لکه اوښ دقرباني دپاره دځان سره يوڅوک بيا يي او په خپله پياده روان وي دسپرلی دپاره بل حيوان ورسره موجود نه وي اوپياده تلل ده ته ګران سي نو دمجبوری او ضرورت پر بناه باندي دغه وخت دغه حج کوونکي ته پر دغه اوښ باندي دسپرتيا کولو اجازه شرعاً سته خو داعذر دی په حقيقت کي.
(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص ۱۱۰)

ع ٤/١١

يُنۡفِقُوۡنَ ۞ وَالۡبُدۡنَ جَعَلۡنٰهَا لَكُمۡ مِّنۡ شَعَآئِرِ

يُنۡفِقُوۡنَ	وَالۡبُدۡنَ	جَعَلۡنٰهَا	لَكُمۡ	مِّنۡ شَعَآئِرِ
لګوی ئی	او اوښان غوایان	ګرځولی دی موږ دا	تاسی ته	له علائمو د (دین)

لګوی ئی (په ښو کارونو کښې). او اوښان غوایان ګرځولی دی موږ دا تاسی ته له علائمو د (دین د)

اللّٰهِ لَكُمۡ فِيۡهَا خَيۡرٌ ۖ فَاذۡكُرُوا اسۡمَ اللّٰهِ عَلَيۡهَا

اللّٰهِ	لَكُمۡ	فِيۡهَا	خَيۡرٌ	فَاذۡكُرُوا	اسۡمَ	اللّٰهِ	عَلَيۡهَا
الله	سته تاسی ته	په دی کښې	خير	پس یادوئ	نوم	دالله	پر دی

الله سته تاسی ته په دی کښې خير پس یادوئ نوم د الله پر دی (او ښانو غوایانو د ذبحې په وخت کښې)

صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتۡ جُنُوۡبُهَا فَكُلُوۡا مِنۡهَا

صَوَآفَّ	فَاِذَا	وَجَبَتۡ	جُنُوۡبُهَا	فَكُلُوۡا	مِنۡهَا
چی ولاړ وی په قطار کښې	نو کله چی	پریوتل	اړخونه د دوی	نو خورئ تاسی	له دی څخه

په داسی حال چی ولاړ وی په قطار کښې نو کله چی پریوتل اړخونه د دوی نو خورئ تاسی له دی څخه (که مو خوښه وی)

وَاَطۡعِمُوا الۡقَانِعَ وَالۡمُعۡتَرَّ ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرۡنٰهَا لَكُمۡ

وَاَطۡعِمُوا	الۡقَانِعَ	وَالۡمُعۡتَرَّ	كَذٰلِكَ	سَخَّرۡنٰهَا	لَكُمۡ
او خورئ يئ	په صبر کوونکی	او په سوالګری	هم داسی	تابع کړی دی موږ دغه	تاسی ته

او خورئ ئی په صبر کوونکی او په بی صبره (سوالګرو فقيرانو) هم داسی تابع کړی دی موږ دغه (مذبوحی) تاسی ته

لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ۞ لَنۡ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوۡمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا

لَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ	لَنۡ يَّنَالَ	اللّٰهَ	لُحُوۡمُهَا	وَلَا دِمَآؤُهَا
دپاره د دی چی	شکر وباسئ تاسی	له سره نه رسیږی	الله ته	غوښې د دوی	او نه وینې د دوی

دپاره د دی چی شکر وباسئ تاسی (په دی نعمت). له سره نه رسیږی الله ته غوښې د دوی او نه وینې د دوی (څخه)

وَلٰكِنۡ يَّنَالُهُ التَّقۡوٰى مِنۡكُمۡ ؕ كَذٰلِكَ

وَلٰكِنۡ	يَّنَالُهُ	التَّقۡوٰى	مِنۡكُمۡ	كَذٰلِكَ
او لیکن	رسیږی دغه (الله) ته	پرهیزګاری	له تاسی	هم داسی

او لیکن رسیږی دغه (الله) ته پرهیزګاری (او اخلاص چی ملګری وی له دغو سره) له تاسی ، هم داسی (لکه چی ذکر سو)

وَالۡبُدۡنَ جَعَلۡنٰهَا لَكُمۡ مِّنۡ شَعَآئِرِ اللّٰهِ. دحج قرباني هم داسلام دشعائرو څخه دي: شعائر جمع دشعيرة ده چي معنی يي علامت (نښانه) ده کم شيان چي ديو خاص مذهب يا جماعت خاص نښانه ګڼل کيږي هغه ته ددغو شعائر (نښاني) وايي: داسلام شعائر دهغه خاصو احکامو نوم دی کم چي په عرف کي دمسلمانيدو نښاني ګڼل کيږي دحج اکثره احکام ددې قسم څخه دي: دحج قرباني هم په دې کي داخله ده دداسي احکامو پابندي زياته اهمه ده (فاذكروا اسم الله عليها صواف) حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ ددې تفسير داسي بيان کړی دی چي حيوان پر درو پښو ودرول سي او يو لاس (يعني دمخ پښه) يي تړلی وي: دغه صورت دقرباني داوښ سره مخصوص دی دده قرباني دولاړي په حالت کي سنت او نسه ده دپاته حيواناتو په پروتي سره ذبح کول سنت دي چي حيوان پروت وي. (القانع والمعتر) نوبيا دغه دقرباني غوښي هغه فقيرانو ته هم ورکی چي سوال کوي او هغه فقيرانو ته يي هم ورکی چي سوال نه کوي په صبر ناست وي الخ. (معرف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۱۵)

سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ؕ

سَخَّرَهَا	لَكُمْ	لِتُكَبِّرُوا	اللّٰهَ	عَلٰى مَا	هَدٰىكُمْ
تابع کړي يئ دی دغه	تاسي ته	دپاره د دی چي په لويئ ياد کړئ	الله	په هغي طريقی سره	چي لاری يئ ښوولی ده تاسی ته

تابع کړي يئ دی دغه (څلور بولی) تاسی ته دپاره د دی چي په لوئی ياد کړئ الله ، په هغی سره چي لاری يئ ښوولی ده تاسی ته

وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ

وَبَشِّرِ	الْمُحْسِنِيْنَ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُدٰفِعُ	عَنِ الَّذِيْنَ
او زيری ورکړه	نيکو کارانو ته	بيشکه!	چي الله	دفع کوی	له هغو کسانو څخه چي

او زيری ورکړه نيکو کارانو ته . بيشکه! چي الله دفع کوی (دکفارو مکر) له هغو کسانو څخه چي

اٰمَنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ﴿٣٨﴾ ۧ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ

اٰمَنُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	كُلَّ	خَوَّانٍ	كَفُوْرٍ	اُذِنَ	لِلَّذِيْنَ
ايمان يئ راوړی دی	بيشکه!	الله	نه خوښوی	هر	خيانتګر	ناشکره	حکم ورکړی سوی دی	هغو کسانو ته

ايمان يئ راوړی دی ، بيشکه! الله نه خوښوی هر خيانتګر ناشکره . حکم ورکړی سوی دی (دقتال) هغو کسانو ته

يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ

يُقٰتَلُوْنَ	بِاَنَّهُمْ	ظُلِمُوْا	وَاِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	نَصْرِهِمْ
چي قتال ورسره کاوه سی	په سبب ددی بيشکه! پر دوی	ظلم سوی دی	او بيشکه! چي	الله	پر	مرسته د دوی

چي قتال ورسره کاوه سی (دکفارو له خوا) په دی سبب چي بيشکه! پر دوی ظلم سوی دی، او بيشکه چي الله پر مرسته د دوی

لَقَدِيْرُ ﴿٣٩﴾ ۙ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ

لَقَدِيْرٌ	الَّذِيْنَ	اُخْرِجُوْا	مِنْ دِيَارِهِمْ	بِغَيْرِ حَقٍّ
خامخا ښه قادر دی	دغه هغه کسان دی	چي ايستل سوی دی	له کورونو خپلو	په ناحقه سره

خامخا ښه قادر دی. دغه (مظلومان) هغه (کسان) دی چي ايستل سوی دی له کورونو خپلو په ناحقه سره

اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ

اِلَّآ	اَنْ يَّقُوْلُوْا	رَبُّنَا	اللّٰهُ	وَلَوْلَا دَفْعُ	اللّٰهِ	النَّاسَ
مګر دا چي	ويل به دغو (مؤمنانو)	رب زموږ	الله دی	او که چيری نه وی دفع کول	دالله	خلګو لره

مګر دا چي ويل به دغو (مؤمنانو) رب زموږ (خالص يوازی) الله دی او که چيری نه وی دفع کول د الله خلګو لره

اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا... دکفارو سره دجهاد اولنی حکم:

په مکه مکرمه کي پر مسلمانانو دکفارو د ظلمونو داحال ووچي يوه ورځ به خالي نه تله چي يو مسلمان به دکفارو دلاسه زخمي او وهل سوی نه وي راغلی: دمکي دقيام په آخري دور کي دمسلمانانو شمير هم خاص زيات سوی وو دوی دکفارو دزور ظلم او زياتي شکايت او ددې په مقابله کي دجنګ کولو اجازت غوښتی وو نبي کريم ﷺ به په جواب کي فرمايل چي صبر کوی ماته لاتراوسه دجنګ کولو اجازت نه دی راکول سوی دا سلسله تر لسو کالو پوري دغه ډول جاري وه: قرطبي: کله چي نبي کريم ﷺ په خپل وطن مکه مکرمه پريښودلو او هجرت کولو ته مجبوره سو او حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ددوی ملګری وو نو دمکي مکرمي څخه دوتلو په وخت کي ددوی دژبي څخه ووتل (اخرجوا نبيهم ليهلكنّ) يعني دې خلګو خپل نبي وايستی اوس ددوی دهلاکت وخت راغی په دې باندي مدينې طيبې ته درسيدو څخه وروسته دا آيت نازل سو په کم کي چي دجهاد کولو اجازه ورکړه سوه.
معارف القرآن ج٦ پ١٧ ص١١٧)

الثلثة ع٥ ١٣

بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّ صَلَوٰتٌ

وَّصَلَوٰتٌ	وَبِيَعٌ	صَوَامِعُ	لَّهُدِّمَتْ	بِبَعْضٍ	بَعْضَهُمْ
اوعبادت خانی	گرجې	خلوت خانی	خامخا نړولی سوی به وی	په ځینو نورو باندی	ځینی د دوی لره

ځینی د دوی لره په ځینو نورو باندی خامخا نړولی سوی به وی تکیې او مدرسی او عبادتخانې

وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللّٰهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنْصُرَنَّ

وَلَيَنْصُرَنَّ	كَثِيرًا	اللّٰهِ	اسْمُ	فِيهَا	يُذْكَرُ	وَّمَسٰجِدُ
او خامخا مرسته به وکړی هرومرو	ډیر	د الله	نوم	په هغو کښې	چې یاد اوسی	او مسجدونه

او مسجدونه چې یاد او سی په هغو کښې نوم د الله ډیر، او خامخا مرسته (مدد) به وکړی هرومرو

اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ۗ إِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٤٠ اَلَّذِينَ

اَلَّذِينَ	عَزِيزٌ	لَقَوِيٌّ	اللّٰهَ	إِنَّ	مَنْ يَّنْصُرُهٗ	اللّٰهُ
هغه کسان دی چې	ډیر زور والا دی	خامخا قوی	الله	بیشکه! چې	له هغه چا سره چې مرسته ورکوی دغه ته	الله

الله له هغه چا سره چې مرسته ورکوی (دین د) دغه (الله) ته بیشکه! چې الله خامخا قوی ډیر زور والا دی. هغه کسان دی چې

إِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ

الزَّكٰوةَ	وَاٰتَوُا	الصَّلٰوةَ	أَقَامُوا	فِي الْأَرْضِ	إِنْ مَّكَّنّٰهُمْ
زکوٰة	او ورکوی به	لمونځ	نو قائموی دوی	په ځمکه کښې	که چیری قدرت ورکړو موږ دوی ته

که چیری قدرت ورکړو موږ دوی ته په ځمکه کښې (په دښمن باندی) نو قائموی دوی لمونځ او ورکوی به زکوٰة

وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ۗ وَلِلّٰهِ

وَلِلّٰهِ	عَنِ الْمُنْكَرِ	وَنَهَوْا	بِالْمَعْرُوفِ	وَأَمَرُوا
خاص د الله په اختیار کښې ده	له بدکار ځخه	او منع کوی به	د نیک کار	او امر حکم به کوی

او امر حکم به کوی (خلګو ته) په معروف (په نیک شرعی کار) سره او منع کوی به (خلګ) له بدکار ځخه خاص د الله

عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ۝٤١ وَإِنْ يُّكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ

كَذَّبَتْ	فَقَدْ	وَإِنْ يُّكَذِّبُوكَ	الْأُمُورِ	عَاقِبَةُ
دروغجن کړی یئ وو	پس په تحقیق	او که چیری دروغجن کړی دغه کفار تا	دټولو کارونو	آخره خاتمه

په اختیار کښې ده آخره خاتمه دټولو کارونو .او که چیری دروغجن کړی دغه کفار تا پس په تحقیق دروغجن کړی یئ وو

بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ.. دجهاد او قتال

یو حکمت: په دغه آیت کي الله ﷻ دجهاد او قتال یو حکمت بیان کړی دی او داسي یې فرمایلي دي چې دا یو څه نوی حکم خو نه دی تیرو انبیاوو علیهم السلام اوددوی امتونو ته هم الله ﷻ دجهاد امر ورکړی وواو که داسي نه کیدای نو دیو مذهب او دین خیر به نه وای تول دینونه او مذهبونه او ددوی عبادت خانې به نړول سوي وای: ډیر دینونه او مذهبونه په دنیا کي داسي تیر سوي دي چې په یو زمانه کي ددوی اصل بنیاد دالله ﷻ دطرف څخه او دوحي په ذریعه قایم سوی وو بیا هغه منسوخ سول او په هغوی کي تحریف وسواو په کفر اوشرک بدل سومګر په خپل خپل وخت کي هغه حق وه ددغو تولو عبادتونوذکر یې په دې آیت کي فرمایلی دی څکه چې په خپل خپل وخت کي ددغو عبادتخانو احترام او حفاظت فرض وو: دهغه عبادتخانو ذکر یې ونه فرمایه دکمو بنیاد چې هیڅ وخت هم په نبوت اووحی الهي باندي نه وو لکه آتش پرست مجوس یا بت پرست هندوان ځکه چې ددوی عبادتخانې داحترام قابلي نه دي.

(معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۱۸)

قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ وَقَوْمُ

قَبْلَهُمْ	قَوْمُ	نُوْحٍ	وَّعَادٌ	وَّثَمُوْدُ	وَقَوْمُ	اِبْرٰهِيْمَ	وَقَوْمُ
پخوا له دغه قوم ستا	قوم	دنوح	او قوم د عاد	او قوم د ثمود	او قوم	د ابراهیم	او قوم

(رسولان خپل) پخوا له دغه قوم ستا قوم د نوح او قوم د عاد او قوم د ثمود او قوم د ابراهیم او قوم

لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ مُوْسٰى

لُوْطٍ	وَّاَصْحٰبُ	مَدْيَنَ	وَكُذِّبَ	مُوْسٰى
د لوط	او اهل	د مدین	او دروغجن ګڼل سوی ؤ	موسٰی

د لوط (انبیاء خپلو لره) او اهل (د ښار) د مدین (شعیب لره) او دروغجن ګڼل سوی ؤ موسٰی (د مصری قبطیانو له خوا)

فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۴﴾

فَاَمْلَيْتُ	لِلْكٰفِرِيْنَ	ثُمَّ	اَخَذْتُهُمْ	فَكَيْفَ	كَانَ	نَكِيْرِ
نو مهلت می ورکړی ؤ	کافرانو ته	بیا	ومی نیول دوی	پس څرنګه	وو	انکار زما

نو مهلت می ورکړی ؤ کافرانو ته بیا ومی نیول دوی (په عذاب سره) پس څرنګه ؤ انکار زما (په دوی په تغیر د نعمت سره)

فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ

فَكَاَيِّنْ	مِّنْ قَرْيَةٍ	اَهْلَكْنٰهَا	وَهِيَ	ظَالِمَةٌ
پس ډیر دی	له کلیو څخه	چی هلاک کړی دی مونږ هغوی	حال دا چی دغه	ظالمان وو

پس ډیر دی له کلیو (او ښارونو) څخه چی هلاک کړی دی مونږ (اهل د) هغو حال دا چی دغه (اهل دهغی) ظالمان وو

فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ

فَهِيَ	خَاوِيَةٌ	عَلٰى	عُرُوْشِهَا	وَبِئْرٍ	مُّعَطَّلَةٍ
پس هغه کلی	پریوتلی دی	په	چتونو بامونو خپلو باندی	او ډیر څاهان دی	چی بیکاره پراته دی

پس هغه کلی پریوتلی دی (دیوالونه ئی دپاسه) په چتونو بامونو خپلو باندی او ډیر کوهیان دی چی بیکاره پراته دی

وَّقَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿۴۵﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ لَهُمْ

وَّقَصْرٍ	مَّشِيْدٍ	اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ	فَتَكُوْنَ	لَهُمْ
او ډیری ماڼی	پخی لوړی	آیا پس نه دی ګرځیدلی دوی	په مځکه کښی	پس وی	دوی لره

او ډیری ماڼی پخی لوړی. آیا پس نه دی ګرځیدلی دوی (کفار) په مځکه کښی پس وی دوی لره

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ. په مځکه کي سیل او سفر که دعبرت دپاره وي نو دا دیني مقصود دی: په دغه آیت کي الله ﷻ دمځکي سیل او سفر کول کله چي دعبرت دپاره وي نو دديٍ ترغیب دی (اوفتکون لهم قلوب) سره دي طرف ته اشاره ده چي دتیري زماني او تیرو قومونو حالات او واقعات لیدل دانسان عقل او پوهه زیاتوي په دي شرط چي دی حالاتو ته دتاریخي سوانح په حیثیت سره نه بلکي د عبرت په نظر سره وګوري نو هره واقعه دعبرت سبق ورکوي. ابن ابی حاتم رحمة الله علیه په کتاب الفکر کي دحضرت مالک ابن دینار رحمة الله علیه څخه نقل کړیدي چي الله ﷻ موسی علیه السلام ته حکم ورکی چي داوسپني څپلی په پښو کړه او داوسپني لکړه په لاس کي واخله او دالله ﷻ په مځکه کي دومره وګرځه چي دا داوسپني څپلی وسولیږي او دا داوسپني همسا ماته سي (روح المعاني) که چیري دا روایت صحیح وي نو ددي سیل او ګرځیدو مقصد هم دغه عبرت او پوهه حاصلول دي. الله ﷻ دي رانصیب کړي. (معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۱۲۲)

قُلُوبٌ يَّعۡقِلُوۡنَ بِهَآ اَوۡ اٰذَانٌ يَّسۡمَعُوۡنَ بِهَا ۚ فَاِنَّهَا

قُلُوۡبٌ	يَّعۡقِلُوۡنَ	بِهَآ	اَوۡ اٰذَانٌ	يَّسۡمَعُوۡنَ	بِهَا	فَاِنَّهَا
زړونه	چې فکر يې کولی	په هغو	يا غوږونه	چې خبرې يې اوريدلی دوی	په هغو	پس قصه دا ده

زړونه چې فکر يې کولی په هغو يا (وی دوی لره) غوږونه چې خبرې يې اوريدلی دوی په هغو (غوږونو سره) پس قصه دا ده

لَا تَعۡمَى الۡاَبۡصَارُ وَلٰكِنۡ تَعۡمَى الۡقُلُوۡبُ الَّتِىۡ فِى الصُّدُوۡرِ ﴿۴۶﴾

لَا تَعۡمَى	الۡاَبۡصَارُ	وَلٰكِنۡ	تَعۡمَى	الۡقُلُوۡبُ	الَّتِىۡ	فِى الصُّدُوۡرِ
چې نه دی ړندی	سترګی	وليکن	ړانده دی	زړونه	هغه چې	دننه په سينو د دوی کښی دی

چې نه دی ړندی سترګی (ظاهری د دوی) وليکن ړانده دی زړونه (د دوی) هغه چې دننه په سينو د دوی کښی دی.

وَيَسۡتَعۡجِلُوۡنَكَ بِالۡعَذَابِ وَلَنۡ يُّخۡلِفَ اللّٰهُ وَعۡدَهٗ ؕ

وَيَسۡتَعۡجِلُوۡنَكَ	بِالۡعَذَابِ	وَلَنۡ يُّخۡلِفَ	اللّٰهُ	وَعۡدَهٗ
او تلوار کوی پر تا	په عذاب	او له سره به مخالفت ونه کړی	الله	د وعدی خپلی

او تلوار کوی (کفار) پر تا په (راوستلو د) عذاب او له سره به خلافه نه کړی الله وعده خپله،

وَاِنَّ يَوۡمًا عِنۡدَ رَبِّكَ كَاَلۡفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوۡنَ ﴿۴۷﴾

وَاِنَّ	يَوۡمًا	عِنۡدَ	رَبِّكَ	كَاَلۡفِ	سَنَةٍ	مِّمَّا	تَعُدُّوۡنَ
او بيشکه!	يوه ورځ	په نزد	درب ستا	(اوږده ده) لکه زر	کاله	له هغو کلونو څخه	چې شميرئ يې تاسی

او بيشکه! يوه ورځ په نزد د رب ستا (له ورځو د آخرت، اوږده ده) لکه زر کاله له هغو کلونو څخه چې شميرئ يې تاسی

وَكَاَيِّنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ اَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِىَ

وَكَاَيِّنۡ	مِّنۡ قَرۡيَةٍ	اَمۡلَيۡتُ	لَهَا	وَهِىَ
او ډيری دی	له کليو	چې مهلت ورکړی وو ما	دوی ته	حال دا چې (اهل د هغو)

(په دنيا کښی). او ډيری دی له (اهل د پخوانيو ښارونو او) کليو چې مهلت ورکړی ؤ ما دوی ته حال دا چې (اهل د هغو)

ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذۡتُهَا ۚ وَاِلَىَّ الۡمَصِيۡرُ ﴿۴۸﴾ قُلۡ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

٦ ع ١٠ ١٣

ظَالِمَةٌ	ثُمَّ	اَخَذۡتُهَا	وَاِلَىَّ	الۡمَصِيۡرُ	قُلۡ	يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ
ظالمان وو	بيا	ونيول ما هغه	او خاص ماته	راتله د هر چا دی	ووايه (ای محمده!)	ای خلکو

ظالمان وو بيا ونيول ما هغه (ناڅاپه په سخت عذاب) او خاص ماته راتله د هر چا دی. ووايه (ای محمده!) ای خلکو

وَاِنَّ يَوۡمًا عِنۡدَ رَبِّكَ كَاَلۡفِ سَنَةٍ داخرت دورځي دزرو کلونو کيدلو مطلب څه دی ؟ په ذکر سوي آيت کي الله ﷻ دافرمايلي دي چي (وان يوما عند ربک کالف سنة مما تعدون) يعني ستا درب په نزد يوه ورځ به ددنيا دزرو کلونو برابره وي په دي کي دوه احتماله دي: يو دا چي ددغي ورځي څخه مراد دقيامت ورځ واخيستل سي او دهغه دزرو کالو سره دبرابريدو به دا مطلب وي چي ددغه بيروونکو او هيبتناکو حالاتو په وجه سره به دا ورځ دومره اوږده محسوسيږي لکه زر کلونه دوهم احتمال دا دی چي په واقع کي دآخرت يوه ورځ دهميشه دپاره ددنيا دزروکالوبرابر وي په ځينو رواياتو دحديث شريف کي ددې معنی شاهدي هم پيدا کيږي: دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ يوه ورځ فقيرانو او مهاجرينو ته خطاب وکی ويي فرمايل چي تاسي ته زه دقيامت په ورځ دمکمل نور زيری درکوم او تاسي به د غنيانو څخه نيمه ورځ مخکي جنت ته ځی او يوه ورځ دقيامت به دزرو کلونو ددنيا د کلونو سره برابره وي:
(معرف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۲۲)

إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾ فَالَّذِينَ

إِنَّمَآ	أَنَا۠ لَكُمْ	نَذِيرٌ	مُّبِينٌ	فَالَّذِينَ
بیشکه! هم داخبره ده	چې زه تاسی ته	بیروونکی یم	ښکاره	پس هغه کسان چې

بیشکه ! هم داخبره ده چې زه تاسی ته بیروونکی یم ښکاره (له جحیم څخه) پس هغه کسان چې

ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾

ءَامَنُوا۟	وَعَمِلُوا۟	ٱلصَّٰلِحَٰتِ	لَهُم	مَّغْفِرَةٌ	وَرِزْقٌ	كَرِيمٌ
ایمان یئ راوړی دی	او کړی یئ دی	ښه (عملونه)	سته دوی ته	بخښنه	او روزی	عزتناکه

ایمان یئ راوړی دی او کړی یئ دی ښه (عملونه) سته دوی ته بخښنه (دګناهونو) او روزی عزتناکه (چې جنت دی) .

وَٱلَّذِينَ سَعَوْا۟ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ

وَٱلَّذِينَ	سَعَوْا۟	فِىٓ ءَايَٰتِنَا	مُعَٰجِزِينَ
او هغه کسان	چې کوشش کوی	په آیتونو زموږ کښې	چې عاجزکوونکی زموږ وی

او هغه کسان چې کوشش کوی په (بطلان د) آیتونو زموږ کښې په داسی حال کښې چې عاجز کوونکی زموږ وی

أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ

أُو۟لَٰٓئِكَ	أَصْحَٰبُ	ٱلْجَحِيمِ	وَمَآ أَرْسَلْنَا	مِن قَبْلِكَ
هم دغه کسان	ملګری	د دوزخ دی	او نه ؤ لیږلی موږ	پخوا له تا

هم دغه کسان ملګری د دوزخ دی. او نه ؤ لیږلی موږ پخوا له تا (ای محمده!)

مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِىٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى

مِن رَّسُولٍ	وَلَا نَبِىٍّ	إِلَّآ	إِذَا	تَمَنَّىٰٓ	أَلْقَى
هیڅ رسول	او نه هیڅ نبی	مګر	په هغه ختکښې چې	لوستل به یئ کول	نو وبه غورځاوه

هیڅ رسول او نه هیڅ نبی مګر په هغه وخت کښې چې لوستل به یئ کول نو وبه غورځاوه

ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى

ٱلشَّيْطَٰنُ	فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ	فَيَنسَخُ	ٱللَّهُ	مَا	يُلْقِى
شیطان	په لوستلو دده کښې له ځانه خپله	پس لری کوی	الله	هغه کلمی	چې غورځولی دی

شیطان په لوستلو د ده کښې له ځانه خپله پس لری کوی الله هغه کلمی چې غورځولی دی

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِىٍّ

درسول او نبي ترمابين فرق څه دی ؟ ددې آيت دالفاظو څخه معلوميږي چې رسول او نبي دوه جلا جلا مطلبونه لري يونه دي په دې دواړو کې فرق څه دی ؟ په دې کې مختلف اقوال دي مشهوره او واضحه داده چې نبي خو هغه سړي ته وايي کم ته چې دالله ﷻ دطرف څخه دنبوت منصب دقوم داصلاح دپاره ورکول سوی وي او ده ته دالله ﷻ دطرف څخه وحي راځي برابره خبره ده که ده ته يو مستقل کتاب او شريعت ورکول سي او که يا د مخکې نبي دکتاب او شريعت دتبليغ مامورہ وي : داول مثال حضرت موسی علیه السلام او حضرت عيسی علیه السلام او خاتم الانبياء ﷺ دی او ددوهم مثال حضرت هارون علیه السلام دی کم چې دحضرت موسی علیه السلام دکتاب تورات او ددوی دشريعت دتبليغ دپاره مامور وو او رسول هغه دی کم ته چې مستقل کتاب او شريعت ورکول سوی وي: ددې څخه داهم معلومه سوه چې دهر رسول نبي والی ضروري دی مګر دهر نبي رسول والی ضروري نه دی.

معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۲۶

الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۙ ﴿٥٢﴾

حَكِيْمٌ	عَلِيْمٌ	وَاللّٰهُ	اٰيٰتِهٖ	اللّٰهُ	يُحْكِمُ	ثُمَّ	الشَّيْطٰنُ
ښه حکمت لرونکی دی	ښه عالم	او الله	آيتونه خپل	الله	محکموی	بيا	شيطان

شيطان بيا محکموی الله آيتونه خپل او الله ښه عالم (په ټولو احوالو) ښه حکمت لرونکی دی (په هر کار په تدبير سره)

لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ

لِّلَّذِيْنَ	فِتْنَةً	الشَّيْطٰنُ	مَا يُلْقِي	لِّيَجْعَلَ
دپاره د هغو کسانو	ازموينت	شيطان	هغه شی چې غورځوی يې	دپاره ددې چې وګرځوی

دپاره ددې چې وګرځوی (الله) هغه شی چې غورځوی يې شيطان ازموينت دپاره دهغو کسانو

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاِنَّ

وَاِنَّ	قُلُوْبُهُمْ	وَّالْقَاسِيَةِ	مَّرَضٌ	فِيْ قُلُوْبِهِمْ
او بيشکه!	زړونه د دوی	او چې سخت دی	مرض دی	چې په زړونو د دوی کښې

چې په زړونو د دوی کښې مرض (دشک او نفاق) دی او (بل دپاره دهغو چې) سخت دی زړونه د دوی ، او بيشکه!

الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ۙ ﴿٥٣﴾ وَّلِيَعْلَمَ

وَّلِيَعْلَمَ	بَعِيْدٍ	شِقَاقٍ	لَفِيْ	الظّٰلِمِيْنَ
او چې په يقين سره پوه سی	ډير لرې کښې دی	په مخالفت	خامخا	ظالمان

ظالمان خامخا په مخالفت ډير لرې کښې دی (له حقه). اولپاره ددې چې په يقين سره پوه سی

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا

فَيُؤْمِنُوْا	مِنْ رَّبِّكَ	الْحَقُّ	اَنَّهُ	الْعِلْمَ	اُوْتُوا	الَّذِيْنَ
پس ايمان به راوړی دوی	له طرفه د رب ستا	حق دی	چې بيشکه! دا قرآن	علم	ورکړی سوی دی دوی ته	هغه کسان چې

هغه کسان چې ورکړی سوی دی دوی ته علم چې بيشکه! دا قرآن حق دی له طرفه د رب ستا پس ايمان به راوړی دوی

بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	لَهَادِ	اللّٰهَ	وَاِنَّ	قُلُوْبُهُمْ	لَهٗ	فَتُخْبِتَ	بِهٖ
هغو کسانو ته	خامخا لاره ښوونکی دی	الله	او بيشکه!	زړونه د دوی	دغه قرآن ته	نو نرم به سی	په ده سره

په ده سره نو نرم (آرام به سی) دغه قرآن ته زړونه د دوی ، او بيشکه! الله خامخا لاره ښوونکی دی هغو کسانو ته

ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ... شيطان دکفارو په زړونو کي شبهاتي او اعتراضونه وراچوي: په دغه آيت کي الله ﷻ يو لفظ د: تمنا، ذکر کړی دی دپه معنی دقرأ، دی او بل لفظ د: امنية، دی دهغه معنی هم دقرآءت ده. دعربي لغت په اعتبار سره دا معنی هم معروفه ده. ددغه آيت په تفسير کي دحديثو په کتابونو کي يوه واقعه نقل سويده کمه چي دغرانيق په نامه سره مشهوره ده دا واقعه دجمهورو محدثينو په نزد ثابته نه ده ځينو حضراتو دي واقعي او قصي ته موضوع يعني دروغ او دملحدينو او زنادقه وو ايجاد ويلي دي: اوکمو حضراتو چي دا معتبر ګڼلي هم ده نو دهغه دظاهري الفاظو څخه چي کم شبهات دقرآن او حديث پر قطعي او يقيني احکامو باندي عائد کيږي دهغوی مختلف جوابونه يي ورکړي دي ليکن دومره خبره بالکل واضحه ده چي دقرآن ددي ايت تفسير پر دغه واقعه باندي موقوف نه دی بلکي ددي ساده مطلب دمعارف القرآن په لنډ تفسير کي بيان سوی دی هلته يي وګوري.

معارف القرآن ج٦پ١٧ص١٢٦)

اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۴﴾ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ

اٰمَنُوْٓا	اِلٰى	صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ	وَلَا يَزَالُ	الَّذِيْنَ
چي ايمان يئ راوړى دى	طرف	دلارى	سمى صافي ته	او تل به وى	هغه کسان

چي ايمان يئ راوړى دى طرف د سمى صافي لارى (د اسلام) ته. او تل به وى هغه کسان

كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ

كَفَرُوْا	فِيْ مِرْيَةٍ	مِّنْهُ	حَتّٰى	تَاْتِيَهُمُ	السَّاعَةُ
چي کافران سوى دى	په شک کښي	له دى (قرآنه)	تر هغه وخت پورى	چي راسي دوى ته	قيامت

چي کافران سوى دى په شک کښي له دى (قرآنه يا له سمى لارى يا له رسوله) تر هغه وخت پورى چي راسي دوى ته قيامت

بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ

بَغْتَةً	اَوْ يَاْتِيَهُمْ	عَذَابُ	يَوْمٍ	عَقِيْمٍ	اَلْمُلْكُ	يَوْمَئِذٍ
ناخاپه	يا راسي دوى ته	عذاب	دورځي	وچي	ملک سلطنت	په دغه ورځ د قيامت

ناخاپه يا راسي دوى ته عذاب د ورځي وچي (د خير خخه خالي). ملک سلطنت په دغه ورځ د قيامت

لِّلّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

لِّلّٰهِ	يَحْكُمُ	بَيْنَهُمْ	فَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
خاص الله ته دى	فيصله به کوى	په مينځ د دوى کښي	پس هغه کسان	چي ايمان يئ راوړى دى	او کړى يئ دى

خاص الله ته دى، فيصله به کوى (په دغه ورځ) په مينځ د دوى کښي پس هغه کسان چي ايمان يئ راوړى دى او کړى يئ دى

الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيْنَ

الصّٰلِحٰتِ	فِيْ جَنّٰتِ	النَّعِيْمِ	وَالَّذِيْنَ
نبه (عملونه)	په جنتونو کښي	دنعمتونو به وى	او هغه کسان چي

نبه (عملونه) په جنتونو کښي د نعمتونو به وى. او هغه کسان چي

كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

كَفَرُوْا	وَكَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا	فَاُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	عَذَابٌ
کافران سوى دى	او نسبت د دروغو يئ کړى دى	آيتونو زموږ ته	پس دغه کسان	سته دوى ته	عذاب

کافران سوى دى او نسبت د دروغو يئ کړى دى آيتونو زموږ ته پس دغه کسان سته دوى ته عذاب

وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ. کافران هميشه دالله ﷻ په کلام کي شک کوي او يقين نه ورته لري: په دغه آيت کي الله ﷻ فرمايي چي کافران خلگ پس هغوى هميشه دهغه ويل سوي حکم دطرف خخه په شک کي اوسيږي کم شک چي ددوى په زړنو کي شيطان اچولى دى تر داسي وخته پوري به دوى په شک کي وي چي ناخاپه پر دوى باندي قيامت راسي چي دهغه بيره زياته او سخته ده بيا نو برابره خبره ده که عذاب وي او که عذاب نه وي ياتر دي لا زياته داده چي پر دوى ديو بې برکته ورځي چي دقيامت ورځ ده عذاب راسي او ددوارو جمع کيدل هم کم چي په واقع کي به وي نور زيات سخت مصيبت دى: مطلب دادى چي دوى بغير دليدلو دعذاب خخه دکفر خخه نه راگرځي مگر دغه وخت به فائده مند هم نه وي: پاچهي به په دغه ورځ د الله ﷻ وي هغه به ددي ټولو ذکر سوو په مينځ کي عملي فيصله وفرمايي چي جنتيان به جنت ته ځي او دوږخيان به دوږخ ته ځي دايي دپوره بدلي ورځ الخ
معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۲۵

ع ٧ / ١٤

مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ

مُّهِينٌ	وَالَّذِينَ	هَاجَرُوا	فِي سَبِيلِ	اللَّهِ	ثُمَّ
سپکوونکی	او هغه کسان چې	خپل کوورونه یې پرېښې دي	په لاره	دالله کښې	بیا

سپکوونکی. او هغه کسان چې خپل کورونه یې پرېښې دي په لاره د الله کښې (دجهاد، طاعت او دالله درضاء لپاره) بیا

قُتِلُوٓا اَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا

قُتِلُوٓا	اَوْ مَاتُوا	لَيَرْزُقَنَّهُمُ	اللَّهُ	رِزْقًا	حَسَنًا
ووژلی سی	یا مړه سی	نو خامخا روزی به ورکړی دوی ته	الله	روزی	نیکه (د جنت)

ووژلی سی (په جهاد کښې) یا مړه سی (پخپل مرګ) نو خامخا روزی به ورکړی هرومرو دوی ته الله روزی نیکه (دجنت)

وَاِنَّ اللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٥٨﴾ لَيُدْخِلَنَّهُمْ

وَاِنَّ	اللَّهَ	لَهُوَ	خَيْرُ	الرّٰزِقِيْنَ	لَيُدْخِلَنَّهُمْ
او بیشکه!	الله	خامخا هم دی	غوره د (ټولو)	روزی ورکوونکو دی	خامخا داخل به کړی هرومرو دوی

او بیشکه! الله خامخا هم دی غوره د (ټولو) روزی ورکوونکو دی. خامخا داخل به کړی (الله) هرومرو دوی

مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ۗ وَاِنَّ اللَّهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿٥٩﴾

مُّدْخَلًا	يَّرْضَوْنَهٗ	وَاِنَّ	اللَّهَ	لَعَلِيْمٌ	حَلِيْمٌ
په داسی یو ځای کښې	چې خوښ به کړی دوی هغه	او بیشکه!	الله	خامخا ډیر عالم	نه حلم لرونکی دی

په داسی یو ځای (دجنت) کښې چې خوښ به کړی دوی هغه (ځایونه)، او بیشکه! الله خامخا ډیر عالم نه حلم لرونکی د ی

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهٖ ثُمَّ

ذٰلِكَ	وَمَنْ	عَاقَبَ	بِمِثْلِ	مَا عُوقِبَ بِهٖ	ثُمَّ
خبره هم دا ده	او هر هغه چې	بدل یې واخیست	په مثل	د هغه چې معذب سوی دی دی په هغه سره	بیا

(خبره) هم دا ده او هر هغه چې بدل واخیست په مثل د هغه (ضرر) چې معذب سوی دی دی په هغه سره بیا (دوهم ځل)

بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ اللَّهُ ۗ اِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٦٠﴾

بُغِيَ	عَلَيْهِ	لَيَنْصُرَنَّهُ	اللَّهُ	اِنَّ	اللَّهَ	لَعَفُوٌّ	غَفُورٌ
ظلم وکړ سی	په ده باندی	خامخا مرسته به وکړی له ده سره	الله	بیشکه!	الله	خامخا نه عفوه کوونکی دی	ډیر بخښونکی دی

ظلم وکړ سی په ده باندی نو خامخا به مرسته وکړی له ده سره الله، بیشکه! الله خامخا نه عفوه کوونکی دی ډیر بخښونکی دی

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهٖ. الله ﷻ وعده کړیده چې زه به دمظلوم مدد کوم: خوایتونه مخکښې دغه مضمون تیر سویدی چې الله ﷻ دمظلوم مدد کوي. وان الله على نصرهم لقدير: مګر مظلومان پر دوه قسمه دي: یو هغه چاچي ددښمن څخه دظلم انتقام او بدله دسره نه وي اخیستې بلکي معاف یي کړی یا یي پرېښې وي: دوهم هغه سړی چاچي ددښمن څخه سر په سر بدله واخیسته چي ددې مقتضی داوه چي اوس دواړه برابر سول مخکښې داسلسله ختمه سوه مګر دښمن دده دبدلي اخیستو پر بنا نور غصه سو او دوباره یي حمله وکړه او زیات ظلم یي وکی نو داسړی بیا مظلوم پاته سو په دغه آیت کي ددغه دوهم قسم دمظلوم دامداد او دکومک وعده ذکره مګر دالله ﷻ په نزد ښه داده چي سړی دسره څخه پر ظلم صبر وکي او معاف یي کي انتقام وانه اخلي لکه چي دقرآن کریم په ډیرو ایاتونو کي دغه مضمون او دهغه طرف ته ترغیب راغلی دی یعني دمعاف کولو او صبر کولو ددښمن پر تکلیف وغیره.
معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۱۲۸

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ

ذٰلِكَ	بِاَنَّ	اللّٰهَ	يُوْلِجُ	الَّيْلَ	فِي النَّهَارِ	وَيُوْلِجُ
دغه	په سبب د دې چې بیشکه!	الله	ننه باسي	شپه	په ورځ کښې	او ننه باسي

دغه (نصرت په سبب د دې دی) چې بیشکه! الله ننه باسي شپه په ورځ کښې او ننه باسي

النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ

النَّهَارَ	فِي الَّيْلِ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	سَمِيْعٌ	بَصِيْرٌ	ذٰلِكَ	بِاَنَّ
ورځ	په شپه کښې	او بیشکه!	الله	بنه اوریدونکی دی	بنه لیدونکی دی	دغه مرسته په دی ده	چې بیشکه!

ورځ په شپه کښې او بیشکه! الله بنه اوریدونکی دی (دټولو اقوالو) بنه لیدونکی دی. دغه (مرسته په دی ده چې) بیشکه!

اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

اللّٰهَ	هُوَ الْحَقُّ	وَاَنَّ	مَا يَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِهٖ
الله	هم دی دی حق ثابت	او بیشکه!	هغه چې بولی یئ دوی	بې له الله نه

الله هم دی دی حق ثابت او بیشکه! هغه چې بولی یئ (کفار او عبادت یئ کوی) بې له الله نه

هُوَ الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٦٢﴾ اَلَمْ تَرَ

هُوَ الْبَاطِلُ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	هُوَ	الْعَلِيُّ	الْكَبِيْرُ	اَلَمْ تَرَ
هم دغه باطل دی	او بیشکه!	الله	هم دی	بنه لوړ	بنه لوی دی	آیا نه وینی ته

هم دغه باطل دی او بیشکه! الله هم دی (له ټولو نه) بنه لوړ (اوچت) بنه لوی دی. آیا نه وینی ته (نه یئ خبر ای مخاطبه!)

اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ

اَنَّ	اللّٰهَ	اَنْزَلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَتُصْبِحُ
چې بیشکه!	الله	نازلې کړی دی	له (طرفه) د آسمان نه	او به	پس ګرځی

چې بیشکه! الله نازلې کړی دی له (طرفه د) آسمان نه اوبه پس ګرځی

الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿٦٣﴾

الْاَرْضُ	مُخْضَرَّةً	اِنَّ	اللّٰهَ	لَطِيْفٌ	خَبِيْرٌ
ځمکه	تکه شنه	بیشکه!	الله	بنه مهربان عالم دی په پټو تدابیرو	بنه خبردار دی

ځمکه (په دی اوبو سره) تکه شنه ، بیشکه! الله بنه مهربان عالم دی په پټو تدابیرو بنه خبردار دی (په ټولو شیانو).

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ... مومنان ځکه غالبه دي چې الله ﷻ دکامل قدرت خاوند دی:
په دغه ایت کې الله ﷻ دخپل قدرت او وحدانیت نښې او نښانې بیان کړي دي هغه دا چې الله ﷻ دکامل قدرت خاوند دی چې دشپې اجزاء په ورځې کې او دورځې د په شپه کې ننه باسي داد کائناتو انقلاب دیو قوم پربل قوم دغالب کوونکي انقلاب څخه زیات عجیبه دی او په دې سبب سره دی چې الله ﷻ ددې ټولو خبرو او حالاتو بنه اوریدونکی او بنه لیدونکی دی هغه دکافرانو ظلم او دمومنانو مظلومیت اوري ویني یې په دې وجه هغه دټولو حالاتو څخه خبردار هم دی او قوت او قدرت هم د هغه دټولو څخه لوی دی دا مجموعه سبب سره د کمزوري دغالبه کولو او دغه نصرت الهي په دې وجه سره هم دی چې په دې کې دیو طاقت مجال نشته چې په دې کې دالله ﷻ مزاحمت وکې ځکه چې الله ﷻ کامله هستي ده او دکمو شیانو چې د الله ﷻ څخه ماسوا د ا خلګ عبادت کوي هغه بالکل باطل دي چې په خپله محتاجه دي.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۱۲۹)

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ

لَهٗ مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الْاَرْضِ	وَاِنَّ	اللّٰهَ
خاص هم الله لره دی	هر څه چي په آسمانونو کښې دی	او هر څه چي	چي په مځکه کښې دی	او بیشکه!	الله

خاص هم دغه (الله) لره دی هر څه چي په آسمانونو کښې دی او هر څه چي په مځکه کښې دی او بیشکه! الله

لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٦٤﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ

ع ٨ ١٥

لَهُوَ	الْغَنِيُّ	الْحَمِيْدُ	اَلَمْ تَرَ	اَنَّ	اللّٰهَ	سَخَّرَ لَكُمْ
خامخا هم دی	غنی بی پروا دی	ښه ستایلی سوی	آیا نه دی لیدلی تا	چي بیشکه!	الله	مسخر کړی دی تاسی ته

خامخا هم دی غنی بی پروا دی ښه ستایلی سوی. آیا نه دی لیدلی تا چي بیشکه! الله مسخر (تابع) کړی دی تاسی ته

مَّا فِي الْاَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ؕ

مَّا	فِي الْاَرْضِ	وَالْفُلْكَ	تَجْرِيْ	فِي الْبَحْرِ	بِاَمْرِهٖ
هر هغه چي	په مځکه کښې دی	او کښتی	چي ګرځی	په بحر کښې	په حکم د هغه سره

هر هغه چي په مځکه کښې دی او (مسخره کړی یئ ده) کښتی (بیړی) چي ګرځی په بحر کښې په حکم د هغه سره،

وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ

وَيُمْسِكُ	السَّمَآءَ	اَنْ تَقَعَ	عَلَى الْاَرْضِ	اِلَّا	بِاِذْنِهٖ
او ساتی	آسمان	له دی څخه چي راولویږی	په مځکه باندی	مګر	په حکم د هغه سره

او ساتی آسمان له دی څخه چي راولویږی په مځکه باندی مګر خو په حکم د هغه سره،

اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ

اِنَّ	اللّٰهَ	بِالنَّاسِ	لَرَءُوْفٌ	رَّحِيْمٌ	وَهُوَ	الَّذِيْٓ
بیشکه!	الله	پر خلګو	خامخا ښه نرمی کوونکی	ښه مهربان دی	او دغه (الله)	هغه (قادر مطلق دی)

بیشکه! الله پر خلګو خامخا ښه نرمی کوونکی ښه مهربان دی. او دغه (الله) هغه(قادر مطلق دی)

اَحْيَاكُمْ ۫ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ؕ

اَحْيَاكُمْ	ثُمَّ	يُمِيْتُكُمْ	ثُمَّ	يُحْيِيْكُمْ
چي ژوندی کړی یئ تاسی	بیا به	مړه کړی تاسی	بیا به	ژوندی کړی تاسی

چي ژوندی کړی یئ تاسی (په دی کولو د روح سره) بیا به مړه کړی تاسی بیا به ژوندی کړی تاسی (په قیامت کښې)

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ... دمځکي ټوله شیان الله جَلَّ جَلَالُهٗ دانسان دپاره مسخر جوړ کړي دي: دمسخر جوړولو ظاهري او عامه معنی داګڼل کیږي چي هغه دده دحکم تابع چلیږي. ددې معنی په لحاظ سره دلته دا شبه کیږي چي دمځکي غرونه، دریابونه، درندګان، او دهوا مارغان، او نور په زرګونو شیان داسي دي چي دانسان دحکم تابع نه چلیږي: مګر یو شی دچا په خدمت کي لګول چي هر وخت خدمت ورلره کوي دا هم په حقیقت کي دهغه دپاره تسخیر دی که څه هم هغه دده په حکم کي نه بلکي دمالک حقیقي په حکم سره دا خدمت پورا کوي: په دې وجه دتسخیر ترجمه دلته. په کار کي په لګولو سره سویده. د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په قدرت کي دا هم وه چي دا ټول شیان یي دانسان دحکم تابع جوړ کړي وای مګر ددې نتیجه به په خپله دانسان په حق کي مضره وای ځکه چي دانسانانو طبیعتونه خواهشات او ضرورتونه مختلف وي یو انسان به دریاب دخپل مخ ته داړولو کوشش کولای او بل به دبل طرف ته بیا به یي نتیجه فساد وای. (معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۱۳۰)

اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَكَفُوۡرٌ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلۡنَا

اِنَّ	الۡاِنۡسَانَ	لَكَفُوۡرٌ	لِكُلِّ	اُمَّةٍ	جَعَلۡنَا
بیشکه!	انسان	خامخا ناشکره دی	دپاره د هر یوه	امت	مقرره کړی ده موږ

بیشکه! انسان خامخا ناشکره دی. دپاره د هر یوه امت مقرره کړی ده موږ

مَنۡسَكًا هُمۡ نَاسِكُوۡهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ

مَنۡسَكًا	هُمۡ نَاسِكُوۡهُ	فَلَا يُنَازِعُنَّكَ
یوه لاره د بندګی	چی دوی عمل کوونکی دی دهغه	پس نه بنائی چی جګړه وکړی خامخا له تاسره

یوه لاره د بندګی چی دوی عمل کوونکی دی دهغه پس نه بنائی چی جګړه وکړی (داخاوندان د ادیانو) خامخا له تاسره

فِي الۡاَمۡرِ وَادۡعُ اِلٰى رَبِّكَ ؕ اِنَّكَ لَعَلٰى هُدًى مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿٦٧﴾ وَاِنۡ

فِي الۡاَمۡرِ	وَادۡعُ	اِلٰى رَبِّكَ	اِنَّكَ	لَعَلٰى هُدًى مُّسۡتَقِيۡمٍ	وَاِنۡ
په دی کار کښی	او بلنه کوه	رب خپل ته	بیشکه! ته یئ	خامخا پر سمه صافه لاره	او که

په دی کار (د دین) کښی او بلنه کوه (دخلکو ته د) رب خپل ته، بیشکه! ته یئ خامخا په (هغه) سمه صافه لاره. او که

جٰدَلُوۡكَ فَقُلِ اللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٦٨﴾

جٰدَلُوۡكَ	فَقُلِ	اللّٰهُ	اَعۡلَمُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ
جګړه کوی له تاسره	نو ووایه	چی الله	ښه پوه دی	په هغه چی	کوئ یئ تاسی

جګړه کوی (په امر د دین کښی کفار) له تاسره نو ووایه (ای محمده! دوی ته) چی الله ښه پوه دی په هغه چی کوئ یئ تاسی

اَللّٰهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا كُنۡتُمۡ فِيۡهِ

اَللّٰهُ	يَحۡكُمُ	بَيۡنَكُمۡ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	فِيۡمَا	كُنۡتُمۡ	فِيۡهِ
الله	به حکم وکړی	په مینځ ستاسی کښی	په ورځ	دقیامت	په هغه شی کښی	چی وئ تاسی	چی په هغه کښی

الله به حکم وکړی په مینځ ستاسی کښی په ورځ دقیامت په هغه شی کښی چی وئ تاسی چی په هغه کښی

تَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿٦٩﴾ اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ يَعۡلَمُ مَا فِي

تَخۡتَلِفُوۡنَ	اَلَمۡ تَعۡلَمۡ	اَنَّ	اللّٰهَ	يَعۡلَمُ	مَا فِي
مو اختلاف کاوه	آیا نه پوهیږی ته	چی بیشکه!	الله	پوهیږی	په هر هغه څه چی دی په

مو اختلاف کاوه (چی د دین امر دی). آیا نه پوهیږی ته (ای مخاطبه) چی بیشکه! الله پوهیږی په هر هغه څه چی دی په

لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلۡنَا مَنۡسَكًا هُمۡ... الله ﷻ دهر امت دپاره دذبح کولو طریقې مقرري کړي دي: حاصل دآیت دادی چي الله ﷻ دهریو امت او شریعت دپاره دذبح احکام جلا جلا ایښي دي: دنبي کریم ﷺ شریعت یو مستقل شریعت دی ددې داحکامو معارضه دیو مخکښي شریعت داحکامو سره کول هم جائز نه دي دالا څه چي تاسي یي دخپل غلط خیال او رایه سره معارضه کوی یعني دمردار ښاروي نه حلالولی خو څه ددې امت سره خاص نه دی په تیرو ټولو شریعتونو کي هم حرام راغلی دی نو ستاسي دا خبره خو بالکل بې بنیاده ده (هغه داچي ځینو کفارو به ویل چي ستاسي دمذهب یو عجیبه حکم دی چي کم ښاروي تاسي په خپلو لاسو قتل کړی هغه خو حلال وي او کم چي بیلـه واسطې الله ﷻ مړکړي یعني عام مردار ښاروي نو هغه حرام دي ددوی ددغه جګړو په جواب کي الله ﷻ دغه آیت نازل کی) ددې بې بنیاده خیال په بنا سره دصاحب شریعت نبي سره جګړه او معارضه کول بې وقوفي او حماقت دی: روح المعاني (معارف القرآن ج ۶ پ ۱۷ ص ۱۳۲)

السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنَّ ذٰلِكَ فِيْ كِتٰبٍ ۭ اِنَّ ذٰلِكَ

السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ	اِنَّ	ذٰلِكَ	فِيْ كِتٰبٍ	اِنَّ	ذٰلِكَ
په‌آسمان کښی	او په‌ځمکه کښی	بیشکه!	دا	په‌کتاب کښی دی	بیشکه!	دا

په‌آسمان کښی او (هرهغه‌څه چی دی په) ځمکه کښی بیشکه! دا په‌کتاب (لوح محفوظ) کښی دی بیشکه! دا

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝٧٠ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا

عَلَى	اللّٰهِ	يَسِيْرٌ	وَيَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	مَا
پر	الله	آسان دی	او عبادت کوی	غیر له	الله	دهغه‌شی

په‌الله‌آسان دی. او عبادت کوی (دغه کفار) غیر له الله دهغه‌شی

لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّمَا لَيْسَ لَهُمْ بِهٖ عِلْمٌ ۭ

لَمْ يُنَزِّلْ	بِهٖ	سُلْطٰنًا	وَّمَا لَيْسَ	لَهُمْ	بِهٖ	عِلْمٌ
چی نه‌دی نازل کړی	په‌عبادت دهغه	هیڅ سند	او دهغه‌شی چی نسته	دوی ته	په‌هغه‌باندی	هیڅ علم دلیل پوهه

چی نه‌دی نازل کړی (الله) په‌عبادت دهغه هیڅ سند او دهغه‌شی چی نسته دوی ته په‌هغه‌باندی هیڅ علم دلیل پوهه،

وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ۝٧١ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ	مِنْ نَّصِيْرٍ	وَاِذَا	تُتْلٰى	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتُنَا
او نسته ظالمانو ته	هیڅ مرسته‌کوونکی	او کله چی	وویل سی	پر دوی	آیتونه (دقرآن) زموږ

او نسته ظالمانو ته هیڅ مرسته‌کوونکی (چی له عذابه یې خلاص کړی) . او کله چی وویل سی پر دوی آیتونه (دقرآن) زموږ

بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ۭ

بَيِّنٰتٍ	تَعْرِفُ	فِيْ وُجُوْهِ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوا	الْمُنْكَرَ
چی صاف واضح ښکاره دی	نو پیژنی به‌ته	په‌مخونو	دهغه کسانو کښی	چی کافران سوی دی	انکار

په‌داسی حال کښی چی صاف واضح ښکاره دی نو پیژنی به‌ته په‌مخونو دهغه کسانو کښی چی کافران سوی دی انکار

يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۭ

يَكَادُوْنَ	يَسْطُوْنَ	بِالَّذِيْنَ	يَتْلُوْنَ	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتِنَا
نژدی وی	چی حمله وکړی	په‌هغو کسانو	چی وایی	په‌دوی باندی	آیتونه (دقرآن) زموږ

نژدی وی چی حمله وکړی (له‌ډیره قهره) په‌هغو کسانو چی وایی په‌دوی باندی آیتونه (دقرآن) زموږ

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ. کفار دهغه شیانو عبادت کوي دکوم دعبادت دجواز دپاره چي الله ﷻ څه دلیل نه دی رالیږلی: په دغه آیت کي بیا الله ﷻ یو ځل دکفارو حماقت او غفلت او ړوندوالی داخرت په امورو کي بیان کړی دی هغه دا چي دوی ددنیا په امورو او چارو باندي ډیر ښه پوه دي لیکن دآخرت په معاملو کي ړانده پراته دي دداسي شیانو عبادت یي اختیاره کړی دی چي په هیڅ یوه اسماني کتاب کي دهغو دعبادت جواز یا یو علمي سنداو دلیل دوی نه لري او نه ددوی سره پر دغه عبادت کولو باندي څه عقلي دلیل سته چي پیش یي کړي او دقیامت په ورځ چي کله دوی ته ددوی پر شرک او کفر او ظلم باندي سزا ورکول کیږي هیڅوک به ددوی مددگاره نه وي نه به قولي مددگاره لري چي ددوی ددې کار پر ښه والي باندي څه دلیل پیش کړي نه عملي مددگاره چي دوی دعذاب څخه خلاص کړي او دایي داسلام او اهل حق سره عداوت دی چي دقرآن کریم ایاتونه او دهغه تلاوت پر دوی باندي بد لگیږي الخ.

معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۳۵

يَآيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا۔ دشرک او بت پرستی داحمقانه حرکت په یوه مثال سره وضاحت: د(ضُرِبَ مَثَلٌ) لفظ په عام طور سره دیو خاص قصې دتمثیل دپاره استعمالیږي: دلته د ضُرِبَ مَثَلٌ څخه داصورت مراد نه دی بلکې دشرک او بت پرستی حماقت په یو واضح مثال سره بیانول دي: چې دابتان کم چې تاسي يې خپل کار سازه بولی داخوداسي بې وسه او بې چاره دي چې که ټول یو ځای سي نو دیو مچ قدر حقیر شی هم نه سي پیداکولای او پیداکول خو لوی کار دی تاسي روزانه دوی ته متایاني او خواږه شیان میوې وغیره دخوراک سامان وه دوی ته راوړی او مچان هغه شیان خوري نو دوی دومره هم نه سي کولای چې مچان دخپل شي څخه وشړي او خپل شی ورڅخه وساتي نو به تاسي دیو آفت څخه څنگه محفوظه کړي؟ په دې وجه دآیت په آخر کې الله ﷻ ددوی جهالت او بې وقوفي يې په دغه الفاظو سره تعبیر کړیده ضعف الطالب والمطلوب یعني عابد او معبود دواړه کمزوري دي الخ.

معارف القرآن ج۶پ۱۷ص۱۳۶

ع ۹ / ۱۲

قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ اَلنَّارُ وَعَدَهَا

قُلْ	اَفَاُنَبِّئُكُمْ	بِشَرٍّ	مِّنْ ذٰلِكُمْ	اَلنَّارُ	وَعَدَهَا
ووایه	چې آیا پس خبر کړم تاسی	په دیر بد	له دی ستاسی	اور (د دوزخ) دی	وعده کړی ده د دی

ووایه (ای محمده!) چې آیا پس خبر کړم تاسی په دیر بد له دی ستاسی (چې دغه) اور (د دوزخ) دی وعده کړی ده د دی

اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۷۲ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	يٰٓاَيُّهَا	النَّاسُ
الله	له هغو کسانو سره	چې کافران سوی دی	او خامخا بد	ځای دیرته ورتلو دی	ای	خلکو

(اور) الله له هغو کسانو سره چې کافران سوی دی او خامخا بد ځای د بیرته ورتلو دی (دا اور د دوزخ) . ای خلکو

ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ۚ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

ضُرِبَ	مَثَلٌ	فَاسْتَمِعُوْا	لَهٗ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	تَدْعُوْنَ
بیان سوی دی تاسی ته	یو مثال	پس غوږ کښیږدئ تاسی	هغه ته	بیشکه!	هغه بتان	چې تاسی عبادت کوئ

بیان سوی دی تاسی ته یو مثال پس غوږ کښیږدئ تاسی هغه ته (چې دا دی) بیشکه! هغه بتان چې تاسی عبادت کوئ (د هغو)

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ۚ

مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	لَنْ يَّخْلُقُوْا	ذُبَابًا	وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا	لَهٗ
غیر له	الله څخه	له سره نسی پیدا کولی	یو مچ	او که څه هم راټول سی دوی	هغه ته

غیر له الله څخه له سره نسی پیدا کولی یو مچ ته او که څه هم راټول سی دوی هغه ته

وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ۚ

وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ	الذُّبَابُ	شَيْئًا	لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ	مِنْهُ
او که چیری وتښتوئ له دوی څخه	هغه مچ	یو شئ	نو راخلاص به نه کړی دوی هغه	د ده څخه

او که چیری وتښتوئ له دوی څخه هغه مچ یو شئ نو راخلاص به نه کړی دوی هغه د ده څخه

ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ ۝۷۳ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ

ضَعُفَ	الطَّالِبُ	وَالْمَطْلُوْبُ	مَا قَدَرُوا	اللّٰهَ	حَقَّ
نو کمزوری دی	دا طالب	او دا مطلوب	نه دی پیژندلی او نه يې دی تعظیم کړی	دالله	په حق

نو کمزوری دی دا طالب او دا مطلوب . نه دی پیژندلی (دغو کفارو) او نه يې دی تعظیم کړی دالله په حق

قَدۡرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِیٌّ عَزِیۡزٌ ﴿٧٤﴾ اَللّٰهُ یَصۡطَفِیۡ

قَدۡرِهٖ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَقَوِیٌّ	عَزِیۡزٌ	اَللّٰهُ	یَصۡطَفِیۡ
پیژندلو او تعظیم د ده سره	بیشکه!	الله	خامخا ښه قوي زورور	ډیر زبردست دی (غالب دی)	الله	غوره کوی

پیژندلو او تعظیم د ده سره، بیشکه! الله خامخا ښه قوی زورور ډیر زبردست دی. الله غوره کوی

مِنَ الۡمَلٰٓئِکَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِیۡعٌۢ بَصِیۡرٌ ﴿٧٥﴾

مِنَ الۡمَلٰٓئِکَةِ	رُسُلًا	وَّمِنَ	النَّاسِ	اِنَّ	اللّٰهَ	سَمِیۡعٌ	بَصِیۡرٌ
له ملائیکو څخه	استازی	او له	خلګو څخه	بیشکه!	الله	ښه اوریدونکی دی	ښه لیدونکی دی

له ملائیکو څخه استازی (واسطه کیږی په مینځ د الله او انبیاؤ) او له خلګو څخه، بیشکه! الله ښه اوریدونکی دی ښه لیدونکی دی.

یَعۡلَمُ مَا بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ ؕ وَاِلَی اللّٰهِ

یَعۡلَمُ	مَا بَیۡنَ	اَیۡدِیۡهِمۡ	وَمَا خَلۡفَهُمۡ	وَاِلَی	اللّٰهِ
پوهیږی	په هغه څه چې	د وړاندی د دوی دی	او په هغه څه چې وروسته د دوی دی	او خاص طرف	د الله ته

پوهیږی (الله) په هغه څه چې د وړاندی د دوی دی او په هغه څه چې وروسته د دوی دی، او خاص طرف د الله ته

تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ﴿٧٦﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا ارۡکَعُوۡا

تُرۡجَعُ	الۡاُمُوۡرُ	یٰۤاَیُّهَا	الَّذِیۡنَ	اٰمَنُوا	ارۡکَعُوۡا
بیرته ګرځولی کیږی	ټول کارونه	ای	هغو کسانو	چې ایمان يئ راوړی دی	رکوع کوئ تاسی

بیرته ګرځولی کیږی ټول کارونه. ای هغو کسانو چې ایمان یئ راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) رکوع کوئ تاسی!

وَاسۡجُدُوۡا وَاعۡبُدُوۡا رَبَّکُمۡ وَافۡعَلُوا الۡخَیۡرَ لَعَلَّکُمۡ

وَاسۡجُدُوۡا	وَاعۡبُدُوۡا	رَبَّکُمۡ	وَافۡعَلُوا	الۡخَیۡرَ	لَعَلَّکُمۡ
او سجده کوئ تاسی	او عبادت کوئ تاسی	د رب خپل	او کوئ	نیک کارونه	د پاره د دی چې

او سجده کوئ تاسی! (په لمانځه کښی) او عبادت کوئ تاسی! د رب خپل (نه د بل) او کوئ نیک کارونه د پاره د دی چې

تُفۡلِحُوۡنَ ﴿٧٧﴾ السجدة وَجَاهِدُوۡا فِی اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ ؕ هُوَ

تُفۡلِحُوۡنَ	وَجَاهِدُوۡا	فِی اللّٰهِ	حَقَّ	جِهَادِهٖ	هُوَ
بری پیدا کړی	او جهاد کوئ	په لاره د الله کښی	په حق	د جهاد د هغه سره	هم دغه (الله)

بری پیدا کړی (په نعمت او جنت سره) او زیار (کوشش) کوئ په لاره د الله کی په حق د جهاد د هغه سره (چې لائق دی) دغه (الله)

عندالشافعي السجدة

وَجَاهِدُوۡا فِی اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ هُوَ.. مسلمانانو ته د الله ﷻ د طرفه څخه په اخلاص سره د جهاد کولو حکم: لفظ د جهاد او مجاهده دیو مقصد په حصول کي خپل پوره قوت خرڅ کول او د هغه د پاره د مشقت تیرولو په معنی کي راځي: د کفارو سره په جنګ کي هم مسلمان خپل قول او فعل او هر قسم امکاني طاقت خرڅ کوي په دې وجه هغه ته هم جهاد ویل کیږي او د (حق جهاده) څخه مراد په دې کي پوره اخلاص د الله ﷻ د پاره کیدل دي چي په دې کي څه دنیوي نوم نمایش یا د غنیمت د مال څه شایبه نه وي او نه په کښي د دې څه طمع وي: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي حق جهاد دا دی چي په جهاد کي خپل پوره طاقت خرڅ کړی او د چا ملامتیا کوونکی ملامتیا ته غوږ نه ایږدي. او ځیني مفسرین حضرات دلته د جهاد معنی په عامو عبادتونو او د الله ﷻ د حکمونو په پوره کولو کي خپل پوره طاقت په پوره اخلاص سره خرڅ کولو کي اخلي. او ځیني بیا فرمايي چي داسي جهاد کوی چي څنګه د جهاد حق دی. الله ﷻ دي را نصیب کړي.

معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۱۳۹

اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ

مِنْ حَرَجٍ	فِي الدِّيْنِ	عَلَيْكُمْ	وَمَا جَعَلَ	اجْتَبٰىكُمْ
هيڅ مشقت	په دين کښې	پر تاسې	او نه يئ دی ګرځولی	غوره کړی يئ تاسې

غوره کړی يئ تاسې او نه يئ دی ګرځولی (نه يئ دی ايښې) پر تاسې په دين کښې هيڅ مشقت

مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ۚ هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ۙ

الْمُسْلِمِيْنَ	سَمّٰىكُمُ	هُوَ	اِبْرٰهِيْمَ	اَبِيْكُمْ	مِلَّةَ
دمسلمانانو	نوم درکړی تاسې ته	دغه (الله)	چې ابراهيم دی	دپلار خپل	د دين

(متابعت وکړئ د) دين د پلار خپل چې ابراهيم دی، دغه (الله) نوم درکړی تاسې ته دمسلمانانو

مِنْ قَبْلُ وَفِيْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا

شَهِيْدًا	الرَّسُوْلُ	لِيَكُوْنَ	وَفِيْ هٰذَا	مِنْ قَبْلُ
شاهد (ښوونکی)	رسول	دپاره د دې چې سی	او په دغه (قرآن) کښې	پخوا

پخوا (له دغه قرآن څخه) او په دغه (قرآن) کښې (هم) دپاره د دې چې سی رسول (ستاسې محمد) شاهد (ښوونکی)

عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ ۖ فَاَقِيْمُوا

فَاَقِيْمُوا	عَلَى النَّاسِ	شُهَدَآءَ	وَتَكُوْنُوْا	عَلَيْكُمْ
نو قائمې	پر نورو خلکو	شاهدان	او چې سئ تاسې	په تاسې

په تاسې (دتبليغ خپل) او چې سئ تاسې (ای مسلمانانو) شاهدان پر نورو خلکو نو قائمې (سم اداء کړې)

الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ۗ هُوَ

هُوَ	بِاللّٰهِ	وَاعْتَصِمُوْا	الزَّكٰوةَ	وَاٰتُوا	الصَّلٰوةَ
دغه (الله)	الله	او ښه ټينګ ونيسئ تاسې	زکوٰة	او ورکوئ تاسې	لمونځ

لمونځ او ورکوئ تاسې زکوٰة او ښه ټينګ ونيسئ تاسې (دين د) الله دغه (الله)

مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿٧٨﴾ ع

النَّصِيْرُ	وَنِعْمَ	الْمَوْلٰى	فَنِعْمَ	مَوْلٰىكُمْ
مرسته کوونکی دی (الله)	او ښه	مالک دی (الله) ستا	پس ښه	مالک دی ستاسې

مالک دی ستاسې پس ښه مالک دی (الله) او ښه مرسته کوونکی دی (الله)

وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ... پر دې امت باندې الله جل جلاله د دين په معامله کې سختي نه ده ايښې. په دين کې دتنګۍ نه کېدو مطلب ځينو حضراتو دابيان کړی دی چې په دين کې داسې څه ګناه نشته چې په توبه سره معاف نه سي او دآخرت دعذاب څخه دخلاصي څه صورت را نه وزي په خلاف دتېرو امتونو څخه چې په هغوی کې ځيني ګناهونه داسې وه کم چې به په توبه نه معاف کېدله: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې دتنګۍ څخه مراد هغه سخت او ګران احکام دي کم چې پر بني اسرائيلو عائد سوي وه کم چې قرآن کريم په (اصر او اغلال) سره تعبير کړي دي پر دې امت داسې يو حکم نه دی فرض سوی: ځيني حضرات بيا فرمايي چې دتنګۍ څخه مراد هغه تنګي ده کمه چې انسان ونه زغمي دد دين په احکامو کې يو حکم داسې نسته کم چې في نفسه ناقابل برداشت وي پاته سو لږ ډېر محنت او مشقت خو د دنيا په هر کار کې وي مثلا تعليم حاصلول، يا مزدوري کول يا تجارت او صنعت کول وغيره الخ.

معارف القرآن ج۶ پ۱۷ ص۱۴۰

ع ۱۰
۱۷

ایاتونه ۱۱۸ — ۲۳ سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّةٌ ۷۴ — رکوعي ۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ① الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ

قَدْ	اَفْلَحَ	الْمُؤْمِنُوْنَ	الَّذِيْنَ	هُمْ	فِيْ صَلَاتِهِمْ
په تحقیق	بریالی سوی دی	مؤمنان	هغه مؤمنان	چې دوی	په لمونځونو خپلو کښې

په تحقیق بریالي (کامیاب) سوی دی مؤمنان هغه (مؤمنان) چې دوی په لمونځونو خپلو کښې

خٰشِعُوْنَ ② وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ③

خٰشِعُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	عَنِ اللَّغْوِ	مُعْرِضُوْنَ
عاجزي کوونکي بیریدونکی دی	او هغه کسان	چې دوی	له ناکارو شخه	مخ ګرځوونکی دی

عاجزي کوونکي بیریدونکی دی . او هغه کسان چې دوی له ناکارو (بدو اقوالو او افعالو) شخه مخ ګرځوونکی دی .

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ④ وَالَّذِيْنَ هُمْ

وَالَّذِيْنَ	هُمْ	لِلزَّكٰوةِ	فٰعِلُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ
او هغه کسان	چې دوی	د زکوٰة	اداء کوونکی دی	او هغه کسان	چې دوی

او هغه کسان چې دوی (تل) د زکوٰة اداء کوونکی دی (چې د مالی فعلی او قولی عباداتو جامع دی) . او هغه کسان چې دوی

لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ⑤ اِلَّا عَلٰۤى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ

لِفُرُوْجِهِمْ	حٰفِظُوْنَ	اِلَّا	عَلٰۤى	اَزْوَاجِهِمْ	اَوْ مَا	مَلَكَتْ
فرجونو خپلو لره	ساتونکی دی	مګر	پر	ښځو خپلو	یا پر هغو مینځو	چې مالکان سوی وی د هغو

فرجونو (ځای د شهواتو) خپلو لره ساتونکی دی (له سفاح شخه). مګر پر ښځو خپلو یا پر هغو مینځو چې مالکان سوی وی

اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ⑥ فَمَنِ

اَيْمَانُهُمْ	فَاِنَّهُمْ	غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ	فَمَنِ
راسته لاسونه د دوی	پس بیشکه! دوی	نه دی ملامت کړی سوی	پس هر څوک

دهغو راسته لاسونه د دوی پس بیشکه! دوی نه دی ملامت کړی سوی (په ورتلو سره ښځو او وینځو خپلو ته). پس هر شوک

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ① الَّذِيْنَ هُمْ.. دسورت مؤمنون فضیلتونه او خصوصیات: دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه شخه روایت دي چې پر نبي کریم ﷺ به کله وحي رانازلیدې نو چې خواته به یې شوک ناست وو دهغوی په غوږونو کې به داسي اواز راتلی لکه دشاتو مچی چې اواز کوي یوه ورځ ددوی ﷺ په خوا کې هم داسي اواز واوریدل سو نو موږ چپ سولو چې تازه راغلي وحي واورو کله چې نبي کریم ﷺ دوحی دخاص کیفیت شخه فارغه سو نو نبي کریم ﷺ قبلې ته مخ کی کښېنستی او دادعا یې شروع کړه (اللهمّ زدنا ولاتنقصنا واکرمنا ولاتهنّا واعطنا ولاتحرمنا وآثرنا ولاتؤثرعلینا وارض عنّا وارضنا) یعني ای الله جل جلاله موږ ته زیات راکړې کموې مو مه اوزموږ عزت زیات کې ذلیله کوې مو مه او موږ وبخښې محرومه کوې مو مه او موږ ته پر نورو باندي ترجیح راکړې نورو لره پر موږ باندي ترجیح مه ورکوې الخ ددې شخه یې وروسته وفرمایل چې اوس پرما لس ایاتونه نازل سول شوک چې په هغو عمل وکي سیداه به جنت ته ځي بیا یه دالوړ لس آیاتونه تلاوت کړل : (معارف القرآن ج ۶ پ ۱۸ ص ۱)

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ دمومنانو پنځم صفت دامانت حق اداء كول اود عهد پابندي ده: دلفظ امانت لغوي معنى هر هغه شي لره شامله ده چې دهغه ذمه داري يوه سړي اخيستې وي او پر هغه اعتماد او تكيه سوې وي ددې قسمونه چونكي بيشماره دي په دې وجه د مصدروالي څخه يې په صيغه دجمع راوړى دى چې دامانتونوټول قسمونه په كښې شامل سي برابره خبره ده كه هغه دحقوق الله سره متعلق وي او كه دحقوق العباد سره متعلق وي دحقوق الله سره متعلق امانتونه ټول شرعي فرائض واجبات ادا كول او دټولو محرماتو او مكروهاتو څخه ځان ساتل دي او دحقوق العباد سره په متعلقو امانتونوكي دمالي امانتونو داخليدل خو معلوم او مشهور دي چې يو سړى دچا سره خپل څه مال په طور دامانت كښېږدي داده هغه سره امانت دى تر واپس كولو پوري يي حفاظت دده ذمه واري ده ددې څخه علاوه دراز څه خبره كه چا چاته وكړه هغه هم دده سره امانت ده بغير دشرعي اذن څخه دچاراز ظاهرول په امانتونو كي خيانت دى. (معارف القرآن ج ۶ پ ۱۸ ص ۷)

اِبْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ⑦ وَالَّذِيْنَ هُمْ

ابْتَغٰى	وَرَآءَ ذٰلِكَ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْعٰدُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ
چې وغواړي	غير له دغو څخه	پس دغه كسان	هم دوى دي	تجاوز كوونكي	او هغه كسان	چې دوى

چې وغواړي (دفع د شهوت) غير له دغو څخه پس دغه كسان هم دوى دي تجاوز كوونكي (له حده) . او هغه كسان چې دوى

لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ⑧ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى

لِاَمٰنٰتِهِمْ	وَعَهْدِهِمْ	رٰعُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	عَلٰى
امانتونو خپلو لره	او عهدونو خپلو ته	رعايت كوونكي دي	او هغه كسان	چې دوى	پر

امانتونو خپلو لره او عهدونو خپلو ته (كه دخالق وي كه دمخلوق) رعايت كوونكي دي . او هغه كسان چې دوى (هميشه) پر

صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ⑨ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ⑩ الَّذِيْنَ

صَلَوٰتِهِمْ	يُحَافِظُوْنَ	اُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْوٰرِثُوْنَ	الَّذِيْنَ
لمونځونو خپل	ساتنه كوي	هم دغه (مؤمنان)	هم دوى دي	وارثان	هغه (وارثان)

لمونځونو خپل ساتنه كوي (تل ئې سم اداء كوي). هم دغه (مؤمنان) هم دوى دي وارثان (لائق نه نور څوك) . هغه (وارثان)

يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ⑪

يَرِثُوْنَ	الْفِرْدَوْسَ	هُمْ	فِيْهَا	خٰلِدُوْنَ
چې ميراث به اخلي	فردوس	دوى	په دغه (جنت الفردوس) كښې	تل پاتې كيدونكي دي

چې ميراث به اخلي (اعلى جنت د) فردوس دوى په دغه (جنت الفردوس) كښې تل پاتې كيدونكي دي.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ⑫ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً

وَلَقَدْ	خَلَقْنَا	الْاِنْسَانَ	مِنْ سُلٰلَةٍ	مِّنْ طِيْنٍ	ثُمَّ	جَعَلْنٰهُ	نُطْفَةً
او قسم دى خامخا په تحقيق	پيدا كړى موږ	انسان	له خالصې	خټو څخه	بيا	وګرځاوه موږ دغه	نطفه

او قسم دى خامخا په تحقيق پيدا كړى موږ انسان (آدم) له خالصې خټو څخه. بيا وګرځاوه موږ دغه (انسان) نطفه (ترلې)

فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ⑬ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ

فِيْ قَرَارٍ	مَّكِيْنٍ	ثُمَّ	خَلَقْنَا	النُّطْفَةَ	عَلَقَةً	فَخَلَقْنَا	الْعَلَقَةَ
په يوه قرارګاه	محكم كښې	بيا	ورګرځوله موږ	دا نطفه	توټه د وينو	بيا وګرځوله موږ	دغه توټه د وينو

څاڅكى د منى) په يوه قرارګاه محكم (رحم) كښې. بيا وګرځوله موږ دا نطفه توټه د وينو بيا وګرځوله موږ دغه توټه د وينو

مُضۡغَةً فَخَلَقۡنَا الۡمُضۡغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوۡنَا الۡعِظٰمَ لَحۡمًا ثُمَّ

مُضۡغَةً	فَخَلَقۡنَا	الۡمُضۡغَةَ	عِظٰمًا	فَكَسَوۡنَا	الۡعِظٰمَ	لَحۡمًا	ثُمَّ
یو کوچنی بوټی دغوښو	بیا وګرځاوه موږ	دغه بوټیۍ دغوښو	هډوکی	بیا ورواغوستله موږ	دی هډوکو ته	غوښه	بیا مو

یوه وړه بوټی دغوښو بیا وګرځاوه موږ دغه بوټیۍ دغوښو هډوکی بیا ورواغوستله موږ دی هډوکو ته غوښه بیا مو

اَنۡشَاۡنٰهُ خَلۡقًا اٰخَرَ ؕ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحۡسَنُ الۡخٰلِقِيۡنَ ﴿١٤﴾ ثُمَّ

اَنۡشَاۡنٰهُ	خَلۡقًا	اٰخَرَ	فَتَبٰرَكَ	اللّٰهُ	اَحۡسَنُ	الۡخٰلِقِيۡنَ	ثُمَّ
ژوندی کړدی	په پیدا ایښت	بل سره	پس ډیر لوړ لوی دی	شان دالله	چی ډیر ښه	دټولو پیدا کوونکی دی	بیا

(ژوندی) کړدی په پیدا ایښت بل سره (په نوی صورت سره) پس ډیر لوړ لوی دی شان دالله چی ډیر ښه پیدا کوونکی دی. بیا

اِنَّكُمۡ بَعۡدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوۡنَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ اِنَّكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ

اِنَّكُمۡ	بَعۡدَ ذٰلِكَ	لَمَيِّتُوۡنَ	ثُمَّ	اِنَّكُمۡ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ
بیشکه! تاسی	پس له دی ژوندی کولو دتاسی	خامخا مړه کیدونکی یئ	بیا	بیشکه! تاسی	په ورځی	دقیامت کښی

بیشکه! تاسی پس له دی ژوندی کولو د تاسی خامخا مړه کیدونکی یئ. بیا بیشکه! تاسی په ورځی د قیامت کښی

تُبۡعَثُوۡنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعَ طَرَآئِقَ ۖ

تُبۡعَثُوۡنَ	وَلَقَدۡ	خَلَقۡنَا	فَوۡقَكُمۡ	سَبۡعَ	طَرَآئِقَ
بیا ژوندی راپورته کړل سئ	او خامخا په تحقیق	پیدا کړی دی موږ	لوړ پر سرستاسی	اووه	لاری (آسمانونه)

بیا ژوندی راپورته کړل سئ. او خامخا په تحقیق پیدا کړی دی موږ لوړ پر سر ستاسی اووه لاری (٧آسمانونه) .

وَمَا كُنَّا عَنِ الۡخَلۡقِ غٰفِلِيۡنَ ﴿١٧﴾ وَاَنۡزَلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۢ

وَمَا كُنَّا	عَنِ الۡخَلۡقِ	غٰفِلِيۡنَ	وَاَنۡزَلۡنَا	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً
او نه یو موږ	له مخلوقاتو څخه	غافله ، بی خبره	او نازلی کړی دی موږ	له (طرفه د) آسمانه	اوبه

او نه یو موږ له (ټولو) مخلوقاتو (خپلو څخه) غافله بی خبره. او نازلی کړی دی موږ له (طرفه د) آسمانه اوبه

بِقَدَرٍ فَاَسۡكَنّٰهُ فِى الۡاَرۡضِ ۖ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍ ۢ بِهٖ

بِقَدَرٍ	فَاَسۡكَنّٰهُ	فِى الۡاَرۡضِ	وَاِنَّا	عَلٰى	ذَهَابٍ	بِهٖ
په اندازه	نو ومو درولی دغه (اوبه)	په مځکه کښی	او بیشکه! موږ	پر	بیولو ورکولو	د دی (اوبو)

په اندازه (کفایت د خیر) نو ومو درولی دغه (اوبه) په مځکه کښی او بیشکه! موږ پر بیولو ورکولو د دی (اوبو)

مُضۡغَةً فَخَلَقۡنَا الۡمُضۡغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوۡنَا..دبني نوع انسان په پیدا کولو د الله ﷻ دکامل قدرت خاصي نظارې: په دغه ایاتو کي الله ﷻ دخپل کامل قدرت یو څو نظارې چي د انسان په پیدایش کې پکار اچولي دي ذکر کړي دي فرمایي داوله څخه (ولقد خلقنا الانسان من سلالة من طين) د سلالة معنی دنچوړ او نبتیزل سوي راځي او طين لندې ختې ته وایي: ددې معنی داده چي دمځکي خاص اجزاء یې راجمع کړل او انسان یې ورڅخه جوړ کی د انسان دپیدایش ابتداء دحضرت آدم عليه السلام څخه ده او دی الله ﷻ ددغه راټولي سوي خاوري څخه پیدا کی په دې وجه یې دابتدايي پیدایش نسبت وخاوري ته وکی ددې څخه وروسته دیو انسان نطفه دبل انسان دپیدایش سبب جوړه سوه په مخکي آیت کي الله ﷻ ددې بیان په دغه الفاظو سره فرمایلی دی (ثمّ جعلناه نطفة) سره فرمایلي دي مطلب دادی چي اولنی پیدایش دخاوري څخه وسو بیا وړاندي دپیدایش سلسله ددې خاوري په یو لطيف جزء یعني نطفې سره جاري کړل سو الخ.
(معارف القرآن ج ٦ پ ١٨ ص ١١)

لَقٰدِرُوْنَ ﴿١٨﴾ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ

لَقٰدِرُوْنَ	فَاَنْشَاْنَا	لَكُمْ	بِهٖ	جَنّٰتٍ	مِّنْ نَّخِيْلٍ
خامخا قادر يو	پس پيدا کړی دی موږ	تاسی ته	په دی (اوبو) سره	باغونه	له خرما گانو

خامخا قادر يو . پس پيدا کړی دی موږ تاسی ته په دی (اوبو) سره باغونه رنگارنگ له خرما گانو

وَّاَعْنَابٍ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿١٩﴾

وَّاَعْنَابٍ	لَكُمْ	فِيْهَا	فَوَاكِهُ	كَثِيْرَةٌ	وَّمِنْهَا	تَاْكُلُوْنَ
او له انگورو	چی ستاسی ته	په دی کښی	ميوی	ډيری	او له دغو (باغونو) څخه	خورئ تاسی (ميوی)

او (له) انگورو چی ستاسی ته په دی (باغونو) کښی ميوی ډيری او له دغو (باغونو) څخه خورئ تاسی (ميوی).

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ

وَشَجَرَةً	تَخْرُجُ	مِنْ طُوْرِ	سَيْنَآءَ	تَنْۢبُتُ	بِالدُّهْنِ	وَصِبْغٍ
او درخته	چی وزی	له (غره د) طور	سينا (تور) څخه	چی زرغونيږی	له غوړو سره	او له سالن سره

او (بل پيدا مو کړه هغه) ونه چی وزی له (غره د) طور سينا څخه چی زرغونيږی له غوړو سره او له انگولی (سالن) سره

لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا

لِّلْاٰكِلِيْنَ	وَاِنَّ	لَكُمْ	فِى الْاَنْعَامِ	لَعِبْرَةً	نُسْقِيْكُمْ	مِّمَّا
دپاره د خوړونکو	او بيشکه! چی	تاسی ته	په څاروو کښی	عبرت دی	چی څښوؤ موږ تاسی ته	له هغو (شيدو) څخه

دپاره د خوړونکو . او بيشکه! چی تاسی ته په څاروو کښی خامخا عبرت دی چی څښوؤ موږ تاسی ته له هغو شيدو څخه

فِىْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا

فِىْ بُطُوْنِهَا	وَلَكُمْ	فِيْهَا	مَنَافِعُ	كَثِيْرَةٌ	وَّمِنْهَا
چی په نسونو د دوی کښی دی	او ستاسی ته	په دغو کښی	گټی	ډيری	او له دوی (له ځينو اجزاؤ څخه

چی په گيډو د دوی کښی دی او ستاسی ته په دغو (څاروو کښی) منافع (گټی) ډيری او له دوی (له ځينو اجزاؤ څخه

تَاْكُلُوْنَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾

تَاْكُلُوْنَ	وَعَلَيْهَا	وَعَلَى الْفُلْكِ	تُحْمَلُوْنَ
خورئ تاسی	او پر دغو (څاروو)	او پر کشتيو باندی	بارولی سئ تاسی

خورئ تاسی (شودی غوښی او نور). او پر دغو (څاروو) او پر کشتيو باندی بارولی سئ تاسی (په بر او بحر کښی)

ع٢٢

فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ..داوبو په ذريعه الله ﷻ مختلف شيان پيدا کړي دي: په دغه آيت کي الله ﷻ داوبو په ذريعه پيدا کيدونکي خاص خاص شيان دعربو دمزاج او مذاق مطابق ذکر وفرمايل چي دخرماوو او انگورو باغونه په دې سره پيدا سول او نوري ميوې يي په يو خاص لفظ کي جمع کړي وفرمايلې (لكم فيها فواكه كثيرة) يعني په دې باغونو کي ستاسي دپاره الله ﷻ دخرماوو او انگورو څخه علاوه په زرگونو قسمه ميوې پيدا کړي دي کمي چي تاسي محض دطبيعت خوشحالولو او په شوقيه طور باندي هم خوری او ددې څخه ميوه ذخيره کوی ستاسي مستقل خوراک هم دهغه څخه تيارېږي د(ومنها تأكلون) هم دغه مطلب دی : مخ ته بيا الله ﷻ په خصوصيت سره دزيتون او دهغه دتيلو دپيدا کيدو ذکر وفرمايي ځکه چي ددې نفع بې شماره ده او چونکي دزيتون درخته د طورپر غره باندي زياته پيدا کيږي په دې وجه يي ددې نسبت دطور وغره ته وکی: وشجرة تخرج من طور سيناء ..الخ.
(معرف القرآن ج٦ پ١٨ ص١٧)

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا

وَلَقَدْ	اَرْسَلْنَا	نُوْحًا	اِلٰى قَوْمِهٖ	فَقَالَ	يٰقَوْمِ	اعْبُدُوا
او خامخا په تحقيق	ليږلى ؤ موږ	نوح	قوم خپل ته	نو وويل (نوح)	اى قومه زما	عبادت كوئ تاسى

او خامخا په تحقيق ليږلى ؤ موږ نوح قوم خپل ته نو وويل (نوح) اى قومه زما عبادت كوئ تاسى (يوازى)

اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۲۳﴾ فَقَالَ

اللّٰهَ	مَا لَكُمْ	مِّنْ اِلٰهٍ	غَيْرُهٗ	اَفَلَا تَتَّقُوْنَ	فَقَالَ
دالله	نشته تاسى ته	بل هيڅ معبود	غير له دغه (الله)	آيا پس نه بيريږئ تاسى	پس وويل

دالله نشته تاسى ته بل هيڅ معبود غير له دغه (الله) آيا پس نه بيريږئ تاسى (له عذابه د الله) پس وويل

الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ

الْمَلَؤُا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ قَوْمِهٖ	مَا هٰذَآ	اِلَّا	بَشَرٌ
مشرانو	هغه چي	كافران سوى وو	له قومه دغه (نوح)	چي نه دى دا نوح	مگر	يو انسان دى

هغو مشرانو چي كافران سوى وو له قومه د دغه (نوح خپلو اتباعوته) چي نه دى دا نوح مگر يو انسان دى

مِّثْلُكُمْ ۙ يُرِيْدُ اَنْ يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

مِّثْلُكُمْ	يُرِيْدُ	اَنْ يَّتَفَضَّلَ	عَلَيْكُمْ	وَلَوْ شَآءَ	اللّٰهُ
په شان ستاسى	اراده لرى	د دى خبرى چي مشر سى	پر تاسى باند	او كه اراده وفرمايئ	الله

په شان ستاسى اراده لرى د دى خبرى چي مشر سى پر تاسى باندى او كه اراده وفرمائى الله (دليږلو د رسول انسانانو ته نو)

لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ۚۖ مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾

لَاَنْزَلَ	مَلٰٓئِكَةً	مَّا سَمِعْنَا	بِهٰذَا	فِيْٓ اٰبَآئِنَا	الْاَوَّلِيْنَ
خامخا ليږلى به يئ	ملائيكى	نه دى اوريدلى موږ	دا چي (رسول بنى آدم وى)	په هغو پلرونو زموږ كښى	چي پخوا وو

خامخا ليږلى به ئى وى ملائيكى (نه انسانان) نه دى اوريدلى موږ دا (چي رسول بنى آدم وى) په هغو پلرونو زموږ كښى چي پخوا وو

اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌ بِهٖ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۲۵﴾

اِنْ هُوَ	اِلَّا	رَجُلٌ	بِهٖ جِنَّةٌ	فَتَرَبَّصُوْا	بِهٖ	حَتّٰى حِيْنٍ
نه دى (دا نوح)	مگر	يو داسى سړى دى	چي په ده پورى منبتى دى ليونتوب	پس انتظار كوئ تاسى	د ده ته	تر يوه وخته پورى

نه دى (دا نوح) مگر يو داسى سړى دى چي په ده پورى منبتى دى ليونتوب سو دا پس انتظار كوئ تاسى د ده ته تر يوه وخته پورى

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ.. دحضرت نوح عليه السلام دبعثت او نبوت او خپل قوم ته دتبليغ كولو بيان:

ددې څخه په مخكي اياتونو كي دانسان د پيدايش اوده دبقاء او ارام دپاره دمختلف قسم دسامان پيدا كولو ذكر وو مخ ته دده دروحاني تربيت او ديني فلاح يي چي كم انتظام فرمايلى دى دهغه ذكر دى :الله جل جلاله په دغه راروانو اياتونو كي فرمايي چي موږ نوح عليه السلام دده دقوم طرف ته پيغمبر جوړ كي ورومو ليږى پس دوى خپل قوم ته وفرمايل چي اى زما قومه خاص دالله جل جلاله عبادت كوى د هغه څخه ماسوا څوك ستاسي دپاره دمعبود جوړولو لايق نسته اوكله چي دا يوه خبره ثابته ده نو بيا ايا تاسي دنورو دمعبوجوړولو څخه نه بيريږى دوى چي دنوح عليه السلام داخبره واوريده نو دده په قوم كي چي كم سرداران وه عوامو ته يي وويل چي دا سړى بغير ددغه څخه چي ستاسي په شان يو معمولي انسان دى او بل څه رسول وغيره نه دى په دي دعوى سره دده اصل مطلب دادى چي ترتاسي ځان لوى كي يعني دده مقصد خپل مرتبه او عزت دى :

(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۱۹)

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿٢٦﴾ فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ اَنِ

قَالَ	رَبِّ	انْصُرْنِيْ	بِمَا	كَذَّبُوْنِ	فَاَوْحَيْنَآ	اِلَيْهِ	اَنِ
وويل (نوح)	ای ربه زما	مدد وكړه له ما سره	په سبب د دی چي	تكذيب يئ وكړ زما	پس وحی وكړه موږ	دغه (نوح) ته	چي

وويل (نوح) ای ربه زما مدد وكړه له ما سره په سبب د دی چي تكذيب يئ وكړ زما. پس وحی وكړه موږ دغه (نوح) ته چي

اصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ

اصْنَعِ	الْفُلْكَ	بِاَعْيُنِنَا	وَوَحْيِنَا	فَاِذَا جَآءَ	اَمْرُنَا	وَفَارَ
اوس جوړه كړه	يوه كشتۍ	په ليدلو زموږ	او په وحی زموږ	پس كله چي راغی	امر زموږ	او راوختيده

اوس جوړه كړه يوه كشتۍ په ليدلو (ساتلو) زموږ او په وحی (امر او ښودنی) زموږ پس كله چي راغی امر زموږ او راوختيده

التَّنُّوْرُ ۙ فَاسْلُكْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ

التَّنُّوْرُ	فَاسْلُكْ	فِيْهَا	مِنْ كُلٍّ	زَوْجَيْنِ	اثْنَيْنِ	وَاَهْلَكَ
(په اوبو) تنور	پس سواره كړه	په دی كشتۍ كښې	له هر قسمه	جوړه جوړه	دوه دوه	او اهل خپل

(په اوبو) تنور پس سواره كړه په دی كشتۍ كښې له هر قسمه جوړه جوړه دوه دوه (نر او ښځه) او اهل (بيت) خپل

اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۚ وَلَا تُخَاطِبْنِيْ

اِلَّا	مَنْ سَبَقَ	عَلَيْهِ	الْقَوْلُ	مِنْهُمْ	وَلَا تُخَاطِبْنِيْ
مگر مه ننه باسه	هغه څوك چي مخكی سوی ده	په ده	خبره	له دوی څخه	او مه كوه خبری له ما سره

مگر مه ننه باسه هغه څوك چي مخكی (ړومبی) سوی ده په ده خبره (دعذاب) له دوی څخه او مه كوه خبری له ما سره

فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ اَنْتَ

فِي الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	اِنَّهُمْ	مُّغْرَقُوْنَ	فَاِذَا	اسْتَوَيْتَ	اَنْتَ
په باب د هغو كسانو كښې	چي ظلم يئ كړی دی	چي بيشكه! دوی	غرق كيدونكی دی	نو كله چي	برابر سوی وختلی	ته

په باب د هغو كسانو كښې چي ظلم ئی كړی دی چي بيشكه! دوی غرق كيدونكی دی. نو كله چي برابر سوی وختلی ته

وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ نَجّٰنَا

وَمَنْ مَّعَكَ	عَلَى الْفُلْكِ	فَقُلِ	الْحَمْدُ	لِلّٰهِ	الَّذِيْ	نَجّٰنَا
او هغه چي له تا سره دی	پر كشتۍ باندی	نو ووايه	چي ټول حمد ثناء ده	خاص الله ته	هغه چي	خلاص يئ كړو موږ

او هغه (مؤمنان) چي له تا سره دی پر كښتۍ باندی نو ووايه چي ټول حمد ثناء ده خالص هغه الله ته چي خلاص يئ كړو موږ

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ. حضرت نوح عليه السلام دخپل قوم دتكذيب په مقابل كي دالله مدد وغوښتی: حضرت نوح عليه السلام چي كله دقوم دايمان راوړلو څخه مايوسه سو نو دالله جل جلاله په دربار كي يي عرض وكی چي ای زما ربه ددوی څخه زما بدله واخلې په وجه ددې چي دوی زه درواغجن كړی يم بس موږ دده دعا قبوله كړه او ده ته مو حكم وليږی چي ته كښتی جوړه كړه زموږ په نگرانی كي اوزموږ په حكم سره چي اوس به طوفان راځي او تاسي او مومنان به ددغه په ذريعه محفوظ پاته كيږی بيا چي څه وخت زموږ حكم دعذاب رانژدي سي او ښنانه يي داده چي دمځكي څخه به اوبه خوټكيدل شروع سي نو دغه وخت دهر قسم حيوانانو څخه كم چي دانسان په كارونو كي په كار ورځي او په اوبو كي ژوندي نه سي پاته كيدلای لكه پسه، بزه، غوا، غويي، اوښ، آس، خر وغيره يو يو نر او يوه يوه ماده يعني دوه دوه په شمير په دې كښتی كي داخل كړه او خپل دكورخلگ هم په كښتي سپاره كړه بغير دهغه څخه پر كمو چي دغرقيدو حكم نافذ سوی وی: پاته بيان پسر راروان مخ وگوری.

مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٨﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا

مِنَ الْقَوْمِ	الظّٰلِمِيْنَ	وَقُلْ	رَّبِّ	اَنْزِلْنِيْ	مُنْزَلًا	مُّبٰرَكًا
له قومه	ظالمانو څخه	او وايه	اى ربه زما	كښته كړه ما	په يو داسى ځاى كښې	چې مبارک بركتناک وى

له قومه ظالمانو (مشركانو) څخه. او وايه (اى نوح) اى ربه زما كښته كړه ما په يو داسى ځاى كښې چې مبارک بركتناک وى

وَّاَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ وَّاِنْ

وَّاَنْتَ	خَيْرُ	الْمُنْزِلِيْنَ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	وَّاِنْ
حال داچې ته	خير	له ټولو كښته كوونكو څخه يې	بيشكه!	په دغه كښې	خامخا دلائل دى	او بيشكه!

حال داچې ته خير (ډير غوره) له ټولو كښته كوونكو څخه يې. بيشكه! په دغه (قصه د نوح) كښې خامخا دلائل دى او بيشكه!

كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿٣١﴾

كُنَّا	لَمُبْتَلِيْنَ	ثُمَّ	اَنْشَاْنَا	مِنْۢ بَعْدِهِمْ	قَرْنًا	اٰخَرِيْنَ
يو موږ	خامخا ازمويښت كوونكى	بيا	پيدا كړ موږ	پس له دوى	يو اهل د زمانى	نور

يو موږ خامخا ازمويښت كوونكى (د بندګانو). بيا پيدا كړ موږ پس له (هلاكه د قومه) د دغه (نوح) يو اهل د زمانى نور.

فَاَرْسَلْنَا فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

فَاَرْسَلْنَا	فِيْهِمْ	رَسُوْلًا	مِّنْهُمْ	اَنِ اعْبُدُوا	اللّٰهَ
پس وليږه موږ	په هغو كښې	يو رسول	له دوى څخه	چې (وويل موږ) عبادت كوئ تاسى	دالله

پس وليږه موږ په هغو كښې يو رسول (هود يا صالح) له دوى څخه (وويل موږ) چې عبادت كوئ تاسى (يوازى) دالله

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ

مَا لَكُمْ	مِّنْ اِلٰهٍ	غَيْرُهٗ	اَفَلَا تَتَّقُوْنَ	وَقَالَ	الْمَلَاُ	مِنْ قَوْمِهِ
نسته تاسى ته	بل هيڅ برحق معبود	بى له الله	آيا پس نه بيريږئ تاسى	او وويل	مشرانو	له قومه د دغه څخه

نسته تاسى ته بل هيڅ برحق معبود بى له الله آيا پس نه بيريږئ تاسى (له عذابه). او وويل مشرانو له قومه د دغه (نبى) څخه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَكَذَّبُوْا	بِلِقَآءِ	الْاٰخِرَةِ	وَاَتْرَفْنٰهُمْ
هغه كسان چې	كافران سوى وو	او نسبت د دروغو يې كړى وو	ملاقات	دآخرت ته	او نعمتونه وركړى ؤ موږ دوى ته

هغه كسان چې كافران سوى وو او نسبت د دروغو يې كړى وو ملاقات د آخرت ته او نعمتونه وركړى ؤ موږ دوى ته

وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ..د تير مخ پاته بيان دلته وګورى:

يعني اى نوح عليه السلام ستا په اهل او عيال كي چي كم كافران دي هغه مه سپروه او داواوره چي دعذاب دراتلو په وخت كي زما سره دكافرانو دنجات په باره كي هيڅ خبري مه كوى ځكه چي دغه ټول غرقيږي بيا چي څه وخت تاسي او ستاسي ملګري مسلمانان په كښتى كښي كښيني نو داسي واياست چي شكر دى الله جل جلاله لره چي موږ ته يي نجات راكى او دطوفان دغرقيدو څخه يي وساتلو او دكافرانو او ددوى دتكليفه څخه يي نجات راكى او كله چي دطوفان دختميدو څخه وروسته مځكي ته دكښتى څخه راكښته كيږى نو داسي وواياست چي اى زموږ ربه موږ پر مځكه دبركت په كښته كيدو سره كښته كړې يعني په باطني او ظاهري اطمينان سره مو وساتې او ته دټولو دځان سره په طور دميلمنو د كښته كوونكو څخه ښه يي او نور خلګ د مقصدونو په پوره كولو او د مصيبتونو څخه په نجات وركولو كي قدرت نه لري او ته اى الله غالبه ذات يي پر هرشي الخ.
(معارف القرآن ج ٦ پ ١٨ ص ٢٠)

٢ ع ٢

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يَاْكُلُ مِمَّا

فِي الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	مَا هٰذَآ	اِلَّا	بَشَرٌ	مِّثْلُكُمْ	يَاْكُلُ	مِمَّا
په دغه ژوندون	د دنيا كښې	نه دى دا (نبى)	مگر	يو بشر سړى دى	په مثل د تاسى	چې خوري	له هغه (شي)

په دغه ژوندون د دنيا كښې نه دى دا (نبى) مگر يو بشر سړى دى په مثل د تاسى چې خوري له هغه (شي)

تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ۞ ٣٣ وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ

تَاْكُلُوْنَ	مِنْهُ	وَيَشْرَبُ	مِمَّا	تَشْرَبُوْنَ	وَلَئِنْ	اَطَعْتُمْ
چې خورئ يئ تاسى	له هغه څخه	او څښيږ	له هغه شي	چې څښئ يئ تاسى له هغه څخه	او خامخا كه	فرمان يو ړو تاسى

چې خورئ يئ تاسى له هغه څخه او څښى له هغه شي چې څښئ يئ تاسى له هغه څخه. او (قسم دى) خامخا كه فرمان يو ړو تاسى

بَشَرًا مِّثْلَكُمْ ۙ اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۞ ٣٤ اَيَعِدُكُمْ

بَشَرًا	مِّثْلَكُمْ	اِنَّكُمْ	اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ	اَيَعِدُكُمْ
ديوه انسان	په شان خپل	بيشكه! چې تاسى	په هغه وخت كښى خامخا له زيانكارانو څخه يئ	آيا وعده كوى له تاسى سره

ديوه انسان په شان خپل بيشكه! چې تاسى په هغه وخت كښى خامخا له زيانكارانو څخه يئ. آيا وعده كوى له تاسى سره

اَنَّكُمْ اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ۞ ٣٥

اَنَّكُمْ	اِذَا مِتُّمْ	وَكُنْتُمْ	تُرَابًا	وَّعِظَامًا	اَنَّكُمْ	مُّخْرَجُوْنَ
چې بيشكه! تاسى	كله چې مړه سئ	او سئ	خاورى	او هډوكى	نو بيشكه! چې تاسى به	را ايستل كيږئ

چې بيشكه! تاسى كله چې مړه سئ او سئ خاورى او هډوكى نو بيشكه! چې تاسى به را ايستل كيږئ (له مځكى په بعث سره)

هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ ۞ ٣٦ اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا

هَيْهَاتَ	هَيْهَاتَ	لِمَا	تُوْعَدُوْنَ	اِنْ هِيَ	اِلَّا	حَيَاتُنَا
ډير لرى دى	ډير لرى دى	هغه شي چې	ستاسى سره يئ وعده كولى سى	نه دى دا ژوندون	مگر	هم دا ژوندون زموږ

ډير لرى دى ډير لرى دى هغه شي چې ستاسى سره يئ وعده كولى سى. نه دى دا ژوندون مگر هم دا ژوندون زموږ

الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ۞ ٣٧ اِنْ هُوَ

الدُّنْيَا	نَمُوْتُ	وَنَحْيَا	وَمَا نَحْنُ	بِمَبْعُوْثِيْنَ	اِنْ هُوَ
د دنيا	چې مرو	او ژوندى كيږو	او نه يو موږ	بيا ژوندى پورته كړى سوى وروسته له مرگه	نه دى دغه

د دنيا چې مرو او ژوندى كيږو او نه يو موږ بيا ژوندى پورته كړى سوى وروسته له مرگه. نه دى دغه (هود او صالح)

وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ ۙ اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ

عاديانو او ثموديانو هم خپل انبياء عليهم السلام دروا غجن وبلل: ددې څخه پــه مخكــي ايــاتونوكي دحضرت نوح عليه السلام قصه په سلسله دهدايت ذكرسويده مخ ته دنورو پيغمبرانو او ددوى د امتونو څه حالات اجمالاً بغير دهغه انبياوو عليهم السلام دنومونو داخيستلو څخه بيان سوي دي: دنبــانو او علامــو څخــه مفسرين حضــرات فرمـايي چي مـراد ددغـو امتونـو څخـه عاديـان يـا ثموديــان اويــا دواړه دي دعاديانو طرف ته الله جل جلاله حضرت هود عليه السلام راوليږى او دثموديانو طـرف تـه الله جل جلاله حضرت صالح عليه السلام راوليږى په دغه قصه كي يي ددغه قومونو هلاكيدل دچيغـي پــه ذريعــه سـره يعني يو غيبي سخت اواز راغى دهغه په ذريعه سره دوى هلاک سول: په نورو اياتونو كي بيا دثموديانو دقوم بيان سوى دى په دې وجــه ځينــي حضــرات فرمـايي چـي پــه دغــه ايــاتوكي چــي د (قرنــاً آخـرين) لفـظ راغلـى دى ددې څخه مـراد ثموديـان دي مگر دا ضـروري نـه ده احتمال ددغه هم سته چي صـيحة پـه معنـى دمطلـق عذاب وي او عام وي الخ. (معارف القرآن ج۶پ١٨ص٢٣)

اِلَّا رَجُلُ ِۨافۡتَرٰی عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا وَّ مَا نَحۡنُ لَهٗ بِمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۳۸﴾

اِلَّا	رَجُلُ ِۨ	افۡتَرٰی	عَلَی اللّٰهِ	کَذِبًا	وَّمَا نَحۡنُ	لَهٗ	بِمُؤۡمِنِیۡنَ
مګر	يو سړی	چی تړلی يئ دی	پر الله	دروا‌غ	اونه يو موږ	ده ته	ايمان راوړونکی

مګر يو سړی چی تړلی يئ دی پر الله دروا‌غ او نه يو موږ ده ته ايمان راوړونکی .

قَالَ رَبِّ انۡصُرۡنِیۡ بِمَا کَذَّبُوۡنِ ﴿۳۹﴾ قَالَ عَمَّا قَلِیۡلٍ

قَالَ	رَبِّ	انۡصُرۡنِیۡ	بِمَا	کَذَّبُوۡنِ	قَالَ	عَمَّا قَلِیۡلٍ
وويل	ای ربه زما	مدد وکړه له ماسره	په سبب د دی چی	دروغجن يئ وبللم زه	نو وفرمايل (الله)	پس له لږ مدت

وويل (هود يا صالح) ای ربه زما مدد وکړه له ما سره په سبب د دی چی دروغجن يئ وبللم زه . نو وفرمايل (الله) پس له لږ مدت

لَّیُصۡبِحُنَّ نٰدِمِیۡنَ ﴿۴۰﴾ فَاَخَذَتۡهُمُ الصَّیۡحَةُ بِالۡحَقِّ فَجَعَلۡنٰهُمۡ

لَّیُصۡبِحُنَّ	نٰدِمِیۡنَ	فَاَخَذَتۡهُمُ	الصَّیۡحَةُ	بِالۡحَقِّ	فَجَعَلۡنٰهُمۡ
خامخا وبه ګرځی	پښيمانه	پس ونيول دوی	چغې د هلاک	په حق سره	پس وګرځول موږ دوی

خامخا وبه ګرځی (عاديان يا ثموديان) پښيمانه . پس ونيول دوی چغې د هلاک په حق (او عدل) سره پس وګرځول موږ دوی

غُثَآءً فَبُعۡدًا لِّلۡقَوۡمِ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۴۱﴾ ثُمَّ اَنۡشَاۡنَا

غُثَآءً	فَبُعۡدًا	لِّلۡقَوۡمِ	الظّٰلِمِیۡنَ	ثُمَّ	اَنۡشَاۡنَا
زره زره	پس لری والی دی	قوم	ظالمانو ته	بيا	پيدا کړ موږ

ريزه ريزه (خس خاشاک د سيلاب) پس لری والی دی قوم ظالمانو ته (له رحمته د الله). بيا پيدا کړ موږ

مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ قُرُوۡنًا اٰخَرِیۡنَ ﴿۴۲﴾ مَا تَسۡبِقُ مِنۡ اُمَّةٍ اَجَلَهَا

مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ	قُرُوۡنًا	اٰخَرِیۡنَ	مَا تَسۡبِقُ	مِنۡ اُمَّةٍ	اَجَلَهَا
وروسته له هغو	اهل د زمانو	نور	نسی مخکی کيدی	هيڅ قوم	له وعدی مقرری خپلی

وروسته له هغو (ثموديانو او عاديانو) اهل د زمانو نور . نسی مخکی (وړمبی) کيدی هيڅ قوم له وعدی مقرری خپلی

وَمَا یَسۡتَاۡخِرُوۡنَ ﴿۴۳﴾ ثُمَّ اَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا تَتۡرَا ؕ کُلَّمَا جَآءَ

وَمَا یَسۡتَاۡخِرُوۡنَ	ثُمَّ	اَرۡسَلۡنَا	رُسُلَنَا	تَتۡرَا	کُلَّمَا	جَآءَ
اونه وروستی پاتی کيدی سی تری	بيا	وليږل موږ	رسولان خپل	حال دا چی يو په بل پس پيوست ؤ	هر کله چی	رابه غی

او نه وروستی پاتی کيدی سی تری. بيا وليږل موږ رسولان خپل حال دا چی يو په بل پسی پيوست ؤ هر کله چی رابه غی

ثُمَّ اَنۡشَاۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ قُرُوۡنًا اٰخَرِیۡنَ..دعاديانو او ثموديانو څخه وروسته الله ﷻ نور امتونه را پيدا کړل: په دغه راروانو اياتونو کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي موږ دعاديانو او ثموديانو دقومونو دهلاکت څخه وروسته نور امتونه راپيدا کړل کم چي درسولانو دتکذيب او درواغ کولو په سبب دوی هم هلاک سول او ددوی دهلاکيدو چي کمه نيټه دالله ﷻ په علم کي مقرره وه يوامت هم په دغه امتونو کي دخپلي دې معيني نيټې څخه په هلاکيدو کي نه مخکي سوی دی او نه ددغه وخت څخه وروسته سوی دی بلکي پر عيني وخت باندي هلاک سول غرض داچي دغه امتونه اول پيدا کړل سوي وه بيا دوی ته موږ خپل پيغمبران راوليږل يو په بل پسې دهدايت دپاره ددوی لکه څنګه چي دغه امتونه په يوبل پسې پيدا سول مګر ددوی حالت دا سوچي کله به يو امت ته ددغه امت خاص رسول دخدای ﷻ داحکامو سره راغی دوی به هغه درواغجن کړی د الله ﷻ فيصله بيا داوه چي ددغه تکذيب په بدل کي به يې دوی هلاک کړل.

(معارف القرآن ج۶پ۱۸ص ۲۴)

ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا.

کمو کسان چي پر انبیاوو علیهم السلام ایمان نه دی راوړی هغوی دالله ﷻ درحمته څخه لیري دي:

ددغه مخکي ذکرسوو انبیاوو دقومونو دهلاکت څخه وروسته الله ﷻ فرمایي چي موږ موسی ؑ او دده ورور هارون ؑ لره خپل احکام او ښکاره دلیلونه ورکړه یعني معجزې چي دنبوت دلیلونه دي او فرعون او دده درباریانو ته مو راولیږل او بني اسرآئیلو ته ددوی مبعوث کیدل هم معلوم دي نو دغو خلګو هم ددوی دتصدیق او اطاعت کولو څخه انکار او تکبر وکړی او دغه خلګ متکبرین وه یعني داول څخه ددوی دماغ خراب وو چنانچي دغو دیوبل سره وویل چي آیا موږ په داسي دوو سړو کم چي زموږ په شان انسانان دي او په دوی کي دامتیاز څه خبره نسته ایمان راوړو ؟ او ددوی خبري منونکي جوړ سو ؟ حال دادی چي ددوی د قوم خلګ خو په خپله زموږ ترحکم لاندي ژوند تیروي یعني بني اسرآئیل نو موږ بیا څنګه ددې دواړو اقتدار او ریاست پر خپلو ځانونو باندي ومنو؟ دانه سي کیدای الخ:

(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۲۵)

اُمَّةً رَّسُوْلُهَا كَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا

اُمَّةً	رَّسُوْلُهَا	كَذَّبُوْهُ	فَاَتْبَعْنَا	بَعْضَهُمْ	بَعْضًا
کوم امت ته	رسول د دوی	نو دروغجن به یې وباله دی	پس پر له پسی به کړل موږ	ځینی د دوی	په ځینو نورو

کوم امت ته رسول د دوی نو دروغجن به یې وباله دی پس پرله پسی به کړل موږ ځینی د دوی په ځینو نورو (په هلاکولو کښی)

وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٤٤﴾ ثُمَّ

وَّجَعَلْنٰهُمْ	اَحَادِيْثَ	فَبُعْدًا	لِّقَوْمٍ	لَّا يُؤْمِنُوْنَ	ثُمَّ
او وګرځول موږ دوی	تشی قصی	پس لری والی دی	هغه قوم ته	چی نه راوړی ایمان	بیا

او وګرځول موږ دوی تشی قصی (دتعجب) ، پس لری والی دی (دالله له رحمته) هغه قوم ته چی نه راوړی ایمان. بیا

اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٥﴾

اَرْسَلْنَا	مُوْسٰى	وَاَخَاهُ	هٰرُوْنَ	بِاٰيٰتِنَا	وَسُلْطٰنٍ	مُّبِيْنٍ
ولیږه موږ	موسیٰ	او وروږ د ده	هارون	په دلائلو خپلو سره	او په برهان دلیل سند	ښکاره سره

ولیږه موږ موسیٰ او وروړ د ده هارون په دلائلو (دقدرت او معجزو) خپلو سره او په برهان دلیل سند ښکاره سره

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا عَالِيْنَ ﴿٤٦﴾

اِلٰى فِرْعَوْنَ	وَمَلَا۟ئِهٖ	فَاسْتَكْبَرُوْا	وَكَانُوْا	قَوْمًا	عَالِيْنَ
طرف د فرعون	او قوم د ده ته	پس کبر سرکشی یې وکړه	حال دا چې ؤ دوی	قوم	متکبر

طرف د فرعون او قوم د ده (فرعونیانو) ته پس کبر سرکشی یې وکړه (له ایمانه) حال دا چې ؤ دوی قوم متکبر (سرکش).

فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا

فَقَالُوْٓا	اَنُؤْمِنُ	لِبَشَرَيْنِ	مِثْلِنَا	وَقَوْمُهُمَا	لَنَا
پس وویل (قبطیانو)	آیا پس ایمان راوړو موږ	پر دوو سړیو	په مثل زموږ	حال دا چی قوم د دوی	موږ ته

پس وویل (قبطیانو) آیا پس ایمان راوړو موږ پر دوو سړیو په مثل شان زموږ حال دا چی قوم د دوی (سبطیان) موږ ته

عٰبِدُوْنَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوْهُمَا فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ﴿٤٨﴾

عٰبِدُوْنَ	فَكَذَّبُوْهُمَا	فَكَانُوْا	مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ
خادمان (مریان) دی	پس دروغجن وبلل دوی لره	پس سول	له هلاک کړیو سویو (په غرق سره)

خادمان (مریان) دی. پس دروغجن وبلل دغو (موسیٰ او هارون لره) پس سول (قبطیان) له هلاک کړیو سویو (په غرق سره)

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُوۡنَ ﴿۴۹﴾

وَلَقَدۡ	اٰتَيۡنَا	مُوۡسَى	الۡكِتٰبَ	لَعَلَّهُمۡ	يَهۡتَدُوۡنَ
او خامخاپه تحقیق	ورکړی ؤ موږ	موسٰی ته	کتاب	ښایئ چي دغه (بنی اسرائیل)	سمه صافه لاره پیدا کړی

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ موږ موسٰی ته کتاب (د توریت) ښایئ چي دغه (بنی اسرائیل) سمه صافه لاره پیدا کړی

وَجَعَلۡنَا ابۡنَ مَرۡيَمَ وَاُمَّهٗۤ اٰيَةً وَّاٰوَيۡنٰهُمَاۤ اِلٰى رَبۡوَةٍ

وَجَعَلۡنَا	ابۡنَ	مَرۡيَمَ	وَاُمَّهٗۤ	اٰيَةً	وَّاٰوَيۡنٰهُمَاۤ	اِلٰى رَبۡوَةٍ
اوګرځولی وو موږ	زوی	دمریمی	او مور د ده	دلیل	او موږ ځای ورکړی ؤ دوی ته	لوړی ځمکی ته

اوګرځولی وه موږ قصه د زوی د مریمی او مور د ده (مریمی) دلیل د قدرت او موږ ځای ورکړی راوستی ؤ دوی لوړی ځمکی ته

ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِيۡنٍ ﴿۵۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوۡا مِنَ الطَّيِّبٰتِ

ذَاتِ	قَرَارٍ	وَّمَعِيۡنٍ	يٰۤاَيُّهَا	الرُّسُلُ	كُلُوۡا	مِنَ الطَّيِّبٰتِ
چي خاونده	دارام ده	او د اوبو پاکو بهیدونکو ده	ای	رسولانو	خورئ تاسی	له پاکیزه ؤ شخه

چي خاونده د ارام ده او داوبو پاکو صافو بهیدونکو ده. ای رسولانو خورئ تاسی له طیباتو (پاکیزه ؤ طعامو) څخه

وَاعۡمَلُوۡا صَالِحًا ؕ اِنِّىۡ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ عَلِيۡمٌ ﴿۵۱﴾ وَاِنَّ هٰذِهٖۤ

وَاعۡمَلُوۡا	صَالِحًا	اِنِّىۡ	بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ	عَلِيۡمٌ	وَاِنَّ	هٰذِهٖۤ
او کوئ تاسی	ښه (عملونه)	بیشکه! زه	پر هغو کارونو چي کوئ یئ تاسی	ښه عالم خبردار یم	او بیشکه!	دا

او وکړئ تاسی ښه (عملونه)، بیشکه! زه پر هغو کارونو چي کوئ یئ تاسی ښه عالم خبردار یم. او بیشکه! دا

اُمَّتُكُمۡ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمۡ فَاتَّقُوۡنِ ﴿۵۲﴾ فَتَقَطَّعُوۡۤا

اُمَّتُكُمۡ	اُمَّةً	وَّاحِدَةً	وَّاَنَا	رَبُّكُمۡ	فَاتَّقُوۡنِ	فَتَقَطَّعُوۡۤا
دین ستاسی دی	په دی حال کښی چی دین	یو دی	او زه	رب ستاسی یم	نو ویریږئ له ما	پس پری کړ دوی

دین ستاسی دی په دی حال کښی چي دین یو دی او زه رب ستاسی یم نو ویریږئ له ما .پس پری کړ (امتیانو دوی)

اَمۡرَهُمۡ بَيۡنَهُمۡ زُبُرًا ؕ كُلُّ حِزۡبٍۭ بِمَا لَدَيۡهِمۡ فَرِحُوۡنَ ﴿۵۳﴾

اَمۡرَهُمۡ	بَيۡنَهُمۡ	زُبُرًا	كُلُّ	حِزۡبٍۭ	بِمَا	لَدَيۡهِمۡ	فَرِحُوۡنَ
کار د دین خپل	په مینځ خپل کښی	ټوټی ټوټی	چي هر	یو حزب ګوند	په هغه چي	له دوی سره دی	خوشحال دی

دین خپل په مینځ خپل کښی ټوټی ټوټی چي هر یو حزب ګوند (له دوی څخه) په هغه چي له دوی سره دی خوشحال دی

ع ۱۸ / ۳

يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوۡا مِنَ الطَّيِّبٰتِ... د (طیبات) دلفظ لغوي معنی ده پاک صفا شیان. او چونکي په اسلامي شریعت کي چي کم شیان حرام سوي دي هغه نه پاکیزه دي او نه دعقل والاوو په نزد نفیس او مرغوب دي په دې وجه دطیبات څخه مراد صرف حلال شیان دي کم چي په ظاهري او باطني هر اعتبار سره پاکیزه او نفیس دي په دې آیت کي دا ښوول سویده چي ټولو انبیاوو علیهم السلام ته دوه هدایتونه ورکول سوي دي یو دا چي خوراک به حلال او پاکیزه خوري: دوهم دا چي عمل به نیک صالح کوي او کله چي انبیاء علیهم السلام ته دا خطاب سوی دی کم چي الله جل جلاله معصوم جوړ کړیدي نو ددوی دامت دخلګو دپاره داحکم زیات داهتمام قابل دی او اصل مقصود هم امتونه پر دې حکم باندي چلول دي: علماء فرمايي چي ددې دواړو حکمونو په یو ځای راړولو کي اشاره دې طرفته ده چي دحلال خوراک په نیک عمل کي لوی دخل دی که خوراک حلال وي نو دنیک عمل توفیق خود بخوده پیدا کیږي او چي خوراک حرام وي نو بیا مشکلات وي دنیکی په کولو کي.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص ۲۷)

وَالَّذِيۡنَ يُؤۡتُوۡنَ مَاۤ اٰتَوا وَّقُلُوۡبُهُمۡ وَجِلَةٌ. نیکان خلک نیکی کوي خو بیا هم د الله ﷻ څخه بیریږي چې قبولي به یې که به نه یې؟ په یو حدیث شریف کې دي حضرت عایشه رضي الله عنها فرمایي: چې ما د دې آیت د مطلب پوښتنه د نبي کریم ﷺ څخه وکړه چې دا کار کوونکي بیریدونکي خلگ هغه دي کم چې شراب چښي یا غلاوي کوي؟ حضور ﷺ وفرمایل چې ای د صدیق رضي الله عنه لورې دا خبره نه ده بلکې دا هغه خلگ دي کم چې روژې نیسي لمونځونه کوي او صدقې ورکوي د دې باوجود د دې څخه بیریږي چې شاید زموږ د اعمال د الله ﷻ په نزد زموږ د څه کوتاهي په وجه سره قبول سوي نه وي دا سي خلگ نیکو کارونو ته تلواره او جلدي کوي: او حضرت حسن بصري رحمة الله علیه فرمایي چې موږ دا سي خلگ لیدلي دي کم چې نیک عملونه به یې کول او دومره به بیریدل چې تاسي په بد عمل کولو هم دومره نه بیریږئ: تفسیر قرطبي: الله ﷻ دې موږ او تاسي ته هم د غه صفتونه پیدا کول را نصیب کړي آمین آمین.
(معارف القرآن ج٦ پ١٨ ص٢٩)

فَذَرۡهُمۡ فِيۡ غَمۡرَتِهِمۡ حَتّٰى حِيۡنٍ ﴿٥٤﴾ اَيَحۡسَبُوۡنَ

فَذَرۡهُمۡ	فِيۡ غَمۡرَتِهِمۡ	حَتّٰى	حِيۡنٍ	اَيَحۡسَبُوۡنَ
پس پریږده دوی	په گمراهي خپلې کښې	تر	یو وخته پورې	آیا گمان کوي دوی د دې چې

پس پریږده (ای محمده!) دوی په گمراهي خپلې کښې تر یو وخته (د مرگه) پورې. آیا گمان کوي دوی د دې چې

اَنَّمَا نُمِدُّهُمۡ بِهٖ مِنۡ مَّالٍ وَّبَنِيۡنَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمۡ

اَنَّمَا	نُمِدُّهُمۡ	بِهٖ	مِنۡ مَّالٍ	وَّبَنِيۡنَ	نُسَارِعُ	لَهُمۡ
بیشکه! هر هغه شی	چې ورکوو یې موږ دوی ته	په هغه شی	له ماله	او له زامنو	چې تلوار کوو موږ	دوی ته

بیشکه! هر هغه شی چې ورکوو یې موږ دوی ته (په دنیا کښې) په هغه شی له ماله او له زامنو، چې تلوار کوو موږ دوی ته

فِي الۡخَيۡرٰتِ ؕ بَلۡ لَّا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿٥٦﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ هُمۡ

فِي الۡخَيۡرٰتِ	بَلۡ	لَّا يَشۡعُرُوۡنَ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	هُمۡ
په ښیگڼو کښې	بلکه	نه پوهیږي دوی	بیشکه!	هغه کسان	چې دوی

په خیراتونو (او اکرامو) بلکه نه پوهیږي دوی (چې دا استدراج او امهال دی). بیشکه! هغه کسان چې دوی

مِّنۡ خَشۡيَةِ رَبِّهِمۡ مُّشۡفِقُوۡنَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيۡنَ هُمۡ بِاٰيٰتِ

مِّنۡ خَشۡيَةِ	رَبِّهِمۡ	مُّشۡفِقُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	هُمۡ	بِاٰيٰتِ
له عذاب	د رب خپل	بیریدونکي دي تل	او هغه کسان	چې دوی	په آیتونو (د قرآن)

له (خوفه د) عذاب د رب خپل بیریدونکي دي تل، او هغه کسان چې دوی په آیتونو (د قرآن)

رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿٥٨﴾ وَالَّذِيۡنَ هُمۡ بِرَبِّهِمۡ لَا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿٥٩﴾

رَبِّهِمۡ	يُؤۡمِنُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	هُمۡ	بِرَبِّهِمۡ	لَا يُشۡرِكُوۡنَ
د رب خپل	ایمان راوړي	او هغه کسان	چې دوی	په رب خپل پورې	نه شریکوي

د رب خپل ایمان راوړي. او هغه کسان چې دوی په رب خپل پورې نه شریکوي (بل هیڅ شی)

وَالَّذِيۡنَ يُؤۡتُوۡنَ مَاۤ اٰتَوا وَّقُلُوۡبُهُمۡ وَجِلَةٌ اَنَّهُمۡ

وَالَّذِيۡنَ	يُؤۡتُوۡنَ	مَاۤ	اٰتَوا	وَّقُلُوۡبُهُمۡ	وَجِلَةٌ	اَنَّهُمۡ
او هغه کسان	چې ورکوي	هر هغه چې	ورکوي	حال دا چې زړونه د دوی	بیریدونکي دي	بیشکه! دوی

او هغه کسان چې ورکوي هر هغه چې ورکوي (له زکاتونو او خیراتونو) حال دا چې زړونه د دوی بیریدونکي دي بیشکه! دوی

اِلٰى رَبِّهِمۡ رٰجِعُوۡنَ ۝٦٠ اُولٰٓـئِكَ يُسٰرِعُوۡنَ فِى الۡخَيۡرٰتِ وَهُمۡ

اِلٰى رَبِّهِمۡ	رٰجِعُوۡنَ	اُولٰٓـئِكَ	يُسٰرِعُوۡنَ	فِى الۡخَيۡرٰتِ	وَهُمۡ
رب خپل ته	ورتلونکی دی	دغه کسان	ډیر تلوار کوی	په نیکیو کښې	او دوی

رب خپل ته ورتلونکی دی. دغه کسان ډیر تلوار (او رغبت) کوی په نیکیو (طاعاتو) کښې او دوی

لَهَا سٰبِقُوۡنَ ۝٦١ وَلَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا اِلَّا وُسۡعَهَا وَلَدَيۡنَا

لَهَا	سٰبِقُوۡنَ	وَلَا نُكَلِّفُ	نَفۡسًا	اِلَّا	وُسۡعَهَا	وَلَدَيۡنَا
هغو ته	مخکی کیدونکی دی	او نه کوو تکلیف	پر هیڅ نفس	مګر	په قدر د طاقت دده	او زمونږ څخه

هغو (نیکیو) ته مخکی کیدونکی دی. او نه کوو تکلیف پر هیڅ نفس مګر په قدر د طاقت د ده او زمونږ څخه

كِتٰبٌ يَّنۡطِقُ بِالۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ۝٦٢ بَلۡ قُلُوۡبُهُمۡ

كِتٰبٌ	يَّنۡطِقُ	بِالۡحَقِّ	وَهُمۡ	لَا يُظۡلَمُوۡنَ	بَلۡ	قُلُوۡبُهُمۡ
یو کتاب دی	چی بیانوی	حق ربښتیا	او پر دوی به	هیڅ قسم ظلم ونه کړی سی	بلکه	زړونه د دوی

یو کتاب (لوح محفوظ یا عملنامی) دی چی بیانوی حق ربښتیا او پر دوی به هیڅ قسم ظلم ونه کړی سی. بلکه زړونه د دوی

فِىۡ غَمۡرَةٍ مِّنۡ هٰذَا وَلَهُمۡ اَعۡمَالٌ مِّنۡ دُوۡنِ ذٰلِكَ هُمۡ

فِىۡ غَمۡرَةٍ	مِّنۡ هٰذَا	وَلَهُمۡ	اَعۡمَالٌ	مِّنۡ دُوۡنِ	ذٰلِكَ	هُمۡ
په غفلت کښې دی	له دغه (قرآنه)	او سته دوی ته	عملونه	غیر له	دی (شرکه)	چی دوی

په غفلت کښې دی له دغه (قرآنه یا د صلحاؤ له اعماله) او سته دوی ته عملونه (ناپاکه) غیر له دی (شرکه د دوی) چی دوی

لَهَا عٰمِلُوۡنَ ۝٦٣ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَخَذۡنَا مُتۡرَفِيۡهِمۡ بِالۡعَذَابِ اِذَا هُمۡ

لَهَا عٰمِلُوۡنَ	حَتّٰۤى	اِذَاۤ اَخَذۡنَا	مُتۡرَفِيۡهِمۡ	بِالۡعَذَابِ	اِذَا هُمۡ
دهغو عملونو کوونکی دی	تر هغه پوری	کله چی ونیسو موږ	غنیان ددوی	په (دنیوی) عذاب	ناڅاپه دوی به

دهغو عملونو کوونکی دی. ترهغه پوری کله چی ونیسو موږ (هم هغه) غنیان (غټان) د دوی په (دنیوی) عذاب ناڅاپه دوی

يَجۡـَٔرُوۡنَ ۝٦٤ لَا تَجۡـَٔرُوا الۡيَوۡمَ اِنَّكُمۡ مِّنَّا لَا تُنۡصَرُوۡنَ ۝٦٥

يَجۡـَٔرُوۡنَ	لَا تَجۡـَٔرُوا	الۡيَوۡمَ	اِنَّكُمۡ	مِّنَّا	لَا تُنۡصَرُوۡنَ
فریاد ونه کوی	مه کوئ فریاد	نن ورځ	بیشکه استاسی سره	زموږ له طرفه	هیڅ مدد به ونه کړی سی

به فریاد ونه کوی (چیغی وهی). مه کوئ فریاد نن ورځ بیشکه! تاسی سره له موږ څخه هیڅ مدد به ونه کړی سی په خلاصولو

بَلۡ قُلُوۡبُهُمۡ فِىۡ غَمۡرَةٍ مِّنۡ هٰذَا وَلَهُمۡ...دکفارو زړونه دديِ دين دطرف څخه په جهالت او شک کي ډوب دي: غمرة داسي ژورو اوبو ته ويل کيږي په کمو کي چي سړی ډوب سي او کم چي په دې کي ور داخليدونکي پټوي په دې وجه لفظ دغمره پردې او هرپټوونکي شي ته هم ويل کيږي: دلته يي ددوی دې مشرکانه جهالت ته غمره ويلې ده ځکه چي په دي کي ددوی زړونه ډوب او پټ دي او دهيڅ طرف څخه دوی ته درڼا څرک نه رسيږي: (ولهم اعمال من دون ذلک) يعني ددغه کفارو دپاره خو يوه دشرک اوکفر دغفلت پرده کافي وه مګر هغوی پر دې بسوالی ونه کړی او ددې سره يي نور خبيث عملونه هم شروع کړل چي هغه ددوی ناروا رسمونه او رواجونه وه: (مترفيهم) دترف څخه مشتق دی چي معنی يي په نعمت اوخوشحالی کي کيدل دي دلته ددې قوم په عذاب کي دنيولو ذکر دی چي امير، غريب، خوشحاله بدحاله، ټول به پکښې داخل وي مګر دمالدارو اوخوشحالو ذکريي په خاص طور سره ځکه وکی: پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ

قَدْ	كَانَتْ	اٰيٰتِيْ	تُتْلٰى	عَلَيْكُمْ	فَكُنْتُمْ	عَلٰى	اَعْقَابِكُمْ
په تحقيق	ؤ	آياتونه (دقرآن) زما	چي لوستلی به سول	پر تاسي	پس وئ به تاسي	پر	پوندو خپلو

په تحقيق ؤ آياتونه (دقرآن) زما چي لوستلی به سول پر تاسي (هر وخت) پس وئ به تاسي پر پوندو خپلو

تَنْكِصُوْنَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ﴿٦٧﴾

تَنْكِصُوْنَ	مُسْتَكْبِرِيْنَ	بِهٖ	سٰمِرًا	تَهْجُرُوْنَ
چي بيرته به گرځيدئ	په دی حال چي کبر کوونکی به وئ	په دی (قرآن)	داچي قصې کوونکو به وئ	پريښودل به مو

چي بيرته به گرځيدئ. په دی حال چي کبر کوونکی به وئ په دی (قرآن) داچي قصې کوونکی به وئ پريښودل به مو (داقرآن)

اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَاْتِ اٰبَآءَهُمُ

اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا	الْقَوْلَ	اَمْ جَآءَهُمْ	مَّا	لَمْ يَاْتِ	اٰبَآءَهُمُ
آيا پس فکر نه کوی	په دی وينا کښی	آيا که راغلی دی دوی ته	هغه څه	چي نه ؤ راغلی	پلرونو دوی ته

آيا پس فکر نه کوی (کفار) په دی وينا کښی (چي قرآن دی) آيا که راغلی دی دوی ته هغه څه چي نه ؤ راغلی پلرونو د دوی ته

الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾ اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ فَهُمْ لَهٗ

الْاَوَّلِيْنَ	اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا	رَسُوْلَهُمْ	فَهُمْ	لَهٗ
چي مخکني وه	آيا که نه دی پيژندلی	رسول خپل	پس دوی	له ده څخه

چي مخکني وه (نو انکار کوی) . آيا که نه دی پيژندلی (کفارو) رسول خپل (په صداقت او امانت سره) پس دوی له ده څخه

مُنْكِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ

مُنْكِرُوْنَ	اَمْ يَقُوْلُوْنَ	بِهٖ	جِنَّةٌ	بَلْ جَآءَهُمْ	بِالْحَقِّ
منکران دی	آيا وايئ دوی	چي په ده	ليونتوب دی	بلکه راغلی دی دوی ته	په حق (دين) سره

منکران دی. آيا وايئ دوی چي په ده ليونتوب دی بلکه راغلی دی (دا محمد) دوی ته په حق (دين) سره

وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ

وَاَكْثَرُهُمْ	لِلْحَقِّ	كٰرِهُوْنَ	وَلَوِ اتَّبَعَ	الْحَقُّ	اَهْوَآءَهُمْ
او اکثر د دوی	حق لره	ناخوښوونکی دی	او که متابعت کړی وی	حق	دنفساني غوښتنو د دوی

او اکثر د دوی حق لره ناخوښوونکی دی . او که متابعت کړی وی حق د نفساني غوښتنو د دوی (په وجود د ډيرو معبودانو)

مُسْتَكْبِرِيْنَ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ. دتير مخ پاته بيان دلته وگوری : چي داسي خلگ ددنيا دمصيبتونو څخه دخپل حفاظت دپاره څه اسباب کولی سي مگر دالله جل جلاله عذاب چي کله راسي نو دټولو څخه اول دا خلگ بې وسه پاته سي په ايت کي چي په کم عذاب سره ددوی دنيولو ذکر دی : حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي ددې څخه مراد هغه عذاب دی کم چي دبدر په غزا کي دمسلمانانو په تورو سره ددوی پر سرونو باندي راغی: او ځينو حضراتو بيا ددې څخه مراد دقحط عذاب اخيستی دی کم چي د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ښراوو سره پر مکه والاو باندي مسلط سوی وو تردې چي دوی په مردارو حيوانانو سپو او هډوکو خوړلو باندي مجبوره سوه نبي کريم صلی الله عليه وسلم دکفارو دپاره ښراوي ډيري کمي کړي دي ليکن پر دغه پر مسلمانانو ددوی دسختو ظلمونو څخه مجبوره سواو دا ښراوي يې وکړې (اللهم اشدد وطأتک على مضر واجعلها عليهم سنين کسني يوسف) ای الله جل جلاله خپل عذاب پر دوی باندي سخت کړې الخ (معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص ۳۳)

لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ بَلْ

لَفَسَدَتِ	السَّمٰوٰتُ	وَالْاَرْضُ	وَمَنْ	فِيْهِنَّ	بَلْ
نو خامخا خراب سوی به وو	آسمانونه	او مځکه	او هر هغه چې	په دوی کښې دی	بلکه

نو خامخا خراب سوی به وو آسمانونه او مځکه او هر هغه (مخلوق) چې په دوی کښې دی ، بلکه

اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٧١﴾

اَتَيْنٰهُمْ	بِذِكْرِهِمْ	فَهُمْ	عَنْ	ذِكْرِهِمْ	مُّعْرِضُوْنَ
راوړی مو دی دوی ته	پند د دوی	پس دوی	له	ذکر ، پند خپل	مخ گرځوونکی دی

راوړی مو دی دوی ته ذکر پند د دوی (چې قرآن مجید دی) پس دوی له ذکر ، پند خپل مخ گرځوونکی دی (فکر نه کوی)

اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَّهُوَ خَيْرُ

اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ	خَرْجًا	فَخَرَاجُ	رَبِّكَ	خَيْرٌ	وَّهُوَ	خَيْرُ
آیا غواړې ته له دوی څخه	اجرت	پس اجرت	د رب ستا	غوره دی	او هم دغه (الله)	ډیر غوره

آیا غواړې ته (ای محمده!) له دوی څخه اجرت پس اجرت د رب ستا خیر ، ډیر غوره دی او هم دغه (الله) خیر ډیر غوره

الرّٰزِقِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٣﴾ الربع

الرّٰزِقِيْنَ	وَاِنَّكَ	لَتَدْعُوْهُمْ	اِلٰى	صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ
د ټولو رزق ورکونکو دی	او بیشکه! ته	خامخا بولې دوی	طرف	دلارې	صافې سمې ته

د ټولو رزق ، روزي ورکونکو دی. او بیشکه! ته خامخا بولې دوی طرف د لارې صافې سمې ته (چې دین د اسلام دی).

وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ﴿٧٤﴾

وَاِنَّ	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِالْاٰخِرَةِ	عَنِ	الصِّرَاطِ	لَنٰكِبُوْنَ
او بیشکه!	هغه کسان	چې نه راوړی ایمان	په قیامت	له	سمې صافې لارې څخه	خامخا کږیدونکی دی

او بیشکه! هغه کسان چې نه راوړی ایمان په قیامت له سمې صافې لارې څخه خامخا کږیدونکی دی (لارې د ضلالت ته).

وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ

وَلَوْ	رَحِمْنٰهُمْ	وَكَشَفْنَا	مَا بِهِمْ	مِّنْ ضُرٍّ
او که	مهربانی کړې وی موږ پر دوی	او لرې کړې وی موږ	هغه چې په دوی ؤ	له ضرره

او که مهربانی کړې وی موږ پر دوی او لرې کړې وی موږ هغه چې په دوی ؤ له ضرره (چې قحط دی)

لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ.
کفار غواړي چې داحق دین ددوی دخیالاتو تابع سي: کفارو او مشرکینو به همیشه دغه غوښتني کولې چې یادي دغه دین ددوی دخیالاتو او خواهشاتو تابع سي او یا دي په دغه دین کي څه ترمیم وسي یعني داقرآن دي بدل کړل سي بل قرآن دي موږ ته راوړل سي چې زموږ دبتانو او خدایانو بدوالی او پر هغوی باندي لگاونه وي سوی په کښې نوبیا موږ دادین او دغه ترمیم سوی کتاب منو الله ﷻ په دغه آیت کي ددوی ددغه ټولو غوښتنو جواب ورکی چي که بالفرض او محال داسي کار واقع کیدای دین حق ددوی دخیالاتو تابع او موافق کیدای نو په ټول عالم کسي به کفر او شرک غوړول سوی وای او اثر به یي داوای چي دحق تعالی ﷻ غضب به ټول عالم ته متوجه سوی وای او مقتضابه یي داوای چي ټوله اسمانونه او مځکي او هغه څه چي په دوی کي آباد دي ټول به تباه سوي وای لکه چي په قیامت کي به په ټولو انسانانو کي دگمراهی عامیدو په سبب دالله ﷻ غضب هم پر ټولو عام وي :
(معرف القرآن ج۶پ۱۸ ص ۳۲)

الربع

لَّلَجُّوا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ

آخَذْنٰهُمْ	وَلَقَدْ	يَعْمَهُوْنَ	فِيْ طُغْيَانِهِمْ	لَّلَجُّوْا
ونيول موږ دوی	او خامخا په تحقيق	حال دا چي حيران به وای	په سرکشي خپله کښې	خامخا به لاټينګ سوی وو دوی

خامخا به نونتلي وای دوی په سرکښی خپله کښی حال دا چي حيران او متردد به وو. او خامخا په تحقيق ونيول موږ دوی

بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٧٦﴾

وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ	لِرَبِّهِمْ	فَمَا اسْتَكَانُوْا	بِالْعَذَابِ
او نه تضرع زاري يئ وکړی دوی	رب خپل ته	پس ونه کړه دوی عاجزی	په عذاب سره

په عذاب سره (څو عاجز او نرم سی) پس غاړه يئ کښېښودہ رب خپل ته او نه تضرع زاری يئ وکړه (لا سرکش او متکبر سول).

حَتّٰٓى اِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ

اِذَا هُمْ	شَدِيْدٍ	ذَا عَذَابٍ	بَابًا	عَلَيْهِمْ	اِذَا فَتَحْنَا	حَتّٰٓى
ناڅاپه دوی	سخت	خاونده د عذاب	يو دروازه	پر دغو (منکرانو)	کله چي وپرانستله موږ	ترهغه پوري

ترهغه پوری کله چي وپرانستله موږ پر دغو (منکرانو) يو دروازه خاونده د عذاب سخت ناڅاپه دوی

فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٧﴾ ع وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ

السَّمْعَ	اَنْشَاَ لَكُمُ	الَّذِيْٓ	وَهُوَ	مُبْلِسُوْنَ	فِيْهِ
ته غوږونه	چي پيدا کړی يئ دی تاسی	هغه ذات دی	او دغه (الله)	حيران نا اميده ؤ له هر خيره	په دغه کښی

په دغه (عذاب) کښی حيران نا اميده ؤ له هر خيره. او دغه (الله) هغه ذات دی چي پيدا کړی يئ دی تاسی ته غوږونه

وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

الَّذِيْ	وَهُوَ	تَشْكُرُوْنَ	قَلِيْلًا مَّا	وَالْاَفْـِٕدَةَ	وَالْاَبْصَارَ
هغه ذات دی	او دغه (الله)	شکر وباسئ تاسی	ډير لږ	او زړونه	او سترګی

او سترګی او زړونه ډير لږ شکر وباسئ تاسی (او حق يي ډير لږ په ځای کوئ). او دغه (الله) هغه ذات دی

ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٩﴾

تُحْشَرُوْنَ	وَاِلَيْهِ	فِي الْاَرْضِ	ذَرَاَكُمْ
به ور جمع کړی سئ (په قيامت کښی)	او خاص هم دغه (الله) ته	په ځمکه کښی	چي پيدا کړی يئ ياست تاسی

چي پيدا کړی (خواره کړی) يئ ياست تاسی په ځمکه کښی او خاص هم دغه (لله) ته به ور جمع کړی سئ په قيامت کښی .

وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا.. کفار دمکي دالله ﷻ په عذاب داخته کيدو باوجود هم دالله ﷻ په حضور کي کښته نه سول :ددي څخه په مخکي آيت کي دمشرکينو په باره کي داويل سوي وه چي داخلګ کم چي په عذاب کي دمبتلاکيدو په وخت کي الله ﷻ ته يا رسول ته فرياد کوي که موږ ددوی په فرياد رحم وکړو او عذاب ورڅخه ليري کړو نو ددوی د پيدا ايشي شرارت او سرکښي داحال دی چي د عذاب څخه دخلاصيدو څخه وروسته به بياهم په خپله سرکښي او نافرماني کي مشغول سي : په دي آيت کي ددوی ديوي دغه ډول واقعي بيان دی چي دوی په يو عذاب باندي ونيول سول مګر دنبي کريم ﷺ ددعا په برکت سره يي دعذاب څخه دنجات پيداکيدو څخه وروسته هم دالله ﷻ په مخکي کښته نه سول او برابر پر خپل کفر او شرک باندي ټينګ پاته سول : که لږ غور او فکر وسي دقرآن کريم حکمونه ترقيامته پوري عام دي تولو مخلوقاتو ته دنن کفار هم داسي دي چي دالله ﷻ دعذابونو باوجود هم نه کښته کيږي الله ﷻ ته: (معارف القرآن ج ۶ پ ۱۸ ص ۳۵)

وَهُوَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ

وَهُوَ	الَّذِيْ	يُحْيٖ	وَيُمِيْتُ	وَلَهُ	اخْتِلَافُ	الَّيْلِ	وَالنَّهَارِ
او دغه (الله)	هغه ذات دی	چی ژوندی کوی	او وژل کوی	او خاص د هم ده کار دی	اختلاف بدلول	دشپی	او دورځی

او دغه (الله) هغه ذات دی چی ژوندی کوی او وژل کوی او خاص د هم ده کار دی اختلاف بدلول د شپی او د ورځی

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝٨٠ بَلْ قَالُوْا مِثْلَ مَا قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ۝٨١ قَالُوْٓا

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ	بَلْ قَالُوْا	مِثْلَ	مَا قَالَ	الْاَوَّلُوْنَ	قَالُوْٓا
نو آیا پس تاسی عقل نه چلوئ	بلکه وایئ (دا کفار)	په شان	دهغی چی ویلی ده	پخوانیو کفارو	چی ویل دوی

نو آیا پس تاسی عقل نه چلوئ. بلکه وایئ (دا کفار) په شان دهغی وینا چی ویلی ده پخوانیو کفارو. چی ویل دوی

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۝٨٢ لَقَدْ

ءَاِذَا	مِتْنَا	وَكُنَّا	تُرَابًا	وَّعِظَامًا	ءَاِنَّا	لَمَبْعُوْثُوْنَ	لَقَدْ
کله چی	مره سو موږ	او سو موږ	خاوری	او هډوکی	نو آیا موږ به	خامخا بیا ژوندی راپاڅول کیږو	خامخا په تحقیق

کله چی مره سو موږ او سو موږ خاوری او هډوکی (وراسته) نو آیا موږ به خامخا بیا ژوندی راپاڅول کیږو ، خامخا په تحقیق

وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ

وُعِدْنَا	نَحْنُ	وَاٰبَآؤُنَا	هٰذَا	مِنْ قَبْلُ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّآ	اَسَاطِيْرُ
وعده کړی سوی ده	له موږ سره	او له پلرونو زموږ سره	هم دغه وعده	پخوا له دی څخه	نه دی دا خبری	مګر	دروغجنی قصی دی

وعده کړی سوی ده له موږ سره او له پلرونو زموږ سره هم دغه وعده پخوا له دی څخه نه دی دا خبری مګر دروغجنی قصی دی

الْاَوَّلِيْنَ ۝٨٣ قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ

الْاَوَّلِيْنَ	قُلْ	لِّمَنِ	الْاَرْضُ	وَمَنْ	فِيْهَآ	اِنْ كُنْتُمْ
دپخوانیو خلګو	ووایه	چی چاته ده	دغه مځکه	او هغه مخلوقات چی	په هغی کښی دی	که چیری یئ تاسی

د پخوانیو خلګو. ووایه (ای محمده!) چی چاته ده دغه مځکه او هغه مخلوقات چی په هغی کښی دی که چیری یئ تاسی

تَعْلَمُوْنَ ۝٨٤ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝٨٥

تَعْلَمُوْنَ	سَيَقُوْلُوْنَ	لِلّٰهِ	قُلْ	اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ
چی پوهیږئ	نو ژر به وایئ	خاص الله ته دی	ووایه (ای محمده!)	آیا پس تاسی پند نه اخلئ

چی پوهیږئ، نو ژر به وایئ خاص الله ته دی ووایه (ای محمده! دوی ته نو) آیا پس تاسی پند نه اخلئ.(غور نه کوئ؟)

الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّيْلِ دالله ﷻ دقدرت او دوحدانیت دنښوپوره بیان: په دغه ایاتونو کي الله ﷻ دخپل کامل قدرت او وحدانیت نښي بیان کړي دي چنانچي فرمایي چي الله ﷻ هغه ذات دی چي ژوندي کول کوي او مړه کول کوي او هم ددغه ذات په اختیارکي دي دشپې او ورځې کمول اوزیاتول نو آیا تاسي په دومره خبره نه پوهیږی چي دقدرت دادلیلونه پر توحید او په قیامت کي پر دوهم وار ژوند دواړو باندي دلالت کوي مګر بیا یه هم تاسي نه منی: بلکي دوی هم هغسي خبره کوي کمه چي مخکي کافرانو خلګو ویله اوس یي دوی وایي او هغه داسي وایي چي کله موږ مړه سو او بیا خاوري او هډوکي سو نو آیا موږ به دوباره ژوندي سوددې خو زموږ او زموږ څخه دمخکي مشرانو سره وعده راروانه ده داهیڅ هم نسته محض بې سنده خبري دي کم چي دمخکي خلګو څخه نقل راروانې دي چونکي په دې قول سره دقدرت څخه انکار لازمیږي اودقدرت څخه انکار دتوحید څخه انکار دی ځکه جواب دوی ته په ثبوت دتوحید ورکړه سو.
(معارف القرآن ج ٦ پ ١٨ ص ٣٨)

قُلۡ مَنۡ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبُّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۸۶﴾

قُلۡ	مَنۡ رَّبُّ	السَّمٰوٰتِ	السَّبۡعِ	وَرَبُّ	الۡعَرۡشِ	الۡعَظِيۡمِ
ووايه	ثوک دی رب	دآسمانونو	اوو ۷	او رب	دعرش	ډيرلوی

ووايه ثوک دی رب د آسمانونو اوو ۷ او رب د عرش ډيرلوی

سَيَقُوۡلُوۡنَ لِلّٰهِ ؕ قُلۡ اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۸۷﴾ قُلۡ

سَيَقُوۡلُوۡنَ	لِلّٰهِ	قُلۡ	اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ	قُلۡ
ژر وبه وايئ دوی	چي الله ته دی	نو ووايه (محمده!)	آيا پس نه بيرېږئ تاسی	ووايه (محمده!)

نو ژر وبه وايئ دوی چي (دغه ټول) الله ته دی نو ووايه (ای محمده!) آيا پس نه بيرېږئ تاسی. ووايه (محمده!)

مَنۡۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوۡتُ كُلِّ شَىۡءٍ وَّهُوَ يُجِيۡرُ

مَنۡۢ	بِيَدِهٖ	مَلَكُوۡتُ	كُلِّ شَىۡءٍ	وَّهُوَ	يُجِيۡرُ
ثوک دی هغه ذات	چي په لاس (بلاکيف) دده کښی	باچاهي تصرف دی	دهر شی	او دی	پناه ورکوی

ثوک دی هغه ذات چي په يد (بلاکيف) د ده کښی باچاهي تصرف دی دهر شی او دی پناه ورکوی (مخلوقاتو ته)

وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۸﴾ سَيَقُوۡلُوۡنَ لِلّٰهِ ؕ قُلۡ

وَلَا يُجَارُ	عَلَيۡهِ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	تَعۡلَمُوۡنَ	سَيَقُوۡلُوۡنَ	لِلّٰهِ	قُلۡ
او پناه نه ورکوله کيږی	په ده باندی	که يئ تاسی	چي پوهيږئ	نو ژر وبه وايئ	چي خاص الله ته دی	ووايه

او پناه نه ورکوله کيږی په (ضرر د) ده باندی که يئ تاسی چي پوهيږئ، نو ژر وبه وايئ چي (داصفات) خاص الله ته دی ووايه

فَاَنّٰى تُسۡحَرُوۡنَ ﴿۸۹﴾ بَلۡ اَتَيۡنٰهُمۡ بِالۡحَقِّ وَاِنَّهُمۡ لَكٰذِبُوۡنَ ﴿۹۰﴾

فَاَنّٰى	تُسۡحَرُوۡنَ	بَلۡ	اَتَيۡنٰهُمۡ	بِالۡحَقِّ	وَاِنَّهُمۡ	لَكٰذِبُوۡنَ
پس څرنګه	ټګی درباندی کوله سی	بلکه	راتله کړی راوړی مو دی دوی ته	حق	او بيشکه! دوی	خامخا دروغجنان دی

پس څرنګه ټګی درباندی کوله سی. بلکه راتله کړی راوړی مو دی دوی ته حق او بيشکه! دوی خامخا دروغجنان دی

مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنۡ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ مِنۡ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ

مَا اتَّخَذَ	اللّٰهُ	مِنۡ وَّلَدٍ	وَّمَا كَانَ	مَعَهٗ	مِنۡ اِلٰهٍ	اِذًا	لَّذَهَبَ
نه دی نيولی	الله	هيڅ ولد (زوی، لور)	او نسته	ورسره	هيڅ بل معبود	نو په دغه وخت کښی	خامخا بيولی به وؤ

نه دی نيولی الله هيڅ ولد (زوی، لور) او نسته ورسره هيڅ بل معبود نو په دغه وخت کښی خامخا بيولی او (بيل کړی) به وؤ

وَّهُوَ يُجِيۡرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ... دالله ﷻ په مقابله کي ثوک چاته پناه نه سي ورکولای

يعني الله ﷻ چي چاته غواړي دعذاب او مصيبت او رنځ څخه پناه ورکوي او داچي دچا مجال نسته چي دده په مقابله کي چاته پناه ورکړي اودده د عذاب او تکليف څخه يي محفوظ کړي داخبره ددنيا په اعتبار سره هم صحيح ده چي الله ﷻ چاته يو څه نفع رسول وغواړي ثوک يي نه سي منع کولای دهغه څخه او الله ﷻ چي بيا چاته څه تکليف ورکول وغواړي هغه څوک محفوظه کولای نه سي چي داعذاب يا مصيبت څني وګرځوي: او دامضمون او خبره دآخرت په اعتبار سره هم صحيح ده چي څوک هغه په عذاب کي اخته کوي څوک يي نه سي محفوظه کولای او چاته چي جنت اوراحت او خوشحالي ورکول وغواړي هغه څوک نه سي منع کولای: تفسير قرطبي:

خلاصه داچي الله ﷻ غالبه او زبردست او غښتلی ذات دی دهغه دهيڅ شي مقابله مخلوق نه کړيده او نه يي هم کولای سي (وهو مالک الملک والملکوت والجبروت) (معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۳۹)

ع ۵ ۵

كُلُّ اِلٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا

كُلُّ اِلٰهٍ	بِمَا	خَلَقَ	وَلَعَلَا	بَعْضُهُمْ	عَلٰى بَعْضٍ	سُبْحٰنَ	اللّٰهِ	عَمَّا
هريو خداى	په هغه مخلوق	چې پيدا كړى يئ ؤ	او خامخا غلبه به كوله	ځينو د دوى	پر ځينو نورو	پاكى ده	الله ته	له هغه

هر يو خداى په هغه مخلوق چې پيدا كړى يئ ؤ او خامخا غلبه به كوله ځينو د دوى پر ځينو نورو، پاكى ده الله ته له هغه

يَصِفُوْنَ ﴿٩١﴾ عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٩٢﴾

يَصِفُوْنَ	عٰلِمِ	الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ	فَتَعٰلٰى	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ
چې بيا نوى يئ دوى	عالم دى	پر پټو	او په ښكاره ؤ	پس ډير لوى دى	له هغه شي څخه	چې شريكوئ يئ ورسره

بيانوى يئ (په شرک سره). عالم دى پر پټو او په ښكاره ؤ پس ډير لوى دى له هغه شي څخه چې شريكوئ يئ ورسره .

قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ

قُلْ	رَّبِّ	اِمَّا	تُرِيَنِّيْ	مَا يُوْعَدُوْنَ	رَبِّ	فَلَا تَجْعَلْنِيْ
ووايه ته	اى ربه زما	كه چيرى	وښيې ته ماته	هغه چې وعده يئ كولى سى د دوى سره	اى ربه زما	پس مه گرځوه ما

ووايه ته (اى محمده!) اى ربه زما كه چيرى وښيې ته ماته هغه (عذاب) چې وعده يئ كولى سى اى ربه زما پس مه لره ما

فِى الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَاِنَّا عَلٰٓى اَنْ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ

فِى الْقَوْمِ	الظّٰلِمِيْنَ	وَاِنَّا	عَلٰٓى	اَنْ نُّرِيَكَ	مَا	نَعِدُهُمْ
په قوم	ظالمانو كښى	او بيشكه! موږ	پر دى كار	چې وښيو تاته	هغه عذاب	چې وعده يئ كوو له دوى سره

په قوم ظالمانو كښى. او بيشكه! موږ په دى كار چې وښيو تاته هغه عذاب چې وعده يئ كوو له دوى سره

لَقٰدِرُوْنَ ﴿٩٥﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ؕ نَحْنُ

لَقٰدِرُوْنَ	اِدْفَعْ	بِالَّتِىْ	هِىَ	اَحْسَنُ	السَّيِّئَةَ	نَحْنُ
خامخا قادر يو	دفع كړه	په هغه خصلت سره	چې هغه	ډير ښه دى	بدى (او ضرر د دوى تا ته)	موږ ته

خامخا قادر يو. دفعه كړه (اى محمده!) په هغه خصلت سره چې هغه ډير ښه دى بدى (او ضرر د دوى تاته) موږ ته

اَعْلَمُ بِمَا يَصِفُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ

اَعْلَمُ	بِمَا يَصِفُوْنَ	وَقُلْ	رَّبِّ	اَعُوْذُ بِكَ	مِنْ هَمَزٰتِ
ښه معلومى دى	هغه خبرى چې دوى يئ بيانوى	او ووايه	اى ربه زما	پناه غواړم په تا	له چخولو (وسوسو)

ښه معلومى دى هغه خبرى چې ستايئ دوى. او ووايه (اى محمده!) اى ربه زما پناه غواړم په تا پورى له چخولو (وسوسو)

وَاِنَّا عَلٰٓى اَنْ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ. الله ﷻ پر دغه هم قدرت درلودى چي دنبي كريم ﷺ په ژوند كي كفاروته سزا وركړي واى: دلته الله ﷻ دا فرمايلي دي يعني موږ پر دې قدرت لرو چي موږ ستا په مخكي تاته په دوى عذاب راتلونكي وښيو ځيني تفسير ليكونكي فرمايي چي كه څه هم پر دې امت دحضور نبي كريم ﷺ په بركت سره دعام عذاب نه راتلو وعده دالله ﷻ دطرف څخه سويده: وماكان الله ليعذبهم وانت فيهم: يعني موږ ددې خلكو په دې حالت كي هلاكوونكي نه يو چي ته په دوى كي موجود يي ليكن پر خاص خاص خلكو په خاصو حالاتو كي په دنيا كي عذاب راتلل ددې منافي نه دي: په دې آيت كي لكه چي فرمايلي يي دي چي موږ پر دې قادر يو چي تاته هم ددوى عذاب وښيو دغه دمكې پر خلكو باندي دقحط عذاب راغلى وو چي دوى دمردارو حيواناتو لكه دسپو دهډوكو وخوراک ته آخر مجبوره سول: بيا دبدر په غزا كي دمسلمانانو دتورو عذاب ددوى ﷺ په مخكي پر دوى راغلى وو.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص ۴۱)

الشَّيٰطِيْنِ ﴿٩٧﴾ وَاَعُوْذُبِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿٩٨﴾ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ

الشَّيٰطِيْنِ	وَاَعُوْذُبِكَ	رَبِّ	اَنْ يَّحْضُرُوْنِ	حَتّٰٓى	اِذَا جَآءَ
دشيطانانو څخه	او پناه غواړم په تا پورې	اې ربه زما	چې حاضر سي ماته	ترهغو پورې	کله چې راسي

د شيطانانو څخه. او پناه غواړم په تا پورې اې ربه زما چې حاضر سي (دوی) ماته. ترهغو پورې کله چې راسي

اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا

اَحَدَهُمُ	الْمَوْتُ	قَالَ	رَبِّ	ارْجِعُوْنِ	لَعَلِّيْٓ	اَعْمَلُ	صَالِحًا	فِيْمَا
يو د دوی ته	مرګ	نو وبه وايئ	اې ربه زما	بيرته وګرځوه ته ما	ښايئ چې زه	عمل وکړم	نيک	په هغه شي کې

يو د دوی ته (اسباب د) مرګ نو وبه وايئ اې ربه زما بيرته وګرځوه ته ما (دنيا ته) ښايئ چې زه عمل وکړم نيک په هغه شي کې

تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ

تَرَكْتُ	كَلَّا	اِنَّهَا	كَلِمَةٌ	هُوَ	قَآئِلُهَا
چې بيرته پرېښې دی ما	نه دی داسی	بيشکه! دغه د رجعت خبره	داسی چټې خبره ده	چې دی	ويونکی د هغی دی

چې بيرته پرېښې دی ما (په دنيا کی) نه دی داسی بيشکه! دغه د رجعت خبره داسی چټې خبره ده چې دی ويونکی د هغی دی

وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٠٠﴾ فَاِذَا نُفِخَ

وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ	بَرْزَخٌ	اِلٰى	يَوْمِ	يُبْعَثُوْنَ	فَاِذَا	نُفِخَ
او په مخ کښې د دوی دی	برزخ	ترهغی	ورځې پورې	چې بيا ژوندی راپورته کړی سی	نو کله چې	پو کی وکړی سی

او په مخ کښې د دوی دی برزخ (پرده د قبر) ترهغی ورځې پورې چې بيا ژوندی راپاڅولی کيږی. نو کله چې پو کی وکړی سی

فِى الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١٠١﴾

فِى الصُّوْرِ	فَلَآ اَنْسَابَ	بَيْنَهُمْ	يَوْمَئِذٍ	وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ
په شپيلی کښې	پس نه به وی نسبونه	په مينځ د دوی کښې	په دغه ورځ کښې	او نه به پوښتنه کوی دوی يو له بله

په شپيلی کښې پس نه به وی (نافع) نسبونه په مينځ د دوی کښې په دغه ورځ کښې او نه به پوښتنه کوی دوی يو له بله.

فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٢﴾

فَمَنْ	ثَقُلَتْ	مَوَازِيْنُهٗ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْمُفْلِحُوْنَ
پس هر څوک	چې درنی سی	تلی عملونه د دوی	پس دغه کسان	هم دوی دی	برياليان (کامياب)

پس هر څوک چې درنی سی تلی (يا تللی سوی) عملونه د دوی پس دغه کسان هم دوی دی بريالیان (کامياب).

وَاَعُوْذُبِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ. دشيطان دمکر او شر څخه دخلاصون دپاره يوه جامع قراني دعا: دغه دعا دخپل عام مطلب په اعتبار سره يوه جامعه دعا ده چې دشيطان دشر او مکر څخه دبچ کيدو دپاره نبي کريم ﷺ ددې دعا تلقين دخپل امت مسلمانانو ته فرمايلی دی ددې دپاره چې دداسې غصې او غضب په حالت کې چې دانسان پر خپل نفس باندې واک نه وي او دشيطان دوسوسې دخل په کښې وي ددې څخه محفوظ پاته سي: ددې څخه علاوه دشيطانانو او پيريانو دحملو څخه دبچ کيدو دپاره هم دادعا مجربه ده: حضرت خالد رضی الله عنه ته به دشپې خوب نه ورتلی نو نبي کريم ﷺ ورته دادعا اوداکلمې تلقين وفرمايلې چې داوايه بيده کيږه دوی چې داوويلې نو داشکايت يې ختم سو هغه دعا داده (اعوذبکلمات الله التامّة من غضب الله وعقابه ومن شر عذابه ومن همزات الشياطين وان يحضرون) نودا هر قسم شيطاني وسوسو علاج هم دی لکه دحضرت جابر رضی الله عنه په حديث کې چې يې ذکر راغلی دی.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص ۴۲)

وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَازِيۡنُهٗ فَاُولٰٓـِٕكَ الَّذِيۡنَ خَسِرُوۡۤا

وَمَنۡ خَفَّتۡ	مَوَازِيۡنُهٗ	فَاُولٰٓـِٕكَ	الَّذِيۡنَ	خَسِرُوۡۤا
او هر هغه څوک چې سپکې یئ وختلې	تلې د ده	پس دا	هغه کسان دی	چې زیان یئ کړی دی

او هر هغه څوک چې سپکې یئ وختلې تلې (یا تللی اعمال) د ده (چې وزن نه کړی) پس دا هغه کسان دی چې زیان یئ کړی دی

اَنۡفُسَهُمۡ فِىۡ جَهَنَّمَ خٰلِدُوۡنَ ﴿۱۰۳﴾ تَلۡفَحُ وُجُوۡهَهُمُ النَّارُ

اَنۡفُسَهُمۡ	فِىۡ جَهَنَّمَ	خٰلِدُوۡنَ	تَلۡفَحُ	وُجُوۡهَهُمُ	النَّارُ
دنفسونو خپلو	په دوزخ کښې	به تل پراته وی	سوځوی	مخونه د دوی	اور (د دوزخ)

د نفسونو خپلو (په کفر) په دوزخ کښې به تل پراته وی ، سوځوی مخونه د دوی اور (د دوزخ)

وَهُمۡ فِيۡهَا كٰلِحُوۡنَ ﴿۱۰۴﴾ اَلَمۡ تَكُنۡ اٰيٰتِىۡ تُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ

وَهُمۡ	فِيۡهَا	كٰلِحُوۡنَ	اَلَمۡ تَكُنۡ	اٰيٰتِىۡ	تُتۡلٰى	عَلَيۡكُمۡ
او دوی به	په دغه اور کښې	بد صورته وی	آیا نه وه	آیتونه زما	چې لوستل کیده	پر تاسی

او دوی به په دغه اور کښې بد صورته وی . آیا نه وه آیتونه (د قرآن) زما چې لوستل کیده پر تاسی (په دنیا کښې)

فَكُنۡتُمۡ بِهَا تُكَذِّبُوۡنَ ﴿۱۰۵﴾ قَالُوۡا رَبَّنَا غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا

فَكُنۡتُمۡ	بِهَا	تُكَذِّبُوۡنَ	قَالُوۡا	رَبَّنَا	غَلَبَتۡ	عَلَيۡنَا
پس وئ تاسی چې	پر هغو به مو	تکذیب کاوه	نو وبه وایئ (کفار)	ای ربه زموږ	غالبه سوی وه	پر موږ

پس وئ تاسی چې پر هغو به مو تکذیب کاوه. نو وبه وایئ (کفار) ای ربه زموږ غالبه سوی وه پر موږ

شِقۡوَتُنَا وَكُنَّا قَوۡمًا ضَآلِّيۡنَ ﴿۱۰۶﴾ رَبَّنَاۤ اَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا

شِقۡوَتُنَا	وَكُنَّا	قَوۡمًا	ضَآلِّيۡنَ	رَبَّنَاۤ	اَخۡرِجۡنَا	مِنۡهَا
بدبختي زموږ	او وو موږ	یو قوم	گمراهان	ای ربه زموږ	وباسه موږ	له دی دوزخه

بدبختي زموږ او وو موږ یو قوم گمراهان . ای ربه زموږ (یو وار) وباسه موږ له دی دوزخه

فَاِنۡ عُدۡنَا فَاِنَّا ظٰلِمُوۡنَ ﴿۱۰۷﴾ قَالَ اخۡسَـُٔوۡا فِيۡهَا

فَاِنۡ	عُدۡنَا	فَاِنَّا	ظٰلِمُوۡنَ	قَالَ	اخۡسَـُٔوۡا	فِيۡهَا
پس که	بیا راوگرځیدو موږ	پس بیشکه! موږ	ظالمان یو	وبه فرمائی چې	لری سئ تاسی	په دی دوزخ کښې

پس که بیا راوګرځیدو موږ (دی کفر ته) پس بیشکه! موږ ظالمان یو . وبه فرمایئ چې پراته اوسئ خوار په دی دوزخ کښې

وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَازِيۡنُهٗ فَاُولٰٓـِٕكَ الَّذِيۡنَ. دچا دنیکیو تول چي دقیامت په ورځ سپک سو نو دا خلک په تاوان کي دي: په دغه آیاتونو کي الله ﷻ دکاملینو مومنانو او کافرانو مقابله سره کړیده او ددوی دعملونو دتول او په دوی کي دهریوه دانجام ذکر دی چي دکاملو مومنانو دنیکیو تول به دروند وي دوی ته به فلاح او کامیابي نصیب سي او دکفارو تول به سپک وي دوی ته به همیشه ددوزخ اوسیدل نصیب سي: او د قرآن کریم دنورو وضاحتونو څخه ثابته ده چي دلته دکاملو مومنانو دتول ددرنید و مطلب دادی چي بل طرف ته دګناهونو او بدیو په تول کي به یي هیڅ وزن نه وي هغه به خالي په نظر راځي او دکفارو دتول سپکیدو مطلب دادی چي دنیکیو په تول کي به یي څه وزن نه وي بالکل خالي به وي لکه چي په قرآن کریم کي ارشاد دی (فلانقیم لهم یوم القیمة وزنا) یعني موږ به دکفارو او ددوی دعملونو دپاره په قیامت کي وزن قایم نه کړو. ددې څخه هم معلومه سول چي دالله ﷻ څومره وسیع فراخه رحمت دی پر مومنانو د قیامت په ورځ الخ:
(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۴۸)

إِنَّـهٗ كَانَ فَرِيْـقٌ مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ. کافرانو به دمسلمانانو په دعاوو پسې مسخرې او توقې کولې: په دغه آیت کې الله ﷻ فرمايي چې دکفارو هغه خواستونه اوزارى چې دوى يي په قيامت كي كوي هغه به قبولي نه سي ځکه چي دوى په دنيا كي په مسلمانانو او دهغو دعبادت په طريقو باندي مسخرې كولې مثلا الله ﷻ فرمايي چي كله زما په بندگانو كي يوه ډله دايماندارووه دغه بيچاره گانو چي به موږ ته عرض كوى چي اى زموږ پروردگاره موږ ايمان راوړى دى پس موږ وبخښه اوپرموږ رحمت وكړه اوته دټولو رحم كوونكو څخه زيات رحم كوونكى يي پس تاسي محض داخبره چي په څه دقدر قابله وه ددوى مذاق او مسخري به مو كولې او دومره به په كښي مشغول سول چي دغه شغل به ستاسي څخه زما ياد هيركى او تاسي به په هغوى پوري خنداگاني كولې پس په دې دهغوهيڅ هم وران نه سول فقط ديو څو ورځو تكليف وو چي صبر يي پر وكى او موږ دوى ته ددې صبر په نتيجه كي ددوى دصبر اجر وركړى او دوى كامياب سوله. (معارف القرآن ج٦پ١٨ص ٤٥)

وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿١٠٨﴾ إِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ

وَلَا تُكَلِّمُوْنِ	إِنَّهٗ	كَانَ	فَرِيْقٌ	مِّنْ عِبَادِيْ	يَقُوْلُوْنَ	رَبَّنَآ
او مه رغيږئ له ماسره	بيشكه! شان دادى	چې وه	يوه ډله	له بندگانو زما	چې ويل دوى	اى ربه زموږ

او مه رغيږئ له ما سره (په دفع د عذاب) بيشكه! شان دا دى چې وه يوه ډله له بندگانو زما (مؤمنان) چې ويل دوى اى ربه زموږ

اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾

اٰمَنَّا	فَاغْفِرْ لَنَا	وَارْحَمْنَا	وَأَنْتَ	خَيْرُ	الرّٰحِمِيْنَ
ايمان راوړى دى موږ	نو مغفرت وكړه موږ ته	او مهرباني راباندى وكړه	او ته	خير ډير غوره	دټولو مهرباني كوونكويې

پوره يقين او تصديق موږ كړى دى نو مغفرت وكړه موږ ته او مهرباني راباندى وكړه او ته خير ډير غوره د ټولو مهرباني كوونكو يې.

فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا حَتّٰٓى أَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ

فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ	سِخْرِيًّا	حَتّٰٓى	أَنْسَوْكُمْ	ذِكْرِيْ
پس نيولي ؤ تاسي دوى	مسخرى كړى سوى پر دوى	ترهغه پورى	چې هير كړى دوى له تاسي څخه	ذكر، ياد زما

پس نيولي ؤ تاسي دوى مسخرى كړى سوي پر دوى تر هغه پورى چې هير كړى (مسلمانانو) له تاسي څخه اى كفارو ذكر ياد زما

وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿١١٠﴾ إِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا

وَكُنْتُمْ	مِّنْهُمْ	تَضْحَكُوْنَ	إِنِّيْ	جَزَيْتُهُمُ	الْيَوْمَ	بِمَا
او وئ تاسي	چې په هغوپورى مو	خندل	بيشكه! زه چې يم	جزا مى وركړه دوى ته	نن ورځ	په سبب دهغه چې

او وئ تاسي چې په هغوى پورى مو خندل. بيشكه! زه چې يم جزا مى وركړه دوى ته نن ورځ په سبب د هغه چې هغوى

صَبَرُوْٓا أَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿١١١﴾ قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ

صَبَرُوْٓا	أَنَّهُمْ	هُمُ الْفَآئِزُوْنَ	قٰلَ	كَمْ لَبِثْتُمْ	فِي الْأَرْضِ
صبر كړى ؤ دوى	بيشكه! هغوى چې دى	هم هغوى دى برياليان	وبه فرمائي	څومره موده پاتي سوى وئ تاسي	په مځكه كښي

صبر كړى ؤ ، بيشكه! هغوى چې دى هم هغوى دى برياليان. وبه فرمائي څومره موده پاتي سوى وئ تاسي په مځكه كښي

عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْئَلِ

عَدَدَ سِنِيْنَ	قَالُوْا	لَبِثْنَا	يَوْمًا	أَوْ بَعْضَ	يَوْمٍ	فَسْئَلِ
په شمار د كلونو	نو وبه وايئ	پاتي سوى ؤ موږ	يوه ورځ	يا يوه برخه	د ورځى	نو ته پوښتنه وكړه

په شمار د كلونو؟ نو وبه وايئ (كفار) پاتي سوى ؤ موږ يوه ورځ يا يوه برخه د ورځى نو ته (پخپله) پوښتنه وكړه

الْعَآدِّيْنَ ١١٣ قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ

الْعَآدِّيْنَ	قٰلَ	اِنْ لَّبِثْتُمْ	اِلَّا	قَلِيْلًا	لَّوْ اَنَّكُمْ	كُنْتُمْ
له حسابګرو څخه	وبه فرمائي	چي نه دی تاخیر کړی تاسی	مګر	لږ مدت	که چیری بیشکه! تاسی	یئ

له حسابګرو څخه. وبه فرمائي چي نه دی تاخیر (ځنډ) کړی تاسی (په دنیا کښی) مګر لږ مدت که چیری بیشکه! تاسی یئ

تَعْلَمُوْنَ ١١٤ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا

تَعْلَمُوْنَ	اَفَحَسِبْتُمْ	اَنَّمَا	خَلَقْنٰكُمْ	عَبَثًا	وَّاَنَّكُمْ	اِلَيْنَا
پوهیږئ	آیا پس ګمان کوئ تاسی	چي بیشکه! خبره داده	چي پیدا کړی مو یئ تاسی	عبث	او بیشکه! تاسی	موږ ته

پوهیږئ. آیا پس ګمان کوئ تاسی دا سی چي بیشکه! خبره دا ده چي پیدا کړی مو یئ تاسی عبث (دلوبو دپاره) او بیشکه! تاسی

لَا تُرْجَعُوْنَ ١١٥ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

لَا تُرْجَعُوْنَ	فَتَعٰلَى	اللّٰهُ	الْمَلِكُ	الْحَقُّ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ
نه به راوستلی کیږئ	پس ډیر پورته لوی دی	الله	مطلق باچا	حق دی	نسته هیڅوک	لائق دعبادت	مګر خو	هم دی

موږ ته نه به راوستلی کیږئ. پس ډیر پورته لوی لوړ دی الله مطلق باچا حق دی نسته هیڅوک لائق دعبادت مګر خو هم دی

رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ١١٦ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ

رَبُّ الْعَرْشِ	الْكَرِيْمِ	وَمَنْ	يَّدْعُ	مَعَ	اللّٰهِ	اِلٰهًا	اٰخَرَ	لَا بُرْهَانَ
چي مالک دعرش	کریم عزت ناک دی	او هر څوک چي	بولی	له	الله سره	خدای	بل	نه وی هیڅ دلیل

(یوازی) چي رب مالک د عرش کریم عزت ناک دی. او هر څوک چي بولی له الله سره خدای بل نه وی هیڅ دلیل

لَهٗ بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ

لَهٗ	بِهٖ	فَاِنَّمَا	حِسَابُهٗ	عِنْدَ	رَبِّهٖ	اِنَّهٗ	لَا يُفْلِحُ
ده ته	په دغه کښی	پس بیشکه! هم داخبره ده	چي حساب د ده	په نزد	د رب د ده دی	بیشکه! شان دادی	چي بری نه پیدا کوی

ده ته په دغه (عبادت کی) پس بیشکه! هم داخبره ده چي حساب د ده په نزد د رب د ده دی بیشکه! شان دادی چي بری نه پیدا کوی

ع ٦ الْكٰفِرُوْنَ ١١٧ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ١١٨

الْكٰفِرُوْنَ	وَقُلْ	رَّبِّ	اغْفِرْ	وَارْحَمْ	وَاَنْتَ	خَيْرُ	الرّٰحِمِيْنَ
کافران	او وو ایه (محمده!)	ای ربه زما	مغفرت وکړه	او رحم وکړه	او ته	خیر ډیر غوره	د ټولو رحم کوونکو یئ

کافران. او وو ایه (ای محمده!) ای ربه زما مغفرت او رحم وکړه او ته خیر بهتره ډیر غوره د ټولو رحم کوونکو یئ

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ. سورت مومنون داخري ایاتونو فضیلت: د (افحسبتم انما خلقنکم) څخه نیولي تر (الینا لاترجعون) پوري دغه آیت یعني یوسل او پنځلسم آیت ۱۱۵ خاص فضیلت لري: دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي دی پر داسي مریض اوناجوړي باندي راغی چي په سختو مرضونو باندي اخته وو حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه دده په غوږونو کي دسورت مومنون داایاتونه د (افحسبتم انما خلقنکم) څخه نیولي ترآخر پوري وویل نو هغه په دغه وخت ښه سو نبي کریم صلی الله علیه وسلم دده څخه پوښتنه وکړه چي تادده په غوږ کي څه وویل؟ حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه عرض وکی چي داایاتونه مي ویلي دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي قسم دی په هغه ذات دچاپه قبضه کي چي زما روح دی که څوک یقین لرونکی سړی وي او داآیاتونه پرغره باندي وواییي نوغربه دځپل ځایه څخه وښوري (قرطبي مظهري) الله جل جلاله دي موږ اوتاسي په پوره پیمانه دالله جل جلاله پرکلام باندي یقین او عقیده رانصیب کړي: (معارف القرآن ج۶ پ ۱۸ ص ۵۱)

اٰیاتونه ٦٤ | ٢٤ سُوْرَةُ النُّوْرِ مَدَنِيَّةٌ ١٠٢ | ركوعي ٩

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍ

سُوْرَةٌ	اَنْزَلْنٰهَا	وَفَرَضْنٰهَا	وَاَنْزَلْنَا	فِيْهَآ	اٰيٰتٍ
دا يو سورت دی	چې نازل کړی دی موږ دا	او فرض کړی دی موږ هغه	او نازل کړی دی موږ	په دی کښی	آياتونه

دا يو سورت دی چې نازل کړی دی موږ دا او فرض کړی دی موږ (احکام د) هغه او نازل کړی دی موږ په دی کښی آياتونه

بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ① اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا

بَيِّنٰتٍ	لَّعَلَّكُمْ	تَذَكَّرُوْنَ	اَلزَّانِيَةُ	وَالزَّانِيْ	فَاجْلِدُوْا
ښکاره	د پاره د دی چې	تاسی پند واخلئ	هغه ښځه چې زنايئ کړی وی	او هغه سړی چې زنا يئ کړی وی	پس ووهئ تاسی

ښکاره د پاره د دی چې تاسی پند واخلئ. هغه ښځه چې زنا يئ کړی وی او هغه سړی چې زنا يئ کړی وی پس ووهئ تاسو

كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ

كُلَّ	وَاحِدٍ	مِّنْهُمَا	مِائَةَ	جَلْدَةٍ	وَّلَا تَاْخُذْكُمْ	بِهِمَا	رَاْفَةٌ
هر	يو	له دغو دواړو	سل	دری	او نه دی نسی تاسو لره	په دغو (دواړو زناکارانو)	زړه سوی

(ای قاضيانو او حاکمانو) هر يو له دغو دواړو سل دری، او نه دی نسی تاسو لره په دغو (دواړو زناکارانو) زړه سوی

فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ

فِيْ دِيْنِ	اللّٰهِ	اِنْ كُنْتُمْ	تُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ
په حکم	د الله کښی	که يئ تاسی	چې ټينګ يقين لرئ	پر الله	او په ورځی	آخری (قيامت)

په (انفاذ د) حکم د الله کښی که يئ تاسی چې ټينګ يقين لرئ پر الله او په ورځی آخری (د قيامت)

وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ② اَلزَّانِيْ

وَلْيَشْهَدْ	عَذَابَهُمَا	طَآئِفَةٌ	مِّنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	اَلزَّانِيْ
او حاضر دی سی	عذاب ورکولو د دی دواړو ته	يوه طائفه د له	له	مؤمنانو ښځه	زناکار سړی

او حاضر دی سی عذاب ورکولو د دی دواړو ته يوه طائفه د له له مؤمنانو ښځه (چې فضاحت ئې زيات سی). زناکار سړی

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا
وَاَنْزَلْنَا ـ د سورت نور
خصوصيات: په دغه
سورت کې زيات احکام
د پاک لمنۍ د حفاظت او
دستر او پردې متعلق دي
او د دې د تکميل د پاره
د زنا د حد بيان راغلی په تير
سورة يعني سورت
مومنون کې د مسلمانانو
د دنيا او آخرت فلاح چې
يې پر کمو صفتونو باندې
موقوفه ايښې وه په هغه
کې يې مهم صفت د
شرمګاهو نو د حفاظت
وو کوم چې خلاصه د د پاک
لمنۍ د تولو ارخونو: په
دې سورت کې د پاک لمنۍ
د اهتمام د پاره متعلقه
حکمونه ذکر سوي دي په
دې وجه ښځو ته د دې
سورت دا زده کولو د پاره
خصوصي هدايات راغلي
دي. حضرت فاروق اعظم
ﷺ د کوفي د خلګو په نامه
باندې په خپل يو فرمان
کې وليکل (علموا نسآءکم
سورة النور) يعني خپلو
ښځو ته سورت نور ورازده
کړی: په خپله د دې سورت
شروع چې په کمو الفاظو
سره سويده چې (سورة
انزلناها وفرضناها) دا هم
د دغه سورت د خاص
اهتمام او پاملرنې
طرف ته اشاره ده: نور به
هغه مهم شيان انشاءالله
بيانوو بعون الله وتوفيقه.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص ۵۲)

لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوْ مُشْرِكَةً ۫ وَّالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَآ اِلَّا

لَا يَنْكِحُ	اِلَّا	زَانِيَةً	اَوْ مُشْرِكَةً	وَّالزَّانِيَةُ	لَا يَنْكِحُهَآ	اِلَّا
نه په نکاح کوی	مگر	خو زناکاره ښځه	یا مشرکه ښځه	او زناکاره ښځه	نه په نکاح کوی هغه	مگر

نه په نکاح کوی (په رغبت محبت سره) مگر خو زناکاره ښځه یا مشرکه ښځه او زناکاره ښځه نه په نکاح کوی هغه مگر

زَانٍ اَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ③

زَانٍ	اَوْ مُشْرِكٌ	وَحُرِّمَ	ذٰلِكَ	عَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ
سړی زناکار	یا سړی مشرک	او حرامه کړی سوی ده	دغه (زناء یا نکاح له بد کارو سره)	پر	مؤمنانو

سړی زناکار یا سړی مشرک او حرامه کړی سوی ده دغه (زناء یا نکاح له بد کارو سره) پر (صالحانو عفیفانو) مؤمنانو .

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ

وَالَّذِيْنَ	يَرْمُوْنَ	الْمُحْصَنٰتِ	ثُمَّ	لَمْ يَاْتُوْا	بِاَرْبَعَةِ
او هغه کسان	چی تهمت کوی	پر پاک لمنو ښځو	بیا	رانه ولی	څلور تنه

او هغه کسان چی تهمت کوی پر محصنی ښځی (یا محصن سړی په زنا سره) بیا رانه ولی (په مخ د قاضی کښی) څلور تنه

شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ

شُهَدَآءَ	فَاجْلِدُوْهُمْ	ثَمٰنِيْنَ	جَلْدَةً	وَّلَا تَقْبَلُوْا	لَهُمْ
شاهدان	پس ووهئ تاسو دوی	اتیا	دری	او مه قبلوئ تاسی	له دوی څخه

شاهدان پس ووهئ تاسو (ای حاکمانو) دغه (قاذفان که اصیلان وی) اتیا دری او مه قبلوئ تاسی له دوی څخه

شَهَادَةً اَبَدًا ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ④ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا

شَهَادَةً	اَبَدًا	وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْفٰسِقُوْنَ	اِلَّا الَّذِيْنَ	تَابُوْا
شاهدی	هیڅکله	او دا (قاذفان)	هم دوی دی	فاسقان	مگر هغه کسان	چی توبه وباسی

شاهدی هیڅکله (تر وخته د مرګه پوری). او دا (قاذفان) هم دوی دی فاسقان. مگر هغه کسان چی توبه وباسی

مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑤

مِنْۢ بَعْدِ	ذٰلِكَ	وَاَصْلَحُوْا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ
پس له	دغه	او اصلاح کړی (عمل خپل)	پس په تحقیق	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا دی

پس له دغه (قذفه له گناه څخه) او اصلاح کړی (عمل خپل) پس په تحقیق الله ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا دی .

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَاْتُوْا.

دزنا متعلق دریم حکم ددراغو دتهمت جرموالی اودهغه شرعي حد : داخبره مخکي هم بیان سویده چي زنا دټولو جرمونو څخه زیاته په معاشره کي دوراني او فساد ذریعه ده په دې وجه ددې سزا اسلامي شریعت دنورو ټولو جرمونو څخه زیاته ایښې ده په دې وجه دعدل او انصاف تقاضاوه چي ددې معاملې ثبوت ته ډیر اهمیت ورکول سي بغیر دشرعي ثبوت څخه څوک پرچا سړي یا ښځه دزنا الزام یا دتهمت لګولوزړه ورتیا ونه کړی سي په دې وجه اسلامي شریعت بغیر دشرعي ثبوت څخه چي نصاب یي څلور سړي شاهدان او عادلان دي که څوک پرچا څه دصریح زنا تهمت ولګوي نودا تهمت لګول یي هم سخت جرم مقررکی او پر دې جرم یي هم شرعي حد اتیا درې مقررې کړې چي ددې لازمي اثر به داوي چي په یوسړي دزنا دالزام لګولوبه څوک تر هغه وخته زړه ورتیا نه سي کولای ترڅو چي دده دغه خبیث کار په خپله په سترګو هم ووینې او دده سره درو کسانو نورو هم ولیدی او بیا به شاهدي ورکوي الخ :

(معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۴۵)

وَالَّذِيۡنَ يَرۡمُوۡنَ اَزۡوَاجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهُمۡ شُهَدَآءُ اِلَّاۤ

وَالَّذِيۡنَ	يَرۡمُوۡنَ	اَزۡوَاجَهُمۡ	وَلَمۡ يَكُنۡ	لَّهُمۡ	شُهَدَآءُ	اِلَّاۤ
او هغه كسان	چې تهمت كوى	پر خپلو ښځو	حال دا چې نه وى	دوى ته	شاهدان	مگر

او هغه كسان چې تهمت كوى پر خپلو ښځو (محصنى پاكى له زناء څخه) دا چې نه وى دوى ته شاهدان (په دى كار كښى) مگر

اَنۡفُسُهُمۡ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمۡ اَرۡبَعُ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ

اَنۡفُسُهُمۡ	فَشَهَادَةُ	اَحَدِهِمۡ	اَرۡبَعُ	شَهٰدٰتٍۭ	بِاللّٰهِ	اِنَّهٗ
نفسونه د دوى	پس شاهدى	ديوه د دوى	څلور	شاهدى	په (نامه) د الله	بيشكه! دى

نفسونه د دوى (يعنى پخپله حاضر وى) پس شاهدى ديوه د دوى څلور شاهدى په (نامه) د الله (په دى خبره چې) بيشكه! دى

لَمِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ۝۶ وَالۡخَامِسَةُ اَنَّ لَعۡنَتَ اللّٰهِ عَلَيۡهِ

لَمِنَ	الصّٰدِقِيۡنَ	وَالۡخَامِسَةُ	اَنَّ	لَعۡنَتَ	اللّٰهِ	عَلَيۡهِ
خامخا	له رښتيا ويونكو دى	او پنځمه (شاهدى)	بيشكه!	لعنت	د الله دى وى	پر دغه (ميړه)

خامخا له صادقانو رښتيا ويونكو دى او پنځمه (شاهدى داسى ده) چې بيشكه! لعنت د الله دى وى پر دغه (ميړه)

اِنۡ كَانَ مِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ ۝۷ وَيَدۡرَؤُا عَنۡهَا الۡعَذَابَ اَنۡ

اِنۡ كَانَ	مِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ	وَيَدۡرَؤُا	عَنۡهَا	الۡعَذَابَ	اَنۡ
كه وى (دى)	له دروغجنانو څخه	او دفع كوى	له دغى ښځى څخه	عذاب (د حد ثابت)	دا (كار) چې

كه وى (دى) له دروغجنانو څخه. او دفع كوى له دغى ښځى څخه عذاب (د حد ثابت په وينا د ميړه ئى) دا (كار) چې

تَشۡهَدَ اَرۡبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ ۝۸

تَشۡهَدَ	اَرۡبَعَ	شَهٰدٰتٍۭ	بِاللّٰهِ	اِنَّهٗ	لَمِنَ	الۡكٰذِبِيۡنَ
شاهدى ووايئ	څلور (وارى)	شاهدى	په نامه د الله	بيشكه! دا ميړه زما	خامخا	له دروغ ويونكو دى

شاهدى ووايئ (دا ښځه) څلور (وارى) شاهدى په نامه د الله بيشكه! دا ميړه زما خامخا له دروغ ويونكو دى.

وَالۡخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيۡهَاۤ اِنۡ كَانَ مِنَ

وَالۡخَامِسَةَ	اَنَّ	غَضَبَ	اللّٰهِ	عَلَيۡهَاۤ	اِنۡ كَانَ	مِنَ
او پنځمه (شاهدى) چې ووايئ	بيشكه!	غضب	د الله دى وى	په دى (ښځى)	كه چيرى وى	له

او پنځمه (شاهدى داسى ده) چې ووايئ بيشكه! غضب د الله دى وى په دى (ښځى) كه چيرى وى (دا ميړه مى) له

وَالَّذِيۡنَ يَرۡمُوۡنَ اَزۡوَاجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهُمۡ.. دزنا متعلق څلورم حكم دلعان دى: دلعان او ملاعنت معنى ده يو بل ته دالله ﷻ دلعنت او غضب ښراوي كول دي: دشرعي په اصطلاح كي ښځه او خاوند دواړو ته څه خاص قسمونو وركولو ته لعان وايي ددې صورت دادى چي كله يو خاوند پر خپلي ښځي دزنا تهمت ولگوي يا خپل بچي ته ووايي چي دازما دنطفې څخه نه دى او دابنځه پر چاچي الزام لگيدلى دى ده ته دروغ ووايي او ددې مطالبه وكي چي پر مايي په دروغو تهمت ولگولى دى په دې وجه پر خاوند به دزنا دتهمت اتيا دُري لگيږي: نو دغه وخت به دخاوند څخه مطالبه وسي چي دزنا پر الزام څلور شاهدان پيش كړه كه ده شاهدان پيش كړل نو پر ښځي به دزنا حد ولگول سي او كه ده څلور شاهدان پيش نه كړل نو ددواړو په مينځ كي به لعان وسي يعني اول به سړي ته وويل سي چي دى څلور واره په هغو الفاظو سره كم چي په قرآن كريم ذكر دي داشهادت وركړي چي زه په دې الزام كي رښتينى يم او په پنځم وار به داووايي چي دالله لعنت دي پرماوي كه زه دروغجن يم. (معارف القرآن ج۶پ۱۸ص ۷۱)

ع۲

الصّٰدِقِيْنَ ﴿۹﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ

الصّٰدِقِيْنَ	وَلَوْلَا	فَضْلُ	اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهٗ	وَاَنَّ
رښتيا ويونکو څخه	او که نه وی	فضل	دالله	پر تاسی	او رحمت د ده	او بیشکه!

صادقانو رښتيا ويونکو څخه. او که نه وی فضل (احسان) دالله پر تاسی او رحمت د ده او (بل دا نه وی چی) بیشکه!

اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ

اللّٰهَ	تَوَّابٌ	حَكِيْمٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	جَآءُوْ	بِالْاِفْكِ	عُصْبَةٌ
الله	ډیربنه توبه قبلوونکی	لوی حکمت والا دی	بیشکه!	هغه کسان	چی راوړی یئ دی	غټ دروغ	یوه ټولی ده

الله ډیر توبه قبلوونکی لوی حکمت والا دی. بیشکه! هغه کسان چی راوړی ئی دی غټ دروغ (په شان دعائشی کی) یوه ټولی ده

مِّنْكُمْ ؕ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ؕ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ

مِّنْكُمْ	لَا تَحْسَبُوْهُ	شَرًّا	لَّكُمْ	بَلْ هُوَ	خَيْرٌ لَّكُمْ
له تاسی	گمان مه کوئ په دی	چی شر بد دی	تاسی ته	بلکه دغه	خیر دی تاسی ته

له تاسی (مسلمانانو) څخه گمان مه کوئ په دی (دروغو) چی شر بد دی تاسی ته (ای مؤمنانو) بلکه دغه خیر دی تاسی ته

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْاِثْمِ ۚ وَالَّذِيْ تَوَلّٰى

لِكُلِّ امْرِئٍ	مِّنْهُمْ	مَّا اكْتَسَبَ	مِنَ الْاِثْمِ	وَالَّذِيْ	تَوَلّٰى
مقرر دی هر سړی ته	له دغو	هغه شی چی گټلی یئ دی	له گناه	او هغه څوک	چی پورته یئ کړی

مقرر دی هر سړی ته له دغو (بهتان ویونکو جزاء د) هغه شی چی گټلی یئ دی له گناه، او هغه څوک چی پورته یئ کړی

كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱﴾ لَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ

كِبْرَهٗ	مِنْهُمْ	لَهٗ	عَذَابٌ	عَظِيْمٌ	لَوْلَآ	اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ
لوی بار پیټی د دغو	له دغه (ټولی) څخه	سته ورته	عذاب	لوی	ولی نه	په هغه وخت کښی چی واورېده تاسی دا خبره

لوی بار پیټی د دغو (دروغو) له دغه (ټولی) نه سته ورته عذاب لوی. ولی نه په هغه وخت کښی چی واورېده تاسی دا خبره

ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا هٰذَآ

ظَنَّ	الْمُؤْمِنُوْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتُ	بِاَنْفُسِهِمْ	خَيْرًا	وَّقَالُوْا	هٰذَآ
گمان کاوه	ایماندارو سړیو	او ایماندارو ښځو	په نفسونو خپلو کښی	د خیر	او ویلی وی	دا خبره

گمان کاوه ایماندارو سړیو او ایماندارو ښځو په نفسونو خپلو کښی د خیر (خبری) او ویلی وی (دوی ټولو داسی) دا خبره

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ دلعان متعلق يو څو شرعي مسائل: **مسئله**: کله چي دښځي او خاوند په مينځ کي دحاکم په مخکي لعان وسي نو دابنځه پر دې سړي دهميشه دپاره حرامه سي لکه درضاعت حراموالی چي ابدي وي لکه په حديث شريف کي چي د نبي کريم ﷺ ارشاد دی: حرمت خو په لعان کيدو سره ثابتيږي ليکن دښځي دبل سړي سره وروسته تر عدت نکاح کول دامام اعظم رحمه الله په نزد هغه وخت او هلته جائز کيږي کله چي سړی طلاق ورکي يا په ژبه سره ووايي چي مادا پريښوولهاو که سړي داسي ونه کړل نو بيا به حاکم قاضي ددواړو په مينځ کي دجدايي حکم وکي دغه حکم دجدايي به هم په حکم دطلاق کي وي بيا دعدې دطلاق ددروحيضونو پوره کيدو وروسته به ښځه ازاده سي او دبل سړي سره به نکاح کولای سي: **مسئله**: کله چي لعان وسي نو ددې ښځه وروسته چي کم بچی ددغه حمل څخه وسي دهغه نسبت به دخاوند طرف ته نه سي کيدای بلکي نسبت به يي مورته کيږي الخ.

(معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۷۶)

لَوۡلَا جَآءُو عَلَيۡهِ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ. قصه دافک او بهتان پر حضرت عائشې ﷺ باندې :ددې قصې لنډ بيان دادى چې کله نبي کريم ﷺ دبنى المصطلق غزوه ته کمې ته چې دمريسيع غزا هم وايي په سنه ۶ شپږم هجري کې تشريف يووړى نو دمومنانو په ميندو کې حضرت عائشه ﷺ ورسره وه دحضرت عائشې ﷺ اوښ پر کم چې ددې دپاره دپردې کجاوه وه او چونکې دغه وخت دپردې احکام نازل سوي وه نو عادت داوو چې حضرت عائشه ﷺ به په خپله کجاوه کې کښېنسته بيابه خلګو دغه کجاوه پورته کړه او پر اوښ به يې کښېښووله : دغزا څخه په فارغه کيدو او مدينې منورې ته په واپسى کې يوه ورځ داسي قصه پيښه سوه چې پر يو منزل باندي قافله کښېنسته دشپې په آخرکي دکوچ څخه مخکې اعلان وسو چې قافله روانيدونکې ده ددې دپاره چې خلګ دخپلو خپلو ضرورتونو څخه فارغه سي ځانونه دي تيار کړي: حضرت عائشې ﷺ ته د قضاء حاجت ضرورت وو دځنګل طرف ته ولاړه هلته اتفاقا. پاته بيان پر راروان مخ وګورى.

إِفۡكٞ مُّبِينٞ ١٢ لَّوۡلَا جَآءُو عَلَيۡهِ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَۚ فَإِذۡ

إِفۡكٞ	مُّبِينٞ	لَّوۡلَا جَآءُو	عَلَيۡهِ	بِأَرۡبَعَةِ	شُهَدَآءَ	فَإِذۡ
دروغ ده	ښکاره	ولې نه راوسته	په دې خبره	څلور	شاهدان	پس کله يئ چې

دروغ ده ښکاره. ولې نه راوسته (او تيرنه کړې دوى) په دې خبره څلور شاهدان پس کله يئ چې

لَّمۡ يَأۡتُواْ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُوْلَٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ١٣

لَّمۡ يَأۡتُواْ	بِٱلشُّهَدَآءِ	فَأُوْلَٰٓئِكَ	عِندَ	ٱللَّهِ	هُمُ	ٱلۡكَٰذِبُونَ
رانه وستل	څلور شاهدان	پس دغه کسان	په نزد	دالله کښې	هم دوى	دروغجنان دى

رانه وستل څلور شاهدان پس دغه کسان په نزد دالله کښې هم دوى دروغجنان دى .

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ

وَلَوۡلَا فَضۡلُ	ٱللَّهِ	عَلَيۡكُمۡ	وَرَحۡمَتُهُۥ	فِي ٱلدُّنۡيَا	وَٱلۡأٓخِرَةِ
او که نه وى فضل احسان	دالله	پر تاسى	او رحمت د دغه (الله)	په دنيا کښې	او په آخرت کښې

او که نه وى فضل احسان د الله پر تاسى او رحمت د دغه (الله پر تاسى) په دنيا کښې او په آخرت کښې

لَمَسَّكُمۡ فِي مَآ أَفَضۡتُمۡ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٤

لَمَسَّكُمۡ	فِي مَآ	أَفَضۡتُمۡ	فِيهِ	عَذَابٌ	عَظِيمٌ
نو خامخا رسيدلى به ؤ تاسى ته	په هغه دروغ کښې	چې غوتې وهلى تاسى	په هغو (دروغو) کښې	عذاب	لوى

نو خامخا رسيدلى به ؤ تاسى ته په هغه دروغ کښې چې غوتې وهلى تاسى په هغو (دروغو) کښې عذاب لوى .

إِذۡ تَلَقَّوۡنَهُۥ بِأَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُولُونَ بِأَفۡوَاهِكُم مَّا لَيۡسَ

إِذۡ تَلَقَّوۡنَهُۥ	بِأَلۡسِنَتِكُمۡ	وَتَقُولُونَ	بِأَفۡوَاهِكُم	مَّا لَيۡسَ
کله چې واخيست تاسى دا	په ژبو خپلو	او ويله به مو	په خولو خپلو سره	هغه خبره چې نه ؤ

کله چې واخيست تاسو دا (افک) په ژبو خپلو او ويله به مو په خولو خپلو سره هغه خبره چې نه ؤ

لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ وَتَحۡسَبُونَهُۥ هَيِّنٗا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٞ ١٥

لَكُم	بِهِۦ	عِلۡمٞ	وَتَحۡسَبُونَهُۥ	هَيِّنٗا	وَهُوَ	عِندَ	ٱللَّهِ	عَظِيمٞ
تاسوته	په هغې باندې	هيڅ علم	او ګڼله تاسى دغه خبره	آسانه	حال داچې دغه	په نزد	دالله کښې	ډيره لويه ده

تاسو ته په هغې باندى هيڅ علم او ګڼله تاسى دغه خبره آسانه حال داچې دغه (خبره) په نزد دالله کښې ډيره لويه ده.

وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ

وَلَوْلَآ	اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ	قُلْتُمْ	مَّا يَكُوْنُ	لَنَآ	اَنْ نَّتَكَلَّمَ	بِهٰذَا
ولی نه	کله چی واوریده تاسی داخبره	ویل تاسی	چی نه ښایئ	موږ ته	دا کار چی خوله وښوروو	په دی خبره باندی

ولی نه کله چی واوریده تاسی دا خبره ویل تاسی چی نه ښایئ موږ ته دا کار چی خوله وخوځوو په دی خبره باندی

سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۶﴾ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْا

سُبْحٰنَكَ	هٰذَا	بُهْتَانٌ	عَظِيْمٌ	يَعِظُكُمُ	اللّٰهُ	اَنْ تَعُوْدُوْا
پاکی ستا	دا	دروغ دی	ډیر لوی	پند درکوی تاسی ته	الله	چی بیا ونه گرځئ تاسی

پاکی ستا (ای ربه) دا دروغ دی ډیر لوی (دمنافقانو دخوا). پند درکوی تاسی ته الله چی بیا ونه گرځئ تاسی

لِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

لِمِثْلِهٖٓ	اَبَدًا	اِنْ كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ	وَيُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمُ
مثل د دی خبری ته	هیڅکله	که چیری یئ تاسی	مؤمنان	او بیانوی	الله	تاسی ته

مثل د دی خبری ته هیڅکله که چیری یئ تاسی مؤمنان (نو پری عبرت واخلئ). او بیانوی الله تاسی ته

الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ

الْاٰيٰتِ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يُحِبُّوْنَ
آیتونه	او الله	ښه عالم	ښه حکمت والا دی	بیشکه!	هغه کسان	چی خوښوی

آیتونه (دپند) او الله ښه عالم والا دی ښه حکمت والا دی. بیشکه! هغه کسان چی خوښوی

اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ ۙ

اَنْ تَشِيْعَ	الْفَاحِشَةُ	فِي الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَهُمْ	عَذَابٌ
چی عامه سی	فاحشه بد نامی	په حق د هغو کسانو کښی	چی ایمان یئ راوړی دی	سته دوی ته	عذاب

دغه (خبره) چی خوره سی فاحشه بد نامی په حق د هغو کسانو کښی چی ایمان یئ راوړی دی سته دغو (کسانو) ته عذاب

اَلِيْمٌ ۙ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾

اَلِيْمٌ	فِي الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةِ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	وَاَنْتُمْ	لَا تَعْلَمُوْنَ
دردناک	په دنیا کښی	او په آخرت کښی	او الله	ښه عالم دی	او تاسی	نه پوهیږئ

دردناک په دنیا کښی (په حد او بدنامی سره) او په آخرت کښی (په اور د دوزخ سر) او الله ښه عالم دی او تاسی نه پوهیږئ.

وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ ..د تیرمخ پاته قصه دلته وگوری: ددې هار او غاړگی وشکیده اوارتاوسوه ددې په تلاش کولو کي ددې وخت تیر سو چي واپس ځای ته راغله نو گوري چي قافله تللې ده: ددې داوښ بیا داسي قصه وسوه چي چي کله کوچ روانیدی نو دعادت موافق خلگو دا وگڼله چي حضرت عائشه ﷺ په خپله کجاوه کي ده نو کجاوه یي پر اوښ کښینښووله او د کجاوي پورته کولو په وخت کي دپورته کوونکو شک ځکه ونه سو چي دغه وخت دحضرت عائشې ﷺ عمر کم وو او بدن یي کمزوری وو نو چاته څه اندازه ونه لگیده چي کجاوه خالي ده او اوښ یي روان کی حضرت عائشه صدیقه ﷺ چي خپل ځای ته ورسیده نو قافله نه وه نو په لویه هوښیارتیا وقار او استقلال یي داسي کار وکی چي په قافله پسي دمنډي وهلو یا آخوا دیخوا دتلاش کولو پر ځای یي خپل څادر پر ځان راواچوی او کښینسته. اوفکر یي وکی چي کله نبي کریم ﷺ او ملگروته یي دامعلومه سوه چي زه په کجاوه کي نه: پاته قصه پر راروان مخ وگوری.

نصف ع ٨

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ

وَلَوْلَا فَضْلُ	اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهٗ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	رَءُوْفٌ
او که نه وی فضل احسان	دالله	پر تاسی باندی	اورحمت مهربانی د ده	او چی بیشکه!	الله	ښه نرمی کوونکی

او که نه وی فضل احسان دالله پر تاسی باندی او رحمت مهربانی د ده او (دانه وی) چی بیشکه! الله ښه نرمی کوونکی

رَّحِيْمٌ ﴿٢٠﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ

رَّحِيْمٌ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَتَّبِعُوْا	خُطُوٰتِ
ښه رحم والا دی	ای	هغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	متابعت مه کوئ	دګامونو

ښه رحم والا دی. ای هغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی متابعت مه کوئ د ګامونو

الشَّيْطٰنِ ؕ وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ

الشَّيْطٰنِ	وَمَنْ يَّتَّبِعْ	خُطُوٰتِ	الشَّيْطٰنِ	فَاِنَّهٗ	يَاْمُرُ
د شیطان	او هرچاچی متابعت وکړ	دګامونو	دشیطان	نو بیشکه! دغه شیطان	امر کوی

دشیطان او هرچا چی متابعت وکړ د ګامونو د شیطان نو بیشکه! دغه شیطان امر کوی (تابع خپل ته)

بِالْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

بِالْفَحْشَآءِ	وَالْمُنْكَرِ	وَلَوْلَا فَضْلُ	اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهٗ
په فحشاء ډیرو بدو	او په منکر نامشروعو	او که نه وی فضل احسان	دالله	پر تاسی	او رحمت د ده

په فحشاء ډیرو بدو قبیحو کارونو او په منکر نامشروعو بدو خبرو او که نه وی فضل احسان د الله پر تاسی او رحمت د ده

مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ

مَا زَكٰى	مِنْكُمْ	مِّنْ	اَحَدٍ	اَبَدًا	وَّلٰكِنَّ	اللّٰهَ	يُزَكِّيْ
نو نه به وئ پاک کړی	له تاسی	هیڅ	یو	هیڅکله	او لیکن	الله	پاکوی

نو نه به وئ پاک کړی له (معصیت د افک څخه الله) تاسی هیڅوک هیڅکله ولیکن الله پاکوی (په قبول د توبی سره)

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢١﴾ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ

مَنْ يَّشَآءُ	وَاللّٰهُ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ	وَلَا يَاْتَلِ	اُولُوا الْفَضْلِ
هرهغه څوک چی اراده وفرمائی	او الله	ښه اوریدونکی	ښه عالم دی	او قسم دی نه کوی	خاوندان د فضل

هرهغه څوک چی اراده وفرمائی (دپاکی ئی) او الله ښه اوریدونکی ښه عالم دی. او قسم دی نه کوی خاوندان د فضل

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ. دتیر مخ پاته قصه دلته وګوری

یم نو زما دتلاش دپاره به دلته راځي که زه آخوا دیخوایو ځای ولاړه سم نو دوی ته به بیا زما په لټون کي مشکلات پیښ سي په دې وجه پر خپل ځای په څادر کي ځان نغښتې کښینسته دشپې آخري وخت وو دخوب غلبه وه او هم هلته یې سترګي سره ورغلې بیده سوه: بل طرف ته قدرت داانتظام وکی چي حضرت صفوان ابن معطل رضی الله عنه کم چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم ددې خدمت دپاره مقرر کړی وو چي په قافلې پسې دې وروسته راځي او دقافلې دروانیدو څخه وروسته که یو شی پاته سوی وي نو هغه دې رااخلي او محفوظ کوي دي: دی دسهار په وخت کي دغه ځای ته راورسیدی لاپوره رڼا سوې نه وه دومره یې ولیدل چي یو سړی پروت دی بیده دی چي نږدې راغی نو حضرت عائشه رضی الله عنها ده څکه چي ده حضرت عائشه رضی الله عنها دپردې دنازلیدو څخه مخکي لیدلې وه دپیژندو څخه وروسته په ډیر افسوس سره دده دخولې څخه (انّا لله وانّا الیه راجعون) ووتل: پاته قصه پر راروان مخ وګوری:

مِنۡكُمۡ وَالسَّعَةِ اَنۡ يُّؤۡتُوۡۤا اُولِى الۡقُرۡبٰى وَالۡمَسٰكِيۡنَ

مِنۡكُمۡ	وَالسَّعَةِ	اَنۡ يُّؤۡتُوۡۤا	اُولِى الۡقُرۡبٰى	وَالۡمَسٰكِيۡنَ
له تاسی	اود پراخی (مالداری)	په دی چی نفقه به نه ورکوی	خاوندانو د خپلوی ته	او مسکینانو ته

(په دین کښی) له تاسی او (خاوندان) د پراخی (مالداری) په دی چی (نفقه به نه ورکوی) خاوندانو د خپلوی ته او مسکینانو

وَالۡمُهٰجِرِيۡنَ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ۖ وَلۡيَعۡفُوۡا وَلۡيَصۡفَحُوۡا ؕ اَلَا تُحِبُّوۡنَ

وَالۡمُهٰجِرِيۡنَ	فِىۡ سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	وَلۡيَعۡفُوۡا	وَلۡيَصۡفَحُوۡا	اَلَا تُحِبُّوۡنَ
او مهاجرینو ته	په لاره	د الله کښی	او بنایئ چی عفوه دی وکړی	او بنایئ چی تر تیر دی سی	آیا دوست نه لرئ تاسی

او مهاجرینو ته په لاره د الله کښی او بنایئ چی عفوه دی وکړی او بنایئ چی تری تیر دی سی آیا دوست نه لرئ تاسی

اَنۡ يَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَـكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝۲۲ اِنَّ

اَنۡ يَّغۡفِرَ	اللّٰهُ	لَـكُمۡ	وَاللّٰهُ	غَفُوۡرٌ	رَّحِيۡمٌ	اِنَّ
دا چی مغفرت وکړی	الله	تاسی ته	او الله	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا دی	بیشکه!

دا چی مغفرت وکړی الله تاسی ته (په سبب د عفوی) او الله ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا دی. بیشکه!

الَّذِيۡنَ يَرۡمُوۡنَ الۡمُحۡصَنٰتِ الۡغٰفِلٰتِ الۡمُؤۡمِنٰتِ

الَّذِيۡنَ	يَرۡمُوۡنَ	الۡمُحۡصَنٰتِ	الۡغٰفِلٰتِ	الۡمُؤۡمِنٰتِ
هغه کسان	چی تهمت کوی دوی	پر ښځو پاکی عفیفی	ناخبری	ایمان راوړونکی ته

هغه کسان چی ولی دوی (په نسبت د زناء سره) ښځی پاکی عفیفی ناخبری (په دغو بدو) ایمان راوړونکی

لُعِنُوۡا فِى الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ ۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۝۲۳ يَّوۡمَ

لُعِنُوۡا	فِى الدُّنۡيَا	وَالۡاٰخِرَةِ	وَلَهُمۡ	عَذَابٌ	عَظِيۡمٌ	يَّوۡمَ
لعنت کړی سوی دی په دوی باندی	په دنیا کښی	او په آخرت کښی	او سته دوی ته	عذاب	ډیر لوی	په هغه ورځ کښی

لعنت کړی سوی دی په دوی باندی په دنیا کښی او په آخرت کښی او سته دوی ته عذاب ډیر لوی. په هغه ورځ کښی

تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ اَلۡسِنَتُهُمۡ وَاَيۡدِيۡهِمۡ وَاَرۡجُلُهُمۡ بِمَا

تَشۡهَدُ	عَلَيۡهِمۡ	اَلۡسِنَتُهُمۡ	وَاَيۡدِيۡهِمۡ	وَاَرۡجُلُهُمۡ	بِمَا
چی شاهدی به ورکړی	پر دوی باندی	ژبی د دوی	او لاسونه د دوی	او پښی د دوی	پر هغو

چی شاهدی به ورکړی پر دوی باندی ژبی د دوی او لاسونه د دوی او پښی د دوی پر هغو (افعالو او اقوالو)

اَنۡ يُّؤۡتُوۡۤا اُولِى الۡقُرۡبٰى وَالۡمَسٰكِيۡنَ.. د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: دا کلمه چي د حضرت عائشي رضي الله عنها پر غوږونو ولګیده نو سترګي یي ولغړولې او مخ یي پټ کړی: حضرت صفوان بن معطل رضي الله عنه خپل اوښ نژدې راوستی او کښي یي نوی او حضرت عائشه رضي الله عنها یي پر سپره کړه او ده په خپله داوښ مهار ونیوی او پیاده روان سو تردې چي قافلې ته ورسیدل. عبدالله ابن أبی لوی خبیث منافق د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دښمن وو ده ته یوه خبره په لاس ورغله او کم بخت ډیر واهی تباهی او چتیاتي خبري شروع کړې او ځینو ساده او ناپوه مسلمانانو هم دده څخه داوریدلو خبرو تذکره او تکرار شروع کی لکه حضرت حسان او حضرت مسطح په سړیو کي او حضرت حمنة په ښځو کي کله چي ددې منافق ددې بهتان اوازه عامه او خپره سوه نو په خپله نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ددې څخه سخته صدمه ورسیده او حضرت عائشي رضي الله عنها ته خو انتهایي صدمه رسیدل ظاهره او ښکاره خبره ده عام مسلمانان هم په دې واقعه ډیر غمجنه سول: پاته قصه پر راروان مخ وګوری.

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ

كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	يَوْمَئِذٍ	يُّوَفِّيْهِمُ	اللّٰهُ	دِيْنَهُمُ	الْحَقَّ
چې ؤ دوی	چې کول به يې	په دغه ورځ کښې به	پوره ورکړی دوی ته	الله	جزاء د دوی هغه چې	حقه وی

چې ؤ دوی چې کول به يې په دنيا کښې. په دغه ورځ کښې به پوره ورکړی دوی ته الله جزاء د دوی هغه چې حقه لائقه وی

وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿۲۵﴾ اَلْخَبِيْثٰتُ

وَيَعْلَمُوْنَ	اَنَّ	اللّٰهَ	هُوَ الْحَقُّ	الْمُبِيْنُ	اَلْخَبِيْثٰتُ
او پوه به سی	چې بيشکه!	الله	هم دی دی حق ثابت	ښکاره ظاهر	ناپاکی (ښځی او خبری)

او پوه به سی چې بيشکه! الله هم دی دی حق ثابت (په ذات او صفاتو خپل) ښکاره ظاهر. ناپاکی (ښځی او خبری)

لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ وَالطَّيِّبٰتُ

لِلْخَبِيْثِيْنَ	وَالْخَبِيْثُوْنَ	لِلْخَبِيْثٰتِ	وَالطَّيِّبٰتُ
دپاره د ناپاکو دی	او ناپاکه	دپاره د ناپاکو دی	او پاکی (ښځی او خبری)

دپاره د ناپاکو دی او ناپاکه (خلگ) دپاره د ناپاکو (ښځو او خبرو) دی، او پاکی (ښځی او خبری)

لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا

لِلطَّيِّبِيْنَ	وَالطَّيِّبُوْنَ	لِلطَّيِّبٰتِ	اُولٰٓئِكَ	مُبَرَّءُوْنَ	مِمَّا
دپاره د پاکو (خلگو) دی	او پاک	دپاره د پاکو دی	دغه (پاکان)	پاک دی	له هغو خبرو

د پاکو (خلگو) دی او پاک (خلک) د پاره د پاکو (ښځو او خبرو) دی، دغه (پاکان) پاک (بې تعلقه بيزاره) دی له هغو خبرو

يَقُوْلُوْنَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

يَقُوْلُوْنَ	لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّرِزْقٌ	كَرِيْمٌ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
چې وايئ ئې	سته دوی ته	مغفرت بخښنه	او روزی	ښه	ای	هغو کسانو

چې وايئ ئې (دروغجنان)، سته دوی ته مغفرت بخښنه او رزق روزی ښه (په جنت کښې). ای هغو کسانو

ع ۳

اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا

اٰمَنُوْا	لَا تَدْخُلُوْا	بُيُوْتًا	غَيْرَ	بُيُوْتِكُمْ	حَتّٰى	تَسْتَاْنِسُوْا
چې ايمان يئ راوړی دی	مه ننوځئ تاسی	کورونو ته	چې غير وی	له کورونو ستاسی	ترهغه پوری	چې اجازت واخلی

چې ايمان يئ راوړی دی مه ننوځئ تاسی (هغو) کورونو ته چې غير وی له کورونو ستاسی ترهغه پوری چې سره ووغيږئ

اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ وَالطَّيِّبٰتُ..دتيرمخ پاته

قصه دلته وګوری : تريوې مياشتي داقصه وچليده آخر الله جل جلاله دحضرت عائشي رضي الله عنها دبرآئت او پاک لمنی او پر دې دبهتان تړونکو يا په دې کې دشريک کيدونکو په بد ويلو کې ذکر سوي اياتونه نازل کړل : دقرآن کريم دقاعدې موافق چې ذکر يې اوس په حد قذف کې راغلی دی دتهمت لګوونکو څخه دشهادت مطالبه وسوه او داخو بالکل يوه بې بنياده خبره وه شاهدان به دکم ځای څخه راتلل ؟ نتيجه داسوه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم پر تهمت لګوونکو دشرعي قاعدې موافق حد دقذف جاري کړی او پر هريوه يې اتيا اتيا دُرې جاري کړې : روايـاتوکې دي چې دغه وخت نبي کريم صلى الله عليه وسلم پر درو مسلمانانو باندي حد جاري کی يو مسطح بله حمنة اوبل حسان او طبراني دحضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم پر دغه موقع پر عبد الله ابن اُبی کم چې په اصل کې تهمت جوړکړی وو پر ده يې دوه چنده حد جاري کړی او بيا مومنانو توبه ويسته او منافقان پر خپل حال پاته سول :
(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۷۹)

وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓی اَهْلِهَا ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ

وَتُسَلِّمُوْا	عَلٰٓی	اَهْلِهَا	ذٰلِكُمْ	خَيْرٌ لَّكُمْ	لَعَلَّكُمْ
او سلام واچوئ	پر	اهل د دوی	دغه	خیر بهتر ډیر غوره دی تاسی ته	ښایئ چی تاسی

او سلام واچوئ پر اهل د دوی دغه خیر بهتر ډیر غوره دی تاسی ته (له ننوتلو د بی اجازی څخه) ښایئ چی تاسی

تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فِيْهَآ اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا

تَذَكَّرُوْنَ	فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا	فِيْهَآ	اَحَدًا	فَلَا تَدْخُلُوْهَا
پند واخلئ	پس که چیری پیدا نه کړی تاسی	په دی کورونو کښی	څوک	پس مه ننه وځئ په دی کورونو کښی

پند واخلئ (په دی سره). پس که چیری پیدا نه کړی تاسی په دی کورونو کښی څوک پس مه ننه وځئ په دی کورونو کښی

حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ لَكُمُ ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ

حَتّٰى	يُؤْذَنَ	لَكُمْ	وَاِنْ	قِيْلَ لَكُمُ	ارْجِعُوْا	فَارْجِعُوْا	هُوَ
ترهغه پوری	چی اجازه وکړل سی	تاسی ته	او که چیری	وویل سی تاسی ته	چی بیرته وګرځئ	پس بیرته وګرځئ تاسی	چی دغه ګرځیدل

ترهغه پوری چی اجازه وکړل سی تاسی ته ، او که چیری وویل سی تاسی ته چی بیرته وګرځئ پس بیرته وګرځئ تاسی

اَزْكٰى لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ

اَزْكٰى	لَكُمْ	وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	عَلِيْمٌ	لَيْسَ	عَلَيْكُمْ
ډیر غوره دی	تاسی ته	او الله	په هغو کارونو	چی کوئ یئ تاسی	ښه عالم دی	نشته	پر تاسی باندی

چی دغه بیرته ګرځیدل ډیر غوره (او پاک) دی تاسی ته او الله په هغو کارونو چی کوئ یئ تاسی ښه عالم دی. نشته پر تاسی

جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ

جُنَاحٌ	اَنْ تَدْخُلُوْا	بُيُوْتًا	غَيْرَ	مَسْكُوْنَةٍ	فِيْهَا	مَتَاعٌ
هیڅ ګناه	په دی کښی چی ننوځئ	هغو کورونو ته	چی نه دی	دچا داوسیدنی	په هغه کښی	متاع منفعت

باندی هیڅ ګناه په دی کښی چی ننوځئ (بی له اجازی) هغو کورونو ته چی نه دی دچا داوسیدنی په هغه کښی متاع منفعت

لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾ قُلْ

لَّكُمْ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	مَا تُبْدُوْنَ	وَمَا تَكْتُمُوْنَ	قُلْ
ستاسی وی	او الله ته	ښه معلوم دی	هغه چی ښکاره کوئ یئ تاسی	او هغه چی پټوی یئ تاسی	وو ایه (محمده!)

ستاسی وی او الله ته ښه معلوم دی هغه چی ښکاره کوئ یئ تاسی او هغه چی پټوئ تاسی. وو ایه (ای محمده!)

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ. دچا ملاقات ته چي ورسی نو اول اجازت اخلی بیله اجازې دچا کور ته مه ننوزی: افسوس دی چي اسلامي شریعت ددې معاملې څومره اهتمام فرمایلی دی چي په قرآن کریم کي ددې مفصل احکام نازل سوه او نبي کریم ﷺ په خپل قول او عمل سره ددې لوی تاکید وفرمایي هغومره نن سبا مسلمانان ددې څخه غافله سول تعلیم یافته نیکان خلګ هم داځه ګناه نه ګڼي او نه په دې دعمل کولو فکر کوي ددنیا نورو مهذبو قومونو دا اختیار کړل او خپله معاشره یې برابره کړل مګر مسلمانان په دې کي دټولو څخه وروسته لیدل کیږي په اسلامي حکمونو کي دټولو څخه اول سستي په دې حکم کي شروع سوه په هرحال استیذان یعني اجازت غوښتل دقرآن کریم هغه واجب العمل حکم دی چي په دې کي لږ څه سستي او تبدیلي هم حضرت ابن عباس رضي الله عنه دقرآن دآیت څخه دانکار په سختو الفاظو سره تعبیر کړیده او اوس خلګو واقعي داحکمونه داسي پري ایښي دي لکه داچي ددوی په نزد دقرآن احکام نه وي:
(معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۱۰۳)

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ				
لِّلْمُؤْمِنِيْنَ	يَغُضُّوْا	مِنْ اَبْصَارِهِمْ	وَيَحْفَظُوْا	فُرُوْجَهُمْ
مؤمنانو ته	چې ټيټې دې کړې دوى	سترګې خپلې	او ښه ټينګ دې وساتي دوى	فرجونه (سترونه) خپل

مؤمنانو ته چې ټيټې دې کړې دوى سترګې خپلې (له نامحرمو ښځه) او ښه ټينګ دې وساتي دوى فرجونه سترونه خپل

ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝٣٠ وَقُلْ								
ذٰلِكَ	اَزْكٰى	لَهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	خَبِيْرٌ	بِمَا	يَصْنَعُوْنَ	وَقُلْ
دغه	ډير پاکيزه دى	دوى ته	بيشکه! چې	الله	ښه خبردار دى	په هغو کارونو	چې کوى يې دوى	او ووايه

(د محرماتو په مقابل کې) دغه ډير پاکيزه (او ګټور) دى دوى ته بيشکه! چې الله ښه خبردار دى په هغو کارونو چې کوى يې

لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ			
لِّلْمُؤْمِنٰتِ	يَغْضُضْنَ	مِنْ اَبْصَارِهِنَّ	وَيَحْفَظْنَ
ايماندارو ښځو ته	چې ټيټې دې کړي	له (نامحرمو ښځه) سترګې خپلې	او ښه ټينګ دې وساتي

او ووايه (اى محمده!) ايماندارو ښځو ته چې ټيټې دې کړي له (نامحرمو ښځه) سترګې خپلې او ښه ټينګ دې وساتي

فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا					
فُرُوْجَهُنَّ	وَلَا يُبْدِيْنَ	زِيْنَتَهُنَّ	اِلَّا	مَا ظَهَرَ	مِنْهَا
فرجونه خپل	او نه دې ښکاره وى	زينت (ښايست) خپل	مګر	هغه چې ښکاريږى	له دغه (زينت ښځه)

فرجونه سترونه خپل او نه دې ښکاره وى زينت ښايست (او ځاى د ښايست) خپل مګر هغه چې ښکاريږى له دغه (زينت ښځه)

وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۠ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ					
وَلْيَضْرِبْنَ	بِخُمُرِهِنَّ	عَلٰى	جُيُوْبِهِنَّ	وَلَا يُبْدِيْنَ	زِيْنَتَهُنَّ
او ښايئ چې وادى چوى	پوړنى خپل	پر	ګريوانونو خپلو	او نه دى ښکاره وى	زينت ښايست خپل

او ښايئ چې وادى چوى تکرى پوړنى خپل پر ګريوانونو خپلو (چې سينه ښکاره نه سى) او نه دى ښکاره وى زينت ښايست

اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ				
اِلَّا	لِبُعُوْلَتِهِنَّ	اَوْ اٰبَآئِهِنَّ	اَوْ اٰبَآءِ	بُعُوْلَتِهِنَّ
مګر	دپاره دميړونو خپلو	يا پلرونو خپلو	يا پلرونو	دميړونو خپلو ته

خپل (هيچاته) مګر دپاره د ميړونو (خاوندانو) خپلو (چې دغه د هغوى دى) يا پلرونو خپلو، يا پلرونو د ميړونو خپلو ته

وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ داستيذان اواجازت متعلق څو شرعي مسائل

مسئله: داستيذان او اجازې متعلق دټولو څخه ناکاره طريقه هغه ده کمه چې ځيني خلګ کوي چې ددباندي څخه ددننه راتلو اجازت غواړی او خپل نوم نه ښيي خوچي ددننه څخه مخاطب پوښتنه وکي څوک يي؟ نو دی په جواب کي وايي چي زه يم ځکه چي داپوښتني کوونکي دخبري جواب نه دی چاچي دی په اول آواز سره ونه پيژندی هغه به يي ده: زه يم. په لفظ سره څه وپيژني. **مسئله**: ددې ښځه زياته ناکاره طريقه داده کمه چي نن صبا ډير تعليم يافته طبقه هم کوي چي دی په دروازه کي اواز وکي او د دننه څخه اواز راسي چي څوک يي؟ نو دی خاموش ودريږي هيڅ جواب نه ورکوي په دې سره دکور خاوند ته نور زيات تشويش ورپيدا سي او تکليف ورته رسيږي داډيره ناکاره طريقه ده په کم سره چي داستيذان مطلب فوت کيږي: اوداطريقه هم جائز ده شرعاً چي په دروازه کي اواز وسي او خپل نوم ورسره واخيستل سي.

معارف القرآن ج٦پ١٨ص١٠٨

اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ اِخْوَانِهِنَّ

اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ	اَوْ اَبْنَآءِ	بُعُوْلَتِهِنَّ	اَوْ اِخْوَانِهِنَّ	اَوْ بَنِيْٓ	اِخْوَانِهِنَّ
يا زامنو خپلو ته	يا زامنو	دميړونو خپلو ته	يا ورونو خپلو ته	يا زامنو	دورونو خپلو ته

يا زامنو خپلو ته يا زامنو د ميړونو خپلو ته يا ورونو خپلو ته يا زامنو د ورونو خپلو ته

اَوْ بَنِيْٓ اَخَوٰتِهِنَّ اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ

اَوْ بَنِيْٓ	اَخَوٰتِهِنَّ	اَوْ نِسَآئِهِنَّ	اَوْ مَا	مَلَكَتْ	اَيْمَانُهُنَّ
يا زامنو	دخويندو خپلو ته	يا ښځو خپلو ته	يا هغه چاته	چې مالک سوى دى	راسته لاسونه د دوى

يا زامنو دخويندو خپلو ته يا ښځو خپلو ته يا هغه چا ته چې مالک سوى دى (دهغه) راسته لاسونه د دوى

اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ

اَوِ التّٰبِعِيْنَ	غَيْرِ	اُولِي	الْاِرْبَةِ	مِنَ الرِّجَالِ	اَوِ الطِّفْلِ
يا هغو تابعانو ته	چې نه وى	خاوندان	دحاجت ښځوته	له سړيو څخه	يا هلكانو

يا هغو تابعانو ته چې نه وى خاوندان د حاجت ښځوته له سړيو څخه يا هلكانو

الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ

الَّذِيْنَ	لَمْ يَظْهَرُوْا	عَلٰى	عَوْرٰتِ	النِّسَآءِ	وَلَا يَضْرِبْنَ	بِاَرْجُلِهِنَّ
هغه ته چې	نه وى خبر (دوى)	پر	شرمگاهونو	دښځو	او نه دى وهى (داښځى)	پښې خپلې

هغوته چې نه وى خبر (دوى) پر اسرارو د ښځو او نه دى وهى (داښځى) پښې خپلې

لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ؕ وَتُوْبُوْٓا

لِيُعْلَمَ	مَا يُخْفِيْنَ	مِنْ زِيْنَتِهِنَّ	وَتُوْبُوْٓا
دپاره د دى چې معلوم كړى سى	هغه شى چې پټوى يې دوى	له زينت ښائست خپل	او راجع سئ توبه وباسى تاسى

دپاره د دى چې معلوم كړى سى هغه شى چې پټوى يې دوى له زينت ښائست (زيورات) خپلې او راجع سئ توبه وباسى تاسى

اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۱﴾

اِلَى اللّٰهِ	جَمِيْعًا	اَيُّهَ	الْمُؤْمِنُوْنَ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ
الله ته	ټول	اى	مؤمنانو !	دپاره د دى چې تاسى	ښيگڼه او خلاصى پيدا كړى

الله ته ټول اى مؤمنانو ! دپاره د دى چې تاسى ښيگڼه او خلاصى پيدا كړى (په دارينو كښى).

اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ..داستيذان متعلق يوه بله اهمه مسئله : كه چيرې يو څوك دچادروازې ته ورغى اجازه يې وغوښته اوددنه څخه جواب رانغى نو سنت طريقه داده چې دوباره بيا اجازه واخلي او كه بيا هم جواب رانغى نو په دريم واردې اجازه واخلي او كه په دريم وار هم جواب رانغى نو حكم يې بيا دغه دى چې (ارجعوا) يعني واپس ولاړ سى ځكه چې په درې واره ويلو سره تقريبا داخو متعينه سوه چې آواز يې اوريدلى دى مگر يا خو دغه سړى په داسې حالت كې دى چې جواب نه سي وركولاى مثلا پر لمونځ به ولاړوي يا په بيت الخلاء كې وي او يا به غسل كوي ياهسې داوخت دده سره ليدل نه غواړي نو په دې داړو حالتونو كې پاته كيدل او پر مخ بياهم ورتګول بيا نور هم موجب دآزار رسولو دى چې ددې څخه ځان ساتل واجب دي . او داستيذان اصل مقصد دآزار څخه محفوظ كيدل دي: خولـه بـده مرغه زموږ تولنه او معاشره ددغه آدابو څخه په لويه پيمانه محرومه ده الله ﷻ دي دعمل توفيق رانصيب كړي:
(معارف القرآن ج۶پ۱۸ص ۱۱۰)

وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ

وَاَنْكِحُوا	الْاَيَامٰى	مِنْكُمْ	وَالصّٰلِحِيْنَ	مِنْ عِبَادِكُمْ
او په نكاح كوئ	هغه بي ميړونو ښځي او بي ښځو سړي	له تاسي	او صالحان نيكان	له مريو خپلو

او په نكاح كوئ (اى اولياؤ) هغه بي ميړونو ښځي او بي ښځو سړي له تاسي، او صالحان نيكان له مريو خپلو

وَاِمَآئِكُمْ ؕ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ

وَاِمَآئِكُمْ	اِنْ يَّكُوْنُوْا	فُقَرَآءَ	يُغْنِهِمُ	اللّٰهُ	مِنْ فَضْلِهٖ
او له وينځو خپلو	كه چيري وى	فقيران ناداران	نو غنيان به كړي دوى	الله	له فضله خپله

او له وينځو خپلو كه چيري وى (دغه مذكورين) فقيران ناداران نو غنيان به كړي دوى الله له فضله خپله

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ

وَاللّٰهُ	وَاسِعٌ	عَلِيْمٌ	وَلْيَسْتَعْفِفِ	الَّذِيْنَ	لَا يَجِدُوْنَ
او الله	پراخه دى رحمت دده	ښه عالم دى	او ښايئ چي ځان دى وساتي	هغه كسان چي	نه پيدا كوى دوى

او الله پراخ دى ښه عالم دى. او ښايئ چي ځان دى وساتي هغه كسان چي نه پيدا كوى دوى (سامان اسباب د)

نِكَاحًا حَتّٰى يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ

نِكَاحًا	حَتّٰى	يُغْنِيَهُمُ	اللّٰهُ	مِنْ فَضْلِهٖ	وَالَّذِيْنَ	يَبْتَغُوْنَ	الْكِتٰبَ
نكاح	تر هغه پوري	چي غنيان كړي دوى	الله	له فضله خپله	او هغه كسان	چي غواړي	مكاتب والي

نكاح تر هغه پوري چي غنيان كړي دوى الله له فضله خپله، او هغه كسان چي غواړي مكاتب والي

مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ

مِمَّا	مَلَكَتْ	اَيْمَانُكُمْ	فَكَاتِبُوْهُمْ	اِنْ عَلِمْتُمْ
له هغو	چي مالكان سوي دي دهغو	راسته لاسونه ستاسي	نو مكاتبان كړئ دوى	كه چيري پيژانده تاسي

له هغو (وينځو مريو) چي مالكان سوي دي دهغو راسته لاسونه ستاسي نو مكاتبان كړئ دوى كه چيري پيژانده تاسي

فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ؕ

فِيْهِمْ	خَيْرًا	وَّاٰتُوْهُمْ	مِّنْ مَّالِ	اللّٰهِ	الَّذِيْٓ	اٰتٰىكُمْ
په دوى كښي	خير	او وركوئ دوى ته	له ځينو مالونو	دالله	هغه چي	دركړي يئ دى تاسي ته

په دوى كښي خير او وركوئ دوى ته له ځينو مالونو د الله هغه چي دركړي يئ دى تاسي ته،

وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ. دنكاح ځيني حكمونه: اول بيان سوى دي چي په سورت نور كي زيات تره هغه حكمونه دي دكمو تعلق چي دپاكي او پاكي دحفاظت او د فواحشو او بي حيايو دبندولو سره دى: ايامى جمع دايم ده كم چي دهر هغه سړي او ښځي دپاره استعماليږي دچاچي نكاح نه وي سوي برابره خبره ده كه دسره يي نكاح نه وي سوي يا په ښځه او خاوندكي يو مړوي يا په طلاق سره يي نكاح ختم سوي وي داسي سړيو او ښځو دپاره ددوى اوليااوو ته حكم سوى دى چي ددوى دنكاح بند او بست وكړي: دذكر سوي آيت دخطاب دطرز څخه دومره خبره خو دفقهاوو او امامانو په اتفاق سره ثابته ده چي دنكاح سنت او ښه طريقه داده چي په خپله دخپل نكاح دپاره يو سړى يا ښځه دبلاواسطي اقدام كولو پر ځاى دخپلو اوليااوو په واسطه سره داكار وكړي په دي كي ددين او دنيا ډير مصلحتونه او فايدي دي خاص بيا دانجونو په معامله كي چي كه انجوني دخپل نكاح معامله په خپله وكي. پاته بيان پرراروان مخ وګورى.

وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا

وَلَا تُكْرِهُوْا	فَتَيٰتِكُمْ	عَلَى	الْبِغَآءِ	اِنْ اَرَدْنَ	تَحَصُّنًا
او مه مجبوروئ تاسي	وينځې خپل	پر	زناء	كه چيرې اراده لرې دوى	دځان پاک ساتلو

او مه مجبوروئ تاسي وينځې خپلې پر زناء (او بدو كارونو) كه چيرې اراده لرى دوى د ځان پاک ساتلو

لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ

لِّتَبْتَغُوْا	عَرَضَ	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَمَنْ	يُّكْرِهْهُّنَّ	فَاِنَّ
دپاره د دې چې طلب كوئ تاسي	سامان	د ژوندون	د دنيا	او هر هغه چې	زوريږ وكړي په دوى	پس بيشكه!

دپاره د دې چې طلب كوئ تاسي (په دغه اكراه سره) مال د ژوندون د دنيا او هر هغه چې زوريږ وكړي په دوى پس بيشكه!

اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ

اللّٰهَ	مِنْۢ بَعْدِ	اِكْرَاهِهِنَّ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	وَلَقَدْ	اَنْزَلْنَآ
الله	وروسته	له زور د مالكانو پر دوى	ډير بخښونكى	ښه رحم والا دى	او خامخا په تحقيق	نازل كړې دي موږ

الله وروسته له زور د مالكانو پر دوى ډير بخښونكى ښه رحم والا دى پر دې وينځو. او خامخا په تحقيق نازل كړې دي موږ

اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّ مَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا

اِلَيْكُمْ	اٰيٰتٍ	مُّبَيِّنٰتٍ	وَّ مَثَلًا	مِّنَ الَّذِيْنَ	خَلَوْا
تاسو ته	آيتونه	ښكاره كوونكي	او مثل	دهغو كسانو	چې تير سوى دي

تاسو ته آيتونه ښكاره كوونكى (دحلالو او دحرامو د حدودو او د احكامو) او مثل دهغو كسانو چې تير سوى دي

مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۴﴾ ۧ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ

مِنْ قَبْلِكُمْ	وَمَوْعِظَةً	لِّلْمُتَّقِيْنَ	اَللّٰهُ	نُوْرُ	السَّمٰوٰتِ
پخوا له تاسي	او نازل كړې دى موږ موعظه پند	دپاره د پرهيزګارانو	الله	نور	دآسمانونو

پخوا له تاسي او نازل كړې دى موږ موعظه پند دپاره د متقيانو پرهيزګارانو. الله (مالک د) نور دآسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ

وَالْاَرْضِ	مَثَلُ	نُوْرِهٖ	كَمِشْكٰوةٍ	فِيْهَا	مِصْبَاحٌ
او د مځكې دى	مثل صفت	دنور د ده	لكه طاقچه	چې په هغې كښې	يو بل ځراغ وى

او مځكې دى مثل صفت د نور د ده (داسى دى) لكه (روڼه) طاقچه چې په هغې كښې يو بله ډيوه وى

وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ.. دتير مخ پاتـه بيـان دلتـه وګـورى: دايـو قسم بې حيايي ګڼل كيږي او پـه دي كـي دفواحشـو دلارو خلاصيدو خطره هم ده پـه دې وجـه پـه ځينـو روايتونـو كـي دحـديث شريف كښي په خپله دخپل نكـاح كولـو څخـه بـې دواسطې دولي څخه منع سـوې ده: دامـام اعظـم ابوحنيفـه رحمة الله عليه او ځينـو نورو امامانو په نزد داحكم ديو خاص سنت او شرعي هدايت په حيثيت كي دى: كه يوه بالغـه انجلى بغير داجازت دولي څخه خپله نكـاح پـه خپـل كفـوه كـي وكـړي نـو نكـاح بـه يـي صـحيح وي كـه څـه هـم دسنت طريقې دمخالفت په وجه سره قابل دملامتيا ده په دې شرط چي دمجبورى پـه خاطر يي داكار نه وي كړى: دامام شافعي رحمة الله عليه او ځينـو نوروامامـانو پـه نزد ددې دانكاح ګرد سره باطله او كالعدم ده ترڅو چي دولي پـه واسطه سره نـه وي نكـاح يـي نـه ده صـحيح چـونكي داتفسـير شـريف دى دفقهـي فـن نـه دى چـي اختلافـي مسـئلي بيـان سـي سـره ددلائلـو خـو دومـره ثابتـه ده چـي پـه نكـاح كـي داوليـاوو واسـطه پكـارده الـخ. (معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۱۲۹)

ع۸ ۱۰

اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ۭ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ

اَلْمِصْبَاحُ	فِيْ زُجَاجَةٍ	اَلزُّجَاجَةُ	كَاَنَّهَا	كَوْكَبٌ	دُرِّيٌّ
دغه بل څراغ	په قنديل کښي وي	دغه قنديل	په سبب د هغې رڼا چي پکښي ده ګواکي	يو ستوري دی	ځليدونکی

دغه بله ډيوه په قنديل د (شيشه) کښي وی، دغه قنديل په سبب د هغې رڼا چي پکښي ده ګواکي يو ستوری دی ځليدونکی

يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ

يُّوْقَدُ	مِنْ شَجَرَةٍ	مُّبٰرَكَةٍ	زَيْتُوْنَةٍ	لَّا شَرْقِيَّةٍ	وَّلَا غَرْبِيَّةٍ
چي بله سی له تيلو	د درختي	برکتناکي	دزيتون	چي نه د مشرق طرفته وی	او نه د مغرب طرف ته

چي بله سی (دا يو چراغ په اول کښی) له تيلو د ونی برکتناکی د زيتون چي نه د مشرق طرفته وی او نه د مغرب طرف ته

يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْۗءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ۭ نُوْرٌ

يَّكَادُ	زَيْتُهَا	يُضِيْۗءُ	وَلَوْ	لَمْ تَمْسَسْهُ	نَارٌ	نُوْرٌ
نژدې دی	تيل د دی چي	رڼا وکړي	او اګر که	نه وی رسيدلی دی ته	اور (دغه)	رڼا (د ډيوی)

نژدې دی تيل د دی چي رڼا وکړي (له خپله ځانه له ډيری صفائی) او اګر که نه وی رسيدلی دی ته اور (دغه) رڼا (د ډيوی)

عَلٰي نُوْرٍ ۭ يَهْدِي اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ

عَلٰي نُوْرٍ	يَهْدِي	اللّٰهُ	لِنُوْرِهٖ	مَنْ يَّشَاۗءُ	وَيَضْرِبُ	اللّٰهُ
پر رڼا	لاره ښيي	الله	نور خپل ته	هغه چاته چي اراده وفرمائی	او بيانوی	الله

پر رڼا (د صافو تيلو د) لاره ښيي الله نور خپل ته هغه چاته چي اراده وفرمائی او بيا نوی الله

الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۙ ٣٥ فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ

الْاَمْثَالَ	لِلنَّاسِ	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيْمٌ	فِيْ بُيُوْتٍ	اَذِنَ
مثالونه	خلکو ته	او الله	پر هر شي	ښه عالم دی	په هغو کورونو کښي	چي حکم کړی دی

مثالونه خلکو ته او الله پر هر شی ښه عالم دی. په هغو کورونو (مساجدو) کښي چي حکم کړی دی

اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ لَهٗ

اللّٰهُ	اَنْ تُرْفَعَ	وَيُذْكَرَ	فِيْهَا	اسْمُهٗ	يُسَبِّحُ	لَهٗ
الله	چي پورته دی کړی سی	او يادوه سی	په هغه کښي	نوم د دغه (الله)	تسبيح وايئ	دغه الله ته

الله چي پورته دی کړل سی (په بناء يا تعظيم سره) او يادوه سی په هغه کښي نوم د دغه (الله) تسبيح وايئ دغه (لمونځ کوی)

عَلٰى نُوْرٍ ۭ يَهْدِي اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۔۔ د نور تعريف يعني پيژندګلوي: امام غزالي رحمه الله دا فرمايي چي (النُور الظاهر بنفسه والمظهر لغيره) يعني نور عبارت دی دداسي شي څخه چي په خپل ذات کي ظاهر او روښانه وي او دنورو شيانو روښانه او ظاهروونکی وي: او په تفسير مظهري کي دي چي نور په اصل کي دهغه کيفيت نوم دی دکوم چي دانسان دليدو قوت يي اول ادراک کوي او بيا ددي په ذريعه دهغو ټولو شيانو ادراک کوي کم چي په سترګو سره ليدل کيږي لکه دلمر او سپوږمی شعلي ددي پر مقابل کثيفه جسمونو باندي پريوزي اول دغه شی روښانه کړي بيا دهغه څخه شعلي واپس سي نور شيان روښانه کړي ددي څخه معلومه سوه چي دنور لفظ دخپلي لغوي او عرفي معنی په اعتبار سره دحق تعالی جل جلاله پر ذات اطلاق نه سي کيدای ځکه چي هغه دجسم او جسمانياتو څخه بري او ورآءالوری دی: نو په آيت کي لفظ دنور دمفسرينو په نزد د(مُنَوِّر) په معنی دی يعني روښانه کوونکی ذات الخ.
معارف القرآن ج ٦ پ١٨ ص ١٤٤

فِيۡهَا بِالۡغُدُوِّ وَالۡاٰصَالِ ۝۳۶ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلۡهِيۡهِمۡ تِجَارَةٌ

فِيۡهَا	بِالۡغُدُوِّ	وَالۡاٰصَالِ	رِجَالٌ	لَّا تُلۡهِيۡهِمۡ	تِجَارَةٌ
په دغو کورونو کښې	په سهار	او په مابنام سره	سړي	چې نه غافلوی دوی	سوداګری

په دغو کورونو کښې په سهار او په مابنام سره . (داسې) سړي چې نه غافلوی دوی سودا ګری

وَّلَا بَيۡعٌ عَنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيۡتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ

وَّلَا بَيۡعٌ	عَنۡ ذِكۡرِ	اللّٰهِ	وَاِقَامِ	الصَّلٰوةِ	وَاِيۡتَآءِ	الزَّكٰوةِ
او نه بیع خرڅول	له ذکره، یاده	دالله	او له سم قئمولو اداء کولو	دلمانځه	او له ورکولو	دزکوٰة

او نه بیع پیرودل له ذکره یاده دالله او له سم قائمولو اداء کولو د لمانځه او له ورکولو د زکوٰة

يَخَافُوۡنَ يَوۡمًا تَتَقَلَّبُ فِيۡهِ الۡقُلُوۡبُ وَالۡاَبۡصَارُ ۝۳۷ ۙ

يَخَافُوۡنَ	يَوۡمًا	تَتَقَلَّبُ	فِيۡهِ	الۡقُلُوۡبُ	وَالۡاَبۡصَارُ
بیریږی	دهغې ورځې	چې آوړی را آوړی	په هغې ورځې کښې	زړونه	او سترګې

بیریږی (دوی سره له ذکره او طاعته) دهغې ورځې چې اوړی را اوړی مضطرب به وی په هغې ورځې کښې زړونه او سترګې.

لِيَجۡزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحۡسَنَ مَا عَمِلُوۡا وَيَزِيۡدَهُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ؕ

لِيَجۡزِيَهُمُ	اللّٰهُ	اَحۡسَنَ	مَا عَمِلُوۡا	وَيَزِيۡدَهُمۡ	مِّنۡ فَضۡلِهٖ
دپاره د دې چې جزا ورکړی دوی ته	الله	ډیره غوره جزاء	دهغو عملونو چې کړی دی دوی	او زیات به کړی دوی ته	له فضله خپل

دپاره د دې چې جزا ورکړی دوی ته الله ډیره غوره جزاء دهغو عملونو چې کړی دی دوی او زیات به کړی دوی ته له فضله خپل

وَاللّٰهُ يَرۡزُقُ مَنۡ يَّشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ۝۳۸ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اَعۡمَالُهُمۡ

وَاللّٰهُ	يَرۡزُقُ	مَنۡ يَّشَآءُ	بِغَيۡرِ	حِسَابٍ	وَالَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡۤا	اَعۡمَالُهُمۡ
او الله	رزق ورکوی	هرچاته چې اراده وفرمائی	بی له	حسابه	او هغه کسان	چې کفران سوی دی	عملونه د دوی

(احسانه) او الله رزق روزی ورکوی هر چاته چې اراده وفرمائی بی له حسابه او هغه کسان چې کافران سوی دی عملونه د دوی

كَسَرَابٍۢ بِقِيۡعَةٍ يَّحۡسَبُهُ الظَّمۡاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰٓى

كَسَرَابٍۢ	بِقِيۡعَةٍ	يَّحۡسَبُهُ	الظَّمۡاٰنُ	مَآءً	حَتّٰٓى
په شان د شوګو (ځلیدونکی مځکه، سراب)	په هوار میدان کښې	چې ګمان کوی پر هغه باندی	تږی	داوبو	تر هغه پوری

په شان د سراب دی (چې تږی داوبو ګمان پری کوی) په هوار ډاګ کښې چې ګمان کوی پر هغه باندی تږی د اوبو تر هغه پوری

رِجَالٌ لَّا تُلۡهِيۡهِمۡ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيۡعٌ عَنۡ... دمسجدونو ځیني فضیلتونه: دحضرت امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چي کم سړی دخپل کورڅخه اودس وکړي او دفرض لمانځه دپاره مسجد ته روان سي نو دده ثواب دهغه سړي هومره دی کم چي احرام وتړي او دکور څخه دحج دپاره وتلی وي او کم سړی چي داشراق دلمانځه دپاره دکوره اودس وکړي او مسجد ته روان سي نو دده ثواب دعمره کوونکي هومره دی او دیوه لمانځه څخه تر بل لمانځه پوري په دې شرط چي ددواړو په مینځ کي یي خبره یا کار نه وي کړی په علیین کي لیکل کیږي: او دحضرت بریده رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چي کم خلګ په تیارو کي مسجدونو ته ځي دوی ته دقیامت په ورځ دمکمل نور خوشخبري واوروی. رواه مسلم په بل حدیث شریف کي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چي دسړي دجماعت سره لمونځ ادا کول په کور یا دوکان کي دلمونځ کولو په نسبت شل درجې زیات دی الی آخر الحدیث.
(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۱۵۰)

اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّ وَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ

اِذَا جَآءَهٗ	لَمْ يَجِدْهُ	شَيْـًٔا	وَّ وَجَدَ	اللّٰهَ	عِنْدَهٗ	فَوَفّٰىهُ
چې راسي هغه ته	نو پيدا به نه کړي دغه سړی	هيڅ شی	او بيا به پيدا کړي	الله	په نزد دعمل خپل	پس پوره به ورکړي الله ده ته

چې راسي هغه ته نو پيدا به نه کړي دغه سړي هيڅ شی او بيا به پيدا کړي الله په نزد (عمل) خپل پس پوره به ورکړي الله ده ته

حِسَابَهٗ ۭ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ

حِسَابَهٗ	وَاللّٰهُ	سَرِيْعُ	الْحِسَابِ	اَوْ كَظُلُمٰتٍ	فِيْ بَحْرٍ
پوره حساب د ده	او الله	ډير زر (اخيستونکی)	دحساب دی	يا په شان د هغو تاريکيو دی	په درياب

پوره حساب د ده او الله ډير زر (اخيستونکی) دحساب دی. يا په شان د هغو تاريکيو دی په بحر

لُّجِّيٍّ يَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ۭ

لُّجِّيٍّ	يَّغْشٰىهُ	مَوْجٌ	مِّنْ فَوْقِهٖ	مَوْجٌ	مِّنْ فَوْقِهٖ	سَحَابٌ
غوچ کبنی	چې پټ کړی وی (دغه بحر لره)	يو موج	دپاسه يې بل	موج وی	او د پاسه د دغه (موج)	وريځ وی

ژور کبنی چې پټ کړی وی (دغه بحر) لره يو موج دپاسه يې بل موج وی او د پاسه د دغه (موج) وريځ وی

ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ۭ اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ

ظُلُمٰتٌ	بَعْضُهَا	فَوْقَ	بَعْضٍ	اِذَآ	اَخْرَجَ	يَدَهٗ	لَمْ يَكَدْ
تياری دی	چې ځينی د دوی	دپاسه	دځينو نورو دی	کله چې	راوباسی	لاس خپل	نه وی نژدی

(دغه ځلور قسمه) تياری دی چې ځينی د دوی دپاسه د ځينو نورو دی، کله چې راوباسی لاس خپل نه وی نژدی (دی)

يَرٰىهَا ۭ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴۰﴾

يَرٰىهَا	وَمَنْ	لَّمْ يَجْعَلِ	اللّٰهُ	لَهٗ	نُوْرًا	فَمَا لَهٗ	مِنْ نُّوْرٍ
چې ووينی دغه (لاس خپل)	او هر هغه چې	نه وی ورکړی	الله	ده ته	نور رڼا	پس نشته ده ته	هيڅ نور د رڼا

چې ووينی دغه (لاس خپل) او هر هغه چې نه وی ورکړی الله ده ته نور رڼا پس نشته ده ته هيڅ نور رڼا .

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

اَلَمْ تَرَ	اَنَّ	اللّٰهَ	يُسَبِّحُ	لَهٗ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
آيا نه وينی ته	بيشکه!	الله چې دی	تسبيح وايئ	ده ته	هر هغه	چې په آسمانونو کښی دی	او چې په مځکه کښی دی

آيا نه وينی ته ای مخاطبه! بيشکه! الله چې دی تسبيح وايئ ده ته هر هغه چې په آسمانونو کښی دی او چې په مځکه کښی دی

اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّ وَجَدَ اللّٰهَ.. دمسجدانو پنځلس ادبونه: امام قرطبي رحمة الله عليه په خپل تفسير کي دسورة النور د شپږديرشم ۳۶ ايت تر تفسير لاندي دمسجدونو پنځلس ادبونه ليکلي دي هغه دزده کړي او دعمل په کولو په نيت دلته ليکل کيږي. اول ادب: داچي مسجد ته ورسيږي او څه خلگ ناست ويني نو دوی ته دي سلام وکي په هغه صورت کي چي کله دادمسجد حاضرين په نفلي لمونځونو يا تلاوت تسبيح وغيره کي مشغول نه وي که مشغول وه بيا دوی ته سلام اچول صحيح نه دي. شامي: او که څوک نه وه نو دي داسي ووايي (السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين) دوهم ادب: داچي مسجد ته داخل سي نو دکښينستو څخه مخکي دي دوه رکعته تحية المسجد و کي په دي شرط چي مکروه وخت نه وي. دريم ادب: داچي په مسجد کي دي رانيول او خرڅول نه کوي. څلورم ادب: داچي په مسجد کي دي غشی توره چاړه وغيره نه راباسي. پنځم ادب: دا چي په مسجد کي دي دورک سوي شي اعلان نه کوي: پاته ادبونه پر راروان مخ وګوری.

ع

وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ ؕ

وَالطَّيْرُ	صٰٓفّٰتٍ	كُلٌّ	قَدْ	عَلِمَ	صَلَاتَهٗ	وَتَسْبِيْحَهٗ
اومرغان	هواره وونكى وى د وزرو خپلو	هريو	په تحقيق	معلوم دى (الله) ته	لمونځ د هغه	او تسبيح د هغه

او مرغان هم چي خواره كوونكى وى د وزرو خپلو. هريو (له دغو) په تحقيق معلوم دى (الله) ته لمونځ د هغه او تسبيح د هغه

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ

وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌۢ	بِمَا	يَفْعَلُوْنَ	وَلِلّٰهِ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
او الله ته	ښه معلوم دى	هغه (اعمال) چي	كوى يې دوى	او خاص الله ته دى	سلطنت	د آسمانونو	او د مځكى

او الله ته ښه معلوم دى هغه (اعمال) چي كوى يې دوى. او خاص الله ته دى سلطنت د آسمانونو او د مځكى

وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿٤٢﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِيْ سَحَابًا ثُمَّ

وَاِلَى	اللّٰهِ	الْمَصِيْرُ	اَلَمْ تَرَ	اَنَّ	اللّٰهَ	يُزْجِيْ	سَحَابًا	ثُمَّ
او هم خاص	الله ته دى	بيرته ورتله د ټولو	آيا نه وينى ته	چي بيشكه!	الله	روانوى ، شړى	وريځى	بيا

او (هم خاص) الله ته دى بيرته ورتله د ټولو. آيا نه وينى ته چي بيشكه! الله روانوى شړى وريځى (ټوټى ټوټى هرطرف ته) بيا

يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ

يُؤَلِّفُ	بَيْنَهٗ	ثُمَّ	يَجْعَلُهٗ	رُكَامًا	فَتَرَى	الْوَدْقَ	يَخْرُجُ	مِنْ
يوځاى والى كوى	په مينځ د دغو كښى	بيا يې	وګرځوى	قطرپرقط	پس وينى به ته	باران	چي وځى	له

يو ځاى والى فرمائى په مينځ د دغو كښى بيا يې وګرځوى لاندى باندى قط پر قط پس وينى به ته (انسانه) باران چي وځى له

خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْۢ بَرَدٍ

خِلٰلِهٖ	وَيُنَزِّلُ	مِنَ السَّمَآءِ	مِنْ جِبَالٍ	فِيْهَا	مِنْۢ بَرَدٍ
مينځه د دى وريځى	او نازلوى (الله)	له طرفه د آسمانه	له غرونو	چي وى په هغو كښى	ځينى له ږلى

مينځه د دى وريځى، او نازلوى (الله) له طرفه د آسمانه له (وريځو يا ږليو په شان د) غرونو چي وى په هغو كښى ځينى له ږلى

فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ؕ يَكَادُ

فَيُصِيْبُ	بِهٖ	مَنْ يَّشَآءُ	وَيَصْرِفُهٗ	عَنْ	مَّنْ يَّشَآءُ	يَكَادُ
پس ورسوى	دا ږلى	هغه چاته چي اراده وفرمايئ	اوګرځوى يې له هر هغه چا ځخه	چي	اراده يې وفرمائى	نژدې دى

پس ورسوى (الله) دا ږلى هغه چاته چي اراده وفرمائى او ګرځوى يې له هر هغه چا ځخه چي اراده يې وفرمائى، نژدې دى

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ

دتير مخ پاته ادبونه دلته وګورى شپږم ادب: داچي په مسجد كي دي اوازنه لوړوي. اووم ادب: داچي هلته دي د دنيا خبرې نه كوي. اتم ادب: داچي په مسجد كي دي د چاسره د ناستي پر ځاى جګړه نه كوي. نهم ادب: داچي كم ځاى په صف كي د دريدو ځاى نه وي هلته دي په زوره نه ورننوځي چي پر خلګو تنګي راولي. لسم ادب: دلمونځ كوونكي ومخ ته دي نه تيريږي. يوولسم ادب: په مسجد كي دي نه توكي او نه دي پزه سونګي. دوولسم ادب: په مسجد كي دي په ګوتو ټكان نه كوي. ديارلسم ادب: داچي خپل دبدن دخه حصي سره دي لوبي نه كوي. څوارلسم ادب: داچي دپليتي څخه به پاك وي او كوچني بچي ياليوني دي دځان سره مسجد ته نه بيايي. پنځلسم ادب: داچي هلته دي ډير دالله ﷻ ذكر كوي: امام قرطبي رحمه الله ددغه پنځلسوآدابو تر ليكلو وروسته فرمايي كي كه چاداكاره وكړل نو ده دمسجد حق ادا كړى او هغه دده دپاره دامن ځاى جوړ سو.

(معارف القرآن ج۶ پ۱۸ص۱۵۱)

سَنَا بَرۡقِهٖ يَذۡهَبُ بِالۡاَبۡصَارِ ۝۴۳ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ

سَنَا بَرۡقِهٖ	يَذۡهَبُ	بِالۡاَبۡصَارِ	يُقَلِّبُ	اللّٰهُ	الَّيۡلَ	وَالنَّهَارَ
رڼاد بريښنا دهغو (ورېځې)	چې بيول وکړي	دسترګو	ګرځوي	الله	شپه	او ورځ

رڼا د بريښنا دهغو (وريځې) چې بيول وکړي په ابصارو (دناظرينو). ګرځوي الله شپه او ورځ (په تبديل، حرارت، او نورو سره)

اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَعِبۡرَةً لِّاُولِي الۡاَبۡصَارِ ۝۴۴ وَاللّٰهُ

اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَعِبۡرَةً	لِّاُولِي	الۡاَبۡصَارِ	وَاللّٰهُ
بيشكه!	په دغو كښې	خامخا عبرت دى	خاوندانو	دسترګو او بصيرت ته	او الله

بيشكه! په دغو (مذكوره ؤ شيانو) كښې خامخا عبرت دى خاوندانو د سترګو او بصيرت ته. او الله

خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنۡ مَّآءٍ ۚ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّمۡشِيۡ عَلٰى بَطۡنِهٖ ۚ

خَلَقَ	كُلَّ	دَآبَّةٍ	مِّنۡ مَّآءٍ	فَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ يَّمۡشِيۡ	عَلٰى	بَطۡنِهٖ
پيدا كړى دى	هر	تلونكى ذى روح	له اوبو	پس ځينى له هغو	هغه دى چې تګ كوى	پر	نس، ټټر خيل

پيدا كړى دى هر حيوان چې ګرځي (په مځكه كښې) له اوبو پس ځينى له هغو هغه دى چې تګ كوى پر نس، ټټر خپل

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّمۡشِيۡ عَلٰى رِجۡلَيۡنِ ۚ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّمۡشِيۡ عَلٰۤى

وَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ يَّمۡشِيۡ	عَلٰى	رِجۡلَيۡنِ	وَمِنۡهُمۡ	مَّنۡ يَّمۡشِيۡ	عَلٰۤى
او ځينى له دوى	هغه دى چې تګ كوى	پر	دوو پښو خپلو	او ځينى د دوى	هغه دى چې تګ كوى	پر

(لكه مار) او ځينى له دوى هغه دى چې تګ كوى پر دوو پښو خپلو (لكه انسان) او ځينى د دوى هغه دى چې تګ كوى پر

اَرۡبَعٍ ؕ يَخۡلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ ۝۴۵

اَرۡبَعٍ	يَخۡلُقُ	اللّٰهُ	مَا يَشَآءُ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ شَيۡءٍ	قَدِيۡرٌ
څلورو	پيداكوى	الله	هر هغه څه چې اراده ئى وفرمائى	بيشكه!	الله	پر	هر شي باندى	ښه قادر دى

څلورو (پښو خپلو لكه آس)، پيدا كوى الله هر هغه څه چې اراده ئى وفرمائى بيشكه! الله پر هر شي باندى ښه قادر دى.

لَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ يَهۡدِيۡ مَنۡ يَّشَآءُ

لَقَدۡ	اَنۡزَلۡنَاۤ	اٰيٰتٍ	مُّبَيِّنٰتٍ	وَاللّٰهُ	يَهۡدِيۡ	مَنۡ يَّشَآءُ
خامخا په تحقيق	نازل كړى دى موږ	آياتونه	بيانوونكي واضح	او الله	سمه صافه لاره ښيى	هر هغه ته چې اراده وفرمائى

خامخا په تحقيق نازل كړى دى موږ آياتونه بيانوونكي واضح او الله سمه صافه لاره ښيى هر هغه ته چې اراده وفرمائى

يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ

اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ...دالله ﷻ دقدرت او وحدانيت نښي او دهغه مختلف كائنات

په دغه راروانو اياتوكي الله ﷻ بيا دخپل قدرت او وحدانيت نښـي بيان كـړي دي هغه داچي الله ﷻ فرمايي چي شپه او ورځي لره بدلوونكى زه يمه دادمخلوق دوس څخه دباندي كار دى چي شپه بوزي ورځ راولي يا ورځ بوزي شپه راولي او په دغه مجموعه ټولو شيانو كي دعقل دخاوندانو دپاره تياره موقع ده ددليل نيولو چي په دې سره د الله ﷻ پر توحيد باندي دليل نيول كيږي او داتصرف هم دالله ﷻ دى چي هغه ذات هر تلونكى ځناور دوچي وي او كه ددرياب وي داوبو څخه پيدا كړى دى بيا په دغو ځناورو كي ځيني هغه دي كم چي په دوو پښو روان وي لكه انسان او مارغان الوتونكي چي په هوا نه وي پر مځكه ځي او ځيني په دغو كي هغه دي چي پر څلورو پښو روان وي لكه حيوانان او ځيني پر زياتو پښو هم ځي اصل خبره داده چي الله ﷻ څه چي غواړي جوړوي يې بې شكه الله ﷻ پر هر شي باندي قادر دى.

معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۱۵۷

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۶﴾ وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

اِلٰى صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ	وَيَقُوْلُوْنَ	اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ
لارې	سمې صافې ته	او وايئ (دامنافقان)	چې ايمان راوړى دى موږ	پر الله

لارې سمې صافې (داسلام او جنت ته). او وايئ (دا منافقان) چې ايمان راوړى دى موږ پر الله

وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

وَبِالرَّسُوْلِ	وَاَطَعْنَا	ثُمَّ	يَتَوَلّٰى	فَرِيْقٌ	مِّنْهُمْ	مِّنْۢ بَعْدِ
او پر رسول (دالله)	او حکم منلى دى موږ	بيا	مخ ګرځوى	يوه ډله	له دوى څخه	وروسته

او پر رسول (دالله) او حکم منلى دى موږ (دالله او درسول الله) بيا مخ ګرځوى (له اسلامه) يوه ډله له دوى څخه وروسته

ذٰلِكَ ۭ وَمَآ اُولٰۗىِٕكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَاِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

ذٰلِكَ	وَمَآ اُولٰۗىِٕكَ	بِالْمُؤْمِنِيْنَ	وَاِذَا	دُعُوْٓا	اِلَى اللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ
له هغه	او نه دى دغه	مؤمنان	او هر کله چې	وبللى سى دوى	الله ته	او رسول د دغه (الله) ته

له هغه (ايمان او اطاعت) او نه دى دغه (ګرځوونکى) مؤمنان. او هر کله چې وبللى سى دوى الله او رسول ددغه (الله) ته

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۸﴾

لِيَحْكُمَ	بَيْنَهُمْ	اِذَا فَرِيْقٌ	مِّنْهُمْ	مُّعْرِضُوْنَ
دپاره د دى چې حکم وکړى دغه	په مينځ د دوى کښې	ناڅاپه يوه ډله	د دوى	اعراض د وه کوونکى دى

دپاره د دى چې حکم وکړى دغه (رسول) په مينځ د دوى کښې ناڅاپه يو فريق ډله د دوى اعراض د وه کوونکى دى.

وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْٓا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ ﴿۴۹﴾ اَفِيْ

وَاِنْ يَّكُنْ	لَّهُمُ	الْحَقُّ	يَاْتُوْٓا	اِلَيْهِ	مُذْعِنِيْنَ	اَفِيْ
او که چيرى وى	دوى ته	حق	نو راځى دوى	دغه (رسول الله) ته	فرمان منونکى په تلوار سره	آيا په

او که چيرى وى دوى ته حق (په زعم د دوى پر بل) نو راځى دوى دغه (رسول الله) ته ګړندى فرمان منونکى. آيا په

قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَمْ يَخَافُوْنَ اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ

قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ	اَمِ ارْتَابُوْٓا	اَمْ يَخَافُوْنَ	اَنْ يَّحِيْفَ	اللّٰهُ
زړونو د دوى کښې	مرض رنځورى ده	آيا شکمن دى دوى	آيا بيريږئ دوى	له دى څخه چې ظلم به وکړى	الله

زړونو د دوى کښې مرض رنځورى (د کفر او نفاق) ده، آيا شکمن دى دوى آيا بيريږى دوى له دى څخه چې ظلم به وکړى الله

وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ...دا ياتونو دنزول يوه خاص واقعه:

دا اياتونه په يوه خاصه واقعه کي نازل سوي دي. طبري وغيره دا واقعه داسي بيان کړيده چي په منافقينو کي بشر نومي يو سړى وو دهغه او ديو يهودي په مينځ کي دمځکي متعلق جګړه او فيصله وه يهودي ده ته وويل چي درځه ستاسي پر پيغمبر به يي خلاصه کړو مګر بشر منافق پر ناحقه وو دى پوهيدى چي که نبي کريم ﷺ ته فيصله ولاړه نو هغه به دا فيصله دحق موافقه وکړي او زه به يي بايلم په دې وجه يي انکار وکى او دنبي کريم ﷺ پر ځاى يي کعب ابن اشرف يهودي ته دفيصلې دوړلو وويل په دې باندي دا ايتونه را نازل سول: او په آيت (افى قلوبهم مرض) کي چي کم ددوى په زړونو کي ديقيني کفر دمرض يا په نبوت کي دشک نفي سوي دي ددې څخه مراد دادى چي دا يقيني کفر يا شک دربار نبوي ته دمقدمې دراوړلو څخه دمنع کولو سبب نه دى اصل سبب دا وو چي دوى پوهيږي چي فيصله به په حقه سره وسي او موږ به يي بايلو.

(معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۱۶۱)

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ... دفلاح او کامیابی دپاره څلور شرطونه : په دغه آیت کي الله ﷻ څلور شیان بیان کړي دي فرمايي چي څوک ددغه څلورو شیانو پایبند سي هغه بامراده او په دین او دنیا کي کامیاب دی : **یوه عجیبه واقعه** :په تفسیر قرطبي کي دلته دحضرت فاروق اعظم ﷺ یوه واقعه نقل کړیده په کم سره چي ددې څلورو شیانو دمطلب فرق او وضاحت کیږي : واقعه داده چي حضرت فاروق اعظم ﷺ یوه ورځ په مسجد نبوي کي ولاړوو چي ناڅاپه یو **رومي دهقان** سړی ددوی په خوا کي برابر ودریدی او وې وویل **(انا اشهد ان لااله الا الله محمد رسول الله)** حضرت فاروق اعظم ﷺ پوښتنه ځیني وکړه څه خبره ده ؟ نو هغه وویل چي دالله ﷻ دپاره مسلمان سوی یم حضرت فاروق اعظم ﷺ پوښتنه ورڅخه وکړه چي ددې سبب څه دی ؟ هغه وویل چي خبره داده چي ما تورات ، انجیل ، زبور او دتیرو پیغمبرانو ډیر کتابونه ویلي دي مگر اوس په دې وخت کي یو مسلمان بندي دقرآن داآیت ووایه : **پاته قصه پرراروان مخ وگوری.**

عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ۚ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٥٠ اِنَّمَا كَانَ

عَلَيْهِمْ	وَرَسُوْلُهٗ	بَلْ اُولٰٓئِكَ	هُمُ	الظّٰلِمُوْنَ	اِنَّمَا	كَانَ
پر دوی	او رسول د دغه (الله)	بلکه دوی	هم دوی	ظالمان دی	بیشکه! هم داخبره ده	چی ده

پر دوی (یا ظلم به وکړی) رسول د دغه (الله پر دوی) بلکه دوی هم دوی ظالمان دی . بیشکه! هم داخبره ده چی ده

قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ

قَوْلَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	اِذَا	دُعُوْٓا	اِلَى اللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	لِيَحْكُمَ
وینا	دمؤمنانو	کله چی	وبللی سی دوی	الله ته	او رسول د دغه (الله) ته	دپاره د دی چی حکم وکړی

وینا د مؤمنانو کله چی وبللی سی دوی الله ته او رسول د دغه (الله) ته دپاره د دی چی حکم وکړی

بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۭ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

بَيْنَهُمْ	اَنْ يَّقُوْلُوْا	سَمِعْنَا	وَاَطَعْنَا	وَاُولٰٓئِكَ	هُمُ
په مینځ د دوی کښی	داچی وایئ	واورېده موږ	او ومنل موږ حکم ستا	او دغه ویونکی	هم دوی دی

په مینځ د دوی کښی داچی وائی واوریده موږ (خبره ستا) او ومنل موږ حکم ستا او دغه ویونکی هم دوی دی

الْمُفْلِحُوْنَ ۝٥١ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ

الْمُفْلِحُوْنَ	وَمَنْ	يُّطِعِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَيَخْشَ
بریالیان خلاصی پیداکوونکی	او هر څوک	چی اطاعت وکړی	دالله	او د رسول د دغه (الله)	او بیریږی

بریالیان (کامیاب) خلاصی پیداکوونکی. او هر څوک چی اطاعت وکړی حکم ومنی دالله او درسول د دغه (الله) او بیریږی

اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ ۝٥٢ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ

اللّٰهَ	وَيَتَّقْهِ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْفَاۗىِٕزُوْنَ	وَاَقْسَمُوْا	بِاللّٰهِ
له الله	او ځان وساتی	پس دغه	هم دوی دی	بری پیداکوونکی	او قسمونه خوری	په الله

له الله او ځان وساتی (له غضبه د ده) پس دغه هم دوی دی بری موندونکی د (جنت). او قسمونه خوری (منافقان) په الله

جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَىِٕنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۭ قُلْ

جَهْدَ	اَيْمَانِهِمْ	لَىِٕنْ	اَمَرْتَهُمْ	لَيَخْرُجُنَّ	قُلْ
سخت سخت	قسمونه د دوی	قسم دی خامخا	چی که ته امر وکړی دوی ته	نو خامخا به وځی دوی هرومرو	ووایه (ای محمده!)

سخت سخت قسمونه د دوی قسم دی خامخا چی که ته امر وکړی دوی ته نو خامخا به وځی دوی هرومرو، ووایه (محمده!)

لَّا تُقۡسِمُوۡا ۚ طَاعَةٌ مَّعۡرُوۡفَةٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيۡرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٥٣﴾ قُلۡ

لَّا تُقۡسِمُوۡا	طَاعَةٌ مَّعۡرُوۡفَةٌ	اِنَّ	اللّٰهَ	خَبِيۡرٌ	بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ	قُلۡ
قسم مه خورئ تاسي	طاعت نیک	بیشکه!	الله	ښه خبردار دی	په هغو کارونو چې کوئ یئ تاسي	ووایه (محمده)

قسم مه خورئ تاسي د دروغو طاعت نیک زموږ مطلب دی، بیشکه! الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې کوئ یئ تاسي. ووایه

اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ ۚ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنَّمَا عَلَيۡهِ

اَطِيۡعُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيۡعُوا	الرَّسُوۡلَ	فَاِنۡ تَوَلَّوۡا	فَاِنَّمَا	عَلَيۡهِ
اطاعت وکړئ تاسي	د الله	او اطاعت وکړئ تاسي	د رسول د الله	پس که مخ وګرځوئ تاسي	نو بیشکه! چې دی	پر دغه رسول زما

اطاعت وکړئ تاسي د الله او د رسول د الله پس که مخ وګرځوئ تاسي (له اطاعته) نو بیشکه! هم دا خبره ده چې دی پر دغه رسول زما

مَا حُمِّلَ وَعَلَيۡكُمۡ مَّا حُمِّلۡتُمۡ ؕ وَاِنۡ تُطِيۡعُوۡهُ

مَا حُمِّلَ	وَعَلَيۡكُمۡ	مَّا حُمِّلۡتُمۡ	وَاِنۡ تُطِيۡعُوۡهُ
هغه بار چې پرې ایښودل سوی دی	او دی پر تاسي	چې پر تاسي ایښول سوی دی	او که اطاعت وکړئ تاسي د دغه رسول

هغه بار (د تبلیغ) چې پرې ایښودل سوی دی او دی پر تاسي چې پر تاسي ایښې سوی دی او که اطاعت وکړئ تاسي د دغه رسول

تَهۡتَدُوۡا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوۡلِ اِلَّا الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ ﴿٥٤﴾ وَعَدَ اللّٰهُ

تَهۡتَدُوۡا	وَمَا	عَلَى الرَّسُوۡلِ	اِلَّا الۡبَلٰغُ	الۡمُبِيۡنُ	وَعَدَ	اللّٰهُ
نو سمه صافه لاره به پیدا کړی	او نه دی	پر رسول	مګر رسونه	ښکاره	وعده کړې ده	الله

نو سمه صافه لاره به پیدا کړی او حق ته به پرې ورسیږی او نه دی پر (ذمه د) رسول مګر رسونه ښکاره. وعده کړې ده الله

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ

الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	مِنۡكُمۡ	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ
له هغو کسانو سره	چې ایمان یئ راوړی دی	له تاسي	او کړی یئ دی	ښه (عملونه)	قسم دی خامخا به خلیفګان کړی دوی

له هغو کسانو سره چې ایمان یئ راوړی دی له تاسي او کړی ئی دی ښه (عملونه) چې قسم دی خامخا به خلیفګان کړی (الله) دوی

فِى الۡاَرۡضِ كَمَا اسۡتَخۡلَفَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ۖ وَلَيُمَكِّنَنَّ

فِى الۡاَرۡضِ	كَمَا	اسۡتَخۡلَفَ	الَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	وَلَيُمَكِّنَنَّ
په ځمکه کښې	لکه چې	خلیفګان کړی یئ ؤ	هغه کسان	چې پخوا وو له دوی څخه	او خامخا ثابت قوی به وګرځوی

په ځمکه کښې لکه چې خلیفګان کړی یئ ؤ هغه کسان چې پخوا وو له دوی څخه او خامخا ثابت قوی به وګرځوی

قُلۡ اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ. د تیر مخ پاته قصه دلته وګورئ: هغه مي واوریدی نو معلومه سوه چې دې کوچني آیت ټول پخواني کتابونه په خپل ځان کي ځای کړي دي. نو زما یقین وسو چې دا د الله ﷻ کتاب دی او د هغه د طرفه څخه دی حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه پوښتنه ورڅخه وکړه هغه کم آیت دی؟ نو رومي دهقان د سورة النور دوه پنځوسم ٥٢ آیت ورته تلاوت کی او ددې سره یې ددې عجیبه او نااشنا تفسیر هم وښووی او داسي بیان یې وکی چې (من یطع الله) د الله ﷻ د فرضو سره متعلق دی: (ورسوله) د سنت نبوي متعلق دی. (ویخش الله) د تیر عمر متعلق دی. او (ویتّقه) د آینده پاته عمر متعلق دی: کله چې انسان په دې څلورو شیانو عمل کوونکی سي نو دده د پاره داولئک هم الفائزون زیری دی او فائز هغه سړی دی کم چې د جهنم څخه نجات پیدا کی او په جنت کي ورته ځای ورکول سي حضرت عمر رضي الله عنه چې دا واوریدل نو یې وفرمایل چې ددې تصدیق د نبي کریم ﷺ په کلام کي موجود دی چې (اوتیت جوامع الکلم) الخ.
(معارف القرآن ج ٦ پ ١٨ ص ١٦١)

لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِى ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

لَهُمْ	دِيْنَهُمُ	الَّذِى	ارْتَضٰى	لَهُمْ	وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ	مِّنْۢ بَعْدِ
دوی ته	دین د دوی	هغه چي	غوره کړی دی	(الله) دوی ته	او خامخا بدل به ورکړی هرومرو دوی ته	وروسته له

دوی ته دین د دوی هغه (دین د اسلام) چي غوره کړی دی (الله) دوی ته او خامخا بدل به ورکړی هرومرو دوی ته وروسته له

خَوْفِهِمْ اَمْنًا ۚ يَعْبُدُوْنَنِىْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِىْ شَيْـًٔا ۚ وَمَنْ

خَوْفِهِمْ	اَمْنًا	يَعْبُدُوْنَنِىْ	لَا يُشْرِكُوْنَ	بِىْ شَيْـًٔا	وَمَنْ
بیری د دوی له دښمنانو	امن	عبادت به کوی دوی زما	شریک به نه پیدا کوی	له ما سره هیڅ شی	او هرڅوک چي

بیری د دوی له دښمنانو امن (او اطمینان) عبادت به کوی دوی زما شریک به نه پیدا کوی له ما سره هیڅ شی او هرڅوک چي

كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۵۵ وَاَقِيْمُوا

كَفَرَ	بَعْدَ	ذٰلِكَ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ الْفٰسِقُوْنَ	وَاَقِيْمُوا
کافر سو	پس له	دغو لویو انعاماتو	پس دغه کسان	هم دوی فاسقان دی	او قائموی تاسی

کافر سو پس له دغو لویو انعاماتو پس دغه کسان هم دوی (غټ) فاسقان دی. او قائموئ تاسی (سم اداء کوئ)

الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ

الصَّلٰوةَ	وَاٰتُوا	الزَّكٰوةَ	وَاَطِيْعُوا	الرَّسُوْلَ	لَعَلَّكُمْ
لمونځ	او ورکوئ	زکوٰۃ	او اطاعت وکړئ تاسی	درسول (د الله)	ښایئ تاسی ته

لمونځ او ورکوئ زکوٰۃ او اطاعت وکړئ حکم ومنئ تاسی د رسول (د الله) ښایئ تاسی ته

تُرْحَمُوْنَ ۵۶ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مُعْجِزِيْنَ

تُرْحَمُوْنَ	لَا تَحْسَبَنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مُعْجِزِيْنَ
چي رحم وکړسی پر تاسی	مه کوه ګمان خامخا	پر هغو کسانو	چي کافران سوی دی	عاجز کوونکی (د الله)

چي رحم وکړسی پر تاسی. مه کوه ګمان خامخا پر هغو کسانو چي کافران سوی دی عاجز کوونکی (د الله)

فِى الْاَرْضِ ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۖ وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۵۷

فِى الْاَرْضِ	وَمَاْوٰىهُمُ	النَّارُ	وَلَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ
په ځمکه کښی	او ځای د هستوګنی د دوی	اور دی	او خامخا بد	ځای د ورتلو دی (د ا دوزخ)

په ځمکه کښی او ځای د هستوګنی د دوی اور (دوزخ) دی او خامخا بد ځای د ورتلو دی (د ا دوزخ).

لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِى ارْتَضٰى لَهُمْ.. ددغه ایت مبارکه شان نزول: امام قرطبي رحمة الله عليه دحضرت ابوالعالیه رحمة الله عليه څخه نقل کړی دی چي نبي کریم ﷺ دوحي دنزول او دنبوت داعلان څخه وروسته لس کاله په مکه مکرمه کي پاته سوی وو نو هر وخت به دکفارو او مشرکینو څخه په بیره او وهم کي وو ددې تکالیفو او سختیو دیارلس کاله وسول چي هغه ته مکي دور وایي وروسته تر دغه تکالیفو بیا الله جل جلاله ورته دمدينې منورې پر طرف دهجرت حکم ورکړی نو دلته هم هر وخت دمشرکانو دحملو څخه په خطره کي وو یوسړي نبي کریم ﷺ ته عرض وکی چي یارسول الله یو وخت به پر موږ داسي هم راسي چي موږ به وسله راوباسواو په امن او اطمینان سره به اوسیږو ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چي ډیر ژر داسي وخت راتلونکی دی چي الله جل جلاله به امن راولي او داامت به دمځکي خلیفګان جوړسي نو پر دې باندې دا آیت نازل سو. قرطبي وبحر: او دغه وعده په قول دابن عباس رضي الله عنه په تورات او انجیل کي هم راغلي وه الخ.
معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۱۶۳

ع ۱۳

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ مَلَكَتْ

يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لِيَسْتَاْذِنْكُمُ	الَّذِيْنَ	مَلَكَتْ
اى	هغو كسانو	چې ايمان يې راوړى دى	بنايئ چې اجازه دى وغواړي له تاسې	هغه	چې مالكان سوي وى دهغو

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى بنايئ چې اذن (اجازه) دى وغواړي له تاسې هغه (وينځې مريان) چې مالكان سوي وى

اَيْمَانُكُمْ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ

اَيْمَانُكُمْ	وَالَّذِيْنَ	لَمْ يَبْلُغُوا	الْحُلُمَ	مِنْكُمْ	ثَلٰثَ
راسته‌لاسونه ستاسې	او هغه كسان	چې نه دي رسيدلي	حد د (بلوغ) ته	له تاسې	درې

دهغو راسته‌لاسونه ستاسې، او هغه كسان چې نه دي رسيدلي حد د (بلوغ) عقل ته له تاسې (احرارو) درې

مَرّٰتٍ مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ

مَرّٰتٍ	مِنْ قَبْلِ	صَلٰوةِ	الْفَجْرِ	وَحِيْنَ	تَضَعُوْنَ	ثِيَابَكُمْ
وارى	پخوا له	لمانځه	دسهار	او په هغه وخت كښې	چې ايږدئ تاسې	جامې خپل

وارى پخوا له لمانځه د سهار او په هغه وخت كښې چې پاسئ ږدئ تاسې جامې خپل

مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ۣ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ

مِّنَ الظَّهِيْرَةِ	وَمِنْۢ بَعْدِ	صَلٰوةِ	الْعِشَآءِ	ثَلٰثُ	عَوْرٰتٍ
د غرمې په وخت كښې	او پس له	لمانځه	دماختن	درې وختونه	د خلل (خلوت) دى

د غرمې په وخت كښې او پس له لمانځه د ماختن (دغه اوقات) درې وختونه د خلل (پيښيدو دستر) دى

لَّكُمْ ۭ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۭ

لَّكُمْ	لَيْسَ	عَلَيْكُمْ	وَلَا عَلَيْهِمْ	جُنَاحٌۢ	بَعْدَهُنَّ
تاسې ته	نسته	پر تاسې	او نه پر دوى باندې	هيڅ ګناه	وروسته له دغو دريو وختونو د دوى

تاسې ته، نسته پر تاسې او نه پر دوى باندې هيڅ ګناه (وبال) له دغو دريو وختونو (په بې له اجازې ننوتلو د دوى كښې)

طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ

طَوّٰفُوْنَ	عَلَيْكُمْ	بَعْضُكُمْ	عَلٰى	بَعْضٍ	كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ
دوى ګرځيدونكي دي	پر تاسې	ځينې ستاسې	پر	ځينو نورو	همداسې	ښكاره بيانوي

دوى ګرځيدونكي دي پر تاسې ځينې ستاسې پر ځينو نورو (ګرځيدونكي يئ يو په بل) ، همداسې ښكاره بيانوي

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ

خپلوانو او محرمو ته په خاصو وختونو كې داجازت غوښتلو حكم: په دې ذكر سوو اياتونو كې الله ﷻ ديو بل استيذان او اجازې غوښتلو احكام بيان كړي دي دكمو تعلق چې دهغو خپلوانو او محرمو سره دى كم چې په عام طور سره په يوه كور كې اوسيږي او هر وخت ځي راځي او ددوى څخه دښځو پرده هم نه وي داسې خلګو دپاره هم كه څه هم كور ته دداخليدو په وخت كې ددې حكم دى چې كورته دداخليدو په وخت كې په څه كش كرپ وغيره سره اطلاع وركوي بيا دې كورته داخليږي او دااستيذان داسې خپلوانو دپاره واجب نه دى بلكې مستحب دى چې پرېښوول يې مكروه تنزيهي دي: په تفسير مظهري كې دي (چې څوک كه خپل كورته هم داخليدل وغواړي حال داچې په دغه كور كې دده محرماتې وي نو بيله اجازې داخليدل مكروه تنزيهي دي ورته) نو حكم دشريعت دادى چې كله دوى داخليږي نو بايد اجازه واخيستل سي څكه چې داد اسلامي آدابو څخه دي.

معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۱۶۹

اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۸﴾ وَ اِذَا بَلَغَ

اللّٰهُ	لَكُمُ	الْاٰيٰتِ	وَ اللّٰهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ	وَ اِذَا	بَلَغَ
الله	تاسی ته	آیتونه	او الله	ښه عالم	ښه حکمت والا دی	او کله	چي ورسيدل

الله تاسی ته آیتونه (دآحکامو) او الله ښه عالم ښه حکمت والا دی. او کله چي ورسيدل

الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَاْذِنُوْا كَمَا اسْتَاْذَنَ

الْاَطْفَالُ	مِنْكُمُ	الْحُلُمَ	فَلْيَسْتَاْذِنُوْا	كَمَا	اسْتَاْذَنَ
واړه هلکان	ستاسی	حد د (بلوغ) ته	پس اجازت دی وغواړي پر تاسی	لکه چي	اجازت غوښت

واړه هلکان ستاسی حد د (بلوغ) عقل ته پس اجازت دی وغواړي (په ننوتلو کښې) پر تاسی باندی لکه چي اجازت غوښت

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ

الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ	كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمْ	اٰيٰتِهٖ
هغو کسانو	چي پخوا له دغو (اطفالو)	همداسی	ښکاره بیانوی	الله	تاسی ته	آیتونه (داحکامو) خپلو

هغو کسانو (چي بالغان سوی وو) پخوا له دغو (اطفالو) همداسی ښکاره بیانوی الله تاسی ته آیتونه (داحکامو) خپلو

وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۹﴾ وَ الْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ

وَ اللّٰهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ	وَ الْقَوَاعِدُ	مِنَ النِّسَآءِ	الّٰتِيْ	لَا يَرْجُوْنَ
او الله	ښه عالم	ډیر حکمت والا دی	او زړی ناستی	له ښځو	هغو ښځه چي	امید نه لري دوی

او الله ښه عالم ډیر حکمت والا دی. او زړی ناستی له ښځو هغو ښځه چي امید نه لري دوی

نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ

نِكَاحًا	فَلَيْسَ	عَلَيْهِنَّ	جُنَاحٌ	اَنْ يَّضَعْنَ	ثِيَابَهُنَّ	غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍ
دنکاح	پس نسته	پر دوی	هیڅ ګناه	چي کښیږدی	جامي خپلي	چي ښکاره کوونکی نه وی

د نکاح پس نسته پر دوی هیڅ ګناه چي کښیږدی جامي خپلي په دی حال کښې چي ښکاره کوونکی نه وی

بِزِيْنَةٍ ؕ وَ اَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ؕ وَ اللّٰهُ

بِزِيْنَةٍ	وَ اَنْ	يَّسْتَعْفِفْنَ	خَيْرٌ	لَّهُنَّ	وَ اللّٰهُ
دښائست خپل	او داچي	دوی ځان وساتی	خیر دی	دوی ته	او الله

دښائست خپل او داچي دوی ځان وساتی (له ایستلو دظاهری جامی څخه هم) خیر دی دوی ته او الله

اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ. په درو خاصو وختونو کي داجازت متعلق بیان: نو هرکله چي کورته سړی داخل سي بیا داټول یوځای دیواو بل په مخکي او سیږي او دیوه او بل خواته ځي او راځي: ددوی دپاره په درو خاصووختونو کي کم چي دانسان په خلوت کي داوسیدو وختونه دي دیوبل استیذان حکم یې په دغه ایاتونو کي ورکړی دی: هغه دري وختونه دسهار دلمانځه څخه مخکي، او دغرمې دارام کولو په وخت کي، او دماخوستن دلمونځ څخه وروسته وختونه دي: په دي کي محرمان او خپلوان تر دې چي یونابالغه بچی او مملوک مینځي او غلامان یې هم ددې استیذان پابینده کړي دي چي په دې دري وختو کي دخلوت دي هیڅوک هم دچا خلوت ګاه ته بغیر داجازت څخه نه ورځي ځکه چي په دې وختونو کي هر انسان آزاد او بې تکلفه پاته کیدل غواړي زیاتي جامې هم دبدن څخه لیري کوي او کله کله خو دخپلي بي بي سره بې تکلفه په خلط کي مشغوله وي او دیو چاپه راتګ سره انسان خیجله کیږي الخ.

(معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۱۷۰

سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ۞۶۰ لَيۡسَ عَلَى الۡاَعۡمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡاَعۡرَجِ

سَمِيۡعٌ	عَلِيۡمٌ	لَيۡسَ	عَلَى الۡاَعۡمٰى	حَرَجٌ	وَّلَا عَلَى	الۡاَعۡرَجِ
ښه اوريدونکی	ښه عالم دی	نشته	پرړانده	هيڅ مشقت	او نه پر	ګوډ

ښه اوريدونکی ښه عالم دی. نشته پر ړانده هيڅ حرج (مشقت) او نه پر ګوډ

حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡمَرِيۡضِ حَرَجٌ وَّلَا عَلٰٓى اَنۡفُسِكُمۡ

حَرَجٌ	وَّلَا عَلَى	الۡمَرِيۡضِ	حَرَجٌ	وَّلَا عَلٰٓى	اَنۡفُسِكُمۡ
هيڅ مشقت	او نشته پر	مريض	هيڅ مشقت	او نشته پر	نفسونو ستاسی هيڅ مشقت

هيڅ حرج (سختی او ملامتی) او نشته پر مريض هيڅ حرج او نشته پر نفسونو ځانونو ستاسی هيڅ حرج (کلفت)

اَنۡ تَاۡكُلُوۡا مِنۡۢ بُيُوۡتِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ اٰبَآئِكُمۡ

اَنۡ تَاۡكُلُوۡا	مِنۡۢ بُيُوۡتِكُمۡ	اَوۡ بُيُوۡتِ	اٰبَآئِكُمۡ
چی وخورئ تاسی	له کورونو خپلو	يا د کورونو	دپلرونو خپلو

چی وخورئ تاسی له کورونو خپلو (يا د کورونو د اولادو او عيالو خپلو) يا دکورونو دپلرونو خپلو

اَوۡ بُيُوۡتِ اُمَّهٰتِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ اِخۡوَانِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ اَخَوٰتِكُمۡ

اَوۡ بُيُوۡتِ	اُمَّهٰتِكُمۡ	اَوۡ بُيُوۡتِ	اِخۡوَانِكُمۡ	اَوۡ بُيُوۡتِ	اَخَوٰتِكُمۡ
يا د کورونو	دميندو خپلو	يا دکورونو	دورونو خپلو	يا د کورونو	دخويندو خپلو

يا د کورونو د ميندو خپلو يا د کورونو د ورونو خپلو يا د کورونو د خويندو خپلو

اَوۡ بُيُوۡتِ اَعۡمَامِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ عَمّٰتِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ

اَوۡ بُيُوۡتِ	اَعۡمَامِكُمۡ	اَوۡ بُيُوۡتِ	عَمّٰتِكُمۡ	اَوۡ بُيُوۡتِ
يا دکورونو	دتروخپلو	يا دکورونو	دعمه ګانو خپلو	يا دکورونو

يا دکورونو دترو خپلو (اکاګانو) يا د کورونو د عمه ګانو (تروروګانو) خپلو يا د کورونو

اَخۡوَالِكُمۡ اَوۡ بُيُوۡتِ خٰلٰتِكُمۡ اَوۡ مَا مَلَكۡتُمۡ

اَخۡوَالِكُمۡ	اَوۡ بُيُوۡتِ	خٰلٰتِكُمۡ	اَوۡ مَا	مَلَكۡتُمۡ
دماماګانو خپلو	يا دکورنو	دخاله ګانو خپلو	يا (دکورونو) دهغه چا چی	مالکان سوی يئ تاسی

د ماماګانو خپلو يا د کورونو دخاله ګانو (توريانو) خپلو يا (له کورونو د هغه چا) چی مالکان سوی يئ تاسی

لَيۡسَ عَلَى الۡاَعۡمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡاَعۡرَجِ.کورونو ته دداخليدو څخه وروسته ځيني احکام او دمعاشرت اداب: امام بغوي رحمه الله عليه دحضرت سعيد ابن جبير رضي الله عنه او ضحاک رحمه الله عليه داامامانو دتفسير څخه نقل کړي دي چي ددنيا عرف او داکثره خلګو د طبيعتونو حال دادی چي دشل ګوډ ، ړوند ، اوبيمار سړي سره يو ځای دخوراک کولو څخه کرکه کوي او نه يي خوښوي په اصحابو حضراتو کي چي کم داسي معذوره وه ددوی داخيال راغی چي که موږ دچاسره يو ځای خوراک ته کښينو نو شايد چي دوی ته به تکليف وي په دې وجه به دغو خلګو دروغو خلګو څخه دخوراک په وخت کي منع کوله: دغه شان دړندو خلګو سره دافکر سو چي کله څوکسان په خوراک کي شريک وي نو دعدل تقاضاداده چي هر يوشريک دبل څخه زيات خوراک ونه کړي ټولو ته برابر ي حصې ورسيږي او زه خو دړوندوالي په وجه ددې اندازه نه سم کولای ممکنه ده چي زه دنورو څخه زياته وخورم نو دوی به دروغو خلګو سره شريک خوراک نه کوی پر دي داآيت نازل سوالخ.
معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۱۷۵

مَّفَاتِحَهٗٓ اَوۡ صَدِيۡقِكُمۡ ؕ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ				
مَّفَاتِحَهٗٓ	اَوۡ صَدِيۡقِكُمۡ	لَيۡسَ	عَلَيۡكُمۡ	جُنَاحٌ
دکلیگانو دهغه	یا د دوستانو خپلو	نسته	پر تاسی	هیڅ ګناه په دی

دکلیگانو (کنجیانو) دهغه یا (له کورونو) د دوستانو خپلو، نسته پر تاسی هیڅ ګناه په دی

اَنۡ تَاۡكُلُوۡا جَمِيۡعًا اَوۡ اَشۡتَاتًا ؕ فَاِذَا دَخَلۡتُمۡ بُيُوۡتًا فَسَلِّمُوۡا						
اَنۡ تَاۡكُلُوۡا	جَمِيۡعًا	اَوۡ اَشۡتَاتًا	فَاِذَا	دَخَلۡتُمۡ	بُيُوۡتًا	فَسَلِّمُوۡا
چی وخورئ	سره یو ځای	یا جلا جلا	نو کله چی	ننوزئ تاسی	کورونو ته	پس سلام اچوئ تاسی

چی وخورئ (طعام تول) سره یو ځای یا بیل بیل نو کله چی ننوزئ تاسی (دغو مذکور وو) کورونو ته پس سلام اچوئ تاسی

عَلٰٓى اَنۡفُسِكُمۡ تَحِيَّةً مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ؕ						
عَلٰٓى	اَنۡفُسِكُمۡ	تَحِيَّةً	مِّنۡ عِنۡدِ	اللّٰهِ	مُبٰرَكَةً	طَيِّبَةً
پر	ځانونو خپلو	پیشکشی ده ثابته	له (جانبه د)	الله	برکتناکه	پاکیزه

پر ځانونو خپلو پیشکشی ده ثابته له (جانبه د) الله مبارکة طیبه (برکتناکه پاکیزه)

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الۡاٰيٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۶۱﴾ اِنَّمَا							
كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمُ	الۡاٰيٰتِ	لَعَلَّكُمۡ	تَعۡقِلُوۡنَ	اِنَّمَا
هم داسی	بنکاره بیانوی	الله	تاسی ته	آیتونه	بنایئ چی تاسی	عقل وچلوئ	بیشکه! هم داخبره ده

هم داسی بنکاره بیانوی الله تاسی ته آیتونه (دحکمت او احکام خپل) بنایئ چی تاسی عقل وچلوئ. بیشکه! هم داخبره ده

الۡمُؤۡمِنُوۡنَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَاِذَا كَانُوۡا مَعَهٗ							
الۡمُؤۡمِنُوۡنَ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	بِاللّٰهِ	وَرَسُوۡلِهٖ	وَاِذَا	كَانُوۡا	مَعَهٗ
چی مؤمنان	هغه کسان دی	چی ایمان یې راوړی دی	پر الله	او (په) رسول دالله	او کله چی	وی دوی	له دغه سره

چی مؤمنان هغه کسان دی چی ایمان یقین ئی راوړی دی پر الله او (په) رسول (دالله) او کله چی وی دوی له دغه (رسول) سره

عَلٰٓى اَمۡرٍ جَامِعٍ لَّمۡ يَذۡهَبُوۡا حَتّٰى يَسۡتَاۡذِنُوۡهُ				
عَلٰٓى اَمۡرٍ	جَامِعٍ	لَّمۡ يَذۡهَبُوۡا	حَتّٰى	يَسۡتَاۡذِنُوۡهُ
پر کوم کار	جمع کوونکی	نو نه ځئ	ترهغه پوری	چی اجازه وغواړی له دغه (رسول الله) څخه

پر کوم کار جمع کوونکی د (خلګو) نو نه ځئ (پخپل سر) ترهغه پوری چی حکم (اجازه) وغواړی له دغه (رسول الله) څخه

اِنَّمَا الۡمُؤۡمِنُوۡنَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِاللّٰهِ.. دنبي کريم ﷺ دمجلس خصوصا اودعام معاشرت ځيني اداب او احکام: په دغه ذکر سوو اياتونوکي دوه حکمونه ورکول سوي دي. اول دا چي کله نبي کريم ﷺ خلګ دخه ديني جهاد وغيره دپاره جمع کړي نو دايمان مقتضا داده چي تول جمع سي او بيا ددوی دمجلس څخه بغير ددوی داجازې څخه نه ځي که څه پيښن سي نو دي دحضور ﷺ څخه اجازت حاصلوي: او په دي کي نبي کريم ﷺ ته داهدايت سوی دی چي څه خاص حرج او ضرورت نه وي نو ته اجازت ورکوه په دي ضمن کي دهغه منافقينو بدوالي بيان سوی دی کم چي ددي تقاضا دايمان څخه خلاف دبدنامي څخه دبچ کيدو دپاره خو به حاضرسوه مګر بيا به يي ځان په يوطريقه پناه کړی او په پټه به دمجلس څخه ووتل دا آيت داحزاب دغزا پر موقع نازل سوی دی کله چي عربو مشرکينو او نورو قبيلو يو محاذ جوړ کړی او په جمع يي پر مدينه منوره حمله وکړه منافقينو پر دغه سخته موقع باندي ځانونه کنبله نو دا ايت نازل سو. (معرف القرآن ج۶ پ۱۸ ص ۱۸۰)

ع ۸ / ۱۴

إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ

إِنَّ	الَّذِينَ	يَسْتَأْذِنُونَكَ	أُولَٰٓئِكَ	الَّذِينَ	يُؤْمِنُونَ	بِاللّٰهِ
بیشکه!	هغه کسان	چې اجازه غواړي له تا څخه	دوی	هغه کسان دي	چې کامل ایمان لري	پر الله

بیشکه! هغه کسان چې اذن غواړي له تا څخه (ای زما رسوله) دوی هغه کسان دي چې کامل ایمان یقین لري پر الله

وَرَسُولِهِۦ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن

وَرَسُولِهِۦ	فَإِذَا	اسْتَأْذَنُوكَ	لِبَعْضِ	شَأْنِهِمْ	فَأْذَن
او (پر) رسول د الله	پس کله چې	اجازه وغواړي دوی له تا څخه	دپاره د ځینو	کارونو خپلو	پس اجازت ورکړه

او رسول د الله (او منی ئی) پس کله چې اذن وغواړي دوی له تا څخه (ای رسوله) دپاره د ځینو کارونو خپلو پس اذن ورکړه

لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ

لِّمَن	شِئْتَ	مِنْهُمْ	وَاسْتَغْفِرْ	لَهُمُ	اللّٰهَ	إِنَّ	اللّٰهَ
هغه چاته	چې خوښه وسی ستا	له دوی څخه	او مغفرت وغواړه	د دوی لپاره	له الله څخه	بیشکه!	الله

هغه چاته چې خوښه وسی ستا له دوی څخه (د اذن ورکولو) او مغفرت وغواړه د دوی دپاره له الله تعالی بیشکه! الله

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٢﴾ لَّا تَجْعَلُوا دُعَآءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ

غَفُورٌ	رَّحِيمٌ	لَا تَجْعَلُوا	دُعَآءَ	الرَّسُولِ	بَيْنَكُمْ	كَدُعَآءِ
ښه بخښونکی	ډیر رحم والا دی	مه ګرځوئ	بلنه	د رسول	پخپلو منځونو کښې	په شان د دعاء

ښه بخښونکی ډیر رحم والا دی. مه ګرځوئ دعاء د رسول پخپلو منځونو کښې په شان د دعاء (بلنې)

بَعْضِكُم بَعْضًا ۚ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ

بَعْضِكُم	بَعْضًا	قَدْ يَعْلَمُ	اللّٰهُ	الَّذِينَ	يَتَسَلَّلُونَ
د ځینو ستاسی	ځینو نورو ته	په تحقیق معلوم دی	الله ته	هغه کسان	چې کرار کرار د باندی ووزی

د ځینو ستاسی ځینو نورو ته په تحقیق معلوم دی الله ته هغه کسان (هم) چې کښیږی او یو یو پټ پټ د باندی ووزی

مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ

مِنكُمْ	لِوَاذًا	فَلْيَحْذَرِ	الَّذِينَ	يُخَالِفُونَ	عَنْ	أَمْرِهِۦٓ
له تاسی	چې یو له بله ځان سره پناه کوی	پس و دی ډیریږی	هغه کسان	چې مخالفت کوی	له	امره د دغه (رسول)

له تاسی په دی حال چې یو له بله ځان سره پناه کوی او وځی پس و دی ډیریږی هغه کسان چې مخالفت کوی له امره د دغه (رسول)

لَا تَجْعَلُوا دُعَآءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ.. دنبي کریم ﷺ بلنه او راغوښتل دعامو خلګو دبلني په شان نه دي: ددغه آیت یو تفسیر خو هغه دی کم چې لوړ تیر سوی دی چې درسول ددعا څخه مراد دهغه رابلل دي نو معنی دآیت داده چې نبي کریم ﷺ کله خلګ راوبلي نو دادعامو خلګو دبلني په شان مه ګڼئ چې درته دراتلو او نه راتلو اختیار وي بلکي دغه وخت راتلل فرض سي او بغیر داجازت څخه تلل حرام سي دآیت دمخ اوشاسره داتفسیر زیات مناسب دی په دي وجه په تفسیر مظهري او بیان القرآن کي مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله دغه اختیاره کړی دی: او ددي یو بل تفسیر دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه ابن کثیر او قرطبي وغیره نقل کړی دی چې درسول ددعا څخه مراد دخلګو دنبي کریم ﷺ ته دڅه کار دپاره بلل او اواز ورته کول دي: ددې تفسیر پر بنا باندي به معنی دایت داسي چې کله تاسي نبي کریم ﷺ په یوضرورت رابولی نو دعامو خلګو په شان دده نوم مبارک مه اخلی لکه یامحمد ﷺ مه وایاست ځکه چې دابې ادبي ده الخ. (معارف القرآن ج ۶ پ ١٨ ص ١٨١) حبیبیه

اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾ اَلَآ اِنَّ

اَنْ تُصِيْبَهُمْ	فِتْنَةٌ	اَوْ يُصِيْبَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	اَلَآ	اِنَّ
له دی څخه چي ورسيږي دوی ته	څه فتنه	يا ورسيږي دوی ته	عذاب	دردناک	واورئ خبردار سئ	بيشكه

له دی څخه چي ورسيږي دوی ته څه فتنه يا ورسيږي دوی ته عذاب دردناک په آخرت كښې. واورئ خبردار سئ بيشكه!

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ؕ وَيَوْمَ

لِلّٰهِ	مَا فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	قَدْ	يَعْلَمُ	مَآ اَنْتُمْ	عَلَيْهِ	وَيَوْمَ
خاص الله لره دی	هر هغه چي په	آسمانونو	او ځمکو کی دی	په تحقيق	معلوم دی الله ته	هر هغه چي تاسي يئ	پر هغه	او هغه ورځ

خاص الله لره دی هر هغه څه چي په آسمانونو او ځمکو کی دی په تحقيق معلوم دی الله ته هر هغه څه چي تاسي يئ پر هغه او هغه ورځ

يُرْجَعُوْنَ اِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٤﴾ ع

يُرْجَعُوْنَ	اِلَيْهِ	فَيُنَبِّئُهُمْ	بِمَا	عَمِلُوْا	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيْمٌ
چي ورو ستل سی	الله ته	پس خبردار به کړی دوی	پر هغو عملونو	چي دوی کړی دی	او الله	پر هر شي باندی	ښه عالم دی

چي ورو ستل سی الله ته پس خبردار به کړي (الله) دوی پر هغو عملونو چي دوی کړي دی او الله پر هر شي باندی ښه عالم دی

٩ ع ٣ ١٥

اياتونه ٧٧ — ٢٥ سُوْرَةُ الْفُرْقَانِ مَكِّيَّةٌ ٤٢ — رکوعي ٦

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ

تَبٰرَكَ	الَّذِيْ	نَزَّلَ	الْفُرْقَانَ	عَلٰى	عَبْدِهٖ
ډير برکتناک خاوند د ډير خير دی	هغه (ذات)	چي نازل کړی يئ دی	قرآن	پر	بنده خپل (محمد)

ډير برکتناک څښتن (خاوند) د ډير خير او پورته دی هغه (ذات) چي نازل کړی يئ دی قرآن پر بنده خپل (محمد)

لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ۙ﴿١﴾ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

لِيَكُوْنَ	لِلْعٰلَمِيْنَ	نَذِيْرًا	الَّذِيْ	لَهٗ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
دپاره د دی چي سی دی	خلگو ته	بيروونکی	هغه الله	چي خاص هم ده ته دی	سلطنت	دآسمانونو	او د ځمکی

دپاره د دی چي سی دی خلگو ته بيروونکی. هغه الله چي خاص هم ده ته دی ملک سلطنت د آسمانونو او د ځمکی

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ

دسورة الفرقان خصوصيات

: داټول سورت دجمهورو مفسرينو په نزدمكي دی البته حضرت ابن عباس رضي الله عنه او قتاده رضي الله عنه ددرو اياتونو متعلق فرمايي چي دامكي نه دي مدني دي باقي سورة مكي دی او ځينو حضراتودا هم ويلي دي چي داسورت مدني دی ځيني اياتونه په كښي مكي دي. تفسير قرطبي. اوددې سورت دمضامينو خلاصه دقرآن كريم عظمت او دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دنبوت او رسالت حقوالى بيانول دي او ددښمنانو دطرف څخه چي پر دې كم اعتراضونه دي دهغه جواب دی : تبارک دبركت څخه جوړ دی دبركت معنى ډير خير دی. ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي معنى دآيت داده چي هرخير او بركت دالله جل جلاله دطرف څخه دی؛ فرقان دقرآن كريم لقب دی لغوي معنى ددې تميز اوفرق كول دي قرآن كريم چونكي دخپلو واضحو ارشاداتو په ذريعه په اهل حق او اهل باطلو كي فرق كوي په دې وجه ده ته فرقان ويل كيږي : اى الله جل جلاله موږته داهل حقو په ډله كي داستقامت توفيق رانصيب كړې.

معارف القرآن ج٦ پ١٨ ص١٨٣

وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ

وَلَمْ يَتَّخِذْ	وَلَدًا	وَّلَمْ يَكُنْ	لَّهٗ	شَرِيْكٌ	فِي الْمُلْكِ	وَخَلَقَ
او نه يئ دی نيولی	هيڅ ولد	او نسته	ده ته	شريک	په سلطنت کښې	او پيدا کړی دی الله

او نه ئې دی نيولی هيڅ ولد (لور، زوی) او نسته ده ته شريک په ملک سلطنت کښې او پيدا کړی دی الله

كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا ۝٢ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً

كُلَّ شَيْءٍ	فَقَدَّرَهٗ	تَقْدِيْرًا	وَاتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِهٖ	اٰلِهَةً
هر شی	پس په اندازه کړی يئ دی هغه (شی)	په اندازه کولو سره	او نيولی دی دوی	بی له الله	نور معبودان

هر شی پس په اندازه کړی يئ دی هغه (شی) په اندازه کولو سره. او نيولی دی دغو (کفارو) بی له الله نور معبودان

لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ وَلَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ

لَّا يَخْلُقُوْنَ	شَيْـًٔا	وَّهُمْ	يُخْلَقُوْنَ	وَلَا يَمْلِكُوْنَ	لِاَنْفُسِهِمْ
چی نسی پيدا کولی	هيڅ شی	حال دا چی دوی	پخپله پيدا کړی سی	او نه دی مالکان	لپاره د ځانونو خپلو

چی نسی پيدا کولی (دغه معبودان) هيڅ شی حال دا چی دوی پخپله پيدا کول سی او نه دی مالکان دپاره د ځانونو خپلو

ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً

ضَرًّا	وَّلَا نَفْعًا	وَّلَا يَمْلِكُوْنَ	مَوْتًا	وَّلَا حَيٰوةً
دضرر	او نه د نفعی	او نه دی مالکان	په وژلو د چا	او نه په ژوندی کولو د چا

دضرر (د دفع کولو) او نه د نفعی (د رسولو) او نه دی مالکان په وژلو د چا او نه په ژوندی کولو د چا

وَّلَا نُشُوْرًا ۝٣ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ

وَّلَا نُشُوْرًا	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِنْ هٰذَآ
او نه په بيا ژوندی پورته کولو د مړيو	او وايئ	هغه کسان	چی کافران سوی دی	چی نه دی دا (قرآن)

او نه په بيا ژوندی پورته کولو د مړيو. او وايئ هغه کسان چی کافران سوی دی چی نه دی دا (قرآن)

اِلَّآ اِفْكُ ۨافْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ

اِلَّآ	اِفْكُ	افْتَرٰىهُ	وَاَعَانَهٗ	عَلَيْهِ	قَوْمٌ	اٰخَرُوْنَ
مګر	دروغ دی	چی له ځانه يئ جوړ کړی دی ده	او کومک ورسره کړی دی د ده سره	په دی (دروغ) کښې	قومونو	نورو

مګر دروغ دی چی له ځانه ئی جوړ کړی دی دغه (محمد) او کومک ورسره کړی دی په دی (دروغ) کښې قومونو نورو

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا...په مخلوقاتوکي په هرشي کي خاص خاص حکمتونه: او دتقدير مطلب دادی چي کم يوشی چي يي پيداکی دهغه داجزاوو ساخت اوشکل او صورت او آثار او خواص يي په لوی حکمت سره دهغه کار مناسب پيداکړل دکم کار دپاره چي بي دغه شی پيداکړی دی: دآسمان ساخت دهغه اجزايي ترکيبي هيئت دهغه کار مناسب دي دکم دپاره چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ آسمان پيداکړی دی دسيارو او ستورو په پيداکولو کي يي هغه شيان کښيښوول کم چي دهغو دوجوددمنشاء مطابق دي دمځکي او ددې په خيته کي پر پيداکيدونکو شيانو چي نظر واچول سي دهر يوساخت شکل او صورت نرم او سخت دهغه کار مناسب جوړ سوي دي دکم کار دپاره چي قدرت داپيداکړي دي مځکه يي نه داسي نرمه داوبو په شان جوړه کړه چي څه پر کښيښوول سي نو دننه په کښي ډوبيږي او نه يي دومره سخته ډبري او اوسپني په شان جوړه کړه چي کيندل کيږي نه څکه چي ددې سره داضرورتونه متعلق وه الخ

معارف القرآن ج ۶ پ ۱۸ ص ۱۸۴

فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ۚ ④ وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ

فَقَدْ	جَآءُوْ	ظُلْمًا	وَّزُوْرًا	وَقَالُوْٓا	اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ
پس په تحقيق	راتلل كړي دي دوی	په ظلم	او په دروغو سره	او وايئ (كفار)	داقصې دي	د اولنيو خلكو

پس په تحقيق راتلل كړي دي (دغو كفارو) په ظلم او په دروغو سره. او وايئ (كفار) دا قصې دي د مخكنيو خلكو

اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ⑤

اكْتَتَبَهَا	فَهِيَ	تُمْلٰى	عَلَيْهِ	بُكْرَةً	وَّاَصِيْلًا
چي ليكلي دي هغه (محمد) پر ليكونكو	پس هغه	لوستل كيږي	په ده	سهار	او ماښام

چي ليكلي دي هغه (محمد) پر ليكونكو پس هغه لوستل كيږي په ده (لپاره د ليكلو) سهار او ماښام.

قُلْ اَنْزَلَهُ الَّذِيْ يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

قُلْ	اَنْزَلَهُ	الَّذِيْ	يَعْلَمُ	السِّرَّ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
ووايه	نازل كړي دی دا قرآن	هغه (الله)	چي عالم دی	په هرو پټو	چي په آسمانونو	او په مځكه كښې دی

ووايه (اې محمده!) نازل كړي دی دا قرآن هغه (الله) چي عالم دی په هرو پټو چي په آسمانونو او په مځكه كښې دی

اِنَّهٗ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ⑥ وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ

اِنَّهٗ	كَانَ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا	وَقَالُوْا	مَالِ	هٰذَا	الرَّسُوْلِ
بيشكه! چي الله	دی	بنه مغفرت كوونكی	ډير رحم والا	او وايئ (كفار)	چي څه دی	دغه	رسول ته

بيشكه! چي الله دی بنه مغفرت كوونكی ډير رحم والا. او وايئ (كفار) چي څه دی دغه رسول ته

يَاْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ۭ لَوْلَآ اُنْزِلَ

يَاْكُلُ	الطَّعَامَ	وَيَمْشِيْ	فِي الْاَسْوَاقِ	لَوْلَآ اُنْزِلَ
چي خوري	طعام	او گرځي	په بازارونو كښې	ولی نه نازلاوه سی

چي خوری طعام او گرځي په بازارونو كښې (لكه نور خلک د پاره د طلب د معاش) ولی نه نازلاوه سی

اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا ⑦ اَوْ يُلْقٰٓى اِلَيْهِ كَنْزٌ

اِلَيْهِ	مَلَكٌ	فَيَكُوْنَ	مَعَهٗ	نَذِيْرًا	اَوْ يُلْقٰٓى	اِلَيْهِ	كَنْزٌ
ده ته	يو ملائيكه	چي پس سی دغه	له دغه (رسول) سره	بيروونكی	يا غورځولی كيږي	ده ته	خزانه (له آسمانه)

ده ته يو ملائيكه چي پس سی دغه (ملک) له دغه (رسول) سره بيروونكی. يا (ولی نه) غورځولی كيږي ده ته خزانه

وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا۔ پرنبي كريم ﷺ اوقران كريم باندي دكفارو اومشركينو اعتراضونه

كفارو او مشركينو چي كم دنبي كريم ﷺ پر نبوت اوقرآن كريم باندي اعتراضونه كول ددې ځاى ځخه ددوى اعتراضونه اوبيا دجوابونو سلسله شروع سوه او داځه ترليري پوري تللې ده. **اولني اعتراض**: داوو چي قرآن څه دالله ﷻ دطرف ځخه نازل سوى كلام نه دى بلكي دادوى دځانه په خپله درواغ جوړكړي دي ياپي دتيرو خلكو قصې ديهودو او نصاراوو وغيره ځخه اوريدلي دي په خپلو اصحابو ﷺ يي ليكلي دي او چونكي په خپله امي دى نه په ليكلو پوهيږي او نه په ويلو يي په دې وجه داليكل سوي قصې سهار ماښام اوري چي يادي يي سي بيا خلكو ته ځي داسي وايي چي دادالله ﷻ كلام دى: ددې اعتراض جواب قرآن كريم داوركى (قل انزله الذى يعلم السّرّ فى السماوات والارض) ددې جواب مطلب دادى چي داكلام په خپله پر دې شاهد دى چي ددې نازلوونكى هغه پاک ذات دى كم چي دآسمانونو او مځكو په .پاته بيان پر راروان مخ وگورى.

اَوۡ تَكُوۡنُ لَهٗ جَنَّةٌ يَّاۡكُلُ مِنۡهَا‌ؕ وَقَالَ الظّٰلِمُوۡنَ

اَوۡ تَكُوۡنُ	لَهٗ	جَنَّةٌ	يَّاۡكُلُ	مِنۡهَا	وَقَالَ	الظّٰلِمُوۡنَ
یا کیږی	ده ته	یو باغ	چي خوری	له (میوو) دهغه	او وایئ	(دغه) ظالمان

یا (ولی نه) کیږی ده ته یو باغ چي خوری له (میوو او حاصلاتو) دهغه او وایئ (دغه) ظالمان

اِنۡ تَتَّبِعُوۡنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسۡحُوۡرًا ۸ اُنۡظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُوۡا

اِنۡ تَتَّبِعُوۡنَ	اِلَّا	رَجُلًا	مَّسۡحُوۡرًا	اُنۡظُرۡ	كَيۡفَ	ضَرَبُوۡا
چي متابعت نه کوئ تاسی	مگر	دیوه سړی	چي جادو پری کړی سوی دی	وګوره	څرنګه	بیانوی

چي متابعت نه کوئ تاسی مگر د یوه سړي چي سحر پری کړی سوی دی. وګوره (ای محمده!) څرنګه بیانوی

لَكَ الۡاَمۡثَالَ فَضَلُّوۡا فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ سَبِيۡلًا ۹ ع

لَكَ الۡاَمۡثَالَ	فَضَلُّوۡا	فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ	سَبِيۡلًا
تاته مثالونه	پس ګمراهان سول دوی	پس طاقت نه لری دوی	دلاری

تاته مثالونه (دشعر سحر کذب) پس ګمراهان سول دوی پس طاقت نه لری دوی (حق ته د موندلو) د لاری

ع ١٦

تَبٰرَكَ الَّذِىۡۤ اِنۡ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيۡرًا

تَبٰرَكَ	الَّذِىۡۤ	اِنۡ شَآءَ	جَعَلَ لَكَ	خَيۡرًا
ډیر لوی برکتناک او پورته دی	هغه (ذات)	که اراده وفرمائی	ګرځوی به تاته	خیر بهتر، غوره

ډیر لوی برکتناک خاوند د ډیر خیر او پورته دی هغه (ذات) که اراده وفرمائی ګرځوی به تاته (په دنیا کښی) خیر بهتر غوره

مِّنۡ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُۙ وَيَجۡعَلْ لَّكَ قُصُوۡرًا ۱۰

مِّنۡ ذٰلِكَ	جَنّٰتٍ	تَجۡرِىۡ	مِنۡ تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ	وَيَجۡعَلْ	لَّكَ	قُصُوۡرًا
له دغی	باغونه	چي بهیږی	له لاندی دهغو	ویالی	او ګرځوی به	تاته	بنګلی

له دغی باغونه چي بهیږی له لاندی (دونو) د هغو ویالی او ګرځوی به تاته (په دغو باغونو کښی) بنګلی (ماڼی).

بَلۡ كَذَّبُوۡا بِالسَّاعَةِ‌ وَاَعۡتَدۡنَا لِمَنۡ كَذَّبَ

بَلۡ كَذَّبُوۡا	بِالسَّاعَةِ	وَاَعۡتَدۡنَا	لِمَنۡ	كَذَّبَ
بلکه نسبت د دروغو کوی	په قیامت باندی	او تیار کړی دی موږ	دپاره دهغه چاچي	نسبت د دروغو کوی

بلکه نسبت د دروغو کوی (کفار) په قیامت باندی (چي نسته) او تیار کړی دی موږ دپاره د هغه چا چي نسبت د دروغو کوی

اُنۡظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُوۡا الۡاَمۡثَالَ فَضَلُّوۡا...د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: ټولو پټو رازونو خبر او پوه دی په دې وجه قرآن کریم یې یو معجز کلام جوړ کی او ټولې دنیا ته یې دمقابلې دعوت ورکی چې که دا تاسې دخدای ﷻ کلام نه منی دیو انسان کلام یې ګڼی نو تاسې هم انسانان یاست دده په شان کلام زیات نه یو سورت بلکې یو آیت جوړ کړی او وښیاست او داچیلنج چې جواب ورکول یې دعربو دفصیحو او بلیغو خلګو دپاره څه مشکل نه دی مګر دوی ددې څخه دتیښتې لاره اختیاره کړه دهیڅ چا داجرئت ونه سو چې دقرآن دیو آیت په مقابله کې دده په شان ایت لیکلی راوړي حال دادی چې دنبي کریم ﷺ په مخالفت کې خپل مال اسباب بلکې دخپل اولاد او خپل ځانونو خرڅ کولو ته تیار سوي وه دالنډه غوندې خبره یې نه سوای کولی چې دقرآن په شان یو سورت پیش کړی وای داواضح دلیل ددې خبرې دی چې دادیو انسان کلام نه دی کنه نو نورو انسانانو به هم داسې کلام لیکلی سوای بلکې دادالله ﷻ کلام دی.

معارف القرآن ج۶پ۱۸ص۱۸۷

بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ﴿١١﴾ إِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا

بِالسَّاعَةِ	سَعِيْرًا	إِذَا رَاَتْهُمْ	مِّنْ مَّكَانٍ	بَعِيْدٍ	سَمِعُوْا لَهَا
په قيامت باندی	سخت اور	کله چي ووينی دوی	له هغه ځای	لری	نو آوری به دوی (دغه اور ته)

په قيامت باندی سخت اور (د دوزخ). کله چي ووينی (دغه اور) دوی له هغه ځای لری نو آوری به دوی (دغه اور) لره

تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ﴿١٢﴾ وَإِذَآ اُلْقُوْا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا

تَغَيُّظًا	وَّزَفِيْرًا	وَإِذَآ	اُلْقُوْا	مِنْهَا	مَكَانًا	ضَيِّقًا
خوټکيدل	او غوريدل	او کله چي	وغورځولی سی (کفار)	له دوزخ څخه	په ځای	تنگ کښی

خوټکيدل او غوريدل (له ډيره قهر او غضبه). او کله چي وغورځولی سی (کفار) له دوزخ څخه په ځای تنگ کښی

مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ﴿١٣﴾ لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ

مُّقَرَّنِيْنَ	دَعَوْا	هُنَالِكَ	ثُبُوْرًا	لَا تَدْعُوا	الْيَوْمَ
چي څو تنه سره تړلی سوی وی	نو وبه بولی دوی	هلته	هلاک (خپل)	مه غواړئ تاسی	نن ورځ

په دغه حال کښی چي (څو تنه) سره تړلی سوی وی نو په دغه ځای بولی دوی هلاک (خپل). مه غواړئ مه بولئ تاسی نن ورځ

ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا ﴿١٤﴾ قُلْ اَذٰلِكَ

ثُبُوْرًا	وَّاحِدًا	وَّادْعُوْا	ثُبُوْرًا	كَثِيْرًا	قُلْ	اَذٰلِكَ
هلاک	يو	او وبولئ تاسی	هلاکونه	ډير	ووايه (ای محمده!)	آيا دغه

هلاک يو او وبولئ تاسی هلاکونه ډير (ځکه چي عذاب مو ډير اقسام لری). ووايه (ای محمده! دوی ته) آيا دغه

خَيْرٌ اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۚ كَانَتْ

خَيْرٌ	اَمْ جَنَّةُ	الْخُلْدِ	الَّتِيْ	وُعِدَ	الْمُتَّقُوْنَ	كَانَتْ
خير ،غوره دی	يا هغه جنت	د هميشه والي	چي	وعده کړی سوی وه	له پرهيزگارانو سره	چي دی (هغه جنت)

خير بهتر غوره دی يا هغه جنت د هميشه والي چي وعده کړی سوی وه (د دغه جنت) له پرهيزگارانو سره چي دی (هغه جنت)

لَهُمْ جَزَآءً وَّمَصِيْرًا ﴿١٥﴾ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ

لَهُمْ	جَزَآءً	وَّمَصِيْرًا	لَهُمْ	فِيْهَا	مَا يَشَآءُوْنَ
دوی ته	جزاء د عمل	او ځای د ورتلو	سته دوی ته	په دغه (جنت) کښی	هر څه چي غواړی دوی

دوی ته جزاء (بدل) د عمل او ځای د ورتلو. سته دوی ته په دغه (جنت) کښی هر څه چي غواړی دوی

إِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا. **کفارو به ويله که محمد ﷺ د الله ﷻ رسول وای نو بايد خزانې ورسره وای:** په دغه ذکر سوو اياتونو کي د هغه اجمالي جواب څه تفصيل الله ﷻ بيان کړی دی ددې مطلب دا دی چي ای کفارو تاسي د خپل جهالت او حقيقت ناشناسی څخه دليري والي په خاطر يوه خبره داکړې ده چي که دی د الله ﷻ رسول وای نو دده سره به ډيري خزانې او دولت وای ډير لوی باغونه او جائدادونه به وای ورسره چي په دې سره به دی د کسب د معاش څخه بې پرواه وای: **ددې جواب** يي داورکی چي داسي کول زموږ د پاره څه مشکل نه دي چي خپل رسول ته د دولت خزانې ورکړو بلکي د لويو څخه د لوی حکومت او سلطنت مالک يې جوړ کړو لکه ددې څخه مخکي چي حضرت داوود عليه السلام او حضرت سليمان عليه السلام ته مو داسي دولت او پر پوره دنيا باندي بې مثاله حکومت ورکی او د خپل دې کامل قدرت اظهار موکړی دی مگر مصلحت داوو چي د انبياو تولی بايد د مادي او دنيوي مال او دولت څخه جدا وساتل سي الخ.
(معرف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۱۹۲)

خٰلِدِيْنَ ؕ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔوْلًا ⑯

خٰلِدِيْنَ	كَانَ	عَلٰى	رَبِّكَ	وَعْدًا	مَّسْـُٔوْلًا
حال داچې تل به وی پکښې	دی	پر	رب ستا	وعده کړی سوی	غوښتلی سوی

حال داچې تل به وی پکښې دی (دخول د جنت سره له خلوده) پر رب ستا موعوده (وعده کړی سوی) غوښتلی سوی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

وَيَوْمَ	يَحْشُرُهُمْ	وَمَا يَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ
او هغه ورځ	چې راجمع به کړی (الله) دغه (کفار)	او هغه چې عبادت کاوه دوی	غیر له	الله

او (یاد کړه) هغه ورځ چې راجمع به کړی (الله) دغه (کفار) او هغه (باطل معبودان) چې عبادت کاوه دوی غیر له الله

فَيَقُوْلُ ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ عِبَادِيْ هٰۤؤُلَآءِ

فَيَقُوْلُ	ءَاَنْتُمْ	اَضْلَلْتُمْ	عِبَادِيْ	هٰۤؤُلَآءِ
پس وبه وایئ	آیا تاسی	گمراه کړی ؤ تاسی	بندګان زما	دغه (چې مشرکان) دی

(هغوی ته) پس وبه وایئ (الله دغو معبودانو ته) آیا تاسی گمراه کړی ؤ تاسی بندګان زما دغه (چې مشرکان) دی

اَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيْلَ ⑰ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ

اَمْ هُمْ	ضَلُّوا	السَّبِيْلَ	قَالُوْا	سُبْحٰنَكَ	مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ
او که دوی	پخپله ورکه کړی وه	لاره (دحق)	وبه وایئ (معبودان)	چې پاکی ده تا ته	نه ښاییږی

او که دوی پخپله ورکه کړی وه لاره (دحق). وبه وایئ (معبودان) چې پاکی ده تا ته له شریکه او له عیبو څخه نه ښاییږی

لَنَاۤ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ

لَنَاۤ	اَنْ نَّتَّخِذَ	مِنْ دُوْنِكَ	مِنْ اَوْلِيَآءَ	وَلٰكِنْ	مَّتَّعْتَهُمْ
موږ ته	داچې ونیسو موږ	غیر له تا څخه (یا الله)	هیڅ دوستان	او لیکن	ښه معاش ورکړی ؤ تا دوی ته

موږ ته داچې ونیسو موږ غیر له تا څخه (یا الله) هیڅ دوستان، او لیکن ښه معاش ورکړی ؤ تا (ای الله!) دوی ته

وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا قَوْمًاۢ بُوْرًا ⑱

وَاٰبَآءَهُمْ	حَتّٰى	نَسُوا	الذِّكْرَ	وَكَانُوْا	قَوْمًا	بُوْرًا
او پلرونو د دوی ته	ترهغه پوری	چې هیر کړی دوی	پند (کتاب) ستا	او وو دوی	قوم	هلاکیدونکی

او پلرونو د دوی ته ترهغه پوری چې هیر کړ دوی پند (کتاب) ستا، او وو دوی (په حکم ستا) قوم هلاکیدونکی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

دقیامت په ورځ به الله ﷻ کفار او ددوی معبودان راجمع او تول کړي: دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي دوی ته هغه ورځ ورپه یادکړه چي په کمه ورځ الله ﷻ داکافران خلگ او دکمو چي دوی عبادت کړی دی دخدای ﷻ څخه ماسواه هغه راتول کړي او معبودان عام دي که ملایکي وي که بتان وي بیا به الله ﷻ دي معبودانو ته ددغو عابدینو درسوا کولو دپاره و فرمایي چي آیا تاسي زما بندګان دحقي لاري څخه گمراه کړي وه ؟ او که دوی په خپله دحقي لاري څخه گمراه سوي وه ؟ مطلب داچي دوی ستاسي عبادت کوی کوم چي په واقع کي گمراهي ده :ستاسي په حکم او رضا سره یه کړي وو لکه چي ددې خلگو گمان وو چي دامعبودان زموږ په دې عبادت سره خوشحالیږي او چي خوشحاله سي نوالله ﷻ ته به زموږ شفاعت وکړي یا یي په خپل فاسد خیال سره دځانه جوړه کړې وه هغه معبودان به عرض وکي چي په الله ﷻ پناه زموږ څه مجال وو چي موږ ستا څخه ماسوا نور کار سازان په خپله عقیده کي تجویز کړو الخ.

معارف القرآن ج ۶ پ ۱۸ ص ۱۹۰

فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ

فَقَدْ	كَذَّبُوْكُمْ	بِمَا	تَقُوْلُوْنَ	فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ
نو په تحقيق	دروغجنان كړئ يئ تاسي	په هغه خبره كښې	چې ويله تاسي	پس طاقت نه لرئ تاسي

نو په تحقيق دروغجنان كړئ (معبودانو مو) تاسي (اى مشركانو) په هغه خبره كښې چې ويله تاسي پس طاقت نه لرئ تاسي

صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ

صَرْفًا	وَّلَا نَصْرًا	وَمَنْ يَّظْلِمْ	مِّنْكُمْ	نُذِقْهُ
دګرځولو دعذاب	او نه مدد كولو	او هر هغه چاچې ظلم وكړ	له تاسي	وبه څكوو موږ هغه ته

د ګرځولو د عذاب او نه مدد كولو (يو له بله سره)، او هر هغه چا چې ظلم وكړ له تاسي وبه څكوو موږ هغه ته

عَذَابًا كَبِيْرًا ﴿۱۹﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ

عَذَابًا	كَبِيْرًا	وَمَآ اَرْسَلْنَا	قَبْلَكَ	مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ
عذاب	لوی	او نه دي ليږلي موږ	پخوا له تا څخه	له مرسلانو څخه

عذاب لوی (چې خلود فى النار دی). او نه دي ليږلي موږ پخوا له تا څخه (اى محمده!) له مرسلانو څخه (په هيڅ كيفيت)

اِلَّآ اِنَّهُمْ لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ

اِلَّآ	اِنَّهُمْ	لَيَاْكُلُوْنَ	الطَّعَامَ	وَيَمْشُوْنَ
مګر	بيشكه! دوی	خامخا خوړل به دوی	طعام	او ګرځيدل به دوی

مګر (په دغه كيفيت سره چې) بيشكه! دوی خامخا خوړل به دوی طعام او ګرځيدل به دوی

فِي الْاَسْوَاقِ ۭ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ

فِي الْاَسْوَاقِ	وَجَعَلْنَا	بَعْضَكُمْ	لِبَعْضٍ
په بازارونو كښې	او ګرځولي دي موږ	ځينې ستاسي	دپاره د ځينو نورو

په بازارونو كښې (دپاره د مطالبو خپلو) او ګرځولي دی موږ ځينې ستاسي دپاره د ځينو نورو

فِتْنَةً ۭ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ﴿۲۰﴾ ع

فِتْنَةً	اَتَصْبِرُوْنَ	وَكَانَ	رَبُّكَ	بَصِيْرًا
امتحان	آيا صبر كوئ تاسي	او دی	رب ستا	ښه ليدونكى

آزموينت آيا صبر كوئ (اى اهل الابتلاء كه نه؟ بلكه صبر وكړئ!) او دی رب ستا ښه ليدونكى .

ع ۲ / ۱۷

وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً.. په مخلوق كي دمعاشي مساوات نه كيدل پر لوی حكمت مبني دي: په دغه آيت كي اشاره دي طرف ته ده چې دحق تعالى په قدرت كي خو هرڅه وه هغه ټول انسانان يو شان مالداره كولای سوه، ټول يې روغ جوړ ساتلي سوه هيڅوک به نه ناجوړی كيدی ټول به دعزت او جاه په اعلى معيار باندي وای څوک ادنى يا كمي مرتبي والا به نه وای مګر په نظام عالم كي به په دي سره ډيري كمي پيدا سوي وای په دي وجه الله ﷻ څوک مالدار جوړ كړل، څوک غريبان او مفلسان، څوک قوي او څوک ضعيف څوک روغ او څوک بيمار، چاته يې عزت او مرتبه وركړه څوک يې ګمنام كړل په دغه احوالو او اقسامو او انواعو په دي اختلاف كي دهري طبقي امتحان او ازمايش دی دغني ده په شكر سره دغريب ده په صبر سره امتحان دی دغه ډول دمريض او جوړ سړي امتحان دی په دي وجه دنبي كريم ﷺ تعليم دادی چې په دنيا كي كي تر ځان كښته خلګو ته ګوری او په ديندارۍ كي تر ځان لوړسړي ته ګوری.
معارف القرآن ج۶ پ۱۸ ص۱۹۳

وَقَالَ الَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ لِقَآءَنَا لَوۡلَآ اُنۡزِلَ عَلَيۡنَا

وَقَالَ	الَّذِيۡنَ	لَا يَرۡجُوۡنَ	لِقَآءَنَا	لَوۡلَآ اُنۡزِلَ	عَلَيۡنَا
او وایئ	هغه کسان	چې نه لري امید	دملاقات زموږ	ولې نه نازلولی سی	پر موږ باندې

او وایئ هغه کسان چې نه لري امید د ملاقات زموږ (او نه مني قیامت) ولې نه نازلولی سی پر موږ باندې

الۡمَلٰٓئِكَةُ اَوۡ نَرٰى رَبَّنَا ؕ لَقَدِ اسۡتَكۡبَرُوۡا فِيۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ

الۡمَلٰٓئِكَةُ	اَوۡ نَرٰى	رَبَّنَا	لَقَدِ	اسۡتَكۡبَرُوۡا	فِيۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ
ملائیکې	یا ولې نه وینو موږ	رب خپل	خامخا په تحقیق	کبر کړی دی دوی	په نفسونو د دوی کښې

ملائیکې ،یا ولې نه وینو موږ رب خپل (چې خبرې راسره وکړي) خامخا په تحقیق کبر کړی دی دوی په نفسونو د دوی کښې

وَعَتَوۡ عُتُوًّا كَبِيۡرًا ﴿۲۱﴾ يَوۡمَ يَرَوۡنَ الۡمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشۡرٰى

وَعَتَوۡ	عُتُوًّا	كَبِيۡرًا	يَوۡمَ	يَرَوۡنَ	الۡمَلٰٓئِكَةَ	لَا بُشۡرٰى
او تیر سوی دی	په تیریدلو	لویو سره	هغه ورځ	چې وویني دوی	ملائیکې	نه به وي زیرې

او تیر سوی دی (له حده) په تیریدلو لویو سره. هغه ورځ چې وویني دوی ملائیکې (دعذاب) نه به وي زیرې (خوشحالی)

يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُجۡرِمِيۡنَ وَيَقُوۡلُوۡنَ حِجۡرًا مَّحۡجُوۡرًا ﴿۲۲﴾ وَقَدِمۡنَاۤ

يَوۡمَئِذٍ	لِّلۡمُجۡرِمِيۡنَ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	حِجۡرًا	مَّحۡجُوۡرًا	وَقَدِمۡنَاۤ
په دغه ورځ کښې	دپاره د مجرمانو	او وبه وائي دوی	پناه غواړو	په پناه غوښتلو سره	او موږ به متوجه سو

په دغه ورځ کښې دپاره د مجرمانو او وبه وائي دوی چې چیرې دی منع کړل سی په کوم مانع سره او اراده کړې ده رسیدلي یو موږ

اِلٰى مَا عَمِلُوۡا مِنۡ عَمَلٍ فَجَعَلۡنٰهُ هَبَآءً مَّنۡثُوۡرًا ﴿۲۳﴾ اَصۡحٰبُ

اِلٰى مَا عَمِلُوۡا	مِنۡ عَمَلٍ	فَجَعَلۡنٰهُ	هَبَآءً	مَّنۡثُوۡرًا	اَصۡحٰبُ
هغو شیانو ته چې کړې دی	له (نیک) عمل څخه	پس وبه ګرځوو موږ هغه	ګرځ (زرې)	تار په تار کړل سوی	ملګرې

هغو شیانو ته چې کړې دی (دغو کفارو) له (نیک) عمل څخه پس وبه ګرځوو موږ هغه وری تار په تار کړل سوی. ملګرې

الۡجَنَّةِ يَوۡمَئِذٍ خَيۡرٌ مُّسۡتَقَرًّا وَّاَحۡسَنُ مَقِيۡلًا ﴿۲۴﴾

الۡجَنَّةِ	يَوۡمَئِذٍ	خَيۡرٌ	مُّسۡتَقَرًّا	وَّاَحۡسَنُ	مَقِيۡلًا
دجنت	په دغه ورځ	غوره دی	له جهته د هستوګنې	او ډیر ښه به وي	له جهته د خوب د غرمې

د جنت په دغه ورځ (د قیامت) غوره دی له جهته د هستوګنې او ډیر ښه به وي له جهته (د ځای) د خوب د غرمې (او راحت)

وَقَالَ الَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ لِقَآءَنَا لَوۡلَآ... دمشرکینو بې ځایه او تکبرانه سوالونه: دلفظ رجا عامه معنی دیو محبوب او مرغوب شي دامید راځي او کله دالفظ په معنی دبیري هم استعمالیږي لکه چي ابن الانباري رحمة الله علیه په کتاب الاضداد کي لیکلي دي دلته هم دا معنی دبیري زیاته واضحه ده یعني هغه خلګ کم چي زموږ په مخکي دپیش کیدو څخه نه بیریږي: په دي کي اشاره ددې خبري طرفته ده چي دبې کاره او جاهلانه سوالونو او فرمایشونو جرأت دهغه سړي کیدای سي کم چي دآخرت څخه بالکل منکروي ځوک چي آخرت مني پر هغه دآخرت فکر داسي غالب وي چي هغه ته دداسي خبرو او سوال او جواب فرصت نه ورکول کیږي: نن صبا چي کم دنوي تعلیم په اثر سره داسلام او دده داحکامو په باره کي ډیر خلګ په شبهو او بحث مباحثو کي مشغول لیدل کیږي: داهم علامه ددې ده چي معاذ الله په زړه کي یي دآخرت رښتینی یقین نسته او که دآخرت یقین وای نوبیا یي داسي فضول قسم سوالونه پر زړه نه ورته پیدا کیدل. (معارف القرآن ج ۷ پ۱۹ ص۱)

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ﴿٢٥﴾

وَيَوْمَ	تَشَقَّقُ	السَّمَآءُ	بِالْغَمَامِ	وَنُزِّلَ	الْمَلٰٓئِكَةُ	تَنْزِيْلًا
او هغه ورځ	چي توټي توټي به سي	آسمان	په وريځو سره	او نازلي به کړی سي	ملائيکي	په نازلولو سره

او (يادکړه) هغه ورځ (دقيامت) چي توټي توټي به سي آسمان په وريځو سره او نازلي به کړی سي ملائيکي په نازلولو سره

اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ِالْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ۭ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ

اَلْمُلْكُ	يَوْمَئِذٍ	الْحَقُّ	لِلرَّحْمٰنِ	وَكَانَ	يَوْمًا	عَلَى الْكٰفِرِيْنَ
ملک	په دغه ورځ	حق ثابت دی	دپاره د رحمٰن	او وی به	دغه ورځ	پر کفارو

ملک (او کامل سلطنت) په دغه ورځ (دقيامت) حق ثابت دی دپاره د رحمٰن، او وی به دغه ورځ (دقيامت) پر کفارو

عَسِيْرًا ﴿٢٦﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ

عَسِيْرًا	وَيَوْمَ	يَعَضُّ	الظَّالِمُ	عَلٰى يَدَيْهِ	يَقُوْلُ
ډيره سخته	او هغه ورځ	چي خوله به لګوی	ظالم	پر دواړو لاسونو خپلو	وايئ به

ډيره سخته. او (يادکړه ای محمده!) ورځ چي خوله به لګوی ظالم پر دواړو لاسونو خپلو (له ډيره غمه او افسوسه) وايئ به

يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا ﴿٢٧﴾ يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ

يٰلَيْتَنِي	اتَّخَذْتُ	مَعَ الرَّسُوْلِ	سَبِيْلًا	يٰوَيْلَتٰى	لَيْتَنِيْ
ای کاشکی	نيولی می وی	سره له رسوله	لاره	ای هلاکه ای عذابه زما	کاشکی

ای کاشکی نيولی می وی سره له رسوله (د الله د نجات حقه) لاره. ای هلاکه ای عذابه ای خرابی زما کاشکی

لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿٢٨﴾ لَقَدْ اَضَلَّنِيْ عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ

لَمْ اَتَّخِذْ	فُلَانًا	خَلِيْلًا	لَقَدْ	اَضَلَّنِيْ	عَنِ الذِّكْرِ	بَعْدَ
نه مي وی نيولی	فلانکی سړی	دوست خپل	خامخا په تحقيق	ګمراه کړی و مزه	له ذکره (د قرآن)	وروسته

نه مي وی نيولی فلانکی سړی دوست خپل. خامخا په تحقيق ګمراه کړی و مزه له ذکره پنده (د قرآن) وروسته

اِذْ جَآءَنِيْ ۭ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا ﴿٢٩﴾ وَقَالَ الرَّسُوْلُ

اِذْ جَآءَنِيْ	وَكَانَ	الشَّيْطٰنُ	لِلْاِنْسَانِ	خَذُوْلًا	وَقَالَ الرَّسُوْلُ
له هغه چي راغی ماته	او دی	شيطان	دپاره د انسان	غولوونکی	او وويل رسول (د الله)

له هغه چي راغی ماته، (دغه ذکر نو فرمائی الله) او دی شيطان دپاره د انسان لغوونکی غولوونکی. او وويل رسول (د الله)

يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا.. دا يت

دنازليدو يوه خاصه واقعه

دغه آيت په يوه خاصه واقعه کي نازل سوی دی: مګر حکم يي عام دی واقعه دا وه چي عقبه ابن ابی معيط دمکي دمشرکينو دسردارانو څخه وو دده عادت دا وو چي کله به ديو سفر څخه بيرته راغی نو دښار معززو خلګو ته به يي ميلميستيا کوله او اکثره به يي نبي کريم ﷺ په کښي هم رابلی يو وار دعادت موافق ده دښار معززينو ته دعوت ورکی او نبي کريم ﷺ يي هم په کښي رابللی وو کله چي ورته ده خوراک کښيښووی نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چي زه ستا ډوډی ترهغه وخته نه خورم تر څو پوري چي ته داشاهدي اداء نه کړي چي الله جل جلاله يو دی دده سره څوک په عبادت کي شريک نسته او دا چي زه دالله جل جلاله رسول او نبي يمه عقبه دا کلمه وويله او نبي کريم ﷺ دشرط مطابق ډوډی وخوړه دعقبه يو ډير نژدې ملګری وو ابی ابن خلف هغه چي کله خبر سونو راغی ډير په قهر او غصه وو ده ته خو عقبه ورته عذر وکی چي دقريشو عزتمند: پاته قصه پر راروان مخ وګوری.

يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴿٣٠﴾

يٰرَبِّ	اِنَّ	قَوْمِي	اتَّخَذُوْا	هٰذَا	الْقُرْاٰنَ	مَهْجُوْرًا
ای ربه زما	په تحقیق	قوم زما	نیولی دی	دغه	قرآن	ترک کړی سوی

ای ربه زما په تحقیق قوم زما نیولی دی دغه قرآن ترک کړی سوی (چی نه پری ایمان راوړی او نه پری عمل کوی)

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ ۗ

وَكَذٰلِكَ	جَعَلْنَا	لِكُلِّ	نَبِيٍّ	عَدُوًّا	مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ
او هم داسی	ګرځولی ؤ موږ	دپاره د هر	نبی	دښمنان	له مجرمانو (کفارو)

او هم داسی ګرځولی ؤ موږ (پخوا له تا څخه) دپاره د هر نبی دښمنان له مجرمانو (کفارو نو صبر وکړه په شان د نورو انبیاؤ)

وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا ﴿٣١﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

وَكَفٰى	بِرَبِّكَ	هَادِيًا	وَّنَصِيْرًا	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
او کافی دی	رب ستا	صافه لار ښوونکی	او ښه مدد کوونکی	او وایئ	هغه کسان	چی کافران سوی دی

او کافی دی رب ستا سمه صافه لار ښوونکی او ښه مدد کوونکی (پر اعداؤ) . او وایئ هغه کسان چی کافران سوی دی

لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ

لَوْلَا نُزِّلَ	عَلَيْهِ	الْقُرْاٰنُ	جُمْلَةً	وَّاحِدَةً	كَذٰلِكَ	لِنُثَبِّتَ
ولی نه نازلاوه سی	پر دغه (محمد)	قرآن	ټول	په یووار	هم داسی (لږلږ)	چی ثابت محکم قوی کړو

ولی نه نازلاوه سی پر دغه (محمد) قرآن ټول یو وار (نو فرمائی الله) هم داسی (لږلږ نازلوو) چی ثابت محکم قوی کړو

بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ

بِهٖ	فُؤَادَكَ	وَرَتَّلْنٰهُ	تَرْتِيْلًا	وَلَا يَاْتُوْنَكَ	بِمَثَلٍ
په دغه	زړه ستا	او ویلی دی موږ دغه ټوټی ټوټی	په آرام ویلو سره	او نه راوړی دوی تاته	کوم مثل

په دغه (قرآن سره) زړه ستا او لوستلی دی موږ دغه ټوټی ټوټی په آرام لوستلو سره .او نه کوی دوی راتله تاته کوم مثل

اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ﴿٣٣﴾ اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ

اِلَّا جِئْنٰكَ	بِالْحَقِّ	وَاَحْسَنَ	تَفْسِيْرًا	اَلَّذِيْنَ	يُحْشَرُوْنَ
مګر راوړو موږ تاته	په حق سره	او ډیر ښه	تفسیر بیان	(دوی) هغه کسان دی	چی جمع به کړه سی

مګر راوړو موږ تاته (جواب د هغه)په حق سره او ډیر ښه تفسیر بیان. (دوی) هغه کسان دی چی جمع به کړه سی اوشړل به سی

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ. د تیر مخ پاته قصه دلته وګوری: میلمه محمد ﷺ زموږ کور ته راغلی وو که هغه بغیر دخوراک کولو څخه زموږ دکوره څخه وتلی وای نو دابه زما دپاره لویه رسوایي وای په دې وجه ما دهغه دخاطره داکلمه وویله ابی ابن خلف ورته وویله چې زه ستا داسي خبري او عذرونه نه قبلوم تر څو چې ته ولاړ نه سي او دهغه پر مخ باندي ناړي توک نه کړي عقبه بدبخته هم ددغه خپل دوست په وينا باندي دغه کار ته تيار سو او دغه بې باکي يي تر سره کړه ورغی دنبي کريم ﷺ پر مخ مبارک يي تو کړه: نو بيا الله ﷻ دوی دواړه په دې دنيا کي هم ذليله او خوار کړه هغه داچي دواړه دبدر په غزا کي مردار سوله په ډير ذلت او شرمندګی سره: او په آخرت کي يي ددوی دعذاب ذکر په دغه آيت کي کړی دی چي کله دی دآخرت عذاب ويني نو دغه وخت به په پښيمانتيا او افسوس سره خپل لاسونه چيچي وايي به چي کاشکي ما فلانی ابی ابن خلف دوست نه وای جوړ کړی الخ.
(معارف القرآن ج ٧ پ١٩ ص ۴)

ع ٣ ١

عَلٰى وُجُوۡهِهِمۡ اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓـئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيۡلًا ﴿٣٤﴾ ع

عَلٰى وُجُوۡهِهِمۡ	اِلٰى	جَهَنَّمَ	اُولٰٓـئِكَ	شَرٌّ	مَّكَانًا	وَّاَضَلُّ	سَبِيۡلًا
پرمخونوخپلو	طرف	د دوزخ ته	دغه ټولی	بد دی	له جهته د ځایه	او ډیر گمراهان دی	له جهته د لاری

پرمخونوخپلو طرف د دوزخ ته دغه ټولي بد دي له جهته د ځایه او ډیر بنویدلي دي له جهته د لاری او ډیر گمراهان دي .

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡـكِتٰبَ وَجَعَلۡنَا مَعَهٗۤ اَخَاهُ

وَلَقَدۡ	اٰتَيۡنَا	مُوۡسَى	الۡـكِتٰبَ	وَجَعَلۡنَا	مَعَهٗۤ	اَخَاهُ
او خامخا په تحقیق	ورکړی ؤ موږ	موسٰی ته	کتاب	او گرځولی ؤ موږ	له دغه (موسٰی) سره	ورور د ده

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ موږ موسٰی ته کتاب (توریت) او گرځولی ؤ موږ له دغه (موسٰی) سره ورور د ده

هٰرُوۡنَ وَزِيۡرًا ۚ﴿٣٥﴾ فَقُلۡنَا اذۡهَبَاۤ اِلَى الۡقَوۡمِ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا

هٰرُوۡنَ	وَزِيۡرًا	فَقُلۡنَا	اذۡهَبَاۤ	اِلَى الۡقَوۡمِ	الَّذِيۡنَ	كَذَّبُوۡا
هارون	وزیر	پس وویل موږ	لاړ سئ دواړه	هغه قوم ته	چي	دروغجن يئ شمیرلی دی

هارون وزیر (مددگار) . پس وویل موږ (دوی ته چي) لاړ سئ دواړه هغه قوم ته چي دروغجن يئ شمیرلی دی

بِاٰيٰتِنَا ؕ فَدَمَّرۡنٰهُمۡ تَدۡمِيۡرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوۡمَ نُوۡحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا

بِاٰيٰتِنَا	فَدَمَّرۡنٰهُمۡ	تَدۡمِيۡرًا	وَقَوۡمَ	نُوۡحٍ	لَّمَّا	كَذَّبُوا
آیتونه زموږ	پس هلاک کړل موږ فرعونیان	په هلاکولو سره	او قوم	د نوح	کله چي	دروغجن وشمیرل دوی

آیتونه زموږ پس هلاک کړل موږ فرعونیان په هلاکولو سره او قوم د نوح کله چي دروغجن وشمیرل دوی

الرُّسُلَ اَغۡرَقۡنٰهُمۡ وَجَعَلۡنٰهُمۡ لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ وَاَعۡتَدۡنَا

الرُّسُلَ	اَغۡرَقۡنٰهُمۡ	وَجَعَلۡنٰهُمۡ	لِلنَّاسِ	اٰيَةً	وَاَعۡتَدۡنَا
رسولان خپل	غرق کړل موږ دوی	او وگرځول موږ دوی	دپاره د خلگو	دلیل	او تیار کړی دی موږ

رسولان خپل (نوح، ادریس، شیث) غرق کړل موږ دوی او وگرځول موږ دوی دپاره د خلگو دلیل او تیار کړی دی موږ

لِلظّٰلِمِيۡنَ عَذَابًا اَلِيۡمًا ۚ﴿٣٧﴾ وَّعَادًا وَّثَمُوۡدَا۟ وَاَصۡحٰبَ الرَّسِّ

لِلظّٰلِمِيۡنَ	عَذَابًا	اَلِيۡمًا	وَّعَادًا	وَّثَمُوۡدَا۟	وَاَصۡحٰبَ	الرَّسِّ
دپاره د ظالمانو	عذاب	ډیر دردناک	او عادیان	او ثمودیان	او صاحبان	دڅاه

دپاره د ظالمانو عذاب ډیر دردناک . او (هلاک کړل موږ) عادیان او ثمودیان او صاحبان (یاران) د کوهی (دڅاه)

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡـكِتٰبَ وَجَعَلۡنَا مَعَهٗۤ. حضرت موسی علیه السلام او هارون علیه السلام الله جل جلاله دفرعون وقوم ته ورواستول: په دغه آیت کي الله ﷻ فرمایي چي موږ موسی علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام وفرعون ته او دده قوم ته ورواستول خو هغوی دوی ته نسبت ددرواغو وکی او زموږ ایاتونه یي درواغجن کړل: اوس سوال دادی چي ایاتونه یي څنگه درواغجن کړل او تراوسه پوري خو تورات نازل سوی لا نه وو؟ جواب علماوو داورکړی دی چي دایاتونو ددرواغجن کیدو څخه مراد یا خو دتوحید عقلي دلیلونه دي کم چي هر انسان ته دده دعقل مطابق معلومیدی سي په هغه کي فکر نه کولو ته یي درواغجن کول دایاتونو وفرمایل: او یا داچي دتیرو انبیاوو روایتونه کم چي په هر قوم کي څه نا څه په نقل سره راروان وي دهغو څخه انکار مراد دی لکه چي په قرآن کریم کي فرمایي (ولقد جآء کم یوسف من قبل بالبینات) په دي کي دتیرو پیغمبرانو تعلیم دی او دا خلگو ته په نقل سره ښوول سوي دي (بیان القرآن).
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ص ۸)

وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ﴿٣٨﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ

وَقُرُوْنًا	بَيْنَ	ذٰلِكَ	كَثِيْرًا	وَكُلًّا	ضَرَبْنَا	لَهُ	الْاَمْثَالَ
او نور اهل دزمانو	په مینځ	د دوی کښې	ډیر	او هریو لهٔ دی څخه	بیان کړیٔ وُ موږ	ده ته	مثالونه

او نور اهل د زمانو په مینځ د دوی کښې ډیر. او هریو لهٔ دی څخه بیان کړیٔ وُ موږ ده ته مثالونه (دعبرت په اقامت)

وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ

وَكُلًّا	تَبَّرْنَا	تَتْبِيْرًا	وَلَقَدْ	اَتَوْا	عَلَى الْقَرْيَةِ	الَّتِيْٓ
او ټول مو	هلاک کړل	په هلاکولو سره	او خامخا په تحقیق	تیر سوی دی	پر قریو کلیو ، ښارونو	هغو چي

او ټول مو هلاک کړل په هلاکولو سره . او خامخا په تحقیق تیر سوی دی پر قریو کلیو ښارونو هغو چي

اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ؕ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوْا

اُمْطِرَتْ	مَطَرَ	السَّوْءِ	اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا	يَرَوْنَهَا	بَلْ كَانُوْا
وروِلی سوی وُ پری	باران	دبدی	آیا پس نهٔ وُ دغه (کفار)	چي لیدلی ئی وی هغه (قریه)	بلکه وُ دوی

وروِلی سوی وُ پری باران دبدی (دعذاب)، آیا پس نهٔ وُ دغه (کفار) چي لیدلی ئی وی هغه (قریه) بلکه وُ دوی

لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿٤٠﴾ وَاِذَا رَاَوْكَ اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ

لَا يَرْجُوْنَ	نُشُوْرًا	وَاِذَا	رَاَوْكَ	اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ	اِلَّا	هُزُوًا
چي نه به یئ درلود امید	دبیا ژوندی کیدلو	او کله چي	ووینی دوی تا	نو نه نیسی دوی تا	مګر	په ټوکو سره

چي نه به ئی درلود امید دبیا ژوندی پورته کیدلو . او کله چي ووینی دوی تا نو نه نیسی دوی تا مګر ځای د مسخری

اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ﴿٤١﴾ اِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا

اَهٰذَا	الَّذِيْ	بَعَثَ	اللّٰهُ	رَسُوْلًا	اِنْ كَادَ	لَيُضِلُّنَا
آیا دغه	هغه (سړی) دی	چي رالیږلی دی	الله	رسول	بیشکه! چي دی نژدی وُ	چي خامخا ګمراه کړی یئ وی موږ

آیا دغه هغه (سړی) دی چي رالیږلی دی الله رسول (موږ ته ؟) . بیشکه! چي دی نژدی وُ چي خامخا ګمراه کړی یئ وی موږ

عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ؕ وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ حِيْنَ

عَنْ اٰلِهَتِنَا	لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا	عَلَيْهَا	وَسَوْفَ	يَعْلَمُوْنَ	حِيْنَ
له خدایانو زموږ	که صبر نه وی کړی موږ	په (عبادت) د دوی	او ژر به	پوه سی دوی	کله چي

له خدایانو زموږ که صبر نه وی کړی موږ په (عبادت) د دوی (نو فرمائی الله) او ژر به پوه سی دوی کله چي

وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا...

دهرامت دهلاکت څخه مخکي الله ﷻ هغوی ته اثرناک مضامین بیان کړي دي: په دغه آیت کي دالله ﷻ ارشاد دی چي سابقه قومونه لکه عادیان او ثمودیان دا موږ هلاک کړي دي خو په دوی کي دهریوه امت دهدایت دپاره موږ عجیبه عجیبه اثرناک او بلیغ مضامین بیان کړل او کله چي یي ونه منل نو موږ ټول برباد کړل اودغه کفار دمکې چي کله شام ته سفرونه کوي نو دوی پر دغه کلو باندي تیریږي راتیریږي پر کمو کلو چي ډیر بد قسم باران ډېرو سوی وو یعني قوم او کلي دلوط علیه السلام نو آیا دې خلګو دغه نه دی لیدلی بیاهم عبرت نه اخلي چي کفر او درواغجن کول پریږدي دکم په وجه چي قوم دلوط علیه السلام سزا پیدا کړې وه پس خبره داده چي دعبرت نه اخیستو وجه دانه ده چي ګوندي دغه کلي دوی نهویني بلکي اصل وجه ددې داده چي داخلګ دبیا ژوندي کیدو یقین نه لري یعني دآخرت څخه منکره دي په دې وجه کفر دسزا موجب نه ګڼي اوداخپل هلاکت دکفر وبال هم نه بولي.
(معارف القرآن ج ٧ پ ١٩ ص ١٠)

يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ أَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ

يَرَوْنَ	الْعَذَابَ	مَنْ أَضَلُّ	سَبِيلًا	أَرَءَيْتَ	مَنِ اتَّخَذَ
ويني دوی	عذاب	چي څوک دی ډيرګمراه	له جهته دلاري	آيا ويني خبريږ ته	په هغه چاچي نيولي دی

ويني دوی عذاب (دقيامت بنکاره) چي څوک دی ډير ګمراه له جهته د لاري. آيا ويني خبريږ ته په هغه چاچي نيولي دی

إِلَٰهَهُ هَوَاهُ ۚ أَفَأَنْتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ أَمْ تَحْسَبُ

إِلَٰهَهُ	هَوَاهُ	أَفَأَنْتَ	تَكُونُ	عَلَيْهِ	وَكِيلًا	أَمْ تَحْسَبُ
دغه خدای خپل	هوا (دنفس خپل)	آيا پس ته	به يې	په ده باندی	وکيل	آيا ګمان کوی ته

دغه خدای خپل هوا (دنفس خپل) آيا پس ته به يې په ده باندی وکيل (ساتونکی). آيا ګمان کوی ته

أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ

أَنَّ	أَكْثَرَهُمْ	يَسْمَعُونَ	أَوْ يَعْقِلُونَ	إِنْ هُمْ	إِلَّا	كَالْأَنْعَامِ
چي په تحقيق	اکثر د دوی	آوري	يا عقل چلوي	نه دی دوی	مګر	په شان د چارپايانو دی

چي په تحقيق اکثر د دوی آوري يا عقل چلوي (پوهيږي) نه دی دوی مګر په شان د چارپايانو دی (په پند نه اوريدلو کښي)

بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ

بَلْ هُمْ	أَضَلُّ	سَبِيلًا	أَلَمْ تَرَ	إِلَىٰ رَبِّكَ	كَيْفَ
بلکه لا دوی	ډيرلري دی	له لاري	آيا نه دی کتلي تا	رب خپل ته	چي څرنګه يې

بلکه لا دوی ډير لري دی له لاري (د صواب څخه). آيا نه دی کتلي تا (قدرت د) رب خپل ته چي څرنګه يې

مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا

مَدَّ	الظِّلَّ	وَلَوْ شَاءَ	لَجَعَلَهُ	سَاكِنًا	ثُمَّ	جَعَلْنَا
غځولی دی	سيوری	او که يې اراده فرمايلي وی	نو خامخا ګرځولی به يې ؤ هغه	ولاړ	بيا	وګرځاوه موږ

غځولی دی سيوری او که يې اراده فرمايلي وی نو خامخا ګرځولی به ئې ؤ هغه (سيوری) ولاړ، بيا وګرځاوه موږ

الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنَاهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾

الشَّمْسَ	عَلَيْهِ	دَلِيلًا	ثُمَّ	قَبَضْنَاهُ	إِلَيْنَا	قَبْضًا	يَسِيرًا
لمر	په دی	دليل	بيا	راټول کړو موږ هغه	ځان خپل ته	په راټولولو	آسانو سره

لمر په دی (سيوری) دليل (چي سيوری پری معلوميږي) بيا راټول کړو موږ هغه ځان خپل ته په راټولولو آسانو سره.

ع ۴

أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ... دالله ﷻ په مخلوقاتو کي داسباباو مسبباتو ديويل سره تعلق او بيا تول دقدرت تابع کيدل: په ذکر سره اياتونو کي دالله ﷻ دکامل قدرت او پر بندګانو دده دانعاماتو او احساناتو ذکر دی په کمو سره چي دحق تعالى ﷻ توحيد او دده دعبادت مستحق کيدل اودده سره په عبادت کي بل څوک نه شريکول دا هم ثابتيږي: په ايت کي الله ﷻ فرمايي (الم ترالی ربک کيف مدالظل...) غرمه او سايه دوه داسي نعمتونه دي چي ددي څخه بغير انساني ژوند او دده کاروبار نه سي چليدلای چي هرځای او هر وخت غرمه غرمه وي نو دانسان او هر حيوان دپاره به څومره مصيبت جوړسي داخوظاهره خبره ده او دسايي هم داحال دی چي که هرځای هر وخت سايه سايه وي او هيڅکله غرمه نه وي نو دانسان صحت او تندرستي نه سي پاته کيدای او په نورزرګونو کارونو کي به هم خلل راسي الله ﷻ دادواړه نعمتونه په خپل کامل قدرت سره پيداکړل او دانسانانو دپاره يي سبب دراحت وګرځول الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۷)

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا

وَهُوَ	الَّذِيْ	جَعَلَ لَكُمُ	الَّيْلَ	لِبَاسًا	وَّالنَّوْمَ	سُبَاتًا
او هم دغه	هغه (ذات) دی	چی گرځولی یئ ده تاسی ته	شپه	لباس (جامی)	او خوب	آرامی

او هم دغه (الله) هغه (ذات) دی چی گرځولی یئ ده تاسی ته (په کامل قدرت خپل سره) شپه لباس او خوب آرامی

وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ۝ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ

وَّجَعَلَ	النَّهَارَ	نُشُوْرًا	وَهُوَ الَّذِيْٓ	اَرْسَلَ	الرِّيٰحَ
او گرځولی یئ ده	ورځ	وخت د پورته کیدلو	او هم دغه (الله) هغه (ذات) دی	چی رالیږلی یئ دی	بادونه

او گرځولی یئ ده ورځ وخت د بنوریدلو (لپاره د طلب د معاش). او هم دغه (الله) هغه (ذات) دی چی رالیږلی ئی دی بادونه

بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۚ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوْرًا ۝۴۸

بُشْرًاۢ	بَيْنَ يَدَيْ	رَحْمَتِهٖ	وَاَنْزَلْنَا	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	طَهُوْرًا
زیری کوونکی	دوړاندی	درحمت د دغه	اونازلی کړی دی موږ	لهآسمانه	اوبه	پاکی پاکوونکی

زیری کوونکی د وړاندی درحمت د دغه، او نازلی کړی دی موږ له (طرفه) دآسمانه اوبه پاکی پاکوونکی

لِّنُحْيِۦَ بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا وَّنُسْقِيَهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ اَنْعَامًا

لِّنُحْيِۦَ	بِهٖ	بَلْدَةً	مَّيْتًا	وَّنُسْقِيَهٗ	مِمَّا	خَلَقْنَآ	اَنْعَامًا
لپاره ددی چی ژوندی کړو موږ	په دی	ملکه	مړه	او چی ورو څښوو دغه	په هغو شیانو	چی پیدا کړی دی موږ	له چارپایانو

لپاره د دی چی ژوندی کړو موږ په دی ملکه مړه او چی ورو څښوو دغه (اوبه) په هغو شیانو چی پیدا کړی دی موږ له چارپایانو

وَّاَنَاسِيَّ كَثِيْرًا ۝۴۹ وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوْا

وَّاَنَاسِيَّ	كَثِيْرًا	وَلَقَدْ	صَرَّفْنٰهُ	بَيْنَهُمْ	لِيَذَّكَّرُوْا
اوانسانانو	ډیروته	او خامخا په تحقیق	په راز راز ډولونو تقسیم کړی دی موږ دغه	په مینځ ددوی کښی	دپاره ددی چی غور وکړی

او انسانانو ډیروته .او خامخا په تحقیق په راز راز ډولونو تقسیم کړی دی موږ دغه په مینځ د دوی کښی دپاره چی فکر وچلوی دوی

فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ۝۵۰ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ

فَاَبٰٓى	اَكْثَرُ	النَّاسِ	اِلَّا كُفُوْرًا	وَلَوْ شِئْنَا	لَبَعَثْنَا	فِيْ كُلِّ	قَرْيَةٍ
پس منع راوړه	زیاترو	خلکو	مگر کافرانو	او که اراده فرمایلی وای موږ	راپورته کړی به مو وای	په هره	قریه کښی

پس منع راوړه زیاترو خلکو مگر کافرانو . او که اراده فرمایلی وی نو خامخا راپورته کړی به مو وی په هره قریه بناره کښی

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا.. په شپه کي دخوب اوپه ورځ کي دکار خاص کول هم پرلوی حکمت مبني دی: په دې ایت کي یي شپه دجامې په لفظ سره تعبیر کړیده چي لکه څنګه چي جامه دانسان دټول بدن پټوونکی ده دغه رکم شپه دیوې قدرتي پر دې څادر دی کمه چي پر ټول کائناتو باندي پرده اچوي: سباتاً دسبت څخه جوړ دی چي اصل معنی یي پریکول دي سبات هغه شی دی په کم سره چي بل شی پری سي: خوب الله جل جلاله داسي شی جوړ کړی دی چي دټولي ورځي دمحنتونو ستړی والی او کمزوري په دې سره قطع کیږي: فکرونه او خیالات قطع او دماغونو ته ارام ورکول کیږي په دې وجه دسبات ترجمه په راحت سره کول کیږي :معنی دآیت داسوه چي موږ شپه پټوونکې شی جوړ کی بیا په دې کي یي پر انسان او پر ټولو حیواناتو خوب مسلط کی کم چي ددوی دآرام او راحت اسباب دي: په قرآن کریم کي بل ځای هم الله جل جلاله فرمایي (وجعلنا نومکم سباتا) چي خوب موږ تاسي ته راحت جوړ کړی دی الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۱۹ ص ۱۹)

نَذِيْرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا

نَذِيْرًا	فَلَا تُطِعِ	الْكٰفِرِيْنَ	وَجَاهِدْهُمْ	بِهٖ	جِهَادًا
بیره وونکی	نو مه کوه اطاعت	دکافرانو	او مجاهده مقابله کوه له دوی سره	په دغه	په جهاد

(بیل بیل) بیره وونکی. نو مه کوه اطاعت دکافرانو او مجاهده مقابله کوه له دوی سره په دغه (قرآن او توفیق دالله) په جهاد

كَبِيْرًا ﴿٥٢﴾ وَهُوَ الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ

كَبِيْرًا	وَهُوَ الَّذِيْ	مَرَجَ	الْبَحْرَيْنِ	هٰذَا	عَذْبٌ	فُرَاتٌ
لوی	او هم دغه (الله) هغه ذات دی	چی یو ځای کړی یئ دی	دوه بحرونه	چی دغه	خوږ دی	ډیر خوږ تنده ماتوونکی

لوی. او هم دغه (الله) هغه ذات دی چی یو ځای کړی یئ دی دوه بحرونه چی دغه خوږ دی ډیر خوږ تنده ماتوونکی

وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٥٣﴾

وَّهٰذَا	مِلْحٌ	اُجَاجٌ	وَجَعَلَ	بَيْنَهُمَا	بَرْزَخًا	وَّحِجْرًا	مَّحْجُوْرًا
او هغه بل	تریو دی	ښه تریو	او ګرځولی ده (الله)	په مینځ د دغو دواړو کښی	پرده	او بند	مضبوط

او هغه بل تریو دی ښه تریو ، او ګرځولی ده (الله) په مینځ د دغو دواړو کښی پرده او بند مضبوط چی منع کړی سوی دی .

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا

وَهُوَ	الَّذِيْ	خَلَقَ	مِنَ الْمَآءِ	بَشَرًا	فَجَعَلَهٗ	نَسَبًا
او هم دغه (الله)	هغه (ذات) دی	چی پیدا کړی یئ دی	له اوبو څخه	انسان	پس ګرځولی یئ دی	نسب

او هم دغه (الله) هغه (ذات) دی چی پیدا کړی یئ دی له اوبو څخه بشر انسان پس ګرځولی یئ دی (خاوند د) نسب

وَّصِهْرًا ؕ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا

وَّصِهْرًا	وَكَانَ	رَبُّكَ	قَدِيْرًا	وَيَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	مَا
او سخرګنی	او دی	رب ستا	ښه قادر دی	او عبادت کوی دوی	بی له	الله	د هغه شی چی

او سخرګنی، او دی رب ستا ښه قادر، او عبادت کوی (دا مشرکان) بی له الله د هغه شی چی

لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ؕ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيْرًا ﴿٥٥﴾

لَا يَنْفَعُهُمْ	وَلَا يَضُرُّهُمْ	وَكَانَ	الْكَافِرُ	عَلٰى	رَبِّهٖ	ظَهِيْرًا
نسی رسولی هیڅ نفع دوی ته	او نه هیڅ ضرر دوی ته	او دی	کافر	پر (نافرمانی)	د رب خپل	مددګار

نسی رسولی هیڅ نفع دوی ته او نه هیڅ ضرر رسولی سی دوی ته او دی (جنس د) کافر په (نافرمانی) د رب خپل مددګار

وَهُوَ الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ.

دالله دقدرت بله نښه: لفظ د (مرج) دآزاد پریښودو په معنی کي راځي په دې وجه سره مرج چراه ګاه ته وايي کم ځای چي حیوان په ازادی سره ګرځي راګرځي: (عذب) خوږو اوبو ته ویل کیږي: الله ﷻ په خپل فضل او بالغ حکمت سره په دنیاکي دوه قسمه دریابونه پیدا کړي دي یو دټولو څخه لوی بحر محیط کم ته چي سمندر وايي او دمځکي ټول اطراف په دې کي راګیر دي: څلورمه حصه ددې څخه خالي ده چي ټوله دنیا پر آباده ده داټول دریاب دحکمت په تقاضا سره مالګين تریخ او بدخونده دی دمځکي پرآباده حصه دآسمان څخه دنازلوسوو اوبو چیني نالی نهرونه او لوی لوی سیندونه دي داټولي خوږې مزیداري او خوندوري دي انسان ته دخپلو چیښلو او تندی ماتولو او روزانه استعمال دپاره دداسي خوږو اوبو ضرورت دی کم چي الله ﷻ دمځکي پرآباده حصه باندي په مختلفو صورتونو کي تیاري کړي دي لیکن که داسمندر خوږ وای نو دخوږواوبو خاصیت دادی چي هغه ډیر ژر ورستیږي:

(معارف القرآن ج ٧ پ ١٩ ص ٢٢)

وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيۡرًا ﴿٥٦﴾ قُلۡ مَآ اَسۡـَٔلُكُمۡ

وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ	اِلَّا	مُبَشِّرًا	وَّنَذِيۡرًا	قُلۡ	مَآ اَسۡـَٔلُكُمۡ
او نه يئ ليږلى مونږ ته	مګر	زيرى کوونکى	او يېرونکى	ووايه (محمده)	نه غواړم زه له تاسى

او نه ئى ليږلى مونږ ته مګر زيرى کوونکى (په نعيم سره) او يېرونکى (په جحيم سره) . ووايه (محمده) نه غواړم زه له تاسى

عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ اِلَّا مَنۡ شَآءَ اَنۡ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيۡلًا ﴿٥٧﴾

عَلَيۡهِ	مِنۡ اَجۡرٍ	اِلَّا	مَنۡ شَآءَ	اَنۡ يَّتَّخِذَ	اِلٰى	رَبِّهٖ	سَبِيۡلًا
په دى	هيڅ قدر مزدورى	مګر	دهغه چاچى خوښه يئ سى	داچى ونيسى	طرف	درب خپل ته	لاره (درضاء)

په دى (پيغام رسونه) هيڅ قدر اجر مزدورى مګر دهغه چا چى خوښه ئى سى دا چى ونيسى طرف د رب خپل ته لاره (درضاء)

وَتَوَكَّلۡ عَلَى الۡحَيِّ الَّذِيۡ لَا يَمُوۡتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهٖ ؕ وَكَفٰى

وَتَوَكَّلۡ	عَلَى الۡحَيِّ	الَّذِيۡ	لَا يَمُوۡتُ	وَسَبِّحۡ	بِحَمۡدِهٖ	وَكَفٰى
او توکل وکړه	پرتل ژوندى قائم په تدبير	هغه (الله)	چى نه مرى	او تسبيح ووايه	سره له ثناء دده	او بس کافى دى

او توکل وکړه پر تل ژوندى قائم په تدبير هغه (الله) چى (له سره) نه مرى او تسبيح ووايه سره له ثناء د ده ، او بس کافى دى

بِهٖ بِذُنُوۡبِ عِبَادِهٖ خَبِيۡرًا ﴿٥٨﴾ ۛ الَّذِيۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

بِهٖ	بِذُنُوۡبِ	عِبَادِهٖ	خَبِيۡرًا	الَّذِيۡ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ
هغه	په ګناهونو	دبندګانو خپلو	ښه خبردار دى	هغه (الله)	چى پيدا کړى يئ دى	آسمانونه

هغه په ګناهونو دبندګانو خپلو ښه خبردار . هغه (الله) چى پيدا کړى يئ دى آسمانونه

وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِىۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى

وَالۡاَرۡضَ	وَمَا بَيۡنَهُمَا	فِىۡ سِتَّةِ	اَيَّامٍ	ثُمَّ	اسۡتَوٰى	عَلَى
او ځمکه	او هغه چى په مينځ د دغو دواړو کښى دى	په (مقدار) د شپږو	ورځو	بيا	قائم مستولى سو	پر

او ځمکه او هغه چى په مينځ د دغو دواړو کښى دى په (مقدار) د شپږو ورځو بيا قائم مستولى سو (امر او حکم د الله) پر

الۡعَرۡشِ ۛ اَلرَّحۡمٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهٖ خَبِيۡرًا ﴿٥٩﴾ وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمُ

الۡعَرۡشِ	اَلرَّحۡمٰنُ	فَسۡـَٔلۡ	بِهٖ	خَبِيۡرًا	وَاِذَا	قِيۡلَ	لَهُمُ
عرش	ډير مهربان دى	پس وپوښته	ددغه	له کوم ښه خبردار عالم څخه	او کله چى	وويلى سى	دوى ته

عرش (الله چى دى) ډير مهربان دى پس وپوښته (د دغه خلق) له کوم ښه خبردار عالم څخه . او کله چى وويلى سى دوى ته

قُلۡ مَآ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ اِلَّا مَنۡ...نبي کريم ﷺ پر دعوت او تبليغ باندي مزدوري او تنخواه نه اخيستله : يعني دغه کفاروته تاسي ووايا ست چي تاسي ته دايمان دعوت او دالله جل جلاله اودرسول ﷺ په حکمونو باندي دعمل کولو طرف ته رابلل ستاسي کاميابي ده او په دي کي زما هيڅ دنيوي فايده نسته زه خپل ددغه محنت ستاسي څخه هيڅ اجر او معاوضه نه غواړمه زما فائده ددي څخه ماسوا نوره نسته چي دچا زړه غواړي دالله جل جلاله لاره اختياره کړي او داخبره هم ښکاره ده چي څوک پر سمه لار روان سو نو فائده دده خپله ده داخپله فائده ګڼل دپيغمبرانه شفقت طرف ته اشاره ده چي زه ستاسي فائده خپله فائده ګڼم داداسي ده لکه يو بوډاضعيف پلار چي اولاد ته وايي چي تاسي خورى چيښى او خوشحاله اوسيږى دازما خوړل او چيښل او دا زما خوشحالي ده : او دا هم احتمال دى چي دايي خپله فائده په دي لحاظ سره بللي وي چي ثواب يي الله جل جلاله ده ته ورکوي لکه چي په احاديثو کي چي دا مضمون راغلى دى.
(معارف القرآن ج ٧ پ ١٩ ص ٢٣)

السجدة ٧ ع٦

اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ اَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا

اسْجُدُوْا	لِلرَّحْمٰنِ	قَالُوْا	وَمَا	الرَّحْمٰنُ	اَنَسْجُدُ	لِمَا	تَأْمُرُنَا
چي سجده كوئ	رحمٰن ته	نو وايئ	څه شى دى	رحمٰن	آيا سجده به كوو موږ	هرهغه شى ته	چي امر كوى ته موږ ته

چي سجده (دعبادت) كوئ رحمٰن ته نو وايئ څه شى دى رحمٰن؟ آيا سجده به كوو موږ هر هغه شى ته چي امر كوى ته موږ ته

وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿٦٠﴾ تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا

وَزَادَهُمْ	نُفُوْرًا	تَبٰرَكَ	الَّذِيْ	جَعَلَ	فِي السَّمَآءِ	بُرُوْجًا
او زياتوى دوى ته	نفرت	لوى بركتناك دى	هغه ذات	چي پيدا كړي يئ دى	په آسمان كښې	برجونه

او زياتوى (دغه يادول د رحمٰن) دوى ته نفرت. لوى بركتناك دى هغه ذات چي پيدا كړي يئ دى په آسمان كښې برجونه

وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ

وَّجَعَلَ	فِيْهَا	سِرٰجًا	وَّقَمَرًا	مُّنِيْرًا	وَهُوَ الَّذِيْ	جَعَلَ
او پيدا كړي يئ ده	په كښې	ډيوه (لمر)	او سپوږمى	روښانه	او هم دا (الله) هغه (ذات) دى چي	گرځولي يئ ده

او پيدا كړي يئ ده په كښې ډيوه (لمر) او سپوږمى روښانه. او هم دا (الله) هغه (ذات) دى چي گرځولي يئ ده

الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ

الَّيْلَ	وَالنَّهَارَ	خِلْفَةً	لِّمَنْ	اَرَادَ	اَنْ يَّذَّكَّرَ	اَوْ اَرَادَ
شپه	او ورځ	پرله پسى	دپاره د هغه چاچي	اراده لري	د دى چي ياد كړي (نعمتونه درب)	يا اراده لري

شپه او ورځ (سره مخالف يا خليفه يو د بل) پرله پسى دپاره د هغه چا چي اراده لري د دى چي ياد كړي يا اراده لري

شُكُوْرًا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا

شُكُوْرًا	وَعِبَادُ	الرَّحْمٰنِ	الَّذِيْنَ	يَمْشُوْنَ	عَلَى الْاَرْضِ	هَوْنًا
د شكر ايستلو	او بندگان	د رحمٰن	هغه كسان دى	چي گرځى دوى	پر مځكه باندى	په عاجزى سره

د شكر ايستلو. او بندگان د رحمٰن هغه كسان دى چي گرځى دوى په مځكه باندى په عاجزى سره (په تواضع)

وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿٦٣﴾ وَالَّذِيْنَ

وَّاِذَا	خَاطَبَهُمُ	الْجٰهِلُوْنَ	قَالُوْا	سَلٰمًا	وَالَّذِيْنَ
او كله چي	خطاب كوى له دوى سره	جاهلان	نو وايئ خبره	سالمه (له گناه)	او (دا) هغه كسان دى

او كله چي خطاب كوى له دوى سره جاهلان ناپوهان نو وايئ (په جواب كښې خبره) سالمه (له گناه). او (دا) هغه كسان دى

تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا... كائنات الله ﷻ څكه پيدا كړي دي چې فكر كوونكو ته د الله ﷻ د توحيد دليلونه فراهم سي: مقصود دادي چي اياتونو څخه دادي چي انسان ته وښوول سي چي موږ په آسمان كي لوى لوى ستوري او لمر او سپوږمي او ددي په ذريعه دورځي او شپې بدليدل او ددي تياره او رڼا او دمځكي او آسمان ټول كائنات په دي وجه پيدا كړي دي چي فكر كوونكي ته په دي كي دالله ﷻ د كامل قدرت او دتوحيد دليلونه فراهم سي او شكرگذاروته د شكر موقع وركول سي نو دكم سړي وخت چي په دنيا كي ددي دواړو شيانو څخه خالي تير سو دهغه وخت ضائع سواو دده رأس المال يعني سرمايه هم فنا سوه: يا الله ﷻ موږ ذكر كوونكي او شكر كوونكي وگرځوي: ابن عربي رحمة الله عليه فرمايي چي ماد شهيد اكبر څخه اوريدلي دي چي په لوى تاوان كي دى هغه سړى دچا عمر چي شپيته كاله سو په دي كي نيم وخت ديرش كاله ده په خوب تير كي او لس كاله دورځي په خوب كي او شل كاله دقفط په كار كي ولگول. (معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص ٢٤)

يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ﴿٦٤﴾ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ

يَبِيتُونَ	لِرَبِّهِمْ	سُجَّدًا	وَّقِيَامًا	وَالَّذِينَ	يَقُولُونَ
چي شپه تيروی	رب خپل ته	سجده کوونکی	او دريدونکی	او (دا) هغه کسان دی	چی وايئ

چي شپه تيروی رب خپل ته سجده کوونکی او دريدونکی. او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی چي وايئ

رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾

رَبَّنَا	اصْرِفْ	عَنَّا	عَذَابَ	جَهَنَّمَ	إِنَّ	عَذَابَهَا	كَانَ	غَرَامًا
ای ربه زموږ	وګرځوه	له موږ څخه	عذاب	د دوزخ	بيشکه!	عذاب د دغه	دی	لازم هميشه

ای ربه زموږ وګرځوه له موږ څخه عذاب د دوزخ بيشکه! عذاب د دغه (دوزخ) دی لازم هميشه

إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا

إِنَّهَا	سَاءَتْ	مُسْتَقَرًّا	وَّمُقَامًا	وَالَّذِينَ	إِذَا	أَنْفَقُوا
بيشکه! چي دا	بد دی	له جهته د ځای د قرار	او د ځای د هستوګنی	او (دا) هغه کسان دی	کله چي	نفقه ورکوی

بيشکه! چي دا (دوزخ) بد دی له جهته د ځای د قرار او د ځای د هستوګنی. او (دا) هغه کسان دی کله چي نفقه ورکوی

لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾

لَمْ يُسْرِفُوا	وَلَمْ يَقْتُرُوا	وَكَانَ	بَيْنَ	ذَٰلِكَ	قَوَامًا
نو نه اسراف کوی	او نه تنګی کوی	او وی	په مينځ	د دغه کښی	ميانه حاله

نو نه اسراف کوی او نه تنګی (او بخل) کوی او وی (دغه ورکړه د دوی) په مينځ د دغه (اسراف او تقتير) کښی ميانه حاله .

وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ

وَالَّذِينَ	لَا يَدْعُونَ	مَعَ	اللَّهِ	إِلَٰهًا	آخَرَ	وَلَا يَقْتُلُونَ
او (دا) هغه کسان دی	چي نه بولی	سره له	الله	معبود	بل	او نه وژنی دوی

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی چي نه بولی سره له الله معبود بل او نه وژنی دوی

النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَنْ

النَّفْسَ	الَّتِي	حَرَّمَ	اللَّهُ	إِلَّا	بِالْحَقِّ	وَلَا يَزْنُونَ	وَمَنْ
نفس	هغه چي	حرام کړی دی	الله	مګر	په حق سره	او نه کوی دوی زناء	او هرچا چي

نفس هغه چي حرام کړی دی الله (وژل د هغه) مګر په حق سره او نه کوی دوی زناء او هر چا چي

وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا...د الله ﷻ دمخصوصو بندګانو پنځم مخصوص صفت:

يعني دا هغه خلګ دي چي شپې تيروي دخپل رب په مخکې پر سجدو کولو کې په عبادت: دلته الله ﷻ دشپ بيداری ذکر په خصوصيت سره وکی چي دغه وخت دخوب کولو او دارام کولو دی په دي کي دلمانځه او عبادت دپاره دريدل خاص مشقت هم دی او په دي کي دريا او نمايش خطره هم نسته منشاء داده چي دوی شپه او ورځ دالله ﷻ په طاعت کي مشغول وي دورځې تعليم او تبليغ او دجهاد في سبيل الله وغيره کارونه وي او دشپې د الله ﷻ عبادت کول وي: دتهجد دلمانځه په حديث شريف کي ډير فضيلتونه راغلي دي دابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي دتهجد د لمانځه پابندي کوی ځکه چي داترتاسي دمخکې خلګو هم د ډيرو نيکو بندګانو عادت پاته سوی دی او االله ﷻ ته تاسي نژدې کوي او دګناهونو کفاره ده او دګناهونو څخه منع کوونکی شی دی (تفسير مظهري):

(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص ۴۳)

يَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ يَلۡقَ اَثَامًا ۝٦٨ يُّضٰعَفۡ لَهُ الۡعَذَابُ

يَّفۡعَلۡ	ذٰلِكَ	يَلۡقَ	اَثَامًا	يُّضٰعَفۡ	لَهُ	الۡعَذَابُ
وكړه	يو له دغو څخه	نو وبهويني	جزا دګناه خپلې	چې دوه چنده به کړی سی	ده ته	عذاب

وکړه (يو له دغو دريو څخه) نو ملاقات به وکړي وبه ويني جزاء دګناه خپلې. چې دوه چنده به کړی سی ده ته عذاب (د دوزخ)

يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيۡهٖ مُهَانًا ۝٦٩ اِلَّا مَنۡ تَابَ وَاٰمَنَ

يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	وَيَخۡلُدۡ	فِيۡهٖ	مُهَانًا	اِلَّا	مَنۡ تَابَ	وَاٰمَنَ
په ورځ	دقيامت کښې	او تل به پاتې وی	په دغه کښې	ذليل سوی	مګر	هغه چې توبه يې وويسته	او ايمان يې راوړی

په ورځ دقيامت کښې او تل به پاتې وی په دغه کښې ذليل بی اعتباره سوی. مګر هغه چې توبه يې وويسته او ايمان يې راوړ

وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمۡ حَسَنٰتٍ

وَعَمِلَ	عَمَلًا	صَالِحًا	فَاُولٰٓئِكَ	يُبَدِّلُ	اللّٰهُ	سَيِّاٰتِهِمۡ	حَسَنٰتٍ
او عمل يې وکړ	عمل	نيک	پس دغه (تائبان)	بدل به کړی	الله	ګناهونه د دوی	په نيکيو سره

او عمل يې وکړ عمل نيک پس دغه (تائبان) بدل به کړی الله ګناهونه د دوی په نيکيو سره (په محو د سيآتو او ثبت د حسناتو)

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ۝٧٠ وَمَنۡ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا

وَكَانَ	اللّٰهُ	غَفُوۡرًا	رَّحِيۡمًا	وَمَنۡ تَابَ	وَعَمِلَ	صَالِحًا
او دی	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډير رحم والا	او هر څوک چې توبه وباسی	او عمل وکړی	نيک

او دی الله ښه مغفرت کوونکی ډير رحم والا. او هر څوک چې توبه وباسی (له ګناهونو څخه) او عمل وکړی عمل نيک

فَاِنَّهٗ يَتُوۡبُ اِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ۝٧١ وَالَّذِيۡنَ لَا يَشۡهَدُوۡنَ

فَاِنَّهٗ	يَتُوۡبُ	اِلَى	اللّٰهِ	مَتَابًا	وَالَّذِيۡنَ	لَا يَشۡهَدُوۡنَ
پس بيشکه! چې دی	رجوع کوی	په طرف	دالله	په ښه رجوع کولو سره	او (دا) هغه کسان دی	چې نه حاضريږی

پس بيشکه! چې دی رجوع کوی په طرف د الله په ښه رجوع کولو سره. او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی چې نه حاضريږی

الزُّوۡرَ وَاِذَا مَرُّوۡا بِاللَّغۡوِ مَرُّوۡا كِرَامًا ۝٧٢ وَالَّذِيۡنَ اِذَا

الزُّوۡرَ	وَاِذَا	مَرُّوۡا	بِاللَّغۡوِ	مَرُّوۡا	كِرَامًا	وَالَّذِيۡنَ	اِذَا
په باطلو کښې	او کله چې	تيريږی	پر بيکاره کار	نو تيريږی	ځان ساتونکی	او (دا) هغه کسان دی	کله چې

په باطلو کښې (يا نه وايئ شاهدی) او کله چې تيريږی پر بيکاره کار نو تيريږی ځان ساتونکی. او (دا) هغه کسان دی کله چې

يُّضٰعَفۡ لَهُ الۡعَذَابُ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ... دکفر او شرک او قتل او زنا ارتکاب کوونکو ته به دوه چنده عذاب ورکول کيږي:
لنډه دا چې کم خلګ په کفر او شرک کي هم اخته سول او په قتل او زنا کي هم اخته سول ددوی عذاب به دوه چنده وي او سخت به هم وي او بيا به دا عذاب هميشه هم وي مخ ته بيا دابيان دی چې داسې سخت مجرم دکم چې دلته دعذاب ذکر سوی دی که هغه توبه وکاږي ايمان راوړي او نيک عمل وکي نو الله ﷻ به دده ګناهونه په نيکيو سره بدل کړي:
مطلب دادی چې ددې توبې څخه وروسته به ددوی په عملنامه کي صرف نيکی پاته سي ځکه چې دشرک او کفر څخه په توبه کولو سره دالله ﷻ وعده داده چې په حالت دکفر کي يې څومره ګناهونه کړي وي په اسلام او ايمان قبلولو سره دغه تير ټول ګناهونه معاف سي په دې وجه په تيره زمانه کي چې کمه دده عملنامه دګناهونو څخه ډکه وه اوس په ايمان راوړلو سره هغه ټول معاف سول دادالله ﷻ دفضل او رحمت او کرم فراخوالی دی الخ:
(معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص ٤٥)

ذُكِّرُوا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَّعُمْيَانًا ﴿۷۳﴾

ذُكِّرُوا	بِاٰيٰتِ	رَبِّهِمْ	لَمْ يَخِرُّوا	عَلَيْهَا	صُمًّا	وَّعُمْيَانًا
پند ورکړی سی دوی ته	په آيتونو	د رب د دوی	نو نه نسکوريږی	پری	کاڼه	او ړانده

پند ورکړی سی دوی ته په آيتونو درب د دوی نو نه نسکوريږی پری (لکه) کاڼه او ړانده (بلکه سر په سجده ږدی) .

وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا

وَالَّذِيْنَ	يَقُوْلُوْنَ	رَبَّنَا	هَبْ لَنَا	مِنْ اَزْوَاجِنَا
او (دا) هغه کسان دی	چی وايئ	ای ربه زموږ	وبخښه موږ ته	له ښځو زموږ څخه

او (بندګان د رحمان) هغه کسان دی چی وايئ ای ربه زموږ وبخښه موږ ته (په فضل خپل سره) له ښځو زموږ څخه

وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ

وَذُرِّيّٰتِنَا	قُرَّةَ	اَعْيُنٍ	وَّاجْعَلْنَا	لِلْمُتَّقِيْنَ
او له اولادو زموږ څخه	يخوالی	د سترګو زموږ	او وګرځوه موږ	دپاره د متقيانو

او له اولادو زموږ څخه (هغه څوک چی) يخوالی د سترګو زموږ پکښی راځی او وګرځوه موږ دپاره د متقيانو

اِمَامًا ﴿۷۴﴾ اُولٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوْا

اِمَامًا	اُولٰٓئِكَ	يُجْزَوْنَ	الْغُرْفَةَ	بِمَا	صَبَرُوْا
امام پيشوا	دغه کسان	جزا به ورکوله سی دوی ته	به اوچتو ماڼيو (د جنت)	په سبب د هغه چی	صبر يئ کړی ؤ

امام پيشوا. دغه کسان جزا به ورکوله سی دوی ته په هسکو (اوچتو) ماڼيو (د جنت) په سبب د هغه چی صبر يئ کړی ؤ

وَيُلَقَّوْنَ فِيْهَا تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا ﴿۷۵﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ حَسُنَتْ

وَيُلَقَّوْنَ	فِيْهَا	تَحِيَّةً	وَّسَلٰمًا	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	حَسُنَتْ
او و به چولی سی پر دوی	په دغه جنت کښی	تحيت دعاء	او سلام	هميشه به وی دوی	په دغه کښی	ښه دی

او و به چولی سی پر دوی په دغه جنت کښی تحيت دعاء او سلام. هميشه به وی دوی په دغه (جنت) کښی ښه دی

مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿۷۶﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّيْ

مُسْتَقَرًّا	وَّمُقَامًا	قُلْ	مَا يَعْبَؤُا	بِكُمْ	رَبِّيْ
له جهته د ځای د قراری	او له جهته د ځای د هستوګنی	ووايه (محمده!)	نه کوی هيڅ پروا	ستاسی	رب زما

(د غه جنت) له جهته د ځای د قراری او له جهته د ځای د هستوګنی. ووايه (ای محمده) نه کوی هيڅ پروا ستاسی رب زما

اِذَا ذُكِّرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوْ دالله جَلَّ جَلَالُهُ د مخصوصو بندګانو دوولسم صفت: يعني دډ مقبولو بندګانو داشان دی چي کله دوی ته دالله جَلَّ جَلَالُهُ اياتونه او آخرت ورپه ياد سي نو هغوی دډ اياتونو طرف ته درندو او کڼو په شان نه متوجه کيږي بلکي داوريدونکواو ليدونکو انسانانو په شان په دي کي فکر کوي او عمل په کوي دغافلو او مغفلو خلګو په شان داسي معامله نه کوي چي دوی ګر سره اوريدلي نه وي يا يي ګر سره ليدلي نه وي. په دې آيت کي دوه شيان ذکر دي: يو دالله جَلَّ جَلَالُهُ پر اياتونو باندي غوږ نيول يعني په اهتمام سره ورته متوجه کيدل داخو يو نيک ښه او مقصودي کار او ډيره لويه نيکي ده: دوهم درندو او کڼو په شان پر تيريدل چي دقرآن اياتونو ته توجه خو ورکي، مګر يا په عمل کولو کي داسي معامله وکي چي ګويا دوی ګر سره اوريدلی او ليدلي نه دي اويا دقرآن په اياتونو عمل هم کوي مګر دوی دصحيحاصولواو اصحابو کرامو او تابعينودعمل خلاف په خپله رايه باندي ځي او غلط عمل کوي.
(معرف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۴۸)

لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ۝٧٧

لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ	فَقَدْ	كَذَّبْتُمْ	فَسَوْفَ	يَكُوْنُ	لِزَامًا
كه چيرى نه وى دعاء بلل ستاسى	او په تحقيق	تكذيب كرى دى تاسى	پس ژر به	سى (دا عذاب)	لازم

كه چيرى نه وى دعاء بلل ستاسى او په تحقيق تكذيب كرى دى تاسى (درسولانو او دقرآن) پس ژر به سى (دا عذاب) لازم

آياتونه ۲۲۷ ۔ ۲۶ سُوْرَةُ الشُّعَرَآءِ مَكِّيَّةٌ ۴۷ ۔ ۱۱ ركوعي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

طٰسٓمّٓ ۝١ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ

طٰسٓمّٓ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	الْكِتٰبِ	الْمُبِيْنِ	لَعَلَّكَ	بَاخِعٌ
طا، سين، ميم	دا	آيتونه دى	دكتاب	ښكاره كوونكى	ښايئ	چې ته هلاكوونكى

طا، سين، ميم. دا (آيتونه دى سورت) آيتونه دى د كتاب ښكاره كوونكى. ښايئ چې ته هلاكوونكى

نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝٣ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ

نَّفْسَكَ	اَلَّا يَكُوْنُوْا	مُؤْمِنِيْنَ	اِنْ نَّشَاْ	نُنَزِّلْ	عَلَيْهِمْ
دځان خپل يئ (محمده)	په دې چې نه كيږى دوى	مؤمنان	كه اراده وفرمايو موږ	نو نازل به كړو موږ	پر دوى

دځان خپل يئ (اى محمده!) په دې چې نه كيږى دوى مؤمنان. كه اراده وفرمايو موږ نو نازل به كړو موږ پر دوى

مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ۝۴

مِّنَ السَّمَآءِ	اٰيَةً	فَظَلَّتْ	اَعْنَاقُهُمْ	لَهَا	خٰضِعِيْنَ
له طرفه دآسمانه	يو دليل	پس سى به	څټونه د دوى	هغه (دليل) ته	كښته كيدونكى

له (طرفه) دآسمانه يو دليل (دقدرت) پس سى به غاړى د دوى هغه (دليل) ته كښته كيدونكى (عاجزى كوونكى) .

وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ

وَمَا يَاْتِيْهِمْ	مِّنْ ذِكْرٍ	مِّنَ الرَّحْمٰنِ	مُحْدَثٍ	اِلَّا كَانُوْا	عَنْهُ
او نه راځى دوى ته	هيڅ ذكر، پند	له (طرفه) درحمٰن	نوى	مګر وى دوى	له هغه (پند) څخه

او نه راځى دوى ته هيڅ ذكر پند وحئ له (طرفه) د رحمان نوى مګر وى دوى له هغه (پند) څخه

لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ. نبي كريم ﷺ به دقوم دايمان نه راوړلو په خاطر غمجن او پريشانه وو: مطلب ددې ايت دادى چې چې اى پيغمبره دخپل قوم دكفر او داسلام څخه دمخ اړولو په وجه دومره غم مه كوه چې خپل ځان ويلي كړي. ددې آيت څخه يو خو دا معلومه سوه چې دچا كافر په باره كې كه داهم معلومه سي چې دده په تقدير كې ايمان راوړل نسته بياهم ده ته دتبليغ كولو څخ منع كيدل نه دي پكار. دوهمه دامعلومه سوه چې په مشقت كې اعتدال پكار دى او كم سړى چې هدايت يې نه كى پيدا په هغه زيات خفګان او پريشاني نه ده پكار (ان نشأ ننزل عليهم من السمآء) يعني كفار چې دالويه نښانه ووينې نو تابعدار به سي او كښته به سي ليكن دلته داعناق لفظ ددې ظاهرولو دپاره راوړل سوى دى چې ځاى دخضوع ظاهر سي څكه چې كښته كيدل وغيره او عاجزي كول دټولو څخه اول په څټ ظاهريږي يعني موږ پر دې هم قادريو چې دخپل توحيد او كامل قدرت څه نښاني ظاهري كړو چې الهي حقايق په ډاګه مخ ته راسي الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص ۵۳)

ركوع ۲ ع

مُعۡرِضِيۡنَ ⑤ فَقَدۡ كَذَّبُوۡا فَسَيَاۡتِيۡهِمۡ اَنۡۢبٰٓؤُا مَا كَانُوۡا

مُعۡرِضِيۡنَ	فَقَدۡ	كَذَّبُوۡا	فَسَيَاۡتِيۡهِمۡ	اَنۡۢبٰٓؤُا	مَا كَانُوۡا
مخ گرځوونکی	پس په تحقيق	تکذيب وکړ دوی	پس ژر به راسی دوی ته	خبرونه	دهغه شی چې وو دوی

مخ گرځوونکی. پس په تحقيق تکذيب وکړ دوی (دهغه پند يا محمد) پس ژر به راسی دوی ته حقائق دهغه شی چې وو دوی

بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ⑥ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اِلَى الۡاَرۡضِ كَمۡ اَنۡۢبَتۡنَا فِيۡهَا

بِهٖ	يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ	اَوَلَمۡ يَرَوۡا	اِلَى الۡاَرۡضِ	كَمۡ اَنۡۢبَتۡنَا	فِيۡهَا
چې په هغه باندی به يئ	مسخری کولی	آيا نه گوری دوی	مځکی ته	چې څومره زرغونه کړی دی موږ	په دغه کښی

چې په هغه باندی به يئ مسخری کولی. آيا نه گوری دوی مځکی ته چې څومره زرغونه کړی ده موږ په دغه (مځکه) کښی

مِنۡ كُلِّ زَوۡجٍ كَرِيۡمٍ ⑦ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ

مِنۡ كُلِّ	زَوۡجٍ	كَرِيۡمٍ	اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	وَمَا كَانَ
له هره	قسمه، ډوله وابنه	ښه	بيشکه!	په دغو (زرغونولو کښی)	خامخا نښه ده	او نه دی

له هره قسمه هره ډوله گياه ښه کثير المنافع. بيشکه! په دغو (زرغونولو کښی) خامخا دليل، نښه ده او نه دی

اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ⑧ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الرَّحِيۡمُ ⑨

اَكۡثَرُهُمۡ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ	الۡعَزِيۡزُ	الرَّحِيۡمُ
زياتره د دوی	مؤمنان	او بيشکه!	رب ستا	خامخا همدی دی	ښه قوی غالب	رحم والا

زياتره د دوی مؤمنان. او بيشکه! رب ستا خامخا همدی دی ښه قوی غالب ښه رحم والا (په انعام داجر او ثواب سره).

ع ۹ ۵

وَاِذۡ نَادٰى رَبُّكَ مُوۡسٰٓى اَنِ ائۡتِ الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ⑩

وَاِذۡ نَادٰى	رَبُّكَ	مُوۡسٰٓى	اَنِ ائۡتِ	الۡقَوۡمَ	الظّٰلِمِيۡنَ
او هغه وخت چې برغ وکړ	رب ستا	موسٰی ته	داسی چې ورسه	هغه قوم ته	چې ظالمان دی

او (يادکړه) هغه وخت چې برغ وکړ رب ستا موسٰی ته داسی چې ورسه هغه قوم ته چې ظالمان دی

قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوۡنَ ⑪ قَالَ رَبِّ اِنِّىۡۤ اَخَافُ

قَوۡمَ	فِرۡعَوۡنَ	اَلَا يَتَّقُوۡنَ	قَالَ	رَبِّ	اِنِّىۡۤ	اَخَافُ
قوم	دفرعون ته	آيا نه بيريږی دوی	وويل موسٰی	ای ربه زما	بيشکه! زه	بيريږم

(يعنی) قوم د فرعون ته، آيا نه بيريږی دوی له (الله) څخه. وويل موسٰی ای ربه زما بيشکه! زه بيريږم

قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوۡنَ ⑪ قَالَ رَبِّ اِنِّىۡۤ اَخَافُ داطاعت دپاره دمددگارو اسبابو طلب كول بهانه لتول نه دي: (قال رب انى اخاف ان يكذبون ۝ ويضيق صدرى ولا ينطلق لسانى) ددغه مباركو اياتونو څخه ثابته سوه چي ديو حكم په ځاى كولو كي دڅه داسي شيانو درخواست كول كم چي دحكم په پوره كولو كي مددگار ثابتيږي څه بهانه لتول نه دي بلكي جائز دي لكه چي موسى عليه السلام دحكم پيداكيدو سره دهغه دپوره كولو دپاره دآسانولو او فائده پيداكيدو په غرض خداى ذوالجلال ته دادرخواست وكى. په دې وجه ددې څخه دانتيجه ايستل به غلط وي چي حضرت موسى عليه السلام دخداى جل جلاله حكم بې دتوقف څخه پرسر او سترگو قبول ولي نه كى او توقف يي ولي وكى؟ ځكه چي حضرت موسى عليه السلام چي څه وكړل هغه يي دالله جل جلاله دحكم دمنلو او دهغه دپر ځاى كولو په سلسله كي وكړه: نه دا چي په دي كي يي دخپل ځان شخصي فوائد مد نظر گرځولي وه ځكه چي دانبياوو عليهم السلام شان دداسي امورو څخه پاك دى والله اعلم.
(معرف القرآن ج۷ پ۱۹ ص ۵۷)

اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ

اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ	وَيَضِيْقُ	صَدْرِيْ	وَلَا يَنْطَلِقُ	لِسَانِيْ
له دی څخه چی نسبت د دروغو به وکړی ماته	او بل تنګیږی	سینه زما	او نه چلیږی	ژبه زما

له دی څخه چی نسبت د دروغو به وکړی ، او بل تنګیږی سینه زما (له تکذیبه) او (بل) نه چلیږی ژبه زما (دتبلیغ په وخت)

فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَاَخَافُ اَنْ

فَاَرْسِلْ	اِلٰى	هٰرُوْنَ	وَلَهُمْ	عَلَيَّ	ذَنْبٌ	فَاَخَافُ	اَنْ
پس ولیږه (جبرئیل په وحی سره)	طرف	دهارون ته	او ستهدوی لره	پر ما	ګناه	پس بیریږم	له دی څخه چی

پس ولیږه (جبرئیل په وحی سره) طرف دهارون ته. او ستهدوی لره پر ما (دعوی د یوی) ګناه پس بیریږم له دی څخه چی

يَّقْتُلُوْنِ ﴿١٤﴾ قَالَ كَلَّا فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا

يَّقْتُلُوْنِ	قَالَ	كَلَّا	فَاذْهَبَا	بِاٰيٰتِنَآ	اِنَّا
مړبه می کړی	وفرمایل (الله)	نه ده داسی	پس ولاړ سئ تاسی دواړه	په نښکاره ؤ معجزو زما	بیشکه! موږ

مړبه می کړی. وفرمایل (الله) نه ده داسی (مه بیریږه!) پس ولاړ سئ تاسی دواړه په نښکاره ؤ معجزو زما بیشکه! چی موږ

مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿١٥﴾ فَاْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ

مَعَكُمْ	مُّسْتَمِعُوْنَ	فَاْتِيَا	فِرْعَوْنَ	فَقُوْلَآ	اِنَّا	رَسُوْلُ	رَبِّ
له تاسی سره یو	اوریدونکی	پس ورسئ دواړه	فرعون ته	نو ووایئ	بیشکه! چی هر یو زموږ	رسول، استاځی	درب

له تاسی سره یو اوریدونکی . پس ورسئ دواړه فرعون ته نو ووایئ بیشکه! چی هر یو زموږ رسول استاځی د رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ اَنْ اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالَ

الْعٰلَمِيْنَ	اَنْ اَرْسِلْ	مَعَنَا	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	قَالَ
دعالمیانو یو	په دی خبره باندی چی ولیږه ته	له موږ سره	بنی اسرائیل	وویل (فرعون)

دعالمیانو یو. په دی خبره باندی چی ولیږه ته (ای فرعونه) له موږ سره بنی آسرائیل (شام ته) . وویل (فرعون)

اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ﴿١٨﴾

اَلَمْ نُرَبِّكَ	فِيْنَا	وَلِيْدًا	وَّلَبِثْتَ	فِيْنَا	مِنْ عُمُرِكَ	سِنِيْنَ
آیا تربیت نه ؤ کړی موږ ستا	په (کورونو) خپلو کښی	چی کوچنی هلک وی	او تیر کړی وه تا	په موږ کښی	له عمره خپله	څو کاله

آیا تربیت نه ؤ کړی موږ ستا په (کورونو) خپلو کښی چی کوچنی هلک وی او تیر کړی ؤ تا په موږ کښی له عمره خپله څو کاله .

وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ. حضرت موسی علیه السلام دالله جل جلاله په حضور کي درخواست پیش کی او کومک یي وغوښتی: کله چي الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام نبي او پیغمبر جوړ کړی او فرعون او دده قوم ته یي وراستوی نو حضرت موسی علیه السلام یو درخواست وکی چي یا الله جل جلاله زه ددي خدمت دپاره حاضریم لیکن ددي خدمت دپوره کولو دپاره یو مددګار غواړم ځکه چي زما سره دابیره ده چي هغوی ما دخپلي خبري دپوره کولو څخه مخکي درواغجن کي او په طبعي طور سره په داسي وخت کي زما زړه تنګیږي او زما ژبه په ښه ډول سره نه چلیږي په دي وجه هارون علیه السلام ته هم وحي ولیږه او هغه ته نبوت ورکړه چي هغوی مادرواغجن کوي نو چي دی مي تصدیق کوي اوزړه مي خلاصیږي او ژبه مي روانه وي او که زما ژبه څه وخت بنده سي نو بیا به دی تقریر کوي :او که هرڅومره داغرض خو هارون علیه السلام دځان سره په هسي بیولو سره هم حاصلیدای سو مګر په نبوت ورکولو کي بیا په زیاته او کامله وجه سره حاصلیږي الخ :
(معرف القرآن ج٧ پ١٩ ص ٥٥)

وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِيْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝١٩

وَفَعَلْتَ	فَعْلَتَكَ	الَّتِيْ	فَعَلْتَ	وَاَنْتَ	مِنَ الْكٰفِرِيْنَ
او بل کړې ؤ تا	کار خپل	هغه کار	چې کړې ؤ تا	حال داچې ته (اى موسٰى)	له ناشکرانو څخه يئ

او بل کړې ؤ تا کار خپل هغه کار چې کړې ؤ تا (زماقبطى خبازدى وژلى ؤ) حال داچې ته (اى موسٰى) له ناشکرانو څخه يئ.

قَالَ فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ۝٢٠ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ

قَالَ	فَعَلْتُهَآ	اِذًا	وَّاَنَا	مِنَ الضَّآلِّيْنَ	فَفَرَرْتُ	مِنْكُمْ
وويل (موسٰى)	چې کړې ؤ ما دغه کار	په هغه وخت کښې	چې ومه زه	له خاطيانو ناپوهانو	پس وتښتيدم زه	له تاسي

وويل (موسٰى) چې کړې ؤ ما دغه کار په هغه وخت کښې چې ومه زه له خاطيانو ناپوهانو. پس وتښتيدم زه له تاسي

لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ

لَمَّا	خِفْتُكُمْ	فَوَهَبَ لِيْ	رَبِّيْ	حُكْمًا	وَّجَعَلَنِيْ
کله چې	وېيريدم زه له تاسي	پس وبخښى ماته	رب زما	حکم ،علم ، فهم	او وګرځولم (دغه الله) زه

کله چې وېيريدم زه له تاسي پس وبخښى ماته رب زما حکم علم فهم او وګرځولم (دغه الله) زه

مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝٢١ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ

مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ	وَتِلْكَ	نِعْمَةٌ	تَمُنُّهَا	عَلَيَّ	اَنْ عَبَّدْتَّ	بَنِيْٓ
له رسولانو څخه	او (آيا) دغه	يو نعمت دى	چې احسان يئ کوى دهغه	پر ما باندى	چې مريونه کړى دى تا	بنى

له رسولانو څخه. او (آيا) دغه (تربيت) يو نعمت دى چې احسان يئ کوى پر ما باندى چې مريونه کړى دى بنى

اِسْرَآءِيْلَ ۝٢٢ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٢٣ قَالَ رَبُّ

اِسْرَآءِيْلَ	قَالَ	فِرْعَوْنُ	وَمَا	رَبُّ	الْعٰلَمِيْنَ	قَالَ	رَبُّ
اسرائيل	وويل	فرعون	او څه شى دى	رب	دعالميانو	وويل (موسٰى)	چې رب العٰلمين رب

اسرآئيل. وويل فرعون (موسٰى ته) او څه شى دى رب د عالميانو؟. وويل (موسٰى فرعون ته) چې رب العٰلمين رب

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ۝٢٤

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا	بَيْنَهُمَا	اِنْ كُنْتُمْ	مُّوْقِنِيْنَ
دآسمانونو	او دمځکى	او دهغو ټولو شيانو دى	چې په مينځ د دغو دواړو کښى دى	که چيرى يئ تاسي	يقين کوونکى

دآسمانونو او د مځکى او دهغو ټولو شيانو دى چې په مينځ د دغو دواړو کښى دى که چيرى يئ تاسي يقين کوونکى .

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ.. دخداى ﷻ اصل اوحقيقت پيژندل ممکن نه دي: حضرت مفتي شفيع صاحب رحمة الله عليه ددغه آيت تر تفسير لاندي ليکي چي ددې آيت مبارکه څخه معلومه سول چي دخداى ذوالجلال اصل او حقيقت پيژندل ممکن نه دي ځکه چي دفرعون سوال د خداى ﷻ دحقيقت او ماهيت په باره کي وو حضرت موسى عليه السلام د الله ﷻ دماهيت دښوولو پر ځاى باندي صفتونه ورته بيان کړل او په دې سره يي اشاره وفرمايله چي دخداى ﷻ داصل او حقيقت پيژندل ممکن نه دي او داسي سوال کول بې ځايه دي. روح المعاني (ان ارسل معنا بني اسرآئيل) بني اسرآئيل دشام دملک اوسيدونکي وه هلته يي تلل وغوښتل نو فرعون دوى نه پريښوول دغه رکم دوى دخلور سوه کاله څخه دده په غلامى کي ژوند تير سوى وو ددوى شمير هغه وخت شپږلکه ديرش زره ٦٣٠٠٠ کسان وه حضرت موسى عليه السلام دحق پيغام درسولو سره سره دا هم غوښتله چي بني اسرآئيل دفرعون دغلامى او ظلمه څخه خلاص کړي. (معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص٢٣)

قَالَ لِمَنۡ حَوۡلَهٗۤ اَلَا تَسۡتَمِعُوۡنَ ۝۲۵ قَالَ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ

قَالَ	لِمَنۡ	حَوۡلَهٗۤ	اَلَا تَسۡتَمِعُوۡنَ	قَالَ	رَبُّكُمۡ	وَرَبُّ
وویل (فرعون)	دپاره دهغو	چی شاوخوا وه له ده سره	چی آیا نه اورئ تاسی	وویل (موسیٰ)	رب ستاسی	او رب

وویل (فرعون) دپاره د هغو (مشرانو) چی چاپیرؤ له ده سره چی آیا نه اورئ تاسی. وویل (موسیٰ) رب ستاسی او رب

اٰبَآئِكُمُ الۡاَوَّلِيۡنَ ۝۲٦ قَالَ اِنَّ رَسُوۡلَكُمُ الَّذِيۡۤ اُرۡسِلَ

اٰبَآئِكُمُ	الۡاَوَّلِيۡنَ	قَالَ	اِنَّ	رَسُوۡلَكُمُ	الَّذِيۡۤ	اُرۡسِلَ
دپلرونو ستاسی دی	چی پخوانی ؤ	وویل (فرعون)	بیشکه!	رسول ستاسی	دغه چی	لیږلی سوی دی

دپلرونو ستاسی دی چی اولنی ؤ. وویل (فرعون) بیشکه! رسول ستاسی دغه چی لیږلی سوی دی

اِلَيۡكُمۡ لَمَجۡنُوۡنٌ ۝۲۷ قَالَ رَبُّ الۡمَشۡرِقِ وَالۡمَغۡرِبِ وَمَا

اِلَيۡكُمۡ	لَمَجۡنُوۡنٌ	قَالَ	رَبُّ	الۡمَشۡرِقِ	وَالۡمَغۡرِبِ	وَمَا
تاسی ته	خامخا مجنون لیونی دی	وویل (موسیٰ)	رب	دمشرق	او د مغرب	او دهغو ټولو شیانو دی چی

تاسی ته خامخا مجنون لیونی دی. وویل (موسیٰ) رب د مشرق او (رب د) مغرب او (رب د) هغو ټولو شیانو دی چی

بَيۡنَهُمَا ؕ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ۝۲۸ قَالَ لَئِنِ اتَّخَذۡتَ اِلٰهًا

بَيۡنَهُمَا	اِنۡ كُنۡتُمۡ	تَعۡقِلُوۡنَ	قَالَ	لَئِنِ	اتَّخَذۡتَ	اِلٰهًا
په مینځ د دوی کښی دی	که چیری یئ تاسی	چی څه قدر عقل کولی سئ	وویل (فرعون)	قسم دی که چیری	ونیوی تا	خدای

په مینځ د دغو کښی دی که چیری یئ تاسی چی څه قدر عقل کولی سئ. وویل (فرعون) قسم دی که چیری ونیوی تا خدای

غَيۡرِيۡ لَاَجۡعَلَنَّكَ مِنَ الۡمَسۡجُوۡنِيۡنَ ۝۲۹ قَالَ اَوَلَوۡ جِئۡتُكَ

غَيۡرِيۡ	لَاَجۡعَلَنَّكَ	مِنَ الۡمَسۡجُوۡنِيۡنَ	قَالَ	اَوَلَوۡ	جِئۡتُكَ
غیر له ما څخه	نو خامخا وبه گرځومه زه هرومرو تا	له بندیانو څخه	وویل (موسیٰ)	آیا که	راوړم زه تاته دلیل

غیر له ما څخه (بل څوک) نو خامخا وبه گرځومه زه هرومرو تا له بندیانو څخه. وویل (موسیٰ) آیا که راوړم زه تاته دلیل

بِشَيۡءٍ مُّبِيۡنٍ ۝۳۰ قَالَ فَاۡتِ بِهٖۤ اِنۡ كُنۡتَ مِنَ

بِشَيۡءٍ	مُّبِيۡنٍ	قَالَ	فَاۡتِ	بِهٖۤ	اِنۡ كُنۡتَ	مِنَ
یو شی	ښکاره	وویل (فرعون)	پس راوړه	هغه (ښکاره دلیل)	که یئ ته	له

یو شی ښکاره (نو نه کوی باور په الوهیت د الله). وویل (فرعون) پس راوړه هغه (ښکاره دلیل) که یئ ته له

قَالَ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الۡاَوَّلِيۡنَ دپیغمبرانه مناظري یوه نمونه دمناظرې اثر کوونکي

اداب: ددوو مختلف الخیالو سړیو په مینځ کي نظریاتي بحث او مباحثه کم ته چي په اصطلاح کي مناظره ویل کیږي دپخوا زمانې څخه رواج ده مگر په عام طور سره مناظرې نن سبا دډېرې یوه لوبه جوړه سویده دخلگو په نظر کي دمناظرې مطلب دومره دی چي خپله خبره لوړه کړي برابره خبره ده که د هغه غلطي ورته په خپله هم معلومه سوي وي: ددې دصحیح او قوي ثابتولو دپاره ددلیلونو او ذهانت ټول زور خرڅ کي دغه رکم که دمخالف څه خبره صحیح او رښتیني هم وي خو په هرحال دهغه رد کول او په رد کولو کي یې پوره طاقت صرف کول وي: اسلام په دې کار کي خاص اعتدال پیدا کړی دی ددې اصول قاعدې او حدونه یې مقرر کړي دي دایي دتبلیغ دپاره یوه اثرناکه او مفیده آله جوړه کړیده. دحضرت موسی علیه السلام کمه قصه چي الله جل جلاله په دغه ذکر سوو ایاتونو کي بیان کړیده ددغي یوه لنډه نمونه تاسي په دغي مناظرې کي کتلای سی الخ:

(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۵۸)

الصّٰدِقِيْنَ ﴿٣١﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿٣٢﴾

الصّٰدِقِيْنَ	فَاَلْقٰى	عَصَاهُ	فَاِذَا هِيَ	ثُعْبَانٌ	مُّبِيْنٌ
رښتيا ويونكيو څخه	پس وغورځوله (موسٰی)	لكړه خپله	پس ناڅاپه په دغه وخت كښې وه هغه	يو ښامار	ښكاره ظاهر

رښتيا ويونكيو څخه. پس وغورځوله (موسٰی) همسا خپله پس ناڅاپه په دغه وخت كښې وه هغه يو ښامار ښكاره ظاهر.

وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَاِ

وَّنَزَعَ	يَدَهٗ	فَاِذَا هِيَ	بَيْضَآءُ	لِلنّٰظِرِيْنَ	قَالَ	لِلْمَلَاِ
او راوئی ايست	لاس خپل	پس ناڅاپه دغه ؤ	تک سپين	كتونكو ته	نو وويل (فرعون)	اشرافو (دقوم) ته

او راوئی ايست لاس خپل (له گريوان) پس ناڅاپه دغه (لاس) ؤ تک سپين كتونكو ته. نو وويل (فرعون) اشرافو (دقوم) ته

حَوْلَهٗ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٤﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ

حَوْلَهٗ	اِنَّ	هٰذَا	لَسٰحِرٌ	عَلِيْمٌ	يُّرِيْدُ	اَنْ يُّخْرِجَكُمْ	مِّنْ
چې چاپيره د ده (ناست ؤ)	بيشكه!	دغه (سړی)	خامخا جادوگر دی	ډير پوه	اراده لری	د دی چې وباسی تاسی	له

چې چاپيره د ده (ناست ؤ) بيشكه! دغه (سړی) خامخا ساحر دی ډير پوه اراده لری د دی چې وباسی تاسی له

اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ قَالُوْا اَرْجِهْ

اَرْضِكُمْ	بِسِحْرِهٖ	فَمَاذَا	تَاْمُرُوْنَ	قَالُوْا	اَرْجِهْ
مځكی ستاسی	په سحر خپل	پس نو څه شی (مشوره)	امر كوئ تاسی	وويل (مشرانو)	تاخير وركړه ده ته

مځكی (وطن) ستاسی په سحر (كوډو) خپل پس څه (مشوره) راكوئ تاسی. وويل (مشرانو) تاخير وركړه دغه (موسٰی) ته

وَاَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿٣٦﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ

وَاَخَاهُ	وَابْعَثْ	فِي الْمَدَآئِنِ	حٰشِرِيْنَ	يَاْتُوْكَ	بِكُلِّ	سَحَّارٍ
او ورور د ده (هارون) ته	او وليږه	په ښارونو كښې	راټولونكی	چې راولی تاته	هر	ښه جادوگر

او ورور د ده (هارون) ته او وليږه په ښارونو كښې راټولونكی (محصلان) چې راولی تاته هر ښه ساحر

عَلِيْمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٣٨﴾ وَّقِيْلَ

عَلِيْمٍ	فَجُمِعَ	السَّحَرَةُ	لِمِيْقَاتِ	يَوْمٍ	مَّعْلُوْمٍ	وَّقِيْلَ
ښه پوه هوښيار	پس راټول كړل سول	جادوگران	لپاره د وعدی	دورځی	معلومی ته	او وويل سوه

ښه پوه هوښيار. پس راټول كړل سول ساحران وعدی د ورځی معلومی ته (چې ثابته ورځی د جشن ؤ). او وويل سوه

فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ. حضرت موسی عليه السلام وفرعون او دده قوم ته دوې معجزې وربښكاره كړې: حضرت موسی عليه السلام وفرعون ته وويل چې كه زه څه واضح دليل پيش كړم نو بيا به يې هم نه منې فرعون وويل چې ښه دی ولې يې نه منم نو حضرت موسی عليه السلام خپله لكړه وغورزوله هغه وو چې ناڅاپه يو اژدها مار ځنې جوړ سو: او ددوهمې معجزې دښوولو دپاره يې خپل لاس په تخرگ كې دننه كړی او دباندې يې راويستی نو هغه ناڅاپه دټولو په مخكې ډير بريښيدونكی وو او دا هم ټولو په ظاهري سترگو سره وليدی: دحضرت موسی عليه السلام دامعجزې چې ښكاره سولې نو فرعون درباريانو ته كم چې دده خوا او شاته ناست وه وويل چې په دې كې څه شک نسته چې دی لوی ماهر جادوگر دی دده اصل مطلب دادی چې دخپل جادو په زور سره په خپله مشر سي او تاسي ستاسي دمځكې څخه وباسي چې بغير دبل چا دمزاحمت څخه دخپل قوم سره رياست كوي نو تاسي خلگ ماته دڅه مشوره راكوی؟ الخ.

(معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص٧٥)

لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ. دفرعون درباريانو وفرعون ته دموسیٰ علیه السلام دمهلت ورکولو مشوره ورکړه: فرعون چي کله دخپل قوم څخه دمشورې طلب وکی دموسیٰ علیه السلام او هارون علیه السلام په هکله نو هغوی ورته وویل چي ته ده او دده وروړته څه مهلت ورکړه او دخپل ملک دحدونو ښارونو ته راجمع کوونکي نوکران ولیږه او سرکاري حکم نامه ورکړه چي هغوی دټولو ښارونو څخه غټ اولوی جادوګران راولي غرض داچي هغه جادوګران په يوه معينه ورځ په خاص وخت جمع سول دمقررې ورځي څخه مراد داختر ورځ ده اودخاص وخت څخه مراددڅاښت وخت دی لکه چي دسورت طه په دريمه رکوع کي تير سوی دی يعني پر دغه مقرر وخت ټول جمع سول او فرعون ته دجمع کيدو اطلاع ورکړه سوه او دفرعون دطرفه څخه په طور دعام اعلان خلګو ته دا اشتهار ورکول سو چي آيا تاسي خلګ په فلاني موقع باندي دواقعي ليدلو دپاره جمع کيدای سی که جادوګران غالبه سول نو موږ به دهغوی پر لاري باندي ځو الخ. (معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۶۲)

لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ ﴿۳۹﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا

لِلنَّاسِ	هَلْ اَنْتُمْ	مُّجْتَمِعُوْنَ	لَعَلَّنَا	نَتَّبِعُ	السَّحَرَةَ	اِنْ كَانُوْا
دپاره دخلګو	چي آيا يئ تاسي	يو ځای کيدونکي	ښايئ چي موږ	متابعت وکړو	دجادوګرانو	که چيری سول دوی

دپاره دخلګو چي آيا يئ تاسي يو ځای کيدونکي. ښايئ چي موږ متابعت وکړو (لاری د) ساحرانو ته که چيری سول دوی

هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۴۰﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ اَئِنَّ

هُمُ الْغٰلِبِيْنَ	فَلَمَّا	جَآءَ	السَّحَرَةُ	قَالُوْا	لِفِرْعَوْنَ	اَئِنَّ
هم دوی غالبان (پر موسیٰ)	پس کله چي	راغلل	ساحران	وويل دوی	فرعون ته	آيا په تحقيق وی به

هم دوی غالبان بريالیان (پر موسیٰ). پس کله چي راغلل ساحران (کوډګران) وويل دوی فرعون ته آيا په تحقيق وی به

لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۴۱﴾ قَالَ نَعَمْ

لَنَا	لَاَجْرًا	اِنْ كُنَّا	نَحْنُ	الْغٰلِبِيْنَ	قَالَ	نَعَمْ
موږ ته	خامخا څه اجر	که چيری سو موږ	هم دا موږ	غلبه کوونکی	نو وويل (فرعون)	هو !

موږ ته خامخا څه اجر (مزدوری) که چيری سو موږ هم دا موږ غلبه کوونکی (بريالیان). نو وويل (فرعون) هو! (تاسي ته

وَاِنَّكُمْ اِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى اَلْقُوْا

وَاِنَّكُمْ	اِذًا	لَّمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ	قَالَ	لَهُمْ	مُّوْسٰى	اَلْقُوْا
او بيشکه! چي تاسي	په دغه وخت کښې	خامخا له نژديکانو څخه يئ	وويل	دوی ته	موسیٰ	وغورځوئ تاسي

اجر سته) او بيشکه! چي تاسي په دغه وخت کښې خامخا له مصاحبانو زما ياست. وويل دوی ته موسیٰ وغورځوئ تاسي

مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿۴۳﴾ فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ

مَآ اَنْتُمْ	مُّلْقُوْنَ	فَاَلْقَوْا	حِبَالَهُمْ	وَعِصِيَّهُمْ
هر هغه شی چي تاسي	غورځوونکی يئ	پس وغورځولو دوی	پړی خپل	او همساګانی خپلی

هر هغه شی چي تاسي غورځوونکی يئ (دهغه). پس وغورځولو (کوډګرانو) پړی خپل او همساګانی خپلی

وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَاَلْقٰى مُوْسٰى

وَقَالُوْا	بِعِزَّةِ	فِرْعَوْنَ	اِنَّا	لَنَحْنُ	الْغٰلِبُوْنَ	فَاَلْقٰى	مُوْسٰى
او وويل دوی	په عزت	دفرعون	بيشکه! موږ	خامخا هم دا موږ	بريالیان يو	بيا وغورځولو	موسیٰ

او وويل (کوډګرانو) په عزت (اقبال) د فرعون بيشکه! موږ خامخا هم دا موږ يو غالبان (بريالیان). بيا وغورځوله موسیٰ

عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُوْنَ ۝٤٥ فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ

عَصَاهُ	فَإِذَا هِيَ	تَلْقَفُ	مَا يَأْفِكُوْنَ	فَأُلْقِيَ	السَّحَرَةُ
همسا خپله	پس ناڅاپه هغې (همسا)	نبوی تیر کړل	هغه ماران چې په دروغو جوړ کړي ؤ دوی	پس پریوتل پر مخې	جادوګران

همسا خپله پس ناڅاپه هغې (همسا) نبوی تیر کړل هغه ماران چې په دروغو جوړ کړي ؤ. پس وغورځول سول پرمخې ساحران

سٰجِدِيْنَ ۝٤٦ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٤٧ رَبِّ مُوْسٰى

سٰجِدِيْنَ	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا	بِرَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	رَبِّ	مُوْسٰى
سجده کوونکی	وویل (ساحرانو)	ایمان راوړی دی موږ	په رب	دعالمیانو	رب (پالونکی)	دموسٰی

سجده کوونکی (اللّٰه ته). وویل ساحرانو ایمان راوړی دی موږ په رب د عالمیانو. رب (پالونکی) د موسٰی

وَهٰرُوْنَ ۝٤٨ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ

وَهٰرُوْنَ	قَالَ	اٰمَنْتُمْ	لَهٗ	قَبْلَ	اَنْ	اٰذَنَ لَكُمْ
او (رب) دهارون	وویل (فرعون)	آیا ایمان راوړ تاسی	په دغه (موسٰی)	پخوا له	هغه چې	زه اجازه درکړم تاسی ته

او (رب) د هارون. وویل (فرعون ساحرانو ته) آیا ایمان راوړ تاسی په دغه (موسٰی) پخوا له هغه چې زه اجازه درکړم تاسی ته

اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۬

اِنَّهٗ	لَكَبِيْرُكُمُ	الَّذِيْ	عَلَّمَكُمُ	السِّحْرَ	فَلَسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ
بیشکه! دغه (موسٰی)	خامخا مشر دی ستاسی	هغه (مشر)	چې ښوولی یې دی تاسی ته	جادو	پس خامخا ژر به	پوه سئ تاسی

بیشکه! دغه (موسٰی) خامخا مشر د ی ستاسی هغه (مشر) چې ښوولی یې دی تاسی ته سحر پس خامخا ژر به عالمان سئ.

لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ

لَاُقَطِّعَنَّ	اَيْدِيَكُمْ	وَاَرْجُلَكُمْ	مِّنْ خِلَافٍ
خامخا زه به پرې کړم	لاسونه ستاسی	او پښې ستاسی	سره مخالفې

خامخا زه به پرې کړم لاسونه ستاسی او پښې ستاسی سره مخالفې (راسته لاس او چپه پښه یا برعکس د دی)

وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝٤٩ قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۡ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا

وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ	اَجْمَعِيْنَ	قَالُوْا	لَا ضَيْرَ	اِنَّآ	اِلٰى رَبِّنَا
او خامخا وبه ځړوم پر دار هرومرو تاسی	ټول	وویل (ساحرانو)	نسته ضرر موږ ته په دی کښې	بیشکه! موږ	رب خپل ته

او خامخا وبه ځړوم پر دار هرومرو تاسی ټول. وویل (ساحرانو) نسته ضرر موږ ته په دی کښې ځکه چې بیشکه! موږ رب خپل ته

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ۝٤٦
قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

جادوګرانو چي حقیقت ولیدی نو پر سجدي پریوتل مسلمانان سول:

دمقابلې په دوران کي چي کله دحضرت موسی عليه السلام واری راغی نو یه خپله لکړه وغورځوله دالله جل جلاله په امر سره او دغورځولو سره دهغې څخه یو غټ مار جوړ سو ددوی ټول جوړ سوي شیان یي تیرول شروع کړل :جادوګرانو چي کله داپس منظر ولیدی نو داسي متاثره سول چي ټول پر سجده پریوتل او په چیغو سره یي وویل چي موږ ایمان راوړی دی په رب دعالمیانو باندي کم چي دموسی عليه السلام او هارون عليه السلام رب دی فرعون چي ددوی دایمان اعلان واوریدی ډیر زیات وبیریدی چي داسي نه چي ټول قوم ایمان راوړي او مسلمانان سي نو دچالاکی څخه یي کار واخیستی او یو مضمون یي جوړ کی نو په صورت دعتاب او ملامتی کي ساحرانو ته وویل چي هو تاسي ایمان راوړی پر موسی عليه السلام باندي بغیر ددې چي زه تاسي ته اجازه درکړم خامخا معلومیږي چي داپه جادوکي ستاسي دټولو څخه غټ استاد دی الخ: پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

مُنْقَلِبُوْنَ ۞﴿۵۰﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ

مُنْقَلِبُوْنَ	اِنَّا	نَطْمَعُ	اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا	رَبُّنَا	خَطٰيٰنَآ	اَنْ
بیرته ورتلونکي یو	بیشکه! موږ	طمع هیله لرو	ددی چي وبخښي موږته	رب زموږ	گناهونه زموږ	له دی جهته

بیرته ورتلونکي یو. (اوبل ځکه چي) بیشکه! موږ طمع هیله لرو د دی چي وبخښي موږته رب زموږ گناهونه زموږ له دی جهته

كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۱﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ

ع ۳/۱۸

كُنَّآ	اَوَّلَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَاَوْحَيْنَآ	اِلٰى مُوْسٰٓى	اَنْ	اَسْرِ
چي یو موږ	مخکنی	دایمان راوړونکو	او وحی ولیږه موږ	طرف دموسٰی ته	داسی چي	دشپي بوځه

چي یو موږ اولنی (مخکنی) د ایمان راوړونکو. او وحی (حکم) ولیږه موږ طرف دموسٰی ته داسی چي دشپي بوځه

بِعِبَادِيْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۵۲﴾ فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَآئِنِ

بِعِبَادِيْٓ	اِنَّكُمْ	مُّتَّبَعُوْنَ	فَاَرْسَلَ	فِرْعَوْنُ	فِي الْمَدَآئِنِ
بندگان زما	بیشکه! چي تاسي	پسي به درسی	پس ولیږل	فرعون	په ښارونو کښی

بندگان زما (بنی آسرائیل) بیشکه! چي تاسي پسي به درسي (فرعون سره له فرعونیانو). پس ولیږل فرعون په ښارونو کښی

حٰشِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ ﴿۵۴﴾

حٰشِرِيْنَ	اِنَّ	هٰٓؤُلَآءِ	لَشِرْذِمَةٌ	قَلِيْلُوْنَ
راټولوونکی (دلښکر)	چي بیشکه!	دغه (بنی اسرائیل)	خامخا یوه ډله ده	ډیر لږه

راټولوونکی (دلښکر). (او وویل فرعون) چي بیشکه! دغه (بنی اسرآئیل) خامخا یوه ډله ده ډیر لږه.

وَاِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ﴿۵۶﴾

وَاِنَّهُمْ	لَنَا لَغَآئِظُوْنَ	وَاِنَّا	لَجَمِيْعٌ	حٰذِرُوْنَ
او بیشکه! چي دوی	موږلره په قهر کوونکی دی	او بیشکه! موږ	خامخا ټول	په خطره بیره کښی یو

او بیشکه! چي دغه (سبطیان) موږلره خامخا په قهر کوونکی دی، او بیشکه! موږ خامخا ټول په خطره بیره کښی یو.

فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۷﴾ وَّ كُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ

فَاَخْرَجْنٰهُمْ	مِّنْ	جَنّٰتٍ	وَّعُيُوْنٍ	وَّ كُنُوْزٍ	وَّمَقَامٍ
پس ویستل موږ دوی (قبطیان)	له	باغونو	او (له) چینو	او (له) خزانو	او (له) ځایونو

پس ویستل موږ دغه (قبطیان) له باغونو او له چینو او له خزانو او له ځایونو

اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ.. د تیر مخ پاته بیان دلته وگوری:

دغه استاد تاسي ته جادو ښوولی دی او تاسي دده شاگردان یاست په دې وجه تاسي پټ یو پلان جوړ کړی دی چي تاسي داسي وکی موږ به بیا داسي وکړو او پر دغه رکم به گټل او بایلل ښکاره سي چي دقبطیانو څخه به حکومت واخلو او په فارغه زړه سره به ورته کښینو اوپر دوی به خپل حکومت کوو لکه داقول دالله ﷻ دی (انّ هذا مکر مکتموه فی المدینة لتخرجوا منها اهلها) نو ای جادوگرانو اوس به تاسي ته حقیقت معلوم سي او هغه دادی چي زه به تاسي ته داسي سزا درکړم چي دیوه طرف لاسونه او دبل طرف پښې به مو پریکړم او تاسي ټول به په دار کړم چي نور خلک عبرت درڅخه واخلي دوی جواب ورکی چي هیڅ پرواه نه لرو موږ ستا ددغه بیروولو او سزا راکوولو څخه په دغه قتل کولو سره به موږ خپل مالک حقیقي ته ورسیږو کم ځای چي هر قسم امن اوراحت دی نو په داسي مرگ سره به زموږ څه نقصان او تاوان وي او الله ﷻ به زموږ گناهونه معاف کړي.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۶۳)

كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنٰهَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ﴿٥٩﴾

كَرِيمٍ	كَذٰلِكَ	وَأَوْرَثْنٰهَا	بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ
ښو ځخه	همداسې (وکړه موږ له قبطیانو سره)	او په میراث موږ ورکړل دغه (تیر شیان)	بني اسرآئیلو ته

ښو ځخه. همداسې (وکړه موږ له قبطیانو سره) او په میراث مو ورکړل دغه (تیر شیان) بني اسرآئیلو ته.

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ

فَأَتْبَعُوهُم	مُّشْرِقِينَ	فَلَمَّا	تَرَآءَ	الْجَمْعٰنِ	قَالَ
نو پسې سول دوی په هغو	په وخت د ختلو دلمر	پس کله چې	سره ولیدل	دغو دواړو لښکرونو	نو وویل

نو پسې سول دوی په هغو په وخت د ختلو دلمر. پس کله چې سره ولیدل دغو دواړو لښکرونو نو وویل

أَصْحٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّآ ۖ إِنَّ مَعِيَ

أَصْحٰبُ	مُوسَىٰٓ	إِنَّا	لَمُدْرَكُونَ	قَالَ	كَلَّآ	إِنَّ	مَعِيَ
ملګرو	دموسیٰ	چې بیشکه! موږ	خامخا پیداکړی سوی یو	وویل (موسیٰ)	چې نه ده داسې	بیشکه!	له ماسره

ملګرو د موسیٰ چې بیشکه! موږ خامخا پیداکړی سوی یو له جانبه د (قبطیانو). وویل (موسیٰ) چې نه ده داسې بیشکه! له ماسره

رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۖ

رَبِّي	سَيَهْدِينِ	فَأَوْحَيْنَآ	إِلَىٰ مُوسَىٰٓ	أَنِ اضْرِب	بِّعَصَاكَ	الْبَحْرَ
رب زما دی	ژر به وښیي ماته لار	پس وحی وکړ موږ	موسیٰ ته	داسې چې ووهه ته	په لکړه خپل	بحر

رب زما دی ژر به وښیي ماته لار. پس وحی وکړ موږ موسیٰ ته داسې چې ووهه ته په همسا خپلې بحر (دقلزم یا دنیل)

فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ

فَانفَلَقَ	فَكَانَ	كُلُّ	فِرْقٍ	كَالطَّوْدِ	الْعَظِيمِ	وَأَزْلَفْنَا	ثَمَّ
پس وچاوده	پس سوه	هره	برخه (ټوټه)	لکه غر	لوی	او رانژدې کړل موږ	بیا دغه ځای ته

پس وچاوده (دولس ټوټې سو) پس سوه هره برخه (ټوټه جلاسوی اوچته) لکه او ډډ لوړ غر. او رانژدې کړل موږ بیا دغه ځای

الْأٰخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ

الْأٰخَرِينَ	وَأَنجَيْنَا	مُوسَىٰ	وَمَن مَّعَهُۥٓ	أَجْمَعِينَ	ثُمَّ
هغه نور (قبطیان)	او نجات ورکړ موږ	موسیٰ	او هغو (سبطیانو) ته چې له ده سره وه	ټول	بیا

ته هغه نور (قبطیان). او نجات ورکړ موږ موسیٰ او هغو (سبطیانو) ته چې له ده سره وه (له غرقه) ټول. بیا

كَذٰلِكَ وَأَوْرَثْنٰهَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ.. دفرعون ټوله خزانې او املاک الله جل جلاله وبني اسرائیلو ته ورکړل: په دغه آیت کي په ظاهره داوضاحت دی چي د فرعون دقوم څخه پاته سوي املاک او باغونه او جائدادونه او خزانې الله جل جلاله دفرعون او دده لښکرو تر هلاکت وروسته وبني اسرآئیلو ته ورکړل: لیکن په دي کي یو تاریخي اشکال دادی چي په خپله دقرآن کریم ډیر ایاتونه پر دغه باندي شاهد دي چي دفرعونیانو دهلاکت څخه وروسته بني اسرآئیل مصر ته بیاه نه دي تللي بلکي دخپل اصلي وطن ارض مقدس دشام طرف ته روان سول هلته دوی ته دیو کافر قوم سره دجهاد کولو حکم وسو چي بني اسرآئیلو یي دمنلو څخه انکار وکی: په تفسیر روح المعاني کي یي ددې سوال دوه جوابونه ورکړي دي یو دادی چي دلته الله جل جلاله دافرمایلي دي چي دوی ماوارثان کړل دایي نه دي فرمایلي چي دفرعون دهلاکت څخه فوراً وروسته ځکه چي څلوېښت کاله وروسته بیا دوی مصر ته داخل سوي دي: او پاته سو تاریخ هم نه دی معتبر ځکه چي هغه یهودو لیکلی دی الخ. (معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص ٦٧)

اَغۡرَقۡنَا الۡاٰخَرِيۡنَ ﴿٦٦﴾ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ

اَغۡرَقۡنَا	الۡاٰخَرِيۡنَ	اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	وَمَا كَانَ
غرق كړل موږ	هغه نور (قبطيان)	بيشكه!	په دغه (غرق د قبطيانو كښې)	خامخا لوی دليل دی	او نه ؤ

غرق كړل موږ هغه نور (قبطيان). بيشكه! په دغه (غرق د قبطيانو كښې) خامخا لوی دليل دی (دعبرت) او نه ؤ

اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿٦٧﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الرَّحِيۡمُ ﴿٦٨﴾ ع

اَكۡثَرُهُمۡ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ	الۡعَزِيۡزُ	الرَّحِيۡمُ
اكثر زياتره د دوی	مؤمنان	او بيشكه!	رب ستا	خامخا هم هغه دی	ښه غالب قوی	ښه رحم والا

اكثر زياتره د دوی مؤمنان. او بيشكه! رب ستا خامخا هم هغه دی ښه غالب قوی ښه رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

وَاتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَاَ اِبۡرٰهِيۡمَ ﴿٦٩﴾ اِذۡ قَالَ لِاَبِيۡهِ وَقَوۡمِهٖ

وَاتۡلُ	عَلَيۡهِمۡ	نَبَاَ اِبۡرٰهِيۡمَ	اِذۡ قَالَ	لِاَبِيۡهِ	وَقَوۡمِهٖ
او ووايه (محمده!)	پر دوی (كفارو)	خبر (قصه) د ابراهيم	كله چي ويئ وويل	پلار خپل ته	او قوم خپل ته

او ولوله (ای محمده!) پر دغو (كفارو دمكی) خبر (قصه) دابراهيم! كله چي ويئ وويل پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل ته

مَا تَعۡبُدُوۡنَ ﴿٧٠﴾ قَالُوۡا نَعۡبُدُ اَصۡنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيۡنَ ﴿٧١﴾

مَا تَعۡبُدُوۡنَ	قَالُوۡا	نَعۡبُدُ	اَصۡنَامًا	فَنَظَلُّ	لَهَا	عٰكِفِيۡنَ
چي د څه شي عبادت كوئ تاسي	نو وويل دوی	عبادت كوو	د بتانو	پس هميشه اوسو	دوی ته	ورنژدې كښيناستونكي

چي د څه شي عبادت كوئ تاسي ، نو وويل دوی عبادت كوو د بتانو پس هميشه اوسو دوی ته ورنژدې كښيناستونكي .

قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُوۡنَكُمۡ اِذۡ تَدۡعُوۡنَ ﴿٧٢﴾ اَوۡ يَنۡفَعُوۡنَكُمۡ

قَالَ	هَلۡ	يَسۡمَعُوۡنَكُمۡ	اِذۡ تَدۡعُوۡنَ	اَوۡ يَنۡفَعُوۡنَكُمۡ
وويل (ابراهيم)	آيا	اوری (دغه بتان بلنه) د تاسي	كله چي يئ بولئ تاسي	يا څه نفع رسوی تاسي ته

وويل (ابراهيم) آيا اوری (دغه بتان بلنه) د تاسي كله چي يئ بولئ تاسي. يا څه نفع رسوی تاسي ته (چي يئ عبادت وكړئ)

اَوۡ يَضُرُّوۡنَ ﴿٧٣﴾ قَالُوۡا بَلۡ وَجَدۡنَاۤ اٰبَآءَنَا كَذٰلِكَ يَفۡعَلُوۡنَ ﴿٧٤﴾

اَوۡ يَضُرُّوۡنَ	قَالُوۡا	بَلۡ	وَجَدۡنَاۤ	اٰبَآءَنَا	كَذٰلِكَ	يَفۡعَلُوۡنَ
يا ضرر در رسوی	وويل (كفارو)	بلكه	پيداء كړی دی موږ	پلرونه خپل	چي هم داسي	به يئ كول

يا ضرر در رسوی (كه يئ عبادت ونه كړئ). وويل (كفارو) بلكه پيداء كړی دی موږ پلرونه خپل چي هم داسي به يئ كول.

ع ١٧
٨

وَاتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَاَ اِبۡرٰهِيۡمَ ﴿٦٩﴾
اِذۡ قَالَ لِاَبِيۡهِ وَقَوۡمِهٖ

دحضرت ابراهيم عليه السلام دقصي څخه دشرک بدوالی په دليل سره معلوميږي: په دغه آيت كي الله جل جلاله نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته خطاب كړی دی چي ته دي كفارو دمكي ته دابراهيم عليه السلام قصه بيان كړه چي دوی ته دشرک بدوالی په دليلونو سره معلوم سي خاص دابراهيم عليه السلام په نقل كولو سره ځكه چي دعربو مشركين ځانونو ته دابراهيم عليه السلام پر دين باندي وايي او دغه قصه هغه وخت سوې وه كله چي دوی خپل پلار ته او خپل قوم ته كم چي بت پرست وه وويل چي دا تاسي دڅه واهياتو شيانو عبادت كوی هغو وويل چي موږ دبتانو عبادت كوو او موږ ددوی عبادت ته ناست يو همدغه سي. ابراهيم عليه السلام وفرمايل چي دوی ستاسي خبره اوري كله چي تاسي دوی دخپلو حاجتونو د پوره كولو د پاره راوبولی يا تاسي چي ددوی عبادت كوی دوی تاسي ته څه نفع رسولای سي ؟ او كه تاسي ددوی عبادت پرېږدی نو تاسي ته څه ضرر رسولای سي ؟ هغو خلګو وويل چي نه دا خبره خونه ده. **پاته بيان پر راونمخ باندي وګوری.**

قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٥﴾ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمُ

قَالَ	اَفَرَءَيْتُمْ	مَّا كُنْتُمْ	تَعْبُدُوْنَ	اَنْتُمْ	وَاٰبَآؤُكُمُ
وویل (ابراهیم)	آیاپس وینئ	هر هغه (بتان) چي يئ تاسي	چي عبادت کوئ	تاسي (دهغوی)	او پلرونه ستاسي

وویل (ابراهیم) آیا پس وینئ (پوهیږئ) هر هغه (بتان) چي يئ تاسي چي عبادت کوئ. تاسي (دهغوی) او پلرونه ستاسي

الْاَقْدَمُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْٓ اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٧﴾

الْاَقْدَمُوْنَ	فَاِنَّهُمْ	عَدُوٌّ لِّيْٓ	اِلَّا	رَبَّ	الْعٰلَمِيْنَ
چي پخوا تیر سوی دی	پس بیشکه! چي دغه (بتان)	دښمنان زما دی	مګر	رب	دعالمیانو

چي پخوا تیر سوی دی. پس بیشکه! چي دغه (بتان) دښمنان زما دی مګر رب د عالمیانو (دوست يئ لرم او عبادت ئی کوم)

الَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِيْ هُوَ يُطْعِمُنِيْ

الَّذِيْ	خَلَقَنِيْ	فَهُوَ	يَهْدِيْنِ	وَالَّذِيْ	هُوَ	يُطْعِمُنِيْ
هغه (رب)	چي پیدا کړی يئ یم زه	پس هم دی	سمه صافه لاره ښیي ماته	او هغه (رب)	چي هم دی	طعام خوری په ما

هغه (رب) چي پیدا کړی يئ یم زه (له عدمه) پس هم دی سمه صافه لاره ښیي ماته او هغه (رب) چي هم دی طعام خوری په ما

وَيَسْقِيْنِ ﴿٧٩﴾ وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ

وَيَسْقِيْنِ	وَاِذَا	مَرِضْتُ	فَهُوَ	يَشْفِيْنِ	وَالَّذِيْ	يُمِيْتُنِيْ
او اوبه را باندی څښنی	او کله چي	مریض سم	پس هم دی	شفاء راکوی	او هغه (رب)	چي مړ کوی می

او اوبه (اونور) راباندی څښنی. او کله چي مریض رنځور سم پس هم دی شفاء راکوی او هغه (رب) چي مړ کوی می

ثُمَّ يُحْيِيْنِ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْٓ اَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ

ثُمَّ	يُحْيِيْنِ	وَالَّذِيْٓ	اَطْمَعُ	اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ
بیا به می	ژوندی کوی	او هغه (رب)	چي طمع امید لرم	ددی چي مغفرت کړی ماته

(په دنیا کښی) بیا به می ژوندی کوی (په عقبا کښی). او هغه (رب) چي طمع امید لرم (تری) د دی چي مغفرت کړی ماته

خَطِيْٓـَٔتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ حُكْمًا وَّاَلْحِقْنِيْ

خَطِيْٓـَٔتِيْ	يَوْمَ	الدِّيْنِ	رَبِّ	هَبْ لِيْ	حُكْمًا	وَّاَلْحِقْنِيْ
خطاء زما	په ورځی	دجزاء کښی	ای ربه زما	وبخښه ماته	حکم	او پیوست می کړه

خطاء زما په ورځی دجزاء کښی. ای ربه زما وبخښه ماته حکم (علم عمل حکمت نبوت) او پیوست می کړه

قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: چي دوی څه اوري یا نفع اوضرر رسولای سي موږ يي ځکه عبادت کوو چي زموږ پلرونو او نیکه ګانو ددوی عبادت کړی وو نو موږ هم داسي کوو ابراهیم ﷺ ورته وفرمایل چي ښه نو تاسي ددوی حالت په فکر سره ولیدی نو پوه سی چي ددغه بتانو عبادت ستاسي دپاره یو دضرر باعث دی مګر ها رب العلمین داسي ذات دی چي هغه دخپلو عبادت کوونکو دوست او دهغه عبادت سراسر نفع او فائده ده او هغه داسي ذات دی کم چي زه او دغه شان ټوله مخلوقات پیدا کړي دي او بیا هغه ماته زما دمصلحتونو طرف ته راهنمايي کوي یعني عقل او پوه راکوي په هغه عقل او پوه سره زه نفع اوضرر پیژنم او کم چي ماته خوراک او څښاک راکوي او کله چي زه ناجوړی سم نو هغه ماته شفا راکوي او هغه ذات ماته پر وخت باندي مرګ راکوي او هم هغه ذات به دقیامت په ورځ ما لره راژوندی کوي او هغه ته زما امید دی چي زما خطاګاني به رامعاف کوي: (معارف القرآن ج ٧ پ ١٩ ص ٧١)

بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿٨٤﴾

بِالصّٰلِحِيْنَ	وَاجْعَلْ لِّيْ	لِسَانَ	صِدْقٍ	فِي الْاٰخِرِيْنَ
له (لويو) صالحانو سره	او وګرځوه ماته	ژبه	دصدق	په وروستنيو (خلګو کښې هم)

له (لويو) صالحانو سره. او وګرځوه ماته ژبه د صدق (او دثناء او دنيکنامی آواز) په وروستنيو (خلګو کښی هم).

وَاجْعَلْنِيْ مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيْمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ لِاَبِيْٓ اِنَّهٗ

وَاجْعَلْنِيْ	مِنْ وَّرَثَةِ	جَنَّةِ	النَّعِيْمِ	وَاغْفِرْ	لِاَبِيْٓ	اِنَّهٗ
او ومی ګرځوه	له وارثانو	دجنت	دنعمتونو	او بخښنه وکړه	پلار زما ته	بيشکه! چی دی

او ومی ګرځوه له وارثانو د جنت د نعمتونو. او بخښنه وکړه پلار زما ته بيشکه! چی دی

كَانَ مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِيْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ

كَانَ	مِنَ الضَّآلِّيْنَ	وَلَا تُخْزِنِيْ	يَوْمَ	يُبْعَثُوْنَ	يَوْمَ
ؤ	له ګمراهانو	او مه می شرموه	په هغه ورځ کښی	چی ژوندی راپاڅول سی	په هغه ورځ

ؤ له ګمراهانو. او مه می شرموه په هغه ورځ کښی چی ژوندی راپاڅول سی (ټول مخلوقات له قبرونو). په هغه ورځ

لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿٨٩﴾

لَا يَنْفَعُ	مَالٌ	وَّلَا بَنُوْنَ	اِلَّا	مَنْ اَتَى	اللّٰهَ	بِقَلْبٍ	سَلِيْمٍ
چی نه رسوی نفع	مال	او نه زامن (هيڅ‌اته)	مګر	هغه‌چاته چی راغلی دی	الله ته	په زړه	سلامت پاک (له کفره)

چی نه رسوی نفع مال او نه (نفع رسوی) زامن (هيڅ‌اته). مګر هغه‌چاته چی راغلی دی الله ته په زړه سلامت پاک (له کفره).

وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِلْغٰوِيْنَ ﴿٩١﴾

وَاُزْلِفَتِ	الْجَنَّةُ	لِلْمُتَّقِيْنَ	وَبُرِّزَتِ	الْجَحِيْمُ	لِلْغٰوِيْنَ
او ورنژدی به کړسی	جنت	پرهيزګارانو ته	او ښکاره به کړسی	جحيم	ګمراهانو ته

او (په هغه ورځ کښی به) ورنژدی کړسی جنت پرهيزګارانو ته. او ښکاره به کړسی جحيم ګمراهانو ته (لپاره د حسرت).

وَقِيْلَ لَهُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٩٢﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

وَقِيْلَ لَهُمْ	اَيْنَ	مَا كُنْتُمْ	تَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ
او وبه ويل سی دوی ته	چی چيرته دی	هغه معبودان ستاسی چی وئ	عبادت به کاوه تاسی ددوی	بی له	الله څخه

او وبه ويل سی دوی ته چی چيرته دی هغه معبودان ستاسی چی وئ عبادت به کاوه تاسی دهغو. بی له الله څخه

وَاجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْاٰخِرِيْنَ. ترقيامته پوري په انسانانوکي دذکر خير ساتلو دعا: په دغه آيت مبارک کي د (لسان) څخه مراد ذکر دی دآيت معنی داسوه چي ای خدايه ماته داسي ښه طريقې او ښه نښانې راکړې دکمو چي نور خلګ تر قيامته پوري پيروي کوي او ما په ذکر خير او ښکلي صفت سره يادوي. ابن کثير روح المعانی. الله ﷻ دحضرت ابراهيم عليه السلام دعا قبوله کړه يهود اونصارا اودمکې تر مشرکانوپوري دملت ابراهيمي سره محبت اوالفت ساتي او دخپلو ځانونو ده طرف ته يه نسبت کوي که څه هم دهغوی طريقه دملت ابراهيمي څخه خلاف دکفر اوشرک ده مګر هغوی دعوی داکوي چي موږ پر ملت ابراهيمي باندي يو او امت محمدي خو په حقه باندي پر ملت ابراهيم دکيدو دخپل ځان دپاره باعث دفخر ګڼي: دمرتبې محبت مذموم مګر په څو شرطونو سره جائز دی. دمرتبې محبت يعني چي خلګ يي عزت کوی او صفتونه يي کوي ددې خواهش شرعا مذموم دی: دجواز شرطونه يي په معارف القرآن کي وګوری. (معارف القرآن ج ٧ پ ١٩ ص ٧٢) حبيبيه

هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ

هَلْ	يَنْصُرُوْنَكُمْ	اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ	فَكُبْكِبُوْا	فِيْهَا هُمْ
آیا	مدد کوی له تاسی سره	یا څه مدد کوی دوی له ځانه سره	پس وبه غورځول سی نسکور	په دغه (دوزخ) کښی دوی

آیا مدد کوی له تاسی سره (په دفع دعذاب) یا څه مدد کوی دوی له ځانه سره. پس وبه غورځول سی نسکور په دغه کښی دوی

وَالْغَاوٗنَ ﴿۹۴﴾ وَجُنُوْدُ اِبْلِيْسَ اَجْمَعُوْنَ ﴿۹۵﴾ قَالُوْا وَهُمْ

وَالْغَاوٗنَ	وَجُنُوْدُ	اِبْلِيْسَ	اَجْمَعُوْنَ	قَالُوْا	وَهُمْ
او (هم) ګمراهان	او لښکر	دابلیس (شیطان)	ټول (عابدان)	وبه وایئ دوی	حال داچی دوی به

(او هم) ګمراهان. او لښکر د ابلیس (شیطان) ټول (عابدان او معبودان). وبه وایئ دوی حال داچی دوی به

فِيْهَا يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۹۶﴾ تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۹۷﴾

فِيْهَا	يَخْتَصِمُوْنَ	تَاللّٰهِ	اِنْ كُنَّا	لَفِيْ	ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ
په دوزخ کښی	سره جګړی کوی	چی قسم دی په الله	چی بیشکه! شان دا دی چی وو موږ	خامخا	په ګمراهی	ښکاره کښی

په دوزخ کښی سره جګړی کوی. چی قسم دی په الله چی بیشکه! شان دا دی چی وو موږ خامخا په ګمراهی ښکاره کښی.

اِذْ نُسَوِّيْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَمَآ اَضَلَّنَآ اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۹۹﴾

اِذْ نُسَوِّيْكُمْ	بِرَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	وَمَآ اَضَلَّنَآ	اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ
کله چی برابرولئ موږ تاسی	له رب	دعالمیانو سره	او نه وو ګمراه کړی موږ	مګر هم دغو مجرمانو

کله چی برابرولئ موږ تاسی (په عبادت کښی) له رب د عالمیانو سره. او نه وو ګمراه کړی موږ مګر هم دغو مجرمانو .

فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ فَلَوْ اَنَّ لَنَا

فَمَا لَنَا	مِنْ شَافِعِيْنَ	وَلَا صَدِيْقٍ	حَمِيْمٍ	فَلَوْ اَنَّ	لَنَا
پس نشته موږ ته	له سره له شفاعتګرو	او نه کوم دوست	مخلص	پس (کاشکی) که وی	موږ ته

پس نشته موږ ته له سره له شفاعتګرو (هیڅوک) او نه کوم دوست مخلص. پس (کاشکی) که وی موږ ته

كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

كَرَّةً	فَنَكُوْنَ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً
یو وار واپسی	پس سوی به وو موږ	له مؤمنانو	بیشکه! چی	په دغه (قصه) کښی	خامخا لویه نښه ده

یو وار (بیرته ورتګ دنیا ته) پس سوی به وو موږ له مؤمنانو. بیشکه! چی په (قصه) دغه کی خامخا لوی حجت نښه ده

هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ
دکفارو څخه به دقیامت په ورځ پوښتنه وسي چي معبودان مو څه سوله ؟
په ورځ دقیامت به کفارو ته ددوی دذلت ورکولو دپاره وویل سي چي هغه معبودان چي تاسي یي دخدای ﷻ څخه ماسوا عبادت کوی هغه څه سوله ؟ ایا داوخت هغه ستاسي مدد کولای سي یا تاسي خپله خپل دځان حفاظت کولای سی ددې څخه وروسته به هغه عبادت کوونکي اوګمراه خلګ او دابلیس لښکر ټول په جمع به دوږخ ته پرمخي واچول سي بس هغه بتان او شیطانان به نه خپل ځان وساتي او نه به خپل عبادت کوونکي وساتي هغه کفاربه په دوږخ کي خبري کوي دهغه معبودانو سره چي دوی یي عبادت کوی چي په خدای ﷻ مو دي قسم وي بیشکه موږ په ګمراهی کي ووکله چي موږ تاسي په عبادت کي درب العلمین سره برابر ولاست او موږ خوبس دي لویو مجرمانو کم چي دګمراهی بنیاد اینښوونکي وه ګمراهان کړو نواوس نه زموږ څوک سفارشي سته چي آزادي راکړي او نه څوک مخلص دوست الخ.
(معرف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۷۲)

وَمَا كَانَ اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٠٣﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

وَمَا كَانَ	اَكۡثَرُهُمۡ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ	الۡعَزِيۡزُ
او نه وو	اکثر زیاتره د دوی	مؤمنان	او بیشکه!	رب ستا	هم هغه	غالب قوی دی

(عقلاؤ ته) او نه وو اکثر زیاتره د دوی مؤمنان. او بیشکه! رب ستا هم هغه غالب قوی دی (په نفاذ د احکامو)

الرَّحِيۡمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوۡحِ ۣالۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿١٠٥﴾ اِذۡ قَالَ ع ٥

الرَّحِيۡمُ	كَذَّبَتۡ	قَوۡمُ	نُوۡحِ	الۡمُرۡسَلِيۡنَ	اِذۡ قَالَ
ډیر رحم والا	نسبت د دروغو وکړ	قوم	د نوح	رسولانو ته	کله چې وویل

ډیر رحم والا (په انعام د اجر). نسبت د دروغو وکړ قوم د نوح رسولانو ته. کله چې وویل

لَهُمۡ اَخُوۡهُمۡ نُوۡحٌ اَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿١٠٦﴾ اِنِّيۡ لَكُمۡ رَسُوۡلٌ اَمِيۡنٌ ﴿١٠٧﴾

لَهُمۡ	اَخُوۡهُمۡ	نُوۡحٌ	اَلَا تَتَّقُوۡنَ	اِنِّيۡ	لَكُمۡ	رَسُوۡلٌ	اَمِيۡنٌ
دوی ته	ورور د دوی	نوح	چې ایا نه بیریږئ تاسی	بیشکه! چې زه	تاسی ته	رسول یم	امانتګر

دوی ته ورور د دوی نوح چې آیا نه بیریږئ تاسی (له عذابه د الله). بیشکه! چې زه تاسی ته رسول یم امانتګر.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوۡنِ ﴿١٠٨﴾ وَمَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ

فَاتَّقُوۡا	اللّٰهَ	وَاَطِيۡعُوۡنِ	وَمَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ	عَلَيۡهِ	مِنۡ اَجۡرٍ
پس وبیریږئ تاسی	له الله څخه	او اطاعت وکړئ زما	او نه غواړم زه له تاسی څخه	په دغه تبلیغ باندی	هیڅ اجر (عوض)

پس وبیریږئ تاسی له الله څخه او اطاعت وکړئ زما. او نه غواړم زه له تاسی څخه په دغه تبلیغ باندی هیڅ اجر (عوض)

اِنۡ اَجۡرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

اِنۡ اَجۡرِيَ	اِلَّا	عَلٰى	رَبِّ	الۡعٰلَمِيۡنَ	فَاتَّقُوۡا	اللّٰهَ
نه دی اجر زما	مګر	پر	رب (پالونکی)	د مخلوقاتو دی	پس وبیریږئ تاسی	له الله څخه

نه دی اجر زما مګر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. پس وبیریږئ تاسی له الله (په ځان ساتلو له معاصیو) څخه

وَاَطِيۡعُوۡنِ ﴿١١٠﴾ قَالُوۡۤا اَنُؤۡمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الۡاَرۡذَلُوۡنَ ﴿١١١﴾

وَاَطِيۡعُوۡنِ	قَالُوۡۤا	اَنُؤۡمِنُ	لَكَ	وَاتَّبَعَكَ	الۡاَرۡذَلُوۡنَ
او اطاعت وکړئ زما	نو وویل (کفارو)	آیا ایمان راوړو	په تا	حال دا چې متابعت کړی دی ستا	رذیلانو، خوارانو

او اطاعت وکړئ زما. نو وویل (کفارو) آیا ایمان راوړو په تا حال دا چې متابعت کړی دی ستا رذیلانو خوارانو.

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوۡحِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ..قوم دنوح عليه السلام هم پیغمبران د رواغجن کړل: په دغه راروانو ایاتونوکي الله جل جلاله دحضرت نوح عليه السلام او دده قوم قصه بیان کړیده داسي چي قوم دنوح عليه السلام پیغمبرانو ته تکذیب وکی ځکه چي دیو پیغمبر په درواغجن کولو سره دټولو پیغمبرانو درواغجن کول لازمیږي: کله چي دوی ته ددوی دبرادری ورور نوح عليه السلام وویل چي آیا تاسي دخدای جل جلاله څخه نه بیریږی؟ زه ستاسي امانتدار پیغمبر یم چي بعینه دخدای جل جلاله پیغام درته بې دڅه کمی او زیاتی رسوم پس ددې مقتضی داده چي تاسي خلګ دالله جل جلاله څخه وبیریږی او زما خبره ومنی او دارنګه زه ستاسي څخه څه دنیوي بدله هم نه غواړم زما بدله خو بس دالله جل جلاله پر ذمه ده پس زما ددې بې غرضی مقتضی هم داده چي تاسي د الله جل جلاله څخه وبیریږی او زما خبره ومنی هغوخلګو وویل چي آیا موږ تا ومنو حال دادی چي رذیلان او کمینه خلګ ستا سره ملګری سوي دي دکمو په ملګرتیا سره چي شریفانو ته شرم ورځي.پاته بیان پر راروان مخ باندي وګوری.

قَالَ وَمَا عِلۡمِيۡ بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾ اِنۡ حِسَابُهُمۡ اِلَّا

قَالَ	وَمَا عِلۡمِيۡ	بِمَا كَانُوۡا	يَعۡمَلُوۡنَ	اِنۡ حِسَابُهُمۡ	اِلَّا
وويل (نوح)	او نشته علم زما	په هغه څه چې دي دوی	چې يئ کوی	نه دی حساب د دوی	مگر

وويل (نوح) او نشته علم زما په هغه څه چې دی دوی چې يئ کوی. نه دی حساب د دوی مگر

عَلٰى رَبِّيۡ لَوۡ تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَاۤ اَنَا بِطَارِدِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۱۴﴾

عَلٰى	رَبِّيۡ	لَوۡ تَشۡعُرُوۡنَ	وَمَاۤ اَنَا	بِطَارِدِ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ
پر	رب زما دی	که تاسو پوهيږئ (په غيبو)	او نه يم زه	شړونکی	دمؤمنانو

پر رب (پالونکی) زما دی که تاسو پوهيږئ (په غيبو). او نه يم زه شړونکی د مؤمنانو (له خپل مجلسه).

اِنۡ اَنَا اِلَّا نَذِيۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۱۵﴾ قَالُوۡا لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ يٰنُوۡحُ

اِنۡ اَنَا	اِلَّا	نَذِيۡرٌ	مُّبِيۡنٌ	قَالُوۡا	لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ	يٰنُوۡحُ
نه يم زه	مگر	بيرووونکی	ښکاره (کفاروته)	وويل (کفارو)	چې خامخا که وانه وښتی (له دغو)	ای نوحه

نه يم زه مگر بيرووونکی ښکاره (يم کفارو ته له جحيم څخه). وويل (کفارو) چې خامخا که وانه وښتی (له دغو) ای نوحه

لَتَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمَرۡجُوۡمِيۡنَ ﴿۱۱۶﴾ قَالَ رَبِّ اِنَّ قَوۡمِيۡ

لَتَكُوۡنَنَّ	مِنَ الۡمَرۡجُوۡمِيۡنَ	قَالَ	رَبِّ	اِنَّ	قَوۡمِيۡ
خامخا سی به ته هرومرو	له ويشتل سويو	وويل (نوح)	ای ربه زما	بيشکه! چې	قوم زما

خامخا سی به ته هرومرو له ويشتل سويو (په تيږو يا په ښکنځلو). وويل (نوح) ای ربه زما بيشکه! چې قوم زما

كَذَّبُوۡنِ ﴿۱۱۷﴾ فَافۡتَحۡ بَيۡنِيۡ وَبَيۡنَهُمۡ فَتۡحًا وَّنَجِّنِيۡ

كَذَّبُوۡنِ	فَافۡتَحۡ	بَيۡنِيۡ	وَبَيۡنَهُمۡ	فَتۡحًا	وَّنَجِّنِيۡ
دروغجن وبللم زه	پس حکم فيصله وفرمايه	په مينځ زما	او په مينځ د دوی کښی	په يو ډول حکم	او نجات راکړه ماته

دروغجن وبللم زه. پس حکم فيصله وفرمايه په مينځ زما او د دوی کښی په يو ډول (طريق) حکم او نجات راکړه ماته

وَمَنۡ مَّعِيَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۱۸﴾ فَاَنۡجَيۡنٰهُ وَمَنۡ مَّعَهٗ فِى الۡفُلۡكِ

وَمَنۡ	مَّعِيَ	مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	فَاَنۡجَيۡنٰهُ	وَمَنۡ مَّعَهٗ	فِى الۡفُلۡكِ
او هغه چاته چی	له ما سره دی	له مؤمنانو	پس نجات ورکړو موږ هغه ته	او هر هغه ته چی له دغه سره وه	په کښتی کښی

او هغه چاته چی له ما سره دی له مؤمنانو پس نجات ورکړو موږ دغه (نوح) او هر هغه ته چی له دغه سره ؤ په کښتی کښی

اِنۡ حِسَابُهُمۡ اِلَّا عَلٰى رَبِّيۡ لَوۡ تَشۡعُرُوۡنَ..دتير مخ **پاته بيان دلته وکوری**: او اکثره دداسي کم حوصلي خلگو مقصد دچاسره په ملگري کيدو څه مال يا مرتبه حاصلول وي ددوی دايمان دعوی هم قابل اعتبار نه ده نوح عليه السلام وويل چې ددوی دکاسبانه کار سره زما څه تعلق دی برابره خبره ده که شريفان وي او که رذيلان په دين کي دا تفاوت هيڅ اثر نه کوي پاته سو دا احتمال چي ددوی ايمان په زړه سره نه دی پس په دي سره ددوی حساب او کتاب اخيستل دخدای ﷻ کار دی څه به نبه وايي که تاسي په دي پوهيدای نو دا رذالت پيشه خلگ چي دخپل ايمان راوړلو څخه مانع مقرر کوی دا به مو نه کولای او اشارةً ددي څخه دا درخواست معلوميږي چي زه ددوی دخپل ځان څخه ليري کړم نو دا اوري چي زه ايماندار خلگ دخپل ځان څخه نه سم ليري کولای که تاسي ايمان راوړی او که يي نه راوړی ماته خو هيڅ ضرر نشته ځکه زما وظيفه او کار دالله ﷻ پيغام رسول دي او هغه ما تر تاسي پوري په مکمله توگه دروړسوی الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۷۸)

نصف

الْمَشْحُوْنِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبٰقِيْنَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

الْمَشْحُوْنِ	ثُمَّ	اَغْرَقْنَا	بَعْدُ	الْبٰقِيْنَ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ
چې ډکه وه	بیا	غرق کړمونږ	وروسته	له (نجاته د کېنتی) نور	بیشکه!	په دغه (صبر او غرق کېنی)

چې ډکه وه (له ذوی الارواحو څخه) بیا غرق کړمونږ وروسته له (نجاته د کېنتی) نور. بیشکه! په دغه (صبر او غرق کېنی)

لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٢١﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

لَاٰيَةً	وَمَا كَانَ	اَكْثَرُهُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ
خامخا لویه نښه ده	او نه ؤ	زیاتره د دوی	مؤمنان	او بیشکه!	رب ستا	خامخا هم دی

خامخا لویه نښه ده (د قدرت او عبرت) او نه ؤ زیاتره د دوی مؤمنان. او بیشکه! رب ستا خامخا هم دی

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ عَادُ ِالْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ

الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ	كَذَّبَتْ	عَادٌ	الْمُرْسَلِيْنَ	اِذْ قَالَ
ښه غالب قوی دی	ډیر رحم والا دی	نسبت د دروغو کړی ؤ	عادیانو	رسولانو ته	کله چې وویل

ښه غالب قوی دی ډیر رحم والا دی. نسبت د دروغو کړی ؤ عادیانو رسولانو ته کله چې وویل

لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ

لَهُمْ	اَخُوْهُمْ	هُوْدٌ	اَلَا تَتَّقُوْنَ	اِنِّيْ	لَكُمْ	رَسُوْلٌ
دوی ته	ورور د دوی	هود	چې آیا نه بیریږئ تاسی	بیشکه! زه یم	تاسی ته	رسول

دوی ته (قومی) ورور د دوی هود چې آیا نه بیریږئ تاسی (له عذابه د الله په شرک خپل؟) بیشکه! زه یم تاسی ته رسول

اَمِيْنٌ ﴿١٢٥﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٢٦﴾ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ

اَمِيْنٌ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوْنِ	وَمَآ اَسْئَلُكُمْ	عَلَيْهِ
امانتګر	نو وبیریږئ تاسی	له الله	او اطاعت وکړئ تاسی زما	او نه غواړم زه له تاسی څخه	پر دغه (تبلیغ)

امانتګر. نو وبیریږئ تاسی له الله او اطاعت وکړئ تاسی زما. او نه غواړم زه له تاسی څخه پر دغه (تبلیغ)

مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢٧﴾ اَتَبْنُوْنَ

مِنْ اَجْرٍ	اِنْ اَجْرِيَ	اِلَّا	عَلٰى	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	اَتَبْنُوْنَ
هیڅ اجر	نه دی اجر زما	مګر	پر	رب	د مخلوقاتو دی	آیا جوړوئ تاسی

هیڅ اجر (بدل، عوض) نه دی اجر زما مګر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. آیا جوړوئ تاسی

كَذَّبَتْ عَادُ ِالْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ..قوم د عاد هم وانبیاوو علیهم السلام ته دروغجن وویل: په دغه ایاتونو کې الله جل جلاله فرمایي چې قوم د عادیانو هم پیغمبران دروغجن کړل کله چې دوی ته د دوی دبرادری ورور حضرت هود علیه السلام وویل چې آیا تاسې دخدای جل جلاله څخه نه بیریږی؟ زه ستاسې امانت داره پیغمبر یمه پس تاسې دالله جل جلاله څخه و بیریږی او زما خبره ومنی او زه ستاسې څخه پر دې تبلیغ باندې څه بدله نه غواړم بس زما بدله خو درب العلمین پر ذمه ده آیا تاسې علاوه دشرک څخه په تکبر او فخر کې هم په دې درجه سره مصروف یاست چې پر هر لوړ ځای یو یادګار جوړوی چې ښه لوړه په نظر راسې کم چې محض فضول بې ضرورته جوړوی او ددې څخه علاوه کم چې د اوسیدونکو مکانونه دي دکمو چې په یوه درجه کې ضرورت هم دی په هغو کې هم تاسې داسې مبالغه کوی چې لوی لوی محلونه جوړوی حال دا چې دهغو څخه په کمو کې ارام کول کیږي دا خو داسې یاست تاسې لکه دلته چې همیشه پاته کیږی الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۷۸)

ع ۱۸
۱۰

بِكُلِّ رِيۡعٍ اٰيَةً تَعۡبَثُوۡنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَتَّخِذُوۡنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمۡ

بِكُلِّ رِيۡعٍ	اٰيَةً	تَعۡبَثُوۡنَ	وَتَتَّخِذُوۡنَ	مَصَانِعَ	لَعَلَّكُمۡ
پر هر لوړځای	نښه	بې فائدې	او جوړوئ	مصنوعات	ښايئ چې تاسې

پر هر اوچت ځای (لويه لاره) نښه اوچته عبثيات کوئ. او جوړوئ (پاخه او کلک) مصنوعات ښايئ چې تاسې

تَخۡلُدُوۡنَ ﴿۱۲۹﴾ وَاِذَا بَطَشۡتُمۡ بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِيۡنَ ﴿۱۳۰﴾ فَاتَّقُوا

تَخۡلُدُوۡنَ	وَاِذَا	بَطَشۡتُمۡ	بَطَشۡتُمۡ	جَبَّارِيۡنَ	فَاتَّقُوا
به تل اوسيږئ	او کله چې	لاس اچوئ تاسې چاته	منګلې لګوئ	په جبر سره	نو وېرېږئ تاسې

به تل اوسيږئ (په دنيا کښې)، او کله چې لاس اچوئ تاسې چاته منګلې لګوئ په جبر (او ظلم سره)، نو وېرېږئ تاسې

اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوۡنِ ﴿۱۳۱﴾ وَاتَّقُوا الَّذِيۡۤ اَمَدَّكُمۡ بِمَا

اللّٰهَ	وَاَطِيۡعُوۡنِ	وَاتَّقُوا	الَّذِيۡۤ	اَمَدَّكُمۡ	بِمَا
له الله څخه	او اطاعت وکړئ تاسې زما	او وېرېږئ تاسې	له هغه (الله)	چې احسان يې کړی دی له تاسې سره	په هغه شي چې

له الله څخه او اطاعت وکړئ تاسې زما. او وېرېږئ تاسې له هغه (الله) چې احسان يې کړی دی له تاسې سره په هغه شي چې

تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۳۲﴾ اَمَدَّكُمۡ بِاَنۡعَامٍ وَّبَنِيۡنَ ﴿۱۳۳﴾ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوۡنٍ ﴿۱۳۴﴾ اِنِّيۡۤ

تَعۡلَمُوۡنَ	اَمَدَّكُمۡ	بِاَنۡعَامٍ	وَّبَنِيۡنَ	وَجَنّٰتٍ	وَّعُيُوۡنٍ	اِنِّيۡۤ
پوهيږئ پرې	امداد يې کړی دی ستاسې سره	په حيواناتو	او زامنو	او باغونو	او چينو	بيشکه! چې زه

پوهيږئ پرې. مددګاري احسان يې فرمايلې دی پر تاسې په (اعطاء د) مواشيو او زامنو او باغونو او چينو. بيشکه! چې زه

اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿۱۳۵﴾ قَالُوۡا سَوَآءٌ

اَخَافُ	عَلَيۡكُمۡ	عَذَابَ	يَوۡمٍ	عَظِيۡمٍ	قَالُوۡا	سَوَآءٌ
بيرېږم	پر تاسې	له عذابه	دورځې	ډېر لوئې	ووېل (عاديانو)	برابره (خبره) ده پر

بيرېږم پر تاسې له عذابه د ورځې ډېرې لوئې (دقيامت). ووېل (عاديانو هود ته) برابره (خبره) ده پر

عَلَيۡنَاۤ اَوَعَظۡتَ اَمۡ لَمۡ تَكُنۡ مِّنَ الۡوٰعِظِيۡنَ ﴿۱۳۶﴾ اِنۡ هٰذَاۤ

عَلَيۡنَاۤ	اَوَعَظۡتَ	اَمۡ	لَمۡ تَكُنۡ	مِّنَ الۡوٰعِظِيۡنَ	اِنۡ هٰذَاۤ
مونږ باندې	آيا که پند راکړې ته	يا که	نه يې ته	له پند راکوونکو څخه	نه دی دغه

مونږ باندې آيا که پندراکړې (ته موږ ته) يا که نه يې ته له پند راکوونکو څخه، نه دی دغه (مرګ او حيات يا وعظ او نصيحت)

اَتَبۡنُوۡنَ بِكُلِّ رِيۡعٍ اٰيَةً تَعۡبَثُوۡنَ. بې ضرورته ابادي جوړول بده ده: دقرآن کريم ددغه آيت څخه ثابته سوه چي بغير د ضرورت څخه مکان جوړول او آبادي کول شرعا بده ده: او همدغه معنی ده ددغه حديث کم چي امام ترمذی رحمة الله عليه دحضرت انس رضي الله عنه څخه نقل کړيدی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي (النفقة کلها فی سبيل الله الا البنآء فلا خير فيه) يعني هغه آبادي کم چي ده ضرورت څخه زياته جوړه سوي وي په دي کي هيڅ خير او ښه والی نسته او ددې معنی او تصديق دحضرت انس رضي الله عنه دبل روايت څخه هم کيږي هغه داچي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي (انّ کل بنآء وبال علی صاحبه الا مالا بدّ منه) رواه ابوداود يعني هره ابادي دآبادوونکي دپاره مصيبت دی مګر هغه آبادي چي ضروري وي وبال نه دی: په تفسير روح المعاني کي علامه آلوسي رحمة الله عليه فرمايي چي بغير دصحيح غرض څخه لوړه آبادي جوړول په شريعت محمديه کي هم مذمومه او بده ده. افسوس چي دغه روايتونه اود نن سبا دمسلمانانو دکورونو اسراف؟ (معرف القرآن ج ۷ پ۱۹ ص۸۱)

اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ

اِلَّا	خُلُقُ	الْاَوَّلِيْنَ	وَمَا نَحْنُ	بِمُعَذَّبِيْنَ	فَكَذَّبُوْهُ
مگر	عادت خوی	ديخوانيو	اونه يو موږ	چي په عذاب به اخته کړی سو	پس تکذيب وکړ (عاديانو) د دغه

مگر عادت خوی ديخوانيو ، او نه يو موږ چي په عذاب به کړی سو (په دغو چارو خپلو). پس تکذيب وکړ (عاديانو) د دغه

فَاَهْلَكْنٰهُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

فَاَهْلَكْنٰهُمْ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	وَمَا كَانَ	اَكْثَرُهُمْ
پس هلاک کړل موږ دوی	بيشکه!	په دغه کښي	خامخا لويه نښه ده	او نه وو	زياتره دوی

پس هلاک کړل موږ دوی له بيشکه په دغه (هلاکت) کښي خامخا لويه نښه (د قدرت او عبرت) ده ، او نه وو زيتره دوی

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٩﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٤٠﴾ كَذَّبَتْ

مُّؤْمِنِيْنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ	كَذَّبَتْ
مؤمنان	او بيشکه!	رب ستا	خامخا هم دی	ښه غالب قوی دی	ډير رحم والا	نسبت د دروغو کړی ؤ

مؤمنان، او بيشکه! رب ستا خامخا هم دی ښه غالب قوی دی ډير رحم والا . نسبت د دروغو کړی ؤ

ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٤١﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٤٢﴾

ثَمُوْدُ	الْمُرْسَلِيْنَ	اِذْ قَالَ	لَهُمْ	اَخُوْهُمْ	صٰلِحٌ	اَلَا تَتَّقُوْنَ
ثموديانو	رسولانو ته	کله چي وويل	دوی ته	ورور د دوی	صالح	چي آيا نه بيريږئ تاسی

ثموديانو رسولانو ته. کله چي وويل دوی ته (قومي) ورور د دوی صالح چي آيا نه بيريږئ تاسی (له عذابه دالله).

اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

اِنِّيْ	لَكُمْ	رَسُوْلٌ	اَمِيْنٌ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ
بيشکه! زه	تاسی ته	رسول يم	امانتگر	نو وبيريږئ تاسی	له الله څخه

بيشکه! زه تاسی ته رسول يم امانتگر نو وبيريږئ تاسی له الله څخه (په ځان ساتلو له معاصيو)

وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٤٤﴾ وَمَا اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ

وَاَطِيْعُوْنِ	وَمَا اَسْـَٔلُكُمْ	عَلَيْهِ	مِنْ اَجْرٍ	اِنْ اَجْرِيَ
او اطاعت وکړئ تاسی زما	او نه غواړم زه له تاسی څخه	پر دغه (تبليغ)	هيڅ اجر	او نه دی اجر زما

او اطاعت وکړئ تاسی زما. او نه غواړم زه له تاسی څخه پر دغه (تبليغ) هيڅ اجر (عوض، بدل) او نه دی اجر زما

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٤١﴾
اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ..

قوم د ثمود هم انبياء عليهم السلام درواغجن کړل: په دغه ذکر سوو اياتونو کي الله جل جلاله فرمايي چي قوم د ثموديانو هم انبياء عليهم السلام دروغجن کړل هغه داسي کله چي دوی ته د دوی ورور حضرت صالح عليه السلام وفرمايل آيا تاسي دالله جل جلاله څخه نه بيريږی زه ستاسي امانتداره پيغمبر يمه پس تاسي دالله جل جلاله څخه وبيريږی او زما خبره ومنی او زه ستاسي څخه پر دې دعوت او تبليغ باندي هيڅ بدله نه غواړمه ځکه چي زما بدله پر الله جل جلاله باندي ده او تاسي چي کم د خوشحالی په وجه دومره دالله جل جلاله څخه غافله ياست نو ايا تاسي به په دې شيانو کي په امن سره پريښوول سی کم چي دلته په دنيا کي موجود دي يعني په باغونو او چينو کي او په دې فصلونو او انگورو کي د کمو غونچي چي ښه بار داره دي يعني په دې خرماوو کي ښه ډيره ميوه راځي: او آيا د دې غفلت په وجه تاسي غرونه هم تراش کوی په فخر او لويي کولو سره مکانات جوړوی پس دالله جل جلاله څخه وبيريږی توبه وباسی.
(معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص ٨٣)

ع ١٨
١١

إِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ﴿١٤٦﴾

إِلَّا	عَلٰى	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	أَتُتْرَكُوْنَ	فِيْ مَا هٰهُنَآ	اٰمِنِيْنَ
مګر	پر	رب	دمخلوقاتو دی	آیا پری به نبودل سئ تاسی	په هغو کښی	په امان (لدآفاتو)

مګر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. آیا پری به نبودل سئ تاسی په هغو (نعمتونو) کښی په امان (لدآفاتو).

فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٤٧﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ﴿١٤٨﴾

فِيْ جَنّٰتٍ	وَّعُيُوْنٍ	وَّزُرُوْعٍ	وَّنَخْلٍ	طَلْعُهَا	هَضِيْمٌ
په باغونو کښی	او (په) چینو کښی	او (په) کښتونو کښی	او (په) خرماګانو	چی میوه د هغو	نازکه پسته وی

په باغونو کښی او (په) چینو (کښی) او په کښتونو (فصلونو) کښی او (په) خرماګانو چی میوه د هغو لطیفه پسته وی.

وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

وَتَنْحِتُوْنَ	مِنَ الْجِبَالِ	بُيُوْتًا	فٰرِهِيْنَ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ
او جوړوی تاسی	له غرونو څخه	کورونه	چی ماهران یئ (په فخر سره)	نو وبیریږئ تاسی	له الله

او جوړوی تاسی له غرونو څخه کورونه چی ماهران یئ په دغه مکلف توږلو سره. نو وبیریږئ تاسی له الله (په ځان ساتلو)

وَأَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيْعُوْٓا أَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٥١﴾ الَّذِيْنَ

وَأَطِيْعُوْنِ	وَلَا تُطِيْعُوْٓا	أَمْرَ	الْمُسْرِفِيْنَ	الَّذِيْنَ
او اطاعت وکړئ تاسی زما	او مه منئ تاسی	امر	د اسراف کوونکو	د هغه اسراف کوونکو

او اطاعت وکړئ تاسی زما. او مه منئ تاسی امر (حکم، خبره) د اسراف کوونکو . د هغه مسرفانو

يُفْسِدُوْنَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوْٓا إِنَّمَآ أَنْتَ

يُفْسِدُوْنَ	فِي الْأَرْضِ	وَلَا يُصْلِحُوْنَ	قَالُوْٓا	إِنَّمَآ	أَنْتَ
چی فساد کوی دوی	په مځکه کی	او نه کوی اصلاح	نو وویل (ثمودیانو)	بیشکه! هم دا خبره ده	چی ته

چی فساد کوی دوی په مځکه کی او نه کوی اصلاح. نو وویل (ثمودیانو) بیشکه! هم دا خبره ده چی ته

مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۖ فَأْتِ بِاٰيَةٍ

مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ	مَآ أَنْتَ	إِلَّا	بَشَرٌ	مِّثْلُنَا	فَأْتِ	بِاٰيَةٍ
له هغو یئ چی ډیر جادو پری کړی سوی وی	نه یئ ته	مګر	یو انسان یئ	په شان زموږ	نو راوړه	څه معجزه

له هغو (کسانو څخه یئ) چی ډیر سحر پری کړی سوی وی. نه یئ ته مګر یو انسان یئ په شان زموږ نو راوړه څه معجزه

وَاَطِيْعُوْنِ ﴿﴾ وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ حضرت صالح عليه السلام وخپل قوم ته دالله ﷻ دخبري دمنلو وصيت وکي: نو اى زما قومه زما خبره ومنى او دهغه کسانو خبري مه منى چي دشريعت تر حدودو تير سوي دي کم چي په مځکه کي فساد کوي او هيڅکله تاسي ته داصلاح خبره نه کوي يعني هغه ستاسي سرداران او کافران کم چي خلګ ګمراهي ته رابلي او حضرت صالح عليه السلام ته وايي چي په تا يو چالوي جادو کړی دی په کم سره چي ستا په عقل کي خرابي راغلي ده نو څکه اوس دنبوت دعوی کوي حال دادی چي ته خو اوس زموږ په شان يو معمولي انسان يي او انسان خو نبي نه سي کيداى پس نو څه معجزه خو پيش کړه که ته دنبوت په دعوى کي رښتينى يي صالح عليه السلام ورته وفرمايل چي دا يوه اوښه ده کمه چي دخلاف عادت پيدا کيدو په وجه معجزه ده لکه مځکي هم دابيان تير سوی داتمي سيپاري په آخره کي او علاوه ددغه څخه دغه اوښه زما پر نبوت باندي يو واضح دليل او نښه هم ده لهذا ددي اوښي عزت کوی الخ.
(معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص٨٣)

إِنۡ كُنتَ مِنَ الصّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرۡبٌ

اِنۡ كُنۡتَ	مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ	قَالَ	هٰذِهٖ	نَاقَةٌ	لَّهَا	شِرۡبٌ
که يئ ته	له صادقانو	وويل (صالح)	دا	اوښه ده	دی ته	دڅښلو واری دی

که يئ ته له صادقانو ، رښتينو څخه. وويل (صالح) دا اوښه ده (معجزه دنبوت) دی ته (داوبو) دڅښلو واری دی

وَّلَكُمۡ شِرۡبُ يَوۡمٍ مَّعۡلُوۡمٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوۡهَا بِسُوۡٓءٍ

وَّلَكُمۡ	شِرۡبُ	يَوۡمٍ	مَّعۡلُوۡمٍ	وَلَا تَمَسُّوۡهَا	بِسُوۡٓءٍ
او تاسی ته	دڅښلو واری دی	دورځی	معلومی	او مه رسوئ تاسی دی (اوښی) ته	هيڅ ضرر

او تاسی ته (د اوبو) دڅښلو واری دی د ورځی معلومی . او مه رسوئ تاسی دی (اوښی) ته هيڅ ضرر (کله نه)

فَيَاۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوۡهَا

فَيَاۡخُذَكُمۡ	عَذَابُ	يَوۡمٍ	عَظِيۡمٍ	فَعَقَرُوۡهَا
پس وبه نيسی تاسی لره	عذاب	د ورځی	لوی	پس زخمی مړه کړه دوی دغه اوښه

پس وبه نيسی تاسی لره عذاب د ورځی لوئی دقيامت چی لوی دی عذاب يئ. پس زخمی مړه کړه (ثموديانو) دغه اوښه

فَاَصۡبَحُوۡا نٰدِمِيۡنَ ﴿١٥٧﴾ فَاَخَذَهُمُ الۡعَذَابُ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ

فَاَصۡبَحُوۡا	نٰدِمِيۡنَ	فَاَخَذَهُمُ	الۡعَذَابُ	اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً
پس سهار ته وګرځيدل	پښيمانه	پس ونيول دوی	عذاب	بيشکه!	په دغه کښی	خامخا لوی دليل دی

پس سهار ته وګرځيدل نادمان پښيمانه. پس ونيول دوی عذاب (هلاک سول) بيشکه! په دغه کښی خامخا لوی دليل دی

وَمَا كَانَ اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٥٨﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

وَمَا كَانَ	اَكۡثَرُهُمۡ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ	الۡعَزِيۡزُ
او نه ؤ	زياتره د دوی	مؤمنان	او بيشکه!	رب ستا	خامخا هم دی دی	ښه غالب قوی

او نه ؤ زياتره د دوی مؤمنان. او بيشکه! رب ستا خامخا هم دی دی ښه غالب قوی

الرَّحِيۡمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوۡطِ ۨالۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿١٦٠﴾ اِذۡ قَالَ لَهُمۡ

الرَّحِيۡمُ	كَذَّبَتۡ	قَوۡمُ	لُوۡطِ	الۡمُرۡسَلِيۡنَ	اِذۡ قَالَ	لَهُمۡ
ډير رحم والا	نسبت د دروغو کړی ؤ	قوم	دلوط	رسولانو ته	کله چی وويل	دوی ته

ډير رحم والا په انعام د اجر او ثواب سره . نسبت د دروغو کړی ؤ قوم د لوط رسولانو ته. کله چی وويل دوی ته

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوۡطِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ. قوم دلوط عليه السلام هم انبياء عليهم السلام دروغجن کړل: په دغه ذکر سوو اياتونو کي الله جل جلاله دحضرت لوط عليه السلام او دده دقوم قصه بيان کړيده هغه داسي چي قوم دلوط عليه السلام هم پيغمبران دروغجن کړل کله چي دوی ته د دوی دقوم ورور حضرت لوط عليه السلام وويل چي آيا تاسي دخدای جل جلاله څخه نه بيريږی ؟ زه ستاسي دپاره يو امانتداره پيغمبر يمه پس تاسي دالله جل جلاله څخه وبيريږی اوزما خبره ومنی او زه ستاسي څخه پر دغه دعوت اوتبليغ باندي څه اجر او مزدوري هم نه غواړمه پس زما بدله او اجر پر الله جل جلاله باندي ده ايا دټول جهان په خلګو کي تاسي داحرکت کوی چي دسړيو سره بد فعلي کوی او ستاسي رب کم چي ستاسي دپاره ښيباني پيدا کړي دي هغه پريږدی يعني بل يو کس ستاسي څخه ماسوا داکار نه دی کړی او داسي نه ده چي ددغه کار په بدوالي کي څه شک دی بلکي تاسي ددغه کار په وجه ع ٨ ١٩ ١٢
سره دانسانيت ددائري څخه وتونکي ياست ځکه چي حيوان لاهم داسي کار نه کوي الخ.
(معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص ٨٥)

اَخُوْهُمْ لُوْطٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٦١﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٦٢﴾

اَخُوْهُمْ	لُوْطٌ	اَلَا تَتَّقُوْنَ	اِنِّيْ	لَكُمْ	رَسُوْلٌ	اَمِيْنٌ
وروردوی	لوط	آیا نه بیریږئ تاسی	بیشکه! زه چی یم	تاسی ته	رسول یم	امانتګر

قومي وروردوی لوط آیا نه بیریږئ تاسی (له عذابه دالله). بیشکه! زه چی یم تاسی ته رسول یم امانتګر

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٦٣﴾ وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ

فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوْنِ	وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ	عَلَيْهِ	مِنْ اَجْرٍ
نو وبیریږئ	له الله څخه	او اطاعت وکړئ زما	او نه غواړم زه له تاسی څخه	پر دغه (تبلیغ) باندی	هیڅ اجر

نو وبیریږئ له الله څخه(په ځان ساتلو) او اطاعت وکړئ زما. او نه غواړم زه له تاسی څخه پر دغه (تبلیغ) باندی هیڅ اجر

اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٤﴾ اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ

اِنْ اَجْرِيَ	اِلَّا	عَلٰى	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	اَتَاْتُوْنَ	الذُّكْرَانَ
نه دی اجر زما	مګر	پر	رب	دمخلوقاتو دی	آیا راتګ کوئ تاسی	نارینه ؤ ته

نه دی اجر زما مګر پر رب (پالونکی) د عالمیانو دی. آیا راتګ کوئ تاسی (په لواطت کولو) نارینه ؤ ته

مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ

مِنَ الْعٰلَمِيْنَ	وَتَذَرُوْنَ	مَا خَلَقَ	لَكُمْ	رَبُّكُمْ	مِّنْ
له خلکو	او پریږدئ تاسی	هغه چی پیدا کړی دی	تاسی ته	رب ستاسی	له

له خلکو. او پریږدئ تاسی هغه چی پیدا کړی دی تاسی ته رب ستاسی له

اَزْوَاجِكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوْا لَئِنْ

اَزْوَاجِكُمْ	بَلْ اَنْتُمْ	قَوْمٌ	عٰدُوْنَ	قَالُوْا	لَئِنْ
ښځو ستاسی	بلکه تاسی چی یئ	یو قوم یئ	له حده تیریدونکی	وویل (قوم دلوط)	قسم دی خامخا که

ښځو ستاسی، بلکه تاسی چی یئ یو قوم یئ له حده تیریدونکی (له حلاله حرام و ته). وویل (قوم د لوط) قسم دی خامخا که

لَمْ تَنْتَهِ يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ اِنِّيْ

لَمْ تَنْتَهِ	يٰلُوْطُ	لَتَكُوْنَنَّ	مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ	قَالَ	اِنِّيْ
وانه ونښتی	ای لوطه!	نو خامخا سی به ته هرومرو	له ایستل سویو	وویل (لوط)	بیشکه! زه

وانه ونښتی (له دغو خبرو) ای لوطه! نو خامخا سی به ته هرومرو له ایستل سویو (له دغه ښار څخه). وویل (لوط) بیشکه! زه

وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ۚ

غیر فطري عمل دخپلي ببیي سره هم حرام دی:

دآیت مطلب دادی چي ستاسي دنفساني خواهش دپاره چي الله جل جلاله کمي ببیاني پیدا کړي دي تاسي هغه پریږدی او دخپلو همجنسو سړیو څخه خپل نفساني خواهش پوره کوی کم چي دنفس دخباثت دلیل دی اودا هم کیدای سي چي لفظ د (مِن) دتبعیض دپاره مقرر سي نو بیا اشاره دي طرفته ده چي ستاسي دبیبیانو کم مقام چي ستاسي دپاره جوړ سوی دی اوکم چي فطري کار دی هغه پریږدی او دبیبیانو سره خلاف فطرت کار کوی کم چي قطعا حرام دی: غرض داچي ددې دوهمي معنی په اعتبار سره دامسئله هم ثابته سوه چي دخپلي ببیي سره هم خلاف فطرت عمل ناروا او حرام دی. په حدیث شریف کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر داسي کس باندي لعنت فرمایلی دی چي لعنت دي وي پرداسي خلګو او داسي قوم باندي چي دحضرت لوط علیه السلام دقوم غوندي عمل کوي: الله جل جلاله دي موږ اوتاسي او زموږ قوم ته دداسي افعالو څخه پنا راکړي.

(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص ۸۶)

لِعَمَلِكُمْ مِّنَ الْقَالِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ رَبِّ نَجِّنِيْ وَاَهْلِيْ مِمَّا

لِعَمَلِكُمْ	مِّنَ الْقَالِيْنَ	رَبِّ	نَجِّنِيْ	وَاَهْلِيْ	مِمَّا
له دی عمل ستاسی سره	له بغض لرونکوڅخه یم	ای ربه زما	نجات راکړه ماته	او اهل زما ته	له هغو کارونو چی

له دی (بد) عمل ستاسی سره له بغض لرونکو یم. ای ربه زما نجات راکړه ماته او اهل زما ته له (عذابه د) هغو کارونو چی

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۹﴾ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ اِلَّا عَجُوْزًا

يَعْمَلُوْنَ	فَنَجَّيْنٰهُ	وَاَهْلَهٗ	اَجْمَعِيْنَ	اِلَّا عَجُوْزًا
دغه (قوم) يئ کوی	پس نجات ورکړو موږ دغه ته	او اهل د ده	ټولو ته	مګر یوی بوډی ښځی ته

دغه (قوم) يئ کوی. پس نجات ورکړو موږ دغه (لوط) ته او اهل د ده ټولو ته. مګر یوی بوډی ښځی ته چی په

فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ

فِي الْغٰبِرِيْنَ	ثُمَّ	دَمَّرْنَا	الْاٰخَرِيْنَ	وَاَمْطَرْنَا	عَلَيْهِمْ	مَّطَرًا
چی په پاتی کیدونکو کښی وه	بیا	هلاک کړل موږ	نور	او ومو اوراوه	پر دوی باندی	باران (دکاڼو)

(جمله) دباقی پاتی کیدونکو کښی وه. بیا هلاک کړل موږ هغه نور. او و مو اوراوه پر دوی باندی باران (دکاڼو)

فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۳﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

فَسَآءَ	مَطَرُ	الْمُنْذَرِيْنَ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	وَمَا كَانَ	اَكْثَرُهُمْ
پس بد دی	باران	دیرولی سویو ؤ	بیشکه!	په دغه کښی	خامخا لوی دلیل دی	او نهٔ ؤ	زیاتره د دوی

پس بد دی باران دیرولی سویو ؤ. بیشکه! په دغه (اهلاک) کښی خامخا لوی دلیل (دقدرت) دی او نهٔ ؤ زیاتره د دوی

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۷۵﴾ كَذَّبَ

مُّؤْمِنِيْنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ	كَذَّبَ
مؤمنان	او بیشکه!	رب ستا	خامخا هم دی	ښه غالب دی	ډیر رحم والا	نسبت د دروغو کړی ؤ

مؤمنان. او بیشکه! رب ستا خامخا هم دی ښه غالب دی ډیر رحم والا. نسبت د دروغو کړی ؤ

اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۶﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ

اَصْحٰبُ	لْـَٔيْكَةِ	الْمُرْسَلِيْنَ	اِذْ قَالَ	لَهُمْ	شُعَيْبٌ
صاحبانو	د ځنګل	رسولانو ته	کله چی وویل	دوی ته	شعیب

صاحبانو د ځنګل (د ونو) رسولانو ته. کله چی وویل دوی ته شعیب

كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ..دحضرت شعیب علیه السلام قوم هم انبیاء علیهم السلام دروغجن کړل:

په دغه ذکر سوو ایاتونو کي الله جل جلاله فرمايي چي دګڼ ځنګله اوسيدونکو هم انبياوو علیهم السلام لره دروغجن وويل هغه داسي چي کله دوی ته حضرت شعيب علیه السلام وويل چي ايا تاسي دالله جل جلاله څخه نه بيريږی؟ زه ستاسي دپاره يو امانتداره پيغمبريمه پس تاسي دالله جل جلاله څخه وبيريږی او زما خبره ومنی او زه ستاسي څخه پر دغه دعوت او تبليغ باندي څه اجر او مزدوري نه غواړم زما بدله او اجر پر الله جل جلاله باندي دی نو تاسي خلګ پوره پيمانه ورکوی په تول او ترازو کي کمی مه کوی او دمالک حق مه کموی دغه رکم دتول په شيانو کي په سيده تله باندي تول کوی يعني مه يي لکړه کښته کوی او مه يي پورته کوی او مه په کاڼو کي نقصان کوی او دخلګو شيان مه نقصاني کوی او په مځکه کي فساد مه غوروی دهغه قادر خدای جل جلاله څخه وبيريږی کم چي تاسي او ټول مخکني مخلوقات پيدا کړي ياست نو دهغه عبادت کوی الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص ۸۷)

ع ۹ ۲۱ ۱۳

اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ اِنِّیْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ﴿۱۷۸﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

اَلَا تَتَّقُوْنَ	اِنِّیْ	لَكُمْ	رَسُوْلٌ	اَمِیْنٌ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ
چی آیا نه بیریږئ	بیشکه! زه چی یم	تاسی ته	رسول یم	امانتګر	نو ویریږئ تاسی	له الله

چی آیا نه بیریږئ (له عذابه). بیشکه! زه چی یم تاسی ته رسول یم امانتګر نو ویریږئ تاسی له الله

وَاَطِیْعُوْنِ ﴿۱۷۹﴾ وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِیَ

وَاَطِیْعُوْنِ	وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ	عَلَیْهِ	مِنْ اَجْرٍ	اِنْ اَجْرِیَ
او اطاعت وکړئ زما	او نه غواړم زه له تاسی څخه	پر دغه	هیڅ اجر	نه دی اجر زما

او اطاعت وکړئ زما (په شرعیه ؤ امورو کښې) او نه غواړم زه له تاسی څخه پر دغه (تبلیغ) هیڅ اجر نه دی اجر زما

اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۸۰﴾ اَوْفُوا الْكَیْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ

اِلَّا	عَلٰی	رَبِّ	الْعٰلَمِیْنَ	اَوْفُوا	الْكَیْلَ	وَلَا تَكُوْنُوْا	مِنَ
مګر	پر	رب	دمخلوقاتو دی	پوره ورکوئ تاسی	پیمانه	او مه کیږئ	له

مګر پر رب (پالونکی) دعالمیانو دی. پوره ورکوئ تاسی پیمانه (کله چی چاته غله پیمانه کوئ) او مه کیږئ له

الْمُخْسِرِیْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِیْمِ ﴿۱۸۲﴾

الْمُخْسِرِیْنَ	وَزِنُوْا	بِالْقِسْطَاسِ	الْمُسْتَقِیْمِ
کمو ورکوونکو څخه	او تول کوئ تاسی	په تله	برابره سره

کمو ورکوونکو (دپیمانی) څخه او تول کوئ تاسی په تله برابره سره (او هیڅ کمی په هیڅ شان شی کښی مه کوئ!)

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْیَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِی الْاَرْضِ

وَلَا تَبْخَسُوا	النَّاسَ	اَشْیَآءَهُمْ	وَلَا تَعْثَوْا	فِی الْاَرْضِ
او مه کموئ تاسی	خلګو ته	شیان د دوی	او مه ګرځئ تاسی	په مځکه کښی

او مه کموئ تاسی خلګو ته شیان د دوی (او په هیڅ شی کښی حقوق مه منع کوئ!) او مه ګرځئ تاسی په مځکه کښی

مُفْسِدِیْنَ ﴿۱۸۳﴾ وَاتَّقُوا الَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۱۸۴﴾

مُفْسِدِیْنَ	وَاتَّقُوْا	الَّذِیْ	خَلَقَكُمْ	وَالْجِبِلَّةَ	الْاَوَّلِیْنَ
چی فساد کوونکی اوسئ	او ویریږئ	له هم هغه (الله) څخه	چی پیدا کړئ یئ یاست تاسی	او خلګ	مخکنی

په دغه حال کښی چی فساد کوونکی اوسئ. او ویریږئ له هم هغه (الله) څخه چی پیدا کړئ ئی یاست تاسی او خلګ مخکنی.

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْیَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا

دخلکو په حقوقوکي کمی کول حرام دی: دایت مطلب دادی چي دمعاهدې موافق چي څومره دچاحق وي دهغه څخه کمی کول حرام دی برابره خبره ده که د ناپ تول شیان وي او که نور وي: ددې آیت څخه معلومه سوه چي یو نوکر مزدور که په خپل مقرر وخت کي غلا کوي وخت کم لګوي هغه هم دعذاب په دغه وعده کي داخل دی: امام مالک رحمة الله علیه په مؤطا کتاب کي روایت نقل کړی دی چي حضرت عمر رضي الله عنه یو سړی ولیدی چي دمازدیګر په لمانځه کي شریک نه سو نو فاروق اعظم رضي الله عنه پوښتنه ورڅخه وکړه نو هغه څه عذر وکی حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ورته وفرمایل چي (طففت) یعني تا په تول کي کمی وکی: لمونځ چونکي دتللو شی نه دی په دې وجه ددغه حدیث تر نقل کولو وروسته امام مالک رحمة الله علیه فرمايي چي (وفآء تطفیف) یعنی دحق مطابق کول یا کمول په هر شي کي سته یعني صرف دناپ او تول سره داحکم مخصوص نه دی بلکي دچا په حق کي کمی کول په تطفیف کي داخل دی

(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص ۸۸)

قَالُوٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ

قَالُوٓا	اِنَّمَآ	اَنْتَ	مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ	وَمَآ اَنْتَ	اِلَّا	بَشَرٌ
وويل	بيشكه! همداخبره ده	چې ته	له جادو کړوسويو شخه يې	او نه يې ته	مګر	يو انسان

وويل (اصحاب الايکه) بيشکه! هم داخبره ده چې ته له سحر کړو سويو شخه يې او نه يې ته مګر يو انسان (بشر)

مِّثْلُنَا وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿١٨٦﴾ فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا

مِّثْلُنَا	وَاِنْ	نَّظُنُّكَ	لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ	فَاَسْقِطْ	عَلَيْنَا
په شان زموږ	او بيشکه! شان دادی	چې موږ ګمان کوو پر تا	چې خامخا له دروغجنانو (يې)	پس راوغورځوه	پر موږ

په شان زموږ او بيشکه! شان دا دی چې موږ ګمان کوو پر تا چې خامخا (ته يې) له دروغجنانو. پس راوغورځوه پر موږ

كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ

كِسَفًا	مِّنَ السَّمَآءِ	اِنْ كُنْتَ	مِنَ الصّٰدِقِيْنَ	قَالَ
يوه ټوټه	له آسمانه	که يې ته	له صادقانو ، ريښتنيو	وويل (شعيب)

يوه ټوټه له اسمانه که يې ته له صادقانو ريښتنيو (په دغه دعوی خپله کښی). وويل (شعيب)

رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ

رَبِّيْٓ	اَعْلَمُ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ	فَكَذَّبُوْهُ
رب زما	ښه عالم دی	په هغو کارونو چې کوئ يئ تاسی	پس نسبت د دروغو وکړ دغو هغه (شعيب) ته

رب زما ښه عالم دی په هغو کارونو چې تاسی يئ کوئ. پس نسبت د دروغو وکړ دغو (صاحبانو) هغه (شعيب) ته

فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٨٩﴾

فَاَخَذَهُمْ	عَذَابُ	يَوْمِ الظُّلَّةِ	اِنَّهٗ	كَانَ	عَذَابَ	يَوْمٍ	عَظِيْمٍ
نو ونيول دوی	عذاب	دورځې د سيوری	بيشکه! چې دغه	وو	عذاب	دورځې	ډير لويې

نو ونيول دوی عذاب دورځې د سيوری بيشکه! چې دغه (عذاب) وو عذاب د ورځې ډير لويې.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٠﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	وَمَا كَانَ	اَكْثَرُهُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ	وَاِنَّ رَبَّكَ	لَهُوَ
بيشکه!	چې په دغه کښی	خامخا دليل دی	او نه ؤ	اکثر د دوی	مؤمنان	او بيشکه! رب ستا	خامخا هم دی دی

بيشکه! چې په دغه کښی خامخا لوی دليل دی او نه ؤ اکثر د دوی مؤمنان. او بيشکه! رب ستا خامخا هم دی دی

قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ. حضرت شعيب عليه السلام ته قوم وويل چې په تا يوچا جادو کړی دی: حضرت شعيب عليه السلام چې خپل قوم د الله جل جلاله طرف ته راوبلی او دهغه شخه يې دبيري توصيه ورته وکړه دوی احمقانو په جواب کي ورته وويل چې ای شعيبه بس په تا يولوی جادو سوی دی چې په هغه سره دي عقل دمينځه تللی دی نو ځکه دي دنبوت دعوی وکړه نو ای شعيبه که ته واقعةً په حقيقت کي دالله جل جلاله رسول او نبي يي نو پر موږ باندي داسمانه شخه يوه ټوټه راوغورزوه چې موږ ته معلومه سي چي واقعي ته نبي يي او ستا په درواغجن کولو موږ ته داسزا راکړه سوله حضرت شعيب عليه السلام ورته وفرمايله چې زه دعذاب راوستونکی يايي د راوستو دکيفيت متعين کوونکی ځوک يم؟ ستاسي عملونه زما رب ښه پيژني او دغه هم ښه پيژني چې ددغه عمل مقتضا څه ده عذاب به وي که به نه وي او کله به وي؟ نور نو دهغه اختيار دی بيا نو هغه خلګو برابر دی درواغجن کی او دده خبره يې ونه منله ترآخره پوري الخ.
(معارف القرآن ج٧پ١٩ص ٨٨)

ع ١٠ / ١٤

الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝١٩١ وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ۝١٩٢ نَزَلَ

الْعَزِيزُ	الرَّحِيمُ	وَإِنَّهُ	لَتَنْزِيلُ	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	نَزَلَ
ښه قوی غالب	ډیر رحم والا	او بیشکه! دغه	خامخا نازل کړی سوی دی	له (طرفه د) رب	دمخلوقاتو	نازل سوی دی

ښه قوی غالب ډیر رحم والا. او بیشکه! دغه (قرآن) خامخا نازل کړی سوی دی له (طرفه د) رب دعالمیانو، نازل سوی دی

بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ ۝١٩٣ عَلٰى قَلْبِكَ لِتَكُونَ

بِهِ الرُّوْحُ	الْاَمِيْنُ	عَلٰى	قَلْبِكَ	لِتَكُوْنَ
په دغه قرآن سره روح	امانتګر	پر	زړه ستا	دپاره د دی چی سی ته

په دغه قرآن سره روح امانتګر (یعنی راوړی دی دا قرآن جبرئیل الامین). پر زړه ستا دپاره د دی چی سی ته

مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ۝١٩٤ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ ۝١٩٥ وَإِنَّهُ لَفِيْ زُبُرِ

مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ	بِلِسَانٍ	عَرَبِيٍّ	مُّبِيْنٍ	وَاِنَّهٗ	لَفِيْ	زُبُرِ
له بیروونکو	په ژبه	عربی	ښکاره سره	او بیشکه! دغه (قرآن)	خامخا په	کتابونو

له بیروونکو (خلګو له عذابه دالله). په ژبه عربی ښکاره سره. او بیشکه! (مضامین د) دغه (قرآن) خامخا په کتابونو

الْاَوَّلِيْنَ ۝١٩٦ اَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اٰيَةً اَنْ يَّعْلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا

الْاَوَّلِيْنَ	اَوَلَمْ يَكُنْ	لَّهُمْ	اٰيَةً	اَنْ يَّعْلَمَهٗ	عُلَمٰٓؤُا
مخکنیو کښی دی	آیا نه دی	دغو (کفارو) ته	دلیل	چی پوهیږی پر دغه (قرآن)	عالمان

د رومبنیو کښی (هم لیکلی دی). آیا نه ده دغو (کفارو) ته دلیل (په حقانیت دقرآن) چی پوهیږی پر دغه (قرآن) عالمان

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝١٩٧ وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ عَلٰى بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ ۝١٩٨ فَقَرَاَهٗ

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	وَلَوْ	نَزَّلْنٰهُ	عَلٰى بَعْضِ	الْاَعْجَمِيْنَ	فَقَرَاَهٗ
دبنی اسرآئیلو	او که	نازل کړی وی موږ دغه	پر ځینو	عجمیانو باندی	پس لوستلی وی دغه (قرآن)

دبنی اسرآئیلو (اویقین پری کوی). او که نازل کړی وی موږ دغه قرآن پر ځینو عجمیانو باندی. پس لوستلی وی (ځینو) دغه

عَلَيْهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ۝١٩٩ كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ

عَلَيْهِمْ	مَّا كَانُوْا	بِهٖ	مُؤْمِنِيْنَ	كَذٰلِكَ	سَلَكْنٰهُ
پر دغو (کفارو)	نو نه به وو دوی	پر ده باندی	ایمان راوړونکی	همداسی	ننه ایستلی دی موږ دا (تکذیب دقرآن)

(قرآن) پر دغو (کفارو) نو نه به وو دوی پر ده باندی ایمان راوړونکی. همداسی ننه ایستلی دی موږ دا (تکذیب دقرآن)

نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ.. قران کریم دالفاظو او دمعنی دواړو دمجموعي نوم دی: په ذکر سوو ایاتونو کي د (بلسان عربي مبين) څخه معلومیږي چي قرآن کریم هغه دی کم چي په عربي ژبه وي دقرآن کریم دیو مضمون ترجمه برابره خبره ده که په هره ژبه کي وي هغې ته یوازي بیله عربي الفاظو څخه قرآن کریم نه سي ویل کیدای. او د (انّه لفی زبر الاولين) دالفاظو څخه په ظاهره ددې خلاف دامعلومیږي چي دقرآن کریم معنی چي په یوه بله ژبه کي هم وي هغه هم قرآن دی ځکه چي دآیت معنی دا سوه چي قرآن کریم په تیرو کتابونو کي هم دی او دا ظاهره ده چي تیر کتابونه تورات، انجیل، زبور وغیره په عربي ژبه کي نه وه نو صرف دقرآن معنی په دغو کتابونوکي ذکر کیدوته یي قرآن په دې آیت کي ویلی دی. او حقیقت پر کم چي دجمهور امت عقیده ده هغه دادی چي صرف مضامینو دقرآن ته ځیني وخت دوسعت په وجه قرآن ویل کیږي ځکه چي اصل مقصود دکتاب هغه مضامین وي په اولنیو کتابو دقرآن ذکر کیدل هم په دغه معنی سره دي الخ. (معارف القرآن ج ٧ پ ١٩ ص ٩٦)

فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ حَتّٰى يَرَوُا

فِيْ قُلُوْبِ	الْمُجْرِمِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِهٖ	حَتّٰى	يَرَوُا
په زړونو	دمشرکانو	نه راوړي دوی ايمان	په دی (قرآن)	ترهغه پوری	چي ووينی دوی

پەزړونو د مشرکانو (پەقرائت د نبی عربی سره) . نەراوړی دوی ایمان پەدی (قرآن) ترهغه پوری چي ووینی دوی

الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٠٢﴾

الْعَذَابَ	الْاَلِيْمَ	فَيَاْتِيَهُمْ	بَغْتَةً	وَّهُمْ	لَا يَشْعُرُوْنَ
عذاب	دردناک	پس رابه سی دوی ته	یو ناڅاپه	حال دا چي دوی به	نه پوهيږی

عذاب دردناک . پس رابه سی (دغه عذاب) دوی ته یو ناڅاپه حال دا چي دوی به نه پوهيږی .

فَيَقُوْلُوْا هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ اَفَبِعَذَابِنَا

فَيَقُوْلُوْا	هَلْ نَحْنُ	مُنْظَرُوْنَ	اَفَبِعَذَابِنَا
پس وايئ به دوی	آیا یو موږ	چي انتظار راته کاوه سی	آیا پس په راتلو د عذاب زموږ کښی

پس وايئ به دوی آیا یو موږ چي انتظار راته کاوه سی (چي ایمان راوړو) . آیا پس په راتلو د عذاب زموږ کښی

يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٢٠٤﴾ اَفَرَءَيْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ سِنِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ

يَسْتَعْجِلُوْنَ	اَفَرَءَيْتَ	اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ	سِنِيْنَ	ثُمَّ
تلوار کوی دوی	یا پس وینی ته خبر راکړه ماته	که چیری نفع ورکړو موږ دوی ته	څو کاله	بیا

دوی تلوار کوی؟ یا پس وینی ته خبر راکړه ماته که چیری نفع ورکړو موږ دوی ته څو کاله (په حیا ت سره) . بیا

جَآءَهُمْ مَّا كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

جَآءَهُمْ	مَّا كَانُوْا	يُوْعَدُوْنَ	مَآ اَغْنٰى	عَنْهُمْ	مَّا كَانُوْا
راسی دوی ته	هغه چي ؤ دوی	چي وعده يئ کړل سوی وه	نو نه دفع کوی	له دوی څخه عذاب	هغه شی چي وو دوی

راسی دوی ته هغه (عذاب) چي ؤ دوی چي وعده يئ کړل سوی وه نو نه دفع کوی له دوی څخه عذاب هغه شی چي وو دوی

يُمَتَّعُوْنَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا لَهَا مُنْذِرُوْنَ ﴿٢٠٨﴾

يُمَتَّعُوْنَ	وَمَآ اَهْلَكْنَا	مِنْ قَرْيَةٍ	اِلَّا	لَهَا	مُنْذِرُوْنَ
چي نفع ورکولی سوه دوی ته	او نه دی هلاک کړی موږ	هيڅ کلی	مګر	چي ؤ هغه کلی ته	بيروونکی (له عذابه)

چي نفع ورکولی سوه دوی ته . او نه دی هلاک کړی موږ هيڅ کلی (ښار) مګر چي ؤ هغه کلی ته بيروونکی (له عذابه)

اَفَرَءَيْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ سِنِيْنَ. په دنيا کي چاته اوږد عمر ورکول هم د الله جَلَّ جَلَالُهٗ لوی نعمت دی : په دغه آيت مبارکه کي اشاره ده چي په دنيا کي چاته اوږد عمر ورکول هم د الله جَلَّ جَلَالُهٗ لوی نعمت دی ليکن کم خلګ چي ددې نعمت ناشکري کوي او ايمان نه راوړي نو ده ته داوږد عمر عافيت او مهلت به هيڅ په کار ورنه سي امام زهري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ نقل فرمايي چي حضرت عمر ابن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ به روزانه خپله ږيره نيوله خپل نفس ته به يي خطاب کوی او دا آيت به يي وايه (افرأيت ان متعناهم سنين) ددې څخه وروسته پر ده ژړا راغله او دا اشعار يي وويل (نهارک بالغرور سهو وغفلة ، وليلک نوم والردی لک لازم، فلا انت فی الايقاظ يقظان حازم، ولا انت فی النوم ناج وسالم) ترجمه ای دوکه سوې نفسه ستا ټوله ورځ په غفلت کي او شپه په خوب کي تيريږي حال دا دی چي مرګ ستا دپاره لازمي دی نه په بيدارو خلګو کي هوښيار او بيدار يي او نه په بيدو کي په خپل نجات باندي مطمئن يي الخ. (معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص ٩٧)

ذِكْرٰى ۛ وَمَا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢١٠﴾

ذِكْرٰى	وَمَا كُنَّا	ظٰلِمِيْنَ	وَمَا تَنَزَّلَتْ	بِهِ	الشَّيٰطِيْنُ
دپاره دپند ورکولو دوی لره	او نه وو موږ	ظالمان	او نه دی راوړی	دا (قرآن)	شیطانانو

دپاره د ذکر پند ورکولو دوی لره او نه وو موږ ظالمان (په هلاک د دوی) . او نه دی راوړی دا (قرآن) شیطانانو .

وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٢١١﴾ اِنَّهُمْ عَنِ

وَمَا يَنْۢبَغِيْ	لَهُمْ	وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ	اِنَّهُمْ	عَنِ
او نه ښائيږی	دوی ته	او نه طاقت او قدرت لری	بیشکه! دغه شیطانان	له

او نه ښائيږی دوی ته (دغه راوړل) او نه طاقت او قدرت لری (شیطانان دراوړلو د قرآن) . بیشکه! دغه شیطانان له

السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ

السَّمْعِ	لَمَعْزُوْلُوْنَ	فَلَا تَدْعُ	مَعَ اللّٰهِ	اِلٰـهًا	اٰخَرَ
اوریدلو	خامخا بر طرف منع کړی سوی دی	پس مه بوله ته	له الله سره	معبود	بل

اوریدلو (دکلام دملائیکو) خامخا برطرف منع کړی سوی دی . پس مه بوله ته له الله سره معبود بل (حاکم)

فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ﴿٢١٣﴾ وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿٢١٤﴾

فَتَكُوْنَ	مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ	وَاَنْذِرْ	عَشِيْرَتَكَ	الْاَقْرَبِيْنَ
پس سی به ته	له عذاب ورکړ سوؤ څخه	او بیروه ته	خپلوان ستا	چی ډیر نژدی د ی

پس سی به ته له عذاب ورکړ سوؤ. او بیروه ته (له عذابه) خپلوان ستا چی ډیر نژدی دی (درته) .

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢١٥﴾

وَاخْفِضْ	جَنَاحَكَ	لِمَنِ اتَّبَعَكَ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ
او کښته کړه	وزر خپل	هغه چاته چی متابعت یئ کړی دی ستا	له مؤمنانو څخه

او کښته کړه وزر خپل (یعنی نرمی وکړه) هغه چاته چی متابعت یئ کړی دی ستا له مؤمنانو څخه .

فَاِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ

فَاِنْ	عَصَوْكَ	فَقُلْ	اِنِّيْ	بَرِيْٓءٌ	مِّمَّا	تَعْمَلُوْنَ	وَتَوَكَّلْ
پس که	نافرمانی وکړی دوی ستا	پس ووایه ته	بیشکه! زه	بیزاره یم	له هغه	چی کوئ یئ تاسی	او توکل وکړه

پس که نافرمانی وکړی (دغه خپلوان) پس ووایه ته (محمده) بیشکه! زه بیزاره یم له هغه چی کوئ یئ تاسی. او توکل وکړه

وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ

پر نبي کريم ﷺ باندي تبليغ درسالت او نبوت دپوره امت دپاره فرض وو: يو سوال دلته دا راپيدا کيږي چي پر نبي کريم ﷺ باندي خو دعوت او تبليغ دپوره امت دپاره فرض وو دلته دخاندان دخلګو په تخصيص کي څه حکمت دی ؟ چي فکر پر وسي نو په دي کي يي دتبليغ او دعوت دآسان او اثرناک جوړولو يوه خاص طريقه ښوولې ده چي آثاريي ډير ليري رسيږي . هغه داچي دخپل خاندان او کورني خلګ ځان ته دنژدي کيدو پر بنا ددې حقدار هم دی چي په هر خير او ښه کار کي دوی دنورو څخه مخ ته سي او دباهمي تعلقاتو او ذاتي پيژنديو په بنا سره په دوی کي څوک ددرواغو دعوی کوونکي ځای کيدی هم نه سي او دچارښتينوالی او اخلاقي برتري چي دخاندان خلګو ته معلومه وي دهغه رښتيني دعوت قبلول ددوی دپاره آسان هم دی او نژدې رشته داران چي کله ديوښه تحريک حاميان جوړ سي نو ددوی ورورولی او امداد هم پر پوخ بنياد قائم وي اودغه خاندان بيا ددې داعي حمايت ته مجبوره وي.
(معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص٩٨)

عَلَى الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿٢١٧﴾ الَّذِيْ يَرٰىكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٢١٨﴾

تَقُوْمُ	حِيْنَ	يَرٰىكَ	الَّذِيْ	الرَّحِيْمِ	عَلَى الْعَزِيْزِ
راولاړیږې یوازی	کله چې	چې ويني تا	هغه (الله)	ډیر رحم والا	پر بنه قوی غالب

پر بنه قوی غالب ډیر رحم والا. هغه (الله) چې ويني تا کله چې پاڅیږې یوازی (دپاره دتهجد)

وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ﴿٢١٩﴾ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٢٢٠﴾

الْعَلِيْمُ	هُوَ السَّمِيْعُ	اِنَّهٗ	فِي السّٰجِدِيْنَ	وَتَقَلُّبَكَ
بنه علم والا	هم دی دی بنه آوريدونکی	بیشکه! دغه (الله)	په سجده کوونکو کښې	او گرځیدل، اوښتل،را وښتل ستا

او گرځیدل اوښتل راوښتل ستا (په صف د) ساجدانو کښې. بیشکه! دغه (الله) هم دی دی بنه آوريدونکی بنه علم والا.

هَلْ اُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ

تَنَزَّلُ	الشَّيٰطِيْنُ	تَنَزَّلُ	عَلٰى مَنْ	هَلْ اُنَبِّئُكُمْ
کښته کیږی	شیطانان (پرهغوی)	چې کښته کیږی	پر هغو (خلګو)	آیا خبر درکړم زه تاسی ته

آیا خبر درکړم زه تاسی ته (ای مشرکانو) په هغو (خلګو) چې کښته کیږی شیطانان (پرهغوی). (الله فرمائی) کښته کیږی

عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ وَاَكْثَرُهُمْ

وَاَكْثَرُهُمْ	السَّمْعَ	يُّلْقُوْنَ	اَثِيْمٍ	اَفَّاكٍ	كُلِّ	عَلٰى
او اکثر د دوی	غوږ (خبرو دملائیکو ته)	چې ږدی	ډیر ګنهکار	ډیر دروغجن	هر	پر

(شیطانان) پر هر ډیر دروغجن کذاب ډیر ګنهکار. چې ږدی (داشیطانان) غوږ (خبرو دملائیکوته) او اکثر د دوی

كٰذِبُوْنَ ﴿٢٢٣﴾ وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾

الْغَاوٗنَ	يَتَّبِعُهُمُ	وَالشُّعَرَآءُ	كٰذِبُوْنَ
ناپوهان (بې لاری)	متابعت کوی د دوی	او (کافران) شاعران	دروغجنان دی

دروغجنان دی. او (کافران) شاعران متابعت کوی د دوی ناپوهان (بې لاری)

اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِيْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ﴿٢٢٥﴾ وَاَنَّهُمْ

وَاَنَّهُمْ	يَّهِيْمُوْنَ	وَادٍ	فِيْ كُلِّ	اَنَّهُمْ	اَلَمْ تَرَ
او بیشکه! دوی (شاعران)	سرګردانه ګرځی	کندی او هری پندی کښې	په هری	بیشکه! دوی	آیا نه وینې ته

آیا نه وینې ته چې بیشکه! دوی په هری کندی او هری پندی د (خبری) کښې سرګردانه ګرځی. او بیشکه! دغه (شاعران)

وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ

دشعرپیژندل: په اصل لغت کې شعر هر هغه کلام ته ویل کیږي په کم کې چې محض خیالي او غیر تحقیقي مضامین بیان سوي وي چې په هغه کې څه بحر وزن ردیف او قافیه شرط نه وي دمنطق په فن کې هم داسې مضامینو ته ادله شعریه او قضایا شعریه وایي اوپه اصطلاحي شعراوغزل کې هم چونکې په عام طور سره دخیالاتو غلبه وي په دې وجه په اصطلاح دشعراوو کې موزون او مقفی کلام ته شعر وایي ځیني مفسرینو دقرآن په ایاتونو (بل هو شاعرٌ، شاعرٌ مجنون و شاعرٌ نتربص به وغیره) کې دشعر اصطلاحي معنی مراد کړیده: وایي چې دمکې کفارو به نبي کریم ﷺ ته وزندار، قافیه دار کلام را وړونکی وایه لیکن ځیني بیاوایي چې دکفارو مقصد دانه ووبه دې وجه چې هغوی دشعر دطرز او طریقې څخه خبر وه او ظاهره ده چې قرآن داشعارو مجموعه نه ده ددې خوبو عجمي هم قائل کیدای نه سي نو څه کوي چې لابیا فصیح اوبلیغ عرب به دې ته شعر وایي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۲۲۶﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

يَقُوْلُوْنَ	مَا لَا يَفْعَلُوْنَ	اِلَّا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
وايئ	هغه چې نه يئ کوی دوی	مګر هغه (شاعران)	چې ايمان يئ راوړی دی	او کړی يئ دی دوی

وايئ هغه چې نه يئ کوی دوی. مګر (نه دی مذموم) هغه (شاعران) چې ايمان يئ راوړی دی او کړی يئ دی دوی

الصّٰلِحٰتِ وَذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّانْتَصَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا ط

الصّٰلِحٰتِ	وَذَكَرُوا	اللّٰهَ	كَثِيْرًا	وَّانْتَصَرُوْا	مِنْۢ بَعْدِ	مَا	ظُلِمُوْا
ښه (عملونه)	او يادوی دوی	الله	ډير	او بدل اخلی	وروسته	له هغه چې	ظلم کړی سوی وی


ښه (عملونه) او يادوی دوی الله ډير او بدل اخلی (له کفارو) وروسته له هغه چې ظلم کړی سوی وی (پرهغو)

وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَیَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ﴿۲۲۷﴾ ع

ع ۲۶ ۱۱ ۱۵

وَسَيَعْلَمُ	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْٓا	اَیَّ مُنْقَلَبٍ	يَّنْقَلِبُوْنَ
او ژر به پوه سی	هغه کسان	چې ظلم يئ کړی دی	چې کوم ځای ته به	بيرته ولاړسی دوی

او ژر به پوه سی هغه کسان چې ظلم يئ کړی دی چې کوم ځای ته به بيرته لاړسی دوی (بد ځای ته به ولاړسی پس له مرګه).



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

طٰسٓ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱﴾ هُدًى

طٰسٓ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	الْقُرْاٰنِ	وَكِتَابٍ	مُّبِيْنٍ	هُدًى
طا، سين،	دا	آيتونه	دقرآن	او دکتاب	ښکاره کوونکی دی	سمه صافه لاره ښوونکی دی

طا، سين. دا آيتونه د قرآن او د کتاب مبين (ښکاره بيانونکی) دی. (دغه قرآن) سمه صافه لاره ښوونکی دی

وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲﴾ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ

وَّبُشْرٰى	لِلْمُؤْمِنِيْنَ	الَّذِيْنَ	يُقِيْمُوْنَ	الصَّلٰوةَ
او زيری ورکوونکی دی	مؤمنانو ته	هغه (مؤمنان)	چې قائموی	لمونځ

او زيری ورکوونکی دی مؤمنانو ته (په نعيم سره) هغه (مؤمنان) چې قائموی (سم اداء کوی) لمونځ

اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا..
دتير مخ پاته بيان دلته

وګوری: بلکي کفارودوی ﷺ ته شاعر دشعر په اصلي معنی يعني دخيالي مضامينو په لحاظ سره ويل مقصد ددوی په اصل کي حضور ﷺ ته نعوذ بالله درواغجن ويل وه ځکه چي شعر په معنی دکذب هم استعماليږي او شاعر کاذب ته وايي په دي وجه ادلّه کاذبه ته ادله شعريه ويل کيږي: لنډه داچي لکه څنګه چي موزون او مقفی کلام ته شعر وايي دغه رکم ظني او تخميني کلام ته هم شعر وايي کم چي داهل منطقو اصطلاح ده. په دي آيت کي دشعر اصطلاحي معنی مراد ده يعني موزون او مقفی کلام ويونکی ددي تاييد دفتح الباری دروايت څخه کيږي چي کله داآيت نازل سو نو حضرت عبدالله ابن رواحه ؓ حسان ابن ثابت ؓ او کعب ابن مالک ؓ کم چي په شعراء صحابه وو کي ډير مشهور دي دوی په ژړا دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول اووي ويل چي موږ خو هم شاعران يو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چي ستاسي اشعار بيهوده او دغلط مقصد دپاره نه دي الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۱۹ ص ۹۹)

وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ③ اِنَّ

وَيُؤْتُوْنَ	الزَّكٰوةَ	وَهُمْ	بِالْاٰخِرَةِ	هُمْ يُوْقِنُوْنَ	اِنَّ
او ورکوي	زکوٰة	او دوی	په (ورځی) آخرۍ	هم دوی یقین کوی	بیشکه!

او ورکوی زکوٰة (د اموالو خپلو) او دوی په (ورځی) آخرۍ (قیامت) هم دوی یقین کوی (چی رابه سی په حقه) . بیشکه!

اَلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ

اَلَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِالْاٰخِرَةِ	زَيَّنَّا لَهُمْ	اَعْمَالَهُمْ	فَهُمْ
هغه کسان	چی نه راوړی ایمان	په (ورځی) آخرۍ	ښائسته کړی دی موږ دوی ته	عملونه د دوی	پس دوی

هغه کسان چی نه راوړی ایمان په (ورځی) آخرۍ (قیامت) ښائسته کړی دی موږ دوی ته (قبیحه) عملونه د دوی پس دوی

يَعْمَهُوْنَ ④ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ

يَعْمَهُوْنَ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	لَهُمْ	سُوْٓءُ	الْعَذَابِ	وَهُمْ
حیران سرګردانه دی	دا هم	هغه کسان دی	چی (مقرر دی) دوی ته	ډیر بد	عذاب	او دوی

حیران سرګردانه دی (په بدو اعمالو کی). دا هم هغه کسان دی چی مقرر دی دوی ته ډیر بد عذاب (په دنیا کښی) او دوی

فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ⑤ وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ

فِي الْاٰخِرَةِ	هُمُ	الْاَخْسَرُوْنَ	وَاِنَّكَ	لَتُلَقَّى	الْقُرْاٰنَ
په آخرت کښی	هم دوی	زیانکاران دی	او بیشکه! ته (محمده!)	خامخا دربنوولی کیږی تاته	قرآن

په آخرت کښی هم دوی زیانکاران دی . او بیشکه! ته (ای محمده!) خامخا دربنوولی کیږی (درسیږی) تاته قرآن

مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ⑥ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ اِنِّيْٓ

مِنْ لَّدُنْ	حَكِيْمٍ	عَلِيْمٍ	اِذْ قَالَ	مُوْسٰى	لِاَهْلِهٖ	اِنِّيْٓ
له نزده	د ښه حکمت والا	ښه علم والا	هغه وخت چی وویل	موسیٰ	ښځی خپلی ته	بیشکه! چی ما

له نزده د ښه حکمت والا ښه علم والا (چی الله دی) . (یاد کړه) هغه وخت چی وویل موسیٰ ښځی خپلی ته بیشکه! چی ما

اٰنَسْتُ نَارًا ؕ سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ

اٰنَسْتُ	نَارًا	سَاٰتِيْكُمْ	مِّنْهَا	بِخَبَرٍ	اَوْ اٰتِيْكُمْ	بِشِهَابٍ	قَبَسٍ
ولید	یو اور	ژر به راوړم تاسی ته	له دی (اوره)	خبر	یا به راوړم تاسی ته	لمبه	لګولی

ولید یو اور (له لری). ژر به راوړم تاسی ته له دی (ځای د اوره) خبر (د حال دلاری) یا به راوړم تاسی ته لمبه لګولی

زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ. د کفارو بد عملونه دوی په نظروتو کي ښايسته ګرځيدلي دي په دغه آيت کي الله ﷻ فرمايي کم کسان چي پرآخرت باندي ايمان نه لري موږ د دوی بد عملونه دوی ته د دوی په نظرونو کي ښايسته ګرځولي دي په دي وجه دوی هغه ښه ګڼي او په ګمراهي کي اخته دي: داخوبو تفسير سو. او ځيني مفسرين بيا فرمايي چي د (اعمالهم) څخه مراد نيک عملونه دي او مطلب دآيت دادی چي موږ خو نيک عملونه ښايسته کړي دي اودوی ته موپه مخکي ايښي دي خو دي ظالمانو هغو ته ونه کتل بلکي په کفر او شرک کي اخته سول په دي وجه په ګمراهي کي سرګردانه سول: ليکن اولني تفسير زيات واضح دی اول خو په دي وجه چي دښايسته کولو الفاظ په عام طور سره دبدو عملونو دپاره استعماليږي لکه بل ځای چي دالله ﷻ ارشاد دی (زين للناس حب الشهوات من النسآء ،زين للذين كفروا الخ) او دښو اعمالو دپاره دالفظ ډير کم استعمال سوی دی (حبب اليكم الايمان وزينه في قلوبكم).
(معارف القرآن ج۷پ۱۹ص۱۰۳)

النملة

لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ۞ فَلَمَّا جَآءَهَا نُوْدِيَ اَنْۢ بُوْرِكَ مَنْ

لَعَلَّكُمْ	تَصْطَلُوْنَ	فَلَمَّا	جَآءَهَا	نُوْدِيَ	اَنْۢ بُوْرِكَ	مَنْ
دپاره د دې چې تاسې	تاوده سئ	پس کله چې	راغی دغه (موسٰی) هغه ته	ږغ وکړ سو	چې برکتناک دی	هغه چې

دپاره د دې چې تاسې تاوده سئ. پس کله چې راغی دغه (موسٰی) هغه (اور) ته ږغ وکړ سو چې برکتناک دی هغه چې

فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞ ٨

فِي النَّارِ	وَمَنْ حَوْلَهَا	وَسُبْحٰنَ	اللّٰهِ	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ
په دغه اور کښې دی	او هغه چې شا او خوا دی له دغه (اوره)	او پاکي ده	الله ته	چې رب	د مخلوقاتو دی

په دغه اور کښې دی او هغه چې چاپیر دی له دغه (اوره) ، او (ږغ وکړ سو چې) پاکي ده الله ته چې رب د عالمیانو دی.

يٰمُوْسٰۤى اِنَّهٗۤ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ ٩ وَاَلْقِ عَصَاكَ ؕ

يٰمُوْسٰۤى	اِنَّهٗۤ	اَنَا اللّٰهُ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	وَاَلْقِ	عَصَاكَ
ای موسٰی	بیشکه! شان دا دی	چې زه یم الله	ښه غالب قوي	ښه حکمت والا	او وغورځوه	لکړه خپله

ای موسٰی بیشکه! شان دا دی چې زه یم الله ښه غالب قوي ښه حکمت والا . او وغورځوه همسا خپله (نو یې وغورځوله)

فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا

فَلَمَّا	رَاٰهَا	تَهْتَزُّ	كَاَنَّهَا	جَآنٌّ	وَّلّٰى	مُدْبِرًا
پس کله چې	ولیدله هغه	چې ښوریدله	ګواکې دغه	یو سپین نری مار دی	نو مخ یې تری وګرځاوه	په شا تللو سره

پس کله چې ولیدله (موسٰی) هغه چې خوځیدله ګواکې دغه یو نری سپین مار دی. نو مخ یې تری وګرځاوه په شا تلو سره

وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۫ اِنِّيْ لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ۞ ١٠

وَّلَمْ يُعَقِّبْ	يٰمُوْسٰى	لَا تَخَفْ	اِنِّيْ	لَا يَخَافُ	لَدَيَّ	الْمُرْسَلُوْنَ
او را نه ګرځیده بیرته	ای موسٰی	مه بیریږه	بیشکه! زه چې یم	نه بیریږي	په نزد زما	مرسلان

او را نه ګرځیده بیرته ، ای موسٰی مه بیریږه (له دې ماره) بیشکه! زه چې یم نه بیریږي په نزد زما مرسلان (له هیڅ شي).

اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًاۢ بَعْدَ سُوْٓءٍ فَاِنِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۞ ١١

اِلَّا مَنْ ظَلَمَ	ثُمَّ	بَدَّلَ	حُسْنًا	بَعْدَ	سُوْٓءٍ	فَاِنِّيْ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ
مګر هغه څوک چې ظلم یې کړی وی	بیا	بدل را وړی	نیکی	وروسته	له بدی	پس بیشکه! زه	ښه بخښونکی	ډیر رحم والا یم

مګر هغه څوک چې ظلم یې کړی وی بیا بدل را وړی نیکی وروسته له بدی پس بیشکه! زه ښه بخښونکی ډیر رحم والا یم.

لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ۞ فَلَمَّا جَآءَهَا نُوْدِيَ. انسان ته دخپلو ضرورتونو دپاره طبعي اسباب اختیارول دتوکل څخه خلاف نه دي:

حضرت موسی علیه السلام ته دلته دوه ضرورتونه وړپیښ سول یو دلاري پوښتنه کول کم چي دده څخه ورکه سوې وه: دوهم داور څخه ګرمي حاصلول چي شپه دیخني وه په دې وجه دکوه طور طرف ته دتللو کوشش یې وکی لیکن ددې سره په دې مقصد کي په کامیابیدو دیقین او دعوی کولو پر ځای یې داسي الفاظ اختیار کړل په کموکي چي دخپلي بندګی او دحق تعالی جل جلاله څخه امید ښکاره کیږي: معلومه سوه چي دضرورتونو دحاصلیدو دپاره جد او جهد دتوکل څخه منافي نه دی لیکن تکیه دخپل کوشش پر ځای پر الله جل جلاله کول پکاردي او داور دوی ته په ښوولوکي شاید داحکمت وي چي په دې سره ددوی دواړه مقصدونه پوره کیدل یو دلاري ښوول او داور څخه ګرمي حاصلول. روح المعاني: او پاته سوه داخبره چي دلته حضرت موسی علیه السلام دجمعي کلمي استعمال کړي دي نو دا داکرام او عزت دپاره دي الخ.

(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۰۶)

وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ قف

وَاَدْخِلْ	يَدَكَ	فِيْ جَيْبِكَ	تَخْرُجْ	بَيْضَآءَ	مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ
او ننه باسه	لاس خپل	په ګريوان خپل کښې	نو وبه وځی	تک سپين	بی له کومه عيبه

او ننه باسه لاس خپل په ګريوان خپل کښې نو وبه وځی تک سپين بی له کومه عيبه (او مرض پس سره له دی دواړو معجزو)

فِيْ تِسْعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا

فِيْ تِسْعِ	اٰيٰتٍ	اِلٰى	فِرْعَوْنَ	وَقَوْمِهٖ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	قَوْمًا
په نهو	معجزو ستا کښې	طرف	د فرعون ته	او قوم د ده ته	بيشکه! دوی	دی	يو قوم

په نهو معجزو ستا کښې (ورسه) طرف د فرعون ته او قوم د ده ته بيشکه! دوی دی يو قوم

فٰسِقِيْنَ ﴿۱۲﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ اٰيٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوْا هٰذَا

فٰسِقِيْنَ	فَلَمَّا	جَآءَتْهُمْ	اٰيٰتُنَا	مُبْصِرَةً	قَالُوْا	هٰذَا
فاسقان	پس کله چی	راغلل	آيتونه زموږ	ښکاره روښانه	نو وويل دوی	چی دغه

فاسقان (وتونکی له فرمان). پس کله چی راغلل آيتونه (معجزی د قدرت) زموږ ښکاره روښانه نو وويل دوی چی دغه

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۳﴾ وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ

سِحْرٌ	مُّبِيْنٌ	وَجَحَدُوْا	بِهَا	وَاسْتَيْقَنَتْهَآ	اَنْفُسُهُمْ
جادو دی	ښکاره	او منکران سول دوی	په دغو	حال دا چی يقين کړی ؤ په دغو معجزاتو	نفسونو د دوی

سحر (کوډی) دی ښکاره. او منکران سول دوی په دغو (آياتونو) حال دا چی يقين کړی ؤ په دغو معجزاتو نفسونو د دوی

ع ۱۴ ۱۶ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ؕ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۴﴾ ع

ظُلْمًا	وَّعُلُوًّا	فَانْظُرْ	كَيْفَ كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُفْسِدِيْنَ
له جهته د ظلم	او سرکشی	پس وګوره	څرنګه ؤ	عاقبت	د فساد کوونکو

له جهته د ظلم (ليکن انکار يئ وکړ) او سرکشی پس وګوره څرنګه ؤ عاقبت (آخره خاتمه) د مفسدانو (من الغرق والحرق).

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ

وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	دَاوٗدَ	وَسُلَيْمٰنَ	عِلْمًا	وَقَالَا	الْحَمْدُ	لِلّٰهِ
او خامخا په تحقيق	ورکړی ؤ موږ	داؤد ته	او سليمان ته	علم	او وويل دواړو	چی ټولی ثناوی ستاينی دی	الله ته

او خامخا په تحقيق ورکړی ؤ موږ داؤ د ته او سليمان ته (يو خاص) علم، او وويل دواړو چی ټولی ثناوی ستاينی دی الله ته

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا. الله جَلَّ جَلَالُهُ حضرت داود عليه السلام او سليمان عليه السلام دواړو ته علم ورکړی وو. ظاهره ده چي ددې څخه مراد د انبياء عليهم السلام علمونه دي کم چي د نبوت او رسالت سره متعلق دي ددې په عموم کي نور علمونه او فنونه هم که شامل وي نو بعيده نه ده لکه حضرت داود عليه السلام ته چي د زغرو جوړولو کار ښوول سوی وو حضرت داود عليه السلام او سليمان عليه السلام دانبياوو عليهم السلام په ټولی کي يو خاص امتياز لري چاته چي د نبوت او رسالت سره حکومت ورکول سوی وو او حکومت هم داسي بې مثله چي صرف پر انسانانو نه بلکي پر پيريانو او حيوانانو باندي هم د دوی حکمراني وه په دې ټولو عظيم الشان نعمتونو کي د الله جَلَّ جَلَالُهُ د نعمت د علم په اول ذکر کولو کي دې طرف ته اشاره وسوه چي د علم نعمت په نورو ټولو نعمتونو کي فائق او لوړدي: قرطبي: حضرت داود عليه السلام او حضرت سليمان عليه السلام ددې نعمت د شکر ادا کولو د پاره وويل چي ټول تعريفونه الله جَلَّ جَلَالُهُ لره دي چي پر موږ يي دغه فضل او احسان کړی دی.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص ۱۱۲)

الَّذِيْ فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵﴾

الَّذِيْ	فَضَّلَنَا	عَلٰى	كَثِيْرٍ	مِّنْ عِبَادِهِ	الْمُؤْمِنِيْنَ
هغه چې	فضيلت يې راکړې دى موږته	پر	ډيرو	له (هغو) بندګانو خپلو	چې مؤمنان دي

هغه چې مشرتيا (فضيلت) يې راکړې دى موږته پر ډيرو له (هغو) بندګانو خپلو چې مؤمنان دي.

وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا

وَوَرِثَ	سُلَيْمٰنُ	دَاوٗدَ	وَقَالَ	يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	عُلِّمْنَا
او ميراث واخيست	سليمان	د داؤد څخه	او وويل (سليمان)	اى	خلکو	ښوولې سوې دي موږته

او ميراث واخيست سليمان (نبوت، علم، سلطنت) د داؤد څخه. او وويل (سليمان) اى خلکو ښوولې سوې دي موږته

مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ

مَنْطِقَ	الطَّيْرِ	وَاُوْتِيْنَا	مِنْ كُلِّ	شَيْءٍ	اِنَّ	هٰذَا لَهُوَ
خبرى	دالوتونکو مرغانو	او راکړې سوې دي موږته	له هر	شى څخه	بيشکه!	دغه (عطاء) خامخا هم دغه

خبرى د الوتونکو مرغانو. اوراکړې سوې دي موږته له هر شى څخه، بيشکه! دغه (عطاء) خامخا هم دغه

الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾ وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ الْجِنِّ

الْفَضْلُ	الْمُبِيْنُ	وَحُشِرَ	لِسُلَيْمٰنَ	جُنُوْدُهٗ	مِنَ الْجِنِّ
فضل دى	ښکاره	او جمع کړې سوې	دپاره د سليمان	لښکرې د ده	له پيريانو

فضل فضيلت دى ښکاره. او جمع کړې سوې دپاره د سليمان لښکرې د ده له پيريانو

وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَتَوْا عَلٰى

وَالْاِنْسِ	وَالطَّيْرِ	فَهُمْ	يُوْزَعُوْنَ	حَتّٰۤى	اِذَاۤ	اَتَوْا عَلٰى
او انسانانو	او مرغانو	بيا به دوى	ډلې ترلې کيدلې	ترهغه پورې	کله چې	راغلل دوى پر

او (له) انسانانو او (له) مرغانو بيا به دوى ډلې ترلې کيدلې (په ترتيب سره). ترهغه پورې کله چې را غلل دوى پر

وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰۤاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا

وَادِ النَّمْلِ	قَالَتْ	نَمْلَةٌ	يّٰۤاَيُّهَا	النَّمْلُ	ادْخُلُوْا
کنده دميږې	نو وويل	يوه ميږې	اى	ميږيو !	ننوځئ ټول

کنده د ميږې، نو وويل يوه ميږې (چې مشرۀ) اى ميږيو ! ننوځئ ټول

وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ په انبياوو عليهم السلام کي دمال وراثت نه وي: دلته دميراث څخه مراد دعلم او نبوت ميراث مراد دى دمال وراثت نه دى مراد ځکه چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي (نحن معاشر الانبياء لانرث ولانورث) يعني انبياء عليهم السلام نه وارثان وي او نه مورثان وي دحضرت ابوالدرداء رضي الله عنه څخه روايت دى چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي (العلمآء ورثة الانبيآء وان الانبيآء لم يورثوا دينارا ولادرهما ولكن ورثوا العلم فمن اخذه اخذ بحظ وافر) يعني علماء دانبياوو وارثان دي ليکن په انبياوو کي وراثت دعلم او نبوت وي دمال نه وي: او انبياوو عليهم السلام تر شا په ميراث کي درهمونه او دينارونه نه دي پري ايښي بلکي هغوى په ميراث کي علم پرې ايښى دى چاچي علم واخيستى نو هغه يوه کامله حصه حاصله کړه. په بل روايت کي دي چي حضرت سليمان عليه السلام دحضرت داود عليه السلام وارث سو او سردار ددواړو جهانو حضرت محمد ﷺ بيا دحضرت سليمان عليه السلام وارث سو: الحديث.
(معارف القرآن ج۷پ۱۹ص ۱۱۲)

مَسٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ وَهُمْ

وَهُمْ	وَجُنُوْدُهٗ	سُلَيْمٰنُ	لَا يَحْطِمَنَّكُمْ	مَسٰكِنَكُمْ
حال دا چې دوی به	او لښکرد ده	سلیمان	چې مات او چیت پیت مو نه کړي خامخا تاسې	مساکنو سوړو خپلو ته

مساکنو سوړو خپلو ته چې مات او چیت پیت مو نه کړي خامخا تاسې لره سلیمان او لښکرد ده حال داچې دوی به

لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ

رَبِّ	وَقَالَ	مِّنْ قَوْلِهَا	ضَاحِكًا	فَتَبَسَّمَ	لَا يَشْعُرُوْنَ
ای ربه زما	او وویل سلیمان	له وینا دهغه میږې	چې خندا کوونکی ؤ	پس تبسم وکړ	نه وي پوه

نه وي پوه. پس تبسم وکړ (سلیمان) په دغه حال کښې چې خندا کوونکی ؤ له وینا دهغه میږې او وویل سلیمان ای ربه زما

اَوْزِعْنِيْٓ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى

وَعَلٰى	عَلَيَّ	اَنْعَمْتَ	الَّتِيْٓ	نِعْمَتَكَ	اَنْ اَشْكُرَ	اَوْزِعْنِيْٓ
او پر	پر ما	انعام کړی دی تا	هغه چې	دنعمت ستا	دا چې شکر وکړم	الهام وکړه ماته

الهام وکړه ماته (را په برخه کړه) داچې شکر وکړم دنعمت ستا هغه چې انعام کړی دی تا پر ما او پر

وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ

بِرَحْمَتِكَ	وَاَدْخِلْنِيْ	تَرْضٰىهُ	صَالِحًا	اَعْمَلَ	وَاَنْ	وَالِدَيَّ
په رحمت خپل سره	او ننه باسه ما	چې خوښوی ته هغه	نیک	کوم عمل	او بل داچې	مورپلار زما

مورپلار زما او بل داچې کوم زه عمل نیک چې خوښوی ته هغه او ننه باسه ما (او یو ځای کړه ما) په رحمت خپل سره

فِيْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۹﴾ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ

مَا لِيَ	فَقَالَ	الطَّيْرَ	وَتَفَقَّدَ	الصّٰلِحِيْنَ	فِيْ عِبَادِكَ
څه مانع دی ماله	نو وی ویل	دمرغانو	او لټونه یئ وکړه	چې صالحان دی	په بندګانو خپل کښې

په (هغو) بندګانو خپل کښې چې صالحان دی. او لټونه یئ وکړه د مرغانو (او هد هد یئ ونه مونده) نو وی ویل څه مانع دی

لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ ۖ اَمْ كَانَ مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ﴿۲۰﴾ لَاُعَذِّبَنَّهٗ

لَاُعَذِّبَنَّهٗ	مِنَ الْغَآئِبِيْنَ	اَمْ كَانَ	الْهُدْهُدَ	لَآ اَرَى
خامخا عذاب به ورکړم زه ده ته	له غائب سویو	بلکه دی هد هد	هد هد	چې نه وینم زه

ماله چې نه وینم زه هد هد بلکه دی هد هد له غائب سویو (د دی تولی څخه یئ نه وینم). خامخا عذاب به ورکړم زه ده ته

وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ

دحیوانـاتو دحاضری پـه وخت کې هدهد مارغه غیر حاضر وو: حضرت سلیمان علیه السلام ته الله جل جلاله دانسانانو څخه علاوه پـر پیریانو باندې او ځـاروی او مارغانو باندې هـم حکومت ورکړی وو: اولکه څنګه چې دحکمرانـی اصـول دي درعیت دهـري طبقـې نګرانـي او خبـر اخیستل دحاکم پـه فرائضـو کې دي ددې مطابق په دې ایت کې بیان فرمايي: (وتفقد الطير) یعني حضرت سلیمان علیه السلام دخپل رعیت دمارغـانو معائنه وفرمایله او دایـې وکتل چې پـه دوی کـې څوک حاضر دی څوک غیر حاضر: دنبي کریم صلی الله علیه وسلم هم عـادت شـریف وو چې داصحابو کرامـو دحالاتو څخه بـه یې دځان خبر ساتلو اهتمام فرمایی کـم سړی چې به غیر حاضر وو که بیمارو نـو دپوښتنې کولو دپاره به یې تشریف یـوړی او دبیمـاری پوښتنه بـه یې وفرمایله او کـه څـه تکلیـف بـه وو ورته نو دهغه دپاره به یې مناسب تـدبیر وفرمایـه. دازمـوږ دپیغمبـر صلی الله علیه وسلم ښایسته اخلاق وه چې الله جل جلاله ورکړي وه الله جل جلاله دي موږ ته رانصیب کړي.
(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۱۶)

عَذَابًا شَدِيۡدًا اَوۡ لَاۡاَذۡبَحَنَّهٗۤ اَوۡ لَيَاۡتِيَنِّيۡ بِسُلۡطٰنٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۲۱﴾

عَذَابًا	شَدِيۡدًا	اَوۡ لَاۡاَذۡبَحَنَّهٗۤ	اَوۡ لَيَاۡتِيَنِّيۡ	بِسُلۡطٰنٍ	مُّبِيۡنٍ
عذاب	سخت	یا خامخا ذبح به کړم هرومرو زه دی	یا به خامخا راوړی دی هرومرو ماته	دلیل	ښکاره

عذاب سخت یا خامخا ذبح به کړم هرومرو زه دی یا به خامخا راوړی دی هرومرو ماته دلیل ښکاره (چې له دی وجی غایب وم)

فَمَكَثَ غَيۡرَ بَعِيۡدٍ فَقَالَ اَحَطۡتُّ بِمَا لَمۡ تُحِطۡ بِهٖ

فَمَكَثَ	غَيۡرَ بَعِيۡدٍ	فَقَالَ	اَحَطۡتُّ	بِمَا	لَمۡ تُحِطۡ	بِهٖ
پس څنډ وکړ هدهد	نه ډیر	پس وویل	احاطه وکړه ما	په هغه شی	چې نه ده احاطه کړی تا	په هغه باندی

پس څنډ (ایسارتیا) وکړ هد هد نه ډیر پس وویل (هد هد) احاطه وکړه ما په هغه شی چې نه ده احاطه کړی تا په هغه باندی

وَجِئۡتُكَ مِنۡ سَبَاٍۢ بِنَبَاٍ يَّقِيۡنٍ ﴿۲۲﴾ اِنِّيۡ وَجَدۡتُّ امۡرَاَةً

وَجِئۡتُكَ	مِنۡ سَبَاٍۢ	بِنَبَاٍ	يَّقِيۡنٍ	اِنِّيۡ	وَجَدۡتُّ	امۡرَاَةً
او راغلی یم زه تاته	له سبا څخه	په خبری	تحقیقی سره	بیشکه! چې ما	پیدا کړله	یوه ښځه

او راغلی یم زه تاته له (قوم د) سبا څخه په خبری تحقیقی یقینی سره. بیشکه! چې ما وموندله یوه ښځه

تَمۡلِكُهُمۡ وَاُوۡتِيَتۡ مِنۡ كُلِّ شَيۡءٍ وَّلَهَا عَرۡشٌ عَظِيۡمٌ ﴿۲۳﴾

تَمۡلِكُهُمۡ	وَاُوۡتِيَتۡ	مِنۡ كُلِّ	شَيۡءٍ	وَّلَهَا	عَرۡشٌ	عَظِيۡمٌ
چې باچاهي یئ کوله پر دغو	او ورکړی سوی دی دغی ته	له هر	شی څخه	او دئ دی ته	تخت	ډیر لوی

چې باچاهي یئ کوله پر دغه (اهل د سبا) او ورکړی سوی دی دغی (ښځی) ته له هر شی څخه او دی دی ته تخت ډیر لوی.

وَجَدۡتُّهَا وَقَوۡمَهَا يَسۡجُدُوۡنَ لِلشَّمۡسِ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

وَجَدۡتُّهَا	وَقَوۡمَهَا	يَسۡجُدُوۡنَ	لِلشَّمۡسِ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ
او پیدا می کړله دغه ښځه	او قوم د دی	چې سجده کوی دوی	لمر ته	بی له	الله

او پیدا می کړله دغه ښځه او قوم د دی چې سجده کوی دوی لمر ته بی له الله

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيۡطٰنُ اَعۡمَالَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ السَّبِيۡلِ

وَزَيَّنَ	لَهُمُ	الشَّيۡطٰنُ	اَعۡمَالَهُمۡ	فَصَدَّهُمۡ	عَنِ	السَّبِيۡلِ
او ښایسته کړی دی	دوی ته	شیطان	عملونه د دوی	پس منع کړی دی (شیطان) دوی	له	سمی صافی لاری

او ښایسته کړی دی دوی ته شیطان عملونه د دوی پس منع کړی دی (شیطان) دوی له سمی صافی لاری

عَذَابًا شَدِيۡدًا اَوۡ لَاۡاَذۡبَحَنَّهٗۤ اَوۡ لَيَاۡتِيَنِّيۡ.. کم حیوان چي په کار کي سستي وکړي هغه ته درمیانه سزا ورکول جائز دي: دحضرت سلیمان علیه السلام دپاره الله جل جلاله حیوان ته داسي سزاګاني ورکول حلال کړي وې لکه دعامو امتونو دپاره چي دحیواناتو ذبح کول او دغوښو او څرمنو څخه يي فائده اخیستل اوس هم حلال دي دغه رکم چي ساتونکي څاروي، غوا، غویي، خر، آس، اوښ و وغیره په خپل کار کي سستي وکي نو دهغه دمؤدب کولو دپاره په قدر ضرورت دوهلو درمیانه سزا اوس هم جائز ده نورو حیوانانو ته سزا ورکول زموږ په شریعت کي منع دی: قرطبي. (اولیأتینّی بسلطن مبین) یعني که هدهد دخپلي غیر حاضرۍ څه واضح عذر پیش کړي نو هغه به ددې سزا څخه محفوظ سي په دي کي اشاره دې طرف ته ده چي حاکم ته پکار دي چي دکمو خلګو څخه په کار کي څه قصور وسي هغوی ته دعذر پیش کولو موقع ورکی نو چي عذر صحیح ثابت سي بیا دي دا سزا معاف کړي. اللهم اعذنا من الظلم والعدوان والبغی. (معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۱۸)

فَهُمۡ لَا يَهۡتَدُوۡنَ ﴿٢٤﴾ اَلَّا يَسۡجُدُوۡا لِلّٰهِ الَّذِيۡ يُخۡرِجُ

فَهُمۡ	لَا يَهۡتَدُوۡنَ	اَلَّا يَسۡجُدُوۡا	لِلّٰهِ	الَّذِيۡ	يُخۡرِجُ
پس دوی	نه پیداکوی سمه صافه لاره	چی دوی نه کوی سجده	الله ته	هغه (الله)	چی راوباسی

پس دوی نه پیدا کوی سمه صافه لاره. چی دوی نه کوی سجده الله ته هغه (الله) چی راوباسی (ښکاره کوی)

الۡخَبۡءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُخۡفُوۡنَ

الۡخَبۡءَ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَيَعۡلَمُ	مَا تُخۡفُوۡنَ
پټ شیان	چی په آسمانونو کښی دی	او په مځکه کښی دی	او چی ورمعلوم دی	هر هغه شی هم چی پټوی یئ تاسی

پټ شیان چی په آسمانونو کښی دی او په مځکه کښی دی او (هغه الله) چی ورمعلوم دی هر هغه شی هم چی پټوئ یئ تاسی

وَمَا تُعۡلِنُوۡنَ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الۡعَرۡشِ

وَمَا تُعۡلِنُوۡنَ	اَللّٰهُ	لَاۤ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	رَبُّ	الۡعَرۡشِ
او هر هغه شی چی ښکاروئ یئ تاسی	الله چی دی	نشته هیڅ لائق دعبادت	مګر	یواځی هم دی دی	رب	دعرش

او هر هغه شی چی ښکاروئ یئ تاسی. الله چی دی نشته هیڅ لائق دعبادت مګر یواځی هم دی دی رب د عرش

الۡعَظِيۡمِ ﴿٢٦﴾ السجدة قَالَ سَنَنۡظُرُ اَصَدَقۡتَ اَمۡ كُنۡتَ مِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ ﴿٢٧﴾

الۡعَظِيۡمِ	قَالَ	سَنَنۡظُرُ	اَصَدَقۡتَ	اَمۡ كُنۡتَ	مِنَ	الۡكٰذِبِيۡنَ
دیر لوی	نو وویل	ژر به وګورو	آیا رښتیا ویلی دی تا دغه خبره	یا که یئ ته	له	دروغ ویونکو څخه

دیر لوی. نو وویل (سلیمان) ژر به وګورو آیا رښتیا ویلی دی تا (ای هد هده!) دغه خبره یا که یئ ته له دروغ ویونکو څخه.

اِذۡهَبۡ بِّكِتٰبِيۡ هٰذَا فَاَلۡقِهۡ اِلَيۡهِمۡ ثُمَّ تَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَانۡظُرۡ

اِذۡهَبۡ	بِّكِتٰبِيۡ	هٰذَا	فَاَلۡقِهۡ	اِلَيۡهِمۡ	ثُمَّ	تَوَلَّ	عَنۡهُمۡ	فَانۡظُرۡ
یو سه ته	لیک زما	دغه	پس وغورځوه هغه	دوی ته	بیا	مخ راوګرځوه	له دوی	پس وګوره

یو سه ته (ای هد هده) لیک زما دغه پس وغورځوه هغه (لیک) دوی ته بیا مخ جار باسه له دوی پس وګوره (له ورا)

مَاذَا يَرۡجِعُوۡنَ ﴿٢٨﴾ قَالَتۡ يٰۤاَيُّهَا الۡمَلَؤُا اِنِّيۡۤ اُلۡقِيَ اِلَيَّ

مَاذَا	يَرۡجِعُوۡنَ	قَالَتۡ	يٰۤاَيُّهَا	الۡمَلَؤُا	اِنِّيۡۤ	اُلۡقِيَ	اِلَيَّ
چی په څه جواب	رجوع کوی دوی	وویل (بلقیس)	چی ای	اشرافو	بیشکه! زه چی یم	راغورځولی سوی دی	ماته

چی په څه جواب رجوع کوی دوی. وویل (بلقیس) چی ای اشرافو بیشکه! زه چی یم راغورځولی سوی دی ماته

اِذۡهَبۡ بِّكِتٰبِيۡ هٰذَا فَاَلۡقِهۡ اِلَيۡهِمۡ ثُمَّ تَوَلَّ. **لیکل او خط په عامو معاملو کي شرعي حجت دی:** حضرت سليمان عليه السلام دسبا ملکې ته ددې په نامه باندي يو خط وليږی او دغه دخط ليږل يي پر دې باندي دحجت تمامولو دپاره کافي وګڼی او پر دې يي عمل وفرمايي: ددې څخه معلومه سوه چي په عامو معاملو کي ليکل او خط قابل اعتبار ثبوت دی: فقهاوو صرف په هغو موقعو کي خط کافي نه دی ګڼلی کم ځای چي دشرعي شهادت ضرورت دی ځکه چي دخط او تليفون وغيره په ذريعه شاهدي نه سي اخيستل کيدای دشاهدی مدار يي دشاهد عدالت اومحکمې ته پرراتلو او بيان ورکولو اېښی دی چي په دې کي لوی لوی حکمتونه دي: داوجه ده چي نن صبا هم ددنيا په يو عدالت کي په خط او تليفون باندي شاهدي اخيستل کافي نه سي ګڼلی. **دوهمه مسئله:** دحضرت سليمان عليه السلام ددې خط څخه داثابته سوه چي ددين دتبليغ او داسلام ددعوت دپاره مشرکينو او کفاروته خطونه ليږل جائز دي او دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دعمل څخه هم ثابت دي.
(معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص ١٢١)

السجدة ٨

كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ﴿٢٩﴾ اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ وَ اِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ

كِتٰبٌ	كَرِيْمٌ	اِنَّهٗ	مِنْ	سُلَيْمٰنَ	وَاِنَّهٗ	بِسْمِ	اللّٰهِ
يو ليک	عزتناک	بيشکه! دغه	د	سليمان (له طرفه دی)	او بيشکه! (مضمون د ليک)	په نامه	د الله

يو ليک عزتناک. بيشکه! دغه (ليک) د سليمان (له طرفه راغلی دی، او بيشکه! (مضمون د ليک دا دی) په نامه د الله

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٣٠﴾ اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَ اْتُوْنِيْ

الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيْمِ	اَلَّا تَعْلُوْا	عَلَيَّ	وَاْتُوْنِيْ
چې ډير مهربان	ډير رحم والا دی	چې لوېئ مه کوئ تاسی	پر ما	او راځئ تاسی ماته

چې خورا (ډير) مهربان ډير رحم والا دی. (مقصد زما دا دی) چې لوېئ (او کبر) مه کوئ تاسی پر ما او راځئ تاسی ماته

مُسْلِمِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِيْ فِيْۤ اَمْرِيْ مَا كُنْتُ

مُسْلِمِيْنَ	قَالَتْ	يٰۤاَيُّهَا	الْمَلَؤُا	اَفْتُوْنِيْ	فِيْۤ اَمْرِيْ	مَا كُنْتُ
غاړه اېښودونکی	وويل (بلقيس)	چې ای	اشرافو!	مشوره راکړئ تاسی ماته	په دغه کار زما کښی	نه يم زه

غاړه اېښودونکی (الله ته). وويل (بلقيس) چې ای اشرافو! مشوره راکړئ تاسی ماته په دغه کار زما کښی نه يم زه

قَاطِعَةً اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿٣٢﴾ قَالُوْا نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ

قَاطِعَةً	اَمْرًا	حَتّٰى	تَشْهَدُوْنِ	قَالُوْا	نَحْنُ	اُولُوْا	قُوَّةٍ
فيصله کوونکی	د کوم کار	ترهغه پورې	چې حاضر سئ تاسی ماته	وويل دغو	چې موږ	خاوندان	د قوت زوريو

فيصله کوونکی د کوم کار ترهغه پورې چې حاضر سئ تاسی ماته. وويل دغو (اشرافو) چې موږ خاوندان د قوت زوريو

وَّ اُولُوْا بَاْسٍ شَدِيْدٍ ۙ۬ وَّ الْاَمْرُ اِلَيْكِ فَانْظُرِيْ مَاذَا تَاْمُرِيْنَ ﴿٣٣﴾

وَّاُولُوْا	بَاْسٍ	شَدِيْدٍ	وَّالْاَمْرُ	اِلَيْكِ	فَانْظُرِيْ	مَاذَا	تَاْمُرِيْنَ
او خاوندان	د جنګ	سخت يو	او امر	تاته دی	پس وګوره	چې د څه شی	امر کوی ته

او خاوندان د جنګ سخت يو او امر (حکم، اختيار) تاته دی پس وګوره (ای ملکی!) چې د څه شی امر کوی ته (پر موږ باندی)

قَالَتْ اِنَّ الْمُلُوْكَ اِذَا دَخَلُوْا قَرْيَةً اَفْسَدُوْهَا وَ جَعَلُوْۤا

قَالَتْ	اِنَّ الْمُلُوْكَ	اِذَا	دَخَلُوْا	قَرْيَةً	اَفْسَدُوْهَا	وَجَعَلُوْۤا
نو وويل	بيشکه! باچاهان	هر کله چې	ننوځی	په کوم کلی کښی	خرابوی دوی هغه	او ګرځوی دوی

نو وويل (بلقيس) بيشکه! باچاهان هر کله چې ننوځی په کوم (کلی) ښار کښی خرابوی دوی هغه (ښار) او ګرځوی دغه (باچاهان)

اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دحضرت سليمان عليه السلام خط په کمه ژبه وو؟

حضرت سليمان عليه السلام که څه هم عربی النسله نه وو ليکن په عربي ژبه پوهيدل د دوی د پاره څه ليري خبره نه وه کله چې دوی د مارغانو په ژبه باندې پوهيدل او عربي ژبه خو په ټولو ژبو کي افضله او ښه ده په دې وجه کيدای سي چې حضرت سليمان عليه السلام خط په عربي ژبه کي ليکلی وي ځکه چې مکتوب اليه (بلقيس) عربي النسله وه هغې خط وواية او په پوه سوه: او دا هم ممکنه ده چې حضرت سليمان عليه السلام خط په خپله ژبه کي ليکلی وي او دبلقيس سره دحضرت سليمان عليه السلام دژبي ترجمان ورسره وو چې دا خط يې ورته وواية او په پوه کړې يې وي: روح المعاني

(دخط ليکلو يوڅه آداب)

قرآن کريم دانساني ژوند هيڅ اړخ داسي نه دی پري ايښی چې ښوونه يې نه وي په کښي کړې. دخط او کتابت په ذريعه ديوبل سره خبري کول او آوريدل هم دانسان په اهمو ضرورتونو کي داخل دي او په دغه سورت کي الله جل جلاله پاته بيان پر راروان مخ باندي وګوری

ع ۲
۱۷

أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ۚ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ

أَعِزَّةَ	أَهْلِهَآ	أَذِلَّةً	وَكَذَٰلِكَ	يَفْعَلُونَ	وَإِنِّي	مُرْسِلَةٌ
عزتمند	داهل دهغه	ذليلان	او هم داسي	دوی کوی	او بیشکه! زه	لیږونکی یم

عزیزان (مشران) داهل دهغه ذلیلان، اوهم داسی (چی می ویل) دوی کوی. او بیشکه! زه لیږونکی یم

إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا

إِلَيْهِم	بِهَدِيَّةٍ	فَنَاظِرَةٌۢ	بِمَ يَرْجِعُ	الْمُرْسَلُونَ	فَلَمَّا
دوی ته	سره له هدیی	پس بیا زه کتونکی یم	چی په څه حال بیرته راځی	لیږل سوی	پس کله چی

دوی ته (قاصد) سره له هدیی (پیشکشی) پس بیا زه کتونکی یم چی په څه حال بیرته راځی دغه لیږل سوی. پس کله چی

جَآءَ سُلَيْمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ اللَّهُ

جَآءَ	سُلَيْمَٰنَ	قَالَ	أَتُمِدُّونَنِ	بِمَالٍ	فَمَآ	ءَاتَىٰنِۦَ	اللَّهُ
راغی	سلیمان ته	نو وویل (سلیمان)	آیا مددگاری کوئ تاسی له ماسره	په مال سره	پس هغه شی	چی راکړی دی ماته	الله

راغی (قاصد) سلیمان ته نو وویل (سلیمان) آیا مددگاری کوئ تاسی له ماسره په مال سره پس هغه شی چی راکړی دی ماته الله

خَيْرٌ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُم ۚ بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ ﴿٣٦﴾ ارْجِعْ إِلَيْهِمْ

خَيْرٌ	مِّمَّآ	ءَاتَىٰكُم	بَلْ أَنتُم	بِهَدِيَّتِكُمْ	تَفْرَحُونَ	ارْجِعْ	إِلَيْهِمْ
خیر ډیر غوره دی	له هغه شی	چی درکړی دی تاسی ته	بلکه تاسی	په دغه هدیه خپلی	خوشحالیږئ	بیرته ورسی	دوی ته

خیر ډیر غوره دی له هغه شی چی درکړی دی (الله) تاسی ته بلکه تاسی په دغه هدیه خپلی خوشالیږئ. بیرته ورسی دوی ته

فَلَنَأْتِيَنَّهُم بِجُنُودٍ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُم

فَلَنَأْتِيَنَّهُم	بِجُنُودٍ	لَّا قِبَلَ	لَهُم	بِهَا	وَلَنُخْرِجَنَّهُم
پس خامخا وربه سو موږ دوی ته	سره له لښکر	چی نه وی هیڅ طاقت دمقابلی	دوی ته	له هغو لښکرو سره	او خامخا وبه باسو دوی

پس خامخا وربه سو موږ دوی ته سره له لښکر چی نه وی هیڅ طاقت دمقابلی دوی ته له هغو لښکرو سره او خامخا وبه باسو دوی

مِّنْهَآ أَذِلَّةً وَهُمْ صَٰغِرُونَ ﴿٣٧﴾ قَالَ يَٰٓأَيُّهَا الْمَلَؤُا أَيُّكُمْ يَأْتِينِى

مِّنْهَآ	أَذِلَّةً	وَهُمْ	صَٰغِرُونَ	قَالَ	يَٰٓأَيُّهَا الْمَلَؤُا	أَيُّكُمْ	يَأْتِينِى
له دغه ځخه	چی بی عزته وی	او دوی به	خوار او ذلیله وی	وویل	ای سردارانو!	کوم یو له تاسی	به راوړی ماته

له دغه (ښار) ځخه چی بی عزته بی وی او دوی به خوار او بی عزته وی. وویل (سلیمان) ای اشرافو! کوم یو له تاسی به راوړی ماته

وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌۢ بِمَ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:

دحضرت سلیمان ﷺ خط دبلقیس په نوم پوره په پوره نقل کړی دی په دې وجه په دې خط کې چې کم هدایتونه دخط او کتابت په معامله کې تر لاسه کیږي هغه دمسلمانانو دپاره قابل داتباع دي: دټولو ځخه اول هدایت دادی چې لیکونکي دي دخط په شروع کې خپل نوم ولیکي بیا دي دهغه کس نوم ولیکي چې دی خط وراستوي ځکه چې حضرت سلیمان علیه السلام خط دخپل نوم ځخه شروع کی او دادانبیاوو علیهم السلام سنت دی ځکه چې په دې کې ډیري فائدې هم دي مثلاً دخط ویلو ځخه اول دمکتوب الیه په علم کې راتلل چې زه دچا خط وایم چې دی په دغه ماحول کې دخط مضمون ووایي او فکر پر وکي مخاطب ته داتکلیف تیرول نه سي پکار چې زه دچا خط وایمه او دهغه نوم په خط کې تلاش کړي چې دچا خط دی او دکم ځایه ځخه راغلی دی دنبي کریم ﷺ په خطو کې همدغه طریقه وه دده مبارک چې دخط په شروع کې به یې خپل مبارک نوم لیکی الخ.

(معارف القرآن ج٧پ١٩ص١٢٥)

بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ يَّاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿۳۸﴾ قَالَ عِفْرِيْتٌ

بِعَرْشِهَا	قَبْلَ	اَنْ يَّاْتُوْنِيْ	مُسْلِمِيْنَ	قَالَ	عِفْرِيْتٌ
تخت د دی	مخکی له هغه	چی راځی دوی ماته	مسلمانان	وویل	یو زورور سخت قوی

تخت د دی (بلقیسی) مخکی (پخوا) له هغه چی راځی دوی ماته مسلمانان. وویل یو زورور سخت قوی

مِّنَ الْجِنِّ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ مِنْ مَّقَامِكَ

مِّنَ الْجِنِّ	اَنَا اٰتِيْكَ	بِهٖ	قَبْلَ	اَنْ تَقُوْمَ	مِنْ مَّقَامِكَ
له پیریانو	چی زه به راوړم تاته	دا تخت	مخکی	له هغه چی ولاړ یې ته	له دغه ځایه خپله

له (قومه د) پیریانو چی زه به راوړم تاته دا (تخت) مخکی (پخوا) له هغه چی پاڅیږې ته (ای نبی الله) له دغه ځایه خپله،

وَاِنِّيْ عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ اَمِيْنٌ ﴿۳۹﴾ قَالَ الَّذِيْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ

وَاِنِّيْ	عَلَيْهِ	لَقَوِيٌّ	اَمِيْنٌ	قَالَ الَّذِيْ	عِنْدَهٗ	عِلْمٌ	مِّنَ
او بیشکه! زه	پر دغه (راوړلو د دی)	خامخا قوی	امانتګر یم	وویل هغه (سړی)	چی د ده څخه	یو علم ؤ	له

او بیشکه! زه پر دغه (راوړلو) د دی (تخت) خامخا قوی امانتګریم. وویل هغه (سړی) چی د ده څخه یو علم ؤ له

الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ طَرْفُكَ ۭ فَلَمَّا

الْكِتٰبِ	اَنَا	اٰتِيْكَ	بِهٖ	قَبْلَ	اَنْ يَّرْتَدَّ	اِلَيْكَ	طَرْفُكَ	فَلَمَّا
کتابه	زه به	راوړم تاته	دا (تخت)	مخکی له	هغه چی بیا راګرځی	تاته	سترګه ستا	نو کله چی

کتابه (منزله یعنی اسم اعظم) زه به راوړم تاته دا (تخت) مخکی (پخوا) له هغه چی بیا راګرځی تاته سترګه ستا، نو کله چی

رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ ۖ

رَاٰهُ	مُسْتَقِرًّا	عِنْدَهٗ	قَالَ	هٰذَا	مِنْ فَضْلِ	رَبِّيْ
ولید (سلیمان) دغه	قرار پروت	په نزد د ده	نو وی ویل	دغه	له فضله (احسانه)	درب زما دی

ولید (سلیمان) دغه (تخت) قرار پروت په نزد د ده نو وی ویل دغه (ژر راوړل دتخت) له فضله (احسانه) درب زما دی

لِيَبْلُوَنِيْٓ ءَاَشْكُرُ اَمْ اَكْفُرُ ۭ وَمَنْ شَكَرَ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ

لِيَبْلُوَنِيْٓ	ءَاَشْكُرُ	اَمْ اَكْفُرُ	وَمَنْ شَكَرَ	فَاِنَّمَا	يَشْكُرُ	لِنَفْسِهٖ	وَمَنْ
لپاره د دی چی	وازمویی ما	چی آیا زه شکر کوم	یا ناشکری کوم	او هرڅوک چی	شکر کوی	نوخپل ځان ته	او هر چاچی

لپاره د دی چی و ازمویی ما چی آیا زه شکر کوم یا ناشکری کوم، او هر څوک چی شکر کوی خپل ځان ته او هر چا چی

قَالَ عِفْرِيْتٌ مِّنَ الْجِنِّ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ.. دبلقيس دتخت واقعه كرامت ووكه تصرف وو؟ : شيخ اكبر محـي الـدين ابـن عربـي رحمة الله عليه دغـه كـار دآصـف ابـن برخيا تصـرف مقرر كړى دى. تصرف په اصطلاح كي دخيال او نظر اسـتعمالول او دحيـرت انگيـزى كـار كولـو دپاره استعماليږي: دكـم دپاره چـي نبـي يـا ولـي بلكـي مسلمانوالى هـم شـرط نـه دى: دادمسـمريزم پـه شـان يـو عمـل دى صـوفيايي كرامودمريدانو داصلاح دپاره كله كله دااستعمال كړى دى ابـن عربـي رحمة الله عليه فرمايي چي انبيآء عليهم السلام چـونكي دتصـرف كولـو څخـه پـر هيـز كـوي پـه دې وجه حضرت سليمان عليه السلام داكار وآصف ابن برخيا تـه وسـپارى مگـر قـرآن كـريم دي تصـرف تـه د (علـم مـن الكتـب) نتيجـه بنـوولې ده ددې څخـه تـرجيح ددې خبـري كيـږي چـي داد څـه دعـا يـآ اسـم اعظـم شـريف اثـر وو دكـم چـي دتصـرف سـره هـيـڅ واسـطه نسـتـه پـاتـه سـوه داشـبهه چـي دده داويـل چـي زه بـه داتخـت دسـترگو پـه رپ كـي راوړم دانبيـانـه ددې ده چـي داكـار دده پـه قصـد او اختيـار سـره وسـو ممكنـه ده چـي الله جل جلاله ده تـه اطـلاع وركـړې وي الـخ.

(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۳۴)

وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ... ایابلقیس دحضرت سلیمان علیه السلام په نکاح وه ؟ په ذکر سوو ایاتونوکي دبلقیس واقعه پر دې ختمه سویده چې دا حضرت سلیمان علیه السلام ته حاضره سوه او په اسلام مشرفه سوه ددې څخه وروسته څه حالات پیښ سول ؟ قرآن کریم ددې څخه سکوت اختیاره کړی دی همدا وجه ده چې کله دعبدالله ابن عیینة رحمة الله علیه څخه پوښتنه وسوه چې آیا حضرت سلیمان علیه السلام دبلقیس سره نکاح کړې وه که یا؟ نو هغه ورته وفرمایل چې ددوی معامله په قرآن کریم کي پر دغه ځای ختمه سوه (اسلمت مع سلیمان لله رب العلمین) مطلب دا وو چې قرآن کریم تر دغه ځایه پوري حال بیان کړی دی ددې څخه وروسته حال ښوول یي قرآن کریم پرې ایښي دی نو موږ ته هم ددې په تفتیش کي دلګیدو ضرورت نسته مګر ابن عساکر رحمة الله علیه دحضرت عکرمه رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې ددې څخه وروسته بلقیس دحضرت سلیمان علیه السلام په نکاح سوله او سلیمان علیه السلام دا پر خپل حکومت برقراره وساتله.

معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۳۷

كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّيْ غَنِيٌّ كَرِيْمٌ ۝٤٠ قَالَ نَكِّرُوْا لَهَا

كَفَرَ	فَإِنَّ	رَبِّيْ	غَنِيٌّ	كَرِيْمٌ	قَالَ	نَكِّرُوْا	لَهَا
ناشکری وکړه	پس بیشکه!	رب زما	بی پروا	کرم والا دی	وویل	چې نا آشنا کړئ تاسې	دغې (بلقیس) ته

ناشکری وکړه پس بیشکه! رب زما غني بي پروا دی کرم والا. وویل (سلیمان) چې نا آشنا کړئ تاسې دغې (بلقیس) ته

عَرْشَهَا نَنْظُرْ أَتَهْتَدِيْٓ أَمْ تَكُوْنُ مِنَ الَّذِيْنَ لَا يَهْتَدُوْنَ ۝٤١

عَرْشَهَا	نَنْظُرْ	أَتَهْتَدِيْٓ	أَمْ تَكُوْنُ	مِنَ الَّذِيْنَ	لَا يَهْتَدُوْنَ
تخت د دې	چې وګورو چې	آیا پیژني یئ	یا کیږي	له هغو کسانو	چې نه یئ پیژني

تخت د دې چې وګورو چې آیا پیژني یئ یا کیږي له هغو کسانو چې نه یئ پیژني .

فَلَمَّا جَآءَتْ قِيْلَ أَهٰكَذَا عَرْشُكِ ۭ قَالَتْ كَأَنَّهٗ هُوَ ۚ

فَلَمَّا	جَآءَتْ	قِيْلَ	أَهٰكَذَا	عَرْشُكِ	قَالَتْ	كَأَنَّهٗ	هُوَ
نو کله چې	راغله (بلقیس)	وویل سوه	آیا هم داسې دی	تخت ستا	نو وویل (بلقیس)	لکه چې دا	هم هغه دی

نو کله چې راغله (بلقیس) وویل سو (ورته) آیا هم داسې دی تخت ستا نو وویل (بلقیس) لکه چې دا هم هغه دی

وَأُوْتِيْنَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ۝٤٢

وَأُوْتِيْنَا	الْعِلْمَ	مِنْ قَبْلِهَا	وَكُنَّا	مُسْلِمِيْنَ
او راکړې سوې ؤ موږ ته	علم	پخوا له دې	او وو موږ	مسلمانان

او راکړې سوې ؤ موږ ته علم (په وحدت د رحمٰن او نبوت د سلیمان) پخوا له دې (چې هد هد ستا لیک راوړ) او وو موږ مسلمانان

وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ إِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ

وَصَدَّهَا	مَا كَانَتْ	تَّعْبُدُ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	إِنَّهَا	كَانَتْ	مِنْ قَوْمٍ
او منع کړه دا	له هغه شي چې وه دا	چې عبادت یئ کاوه	غیر له	الله	بیشکه! چې	دا وه	له قومه

او منع کړه (الله په توفیق خپل) دا له هغه شي چې وه دا چې عبادت یئ کاوه غیر له الله بیشکه! چې دا وه له (هغه) قومه

كٰفِرِيْنَ ۝٤٣ قِيْلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ ۚ فَلَمَّا رَأَتْهُ

كٰفِرِيْنَ	قِيْلَ لَهَا	ادْخُلِي	الصَّرْحَ	فَلَمَّا	رَأَتْهُ
چې کافران وو	وویلې سو دغې ته (بلقیس)	چې ننوځه	دې بنګلې (محل) ته	پس کله چې	ولیده دا (بنیبنه)

چې کافران وو. وویلی سو دغې (بلقیس) ته چې ننوځه دې بنګلې ته پس کله چې ولیده (بلقیس) دا (بنیبنه)

حَسِبَتۡهُ لُجَّةً وَّ كَشَفَتۡ عَنۡ سَاقَيۡهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ

حَسِبَتۡهُ	لُجَّةً	وَّ كَشَفَتۡ	عَنۡ سَاقَيۡهَا	قَالَ	اِنَّهٗ
نوگمان يئ پرو کړ	ژورو اوبو	او پورته يئ کړه	له دواړو پنډيو خپلو	نو وويل (سليمان)	بيشکه! دغه

نوگمان يئ پرې وكړ د ژورو اوبو او پورته يئ کړه (پايڅه) له دواړو پنډيو خپلو، نو وويل (سليمان) بيشکه! دغه

صَرۡحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنۡ قَوَارِيۡرَ ؕ قَالَتۡ رَبِّ اِنِّىۡ ظَلَمۡتُ نَفۡسِىۡ

صَرۡحٌ	مُّمَرَّدٌ	مِّنۡ قَوَارِيۡرَ	قَالَتۡ	رَبِّ	اِنِّىۡ	ظَلَمۡتُ	نَفۡسِىۡ
يو بنگله ده	په مځکه هواره بنويه	له ښيښو وڅخه	وويل (بلقيس)	اى ربه زما	بيشکه! ما	ظلم کړی دی	پر ځان خپل

يو بنگله ده په مځکه هواره بنويه جوړه سوې له ښيښو وڅخه، وويل (بلقيس) اى ربه زما بيشکه ما ظلم کړی دی پر ځان خپل

3
ع ١٨

وَاَسۡلَمۡتُ مَعَ سُلَيۡمٰنَ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۴۴﴾ وَلَقَدۡ

وَاَسۡلَمۡتُ	مَعَ	سُلَيۡمٰنَ	لِلّٰهِ	رَبِّ	الۡعٰلَمِيۡنَ	وَلَقَدۡ
او اسلام مې راوړی دی	سره له	سليمانه	خاص الله ته	چې رب	دمخلوقاتو دی	او خامخا په تحقيق

او اسلام مې راوړی دی سره له سليمانه خاص (هغه) الله ته چې رب (پالونکی) د عالميانو دی. او خامخا په تحقيق

اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰى ثَمُوۡدَ اَخَاهُمۡ صٰلِحًا اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ

اَرۡسَلۡنَاۤ	اِلٰى ثَمُوۡدَ	اَخَاهُمۡ	صٰلِحًا	اَنِ اعۡبُدُوا	اللّٰهَ
لېږلی ؤ موږ	ثموديانو ته	ورور ددوی	صالح	داسې چې عبادت کوئ تاسې	خاص دالله

لېږلی ؤ موږ ثموديانو ته (قومي) ورور ددوی صالح (چې وو ايه ثموديانو ته) داسې چې عبادت کوئ تاسې خاص دالله

فَاِذَا هُمۡ فَرِيۡقٰنِ يَخۡتَصِمُوۡنَ ﴿۴۵﴾ قَالَ يٰقَوۡمِ لِمَ تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ

فَاِذَا	هُمۡ فَرِيۡقٰنِ	يَخۡتَصِمُوۡنَ	قَالَ	يٰقَوۡمِ	لِمَ تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ
پس ناڅاپه دوی	دوی فرقې وې	چې سره يئ جګړې کولې	وويل (صالح)	اى قومه زما	ولې تلوار کوئ تاسې

پس ناڅاپه دوی دوه فرقې وې (مؤمن او کافر) چې سره يئ جګړې کولې. وويل (صالح) اى قومه زما ولې تلوار کوئ تاسې

بِالسَّيِّئَةِ قَبۡلَ الۡحَسَنَةِ ۚ لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُوۡنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمۡ

بِالسَّيِّئَةِ	قَبۡلَ	الۡحَسَنَةِ	لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُوۡنَ	اللّٰهَ	لَعَلَّكُمۡ
په بدی	پخواله	نيکی	ولې مغفرت نه غواړئ تاسې	له الله	دپاره د دې چې پر تاسې

په بدی (نزول د عذاب) پخوا له نيکی (توبې) ولې مغفرت نه غواړئ تاسې له الله (په ايمان او توبه) دپاره د دې چې پر تاسې

وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰى ثَمُوۡدَ اَخَاهُمۡ صٰلِحًا اَنِ اعۡبُدُوا
دثمود دقوم دهدايت دپاره الله ﷻ صالح ﷺ ورولېږی. په دغه ذکر سوو اياتونو کي الله ﷻ فرمايي چې موږ قوم دثمود ته ددوی دبرادری ورور حضرت صالح ﷺ ورولېږی او داپيغام مو ورکی چې تاسي شرک پرېږدی او دالله ﷻ عبادت کوی پکار خو داوه چي ټولو ايمان راوړی وای مگر دتوقع څخه خلاف ناڅاپه دوی دوې ډلې سوې کم چي ددين په باره کي ديوبل سره جنگيدلې يعني يوې فرقې ايمان راوړی وو او بلې فرقې ايمان نه وو راوړی او په دوی کي چي کمه جګړه او خبري وسوې ځيني يې په سورت اعراف کي ذکر دي او ځيني يې مخ ته راځي نو کله چي دغه خلګ پر کفر باندي ټينګ سول نو حضرت صالح ﷺ دانبياوو ﷺ دعادت موافق دوی دالله ﷻ دعذاب څخه وبېرول لکه چي داخبره په سورت اعراف کي هم راغلې ده (فيأخذكم عذاب اليم) چې اى قومه خبره ومنی سرزوري مه کوی داسي نه چي دالله ﷻ له طرف مو يو دردناک عذاب ونيسي الخ:
معارف القرآن ج٧ پ١٩ ص١٣٨

تُرۡحَمُوۡنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا اطَّيَّرۡنَا بِكَ وَبِمَنۡ مَّعَكَ ؕ قَالَ

قَالَ	مَّعَكَ	وَبِمَنۡ	بِكَ	اطَّيَّرۡنَا	قَالُوا	تُرۡحَمُوۡنَ
وويل (صالح)	له تا سره دي	او په هغه چاچې	په تا	چې بد فالي نيولې ده موږ	وويل (ثموديانو)	رحم وکړ سي

رحم وکړ سي. وويل (ثموديانو) چې بد فالي نيولې ده موږ په تا او په هغه چا چې له تا سره دي (له مؤمنانو). وويل (صالح)

طٰٓئِرُكُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ بَلۡ اَنۡتُمۡ قَوۡمٌ تُفۡتَنُوۡنَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ

وَكَانَ	تُفۡتَنُوۡنَ	قَوۡمٌ	بَلۡ اَنۡتُمۡ	عِنۡدَ اللّٰهِ	طٰٓئِرُكُمۡ
او وه	چې ازمويلى کيږئ	يو قوم	بلکه تاسي يئ	په نزد دالله ده	چې بد فالي ستاسي

چې بد فالي د تاسي په نزد د الله ده بلکه تاسي يو قوم يئ چې ازمويلى کيږئ (کله په راحت او کله په زحمت). او وه

فِي الۡمَدِيۡنَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٍ يُّفۡسِدُوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُوۡنَ ﴿٤٨﴾

وَلَا يُصۡلِحُوۡنَ	فِي الۡاَرۡضِ	يُّفۡسِدُوۡنَ	رَهۡطٍ	تِسۡعَةُ	فِي الۡمَدِيۡنَةِ
او نه به يئ کوله اصلاح	په مځکه کې	چې فساد به يئ کاوه	سړي	نهه	په ښار کښې

په ښار (د ثموديانو) کښې نهه سړي (غټ شرير) چې فساد به يئ کاوه په مځکه (دحجر) کښې او نه به يئ کوله اصلاح.

قَالُوا تَقَاسَمُوۡا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهۡلَهٗ ثُمَّ

ثُمَّ	وَاَهۡلَهٗ	لَنُبَيِّتَنَّهٗ	بِاللّٰهِ	تَقَاسَمُوۡا	قَالُوا
بيا به	او اهل د ده	چې خامخا د شپې به ولويږو پر دغه (صالح)	په الله	داچې قسمونه يئ خوړلي ؤ	وويل (ثموديانو)

وويل (ثموديانو) حال دا چې قسمونه يئ خوړلي ؤ په الله چې خامخا د شپې به ولويږو پر دغه (صالح) او اهل د ده بيا به

لَنَقُوۡلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ اَهۡلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوۡنَ ﴿٤٩﴾

لَصٰدِقُوۡنَ	وَاِنَّا	اَهۡلِهٖ	مَهۡلِكَ	مَا شَهِدۡنَا	لِوَلِيِّهٖ	لَنَقُوۡلَنَّ
خامخا له صادقانو يو	او بيشکه! چې موږ	داهل د ده	ځاى دهلاک	چې نه ؤ ليدلى موږ	ولي د ده ته	خامخا ووايو موږ

خامخا ووايو موږ هرومرو ولي د ده ته چې نه ؤ ليدلى موږ ځاى دهلاک داهل د ده او بيشکه! چې موږ خامخا له صادقانو يو

وَمَكَرُوۡا مَكۡرًا وَّمَكَرۡنَا مَكۡرًا وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿٥٠﴾

لَا يَشۡعُرُوۡنَ	وَّهُمۡ	مَكۡرًا	وَّمَكَرۡنَا	مَكۡرًا	وَمَكَرُوۡا
نه په پوهيدل	حال دا چې دوى	په تدبير کولو سره	او موږ هم تدبير وکړ	په فريب کولو سره	او فريب وکړ دوى

او فريب وکړ دوى په فريب کولو سره او (جزا د) فريب ورکړه موږ په جزا ورکولو سره حال دا چې دوى پرى نه پوهيدل.

قَالُوا تَقَاسَمُوۡا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهۡلَهٗ.

ثموديانو داخبره سره وکړه چې ټول به سره يوځاى سوا و پر صالح علیه السلام به حمله وکړو: مطلب دايت دادى چې دوى بدبختانو داخبره سره وکړه چې موږ ټول به سره يوځاى سو او د شپې په تياره کي به پر ده او دده پر متعلقينو باندي چاپه ووهو ټول به هلاک کړو بيا دده دوينې او خون دعوه کوونکي وارثان چي دتحقيق او تفتيش دپاره راپورته سي نو موږ به داووايو چي موږ فلاني سړي نه دى وژلى او نه يي په وژلو موږ خوک ليدلى دى او موږ به په دې خپله خبره کي ځکه رښتيني يو چي د شپې په تياره کي به داتعين چي خوک چامړکى موږ ته معلوم نه وي: په دي کي يوه خبره دغور قابله ده چې داکفار او په دوى کي بيا لوړ بدمعاشان کم چې په فساد کي مشهوره وه داټول کارونه دشرک او کفر او بدمعاشى او لوټ مار او قتل يې کول او هيڅ فکر يې نه کوى مګر دافکر يې وو چې دروغ ونه وايو يا ددروغو اقرار ونه کړودي څخه اندازه ولګوى چي دروغ څومره غټه او لويه ګناه ده الخ.
(معارف القرآن ج٧ ب١٩ ص ١٤٠)

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ

فَانْظُرْ	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	مَكْرِهِمْ	اَنَّا	دَمَّرْنٰهُمْ
پس وګوره	چې څرنګه	سو	عاقبت	دمکر د دوی	بیشکه! چې موږ	هلاک کړل دغه (نهه واړه)

پس وګوره چې څرنګه سو عاقبت د مکر (فریب) د دوی بیشکه! چې موږ هلاک کړل دغه (نهه واړه)

وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۱﴾ فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوْا ؕ

وَقَوْمَهُمْ	اَجْمَعِيْنَ	فَتِلْكَ	بُيُوْتُهُمْ	خَاوِيَةً	بِمَا ظَلَمُوْا
او قوم د دوی	ټول	پس دغه دی	کورونه د دوی	چې وران تش پراته دی	په سبب د دی چې ظلم کاوه دوی

او قوم د دوی ټول (په ږغ د جبرئیل) . پس دغه دی کورونه د دوی چې وران تش پراته دی په سبب د دی چې ظلم کاوه دوی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ

اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	لِّقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ	وَاَنْجَيْنَا	الَّذِيْنَ
بیشکه!	په دغه کښې	خامخا لوی دلیل دی	لپاره دقوم	چې پوهیږی	او نجات ورکړ موږ	هغو کسانو ته

بیشکه! په دغه (اهلاک دثمودیانو) کښې خامخا لوی دلیل دی دپاره دقوم چې پوهیږی. او نجات ورکړ موږ هغو کسانو ته

اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۳﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ

اٰمَنُوْا	وَكَانُوْا	يَتَّقُوْنَ	وَلُوْطًا	اِذْ قَالَ	لِقَوْمِهٖ
چې ایمان یې راوړی ؤ	او وو دوی	چې بیریدل (له الله)	او لوط	کله چې وی ویل	قوم خپل ته

چې ایمان یې راوړی ؤ او وو دوی چې بیریدل (له الله). او (یاده کړه قصه د) لوط کله چې وی ویل قوم خپل ته

اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۴﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ

اَتَاْتُوْنَ	الْفَاحِشَةَ	وَاَنْتُمْ	تُبْصِرُوْنَ	اَئِنَّكُمْ	لَتَاْتُوْنَ
آیا راځئ تاسی	فاحشی ته	حال دا چې تاسی	وینئ	آیا تاسی	خامخا راځئ

آیا راځئ تاسی فاحشی (قبیح کار دلواطت) ته حال دا چې وینئ تاسی (یو بل په دی بد عمل کښی) . آیا تاسی خامخا راځئ

الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

الرِّجَالَ	شَهْوَةً	مِّنْ دُوْنِ	النِّسَآءِ	بَلْ اَنْتُمْ	قَوْمٌ
سړیو ته	له جهته د شهوت	غیر له	ښځو	بلکه تاسی یئ	یو قوم

سړیو ته له جهته د شهوت غیر له ښځو (چې د شهوت د دفعی لپاره دی) بلکه تاسی یو قوم یئ

وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ.. حضرت لوط عليه السلام هم الله جل جلاله پیغمبر کي او خپل قوم ته یي ولیږی: په دغه ذکر سوو ایاتونو کي الله رحمة الله عليه فرمایي چې موږ حضرت لوط عليه السلام پیغمبر کی او دخپل قوم داصلاح او هدایت دپاره مو ورولیږی کله چې دوی خپل قوم ته وفرمایل چې تاسي داد بېحیایی کار کوی ؟ حال دادی چې تاسي پوه یاست چې داکار بد کار دی خو بیا یي هم نه پریږدی ایا تاسو دسړیو سره شهوت پوره کوی او ښځي پریږدی ددې هیڅ وجه نه سي کیدای بلکي په دې معامله کي تاسي محض جهالت کوی ددې تقریر دپاره دده قوم هیڅ معقول جواب جوړ نه کی بغیر ددې څخه چي خپل په مینځ کي سره وویل چي دلوط عليه السلام خلگ یعني پرده ایمان راوړونکي سره دلوط عليه السلام تاسي دخپل کلي څخه وباسی ځکه چي داخلگ ډیر صفا جوړیږي پس کله چي دې ته نوبت ورسیدی نو موږ پر دغه قوم باندي عذاب نازل کی او لوط عليه السلام او دده متعلقین داټول مو دعذاب څخه په نجات کړل او داقوم په کښي هلاک سو الخ: (معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۴۰)

تَجۡهَلُوۡنَ ﴿۵۵﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ

تَجۡهَلُوۡنَ	فَمَا كَانَ	جَوَابَ	قَوۡمِهٖۤ	اِلَّاۤ	اَنۡ
ناپوهان	پس نهٔ	جواب	دقوم دده	مګر	همدا ؤ چي

ناپوهان (له قبح دعواقبو خپلو). پس نهٔ جواب د قوم د دغه (لوط بل شی) مګر همدا ؤ چي

قَالُوۡۤا اَخۡرِجُوۡۤا اٰلَ لُوۡطٍ مِّنۡ قَرۡيَتِكُمۡ‌ۚ اِنَّهُمۡ اُنَاسٌ

قَالُوۡۤا	اَخۡرِجُوۡۤا	اٰلَ	لُوۡطٍ	مِّنۡ قَرۡيَتِكُمۡ	اِنَّهُمۡ	اُنَاسٌ
وبه يئ ويل دوى	وباسئ تاسي	اهل	دلوط	له دى ښاره خپله	بيشكه! دوى	داسي سړي دى چي

وبه يئ ويل دوى (يو بل ته) وباسئ (وشړئ) تاسي خپلخانه د لوط له دى ښاره خپله ، بيشكه! دوى داسي سړي دى چي

يَّتَطَهَّرُوۡنَ ﴿۵۶﴾ فَاَنۡجَيۡنٰهُ وَاَهۡلَهٗۤ اِلَّا امۡرَاَتَهٗ قَدَّرۡنٰهَا

يَّتَطَهَّرُوۡنَ	فَاَنۡجَيۡنٰهُ	وَاَهۡلَهٗۤ	اِلَّا امۡرَاَتَهٗ	قَدَّرۡنٰهَا
ځانونه پاک ساتی	پس نجات ورکړه موږ دغه ته	او اهل د دغه ته	مګر ښځه د ده	چي مقدره کړى وه موږ هغه

ځانونه پاک ساتی. پس نجات ورکړه موږ دغه (لوط) ته او اهل د دغه (لوط) ته مګر ښځه د ده چي مقدره کړى وه موږ هغه

مِنَ الۡغٰبِرِيۡنَ ﴿۵۷﴾ وَاَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ مَّطَرًا‌ۚ فَسَآءَ

مِنَ الۡغٰبِرِيۡنَ	وَاَمۡطَرۡنَا	عَلَيۡهِمۡ	مَّطَرًا	فَسَآءَ
له باقي پاتي كيدونكو	او ومو اوراوه موږ	پر دوى	باران	پس بد دى

له باقي پاتي كيدونكو (په عذاب كښى). او اوراوه موږ پر دوى باران (دتيږو چي هلاک سول) پس بد

ع ۴
۱۹

مَطَرُ الۡمُنۡذَرِيۡنَ ﴿۵۸﴾ قُلِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ

مَطَرُ	الۡمُنۡذَرِيۡنَ	قُلِ	الۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ	وَسَلٰمٌ	عَلٰى	عِبَادِهِ
باران	دبيرول سويو	ووايه (محمده)	چي ټولي ثناوى ستاينى	خاص الله لره دى	او سلام دى	پر	بندګانو د دغه (الله)

باران د بيرول سويو . ووايه (اى محمده!) چي ټولي ثناوى ستائنى خاص الله لره دى او سلام دى پر بندګانو د دغه (الله)

الَّذِيۡنَ اصۡطَفٰى‌ؕ آٰللّٰهُ خَيۡرٌ اَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿۵۹﴾

الَّذِيۡنَ	اصۡطَفٰى	آٰللّٰهُ	خَيۡرٌ	اَمَّا	يُشۡرِكُوۡنَ
هغه (بندګان)	چي غوره كړى دى دوى الله	آيا الله	خير بهتر دى	كه هغه بتان	چي دوى يئ شريكان كوى

هغه (بندګان) چي غوره كړى دى دوى (الله)، آيا الله خير بهتر دى، كه هغه بتان چي دوى يئ شريكان كوى (له الله سره)؟

قُلِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيۡنَ...نبي كريم ﷺ ته الله جل جلاله حكم كړى دى دشكر داداء كولو:

تير انبياء علیهم السلام او ددوى دامتونو څخه حالات او پردوى دعذاب دراتلو دواقعاتو دذكر كولو وروسته په دې جمله كي الله جل جلاله نبي كريم ﷺ مخاطب كړى دى فرمايلي يي دي چي ته دالله جل جلاله شكر اداء كوه چي ستا امت يي ددنيا دعذابه څخه مامون كړى دى او په تيرو پيغمبرانو او دالله جل جلاله پر خوښو سوو بندګانو سلام ليږه جمهورو مفسرينودا اختياره كړيده او ځينو ددې مخاطب هم حضرت لوط علیه السلام مقرر كړى دى: په دغه آيت كي د (الذين اصطفى) دالفاظو څخه ظاهره داده چي انبياء علیهم السلام ورڅخه مراددي لكه چي په يوبل آيت كي دي (وسلام على المرسلين) او دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه په يوه روايت كي دي ددې څخه مراد دنبي كريم ﷺ صحابه كرام دي حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه دغه قول اختياره كړى دى:

اللهمّ تقبل منّا جهدنا لخدمة القران كريم واجعله لنا ذخرا يوم القيمة

(معارف القرآن ج۷ پ۱۹ ص۱۴۲)

اَمَّنۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَاَنۡزَلَ لَكُمۡ مِّنَ

اَمَّنۡ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	وَاَنۡزَلَ	لَكُمۡ	مِّنَ
بلکه هغه څوک	چې پیدا کړی یئ دی	آسمانونه	او مځکه	او نازلې کړی یئ دی	دپاره ستاسی	له (طرفه د)

بلکه هغه څوک (بهتر دی) چې پیدا کړی یئ دی آسمانونه او مځکه او نازلې کړی یئ دی دپاره ستاسی له (طرفه د)

السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنۡۢبَتۡنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٍ ۚ

السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَنۡۢبَتۡنَا	بِهٖ	حَدَآئِقَ	ذَاتَ	بَهۡجَةٍ
آسمانه	اوبه	پس زرغونه کړل موږ	په دغو (اوبو) سره	باغونه	خاوندان	د بنائست

آسمان اوبه پس زرغونه کړل موږ په دغو (اوبو) سره باغونه خاوندان د رونق (او بنائست) ،

مَا كَانَ لَكُمۡ اَنۡ تُنۢبِتُوۡا شَجَرَهَا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلۡ

مَا كَانَ	لَكُمۡ	اَنۡ تُنۢبِتُوۡا	شَجَرَهَا	ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ	بَلۡ
نه دی کیدونکی	له تاسی	دا چې زرغونی کړئ تاسی	ونی دهغو	آیا سته بل معبود	له الله سره	بلکه

نه دی کیدونکی له تاسی دا (کار) چې زرغونی کړئ تاسی ونی دهغو ، آیا سته بل معبود له الله سره ؟ (نه نسته) بلکه

هُمۡ قَوۡمٌ يَّعۡدِلُوۡنَ ﴿٦٠﴾ اَمَّنۡ جَعَلَ الۡاَرۡضَ

هُمۡ	قَوۡمٌ	يَّعۡدِلُوۡنَ	اَمَّنۡ	جَعَلَ الۡاَرۡضَ
دغه (مشرکان)	یو داسی قوم دی	چې څنګ کوی	بلکه هغه څوک	چې ګرځولی یئ ده مځکه

دغه (مشرکان) یو داسی قوم دی چې څنګ کوی (له توحیده). بلکه هغه څوک (بهتر دی) چې ګرځولی یئ ده مځکه

قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَاۤ اَنۡهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا

قَرَارًا	وَّجَعَلَ	خِلٰلَهَاۤ	اَنۡهٰرًا	وَّجَعَلَ	لَهَا
ځای دقرار	او ګرځولی یئ دی	په مینځ د دغی مځکی کښی	نهرونه	او ګرځولی یئ دی	دغی (مځکی) ته

ځای دقرار (آرام) او ګرځولی یئ دی په مینځ د دغی مځکی کښی نهرونه (رودونه) او ګرځولی یئ دی دغی (مځکی) ته

رَوَاسِیَ وَجَعَلَ بَيۡنَ الۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ

رَوَاسِیَ	وَجَعَلَ	بَيۡنَ	الۡبَحۡرَيۡنِ	حَاجِزًا	ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ
محکم لوړ غرونه	او ګرځولی یئ ده	په مینځ	د دوو بحرونو کښی	پرده	آیا سته بل معبود	دالله سره ؟

محکم لوړ (اوچت) غرونه ، او ګرځولی یئ ده په مینځ د دوو بحرونو کښی پرده، آیا سته بل معبود دالله سره ؟(نه نسته)

اَمَّنۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَاَنۡزَلَ لَكُمۡ

مځکي او اسمانونه الله جل جلاله پیداکړي دي نو هغه دعبادت مستحق دی :

دتیر آیت په آخر کي الله جل جلاله فرمایلي وه (ءالله خیر امّا یشرکون) یعني الله جل جلاله ښه دی یا هغه بتان وغیره کم چي داخلګ یي دالله جل جلاله سره شریکوي : دادمشرکانو پر بې عقلی باندي بلکي پر ناپوهی باندي بدویل وه: مخ ته دتوحید ددلیلونو بیان دی الله جل جلاله فرمایي چي ای خلګو داوښیاست چي هغه ذات ښه دی کم چي مځکه او اسمانونه پیداکړي دي او داسمانه څخه یي اوبه اورولي دي بیا ددې په ذریعه موږ رونق داره باغونه زرغونه کړل کنه نوستاسي څخه ممکنه نه وه چي تاسي ددې باغونو درختي زرغوني کړی سی داموواوریدل اوس وښیاست چي آیا دالله جل جلاله سره بل څوک په عبادت کي شریکیدلای سي ؟ مګر مشرکان یي بیا هم نه مني بلکي داداسي خلګ دي چي نور څوک د خدای جل جلاله سره برابر وي داخودا سوه : نورکمالونه یي هم واوری چي مځکه یي دقرار نیولو ځای جوړ کړی دی.

(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۰ ص ۲)

بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦١ اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا

بَلْ	اَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	اَمَّنْ يُّجِيْبُ	الْمُضْطَرَّ	اِذَا
بلکه	اکثره د دغو (مشرکانو)	نه پوهیږي	بلکه هغه څوک چې قبلوي سوال	دعاجز	کله چې

بلکه اکثره د دغو (مشرکانو) نه پوهیږي. بلکه هغه څوک (بهتر دی) چې قبلوي سوال دعاجز (بیکس) کله چې

دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ

دَعَاهُ	وَيَكْشِفُ	السُّوْٓءَ	وَيَجْعَلُكُمْ	خُلَفَآءَ	الْاَرْضِ
وبولي دغه هغه (الله اکبر)	او لرې کوي	بدي، سختي	او ګرځوي (الله) تاسي لره	خلیفګان	په مځکه کښې

وبولي دغه (مضطر) هغه (الله اکبر) او لرې کوي بدي سختي، او ګرځوي (الله) تاسي لره خلیفګان په مځکه کښې

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۝٦٢ اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ

ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ	قَلِيْلًا مَّا	تَذَكَّرُوْنَ	اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ	فِيْ ظُلُمٰتِ
آیا سته بل معبود	له الله سره	لږ	پند قبلوئ	بلکه هغه څوک چې لاره ښیي تاسي ته	په تیارو کښې

آیا سته بل معبود له الله سره؟(نه سته) لږ پند قبلوئ. بلکه هغه څوک چې لاره ښیي تاسي ته (په ستورو سره) په تیارو

الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا ۢ بَيْنَ يَدَيْ

الْبَرِّ	وَالْبَحْرِ	وَمَنْ يُّرْسِلُ	الرِّيٰحَ	بُشْرًا	بَيْنَ يَدَيْ
د وچې	او دبحر کښې	او هغه څوک چې رالیږي	بادونه	زیري کوونکي	په مخ کښې

د وچې (بیدیا) او (په تیارو) دبحر (سیند) کښې او هغه (څوک بهتر دی) چې رالیږي بادونه زیري کوونکي په مخ کښې

رَحْمَتِهٖ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝٦٣

رَحْمَتِهٖ	ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ	تَعٰلَى	اللّٰهُ	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ
درحمت خپل	آیا سته بل معبود	له الله سره؟	ډیر لوی، پورته دی	الله	له هغو	چې شریکوي یې مشرکان

درحمت (باران) خپل، آیا سته بل معبود له الله سره؟ (بلکه نسته) ډیر لوی ډیر پورته دی الله له هغو چې شریکوي یې مشرکان

اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ

اَمَّنْ يَّبْدَؤُا	الْخَلْقَ	ثُمَّ	يُعِيْدُهٗ	وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ
آیا هغه څوک چې مخکي یې پیدا کړي دي	خلګ	بیا	به یې ژوندي کوي	او هغه څوک چې رزق درکوي تاسي ته

آیا هغه څوک چې مخکي یې پیدا کړي دي خلګ بیا به یې ژوندي کوي (بعدالموت) او هغه څوک چې رزق درکوي تاسي ته

اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ. دمضطر او غمجن سړي دعاداخلاص پر بنا ضرور قبلیږي: امام قرطبي رحمه الله فرمايي چې الله جل جلاله دمضطر او مجبوره سړي ددعا دقبلولو ذمه اخیستې ده او په دې آیت کې یې ددې اعلان کړی دی: ددې اصل وجه داده چې ددنیا دټولو کومکو څخه مایوسه اودټولو علاقو څخه پرېکړل سوی صرف الله جل جلاله کارسازه ګڼل اودعا کول داسرمایه داخلاص ده او دالله جل جلاله په نزد داخلاص لویه مرتبه ده دغه چې دکوم یو بنده څخه پیدا سي هغه مومن وي او که کافر وي متقي وي او که فاسق یافاجر دده داخلاص په برکت سره دده طرف ته دالله جل جلاله رحمت متوجه سي لکه چې حق تعالی دکفارو حال ذکر کړی دی چې کله داخلګ په دریاب کې وي اوددریاب څپې دهر طرف څخه کښتي راګیر کړي او دوی ګویا مرګ خپل مخ ته ولاړ وویني هغه وخت داخلګ په پوره اخلاص سره الله جل جلاله رابولي چې که دې موږ ددغه غم او مصیبت څخه خلاص کړو نو موږ به دې شکرګذاره سو نو الله جل جلاله یې خواست هم قبول کې الخ. (معارف القرآن ج ۷ پ ۲۰ ص ۳)

مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قُلْ هَاتُوْا

مِّنَ السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ	ءَاِلٰهٌ	مَّعَ اللّٰهِ	قُلْ	هَاتُوْا
له (طرفه د) آسمانه	او له مځکې	آیا سته بل معبود	له الله سره؟	ووایه (ای محمده!)	راوړی تاسی

له (طرفه د) آسمانه (په باران) او له مځکې (په محصولاتو)، آیا سته بل معبود له الله سره؟ ووایه (محمده!) راوړی تاسی

بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۞ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ

بُرْهَانَكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	قُلْ	لَّا يَعْلَمُ	مَنْ
دلیل (سند) خپل	که چیری یئ تاسی	رښتینی	ووایه (محمده!)	نه پوهیږی	هغه څوک

دلیل (سند) خپل که چیری یئ تاسی صادقان. ووایه (ای محمده! دوی ته) نه پوهیږی هغه څوک

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ

فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	الْغَيْبَ	اِلَّا	اللّٰهُ
چې په آسمانونو کښې دی	او په مځکه کښې دی	په غیبو (امورو)	مګر	الله (عالم دی پر غیبو)

چې په آسمانونو کښې دی او په مځکه کښې دی (له ملائیکو، په غیبو امورو) مګر الله (عالم دی پر غیبو) ،

وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ۞ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ

وَمَا يَشْعُرُوْنَ	اَيَّانَ	يُبْعَثُوْنَ	بَلِ ادّٰرَكَ	عِلْمُهُمْ
او نه پوهیږی دغه	چی کله به	بیا ژوندی راپورته کړل سی دوی	بلکه ستړی ستومان دی	علم د دوی

او نه پوهیږی دغه (کفار) چې کله به بیا ژوندی راپاڅول سی دوی، بلکه ستړی ستومان او له کاره لویدلی دی علم د دوی

فِي الْاٰخِرَةِ ۫ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا ۫ بَلْ هُمْ مِّنْهَا

فِي الْاٰخِرَةِ	بَلْ هُمْ	فِيْ شَكٍّ	مِّنْهَا	بَلْ هُمْ	مِّنْهَا
په آخرت کښې	بلکه دغه (کفار)	په شک کښې دی	له دغه (قیامت)	بلکه دغه (کفار)	له دغه (قیامته)

په (کار د) آخرت کښې بلکه دغه (کفار) په شک کښې دی له دغه (قیامت) بلکه دغه (کفار) له دغه (قیامته)

عَمُوْنَ ۞ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا

عَمُوْنَ	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	ءَاِذَا	كُنَّا	تُرٰبًا
ړانده دی	او وایئ	هغه کسان	چې کافران سوی دی	آیا کله چې	سو موږ	خاوری

ړانده دی (د زړه په سترګو)، او وایئ هغه کسان چې کافران سوی دی، آیا کله چې سو موږ خاوری

قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ.. علم غیب دالله جل جلاله مخصوص صفت دی په دغه ایت کي نبي کریم ﷺ ته حکم دی چي ته خلګو ته وښیه چي څومره مخلوق په مځکه کي دي لکه انسانان ،پیریان وغیره په دوی کي هیڅوک هم په غیبو باندي نه پوهیږي بغیر دالله جل جلاله مخ ته ذکر سوی ایت ددې خبري وضاحت کوي چي علم غیب دالله جل جلاله مخصوص صفت دی چي یوه فرشته یا نبي یا رسول په کښي شریکیدای نه سي ددغي مسئلې ضروري تفصیل دسورة انعام په آیت نهه پنځوسم کي تیر سوی دی ددې څخه علاوه حضرت مفتي شفیع صاحب رحمة الله علیه پر دغه بحث یوه رسالة لري چي نوم یې دی (کشف الریب عن علم الغیب) چي داحکام القرآن عربي جز هم جوړه سوړیده. لیکن بدبختانه چي دنن سبا اهل بدعت او ددین څخه لیري څه کسان ددغه صریح ایاتونو با وجود په دغه عقیده دي چي نبي کریم ﷺ عالم الغیب دی او هغه هر ځای حاضر او ناظر دی او بشر نه دی یومخ نور دی او نورداسي عقائد فاسده وغیره الخ.
(معرف القرآن ج ٧ پ ٢٠ ص ٧)

۵۶۸

وَّاٰبَآؤُنَآ اَىِٕنَّا لَمُخْرَجُوْنَ ۝٦٧ لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ

وَّاٰبَآؤُنَآ	اَىِٕنَّا	لَمُخْرَجُوْنَ	لَقَدْ	وُعِدْنَا	هٰذَا	نَحْنُ
او پلرونه زموږ	آيا خامخا به موږ	هرومرو را ايستلى سو	خامخا په تحقيق	وعده کړى سوى ده له موږ سره	د دى	له موږ سره

او پلرونه زموږ، آيا خامخا به موږ هرومرو رايستلى سو خامخا په تحقيق وعده کړى سوى ده له موږ سره د دى له موږ سره

وَاٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝٦٨

وَاٰبَآؤُنَا	مِنْ قَبْلُ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّآ	اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ
او هم له پلرونو زموږ سره	له دى پخوا	نه دى دغه خبرى	مګر	ليکلى قصى دى	دمخکنيو

او هم له پلرونو زموږ سره له دى (وعدى د محمد) پخوا نه دى دغه خبرى (بل شى) مګر ليکلى قصى د ى د مخکنيو (خلګو)

قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

قُلْ	سِيْرُوْا	فِى الْاَرْضِ	فَانْظُرُوْا	كَيْفَ كَانَ
ووايه (اى محمده!)	چى وګرځئ تاسى	په مځکه کښى	پس وګورئ	چى څرنګه سو

ووايه (اى محمده!) چى وګرځئ تاسى په مځکه (دمکذبينو) کښى پس وګورئ چى څرنګه سو

عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ۝٦٩ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ

عَاقِبَةُ	الْمُجْرِمِيْنَ	وَلَا تَحْزَنْ	عَلَيْهِمْ	وَلَا تَكُنْ
عاقبت	دګنهګارانو	او مه خفه کيږه	پردوى	او مه اوسه

عاقبت (آخره خاتمه) دګنهګارانو؟ او مه خفه کيږه (اى محمده!) پردوى (چى ستا تکذيب کوى) او مه اوسه

فِىْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ۝٧٠ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

فِىْ ضَيْقٍ	مِّمَّا	يَمْكُرُوْنَ	وَيَقُوْلُوْنَ	مَتٰى	هٰذَا
په تنګى کښى	له هغه	چى دوى مکر کوى	او وايئ دا (کفار)	کله به وى	دغه

په تنګى (د زړه) کښى له هغه چى دوى مکر کوى (له تاسره). او وايئ دا (کفار) کله به وى دغه

الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٧١ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ

الْوَعْدُ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	قُلْ	عَسٰٓى	اَنْ يَّكُوْنَ
وعده	که يئ تاسى	صادقان	ووايه (اى محمده!)	چى نژدى ده	چى سى

وعده (دنزول د عذاب) که يئ تاسى صادقان (په دغى دعوى کښى). ووايه (اى محمده!) چى نژدى ده چى سى

لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنْ. کفار دقيامت په ورځ دوباره ژوند بعيداوليري ګڼي: کفاروا و مشرکينو دمکي به پسله مرګه ژوند ته عقيده نه درلوده او هميشه به يي دتعجب په انداز کي مسلمانانو ته دا ويله چي آيا يو واري چي موږ مړه او زموږ بدنونه ټوله خاوري او هډوکي ذره ذره سي نو بيا به دوباره موږ راژوندي کيږو داخوزموږ په نزد ډير محال او مشکل شى دى او ددې خبري خو زموږ د نيکه ګانواوپلرونو سره هم وعده سوې وه نو هغه ولي نه دي ژوندي سوي ددې څخه معلوميږي چي دابې سنده خبري دي کم چي دمخکي څخه نقل راروانې دي ته دوى ته ووايه چي کله ددې پر امکان باندي عقلي دليلونه او پر وقوع باندي يي نقلي دليلونه موجود دي او تاسي يي برابراورى نو پکار ده چي تاسي يي ددرواغجن کولو څخه منع سى که نه منع کيږى نو کم حال چي ددرواغجن کوونکو تير سوى دى ستاسي سره به هم هغسي معامله وسي يعني دهغو کسانو په دنيا کي ذلت او په آخرت کي دايمي او هميشني عذابونه په برخه سول.
(معارف القرآن ج ٧ پ ٢٠ ص ٦)

رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَاِنَّ

رَدِفَ	لَكُمْ	بَعْضُ	الَّذِيْ	تَسْتَعْجِلُوْنَ	وَاِنَّ
پیوست سی	په تاسی پسی	ځینی	هغه (عذاب)	چی غواړئ یئ تاسی په تلوار سره	او بیشکه!

پیوست سی په تاسی پسی ځینی هغه (عذاب) چی غواړئ یئ تاسی په تلوار سره. او بیشکه!

رَبَّكَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

رَبَّكَ	لَذُوْ	فَضْلٍ	عَلَى النَّاسِ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَهُمْ
رب ستا	خامخا خاوند	دفضل دی	پر خلکو	او لیکن	اکثر د دوی

رب ستا خامخا څیښتن (خاوند) دفضل (احسان) دی پر خلکو (چی دوی ژر په ګناهو نه نیسی) اولیکن اکثر د دوی

لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ

لَا يَشْكُرُوْنَ	وَاِنَّ	رَبَّكَ	لَيَعْلَمُ	مَا تُكِنُّ
شکر نه کوی	او بیشکه!	رب ستا ته	خامخا معلوم دی	هغه څه چی پټوی یئ

شکر نه کوی (په دی نعمت). او بیشکه! رب ستا ته خامخا معلوم دی هغه څه چی پټوی یئ

صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۴﴾ وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ

صُدُوْرُهُمْ	وَمَا يُعْلِنُوْنَ	وَمَا مِنْ	غَآئِبَةٍ
سینی د دغو (کفارو)	او هغه څه چی ښکاروی یئ دوی	او نسته هیڅ شی	پټ پناه (له حوادثو)

سینی (زړونه) د دغو (کفارو) او هغه څه چی ښکاروی یئ دوی. او نسته هیڅ شی پټ پناه (له حوادثو)

فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۵﴾ اِنَّ هٰذَا

فِي السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ	اِلَّا	فِيْ كِتٰبٍ	مُّبِيْنٍ	اِنَّ	هٰذَا
په آسمان کښی	او په مځکه کښی	مګر دی	په کتاب	ښکاره کښی	بیشکه!	چی دغه

په آسمان کښی او په مځکه کښی مګر (لیکلی) دی په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کښی. بیشکه! چی دغه

الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَكْثَرَ الَّذِيْ هُمْ

الْقُرْاٰنَ	يَقُصُّ	عَلٰى	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	اَكْثَرَ	الَّذِيْ	هُمْ
قرآن	قصه کوی	پر	بنی اسرآئیلو باندی	اکثر	له هغو شیانو	چی دوی

قرآن قصه کوی (بیانوی) پر بنی اسرآئیلو (اولادی د یعقوب) باندی اکثر له هغو شیانو چی دوی

اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ قران کریم هغه څه بنی اسرائیلو ته بیان کړي دي چي دوی په کښې مختلف وه: په تیر وایاتونو کي یي دالله ﷻ دقدرت کمال په مختلفو مثالونو سره ثابت کی چي دقیامت واقع کیدل او په دي کي دمړو دوباره ژوندي کیدل په عقل سره ممکن دي په دي کي هیڅ عقلي اشکال نسته په عقلي امکان سره ددي ضرور واقع کیدل داد انبیاوو علیهم السلام او اسماني کتابونو دنقل څخه ثابته ده او دیو خبر صحیح او ثابت کیدل پر دي موقوف دي چي خبر ورکوونکی او روایت کوونکی صادق او رښتینی وي په دي وجه په دي آیت کي یي دا فرمایلي دي چي ددې خبر ورکوونکی قرآن دی او داخبر ورکوونکی انتهایي رښتینی دی درښتینوالي څخه یي انکار نه سي کیدلای تر دي چي دبني اسرآئیلو عالمانو چي په کمو مسئلو کي دیو بل سره اختلاف درلودی او هغه نه حل کیدی قرآن حکیم په هغو مسئلو کي دصحیح فیصلو کولو هدایت فرمایلی دی چي پر ضد او تعصب باندي مه ځی حق ته غاړي کښیږدی.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۸)

فِيۡهِ يَخۡتَلِفُوۡنَ ۝٧٦ وَاِنَّهٗ لَهُدًى وَّرَحۡمَةٌ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝٧٧

لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَّرَحۡمَةٌ	لَهُدًى	وَاِنَّهٗ	يَخۡتَلِفُوۡنَ	فِيۡهِ
لپاره د مؤمنانو	او رحمت دی	خامخا هدایت دی	او بیشکه! دغه (قرآن)	سره اختلاف کوی	په هغو کښی

په هغو (شیانو) کښی سره اختلاف کوی. او بیشکه! دغه (قرآن) خامخا هدایت دی او رحمت دی لپاره د مؤمنانو.

اِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِىۡ بَيۡنَهُمۡ بِحُكۡمِهٖ‌ۚ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

الۡعَزِيۡزُ	وَهُوَ	بِحُكۡمِهٖ	بَيۡنَهُمۡ	يَقۡضِىۡ	رَبَّكَ	اِنَّ
ښه غالب دی	او هم دی	په حکم خپل سره	په مینځ د دوی کښی	فیصله به وکری	رب ستا	بیشکه!

او بیشکه! رب ستا فیصله به وکری په مینځ د دوی کښی (په قیامت کښی) په حکم (عدل) خپل سره او هم دی ښه غالب دی

الۡعَلِيۡمُ ۝٧٨ فَتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ‌ؕ اِنَّكَ عَلَى الۡحَـقِّ الۡمُبِيۡنِ ۝٧٩

الۡمُبِيۡنِ	عَلَى الۡحَـقِّ	اِنَّكَ	عَلَى اللّٰهِ	فَتَوَكَّلۡ	الۡعَلِيۡمُ
ښکاره پیځ (چی اسلام دی)	پر حق	بیشکه! چی ته	خاص پر الله	پس توکل وکړه	ښه علم والا دی

ښه علم والا دی. پس توکل (اعتماد) وکړه خاص پر الله بیشکه! چی ته پر حق ښکاره پیځ (چی اسلام دی).

اِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ الۡمَوۡتٰى وَلَا تُسۡمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ

الدُّعَآءَ	الصُّمَّ	وَلَا تُسۡمِعُ	الۡمَوۡتٰى	لَا تُسۡمِعُ	اِنَّكَ
پږغ د نارو (دوعظ)	کنیو ته	او نسی اورولی	مړو ته	نسی اورولی	بیشکه! ته

بیشکه! ته نسی اورولی (خبره) مړو ته (او هم داسی) نسی اورولی کڼو ته پږغ د نارو (د وعظ)

اِذَا وَلَّوۡا مُدۡبِرِيۡنَ ۝٨٠ وَمَاۤ اَنۡتَ بِهٰدِى الۡعُمۡىِ عَنۡ

عَنۡ	الۡعُمۡىِ	بِهٰدِى	وَمَاۤ اَنۡتَ	مُدۡبِرِيۡنَ	اِذَا وَلَّوۡا
له	ړندو ته	لاره ښوونکی	او نه یئ ته	چی شاکوونکی وی	کله چی وګرځی دوی

کله چی وګرځی دوی په دی حال کښی چی شا کوونکی وی. او نه یئ ته لاره ښوونکی ړندو ته (چی یی راوګرځوی) له

ضَلٰلَتِهِمۡ‌ؕ اِنۡ تُسۡمِعُ اِلَّا مَنۡ يُّؤۡمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمۡ

فَهُمۡ	بِاٰيٰتِنَا	مَنۡ يُّؤۡمِنُ	اِلَّا	اِنۡ تُسۡمِعُ	ضَلٰلَتِهِمۡ
پس هم دوی	په آیتونو (دقدرت) زمونږ	هغه چاته چی ایمان راوړی	مګر	نه اوروی ته	ګمراهی د دوی څخه

ګمراهی د دوی څخه نه اوروی ته مګر هغه چاته چی ایمان راوړی په آیتونو (د قدرت) زمونږ پس هم دوی

اِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ الۡمَوۡتٰى وَلَا تُسۡمِعُ الصُّمَّ.. په قبر کي اواز اوري که یي نه اوري ؟: دا مسئله دهغو مسئلو څخه ده په کمو کي چي په خپله دصحابه کرامو ﷡ په مینځ کي اختلاف راغلی دی: عبدالله ابن عمر ﷤ دمرو اوریدل ثابت ګڼي او حضرت ام المؤمنین حضرت عائشة ﷤ ددي نفي کوي په دي وجه په نورو اصحابو کرامو ﷡ او تابعینو کي هم دوې ډلي سوي دي څیني یي داثبات قائل دي او څیني یي دنفي قایل دي او په قرآن کریم کي دامضمون یو خو په دغه ځای په سورت نمل کي راغلی دی: دوهم په سورت روم کي تقریبا په دي الفاظو سره بل آیت راغلی دی او په سورت فاطر کي دامضمون په دي الفاظو راغلی دی (وماانت بمسمع من فی القبور) یعني ته هغه خلګو ته نه سي اورولای چي په قبرونو کي دي. په دي درو سره ایاتونو کي داخبره دغور قابله ده چي په دي کي یي په یوه کي هم دانه دي فرمایلي چي مړی اوریدای نه سي بلکي په دروسره ایاتونو کي فرمایلي دي چي تاسي یي نه سی په اورولی: خلاصه داچي مړي په قبرو کي اوري. (معرف القرآن ج۷ پ ۲۰ ص ۱۰)

مُّسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا

مُّسْلِمُوْنَ	وَإِذَا	وَقَعَ	الْقَوْلُ	عَلَيْهِمْ	أَخْرَجْنَا
مسلمانان دی	او کله چې	واقع ثابت سی	خبر دعذاب	پر دوی (بنی آدمانو)	نو راوبه باسو موږ

مسلمانان دی. او کله چې واقع ثابت سی خبر دعذاب پر دغو (بنی آدمانو) نو راوبه باسو موږ

لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوْا

لَهُمْ	دَآبَّةً	مِّنَ الْأَرْضِ	تُكَلِّمُهُمْ	أَنَّ النَّاسَ	كَانُوْا
دوی ته	یوه دابه	له مځکی	چې خبری کوی دغه له دوی سره	چې بیشکه! دا خلک	ؤ

دوی ته یوه دابه (ژوندی خوځیدونکی تلونکی) له مځکی چې خبری کوی دغه (دابه) له دوی سره چې بیشکه! دا خلک ؤ

بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ

بِاٰيٰتِنَا	لَا يُوْقِنُوْنَ	وَيَوْمَ	نَحْشُرُ	مِنْ كُلِّ	أُمَّةٍ
چې په دلائلو زموږ	به یې یقین نه کاوه	او هغه ورځ چې	ژوندی به راپورته کړو	له (قبرونو د) هر	امت څخه

چې په دلائلو (دقدرت) زموږ به یې یقین نه کاوه. او (یاده کړه) هغه ورځ چې ژوندی به راپورته کړو له (قبرونو د) هر امت

فَوْجًا مِّمَّنْ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿٨٣﴾

فَوْجًا	مِّمَّنْ	يُّكَذِّبُ	بِاٰيٰتِنَا	فَهُمْ	يُوْزَعُوْنَ
یو فوج	له هغو چې	تکذیب کوی	په آیاتونو زموږ	پس دوی به	سره یو ځای کیږی بیا روانیږی

(فرقی) څخه یو فوج له هغو چې تکذیب کوی په آیاتونو زموږ پس د دوی جماعتونه به سره یو ځای کیږی بیا روانیږی .

حَتّٰٓى إِذَا جَآءُوْ قَالَ أَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِيْ وَلَمْ تُحِيْطُوْا

حَتّٰٓى	إِذَا جَآءُوْ	قَالَ	أَكَذَّبْتُمْ	بِاٰيٰتِيْ	وَلَمْ تُحِيْطُوْا
ترهغه پوری	چې راسی دوی	نو وبه فرمائی	آیا تکذیب کړی ؤ تاسی	دآیاتونو زما	داچې احاطه نه وه کړئ تاسی

ترهغه پوری چې راسی دوی (تول محشر ته) نو وبه فرمائی (الله) آیا تکذیب کړی ؤ تاسی د آیاتونو زما داچې احاطه نه وه کړئ

بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ

بِهَا	عِلْمًا	أَمَّاذَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ	وَوَقَعَ	الْقَوْلُ	عَلَيْهِمْ
په هغو	له جهته د علمه	آیا څه شی دی هغه	چې وئ تاسی	چې کاوه به مو	او واقع ثابته به سی	خبره	پر دوی باندی

تاسی په هغو له جهته د علمه آیا څه شی دی هغه چې وئ تاسی چې کاوه به مو . او واقع ثابته به سی خبره (دعذاب) پر دوی باندی

أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ..دابة الارض څه شی دی ؟او کله او په کم ځای کې دی؟ دحضرت حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي قیامت به تر هغه وخته پوري قایم نه سي تر څو چې ته ددې څخه مخکې لس نښې او نښانې ونه وینې : اول :لمر به د مغربه څخه راپورته سي. دوهم : دود به پیدا سي. دریم : دابة الارض به پیدا سي. څلورم : یاجوج او ماجوج به راووزي. پنځم : عیسی علیه السلام به دآسمانو څخه راکښته سي شپږم :دجال به راسي . اووم : درې مځکې به ننوزي یوه په مغرب کې یوه په مشرق کې یوه په جزیرة العرب کې. اتم : یوو ار به دکښته عدن څخه اور، راووزي او ټول خلګ به شړي او میدان دحشر ته به یې بیایي کم ځای چې خلګ دشپې تیرولو دپاره پاته کیږي دا اور به هم ودریږي الخ : په دې حدیث کې دقیامت په نژدې کیدو کې دمځکې څخه دیو داسې حیوان راوتل ثابت دي چې دخلګو سره به خبرې کوي او داهم چې دا حیوان به دعامو حیوانانو په شان نه وي. پاته بیان پر راوران مخ وګوری :

رکوع ٢

بِمَا ظَلَمُوْا فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا

بِمَا	ظَلَمُوْا	فَهُمْ	لَا يَنْطِقُوْنَ	اَلَمْ يَرَوْا	اَنَّا
په سبب دهغه	چې ظلم یئ کړی ؤ	پس دوی به	هیڅ خبری نسی کولی	آیا نه وینی (دا)	چې بیشکه! موږ

په سبب دهغه چې ظلم یئ کړی ؤ پس دوی به هیڅ خبری نسی کولی. آیا نه وینی دا (منکران د حشر) چې بیشکه! موږ

جَعَلْنَا الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ

جَعَلْنَا	الَّيْلَ	لِيَسْكُنُوْا	فِيْهِ	وَالنَّهَارَ	مُبْصِرًا	اِنَّ
گرځولی مو ده	شپه	لپاره د دی چې آرام وکړی دوی	پکښی	او (گرځولی مو ده) ورځ	لیدونکی	بیشکه!

گرځولی مو ده شپه (توره تیاره) لپاره د دی چې آرام وکړی دوی پکښی او (گرځولی مو ده) ورځ لیدونکی بیشکه!

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَيَوْمَ

فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ	وَيَوْمَ
په دغه کښی	خامخا دلائل دی	لپاره د (هغه) قوم	چې ایمان راوړی	او هغه ورځ

په دغه (تعاقب) کښی خامخا دلائل (دقدرت او عبرت) دی دپاره د (هغه) قوم چې ایمان راوړی. او (یادکړه) هغه ورځ

يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ

يُنْفَخُ	فِي الصُّوْرِ	فَفَزِعَ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَنْ
چې پوکی وکړ سی	په شپیلی کښی	نو بیریږی	هر هغه څوک	چې په آسمانونو کښی دی	او هر هغه څوک

چې پوکی وکړ سی په شپیلی کښی نو بیریږی (له ډیره هیبته) هر هغه څوک چې په آسمانونو کښی دی او هر هغه څوک

فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَكُلٌّ اَتَوْهُ

فِي الْاَرْضِ	اِلَّا	مَنْ شَآءَ	اللّٰهُ	وَكُلٌّ	اَتَوْهُ
چې په ځمکه کښی دی	مگر	هغه څوک چې اراده وفرمائی	الله	او ټول	به راسی د دغه (الله په حضور)

چې په ځمکه کښی دی مگر هغه څوک چې اراده وفرمائی الله (ده نه بیریدلو د دهغه) او ټول به راسی د دغه (الله په حضور)

دٰخِرِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً

دٰخِرِيْنَ	وَتَرَى	الْجِبَالَ	تَحْسَبُهَا	جَامِدَةً
عاجزان	او وینی به ته	غرونه	چې گمان به کوی ته پر هغو	چې کلک ولاړ دی

عاجزان، او وینی به ته غرونه (په قیامت کښی) گمان به کوی ته پر هغو چې کلک ولاړ دی (له جهته د لویوالی)

اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ..دتیر مخ پاته بیان دلته وگوری:
یعني داحیوان به دتوالد او تناسل په ذریعه نه پیدا کیږي بلکي ناڅاپه به یو وار دمځکي څخه راوزي او داخبره هم په دې حدیث سره معلومیدای سي چي ددابة الارض راوتل به دآخري علاماتو څخه وي دکم څخه وروسته چي به ډیر ژر قیامت راځي. دحضرت طلحه ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي دابة الارض به په مکه مکرمه کي دصفا دغره څخه راووزي او دخپل سر څخه به خاوري وڅنډي په مسجد الحرام کي به دحجر اسود او مقام ابراهیم مینځ ته ورسیږي خلگ چي داووینی نو وبه تښتي یو جماعت به پاته سي دادابة به دهغوی مخونه لکه دستورو په شان روښانه کړي ددې څخه به وروسته هغه مځکي ته ووزي دهر کافر پر مخ به دکفر نښان ولگوي څوک به دده د نیولو څخه په تښتیدو نه سي خلاصیدای ځکه چي دابه هرمومن او کافر جلا جلا پیژني او په نورو احادیثو کي هم ددغه حیوان راوتل دقیامت دعلامو څخه شمیرل سوي دي:
(معرف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۱۳)

وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ؕ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ

وَّهِيَ	تَمُرُّ	مَرَّ السَّحَابِ	صُنْعَ	اللّٰهِ	الَّذِيْٓ
حال داچې دوی به ځی	تیریږي په شان	دوریځی	کاریګری	د الله	هغه (الله

حال داچې دوی به ځی تیریږی پشان د وریځی کاریګری د الله (وکړ الله دا کار په کولو سره) هغه (الله)

اَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ؕ اِنَّهٗ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۸۸﴾

اَتْقَنَ	كُلَّ شَيْءٍ	اِنَّهٗ	خَبِيْرٌۢ	بِمَا تَفْعَلُوْنَ
چې محکم کړی یئ دی	هر شی	بیشکه! چې دغه (الله)	ښه خبردار دی	په هغو کارو چې کوئ یئ تاسی

چې محکم کړی یئ دی هر شی (چې پیدا کړی یئ دی) بیشکه! چې دغه (الله) ښه خبردار دی په هغو کارو چې کوئ یئ تاسی

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَهُمْ

مَنْ جَآءَ	بِالْحَسَنَةِ	فَلَهٗ	خَيْرٌ	مِّنْهَا	وَهُمْ
هر هغه څوک چې راسی	په نیکی سره	پس سته ده ته (جزاء)	بهتر غوره	له هغه	او دوی به

هر هغه څوک چې راسی په حسنه (نیکی) سره پس سته ده ته (جزاء) بهتر غوره له هغه او دوی به

مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ ﴿۸۹﴾ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ

مِّنْ فَزَعٍ	يَّوْمَئِذٍ	اٰمِنُوْنَ	وَمَنْ جَآءَ	بِالسَّيِّئَةِ
له سختی بیری	ددغی ورځی	په امان وی	او هر هغه څوک چې راسی	په بدی (شرک سره)

له سختی بیری د دغی ورځی په امان وی. او هر هغه څوک چې راسی په سیئه (بدی شرک سره)

فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ ؕ هَلْ تُجْزَوْنَ

فَكُبَّتْ	وُجُوْهُهُمْ	فِي النَّارِ	هَلْ تُجْزَوْنَ
پس نسکور به وغورځول سی	مخونه د دوی	په اور (د دوزخ) کښې	آیا جزاء درکوله کیږی

پس نسکور به وغورځول سی مخونه د دوی په اور (د دوزخ کښې) آیا جزاء درکوله کیږی (بلکه نه درکوله کیږی)

اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ

اِلَّا	مَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ	اِنَّمَآ	اُمِرْتُ	اَنْ اَعْبُدَ
مګر	هغه چې وئ تاسی	چې کول به مو	بیشکه! هم دا خبره ده	چې حکم کړی سوی دی ماته	داسی چې عبادت کوم

مګر هغه چې وئ تاسی چې کول به مو. بیشکه! هم دا خبره ده چې امر (حکم) کړی سوی دی ماته داسی چې عبدت کوم

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَهُمْ.. دنیکی بدله الله جَلَّ جَلَالُهٗ وبنده ته تر هغې زیاته ورکوي: دادحشر نشر او حساب کتاب څخه وروسته دراپیښیدونکي حالت او انجام ذکر دی او د (حسنة) څخه مراد دلااله الا الله کلمه ده لکه چې داسې ویلي دي ابراهیم رحمة الله علیه یا ددې څخه مراد اخلاص دی لکه حضرت قتاده رضي الله عنه چې ویلي دي. او ځینو حضراتو مطلق طاعت په دې کې داخل کړی دی معنی داده چې کم سړی نیک عمل وکې او نیک عمل هغه وخت دنیک ویلو قابل وي کله چې دده اولنی شرط ایمان موجود وي نو ده ته به دخپل عمل څخه ښه شی ورکول کیږي مراد ددې څخه دجنت لازواله نعمتونه او د عذاب او دهر تکلیف څخه دایمي نجات دی او ځیني حضرات بیا فرمایي چې دخیر څخه مراد دادی چې دیوې نیکی جزاء به دلس چنده څخه واخله تر اووه سوه چنده پوري ورکول کیږي: تفسیر مظهري. (وهم من فزع یومئذ آمنون) نیکی راوړونکي نیک خلګ به دهري بیري او غم څخه په امن کې وي او بې فکره او مطمئن به وي. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۲۱)

رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِىْ حَرَّمَهَا وَلَهٗ كُلُّ شَىْءٍ

كُلُّ شَىْءٍ	وَلَهٗ	حَرَّمَهَا	الَّذِىْ	الْبَلْدَةِ	هٰذِهِ	رَبَّ
هر شی	او خاص هم دغه الله لره دی	چې عزت یئ ورکړی دی (ښار ته)	هغه (الله)	ښاره	د دی	د رب

د رب د دی ښار هغه (الله) چې حرمت (عزت) ورکړی دی (ښار دمکې ته) او خاص هم دغه الله لره دی هر شي

وَّاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۹۱﴾ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ

اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ	وَاَنْ	مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ	اَنْ اَكُوْنَ	وَّاُمِرْتُ
ووایم قرآن	او په دې چې	له مسلمانانو	داسې چې سم زه	او حکم کړی سوی دی ماته

او حکم کړی سوی دی ماته داسې چې سم زه له مسلمانانو او په دې چې ولولم قرآن (پر تاسو)

فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِىْ لِنَفْسِهٖ

لِنَفْسِهٖ	يَهْتَدِىْ	فَاِنَّمَا	اهْتَدٰى	فَمَنِ
دپاره د ځان	چې سمه صافه لاره یئ پیدا کړه	پس بیشکه! هم دا خبره ده	سمه صافه لاره پیدا کړه	پس هر چا چې

پس هر چا چې سمه صافه لاره ومونده پس بیشکه! هم دا خبره ده چې سمه صافه لاره یئ ومونده دپاره د ځان

وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۹۲﴾ وَقُلِ

وَقُلِ	مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ	اَنَا	اِنَّمَآ	فَقُلْ	ضَلَّ	وَمَنْ
او ووایه	له بیروونکو څخه یم	چې زه	بیشکه! هم دا خبره ده	پس ووایه (ای محمده!)	چې ګمراه سو	او هر څوک

او هر څوک چې ګمراه سو پس ووایه (ای محمده! ده ته) بیشکه! هم دا خبره ده چې زه له بیروونکو څخه یم. او ووایه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا

فَتَعْرِفُوْنَهَا	اٰيٰتِهٖ	سَيُرِيْكُمْ	لِلّٰهِ	الْحَمْدُ
پس وبه پیژنئ تاسی هغه (دلائل)	دلائل	ژر به وښیي (الله) تاسی ته	خاص الله ته دی	چې ټولې ثناوې ستاینې

چې ټولې ثناوې ستاینې (صفتونه) خاص الله ته دی ژر به وښیي (الله) تاسی ته دلائل پس وبه پیژنئ تاسی هغه (دلائل)

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾

تَعْمَلُوْنَ	عَمَّا	بِغَافِلٍ	رَبُّكَ	وَمَا
چې کوئ یئ تاسی (ای مشرکانو)	له هغو عملونو څخه	غافل	رب ستا	او نه دی

او نه دی رب ستا غافل (بیخبره) له هغو عملونو څخه چې کوئ یئ تاسی (ای مشرکانو).

رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِىْ حَرَّمَهَا وَلَهٗ كُلُّ شَىْءٍ

مکه مکرمه دالله ﷻ په نزد ډیر غټ احترام او اکرام لري: دبلدة څخه مراد دجمهورو مفسرينو په نزد مکه مکرمه ده الله ﷻ خو رب العلمين او رب السموات والارض دی یعني دټولو مخلوقاتو او مځکي او اسمانونو رب دی: د مکې مکرمې تخصيص دلته ددې دلوی شان او دالله ﷻ په نزد دمکرمې او محترمې کیدو اظهار دی: لفظ دحرم دتحريم څخه مشتق دی ددې معنی مطلق احترام او اکرام هم دی او ددې احترام او اکرام په وجه سره چې کم خاص شرعي احکام دمکې مکرمې او دحرم د مځکې سره متعلق دي هغه هم په دې کي داخل دي مثلاً کم سړی چې په حرم کي پناه واخلي هغه په امن سي په حرم کي ددښمن څخه بدل اخيستل او قتل کول جائز نه دي ددې احکامو بيان تردغه ايت لاندې (ومن دخله کان آمناً) راغلی دی او دسورت مائدې په شروع کي ددغه آيت (ولاتقتلوا الصيد وانتم حرم) چي تاسي ښکار داحرام په حالت کي مه قتلوی څکه چې دا دحرم دادب خلاف دی. (معارف القرآن ج۷پ۲۰ص ۲۳)

ع ۳

اٰیاتونه ۸۸ | ۲۸ سُوْرَةُ الْقَصَصِ مَكِّيَّةٌ ۴۹ | رکوعي ۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

طٰسٓمّٓ ۝١ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ نَتْلُوْا

طٰسٓمّٓ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	الْكِتٰبِ	الْمُبِيْنِ	نَتْلُوْا
طاء، سین، میم	دا	آیتونه	دکتاب	ښکاره دی	وایو موږ

طا ، سین، میم. دا آیتونه د کتاب ښکاره دی (چې خیر او برکت یې ښکاره او دحق او باطل بیلوونکی دی) . وایو موږ

عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ

عَلَيْكَ	مِنْ نَّبَاِ	مُوْسٰى	وَفِرْعَوْنَ	بِالْحَقِّ	لِقَوْمٍ
پرتا	له (ځینو) خبرو	دموسٰی	او دفرعون	په حقه (رښتیا) سره	دپاره د (هغه) قوم

پرتا (ای محمده!) له (ځینو) خبرو د موسٰی او دفرعون په حقه (رښتیا) سره دپاره د (هغه) قوم

يُّؤْمِنُوْنَ ۝٣ اِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْاَرْضِ وَجَعَلَ

يُّؤْمِنُوْنَ	اِنَّ	فِرْعَوْنَ	عَلَا	فِي الْاَرْضِ	وَجَعَلَ
چې ایمان راوړی	بیشکه!	چې فرعون	لوئی غوره کړی ؤ	په مځکه کښې	او ګرځولی یې ؤ

چې ایمان راوړی. بیشکه! چې فرعون لوئی (او تکبر) غوره کړی ؤ په مځکه (دمصر) کښې او ګرځولی یې ؤ

اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ

اَهْلَهَا	شِيَعًا	يَّسْتَضْعِفُ	طَآئِفَةً	مِّنْهُمْ	يُذَبِّحُ
اهل د دغه (مصر)	ټولی ټولی	چې ضعیفه کړی یې ؤ وه	یوه طائفه	له دوی	چې وژل به یې

اهل د دغه (مصر) ټولی ټولی چې ضعیفه (مقهوره) کړی یې ؤ وه یوه طائفه له دوی (بنی اسرآئیل) چې وژل به یې

اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ

اَبْنَآءَهُمْ	وَيَسْتَحْيٖ	نِسَآءَهُمْ	اِنَّهٗ	كَانَ	مِنَ
زامن د دوی	او ژوندی به یې پریښودی	ښځی د دوی	بیشکه! دغه (فرعون)	ؤ	له

ځامن د دوی او ژوندی به یې پریښودی ښځی (جنکیانی) ددوی (خپل خدمت ته) ، بیشکه! ؤ دغه (فرعون) له

تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ نَتْلُوْا عَلَيْكَ..

دسورت القصص خصوصیات

سورت قصص په مکي سورتونو کي دټولو څخه آخري سورت دی کم چي دهجرت په وخت کي دمکي مکرمي او جحفه په مینځ کي نازل سوی دی په ځیني روایتونو کي دي چي دهجرت په سفر کي کله چي نبي کریم ﷺ جحفه یعني رابغ ته نژدې سو نو جبرائیل عليه السلام تشریف راوړی او نبي کریم ﷺ ته یې وفرمایل چې ای محمد ﷺ ایا تاته خپل وطن په کم کي چي تاسي پیدا سوي یاست یادیږي ؟ نو حضور ﷺ وفرمایل چي هو ضرورو مي یادیږي په دې باندي جبرائیل عليه السلام دقرآن کریم دغه سورت واوروی چې ددې په آخر کي نبي کریم ﷺ ته داخوشخبري ورکړه سوه چي آخر به مکه مکرمه فتح سي او ستا په قبضه کي به راسي هغه آیت دادی (ان الذی فرض علیک القرآن لرادک الی معاد) په سورت قصص کي د ټولو څخه اول دحضرت موسی عليه السلام قصه په اجمال سره بیا په تفصیل سره بیان سویده او دقارون دقصي ذکر هم سوی دی.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۲۷)

الْمُفْسِدِيْنَ ④ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ

الْمُفْسِدِيْنَ	وَنُرِيْدُ	اَنْ نَّمُنَّ	عَلَى الَّذِيْنَ
مفسدانو	او اراده وکړه موږ	ددې چې منت، احسان کښېږدو	پر هغو کسانو

مفسدانو (چې فسادونه به يې کول). او اراده وکړه موږ د دې چې منت احسان کښېږدو پر هغو کسانو

اسْتُضْعِفُوْا فِي الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ

اسْتُضْعِفُوْا	فِي الْاَرْضِ	وَنَجْعَلَهُمْ	اَئِمَّةً	وَّنَجْعَلَهُمُ
چې ضعيفان کړی سوی وو	په مځکه کښې	او چې وګرځوو موږ دوی	امامان	او چې وګرځوو موږ دوی

چې ضعيفان کړی سوي وو په مځکه (د مصر) کښې او چې وګرځوو موږ دوی امامان او چې وګرځوو موږ دوی

الْوٰرِثِيْنَ ⑤ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْاَرْضِ وَنُرِيَ

الْوٰرِثِيْنَ	وَنُمَكِّنَ	لَهُمْ	فِي الْاَرْضِ	وَنُرِيَ
وارثان	او چې قدرت ورکړو موږ	دوی ته	په مځکه کښې	او چې وښيو

وارثان (د ملک د فرعون) او چې قدرت ورکړو موږ دوی ته په مځکه (د مصر او شام) کښې او چې وښيو

فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا

فِرْعَوْنَ	وَهَامٰنَ	وَجُنُوْدَهُمَا	مِنْهُمْ	مَّا كَانُوْا
فرعون	او هامان	او لښکرو د دغو دواړو ته	له دغو (بني اسرائيلو) څخه	هغه شي چې ؤ دوی

فرعون او هامان (وزير ته يې) او لښکرو د دغو دواړو ته له دغو (بني اسرائيلو څخه) هغه شي چې ؤ دوی

يَحْذَرُوْنَ ⑥ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ

يَحْذَرُوْنَ	وَاَوْحَيْنَآ	اِلٰٓى اُمِّ	مُوْسٰٓى	اَنْ اَرْضِعِيْهِ
چې بيريدل	او وحی وکړی موږ	و مور	د موسٰی ته	داسي چې تی ورکوه ته ده ته

چې بيريدل (به تری). او وحی (الهام) وکړ موږ مور د موسٰی ته داسي چې تی ورکوه ته دغه (موسٰی) ته

فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِيْ

فَاِذَا	خِفْتِ	عَلَيْهِ	فَاَلْقِيْهِ	فِي الْيَمِّ	وَلَا تَخَافِيْ
نو کله چې	وبيريدې ته	پر ده	پس وغورځوه دغه (موسٰی)	په سيند کښې	او مه بيريږه ته

نو کله چې وبيريدی ته (پر ده) پس وغورځوه دغه (موسٰی سره له تابوته) په سيند کښې او مه بيريږه ته (له غرق يې)

وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا..... پر بني اسرائيلو باندي دالله ﷻ داحسان ذکرکول: په دې آيت کي دفرعوني تدبير دخدايي تقدير په مقابله کي نه صرف نامراده او تاواني کيدل بلکي فرعون او دده ټول درباروالا دانتهايي بې عقله بلکي درندو جوړولو ذکر دی دکم هلک متعلق چي دخوب او تعبير دخوب پر بنا دفرعون سره بيره پيدا سوي وه او دکم په وجه چي دبني اسرآئيلو دبې شميره تازه پيدا سوو هلکانو دذبح کولو قانون جوړ سوی وو دهغه الله ﷻ دفرعون په کورکي دده په لاسوپرورش وکی اودمور داطمينان دپاره يي ددغي غيرې ته په حيرانوونکي طريقه راورسوی او دفرعون څخه يي دتې ورکولو خرچه کمه چي په ځينوروايتونوکي يودينار روزانه ښوول سويده زياته کړه او دتې ورکولو دامعاوضه چونکي ديو حربي کافر څخه دده په رضامندی سره اخيستل سويده په دې وجه ددې په جواز کي هم څه اشکال نسته او آخر دکمي خطرې دليري کولو دپاره چي پر ټول قوم داظلم غورزول سوی ووهغه دده دکوره څخه راووته. (معارف القرآن ج۷پ۲۰ص۲۸)

وَلَا تَحْزَنِيْۚ اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۞ ٧

وَلَا تَحْزَنِيْ	اِنَّا	رَآدُّوْهُ	اِلَيْكِ	وَجَاعِلُوْهُ	مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ
او مه غمجنه کيږه ته	بيشکه! چې موږ	بيرته راوستونکي يو د دغه	تاته	او (بيا) ګرځوونکي يو د ده	له پيغمبرانو

او مه خفه کيږه ته بيشکه! چې موږ بيرته راوستونکي يو د دغه (موسٰی) تاته او (بيا) ګرځوونکي يو دده له پيغمبرانو.

فَالْتَقَطَهٗۤ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًاؕ

فَالْتَقَطَهٗ	اٰلُ	فِرْعَوْنَ	لِيَكُوْنَ	لَهُمْ	عَدُوًّا	وَّحَزَنًا
پس پيدا کړ دغه	کورنۍ	د فرعون	لپاره د دې چې سي	دغو ته	دښمن	او (سبب د) غم

پس ومونده دغه (اوونيو تابوت د موسٰی) کورنۍ د فرعون لپاره د دې چې سي دغو (فرعونيانو) ته دښمن او (سبب د) غم

اِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خٰطِئِيْنَ ۞ ٨

اِنَّ	فِرْعَوْنَ	وَهَامٰنَ	وَجُنُوْدَهُمَا	كَانُوْا	خٰطِئِيْنَ
بيشکه!	چې فرعون	او هامان	او لښکرې د دغو دواړو	وو (دا تول)	خطاء کاران

بيشکه! چې فرعون او هامان (وزير يې) او لښکرې د دغو دواړو وو (دا تول) خطا کاران.

وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَؕ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖۗ

وَقَالَتِ	امْرَاَتُ	فِرْعَوْنَ	قُرَّتُ	عَيْنٍ	لِّيْ وَلَكَ	لَا تَقْتُلُوْهُ
او وويل	ښځې	د فرعون	يخوالی	دسترګو دی	ماته او تاته	مه وژنئ دغه (هلک)

او وويل ښځې د فرعون (آسيې چې دغه هلک) يخوالی د سترګو دی ماته او تاته مه وژنئ دغه (هلک)

عَسٰۤى اَنْ يَّنْفَعَنَاۤ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۞ ٩

عَسٰى	اَنْ يَّنْفَعَنَاۤ	اَوْ نَتَّخِذَهٗ	وَلَدًا	وَّهُمْ	لَا يَشْعُرُوْنَ
ښايئ چې	نفع به راورسوی موږته	يا به ونيسو دی	زوی	حال دا چې دوی	نه پوهيدل

ښايئ چې نفع به راورسوی موږ ته يا به ونيسو دی زوی، حال دا چې دوی نه پوهيدل (په دغه سبب د هلاک خپل)

وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًاؕ اِنْ

وَاَصْبَحَ	فُؤَادُ	اُمِّ	مُوْسٰى	فٰرِغًا	اِنْ
او سهار ته وګرځيد	زړه د	مور	د موسٰی	تش له صبره، قراره	بيشکه!

او سهار ته وګرځيد زړه د مور د موسٰی تش له صبره قراره (او له نورو افکارو پرته د غمه د موسٰی) بيشکه!

فَالْتَقَطَهٗۤ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا... دحضرت موسی عليه السلام صندوق دفرعون کورنۍ پورته کی داوبو څخه: کله چې دحضرت موسی عليه السلام دمور سره دابيره پيدا سوه چې فرعون په دې او ددې په زوی خبر سي نو خپني ذبح به يې کې نو راولاړه سوه په صندوق کې يې بند کی او هغه صندوق يې د الله جل جلاله په نامه سره دنيل ورود ته ورواچوی ددغه درياب څخه بيا يوه وياله دفرعون محل ته تللې وه يا دسيل دپاره دفرعون دکور خلګ درياب ته راوتلي وه غرض داچې هغه صندوق غـاړي تـه راغـی نـو د فرعون خلګو موسی عليه السلام دصندوق سره راپورته کی چې هغه ددغه خلګو دپاره په راتلونکي کې ددښمنی او دغم باعث جوړ سي بيشکه چې فرعون او هامان او دده تابعداران په دې باره کې ډيره خطا وکړه چې خپل دښمن يې په خپل بغل کې وپالی او کله چې هغه د صندوق څخه راويستل سو دفرعون مخ ته راوړل سو دفرعون بي بي حضرت اسيې وفرعون ته وويل چې دا ماشوم زما او ستا دسترګو يخوالی دی دا مه قتلوه. پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

وَقَالَتۡ لِاُخۡتِهٖ قُصِّيۡهِ فَبَصُرَتۡ بِهٖ... دتيـر مـخ پاته بيان دلته وګورى: څه عجيبه نه ده چي لوى سي مور ته څه فائده راورسوي بيا بـه مـور دى خپـل زوى جوړ کړو ليکن دغه خلګو تـه الله ﷻ فرمـايي چـي دانجامـه خبرنـه وه چـي داهغه بچى دى چي دکم دلاسه به دفرعون حکومت تاش پـه تـاش سي او بلي خواته داقصه وسوه چي دموسـى عليه السلام دمـور زړه دمختلفو خيالاتو پـه جمع کيدو سره بي قراره سو او بي قراري هم داسي آخوا ديخـوا تـه نـه وه بلکـي داسي سخته بي قراري وه چي نژدې وه چي دډيرى بـي قـرارى څخـه هغـه دموسى عليه السلام حال پـر تولو خلګـو بانـدې ښـکاره کـي چي دازما زوى دى الله ﷻ فرمـايي کـه مـوږ دموسى عليه السلام دمور زړه نه واى مضبوط کړى دى به حـال ويلـى واى غـرض داچي په مشکله دي خپل زړه کلـک کـى اوداسـي تدبير يي شروع کى چي دي خپلـي لـور يعنـي دموسى عليه السلام خور ته وويل چي دموسى عليه السلام تـلاش وکړه نو داخور بي ولاړه او دا يي معلومه کـړه چي صنـدوق پـه محـل کـي خـلاص سـوى دى دا هـم محل تـه ورورسيده. پاته بيان پر راوران مخ وګورى

كَادَتۡ لَتُبۡدِيۡ بِهٖ لَوۡلَاۤ اَنۡ رَّبَطۡنَا عَلٰى قَلۡبِهَا

كَادَتۡ	لَتُبۡدِيۡ	بِهٖ	لَوۡلَاۤ اَنۡ رَّبَطۡنَا	عَلٰى	قَلۡبِهَا
چي نژدې وه	چي اظهار وکړي	په دغه (موسٰى)	که چيرى نه واى محکم کړى موږ (صبر)	پر	زړه د دى

چي نژدې وه چي اظهار وکړي په دغه (موسٰى سره چي زوى مي دى) که چيرى نه واى محکم کړى موږ (صبر) پر زړه د دى

لِتَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝١٠ وَقَالَتۡ لِاُخۡتِهٖ قُصِّيۡهِ

لِتَكُوۡنَ	مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَقَالَتۡ	لِاُخۡتِهٖ	قُصِّيۡهِ
چي سى دا	له باور کوونکو	او ويل (مورد موسٰى)	خور د دغه ته	چي څه برابره په وروروپسى دى

چي سى دا له باور کوونکو (په وعده دالله سره). او ويل (مور دموسٰى) خور د دغه (موسٰى) ته چي څه برابره وروروپسى دى

فَبَصُرَتۡ بِهٖ عَنۡ جُنُبٍ وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ۝١١

فَبَصُرَتۡ	بِهٖ	عَنۡ جُنُبٍ	وَّهُمۡ	لَا يَشۡعُرُوۡنَ
پس کتل به يئ	دغه (موسٰى) ته	له لرى ځايه	حال دا چي دوى (فرعونيان)	نه پوهيدل

(او خبر يئ راوړه) پس کتل به يئ دغه (موسٰى) ته له لرى ځايه حال دا چي دغه (فرعونيان) نه پوهيدل (په دغه جاسوسئ)

وَحَرَّمۡنَا عَلَيۡهِ الۡمَرَاضِعَ مِنۡ قَبۡلُ فَقَالَتۡ هَلۡ اَدُلُّكُمۡ

وَحَرَّمۡنَا	عَلَيۡهِ	الۡمَرَاضِعَ	مِنۡ قَبۡلُ	فَقَالَتۡ	هَلۡ اَدُلُّكُمۡ
او حرام کړي وى موږ	پر دغه (موسٰى)	تى ورکوونکى	له پخوا	نو وويل (خورد موسٰى)	آيا خبر کړم زه تاسى

او حرام (منع) کړي وى موږ پر دغه (موسٰى تى رودل د) دايګانو له پخوا نو ويل (خورد موسٰى) آيا خبر کړم زه تاسى

عَلٰۤى اَهۡلِ بَيۡتٍ يَّكۡفُلُوۡنَهٗ لَكُمۡ وَهُمۡ لَهٗ

عَلٰۤى	اَهۡلِ بَيۡتٍ	يَّكۡفُلُوۡنَهٗ	لَكُمۡ	وَهُمۡ	لَهٗ
پر	اهل د (داسى) کور	چي واخلى وساتى دا (هلک)	تاسى ته	او دوى به	ده ته

پر اهل د (داسى) کاله باندى چي واخلى وساتى دا (هلک) تاسى ته او دوى به ده ته

نٰصِحُوۡنَ ۝١٢ فَرَدَدۡنٰهُ اِلٰۤى اُمِّهٖ كَىۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَلَا تَحۡزَنَ

نٰصِحُوۡنَ	فَرَدَدۡنٰهُ	اِلٰۤى اُمِّهٖ	كَىۡ تَقَرَّ	عَيۡنُهَا	وَلَا تَحۡزَنَ
له خير غوښتونکو وى	پس بيرته راوست موږ دغه (موسٰى)	مور خپلى ته	چي يخى سى	سترګى د دى	او چي نسى غمجنه

له خير غوښتونکو وى. پس بيرته راوست موږ دغه (موسٰى مور خپلى ته) چي يخى سى سترګى د دى او چي نسى غمجنه

وَلِتَعۡلَمَ اَنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ

وَلِتَعۡلَمَ	اَنَّ	وَعۡدَ اللّٰهِ	حَقٌّ	وَّلٰكِنَّ	اَكۡثَرَهُمۡ
او دپاره د دې چې وپوهيږې په دې	چې بيشكه!	وعده دالله	حقه ده	او ليكن	اكثر د دوى

او دپاره د دې چې وپوهيږې (په عين اليقين هم) په دې چې بيشكه! وعده دالله حقه ده، او ليكن اكثر د دوى

لَا يَعۡلَمُوۡنَ ۝١٣ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسۡتَوٰۤى اٰتَيۡنٰهُ

لَا يَعۡلَمُوۡنَ	وَلَمَّا	بَلَغَ	اَشُدَّهٗ	وَاسۡتَوٰۤى	اٰتَيۡنٰهُ
نه پوهيږي	او كله چې	ورسيد	زور (ځواني) ته	او برابر سو په عقل كښې	نو وركړل موږ ده ته

نه پوهيږي (پرې چې حقه ده). او كله چې ورسيد (موسٰى) زور (قوت دځواني خپلې) ته او برابر سو نوو وركړل موږ ده ته

حُكۡمًا وَّعِلۡمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۝١٤

حُكۡمًا	وَّعِلۡمًا	وَكَذٰلِكَ	نَجۡزِى	الۡمُحۡسِنِيۡنَ
حكمت (نبوت)	او علم	او همداسې	جزاء وركوو موږ	نيكي كوونكو ته

حكمت (نبوت) او علم (پوه) او همداسې (مهرباني چې وكړه موږ په موسٰى او مور يې) جزاء وركوو موږ نيكي كوونكو ته

وَدَخَلَ الۡمَدِيۡنَةَ عَلٰى حِيۡنِ غَفۡلَةٍ مِّنۡ اَهۡلِهَا فَوَجَدَ

وَدَخَلَ	الۡمَدِيۡنَةَ	عَلٰى	حِيۡنِ	غَفۡلَةٍ	مِّنۡ اَهۡلِهَا	فَوَجَدَ
او ننوت (موسٰى)	ښار ته	پر	وخت	دغفلت	د اهل د هغه كښې	پس پيدا يې كړل

او ننوت (موسٰى) ښار (دمصر) ته پر وخت دغفلت دا هل د هغه كښې پس ويې موندل

فِيۡهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلٰنِ ۗ هٰذَا مِنۡ شِيۡعَتِهٖ وَهٰذَا مِنۡ

فِيۡهَا	رَجُلَيۡنِ	يَقۡتَتِلٰنِ	هٰذَا	مِنۡ شِيۡعَتِهٖ	وَهٰذَا	مِنۡ
په دغه ښار كښې	دوه سړي	چې جګړه يې سره كوله	دغه يو	له تابعانو د دغه (موسٰى) وو	او هغه (بل)	له

په دغه ښار كښې دوه سړي چې جګړه يې سره كوله دغه يو (سبطى) له تابعانو د دغه (موسٰى ؤ) او هغه (بل قبطى) له

عَدُوِّهٖ ۚ فَاسۡتَغَاثَهُ الَّذِىۡ مِنۡ شِيۡعَتِهٖ عَلَى الَّذِىۡ

عَدُوِّهٖ	فَاسۡتَغَاثَهُ	الَّذِىۡ	مِنۡ شِيۡعَتِهٖ	عَلَى الَّذِىۡ
دښمنانو د دهٔ	پس مدد وغوښته دموسٰى ځخه	هغه چې (سبطى)	له تابعانو د دغه (موسٰى ؤ)	پر هغه (قبطى)

دښمنانو د دغه (موسٰى) ؤ پس مرسته (مدد) وغوښته دغه (سبطى) چې له تابعانو د دغه (موسٰى ؤ) پر هغه (قبطى)

وَلِتَعۡلَمَ اَنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ..دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: يا خو به دا هلته هم مخكي تله اوراتله يا به يې په يوه حيله سره ځان رسولى وي او دې خپل ورور موسى عليه السلام دليري ځخه وليدى او هغه خلګ ددې ځخه خبرنه وه چې داددې ورور دى او دادده په فكر كښي راغلې ده الله جل جلاله فرمايي چې مور د مخكې ځخه لا چې صندوق نه وو خلاص سوى پر موسى عليه السلام باندې دايانې بندي كړې وې يعني ده دهيچا تى نه رودى نو خور چې يې كله دا حال وليدى نو موقع يې پيدا كړه ويې ويل چې آيا زه تاسې خلګوته ديوداسې كور ادرس دروښيم كم چې ستاسې دپاره ددې ماشوم پرورش وكې او هغه دخپل خوى موافق په زړه سره ددغه ماشوم خيرخواهي وكې هغه خلګو ته دمخكې ځخه لا دماشوم دتې درودلو مشكل ور پيښ وو ددغې انجلې مشوره يې غنيمت وګڼله او دداسې كورپوښتنه يې ځينې وكړه هغې ورته دخپلې مور ادرس وښووى نو هغه وو چې دموسى عليه السلام مور راوغوښتل سوه او موسى عليه السلام ورته وسپارل سو.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۲۶)

ع۱۳ الربع

مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ ۖ قَالَ

مِنْ عَدُوِّهٖ	فَوَكَزَهٗ	مُوْسٰى	فَقَضٰى	عَلَيْهِ	قَالَ
چی له دښمنانو د ده ؤ	پس په سوک وواهه هغه	موسٰی	پس قضاء وکړه (الله)	پر دغه (قبطی)	وویل (موسٰی)

چی له دښمنانو د ده ؤ پس په سوک وواهه هغه (قبطی) لره موسٰی پس قضاء وکړه (الله) پر دغه قبطی (مړسو) وویل موسٰی

هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ۖ اِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ قَالَ

هٰذَا	مِنْ عَمَلِ	الشَّيْطٰنِ	اِنَّهٗ	عَدُوٌّ	مُّضِلٌّ	مُّبِيْنٌ	قَالَ
چی دغه کار	له عمله	دشیطان دی	بیشکه! چی دغه	دښمن دی	گمراه کوونکی دی	ښکاره	وویل (موسٰی)

چی دغه کار له عمله د شیطان دی، بیشکه! چی دغه (شیطان) دښمن دی (د انسانانو) لغزوونکی دی ښکاره. وویل موسٰی

رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ ۖ

رَبِّ	اِنِّيْ	ظَلَمْتُ	نَفْسِيْ	فَاغْفِرْ لِيْ	فَغَفَرَ لَهٗ
ای ربه زما	بیشکه! زه چی یم	ظلم می کړی دی	پر نفس خپل	پس مغفرت وکړه ماته	پس مغفرت وکړ (الله) ده ته

ای ربه زما بیشکه! زه چی یم ظلم می کړی دی پر نفس خپل (په قتل) پس مغفرت وکړه ماته پس مغفرت وکړ (الله) دغه (موسٰی) ته

اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ

اِنَّهٗ	هُوَ	الْغَفُوْرُ	الرَّحِيْمُ	قَالَ	رَبِّ	بِمَآ اَنْعَمْتَ	عَلَيَّ
بیشکه! چی (الله)	هم دی دی	خامخا ښه بخښونکی	ډیر رحم والا دی	وویل موسٰی	ای ربه زما	په حق د انعام ستا	پر ما

بیشکه! چی (الله) هم دی دی خامخا ښه بخښونکی ډیر رحم والا دی. وویل موسٰی ای ربه زما په حق د انعام فضل ستا پر ما

فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٧﴾ فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ

فَلَنْ اَكُوْنَ	ظَهِيْرًا	لِّلْمُجْرِمِيْنَ	فَاَصْبَحَ	فِي الْمَدِيْنَةِ
پس چی له سره زه نسم هیچیری	مددگار	دپاره د گنهگارانو	بیا سهار راولاړ سو	په دغه ښار کښی

(وساته ما) پس چی له سره زه هیچیری نسم مددگار دپاره د گنهگارانو. بیا سهار راولاړ سو (موسٰی) په دغه ښار کښی

خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ

خَآئِفًا	يَّتَرَقَّبُ	فَاِذَا الَّذِي	اسْتَنْصَرَهٗ
چی ببریدونکی ؤ	چی انتظار به یې کاوه	پس ناڅاپه هغه (اسرائیلی)	چی مدد یې غوښتی ؤ له دغه (موسٰی) څخه

چی ببریدونکی ؤ (پر ځان خپل) چی انتظار به یې کاوه، پس ناڅاپه هغه (اسرائیلی) چی مدد یې غوښتی ؤ له دغه (موسٰی) څخه

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ.. دحضرت موسى عليه السلام څخه چي خطاً قتل وسونويي دمغفرت طلب وکی: ددې آيت مطلب دادی چي ددې قبطي کافر قتل کم چي دحضرت موسى عليه السلام څخه بلا ارادې صادرسوی وو موسى عليه السلام دا هم دخپل نبوت او رسالت او دپيغمبرانه لوی شان په لحاظ سره خپله گناه مقرره کړه: دالله جل جلاله څخه يي بخښنه وغوښته او الله جل جلاله دی معاف کی. دلته اول داسوال پيداکيږي چي داقبطي کافر دشرعي اصطلاح په لحاظ سره يو حربي کافر وو چي قتل يي قصدا هم مباح او جائز وو ځکه چي نه دی ديو اسلامي حکومت ذمي وو او نه دموسى عليه السلام سره دده څه معاهده وه بيا موسى عليه السلام دادشيطان عمل او گناه څنگه وبلله؟ دده قتل خو په ښکاره داجر او ثواب کار ښکاريدی ځکه چي ده پر يو مسلمان باندي ظلم کوی او دهغه په بدل کي دده قتل واقع سو: جواب دادی چي معاهده څنگه چي قولي او تحريري وي لکه چي په عمومي شکل سره په اسلامي حکومتونو کي دذميانو سره معاهده ده. پاته بيان پسر راوران مخ وگوری.

بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ⑱

بِالْاَمْسِ	يَسْتَصْرِخُهٗ	قَالَ	لَهٗ	مُوْسٰٓى	اِنَّكَ	لَغَوِيٌّ	مُّبِيْنٌ
پرون	اوس بیا ناري وهي دغه ته	نو وویل	هغه ته	موسیٰ	چې بیشکه! ته	خامخا بې لارې یې	ښکاره

پرون اوس بیا ناري وهي دغه (موسیٰ ته) پس وویل موسیٰ هغه (اسرائیلي) ته چې بیشکه! ته خامخا بې لارې یې ښکاره.

فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِيْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ

فَلَمَّآ	اَنْ اَرَادَ	اَنْ يَّبْطِشَ	بِالَّذِيْ	هُوَ	عَدُوٌّ	لَّهُمَا
پس کله چې	اراده وکړه (موسیٰ)	چې ونیسي	هغه (قبطي)	چې ؤ	دښمن	ددغو دواړو

پس کله چې اراده وکړه (موسیٰ) چې ونیسي هغه (قبطي) چې ؤ دښمن د دغو دواړو (موسیٰ او دغه اسرآئیلي)

قَالَ يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا

قَالَ	يٰمُوْسٰٓى	اَتُرِيْدُ	اَنْ تَقْتُلَنِيْ	كَمَا قَتَلْتَ	نَفْسًا
وویل	ای موسیٰ	آیا اراده لرې	د دې چې وژنې ته (ئن) ما	لکه چې وژلی دې ؤ	یو نفس (دقبطي)

وویل (سبطي) ای موسیٰ! آیا اراده لرې د دې چې وژنې ته (ئن) ما لکه چې وژلی دې ؤ یو نفس (دقبطي)

بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا

بِالْاَمْسِ	اِنْ تُرِيْدُ	اِلَّآ	اَنْ تَكُوْنَ	جَبَّارًا
پرون	اراده نه لرې ته	مګر	د دې چې سې	زورور

پرون اراده نه لرې ته (دهیڅ شي) مګر د دې چې سې (ای موسیٰ) زورور

فِي الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ⑲

فِي الْاَرْضِ	وَمَا تُرِيْدُ	اَنْ تَكُوْنَ	مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ
په مځکه کښې	او اراده نه لرې	چې سې ته	له اصلاح کوونکو څخه

په مځکه (دمصر) کښې او اراده نه لرې چې سې ته له اصلاح کوونکو څخه.

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى قَالَ يٰمُوْسٰٓى

وَجَآءَ	رَجُلٌ	مِّنْ اَقْصَا	الْمَدِيْنَةِ	يَسْعٰى	قَالَ	يٰمُوْسٰٓى
او راغی	یو سړی	له آخره	د ښاره	په دې حال چې راځغستله یې	وویل	ای موسیٰ!

او راغی یو سړی له آخره د ښاره په دې حال چې راځغستله یې وویل ای موسیٰ!

قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ. دتیر مخ پاته بیان

دلته وګورې: یا کله یوه معاهده دیو غیر مسلم حکومت سره دصلح معاهده وي او دا معاهده په اتفاق سره واجب العمل ده او ددې خلاف ورزي ددوکې او چم او دعهد ماتولو په سبب حرامه وي دغه رکم عملي معاهده هم یو قسم معاهده وي ددې پابندي هم لازمي او خلاف ورزي یې وعده ماتول دي. دعملي وعدې صورت دادی چې کم ځای مسلمانان او څه غیر مسلم په یو بل حکومت کې دیو بل سره په امن او اطمینان باندې اوسیږي په یو بل حمله کول یا لوټ مار کول ددواړو طرفه څخه غداري ګڼل کیږي نو داسې ژوند تیرول او معاملې هم یو قسم عملي معاهده وي ددې څخه خلاف ورزي جائزه نه ده ددې دلیل دحضرت مغیره ابن شعبه رضي الله عنه هغه اوږد حدیث دی کم چې امام بخاري رحمة الله عليه په کتاب الشروط کې په تفصیل سره روایت کړی دی او واقعه یې تاسې په معارف القرآن کې په تفصیل سره کتلای سی موږ به یې حواله سره دتوک او صفحې درته ولیکو.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۳۳)

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى.حضرت موسی ؑ دمصر څخه د مدين پرطرف باندې روان سو: مدين دشام په ملک کې ديو ښار نوم دی کم چې دمدين ابن ابراهيم ؑ په نوم سره مسمى سوى دى داعلاقه دفرعوني حکومت څخه په هغه وخت کې دباندې وه: دمصر څخه تر مدين پورې اته منزله لار وه پر موسی ؑ چې کله دفرعوني سپايانو طبعي بيره راغله چې دوى به په ماپسې کيږي اودابيره دنبوت او معرفت منافي نه ده اونه دتوکل څخه. نودمصر څخه يې دهجرت اراده وکړه اود مدين طرف يې شايد په دې وجه متعين کړى وي چې مدين هم د ابراهيم ؑ داولاد کلى وو او حضرت موسى ؑ هم دحضرت ابراهيم ؑ په اولادکې وو: داوخت حضرت موسى ؑ بالکل دبې سرو ساماني سره داسې دمصر څخه ووتى چې نه ورسره څه توښه وه او نه سامان او نه ورته لاره معلومه وه ددې پريشاني په حالت کې دالله ﷻ طرف ته متوجه سو ويې فرمايل. عسى ربى ان يهدينى السبيل. اميد لرم چې زما رب ما ته لاره راوښيي. پاته بيان پر راروان مخ وګورى.

ع ۲ ۸ ۵

إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ

إِنَّ	الْمَلَأَ	يَأْتَمِرُونَ	بِكَ	لِيَقْتُلُوكَ	فَاخْرُجْ	إِنِّي	لَكَ
بيشکه!	مشران	مشوري کوي	په حق ستا کښې	لپاره د دې چې ووژني تا	پس ووځه ته	بيشکه! زه يم	تاته

بيشکه! مشران مشوري کوي په حق ستا کښې لپاره د دې چې ووژني تاپس ووځه ته (له مصره) بيشکه! زه يم تاته

مِنَ النّٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ

مِنَ	النّٰصِحِينَ	فَخَرَجَ	مِنْهَا	خَآئِفًا	يَتَرَقَّبُ	قَالَ
له	نصيحت کوونکو څخه	پس ووت (موسٰى)	له دغه څخه	چې بيريدونکى ؤ	کتل به يې	وويل (موسٰى)

له نصيحت کوونکو څخه. پس ووت موسٰى له دغه مصر څخه په دى حال کښى چې بيريدونکى ؤ کتل به يې، وويل موسٰى

رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ

رَبِّ	نَجِّنِي	مِنَ الْقَوْمِ	الظّٰلِمِينَ	وَلَمَّا	تَوَجَّهَ
اى ربه زما	نجات راکړه ته ماته	له قومه	د ظالمانو	او کله چې	متوجه سو (موسٰى)

اى ربه زما نجات راکړه ته ماته له قومه د ظالمانو (چې فرعون او تابعان يې دى) او کله چې متوجه سو (موسٰى)

تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيٓ أَنْ يَّهْدِيَنِي سَوَآءَ

تِلْقَآءَ	مَدْيَنَ	قَالَ	عَسٰى	رَبِّيٓ	أَنْ يَّهْدِيَنِي	سَوَآءَ
په طرف	د مدين	وى ويل	اميد دى	له رب زما څخه	د دى چې وښيي ماته	سمه

په طرف د مدين وى ويل اميد دى له رب زما څخه د دى چې وښيي ماته سمه

السَّبِيلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ

السَّبِيلِ	وَلَمَّا	وَرَدَ مَآءَ	مَدْيَنَ	وَجَدَ	عَلَيْهِ	أُمَّةً	مِّنَ النَّاسِ
لاره	او کله چې	ورسيد اوبو	د مدين ته	نو ويې پيدا يې کړل	پر هغه	يوه ډله	د خلکو

لاره. او کله چې ورسيد (موسٰى) اوبو د مدين ته نو يې وموندله پر هغه (کوهي) يوه ډله له خلکو

يَسْقُونَ ۬ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودٰنِ

يَسْقُونَ	وَوَجَدَ	مِنْ دُونِهِمُ	امْرَأَتَيْنِ	تَذُودٰنِ
چې اوبه يې ورکولې	او پيدا يې کړې	ماسيوا له دوى څخه	دوى ښځې	چې رامنع کولې به يې ميږې خپلې

چې اوبه يې ورکولې (مواشيو خپلو ته) او ويې موندلې راپيرته له دوى څخه دوى ښځې چې رامنع کولې به يې ګډې خپلې

قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۭ قَالَتَا لَا نَسْقِيْ حَتّٰى

قَالَ	مَا خَطْبُكُمَا	قَالَتَا	لَا نَسْقِيْ	حَتّٰى
نو وويل (موسیٰ)	چي څه دی حال ستاسی	وويل هغو (دواړو)	چي اوبه نه ورکوو مونږ	ترڅو

(له اوبو څخه) نو وويل (موسیٰ) چي څه دی حال ستاسی وويل هغو (دواړو) چي اوبه نه ورکوو مونږ (ګډو خپلو ته) څو

يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ۠ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقٰى لَهُمَا

يُصْدِرَ	الرِّعَآءُ	وَاَبُوْنَا	شَيْخٌ	كَبِيْرٌ	فَسَقٰى	لَهُمَا
بيرته لاړ سی	شپانه	او پلار زمونږ	زوړ دی	د ډيرو کلونو	پس اوبه کړه (موسیٰ رمه)	د دغو دواړو

بيرته لاړ سی (دغه) شپانه او پلار زمونږ زوړ دی د ډيرو کلونو. پس اوبه کړه (موسیٰ رمه) د دغو دواړو

ثُمَّ تَوَلّٰٓى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ لِمَآ اَنْزَلْتَ

ثُمَّ	تَوَلّٰٓى	اِلَى الظِّلِّ	فَقَالَ	رَبِّ	اِنِّيْ	لِمَآ	اَنْزَلْتَ
بيا يئ	شا وګرځوله	سيوری ته	نو وی ويل	ای ربه زما	بيشکه! زه	هر هغه شی ته	چي وليږی ته

بيا يئ شا وګرځوله (ښځو ته او ولاړی) سيوری ته، نو وی ويل ای ربه زما بيشکه! زه هر هغه شی ته چي وليږی ته

اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿٢٤﴾ فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِيْ عَلَى

اِلَيَّ	مِنْ خَيْرٍ	فَقِيْرٌ	فَجَآءَتْهُ	اِحْدٰىهُمَا	تَمْشِيْ	عَلَى
ماته	له خيره	فقير يم	پس راغله دغه (موسیٰ) ته	يوه له دواړو	چي تګ يئ کاوه	پر

ماته له خيره فقير (محتاج) يم. پس راغله دغه (موسیٰ) ته يوه له دواړو چي تګ يئ کاوه پر

اسْتِحْيَآءٍ ۡ قَالَتْ اِنَّ اَبِيْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ

اسْتِحْيَآءٍ	قَالَتْ	اِنَّ	اَبِيْ	يَدْعُوْكَ	لِيَجْزِيَكَ	اَجْرَ
(طريقه د) حياء سره	وويل	چي بيشکه!	پلار زما	بولی تا	لپاره د دی چي درکړی تاته	اجر حق

(طريقه د) حياء سره وويل (دی موسیٰ ته) چي بيشکه! پلار زما بولی تا دپاره د دی چي درکړی تاته اجر حق

مَا سَقَيْتَ لَنَا ۭ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ

مَا سَقَيْتَ	لَنَا	فَلَمَّا	جَآءَهٗ	وَقَصَّ	عَلَيْهِ	الْقَصَصَ
د اوبو کولو ستا	(ميږی) مونږ ته	پس کله چي	راغی (موسیٰ) دغه ته	او بيان يئ کړه	پر دغه (شعيب)	قصه خپله

د اوبو کولو ستا (ګډو) مونږ ته، پس کله چي راغی (موسیٰ) دغه (شعيب) ته او بيان يئ کړه پر دغه (شعيب) قصه خپله

قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۭ قَالَتَا لَا نَسْقِيْ حَتّٰى.. د تير مخ پاته بيان دلته وګوری:
الله جلّ جلاله د حضرت موسی عليه السلام دا دعا قبوله کړه د تفسير ليکونکو بيان دی چي په دې سفر کي د حضرت موسی عليه السلام خوراک صرف د درختو پاڼي وي حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي د حضرت موسی عليه السلام دا دټولو څخه سخت ازمايش او امتحان وو د حضرت موسی عليه السلام د ازمايشونو او امتحانونو تفصيل په سورت طه کي ديو اوږد حديث په حواله تير سوی دی په معارف القرآن کي. حضرت موسی عليه السلام هغه ځاته راورسيدی پر کم ځاه چي ددې ځای خلګو خپل حيواناتو ته اوبه ورکولې نو يه هلته دوې ښځې وليدې چي هغوی خپلې بزې داوبو طرف ته دتللو څخه منع کولې چي ددوی بزې دنورو خلګو په بزو کي شريکي نه سي. موسی عليه السلام ددې دواړو ښځو څخه پوښتنه وکړه چي ستاسي څه حال دی چي تاسي خپلې بزې منع کوی او دلته ولاړې یاست دنورو خلګو په شان يې واوبو ته نه ورپريږدی يا يې دغه ځاه ته نه راولی دا ولې څه وجه ده ؟: پاته بيان پر راروان مخ وګوری

قَالَ لَا تَخَفْ ۚ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٥﴾

قَالَ	لَا تَخَفْ	نَجَوْتَ	مِنَ الْقَوْمِ	الظّٰلِمِيْنَ
وويل (شعيب)	مه بيريږه !	چي نجات دې پيدا کړی	له قومه	ظالمانو څخه

وويل (شعيب موسٰی ته) مه بيريږه! چي نجات دې وموند له قومه ظالمانو (فرعونيانو) څخه.

قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا يٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۫ اِنَّ خَيْرَ مَنِ

قَالَتْ	اِحْدٰىهُمَا	يٰۤاَبَتِ	اسْتَاْجِرْهُ	اِنَّ	خَيْرَ	مَنِ
وويل	يوی له دغو دواړو!	ای پلاره زما !	مزدور ونيسه دی	بيشکه! چي	غوره	د هر هغه چا چي

وويل يوی له دغو دواړو! ای پلاره زما! مزدور ونيسه دی (دپاره د ميږو څرولو) بيشکه! چي غوره د هر هغه چا چي

اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴿٢٦﴾ قَالَ اِنِّيْۤ اُرِيْدُ اَنْ

اسْتَاْجَرْتَ	الْقَوِيُّ	الْاَمِيْنُ	قَالَ	اِنِّيْۤ	اُرِيْدُ	اَنْ
مزدور يې نيسې	چي قوتناک	او امانتګروی	وويل (شعيب)	بيشکه! زه	اراده لرم	د دی چي

مزدور يې نيسې هغه څوک دی چي قوتناک او امانتګروی. وويل (شعيب موسٰی ته) بيشکه! زه اراده لرم د دی چي

اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَيَّ هٰتَيْنِ عَلٰۤى اَنْ تَاْجُرَنِيْ ثَمٰنِيَ

اُنْكِحَكَ	اِحْدَى	ابْنَتَيَّ	هٰتَيْنِ	عَلٰۤى اَنْ	تَاْجُرَنِيْ	ثَمٰنِيَ
په نکاح درکړم تاته	يوه	له دغو لوڼو خپلو	چي دادی	په دی چي	مزدوری وکړی ته زما دپاره	اته

په نکاح درکړم تاته يوه له دغو لوڼو خپلو چي دا دی په دی چي مزدوری وکړی ته زما دپاره اته

حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ وَمَاۤ اُرِيْدُ

حِجَجٍ	فَاِنْ	اَتْمَمْتَ	عَشْرًا	فَمِنْ عِنْدِكَ	وَمَاۤ اُرِيْدُ
کاله	پس که	پوره کړه تا	لس کاله	نو هغه به ستا له طرفه وی	او نه لرم زه اراده

کاله پس که پوره کړه تا لس کاله نو هغه به ستا له طرفه (له ما سره احسان) وی او نه لرم زه اراده

اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ؕ سَتَجِدُنِيْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ

اَنْ اَشُقَّ	عَلَيْكَ	سَتَجِدُنِيْۤ	اِنْ شَآءَ	اللّٰهُ	مِنَ
د دی چي مشقت واچوم	پر تا	ژر به پيدا کړی ته ما	که اراده وفرمائی	الله	له

د دی چي مشقت واچوم پر تا (په اشتراط د لسو کلونو) ژر به پيدا کړی ته ما که اراده وفرمائی الله له

قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا يٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ. دتیر مخ پاته

بيان دلته وکوری: دغه دواړو ښځو جواب ورکی چي زموږ عادت دادی چي موږ دسړيو سره دخلط کيدو څخه ځان ساتو نو په دې وجه تر هغه وخته پوري خپلي بزې نه اوبه کوو تر څو پوري چي داخلګ دڅاه څخه ليري نه سي کله چي دوی ولاړ سي نو موږ بيا خپلي بزې اوبه کوو او په دې کې چي داسوال راپيداکيدی چي آيا ستاسي څوک سړی نسته چي ښځي دداسي کار دپاره راوباسي نو جواب يې هم دې ښځو ورکی چي زموږ پلار بوډا ضعيف دی هغه داکار نه سي کولای په دې وجه موږ مجبوره يو دغه خپلي بزې په خپله ګورو. ددې واقعي څخه يو څومهمي فائدې هم اخيستل کيږي. اول داچي دضعيفانو امداد دانبياوو عليهم السلام سنت دی حضرت موسی عليه السلام دوی ښځي وليدلې چي بزې يې اوبه کولو ته راوستلي وې مګر دخلګو دګڼي ګوڼي په وجه ورته موقع نه ورکول کيږي نو پوښتنه يې ورڅخه وکړه چي ستاسي مشکل څه دی دهغوی په مشکل يې ځان خبر کی او بيا يې کومک ورسره وکی. پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

الصّٰلِحِيْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ۭ اَيَّمَا

الصّٰلِحِيْنَ	قَالَ	ذٰلِكَ	بَيْنِيْ	وَبَيْنَكَ	اَيَّمَا
صالحانو ، نیکانو	وویل (موسٰی)	چې هم دا	په مینځ زما	او په مینځ ستا کښې	چې هره یوه

صالحانو نیکانو . وویل (موسٰی) چې هم دا (عهد مقرر سو) په مینځ زما او ستا کښې چې هره یوه

الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى

الْاَجَلَيْنِ	قَضَيْتُ	فَلَا عُدْوَانَ	عَلَيَّ	وَاللّٰهُ	عَلٰى
له دې دواړو نیټو	چې پوره کړه ما	پس نه به وی زیادت	پر ما	او الله	پر

له دې دواړو نیټو چې پوره کړه ما پس نه به وی زیادت پر ما او الله پر

مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٢٨﴾ فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ وَسَارَ

مَا نَقُوْلُ	وَكِيْلٌ	فَلَمَّا	قَضٰى	مُوْسَى	الْاَجَلَ	وَسَارَ
دغه چې وایو	ساتونکی شاهد دی	پس کله چې	پوره کړه	موسٰی	نیټه (خپله)	او رهی سو

دغه چې وایو (یئ موږ) ساتونکی شاهد دی . پس کله چې پوره کړه موسٰی نیټه (خپله) او رهی (روان) سو

بِاَهْلِهٖٓ اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا ۚ قَالَ لِاَهْلِهِ

بِاَهْلِهٖٓ	اٰنَسَ	مِنْ جَانِبِ	الطُّوْرِ	نَارًا	قَالَ	لِاَهْلِهِ
سره له عیال خپل	ولید (موسٰی)	له جانبه	(دغره) دطور یو	اور	وی ویل	عیال خپل ته

سره له عیال خپل (په اجازه د شعیب) ولید (موسٰی) له جانبه (دغره) د طور یو اور، وی ویل عیال خپل ته

امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا

امْكُثُوْٓا	اِنِّيْٓ	اٰنَسْتُ	نَارًا	لَّعَلِّيْٓ	اٰتِيْكُمْ	مِّنْهَا
چې درنګ وکړئ تاسې	بیشکه! زه چې یم	ومې لید	یو اور	ښایئ مالره	چې راتله وکړم تاسې ته	له دې څخه

چې مدار وکړئ تاسې (په دې ځای کښې) بیشکه! زه چې یم ومې لید یو اور ښایئ مالره چې راتله وکړم تاسې ته له دې (اور)

بِخَبَرٍ اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّآ اَتٰىهَا

بِخَبَرٍ	اَوْ جَذْوَةٍ	مِّنَ النَّارِ	لَعَلَّكُمْ	تَصْطَلُوْنَ	فَلَمَّآ	اَتٰىهَا
په خبر	یا په سکروټې	له هغه اوره	لپاره د دې چې تاسې	تاوده سئ	پس کله چې	راغی دغه اور ته

څخه په خبر یا په بخرې (سکروټې) له هغه اوره لپاره د دې چې تاسې (پرې) تاوده سئ! پس کله چې راغی دغه اور ته

ع ۳

قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ۭ اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری :
مسئله : دپردی بیګانه ښځي سره دضرورت په وخت کي په خبرو کولو کي څه باک نسته تر څو چي دڅه فتني بیره نه وي : **دریم داچي** که څه هم داواقعه دهغه زمانې ده کله چي پرده دښځو دپاره لازمه نه وه دکمي سلسله چي داسلام ترابتدايي زمانې پوري جاري وه دمدينې منورې دهجرت څخه وروسته دښځو دپردې احکام نازل سول لیکن هغه وخت هم دپردې چي کم اصل مقصد دی هغه دطبعي شرافت او حیاء په سبب په ښځو کي موجود وو چي دضرورت باوجود به يي دسړو سره خلط نه خوښووی او تکلیف برداشت کول یي هم قبول کړل. **څلورم داچي** دښځو ددغه رکم کارونو دپاره هغه وخت هم وتل ښه کارنه وو په دې وجه دوی دخپل پلار دمعذوروالي عذر بیان کړی حضرت موسی علیه السلام ته پر دوی باندې رحم راغی او آخر يي دڅاه څخه اوبه راویستې او ددوی مالونه يي وراو به کړل او بیا داښځي ولاړې خپل پلار یي په دا واقعه خبر کی الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۳۹)

نُودِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ

نُودِيَ	مِنْ شَاطِئِ	الْوَادِ	الْأَيْمَنِ	فِي الْبُقْعَةِ
نو برغ وكړ سو	له غاړي دهغې	كندى	چي په راسته طرف كښې وه	په هغه ټوټه

نو وبرغ (ورته) وكړ سو له غاړي د هغې كندى چي په راسته طرف (دموسىٰ) كښې وه په هغه ټوټه

الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ أَنْ يّٰمُوسٰى إِنِّيٓ أَنَا اللّٰهُ

الْمُبٰرَكَةِ	مِنَ الشَّجَرَةِ	أَنْ يّٰمُوسٰى	إِنِّيٓ	أَنَا اللّٰهُ
مباركه كړي سوي كښې	له ونى	داسي چي اى موسىٰ	بيشكه! زه	هم دا زه الله يم

مباركه كړي سوي كښې (له جهته داوريدو دموسىٰ كلام دالله) له (هغې) ونى، داسي چي اى موسىٰ بيشكه! زه هم دا زه الله يم

رَبُّ الْعٰلَمِينَ ﴿٣٠﴾ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ

رَبُّ	الْعٰلَمِينَ	وَأَنْ أَلْقِ	عَصَاكَ	فَلَمَّا	رَاٰهَا	تَهْتَزُّ
رب	دعالميانو	او بل داسي چي وغورځوه	همسا خپله	نو كله چي	وېئ ليدل دا (عصا)	چي ښوريدله

رب د عالميانو او بل داسي (وبرغ پري وسو) چي وغورځوه همسا خپله نو كله چي وېئ ليدل (موسىٰ) دا (عصا) چي ښوريدله

كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يٰمُوسٰىٓ أَقْبِلْ

كَأَنَّهَا	جَآنٌّ	وَّلّٰى	مُدْبِرًا	وَّلَمْ يُعَقِّبْ	يٰمُوسٰىٓ	أَقْبِلْ
ګواكي دا	يو نرى مار دى	او مخ يې واړاوه	چي تېنتيدونكى ؤ	او بيرته راونه ګرځيد	اى موسىٰ	مخ راواړوه

ګواكي دا يو نرى مار دى، او مخ يې واړاوه چي تېنتيدونكى ؤ او بيرته راونه ګرځيد (بيا برغ پر وسو) اى موسىٰ مخ راواړوه

وَلَا تَخَفْ ۖ إِنَّكَ مِنَ الْأٰمِنِينَ ﴿٣١﴾ اُسْلُكْ يَدَكَ

وَلَا تَخَفْ	إِنَّكَ	مِنَ الْأٰمِنِينَ	اُسْلُكْ	يَدَكَ
او مه بيريږه	بيشكه! ته چي يې	له امان پيداكوونكو څخه يې	ننه باسه	لاس خپل

او مه بيريږه بيشكه! ته چي يې له امان پيداكوونكو څخه يې له بيرى څخه (او بيخي مامون يې) . ننه باسه (راسته) لاس خپل

فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ وَّاضْمُمْ

فِي جَيْبِكَ	تَخْرُجْ	بَيْضَآءَ	مِنْ غَيْرِ	سُوٓءٍ	وَّاضْمُمْ
په ګريوان خپل كښې	بيا يېئ راوباسه	حال داچي راوځى به تك سپين	بى له	كوم عيب	او يوځاى كړه

په ګريوان بيا يېئ خارج كړه حال داچي راوځى به تك سپين بى له كوم عيب (مرض، بدى)، او يوست كړه

نُودِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ۔ حضرت موسى عليه السلام خپله كړي وعده دشعيب عليه السلام سره پوره كړه : حضرت شعيب عليه السلام خپله يوه لورو حضرت موسى عليه السلام ته په نكاح وركړه چي زما سره به اته كاله پاتيږي زما شپني به كوي حضرت موسى عليه السلام هم وعده ورسره وكړه خو هغه تاكلي وعده چي يي پوره كړه نو بيرته يي اراده مخ دمصر پر خوا دتللو سوله هغه وو چي خپله ښځه دحضرت شعيب عليه السلام لور يي هم دځانه سره كړل مخ دمصر پر خوا راروان سوله نو په يوه شپه داسي اتفاق وسو چي يخني هم وه او لار هم ورڅخه وركه سوه هغه وو چي ده ته دطور دغره دخوا څخه يوه رڼا په شكل داور وځليده نو حضرت موسى عليه السلام خپلي كوروالاته وويل چي تاسي دلته كښيني ما يو اور ليدلى دى زه هلته ځم شايد چي زه تاسي ته دهغه ځايه څخه دلاري څه خبر راوړم يا داور ګرمه سكروټه راوړم چي تاسي ورته ګرم سى نو كله چي حضرت موسى عليه السلام اورته ورسيدى نو هغه ته دهغه ميدان دراسته جانب څخه په هغه مبارك مقام كي. **پاته بيان پر راروان مخ وګورى :**

إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ

إِلَيْكَ	جَنَاحَكَ	مِنَ الرَّهْبِ	فَذٰنِكَ	بُرْهَانٰنِ	مِنْ
سینی خپلی ته	ښانګ دی	له (جهته) دیری	نو دغه دواړه	دوه دلیله دی	له (طرفه)

سینی خپلی ته ښانګ (یعنی لاس) دی له (جهته) د یری نو دغه دواړه (عصا او ید بیضاء) دوه دلیله دی له (طرفه)

رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦٓ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا

رَّبِّكَ	إِلَىٰ	فِرْعَوْنَ	وَمَلَإِيْهِ	إِنَّهُمْ	كَانُوا۟	قَوْمًا
رب ستا	طرف	دفرعون ته	او قوم د ده ته	بیشکه!	چې دوی دی	قوم

رب ستا طرف د فرعون ته او قوم د ده ته، بیشکه! چې دوی دی قوم

فَٰسِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا

فَٰسِقِينَ	قَالَ	رَبِّ	إِنِّى	قَتَلْتُ	مِنْهُمْ	نَفْسًا
فاسقان	وویل (موسیٰ)	ای ربه زما	بیشکه! زه چې یم	وژلی می دی	له دغو څنی	یو نفس

فاسقان (وتلی له فرمان د الله). وویل (موسیٰ) ای ربه زما بیشکه! زه چې یم وژلی می دی له دغو (قبطیانو) څنی یو نفس

فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾ وَأَخِى هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ

فَأَخَافُ	أَن يَقْتُلُونِ	وَأَخِى	هَٰرُونُ	هُوَ	أَفْصَحُ
پس بیریږم	چې دوی به می ووژنی	او وروړ زما	هارون	هغه	ډیر فصیح دی

پس بیریږم چې دوی به می ووژنی (په قصاص د هغه سره). او وروړ زما هارون هغه ډیر فصیح دی

مِنِّى لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِىَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِىٓ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ

مِنِّى	لِسَانًا	فَأَرْسِلْهُ	مَعِىَ	رِدْءًا	يُصَدِّقُنِىٓ	إِنِّىٓ	أَخَافُ
له ما	له جهته د ژبی	پس ولیږه هغه	هم له ما سره	یار مددګار	چې تصدیق کوی زما	بیشکه! زه	بیریږم

له ما له جهته د ژبی پس ولیږه هغه هم له ما سره یار مددګار چې تصدیق کوی زما بیشکه! زه بیریږم

أَن يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ

أَن يُكَذِّبُونِ	قَالَ	سَنَشُدُّ	عَضُدَكَ	بِأَخِيكَ
له دی چې دروغجن به کړی دوی ما	وفرمایل (الله)	ژر به قوی کړو موږ	مټ ستا	په وروړ ستا

له دی چې دروغجن به کړی دوی ما. وفرمایل (الله) ژر به قوی کړو موږ مټ ستا په وروړ ستا

إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ فَذٰنِكَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:
کي دیوې درختې څخه اواز راغی چې ای موسی علیه السلام زه رب العلمین یم اودا اواز هم راغی چې ته خپل لکړه وغورزوه چنانچې حضرت موسی علیه السلام خپل لکړه وغورزوله او هغه مار جوړ سو روان سو پس ده چې کله دابښوریدونکی ولیدی لکه نری مارچې تیز وي نو شا یې کړه وتښتیدی او شاته یې کتل هم نه حکم ورته وسو چې ای موسی علیه السلام رامخ ته سه او بیریږه مه په هرشان ته په امن یې او داڅه دبیرې خبره نه ده بلکې ستا معجزه ده او دوهمه معجزه بله درته درکول کیږي چې ته خپل لاس په ګریوان کې دننه کړه او بیا یې راوباسه هغه به بغیر دڅه مرض څخه ډیر روښانه راووزي او که دلکړې دبدلیدو په شان ددې معجزې څخه هم تاته څه بیره او حیرانې پیدا کیږي نو دبیرې لیرې کولو دپاره خپل دغه لاس بیا دخپل ځان ګریوان او تخرګ سره دغشې په شان پیوست کړه چې هغه به بیرته پر اصلي حالت باندې راسې دادوه ستا دنبوت دلیلونه دي.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۴۵)

وَنَجۡعَلُ لَكُمَا سُلۡطٰنًا فَلَا يَصِلُوۡنَ اِلَيۡكُمَا ۚ بِاٰيٰتِنَآ ۚ

وَنَجۡعَلُ	لَكُمَا	سُلۡطٰنًا	فَلَا يَصِلُوۡنَ	اِلَيۡكُمَا ۚ	بِاٰيٰتِنَآ ۚ
او وبه گرځوو موږ	تاسی ته	غلبه	پس وبه نه رسیږی دوی	تاسی دواړو ته	په سبب د معجزو زموږ سره

او وبه گرځوو موږ تاسی ته غلبه پس وبه نه رسیږی دوی تاسی دواړو ته په سبب د معجزو زموږ سره

اَنۡتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الۡغٰلِبُوۡنَ ﴿۳۵﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ

اَنۡتُمَا	وَمَنِ	اتَّبَعَكُمَا	الۡغٰلِبُوۡنَ	فَلَمَّا	جَآءَهُمۡ
تاسی دواړه	او هر هغه څوک	چی متابعت وکړی ستاسی	غالبان به اوسئ	پس کله چی	راغی دوی ته

تاسی دواړه او هر هغه څوک چی متابعت وکړی ستاسی غالبان به اوسئ (پر دوی باندی). پس کله چی راغی دوی ته

مُّوۡسٰی بِاٰيٰتِنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوۡا مَا هٰذَآ اِلَّا سِحۡرٌ

مُّوۡسٰی	بِاٰيٰتِنَا	بَيِّنٰتٍ	قَالُوۡا	مَا هٰذَآ	اِلَّا	سِحۡرٌ
موسٰی	سره له معجزو زموږ	چی ښکاره وی	وویل	چی نه دی دا	مگر	خو جادو دی

موسٰی سره له معجزو زموږ چی ښکاره وی وویل (فرعونیانو) چی نه دی دا مگر خو سحر (کوډی) دی

مُّفۡتَرًی وَّمَا سَمِعۡنَا بِهٰذَا فِیۡۤ اٰبَآئِنَا الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۳۶﴾

مُّفۡتَرًی	وَّمَا سَمِعۡنَا	بِهٰذَا	فِیۡۤ اٰبَآئِنَا	الۡاَوَّلِیۡنَ
په دروغو سره تړلی سوی	او نه دی اوریدلی موږ	دا	په (زمانو د) پلرونو زموږ کښی	چی پخوا تیر سوی دی

په دروغو سره تړلی سوی او نه دی اوریدلی موږ دا (سحریا دعوی د نبوت) په (زمانو د) پلرونو زموږ کښی چی پخوا تیر دی.

وَقَالَ مُوۡسٰی رَبِّیۡۤ اَعۡلَمُ بِمَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰی مِنۡ عِنۡدِهٖ

وَقَالَ	مُوۡسٰی	رَبِّیۡۤ	اَعۡلَمُ	بِمَنۡ جَآءَ	بِالۡهُدٰی	مِنۡ عِنۡدِهٖ
او وویل	موسٰی	چی رب زما	ښه عالم دانا دی	په هغه چاچی راغلی دی	په هدایت سره	له طرفه د هغه (رب)

او وویل موسٰی چی رب زما ښه عالم دانا دی په هغه چا چی راغلی دی په هدایت (راوړی یئ دی) له طرفه دهغه (رب)

وَمَنۡ تَكُوۡنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ

وَمَنۡ	تَكُوۡنُ	لَهٗ	عَاقِبَةُ	الدَّارِ	اِنَّهٗ	لَا يُفۡلِحُ
او په هغه چا باندی	چی سته	هغه ته	ښه خاتمه	په دی دنیا کښی	بیشکه !شان دا دی	چی پیدا به نه کړی بری

او په هغه چا باندی چی سته هغه ته ښه خاتمه په دی دنیا کښی بیشکه! شان دا دی چی پیدا به نه کړی بری

فَلَمَّا جَآءَهُمۡ مُّوۡسٰی بِاٰيٰتِنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوۡا.

حضرت موسی علیه السلام وفرعون او دده قوم ته دواضح دلیلونو سره راغی

غرض داچې کله دې خلګو ته حضرت موسی علیه السلام زموږ واضح دلیلونه راوړل نو دغه خلګو معجزې ولیدې وې ویل چې داخو محض جادودی چې خامخا پر الله جل جلاله درواغ جوړوی چې داد هغه دطرفه څخه معجزې او دلیلونه درسالت دي او موږ داسې خبره هیڅکله نه ده اوریدلې چې زموږ د مخکنیو پلرونو نیکه ګانو په وخت کې هم سوی وي او موسی علیه السلام ددې په جواب کې وفرمایل چې کله سره دصحیح دلیلونو قاېمیدو او په دې کې دڅه معقولې شبهې دنه را ایستلو څخه وروسته یې هم نه منی نو داعناد دی او ددې آخرې جواب دادی چې زما پروردګار هغه څوک ښه پیژنې کم چې صحیح دین یې دده دطرفه څخه راوړی وي او دچا انجام یعنې خاتمه چې ددې عالم دنیا څخه ښه کیدونکې دی او په یقین سره ظالمان خلګ کم چې پرصحیح دین او هدایت باندې نه وي هیڅکله به بری او فلاح نه کړي پیدا.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۴۸)

الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ

الظّٰلِمُوْنَ	وَقَالَ	فِرْعَوْنُ	يٰۤاَيُّهَا	الْمَلَاُ	مَا عَلِمْتُ
ظالمان	او وويل	فرعون	ای	تولیه دمشرانو	نه پیژنم زه

ظالمان (چې هدایت پیدا کړی) . او وویل فرعون ای تولیه د مشرانو (داهل دمصر!) نه پیژنم زه

لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ

لَكُمْ	مِّنْ اِلٰهٍ	غَيْرِيْ	فَاَوْقِدْ لِيْ	يٰهَامٰنُ	عَلَى الطِّيْنِ
تاسی ته	کوم خدای	بی له ما څخه	پس بل کړه اورزما لپاره	ای هامانه	پرختې باندی

تاسی ته کوم خدای (چې عبادت ورته کوئ) بی له ما څخه پس بل کړه اور زما لپاره ای هامانه پر ختې باندی

فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْۤ اَطَّلِعُ اِلٰۤى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ وَاِنِّيْ

فَاجْعَلْ	لِّيْ صَرْحًا	لَّعَلِّيْۤ	اَطَّلِعُ	اِلٰۤى اِلٰهِ	مُوْسٰى	وَاِنِّيْ
پس وګرځوه	زما لپاره مانۍ لوړه	ښایئ ماته	چې وخیژم	الله ته	دموسٰی	او بیشکه! خامخا زه

پس وګرځوه جوړه کړه زما لپاره مانۍ لوړه (اوچته) ښایئ ماته چې وخیژم الله د موسٰی ته (وئ ګورم) او بیشکه! خامخا زه

لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ

لَاَظُنُّهٗ	مِنَ الْكٰذِبِيْنَ	وَاسْتَكْبَرَ	هُوَ	وَجُنُوْدُهٗ
ګمان کوم پر موسٰی	له دروغجنانو	او کبر وکړ	دغه (فرعون)	او لښکرو د دغه (فرعون)

ګمان کوم پر موسٰی له دروغجنانو (په دعوی دبل معبود بیله ما) . او کبر وکړ دغه (فرعون) او لښکرو د دغه (فرعون)

فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْۤا اَنَّهُمْ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ۝

فِي الْاَرْضِ	بِغَيْرِ الْحَقِّ	وَظَنُّوْۤا	اَنَّهُمْ	اِلَيْنَا	لَا يُرْجَعُوْنَ
په ځمکه کښې	په ناحقه سره	او ګمان وکړ دوی	د دی چې بیشکه! دوی	په موږ ته	نه راګرځول کیږی

په ځمکه (دمصر) کښې په ناحقه سره او ګمان وکړ دوی د دی چې بیشکه! دوی به موږ ته نه راګرځول کیږی (په قیامت).

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ

فَاَخَذْنٰهُ	وَجُنُوْدَهٗ	فَنَبَذْنٰهُمْ	فِي الْيَمِّ
پس راونیوه موږ هم دغه (فرعون)	او لښکر ددغه (فرعون)	پس وغورځول موږ دوی	په سیند کښې

پس راونیوه موږ هم دغه (فرعون) او (هم) لښکر د دغه (فرعون) پس وغورځول موږ دوی (ټول) په سیند کښې

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ..فرعون چې دموسی علیه السلام دلیلونه ولیدل نو دقوم پر ایمان راوړلو وېرېدی : حضرت موسی علیه السلام چې کله خپل دلیلونه وفرعون او ددقوم ته بیان کړل او فرعون واوریدل نو هغه وچې دده سره بیره پیدا سوه چې هسې نه زما معتقدین ددوی طرف ته مائله سي نو خلګ یې راجمع کړل او ورته یې وویل ای ددربار خلګو ماته خو دځان څخه ماسوا ستاسي بل خدای نه معلومیږي ددې څخه وروسته یې دخلګو دوکه کولو دپاره خپل وزیر ته وویل چې که په دې سره ددې خلګو اطمینان نه وي نو ای هامانه ماته دخاوري خښتي جوړي کړه په اورکي بیا پخې کړه بیا ددغه پخو خښتو څخه زما دپاره یوه جګه آبادي جوړ کړه ددې دپاره چې زه دې ته وخیژم دموسی علیه السلام خدای وګورم او ووینم او زه خو په دې دعوی کي چي یو بل خدای سته موسی علیه السلام درواغجن ګنم الله جل جلاله فرمایي چي فرعون او دده تابعدارانو ناحقه په نیا کي سر پورته کړی وو چي حق یې ونه مني او پای غرق سول.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۴۸)

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَيَوْمَ. د فرعون درباریان الله جَلَّ جَلَالُهٗ دده دقوم پیشوایان جوړکړي وه: په دغه آیت کي د الله جَلَّ جَلَالُهٗ ارشاد مبارک دی چي موږ دفرعون درباریان دده دقوم پیشوایان جوړ کړي وه مګر دې غلط کارو پیشوایانو خپل قوم ته داوریعني دجهنم طرف ته دعوت ورکوی: دلته اکثرو مفسرینوداور طرف ته دعوت ورکول یوه استعاره او مجاز مقرر کړی دی چي داور څخه مراد هغه دکفر عملونه دي دکمونتیجه چي دجهنم اور ته ورتلل دي: مګر حضرت مولانا انور شاه کشمیري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ تحقیق دابن عربی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ په متابعت کي داوو چي دآخرت جزا عین عمل دی دانسان عملونه کم چي هغه په دنیا کي کوي په برزخ او بیا په محشر کي به خپل شکلونه بدل کي او په جوهري صورتونو کي به نیک عملونه ګل اوګلزار سي دجنت نعمتونه به جوړ سي او دکفر او ظلم عملونه به اور او ماران او لړمان او دقسم قسم عذابونو شکلونه اختیاره کي په دې وجه دنیکو بدله به نیکه وي او دبدو ده به بده وي الخ. (معارف القرآن ج۷ پ ۲۰ ص ۴۹)

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ۝۴۰ وَجَعَلْنٰهُمْ

فَانْظُرْ	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الظّٰلِمِيْنَ	وَجَعَلْنٰهُمْ
نو وګوره	چې څرنګه	ؤ	آخره خاتمه	دظالمانو	اوګرځولي ؤ موږ دوی

نو وګوره (تهای محمده!) چې څرنګه ؤ عاقبت (آخره خاتمه) دظالمانو. او ګرځولي ؤ موږ دوی

اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝۴۱

اَئِمَّةً	يَّدْعُوْنَ	اِلَى النَّارِ	وَيَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	لَا يُنْصَرُوْنَ
پیشوایان	چې بولي دوی	طرف د اورته	او په ورځې	دقیامت کښې	وبه نه کړی سی مدد د دوی سره

پیشوایان (دګمراهی په دنیا کښې) چې بولي دوی طرف د اورته او په ورځې د قیامت کښې وبه نه کړی سی مدد د دوی سره.

وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ

وَاَتْبَعْنٰهُمْ	فِيْ هٰذِهِ	الدُّنْيَا	لَعْنَةً	وَيَوْمَ	الْقِيٰمَةِ
او تابع کړ موږ له دوی سره	په دغه	دنیا کښې	لعنت لریوالی	او په ورځ	دقیامت کښې

او تابع (لازم) کړ موږ له دوی سره په دغه (ژوندون د) دنیا کښې لعنت لریوالی (له رحمته) او په ورځ د قیامت کښې

هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ۝۴۲ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى

هُمْ	مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ	وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوْسَى
وی به دوی	له بدرنګه کړل سوو څخه	او خامخا په تحقیق	ورکړی ؤ موږ	موسٰی ته

به وی دوی له قبیح (لری له رحمت). او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ موږ موسٰی ته

ع ۱۴

الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى

الْكِتٰبَ	مِنْۢ بَعْدِ	مَآ اَهْلَكْنَا	الْقُرُوْنَ	الْاُوْلٰى
کتاب	وروسته	دهغه چې هلاک کړی ؤ موږ	اهل د زمانو	اولنیو (مخکنیو ته)

کتاب (توریت) وروسته دهغه چې هلاک کړی ؤ موږ (اهل د) زمانو اولنیو (مخکنیو) (لکه، قوم د نوح، لوط او نور)

بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝۴۳

بَصَآئِرَ	لِلنَّاسِ	وَهُدًى	وَّرَحْمَةً	لَّعَلَّهُمْ	يَتَذَكَّرُوْنَ
سبب د انوارو د زړونو	دپاره د خلګو	او سمه لاره ښوونکی	او رحمت ؤ	لپاره د هغو ښایئ چې دوی	پند واخلی پری

داچې سبب د انوارو د زړونو وه دپاره د خلګو او سمه لاره ښوونکی او رحمت ؤ دپاره د هغو ښایئ چې دوی پند واخلی پری.

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ

وَمَا كُنْتَ	بِجَانِبِ	الْغَرْبِيِّ	اِذْ قَضَيْنَآ
او نه وې ته	په جانب	غربي	هغه وخت چې فيصله کړې موږ

او نه وې ته (حاضر محمده! د موسٰی سره) په جانب (غره) غربي (په وخت د مناجات کې) هغه وخت چې وليږه موږ

اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا

اِلٰى	مُوْسَى	الْاَمْرَ	وَمَا كُنْتَ	مِنَ الشّٰهِدِيْنَ	وَلٰكِنَّآ	اَنْشَاْنَا
طرف د	موسٰی ته	امر	او نه وې ته	له حاضرينو	او ليکن موږ	پيدا مو کړل

طرف د موسٰی ته امر او نه وې ته له حاضرينو (شاهدانو). او ليکن موږ پيدا مو کړل

قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا

قُرُوْنًا	فَتَطَاوَلَ	عَلَيْهِمُ	الْعُمُرُ	وَمَا كُنْتَ	ثَاوِيًا
اهل د زمانو	پس اوږده سول	پر دوی	عمرونه	او نه وې ته (ای محمده!)	اوسيدونکی

اهل د زمانو (ډير وروسته له موسٰی) پس اوږده سول پر دوی عمرونه، او نه وې ته (ای محمده!) اوسيدونکی

فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا

فِيْٓ اَهْلِ	مَدْيَنَ	تَتْلُوْا	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتِنَا	وَلٰكِنَّا	كُنَّا
په اهل	د مدين کښې	چې لوستل به دې	پر دوی باندې	آيتونه زموږ	او ليکن موږ چې يو	يو موږ

په اهل د مدين کښې چې لوستل به دې پر دوی باندې آيتونه (د قدرت) زموږ او ليکن موږ چې يو .يو موږ

مُرْسِلِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا

مُرْسِلِيْنَ	وَمَا كُنْتَ	بِجَانِبِ	الطُّوْرِ	اِذْ نَادَيْنَا
ليږونکی	او نه وې ته (ای محمده!)	په جانب	د طور	کله چې ږغ وکړ موږ

ليږونکی (تالره د پاره د دغی قصی په وحی سره). او نه وې ته (ای محمده!) په جانب د طور کله چې ږغ وکړ موږ (موسٰی ته)

وَلٰكِنْ رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ

وَلٰكِنْ	رَّحْمَةً	مِّنْ	رَّبِّكَ	لِتُنْذِرَ	قَوْمًا	مَّآ اَتٰىهُمْ	مِّنْ
او ليکن	رحمت	له طرفه	د رب ستا	د پاره د دې چې وبيروې ته	هغه قوم	چې نه دی راغلی دوی ته	هيڅ

او ليکن (ليږلی ئی موږ) رحمت له طرفه د رب ستا (د پاره) د دې چې وبيروې ته هغه قوم چې نه دی راغلی دوی ته هيڅ

وَلٰكِنْ رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا. نبي کريم ﷺ داسي قوم ته الله جل جلاله راوليږی چي هغوی ته بل نبي نه وو راغلی: د قوم څخه مراد دلته د عربو قوم مراد دی کم چي د حضرت اسمعيل عليه السلام په اولاد کي دی او دده څخه وروسته ترخاتم الانبيا ﷺ پوري په دوی کي يو پيغمبر هم نه دی راغلی: د دغه مضمون په سورت يونس کي هم راتلونکی دی ددې څخه معلومه سوه چي بل ځای د قرآن کريم دا ارشاد چي (وان من امة الا خلا فيها نذير) چي يو امت داسي نسته په کم کي چي د الله جل جلاله څوک پيغمبر نه وي راغلی هغه آيت د دغه آيت سره ټکر نه لري ځکه چي مراد ددې آيت څخه دادی چي تر اوږدې زمانې پوري د حضرت اسمعيل عليه السلام څخه پس په دوی کي يو نبي نه دی راغلی مگر د نبي او رسول دراتلو څخه بالکل خالي دا امت هم نه دی پاته سوی: او څه عجيبه ده چي نصيحت قبول کړي ځکه چي د نبي کريم ﷺ د زمانې خلگو بلکي د دوی نږدې پلرونو هم يو نبي نه وو ليدلی که څه هم ځيني شريعتونه د توحيد په واسطه سره دوی ته رسيدلي هم وه الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ ۲۰ ص ۵۲)

نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْلَآ أَن

أَنْ	وَلَوْلَآ	يَتَذَكَّرُونَ	لَعَلَّهُمْ	مِّنْ قَبْلِكَ	نَّذِيرٍ
دا چې	او كه چيرى نه وى	پند واخلى څينى	دپاره ددى چې دوى	پخوا له تا	بيروونكى

بيروونكى (له عذابه) پخوا له تا (اى محمده!) دپاره د دى چې دوى پند واخلى څينى. او كه چيرى نه وى دا چې

تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟

فَيَقُولُوا	أَيْدِيهِمْ	بِمَا قَدَّمَتْ	مُّصِيبَةٌ	تُصِيبَهُمْ
پس وبه وايئ (دغه كفار)	لاسونو د دوى	په سبب دهغو چې پخوا ليږلي دي	مصيبت	وبه رسيږي دوى ته

وبه رسيږى دوى ته مصيبت په سبب دهغو (گناهونو) چې پخوا ليږلى دى لاسونو د دوى پس وبه وايئ (دغه كفار)

رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ

ءَايَٰتِكَ	فَنَتَّبِعَ	رَسُولًا	إِلَيْنَا	لَوْلَآ أَرْسَلْتَ	رَبَّنَا
دآياتونو ستا	پس متابعت به كړې ؤ موږ	كوم رسول	موږ ته	ولي دى نه راليږه تا	اى ربه زموږ

اى ربه زموږ ولى دى نه راليږه تا موږ ته كوم رسول پس متابعت به كړې ؤ موږ دآياتونو ستا

وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِندِنَا

مِنْ عِندِنَا	الْحَقُّ	جَآءَهُمُ	فَلَمَّا	مِنَ الْمُؤْمِنِينَ	وَنَكُونَ
له جانبه زموږ	حق (قرآن)	راغى دغو (كفارو) ته	پس كله چې	له مؤمنانو	او سوى به وو موږ

او سوى به وو موږ له مؤمنانو (په تا او په هغه رسول ستا باندى). پس كله چې راغى دغو (كفارو) ته حق قرآن له جانبه زموږ

قَالُوا۟ لَوْلَآ أُوتِىَ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ مُوسَىٰٓ

مُوسَىٰ	مَآ أُوتِيَ	مِثْلَ	لَوْلَآ أُوتِيَ	قَالُوا
موسىٰ ته	دهغو (معجزو) چې وركړى سوى وى	په شان	ولي نه دى وركړى سوى	نو وى ويل دوى

نو وى ويل (دغو كفارو) ولى نه دى وركړى سوى (محمد ته) په شان دهغو (معجزو) چې وركړى سوى وى موسىٰ ته

أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا۟ سِحْرَانِ

سِحْرَانِ	قَالُوا	مِنْ قَبْلُ	مُوسَىٰ	أُوتِيَ	بِمَآ	أَوَلَمْ يَكْفُرُوا
دوه جادوگران دى	وويل (منكرانو)	پخوا	موسىٰ ته	چې وركړى سوى وى	په هغو (معجزو)	آيا نه ؤ كافران سوى

آيا نه ؤ كافران سوى په هغو (معجزو) چې وركړى سوى وى موسىٰ ته پخوا وويل (منكرانو) دوه جادوگران دى

وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ. په پيغمبر ليږلو سره د قوم فائده ده چې په ښه او بد پوه سي: الله ﷻ فرمايي كه لږ داخلګ څه فكر وكړي نو پوه به سي چې په پيغمبر ليږلو سره زموږ څه فائده نسته بلكې ددغه خلګو فائده ده چې داخلګ په ښه او بد پوه سي نو دعذاب څخه خلاصيداى سي كنه نو دكوموكارونو ناكاره والي چې په عقل سره معلوميداى سي پر هغه عذاب درسولانو دراليږلو څخه بغير هم كيدل ممكن وو ليكن هغه وخت به دوى بو قسم افسوس كولاى چې هاى كه رسول راغلى واى نو موږ به زيات پوه سوي واى او په دې مصيبت كې به نه واي پراته په دې وجه موږ رسول هم راوليږى چې ددې افسوس څخه خلاصيدل دوى ته آسانه وي: او بيا به دوى زارى كولاى چې اى زموږ پروردګاره تا موږ ته څوك پيغمبر ولي رانه ليږى چې موږ ستا داحكامو تابعداري كړې واى او پر دغه احكامو او رسولانو باندې دايمان راوړونكو سره سوي واى او بيا تا ددې په بدل كې دهميش دپاره په جنت كې اوسيدل راكړي واى الخ. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۵۳)

تَظٰهَرَا ۗ وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ قُلْ فَاْتُوْا

تَظٰهَرَا	وَقَالُوْٓا	اِنَّا	بِكُلٍّ	كٰفِرُوْنَ	قُلْ	فَاْتُوْا
مدد کوی یو دبله	او وی ویل	چی بیشکه! موږ	په هریوه	کافران یو	ووایه (ای محمده!)	پس راوړئ

مدد کوی یو دبله او وی ویل چی بیشکه! موږ په هریوه (د دی دواړو نبیانو) کافران یو. ووایه (محمده) پس راوړئ

بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ

بِكِتٰبٍ	مِّنْ عِنْدِ	اللّٰهِ	هُوَ اَهْدٰى	مِنْهُمَآ	اَتَّبِعْهُ
یو داسی کتاب	له جانبه	د الله	چی هغه ښه لارښوونکی وی	له دغو دواړو کتابو نو	چی متابعت وکړم زه د هغه

یو داسی کتاب له جانبه د الله چی هغه ښه لاره ښوونکی وی له دغو دواړو کتابونو چی متابعت وکړم زه د هغه (کتاب)

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ فَاعْلَمْ

اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	فَاِنْ	لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا	لَكَ	فَاعْلَمْ
که چیری یئ تاسی	صادقان	پس که چیری	ونه منله دوی خبره	ستا	پس پوه سه چی

که چیری یئ تاسی صادقان، رښتنی. پس که چیری ونه منله دوی خبره ستا پس پوه سه چی

اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ۭ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ

اَنَّمَا	يَتَّبِعُوْنَ	اَهْوَآءَهُمْ	وَمَنْ	اَضَلُّ	مِمَّنِ	اتَّبَعَ
بیشکه! هم داخبره ده	چی متابعت کوی دوی	د خواهشونو خپلو	او څوک دی	ډیر گمراه	له هغه چی	متابعت کوی

بیشکه! هم داخبره ده چی متابعت کوی دوی د خواهشونو خپلو (بی دلیله) او څوک دی ډیر گمراه له هغه چا چی متابعت کوی

هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

هَوٰىهُ	بِغَيْرِ هُدًى	مِّنَ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ
د خواهش خپل	بی هدایته له ښوولو د لاری	له (طرفه د)	الله	بیشکه! چی	الله	نه ښیی سمه لاره	قوم

د خواهش خپل بی هدایته له ښوولو د لاری له (طرفه د) الله بیشکه! چی الله نه ښیی سمه لاره قوم

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۰﴾ ۧ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ

الظّٰلِمِيْنَ	وَلَقَدْ	وَصَّلْنَا	لَهُمُ	الْقَوْلَ	لَعَلَّهُمْ
ظالمانو ته	او خامخا په تحقیق	پر له پسی لیږلی ده موږ	دوی ته	خبره	د پاره د دی چی دوی

ظالمانو ته (چی تابع وی د نفسونو). او خامخا په تحقیق پر له پسی لیږلی ده موږ دوی ته خبره د پاره د دی چی دوی

وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ د تبلیغ او دعوت ځینې ادبونه:

وصّلنا: د توصیل څخه جوړ دی: چې اصلي لغوي معنی یې ده د رسی د تارونو سره د بل تار یوځای کول او د هغه مضبوطول دي مراد دادی چې په قرآن کریم کې الله ﷻ د خلګو د هدایت سلسله یو په بل پسې جاري ساتلې ده او ډیر د نصیحت مضامین یې بار بار مکرر کړي هم دي چې پر اوریدونکو باندي اثر وکي: د دې څخه معلومه سول چې د انبیاوو علیهم السلام د تبلیغ مهم اړخ داوو چې هغوی به حقه خبره پرله پسې کوله او رسوله به یي د خلګو په انکار او دروغجن کولو به دوی په خپل کار او شغل کي څه بندیز نه راوستی بلکي دغه حقه خبره که به یو وار ونه منل سوه نو دوهم وار او که بیا به ونه منل سوه نو په دریم او څلورم وار به یي پر مخ پیش کوله د چا په زړه کي زړه اچول خو دیو نصیحت کوونکي همدرد په وس کي نه دی مګر خپل کوشش بغیر د څه ستړي کیدو او ستوماني جاري ساتل کم چې د دوی په قبضه کي وو هغه یي مسلسل پوره کوی.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۵۶)

۵ع۸

نصف

يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۱﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ

مِنْ قَبْلِهٖ	الْكِتٰبَ	اٰتَيْنٰهُمُ	اَلَّذِيْنَ	يَتَذَكَّرُوْنَ
پخوا له دغه (قرآنه)	كتاب	چې وركړى دى موږ دوى ته	هغه كسان	پند واخلي

پند واخلي. هغه كسان چې وركړى دى موږ دوى ته كتاب پخوا له دغه (قرآنه)

هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْۤا اٰمَنَّا

اٰمَنَّا	قَالُوْۤا	عَلَيْهِمْ	يُتْلٰى	وَاِذَا	يُؤْمِنُوْنَ	بِهٖ	هُمْ
چې ايمان راوړى دى موږ	نو وايئ دوى	پر دوى باندى	چې ولوستل سى	او كله	ايمان راوړي	په دغه	دوى

دوى په دغه (قرآن) ايمان راوړي. او كله چې ولوستل سى (دا قرآن) پر دوى باندى نو وايئ دوى چې ايمان راوړى دى موږ

بِهٖۤ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَاۤ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿۵۳﴾

مُسْلِمِيْنَ	مِنْ قَبْلِهٖ	كُنَّا	اِنَّا	مِنْ رَّبِّنَاۤ	الْحَقُّ	اِنَّهُ	بِهٖۤ
مسلمانان	پخوا له نزوله د دغه (قرآن)	چې وو موږ	بيشكه! موږ	له (طرفه د) رب زموږ	حق دى	بيشكه! چې دغه	په دغه

په دغه (قرآن چې) حق دى له (طرفه د) رب زموږ بيشكه! موږ چې وو موږ پخوا له نزوله د دغه (قرآن) مسلمانان

اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا

بِمَا صَبَرُوْا	مَّرَّتَيْنِ	اَجْرَهُمْ	يُؤْتَوْنَ	اُولٰٓئِكَ
په سبب د دى چې صبر كړى ؤ دوى	دوه چنده	اجر د دوى	وربه كړسى دوى ته	دغه (يهودان، نصرانيان)

دغه (يهودان،نصرانيان) وربه كړسى دوى ته اجر د دوى دوه چنده په سبب دد ى چې صبر كړى ؤ دوى،

وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

رَزَقْنٰهُمْ	وَمِمَّا	السَّيِّئَةَ	بِالْحَسَنَةِ	وَيَدْرَءُوْنَ
چې وركړى دى موږ دوى ته	او له ځينو دهغو مالونو	بدى	په نيكى سره	او دفع كوى دوى

او دفع كوى دوى په حسنه نيكى سره بدى ، او له ځينو دهغو مالونو چې وركړى دى موږ دوى ته

يُنْفِقُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ

عَنْهُ	اَعْرَضُوْا	اللَّغْوَ	سَمِعُوا	وَاِذَا	يُنْفِقُوْنَ
له هغى څخه	نو څنګ كوى دوى	كومه بيكاره خبره	واورى دوى	او كله چې	خرڅوى يئ

خرڅوى يئ (په لاره د الله كښې). او كله چې واورى دوى كومه بيكاره خبره نو څنګ كوى (لرى والى) كوى دوى له هغى څخه

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ.. دهغه اهل كتابو ستاينه او صفت چې دنبي كريم ﷺ پر نبوت يي دمخكي څخه لا يقين درلودى: په دغه آيت كي الله ﷻ دهغه اهل كتابو ذكر كړى دى كم چي دنبي كريم ﷺ دبعثت او نبوت څخه اودقرآن دنازليدو څخه مخكي دتورات او انجيل په وركړو خوشخبريو دقرآن په نازليدو او دنبي كريم ﷺ په بعثت يي يقين درلودى: بيا چي كله دوى ﷺ مبعوث سول نو دخپل مخكي يقين پربنا يي ايمان راوړى. دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چي دحبشي دنجاشي پاچا ددرباريانو څخه څلويښت سړي مديني منورې ته هغه وخت حاضر سول كله چي نبي كريم ﷺ دخيبر په غزا كي مشغول وو داخلګ هم په جهاد كي شريك سول ځيني په كښي زخميان سول مګر څوك په كښي قتل نه سول دوى چي دصحابه كرامو رضي الله عنهم مالي تنګي وليدل نو يي درخواست وكي چي موږ ته اجازه راكي چي ولاړ سو خپل ملك ته اودوى دپاره څه مال راوړو نو پر دي دغه آيت نازل سو.
(معارف القرآن ج۷پ۲۰ص۵۸)

وَقَالُوْا لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۡ سَلٰمٌ

وَقَالُوْا	لَنَآ	اَعْمَالُنَا	وَلَكُمْ	اَعْمَالُكُمْ	سَلٰمٌ
او وايئ دوى	موږ ته دى	عملونه زموږ	او دى تاسى ته	عملونه ستاسى	سلام دى

او وايئ دوى موږ ته عملونه زموږ (له حلمه او صبره) او دى تاسى ته عملونه ستاسى له حماقته او بد ويل ، سلام دى

عَلَيْكُمْ ۡ لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ﴿۵۵﴾ اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ

عَلَيْكُمْ	لَا نَبْتَغِي	الْجٰهِلِيْنَ	اِنَّكَ	لَا تَهْدِيْ	مَنْ
پر تاسى	نه لټوو موږ	طريقه د جاهلانو	بيشكه! ته (محمده!)	نسى ښوولى (لاره حقه)	هغه چاته

پرتاسى نه غواړو موږ (مجلس او طريقه) د جاهلانو. بيشكه! ته (اى محمده!) نسى ښوولى (لاره حقه) هغه چاته

اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ

اَحْبَبْتَ	وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	يَهْدِيْ	مَنْ يَّشَآءُ	وَهُوَ	اَعْلَمُ
چي خوښ وى ستا	او ليكن	الله	سمه صافه لاره ښيي	هغه چاته چي اراده وفرمائى	او هم دغه (الله)	ښه عالم دى

چي خوښ وى ستا او ليكن الله سمه صافه لاره ښيي هغه چاته چي اراده وفرمائى ، او هم دغه (الله) ښه عالم دى

بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ نَّتَّبِعِ الْهُدٰى مَعَكَ

بِالْمُهْتَدِيْنَ	وَقَالُوْٓا	اِنْ نَّتَّبِعِ	الْهُدٰى	مَعَكَ
په سمه صافه لاره پيداكوونكو باندى	او وايئ (كفار)	كه چيرى متابعت وكړو موږ	د هدايت	له تا سره

په سمه صافه لاره پيداكوونكو باندى. او وايئ (كفار د مكى) كه چيرى متابعت وكړو موږ د هدايت له تا سره

نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَا ؕ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا

نُتَخَطَّفْ	مِنْ اَرْضِنَا	اَوَلَمْ نُمَكِّنْ	لَّهُمْ	حَرَمًا	اٰمِنًا
نو ژر به وشړل سو	له مځكى خپل څخه	آيا نه دى وركړى ځاى موږ	دوى ته	داسى حرم	چي په امان دى

نو ژر به وتښتول سو له مځكى خپل څخه ، آيا نه دى وركړى (ځاى) موږ دوى ته داسى حرم چي په امان دى (له قتل او غارته)

يُّجْبٰى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا وَلٰكِنَّ

يُّجْبٰى	اِلَيْهِ	ثَمَرٰتُ	كُلِّ شَيْءٍ	رِّزْقًا	مِّنْ لَّدُنَّا	وَلٰكِنَّ
راچلولى سوى دى	دى (حرم) ته	ميوى	د هر شي	رزق د دوى	له جانبه زموږ	او ليكن

راچلولى سوى دى دى (حرم) ته (له هر طرفه) ميوى (دپاره) د هر شي رزق د دوى له جانبه زموږ او ليكن

اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ. هــدايت دالله ﷻ دقدرت پــه لاس كي دى: پــه دغــه آيـت كـي الله ﷻ خطاب نبي كريم ﷺ ته كړى دى داسي چي ته څوك وغـواړي نــه سـي پرلاري كولاى ترڅه وخته چي الله ﷻ هغه پر لاري نه كـړي او دهـدايت وركولـو قدرت دهغه پـه قبضه كي دى : هدايت په څو معناوو اسـتعماليږي: يــوه معنــى يي صرف لاربنوول دي چي ددي دپاره ضـروري نـه ده چي چاته لار وښـوول سـوه هغه منزل مقصـود تـه هـم ورســيږي او يـــوه معنــى دهدايت داهـم راځـي چي څـوك منـزل مقصـود تــه ورســوي داولــي معنــى پـه اعتبـار سـره خـو نبي كـريم ﷺ بلكـي دټولـو انبيـاوو هـادي كيـدل اودهـــدايت ددوى پـــه اختيـار كـي كيـدل خـو ښـكاره خبـره ده ځكـه چي داهـدايت ددوى منصبي فـرض دى كـه ددي قـدرت هم دوى ته نه وي نو دنبوت او رسـالت فـرض بـه څنگـه اداء سـي؟او پـه دغـه آيـت كي چي يي كم دوى ته پر هـدايت نـه قادريـدل بيـان كـړي دي ددي څخـه مـراد دهدايت دادوهمه معنى ده يعني مقصود ته رسول يي ته نه سي كوى چي تر څو الله ﷻ ونـه غـواړي الـخ.
(معارف القرآن ج۷ پ ۲۰ ص ۶۲)

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ

اَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	وَكَمْ اَهْلَكْنَا	مِنْ قَرْيَةٍ
اکثر د دوی چې دی	نه پوهيږي	او څومره (ډير) هلاک کړی دی موږ	له (اهل د) کليو

اکثر د دوی چې دی نه پوهيږي (په حق) . او څومره (ډير) هلاک کړی دی موږ له (اهل د) کليو (او ښارونو)

بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا ۚ فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ

بَطِرَتْ	مَعِيْشَتَهَا	فَتِلْكَ	مَسٰكِنُهُمْ	لَمْ تُسْكَنْ
چې سرکشي يئ کړې وه	په معاش خپل کښې	پس دا دی	کورونه د دوی	چې نه ده کړی سوی هستوګنه په کښې

چې سرکشي يئ کړې وه په معاش خپل کښې پس دا دی کورونه د دوی چې نه ده کړی سوی هستوګنه په کښې

مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا ؕ وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿٥٨﴾

مِّنْۢ بَعْدِهِمْ	اِلَّا	قَلِيْلًا	وَكُنَّا	نَحْنُ	الْوٰرِثِيْنَ
پس له (هلاک د) هغوی	مګر	لږ وخت	او يو موږ	هم دا موږ	وارثان

پس له (اهلاک د) هغوی مګر لږ وخت (چې کوم مسافر کومه شپه هلته دمه کړې ده) . او يو موږ هم دا موږ وارثان .

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا

وَمَا كَانَ	رَبُّكَ	مُهْلِكَ	الْقُرٰى	حَتّٰى	يَبْعَثَ	فِيْٓ اُمِّهَا
او نه دی	رب ستا	هلاک کوونکی	د قريو	تر هغه پورې	چې وليږي	په مور (لويه قريه) د هغو (قريو ښار) کښې

او نه دی رب ستا هلاک کوونکی (د اهل د دی) قريو تر هغه پورې چې وليږي په مور (لويه قريه) د هغو (قريو ښار) کښې

رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي

رَسُوْلًا	يَّتْلُوْا	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتِنَا	وَمَا كُنَّا	مُهْلِكِي
يو رسول	چې وايي	پر دوی	آيتونه زموږ	او نه يو موږ	هلاک کوونکی

يو رسول چې وايي پر دوی آيتونه زموږ (د پاره د قطع کولو د عذر)، او نه يو موږ هلاک کوونکي خرابوونکي

الْقُرٰٓى اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ

الْقُرٰٓى	اِلَّا	وَاَهْلُهَا	ظٰلِمُوْنَ	وَمَآ	اُوْتِيْتُمْ	مِّنْ شَيْءٍ
د کليو د ښارونو	مګر	په هغه وخت کې چې اهل د هغو	ظالمان وي	او هر هغه چې	درکړی سوی دی تاسې ته	له کوم شي

د کليو د ښارونو مګر په هغه وخت کښې چې اهل د هغو ظالمان وي. او هر هغه چې درکړی سوی دی تاسې ته له کوم شي

لَمْ تُسْكَنْ مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا ؕ وَكُنَّا.. **د تيرو قومونو کلي چې برباد سوي وه هغه تر اوسه اباد نه سول:** په دغه آيت کي الله ﷻ فرمايي چي د تيرو قومونو کم کلي چي په عذاب الهي سره برباد سوي وه تر اوسه هم په هغو کي آبادي ونه سوه بغير دلږ قدر څخه: دلږ قدر څخه مراد که مساکن او مقامات قليله واخلې لکه چي د علامه زجاج قول دی نو مطلب به داوي چي په دې تباه سوو کليو کي يو مقام او مکان بيا آباد نه سول بغير دلږ قدر څخه چي هغه اباد سول: مګر د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه ددې ايت دا تفسير نقل سوی دی چي په قدر قليله سره د مقاماتو او مکانونو قليله وو استثناء نه ده بلکي د زمانې د سکونت استثناء مراد ده او مطلب دادی چي که په دې کليو کي څوک اوسيدلی هم وي نو د ډير لږ وخت د پاره لکه يو پر لاري تلونکی مسافر چي په يو ځای کي دلږ وخت د پاره پاته سي کم ته چي د کليو ابادي نه سي ويل کيدای: ددې څخه دالله ﷻ د عذاب تريخوالی او شدت او سختوالی په ډاګه کيږي چي بيا هلته څوک نه سول اباد.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۶۵)

فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ

فَمَتَاعُ	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَزِيْنَتُهَا	وَمَا	عِنْدَ	اللّٰهِ
پس هغه معاش نفع كار	د دغه ژوندون	د دنيا دى	او بنايست د هغه دى	او هر هغه چي	په نزد	د الله دى

پس هغه معاش نفع كار د دغه ژوندون د دنيا دى او بنايست د هغه دى او هر هغه چي په نزد د الله دى (اجر)

خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾ اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا

خَيْرٌ	وَّاَبْقٰى	اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ	اَفَمَنْ	وَّعَدْنٰهُ	وَعْدًا
خير غوره دى	او باقى دى	آيا تاسي عقل نه چلوئ	آيا پس هغه څوک چي	وعده كړي ده موږ له هغه سره	وعده

خير غوره (دى) او باقى دى آيا تاسي عقل نه چلوئ. آيا پس هغه څوک چي وعده كړي ده موږ له هغه سره وعده

حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ

حَسَنًا	فَهُوَ	لَاقِيْهِ	كَمَنْ	مَّتَّعْنٰهُ	مَتَاعَ	الْحَيٰوةِ
ښه	پس دى	پيدا كوونكى دى د هغي وعدى	لكه هغه څوک	چي نفع وركړي وى موږ ده ته	نفع	دژوندون

ښه (چي د جنت ده) پس دى موندونكى دى د هغي وعده لكه هغه څوک چي معاش وركړي وى موږ ده ته معاش د ژوندون

الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾

الدُّنْيَا	ثُمَّ	هُوَ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ
د دنيا	بيا	دى	په ورځ	د قيامت كښى	له حاضر كړيو سوى وى

د دنيا بيا دى په ورځ د قيامت كښى له حاضر كړيو سوى وى (اور ته؟ بلكه نه دى سره برابر دوى دواړه !)

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ

وَيَوْمَ	يُنَادِيْهِمْ	فَيَقُوْلُ	اَيْنَ	شُرَكَآءِيَ	الَّذِيْنَ
او ياد كړه هغه ورځ	چي ږغ به وكړى دوى ته الله	پس وبه وايئ (الله)	چيرته دى	شريكان زما	هغه (شريكان)

او ياد كړه هغه ورځ چي ږغ به وكړى دوى ته الله پس وبه وايئ (الله) چيرته دى شريكان زما هغه (شريكان)

كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ

كُنْتُمْ	تَزْعُمُوْنَ	قَالَ	الَّذِيْنَ	حَقَّ	عَلَيْهِمُ	الْقَوْلُ
چي وئ تاسي	چي ګمان به مو كوو	وبه وايئ	هغه كسان	چي حقه ثابته سوى ده	پر دوى	خبره

چي وئ تاسي چي ګمان به مو كوو (پرى چي دا شريكان زما دى). وبه وايئ هغه كسان چي حقه ثابته سوى ده پر دوى خبره

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ. په قيامت كښي به اول سوال دكفارو او مشركينو څخه دشرک په اړه وي: الله ﷻ به اول سوال دقيامت په ورځ دكفارو او مشركينو څخه دشرک په باره كي وكي چي هغه پيريان او شيطانان چي تاسي زما سره شريک كړي وه په دنيا كي هغه نن څه سوه؟ ايا هغه ستاسي ننه ورځ څه مدد كولاى سي كه يا؟ ددې په جواب كي به مشركين الله ﷻ ته دا جواب وركي چي يا الله ﷻ زموږ څه قصور نسته موږ دځانه شرک نه دى كړى بلكي موږ خو دې شيطانانو بې لاري كړي وو په دې وجه الله ﷻ په خپله دشيطانانو په ژبه سره وويل چي موږ خو بې لاري كړې وه خامخا خو مجبوره كړي مو نه وه په دې وجه مجرمان موږ هم يو او دوى هم دجرم څخه بري نه دي ځكه لكه څنګه چي موږ دوى ولمسول ددې په مقابله كي انبياء عليهم السلام او دهغوى نائبان دوى ته هدايت هم كوى او په دليلونو سره يي دوى ته حق واضح كړى وو دوى په خپل اختيار سره دانبياوو عليهم السلام خبره ونه منله او زموږ ده يي ومنله. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۷۰)

ع۱۰

رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَغْوَيْنَا ۚ اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ

رَبَّنَا	هٰٓؤُلَآءِ	الَّذِيْنَ	اَغْوَيْنَا	اَغْوَيْنٰهُمْ	كَمَا غَوَيْنَا ۚ
ای ربه زموږ	دا (تابعان)	هغه کسان دی	چې گمراه کړی ؤ موږ	گمراه کړی ؤ موږ دوی	لکه چې گمراه سوی وو موږ

ای ربه زموږ دا (تابعان) هغه کسان دی چې گمراه کړی ؤ موږ گمراه کړی ؤ موږ دوی لکه چې گمراه سوی وو موږ

تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ ۫ مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَقِيْلَ

تَبَرَّاْنَآ	اِلَيْكَ	مَا كَانُوْٓا	اِيَّانَا	يَعْبُدُوْنَ	وَقِيْلَ
بیزاره یو موږ	تاته	نه ؤ دوی	داسی چې زموږ	عبادت به یئ کوو	او وبه ویلی سی (کفاروته)

بیزاره یو موږ تاته (له دوی اوله کفره د دوی) نه ؤ دوی داسی چې زموږ عبادت به یئ کوو. او وبه ویلی سی (کفارو ته)

ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ

ادْعُوْا	شُرَكَآءَكُمْ	فَدَعَوْهُمْ	فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا	لَهُمْ
چې وغواړئ تاسی	شریکان ستاسی	پس راوبه غواړی دوی دا	پس هیڅ جواب به ورنه کړی (دا بتان)	هغوی ته

چې وغواړئ تاسی شریکان دتاسی پس راوبه غواړی دا (کفار هغه بتان) پس هیڅ جواب به ور نه کړی (دابتان) هغوی ته

وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿۶۴﴾

وَرَاَوُا	الْعَذَابَ	لَوْ اَنَّهُمْ	كَانُوْا	يَهْتَدُوْنَ
او وبه وینی دغه	عذاب	که چیری بیشکه! دوی	وی	چې سمه صافه لاره یئ نیولی وی

او وبه وینی دغه (تابعان او متبوعان) عذاب، که چیری بیشکه! دوی وی چې سمه صافه لاره یئ نیولی وی.

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶۵﴾

وَيَوْمَ	يُنَادِيْهِمْ	فَيَقُوْلُ	مَاذَآ	اَجَبْتُمُ	الْمُرْسَلِيْنَ
او یاد کړه هغه ورځ	چې ږغ به وکړی دوی ته	پس وبه وایئ	چې څه	جواب ورکړی ؤ تاسی	رسولانو ته؟

او یاده کړه هغه ورځ چې ږغ به وکړی دوی ته (الله) پس وبه وایئ چې څه جواب ورکړی ؤ تاسی رسولانو ته؟

فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ يَوْمَىِٕذٍ فَهُمْ

فَعَمِيَتْ	عَلَيْهِمُ	الْاَنْۢبَآءُ	يَوْمَىِٕذٍ	فَهُمْ
پس پټ به سی	پر دوی	خبرونه	په دغه ورځ کښې	پس دوی به

پس پټ به سی پر دوی خبرونه (چې دوی خلاص سی) په دغه ورځ کښې پس دوی به

وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ.. مشرکینو ته به امر وسي چي خپل معبودان راوبلی چي جواب درکوي که یا؟ کله چي دقیامت په ورځ دکفارو او مشرکینو خدایان او شریکان ددوی څخه دبیزاری او بې مخی اعلان او اظهار وکړي نو هغه وخت به دغه مشرکینو ته وویل سي چي اوس دغه خپل شریکان راوبولی نو دوی چي یي کله راوبولي هغه به دوی ته جواب ورنه کي او دغه وخت به داخلګ په خپلو سترګو سره عذاب ووینی چي ای کاشکي موږ په دنیا کي پر سیده لار روان وای نو دا مصیبت به مونږ نه لیدلای او په کمه ورځ چي داکافران وبلل سي او پوښتنه ورڅخه وسي چي تاسي دررغلو پیغمبرانو ته څه وویل؟ نو په دغه ورځ به ددوی دذهن څخه ټولي خبري ورکي سي او دوی به خپله په هیڅ هم نه پوهیږي او په خپل مینځ کي به پوښتنه نه سي سره کولای البته څوک چي توبه وکاږي دکفر څخه اوایمان راوړي او نیک عمل وکي نو داسي خلګ امید دی چي په آخرت کي دکامیابه خلګو څخه وي. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۷۰)

لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٦٦﴾ فَاَمَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ

لَا يَتَسَآءَلُوْنَ	فَاَمَّا مَنْ	تَابَ	وَاٰمَنَ	وَعَمِلَ
نه کوی پوښتنه یو تر بله	پس هر هغه څوک	چی توبه وباسی	او ایمان راوړی	او عمل وکړی

نه کوی پوښتنه یو تر بله. پس هر هغه څوک چی توبه وباسی (له شرکه) او ایمان راوړی (په الله او رسول) او عمل وکړی

صَالِحًا فَعَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿٦٧﴾ وَرَبُّكَ

صَالِحًا	فَعَسٰۤى	اَنْ يَّكُوْنَ	مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ	وَرَبُّكَ
دنیکو	پس ښایئ	چی وی به دی	له خلاصیدونکو	او رب ستا

دنیکیو پس ښایئ چی وی به دی له خلاصیدونکو. او رب ستا

يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ؕ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ؕ سُبْحٰنَ

يَخْلُقُ	مَا يَشَآءُ	وَيَخْتَارُ	مَا كَانَ	لَهُمُ	الْخِيَرَةُ	سُبْحٰنَ
پیدا کوی	هغه څه چی اراده وفرمایئ	او غوره کوی یئ	نه دی	دوی ته	اختیار (په هیڅ شی)	پاکی ده

پیدا کوی هغه څه چی اراده وفرمایئ (دپیدا ښت یئ) او غوره کوی یئ، نه دی دوی ته اختیار (په هیڅ شی) پاکی ده

اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ

اللّٰهِ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ	وَرَبُّكَ	يَعْلَمُ	مَا تُكِنُّ
الله لره	او لوی پورته دی	له هغه څه	چی دوی یئ ورسره شریکوی	او رب ستا ته	معلوم دی	هرهغه چی پټوی یئ

الله لره او لوی پورته دی له هغه څه چی دوی یئ ورسره شریکوی. او رب ستا ته معلوم دی هر هغه چی پټوی یئ

صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ

صُدُوْرُهُمْ	وَمَا يُعْلِنُوْنَ	وَهُوَ	اللّٰهُ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ
سینی د دوی	او هر هغه چی ښکاروی یئ	او هم دی	الله دی	نسته بل	لائق دعبادت	مګر	هم دی دی

سینی (زړونه) د دوی او هر هغه چی ښکاروی یئ (ژبی د دوی). او هم دی الله دی نسته بل لائق دعبادت مګر هم دی دی

لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاُوْلٰى وَالْاٰخِرَةِ ؗ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ

لَهُ الْحَمْدُ	فِي الْاُوْلٰى	وَالْاٰخِرَةِ	وَلَهُ	الْحُكْمُ	وَاِلَيْهِ
خاص هم ده ته ټوله ثناء ده	په دنیا	او په آخرت کښی	او خاص هم دغه (الله) ته دی	حکم	او خاص هم دغه (الله) ته

خاص هم ده ته ټوله ثناء ده په دنیا او (په) آخرت (عقبیٰ) کښی او خاص هم دغه (الله) ته دی حکم او خاص هم دغه (الله) ته

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ؕ مَا كَانَ... یوازي الله ﷻ په کمالي صفتونو سره موصوف دی: ددې آیت یو مطلب خو دادی چي د(یختار) څخه مراد اختیار داحکامو دی چي کله الله ﷻ ددې کائناتو یوازي پیدا کوونکی دی څوک په کښي شریک نسته ورسره نو حکمونه جاري کول هم یوازي دهغه کار دی څه حکم چي غواړي په خپل مخلوق کي یي نافذ کوي: لنډه داچي لکه څنګه چي په تکویني اختیار کي دالله ﷻ څوک شریک نسته دغه رکم په تشریعي اختیار کي هم څوک دهغه سره شریک نسته او ددې یو دوهم مطلب دا هم کیدای سي چي ددې اختیار څخه مراد دادی چي الله ﷻ په خپل مخلوق کي څوک چي وغواړي دخپل اکرام او اعزاز دپاره یي منتخب فرمایي او مشرکینو دنبي کریم ﷺ پر نبوت دا اعتراض درلودی چي ولي په موږ کي یو خان نبي نه سو یا یو قومي مشر الله ﷻ ددې جواب ورکی چي کم ذات ټوله مخلوقات بې له دچا دکومک څخه پیدا کړي دي هغه ذات دا اختیار لري چي څوک منتخب کوي ددې وظیفې دپاره الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۷۲)

تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۷۰﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيۡكُمُ

تُرۡجَعُوۡنَ	قُلۡ	اَرَءَيۡتُمۡ	اِنۡ جَعَلَ	اللّٰهُ	عَلَيۡكُمُ
به بيولی سئ تاسی	وواية (محمده!)	آيا وينئ	كه چيری وګرځوی	الله	پر تاسی

به بيولی سئ تاسی (په قيامت كښی). وواية (ای محمده دوی ته) آيا وينئ كه چيری وګرځوی الله پر تاسی

الَّيۡلَ سَرۡمَدًا اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ مَنۡ اِلٰهٌ غَيۡرُ اللّٰهِ

الَّيۡلَ	سَرۡمَدًا	اِلٰى	يَوۡمِ	الۡقِيٰمَةِ	مَنۡ اِلٰهٌ	غَيۡرُ	اللّٰهِ
دغه شپه	اوږده هميشه	تر	ورځی	دقيامت پوری	نو څوك دی هغه (معبود)	بی له	الله

دغه شپه اوږده هميشه تر ورځی دقيامت پوری نو څوك دی هغه (معبود) بی له الله

يَاۡتِيۡكُمۡ بِضِيَآءٍ ؕ اَفَلَا تَسۡمَعُوۡنَ ﴿۷۱﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ

يَاۡتِيۡكُمۡ	بِضِيَآءٍ	اَفَلَا تَسۡمَعُوۡنَ	قُلۡ	اَرَءَيۡتُمۡ	اِنۡ
چی راوړی تاسی ته	رڼا	آيا پس نه اورئ تاسی	وواية (محمده!)	آيا وينئ تاسی	كه چيری

چی راوړی تاسی ته رڼا آيا پس نه اورئ تاسی (دغه خبره). وواية (ای محمده!) آيا وينئ تاسی كه چيری

جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيۡكُمُ النَّهَارَ سَرۡمَدًا اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ

جَعَلَ	اللّٰهُ	عَلَيۡكُمُ	النَّهَارَ	سَرۡمَدًا	اِلٰى	يَوۡمِ	الۡقِيٰمَةِ
وګرځوی	الله	پر تاسی	ورځ	اوږده هميشه	تر	ورځی	دقيامت پوری

وګرځوی الله پر تاسی ورځ اوږده هميشه تر ورځی دقيامت پوری (چی هيڅ غروب الشمس ونسی)

مَنۡ اِلٰهٌ غَيۡرُ اللّٰهِ يَاۡتِيۡكُمۡ بِلَيۡلٍ تَسۡكُنُوۡنَ فِيۡهِ ؕ

مَنۡ اِلٰهٌ	غَيۡرُ	اللّٰهِ	يَاۡتِيۡكُمۡ	بِلَيۡلٍ	تَسۡكُنُوۡنَ	فِيۡهِ
نو څوك دی (معبود)	بی له	الله	چی راوړی تاسی ته	شپه	چی آرام وكړئ تاسی	په هغه كښی

نو څوك دی (معبود) بی له الله چی راوړی تاسی ته شپه چی آرام وكړئ تاسی په هغه كښی

اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۷۲﴾ وَمِنۡ رَّحۡمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيۡلَ

اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ	وَمِنۡ رَّحۡمَتِهٖ	جَعَلَ لَكُمُ	الَّيۡلَ
آيا پس نه وينئ تاسی	او له رحمته ، مهربانی خپلی	پيدا كړی ده (الله) تاسی ته	شپه

آيا پس نه وينئ تاسی (دآثار دقدرت). او (خاص) له رحمته مهربانی خپلی پيدا كړی ده (الله) تاسی ته شپه

قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيۡكُمُ الَّيۡلَ شپه او ورځ دالله ﷻ دلوی نعمتونو څخه شمېرل كيږي دانسان دپاره: په دغه آياتو كي الله ﷻ دشپې سره دايوه فائده ذكر كړيده چي (بليل تسكنون) يعني په شپه كي انسان ته سكون وركول كيږي او په خوب سره دی راحت حاصلوي: او ددې په مقابله كي يي دورځي په ذكر كي د (بضياء) سره څه فائده ذكر كړه يعني ورځ الله ﷻ روښانه وګرځول: ددې سبب هم ظاهر دی چي دورځي رڼا په خپل ذات كي افضله ده او دتيارې څخه درڼا ښه والی معلوم او معروف دی درڼا بې شميره فائدي دومره معلومي دي چي دبيان ضرورت يې نسته په خلاف دشپې څخه چي هغه تياره ده كمه چي په خپل ذات كي څه افضليت نه لري بلكي ددې فضيلت دخلګو دسكون او آرام په سبب سره دی نو په دې وجه يې دابيان كی. اودورځي دمعاملې ذكر چي يي وكی نو يي وفرمايل (افلاتسمعون) او دشپې دمعاملې ذكر چي يي وكی نو يي وفرمايل (افلاتبصرون) ددې څخه هم معلوميږي چي دورځي بركتونه ډير دي الخ. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۷۴)

إِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى.. قارون چي دحضرت موسى عليه السلام د خپلوانو څخه وو نو دده څه کيدى؟ قارون يو عجمي لفظ دى دده متعلق خو قرآن کريم دومره خبره په خپله بيان کړيده چي دى دحضرت موسى عليه السلام دخپلوانو بني اسرآئيلو څخه وو باقي دا چي دده قرابت دحضرت موسى عليه السلام سره څه وو؟ په دي کي مختلف اقوال دي دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په يوروايت کي دي چي قارون دحضرت موسى عليه السلام داکا زوى وو او نور اقوال هم دلته سته: په تاريخي رواياتو کي دي چي قارون دتورات حافظ وو او دنورو بني اسرآئيلو څخه ده ته تورات زيات ياد وو مگر دسامري په شان منافق ثابت سو او دده منافقت ددنيا مرتبه او عزت او بې ځايه حرص وو دټولو بني اسرآئيلو مشري حضرت موسى عليه السلام ته حاصله وه او دده ورور حضرت هارون عليه السلام دده وزير او په نبوت کي شريک وو دقارون دده سره دا حسد پيدا سو چي زه هم دده دقوم ورور او نژدې قريب يم زما ولې په دي مشرى او سردارى کي حصه نسته الخ.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۷۹)

وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ

وَالنَّهَارَ	لِتَسْكُنُوْا	فِيْهِ	وَلِتَبْتَغُوْا	مِنْ فَضْلِهٖ
او ورځ	دپاره د دى چي آرام وکړئ تاسى	په هغه کښې	او چي ولټوئ تاسى	له فضله د دغه (الله)

او ورځ دپاره د دى چي آرام وکړئ تاسى په هغه (شپه) کښې او چي ولټوئ تاسى (په دغه ورځ کښې) له فضله د دغه (الله)

وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ

وَلَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ	وَيَوْمَ	يُنَادِيْهِمْ	فَيَقُوْلُ
او د پاره د دى	چي شکر وکړئ تاسى	او هغه ورځ	چي ږغ به وکړى دوى ته (الله)	پس وبه فرمائى

او دپاره د دى چي شکر وکړئ تاسى (دنعماؤ دالله). او (يادکړه) هغه ورځ چي ږغ به وکړى دوى ته (الله) پس وبه فرمائى

اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا

اَيْنَ	شُرَكَآءِيَ	الَّذِيْنَ	كُنْتُمْ	تَزْعُمُوْنَ	وَنَزَعْنَا
چيرته دى	شريکان زما	هغه چي	وئ تاسى	چي گمان به مو کاوه	او راوبه باسو

چيرته دى شريکان زما هغه چي وئ تاسى چي گمان به مو کاوه (پر دى شريکانو زما). او راوبه باسو

مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا فَقُلْنَا هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ

مِنْ كُلِّ	اُمَّةٍ	شَهِيْدًا	فَقُلْنَا	هَاتُوْا	بُرْهَانَكُمْ
له هر	امت څخه	يو شاهد	پس وبه وايو موږ دوى ته	راوړئ تاسى	دليل، سند خپل

له هر امت (ملت) څخه يو شاهد (پر اقوالو، افعالو، احوالو د دوى)، پس وبه وايو موږ دوى ته راوړئ تاسى دليل سند خپل

فَعَلِمُوْٓا اَنَّ الْحَقَّ لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٧٥﴾

فَعَلِمُوْٓا	اَنَّ	الْحَقَّ	لِلّٰهِ	وَضَلَّ	عَنْهُمْ	مَّا كَانُوْا	يَفْتَرُوْنَ
پس هلته به پوه سى دوى	چي	حق	خاص الله لره دى	او ورک به سى	له دوى څخه	هغه چي ؤ دوى	چي دروغ به يئ جوړول

پس هلته به پوه سى دوى چي حق خاص الله لره دى او ورک به سى له دوى څخه هغه چي ؤ دوى چي دروغ به يئ جوړول.

ع ۱۵ ۱۰

اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ

اِنَّ	قَارُوْنَ	كَانَ	مِنْ قَوْمِ	مُوْسٰى	فَبَغٰى	عَلَيْهِمْ
بيشکه! چي	قارون	ؤ	له قومه	د موسىٰ	پس سرکشي يئ وکړه	پر دوى (بني اسرائيلو)

بيشکه! چي قارون ؤ له قومه د موسىٰ (يعنى د ده تربور ؤ) پس سرکشي وکړه (قارون) پر دغو (بني اسرائيلو)

وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ

وَاٰتَيْنٰهُ	مِنَ الْكُنُوْزِ	مَآ	اِنَّ	مَفَاتِحَهٗ	لَتَنُوْٓاُ
او ورکړې وې موږ ده ته	له خزانو	دومره قدر	چې بيشکه!	کليګانې دهغو به	خامخا درنيدلې

او ورکړې وې موږ ده ته له خزانو دومره قدر چې بيشکه! کليګانې د هغو به خامخا درنيدلې

بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ ۚ اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ

بِالْعُصْبَةِ	اُولِي	الْقُوَّةِ	اِذْ قَالَ	لَهٗ	قَوْمُهٗ	لَا تَفْرَحْ
پر ډلې	چې خاوندان	دقوت ، زوربه ؤ	هغه وخت چې وويل	دغه (قارون) ته	قوم دده	مه خوشحاليږه!

پر (داسې يوې) ډلې چې خاوندان دقوت زوربه ؤ (يادکړه) هغه وخت چې وويل دغه (قارون) ته قوم دده مه خوشحاليږه!

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ ﴿۷۶﴾ وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ

اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	الْفَرِحِيْنَ	وَابْتَغِ	فِيْمَآ	اٰتٰىكَ	اللّٰهُ
بيشکه! چې	الله	نه خوښوی	خوشحاليدونکي	او وغواړه	په هغه (دولت کې)	چې درکړی دی تاته	الله

بيشکه! چې الله نه خوښوی خوشحاليدونکي (په مال د دنيا). او وغواړه په هغه (دولت) چې درکړی دی تاته الله

الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ مِنَ الدُّنْيَا

الدَّارَ	الْاٰخِرَةَ	وَلَا تَنْسَ	نَصِيْبَكَ	مِنَ الدُّنْيَا
کور	د آخرت	او مه هيروه	برخه خپله	له (ماله د) دنيا

کور د آخرت او مه هيروه برخه خپله له (ماله د) دنيا

وَاَحْسِنْ كَمَآ اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ

وَاَحْسِنْ	كَمَآ	اَحْسَنَ	اللّٰهُ	اِلَيْكَ	وَلَا تَبْغِ	الْفَسَادَ
او احسان کوه	لکه چې	احسان کړی دی	الله	له تاسره	او مه غواړه	فساد (په تکبر ظلم سره)

او احسان کوه (له بندګانو دالله سره) لکه چې احسان کړی دی الله له تاسره، او مه غواړه (ای قارونه) فساد (په تکبر ظلم سره)

فِي الْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۷۷﴾ قَالَ اِنَّمَآ

فِي الْاَرْضِ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	الْمُفْسِدِيْنَ	قَالَ	اِنَّمَآ
په ځمکه کښې	بيشکه! چې	الله	نه خوښوی	فساد کوونکي	وويل (قارون)	بيشکه! هم دا خبره ده

په ځمکه کښې بيشکه! چې الله نه خوښوی فساد کوونکي. وويل (قارون قوم خپل ته) بيشکه! هم دا خبره ده

وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ. قارون ته الله ﷻ د مالونو خزانې ورکړې وې: کنوز د کنز جمع ده ښخې سوي خزانې ته ويل کيږي او د شرعي په اصطلاح کې کنز هغه خزانې ته وايي د کم څخه چې زکوة نه وي ورکول سوی د حضرت عطاء رحمة الله عليه څخه روايت دی چې ده ته د حضرت يوسف ﷺ يوه عظيم الشانه دفن سوي خزانه ورسيده: لتنوا بالعصبة. معنی د دې جملې داده چې د ده خزانې دومره زياتې وې او کيلياني يې دومره وې چې يوه قوي جماعت هم د دغه د لوړولو څخه کښته کيدل او ظاهره خبره ده چې د قلف کيلي ډېره سپکه وي چې پورته کول او د ځان سره يې ساتل مشکل نه وي مګر د ډېروالي په سبب دا دومره وې چې وزن يې يو قوي جماعت هم په آساني سره نه سو پورته کولای. لاتفرح: د فرح لفظي معنی دغه خوشحالي راځي کم چې انسان ته د څه نژدې لذت په سبب سره حاصله وي: قرآن کريم په ډېرو ايا تونو کې فرح مذموم مقرر کړي دی لکه چې يو په دې ايت کې دی ان الله لا يحب الفرحين. نو منع هغه فرح ده چې د تکبر او د مستی د وجې څخه وي. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۸۰)

اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ ؕ اَوَلَمْ يَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ

قَدْ	اللّٰهَ	اَنَّ	اَوَلَمْ يَعْلَمْ	عِنْدِيْ	عَلٰى عِلْمٍ	اُوْتِيْتُهٗ
په‌تحقيق	الله	چې بيشکه!	آيا نه پوهيده (قارون)	چې زما څخه دی	په هغه علم سره	چې راکړې سوی دی ماته دغه مال

چې راکړې سوی دی ماته دغه مال په هغه علم سره چې زما څخه دی، آيا نه پوهيده (قارون) چې بيشکه! الله په‌تحقيق

اَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهٖ مِنَ الْقُرُوْنِ مَنْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُ

مِنْهُ	اَشَدُّ	مَنْ هُوَ	مِنَ الْقُرُوْنِ	مِنْ قَبْلِهٖ	اَهْلَكَ
له دی (قارون) څخه	ډير سخت ؤ	هر هغه څوک چې دی	له زمانو	پخوا له دغه (قارون څخه)	هلاک کړی دی

هلاک کړی دی پخوا له دغه (قارون څخه) له (اهل د) زمانو هر هغه څوک چې دی ډير سخت ؤ له دی (قارون) څخه

قُوَّةً وَّاَكْثَرُ جَمْعًا ؕ وَلَا يُسْـَٔلُ عَنْ ذُنُوْبِهِمُ

ذُنُوْبِهِمُ	عَنْ	وَلَا يُسْـَٔلُ	جَمْعًا	وَّاَكْثَرُ	قُوَّةً
ګناهونو خپلو څخه	له	او نه به سی پوښتيدلی	له جهته د جمع کولو	او ډير ؤ	له جهته د قوت

له جهته د قوت او ډير ؤ له جهته د جمع کولو (د مال يا ملاتړه)، او نه به سی پوښتيدلی له ګناهونو خپلو څخه

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۷۸﴾ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ فِيْ زِيْنَتِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	قَالَ	فِيْ زِيْنَتِهٖ	قَوْمِهٖ	عَلٰى	فَخَرَجَ	الْمُجْرِمُوْنَ
هغو کسانو	وويل	په زينت بنائست کښې	قوم خپل	پر	پس راووت	کافران

کافران. پس راووت (قارون) پر قوم خپل په زينت بنائست کښې (او د خپل) وويل هغو کسانو

يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ

مِثْلَ	لَنَا	يٰلَيْتَ	الدُّنْيَا	الْحَيٰوةَ	يُرِيْدُوْنَ
په شان د هغو	موږ ته هم	ای کاشکی چې وی	د دنيا	د ژوندون	چې غوښتې يې

چې غوښتې يې دغه ژوندون د دنيا ای کاشکی چې وی موږ ته هم (له ثروته) په شان د هغو (اموالو اتباعو)

مَآ اُوْتِيَ قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۷۹﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	وَقَالَ	عَظِيْمٍ	حَظٍّ	لَذُوْ	اِنَّهٗ	قَارُوْنُ	مَآ اُوْتِيَ
هغو کسانو	او وويل (دوی ته)	لوئی	د برخې	خامخا خاوند دی	بيشکه! چې دغه	قارون ته	چې ورکړې سوی دی

چې ورکړې سوی دی قارون ته بيشکه! چې دغه (قارون) خامخا خاوند دی د برخې لوئی. او وويل (دوی ته) هغو کسانو

اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ... قارون د مال حاصلول د خپل ځان ذاتي کمال وګڼي ځيني مفسرين فرمايي چې دلته د علم څخه مراد علم د تورات دی لکه چې په ځينو روايتونو کي دي چې قارون د تورات حافظ او عالم وو او په هغو اويا کسانو کي وو کم چي حضرت موسی علیه السلام د ميقات د پاره منتخب د پاره فرمايلي وه مګر د ته په دي د خپل علم باندي ناز او غرور پيدا سو دا يي خپل ذاتي کمال وګڼی او د ده دي کلام مطلب دا وو چي ماته څه مال او دولت راکول سوی دی دا زما دخپل ذاتي علمي کمال په سبب سره دی په دي وجه زه ددي په خپله حقدار يم په دي کي پر ما د چا څه احسان نسته مګر ظاهره ده چي دلته د علم څخه مراد د معاشي تدبيرونو علم دی مثلا تجارت صنعت وغيره په کمو سره چي مال حاصليږي او مطلب دا دی چي ماته کم مال حاصل سوی دی په دي کي د الله جل جلاله د احسان څه دخل دی دا خو ما په خپله هوښياري او کاريګري سره حاصل کړی دی او جاهل دا نه ګڼله چي دا هوښياري او کاريګري د ده ته چا ورکړې ده.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۸۱)

أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ

أُوتُوا	الْعِلْمَ	وَيْلَكُمْ	ثَوَابُ	اللّٰهِ	خَيْرٌ	لِّمَنْ
چې ورکړی سوی ؤ	علم ، فهم	چې افسوس دی تاسی ته	ثواب	د الله	خیر ډیر غوره دی	هغه چاته

چې ورکړی سوی ؤ (هغوی ته) علم فهم چې افسوس دی تاسی ته (ای طلابو د دنیا) ثواب د الله خیر ډیر غوره دی هغه چاته

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ﴿۸۰﴾

اٰمَنَ	وَعَمِلَ	صَالِحًا	وَلَا يُلَقّٰهَآ	اِلَّا	الصّٰبِرُوْنَ
چې ایمان یې راوړی دی	او عمل یې کړی دی	د نیکو	او نسی ښوولی ورکولی دغه (خصلت)	مګر	صبر کوونکو ته

چې ایمان یې راوړی دی (په الله او رسول الله) او عمل یې کړی دی د نیکو ، او نسی ښوولی ورکولی دغه مګر صبر کوونکو ته

فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ الْاَرْضَ ۚ فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ

فَخَسَفْنَا	بِهٖ	وَبِدَارِهِ	الْاَرْضَ	فَمَا كَانَ	لَهٗ	مِنْ فِئَةٍ
پس ننه ایستو موږ	دغه (قارون)	او کور د ده	په مځکه کښې	پس نه وه	ده ته	هیڅ ډله (د دوستانو)

پس ننه ایستو موږ دغه (قارون) او کور د ده په مځکه کښې پس نه ؤ ده ته (په دغه وخت کښې) هیڅ ډله (د دوستانو)

يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿۸۱﴾

يَّنْصُرُوْنَهٗ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	وَمَا كَانَ	مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ
چې مدد ګاری یې کړی وی له ده سره	غیر له	الله څخه	او نه ؤ	له بدل اخیستونکو څخه

چې مدد ګاری یې کړی وی له ده سره غیر له الله څخه (په دفع د عذاب کښې) او نه ؤ له بدل اخیستونکو څخه

وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ

وَاَصْبَحَ	الَّذِيْنَ	تَمَنَّوْا	مَكَانَهٗ	بِالْاَمْسِ	يَقُوْلُوْنَ
او سهار کړ	هغو کسانو	چې آرزو به یې کوله	د مرتبې د دغه (قارون)	په پرون (ماښام) کښې	ویل به یې (یو بل ته)

او سهار کړ هغو کسانو چې آرزو به یې کوله د مرتبې د دغه (قارون) په پرون (ماښام) کښې ویل به یې (یو بل ته)

وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ

وَيْكَاَنَّ	اللّٰهَ	يَبْسُطُ	الرِّزْقَ	لِمَنْ يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ
افسوس دی تاته ، بیشکه!	الله	پراخوی	رزق ، روزی	هر هغه چاته چې اراده وفرمائی	له بندګانو خپلو

افسوس دی تاته پوه سه! چې بیشکه! الله پراخوی رزق ، روزی هر هغه چاته چې اراده وفرمائی له بندګانو خپلو

أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ د دنیا مال او اسباب اراده او مقصود جوړول د اهل علمو کار نه دی: اتفاقا یوه ورځ قارون په خپل ډول او شو اوشان سره د خپلو خپلوانو په مخکې راووتی کم خلګ چې د ده په خپلوانو کې د دنیا طالبان وه که څه هم مومنان وه دوی وویل چې څه ښه به وای که موږ ته هم هغه سامان او اسباب راکول سوي وای کم چې قارون ته ورکول سوي دي واقعي هغه لوی د نصیب خاوند دی دا ارزو د دوی د حرص وه په دې سره کافروالی نه لازمیږي لکه اوس هم ځیني مسلمانان سره د اسلامه شپه او ورځ د نورو قومونو ترقيویني قصد او رشک یې وي ورته او فکریې کوي او کمو خلګو ته چې د دین پوه ورکول سوې وه هغوی دې حریصانو ته وویل لیري ورک سی تاسي په دې دنیا پسې ولې ځی د الله ﷻ د کور ثواب د دې دنیا د جاه او جلال څخه په زر درجې ښه دی کم چې داسي سړي ته ورکول کیږي چې ایمان راوړي او نیک عمل کوي هغو ته به په مکمله توګه ثواب او اجر ورکول کیږي او کمی به نه وي په کښې. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۷۷)

وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ

وَيَقْدِرُ	لَوْلَآ اَنْ	مَّنَّ	اللّٰهُ	عَلَيْنَا	لَخَسَفَ	بِنَا
او تنګوی	که چیرې نه وی دا چې	احسان کړی دی	الله	پر موږ	خامخا ډوب کړی به يئ وو په مځکه کښې	موږ

او تنګوی، که چیرې نه وی دا چې احسان کړی دی الله پر موږ نو خامخا ډوب کړی به يئ وو موږ په مځکه کښې

وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٢﴾ تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا

وَيْكَاَنَّهٗ	لَا يُفْلِحُ	الْكٰفِرُوْنَ	تِلْكَ	الدَّارُ	الْاٰخِرَةُ	نَجْعَلُهَا
افسوس دی بيشکه!	نه خلاصيږی	کافران (له عذابه)	دغه	کور	دآخرت (چې جنت دی)	ورکوو موږ دا

افسوس دی بيشکه! نه وينی دا چې نه خلاصيږی کافران (له عذابه). دغه کور د آخرت (چې جنت دی) ورکوو موږ دا

ع ٨

لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِى الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ

لِلَّذِيْنَ	لَا يُرِيْدُوْنَ	عُلُوًّا	فِى الْاَرْضِ	وَلَا فَسَادًا
لپاره دهغو کسانو	چې نه لری اراده	دلوئی (تکبر)	په مځکه کښې	او نه فساد، ظلم کوی

دپاره د هغو کسانو چې نه لری اراده د لوئی (او تکبر) په مځکه کښې او نه فساد ظلم کوی (پر خلګو)

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٨٣﴾ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ

وَالْعَاقِبَةُ	لِلْمُتَّقِيْنَ	مَنْ جَآءَ	بِالْحَسَنَةِ	فَلَهٗ	خَيْرٌ
او ښه خاتمه	دپاره د پرهيزګارانو ده	او هرچا چې وکړه	کومه نيکی	پس سته ده ته	خير غوره

او عاقبت ښه خاتمه دپاره د پرهيزګارانو ده. او هر چا چې وکړه کومه نيکی پس سته ده ته (ښه جزاء) خير غوره

مِّنْهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِيْنَ عَمِلُوا

مِّنْهَا	وَمَنْ جَآءَ	بِالسَّيِّئَةِ	فَلَا يُجْزَى	الَّذِيْنَ	عَمِلُوا
له جهته د دغې (حسنی)	او هر چا چې وکړه	کومه بدی	پس نسی ورکولی جزاء	هغو کسانو ته	چې کړی يئ دی (عمل د)

له جهته د دغې (حسنی) او هر چا چې وکړه کومه بدی پس نسی ورکولی جزاء هغو کسانو ته چې کړی يئ دی (عمل د)

السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ اِنَّ الَّذِىْ

السَّيِّاٰتِ	اِلَّا	مَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	اِنَّ	الَّذِىْ
بديو	مګر	دهغه شی چې وُ دوی	چې کاوه به يئ (په دنيا کښی)	بيشکه!	هغه (الله) چې

بديو مګر (جزاء د هغه شی) چې وُ دوی چې کاوه به ئې (په دنيا کښی). بيشکه! هغه (الله) چې

لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِى الْاَرْضِ.. داخرت کور دهغه چا دی چې په مځکه کي د فساد او لويي اراده نه لري: په دغه ايت کي الله ﷻ فرمايي چي د دارآخرت نجات او فلاح يي صرف دهغه خلګو دپاره مخصوصه فرمايلې ده کم چي په مځکه کي دلويي او فساد اراده نه کوي: دعلو څخه مراد تکبر دی يعني خپل ځان دنورو څخه لوی جوړول او دنورو دسپک ګڼلو فکر کول: او دفساد څخه مراد پر خلګو ظلم کول دي. او ځيني مفسرين بيا فرمايي چي هر معصيت فساد فی الارض دی ځکه چي دګناه په وبال سره د دنيا په برکت کي کمی راځي ددې آيت څخه معلومه سوه چي کم خلګ دتکبر او ظلم يا دمطلق معصيت اراده وکي دهغوی په آخرت کي حصه نسته. يوه اهمه فائده: تکبر دکم حرمت او وبال چي په دې آيت کي ذکر سوی دی داهغه دی چي پر خلګو فخر او ددوی سپکوالي مقصود وي کنه نو دځان دپاره دښه لباس، ښه خوراک،، ښه مکان انتظام کله چي دا پر نورو دفخر دپاره نه وي بد نه دي لکه چي په حديث شريف کي ددې وضاحت راغلی دی. (معارف القرآن ج٧ پ٢٠ ص ٨٣)

فَرَضَ عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ؕ قُلۡ

فَرَضَ	عَلَيۡكَ	الۡقُرۡاٰنَ	لَرَآدُّكَ	اِلٰى	مَعَادٍ	قُلۡ
فرض کړی یئ دی	پر تا	(احکام د) قرآن	خامخا بیرته بیوونکی دی ستا	هغه	ځای د وعدی ته	ووايه (محمده)

فرض (نازل) کړی یئ دی پر تا (احکام د) قرآن خامخا بیرته بیوونکی دی ستا هغه ځای د وعدی (مکی) ته ووايه (محمده)

رَّبِّیۡۤ اَعۡلَمُ مَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰى وَمَنۡ هُوَ فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۸۵﴾

رَّبِّیۡۤ	اَعۡلَمُ	مَنۡ جَآءَ	بِالۡهُدٰى	وَمَنۡ	هُوَ	فِیۡ ضَلٰلٍ	مُّبِيۡنٍ
چی رب زما ته	ښه معلوم دی	هغه څوک چی راوړی یئ ده	لاره سمه	او هغه څوک چی	هغه	په ګمراهی	ښکاره کښی دی

چی رب زما ته ښه معلوم دی هغه څوک چی راوړی یئ ده لاره سمه او هغه څوک چی هغه په ګمراهی ښکاره کښی دی .

وَمَا كُنۡتَ تَرۡجُوۡۤا اَنۡ يُّلۡقٰٓى اِلَيۡكَ الۡكِتٰبُ اِلَّا

وَمَا كُنۡتَ	تَرۡجُوۡۤا	اَنۡ يُّلۡقٰٓى	اِلَيۡكَ	الۡكِتٰبُ	اِلَّا
او نه وی ته	چی توقع ، امید دی درلود	ددی چی راوبه لیږلی سی	تاته	کتاب (قرآن)	لیکن

او نه وی ته چی توقع امید دی درلود (لرلو) د دی چی راوبه لیږلی سی تاته کتاب (قرآن) لیکن (راولیږلی سو محض)

رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوۡنَنَّ ظَهِيۡرًا لِّلۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۸۶﴾

رَحۡمَةً	مِّنۡ رَّبِّكَ	فَلَا تَكُوۡنَنَّ	ظَهِيۡرًا	لِّلۡكٰفِرِيۡنَ
په مهربانی	له (جانبه) د رب ستا	پس مه کیږه ته خامخا	مددګار	دپاره د کافرانو

په رحمت مهربانی له (جانبه) د رب ستا ، پس مه کیږه ته خامخا مددګار دپاره د کافرانو (په دین د دوی کښی).

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعۡدَ اِذۡ اُنۡزِلَتۡ اِلَيۡكَ

وَلَا يَصُدُّنَّكَ	عَنۡ اٰيٰتِ	اللّٰهِ	بَعۡدَ	اِذۡ اُنۡزِلَتۡ	اِلَيۡكَ
او چی وادی نه ړوی (کفار) خامخا تا	له آیاتونو	دالله	پس له	هغه چی نازل کړل سول	تاته

او (خبردار) چی وادی نه ړوی (کفار) خامخا تا (په مکر او فریب) له آیاتونو دالله پس له هغه چی نازل کړل سول تاته

وَادۡعُ اِلٰى رَبِّكَ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۸۷﴾ وَلَا تَدۡعُ

وَادۡعُ	اِلٰى رَبِّكَ	وَلَا تَكُوۡنَنَّ	مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ	وَلَا تَدۡعُ
او وبوله خلګ	رب خپل ته	او مه کیږه ته خامخا	له مشرکانو څخه	او مه بوله ته

او وبوله خلګ (طرف د توحید او عبادت د) رب خپل ته او مه کیږه ته خامخا له مشرکانو څخه. او مه بوله ته

فَرَضَ عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ. مکي مکرمې تـه دنبي کريم ﷺ ديرتـه ستانه کولو زيرى او خوشخبري ارشاد مبارک دى چي کم ذات پر تـا قـرآن فـرض کـړى دى يعني ددي تلاوت او تبليغ او په دې عمل کول يي پر تا فرض کړي دي هغه ذات بـه تاببا معـاد تـه واپـس کـړي : دميعاد څخه مراد مکه مکرمه ده لکه چي په روايت کي دابن عباس ﷺ چـي راغلـي دي: مطلـب دادى چي کـه دڅـو ورځـو دپاره تاته خپل خوږ وطن خـاص بيـا حـرم شـريف او بيت الله شـريفه پريښـوول پـيښ سـول مګـر دقـرآن نــازلولونکى او پــه دې دعمـل فــرض کــوونکي خداى تعالى بـه اخر تـا بيا مکـي مکرمـي تـه واپـس راولـي روايت کي راځي چي نبي کريم ﷺ دهجرت په وخت کي دغار ثور څخه دشپې په وخت کې ووتى او دمکـي مکرمـي څخـه مدينې منورې تـه تلونکې معلومـه لار يـي پريښـووله او پـر نـورو لارو يـي سفر وکـړ ځکـه چي دښمن يي پـه تعاقـب کي وو نـو هغه ووچـي نظـر يـي دمکـې مکرمـي پـر لاره ولګيـدى نـو کعبـه شـريفه او وطـن وريـه يـاد سـوه دغـه وخت دغـه آيـت نـازل سـو الـخ. (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۸۶)

مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ ۘ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۟ كُلُّ شَیْءٍ


كُلُّ شَیْءٍ	هُوَ	اِلَّا	لَاۤ اِلٰهَ	اٰخَرَ	اِلٰـهًا	مَعَ اللّٰهِ
هر شی	هم دی (الله) دی	مگر	نشته هیڅ لائق د عبادت بل هیڅوک	بل	معبود	له الله سره

له الله سره معبود بل (څکه چې) نشته هیڅ لائق د بللو بل هیڅوک مگر هم دی دی (یوازې څکه چې) هر شی

هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ؕ لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۸۸

تُرْجَعُوْنَ	وَاِلَیْهِ	لَهُ الْحُكْمُ	وَجْهَهٗ	اِلَّا	هَالِكٌ
بیرته بوتلی سئ تاسی	او هم ده ته به	هم ده ته دی حکم	ذات د ده	مگر	فانی کیدونکی دی

فانی کیدونکی دی مگر ذات د ده (چې تل باقی دی)، هم ده ته دی حکم او هم ده ته به بیرته بوتلی سئ تاسی .



ایاتونه ۶۹ | ۲۹ سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتِ مَكِّيَّةٌ ۸۵ | رکوعې ۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمّٓ ۚ ۱ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ یُّتْرَكُوْۤا اَنْ یَّقُوْلُوْۤا

اَنْ یَّقُوْلُوْۤا	اَنْ یُّتْرَكُوْۤا	النَّاسُ	اَحَسِبَ	الٓمّٓ
چې وایئ دوی	دی چې پری به ښودل سی دوی	دا خلک	آیا گمان کوی	الف، لام، میم

الف، لام، میم. آیا گمان کوی دا خلک د دی چې پری به ښودی سی دوی (په) هم دی قدر چې وایئ دوی

اٰمَنَّا وَهُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ ۲ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِیْنَ مِنْ

مِنْ	الَّذِیْنَ	فَتَنَّا	وَلَقَدْ	لَا یُفْتَنُوْنَ	وَهُمْ	اٰمَنَّا
چې له	هغه کسان	ازمویلی ؤ موږ	او خامخا په تحقیق	و نه ازمویل سی	حال دا چې دوی به	چې ایمان راوړی دی موږ

چې ایمان راوړی دی موږ حال دا چې دوی به و نه ازمویل سی. او خامخا په تحقیق ازمویلی ؤ موږ هغه کسان چې له

قَبْلِهِمْ فَلَیَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِیْنَ صَدَقُوْا وَلَیَعْلَمَنَّ

وَلَیَعْلَمَنَّ	صَدَقُوْا	الَّذِیْنَ	اللّٰهُ	فَلَیَعْلَمَنَّ	قَبْلِهِمْ
او خامخا معلوم به کړی هرومرو	چې رښتینی دی	هغه کسان	الله	پس خامخا معلوم به کړی هرومرو	دوی څخه مخکښی ؤ

دوی څخه مخکښی ؤ، پس خامخا معلوم به کړی هرومرو الله هغه کسان چې رښتینی دی او خامخا معلوم به کړی الله هرومرو

اَنْ یُّتْرَكُوْۤا اَنْ یَّقُوْلُوْۤا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ... انبیاء علیهم السلام او صالحان په دنیا کې د مختلفو تکالیفو سره مخ کیږي:
وهم لایفتنون د فتنې څخه مشتق دی چې معنی یې ازمایش ده: ایماندارانو او خاص بیا انبیاء علیهم السلام او صالحین په دنیا کې د مختلف قسم ازمایشونو څخه تیریږي بیا آخر فتح او کامیابي د دوی وي د ازمایشونه د مخالفینو په ذریعه وي لکه چې اکثرو پیغمبرانو او خاتم الانبیاء ﷺ او د دوی اصحابو ته اکثر وریښ سوي دي د کمو چې بې شمیره واقعات د سیرت او تاریخ په کتابونو کې ذکر دي او کله د ازمایشونه د مرضونو او نور قسم تکلیفونو په ذریعه وي لکه چې حضرت ایوب علیه السلام ته وریښ سول او دغه د دواړه دا دواړه قسمونه جمع کیدای هم سي: د دې آیت شان نزول که څه هم د روایتونو په روسره هغه صحابه دي کم چې مدینې منورې ته د هجرت په وخت کې د کفارو د لاسه ازار سوي وه مگر مراد یې عام دی په هره زمانه کې عالمانو، صالحانو، او اولیاوو د امت ته مختلف قسم ازمایشونه وریښیږي.
(معارف القرآن ج۷ پ ۲۰ ص ۸۹)

الْكٰذِبِيْنَ ③ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ

الْكٰذِبِيْنَ	اَمْ حَسِبَ	الَّذِيْنَ	يَعْمَلُوْنَ	السَّيِّاٰتِ
دروغجنان	آیا گمان کوی	هغه کسان	چې عمل کوی دوی	دبدیو

دروغجنان (په علم ظاهری سره هم). آیا گمان کوی هغه کسان چې عمل کوی دوی د بدیو (لکه شرک او معاصی)

اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ④ مَنْ كَانَ يَرْجُوْا

اَنْ يَّسْبِقُوْنَا	سَآءَ	مَا يَحْكُمُوْنَ	مَنْ كَانَ	يَرْجُوْا
د دی چې مخکی به سی دوی پر موږ	بد دی	هغه حکم چې کوی یئ دوی	هر څوک چې وی	چې امید لری دی

د دی چې مخکی به سی دوی پر موږ، بد دی هغه حکم چې کوی یئ دوی. هر څوک چې وی چې امید لری دی

لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ

لِقَآءَ	اللّٰهِ	فَاِنَّ	اَجَلَ	اللّٰهِ	لَاٰتٍ	وَهُوَ	السَّمِيْعُ
دملاقات	دالله	پس بیشکه!	نیته د (ملاقات د)	الله	خامخا راتلونکی ده	او هم دی	ښه اوریدونکی

دملاقات دالله (په جنت کښې) پس بیشکه! اجل نیته د (ملاقات د) الله خامخا راتلونکی ده او هم دی ښه اوریدونکی دی

الْعَلِيْمُ ⑤ وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

الْعَلِيْمُ	وَمَنْ	جَاهَدَ	فَاِنَّمَا	يُجَاهِدُ	لِنَفْسِهٖ	اِنَّ	اللّٰهَ
ښه عالم دی	او هر څوک چې	جهاد کوی	پس بیشکه! هم داخبره ده	چې جهاد کوی	لپاره د نفس خپل	بیشکه! چې	الله

ښه عالم دی. او هر څوک چې جهاد کوی پس بیشکه! هم داخبره ده چې جهاد کوی دپاره (دنفعی) د نفس خپل بیشکه! چې الله

لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ⑥ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

لَغَنِيٌّ	عَنِ الْعٰلَمِيْنَ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ
خامخاغنی، بی پروا دی	له ټولو مخلوقاتو څخه	او هغه کسان	چې ایمان یئ راوړی دی	او کړی یئ دی	ښه (عملونه)

خامخا غنی بی پروا دی له ټولو عالمیانو څخه. او هغه کسان چې ایمان یئ راوړی دی او کړی یئ دی ښه (عملونه)

لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَحْسَنَ

لَنُكَفِّرَنَّ	عَنْهُمْ	سَيِّاٰتِهِمْ	وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ	اَحْسَنَ
خامخا وبه رژوو موږ هرومرو	له دوی څخه	گناهونه د دوی	او خامخا جزاء به ورکړو موږ هرومرو دوی ته	ښه جزاء

خامخا وبه رژوو موږ هرومرو له دوی څخه گناهونه د دوی او خامخا جزاء به ورکړو موږ هرومرو دوی ته ښه جزاء

الْكٰذِبِيْنَ ③ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ. دامتحاناتو مقصد دمخلص او غیر مخلص فرق ښکاره کول دي

الله ﷻ فرمايي چي موږ په خپل مخلوقاتو باندي امتحان كوو ددې دپاره چي ددغه امتحان په ذريعه سره مخلص او غير مخلص په نيكو او بدو كي فرق كوو ځكه چي دمخلصينو سره دمنافقانو خلط ملط ځيني وخت ډير نقصان رسوي: مقصد ددې آيت دنيک او بد مخلص او غير مخلص فرق واضح كوي كم چي يي داسي تعبير فرمايلی دی چي الله ﷻ وپيژني صادقان اودرواغجنان :الله ﷻ ته خو دهر انسان صادق كيدل يا درواغجن كيدل دده دپيدا كيدو څخه مخكي هم معلوم دي په ازمايښتونو او امتحانونو سره يي دمعلومولو معنى داده چي دا فرق نورو ته هم ظاهر سي: ځيني وخت دعوامو دعلم درجه راكښته كړي عام انسانان په مخلص او منافق كي فرق دازمايش په ذريعه معلوموي د دوی دمذاق مطابق الله ﷻ فرمايي چي ددې امتحانو په ذريعه موږ معلوموچي كم مخلص دی نو كم نه دی.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۹۰)

الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ⑦ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ

الَّذِيْ	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَوَصَّيْنَا	الْاِنْسَانَ
دهغه (عمل)	چي وو دوی	چي کاوه به يې	او (مؤكد) امر كړى دى موږ	پر انسان

دهغه (عمل) چي وو دوی چي کاوه به يې (په اسلام کښې). او (مؤكد) امر كړى دى موږ پر انسان

بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ۚ وَاِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ بِيْ مَا

بِوَالِدَيْهِ	حُسْنًا	وَاِنْ	جَاهَدٰكَ	لِتُشْرِكَ	بِيْ	مَا
له مور، پلار خپل سره يې	دنيكى	او كه	كوښښ كوي (دوى دواړه)	له تاسره چي شريک ونيسى ته	له ما سره	هغه شي

له مور پلار خپل سره يې دنيكى ، او كه كوښښ كوي (دوى دواړه) له تاسره چي شريک ونيسى ته له ما سره هغه شي

لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۚ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ

لَيْسَ	لَكَ	بِهٖ	عِلْمٌ	فَلَا تُطِعْهُمَا	اِلَيَّ	مَرْجِعُكُمْ
چي نسته	تاته	په هغه کښى	هيڅ علم	پس اطاعت مه كوه ته د دوى (دواړو)	خاص ماته دى	بيا راتله ستاسى

چي نسته تاته په (الوهيت) د هغه كښى هيڅ علم پس اطاعت مه كوه ته د دوى (دواړو) ،خاص ماته دى بيا راتله ستاسى

فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑧ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

فَاُنَبِّئُكُمْ	بِمَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
پس خبر به كړم زه تاسى	پر هغو چي وئ تاسى	چي كول به مو	او هغه كسان	چي ايمان يې راوړى دى	او كړي يې دى

پس خبر به كړم زه تاسى پر هغو (اعمالو) چي وئ تاسى چي كول به مو . او هغه كسان چي ايمان يې راوړى دى او كړي يې دى

الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ⑨ وَمِنَ

الصّٰلِحٰتِ	لَنُدْخِلَنَّهُمْ	فِي الصّٰلِحِيْنَ	وَمِنَ
ښه (عملونه)	خامخا داخل به كړو موږ هرومرو دوى	په (جماعت) دصالحانو كښى	او ځينى له

ښه (عملونه) خامخا داخل به كړو موږ هرومرو دوى په (جماعت) د صالحانو كښى (چي انبياء او اولياء دى) . او ځينى له

النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ

النَّاسِ	مَنْ يَّقُوْلُ	اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ	فَاِذَآ	اُوْذِيَ
خلكو څخه	هغه څوک دى چي وايئ	ايمان راوړى دى موږ	په الله باندى	پس كله چي	سختي ورسوله سى ده ته

خلكو څخه هغه څوک دى چي وايئ (تش په خوله) ايمان راوړى دى موږ (هم) په الله باندى پس كله چي سختي ورسوله سى ده ته

وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ۚ. وانسان ته دمور او پلار سره دښه سلوک حکم او وصيت: وصيت ديو داسي كار طرف ته بلني ته وايي كله چي هغه بلل پر نصيحت او خير خواهي باندي مبني وي يعني الله جل جلاله انسان ته داوصيت فرمايي چي دخپل مور او پلار سره ښه سلوک كوي. وان جاهداک لتشرک بی ما ليس لک به علم يعني دمور او پلار سره دښه سلوک كولو سره سره داهم ضروري ده چي ددوى دحکم اطاعت تر هغه حده پوري كول كيږي چي هغه حکم دالله جل جلاله خلاف نه وي هغوى كه اولاد پر كفر او شرک مجبوره كوي نو په دي كي به ددوى اطاعت نه كول كيږي لكه په حديث شريف كي چي راغلي دي: لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق يعني دخالق په نافرماني كي دچا مخلوق فرمانبرداري نه ده جائز. داآيت دحضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه په باره كي نازل سوى دى دى په هغه لسو صحابه كرامو رضي الله عنهم كي شامل دى كمو ته چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم پر دي دنيا دجنتي كيدو خوشخبري وركړيده الخ. پاته بيان پر راروان مخ وگورى:

فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ۭ وَلَىِٕنْ جَآءَ

جَآءَ	وَلَىِٕنْ	اللّٰهِ	كَعَذَابِ	النَّاسِ	فِتْنَةَ	جَعَلَ	فِي اللّٰهِ
که چیری راسی	او قسم دی	دالله	په شان د عذاب	دخلکو	فتنه ، سختی	نو وګرځوی	په (لاره) دالله کښی

په (لاره) د الله کښی نو وګرځوی فتنه سختی خپګان دخلکو (او شمیرئی) په شان د عذاب دالله ، او قسم دی که چیری راسی

نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۭ

مَعَكُمْ	كُنَّا	اِنَّا	لَيَقُوْلُنَّ	مِّنْ رَّبِّكَ	نَصْرٌ
له تاسی سره	یو	بیشکه موږ	نو خامخا وبه وایئ دغه (منافقان) هرومرو	له (طرفه) درب ستا	مددګاری

مددګاری (دمؤمنانو) له (طرفه) د رب ستا نو خامخا وبه وایئ دغه (منافقان) هرومرو بیشکه! موږ (هم) یو له تاسی سره

اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۰

الْعٰلَمِيْنَ	فِيْ صُدُوْرِ	بِمَا	بِاَعْلَمَ	اللّٰهُ	اَوَلَيْسَ
دمخلوقاتو کښی دی	چی په سینو	په هغه	ښه عالم	الله	آیا نه دی

(وفرمایل الله) آیا نه دی الله ښه عالم په هغه (اخلاص اونفاق) چی په سینو زړونو دعالمیانو کښی (پټ) دی

وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ۝۱۱

الْمُنٰفِقِيْنَ	وَلَيَعْلَمَنَّ	اٰمَنُوْا	الَّذِيْنَ	اللّٰهُ	وَلَيَعْلَمَنَّ
منافقان	او خامخا معلوم دی هرومرو (اللّٰه ته)	چی ایمان یئ راوړی دی	هغه خوک	اللّٰه ته	او خامخا معلوم دی هرومرو

او خامخا معلوم دی هرومرو اللّٰه ته هغه خوک چی ایمان یئ راوړی دی او خامخا معلوم دی هرومرو (اللّٰه ته) منافقان .

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا

سَبِيْلَنَا	اتَّبِعُوْا	اٰمَنُوا	لِلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	الَّذِيْنَ	وَقَالَ
دلاری زموږ	متابعت وکړئ تاسی	چی ایمان یئ راوړی دی	هغو کسانو ته	چی کافران سوی دی	هغه کسان	او وایئ

او وایئ هغه کسان چی کافران سوی دی هغو کسانو ته چی ایمان یئ راوړی دی متابعت وکړئ تاسی دلاری زموږ (په دنیاکی)

وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ۭ وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ مِنْ خَطٰيٰهُمْ

مِنْ خَطٰيٰهُمْ	بِحٰمِلِيْنَ	وَمَا هُمْ	خَطٰيٰكُمْ	وَلْنَحْمِلْ
له ګناهونو د دوی	اخیستونکی	حال دا چی نه دی دوی	ګناهونه ستاسی	او ښایئ باربه کړو

او ښایئ باربه کړو (پرځانونو) ګناهونه ستاسی ، حال دا چی نه دی دوی (پخپل ځان) اخیستونکی له ګناهونو د دوی

وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ ..دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: دغه لسو صحابه کرامو ﷺ ته عشره مبشره وایي حضرت سعد ابن ابی وقاص ﷺ دخپلي مور ډیر فرمانبردار وو او هغي ته په راحت رسولو کي ډیر دلچسپ وو دده مور حمنة بنت ابی سفیان ته چي کله دا معلومه سوه چي ددي زوی سعد ﷺ مسلمان سوی دی نو دي خپل زوی ته خبرداری ورکی او قسم یي واخیستی چي زه به تر هغه پوري خوراک او چیښاک ونه کړم تر څو پوري چي ته بیا دخپل پلار او نیکه دین اختیاره نه کړي او یا زه دغه رکم دلوږي او تندي څخه مره نه سم او په ټوله دنیا کي به دهمیشه دپاره دارسوایي ستا په سر پاته سي چي ته دخپلي مور قاتل یي: دبغوي په روایت کي دي چي دحضرت سعد ابن ابی وقاص ﷺ مور یوه شپه او ورځ یا دري شپي او دري ورځي دخپل قسم مطابق وږي تږي وه حضرت سعد ورته حاضر سو وي فرمایل چي موري که ستا په بدن کي سل روحونه وي او یو یو وزي نو به هم زه خپل دین نه پریږدم نور ستا خوښه ده. (معارف القرآن ج۷ پ ۲۰ ص ۹۲)

مِّنۡ شَیۡءٍ ؕ اِنَّهُمۡ لَکٰذِبُوۡنَ ﴿۱۲﴾ وَلَیَحۡمِلُنَّ اَثۡقَالَهُمۡ

مِّنۡ شَیۡءٍ	اِنَّهُمۡ	لَکٰذِبُوۡنَ	وَلَیَحۡمِلُنَّ	اَثۡقَالَهُمۡ
دهیڅ شی	بیشکه! دوی	خامخا دروغجنان دی	او خامخا باربه کړی هرومرو	بارونه درانه دګناهو خپلو

دهیڅ شی بیشکه! دوی خامخا دروغجنان دی. او خامخا باربه کړی هرومرو (دغه کفار) بارونه درانه دګناهو خپلو

وَاَثۡقَالًا مَّعَ اَثۡقَالِهِمۡ ۫ وَلَیُسۡـَٔلُنَّ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ

وَاَثۡقَالًا	مَّعَ اَثۡقَالِهِمۡ	وَلَیُسۡـَٔلُنَّ	یَوۡمَ	الۡقِیٰمَةِ
او نور درانه بارونه هم	سره له بارونو درنو دګناهونو خپلو	او خامخا وبه پوښتیدلی سی دوی هرومرو	په ورځ	دقیامت کښی

او نور درانه بارونه هم سره له بارونو درنو دګناهونو خپلو، او خامخا وبه پوښتیدلی سی دوی هرومرو په ورځ دقیامت کښی

عَمَّا کَانُوۡا یَفۡتَرُوۡنَ ﴿۱۳﴾ ع وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰی قَوۡمِهٖ

ع ۱ ۱۳ ۱۳

عَمَّا	کَانُوۡا	یَفۡتَرُوۡنَ	وَلَقَدۡ	اَرۡسَلۡنَا	نُوۡحًا	اِلٰی قَوۡمِهٖ
له هغو	چي وو دوی	چی له ځانه به یئ جوړولی	او خامخا په تحقیق	لیږلی ؤ موږ	نوح	قوم د ده ته

له هغو (دروغو) چي وو دوی چی له ځانه به یئ جوړول (په الله او په رسول). او خامخا په تحقیق لیږلی ؤ موږ نوح قوم د ده ته

فَلَبِثَ فِیۡهِمۡ اَلۡفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمۡسِیۡنَ عَامًا ؕ

فَلَبِثَ	فِیۡهِمۡ	اَلۡفَ	سَنَةٍ	اِلَّا	خَمۡسِیۡنَ	عَامًا
پس مدت یئ تیر کړی	په دوی کښی	زر	کاله	مګر	پنځوس	کاله

پس مدت یئ تیر کړی په دوی کښی زر کاله (دپاره دتبلیغ او دعوت حق ته) مګر پنځوس کاله (کم له زرو څخه)

فَاَخَذَهُمُ الطُّوۡفَانُ وَهُمۡ ظٰلِمُوۡنَ ﴿۱۴﴾ فَاَنۡجَیۡنٰهُ

فَاَخَذَهُمُ	الطُّوۡفَانُ	وَهُمۡ	ظٰلِمُوۡنَ	فَاَنۡجَیۡنٰهُ
پس ونیول دوی	طوفان	حال دا چې دوی	ظالمان ؤ	پس نجات ورکړ موږ ده ته

(نو تکذیب یئ وکړ) پس ونیول دوی طوفان (ډیرو اوبو نو غرق سول) حال دا چی دوی ظالمان ؤ. پس نجات ورکړ موږ ده ته

وَاَصۡحٰبَ السَّفِیۡنَةِ وَجَعَلۡنٰهَاۤ اٰیَةً لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۵﴾

وَاَصۡحٰبَ	السَّفِیۡنَةِ	وَجَعَلۡنٰهَاۤ	اٰیَةً	لِّلۡعٰلَمِیۡنَ
او خاوندانو	دکشتی (ته)	او وګرځوله موږ دغه	نښه (دقدرت)	مخلوقاتو ته

او خاوندانو دکشتی (ته)، او وګرځوله موږ دغه (کشتی یا قصه یوه لویه) نښه (دقدرت او عبرت) عالمیانو ته.

وَلَیَحۡمِلُنَّ اَثۡقَالَهُمۡ وَاَثۡقَالًا مَّعَ اَثۡقَالِهِمۡ.
دګناه دعوت ورکوونکی هم ګناهګار دی: ددې ایت څخه معلومه سوه چي کم سړی دبل چا په ګناه کي داخته کولو تحریک کوي یا په ګناه کي دده کومک او مدد کوي هغه هم داسي مجرم دی لکه څنګه چي داګناه کوونکی دی: په یو حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي کم سړی چي دهدایت طرف ته خلګ بولي نو څومره خلګ چي دده ددعوت په وجه سره په هدایت عمل کوي ددې ټولو دعمل ثواب به ددې بلونکي په عملنامه کي ولیکل سي بغیر ددې څخه چي دعمل کوونکو په اجر کي دي څه کمی راسي. او کم سړی چي خلګ دګمراهی اوګناه طرف ته بولي نو څومره خلګ چي دده په ویناه په دغه ګناه او ګمراهی کي اخته سي ددغو ټول ګناه او وبال پر ده باندي دی بغیر ددې څخه چي ددغو خلګو په ګناه او دهغه په بوج کي دي کمی راسي. دغه حدیث شریف امام مسلم رحمة الله علیه په روایت د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه نقل کړی دی او په تفسیرقرطبي کي هم ذکر سوی دی: (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۹۴)

وَاِبۡرٰهِيۡمَ اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوۡهُ ؕ

وَاِبۡرٰهِيۡمَ	اِذۡ قَالَ	لِقَوۡمِهِ	اعۡبُدُوا	اللّٰهَ	وَاتَّقُوۡهُ
او ابراهيم	كله چې وى ويل	قوم خپل ته	چې عبادت كوئ تاسى	الله ته	او ويريږئ له ده

او (يادكړه قصه د) ابراهيم كله چې وى ويل قوم خپل ته چې عبادت كوئ تاسى الله ته او ويريږئ له (عذابه د) ده

ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا

ذٰلِكُمۡ	خَيۡرٌ لَّكُمۡ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	تَعۡلَمُوۡنَ	اِنَّمَا
دغه (عبادت)	غوره ده تاسى ته	كه چيرى يئ تاسى	چې پوهيږئ	بيشكه! هم داخبره ده

دغه (عبادت او ويره) غوره ده تاسى ته (له كفره) كه چيرى يئ تاسى چې پوهيږئ (په خير او شرخپل). بيشكه! هم داخبره ده

تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَوۡثَانًا وَّتَخۡلُقُوۡنَ اِفۡكًا ؕ اِنَّ

تَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	اَوۡثَانًا	وَّتَخۡلُقُوۡنَ	اِفۡكًا	اِنَّ
چې عبادت كوئ تاسى	غير له	الله	دبتانو	او جوړوئ	دروغ	بيشكه!

چې عبادت كوئ تاسى غير له الله د بتانو او جوړوئ دروغ (له خپله ځانه چې خدايان يئ بولئ) بيشكه!

الَّذِيۡنَ تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لَا يَمۡلِكُوۡنَ لَكُمۡ رِزۡقًا

الَّذِيۡنَ	تَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	لَا يَمۡلِكُوۡنَ	لَكُمۡ	رِزۡقًا
هغه كسان	چې عبادت يئ كوئ تاسى	بى له	الله څخه	نه دى مالكان دوى	تاسى ته	درزق

هغه كسان چې عبادت يئ كوئ تاسى بى له الله څخه نه دى مالكان دوى تاسى ته د رزق

فَابۡتَغُوۡا عِنۡدَ اللّٰهِ الرِّزۡقَ وَاعۡبُدُوۡهُ وَاشۡكُرُوۡا

فَابۡتَغُوۡا	عِنۡدَ اللّٰهِ	الرِّزۡقَ	وَاعۡبُدُوۡهُ	وَاشۡكُرُوۡا
پس طلب كړئ تاسى	په نزد دالله	رزق	او عبادت كوئ د هم هغه (الله)	او شكر وباسئ

پس طلب كړئ تاسى په نزد د الله رزق (چې قادر دى) او عبادت كوئ د هم هغه (الله يوازى) او شكر وباسئ

لَهٗ ؕ اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنۡ تُكَذِّبُوۡا فَقَدۡ

لَهٗ	اِلَيۡهِ	تُرۡجَعُوۡنَ	وَاِنۡ تُكَذِّبُوۡا	فَقَدۡ
هم هغه (الله) ته	هم دغه الله ته	به بيرته بيولى كيږئ تاسى	او كه نسبت د دروغو وكړ تاسى	نو په تحقيق

هم هغه (الله) ته هم دغه الله ته به بيرته بيولى كيږئ تاسى. او كه نسبت د دروغو وكړ تاسى نو په تحقيق

وَاِبۡرٰهِيۡمَ اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ. حضرت ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته دالله جل جلاله ديرى طرف ته بلنه وركړه: په دغه ايـاتونوكي الله جل جلاله دحضرت ابراهيم عليه السلام قصه بيان فرمايي كم شخص چي دلويو لويو سختيو او امتحانونو څخه تير سوى دى مثلا دنمرود اور، بيا دشام څخه هجرت كول او خپل وطن دالله جل جلاله په خاطر پريښوول او په يو وچ او بي اوبو او ښو ميدان كي قيام كول، بيا دزوى د ذبح كولو او حلالولو واقعه وغيره. دحضرت ابراهيم عليه السلام دقصي په ضمن كي الله جل جلاله دحضرت لوط عليه السلام او دده دقوم واقعات ذكر كړي دي چي دوى بدبختانو به دناريته ووسره دابد فعلي كوله حضرت لوط عليه السلام الله جل جلاله ددوى دهدايت او اصلاح دپاره راوليږي مگر بد بختانو دالله جل جلاله دنبي خبره ردكړه او دشيطان پر لاره روان سول او آخر كار جبرآئيل امين ددوى كلي آسمان ته نژدې يووړه او دآخوا يي راوغورځوله او نيست او نابود سوه: او دسورت په آخر كي دنورو انبياوو عليهم السلام او ددوى دقومونو واقعاتي ذكر دي (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۹۷)

كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنۡ قَبۡلِكُمۡ ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوۡلِ اِلَّا

كَذَّبَ	اُمَمٌ	مِّنۡ قَبۡلِكُمۡ	وَمَا	عَلَى الرَّسُوۡلِ	اِلَّا
نسبت د دروغو کړې ؤ	ډیرو قومونو	پخوا له تاسي	او نسته	پر رسول باندی	مګر

نسبت د دروغو کړی ؤ (انبیاؤ خپلو ته) ډیرو قومونو پخوا له تاسي او نسته پر رسول باندی مګر

الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمۡ يَرَوۡا كَيۡفَ يُبۡدِئُ اللّٰهُ

الۡبَلٰغُ	الۡمُبِيۡنُ	اَوَلَمۡ يَرَوۡا	كَيۡفَ	يُبۡدِئُ	اللّٰهُ
رسوونه (دپیغام)	ښکاره	آیا نه وینی دوی	چی څرنګه	اول پیدا کوی	الله

رسوونه (دپیغام) ښکاره. آیا نه وینی (دغه منکران) چی څرنګه اول پیدا کوی الله

الۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيۡرٌ ﴿۱۹﴾ قُلۡ

الۡخَلۡقَ	ثُمَّ	يُعِيۡدُهٗ	اِنَّ	ذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ	يَسِيۡرٌ	قُلۡ
دا خلق	بیا به	يې دوهم ځلی هم پیدا کړی	بیشکه!	دغه (اعاده دمخلوق)	پر الله	آسانه ده	ووایه (محمده!)

دا خلق بیا به يې دوهم ځلی هم خلق (پیدا کړی) بیشکه! دغه (اعاده دمخلوق) پر الله آسانه ده. ووایه (ای محمده! دوی ته)

سِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ فَانۡظُرُوۡا كَيۡفَ بَدَاَ الۡخَلۡقَ ثُمَّ

سِيۡرُوۡا	فِى الۡاَرۡضِ	فَانۡظُرُوۡا	كَيۡفَ	بَدَاَ	الۡخَلۡقَ	ثُمَّ
چی وګرځئ تاسی	په ځمکه کښی	پس وګورئ	چی څرنګه	شروع کړی ده	دپیدا ښت	بیا به

چی وګرځئ تاسی په ځمکه کښی پس وګورئ چی څرنګه شروع کړی ده الله د پیدا ښت (له نشتوالی څخه) بیا به

اللّٰهُ يُنۡشِئُ النَّشۡاَةَ الۡاٰخِرَةَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

اللّٰهُ	يُنۡشِئُ	النَّشۡاَةَ	الۡاٰخِرَةَ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ شَىۡءٍ
الله	پیدا کړی	پیدا کول	وروستنی هم په آخرت کښی	بیشکه!	الله	پر	هر شی باندی

الله پیدا کړی پیدا کول وروستنی هم په آخرت کښی بیشکه! الله پر هر شی باندی (چی اراده وفرمائی)

قَدِيۡرٌ ﴿۲۰﴾ يُعَذِّبُ مَنۡ يَّشَآءُ وَيَرۡحَمُ مَنۡ يَّشَآءُ ۚ

قَدِيۡرٌ	يُعَذِّبُ	مَنۡ يَّشَآءُ	وَيَرۡحَمُ	مَنۡ يَّشَآءُ
ښه قادر دی	عذاب ورکوی	هر هغه چاته چی اراده وفرمائی	او رحم کوی	پر هغه چاچی اراده وفرمائی

ښه قادر دی. عذاب ورکوی هر هغه چاته چی اراده وفرمائی (دتعذیبئی) او رحم کوی پر هغه چا چی اراده وفرمائی

اَوَلَمۡ يَرَوۡا كَيۡفَ يُبۡدِئُ اللّٰهُ الۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ دالله ﷻ دقدرت په نښو کي خصوصا دتخليق ذکر په لوی شان سره: دلته الله ﷻ فرمايي چي آيا دا کفارو او مشرکينو ته نه ده معلومه چي الله ﷻ څه رنګه مخلوق اول وار پيدا کوي يعني دمحض عدم څخه يي وجود ته راوړي بيا به دوی دوباره ژوندي کوي او دغه کار دالله ﷻ په نزد ډيرآسانه کار دی بلکي په اول نظر کي دوباره پيدا کول داول پيدايش څخه زيات آسانه دي که څه هم دذاتي قدرت په لحاظ سره دواړه برابر دي او داخلګ داولني کار يعني دالله ﷻ دخالق دکائنات کيدوخو اعتراف کوي :په وجه ددې قول دالله ﷻ : ولئن سألتهم من خلق السموات والارض : يعني ای زما نبي ﷺ که ته ددې کفارو څخه پوښتنه وکړې چي مځکي او اسمانونه چا پيدا کړي دي نو دوی به صفا اقرار وکي چي الله ﷻ پيدا کړي دي: نو دغه اشقياوو ته بايد وويل سي چي دوهم وار پيدا کول ددې اول وار پيدا کولو په مثل دي او دا خو نور هم دده په قدرت کي داخليدل ښکاره دي.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص ۹۸)

وَاِلَيۡهِ تُقۡلَبُوۡنَ ﴿۲۱﴾ وَمَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُعۡجِزِيۡنَ فِى الۡاَرۡضِ

وَاِلَيۡهِ	تُقۡلَبُوۡنَ	وَمَاۤ اَنۡتُمۡ	بِمُعۡجِزِيۡنَ	فِى الۡاَرۡضِ
او خاص هم دغه (الله) ته	تاسي بيرته بيولى كيږئ	او نه يئ تاسي	عاجزوونكي (دالله)	په مځكه كښي

او خاص هم دغه (الله) ته تاسي بيرته بيولى كيږئ. او نه يئ تاسي عاجزوونكي (دالله) په مځكه كښي

وَلَا فِى السَّمَآءِ‌ وَمَا لَـكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۲۲﴾ ع ۲ ۹ ۱۴

وَلَا فِى السَّمَآءِ	وَمَا لَـكُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مِنۡ وَّلِىٍّ	وَّلَا نَصِيۡرٍ
او نه په آسمان كښي	او نسته تاسي ته	غير له	الله	هيڅ دوست	او نه هيڅ مددګار

او نه په آسمان كښي (له عذاب خپله) او نسته تاسي ته غير له الله هيڅ دوست او نه هيڅ مددګار (چي ستاسي مرسته وكړي)

وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖۤ اُولٰۤـئِكَ

وَالَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَلِقَآئِهٖۤ	اُولٰۤـئِكَ
او هغه كسان	چي كافران سوي دي	په آياتونو	دالله	او په ملاقات د دغه (الله)	دغه كسان

او هغه كسان چي كافران سوي دي په آياتونو دالله او په ملاقات د دغه (الله) دغه كسان

يَئِسُوۡا مِنۡ رَّحۡمَتِىۡ وَاُولٰۤـئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۲۳﴾

يَئِسُوۡا	مِنۡ رَّحۡمَتِىۡ	وَاُولٰۤـئِكَ	لَهُمۡ	عَذَابٌ	اَلِيۡمٌ
نااميده دي	له رحمته زما	او دغه كسان	مقرر دي دوى ته	عذاب	ډير دردناك

نااميده دي له رحمته (جنت) زما او دغه كسان مقرر دي دوى ته عذاب ډير دردناك .

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوا اقۡتُلُوۡهُ اَوۡ حَرِّقُوۡهُ

فَمَا كَانَ	جَوَابَ	قَوۡمِهٖۤ	اِلَّاۤ	اَنۡ قَالُوا	اقۡتُلُوۡهُ	اَوۡ حَرِّقُوۡهُ
پس نه ؤ	جواب	دقوم د دغه (ابراهيم)	مګر	دا ؤ چي وويل دوى	ووژنئ تاسي دغه (ابراهيم)	يا وسوځوئ دئ

پس نه ؤ جواب دقوم د دغه (ابراهيم) مګر دا ؤ چي وويل دوى ووژنئ تاسي دغه (ابراهيم) يا وسوځوئ دئ،

فَاَنۡجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ‌ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

فَاَنۡجٰىهُ	اللّٰهُ	مِنَ النَّارِ	اِنَّ	فِىۡ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ
پس نجات وركړ ده ته	الله	له اوره	بيشكه!	په دغه كښي	خامخا ډير دلائل دي

پس نجات وركړ دغه (ابراهيم ته) الله له (ضرره د) اوره ، بيشكه! په دغه كښي خامخا ډير دلائل (دقدرت) دى

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوا اقۡتُلُوۡهُ.

دحضرت ابراهيم عليه السلام دقوم يو احمقانه او متكبرانه جواب : حضرت ابراهيم عليه السلام چي خپل قوم دالله جل جلاله دعبادت طرف ته راوبلى او پر توحيد باندي يي يو دلپذير تقرير وكړى ددي څخه وروسته دده دقوم دغه جواب سو چي خپل په مينځ كي سره وويل چي يا خو ابراهيم قتل كى او يا يي وسوځى په اور كي چنانچي بدبختانو دسوځولو اسباب تيار كړل ليكن الله جل جلاله دى داور څخه محفوظ كړى چي هغه دحفاظت قصه يي په سورت انبياء كي تيره سويده : الله جل جلاله فرمايي چي بيشكه په دې واقعه كي دحضرت ابراهيم عليه السلام دهغه خلګو دپاره كم چي ايمان لري ډيري نښسي دي يعنسي داوقعه دڅو شيانو دليل دى دالله جل جلاله دقادروالي، دابراهيم عليه السلام دنبي كيدو، او دكفر او شرك دباطلوالي په دې وجه دايو دليل دډيرو دلائلو قايم مقام جوړ سو اوابراهيم عليه السلام په خپل وعظ كي داهم وفرمايل چي تاسي كم خداى جل جلاله پرې ايښى دى بتان مو معبودان جوړ كړي دي دا ستاسي يوقسم كم عقلي ده الخ :
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۹۹)

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ

لِّقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ	وَقَالَ	اِنَّمَا	اتَّخَذْتُمْ	مِّنْ دُوْنِ
لپاره (دهغه) قوم	چي ايمان يئ راوړي دى	او وويل (ابراهيم)	بيشكه! هم دا خبره ده	چي نيولى دى تاسي	غير له

لپاره د هغه قوم چي ايمان يئ راوړي دى. او ويل (ابراهيم خپل قوم ته) بيشكه! هم دا خبره ده چي نيولى دى تاسي غير له

اللّٰهِ اَوْثَانًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ

اللّٰهِ	اَوْثَانًا	مَّوَدَّةَ	بَيْنِكُمْ	فِي الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	ثُمَّ
الله	بتان	دپاره د دوستى	په مينځ ستاسي كښې	په دغه ژوندون	د دنيا كښې	بيا

الله بتان (په خدايئ سره) دپاره د دوستى په مينځ ستاسي كښې په دغه ژوندون د دنيا كښې، بيا

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ

يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	يَكْفُرُ	بَعْضُكُمْ	بِبَعْضٍ	وَّيَلْعَنُ
پهورځ	دقيامت كښې	بيزاره به سى	ځيني ستاسي	له ځينو نورو سره	او لعنت به وايئ

پهورځ د قيامت كښې بيزاره (منكر) به سى ځيني ستاسي (چي متبوعان دى) له ځينو نورو سره او لعنت به وايئ

بَعْضُكُمْ بَعْضًا وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ

بَعْضُكُمْ	بَعْضًا	وَّمَاْوٰىكُمُ	النَّارُ	وَمَا لَكُمْ	مِّنْ
ځيني ستاسي	پر ځينو نورو	او ځاى دهستوګنى ستاسي	اور دى	او نه به وى تاسي ته	هيڅوك له

ځيني ستاسي (چي تابعان دى) پر ځينو نورو. او ځاى د هستوګنى ستاسي اور دى او نه به وى تاسي ته هيڅوك له

نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ

نّٰصِرِيْنَ	فَاٰمَنَ	لَهٗ	لُوْطٌ	وَقَالَ	اِنِّيْ	مُهَاجِرٌ
مددګارانو	پس ايمان راوړ	دغه (ابراهيم) ته	لوط	او وويل (ابراهيم)	چي بيشكه! زه	هجرت كوونكى يم

مددګارانو. پس ايمان راوړ دغه (ابراهيم) ته لوط او وويل (ابراهيم) چي بيشكه زه هجرت كوونكى يم (له قوم خپله)

اِلٰى رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ اِسْحٰقَ

اِلٰى رَبِّيْ	اِنَّهٗ	هُوَ الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	وَوَهَبْنَا	لَهٗ	اِسْحٰقَ
رب زما ته	بيشكه! چي دى	هم دى ښه غالب قوى دى	ښه حكمت والا	او وبخښه موږ	دغه (ابراهيم) ته	(زوى) اسحاق

رب زما ته بيشكه! چي دى هم دى ښه غالب قوى دى ښه حكمت والا. او وبخښه موږ دغه (ابراهيم) ته (زوى) اسحاق

فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ...حضرت لوط عليه السلام پر حضرت ابراهيم باندى ايمان راوړى او هجرت ته تيار سو: حضرت لوط عليه السلام دحضرت ابراهيم عليه السلام دخور زوى وو ده چي كله دنمرود په اور كي دحضرت ابراهيم عليه السلام معجزه وليده نو دټولو څخه اول دى مسلمان سو:دى او خپله بي بي حضرت ساره كمه چي دده داكا لور هم وه او مسلمانه سوي وه دادواړه حضرت ابراهيم عليه السلام دځانه سره كړل نو حضرت ابراهيم عليه السلام دوطن څخه دهجرت اراده وكړه ددوى وطن مقام كوثا وو كم چي دكوفې يو كلى دى او وې فرمايل. انى مهاجر الى ربى. يعني زه خپل وطن پريږدم دخپل رب طرف ته ځم مراداد دى چي يوداسي طرف ته ځم كم ځاى چي درب په عبادت كي بنديز نه وي: حضرت قتاده رضي الله عنه فرمايي چي دغه دهجرت دكوولو خبره حضرت ابراهيم عليه السلام كړې وه ځكه ددې څخه وروسته الله جل جلاله فرمايي چي. ووهبنا له اسحاق ويعقوب.او ځيني بيا فرمايي چي داخبره دهجرت چي. انى مهاجر الى ربى. دلوط عليه السلام وه (معارف القرآن ج پ٢٠ ص١٠٠)

وَ يَعْقُوْبَ وَ جَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ

وَيَعْقُوْبَ	وَجَعَلْنَا	فِيْ ذُرِّيَّتِهِ	النُّبُوَّةَ
او يعقوب	او ګرځولې ؤ موږ	په اولاده د دغه (ابراهيم) کښې	نبوت

او يعقوب او ګرځولې ؤ موږ په اولاده د دغه (ابراهيم) کښې نبوت

وَ الْكِتٰبَ وَ اٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا

وَالْكِتٰبَ	وَاٰتَيْنٰهُ	اَجْرَهٗ	فِي الدُّنْيَا
او کتاب	او ورکړې ؤ موږ دغه (ابراهيم) ته	اجر د ده	په دنيا کښې

او کتاب (لکه تورېت، انجيل، زبور او قرآن) او ورکړې ؤ موږ دغه (ابراهيم) ته اجر د ده په دنيا کښې

وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ وَلُوْطًا

وَاِنَّهٗ	فِي الْاٰخِرَةِ	لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ	وَلُوْطًا
او بيشکه! دی	په آخرت کښې	خامخا له صالحانو څخه دی	او (ياد کړه) لوط

او بيشکه! دی په آخرت کښې خامخا له (معتبرو) صالحانو څخه دی. او ياد کړه (ای محمده! قصه د) لوط

اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ

اِذْ قَالَ	لِقَوْمِهٖٓ	اِنَّكُمْ	لَتَاْتُوْنَ	الْفَاحِشَةَ
کله چې وی ويل	قوم خپل ته	چې بيشکه! تاسې	خامخا راځئ	ناکاره کار ته (لواطت)

کله چې وی ويل قوم خپل ته چې بيشکه! تاسې خامخا راځئ ناکاره کار (دلواطت) ته

مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾

مَا سَبَقَكُمْ	بِهَا	مِنْ اَحَدٍ	مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ
چې نه دی مخکې سوی پر تاسې	په دغه کار کښې	هيڅوک	له مخلوقاتو

چې نه دی مخکې سوی پر تاسې (په دغه قبيح کار کښې) هيڅوک له (تيرو) عالميانو (چې انس او جن دی).

اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ وَ تَقْطَعُوْنَ

اَئِنَّكُمْ	لَتَاْتُوْنَ	الرِّجَالَ	وَتَقْطَعُوْنَ
آيا تاسې	خامخا راځئ	سړيو ته	او قطع کوئ (شکوئ)

آيا تاسې خامخا راځئ سړيو ته (دلواطت دپاره) او قطع کوئ (شکوئ)

وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ. حضرت لوط علیه السلام دخپل قوم دخلکو ددروګناهونو ذکر کړی دی: په دغه راروانو اياتونو کښي الله جل جلاله د حضرت لوط علیه السلام دقوم هغه درې ګناهونه بيان کړي دي کم چي په قوم دلوط علیه السلام کي موجود وه او حضرت لوط علیه السلام و خپل قوم ته داذکر کړل او دوی يي دهغو څخه منع کړل. اوله ګناه: دسړي دسړي سره بدفعلي. دوهمه ګناه: لاري شکول يعني پر مسافرينو ډاکې اچول. دريمه ګناه: په خپلو مجلسونو کي په ډاګه دټولو په مخ کي ګناه کول: قرآن کريم ددې دريمي ګناه تعيين نه دی کړی ددې څخه معلومه سوه چي هره ګناه کم چي په خپل ذات کي ګناه ده که هغه په ډاګه په بې پرواهي سره کول کيږي نو دادوهمه مستقله ګناه سي دهر څه ګناه چي وي او هرځای چي وي: اوځيني مفسرينو دلته هغه ګناهونه شمار کړي دي کم چي به هغه بې حياوو په خپلو مجلسونو کي دټولو په مخکي کول. مثلا چي څوک به پر لاري تلل هغه به يي په ډبرو ويشتل او مسخرې به يي پرکولې وغيره.
(معارف القرآن ج۷پ۲۰ص۱۰۳)

السَّبِيۡلَ ۙ وَ تَاۡتُوۡنَ فِیۡ نَادِیۡکُمُ الۡمُنۡکَرَ ؕ

السَّبِيۡلَ	وَ تَاۡتُوۡنَ	فِیۡ نَادِیۡکُمُ	الۡمُنۡکَرَ
لاره	او راځئ تاسی	په مجلسونو خپلو کښې	منکرو ناکارو کارونو ته

لاره (او دخلګو مال اخلئ) ، او راځئ تاسی په مجلسونو خپلو کښې منکرو ناکارو کارونو ته

فَمَا کَانَ جَوَابَ قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوا

فَمَا کَانَ	جَوَابَ	قَوۡمِهٖۤ	اِلَّاۤ	اَنۡ قَالُوا
پس نهٔ	جواب	دقوم د دغه (لوط)	مګر	داچې ویل به (دغو لواطت کارانو)

پس نهٔ جواب د قوم د دغه (لوط د ده بل شی) مګر داچې ویل به (دغو لواطت کارانو)

ائۡتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ اِنۡ کُنۡتَ مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۲۹﴾

ائۡتِنَا	بِعَذَابِ	اللّٰهِ	اِنۡ کُنۡتَ	مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ
چی راوړه موږ ته	عذاب	دالله	که چیری یئ ته	له صادقینو څخه

چی راوړه موږ ته عذاب دالله که چیری یئ ته (ای لوطه!) له صادقینو رښتیا ویونکو (چی زموږ کارونه بد دی)

قَالَ رَبِّ انۡصُرۡنِیۡ عَلَی الۡقَوۡمِ

قَالَ	رَبِّ	انۡصُرۡنِیۡ	عَلَی الۡقَوۡمِ
وویل (لوط)	ای ربه زما	مدد وکړه له ما سره	پر دغه قوم

وویل (لوط) ای ربه زما مدد وکړه له ما سره (په لیږلو د عذاب) پر دغه قوم

الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿۳۰﴾ ۧ وَ لَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَاۤ

الۡمُفۡسِدِيۡنَ	وَ لَمَّا	جَآءَتۡ	رُسُلُنَاۤ
دمفسدانو	او کله چی	راغلل	رسولان زموږ

مفسدانو (په پیدا کولو د ناکاره خصلت په عالم کښې). او کله چی راغلل رسولان (لیږلی) زموږ

اِبۡرٰهِيۡمَ بِالۡبُشۡرٰی ۙ قَالُوۡۤا اِنَّا مُهۡلِکُوۡۤا اَهۡلِ

اِبۡرٰهِيۡمَ	بِالۡبُشۡرٰی	قَالُوۡۤا	اِنَّا	مُهۡلِکُوۡۤا	اَهۡلِ
ابراهیم ته	په زیری	نو وویل	بیشکه! موږ	هلاک کوونکی یو	داهل

ابراهیم ته په زیری (د زوی او لمسی د ده) نو وویل (دغو ملائیکو) بیشکه! موږ هلاک کوونکی یو د اهل

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَاۤ اِبۡرٰهِيۡمَ بِالۡبُشۡرٰی..

حضرت ابراهیم علیه السلام ته فرشتو په سپین ږیرتوب کي دزوی زیری ورکړی:

په دغه ذکر سوو ایاتونو کي الله جل جلاله دهغه فرشتو دراتلو ذکر کړی دی کمي فرشتي چي دانسانانو په شکل کي الله جل جلاله وحضرت ابراهیم علیه السلام ته راواستولي او حضرت ابراهیم ورته فوراً ګیلګی ذبح کي اوورته کباب يي کی او ورته پيش یي کی لیکن فرشتو ونه خوړی حضرت ابراهیم علیه السلام چي کله دوی ته وکتل چي خوراک نه کوي نو په زړه کي ددوی څخه وبیریدی او ورته یي وویل چي تاسي یي ولي نه خوری هغوی ورته وویل چي موږ فرشتي یو خوراک او چیښاک نه کوو موږ ددي دپاره راغلي یو چي تاته دزوی زیری درکړو دحضرت ابراهیم علیه السلام بي بي حضرت ساره هم ولاړه وه هغي دتعجب اظهار وکی چي اوس به زموږ څنګه اولاد کیږي ؟ حالانکي زه وچه یم او میړه مي سپین ږیری ضعیف دی فرشتو ورته وفرمایل همداسي الله جل جلاله وعده کړیده او دا به خامخا پوره کیږي او سر ته به رسیږي الخ :

(معارف القرآن ج۷پ۲۰ص۱۰۳)

٣ ع٨ ١٥

هٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۚ اِنَّ اَهْلَهَا كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾

هٰذِهِ	الْقَرْيَةِ	اِنَّ	اَهْلَهَا	كَانُوْا	ظٰلِمِيْنَ
د دغه	كلي	بيشكه! چي	اهل د دغو ځايونو	وو	ظالمان

د دغه كلي (اوښار د لوط) بيشكه! چي اهل د دغو ځايونو وو دوی ظالمان (په سبب د كفر او منكراتو)

قَالَ اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا ۭ قَالُوْا نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَنْ

قَالَ	اِنَّ	فِيْهَا	لُوْطًا	قَالُوْا	نَحْنُ	اَعْلَمُ	بِمَنْ
وويل (ابراهيم)	چي بيشكه!	په هغه ښار كښې	لوط (هم) دی	وويل دغو (ملائيكوو)	موږ	ښه پوه يو	په هر هغه چاچي

وويل (ابراهيم ملائيكو ته) چي بيشكه! په هغه ښار كښې لوط (هم) دی وويل دغو ملائيكو موږ ښه پوه يو په هر هغه چاچي

فِيْهَا ڭ لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ڭ كَانَتْ

فِيْهَا	لَنُنَجِّيَنَّهٗ	وَاَهْلَهٗ	اِلَّا امْرَاَتَهٗ	كَانَتْ
په دغه ښار كښې دی	خامخا به موږ نجات وركړو هرومرو هم ده ته	او هم كورنۍ د ده ته	مګر ښځه د ده	چي ده هغه

په دغه ښار كښې دی خامخا به موږ نجات وركړو هرومرو هم ده ته او هم كورنۍ د ده ته مګر ښځه د ده چي ده هغه

مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ

مِنَ الْغٰبِرِيْنَ	وَلَمَّآ	اَنْ جَآءَتْ	رُسُلُنَا	لُوْطًا	سِيْٓءَ بِهِمْ	وَضَاقَ
له پاتې كيدونكو	او كله چي	راغلل	رسولان زموږ	لوط ته	نوخپه سو (لوط) په دوی	او تنګ سو

له پاتې كيدونكو (په عذاب كښې). او كله چي راغلل رسولان زموږ لوط ته نو خپه سو (لوط) په (سبب د) دوی او تنګ سو

بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالُوْا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۣ اِنَّا

بِهِمْ	ذَرْعًا	وَّقَالُوْا	لَا تَخَفْ	وَلَا تَحْزَنْ	اِنَّا
په دوی	له جهته د زړه	او وويل دغو (ملائيكو)	مه بيريږه!	او مه خفه كيږه!	بيشكه! موږ

په دوی له جهته د زړه، او وويل دغو (ملائيكو لوط ته) مه بيريږه! او مه خفه كيږه! بيشكه! موږ

مُنَجُّوْكَ وَاَهْلَكَ اِلَّا امْرَاَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۳﴾ اِنَّا

مُنَجُّوْكَ	وَاَهْلَكَ	اِلَّا امْرَاَتَكَ	كَانَتْ	مِنَ الْغٰبِرِيْنَ	اِنَّا
نجات دركونكي يو تاته	او داهل تا ته	مګر ښځه ستا	ده هغه	له پاتې كيدونكو څخه	بيشكه! موږ

نجات دركونكي يو ستا او داهل ستا مګر ښځه ستا ده هغه له پاتې كيدونكو (په دغه عذاب كښې) ، بيشكه! موږ

وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ.. فرشتې دابراهيم عليه السلام دكوره څخه دلوط عليه السلام كورته راغلې: دوهمه خبره هغه راغلو فرشتو وابراهيم عليه السلام ته داوكړه چي موږ دلوط عليه السلام دقوم دهلاكت دپاره راغلي يوغواړو چي دالله جل جلاله په امر سره داكلي نور چپه واړوو ځكه چي ددغه كليو داوسيدونكو عملونه ډير خراب دي البته لوط عليه السلام ته به الله جل جلاله دمسلمانانو په شمول نجات وركړي او طريقه دنجات يي دا الله جل جلاله مقرره كړيده چي دشپې په اخري حصه كي دي دوی ووزي او نور دي دشاه پر طرف نه ګوري كه چا وكتل هغه به په عذاب كي مبتلا كيږي حضرت ابراهيم عليه السلام ورته وفرمايل هلته خو لوط عليه السلام دی هلته عذاب مه راليږی هغه به په تكليف سي ملايكو ورته وويل چي څوک هلته دي ټوله موږ ته معلوم دي موږ به لوط عليه السلام او دده دخاندان مومنو خلګو ته امن وركړو دعذاب الهي څخه بيا چي كله ددغه ځايه څخه فرشتې فارغه سوې نو دلوط عليه السلام كورته ورغلې لوط عليه السلام چي كله ورته وكتل چي دا ښايسته ځوانان دي نو دقوم دشرارت دوجي خفه سو الخ:
(معارف القرآن ج۷پ۲۰ص۱۰۳)

مُنۡزِلُوۡنَ عَلٰٓى اَهۡلِ هٰذِهِ الۡقَرۡيَةِ رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ

مُنۡزِلُوۡنَ	عَلٰٓى	اَهۡلِ	هٰذِهِ	الۡقَرۡيَةِ	رِجۡزًا	مِّنَ السَّمَآءِ
نازلوونکي يو	پر	اهل	ددې	قريې بانډې	عذاب	له آسمانه

نازلوونکي يو پر اهل د دې قريې (ښار د سدوم) بانډې عذاب له آسمانه (چې دکاڼو ورول دې)

بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ۞ وَلَقَدۡ تَّرَكۡنَا مِنۡهَآ اٰيَةًۢ

بِمَا كَانُوۡا	يَفۡسُقُوۡنَ	وَلَقَدۡ	تَّرَكۡنَا	مِنۡهَآ	اٰيَةًۢ
په سبب ددې چې ؤ دوی	چې فسق اوبدکاری به يې کوله	اوخامخا په تحقيق	پريښوده مونږ	له هغې (قريې، ښار)	يوه نښه

په سبب د دې چې ؤ دوی چې فسق او بدکاری به يې کوله. او خامخا په تحقيق پريښوده مونږ له هغې (قريې ښار) يوه نښه

بَيِّنَةً لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ۞ وَاِلٰى مَدۡيَنَ اَخَاهُمۡ

بَيِّنَةً	لِّقَوۡمٍ	يَّعۡقِلُوۡنَ	وَاِلٰى مَدۡيَنَ	اَخَاهُمۡ
ښکاره	لپاره دهغه قوم	چې عقل لري	او (ليږلی مو ؤ اهل د) مدين ته	ورور د دوی

ښکاره دپاره د هغه قوم چې عقل لري. او (ليږلی مو ؤ اهل د) مدين ته ورور د دوی

شُعَيۡبًا ۙ فَقَالَ يٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ وَارۡجُوا الۡيَوۡمَ

شُعَيۡبًا	فَقَالَ	يٰقَوۡمِ	اعۡبُدُوا	اللّٰهَ	وَارۡجُوا	الۡيَوۡمَ
شعيب	پس وويل (شعيب)	ای قومه زما	عبادت کوئ	د الله	او اميد لرئ	دورځې

شعيب پس وويل (دغه شعيب) ای قومه زما عبادت کوئ (يوازې) د الله او اميد لرئ (دثواب) دورځې

الۡاٰخِرَ وَلَا تَعۡثَوۡا فِى الۡاَرۡضِ مُفۡسِدِيۡنَ ۞

الۡاٰخِرَ	وَلَا تَعۡثَوۡا	فِى الۡاَرۡضِ	مُفۡسِدِيۡنَ
آخيرنی	او مه ګرځئ تاسی	په مځکه کښې	په دې حال کښې چې فساد کوونکئ يئ

آخيرنی (وروستنئ) او مه ګرځئ تاسی په مځکه (دمدين) کښې په دې حال کښې چې فساد کوونکئ يئ (ياست).

فَكَذَّبُوۡهُ فَاَخَذَتۡهُمُ الرَّجۡفَةُ فَاَصۡبَحُوۡا فِىۡ دَارِهِمۡ

فَكَذَّبُوۡهُ	فَاَخَذَتۡهُمُ	الرَّجۡفَةُ	فَاَصۡبَحُوۡا	فِىۡ دَارِهِمۡ
پس دروغجن وباله دوی هغه	پس ونيول دوی لره	سختې زلزلې	پس سهار کړ دوی	په کورونو خپلو کښې

پس دروغجن وباله دوی (شعيب) پس ونيول دوی لره سختې زلزلې، پس سهار کړ دوی په کورونو خپلو کښې

وَاِلٰى مَدۡيَنَ اَخَاهُمۡ شُعَيۡبًا ۙ فَقَالَ يٰقَوۡمِ.

وښار ته دمدين دهغه ځای دخلکو داصلاح دپاره الله جل جلاله حضرت شعيب عليه السلام ورولیږی : په دغه اياتونوکي چي دکموانبياوو عليهم السلام او ددوی دقومونو قصې او واقعاتي اجمالا او لنډي بيان سوي دي هغه په تيرو سورتونوکي په تفصيل سره راغلي دي مثلا دحضرت شعيب عليه السلام قصه په سورت اعراف کي په تفصيل سره راغلې ده اودا شان په سورت هودکي هم راغلې ده دغه رکم دعاد اوثمود قصه هم په اعراف او هود کي تيره سويده او دقارون اودفرعون او دهامان قصه په سور قصص کي په تفصيل سره اوس نږدې تيره سويده : دحضرت شعيب عليه السلام قوم خويو په کفر او شرک کي مبتلا قوم وو او بله خرابي چي په دوی کي موجوده وه هغه داوه چي دوی په تول اوترازو کي کمی کوی دبل څخه چي به يي شی اخيستی نو درونډ به يي ځني تلی او خپله چي به يي پر بل چاشی خرڅوی يا به يي قرض اداء کوی نو به يي سپک ورتلی الله جل جلاله ددوی دغه عملونه بد وبلل الخ.

(معارف القرآن ج۷پ۲۰ص۱۰۵)

جٰثِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَعَادًا وَّثَمُوْدَاۡ وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ

مِّنْ	لَكُمْ	وَقَدْ تَّبَيَّنَ	وَّثَمُوْدَاۡ	وَعَادًا	جٰثِمِيْنَ
له	تاسی ته	او په تحقيق ښکاره سوی دی	او ثمود	او (قوم) د عاد	پرمخی پراته نسکور

(مړه) پرمخی پراته نسکور پرځنګنونو. او (هلاک کړی مو ووقوم د) عاد او ثمود او په تحقيق ښکاره سوی دی تاسي ته له

مَّسٰكِنِهِمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

اَعْمَالَهُمْ	الشَّيْطٰنُ	لَهُمُ	وَزَيَّنَ	مَّسٰكِنِهِمْ
عملونه د دوی	شيطان	دوی ته	او ښايسته کړی ؤ	کورونه د دوی

کورونه د دوی ، او ښايسته کړی ؤ دوی ته شيطان عملونه د دوی

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿۳۸﴾

مُسْتَبْصِرِيْنَ	وَكَانُوْا	عَنِ السَّبِيْلِ	فَصَدَّهُمْ
بينايان	او ؤ دوی	له لاری د حق	پس اړولی ؤ دوی

پس اړولی ؤ (دغه شيطان) دوی له لاری د حق (چی دخپلو انبياؤ متابعت يئ ونه کړ) او ؤ دوی بينايان (هوښياران)

وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى

مُّوْسٰى	جَآءَهُمْ	وَلَقَدْ	وَهَامٰنَ	وَفِرْعَوْنَ	وَقَارُوْنَ
موسیٰ	راغلی ؤ دوی ته	او خامخا په تحقيق	او هامان	او فرعون	او (هلاک کړی مو وو) قارون

او (هلاک کړی مو وو) قارون او فرعون او (وزير يئ) هامان او خامخا په تحقيق راغلی ؤ دوی ته موسیٰ

بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿۳۹﴾

سٰبِقِيْنَ	وَمَا كَانُوْا	فِي الْاَرْضِ	فَاسْتَكْبَرُوْا	بِالْبَيِّنٰتِ
مخکی کيدونکی	او نه ؤ دوی	په مځکه کښی	پس تکبر وکړ دوی	په معجزاتو ښکاره ؤ سره

په معجزاتو ښکاره ؤ سره پس تکبر وکړ دوی په مځکه (دمصر) کښی او نه ؤ دوی مخکی کيدونکی (له عذابه زموږ)

فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ فَمِنْهُمْ مَّنْ

مَّنْ	فَمِنْهُمْ	بِذَنْۢبِهٖ	اَخَذْنَا	فَكُلًّا
هغه څوک دی	پس ځينی د دوی	په (سبب) دګناه خپلی يئ	ونيول موږ	پس هر يو له دغو مذکورينو

پس هر يو له دغو مذکورينو ونيول موږ په (سبب) د ګناه خپلی ئی پس ځينی د دوی هغه څوک دی

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ. کفار چي په عذاب الهي باندي مبتلاسوه ددنيا په چارو ښه پوهيده: مستبصرين داستبصار څخه مشتق دی کم چي دبصيرت په معنی کـي دی مـراد دادی چي داخلګ کم چي لوی کفر او شرک کوی په عذاب کي او پـه هلاکـت کـي اختـه سـول څـه بـي وقوفـه يـا ليـوني نـه وه ددنيـا پـه کاروتو کي ډير مبصر او هوښياروه مګر ددوی عقل او هوښيارتيا په دي مادي دنيـا کـي بنـد پاتـه سـوه دايـي ونـه پيژنـده چـي دنيکو او بدو جزااو سزا بـوه ورځ راتلـونکي پکـار ده پـه کمـه کـي چـي بـه مکمـل انصـاف وي ځکـه چي په دنيا کي خو اکثره مجرمـان ظالمـان خوندونـه چرچـي کـوي ګرځـي او مظلـوم او مصـيبت زده مجبوره وي ددغـه انصـاف دورځـي نـوم قيامـت او آخرت دی ددي پـه معاملـه کـي ددوی عقلونـه الله ﷻ فرمـايي چي کوتـه او بنـد دي. يعلمـون ظـاهرا مـن الحيـاة الـدنيا وهـم عـن الاخـرة غـافلون يعنـي داخلګ ددنيـا دژوند پـه کـارونو خوښـه پـوه دي پيسـه پيژنـي ګتـه او تـاوان ښـه پيژنـي مګـر دآخرت څخـه غافلـه دي.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۱۰۷)

اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ

اَرْسَلْنَا	عَلَيْهِ	حَاصِبًا	وَمِنْهُمْ	مَّنْ اَخَذَتْهُ
چې ولیږل موږ	پر هغه	سخت باد	او ځینې له دوی	هغه څوک دی چې ونیول دوی

چې ولیږل موږ پرې سخت (کاڼي وروونکی) باد او ځینې له دوی هغه څوک دی چې ونیول دوی

الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ وَمِنْهُمْ

الصَّيْحَةُ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ خَسَفْنَا	بِهِ الْاَرْضَ	وَمِنْهُمْ
چغې	او ځینې له دوی	هغه څوک دی چې کښته ننه ایست موږ دوی	په مځکه کښې	او ځینې د دوی

چغې (چې زړونه یې وچاودل) او ځینې له دوی هغه څوک دی چې کښته ننه ایست موږ دوی په مځکه کښې او ځینې د دوی

مَّنْ اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ

مَّنْ اَغْرَقْنَا	وَمَا كَانَ	اللّٰهُ	لِيَظْلِمَهُمْ	وَلٰكِنْ
هغه څوک دی چې غرق کړل موږ دوی	او نه ؤ	الله	چې ظلم یې کړی وی پر دوی	او لیکن

هغه څوک دی چې غرق کړل موږ دوی (په اوبو کښې)، او نه ؤ الله چې ظلم یې کړی وی پر هغو او لیکن

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۞٤٠ مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

كَانُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	يَظْلِمُوْنَ	مَثَلُ	الَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا
ؤ دوی	پر ځانونو خپلو	به یې ظلم کاوه	مثل حال	دهغو کسانو	چې نیولی دی دوی

ؤ دوی پر ځانونو خپلو به یې ظلم کاوه (په کفر او معصیت سره). مثل حال د هغو کسانو چې نیولی دی دوی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ

مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	اَوْلِيَآءَ	كَمَثَلِ	الْعَنْكَبُوْتِ
بی له	الله	دوستان	لکه مثل، حال	دغنې ، جولاگې داسې دی

بی له الله دوستان (معبودان) لکه مثل حال د عنکبوت غنې جولاگې داسې دی

اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ۗ وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ

اِتَّخَذَتْ	بَيْتًا	وَاِنَّ	اَوْهَنَ	الْبُيُوْتِ	لَبَيْتُ
چې جوړ کړی	یو کور (له تارونو څخه)	او بیشکه!	چې ډیر ضعیف	د ټولو کورونو	خامخا کور

چې ونیسی (جوړ کړی) یو کور (له تارونو خپلو) او بیشکه! چې ډیر ضعیف د ټولو کورونو خامخا کور

وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ.. دغیر الله عبادت کوونکي او پر دوی داعتماد کوونکو دپاره یو مثال: عنکبوت جولاگي ته ویل کیږي ددې مختلف قسمونه دي ځینې په دې کې پر مځکه کورونه جوړوي په ظاهره هغه دلته مراد نه دي بلکې مراد هغه جولاگې دی کم چې دتارونو څخه جال جوړوي او په هغه کې زوړنده اوسیږي او ددغې جالي په ذریعه مچان ښکار کوي: داظاهره ده چې دحیواناتو څومره قسمونه چې جالې او کورونه یې مشهوردي په هغه کې دادتارونو جاله دټولو څخه کمزورې ده چې په معمولي هوا باندي پرې کیږي.په دغه آیت کې الله ﷻ دغیر الله دعبادت کوونکو او پر دوی داعتماد کوونکو مثال یې دجولاگې دهغه جالې سره ور کړی دی کمه چې ډیره کمزورې ده دغه رکم خلک چې دالله ﷻ څخه ماسوا په بتانو یا په بل انسان وغیره باندي اسره کوي دهغوی اسره داسې ده لکه داجولاگی چې دخپلې جالې پر پردې اوتارونو اسره او تکیه کوي نور نو خپله فکر وکړی چې دابه څومره قوي کور وي.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۱۰۸)

نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۚ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ. دالله ﷻ په نزد عالم څوک دی؟ امام بغوي رحمه الله په خپل سند سره دحضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي نبي کريم ﷺ ددې آيت تلاوت وفرمايي نو ويي فرمايل چي عالم هغه دی کم چي دالله ﷻ په کلام کي فکر کوي اوپه طاعت يي عمل کوي او دده دناراضه کوونکو خبروڅخه ځان ساتي: ددې څخه معلومه سوه چي دقرآن او حديث محض په الفاظو پوهيدو باندي دالله ﷻ په نزد څوک عالم کيدای نه سي تر څو چي په قرآن کريم کي فکر اودهغه عادت جوړ نه کړي او تر څو پوري چي خپل عمل دقرآن کريم مطابق جوړ نه کړي: دحضرت عمروبن عاص رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما دنبي کريم ﷺ څخه يو زر مثالونه زده کړي دي ابن کثير رحمه الله ددې څخه وروسته ليکي چي دادعمروابن عاص رضي الله عنه ډير لوی فضيلت دی ځکه چي دادعالم نښه ده ځکه چي الله ﷻ په دې ذکر سوي آيت کي عالم هغه چاته ويلي دي کم چي دالله ﷻ او درسول ﷺ په بيان سوو مثالونو باندي پوهيږي: (معارف القرآن ج۷ پ۲۰ ص۱۰۳)

الۡعَنۡكَبُوۡتِ ۘ لَوۡ كَانُوۡا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۱﴾ اِنَّ اللّٰهَ

الۡعَنۡكَبُوۡتِ	لَوۡ كَانُوۡا	يَعۡلَمُوۡنَ	اِنَّ	اللّٰهَ
دغنی (جولاګی) دی	که چيری وی دوی	چي پوهيدلی	بيشکه! چي	الله ته

د غنی دی که چيری وی دوی چي پوهيدلی (نو دغير الله عبادت به يئ نه کاوه) . بيشکه! چي الله ته

يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ شَیۡءٍ ؕ وَهُوَ

يَعۡلَمُ	مَا يَدۡعُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِهٖ	مِنۡ شَیۡءٍ	وَهُوَ
معلوم دی	هرهغه چي بولي يئ دوی	غير له الله	له هر شي چي وی	او هم دی دی

معلوم دی هر هغه چي بولي يئ (عبادت يئ کوی) دوی غير له الله له هر شي چي وی او هم دی دی

الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۴۲﴾ وَتِلۡكَ الۡاَمۡثَالُ

الۡعَزِيۡزُ	الۡحَكِيۡمُ	وَتِلۡكَ	الۡاَمۡثَالُ
ډير غالب، قوی	ډير حکمت والا	او دغه مذکوره	مثالونه (په قرآن کښی)

ډير غالب قوی (په انفاذ داحکامو) ډير حکمت والا. او دغه مذکوره مثالونه (په قرآن کښی)

نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعۡقِلُهَاۤ اِلَّا الۡعٰلِمُوۡنَ ﴿۴۳﴾

نَضۡرِبُهَا	لِلنَّاسِ	وَمَا يَعۡقِلُهَاۤ	اِلَّا	الۡعٰلِمُوۡنَ
بيانوو موږ	دپاره د خلکو	او نه پوهيږی پر دغو	مګر	عالمان

بيانوو موږ دپاره د خلکو او نه پوهيږی پر دغو (مثالونو) مګر هغه پوهنده ګان (چی بيخ دخبری راسپړی)

خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ بِالۡحَقِّ ؕ اِنَّ

خَلَقَ	اللّٰهُ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	بِالۡحَقِّ	اِنَّ
پيداکړی دی	الله	آسمانونه	او ځمکی	په حق سره	بيشکه!

پيدا کړی دی الله آسمانونه او ځمکی په حق سره (څرنګه چی مناسبو) بيشکه!

فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۴۴﴾ ع

فِيۡ ذٰلِكَ	لَاٰيَةً	لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ
په دغه کښی	خامخا لوی دليل (دقدرت) دی	لپاره د مؤمنانو

په دغه (تخليق) کښی خامخا لوی دليل (دقدرت) دی لپاره د مؤمنانو (چی هم دوی نفع اخلی ځينی) .

ع ۴ ١٢

أُتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ

أُتۡلُ	مَآ أُوحِيَ	إِلَيۡكَ	مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ	وَأَقِمِ	ٱلصَّلَوٰةَ	إِنَّ
ووایه	هغه چي وحی کړل سوی دی	تاته	له کتاب څخه (قرآن)	او قائموی	لمونځ	بیشکه!

ووایه (ای محمده) هغه چي وحی کړی سوی ده تاته له کتاب څخه (قرآن) او قائموی (سم اداء کوه) لمونځ بیشکه!

ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ

ٱلصَّلَوٰةَ	تَنۡهَىٰ	عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ	وَٱلۡمُنكَرِ	وَلَذِكۡرُ	ٱللَّهِ
لمونځ	منع کوی	له بی حیائی	او له بدکار څخه	او خامخا یادول	دالله

لمونځ منع کوی (لمونځ کوونکی) له بی حیائی او له بدکار څخه، او خامخا یادول د الله

أَكۡبَرُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَصۡنَعُونَ ۝٤٥ وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ

أَكۡبَرُ	وَٱللَّهُ	يَعۡلَمُ	مَا تَصۡنَعُونَ	وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ	أَهۡلَ
ډیر لوی دی	او الله ته	معلوم دی	هر هغه (عمل) چي کوئ یئ تاسی سره	او جګړه مه کوئ تاسی	له اهل

ډیر لوی دی او الله ته معلوم دی هر هغه (عمل) چي کوئ یئ تاسی سره. او جګړه مه کوئ تاسی (ای مؤمنانو) له اهل

ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡۖ

ٱلۡكِتَٰبِ	إِلَّا	بِٱلَّتِي	هِيَ	أَحۡسَنُ	إِلَّا ٱلَّذِينَ	ظَلَمُواْ	مِنۡهُمۡ
دکتاب سره	مګر	په هغه سره	چی هغه	ډیر ښه وی	مګر هغه کسان	چی ظلم یئ وکړ	له دوی ځینی

دکتابیانو سره مګر په هغه (خصلت) سره چی هغه ډیر ښه وی مګر هغه کسان چی ظلم یئ وکړ له دوی ځینی

وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَأُنزِلَ

وَقُولُوٓاْ	ءَامَنَّا	بِٱلَّذِيٓ	أُنزِلَ	إِلَيۡنَا	وَأُنزِلَ
او ووایئ تاسی	چی ایمان راوړی دی موږ	په هغه (قرآن)	چی نازل کړی سوی دی	موږ ته	او نازل کړی سوی د ی

او ووایئ تاسی چی ایمان راوړی دی موږ په هغه (قرآن) چی نازل کړی سوی دی موږ ته او (په هغه چی) نازل کړی سوی دی

إِلَيۡكُمۡ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ۝٤٦

إِلَيۡكُمۡ	وَإِلَٰهُنَا	وَإِلَٰهُكُمۡ	وَٰحِدٞ	وَنَحۡنُ	لَهُۥ	مُسۡلِمُونَ
تاسی ته	او الله زموږ	او الله ستاسی	یو دی	او موږ	خاص ده (الله) ته	غاړه ایښودونکی یو

تاسی ته، او الله زموږ او الله ستاسی یو دی او موږ خاص الله ته غاړه ایښودونکی (موحدان) یو.

أُتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ. دخلکو داصلاح دپاره جامع او مختصره نسخه: په ذکر سوي آیت کي نبي کریم ﷺ ته ددعوت الی الله یوه لنډه جامع نسخه ښوول سویده چي په دې باندي په عمل کولو سره په پوره دین دعمل کولو لاري خلاصیدای سي: او ددې په لاره کي چي عادةً کم بندیزونه پیښیږي هغه لیري کیدای سي ددې اکسیري نسخي دوه جزونه دي یو د قرآن کریم تلاوت: دوهم لمونځ په پایبندی سره قایم ساتل. او دلته اصل مقصود خو دادی چي خلک ددې دواړو پایبنده سي لیکن دترغیب او تاکید دپاره یي ددې دواړو شیانو حکم اول په خپله نبي کریم ﷺ ته ورکړی دی چي دامت په دې عمل کولو سره زیات خواهش پیدا سي او دنبي کریم ﷺ په عملي تعلیم سره ددوی په خپله عمل کول هم آسانه سي. په دې کي دقرآن تلاوت خو دټولو کارونو روح او اصل بنیاد دی ددې څخه وروسته دوهم شی لمونځ قایمول دي کم چي یي دنورو ټولو فرضو څخه جلا په اهتمام سره ذکر کړی دی: (معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۱)

وَكَذٰلِكَ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَيۡكَ الۡكِتٰبَ ؕ فَالَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ

وَكَذٰلِكَ	اَنۡزَلۡنَاۤ	اِلَيۡكَ	الۡكِتٰبَ	فَالَّذِيۡنَ	اٰتَيۡنٰهُمُ
او همداسي	نازل کړی دی موږ	پر تا	کتاب (قرآن)	پس هغه کسان	چي ورکړی دی موږ دوی ته

او همداسي نازل کړی دی موږ پر تا کتاب (قرآن) ، پس هغه کسان چي ورکړی دی موږ دوی ته

الۡكِتٰبَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ ۚ وَمِنۡ هٰٓؤُلَآءِ مَنۡ يُّؤۡمِنُ بِهٖ

الۡكِتٰبَ	يُؤۡمِنُوۡنَ	بِهٖ	وَمِنۡ	هٰٓؤُلَآءِ	مَنۡ	يُّؤۡمِنُ	بِهٖ
کتاب (تورات)	ایمان راوړي دوی	په دی	او ځيني	له دغو	هغه څوک دی	چي ایمان راوړي	په دی

کتاب (تورات) ایمان راوړي دوی په دی (قرآن) او ځيني له دغو (عربو) هغه څوک دی چي ایمان راوړي په دی

وَمَا يَجۡحَدُ بِاٰيٰتِنَاۤ اِلَّا الۡكٰفِرُوۡنَ ۝٤٧ وَمَا كُنۡتَ تَتۡلُوۡا مِنۡ قَبۡلِهٖ

وَمَا يَجۡحَدُ	بِاٰيٰتِنَاۤ	اِلَّا الۡكٰفِرُوۡنَ	وَمَا كُنۡتَ	تَتۡلُوۡا	مِنۡ قَبۡلِهٖ
او نه منکريږی	په آيتونو زموږ	مگر کافران	او نه وی ته	چي لوست به تا	پخوا له دی قرآن څخه

او نه منکريږی په آيتونو زموږ مگر کافران. او نه وی ته (ای محمده!) چي لوست به تا پخوا له دی قرآن څخه

مِنۡ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيۡنِكَ اِذًا لَّارۡتَابَ

مِنۡ كِتٰبٍ	وَّلَا تَخُطُّهٗ	بِيَمِيۡنِكَ	اِذًا لَّارۡتَابَ
کوم کتاب	او نه به دی ليکه دغه (کتاب)	په راسته لاس خپل	نو هلته به خامخا شک کاوه

کوم کتاب (له پخوانيو کتابونو څخه) او نه به دی ليکه دغه (کتاب) په راسته لاس خپل نو هلته به خامخا شک کاوه

الۡمُبۡطِلُوۡنَ ۝٤٨ بَلۡ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيۡ صُدُوۡرِ الَّذِيۡنَ

الۡمُبۡطِلُوۡنَ	بَلۡ	هُوَ	اٰيٰتٌۢ	بَيِّنٰتٌ	فِيۡ صُدُوۡرِ	الَّذِيۡنَ
باطلو (خلگو)	بلکه	دغه (قرآن)	آيتونه دی	ښکاره	په سينو	دهغو کسانو کښی

باطلو (خلگو) . بلکه دغه (قرآن) آيتونه دی ښکاره په سينو د هغو کسانو کښی

اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ ؕ وَمَا يَجۡحَدُ بِاٰيٰتِنَاۤ اِلَّا الظّٰلِمُوۡنَ ۝٤٩

اُوۡتُوا	الۡعِلۡمَ	وَمَا يَجۡحَدُ	بِاٰيٰتِنَاۤ	اِلَّا	الظّٰلِمُوۡنَ
چي ورکړی سوی دی	هغوی ته علم	او نه منکريږی	په آيتونو زموږ (هيڅوک)	مگر	ظالمان

چي ورکړی سوی دی هغوی ته علم (فهم) او نه منکريږی په آيتونو زموږ (هيڅوک) مگر بی انصافان ظالمان.

وَمَا كُنۡتَ تَتۡلُوۡا مِنۡ قَبۡلِهٖ مِنۡ كِتٰبٍ.. دنبي کريم ﷺ امي والی ددوی لوی فضيلت اولويه معجزه ده: په دغه آيت کي الله جل جلاله خطاب ونبي کريم ﷺ ته کړی دی چي دقرآن کريم دنازليدو څخه مخکي تاسي نه څه کتاب وايه او نه مو څه ليکل کوله بلکي ته امي وې که داسي نه وای او تاسي ليکل او ويل کولای نو دغه باطلو خلگو ته بيا دڅه شک اوشبهي گنجايش راوتی او دا الزام به يي لگولای چي تا تير کتابونه تورات ، او انجيل ويلي اونقل کړي دي ته چي څه په قرآن کريم کي فرمايي هغه ددغه تيرو کتابونو څخه رااخيستل سوي دي څه وحي او نبوت او رسالت نه دی : الله جل جلاله دنبي کريم ﷺ پر نبوت او رسالت چي څنگه ډيري ښکاره او واضحه معجزې ښکاره کړي دي په دغو کي يوه داهم ده چي دی يي دمخکي څخه امی وساتی نه يي څه ليکلی ويلی سول او نه يي څه په خپله ليکلی سول او دعمر څلويښت کاله يي په دې حال کي دمکې مکرمې د ټولو خلگو په مخکي تير سول دوی په دې دوران کي. **پاته بيان پر راروان مخ وگوری.**

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ

وَقَالُوْا	لَوْلَآ اُنْزِلَ	عَلَيْهِ	اٰيٰتٌ	مِّنْ رَّبِّهٖ	قُلْ
او وايئ	چې ولی نه نازلولی سی	په دغه (محمد)	معجزی	له (طرفه د) رب د ده	ووايه (محمده)

او وايئ (دغه دمکی کفار) چې ولی نه نازلولی سی په دغه (محمد) معجزی له (طرفه د) رب د ده ووايه (ای محمده!)

اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۵۰

اِنَّمَا	الْاٰيٰتُ	عِنْدَ اللّٰهِ	وَاِنَّمَآ	اَنَا	نَذِيْرٌ	مُّبِيْنٌ
بيشکه! همدا خبره ده	چې معجزی	په نزد د الله دی	او بيشکه! هم دا خبره ده	چې زه	بيروونکی	ښکاره یم

بيشکه همدا خبره ده چې معجزی (خاص) په نزد د الله دی او بيشکه! هم دا خبره ده چې زه بيروونکی ښکاره یم (له جحيم)

اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ۭ

اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ	اَنَّآ	اَنْزَلْنَا	عَلَيْكَ	الْكِتٰبَ	يُتْلٰى	عَلَيْهِمْ
آيا نه دی کافی دوی ته	بيشکه! موږ	نازل کړی دی موږ	پر تا	کتاب (قرآن)	چې تل لوستل کيږی	په دوی باندی

آيا نه دی کافی دوی ته (له جهته د معجزی چې) بيشکه! موږ نازل کړی دی پر تا کتاب چې تل لوستل کيږی په دوی باندی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝۵۱ ع قُلْ

اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَرَحْمَةً	وَّذِكْرٰى	لِقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ	قُلْ
بيشکه!	چې په دی کښی	خامخا مهربانی	او پند دی	لپاره د (هغه) قوم	چې ايمان راوړی	ووايه (محمده)

بيشکه! چې په دی (کتاب باقی) کښی خامخا رحمت مهربانی او ذکر، پند دی لپاره د (هغه) قوم چې ايمان راوړی. ووايه

كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

كَفٰى	بِاللّٰهِ	بَيْنِيْ	وَبَيْنَكُمْ	شَهِيْدًا	يَعْلَمُ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ
کافی دی	الله	په مينځ زما	او په مينځ ستاسی کښی	شاهد	چې ورمعلوم دی	هر هغه شی	چې په آسمانونو کښی دی

کافی دی الله په مينځ زما او په مينځ ستاسی کښی شاهد (په صدق) چې ورمعلوم دی هر هغه شی چې په آسمانونو کښی دی

وَالْاَرْضِ ۭ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ

وَالْاَرْضِ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	بِالْبَاطِلِ	وَكَفَرُوْا	بِاللّٰهِ
او چې په مځکه کښی دی	او هغه کسان	چې ايمان يئ راوړی دی	په باطل	او کافران سوی دی	په الله

او (هر هغه شی) چې په مځکه کښی دی ، او هغه کسان چې ايمان يئ راوړی دی په باطل او کافران سوی دی په الله

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:
داهل کتابو سره یو ځای نه دی پاته سوی چې دهغو څخه یې څه اوریدلي وای ځکه چې په مکه مکرمه کې اهل کتاب دسره نه وه دڅلویښتو کالو په پوره کیدو باندي یو دم ددوی پر ژبه مبارکه باندي داسې کلام جاري سوکم چې دخپلو مضامینو او معانیوو په اعتبار سره هم معجزه وه او دلفظي فصاحت او بلاغت په اعتبار سره هم ځینو عالمانو دا ثابتول غوښتي دي چې ددوی امي والی په ابتدا کې ووبیا الله ﷻ دوی ته لیکل او ویل ور زده کړه او ددې په دلیل کې یې دحدیبیې دواقعې یو حدیث نقل کړی دی په هغه کې دي چې کله دصلح وعده ولیکل سوه نو په دي کې اول دالیکلي وه. **من محمد عبدالله ورسوله**: پر دې دمکې مشرکینو دا اعتراض وکی چې که موږ ته رسول منلای نو داجګړه به ولې وای ؟ په دې وجه ستا دنوم سره درسول الله لفظ موږ نه قبلوو لیکونکی په دغه وخت کې حضرت علي رضي الله عنه وو حضور ﷺ ورته وفرمایل چې دالفظ خراب کړه. **پاته بیان پر راروان مخ وګوری:**

رکوع ۵

أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ

أُولَٰٓئِكَ	هُمُ الْخٰسِرُوْنَ	وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ	بِالْعَذَابِ
دغه کسان	هم دوی زیانکاران دی	او تلوار کوی دوی پر تا	په راتلو د عذاب

دغه کسان هم دوی زیانکاران دی (چې کفر یې په ایمان بدل کړی دی). او بیړه (تلوار) کوی (دغه کفار) په تا په راتلو دعذاب

وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ وَلَيَأْتِيَنَّهُمْ

وَلَوْلَآ اَجَلٌ	مُّسَمًّى	لَّجَآءَهُمُ	الْعَذَابُ	وَلَيَأْتِيَنَّهُمْ
او که نه وی نیټه	ټاکلی سوی	نو خامخا راغلی به وو دوی ته	عذاب	او خامخا رابه سی دا عذاب دوی ته

او که نه وی (هغه) نیټه ټاکلی سوی (دعذاب) نو خامخا راغلی به وو دغو ته عذاب او خامخا رابه سی دا عذاب دوی ته

بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ

بَغْتَةً	وَّهُمْ	لَا يَشْعُرُوْنَ	يَسْتَعْجِلُوْنَكَ	بِالْعَذَابِ
یو ناڅاپه	حال دا چې دوی به	نه وی خبر	تلوار کوی کفار په تا	په (راتلو) د عذاب

یو ناڅاپه حال دا چې دوی به نه وی خبر (د راتګ په وخت یې). بیړه (تلوار) کوی کفار په تا په (راتلو) د عذاب (په دنیا کی)

وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ

وَاِنَّ	جَهَنَّمَ	لَمُحِيْطَةٌۢ	بِالْكٰفِرِيْنَ	يَوْمَ	يَغْشٰىهُمُ
حال دا چې بیشکه!	دوزخ	خامخا احاطه کوونکی دی	په کافرانو	هغه ورځ	چې لاندی به کړی دوی

حال دا چې بیشکه! دوزخ خامخا احاطه کوونکی دی په کافرانو. (یاده کړه محمده! هغه) ورځ چې لاندی به کړی دوی

الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ

الْعَذَابُ	مِنْ فَوْقِهِمْ	وَمِنْ تَحْتِ	اَرْجُلِهِمْ	وَيَقُوْلُ
عذاب	له پاسه (د سرونو) د دوی	او له لاندی	د پښو د دوی څخه	او وبه وایئ دوی ته

عذاب له پاسه (د سرونو) د دوی او له لاندی د پښو د دوی څخه او وبه وایئ دوی ته (الله د ملائیکو په ژبه)

ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۵﴾ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ

ذُوْقُوْا	مَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ	يٰعِبَادِيَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنَّ
وڅکئ تاسی	هغه چې وئ تاسی	چې کاوه به مو	ای بندګانو زما	هغو چې	ایمان یې راوړی دی	بیشکه!

وڅکئ تاسی جزا د هغه (عمل) چې وئ تاسی چې کاوه به مو. ای بندګانو زما هغو چې ایمان یې راوړی دی بیشکه!

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ وَلَوْلَآ اَجَلٌ. د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری: حضرت علي رضي الله عنه دادب څخه مجبوره سو او دداسي کولو څخه یي انکار وکی نو نبي کریم ﷺ په خپل لاس مبارک باندي کاغذ راواخیستی او دا لفظ یي خراب کی او داسي یي ولیکل. من محمد ابن عبد الله: په دې روایت کي دلیکلو نسبت نبي کریم ﷺ ته سوی دی چي په دې سره ځینو حضراتو دا دلیل نیولی دی چي دوی ﷺ لیکل کولای سوه مګر صحیح خبره داده چي په بل باندي لیکلو ته هم په عرف کي داسي ویل کیږي چي هغه ولیکل لکه چي په عامو محاورو کي دي: ددې څخه علاوه دا هم امکان دی چي په دې واقعه کي په طور دمعجزې ددوی په لاسونو نوم مبارک الله جل جلاله لیکلی وي: ددې څخه علاوه خپل نوم په څو حروفو لیکلو سره چاته لیکونکی ویونکی نه ویل کیږي ده ته نا خوانده او امي ویل کیږي کله چي عادت یي لیکل نه وي. او بې دلیله دوی ته دکتابت نسبت کول ددوی فضیلت ثابتول نه دي ځکه چي فضیلت ددوی ﷺ په امي کیدو کي دی. (معرف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۹)

اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ

اَرْضِيْ	وَاسِعَةٌ	فَاِيَّايَ	فَاعْبُدُوْنِ	كُلُّ	نَفْسٍ	ذَآئِقَةُ
مځکه زما	پراخه ده	پس خاص مالره	عبادت کوئ تاسى	هر	يو نفس	څکوونکى

مځکه زما ارته ده پس خاص مالره عبادت کوئ تاسى (په هرځاى کښې چې اوسئ) هر يو نفس څکوونکى

الْمَوْتِ ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

الْمَوْتِ	ثُمَّ	اِلَيْنَا	تُرْجَعُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
د مرګ دى	بيا	(خاص) موږ ته	راوستل کيږى	او هغه کسان چې	ايمان يئ راوړى دى	او کړى يئ دى

د مرګ دى بيا (خاص) موږ ته راوستل کيږى (دجزاء لپاره). او هغه کسان چې ايمان يئ راوړى دى او کړى يئ دى

الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

الصّٰلِحٰتِ	لَنُبَوِّئَنَّهُمْ	مِّنَ الْجَنَّةِ	غُرَفًا	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا
ښه (عملونه)	خامخا ځاى به ورکړو موږ هرومرو دوى ته	له جنته	په جګو بالاخانو کښې	چې بهيږى	لاندى له هغو

ښه (عملونه) خامخا ځاى به ورکړو موږ هرومرو دوى ته له جنته په جګو (اوچتو) ماڼيو کښې چې بهيږى لاندى له هغو

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿٥٨﴾ الَّذِيْنَ

الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	نِعْمَ	اَجْرُ	الْعٰمِلِيْنَ	الَّذِيْنَ
ويالى	حال دا چې تل به اوسيږى	په دغو کښې	ښه دى	اجر	د دغو عمل کوونکو	هغه (عاملان)

ويالى (خلور) حال دا چې تل به اوسيږى په دغو (ماڼيو) کښې ښه دى اجر د دغو عمل کوونکو (داجنت). هغه (عاملان)

صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ

صَبَرُوْا	وَعَلٰى	رَبِّهِمْ	يَتَوَكَّلُوْنَ	وَكَاَيِّنْ	مِّنْ دَآبَّةٍ
چې صبر يئ کړى دى	او خاص پر	رب خپل	توکل کوى	او ډير دى	له ښوريدونکو

چې صبر يئ کړى (په طاعت،مصيبت او نور) او خاص په رب خپل توکل کوى .او ډير دى له خوځيدونکو (ذى روحو په مځکه)

لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖ اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا وَاِيَّاكُمْ ۖ وَهُوَ السَّمِيْعُ

لَّا تَحْمِلُ	رِزْقَهَا	اَللّٰهُ	يَرْزُقُهَا	وَاِيَّاكُمْ	وَهُوَ	السَّمِيْعُ
چې نه پورته کوى دوى	رزق خپل	الله	رزق رسوى هغوى ته	او تاسى ته هم	او هم دى	ښه اوريدونکى

چې نه پورته کوى دوى رزق خپل (له وجې د ضعف) ، الله رزق رسوى هغوى ته او تاسى ته هم او هم دى ښه اوريدونکى

اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ...دهجرت احكام او د دې په لاره كې دراپيښيدونكو شكونواو شبهو ليري كول: په دغه آيت كي الله ﷻ فرمايي چي زما مځكه ډيره فراخه ده په دې وجه دچا عذر داوريدو قابل نه دى چي په فلاني ښار يا فلاني ملک كي دكفارو غلبه وه په دې وجه موږ دالله ﷻ دتوحيد او دده دعبادت څخه بې وسه وو دوى ته پكار دي چي دهغه دمځكي څخه كم ځاى چي دوى پر كفر او معصيت باندي مجبوره كړى كيږي ووزي او يو داسي ځاى تلاش كړي كم چي په ازادى سره دالله ﷻ په احكامو په خپله هم عمل وسي او نورو ته يي هم تلقين وركول كيږي ددې نوم هجرت دى : دوطن څخه په هجرت كولو او بل ځاى ته په تلو كي دوه قسمه خطرې انسان ته په عادت كي ورپيش وي كم چي دى ددې هجرت څخه منع كوي. اوله خطره دخپل ځان ده چي كله دى وطن پريږدي او يو ځاى ځي نو ددې ځاى كافران او ظالمان يي په لاره كي خنډ جوړيږي او مقابلې او جنگ ته ور سره تيا ريږي دارنگه ممكنه ده. پاته بيان پر راروان مخ وگورى

الْعَلِيْمُ ﴿۶۰﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

الْعَلِيْمُ	وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ	مَّنْ خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ
ښه پوه دی	او قسم دی که سوال وکړې ته له دوی څخه	چې چا پيدا کړې دی	آسمانونه

ښه پوه دی (په ټولو احوالو). او قسم دی که سوال وکړې ته له دوی څخه (ای محمده!) چې چا پيدا کړي دی آسمانونه

وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ فَاَنّٰى

وَالْاَرْضَ	وَسَخَّرَ	الشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ	لَيَقُوْلُنَّ	اللّٰهُ	فَاَنّٰى
او مځکه؟	او مسخر کړې دی	لمر	او سپوږمی	نو خامخا وايئ هرومرو	چې الله (پيدا کړې دی)	پس څرنګه

او مځکه ؟ او مسخر کړې (په کار يئ اچولی) دی لمر او سپوږمی نو خامخا وايئ هرومرو چې الله (پيدا کړې دی) پس څرنګه

يُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۱﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ

يُؤْفَكُوْنَ	اَللّٰهُ	يَبْسُطُ	الرِّزْقَ	لِمَنْ يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ
ګرځولی سی	الله	پراخوی	رزق	دپاره د هر هغه چا چې اراده وکړی	له بندګانو خپلو څخه

ګرځولی سی (له توحيد څخه). الله پراخوی رزق دپاره د هر هغه چا چې اراده وکړی (د پراخی يئ) له بندګانو خپلو څخه

وَيَقْدِرُ لَهٗ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۶۲﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ

وَيَقْدِرُ	لَهٗ	اِنَّ	اللّٰهَ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيْمٌ	وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ
او تنګوی يئ	ده لره	بيشکه !چې	الله	پر هر	شی	ښه عالم دی	او بيا قسم دی چې که سوال وکړې ته له دوی څخه

او تنګوی يئ (که اراده وکړی) په ده بيشکه! چې الله پر هر شی ښه عالم دی. او بيا قسم دی چې که سوال وکړې ته له دوی څخه

مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ

مَّنْ نَّزَّلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَحْيَا	بِهِ الْاَرْضَ
چې چا نازلې کړی دی	(له طرفه) د آسمان څخه	اوبه	پس ژوندی کړی يئ ده په دی اوبو سره	مځکه

چې چا نازلې کړی دی (له طرفه) د آسمان څخه اوبه پس ژوندی کړی يئ ده په دی اوبو سره مځکه

مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ بَلْ

مِنْ بَعْدِ	مَوْتِهَا	لَيَقُوْلُنَّ	اللّٰهُ	قُلِ	الْحَمْدُ	لِلّٰهِ	بَلْ
پس له	مرګه د دی	نو خامخا وايئ دوی هرومرو چې	الله (نازل کړی دی)	ووايه	ټول ثناء	خاص الله ته ده	بلکه

پس له مرګه (وچوالی) د دی نو خامخا وايئ دوی هرومرو چې الله (نازل کړی دی!) ووايه (محمده!) ټول ثناء الله ته ده بلکه

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ.. دتير مخ پاته بيان دلته وګوری: چې په لاره کي يي د نورو کافرانو سره هم مقابله سي چي دځان خطره په کښې ده ددې جواب يي په راتلونکي آيت کي دا ورکی چي: کل نفس ذائقة الموت: يعني هريو نفس د مرګ خوند څکونکی دی د مرګ څخه بيره او ترهه د مومن کار نه دی کيدل پکار: دا خو هرسړي ته په هر حال کي ورپيښيږي که په خپل ځای کي هر څومره د حفاظت اسباب وکي خو بيا به هم راځي او د مومن دا هم عقيده ده چي د الله ﷻ د مقرر کړي وخت څخه مخکي مرګ نه سي راتلی په دې وجه پر خپل ځای پاته کيدل يا هجرت کول بل ځای ته په تلو کي د مرګ خطره حائله کيدل نه دي پکار خاص بيا کله چي د الله ﷻ د احکامو په اطاعت کولو کي د مرګ راتلل د هميشه راحتونو او نعمتونو ذريعه ده کم چي به ده ته د الله ﷻ د طرف څخه په آخرت کي ورکول کيږي چي ذکر يي په وروسته دوو اياتونو کي فرمايي الذين آمنوا وعملوا الصلحت لنبوئنهم من الجنة غرفاً: الخ. (معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۳)

ع ۶/۲

اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ

اَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْقِلُوْنَ	وَمَا هٰذِهِ	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَآ	اِلَّا	لَهْوٌ
زیاتره د دوی	عقل نه لري	او نه دی دغه	ژوندون	د دنیا	مگر	عبث

بلکه زیاتری د دوی عقل نه لری. او نه دی دغه ژوندون د دنیا مگر عبث

وَّلَعِبٌ ؕ وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ

وَّلَعِبٌ	وَاِنَّ	الدَّارَ	الْاٰخِرَةَ	لَهِيَ	الْحَيَوَانُ
او لوبی دی	او بیشکه!	چي دار	دآخرت	خامخا هم هغه دی	واقعي ژوندون

او لوبی دی او بیشکه! چي دار، دآخرت خامخا هم هغه دی واقعي حیات (او ژوندون)

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۴﴾ فَاِذَا رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ

لَوْ كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ	فَاِذَا	رَكِبُوْا	فِي الْفُلْكِ	دَعَوُا	اللّٰهَ
که چیری وی دوی	چي پوهیدلی	پس هرکله چي	سپاره سی دوی	په کشتی کښی	نو بولی دوی	الله

که چیری وی دوی چي پوهیدلی. پس هرکله چي سپاره (سواره) سی دوی په کشتی کښی نو بولی دوی (هلته یوازی) الله

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ

مُخْلِصِيْنَ	لَهُ الدِّيْنَ	فَلَمَّا	نَجّٰىهُمْ	اِلَى الْبَرِّ
چي خالص کوونکي وی دوی	دغه (الله) ته دین خپل	پس هر کله چي	نجات ورکړی (الله) دوی ته	وچي ته

چي خالص کوونکي وی دوی دغه (الله) ته دین (اعتقاد) خپل پس هرکله چي نجات ورکړی (الله) دوی ته وچي ته

اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۵﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚۙ

اِذَا هُمْ	يُشْرِكُوْنَ	لِيَكْفُرُوْا	بِمَآ	اٰتَيْنٰهُمْ
ناڅاپه دوی	بیا شریکان نیسی (له الله سره)	لپاره د دی چي کافران سی دوی	په هغه نعمت	چي ورکړی ؤ موږ دوی ته

ناڅاپه دوی بیا شریکان نیسی له الله سره (لکه پخوا) .لپاره د دی چي کافران سی دوی په هغه نعمت چي ورکړی ؤ موږ دوی ته

وَلِيَتَمَتَّعُوْا ۠ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۶﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا

وَلِيَتَمَتَّعُوْا	فَسَوْفَ	يَعْلَمُوْنَ	اَوَلَمْ يَرَوْا	اَنَّا
او چي گټه واخلی دوی	پس ژر به	پوه سی دوی	آیا نه وینی (نه پوهیږی)	چي بیشکه! موږ

او چي گټه، فائده واخلی دوی پس ژر به پوه سی دوی (په عاقبت د کار خپل). آیا نه وینی (نه پوهیږی) چي بیشکه! موږ

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ.. ددنیا ژوند قرار او ثبات نه لري او نه هم مقصدونه په حل کیږي: په دغه آیت کي الله ﷻ ددنیا ژوند ته لهو او لعب ویلي دي مطلب دديٖ دادی چي لکه څنگه چي دلوبو څه ثبات او قرار او څه لوی مقصد په ديٖ سره نه حل کیږي دلږ وخت څخه وروسته ټوله تماشه ختمه سي دا حال ددنیا دی : دديٖ څخه وروسته په آیت کي یي دديٖ مشرکانو یو بد حال دا وښووی چي لکه څنگه چي دا خلگ دکائناتو په پیدا کولو کي دالله ﷻ دیو منلو باوجود په جهالت کي اخته سوي دي چي بتانو ته دخدای ﷻ سره شریک وایي دديٖ څخه زیاته عجیبه داده چي کله پر دوی یو لوی مصیبت راسي نو ددغه مصیبت په وخت کي هم ددوی دا یقین او اقرار وي چي په دي کي یوبت هم زموږ مددنه سي کولای دمصیبت څخه خلاصی صرف الله ﷻ کولای سي. دديٖ دپاره په طور دمثال فرمایي چي دا خلگ کله په دریاب کي څپې داوبو راگیر کي نو خالص الله ﷻ ته ناري وهي او چي بیا وچي ته راسي الله ﷻ یي هیر سي او شرک کوي.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۲۰)

جَعَلۡنَا حَرَمًا اٰمِنًا وَّیُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنۡ حَوۡلِهِمۡ

حَوۡلِهِمۡ	مِنۡ	النَّاسُ	وَّیُتَخَطَّفُ	اٰمِنًا	حَرَمًا	جَعَلۡنَا
شا اوخوا د دوی	له	نور خلک	حال داچې تښتول کیږي	امن ورکوونکی	حرم	ګرځولی دی موږ

ګرځولی موږ دی (دا ښار د مکې) حرم امن ورکوونکی (له آفتونو څخه) حال داچې چور کیږي نور خلک له چاپیره د دوی

اَفَبِالۡبَاطِلِ یُؤۡمِنُوۡنَ وَبِنِعۡمَةِ اللّٰهِ یَكۡفُرُوۡنَ ﴿۶۷﴾ وَمَنۡ

وَمَنۡ	یَكۡفُرُوۡنَ	اللّٰهِ	وَبِنِعۡمَةِ	یُؤۡمِنُوۡنَ	اَفَبِالۡبَاطِلِ
او څوک دی	کافران کیږي	د الله	او په نعمت	ایمان راوړي دوی	آیا پس په باطلو معبودانو

آیا پس په باطلو معبودانو ایمان راوړي دوی او په نعمت د الله (چې په حرم کښې اوسیدل دي) کافران کیږي. او څوک دی

اَظۡلَمُ مِمَّنِ افۡتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا اَوۡ كَذَّبَ

اَوۡ كَذَّبَ	كَذِبًا	عَلَی اللّٰهِ	افۡتَرٰی	مِمَّنِ	اَظۡلَمُ
یا تکذیب وکړي	دروغ	پر الله	له ځانه وتړي	له هغه چا چې	ډیر ظالم

ډیر ظالم له هغه چا چې له ځانه وتړي په الله دروغ (چې بی حجته ورته شریک نیسي) یا تکذیب وکړي

بِالۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهٗ ؕ اَلَیۡسَ فِیۡ جَهَنَّمَ مَثۡوًی لِّلۡكٰفِرِیۡنَ ﴿۶۸﴾

لِّلۡكٰفِرِیۡنَ	مَثۡوًی	فِیۡ جَهَنَّمَ	اَلَیۡسَ	جَآءَهٗ	لَمَّا	بِالۡحَقِّ
دپاره د کافرانو	ځای د هستوګنی	په دوزخ کښې	آیا نسته	چې راسی هغه ده ته	کله	د حق

د حق (رسول او قرآن) کله چې راسی هغه ده ته آیا نسته (بلکه سته) په دوزخ کښې ځای د هستوګنې له پاره د کافرانو.

وَالَّذِیۡنَ جَاهَدُوۡا فِیۡنَا لَنَهۡدِیَنَّهُمۡ

لَنَهۡدِیَنَّهُمۡ	فِیۡنَا	جَاهَدُوۡا	وَالَّذِیۡنَ
خامخا وبه ښیيو هرومرو دوی ته	تل په (دین) زموږ کښی	چې کوښښ کوي	او هغه کسان

او هغه کسان چې کوښښ کوي تل په (دین د) موږ کښې خامخا وبه ښیيو هرومرو دوی ته

سُبُلَنَا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۶۹﴾ ع

لَمَعَ الۡمُحۡسِنِیۡنَ	اللّٰهَ	وَاِنَّ	سُبُلَنَا
خامخا له نیکو کارانو سره دی	الله	او بیشکه!	لارې خپلې

لارې خپلې (چې موږ ته پرې راځي) ، او بیشکه! الله خامخا له نیکو کارانو سره دی (په مرسته کښې).

وَالَّذِیۡنَ جَاهَدُوۡا فِیۡنَا لَنَهۡدِیَنَّهُمۡ سُبُلَنَا .. د کفارو سره جنګ او جګړه او دخپل نفس سره مقابله دادواړه جهاد دی : دجهاد اصلي معنـی پـه دیـن کـي دراپیښیدونکو بندیزونو پـه لیري کولـو کـي خپل پوره طاقت لګول دي په دي کي هغه بندیزونه هم دا خل دي کم چي دکافرانو او فــاجرانو دطــرف څخــه پیښیږي دکفارو سره جنګ کول ددي لوړاو اعلی فرد دی او هغه بندیزونه هم په کښـي شـامل دي کـم چي دخپـل نفـس او شـیطان دطـرف څخـه پیښـیږي : دجهــاد پــه دي دواړو قسمونوباندي پـه دي آیت کـي داوعـده ده چـي مـوږ جهـاد کوونکوتـه دخپلـو لارو هدایت کوو یعني پـه کوموقعو کي چي پـه خیر او شـر یـا حق او باطل یـا نفع اوضرر کي التباس وي عقلمند انسان سـوچ کـوي چي کمه لاره اختیاره کړم پـه داسـي موقعـو کـي الله ﷻ پـه خپلـه لاره کـي جهـادکوونکو تـه صـحیح سیده بې خطري لاره ښـیي یعنـي ددوی زړونـه هغـه طـرف تـه ګرځـوي پـه کـم طرف کي چي ددوی دپاره خیر او برکت وي : الله ﷻ دي مـــوږ پـــه جهـــاد کوونکـو کي شـمار کـړي (معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۲۱)

ع ۷
۳

أياتونه ۶۰ — ۳۰ سُوْرَةُ الرُّوْمِ مَكِّيَّةٌ ۸۴ — رکوعونه ۶

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمّٓ ۞۱ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ۞۲ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

الٓمّٓ	غُلِبَتِ	الرُّوْمُ	فِيْٓ اَدْنَى	الْاَرْضِ	وَهُمْ	مِّنْۢ بَعْدِ
الف، لام، میم	مغلوب کړی سو	روم	په نژدې	مځکه کښې	او دوی	وروسته

الف، لام، میم. مغلوب کړی سو (اهل د) روم په نژدې مځکه کښې (مځکې د عربو ته) او دوی (رومیان) وروسته

غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ۞۳ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۬ لِلّٰهِ الْاَمْرُ

غَلَبِهِمْ	سَيَغْلِبُوْنَ	فِيْ بِضْعِ	سِنِيْنَ	لِلّٰهِ	الْاَمْرُ
له دغه مغلوبیت د دوی	ژر به بیا غالب سی	په څو	کلونو کښې	خاص الله ته دی	حکم، امر

له دغه مغلوبیت د دوی ژر به بیا غالب سی (په پارسیانو) په څو کلونو کښې، خاص الله ته دی حکم، امر

مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ۬ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۞۴

مِنْ قَبْلُ	وَمِنْۢ بَعْدُ	وَيَوْمَئِذٍ	يَّفْرَحُ	الْمُؤْمِنُوْنَ
پخوا له دی	او وروسته له دی څخه	او په هغه ورځ	خوشحاله به سی	مؤمنان

پخوا له دی (چې پارس پر روم)، او وروسته له دی (چې روم پر پارس بری پیدا کړی) څخه او په هغه ورځ خوشحاله به سی مؤمنان

بِنَصْرِ اللهِ ۬ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ۬ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۞۵

بِنَصْرِ اللهِ	يَنْصُرُ	مَنْ يَّشَآءُ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الرَّحِيْمُ
په کومک د الله سره	کومک کوی	له هر هغه چا سره چې اراده وکړی	او هم دی دی	ښه غالب قوی	ډیر رحم والا

مرسته کوی الله له هر هغه چا سره چې اراده وکړی د نصرت یې او هم دی دی ښه غالب قوی ډیر رحم والا .

وَعْدَ اللهِ ۬ لَا يُخْلِفُ اللهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

وَعْدَ اللهِ	لَا يُخْلِفُ	اللهُ	وَعْدَهٗ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ
وعده کړی ده الله	خلاف نه کوی	الله	له وعدی خپلی	او لیکن	زیاتره	خلک

وعده کړی ده الله (وعده کول) خلاف نه کوی الله له وعدی خپلی او لیکن زیاتره خلک

غُلِبَتِ الرُّوْمُ ۞۲ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

دسورت روم دنزول قصه او دفارس جنګ: په دغه سورت کي چي کمه واقعه دروم او دفارس دجنګ ذکر ده هغه دواړه کفار وه په دغو کي دچا فتح او دچا شکست په ښکاره داسلام او دمسلمانانو دپاره څه ددلچسپي شی نه دی مګر په دې دواړو کفارو کي اهل فارس مشرکين او آتش پرسته وه او دروم نصاری اهل کتاب وه او ښکاره ده چي په دواړه قسمه کفارو کي اهل کتاب مسلمانانو ته نژدې دي ځکه چي ددين ډير اصول پر آخرت ايمان پر وحي او رسالت باندي ايمان په دوی کي قدر مشترک دی ددې قدر مشترک څخه نبي کريم ﷺ په خپل هغه خط کي کار واخيستی کم چي يي دروم پاچا ته داسلام ددعوت ورکولو دپاره ليږلی وو: دمسلمانانو سره داهل کتابو نژديکت ددې سبب جوړ سو چي دنبي کريم ﷺ دمکې دقيام په زمانه کي فارس پر روم باندي حمله وکړه ددې جنګ په دوران کي مشرکينو داغوښته چي فارس غالبه سي ځکه چي هغوی هم په بت پرستی کي ددوی سره شريک وه. پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

لَا يَعْلَمُوْنَ ۞٦ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَهُمْ

لَا يَعْلَمُوْنَ	يَعْلَمُوْنَ	ظَاهِرًا	مِّنَ الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَهُمْ
نه پوهيږي	(بلكه) پوهيږي	په ښكاره سطحی شيانو	له دغه ژوندون	د دنيا څخه	حال دا چې دوی

نه پوهيږي. (بلكه) پوهيږي په ښكاره سطحی شيانو له دغه ژوندون د دنيا څخه حال دا چې دوی

عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۞٧ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۗ

عَنِ الْاٰخِرَةِ	هُمْ	غٰفِلُوْنَ	اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا	فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ
د آخرت څخه	هم دوی	غافلان دی	آيا فكر نه كوی دوی	په نفسونو خپلو كښی

له آخرت څخه هم دوی غافلان دی. آيا فكر نه كوی دوی په نفسونو خپلو كښی (چې عالم صغير دی)

مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ

مَا خَلَقَ	اللّٰهُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	وَمَا بَيْنَهُمَآ
چې نه دی پيدا كړی	الله	دغه آسمانونه	او مځكه	او هر هغه چې په مينځ د دغو دواړو كښی دی

چې نه دی پيدا كړی الله دغه آسمانونه او مځكه او هر هغه چې په مينځ د دغو دواړو كښی دی

اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ

اِلَّا	بِالْحَقِّ	وَاَجَلٍ	مُّسَمًّى	وَاِنَّ	كَثِيْرًا	مِّنَ النَّاسِ
مگر	په حقه سره	او په نيتی	ټاكلی سوی	او بيشكه! چې	ډير	له خلكو (كفارو)

مگر په حقه سره او په نيتی ټاكلی (مقرر كړی) سوی او بيشكه! چې ډير له خلكو (كفارو)

بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۞٨ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

بِلِقَآئِ	رَبِّهِمْ	لَكٰفِرُوْنَ	اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ
په ملاقات	د رب خپل كښی	خامخا منكران دی	آيا نه گرځی دغه كفار	په مځكه كښی

په ملاقات د رب خپل (په قيامت كښی) خامخا منكران دی. آيا نه گرځی دغه كفار په مځكه كښی

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ

فَيَنْظُرُوْا	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
پس ودې گوری	دا چې څرنگه	وه	آخره خاتمه	دهغو كسانو (چې تيرسوی دی)	پخوا له دوی څخه

پس ودې گوری دا چې څرنگه وه آخره خاتمه دهغو (كسانو) چې تير سوی دی پخوا له دوی څخه،

اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ مَا خَلَقَ اللّٰهُ... دتير مخ پاته بيان دلته وگوری: او مسلمانانو دا غوښتل چې روم غالبه سي ځكه چې هغوی د دين او مذهب په اعتبار سره اسلام ته نژدې وه مگر وسوه دا چې دغه وخت فارس پر روم غالب سو تر دې چې قسطنطنيه يې هم فتح كړه او هلته يې دخپل عبادت د پاره يوه آتشكده جوړه كړه او دا فتح د كسری پرويز آخري فتح وه د دې څخه وروسته دده زوال شروع سو او بيا د مسلمانانو دلاسه دده خاتمه وسوه: په دې واقعه كې د مكې مشركينو خوشحالي وكړه او مسلمانانو ته يې پيغور وركړی چې تاسي څوك غوښتل هغوی وبايلله او لكه څنگه چې روميانو اهل كتابو د فارس په مقابله كې شكست وخوړی زموږ په مقابله كې به تاسي هم شكست وخوری په دې باندې مسلمانان خفه سول نو هغه وو چې په قرآن كريم كې ابتدايي اياتونه د دې واقعې متعلق نازل سول په كم كې چې دا پيشگويي او خوشخبري وركول سوېده چې څو كاله وروسته به بيا روم پر فارس غالبه راسي تاسي پريشانه كيږی مه الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۲۴)

كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةً وَّاَثَارُوا الۡاَرۡضَ

كَانُوْٓا	اَشَدَّ	مِنۡهُمۡ	قُوَّةً	وَّاَثَارُوا	الۡاَرۡضَ
چې وو هغه	ډیر سخت	له دغو کفارو	له جهته د قوت	او څیرولې به دوی	مځکه

چې وو هغه پخوانی ملتونه ډیر سخت له دغو کفارو له جهته د قوت او څیرولې به دوی مځکه (د اوبو، معادنو، کښتونو اونور)

وَعَمَرُوۡهَآ اَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوۡهَا وَجَآءَتۡهُمۡ

وَعَمَرُوۡهَآ	اَكۡثَرَ مِمَّا	عَمَرُوۡهَا	وَجَآءَتۡهُمۡ
او ودانه کړی وه (کفارو) دغه مځکه	ډیره له هغې مځکې	چې ودانه کړی ده دوی دغه (مځکه)	او راغلی وو دوی ته

او ودانه کړی وه (کفارو) دغه مځکه ډیره له هغې مځکې څخه چې ودانه کړی ده (کفارو د مکې) دغه مځکه او راغلی وو دوی ته

رُسُلُهُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلٰكِنۡ كَانُوۡٓا

رُسُلُهُمۡ	بِالۡبَيِّنٰتِ	فَمَا كَانَ	اللّٰهُ	لِيَظۡلِمَهُمۡ	وَلٰكِنۡ	كَانُوۡٓا
رسولان د دوی	په ښکاره ؤ دلائلو	او نه ؤ	الله	چې ظلم وکړی په دوی باندی	او لیکن	وو دوی

رسولان د دوی په ښکاره ؤ دلائلو (د قدرت) او نه ؤ الله چې ظلم وکړی په دوی باندی او لیکن وو دوی

اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿٩﴾ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيۡنَ اَسَآءُوا

اَنۡفُسَهُمۡ	يَظۡلِمُوۡنَ	ثُمَّ	كَانَ	عَاقِبَةَ	الَّذِيۡنَ	اَسَآءُوا
چې پر نفسونو خپلو	به یې ظلم کاوه	بیا	وه	آخره خاتمه	د هغو کسانو	چې بد یې کړی ؤ

چې پر نفسونو خپلو به یې ظلم کاوه. بیا وه آخره خاتمه د هغو کسانو چې بد یې کړی ؤ

السُّوۡٓاٰى اَنۡ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوۡا بِهَا يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿١٠﴾ ع

السُّوۡٓاٰى	اَنۡ كَذَّبُوۡا	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَكَانُوۡا	بِهَا	يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ
ډیر بد	په سبب د دی چې تکذیب کړی دی دوی	د آیتونو	د الله	او وو دوی	په دغو (آیتونو)	مسخری کوونکی

ډیر بد ځای (جهنم) په دی سبب چې تکذیب کړی دی دوی د آیتونو د الله او وو دوی په دغو آیتونو به یې مسخری کولی

اَللّٰهُ يَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ ثُمَّ اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿١١﴾

اَللّٰهُ	يَبۡدَؤُا	الۡخَلۡقَ	ثُمَّ	يُعِيۡدُهٗ	ثُمَّ	اِلَيۡهِ	تُرۡجَعُوۡنَ
الله	اول وار پیدا کوی	خلق	بیا	اعاده کوی هغه	بیا به	خاص هم دغه (الله) ته	بیول کیږئ تاسی

الله اول ځلی پیدا کوی خلق (انسان له نطفی) بیا اعاده کوی هغه بیا به خاص هم دغه (الله) ته بیول کیږئ تاسی.

كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةً وَّاَثَارُوا الۡاَرۡضَ.. ایا دمکې کفارو د تیرو اقوامو نړیدلي ابادی او ښارونه نه دي لیدلي ؟ یعني دا دمکې خلگ خو دیوې داسې مځکې او سیدونکي دي کم ځای چې نه کرونده سته، نه څه صنعت او نه د تجارت موقع او نه لوړې آو ښایسته ابادی مگر د شام او یمن سفر دې خلگو ته د خپل تجارتي مقصدونو دپاره ورپیښیږي ایا په دې سفرونو کې دې خلگو د ځان څخه دمخکې قومونو د دنیا د انجام مشاهده نه ده کړې کمو ته چې الله ﷻ په مځکه کې دلویو لویو تصرفاتو کولو سلیقه ورکړې وه چې مځکه کیندل او او به ورڅخه را ایستل باغونه او مځکې وربانندي او به کول او د مځکې د پټو کانونو څخه سره سپین او نور قسم د کانونو شیان را ایستل او د انساني فائدو د پاره ورڅخه مختلف قسم شیان تیارول دهغوی د ژوند وظیفه وه او هغوی د خپلې زمانې متمدن قومونه گڼل کیدل مگر هغوی په دې مادي او فاني عیش او عیشرت باندې مست سول او نتیجه یې آخر کار هلاکت په برخه سو الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۳۰)

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ⑫ وَلَمْ يَكُنْ

وَيَوْمَ	تَقُوْمُ	السَّاعَةُ	يُبْلِسُ	الْمُجْرِمُوْنَ	وَلَمْ يَكُنْ
او په هغه ورځ	چې قائم سی	قیامت	نا امیده به سی	ګنهګاران	او نه به وی

او په هغه ورځ چې قائم سی قیامت نا امیده (زړه ماتی) به سی ګنهګاران (مشرکان) او نه به وی

لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ

لَّهُمْ	مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ	شُفَعٰٓؤُا	وَكَانُوْا	بِشُرَكَآئِهِمْ
دوی ته	له شریکانو د دوی څخه	کوم شفاعت کوونکی	او سی به دوی	له شریکانو خپلو

دوی ته له شریکانو د دوی څخه کوم شفاعت کوونکی او سی به دوی له شریکانو خپلو (پس له نا امیدی)

كٰفِرِيْنَ ⑬ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ⑭

كٰفِرِيْنَ	وَيَوْمَ	تَقُوْمُ	السَّاعَةُ	يَوْمَئِذٍ	يَّتَفَرَّقُوْنَ
بیزاره منکران	او په هغه ورځ	چې ودریږی	قیامت	په دغه ورځ کښی	تار په تار به سی ټول مخلوقات

بیزاره منکران. او په هغه ورځ چې ودریږی قیامت په دغه ورځ کښی تار په تار خپاره (خواره) به سی ټول مخلوقات.

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ

فَاَمَّا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	فَهُمْ
پس هر څه	هغه کسان	چې ایمان یې راوړی دی	او کړی یې دی	ښه (عملونه)	پس دوی به

پس هر څه هغه (کسان) چې ایمان یې راوړی دی او کړی یې دی ښه (عملونه) پس دوی به

فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ⑮ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

فِيْ رَوْضَةٍ	يُّحْبَرُوْنَ	وَاَمَّا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَكَذَّبُوْا
په باغ کښی	خوشحاله کړل سی	او هر څه	هغه کسان	چې کافران سوی دی	او دروغجن یې شمیرلی دی

په روضه (دجنت) کښی خوشحاله کړل سی. او هر څه هغه کسان چې کافران سوی دی او دروغجن یې شمیرلی دی

بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِى الْعَذَابِ

بِاٰيٰتِنَا	وَلِقَآئِ	الْاٰخِرَةِ	فَاُولٰٓئِكَ	فِى الْعَذَابِ
آیتونه (دقرآن) زموږ	او په ملاقات	د آخرت	پس دغه کسان	په عذاب کښی

آیتونه (دقرآن) زموږ او (کافران دی) په ملاقات د آخرت پس دغه کسان په عذاب کښی

فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ⑮ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا.....

جنتیان به په جنت کي خوشحاله وي هلته غم نسته: يحبرون دحبور څخه مشتق دی چي معنی یي سرور او خوشحالي ده او ددې لفظ په عموم کي هر قسم خوشحالی داخلي دي کمي چي به دجنت دنعمتونو څخه جنتیانو ته حاصليږي په قرآن کريم کي یي دادلته هم عام ابنبي ده دغه رکم بل ځای داارشاد دی. فلاتعلم نفس مااخفی لهم من قرّة اعين: یعني یو سړي ته په دنیا کي معلومه نه ده چي ددوی دپاره په جنت کي دسترګو ديخ والي او راحت او خوشحالی څه څه اسبابونه جمع دي ځيني مفسرينوچي کم خاص خاص دخوشحالو شيان ددې آيت تر تفسير لاندي ذکر کړي دي هغه ټول تر دي اجمال لاندي داخل دي. دايت معنی داده چي کمو خلګو چي ايمان راوړی وو او نيک کارونه يي کړي وه هغوی به دجنت په باغ کي خوشحالی کوونکي وي او کمو خلګو چي کفر کړی وو او زموږ اياتونه او د آخرت راتلل يي درواغجن کړي وه هغه خلګ به په سختو سختو عذابونو کي ګرفتاره وي الخ.

(معارف القرآن ج۷ پ ۲۱ ص ۳۲)

مُحۡضَرُوۡنَ ⑯ فَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ حِيۡنَ تُمۡسُوۡنَ وَحِيۡنَ

مُحۡضَرُوۡنَ	فَسُبۡحٰنَ	اللّٰهِ	حِيۡنَ	تُمۡسُوۡنَ	وَحِيۡنَ
حاضر کړی سوی دی	پس تسبیح (وایئ)	د الله	کله چې	داخل سی په ماښام کښې	او کله چې

حاضر کړی سوی دی. پس (تسبیح ووایئ د الله) تسبیح د الله کله چې داخل سئ په بیګا (ماښام) کښې او کله چې

تُصۡبِحُوۡنَ ⑰ وَلَهُ الۡحَمۡدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

تُصۡبِحُوۡنَ	وَلَهُ	الۡحَمۡدُ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ
ننوځئ په سهار کښې	او خاص هم ده ته	د ټولو ثناء، ستاینی	په آسمانونو کښې	او په مځکه کښې (دی)

ننوځئ په سهار کښې. او خاص هم ده ته د ټولو ثناء صفت په آسمانونو کښې او په مځکه کښې (دی)

وَعَشِيًّا وَّحِيۡنَ تُظۡهِرُوۡنَ ⑱ يُخۡرِجُ الۡحَيَّ مِنَ الۡمَيِّتِ

وَعَشِيًّا	وَّحِيۡنَ	تُظۡهِرُوۡنَ	يُخۡرِجُ	الۡحَيَّ	مِنَ الۡمَيِّتِ
او کله چې ننوځئ په آخر د ورځې کښې	او کله چې	ننوځئ په ماپښین کښې	راوباسی (الله)	ژوندی	له مړی

او کله چې ننوځئ په آخر د ورځې کښې او کله چې ننوځئ په (وخت د) ماپښین کښې. راوباسی (الله) ژوندی له مړی

وَيُخۡرِجُ الۡمَيِّتَ مِنَ الۡحَيِّ وَيُحۡيِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا

وَيُخۡرِجُ	الۡمَيِّتَ	مِنَ الۡحَيِّ	وَيُحۡيِ	الۡاَرۡضَ	بَعۡدَ	مَوۡتِهَا
او راوباسی (الله)	مړی	له ژوندی	او ژوندی کوی	مځکه	پس له	مرګه (وچوالی) دهغی

او راوباسی (الله) مړی له ژوندی او ژوندی کوی مځکه پس له مرګه (وچوالی) دهغی

وَكَذٰلِكَ تُخۡرَجُوۡنَ ⑲ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ اَنۡ

وَكَذٰلِكَ	تُخۡرَجُوۡنَ	وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ	اَنۡ
او په مثل (دراویستلو د دغو شیانو)	راویستل کیږئ تاسی	او یوه له ننبو د دغه (الله)	داده

او په مثل (د راویستلو د دغو شیانو) راویستل کیږئ تاسی (له قبرونو څخه). او یوه له ننبو (دقدرت) ددغه (الله) داده

خَلَقَكُمۡ مِّنۡ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَاۤ اَنۡتُمۡ بَشَرٌ تَنۡتَشِرُوۡنَ ⑳ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ

خَلَقَكُمۡ	مِّنۡ تُرَابٍ	ثُمَّ	اِذَاۤ اَنۡتُمۡ	بَشَرٌ	تَنۡتَشِرُوۡنَ	وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ
چې پیدا ئې کړی تاسی	له خاورو	بیا	اوس تاسی یئ	بشر	ګرځئ راګرځئ	او له ننبو د دغه (الله)

چې پیدا ئې کړی (اصل د) تاسی له خاورو بیا اوس تاسی یئ بشر خوریږئ (په مځکه). او (ځینی) له ننبو د دغه (الله)

فَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ حِيۡنَ تُمۡسُوۡنَ وَحِيۡنَ تُصۡبِحُوۡنَ

یوه عظیمه فائده: دغه آیت دحضرت ابراهیم علیه السلام هغه دعا ده دکمې په وجه سره چې قرآن کریم ده ته دوعدې پوره کوونکې خطاب ورکړی دی ارشاد فرمایی: وابراهیم الذی وفّی: حضرت ابراهیم علیه السلام به داکلمې سهار او ماښام ویلې: لکه چې په صحیح سندونو سره دحضرت معاذ بن انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې دحضرت ابراهیم علیه السلام په وفا کوونکې دوعدې سره دتعریف کولو سبب دهغه دادعا وه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددې دواړو ایاتونو. فسبحان الله حین تمسون وحین تصبحون :: وله الحمد فی السموات والارض بعد موتها وعشیا وحین تظهرون:: یخرج الحيّ من المیت ویخرج المیت من الحي ویحیي الارض بعد موتها وکذلک تخرجون. متعلق فرمایي چې کم سړی سهار وختې داکلمې ووایي نو په ټوله ورځ کې چې دده په عمل کې کمه کوتاهي راغې هغه به ددې کلمو په برکت سره پوره سي او همدارنګه دماښام ده هم الخ.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۳۴)

ع ۲ ۵

اَنۡ خَلَقَ لَكُمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ اَزۡوَاجًا لِّتَسۡكُنُوۡۤا اِلَيۡهَا

اِلَيۡهَا	لِّتَسۡكُنُوۡۤا	اَزۡوَاجًا	مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ	اَنۡ خَلَقَ لَكُمۡ
دوی ته	لپاره د دې چې مائل سئ	ښځې (جوړه)	له نفسونو ستاسې	دا دی چې پیدا کړې یې دی تاسې ته

دا دی چې پیدا کړې یې دی تاسې ته له نفسونو (ځانونو) ستاسې ښځې (جوړه) لپاره د دې چې مائل سئ دوی ته

وَجَعَلَ بَيۡنَكُمۡ مَّوَدَّةً وَّرَحۡمَةً ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

لَاٰيٰتٍ	فِىۡ ذٰلِكَ	اِنَّ	وَّرَحۡمَةً	مَّوَدَّةً	بَيۡنَكُمۡ	وَجَعَلَ
خامخا ډیرې نښې د قدرت دي	په دغه کښې	بیشکه!	او مهرباني	دوستي	په مینځ ستاسې کښې	او ګرځولې یې ده

او ګرځولې یې ده په مینځ ستاسې (او د ښځو) کښې دوستي او مهرباني بیشکه! په دغه کښې خامخا ډیرې نښې د قدرت دي

لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۲۱﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ خَلۡقُ السَّمٰوٰتِ

السَّمٰوٰتِ	خَلۡقُ	اٰيٰتِهٖ	وَمِنۡ	يَّتَفَكَّرُوۡنَ	لِّقَوۡمٍ
د آسمانونو	پیدا کول	نښو د دغه (الله)	او (ځینې) له	چې فکر کوي	لپاره (د هغه) قوم

لپاره د (هغه) قوم چې فکر کوي (د الله په صنع کښې). او (ځینې) له نښو (د قدرت) د دغه (الله) پیدا کول د آسمانونو

وَالۡاَرۡضِ وَاخۡتِلَافُ اَلۡسِنَتِكُمۡ وَاَلۡوَانِكُمۡ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ

فِىۡ ذٰلِكَ	اِنَّ	وَاَلۡوَانِكُمۡ	اَلۡسِنَتِكُمۡ	وَاخۡتِلَافُ	وَالۡاَرۡضِ
په دغه کښې	بیشکه	او د رنګونو ستاسې	د ژبو ستاسې	او اختلاف دی	او د مځکې

او د مځکې او اختلاف دی د ژبو ستاسې او (بل اختلاف دی) د رنګونو ستاسې، بیشکه! په دغه (اختلاف کښې)

لَاٰيٰتٍ لِّلۡعٰلِمِيۡنَ ﴿۲۲﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمۡ بِالَّيۡلِ

بِالَّيۡلِ	مَنَامُكُمۡ	وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ	لِّلۡعٰلِمِيۡنَ	لَاٰيٰتٍ
په شپه کښې	خوب ستاسې دی	او (ځینې) له نښو د دغه (الله)	لپاره د مخلوقاتو	خامخا ډیرې نښې دي

خامخا ډیرې نښې (د قدرت) دي لپاره د عالمانو، پوهانو. او (ځینې) له نښو د دغه (الله) خوب ستاسې دی په شپه کښې

وَالنَّهَارِ وَابۡتِغَآؤُكُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

لَاٰيٰتٍ	فِىۡ ذٰلِكَ	اِنَّ	مِّنۡ فَضۡلِهٖ	وَابۡتِغَآؤُكُمۡ	وَالنَّهَارِ
خامخا ډیرې نښې دي	په دې کښې	بیشکه!	له فضله د الله	او طلب ستاسې دی	او په ورځ کښې

او په ورځ کښې او طلب ستاسې دی (په ورځ کښې) له فضله د الله، بیشکه! په دې کښې خامخا ډیرې نښې (د قدرت) دي

خَلَقَ لَكُمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ اَزۡوَاجًا لِّتَسۡكُنُوۡۤا.. اوله نښه د قدرت د الله ﷻ د قدرت دنښو څخه: د انسان په شان اشرف المخلوقات او حاکم د کائناتو د خاورې څخه پیدا کول دي کم چې په دې دنیا کې په ترکیبي عناصرو کې د تولو څخه ډیر تیې ادنی درجې عنصر دی په کم کې چې د حس او حرکت او شعور او ادراک څه بوی قدر هم په نظر راځي: ځکه چې په مشهورو څلورو عناصرو ، اور ، اوبه ، هوا ، او خاوره کې د خاورې څخه ماسوا په نورو ټولو عناصرو کې څه نا څه حرکت خو سته خاوره د دې څخه محرومه ده قدرت د انسان د پیدا کولو د پاره د انتخاب و فرمایله: د ابلیس د ګمراهې سبب دا جوړ سو چې د اور عنصر یې د خاورې څخه اشرف او اعلی وګڼی او تکبر یې اختیاره کی او په دې پوه نه سو چې شرافت او بزرګي د خالق او مالک په لاس کې ده هغه څوک چې وغواړي لوی جوړولی سي او د انسان د پیدایش ماده د خاورې څخه کیدل د حضرت آدم ﷺ په اعتبار سره ښکاره ده او هغه چونکي د ټولو انسانانو د وجود اصل بنیاد دی په دې وجه د نورو انسانانو پیدایش په واسطه سره د ي طرف ته منسوب کول څه لیرې خبره نه ده او ممکنه ده چې په نطفه کې هم د خاورو جز غالبه وي. (معارف القرآن ج ۷ ص ۲۱ پ ۲۱)

لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا

لِّقَوْمٍ	يَّسْمَعُوْنَ	وَمِنْ اٰيٰتِهٖ	يُرِيْكُمُ	الْبَرْقَ	خَوْفًا
لپاره (دهغه) قوم	چې اوري	او (ځينې) له نښو د دغه (الله)	چې ښيي تاسې ته	برېښنا	(دپاره) دېرې

لپاره (دهغه) قوم چې اوري. او (ځينې) له نښو (دقدرت) د دغه (الله دا دي) چې ښيي تاسې ته برېښنا دپاره دېرې

وَّطَمَعًا وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ

وَّطَمَعًا	وَّيُنَزِّلُ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَيُحْيٖ	بِهِ الْاَرْضَ	بَعْدَ
او لپاره داميد دباران	او نازلوي الله	له (طرفه) دآسمان څخه	اوبه	پس ژوندۍ کوي	په دغو (اوبو) سره مځکه	وروسته

او لپاره داميد باران او نازلوي (الله) له (طرفه) دآسمان څخه اوبه پس ژوندۍ کوي په دغو (اوبو) سره مځکه وروسته

مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۴﴾

مَوْتِهَا	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوْمٍ	يَّعْقِلُوْنَ
له مرګ د دې	بيشکه!	چې په دغه کښې	خامخا ډېرې نښې دي	دپاره (دهغه) قوم	چې عقل لري

له مرګ (وچوالي) د دې بيشکه! چې په دغه (برېښنا او باران) کښې خامخا ډېرې نښې دي دپاره (دهغه) قوم چې عقل لري.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ؕ

وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ	اَنْ تَقُوْمَ	السَّمَآءُ	وَالْاَرْضُ	بِاَمْرِهٖ
او (ځينې) له نښو د دغه (الله)	دا دي چې ولاړ دي	آسمان	او مځکه	په امر، حکم د الله سره

او (ځينې) له نښو (دقدرت د) د غه (الله) دا دي چې ولاړ دي آسمان (بې له ستنو) او مځکه په امر، حکم د الله سره

ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖۗ مِّنَ الْاَرْضِ ۖۗ اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿۲۵﴾

ثُمَّ	اِذَا	دَعَاكُمْ	دَعْوَةً	مِّنَ الْاَرْضِ	اِذَآ	اَنْتُمْ	تَخْرُجُوْنَ
بيا	کله چې	راوبولي تاسې	په بللو سره	له مځکې څخه	ناڅاپه	تاسې	راوزئ

بيا کله چې راوبولي تاسې په بللو سره له مځکې څخه ناڅاپه تاسې راوزئ (ژوندي له قبرونو څيلو څخه).

وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾

وَلَهٗ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	كُلٌّ	لَّهٗ	قٰنِتُوْنَ
او خاص الله لره دي	هر هغه	چې په آسمانونو کښې دي	او په مځکه کښې دي	داټول	دغه الله ته	اطاعت کوونکي دي

او خاص الله لره دي هر هغه چې په آسمانونو کښې دي او په مځکه کښې دي، دا ټول دغه (الله) ته اطاعت کوونکي دي.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا. پنځمه نښه دقدرت دالله ﷻ دقدرت دنښو څخه: داده چې الله ﷻ انسانانو ته دبجلي برېښيدل ښيي چې په دې کې دتندر درالويدو او نقصان رسولو خطره هم وي او په دې پسې دباران اميد هم وي اوبيا باران نازلوي او په دې سره وچه بې جانه مځکه ژوندۍ تر او تازه کوي قسم قسم درختي ميوې او ګلونه پکښې راشنه کوي: ددې په آخر کې فرمايي. انّ فی ذلک لایات لقوم یعقلون. يعنې په دې کې ډېرې نښې دي دعقل والاوو دپاره ځکه چې برق او باران او ددوی په ذريعه حاصليدونکي بوټي او ددوی دميوو او ګلونو پيدا کيدل دالله ﷻ دطرف څخه دا په عقل او حکمت سره پيژندل کيږي: شپږمه نښه دالله ﷻ دقدرت دنښو څخه داده چې دآسمان اود مځکې قايم والی دالله ﷻ په امر سره دی او کله چې دهغه امر داسې وسي چې دانظام دې مات سي نو داټول مضبوط او محکم شيان به په يودم ددغه رب په حکم او امر سره مات او ګډ وډ سي او دحشر په ميدان کې به جمع سي الخ (معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۴۱)

وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ

وَهُوَ الَّذِيْ	يَبْدَؤُا	الْخَلْقَ	ثُمَّ	يُعِيْدُهٗ	وَهُوَ	اَهْوَنُ
او (الله) هم هغه (قادر ذات) دی	چي اول وار پیدا کوي	خلق	بیا به	راژوندی کوی (داخلق)	او دغه	ډیر آسان دی

او (الله) هم هغه (مطلق قادر) دی چي اول ځلی پیدا کوي خلق بیا به راژوندی کوی (داخلق) او دغه ډیر آسان دی

عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

عَلَيْهِ	وَلَهُ	الْمَثَلُ	الْاَعْلٰى	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَهُوَ
پر دغه الله	او خاص الله لره دی	شان، صفت	ډیر لوی، لوړ	په آسمانونو کښی	او په ځمکه کښی	او هم دی دی

پر دغه (الله) او خاص الله لره دی شان، صفت ډیر لوی، لوړ (اوچت) په آسمانونو کښی او په ځمکه کښی او هم دی دی

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٧﴾ ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ۚ

الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	ضَرَبَ لَكُمْ	مَّثَلًا	مِّنْ اَنْفُسِكُمْ
بنه غالب قوی	بنه حکمت والا	بیا نوی (الله) تاسی ته	یو مثال	له ځانونو ستاسی څخه

بنه غالب، قوی بنه حکمت والا. بیانوی (الله) تاسی ته (ای مشرکانو) یو مثال له ځانونو ستاسی څخه (هغه مثال دادی)

هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْ مَا

هَلْ لَّكُمْ	مِّنْ مَّا	مَلَكَتْ	اَيْمَانُكُمْ	مِّنْ شُرَكَآءَ	فِيْ مَا
آیا ستاسی ته	له هغو مریانو	چي مالکان سوی دی	راسته لاسونه ستاسی	څه شریکان	په هغه څه کښی

آیا ستاسی ته (بلکه نسته) له هغو مریانو چي مالکان سوی دی دهغو راسته لاسونه ستاسی څه شریکان په هغه څه کښی

رَزَقْنٰكُمْ فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ

رَزَقْنٰكُمْ	فَاَنْتُمْ	فِيْهِ	سَوَآءٌ	تَخَافُوْنَهُمْ
چي درکړی دی موږ تاسی ته	پس تاسی	په هغه (رزق) کښی	سره برابر یئ	چي بیریږی له هغوی

چي درکړی دی موږ تاسی ته پس تاسی (او دا مریان مو) په هغه (رزق) کښی سره برابر یئ چي بیریږی له هغو

كَخِيْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٢٨﴾

كَخِيْفَتِكُمْ	اَنْفُسَكُمْ	كَذٰلِكَ	نُفَصِّلُ	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّعْقِلُوْنَ
لکه بیریدل ستاسی	له نفسونو خپلو	په مثل د دغه	په تفصیل سره بیانوو موږ	آیتونه	دپاره (دهغه) قوم	چي عقل لری

لکه بیریدل ستاسی له نفسونو خپلو په مثل د دغه په تفصیل سره بیانوو موږ آیتونه (دقدرت) دپاره (دهغه) قوم چي عقل لری

ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ۚ هَلْ لَّكُمْ .. دتوحید دمضمون په مختلفو شواهدو او دلیلونو سره بیان: په ذکر سوو ایاتونو کي دتوحید مضمون په مختلفو شواهدو او دلیلونو او مختلفو عنواناتوکي ښوول سوی دی کم چي دهر انسان زړه ته کښته کیږي: اول یي په یو مثال سره پوه کړي دي چي ستاسي غلام نوکر کم چي ستاسي په شان انسان دی په لاسو پښو طبعي خواهشونو او ټولو شیانو کي ستاسي په شان ستاسي سره شریک دی مگر تاسي یي په خپل اقتدار کي نه گډوی او نه یي هم دځان سره برابر وی چي هغه هم ستاسي په شان چي څه غواړي هغه وکړي څه غواړي هغه خرڅ کړي بالکل دځان په شان برابر خو څه کوې په خپل مال او اختیار کي ورته دادنی شان شرکت هم نه ورکوی لکه چي دیو جزوي او معمولي شریک څخه تاسي بیریږی چي که دهغه درضا څخه بغیر مي څه تصرف وکی نو هغه به اعتراض وکړي غلامانو نوکرانو ته دادرجه هم نه ورکوي نو فکر وکړی چي الله ﷻ به خپل مخلوق څنگه دځان سره شریک کړي.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۴۷)

ع ۳ ۸ ۲

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ

فَمَنْ	عِلْمٍ	بِغَيْرِ	اَهْوَآءَهُمْ	ظَلَمُوْٓا	الَّذِيْنَ	بَلِ اتَّبَعَ
پس څوک به	علم څخه	بی له	دآرزوګانو خپلو	چی ظلم یئ کړی دی	هغه کسان	بلکه متابعت کوی

بلکه متابعت کوی هغه کسان چی ظلم یئ کړی دی دآرزوګانو خپلو بی له علم (او حجت) څخه پس څوک به

يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ۭ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝٢٩ فَاَقِمْ

فَاَقِمْ	مِّنْ نّٰصِرِيْنَ	وَمَا لَهُمْ	اللّٰهُ	مَنْ اَضَلَّ	يَّهْدِيْ
پس برابر کړه	هیڅوک له مرسته کوونکو	او نسته د دوی لپاره	الله	هغه چاته چی ګمراه کړی وی (دی)	سمه صافه لاره وښیی

سمه صافه لاره وښیی هغه چاته چی ګمراه کړی وی (دی) الله او نسته د دوی لپاره هیڅوک له مرسته کوونکو . پس برابر کړه

وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۭ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ

فَطَرَ	الَّتِيْ	اللّٰهِ	فِطْرَتَ	حَنِيْفًا	لِلدِّيْنِ	وَجْهَكَ
پیدا کړی دی (الله)	هغه چی	دالله	لازم ونیسئ پیدا ئینت	په داسی حال چی مایل اوسی حق ته	دین ته	مخ خپل

(ای محمده!) مخ خپل دین ته په داسی حال چی مایل اوسی حق ته لازم ونیسئ پیدا ئینت دالله هغه چی پیدا کړی دی (الله)

النَّاسَ عَلَيْهَا ۭ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ

الْقَيِّمُ	الدِّيْنُ	ذٰلِكَ	اللّٰهِ	لِخَلْقِ	لَا تَبْدِيْلَ	عَلَيْهَا	النَّاسَ
سم دی	دین	دا هم هغه	دالله ته	پیدا ئینت (دین)	چی نسته له سره بدلول	پر هغه	خلک

خلک پر هغه (پیدا ئینت) چی نسته له سره بدلول پیدا ئینت (دین) دالله ته ، دا هم هغه دین سم دی (کوروالی پکښی نسته)

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٣٠ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ

اِلَيْهِ	مُنِيْبِيْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ	النَّاسِ	اَكْثَرَ	وَلٰكِنَّ
دغه (الله) ته	حال دا چی رجوع کوونکی یئ	نه پوهیږی	خلک	زیاتره	او لیکن

او لیکن زیاتره خلک نه پوهیږی (په توحید دالله). حال دا چی رجوع کوونکی یئ دغه (الله) ته

وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝٣١

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ	وَلَا تَكُوْنُوْا	الصَّلٰوةَ	وَاَقِيْمُوا	وَاتَّقُوْهُ
له مشرکانو	او مه کیږئ تاسی	لمونځ	او قائموی	او ییریږئ له (عذابه) د الله

او ییریږئ له (عذابه) د الله او قائموی (سم درویئ) لمونځ او مه کیږئ تاسی له مشرکانو .

فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۭ لَا تَبْدِيْلَ

دفطرت څخه څه مراد دي ؟

په دې معامله کې دتفسير ليکونکو ډير اقوال دي چي په هغو کښي دوه زيات مشهور دي. اول : دا چي دفطرت څخه مراد اسلام دی. او مطلب دادی چي الله ﷻ هر يو انسان دخپل فطرت او جبلت په اعتبار سره مسلمان پيدا کړی دی که دی په خوا او شا ماحول کي څوک خرابوونکي خراب نه کړی نه وای نو هر پيدا کوونکی بچی به مسلمان وای : مګر عادتا کيږي داسي چي مور او پلار ده ته څيني وخت داسلام څخه خلاف شيان وښيي چي دهغه په سبب دی پر اسلام قائم پاته نه سي لکه چي په يو حديث شريف کي ذکر دي : علامه قرطبي رحمه الله داقول دجمهورو سلفو مقرر کړی دی. دوهم قول دادی چي دفطرت څخه مراد استعداد دی يعني دانسان په پيدايش کي الله ﷻ داخاصيت ايښی دی چي په هر انسان کي دخپل خالق دپيژندلو او منلو صلاحيت او استعداد موجود دی چي اثر يي داسلام قبلول دي په دې شرط چي دی ددې استعداد څخه کار واخلي.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۴۷)

مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۢ

مِنَ الَّذِيْنَ	فَرَّقُوْا	دِيْنَهُمْ	وَكَانُوْا	شِيَعًا	كُلُّ	حِزْبٍ
له هغو (مشركانو)	چې تارپه تار کړی يئ دی	دين خپل	او سوی وو دوی	ډلې ډلې	هره	يوه ډله

يعني له هغو (مشركانو) چې تارپه تار کړی يئ دی دين خپل او سوی وو دوی ډلې ډلې هره يوه ډله (چې ده له دوی څخه)

بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا

بِمَا	لَدَيْهِمْ	فَرِحُوْنَ	وَاِذَا	مَسَّ	النَّاسَ	ضُرٌّ	دَعَوْا
په هغه (دين)	چې له دوی څخه دی	خوشحاله دی	او کله چې	ورسيږی	خلکو ته	څه ضرر	نو بولي دوی

په هغه (دين) چې له دوی څخه دی خوشحاله دی. او کله چې ورسيږی خلکو ته څه ضرر نو بولي دوی

رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ

رَبَّهُمْ	مُّنِيْبِيْنَ	اِلَيْهِ	ثُمَّ	اِذَآ	اَذَاقَهُمْ	مِّنْهُ
رب خپل	په داسې حال کښې چې رجوع کوونکی وی	خاص الله ته	بيا	کله چې	وڅکوی (الله) دوی ته	له خپله طرفه

رب خپل په داسې حال کښې چې رجوع کوونکی وی خاص الله ته بيا کله چې وڅکوی (الله) دوی ته له خپله طرفه

رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُوْا

رَحْمَةً	اِذَا	فَرِيْقٌ	مِّنْهُمْ	بِرَبِّهِمْ	يُشْرِكُوْنَ	لِيَكْفُرُوْا
کوم رحمت	ناڅاپه	يوه ډله	له دوی څخه	له رب خپل سره	شريکان نيسي	دپاره د دې چې ناشکری وکړی

کوم رحمت (مهرباني) ناڅاپه يوه ډله له دوی څخه له رب خپل سره شريکان نيسي. دپاره د دې چې ناشکری وکړی

بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ٝ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٤﴾ اَمْ اَنْزَلْنَا

بِمَآ	اٰتَيْنٰهُمْ	فَتَمَتَّعُوْا	فَسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ	اَمْ اَنْزَلْنَا
په هغو (نعمتونو)	چې ورکړی دی موږ دوی ته	پس ګټه اخلئ	پس ژر به	معلوم کړئ تاسی	آيا نازل کړی دی موږ

په هغو (نعمتونو) چې ورکړی دی موږ دوی ته پس ګټه (فائده) اخلئ پس ژر به معلوم کړئ تاسی. آيا نازل کړی دی موږ

عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهٖ يُشْرِكُوْنَ ﴿٣٥﴾

عَلَيْهِمْ	سُلْطٰنًا	فَهُوَ	يَتَكَلَّمُ	بِمَا كَانُوْا	بِهٖ	يُشْرِكُوْنَ
پر دوی	کوم دليل، علمي سند	پس هغه	خبری کوی	په هغه چې وو دوی	په هغه سره	شريک پيدا کوی

پر دوی کوم دليل علمي سند پس هغه خبری کوی په هغه چې وو دوی په هغه سره شريک پيدا کوی (له الله سره دوی).

مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا..دهغه کسانو څخه مه کيږی چې خپل دين يي تارپه تار کړی الله ﷻ فرمايي چې دا مشركين هغه خلګ دي کموچي په خپل دين او فطرت او دين حق کي تفريق پيدا کړی يا دا چي د دين حق څخه بيل او جلا سول او نتيجه دا سوه چي هغوی په مختلفو پارټيو کي تقسيم سول. شيعاً جمع د شيعةٌ ده داسي جماعت کم چي ديو مقتدا پيروان وي هغه ته شيعه ويل کيږي: مطلب دادی چي دين د فطرت خو توحيد وو چي اثر يي دا پکار وو چي ټولو انسانانو دا اختيار کړی وای او يو قوم او يو جماعت سوي وای مګر دوی دا توحيد پريښووی او د مختلفو خلګو د خيالاتو تابع سول او په انساني خيالاتو او رايو کي اختلاف يو طبعي امر دی په دې وجه هر يوه خپل خپل يو مذهب جوړ کی عوام د دوی په سبب په مختلفو پارټيو کي تقسيم سول او شيطان دوی په خپلو خيالاتو او عقيدو ګرځولو کي داسي ولګول چي هر جماعت په خپل باطله رايه سره خوشحاله دی او نورو ته غلط وايي.
(معارف القرآن ج ٧ پ ٢١ ص ٥١)

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةً فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ

وَإِذَآ	أَذَقۡنَا	ٱلنَّاسَ	رَحۡمَةً	فَرِحُواْ	بِهَا	وَإِن	تُصِبۡهُمۡ
او کله چې	وڅکوو موږ	په خلکو	څه رحمت	نو خوشحاله سی دوی	په هغه	او که	ورسیږی هغوی ته

او کله چې وڅکوو موږ په خلکو څه رحمت (مهرباني) نو خوشحاله سی دوی په هغه او که ورسیږی هغوی ته

سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ إِذَا هُمۡ يَقۡنَطُونَ ٣٦

سَيِّئَةُۢ	بِمَا قَدَّمَتۡ	أَيۡدِيهِمۡ	إِذَا هُمۡ	يَقۡنَطُونَ
څه سختی	په سبب د هغو چې پخوا لیږلی دی	لاسونو د دوی	ناڅاپه به بیا دوی	نا امیده سی

څه سختی په سبب د هغو (اعمالو) چې پخوا لیږلي دي لاسونو د دوی ناڅا په به بیا دوی نا امیده سی (د الله له رحمت څخه).

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ	أَنَّ	ٱللَّهَ	يَبۡسُطُ	ٱلرِّزۡقَ	لِمَن يَشَآءُ	وَيَقۡدِرُ	إِنَّ
آیا نه وینی دوی	چې بیشکه!	الله	پراخوی	رزق	هر هغه چاته چې اراده وکړی	او تنګوی یې	بیشکه!

آیا نه وینی (نه دی خبر) دوی چې بیشکه! الله پراخوی رزق هر هغه چاته چې اراده وکړی او تنګوی یې بیشکه!

فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٣٧ فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ

فِي ذَٰلِكَ	لَأٓيَٰتٖ	لِّقَوۡمٖ	يُؤۡمِنُونَ	فَـَٔاتِ	ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ
په دغه کښی	خامخا دلائل دی	دپاره د (هغه) قوم	چې ایمان راوړی	پس ورکړه	خاوند دقرابت ته

په دغه (بسط او قبض) کښی خامخا دلائل (دقدرت) دی دپاره د (هغه) قوم چې ایمان راوړی. پس ورکړه خاوند د قرابت ته

حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ

حَقَّهُۥ	وَٱلۡمِسۡكِينَ	وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ	ذَٰلِكَ	خَيۡرٞ	لِّلَّذِينَ
حق د ده	او محتاج ته	او مسافر ته	دغه (ورکول د حقوقو)	خیر، غوره دی	دپاره د هغو کسانو

حق د ده (چې نیکی او صلة الرحمی ده) او محتاج ته او مسافر ته دغه (ورکول دحقوقو) خیر غوره دی دپاره د هغو کسانو

يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٣٨ وَمَآ

يُرِيدُونَ	وَجۡهَ	ٱللَّهِ	وَأُوْلَٰٓئِكَ	هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ	وَمَآ
چې اراده لری	دثواب	دالله	او هم دغه (ورکوونکی)	هم دوی دی خلاصیدونکی (بریالیان)	او هغه څه

چې اراده لری دثواب (رضاء) د الله او هم دغه ورکوونکی (دحقوقو) هم دوی دی خلاصیدونکی بریالیان. او هغه څه

فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ قریبانو او مسکینانو او مسافرینو ته خپل حق ورکی ددې څخه په مخکې آیت کې دا بیان کړی ووچې درزق معامله صرف دالله ﷻ په لاس کې ده هغه چې چاته وغواړي رزق فراخه ورکوي اوزیاتوي یې او چالره چې وغواړي رزق کموي او تنګوي ددې څخه معلومه سوه چې کم سړی دالله ﷻ ورکړی رزق دهغه په مصرفونو کې خرڅ کوي نو په دې سره په هغه کې کمی نه راځي او که څوک په کولو کې بخل کوي او څه چې ورسره وي هغه جمع کوي اودمحفوظ کولو کوشش یې کوی په دې سره په مال کې فراخي نه راځي :ددې مضمون په مناسبت سره په ذکر سوي آیت کې نبي کریم ﷺ ته او په قول دحسن بصري رحمة الله علیه هر مخاطب انسان ته کم چې الله ﷻ په مال کې فراخي ورکړې وي: داهدایت ورکړي وي چې کم مال الله ﷻ تاته درکړی دی په هغه کې بخل مه کوه بلکې هغه دهغه په مصرفونوکې په خوشحاله زړه سره خرڅوه په دې سره ستا په مال اورزق کې کمی نه راځي الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۵۱)

اٰتَيۡتُمۡ مِّنۡ رِّبًا لِّيَرۡبُوَاۡ فِيۡۤ اَمۡوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرۡبُوۡا عِنۡدَ اللّٰهِ ۚ

اٰتَيۡتُمۡ	مِّنۡ رِّبًا	لِّيَرۡبُوَاۡ	فِيۡۤ اَمۡوَالِ	النَّاسِ	فَلَا يَرۡبُوۡا	عِنۡدَ اللّٰهِ
چې ورکوئ تاسی	له سود څخه	دپاره د دی چې زیات سی	په مالونو	دخلګو کښې	پس نه زیاتیږی هغه	په نزد د الله

چې ورکوئ تاسی له سود څخه دپاره د دی چې زیات سی په مالونو دخلګو کښې پس نه زیاتیږی هغه په نزد د الله

وَمَاۤ اٰتَيۡتُمۡ مِّنۡ زَكٰوةٍ تُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓـئِكَ

وَمَاۤ اٰتَيۡتُمۡ	مِّنۡ زَكٰوةٍ	تُرِيۡدُوۡنَ	وَجۡهَ اللّٰهِ	فَاُولٰٓـئِكَ
او هر هغه څه چې ورکوئ یئ تاسی	له زکات څخه	چې اراده لرئ تاسی په هغه سره	د ثواب د الله	دغه

او هر هغه څه چې ورکوئ یئ تاسی له زکات څخه چې اراده لرئ تاسی په هغه سره د ثواب د الله دغه (محضاً الله ورکوونکی)

هُمُ الۡمُضۡعِفُوۡنَ ۞ ۳۹ اَللّٰهُ الَّذِيۡ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ رَزَقَكُمۡ ثُمَّ

هُمُ الۡمُضۡعِفُوۡنَ	اَللّٰهُ	الَّذِيۡ	خَلَقَكُمۡ	ثُمَّ	رَزَقَكُمۡ	ثُمَّ
هم دوی دی زیاتوونکی	الله	هغه (ذات دی)	چې پیدا کړی یئ یاست تاسی	بیا یئ	روزی درکړی ده تاسی ته	بیا به

هم دوی دی زیاتوونکی . الله هغه (مطلق قادر دی) چې پیدا کړی یئ یاست تاسی بیا یئ روزی درکړی ده تاسی ته بیا به

يُمِيۡتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيۡكُمۡ ؕ هَلۡ مِنۡ شُرَكَآئِكُمۡ مَّنۡ يَّفۡعَلُ

يُمِيۡتُكُمۡ	ثُمَّ	يُحۡيِيۡكُمۡ	هَلۡ	مِنۡ شُرَكَآئِكُمۡ	مَّنۡ يَّفۡعَلُ
مړه کوی تاسی	بیا به	ژوندی کړی تاسی	آیا سته	له دغو شریکانو ستاسی	داسی څوک چې کولی سی هغه

مړه کوی تاسی بیا به ژوندی کړی تاسی (په بعث) سره آیا سته له دغو شریکانو ستاسی داسی څوک چې کولی سی هغه

مِنۡ ذٰلِكُمۡ مِّنۡ شَىۡءٍ ؕ سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ۞ ۴۰ ع

مِنۡ ذٰلِكُمۡ	مِّنۡ شَىۡءٍ	سُبۡحٰنَهٗ	وَتَعٰلٰى	عَمَّا	يُشۡرِكُوۡنَ
له دغو (کارونو) څخه	کوم شی؟	پاکی ده الله ته	او ډیر لوی پورته دی شان د الله	له دی څخه	چې شریک پیدا کوی دوی

له دغو څخه کوم شی ؟ پاکی د ه الله ته او ډیر لوی پورته دی شان د الله له دی څخه چې شریک پیدا کوی دوی (له الله سره).

ظَهَرَ الۡفَسَادُ فِى الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ اَيۡدِى

ظَهَرَ	الۡفَسَادُ	فِى الۡبَرِّ	وَالۡبَحۡرِ	بِمَا	كَسَبَتۡ	اَيۡدِى
ښکاره سو	فساد	په وچه کښې	او بحر کښې	په سبب د هغی (ګناه او شرک)	چې کړی دی	لاسونو

ظاهر سوه (آثار د) فساد په بر او بحر (په وچه او لونده) کښې په سبب د هغی (ګناه او شرک) چې کړی دی لاسونو

اٰتَيۡتُمۡ مِّنۡ رِّبًا لِّيَرۡبُوَاۡ فِيۡۤ اَمۡوَالِ النَّاسِ.

دیوناکاره رواج اصلاح:

په دې آیت کې دیوناکاره رواج اصلاح سوې ده کم چې په عامو خاندانونو او خپلولیو کې چلیږي هغه دا چې په عام طور سره دخاندان او قرابت خلګ چې څه یو بل لره ورکوي دې ته ګوري چې هغه به هم پریو موقع باندې بیا ماته څه راکوی : خصوصاً دکوزدې او واده په خوشحالیو کې چې څه ورکول او اخیستل کیږي دهغه هم دا حیثیت وي کم ته چې په عرف کې جنج ویل کیږي. په دې ایت کې داهدایت ورکول سوی دی چې خپلوانو ته دکم حق اداء کولو حکم په مخکې آیت کې سوی دی :دوی ته دې دغه حق ورکړی سي چې نه احسان باندې اچوي او نه دبدلې طمع ورڅخه کوي او چاچې دبدلې په نیت سره ورکی چې دده مال به دبل قریب په مال کې دشاملیدو څخه وروسته څه زیات دځان سره بیرته راولې دالله ﷻ په نزد ددې هیڅ درجه او ثواب نسته او قرآن کریم دازیادت په لفظ دربوا سره تعبیر کی او ددې دقباحت طرف ته یې اشاره وکړه چې دا دسود یو صورت جوړ سو.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۵۲)

النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ

النَّاسِ	لِيُذِيقَهُمْ	بَعْضَ	الَّذِيْ	عَمِلُوْا	لَعَلَّهُمْ
دخلکو	دپاره د دی چی وڅکوی (الله) دوی ته	څه (سزا)	دهغو (عملونو)	چی کړی دی دوی	دپاره د دی چی دوی

دخلکو دپاره د دی چی وڅکوی (الله) دوی ته څه (سزا) دهغو (عملونو) چی کړی دی دوی دپاره د دی چی دوی

يَرْجِعُوْنَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ

يَرْجِعُوْنَ	قُلْ	سِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ	فَانْظُرُوْا	كَيْفَ
راوګرځی	ووایه (محمده!)	چی وګرځئ	په ځمکه کښی	پس وګورئ	څرنګه

چی واوړی دوی (له دغو بدیو څخه). ووایه (محمده!) چی وګرځئ په ځمکه کښی (دتیرو امتونو) پس وګورئ څرنګه

كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلُ ۭ كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ ﴿٤٢﴾

كَانَ	عَاقِبَةُ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلُ	كَانَ	اَكْثَرُهُمْ	مُّشْرِكِيْنَ
سوه	خاتمه	دهغو کسانو	چی پخوا له دی څخه وو	وه	زیاتره د دوی	مشرکان

سوه خاتمه د هغو کسانو چی پخوا له دی څخه وو، ۆ زیاتره د دوی مشرکان (نو دخپل شرک په سبب هلاک سول).

فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ

فَاَقِمْ	وَجْهَكَ	لِلدِّيْنِ	الْقَيِّمِ	مِنْ قَبْلِ	اَنْ يَّاْتِيَ	يَوْمٌ
پس برابر کړه	مخ خپل	دین	سم ته	مخکی، پخوا	له هغه چی راسی	هغه ورځ

پس برابر کړه مخ (وجود) خپل دین سم (معتدل د اسلام) ته (مخکی) پخوا له هغه چی راسی هغه ورځ

لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ يَوْمَىِٕذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿٤٣﴾ مَنْ كَفَرَ

لَّا مَرَدَّ	لَهٗ	مِنَ اللّٰهِ	يَوْمَىِٕذٍ	يَّصَّدَّعُوْنَ	مَنْ كَفَرَ
چی نسته هیڅ بیرته ګرځیدل	هغی ته	له (جانبه د) الله	په دغه ورځ کښی	بېتار په تار سی دغه مخلوق	هر څوک چی کافر سو

چی نسته هیڅ بیرته ګرځیدل هغی ته له (جانبه د) الله په دغه ورځ کښی بېتار په تار سی دغه مخلوق. هر څوک چی کافر سو

فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُوْنَ ﴿٤٤﴾

فَعَلَيْهِ	كُفْرُهٗ	وَمَنْ عَمِلَ	صَالِحًا	فَلِاَنْفُسِهِمْ	يَمْهَدُوْنَ
پس پر هغه ده (سزا)	دکفر د هغه	او هر څوک چی وکړی	نیک (عمل)	پس خاص لپاره د ځانونو خپلو	فرشونه غوړوی

پس پر هغه ده (سزا) د کفر د هغه او هر څوک چی وکړی (نیک عمل) پس خاص لپاره د ځانونو خپلو د راحت فرشونه غوړوی.

لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ.. په ټول جهان کي فساد دخلګو دبدو عملونو په وجه دی: په دغه آیت کي الله ﷻ فرمایي چي په وچه او په دریاب کي په ټول جهان کي فساد وغوړول سو دخلګو دبدو عملونو په وجه سره. په تفسیر روح المعاني کي دي چي دفساد څخه مراد قحط او وبايي مرضونه او اور لګیدل او په اوبو کي ډوبیدو واقعات دي او دهرشي برکت ختمیدل دي دنفع لرونکو شیانو نفع کمه او نقصان یي زیاتیدل دي: او ددې آیت څخه معلومه سوه چي ددې دنیوي آفتونو سبب دانسانانو ګناهونه او بدعملونه وي چي په دې کي شرک او کفر دټولو څخه زیات سخت دی ددې څخه وروسته نور ګناهونه دي: او دامضمون په یو بل آیت کي داسي راغلی دی. وما اصابکم من مصيبة فبما کسبت ایدیکم ویعفو عن کثیر. یعني تاسي ته چي کم یو مصیبت هم رسیږي هغه ستاسو دلاسودګتي په سبب وي کم چي تاسي کوی او ډیر ګناهونه خو الله ﷻ معاف کوي یعني د دغه مصیبتونو حقیقي سبب ستاسي ګناهونه وي الخ. (پاته بیان پر راروان مخ وګوری)

لِيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْ فَضْلِهٖ

لِيَجْزِىَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	مِنْ فَضْلِهٖ
لپاره د دی چې جزا ورکړی (الله)	هغو کسانو ته	چې ایمان یې راوړی دی	او کړی یې دی	ښه (عملونه)	له فضله خپل څخه

لپاره د دی چې جزا ورکړی (الله) هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی او کړی یې دی ښه (عملونه) له فضله خپل څخه.

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ۝۴۵ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ يُّرْسِلَ

اِنَّهٗ	لَا يُحِبُّ	الْكٰفِرِيْنَ	وَمِنْ اٰيٰتِهٖ	اَنْ يُّرْسِلَ
بیشکه! چې الله	نه خوښوی	کافران	او ځینی له نښو د الله	دا دی چې رالیږی

بیشکه! چې الله نه خوښوی کافران (نو ځکه یې په دوزخ کی غورځوی). او ځینی له نښو (دقدرت) د الله دا دی چې رالیږی

الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ

الرِّيَاحَ	مُبَشِّرٰتٍ	وَّلِيُذِيْقَكُمْ	مِّنْ رَّحْمَتِهٖ
بادونه	زیری ورکوونکی	او د پاره د دی چې وڅکوی په تاسی	ځینی (خوندونه) د رحمت خپل

بادونه زیری ورکوونکی او د پاره د دی چې وڅکوی په تاسی (په سبب د دغو بادونو) ځینی (مزی) د رحمت خپل

وَلِتَجْرِىَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ

وَلِتَجْرِىَ	الْفُلْكُ	بِاَمْرِهٖ	وَلِتَبْتَغُوْا	مِنْ فَضْلِهٖ
او بل د پاره د دی چې روانه سی پری	کشتی	په امر، حکم د الله	او د پاره د دی چې طلب کړئ تاسی	له فضل د الله څخه

او بل د پاره د دی چې روانه سی پری بیړی په امر، حکم د الله او د پاره د دی چې طلب کړئ له فضل د الله څخه

وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝۴۶ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى

وَلَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ	وَلَقَدْ	اَرْسَلْنَا	مِنْ قَبْلِكَ	رُسُلًا	اِلٰى
او د پاره د دی چې تاسی	شکر وباسئ	او خامخا په تحقیق	لیږلی ؤ موږ	پخوا له تا	رسولان (نور)	په طرف

او د پاره د دی چې تاسی شکر وباسئ. او خامخا په تحقیق لیږلی ؤ موږ پخوا له تا (ای محمده!) رسولان (نور) په طرف

قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِيْنَ

قَوْمِهِمْ	فَجَآءُوْهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	فَانْتَقَمْنَا	مِنَ الَّذِيْنَ
د قومونو د دوی ته	پس راغلل دوی ته	په معجزو ښکاره ؤ	پس بدل واخیست موږ	له هغو کسانو

د قومونو د دوی ته پس راغلل (دغه رسولان) دوی ته په معجزو ښکاره ؤ (دقدرت) پس بدل واخیست موږ له هغو کسانو

لِيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: په صحیح احادیثو کي دنبي کریم ﷺ دا ارشادات هم موجود دي چي دنیا دمومن دپاره جیلخانه ده او دکافر دپاره جنت دی او داچي کافر ته دده دنیکو عملونو بدله په دنیا کي په صورت دمال دولت او صحت ورکول کیږي او دمومن دعملونو بدله دآخرت دپاره محفوظه کیږي اوبل داچي اشدّ الناس بلاءً الانبياء ثمّ الامثل فالامثل: یعني په دنیا کي دټولو څخه زیاتي بلاګاني پر انبیاوو علیهم السلام راځي بیا چي څوک هغوی ته نږدي وي او بیاچي څوک وهغوی ته نږدي وي: داټول احادیث په ښکاره ددې آیت دمضمون څخه مختلف دي او په عامه دنیا کي هم دالیدل کیږي چي په دنیا کي په عام طور سره مومن مسلمان په تنګی او تکلیف کي او کافران فاجران په عیش او عشرت کي وي اوس که دذکر سوي آیت مطابق ددنیا مصیبتونه او تکلیفونه دګناهونو په سبب سره وای نو معامله به برعکس وای. ددې جواب دادی چي په: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

أَجْرَمُوا ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ۝٤٧ اَللّٰهُ

أَجْرَمُوا	وَكَانَ	حَقًّا	عَلَيْنَا	نَصْرُ	الْمُؤْمِنِينَ	اَللّٰهُ
چي كافران سول	او دى	حق	پر موږ	كومک	دمؤمنانو	الله

چي كافران سول (نو دوى موهلاک كړل او مؤمنانو ته مو نصرت دكړى) او دى حق (تفضلاً) په موږ كومک د مؤمنانو. الله

الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ

الَّذِي	يُرْسِلُ	الرِّيٰحَ	فَتُثِيرُ	سَحَابًا	فَيَبْسُطُهُ	فِي السَّمَاءِ
هغه (قادرذات) دى	چي راليږى	بادونه	پس پورته كوى	وريځى	پس هواروى دغه (وريځى)	په آسمان كښى

هغه (مطلق قادر) دى چي راليږى بادونه پس پورته كوى (په هوا كښى) وريځى پس خوروى دغه (وريځى) په آسمان كښى

كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ

كَيْفَ	يَشَآءُ	وَيَجْعَلُهُ	كِسَفًا	فَتَرَى	الْوَدْقَ	يَخْرُجُ
څرنګه	چي اراده وكړى (الله)	او ګرځوى دغه (وريځ)	ټوټى ټوټى لاندى باندى	پس وينى به ته	باران	چي راوځى

څرنګه چي اراده وكړى (الله) او ګرځوى دغه (وريځ) ټوټى ټوټى لاندى باندى پس وينى به ته باران چي راوځى

مِنْ خِلٰلِهِ ۚ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهِ إِذَا هُمْ

مِنْ خِلٰلِهِ	فَإِذَآ	أَصَابَ	بِهِ	مَنْ يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهِ	إِذَا هُمْ
له مينځه د دغى (وريځى)	پس كله چي	ورسوى	دغه باران	هغه چاته چي اراده وكړى (الله)	له بندګانو خپلو	ناڅاپه دوى

له منځه د دغى (وريځى) پس كله چي ورسوى دغه باران هغه چاته چي اراده وكړى (الله) له بندګانو خپلو ناڅاپه دوى

يَسْتَبْشِرُونَ ۝٤٨ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ

يَسْتَبْشِرُونَ	وَإِنْ كَانُوا	مِنْ قَبْلِ	أَنْ يُّنَزَّلَ	عَلَيْهِمْ
خوشحاليږى پرى	او بيشكه! چي وو دوى	پخوا له دى	چي نازل كړى سوى ؤ	په دوى (باران)

خوشحاليږى پرى (اوزيرى پرى كوى). او بيشكه! چي وو دوى پخوا له دى چي نازل كړى سوى ؤ په دوى (باران)

مِّنْ قَبْلِهِ لَمُبْلِسِينَ ۝٤٩ فَانْظُرْ إِلَىٰ اٰثٰرِ رَحْمَتِ

مِّنْ قَبْلِهِ	لَمُبْلِسِينَ	فَانْظُرْ	إِلَىٰ اٰثٰرِ	رَحْمَتِ
پخوا له دى (وريځى او باران)	خامخا نااميده وو	پس وګوره	طرف د نښو ته	د رحمت (باران)

پخوا له (ظهوره له) دى (وريځى او باران) خامخا نااميده وو. پس وګوره (اى مخاطبه) نښى د رحمت (باران)

وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: ذكر سوي آيت كي يي ګناهونه دمصيبتونو سبب ضرور ښوولى دى مګر علت تامه يي نه دى ښوولى چي كله پر چاڅه مصيبت راسي نو دګناه په سبب سره به وي او په چاچي څه مصيبت راځي نو ګناهګاركيدل يي ضروري دي : بلكي دعامو اسبابوكم چي په دنيا كي دستور دى چي د سبب واقع كيدوڅخه وروسته دهغه مسبب اكثره واقع كيږي :او كله يو بل سبب ددې اثر دښكاره كيدو څخه مانع سي نو ددې سبب اثر بيا نه ښكاره كيږي لكه يو سړى چي ددستونواو پيچ راوستونكو دواوو په باره كي دا ووايي چي كه دا دوا سړى وخوري نو دست او پيچ به يي وسي اوس داخبره پر خپل ځاى صحيح ده مګر ځيني وخت دځه نورودواوو خوراک يا هوا وغيره په اثر سره دستونه ونه سي يا كمي دواياني چي دتبي اثر كښته كوي ځيني وخت داسي عوارض پيښ سي چي دغه دواياني اثر ونه كړي دخوب راوستونكوګوليو په ذريعه سره هم ځيني وخت خوب رانه سي اونور داسي مثالونه هم سته : پاته بيان پر راروان مخ وګورى

اللّٰهِ كَيۡفَ يُحۡيِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ

اللّٰهِ	كَيۡفَ	يُحۡيِ	الۡاَرۡضَ	بَعۡدَ	مَوۡتِهَا	اِنَّ	ذٰلِكَ
دالله ته	چي څرنګه	ژوندی کوی دی دغه	مځکه	وروسته	له مړوالی او وچوالی دهغی	بیشکه!	دغه

دالله ته چي څرنګه ژوندی کوی دی دغه مځکه په باران وروسته له مړوالی او وچوالی دهغی بیشکه! دغه

لَمُحۡيِ الۡمَوۡتٰى ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۵۰﴾ وَلَئِنۡ اَرۡسَلۡنَا

لَمُحۡيِ	الۡمَوۡتٰى	وَهُوَ	عَلٰى	كُلِّ شَىۡءٍ	قَدِيۡرٌ	وَلَئِنۡ	اَرۡسَلۡنَا
خامخا ژوندی کوونکی	دمړو هم دی	او هغه (الله)	چي پر	هر شی باندی	ښه قادر دی	او قسم دی که	ولیږو موږ

خامخا ژوندی کوونکی دمړو هم دی، او هغه (الله) په هر شی باندی ښه قادر دی. او قسم دی که ولیږو موږ

رِيۡحًا فَرَاَوۡهُ مُصۡفَرًّا لَّظَلُّوۡا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ يَكۡفُرُوۡنَ ﴿۵۱﴾

رِيۡحًا	فَرَاَوۡهُ	مُصۡفَرًّا	لَّظَلُّوۡا	مِنۡۢ بَعۡدِهٖ	يَكۡفُرُوۡنَ
باد	پس وبه وینی دوی دا کښت	تک زیړ	نو خامخا وبه ګرځی دوی	وروسته له دغه زیړوالی	کافران

باد (په ښه کښت) پس وبه وینی دوی دا کښت (فصل) تک زیړ نو خامخا وبه ګرځی دوی وروسته له دغه زیړوالی کافران .

فَاِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ الۡمَوۡتٰى وَلَا تُسۡمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا

فَاِنَّكَ	لَا تُسۡمِعُ	الۡمَوۡتٰى	وَلَا تُسۡمِعُ	الصُّمَّ	الدُّعَآءَ	اِذَا
پس بیشکه! ته	نسی اورولی	مړوته	او نسی اورولی ته	کڼو ته	ږغ (دبللو)	کله چي

پس بیشکه! ته نسی اورولی مړوته (او دغه کفار هم حکم د مړو لري) اونسی اورولی ته کڼو ته ږغ (د بللو) کله چي

وَلَّوۡا مُدۡبِرِيۡنَ ﴿۵۲﴾ وَمَاۤ اَنۡتَ بِهٰدِ الۡعُمۡىِ عَنۡ

وَلَّوۡا	مُدۡبِرِيۡنَ	وَمَاۤ اَنۡتَ	بِهٰدِ	الۡعُمۡىِ	عَنۡ
وګرځی دوی	په داسی حال کښی چي شاګرځوونکی وی	او نه یئ ته	سمه لاره ښوونکی	ړندو ته	له

وګرځی دوی په داسی حال کښی چي شاګرځوونکی وی (تاته). او نه یئ ته سمه لاره ښوونکی ړندو ته له

ضَلٰلَتِهِمۡ ؕ اِنۡ تُسۡمِعُ اِلَّا مَنۡ يُّؤۡمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمۡ

ضَلٰلَتِهِمۡ	اِنۡ تُسۡمِعُ	اِلَّا	مَنۡ يُّؤۡمِنُ	بِاٰيٰتِنَا	فَهُمۡ
ګمراهی ددوی	نسی اورولی ته	مګر	هغه چاته چي ایمان یئ راوړی دی	په نښو دقدرت زموږ	پس دوی

ګمراهي د دوی ، نسی اورولی ته (دپوهی اومنلو) مګر هغه چاته چي ایمان یئ راوړی دی په نښو د قدرت زموږ پس دوی

كَيۡفَ يُحۡيِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا... دتیر مخ پاته

بیان دلته وګوری: په دې وجه دآیت مطلب داسو چي اصل خاصه دګناهونو داده چي په دې سره آفتونه او مصیبتونه راسي لیکن ځیني وخت نور څه اسباب ددې منافي جمع سي دکمو په وجه چي مصیبتونه ښکاره نه سي او په ځیني صورتونو کي بغیر دڅه ګناه ځخه څه آفت او مصیبت راتلل هم ددې منافي نه دي ځکه چي په آیت کي دانه دي فرمایلي چي بغیر دڅه ګناه ځخه څه تکلیف او مصیبت چاته نه وررپیښیږي بلکي کیدای سي چي چاته څه مصیبت او آفت په یوبل سبب سره ورپیښ سي لکه دانبیاوو علیهم السلام او اولیاوو ته چي کم مصیبتونه او تکلیفونه وررپیښیږي د دې سبب څه ګناه نه وي بلکي ددوی ازمایش او د ازمایش په ذریعه ددوی ددرجو ترقي مقصود وي : ددې ځخه علاوه په قرآن کریم کي چي کم آفتونه او مصیبتونه دګناهونو سبب مقرر کړي دي ددې ځخه مراد هغه دي چي په پوره دنیا یا پوره ښار یاکلي باندي عام وي او عام بنیادم او حیوان یي داثرځخه خلاص نه وي الخ (معارف القرآن ج۷پ۲۱ص۵۶)

۵ع ۱۳ ۸

مُّسۡلِمُوۡنَ ۝٥٣ اَللّٰهُ الَّذِیۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ ضُعۡفٍ ثُمَّ جَعَلَ

مُّسۡلِمُوۡنَ	اَللّٰهُ	الَّذِیۡ	خَلَقَكُمۡ	مِّنۡ ضُعۡفٍ	ثُمَّ	جَعَلَ
مسلمانان دی	الله	هغه (قادر ذات دی)	چي پیدا کړی یئ یاست تاسی	له کمزوری (نطفه) څخه	بیا یئ	درکړی دی

مسلمانان دی. الله هغه (مطلق قادر) دی چي پیدا کړی یئ یاست تاسی له کمزوری (شي چي نطفه ده) بیا یئ درکړی دی

مِنۡۢ بَعۡدِ ضُعۡفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنۡۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ ضُعۡفًا

مِنۡۢ بَعۡدِ	ضُعۡفٍ	قُوَّةً	ثُمَّ	جَعَلَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	قُوَّةٍ	ضُعۡفًا
وروسته له	بل ضعف	قوت د ځوانی	بیا یئ	درکړی دی	وروسته	له قوت (دځلمیتوب)	ضعف

وروسته له بل ضعف (دطفولیت) قوت (د ځوانی) بیا یئ درکړی دی وروسته له قوت (دځلمیتوب) ضعف

وَّ شَیۡبَةً ؕ یَخۡلُقُ مَا یَشَآءُ ۚ وَ هُوَ الۡعَلِیۡمُ الۡقَدِیۡرُ ۝٥٤

وَّ شَیۡبَةً	یَخۡلُقُ	مَا یَشَآءُ	وَ هُوَ	الۡعَلِیۡمُ	الۡقَدِیۡرُ
او دویښتو سپینوالی	پیدا کوی الله	هر هغه شي چي اراده وکړی	او هم دغه (الله)	ښه عالم دی	ښه قادر دی

او د ویښتو سپینوالی پیدا کوی الله هر هغه شي چي اراده وکړی او هم دغه (الله) ښه عالم دی ښه قادر دی (په هرشي).

وَ یَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَةُ یُقۡسِمُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۙ مَا لَبِثُوۡا

وَ یَوۡمَ	تَقُوۡمُ	السَّاعَةُ	یُقۡسِمُ	الۡمُجۡرِمُوۡنَ	مَا لَبِثُوۡا
او په هغه ورځی کښی	چي قائم سی	قیامت	نو قسمونه به خوری	مجرمان	چي نه دی پاتی سوی (په دنیا کښی)

او په هغه ورځی کښی چي قائم سی قیامت نو قسمونه به خوری مجرمان (کافران) چي نه دی پاتی سوی (په دنیا کښی)

غَیۡرَ سَاعَةٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوۡا یُؤۡفَكُوۡنَ ۝٥٥ وَ قَالَ الَّذِیۡنَ اُوۡتُوا

غَیۡرَ	سَاعَةٍ	كَذٰلِكَ	كَانُوۡا	یُؤۡفَكُوۡنَ	وَ قَالَ	الَّذِیۡنَ	اُوۡتُوا
غیر له	یو ساعته	هم دارنګه	وو دوی	چي ګرځول کیدل به	او وایئ به دوی ته	هغه کسان	چي ورکړی سوی ؤ دوی ته

غیرله یو ساعته، هم دارنګه وو دوی چي ګرځول کیدل به. او وایئ به دوی ته هغه کسان چي ورکړی سوی ؤ دوی ته

الۡعِلۡمَ وَ الۡاِیۡمَانَ لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِیۡ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰی یَوۡمِ

الۡعِلۡمَ	وَ الۡاِیۡمَانَ	لَقَدۡ	لَبِثۡتُمۡ	فِیۡ كِتٰبِ	اللّٰهِ	اِلٰی	یَوۡمِ
علم	او ایمان	خامخا په تحقیق	ډیر پاتی سوی یئ	په کتاب	دالله کښی	تر	ورځی

علم او ایمان خامخا په تحقیق ډیر پاتی سوی یئ (په دنیا کښی) په کتاب دالله (لوح محفوظ) کښی تر ورځی

اَللّٰهُ الَّذِیۡ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ ضُعۡفٍ ثُمَّ جَعَلَ. دانسان اصل بنیاد څومر کمزوری دی؟ په دغه آیت کښي انسان ته داسبق ورکول سوی دی چي خپل اصل بنیاد ته وګوره څومره کمزوری او ضعیف دی بلکي عين ضعیف دی چي یوه قطره بې روحه، بې شعوره ناپاکه ګنده شی دی: دې ته فکر وکړه چي دچا قدرت او حکمت داګنده قطره دکلکي سوي وینې په صورت کي بیا دوینې په صورت کي بیا دوینې څخه دغوښي په صورت کي بیا په غوښه کي دننه دهډوکي پیوست کولو تبدیلي وکړه؟ بیا یي ددې د اندامونو او بندونو نازک مشینونه جوړ کړل چي دایو کوچنی وجود رځیدونکی کارخانه جوړه سوه چي په سوونو عجیبه او نااشناء خودکاره مشینونه په کښي لګیدلي دي او که دزیات غور څخه کار واخیستل سي نو دایوه کارخانه نه ده بلکي یو کوچنی دنیا ده چي دټول جهان نمونې ددې په وجود کي شاملي دي ددې پیداکول او جوړول هم یوځای په یولوی ورکشاپ کي نه دي سوي بلکه دموردنس دننه په درو تیارو کي سوي دي (معارف القرآن ج۷پ ۲۱ص ۶۶)

الْبَعْثِ فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

الْبَعْثِ	فَهٰذَا	يَوْمُ	الْبَعْثِ	وَلٰكِنَّكُمْ	كُنْتُمْ	لَا تَعْلَمُوْنَ
دبیا راپورته کیدو	پس دغه ده	هغه ورځ	دبیا راپورته کیدو	او لیکن تاسی	وئ تاسی	چی نه پوهیدئ

دبعث پس دغه ده ورځ د بعث او لیکن تاسی وئ تاسی (په دنیا کی چی د غفلت له امله) نه پوهیدئ (ددغی ورځی په وقوع).

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ

فَيَوْمَئِذٍ	لَّا يَنْفَعُ	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	مَعْذِرَتُهُمْ	وَلَا هُمْ
پس په دغی ورځی کښی به	نه رسوی ګټه	هغو کسانو ته	چی ظلم کړی دی دوی	عذر د دوی	او نه به دوی

پس په دغی ورځی کښی به نه رسوی ګټه هغو کسانو ته چی ظلم کړی دی دوی عذر د دوی او نه به دوی

يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

يُسْتَعْتَبُوْنَ	وَلَقَدْ	ضَرَبْنَا	لِلنَّاسِ	فِيْ هٰذَا	الْقُرْاٰنِ
وبللی سی راضی کولو د الله ته	او خامخا په تحقیق	بیان کړی دی موږ	دپاره د خلګو	په دغه	قرآن کښی

وبللی سی راضی کولو د الله ته. او خامخا په تحقیق بیان کړی دی موږ دپاره د خلګو ته په دغه قرآن کښی

مِنْ كُلِّ مَثَلٍ وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ

مِنْ كُلِّ	مَثَلٍ	وَلَئِنْ	جِئْتَهُمْ	بِاٰيَةٍ	لَّيَقُوْلَنَّ	الَّذِيْنَ
له هر قسم	مثال	او قسم دی	که راوړی ته دوی ته	کومه نښه د قدرت	نو خامخا وبه وایئ هرومرو	هغه کسان

له هر قسم مثال او قسم دی (ای محمده!) که راوړی ته دوی ته کوم آیت د قدرت نو خامخا وبه وایئ هرومرو هغه کسان

كَفَرُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿۵۸﴾ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى

كَفَرُوْٓا	اِنْ اَنْتُمْ	اِلَّا	مُبْطِلُوْنَ	كَذٰلِكَ	يَطْبَعُ	اللّٰهُ	عَلٰى
چی کافران سوی دی	چی نه یئ تاسی	مګر	باطل ویونکی	هم دارنګه	مهر لګوی	الله	پر

چی کافران سوی دی (عناداً) چی نه یئ تاسی مګر (دروغجنان) باطل ویونکی. هم دارنګه مهر لګوی الله پر

قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

قُلُوْبِ	الَّذِيْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ	فَاصْبِرْ	اِنَّ	وَعْدَ اللّٰهِ	حَقٌّ
زړونو	دهغو کسانو	چی نه پوهیږی	پس صبر کوه	بیشکه!	وعده د الله	حقه ده

زړونو د هغو کسانو چی نه پوهیږی. پس صبر کوه (ای محمده! په ضرر د دوی) بیشکه! وعده (دنصرت) د الله حقه ده

فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ..
منکرین قیامت به دقیامت په ورځ بې هوښه سي:
یعني په کمه ورځ چي قیامت قائم سي نو دادقیامت څخه منکر به ددغه وخت دهیبتناکو مناظرو څخه بې هوښه سي او داقسمونه به اخلي چي زموږ پاته کیدل خو دیوه ساعت څخه زیات نه دي سوي مراد ددې قیام څخه کیدای سي چي ددنیا قیام وي څکه چي ددوی دنیا په ارام او عیش سره تیره سوې وه او اوس سخت مصیبتونه مخ ته راغلل نو لکه څنګه چي دانسان طبعي عادت دی چي دراحت زمانه ډیره لنډه ګڼي په دې وجه به قسمونه اخلي چي په دنیا کي خو زموږ موده دقیام ډیره لنډه او یو ساعت وه. اوداهم احتمال دی چي ددې قیام څخه مراد دقبر او برزخ قیام وي او مطلب داوي چي موږ خو ګڼله چي په قبر یعني په عالم برزخ کي به قیام ډیر اوږد وي او قیامت ډیره زمانه وروسته راځي مګر معامله پر عکس ددې سوه چي موږ خو په برزخ کي لږ وخت پاته سوچي قیامت راغی او داژر راتلل دوی څکه محسوسوي چي دقیامت عذاب ډیر سخت دی.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۶۸)

وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ۝٦٠

لَا يُوقِنُونَ	ٱلَّذِينَ	وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ
چې یقین نه راوړي (په آخرت)	هغه کسان	او نه دې بې صبره او بې قابو کوي تا

او نه دې پورته کوي ته هغه کسان چې یقین نه راوړي (په آخرت).

آیاتونه ۳۴ — ۳۱ سُورَةُ لُقۡمَٰنَ مَكِّيَّةٌ ۵۷ — رکوعي ۴

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمٓ ۝١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ

وَرَحۡمَةٗ	هُدٗى	ٱلۡحَكِيمِ	ٱلۡكِتَٰبِ	ءَايَٰتُ	تِلۡكَ	الٓمٓ
او رحمت دی	په داسې حال کښې چې هدایت	حکمت لرونکی دی	دکتاب	آیتونه	دا	الف، لام، میم

الف، لام، میم. دا آیتونه د کتاب حکمت لرونکی (محکم قرآن) دی. په داسې حال کښې چې هدایت او رحمت دی

لِّلۡمُحۡسِنِينَ ۝٣ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ

وَيُؤۡتُونَ	ٱلصَّلَوٰةَ	يُقِيمُونَ	ٱلَّذِينَ	لِّلۡمُحۡسِنِينَ
او ورکوی دوی	لمونځ	چې قائموی	هغه کسان	دپاره د نیکو کارو

دپاره د نیکو کارونو هغه کسان چې قائموی (سم اداء کوی سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوی دوی

ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ۝٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ

عَلَىٰ	أُوْلَٰٓئِكَ	يُوقِنُونَ	هُمۡ	بِٱلۡأٓخِرَةِ	وَهُم	ٱلزَّكَوٰةَ
پر	دغه (کسان)	یقین کوی	هم دوی	په آخرت باندې	او دوی	زکوٰة

(واجب) زکوٰة او دوی په آخرت باندې هم دوی یقین کوی (چې خامخا راځی په حقه سره). دغه (ستایلی سوی کسان) پر

هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ۝٥ وَمِنَ

وَمِنَ	هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ	وَأُوْلَٰٓئِكَ	مِّن رَّبِّهِمۡ	هُدٗى
او (ځینی) له	هم دوی په مراد رسیدلی دی	او دغه (کسان)	له (طرفه) درب د دوی	سمه لاره دی

سمه لاره دی له (طرفه) درب د دوی او دغه (کسان) هم دوی په مراد رسیدلی دی. او (ځینی) له

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ. دنیکانو خلګو صفتونه دقران کریم په ژبه: په دغه آیت کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چې دا قرآن کریم هدایت او رحمت دی دپاره دنیکانو خلګو اوس سوال دادی چې نیکان خلګ څوک دي نو ددې وضاحت خپله الله ﷻ په دغه آیت کي کړی دی چې نیکان خلګ هغه دي چې لمونځونه قایموي یعني پنځه وخته لمونځ په خپل مستحب وخت کي دننه په هغه شرائطو اوارکانو او آدابو سره پوره اداکوي کم چې شریعت ورته ټاکلي دي چې نه یې بې وخته او نه کمی په کښې کوي چې رکوع او سجده یا نور ارکان سم نه اداء کوي لکه بعضي کسان چې تاسې په خپله ټولنه کي وینی چې نه رکوع سمه کوي او نه سجده داسې کس ته په حدیث شریف کي غل ویل سوی دی. اودوهم صفت دنیکانو خلګو الله ﷻ دابیان کی چې زکوة ورکوي مطلب دادی چې کم مال او دولت الله ﷻ دوی ته ورکړی دی په هغه کي بخل نه کوي بلکي هغه فرض کړی زکوة اداء کوي ومستحقینو ته الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۷۱)

النَّاسِ مَنۡ يَّشۡتَرِىۡ لَهۡوَ الۡحَدِيۡثِ لِيُضِلَّ عَنۡ سَبِيۡلِ

النَّاسِ	مَنۡ يَّشۡتَرِىۡ	لَهۡوَ الۡحَدِيۡثِ	لِيُضِلَّ	عَنۡ سَبِيۡلِ
خلكو څخه	هغه څوک دی چې اخلي	عبثې خبرې او فضول كلام	دپاره د دې چې وښويوي (خلګ)	له لارې

خلكو څخه هغه څوک دی چې پیرې، اخلي عبثې خبرې (اورونكې له حق څخه) دپاره ددې چې وښويوي (خلګ) له لارې

اللّٰهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ ۖ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ

اللّٰهِ	بِغَيۡرِ	عِلۡمٍ	وَّيَتَّخِذَهَا	هُزُوًا	اُولٰٓئِكَ	لَهُمۡ	عَذَابٌ
دا اللّٰه څخه	بې له	علمه	او چې ونيسي دا (لاره يا آيتونه)	په ټوكو، مسخرو	دغه (كسان)	ستاسو دوى ته	عذاب

دا اللّٰه څخه بې له علمه او چې ونيسي دا (لاره يا آيتونه) په ټوكو، مسخرو، دغه (كسان) ستاسو دوى ته عذاب

مُّهِيۡنٌ ۞ ٦ وَاِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِ اٰيٰتُنَا وَلّٰى مُسۡتَكۡبِرًا

مُّهِيۡنٌ	وَاِذَا	تُتۡلٰى	عَلَيۡهِ	اٰيٰتُنَا	وَلّٰى	مُسۡتَكۡبِرًا
سپكوونكى	او كله چې	ولوستل سي	پر ده باندى	آيتونه (دقرآن) زموږ	نو وګرځوى مخ ځينى	حال دا چې متكبر وى

سپكوونكى. او كله چې ولوستل سي پر ده باندى آيتونه (دقرآن) زموږ نو وګرځوى ترى مخ حال دا چې متكبر وى

كَاَنۡ لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا كَاَنَّ فِىۡۤ اُذُنَيۡهِ وَقۡرًا ۚ فَبَشِّرۡهُ

كَاَنۡ	لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا	كَاَنَّ	فِىۡۤ اُذُنَيۡهِ	وَقۡرًا	فَبَشِّرۡهُ
داسې چې ګواكې	له سره يئ نه دى اوريدلى هغه	ګواكې	په دواړو غوږونو د ده كښې	كوڼوالى دى	پس زيرى وركړه ته هغه ته

داسې چې ګواكې له سره يئ نه دى اوريدلى ګواكې په دواړو غوږونو د ده كښې كوڼوالى دى پس زيرى، خبر وركړه ته هغه ته

بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۞ ٧ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ

بِعَذَابٍ	اَلِيۡمٍ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	لَهُمۡ
په عذاب	دردناک سره	بيشكه!	هغه كسان	چې ايمان يئ راوړى دى	او كړى يئ دى	ښه (عملونه)	ستاسو دوى لره

په عذاب دردناک سره. بيشكه! هغه كسان چې ايمان يئ راوړى دى او كړى يئ دى ښه (عملونه) ستاسو دوى لره

جَنّٰتُ النَّعِيۡمِ ۞ ٨ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ؕ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ

جَنّٰتُ	النَّعِيۡمِ	خٰلِدِيۡنَ	فِيۡهَا	وَعۡدَ اللّٰهِ	حَقًّا	وَهُوَ	الۡعَزِيۡزُ
جنتونه	دنعمتونو	حال دا چې تل به وى دوى	په دغو كښې	(دغه) وعده دا اللّٰه	حقه، رښتيا ده	او هم دى	ښه غالب قوى

جنتونه دنعمتونو. حال دا چې تل به وى دوى په دغو كښې (دغه) وعده دا اللّٰه حقه، رښتيا ده او هم دى ښه غالب قوى

وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يَّشۡتَرِىۡ لَهۡوَ الۡحَدِيۡثِ.. ددغه ايت دشان نزول يوه خاص واقعه: هغه داده چې نضر بن حارث دمكې په مشركينو كې يو لوى تاجر وواو دتجارت د پاره به يې دمختلفو ملكونو سفر كوى ده به دفارس دملک څخه دعجمو دپاچاهانو كسرى وغيره تاريخي قصې اخيستې او راوړى به يې او دمكې مشركينو ته به يې ويل چې محمد ﷺ تاسې ته دعاديانو او دثموديانو قصې اوروي زه به تاسې ته ددې ښه درستم اسفندار اودفارس دنورو پاچاهانو قصې اوروم دغو خلګو دده دقصو اوريدل په شوق او رغبت سره اوريدل شروع كړل ځكه چې په هغوى كې څه تعليم خو وونه چې دعمل كولو محنت باندې اوسې صرف خوندوري قصې وې ددې په وجه سره ډير مشركين كم چې ددې څخه مخكې دكلام الهي داعجاز او بې مثلى په وجه ددې داوريدو رغبت درلودى او په پټه به يې اوريدى هم دې خلګو ته دقرآن څخه دمنعې كولو بهانه په لاس ورغله نو ددې په رد كې الله ﷻ دا اياتونه را نازل كړل: روح المعانى.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۷۲)

الْحَكِيمُ ⑨ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَأَلْقٰى

الْحَكِيمُ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	بِغَيْرِ	عَمَدٍ	تَرَوْنَهَا	وَأَلْقٰى
ښه حکمت لرونکی دی	پیداکړی دی (الله)	آسمانونه	بې له	ستونو	چې وینئ تاسی هغه	او غورځولی یئ دی

ښه حکمت لرونکی دی. پیداکړی دی (الله) آسمانونه بې له ستونو چې وینئ تاسی هغه او غورځولی (پیداکړی) یئ دی

فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ

فِي الْأَرْضِ	رَوَاسِيَ	أَنْ تَمِيدَ	بِكُمْ	وَبَثَّ	فِيهَا	مِنْ كُلِّ
په ځمکه کښی	غرونه	دپاره د دې چې ونه خوځیږی دا ځمکه	پر تاسی	او هوا ریئ کړل	په دغه ځمکه کښی	له هر قسم

په ځمکه کښی غرونه دپاره د دې چې ونه خوځیږی دا ځمکه پر تاسی، او ویئ شیندل په دغه ځمکه کښی له هر قسم

دَآبَّةٍ وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَنْبَتْنَا فِيهَا

دَآبَّةٍ	وَأَنْزَلْنَا	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَأَنْبَتْنَا	فِيهَا
ښوریدونکو څخه	او نازلی کړی دی موږ	له (طرفه) دآسمانه	اوبه	پس زرغونه کړی دی موږ	په دغه (ځمکه) کښی

ساکښو (جاندارو) څخه او نازلی کړی دی موږ له (طرفه) دآسمانه اوبه پس زرغونه کړی دی موږ په دغه (ځمکه) کښی

مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ⑩ هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَأَرُونِي

مِنْ كُلِّ	زَوْجٍ	كَرِيمٍ	هٰذَا	خَلْقُ	اللّٰهِ	فَأَرُونِي
له هر هر قسمه	وابښه (شنه ګیاه)	ښه څخه	دغه (ټول)	مخلوق	دالله دی	پس وښیئ ماته

له هر هر قسمه ګیاه (شنه ګیاه) ښی (خاصی جوړی). دغه (ټول شیان) مخلوق دالله دی پس وښیئ (ای مشرکانو) ماته

مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهٖ بَلِ الظّٰلِمُونَ فِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ ⑪ ع

مَاذَا	خَلَقَ	الَّذِينَ	مِنْ دُونِهٖ	بَلِ الظّٰلِمُونَ	فِي ضَلٰلٍ	مُّبِينٍ
چی څه شی؟	پیداکړی دی	هغو (بتانو)	بې له الله څخه	بلکه دغه ظالمان	په ګمراهی	ښکاره کښی دی

چی څه شی؟ پیداکړی دی هغو (بتانو) بې له الله څخه بلکه دغه ظالمان مشرکان په ګمراهی ښکاره کښی دی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ وَمَنْ يَّشْكُرْ

وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	لُقْمٰنَ	الْحِكْمَةَ	أَنِ اشْكُرْ	لِلّٰهِ	وَمَنْ يَّشْكُرْ
او خامخا په تحقیق	ورکړی ؤ موږ	لقمان ته	حکمت	چی شکر کوه	دالله	او هر چاچی شکر وکړ

او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ موږ لقمان ته حکمت (عقل، علم، او ویلی ؤ موږ ده ته) چی شکر کوه دالله او هرچاچی شکر وکړ

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا.. اسمان الله پاک ﷻ بیله ستنو او میلانو درولی دی: ددغه مضمون یو آیت دسورت رعد په شروع کي تیر سوی دی: الله الذی رفع السموات بغیر عمد ترونها: یعني الله ﷻ هغه ذات دی چي اسمانونه یي بغیر دستنو څخه جوړکړل چنانچي تاسي داوینی په خپلو سترګو باندي او پر ځمکه باندي الله ﷻ درانه غرونه اېښي دي چي داپر تاسو ونه ښوري او په دې ځمکه کي یي هر قسم حیوانات خپاره کړي دي او بیا یي دآسمان څخه اوبه رااورولي دي بیا په دې سره الله ﷻ دځمکي څخه هر قسم ښه او ښکلي شنه نباتات راشنه کړل نو اوس الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته خطاب کوي چي ته دغه کفارو ته ووایه چي داخو زما درب پیدا کړي شیان دي اوس نوراسی هغه معبودان چي تاسي دالله ﷻ دذات څخه ماسوا خپل خدایان جوړ کړي دي هغو څه شیان پیداکړي دي ویي ښیي موږ ته چي دهغو دخدایي استحقاق ثابت سي مګر هغو داونه ښوولاو نه هم ترآخره پوري پر هدایت سول.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۸۰)

ع-۱۰

فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ

فَاِنَّمَا	يَشْكُرُ	لِنَفْسِهٖ	وَمَنْ	كَفَرَ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَنِيٌّ
پس بیشکه! هم دا خبره ده	چې شکر کوی	دپاره د ځان خپل	او هر څوک چې	کافر سو	پس بیشکه!	الله	غنی، بې پروا

پس بیشکه! هم دا خبره ده چې شکر کوی دپاره د فائدی د ځان خپل او هر څوک چې کافر سو پس بیشکه! الله غنی بې پروا

حَمِيْدٌ ﴿١٢﴾ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ

حَمِيْدٌ	وَاِذْ قَالَ	لُقْمٰنُ	لِابْنِهٖ	وَهُوَ	يَعِظُهٗ	يٰبُنَيَّ
دټولو محامدو خاوند دی	او کله چې وویل	لقمان	زوی خپل ته	حال دا چې	ده پند ورکاوه هغه ته	ای زویه زما

دټولو محامدو خاوند دی. او یاد کړه (ای محمده!) چې وویل لقمان زوی خپل ته حال دا چې ده پند ورکاوه هغه ته ای زویه زما

لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ۗ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿١٣﴾ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ

لَا تُشْرِكْ	بِاللّٰهِ	اِنَّ	الشِّرْكَ	لَظُلْمٌ	عَظِيْمٌ	وَوَصَّيْنَا	الْاِنْسَانَ
مه شریکوه	له الله سره	بیشکه! چې	شرک خامخا	ظلم دی	ډیر لوی	او وصیت، امر کړی دی موږ	انسان ته

مه شریکوه له الله سره بیشکه! چې شرک خامخا ظلم دی ډیر لوی. او وصیت، امر کړی دی موږ انسان ته

بِوَالِدَيْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ وَّفِصٰلُهٗ

بِوَالِدَيْهِ	حَمَلَتْهُ	اُمُّهٗ	وَهْنًا	عَلٰى	وَهْنٍ	وَّفِصٰلُهٗ
له مور او پلار خپل سره	پورته کړی وو هغه	مور دده	په سستی سره	له پاسه	د بلی سستی	او پریکول د ده دی (له تی)

له مور او پلار خپل سره (په نیکی کولو) ګرځاوه ده لره مور دده په سستی سره له پاسه د بلی سستی او بیلول د ده دی (له تی)

فِيْ عَامَيْنِ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ۗ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿١٤﴾ وَاِنْ

فِيْ عَامَيْنِ	اَنِ اشْكُرْ لِيْ	وَلِوَالِدَيْكَ	اِلَيَّ	الْمَصِيْرُ	وَاِنْ
په دوو کلونو کښې	چې شکر کوه! ماته	او مور پلار خپل ته	خاص بیا ماته دی	راتلل ستاسی	او که

په (پوره کېدلو د) دوو کلونو کښې چې شکر کوه! ماته او مور پلار خپل ته خاص بیا ماته دی راتلل ستاسی. او که

جَاهَدٰكَ عَلٰٓى اَنْ تُشْرِكَ بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۙ

جَاهَدٰكَ	عَلٰٓى	اَنْ تُشْرِكَ	بِيْ	مَا لَيْسَ	لَكَ	بِهٖ	عِلْمٌ
کوشش وکړی دوی په تا	په دې	چې شریک کړی ته	له ما سره	هغه شی چې نه وی	تا ته	په هغه سره	څه علم

کوشش وکړی دا مور و پلار په تا په دې چې شریک کړی ته له ما سره هغه شی چې نه وی تا ته په هغه سره څه علم، پوه

وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ. **لقمان حکیم صاحب څوک وو ؟**

حضرت لقمان علیه السلام دوهب ابن منبه د روایت مطابق دحضرت ایوب علیه السلام دخور زوی وو او مقاتل رحمة الله علیه بیا فرمایي چې دی دحضرت ایوب علیه السلام دعمه زوی وو او په تفسیر بیضاوي وغیره کې دي چې دده عمر اوږد سو تر دې چې دحضرت داود علیه السلام زمانه یي هم پیدا کړه داخبره دنورو ایاتونو څخه هم ثابته ده چې حضرت لقمان علیه السلام د حضرت داود علیه السلام په زمانه کې وو: او په تفسیر درمنثور کي دحضرت ابن عباس رضي الله عنه روایت دی چې لقمان یو حبشي غلام وو دنجاری کار یي کوی او دحضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه دده دحالاتو پوښتنه وسوه نو وې فرمای چې دی لوړ قد اولوړه پزه والا حبشي غلام وو او امام مجاهد رحمة الله علیه فرمایي چې حبشي غلام پنډو شونډو والا او چاودلو پښو والا وو: یو تور رنګ حبشي حضرت سعید ابن مسیب رحمة الله علیه ته دیوې مسئلې دمعلومولو دپاره حاضر سو نو حضرت سعید رحمة الله علیه دده دتسلی دپاره وفرمایل چې ته. پاته بیان پر راروان مخ وګوری :

فَلَا تُطِعۡهُمَا وَصَاحِبۡهُمَا فِي الدُّنۡيَا مَعۡرُوۡفًا ۖ وَّاتَّبِعۡ سَبِيۡلَ

فَلَا تُطِعۡهُمَا	وَصَاحِبۡهُمَا	فِي الدُّنۡيَا	مَعۡرُوۡفًا	وَّاتَّبِعۡ	سَبِيۡلَ
نو اطاعت مه کوه د دی دواړو	او ملګرتیا کوه له دوی سره	په دنیا کښې	ښه غوره	او متابعت کوه په دین کښې	دلاری

نو اطاعت مه کوه د دی دواړو او ملګرتیا کوه له دوی سره په دنیا کښې ښه غوره او متابعت کوه په دین کښې دلاری

مَنۡ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَاُنَبِّئُكُمۡ

مَنۡ اَنَابَ	اِلَيَّ	ثُمَّ	اِلَيَّ	مَرۡجِعُكُمۡ	فَاُنَبِّئُكُمۡ
دهغه چاچې بیرته راګرځیدلی دی	ماته	بیا	خاص ماته	راتله ستاسی دی	پس خبر به کړم زه تاسی

دهغه چاچې بیرته راګرځیدلی دی ماته (په توحید سره)، بیا (خاص) ماته راتله ستاسی دی پس خبر به کړم زه تاسی

بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ⑮ يٰبُنَيَّ اِنَّهَاۤ اِنۡ تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٍ

بِمَا كُنۡتُمۡ	تَعۡمَلُوۡنَ	يٰبُنَيَّ	اِنَّهَاۤ	اِنۡ تَكُ	مِثۡقَالَ	حَبَّةٍ
په هغو چې وی تاسی	چې کول به تاسی	ای زویه زما	بیشکه! دا	که کوم شی وی	په قدر	د دانی

په هغو عملونو چې وی تاسی چې کول به تاسی . ای زویه کوتیه زما بیشکه! دا که کوم شی وی په قدر د دانی

مِّنۡ خَرۡدَلٍ فَتَكُنۡ فِيۡ صَخۡرَةٍ اَوۡ فِي السَّمٰوٰتِ اَوۡ فِي الۡاَرۡضِ

مِّنۡ خَرۡدَلٍ	فَتَكُنۡ	فِيۡ صَخۡرَةٍ	اَوۡ فِي السَّمٰوٰتِ	اَوۡ فِي الۡاَرۡضِ
د سپلنی څخه	پس وی دا دانه	په کوم کاڼی کښی	یا په آسمانونو کښی	یا په مځکه کښی

د اوری څخه پس وی دا دانه په کومی تیږی (ګټی) کښی یا په آسمانونو کښی یا په مځکی کښی (چی هیڅوک پری خبر نه وی)

يَاۡتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيۡفٌ خَبِيۡرٌ ⑯ يٰبُنَيَّ اَقِمِ

يَاۡتِ بِهَا	اللّٰهُ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَطِيۡفٌ	خَبِيۡرٌ	يٰبُنَيَّ	اَقِمِ
نو را به یئ وړی	الله	بیشکه!	الله	ښه باریک لیدونکی	ښه خبردار دی	ای زویه زما	قائموه

نو را به یئ وړی الله (حساب کتاب ته) بیشکه! الله ښه باریک لیدونکی ښه خبردار دی. ای زویه کوتیه زما ، قائموه

الصَّلٰوةَ وَاۡمُرۡ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَانۡهَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ وَاصۡبِرۡ عَلٰى

الصَّلٰوةَ	وَاۡمُرۡ	بِالۡمَعۡرُوۡفِ	وَانۡهَ	عَنِ الۡمُنۡكَرِ	وَاصۡبِرۡ	عَلٰى
لمونځ	او امر کوه	په نیکی	او منع کوه (خلګ)	له بدی څخه	او صبر کوه	پر

لمونځ او امر کوه (خلقوته) په نیکی او منع کوه خلق له بدی څخه ، او صبر کوه پر

وَصَاحِبۡهُمَا فِي الدُّنۡيَا مَعۡرُوۡفًا وَّاتَّبِعۡ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: پر خپل توروالي غم مه کوه ځکه چې په تورو خلګو کي درې داسي بزرګان تیر سوي دي کم چې په خلګوکي دټولو څخه ښه وه یو حضرت بلال حبشی رضي الله عنه او بل مهجع رضي الله عنه دحضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه ازاد کړی مریي او بل حضرت لقمان عليه السلام وو. **فائده**: ایا حضرت لقمان عليه السلام نبي وو اوکه ولي او حکیم وو ؟ ابن کثیر رحمة الله عليه فرمايي چي دجمهورو سلفو پر دې اتفاق دی چي هغه نبي نه وو صرف دحضرت عکرمه څخه دده نبي والی نقل دی مګر دهغه سند ضعیف دی : او امام بغوی رحمة الله عليه فرمايي چي پر دې دعلماوو اتفاق دی چي لقمان عليه السلام یو فقیه او حکیم وو. دحضرت قتاده رضي الله عنه څخه دده په باره کي یو عجیبه روایت نقل دی چي الله جل جلاله وحضرت لقمان عليه السلام ته اختیار ورکړی وو چي نبوت واخله یا حکمت نو هغوی حکمت اختیاره کړی او په ځینو روایتونو کي دده په باره کي عجیبه عجیبه ارشادات نقل سوي : تفصیل یي په معارف القرآن کي وګوری.
(معارف القرآن ج۷ پ ۲۱ ص ۸۵)

مَآ اَصَابَكَ ۭ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۝۱۷ وَلَا تُصَعِّرْ

مَآ اَصَابَكَ	اِنَّ	ذٰلِكَ	مِنْ عَزْمِ	الْاُمُوْرِ	وَلَا تُصَعِّرْ
هغی سختئ چي رسیږی تاته	بیشکه!	دغه	دهمتد	کړونو څخه دی	او مه ګرځوه

هغی سختئ چي رسیږی تاته بیشکه! دغه (مذکوره نصائح) له مهمو مقصودی کارونو څخه دی. او مه ګرځوه

خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ

خَدَّكَ	لِلنَّاسِ	وَلَا تَمْشِ	فِي الْاَرْضِ	مَرَحًا	اِنَّ	اللّٰهَ
مخ خپل	خلګو ته	او مه کوه تګ	په مځکه کښی	په غرور سره	بیشکه!	الله

مخ خپل خلګو ته (له ډیره کبره) او مه کوه تګ په مځکه کښی په ناز او نخرو! بیشکه! الله

لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ۝۱۸ وَاقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ

لَا يُحِبُّ	كُلَّ	مُخْتَالٍ	فَخُوْرٍ	وَاقْصِدْ	فِيْ مَشْيِكَ
نه خوښوی	هر	کبر کوونکی	فخر کوونکی	او میانه رو اوسه!	په تګ خپل کښی

نه خوښوی هر کبر کوونکی فخر کوونکی په (خلګو). او میانه رو اوسه! په تګ خپل کښی (نه ډیر تیز نه ډیر کرار)

ع ۲ / ۱۱ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ۭ اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ۝۱۹

وَاغْضُضْ	مِنْ صَوْتِكَ	اِنَّ	اَنْكَرَ	الْاَصْوَاتِ	لَصَوْتُ	الْحَمِيْرِ
او کښته کړه	ږغ خپل	بیشکه! چي	ډیر بد دتولو	ږغونو	خامخا ږغ	دخرو دی

او ورو کړه ږغ خپل بیشکه! چي ډیر بد دتولو ږغونو خامخا ږغ دخرو دی.

اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ

اَلَمْ تَرَوْا	اَنَّ	اللّٰهَ	سَخَّرَ لَكُمْ	مَّا	فِي السَّمٰوٰتِ
آیا نه وینی تاسی	چی بیشکه!	الله	مسخر کړی دی تاسی ته	هرهغه څه	چی په آسمانونو کښی دی

آیا نه وینی تاسی (ای انسانانو) چي بیشکه! الله مسخر کړی په کار اچولی دی تاسی ته هر هغه څه چي په آسمانونو کښی دی

وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً

وَمَا	فِي الْاَرْضِ	وَاَسْبَغَ	عَلَيْكُمْ	نِعَمَهٗ	ظَاهِرَةً
او هرهغه څه چي	په مځکه کښی دی	او پوره کړی دی	پر تاسي	نعمتونه خپل	ښکاره

او هر هغه څه چي په مځکه کښی دی او پوره کړی دی (الله) پر تاسی نعمتونه خپل (هم) په ښکاره

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ

دمعاشرت دادابو متعلق دحضرت لقمان حکیم علیه السلام وصیتونه: دآیت ددغي جملي مطلب دادی چي دخلګو سره دملاقات په وخت اوخبرو کي په اړولي مخ خبري مه کوه کمه چي ددوی څخه داعراض کولو او تکبر کولو نښه ده او دشریفانه اخلاقو څخه خلاف ده. **ولاتمش فی الارض مرحا** مرح وایي په تکبر او غرور سره تللوته مطلب دادی چي په ټولو عناصرو کښي مځکه الله جل جلاله پرته جوړه کړیده او ته ددې څخه پیدایی پر دې باندي دګرځیدو په وخت کي خپل حقیقت و پیژنه په غرور سره مه ګرځه کمه چي دمتکبرانو طریقه ده په دې وجه ددې څخه وروسته الله جل جلاله فرمایي چي زه فخر کوونکي او کبر کوونکي خلګ نه خوښوم: **واقصد فی مشیک:** یعني په خپل تګ کي میانه روي اختیاره کړه مه ډیري منډي وهه چي دوقار خلاف دي. **په حدیث شریف** کي دي چي په تلو کي ډیره تلواره کول دمومن رونق او ښایست ضایع کوي: الله جل جلاله دي دعمل کولو توفیق راکړی (معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۹۰)

وَّبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ

وَّبَاطِنَةً	وَمِنَ النَّاسِ	مَنْ يُّجَادِلُ	فِي اللّٰهِ	بِغَيْرِ	عِلْمٍ
او (هم) پټ	او ځینی د خلګو	هغه څوک دی چی جګړه کوی	په (حق د) الله کښی	بی له	پوهی

او (هم) په پټه، او (ځینی) له خلګو هغه څوک دی چی جګړه کوی په (حق د) الله کښی بی له پوهی (د توحید څخه)

وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝٢٠ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا

وَّلَا هُدًى	وَّلَا كِتٰبٍ	مُّنِيْرٍ	وَاِذَا	قِيْلَ	لَهُمُ	اتَّبِعُوْا
او بی له هدایته	او بی له کتاب	روښان څخه	او کله چی	وویل سی	دوی ته	چی متابعت وکړئ

او بی له (لاری د) هدایت او بی له کتاب روښان څخه. او کله چی وویل سی دوی ته چی متابعت وکړئ په صدق سره

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا

مَآ اَنْزَلَ	اللّٰهُ	قَالُوْا	بَلْ	نَتَّبِعُ	مَا وَجَدْنَا	عَلَيْهِ	اٰبَآءَنَا
دهغه چی نازل کړی دی	الله	نو وایئ دوی	نه! بلکه	متابعت کوو	دهغه شی چی پیدا کړی وه موږ	پر هغه شی	پلرونه خپل

دهغه (قرآن) چی نازل کړی دی الله نو وایئ دوی نه! بلکه متابعت کوو دهغه شی چی پیدا کړی وو موږ پر هغه شی پلرونه خپل

اَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝٢١

اَوَلَوْ كَانَ	الشَّيْطٰنُ	يَدْعُوْهُمْ	اِلٰى	عَذَابِ	السَّعِيْرِ
آیا اګر که وی	شیطان	داسی چی بولی دوی	په طرف	دعذاب	د دوزخ

آیا (متابعت کوی دوی دپلرونو) اګر که وی شیطان داسی چی بولی دوی (یا پلرونه د دوی) په طرف دعذاب د دوزخ.

وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗٓ اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ

وَمَنْ	يُّسْلِمْ	وَجْهَهٗٓ	اِلَى اللّٰهِ	وَهُوَ	مُحْسِنٌ	فَقَدِ
او هر څوک چی	وسپاری	مخ (ځان) خپل	الله ته	حال دا چی دی	نیکو کاروی	نو په تحقیق ده

او هر څوک چی وسپاری مخ(ځان) خپل الله ته (او پری تفویض او توکل وکړی) حال دا چی دی نیکو کار وی نو په تحقیق ده

اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ وَاِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ۝٢٢

اسْتَمْسَكَ	بِالْعُرْوَةِ	الْوُثْقٰى	وَاِلَى اللّٰهِ	عَاقِبَةُ	الْاُمُوْرِ
منګولی ښخی کړی دی	په کړی	مضبوطی باندی	او خاص الله ته دی	عاقبت د (ټولو)	کارونو

منګولی ښخی کړی دی په کړی مضبوطی باندی، او خاص الله ته دی عاقبت خاتمه د (ټولو) کارونو.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ. دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دلوی علم او قدرت او په مخلوق کي دده داحساناتو ذکر. دسورت په شروع کي وکفارو او مشرکینو ته په دي خبرداری وو چي دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دعلم محیط او قدرت مطلقه دنښو دلیدو سره بیا هم داخلګ په خپل کفر او شرک اخته دي او ددوی په مقابله کي داطاعت شعارو مومنانو مدح او ددوی دښه انجام ذکر وو په مینځ کي دحضرت لقمان عَلَيْهِ السَّلَام دوصیتونو ذکر هم په یو حیثیت سره ددې مضامینو مکمّل کول وو په ذکر سوو ایاتونو کي دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دلوی علم او قدرت او پر مخلوق یي دده داحساناتو په ذکر سره بیا دتوحید طرف ته دعوت دی. وسخر لکم ما فی السموات والارض یعني تابع کړي دي الله جَلَّ جَلَالُهٗ ستاسو دپاره هغه ټول شیان کم چي په اسمانونو کي دي او کم چي په مځکه کي دي: دمسخر کولو مشهوره معنی یو شی دیو تابع فرمان جوړول دي یعني داټول مخلوقات یي دانسان په خدمت کي ولګول چي دا یي دانسان تابع فرمان هم جوړ کړل څنګه چي هغه وغواړي استعمالوي یي الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۹۷)

وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ۚ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

وَمَنْ	كَفَرَ	فَلَا يَحْزُنْكَ	كُفْرُهٗ	اِلَيْنَا	مَرْجِعُهُمْ
او هر څوک چي	کافر سو	پس نه دی خپه کوی تا	کفر د ده	خاص موږ ته دی	بیا راتلـه د دوی (په قیامت)

او هر څوک چي کافر سو پس نه دی خپه کوی تا (ای محمده!) کفر د ده (څکه چي) خاص موږ ته دی بیا راتله د دوی په قیامت

فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ ۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۳﴾

فَنُنَبِّئُهُمْ	بِمَا عَمِلُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيْمٌ	بِذَاتِ	الصُّدُوْرِ
پس خبر به کړو موږ دوی	په هغه اعمالو چي کړي یئ دي	بیشکه! چي	الله	ښه عالم دی	په هغو خبرو	چي په سینو د دوی کښي دی

پس خبر به کړو موږ دوی په هغو اعمالو چي کړي یئ دي بیشکه! چي الله ښه عالم دی په هغو خبرو چي په سینو د دوی کښي دی

نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۲۴﴾

نُمَتِّعُهُمْ	قَلِيْلًا	ثُمَّ	نَضْطَرُّهُمْ	اِلٰى	عَذَابٍ	غَلِيْظٍ
نفع به ورکړو موږ دوی ته	لږ شانی	بیا به	وشړو موږ دوی	په طرف	د عذاب	سخت

نفع به ورکړو موږ دوی ته (په دنیا کښي) لږ شانی بیا را ولو دوی په ډیری ناچاری عاجزی سره په طرف د عذاب سخت.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

وَلَئِنْ	سَاَلْتَهُمْ	مَّنْ خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ
او قسم دی	که وپوښتې ته دغه (کفار)	چي چا پیدا کړی دی	دغه آسمانونه	او مځکی

او قسم دی که وپوښتې ته دغه (کفار) چي چا پیدا کړی دی دغه آسمانونه او مځکی

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۵﴾

لَيَقُوْلُنَّ	اللّٰهُ	قُلِ	الْحَمْدُ	لِلّٰهِ	بَلْ	اَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ
نو خامخا وبه وایئ دوی هرومرو	چي الله	ووایه	تول ثناء	خاص الله لره ده	بلکه	زیاتره د دوی	نه پوهیږئ

نو خامخا وبه وایئ دوی هرومرو چي الله (نو ای محمده!) ووایه تول ثناء خاص الله لره ده، بلکه زیاتره د دوی نه پوهیږئ.

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ

لِلّٰهِ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	اِنَّ اللّٰهَ	هُوَ	الْغَنِيُّ
خاص الله لره دی	هر هغه څه	چي په اسمانونو کښي دی	او په مځکه کښي دی	بیشکه! چي الله	هم دی دی	غني، بی پروا

خاص الله لره دی هر هغه څه چي په آسمانونو کښي دی او په مځکه کښي دی بیشکه! چي الله هم دی دی غني، بی پروا

وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ اِلَيْنَا.. دکفارو پر ایمان نه راوړلو باندي نبي کریم ﷺ ته دالله جل جلاله دطرف څخه تسلي: په دغه ایت کي الله جل جلاله نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړیده چي کم کسان دحق ثابتوونکو دلیلونو سره کفر کوي نو ستا دپاره دهغه کفر دغم باعث کیدل نه دي پکار یعني ته غم مه کوه او ددې ټولو موږ ته واپسي ده نو موږ به دې ټولو ته وښیو کم کم څه چي هغوی په دنیا کي کول ځکه چي الله جل جلاله ته خو دزړونو خبري هم ښې معلومي دي نو دظاهري عملونو معامله خو ښکاره ده نو زموږ څخه څه کار پټ نه دی ټول به ښکاره کړو او مناسبه سزا به ورکړو په دې وجه تاسو څه غم مه کوی دا خلګ که محض دڅو ورځو په عیش نازیږي نو دا ددوی لویه غلطي ده ځکه چي دا دهمیشه ژوند نه دی بلکي موږ دوی ته دڅو ورځو عیش ورکړی دی بیا به دوی په راکشولو د یو سخت عذاب طرف ته راولونو په دې نازیدل جهالت دی او موږ چي دوی کم توحید ته رابولو دهغه مقدمات خو په خپله دا خلګ هم مني چي دغه توحید الهي حق دی الخ.
(معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۹۵)

الْحَمِيْدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ

الْحَمِيْدُ	وَلَوْ	اَنَّ مَا	فِي الْاَرْضِ	مِنْ شَجَرَةٍ	اَقْلَامٌ
ډیره ثنا ورته ویلی سوی ده	او که چیری	هغه څه چی	په مځکه کښی دی	له ونو څخه	(هغه ټول) قلمونه سی

ډیره ثنا ورته ویلی سوی ده. او که چیری هغه څه چی په مځکه کښی دی له ونو څخه (هغه ټول) قلمونه سی

وَّالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ

وَّالْبَحْرُ	يَمُدُّهٗ	مِنْۢ بَعْدِهٖ	سَبْعَةُ	اَبْحُرٍ	مَّا نَفِدَتْ	كَلِمٰتُ
او (رنګ وګرځی) بحر	مرسته وکړی له ده سره	پس له تماميدو د ده	اوه (نور)	بحرونه	نو خلاصی به نسی	خبری

او (سیاهی سی) بحر مرسته وکړی له ده سره پس له (تماميدلو داوبو) دده او اوه (نور) بحرونه نو خلاص به نسی کلمات

اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٧﴾ مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ

اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَزِيْزٌ	حَكِيْمٌ	مَا خَلْقُكُمْ	وَلَا بَعْثُكُمْ
دالله	بیشکه! چی	الله دی	ښه غالب قوی	ښه حکمت والا	نه دی پیدا کول ستاسی	او نه بیا ژوندی راپاڅول ستاسی

دالله بیشکه! چی الله دی ښه غالب قوی ښه حکمت والا . نه دی پیدا کول ستاسی او نه بیا ژوندی راپاڅول ستاسی

اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٢٨﴾ اَلَمْ تَرَ

اِلَّا	كَنَفْسٍ	وَّاحِدَةٍ	اِنَّ	اللّٰهَ	سَمِيْعٌ	بَصِيْرٌ	اَلَمْ تَرَ
مګر داسی دی	لکه پیدا کول ، ژوندی کول	دیو نفس	بیشکه! چی	الله	ښه اوریدونکی	ښه لیدونکی دی	آیا نه وینی

مګر داسی دی لکه پیدا کول او ژوندی کول د یوه نفس بیشکه! چی الله ښه اوریدونکی ښه لیدونکی . آیا نه وینی

اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَسَخَّرَ

اَنَّ	اللّٰهَ	يُوْلِجُ	الَّيْلَ	فِي النَّهَارِ	وَيُوْلِجُ	النَّهَارَ	فِي الَّيْلِ	وَسَخَّرَ
چی بیشکه!	الله	ننه باسی	شپه	په ورځ کښی	او ننه باسی	ورځ	په شپه کښی	او مسخر کړی یې دی تاسی ته

چی بیشکه! الله ننه باسی شپه په ورځ کښی او ننه باسی (الله) ورځ په شپه کښی او مسخر کړی په کار اچولی یې دی تاسی ته

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۡ كُلٌّ يَّجْرِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ

الشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ	كُلٌّ	يَّجْرِيْٓ	اِلٰٓى	اَجَلٍ	مُّسَمًّى	وَّاَنَّ	اللّٰهَ
لمر	او سپوږمی	هر یو د دغو دواړو	روان دی	تر	ټاکلی	مودی پوری	او بیشکه!	الله

لمر او سپوږمی هر یو (دغو دواړو) روان دی (په آسمان خپل کښی) تر ټاکلی (مقرر کړی) مودی پوری . او بیشکه! الله

وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ. دالله ﷻ دمعلوماتو او دهغه دقدرت دتصرفاتو یو مثال: په دې آیت کې الله ﷻ دخپلو معلوماتو او د خپل قدرت دتصرفاتو او دخپلو نعمتونو یو مثال ورکړی دی چې داغیر متناهي دي نه په یوه ژبه دغه ټول ادا کیدای سي نه په قلم سرټول لیکل کیدای سي مثال یې دافرمایلی دی چې په ټوله مځکه کې چې څومره درختې دي که ددې ټولو دښاخونو څخه قلمونه جوړ سي او ددې دلیکلو دپاره ټول سمندر او دریاب رنګ او سیاهي وګرځي او داټول قلمونه دالله ﷻ معلومات او تصرفات دقدرت لیکل شروع کړي نو سمندر به ختم سي او معلومات او تصرفات به ختم نه سي او دسمندر څخه که ددې په شان اووه سمندرونه نور هم ورشامل سي بیا به هم سمندرونه ختم سي لیکن دالله ﷻ کلمې به ختمې نه سي. دکلمې څخه مراد دهغه علم او دهغه دحکمت کلمې دي :اودقدرت شان او دالله ﷻ نعمتونه هم په دې کې داخل دي ددې څخه د الله ﷻ دعلم وسعت او فراخي معلومیږي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری

ع ۳ ۱۲

بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡحَقُّ وَاَنَّ

بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	خَبِيۡرٌ	ذٰلِكَ	بِاَنَّ	اللّٰهَ	هُوَ الۡحَقُّ	وَاَنَّ
په هر هغه څه	چي تاسي يئ کوی	ښه خبر دی	دغه	په سبب ددي چي بيشکه!	الله	هم دی حق دی	او بيشکه!

په هر هغه څه چي تاسي يئ کوئ ښه خبر دی. دغه (شامل معرفت) له دی سببه دی چي بيشکه! الله هم دی حق دی او بيشکه!

مَا يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهِ الۡبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡعَلِيُّ الۡكَبِيۡرُ ﴿۳۰﴾

مَا يَدۡعُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِهِ	الۡبَاطِلُ	وَاَنَّ	اللّٰهَ	هُوَ	الۡعَلِيُّ	الۡكَبِيۡرُ
هغه (بتان) چي بولي دوی	بی له دغه (الله)	حق نه دی	او بيشکه!	الله	هم دی	ښه پورته	ډير لوی دی

هغه (بتان) چي بولي (عبادت يئ کوی) دوی بی له دغه (الله) حق نه دی او بيشکه! الله هم دی ښه پورته ډير لوی دی .

اَلَمۡ تَرَ اَنَّ الۡفُلۡكَ تَجۡرِىۡ فِى الۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمۡ

اَلَمۡ تَرَ	اَنَّ	الۡفُلۡكَ	تَجۡرِىۡ	فِى الۡبَحۡرِ	بِنِعۡمَتِ	اللّٰهِ	لِيُرِيَكُمۡ
آيا نه وينی ته	چي بيشکه!	کشتی	تګ کوی	په بحر کښی	په نعمت (فضل)	د الله	دپاره ددی چي وښيي تاسی ته

آيا نه وينی ته چي بيشکه! (دا) کشتی تګ کوی په بحر کښی په نعمت (فضل) د الله دپاره ددی چي وښيي تاسی ته

مِّنۡ اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ

مِّنۡ اٰيٰتِهٖ	اِنَّ	فِىۡ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّكُلِّ	صَبَّارٍ
له دلائلو د ده	بيشکه!	په دغی کښی	خامخا ډير دلائل دی	دپاره دهر	ډير صابر

له دلائلو (دقدرت) د ده، بيشکه! په دغی (کشتی او بحر) کښی خامخا ډير دلائل (دقدرت) دی دپاره دهر ډير صابر

شَكُوۡرٍ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا غَشِيَهُمۡ مَّوۡجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ

شَكُوۡرٍ	وَاِذَا	غَشِيَهُمۡ	مَّوۡجٌ	كَالظُّلَلِ	دَعَوُا	اللّٰهَ
ډير شاکر	او کله چي	لاندی کړی دوی (کفار)	يو موج	لکه وريځی	نو بولی دوی	الله

ډير شاکر (په آفتونو او نعمتونو). او کله چي لاندی کړی دغه (کفار) يو موج لکه وريځی نو بولی دوی الله

مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰهُمۡ اِلَى الۡبَرِّ

مُخۡلِصِيۡنَ	لَهُ الدِّيۡنَ	فَلَمَّا	نَجّٰهُمۡ	اِلَى الۡبَرِّ
په داسی حال کی چي خالص کوونکی وی دوی	خاص الله ته دين خپل	پس کله چي	نجات ورکړی دوی ته	طرف د وچی ته

په داسی حال کی چي خالص کوونکی وی دوی خاص الله ته (د) دين خپل، پس کله چي نجات ورکړی دوی ته الله طرف د وچی ته

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡحَقُّ وَاَنَّ.. دتير مخ پاته بيان

دلته وګوری: په ځينو روايتونو کي دي چي داآيت يعني اوويشتم شماره آيت ديهودو دعالمانو ديو سوال په جواب کي نازل سو وجه داوه چي په قرآن کي آيت دی. وما اوتيتم من العلم الا قليلا يعني تاسي ته نه دی درکول سوی مګر لږ علم. کله چي نبي کريم ﷺ مديني منوري ته هجرت وکړی نو يو څو عالمان ديهودو حاضر سول او ددي آيت په باره کي يي معارضه وکړه چي ته کم وايي چي تاسي ته لږ علم درکړه سوی دی دا تا دخپل قوم حال ذکر کړی دی او که دي موږ هم په کښي داخل کړي يو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چي زما مراد ټول دي يعني زموږ قوم هم او يهوداو نصارا هم نو هغه ووچي دوی دا معارضه وکړه چي موږ ته خو الله ﷻ تورات راکړی دی چي شان يي تبيان لکل شئ: دی يعني هغه دهر شي بيان دی نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چي داهم دعلم الهي په مقابله کي ډير لږ دی او دتورات هم پوره علم تاسي ته نسته بلکه په قدر دکفايت دی ددي خبري په تاييد کي دآيت نازل سو. (معارف القرآن ج ۷ پ ۲۱ ص ۹۹)

فَمِنۡهُمۡ مُّقۡتَصِدٌ ؕ وَمَا يَجۡحَدُ بِاٰيٰتِنَاۤ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ

فَمِنۡهُمۡ	مُّقۡتَصِدٌ	وَمَا يَجۡحَدُ	بِاٰيٰتِنَاۤ	اِلَّا	كُلُّ	خَتَّارٍ
نو ځینی د دوی	ولاړوی پرلاری سمی	او انکار نه کوی	له دلائلو زموږ	مگر	هر هغه	چی ډیر عهد ماتوونکی

نو ځینی د دوی ولاړوی پر (هم هغی) لاری سمی، او انکار نه کوی له دلائلو دقدرت زموږ مگر هر هغه چی ډیر عهد ماتوونکی

كَفُوۡرٍ ﴿۳۲﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ وَاخۡشَوۡا يَوۡمًا لَّا يَجۡزِيۡ

كَفُوۡرٍ	يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	اتَّقُوۡا	رَبَّكُمۡ	وَاخۡشَوۡا	يَوۡمًا	لَّا يَجۡزِيۡ
غدار، ناشکره وی	ای	خلگو !	وبیریږئ تاسی	درب خپل څخه	او وبیریږئ تاسی	له هغی ورځی	چی نه به سی دفع کولی

غدار زیات ناشکره وی، ای خلگو! وبیریږئ تاسی درب خپل څخه او وبیریږئ تاسی له هغی ورځی چی نه به سی دفع کولی

وَالِدٌ عَنۡ وَّلَدِهٖ ۫ وَلَا مَوۡلُوۡدٌ هُوَ جَازٍ عَنۡ وَّالِدِهٖ شَيۡـًٔا ؕ

وَالِدٌ	عَنۡ وَّلَدِهٖ	وَلَا مَوۡلُوۡدٌ	هُوَ	جَازٍ	عَنۡ وَّالِدِهٖ	شَيۡـًٔا
هیڅ پلار	له زوی خپل څخه	او نه هیڅ زوی	چی هغه	دفع کوونکی سی	له پلار خپل څخه	کوم شی

هیڅ پلار له زوی خپل او نه هیڅ زوی (داسی وی) چی هغه دفع کوونکی سی له پلار خپل څخه کوم شی (څه عذاب)

اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الۡحَيٰوةُ

اِنَّ	وَعۡدَ	اللّٰهِ	حَقٌّ	فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ	الۡحَيٰوةُ
بیشکه!	وعده	دالله	ربنتیا ده	پس نه دی خطا باسی تاسی دغه	ژوندون

بیشکه! وعده دالله ربنتیا ده (دبعث، حساب، جزا) پس نه دی غرور کوی خامخا دغه په ژوندون

الدُّنۡيَا ٚ وَلَا يَغُرَّنَّكُمۡ بِاللّٰهِ الۡغَرُوۡرُ ﴿۳۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ عِنۡدَهٗ

الدُّنۡيَا	وَلَا يَغُرَّنَّكُمۡ	بِاللّٰهِ	الۡغَرُوۡرُ	اِنَّ	اللّٰهَ	عِنۡدَهٗ
د دنیا	پس نه دی خطا باسی تاسی	په الله	هیڅ خطا ایستونکی	بیشکه!	الله	خاص هم د ده څخه دی

د دنیا او نه دی غرور کوی خامخا تاسی په (عفو او کرم د) الله هیڅ غرور کوونکی. بیشکه! الله خاص هم د ده څخه دی

عِلۡمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الۡغَيۡثَ ۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي

عِلۡمُ	السَّاعَةِ	وَيُنَزِّلُ	الۡغَيۡثَ	وَيَعۡلَمُ	مَا فِي
علم	دقیامت	او نازلوی الله	باران	او معلوم دی الله ته	هغه شی چی په

علم (دقیام) دقیامت او نازلوی الله باران (او دنزول په وخت یئ هم علم لری) او معلوم دی الله ته هغه شی چی په

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ وَاخۡشَوۡا.. ومسلمانانو او کافرانو ټولو ته دالله جَلَّ جَلَالُهٗ څخه دبیری عمومي خطاب: دذکر سوو دوو ایتونو څخه په اول ایت کي یي دمومن او کافر عامو خلگو ته خطاب فرمایلی دی او دالله جَلَّ جَلَالُهٗ او دقیامت څخه یي وبیرول ددې دپاره یي دتیاری هدایت کړی دی. یاأیها الناس اتقوا ربکم: یعني ای خلگو وبیریږی دخپل پروردگار څخه: دلته د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دنوم یا دبل صفت پرځای یي درب دصفت په انتخاب کولو کي دې طرف ته اشاره ده چي د الله جَلَّ جَلَالُهٗ څخه دبیري چي کم حکم دی دا هغه بیره نه ده کمه چي ددرنده یا دښمن څخه عادتا کیدای سي ځکه چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ خو ستاسو رب او پالونکی دی دهغه څخه داسي هیڅ خطره کول نه دي پکاربلکي دبیري څخه مراد دلته هغه بیره ده کمه چي دخپلو مشرانو او بزرگانو دلویي او هیبت په وجه لازمه وي لکه چي زوی دخپل پلار څخه او شاگرد داستاد څخه بیریږي هغوی دده دښمنان یاضرررسوونکي نه وي خو دهغوی لویي او هیبت یي په زړونو کي وي.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۰۰)

ع ۱۴

الْاَرْحَامِ ۚ وَمَا تَدْرِیْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ؕ

الْاَرْحَامِ	وَمَا تَدْرِیْ	نَفْسٌ	مَّاذَا تَكْسِبُ	غَدًا
ارحامو کښې وی	او نه پوهیږئ	هیڅ نفس	چې څه کار به کوی	سبا

ارحامو (دمیندو په نسونو) کښې وی (نرتوب او ښځه توب) او نه پوهیږئ هیڅ نفس چې څه کار به کوی سبا،

وَمَا تَدْرِیْ نَفْسٌ بِاَیِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌ خَبِیْرٌ ﴿۳۴﴾

وَمَا تَدْرِیْ	نَفْسٌ	بِاَیِّ	اَرْضٍ	تَمُوْتُ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِیْمٌ	خَبِیْرٌ
او نه پوهیږئ	هیڅ نفس	چې په کومه	مځکه کښې به	مری	بیشکه!	الله دی	ښه عالم	ښه خبردار دی

او نه پوهیږئ هیڅ نفس چې په کومه مځکه کښې به مری بیشکه! الله دی ښه عالم ښه خبردار (په ټولو احوالو) دی.

آیاتونه ۳۰ ﴿۳۲ سُوْرَةُ السَّجْدَةِ مَدَنِیَّةٌ ۷۵﴾ رکوعي ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

الٓمّٓ ﴿۱﴾ تَنْزِیْلُ الْكِتٰبِ لَا رَیْبَ فِیْهِ مِنْ رَّبِّ

الٓمّٓ	تَنْزِیْلُ	الْكِتٰبِ	لَا رَیْبَ	فِیْهِ	مِنْ رَّبِّ
الف، لام، میم	نازلیدل	دکتاب (قرآن)	چې نسته هیڅ شک	په دغه کې	له (جانبه) درب

الف، لام، میم . نازلیدل د (دغه) کتاب (قرآن) چې نسته هیڅ شک په دغه کښې له (جانبه) د رب

الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲﴾ اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ

الْعٰلَمِیْنَ	اَمْ یَقُوْلُوْنَ	افْتَرٰىهُ	بَلْ هُوَ
دمخلوقاتو دی	آیا وایئ دوی (کفار)	له خپله ځانه یئ جوړ کړی دی دا (قرآن)	بلکه هم دغه (قرآن)

دعالمیانو دی ،آیا وایئ (دغه کفار) له خپله ځانه یئ جوړ کړی دی دا (قرآن محمد) بلکه هم دغه (قرآن)

الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ

الْحَقُّ	مِنْ	رَّبِّكَ	لِتُنْذِرَ	قَوْمًا	مَّآ اَتٰىهُمْ
حق دی	له جانبه	درب ستا	چې بیروی ته (په قرآن سره)	هغه قوم	چې نه دی راغلی دوی ته

حق دی (نازل سوی دی) له جانبه درب ستا چې بیروی ته (په قرآن سره) هغه قوم چې نه دی راغلی دوی ته

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِیْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ.

دمکې په قریشو کي دنبي کریم ﷺ څخه مخکې هیڅ رسول نه وو راغلی:

مطلب دادی چې دمکې په قریشو کي دنبي کریم ﷺ څخه مخکي هیڅ رسول نه وو راغلی: ددې څخه دانه لازمیږي چې دانبیاوو دعوت هم دوی ته لانه وو رارسیدلی ځکه چې دقرآن په نورو ایاتونوکي په واضح طور سره ارشاد دی وان من امة الا خلا فیها نذیر: یعني یو امت او جماعت په دنیا کي داسي نسته په کمو کي چې د الله ﷻ بیروونکي او دهغه طرف ته دعوت کوونکي نه وي راغلي: په دغه آیت کي لفظ دنذیر په خپله عامه لغوي معنی کي دي یعني دالله ﷻ طرف ته دعوت ورکوونکی. هغه برابره خبره ده که رسول وي او که پیغمبر وي یا د هغوی څوک نائب، خلیفه ،یاعالم دین وي: نو ددې آیت څخه معلومیږي چې ټولو امتونواوقومونوته دتوحید دعوت رسیدلي دي هغه پر خپل ځای صحیح او ټیک او د الله ﷻ درحمت عامه مقتضی ده او دتوحید پیغام کیدای سي چې یو بل نائب دنبي راوړی وي ضروري نه ده چې نبي به وي خامخا الخ:
(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص ۱۰۸)

مِّنۡ نَّذِيۡرٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُوۡنَ ۝۳

يَهۡتَدُوۡنَ	لَعَلَّهُمۡ	مِّنۡ قَبۡلِكَ	مِّنۡ نَّذِيۡرٍ
سمه لاره پيدا کړي دوی	دپاره د دی چی	پخوا له تا څخه	هيڅ بيرونکی

هيڅ بيرونکی پخوا له تا څخه (تر اسماعيل پوری) دپاره د دی چی سمه لاره پيدا کړی دوی .

اَللّٰهُ الَّذِىۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا

وَمَا بَيۡنَهُمَا	وَالۡاَرۡضَ	السَّمٰوٰتِ	خَلَقَ	الَّذِىۡ	اَللّٰهُ
او هر هغه چی په مينځ د دغو داوړو کښی دی	او مځکه	آسمانونه	چی پيدا کړی يئ دی	هغه (قادر ذات)	الله

الله هغه (مطلق قادر) دی چی پيدا کړی يئ دی آسمانونه او مځکه او هر هغه چی په مينځ د دغو دواړو کښی دی

فِىۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ‌ؕ

الۡعَرۡشِ	عَلَى	اسۡتَوٰى	ثُمَّ	اَيَّامٍ	فِىۡ سِتَّةِ
عرش باندی	پر	استوا يئ وکړه	بيا	ورځو کښی	په شپږو

په (مقدار د) شپږو ورځو کښی بيا استوا يئ وکړه پر عرش باندی (هم هغسی چی لائقه وه له شانه د الله سره)،

مَا لَـكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا شَفِيۡعٍ‌ ؕ

وَّلَا شَفِيۡعٍ	مِنۡ وَّلِىٍّ	مِّنۡ دُوۡنِهٖ	مَا لَـكُمۡ
او نه شفاعت کوونکی	هيڅ دوست	غير له الله	نسته تاسی لره (ای کفارو)

نسته تاسی لره (ای کفارو) غير له الله هيڅ دوست او نه شفاعت کوونکی (چی عذاب در څخه دفع کړی).

اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ ۝۴ يُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ مِنَ السَّمَآءِ

مِنَ السَّمَآءِ	الۡاَمۡرَ	يُدَبِّرُ	اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ
له آسمانه	د ټولو کارو	تدبير (انتظام) کوی	آيا پس نه اخلئ پند

آيا پس نه اخلئ پند (په دغه وعظ) .تدبير کوی (او نازلوی) امر کار له آسمانه

اِلَى الۡاَرۡضِ ثُمَّ يَعۡرُجُ اِلَيۡهِ فِىۡ يَوۡمٍ

فِىۡ يَوۡمٍ	اِلَيۡهِ	يَعۡرُجُ	ثُمَّ	اِلَى الۡاَرۡضِ
په هغی ورځی کښی	د ده ته	بيرته خيژی هغه کار	بيا	مځکی ته

مځکی ته (تر ورځی د قيامت پوری) بيا بيرته خيژی هغه کار د ده ته په هغی ورځی کښی

اَللّٰهُ الَّذِىۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ.

مځکي او اسمانونه الله ﷻ دشپږوورځو په مقدار کي پيدا کړه : يعني الله هغه ذات دی چي اسمانونه او مځکي او هغه مخلوق کم چي ددواړو په مينځ کي موجود دي دشپږو ورځو په مقدار کي پيدا کړل بيا الله ﷻ پر عرش چي مشابه دی دتخت او سلطنت سره داسي قائم او جلوه فرما سو کم چي دده دشان سره لائق دی هغه داسي عظيم ذات دی چي بغير دده درضا او اذن څخه نه ستاسو څوک مددګار سته او نه سفارش کوونکی البته په اذن سره به شفاعت کيږي او دمدد او کومک سره به اذن متعلق نه وي نو ايا تاسي پوهيږی نه چي داسي ذات څوک شريک نسته او هغه داسي دی چي دآسمان څخه واخله تر مځکي پوري څومره کارونه دي دهر کار تدبير او انتظام کوي بيا هرکار به دهغه حضور ته رسيږي په يوداسي ورځ کي دکم مقدار چي به ستاسي دشمير موافق يوزر کاله وي يعني په قيامت کي به ټول کارونه او ددي متعلقات دهغه په حضور کي پيش کيږي او هغه به فيصله کوي الخ.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص ۱۱۰)

كَانَ مِقْدَارُهٗۤ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ۵

تَعُدُّوْنَ	مِّمَّا	سَنَةٍ	اَلْفَ	مِقْدَارُهٗۤ	كَانَ
چې یئ شمیرئ تاسی	له هغو	کاله	زر	اندازه د هغی (ورځی)	چې ده

چې ده اندازه د هغی (ورځی) زر کاله له هغو (دنیوی وختونو) چې یئ شمیرئ تاسی.

ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ

الْعَزِيْزُ	وَالشَّهَادَةِ	الْغَيْبِ	عٰلِمُ	ذٰلِكَ
ښه غالب قوی دی	او ښکاره	پر هر پټ	عالم دی	هم دی

هم دی (خالق او دامورو مدبر) عالم دی په هر پټ او ښکاره ښه غالب قوی دی (په تقدیر)

الرَّحِيْمُ ۶ الَّذِيْۤ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ

خَلْقَ	وَبَدَاَ	خَلَقَهٗ	كُلَّ شَيْءٍ	اَحْسَنَ	الَّذِيْۤ	الرَّحِيْمُ
پیدا ایښت	او شروع کړی یئ دی	چې پیدا کړی یئ دی هغه	هر شی	چې ښایسته کړی یئ دی	هغه الله	ښه مهربان دی

ښه مهربان دی. هغه الله چې ښایسته کړی یئ دی هر شی چې پیدا کړی یئ دی هغه او شروع کړی یئ دی پیدا ایښت

الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ۷ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ

مِّنْ مَّآءٍ	مِنْ سُلٰلَةٍ	نَسْلَهٗ	جَعَلَ	ثُمَّ	مِنْ طِيْنٍ	الْاِنْسَانِ
له اوبو	له خلاصی	نسل اولاده د ده	یئ پیدا کړ	بیا	له خټې څخه	د انسان

دانسان (یعنی آدم) له خټې څخه بیا یئ پیدا کړ نسل اولاد د ده له خلاصی او نچوړ له اوبو

مَّهِيْنٍ ۸ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ

مِنْ رُّوْحِهٖ	فِيْهِ	وَنَفَخَ	سَوّٰىهُ	ثُمَّ	مَّهِيْنٍ
له روح خپل څخه	په دغه (قالب) کښی	او پو (داخل) یئ کړی	برابر کړی هغه	بیا یئ	ضعیفو حقیرو څخه

ضعیفو حقیرو څخه بیا یئ برابر کړی (قالب د) هغه او پو (داخل) یئ کړی په دغه (قالب) کښی له روح خپل څخه

وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۹

تَشْكُرُوْنَ	قَلِيْلًا مَّا	وَالْاَفْـِٕدَةَ	وَالْاَبْصَارَ	السَّمْعَ	لَكُمُ	وَجَعَلَ
شکر کوئ تاسی!	نو بیخی لږ	او زړونه	او سترګی	غوږونه	تاسی ته	او ویئ ګرځول

او ویی ګرځول (دریئ کړل) تاسی ته غوږونه او سترګی او زړونه خو سره ددغو نعمتونو بیخی لږ شکر کوئ تاسی!

الَّذِيْۤ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ. ددنیا هرشی په خپل ذات کی حسن او ښه دی بدوالی په کښی په غلط استعمال سره راځی: یعنی الله ﷻ هغه ذات دی کوم چې دهرشي خلقت حسین او ښائسته او ښه جوړ کړی دی: وجه داده چې په دې عالم کې چې الله ﷻ څه پیداکړیدي هغه یې دعالم دحکمت او مصلحت په اقتضاء سره جوړکړي دي په دې وجه هر شی دخپل ذات په اعتبار سره یو حسن لري او ددې ټولو څخه زیات حسین او ښه یې انسان جوړ کړی دی لکه چې ارشاد فرمایي. لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم: یعنی موږ انسان دټولو څخه زیات په ښایسته انداز او ښه شکل او صورت کې پیدا کړی دی: او نور مخلوقات برابره خبره ده که هغه په ښکاره کې هر څومره قبیح او بد ګڼل کیږي سپی، خنزیر، مار، لړم، زمری، شرمښ داټول زهر ناک او درنده حیوانات په عامو نظرونو کې بد ګڼل کیږي مګر دمجموعه عالم دمصلحتونو په اعتبار سره په دې کې هیڅ بدوالی نشته: فسبحان الله ما اعظم شانه.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۱۱)

وَقَالُوْٓا ءَاِذَا ضَلَلْنَا فِي الْاَرْضِ ءَاِنَّا لَفِيْ

وَقَالُوْٓا	ءَاِذَا	ضَلَلْنَا	فِي الْاَرْضِ	ءَاِنَّا	لَفِيْ
او وايئ	آيا کله چې	ورک سو موږ	په مځکه کښې	آيا بيشکه! موږ	خامخا په

او وايئ (منکران دبعث) آيا کله چې ورک سو موږ په مځکه کښې (چې خاورې سو) آيا بيشکه! موږ خامخا په

خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۭ بَلْ هُمْ بِلِقَاۗئِ رَبِّهِمْ كٰفِرُوْنَ ۝۱۰ قُلْ

خَلْقٍ	جَدِيْدٍ	بَلْ هُمْ	بِلِقَاۗئِ	رَبِّهِمْ	كٰفِرُوْنَ	قُلْ
پيدايښت	نوی کښنی يو	بلکه دوی	له ملاقات	درب خپل څخه	منکران دی	ووايه (محمده)

پيدايښت نوی کښنی يو؟ بلکه دوی له ملاقات د رب خپل څخه منکران دی (دقيامت په ورځ). ووايه (ای محمده! دوی ته)

يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِيْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ

يَتَوَفّٰىكُمْ	مَّلَكُ	الْمَوْتِ	الَّذِيْ	وُكِّلَ	بِكُمْ	ثُمَّ
قبض کوی ارواح ستاسی	ملائيکه	دمرګ	هغه چې	مقرره سوی ده	په تاسی	بيا به

قبض کوی ارواح ستاسی ملائيکه د مرګ (عزرائيل) هغه چې مقرره سوی ده په تاسی (دپاره دقبض دارواحو) بيا به

اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ۝۱۱ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا

اِلٰى رَبِّكُمْ	تُرْجَعُوْنَ	وَلَوْ تَرٰٓى	اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ	نَاكِسُوْا
رب خپل ته	بيرته بوتلل سئ	او که ووينی ته	کله چې دغه کافران	کښته اچوونکی به وی

رب خپل ته بيرته بوتلل سئ. او که ووينی ته (ای محمده!) کله چې دغه کافران کښته اچوونکی به وی

رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا

رُءُوْسِهِمْ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	رَبَّنَآ	اَبْصَرْنَا	وَسَمِعْنَا
د سرونو خپلو	په نزد	درب خپل	(او وايئ به) ای ربه زموږ	وليده موږ	او واوريده موږ

د سرونو خپلو په نزد د رب خپل (په ورځ د قيامت) (او وايئ به) ای ربه زموږ وليده موږ او واوريده موږ (وعده ستا)

فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ۝۱۲ وَلَوْ شِئْنَا

فَارْجِعْنَا	نَعْمَلْ	صَالِحًا	اِنَّا	مُوْقِنُوْنَ	وَلَوْ	شِئْنَا
پس بيرته بوزه موږ	چې وکړو موږ	ښه عمل	بيشکه! چې موږ	يقين کوونکی يو	او که	اراده کړی وی موږ

پس بيرته بوزه موږ (دنيا ته له پاره ددی) چې وکړو ښه عمل بيشکه! چې موږ يقين کوونکی يو. او که اراده کړی وی موږ

ع ۱

قُلْ يَتَوَفّٰكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِيْ وُكِّلَ.

دټولې دنيا دمرګ انتظام الله ﷻ دعزرائيل عليه السلام په لاس کې ورکړی دی: ددې څخه په مخکې ايت کې دقيامت منکرينو ته خبرداری او ددوی دتعجب جواب وو چې دمړ کيدو او خاورې کيدو څخه وروسته به دوباره څنګه ژوندي سو؟ په دې آيت کې ددې بيان دی چې خپل مرګ ته وګوری او فکر باندې وکړی نو دا په خپله دالله ﷻ دکامل قدرت يو لوی مظهر دی تاسو په خپل غفلت او جهل سره داسې ګڼئ چې دانسان مرګ خود بخوده راځي خبره داسې ده بلکې د الله ﷻ په نزد ستاسو دمرګ يو وخت مقرر دی او ددې دپاره دفرشتو يو خاص نظام دی چې مشر په کښې عزرآئيل عليه السلام دی چې دټولې دنيا مرګ يې ده په انتظام کې ورکړی دی دکم سړي چې څه وخت په کم ځای کې مرګ مقرر وي خاص په هغه وخت روح ور قبض کوي په ذکر سوې آيت کې ددې بيان دی او په دې کې يې ملک الموت په لفظ دمفرد ذکر کړی دی ددې څخه مراد حضرت عزرآئيل عليه السلام دی چې هغه ددې کار امير دی.

(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص ۱۱۶)

لَاٰتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنۡ حَقَّ الۡقَوۡلُ مِنِّيۡ

لَاٰتَيۡنَا	كُلَّ	نَفۡسٍ	هُدٰىهَا	وَلٰكِنۡ	حَقَّ	الۡقَوۡلُ	مِنِّيۡ
نو خامخا ورکړی به ؤ موږ	هر	نفس ته	هدایت دهغه	او لیکن	مقرر سوی ده	دغه وینا (حکم)	له ما څخه

نو خامخا ورکړی به ؤ موږ هر نفس ته هدایت دهغه او لیکن مقرر سوی ده دغه وینا (حکم) له ما

لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۱۳﴾ فَذُوۡقُوۡا

لَاَمۡلَئَنَّ	جَهَنَّمَ	مِنَ الۡجِنَّةِ	وَالنَّاسِ	اَجۡمَعِيۡنَ	فَذُوۡقُوۡا
چې خامخا ډک به کړم هرومرو	دوزخ	له پیریانو	او انسانانو	ټولو څخه	پس وڅکئ تاسی

چې خامخا ډک به کړم هرومرو دوزخ (له کفارو څخه) له پیریانو او انسانانو ټولو څخه. پس وڅکئ تاسی (دا عذاب)

بِمَا نَسِيۡتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيۡنٰكُمۡ وَذُوۡقُوۡا

بِمَا	نَسِيۡتُمۡ	لِقَآءَ	يَوۡمِكُمۡ	هٰذَا	اِنَّا	نَسِيۡنٰكُمۡ	وَذُوۡقُوۡا
په سبب ددی چې	هیر کړی ؤ تاسی	ملاقات	دورځی ستاسی	چې دادی	بیشکه! چې موږ	به هم هیر کړو تاسی	او وڅکی تاسی

په سبب د دی چې هیر کړی ؤ تاسی ملاقات د ورځی ستاسی چې دا دی بیشکه! چې موږ به هم هیر کړو تاسی او وڅکی تاسی

عَذَابَ الۡخُلۡدِ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَا يُؤۡمِنُ

عَذَابَ	الۡخُلۡدِ	بِمَا	كُنۡتُمۡ	تَعۡمَلُوۡنَ	اِنَّمَا	يُؤۡمِنُ
عذاب	دائمی	په سبب دهغه	چې وی تاسی	چې کاوه به مو	بیشکه! هم داخبره ده	چې ایمان راوړی

عذاب دائمی په سبب د هغه (کفر او تکذیب) چې وی تاسی چې کاوه به مو. بیشکه! هم داخبره ده چې ایمان راوړی

بِاٰيٰتِنَا الَّذِيۡنَ اِذَا ذُكِّرُوۡا بِهَا خَرُّوۡا سُجَّدًا

بِاٰيٰتِنَا	الَّذِيۡنَ	اِذَا	ذُكِّرُوۡا	بِهَا	خَرُّوۡا	سُجَّدًا
په آیتونو زموږ	هغه کسان	کله چې	پند ورکړی سی دوی ته	په دغو	نو پریوځی	چې سجده کوونکی وی الله ته

په آیتونو زموږ هغه کسان کله چې پند ورکړی سی دوی ته په دغو (آیتونو) نو پریوځی چې سجده کوونکی وی الله ته

وَّسَبَّحُوۡا بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ ﴿۱۵﴾ السجدة تَتَجَافٰى جُنُوۡبُهُمۡ

وَّسَبَّحُوۡا	بِحَمۡدِ	رَبِّهِمۡ	وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ	تَتَجَافٰى	جُنُوۡبُهُمۡ
او تسبیح وایئ	سره له ثناء	درب خپل	او دوی تکبر لوئی نه کوی	جلا کیږی	اړخونه د دوی

او تسبیح وایئ سره له ثناء د رب خپل او دوی تکبر لوئی نه کوی. لری کیږی ډډی د دوی

السجدة ۹

تَتَجَافٰى جُنُوۡبُهُمۡ عَنِ الۡمَضَاجِعِ يَدۡعُوۡنَ. دتهجد لمونځ دنیکانو خلکو عمل او عادت راغلی دی: په دغه آیت کي یو صفت الله ﷻ دمومنانو داښوولی دی چي ددوی اړخونه دخپلو بسترو څخه جلاوي او دبسترو څخه پورته سوي دالله ﷻ په ذکر او دعا کي مشغوله وي څکه چي داخلک دالله ﷻ دناراضتیا او عذاب څخه بیریږي او دهغه درحمت او ثواب امیدواره وي ددي امید او بیري ګډ وډحالت دوی دذکر اودعا دپاره مضطرب ساتي. **دتهجد لمونځ**: دبسترو څخه دپورته کیدلو او په ذکر کي دمشغوله کیدلو څخه مراد دجمهورو مفسرینو په نزد دتهجد لمونځ او نفلونه مراد دي کم چي دخوب څخه دپورته کیدو وروسته کول کیږي. دحضرت معاذ ابن جبل ﵁ څخه روایت دی چي زه یو وار دنبي کریم ﷺ سره په سفر کي وم یوه ورځ دسفر په دوران کي دسهار په وخت کي دوی ته نژدې سوم نو عرض مي وکی چي یارسول الله ﷺ ماته یو داسي عمل روانبیه کم چي ما جنت ته داخل کړي او دجهنم څخه مي لیري کړي: پاته حدیث پرراروان مخ وګوری.

عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۫ وَّمِمَّا

عَنِ الْمَضَاجِعِ	يَدْعُوْنَ	رَبَّهُمْ	خَوْفًا	وَّطَمَعًا	وَّمِمَّا
له ځايونو دخوب	بولي دوی	رب خپل	له بيرې	او له طمعې	او ځينې له هغو مالونو

له ځايونو دخوب (دپاره د تهجد) بولي دوی رب خپل (پټ له خلګو) له بيرې او له طمعې او ځينې له هغو مالونو

رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ

رَزَقْنٰهُمْ	يُنْفِقُوْنَ	فَلَا تَعْلَمُ	نَفْسٌ	مَّآ	اُخْفِيَ	لَهُمْ
چې ورکړي دي موږ دوی ته	لګوي يې	پس نه دی معلوم	هيڅ نفس ته	هغه شی	چې پټ کړی سوی دی	دوی ته

چې ورکړي دي موږ دوی ته لګوي يې. پس نه دی معلوم هيڅ نفس ته هغه شي چې پټ کړی سوی دی دوی ته

مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾ اَفَمَنْ كَانَ

مِّنْ قُرَّةِ	اَعْيُنٍ	جَزَآءًۢ	بِمَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	اَفَمَنْ	كَانَ
له يخوالی	دسترګو څخه	دپاره دجزاء	دهغه عمل چې وو دوی	چې کاوه به يې	ايا پس هغه څوک	چې وی

له يخوالی د سترګو څخه دپاره د جزاء دهغه عمل چې وو دوی چې کاوه به يې (پټ). آيا پس هغه څوک چې وی

مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾ اَمَّا الَّذِيْنَ

مُؤْمِنًا	كَمَنْ كَانَ	فَاسِقًا	لَا يَسْتَوٗنَ	اَمَّا	الَّذِيْنَ
مؤمن	لکه هغه څوک دی چې وی هغه	فاسق	نه دی برابر (دا دواړه ډلې)	هر څه	هغه کسان چې

مؤمن لکه هغه څوک دی چې وی هغه فاسق نه دی برابری (دا دواړه ډلې). هر څه هغه کسان چې

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۫ نُزُلًا

اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	فَلَهُمْ	جَنّٰتُ	الْمَاْوٰى	نُزُلًا
ايمان يې راوړی دی	او کړي يې دي	ښه (عملونه)	پس سته دوی لره	جنتونه	دهستوګنې	په طريقه دميلمستيا

ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) پس سته دوی لره جنتونه دهستوګنې په طريقه د ميلمستيا

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ

بِمَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَاَمَّا	الَّذِيْنَ	فَسَقُوْا	فَمَاْوٰىهُمُ
په سبب دهغو چې وو دوی	چې کول به يې	او هر څه	هغه کسان	چې فاسقان سوي دي	پس ځای دهستوګنې د دوی

په سبب د هغو عملونو چې وو دوی چې کول به يې. او هر څه هغه کسان چې فاسقان سوي دي پس ځای دهستوګنې د دوی

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ. دتير مخ پاته حديث دلته وګورئ: نبي کريم ﷺ ماته په جواب کي وفرمايل چي ای معاذه تا ديولوی شي سوال وکی مګر چاته چي يي الله ﷻ آسانه کړي هغه ته بيا دا اسانه سي او وي فرمايل چي هغه عمل دادی چي دالله ﷻ عبادت کوه او دهغه سره څوک مه شريکوه او لمونځ قائم کړه او زکوٰة ورکوه او درمضان روژه نيسه او دبيت الله حج کوه او بيا يي وفرمايل چي واخله اوس زه تاته دخير يعني دنيکی دروازې دربنييم هغه دادي چي روژه سپر دی دعذاب څخه ساتنه راولي او صدقه دبنده دګناهونو اور وژني دغه رکم دبنده لمونځ دشپې په مينځ کي او ددې فرمايلو څخه وروسته يي دقرآن مجيد ذکر سوی ايت. تتجافى جنوبهم عن المضاجع. تلاوت کی. حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه او قتاده رحمه الله او ضحاک رحمه الله فرمايي چي اړخ دبسترو څخه دجلا ساتلو داصفت پر هغه خلګو هم صادق دی کم چي دماخوستن لمونځ په جماعت اداء کړي او بيا دسهار دهم په جماعت اداء کړي. (معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص ۱۱۸)

وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ فَلَا تَكُنۡ.

حضرت موسی علیه السلام ته هم الله جل جلاله دنبي کريم صلی الله علیه وسلم په شان کتاب ورکړی وو:

په دغه آيت کي دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی چي موږ موسی علیه السلام ته هم ستاسي په شان کتاب ورکړی وو چي په اشاعت کي يي ده ډير تکليفونه برداشت کړل دغه رکم تاسي ته هم برداشت کول پکار دي يوه تسلي خو داسوه بيا يي دغه رکم تاته هم کتاب درکی پس ته دخپل دغه کتاب په درکولو کي شک مه کوه لکه دغه قول چي دالله جل جلاله دی. وانّک لتلقی القرآن. مطلب دا چي ته صاحب کتاب او صاحب خطاب يي نو کله چي ته دالله جل جلاله په نزد داسي مقبول يي نو که يو څو احمقان تا نه قبلوي نو هيڅ دغم خبره نه ده دابله دتسلی خبره سوه. په دغه آيت کي دچا ملاقات دچاسره مراد دی؟ په دي کي دتفسير ليکونکو اقوال مختلف دي دحضرت ابن عباس رضی الله عنه او قتاده رضی الله عنه څخه يو تفسير ددي داسي نقل دی چي دلقآئه ضمير حضرت موسی علیه السلام ته راجع دی يعني ستا ملاقات به دموسی علیه السلام سره وسی لکه په معراج کي چي وسو (معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۲۲)

النَّارُ ۖ كُلَّمَآ اَرَادُوۡٓا اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا مِنۡهَآ اُعِيۡدُوۡا فِيۡهَا

النَّارُ	كُلَّمَآ	اَرَادُوۡٓا	اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا	مِنۡهَآ	اُعِيۡدُوۡا	فِيۡهَا
اور دی	هرکله چي	اراده وکړی دوی	ددی چي راوځی	له دغه اوره	نو بيرته به غورځول کيږی دوی	په دغه اور کښی

اور (د دوزخ) دی هرکله چي اراده وکړی دوی د دی چي راوځی له دغه اوره نو بيرته به غورځول کيږی دوی په دغه اور کښی

وَقِيۡلَ لَهُمۡ ذُوۡقُوۡا عَذَابَ النَّارِ الَّذِىۡ كُنۡتُمۡ بِهٖ

وَقِيۡلَ	لَهُمۡ	ذُوۡقُوۡا	عَذَابَ	النَّارِ	الَّذِىۡ	كُنۡتُمۡ	بِهٖ
او ويل کيږی به	دوی ته	وڅکئ تاسی	عذاب	داور	هغه عذاب	چي وئ تاسی	چي د هغه به مو

او ويل کيږی به دوی ته وڅکئ تاسی عذاب د اور (د دوزخ) هغه عذاب چي وئ تاسی چي د هغه به مو

تُكَذِّبُوۡنَ ﴿۲۰﴾ وَلَنُذِيۡقَنَّهُمۡ مِّنَ الۡعَذَابِ الۡاَدۡنٰى دُوۡنَ

تُكَذِّبُوۡنَ	وَلَنُذِيۡقَنَّهُمۡ	مِّنَ الۡعَذَابِ	الۡاَدۡنٰى	دُوۡنَ
تکذيب کاوه	او خامخا وبه څکوو موږ هرومرو په دوی باندی	له هغه عذاب	نژدی	کم له

تکذيب کاوه. او خامخا وبه څکوو موږ هرومرو په دوی باندی له هغه عذاب نژدی (په دنيا کښی) لږ له

الۡعَذَابِ الۡاَكۡبَرِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۲۱﴾ وَمَنۡ اَظۡلَمُ

الۡعَذَابِ	الۡاَكۡبَرِ	لَعَلَّهُمۡ	يَرۡجِعُوۡنَ	وَمَنۡ	اَظۡلَمُ
عذاب	لوی څخه	دپاره د دی چي دوی	وګرځی	او څوک دی	ډير ظالم

عذاب لوی څخه (چي د آخرت دی) دپاره د دی چي دوی وګرځی (له کفر څخه اسلام ته) . او څوک دی ډير ظالم

مِمَّنۡ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ثُمَّ اَعۡرَضَ عَنۡهَا ؕ اِنَّا

مِمَّنۡ	ذُكِّرَ	بِاٰيٰتِ	رَبِّهٖ	ثُمَّ	اَعۡرَضَ	عَنۡهَا	اِنَّا
له هغه چاچي	پند ورکړسی	په آيتونو	درب خپل	بيا	مخ وګرځوی	د هغو څخه	بيشکه! چي موږ

له هغه چاچي پند ورکړسی په آيتونو د رب خپل (قرآن) بيا مخ وګرځوی تری (فکر او غور ونه کړی) بيشکه! چي موږ

مِنَ الۡمُجۡرِمِيۡنَ مُنۡتَقِمُوۡنَ ﴿۲۲﴾ ع وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ

مِنَ الۡمُجۡرِمِيۡنَ	مُنۡتَقِمُوۡنَ	وَلَقَدۡ	اٰتَيۡنَا	مُوۡسَى	الۡكِتٰبَ
له دغو مجرمانو څخه	انتقام اخيستونکی يو	او خامخا په تحقيق	ورکړی وو موږ	موسٰی ته	کتاب (تورات)

له دغو مجرمانو څخه انتقام اخيستونکی يو . او خامخا په تحقيق ورکړی وو موږ موسٰی ته کتاب (تورات)

ع۲ ۱۵

فَلَا تَكُنۡ فِيۡ مِرۡيَةٍ مِّنۡ لِّقَآئِهٖ وَ جَعَلۡنٰهُ هُدًى

فَلَا تَكُنۡ	فِيۡ مِرۡيَةٍ	مِّنۡ لِّقَآئِهٖ	وَ جَعَلۡنٰهُ	هُدًى
پس مه کیږه ته	په شک کښې	له ملاقاته د ده	او ګرځولې وو موږ تورات	هدايت

پس مه کیږه ته! په شک کښې له ملاقاته د دغه (موسیٰ) او ګرځولې وو موږ تورات یا موسیٰ هدايت

لِّبَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ ﴿۲۳﴾ وَ جَعَلۡنَا مِنۡهُمۡ اَئِمَّةً يَّهۡدُوۡنَ بِاَمۡرِنَا لَمَّا

لِّبَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ	وَ جَعَلۡنَا	مِنۡهُمۡ	اَئِمَّةً	يَّهۡدُوۡنَ	بِاَمۡرِنَا	لَمَّا
دپاره د بنی اسرائیلو	او ګرځولي ؤ موږ	ځینې له دوی څخه	امامان	چې لاره به یې ښووله	په حکم زموږ	کله چې

دپاره دبني اسرائیلو .او ګرځولي ؤ موږ ځینې له دوی څخه امامان چې لاره به یې ښووله (خلګو ته) په حکم زموږ کله چې

صَبَرُوۡا ؕ وَ كَانُوۡا بِاٰيٰتِنَا يُوۡقِنُوۡنَ ﴿۲۴﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ

صَبَرُوۡا	وَ كَانُوۡا	بِاٰيٰتِنَا	يُوۡقِنُوۡنَ	اِنَّ	رَبَّكَ	هُوَ
صبر وکړ دوی	او وو دوی	چې په آیتونو زموږ	یقین به یې کاوه	بیشکه!	رب ستاسی	هم دی به

صبر وکړ دوی (په دین خپل)، او وو دوی چې په آیتونو زموږ یقین به یې کاوه. او بیشکه! رب ستا هم دی به

يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا كَانُوۡا فِيۡهِ يَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۲۵﴾

يَفۡصِلُ	بَيۡنَهُمۡ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	فِيۡمَا كَانُوۡا	فِيۡهِ	يَخۡتَلِفُوۡنَ
فیصله کوی	په مینځ د دوی کښې	په ورځ	د قیامت کښې	په هغه شی کښې چې وو دوی	په دغه شی کښې	اختلاف به یې کاوه

فیصله،حکم کوی په مینځ د دوی کښې په ورځ د قیامت کښې په هغه شی کښې چې وو دوی په دغه شی کښې اختلاف به یې کاوه.

اَوَ لَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ اَهۡلَكۡنَا مِنۡ قَبۡلِهِمۡ مِّنَ الۡقُرُوۡنِ

اَوَ لَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ	كَمۡ اَهۡلَكۡنَا	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	مِّنَ الۡقُرُوۡنِ
آیا نه ده ښوولې دوی ته	چې څومره هلاک کړی دی موږ	پخوا له دوی څخه	له اهل د زمانو

آیا (لاره د عبرت) نه ده ښوولې دغو (مکیانو) ته (دی خبری) چې څومره هلاک کړی دی موږ پخوا له دوی څخه له اهل د زمانو

يَمۡشُوۡنَ فِيۡ مَسٰكِنِهِمۡ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ ؕ

يَمۡشُوۡنَ	فِيۡ مَسٰكِنِهِمۡ	اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ
چې تل تیریږی دوی	په کورونو د دوی	بیشکه!	په دغه (هلاکولو) کښې	خامخا لوی دلائل د قدرت دی

چې تل تیریږی (دغه کفار) په (ورانو) کورونو د دوی ، بیشکه! په دغه (هلاکولو) کښې خامخا لوی دلائل دقدرت دی

وَجَعَلۡنَا مِنۡهُمۡ اَئِمَّةً يَّهۡدُوۡنَ بِاَمۡرِنَا لَمَّا. دیو قوم دامام او مقتداء دجوړیدو دپاره دوه شرطونه: وجعلنا منهم ائمة يهدون بأمرنا لما صبروا وكانوا باياتنا يوقنون: يعني موږ د بني اسرآئیلو څخه ځیني خلګ دخلګو امامان او پیشوایان او مقتداء جوړ کړل کمو چي دخپلو پیغمبرانو دنائب کیدو په حیثیت خلګو ته په حکم درب هدایت کوی او چي دوی صبر وکی او چي زموږ په ایاتونو باندي یي یقین وکی: په دې آیت کي یي دبنی اسرآئیلو ځیني عالمانو ته دامامت او پیشوایي درجه ورکولو دوه سببونه فرمایلي دي. اول صبر کول. دوهم دالله ﷻ په ایاتونو باندي یقین کول. دصبر مطلب دعربي ژبي په اعتبار سره ډیر وسیع او عام دی ددې لفظي معنی تړل او ثابت قدمه پاته کیدل دي: دلته دصبر څخه مراد دالله ﷻ په احکامو باندي پایبنده او ثابت قدمه پاته کیدل او کم شیان چي الله ﷻ حرام کړي دي یا یي مکروه مقرر کړي دي دهغو څخه خپل نفس منع کول دي چي په دي کي دشریعت دټولو احکامو پابندي راځي: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

اَفَلَا يَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۶﴾ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّا نَسُوۡقُ الۡمَآءَ اِلَى

اَفَلَا يَسۡمَعُوۡنَ	اَوَلَمۡ يَرَوۡا	اَنَّا	نَسُوۡقُ	الۡمَآءَ	اِلَى
آیا پس نه اوری دوی	آیا نه وینی دوی	چی بیشکه! مونږ	روانه وو	(ویالی د) اوبو	طرف

آیا پس نه اوری دوی (دعبرت په غوږونو). آیا نه وینی دوی چی بیشکه! مونږ به روانه وو (ویالی د) اوبو طرف

الۡاَرۡضِ الۡجُرُزِ فَنُخۡرِجُ بِهٖ زَرۡعًا تَاۡكُلُ مِنۡهُ اَنۡعَامُهُمۡ

الۡاَرۡضِ	الۡجُرُزِ	فَنُخۡرِجُ	بِهٖ	زَرۡعًا	تَاۡكُلُ	مِنۡهُ	اَنۡعَامُهُمۡ
دمځکی	وچی ته	پس راوباسو مونږ	په هغو سره	کښت	چی خوری	له دغه کښته	چارپایان د دوی

دمځکی وچی ته (چی گیا پکښی نه وی) پس راوباسو مونږ په هغو سره کښت چی خوری له دغه کښته چارپایان د دوی

وَاَنۡفُسُهُمۡ ؕ اَفَلَا يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۲۷﴾ وَيَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هٰذَا

وَاَنۡفُسُهُمۡ	اَفَلَا يُبۡصِرُوۡنَ	وَيَقُوۡلُوۡنَ	مَتٰى	هٰذَا
او نفسونه د دوی	آیا پس نه وینی دوی	او وایئ (کفار)	کله به وی	دغه

او نفسونه د دوی (دانه او میوه) آیا پس نه وینی دوی (نښی د قدرت د ده). او وایئ (کفار) کله به وی دغه

الۡفَتۡحُ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۸﴾ قُلۡ يَوۡمَ الۡفَتۡحِ لَا يَنۡفَعُ

الۡفَتۡحُ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	صٰدِقِيۡنَ	قُلۡ	يَوۡمَ	الۡفَتۡحِ	لَا يَنۡفَعُ
فتح	که چیری یئ تاسی	رښتینی	ووایه	چی په ورځ	د فتح (قیامت) کښی	هیڅ نفع به ونه رسوی

فتح (فیصله) که چیری یئ تاسی رښتینی. ووایه (ای محمده!) چی په ورځ دفتح (قیامت) کښی هیڅ نفع به ونه رسوی

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اِيۡمَانُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنۡظَرُوۡنَ ﴿۲۹﴾

الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡۤا	اِيۡمَانُهُمۡ	وَلَا هُمۡ	يُنۡظَرُوۡنَ
هغه کسانو ته	چی کافران سوی دی	ایمان راوړل د دوی	او نه به دوی ته	مهلت ورکړل سی

هغو کسانو ته چی کافران سوی دی ایمان راوړل د دوی او نه به دوی ته مهلت ورکړل سی او نه به دوی ته انتظار وکړ سی.

فَاَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَانۡتَظِرۡ اِنَّهُمۡ مُّنۡتَظِرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ ع

فَاَعۡرِضۡ	عَنۡهُمۡ	وَانۡتَظِرۡ	اِنَّهُمۡ	مُّنۡتَظِرُوۡنَ
پس مخ وګرځوه!	له دوی څخه	او منتظر اوسه	بیشکه! دوی هم	منتظر دی

پس مخ وګرځوه! له دوی څخه او منتظر اوسه (دالله نصرت ته) بیشکه! دوی هم منتظر دی (دغلبی پر تا).

اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّا نَسُوۡقُ الۡمَآءَ اِلَى الۡاَرۡضِ دتیر مخ پاته بیـان دلتـه وکـوری: او داډیر لوی علمي کمال دی دوهم سبب ددوی دالله ﷻ پرایـاتونو بانـدي یقـین سـاتل دي پـه دي کـي دایـاتونو مطلـب پیژنـدل بیـا دپوهیـدو څخـه وروسته باندي یقین کول دواړه په کښي داخل دي. لنـډه داچـي دامامـت او پیشوایي لائق دالله ﷻ په نزد صرف هغه خلگ دي کم چي په عمل کي هم کامل وي او په علم کي هم او دلتـه یـي عملـي کمـال دعلمي کمال څخه مخکي بیـان کـړی دی چـي پـه ترتیـب طبعـي کـي علـم دعمل څخه مخکي وي په دي کي اشاره دي طرف ته ده چـي دالله ﷻ پـه نـزد هغـه علـم قابـل داعتبـار دسره نه دی دکم سره چي عمـل نـه وي. ابـن کثیـر رحمة الله علیه دځینو علماوو قول ددي آیت پـه تفسیر کـي نقـل کـړی دی چـي. بالصـبرواليقين تنـال الامامـة فی الـدين. یعني دصبر او یقین په ذریعه په دیـن کـي چاتـه دامامـت درجه ورکول کیدای سي: اوپه دي کي هغه علماوو تـه هـم تسـلي ده چـي دحقیقت دبیان څخه خلگ ورسره دښمني کوي فافهم هــذه النكتــة اللطيفــة
معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۲۳)

الثلثة
۳/ع۲

اياتونه ۷۳ — ۳۳ سُوْرَةُ الْاَحْزَابِ مَدَنِيَّةٌ ۹۰ — رکوعي ۹

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الۡكٰفِرِيۡنَ وَالۡمُنٰفِقِيۡنَ

يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	اتَّقِ	اللّٰهَ	وَلَا تُطِعِ	الۡكٰفِرِيۡنَ	وَالۡمُنٰفِقِيۡنَ
ای	نبی	وبیریږه	له الله څخه	او مه منه (حکم)	دکافرانو	او (نه) د منافقانو

ای نبی (محمده!) وبیریږه (تل) له الله څخه او مه منه (حکم) د کافرانو او (نه) دمنافقانو

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ۝۱ وَّاتَّبِعۡ مَا يُوۡحٰۤى اِلَيۡكَ

اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَلِيۡمًا	حَكِيۡمًا	وَّاتَّبِعۡ	مَا يُوۡحٰۤى	اِلَيۡكَ
بیشکه!	الله	دی	ښه عالم پر هر شی	ښه حکمت والا	او متابعت کوه!	دهغه چی درلیږل کیږی	تاته

بیشکه! چی الله دی ښه عالم پر هر شی ښه حکمت والا. او متابعت کوه! (ای محمده!) دهغه (حکم) چی درلیږل کیږی تاته

مِنۡ رَّبِّكَ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرًا ۝۲ وَّتَوَكَّلۡ

مِنۡ رَّبِّكَ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	خَبِيۡرًا	وَّتَوَكَّلۡ
له جانبه درب ستا	بیشکه! چی	الله	دی	پر هغو کارونو	چی کوئ یئ تاسی	ښه خبردار	او توکل وکړه

له جانبه د رب ستا بیشکه! چی الله دی پرهغو کارونو چی کوئ یئ تاسی ښه خبردار. او توکل وکړه

عَلَى اللّٰهِ‌ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيۡلًا ۝۳ مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ

عَلَى اللّٰهِ	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ	وَكِيۡلًا	مَا جَعَلَ	اللّٰهُ	لِرَجُلٍ
پر الله	او کافی، بس دی	الله	کارجوړوونکی	نه دی پیداکړی	الله	لپاره دهیڅ سړی

پر الله او کافی بس دی الله کار جوړوونکی (ستا). نه دی پیدا کړی الله لپاره د هیڅ سړی

مِّنۡ قَلۡبَيۡنِ فِىۡ جَوۡفِهٖ‌ۚ وَمَا جَعَلَ اَزۡوَاجَكُمُ الّٰٓـىِٕۡ تُظٰهِرُوۡنَ

مِّنۡ قَلۡبَيۡنِ	فِىۡ جَوۡفِهٖ	وَمَا جَعَلَ	اَزۡوَاجَكُمُ	الّٰٓـىِٕۡ	تُظٰهِرُوۡنَ
دوه زړونه	په سینه د ده کښی	او نه دی ګرځولی	ښځی ستاسی	هغه چی	ظهار کوئ تاسی

دوه زړونه په دننه د ده کښی او نه دی ګرځولی (الله) ښځی ستاسی هغه چی ظهار کوئ تاسی

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الۡكٰفِرِيۡنَ. شان نزول:
ددې سورت دنزول په سبب کي څوروايتونه نقل دي: يوداچي نبي کريم ﷺ کله هجرت وکی مدينې منورې ته يي تشريف يووړی نو دمدينې خوا اوشا ته بنوقريظه او بنو نضير، بنو قينقاع وغيره اباد وه درحمة اللعلمين خواهش او کوشش داوو چي چي په يو ډول سره داخلګ مسلمانان سي اتفاقا په دې يهودوکي يو څو کسان ددوی خواته راتلل شروع سول او په منافقانه طور يي ځان ته مسلمانان ويل شروع کړل خوپه زړونوکي ايمان نه وو نبي کريم ﷺ داغنيمت وګڼی چي ځيني خلګ مسلمانان سي نو نورو ته به دعوت ورکول آسانه سي په دې وجه به دوی ددې کسانو سره خاص دار او مدار کوی او ددوی دلويو او کوچنيانو په راتلو به يي ددوی ډير اکرام کوی او که څه بده خبره به ددوی څخه صادره سوه نو ددينې مصلحت په وجه يي دهغه څخه چشم پوشي فرمايله دسورت احزاب پر دې واقعه اولني اياتونه نازل سول. داپه تفسير قرطبي کي نقل سوي دي.
(معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۲۶)

مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ

مِنْهُنَّ	اُمَّهٰتِكُمْ	وَمَا جَعَلَ	اَدْعِيَآءَكُمْ
له هغو ښځه	میندی ستاسی	اونه دی گرځولی (الله)	هغه په زامنو بلل سوی ستاسی

له هغو ښځه میندی ستاسی او نه دی گرځولی (الله) هغه په زامنو بلل سوی ستاسی (واقعی)

اَبْنَآءَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ

اَبْنَآءَكُمْ	ذٰلِكُمْ	قَوْلُكُمْ	بِاَفْوَاهِكُمْ	وَاللّٰهُ	يَقُوْلُ
زامن ستاسی	دغه	خبری ستاسی دی	په خولو ستاسی	او الله	وایئ

زامن ستاسی دغه (دری مذکوره خبری بیکاره) خبری ستاسی دی په خولو ستاسی (چی هیڅ حقیقت نه لری) او الله وایئ

الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ ۝٤ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ

الْحَقَّ	وَهُوَ	يَهْدِي	السَّبِيْلَ	اُدْعُوْهُمْ	لِاٰبَآئِهِمْ	هُوَ
حقه خبره	او هم دغه	الله ښیی	لاره	وبولئ تاسی دغه (ادعیاء)	پلرونو د دوی ته	دغه

حقه (ربښتیا خبره) او هم دغه الله ښیی لاره (سمه صافه حقه). وبولئ تاسی دغه (ادعیاء) پلرونو د دوی ته دغه

اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ

اَقْسَطُ	عِنْدَ اللّٰهِ	فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا	اٰبَآءَهُمْ	فَاِخْوَانُكُمْ
ډیر برابر دی	په نزد د الله	پس که نه پیژنئ تاسی	پلرونه د دوی	پس دوی ورونه ستاسی دی

ډیر برابر (او غوره) دی په نزد د الله ، پس که نه پیژنئ تاسی (ای مؤمنانو) پلرونه د دوی پس دوی ورونه ستاسی دی

فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ؕ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيْمَآ

فِي الدِّيْنِ	وَمَوَالِيْكُمْ	وَلَيْسَ	عَلَيْكُمْ	جُنَاحٌ	فِيْمَآ
په دین کښی	او دوستان ستاسی دی	او نسته	پر تاسی	(هیڅ) گناه	په هغه شی کښی

په دین کښی او دوستان ستاسی دی (په دین کښی) او نسته پر تاسی (هیڅ) گناه په هغه شی کښی

اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

اَخْطَاْتُمْ	بِهٖ	وَلٰكِنْ	مَّا تَعَمَّدَتْ	قُلُوْبُكُمْ	وَكَانَ	اللّٰهُ
چی خطا سوی یئ تاسی	پکښی	او لیکن سته (گناه)	په هغه کښی چی قصد یئ وکړی	زړونه ستاسی	او دی	الله

چی خطا سوی یئ تاسی پکښی او لیکن سته گناه په هغه کښی چی قصد یئ وکړی زړونه ستاسی او دی الله

وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ..دجاهلیت دزماني دباطلو رسمونو اورواجونو تردید : د جاهلیت دزماني په باطلو او بیکاره رسمونو او رواجونو کي یو رسم داوو چي یو سړي به دبل زوی خپل متبنی.دخولې ویلی زوی: جوړوی او چاچي به داسي زوی جوړ کی نو هغه هلک به بیا دده په زوی مشهور وو او دده زوی به یي ورته وایه او ددوی په نزد به دادخلې ویلی زوی په ټولو احکامو کي داصل زوی په شان منل کیدی. مثلا په میراث کي به هم دی دخپل اولاد په شان شریک وو او په نسبي قرابت سره چي دکمو ښځو سره نکاح حرامه وي دادخولې ویلی زوی به هم په قرابت کي داسي مقرر کیدی مثلا لکه دخپل زوی ښځه دطلاق څخه وروسته وپلار ته نارواه او حرامه ده دغه رکم به دوی ددې خولې بللي زوی ښځه هم نارواه او حرامه بلله دغه دځانه څخه ایجاد کرده رسم الله ﷻ ددغه آیت په دغه حصه کي باطل او بې ځایه وگرځوی او دایي وفرمایل چي دادخولي بللي زامن دحقیقي زوی په شان نه دي په احکامو کي الخ.
(معارف القرآن ج۷پ۲۱ص۱۳۱)

غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ۞ اَلنَّبِىُّ اَوۡلٰى بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ مِنۡ اَنۡفُسِهِمۡ

غَفُوۡرًا	رَّحِيۡمًا	اَلنَّبِىُّ	اَوۡلٰى	بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ	مِنۡ اَنۡفُسِهِمۡ
ښه بخښونکی	ډیر رحم لرونکی	نبی	ډیر زیات حق لرې	پر مؤمنانو باندې	له نفسونو د دوی

ښه بخښونکی د (خطیاتو) ډیر رحم لرونکی. (محمد د الله) نبی ډیر وړ (لائق) دی له مؤمنانو سره له نفسونو د دوی

وَاَزۡوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمۡ‌ ؕ وَاُولُوا الۡاَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلٰى

وَاَزۡوَاجُهٗۤ	اُمَّهٰتُهُمۡ	وَاُولُوا	الۡاَرۡحَامِ	بَعۡضُهُمۡ	اَوۡلٰى
او ښځې د دوی	میندې د دوی دی	او خاوندان	دخپلوی	ځینې د دوی	ډیر نژدې دی

او ښځې د دغه (نبی الله) میندې د دوی دی (تعظیماً او تحریماً) او خاوندان دخپلوی ځینې د دوی ډیر وړ (لائق) دی

بِبَعۡضٍ فِىۡ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُهٰجِرِيۡنَ اِلَّاۤ

بِبَعۡضٍ	فِىۡ كِتٰبِ	اللّٰهِ	مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَالۡمُهٰجِرِيۡنَ	اِلَّاۤ
له ځینو نورو	په کتاب	د الله کښې	له مؤمنانو	او له مهاجرینو	مګر

پر ځینو نورو (په میراث کښې) په کتاب (حکم) د الله کښې له مؤمنانو (انصارو) او له مهاجرینو مګر

اَنۡ تَفۡعَلُوۡۤا اِلٰٓى اَوۡلِيٰٓئِكُمۡ مَّعۡرُوۡفًا‌ ؕ كَانَ ذٰلِكَ

اَنۡ تَفۡعَلُوۡۤا	اِلٰٓى اَوۡلِيٰٓئِكُمۡ	مَّعۡرُوۡفًا	كَانَ	ذٰلِكَ
داچې وکړئ	له دوستانو خپلو سره	احسان	دی	دغه

خو داچې وکړئ (پخپل ژوند کښې) له دوستانو خپلو سره څه احسان دی دغه (میراث په ایمان او په هجرت)

فِى الۡكِتٰبِ مَسۡطُوۡرًا ۞ وَاِذۡ اَخَذۡنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ

فِى الۡكِتٰبِ	مَسۡطُوۡرًا	وَاِذۡ	اَخَذۡنَا	مِنَ النَّبِيّٖنَ
په کتاب کښې	لیکلی سوی	او یاد کړه کله چې	واخیست موږ	له (ټولو) انبیاؤ څخه

په کتاب (قرآن یا لوح محفوظ) کښې لیکلی سوی. او یاد کړه (ای محمده!) کله چې واخیست موږ له (ټولو) انبیاؤ څخه

مِيۡثَاقَهُمۡ وَمِنۡكَ وَمِنۡ نُّوۡحٍ وَّاِبۡرٰهِيۡمَ وَمُوۡسٰى

مِيۡثَاقَهُمۡ	وَمِنۡكَ	وَمِنۡ	نُّوۡحٍ	وَّاِبۡرٰهِيۡمَ	وَمُوۡسٰى
وعده د دوی	او له تا څخه	او له	نوح	او (له) ابراهیم څخه	او (له) موسٰی څخه

عهد د دوی او (بالخاصه) له تا څخه او له نوح او (له) ابراهیم او (له) موسٰی

اَلنَّبِىُّ اَوۡلٰى بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ مِنۡ اَنۡفُسِهِمۡ.. دنبي کريم ﷺ تعظيم او احترام پر امت بانـدي فـرض عـين دی: په سورت احزاب کي اکثره مضامين دنبي کريم ﷺ دتعظيم او دوی ته دآزار رسولو دحراموالي متعلق دي. دسورت په شروع کي الله جل جلاله د مشرکينو او منافقينو دآزارونو ذکر وکی او نبي کريم ﷺ ته يي هدايت کړی وو: په دغه ذکر سوي آيت کي ددوی د تعظيم او اطاعت دټول مخلوق څخه زيات واجبوالی بيان سوی دی. ددې خلاصه داده چي دنبي کريم ﷺ هر حکم دهر مسلمان دپاره دخپل مور او پلار دحکم څخه هم زيات واجب العمل دی که مور او پلار ددوی دحکم څخه خلاف څه ووايي نو وينا منل يي جائز نه دي دغه رکم دخپل نفس پر ټولوخواهشاتو هم ددوی حکم مخکي کول دي. په يو حديث شريف کي دنبي کريم ﷺ ارشاد دی چي يو مومن داسي نسته دکم دپاره چي زه په دنيا او آخرت کي دټولو انسانانو څخه اولی او اقرب نه يم که ستاسو زړه غواړي نو ددې تصديق دپاره دقرآن دا آيت ووايا ست.

معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۳۴

وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۖ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيثَاقًا غَلِيظًا ⑦

وَعِيسَى	ابْنِ	مَرْيَمَ	وَاَخَذْنَا	مِنْهُمْ	مِّيثَاقًا	غَلِيظًا
او (له) عیسىٰ	زوی	دمریمی څخه	او واخیستمونږ	له دغو (ټولوانبیاؤ) څخه	وعده	محکمه

او (له) عیسىٰ زوی دمریمی څخه (چي عبادت د الله کوئ) او واخیست مونږ له دغو (ټولو انبیاؤ) څخه عهد محکم.

لِّيَسْئَلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ

لِّيَسْئَلَ	الصّٰدِقِيْنَ	عَنْ	صِدْقِهِمْ	وَاَعَدَّ	لِلْكٰفِرِيْنَ
دپاره ددی چي وپوښتي	له صادقانو څخه	له	رښتيا د دوی	او (الله) تيار کړی دی	دپاره د کافرانو

دپاره ددی چي وپوښتي (الله) له صادقانو څخه له صدق (رښتيا) د دوی او (الله) تيار کړی دی دپاره د کافرانو

ع ۱ ۸ ۱۷ عَذَابًا اَلِيْمًا ⑧ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

عَذَابًا	اَلِيْمًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اذْكُرُوْا	نِعْمَةَ	اللّٰهِ
عذاب	دردناک	ای	هغو کسانو	چي ايمان يئ راوړی دی	ياد کړئ تاسي	نعمت	دالله

عذاب دردناک. ای هغو کسانو چي ايمان يئ راوړی دی ياد کړئ تاسي نعمت دالله

عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا

عَلَيْكُمْ	اِذْ جَآءَتْكُمْ	جُنُوْدٌ	فَاَرْسَلْنَا	عَلَيْهِمْ	رِيْحًا
پر تاسي	کله چي راغلی تاسي ته	لښکری (دکفارو)	پس راوليږل مونږ	پر دوی	باد

پر تاسي کله چي په (غزوه داحزاب کښی) راغلی تاسي ته لښکری (دکفارو) امر يعنی راوليږل مونږ پر دوی باد

وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ⑨

وَّجُنُوْدًا	لَّمْ تَرَوْهَا	وَكَانَ	اللّٰهُ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	بَصِيْرًا
او داسي فوځونه	چي نه دی ليدلی تاسي دوی	او دی	الله	پر هغو	چي کوئ يئ تاسي	ښه ليدونکی

او داسي فوځونه (دملائيکو) چي (هيڅ) نه ليدلی تاسي دوی او دی الله پر هغو (کارونو) چي کوئ يئ تاسي ښه ليدونکی.

اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ

اِذْ جَآءُوْ	كُمْ	مِّنْ	فَوْقِكُمْ	وَمِنْ	اَسْفَلَ	مِنْكُمْ	وَاِذْ
کله چي راغللی (لښکری دکفارو)	تاسي ته	له	پاسه ستاسي	او له	کښته	ستاسي	او کله چي

(ياد کړی) کله چي راغللی (لښکری دکفارو) تاسي ته له پاسه (جانبه) ستاسي او له کښته (جانبه) ستاسي ، او کله چي

وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيثَاقًا غَلِيظًا... دانبياوو عليهم السلام څخه دوعدې او اقرار اخيستلو ذکر: په ذکر سوي ايت کي چي کم دانبياء عليهم السلام څخه دوعدې او اقرار اخيستو ذکر دی دادهغه عام اقرار څخه علاوه دی کم چي دټول مخلوق څخه اخيستل سوی دی: دا عهد دانبياء عليهم السلام څخه دنبوت او درسالت دفرضواداء کولو او ديوبل دتصديق او مددکولو وعده وه لکه چي په يو روايت کي دي: په يوه روايت کي دانبياوو عليهم السلام په دې وعده کي داهم شامله وه چي داټول به ددې هم اعلان کوي چي محمد رسول الله لانبی بعده. يعني محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دالله جل جلاله رسول دی او خاتم النبيين دی ددې څخه وروسته به هيڅ يونبي نه وي. او دادانبياوو ميثاق هم په ازل کي هغه وخت واخيستل سو کله چي دعام مخلوق څخه د الستُ بربکم. عهد اخيستل سوی وو. دعامو انبياوو عليهم السلام دذکر کولو څخه وروسته يي په دوی کي دپنځو انبياوو خصوصي ذکر ددوی ددې خاص امتياز اوشرافت پربناوکی کم چي دوی ته په ټولی دانبياوو کي حاصل دی.
معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۳۷

زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّوْنَ

زَاغَتِ	الْاَبْصَارُ	وَبَلَغَتِ	الْقُلُوْبُ	الْحَنَاجِرَ	وَتَظُنُّوْنَ
کږې، خړې سوې	سترګې	او ورسیدل	زړونه	حلق او کرغنکو ته	او ګمانونه وکړل تاسي

کږې خړې سوې سترګې (د خوفه) او ورسیدل زړونه چنغړ کو (بیخونو دمریو) ته (له ډیره خوفه) او ګمانونه وکړل تاسو

بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ⑩ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا

بِاللّٰهِ	الظُّنُوْنَا	هُنَالِكَ	ابْتُلِيَ	الْمُؤْمِنُوْنَ	وَزُلْزِلُوْا
پر الله	راز راز ګمانونه	په دغه وخت کښې	و ازمویلي سول	مؤمنان	او وښورول سول

پر الله راز راز ګمانونه. په دغه وخت کښې وازمویلي سول مؤمنان (له منافقانو څخه) او وخوځولي سول

زِلْزَالًا شَدِيْدًا ⑪ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ

زِلْزَالًا	شَدِيْدًا	وَاِذْ	يَقُوْلُ	الْمُنٰفِقُوْنَ	وَالَّذِيْنَ
په ښورولو	سختو سره	او کله چي	وویل	منافقانو	او (وویل) هغو کسانو

په خوځولو سختو سره (له ډېرې بیرې). او (یاد کړه هغه وخت) کله چي وویل منافقانو او (وویل) هغو کسانو

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اِلَّا غُرُوْرًا ⑫

فِيْ قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ	مَّا وَعَدَنَا	اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗۤ	اِلَّا	غُرُوْرًا
چي په زړونو د دوی کښې	مرض و	چي نه ده وعده کړې له موږ سره	الله	او رسول د دغه (الله)	مګر	په فریب تیر ایستلو سره

چي په زړونو د دوی کښې مرض و چي نه ده وعده کړې له موږ سره الله او رسول د دغه (الله) مګر په غرور تیر ایستلو سره

وَاِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يٰۤاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ

وَاِذْ قَالَتْ	طَّآئِفَةٌ	مِّنْهُمْ	يٰۤاَهْلَ	يَثْرِبَ	لَا مُقَامَ	لَكُمْ
او کله چي وویل	یوې طائفې	له دوی (منافقانو)	چي ای اهل	د یثربه	نسته ځای (د هستوګنې)	تاسي ته

او کله چي وویل یوې طائفې له دغو (منافقانو) چي ای اهل د یثربه (مدینې) نسته ځای (د هستوګنې) تاسي ته

فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ

فَارْجِعُوْا	وَيَسْتَاْذِنُ	فَرِيْقٌ	مِّنْهُمُ	النَّبِيَّ	يَقُوْلُوْنَ	اِنَّ
پس بیرته وګرځئ	او اجازه غواړي	یو فریق ډله	له دوی	له نبي	وایئ چي	بیشکه!

پس بیرته وګرځئ او اذن (د بیرته تللو) غواړي یو فریق ډله له دوی له نبي وایئ (بنو حارثه او بنو سلمه) چي بیشکه!

زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ..

داحزاب دغزاء واقعه په تیرو ایاتونو کي دنبي کریم ﷺ دلوی شان او مسلمانانوته ددوی د مکمل تابعداری او اطاعت هدایت وو : ددې په مناسبت سره داپوره دوې رکوعي دقرآن کریم داحزاب دغزاء متعلق نازلي سوي دي په دي کي دکفارو او مشرکینو دډیرو ډلو پر مسلمانانو په یووار دحملې او دسختي پریشانی څخه وروسته پر مسلمانانو دالله ﷻ د انعاماتو او دنبي کریم ﷺ دډیرو معجزو ذکر دی او په دې ضمن کي دژوند دمختلفو اړخونو سره متعلق ډیر هدایتونه او احکام دي :ددې بیش بها هدایتونو په وجه سره مشرانو مفسرینو دلته واقعه داحزاب په خاص تفصیل سره لیکلې ده : نو په دې وجه دغه قصه داحزاب په څه تفصیل سره ددغو هدایتونو لیکل کیږي چي اکثره حصه یي دتفسیر قرطبي او مظهري څخه رااخیستل سویده :

احزاب جمع دحزب ده معنی یي ده پارټی یا جماعت :په دې غزا کي دکفارو مختلف جماعتونه جمع سوي وه.

داحزاب دغزا پاته قصه پر راروان مخ وګوری

بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا ۱۳

بُيُوْتَنَا	عَوْرَةٌ	وَمَا هِيَ	بِعَوْرَةٍ	اِنْ يُّرِيْدُوْنَ	اِلَّا	فِرَارًا
كورونه زموږ	تش پراته دي	حال داچې نه دي	تش پراته كورونه د دوی	نه لري اراده دوی	مگر	د تيښتې

كورونه زموږ تش پراته دي (له سړيو) حال داچې نه دي تش پراته كورونه د دوی نه لري اراده دوی مگر د تيښتې (له جنگه).

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ

وَلَوْ دُخِلَتْ	عَلَيْهِمْ	مِّنْ اَقْطَارِهَا	ثُمَّ	سُئِلُوا	الْفِتْنَةَ
او كه را داخل سی	پر دوی	له اطرافو د دغې (مدينې)	بيا	طلب وكړل سی ځينې	د فتنې

او كه راننه ايستی سی پر دوی (دغه كفار) له اطرافو د دغې (مدينې) بيا طلب وكړسی تری فتنه

لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَآ اِلَّا يَسِيْرًا ۱۴ وَلَقَدْ

لَاٰتَوْهَا	وَمَا تَلَبَّثُوْا	بِهَآ	اِلَّا	يَسِيْرًا	وَلَقَدْ
نو خامخا رابه سی دوی هغی ته	او درنگ به و نه كړی	په دغی كښې	مگر	لږ	او خامخا په تحقيق

نو خامخا رابه سی دوی هغی (فتنې) ته او ايسارتيا به و نه كړی په دغی (قبول د فتنې) كښې مگر لږ. او خامخا په تحقيق

كَانُوْا عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ؕ وَكَانَ عَهْدُ

كَانُوْا	عَاهَدُوا	اللّٰهَ	مِنْ قَبْلُ	لَا يُوَلُّوْنَ	الْاَدْبَارَ	وَكَانَ	عَهْدُ
وو دوی	چې وعده يې كړی وه	له الله سره	پخوا له دی څخه	چې و به نه گرځوی	شاوی خپلی	او دی	عهد

وو دوی چې وعده يې كړی وه له الله سره پخوا له دی څخه چې و به نه گرځوی (په جنگ كښې) شاوی خپلی ، او دی عهد

اللّٰهِ مَسْئُوْلًا ۱۵ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ

اللّٰهِ	مَسْئُوْلًا	قُلْ	لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ	الْفِرَارُ	اِنْ فَرَرْتُمْ	مِّنَ
د الله	پوښتيدلی سوی	ووايه	چې له سره نفعه نه رسوی تاسی ته	تيښته	كه چيری وتښتئ تاسی	له

د الله پوښتيدلی سوی. ووايه (ای محمده) چې له سره به نفعه نه رسوی تاسی ته تيښته كه چيری وتښتئ تاسی له

الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۱۶ قُلْ

الْمَوْتِ	اَوِ الْقَتْلِ	وَاِذًا	لَّا تُمَتَّعُوْنَ	اِلَّا	قَلِيْلًا	قُلْ
مرگه	يا له قتله	او دغه وخت به	فائده پوره ته نه كړی سئ	مگر	لږ (مدت)	ووايه (ای محمده!)

مرگه يا له قتله او كله چې وتښتيدئ نو ژوندی به پاتی نه كړی سئ مگر لږ (مدت). ووايه (ای محمده! دوی ته)

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا... دا حزاب دغزا پاته قصه دلته وگوری : دمسلمانانو دختمولو وعده يي كړې وه اوپرمدينه منوره راختلي وه په دې وجه ددې غزا نوم داحزاب غزا كښيښوول سو او چونكي په دې غزا كي ددښمن دراتلو پر لاره باندې دنبي كريم ﷺ په امر خندقونه كښل سوي وپه دې وجه دغي غزا ته دخندق غزا هم وايي.: دبني قريظه غزا هم كمه چي داحزاب دغزا څخه فورا وروسته وسوه او په دې ذكر سوو اياتونو كي ددې هم ذكر دی دا هم په حقيقت كي داحزاب دغزا يو جز وو.نبي كريم ﷺ چي په كم كال دمكې مكرمې څخه هجرت وكی او مدينې منورې ته يي تشريف راوړی : ددې په دوهم كال دبدر واقعه پيښه سوه او په ځينو روايتونو كي يي دا دپنځم كال واقعه گرځولې ده.دهجرت دابتداء څخه تر دې وخته پوري دكفارو حملې پرله پسې پر مسلمانانو جاري وې د غزوه احزاب حمله يي په لوی طاقت او قوت او پخه اراده او وعده او ميثاق سره كړې وه په دې وجه پر نبي كريم ﷺ داحزاب دغزا پاته قصه پر راوان مخ وگوری.

مَنۡ ذَا الَّذِیۡ یَعۡصِمُکُمۡ مِّنَ اللّٰهِ اِنۡ اَرَادَ بِکُمۡ سُوۡٓءًا

مَنۡ	ذَا الَّذِیۡ	یَعۡصِمُکُمۡ	مِّنَ	اللّٰهِ	اِنۡ اَرَادَ بِکُمۡ	سُوۡٓءًا
څوک دی	هغه (ذات)	چې وساتي تاسي	له (عذابه)	د الله	که چیرې اراده وفرمائي الله پر تاسي باندې	د بدی (هزیمت)

څوک دی هغه (ذات) چې وساتي تاسي له (عذابه) د الله که چیرې اراده وفرمائي الله په تاسي باندې د بدی (هزیمت)

اَوۡ اَرَادَ بِکُمۡ رَحۡمَةً ؕ وَلَا یَجِدُوۡنَ لَهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

اَوۡ اَرَادَ بِکُمۡ	رَحۡمَةً	وَلَا یَجِدُوۡنَ	لَهُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ
یا اراده وفرمائي په تاسي باندې	د رحمت، نصرت	او نه به پیدا کوي دوی	خپلو ځانونو ته	بی له	الله

یا اراده وفرمائي په تاسي باندې د رحمت، نصرت او نه به پیدا کوي دوی خپلو ځانونو ته بی له الله

وَلِیًّا وَّلَا نَصِیۡرًا ﴿۱۷﴾ قَدۡ یَعۡلَمُ اللّٰهُ الۡمُعَوِّقِیۡنَ مِنۡکُمۡ

وَلِیًّا	وَّلَا نَصِیۡرًا	قَدۡ	یَعۡلَمُ	اللّٰهُ	الۡمُعَوِّقِیۡنَ	مِنۡکُمۡ
کوم دوست	او نه کوم مددګار	په تحقیق	ښه معلوم دی	الله ته	منع کوونکی (له جهاده)	له تاسي

کوم دوست (نافع) او نه کوم مددګار (دافع د ضرر). په تحقیق ښه معلوم دی الله ته منع کوونکی (له جهاده) له تاسي

وَالۡقَآئِلِیۡنَ لِاِخۡوَانِهِمۡ هَلُمَّ اِلَیۡنَا ۚ وَلَا یَاۡتُوۡنَ الۡبَاۡسَ

وَالۡقَآئِلِیۡنَ	لِاِخۡوَانِهِمۡ	هَلُمَّ	اِلَیۡنَا	وَلَا یَاۡتُوۡنَ	الۡبَاۡسَ
او ویونکی	ورونو خپلو ته	راسئ	زموږ پر لوری	او نه راځی دوی	جنګ ته

او ویونکی ورونو خپلو ته (چې) راسئ زموږ پر لوری (چې آرام او هوسائی وکړئ) او نه راځی دوی جنګ ته

اِلَّا قَلِیۡلًا ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَیۡکُمۡ ۖۚ فَاِذَا جَآءَ الۡخَوۡفُ رَاَیۡتَهُمۡ

اِلَّا	قَلِیۡلًا	اَشِحَّةً	عَلَیۡکُمۡ	فَاِذَا	جَآءَ	الۡخَوۡفُ	رَاَیۡتَهُمۡ
مګر	لږ	بخیلان دی	پر تاسي	پس کله چې	راسي	بیره (د دښمن)	نو وبه وینی ته دوی

مګر لږ (کله ناکله) . بخیلان دی پر تاسي پس کله چې راسي بیره (د دښمن) نو وبه وینی ته دوی

یَنۡظُرُوۡنَ اِلَیۡكَ تَدُوۡرُ اَعۡیُنُهُمۡ کَالَّذِیۡ یُغۡشٰی

یَنۡظُرُوۡنَ	اِلَیۡكَ	تَدُوۡرُ	اَعۡیُنُهُمۡ	کَالَّذِیۡ	یُغۡشٰی
ګوری به دوی	تاته	تاو راتاو کیږی به	سترګی د دوی	په شان د هغه انسان	چې بیهوشی راوستلی سوی وی

ګوری به دوی تاته تاو راتاو کیږی به سترګی د دوی په شان د هغه انسان چې بیهوشی راوستلی سوی وی

مَنۡ ذَا الَّـذِیۡ یَعۡصِمُکُمۡ مِّنَ اللّٰهِ اِنۡ اَرَادَ.. داحزاب دغزا پاته قصه دلته وګوری او پر صحابه کرامو ﷺ باندي دا غزا دنورو ټولو غزاګانو څخه زیاته سخته وه ځکه چې په دې کي دحمله کوونکو احزابو کفارو شمیر ددوولس زره څخه تر پنځلس زره پوري ښوول سوی دی او بل طرف ته مسلمانان ټول درې زره کسه وه او هغه هم ټول بې سر اوبې اسبابه او زمانه دسختي ښخنی وه : قرآن کریم خو ددې واقعي سخت والی په ډیر هیبتناک صورت کي دابیان کړی دی: زاغت الابصار. سترګي خلاصي پاته سوې: بلغت القلوب الحناجر. زړونه خولې ته راغلل : وزلزلوا زلزالا شدیداً . په سخته زلزله کي وغورځول سول : مګر څنګه چې داوخت پر مسلمانانو باندي دټولو څخه زیات سخت وو هم دغسي دالله ﷻ د نصرت اوامداد په وجه ددې انجام دمسلمانانو په حق کي دداسي عظیمي فتحي او کامیابی په صورت کي مخ ته راغلی چي دغه نصرت دټولو مخالفو ډلو مشرکینو ، یهودو ، نصاراوو ،او منافقینو ملاګاني ماتي کړلې. داحزاب دغزا پاته قصه پر راروان مخ وګوری

فَـإِذَا ذَهَـبَ الْخَـوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ
داحزاب دغزا پاته قصه دلته وګوری : او مخ ته بیا دغـه دښـمن ددې قابـل نـه سـو پاته چـي بیـا دې پـر مسـلمانانو بانـدي دحملـې کولـو اراده وکـړی سـي پـه دې لحـاظ سـره دکفـر او داسلام داغزا آخري جنګ وو کم چي دمدينې منورې پـر مځکـه بانـدي دهجـرت په ځلورم یا پنځم کال وسو ددې واقعـې ابتـداء ددې ځایـه څخـه وسـوه چـي دیهودو دقبیلې بنو نضیر او قبیلـې ابووائـل تقریبـا شلو کسانو کمو چي دنبي کـریم ﷺ او مسـلمانانو سره سخته دښمني درلوده دا خلـګ مکـې مکرمـې تـه ورسـیدل او دقریشـو دسـردارانو سـره یـي ملاقـات وکـړی او هغـوی یـي دمسـلمانانو سـره وجنګ کولـو تـه تیار کـړل دقریشـو سـردارانو داسـي وګڼله چي لکه څنګه چي مسـلمانان زمـوږ بـت پـر ستی ته کفر وايي اوپه دې وجه زموږ مذهب بد بولي دیهـودو هـم داخیـال دی نو ددوی سره به دموافقت او اتحادڅـه توقـع ولـرل سـي ؟ پـه دې وجـه دوی دیهـودو څخـه پوښـتنه وکـړه چي تاسي پـوهیږی چـي زمـوږ او دمحمـد. داحزاب دغـزا پاتـه قصـه پـر راروان مـخ وګـوری.

عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَإِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ

عَلَيْهِ	مِنَ الْمَوْتِ	فَإِذَا	ذَهَبَ	الْخَوْفُ	سَلَقُوكُم	بِأَلْسِنَةٍ
پر هغه	له مرګه	پس بیا کله چي	ولاړه سی	دغه بیره	نو ضرر درسوی دوی تاسی ته	په ژبو

پر هغه له (وجه دسکراتو د) مرګه پس بیا کله چي ولاړه سی دغه بیره (او راسئ غنائم) نو ضرر درسوی دوی تاسی ته په ژبو

حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۚ أُولَٰئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا

حِدَادٍ	أَشِحَّةً	عَلَى الْخَيْرِ	أُولَٰئِكَ	لَمْ يُؤْمِنُوا
تیرو سره	په دغه حال چي بخیلان وی	پر خیر (مال)	دغه (کسان)	ایمان یئ نه دی راوړی

تیرو سره په دغه حال چي بخیلان (حارصان) وی پر خیر. دغه (کسان) ایمان یئ نه دی راوړی

فَأَحْبَطَ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾

فَأَحْبَطَ	اللَّهُ	أَعْمَالَهُمْ	وَكَانَ	ذَٰلِكَ	عَلَى	اللَّهِ	يَسِيرًا
پس خراب (باطل) کړل	الله	عملونه دوی	او دی	دغه (ابطال داعمالو)	پر	الله	آسان

پس خراب (باطل) کړل الله عملونه د دوی او دی دغه (ابطال د اعمالو) پر الله آسان.

يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا ۖ وَإِن يَأْتِ الْأَحْزَابُ

يَحْسَبُونَ	الْأَحْزَابَ	لَمْ يَذْهَبُوا	وَإِن يَأْتِ	الْأَحْزَابُ
ګمان کوی (منافقان)	پر لښکرو (دکفارو)	چي نه دی تللی	او که چیرته بیا راسی	لښکرد (کفارو جنګ ته)

ګمان کوی (منافقان) پر لښکرو (دکفارو) چي نه دی تللی (بیرته په ماتی) او که چیرته بیا راسی لښکرد (کفارو جنګ ته)

يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُم بَادُونَ فِي الْأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ

يَوَدُّوا	لَوْ أَنَّهُم	بَادُونَ	فِي الْأَعْرَابِ	يَسْأَلُونَ	عَنْ
نو دوست ګڼی (منافقان)	داچي کاشکی دوی	اوسیدونکی وی	په اعرابو کښی	چي پوښتنی به یئ کولی	له

نو دوست ګڼی (منافقان) داچي کاشکی دوی اوسیدونکی وی په (لریو کلیو) اعرابو کښی چي پوښتنی به یئ کولی له

أَنبَائِكُمْ ۖ وَلَوْ كَانُوا فِيكُم مَّا قَاتَلُوا إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾ ع ۲ / ۱۸

أَنبَائِكُمْ	وَلَوْ كَانُوا	فِيكُم	مَّا قَاتَلُوا	إِلَّا	قَلِيلًا
(احوالو) خبرو ستاسی	او که چیری وی	په تاسی کښی	نو جنګ به یئ نه وو کړی دوی	مګر	لږ

(احوالو) خبرو ستاسی. او که چیری وی (دغه منافقان) په تاسی کښی نو جنګ به یئ نه وو کړی دوی مګر لږ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ						
لَقَدْ	كَانَ لَكُمْ	فِيْ رَسُوْلِ	اللّٰهِ	اُسْوَةٌ	حَسَنَةٌ	لِّمَنْ كَانَ
خامخا په تحقيق	دی تاسی ته	په(ذات اوكارد) رسول	دالله كښې	اقتداء نمونه	غوره نيكه	دپاره دهغه چاچې وی دی

خامخا په تحقيق دی تاسی ته (ای ببريدونكو) په (كار د) رسول الله كښې اقتداء غوره نيكه دپاره دهغه چاچې وی دی

يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿۲۱﴾						
يَرْجُوا	اللّٰهَ	وَالْيَوْمَ	الْاٰخِرَ	وَذَكَرَ	اللّٰهَ	كَثِيْرًا
چې اميد لری	دالله څخه	او ورځی	وروستنی (دقيامت)	او ياد وی	الله	ډير (په زړه او په خوله)

چې ببريږی دالله څخه ، او (دثواب د نعمتونو د) ورځی وروستنی (دقيامت) او يادوی الله ډير (په زړه او په خوله).

وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا					
وَلَمَّا	رَاَ	الْمُؤْمِنُوْنَ	الْاَحْزَابَ	قَالُوْا	هٰذَا
او كله چې	وليدلی	مؤمنانو	لښكری (د كفارو)	نو وويل (مؤمنانو)	دا هغه دی

او كله چې وليدلی مؤمنانو لښكری (د كفارو) نو وويل (مؤمنانو) دا هغه دی

مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ					
مَا وَعَدَنَا	اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ	وَصَدَقَ	اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ
چې وعده كړی ده له موږ سره	الله	او رسول دده غه (الله)	او رښتيا ويلی ؤ	الله	او رسول د دغه (الله)

چې وعده كړی ده له موږ سره الله او رسول د دغه (الله دنصرت) او رښتيا ويلی ؤ الله او رسول د دغه (الله په وعده كښې)

وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ﴿۲۲﴾ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ					
وَمَا زَادَهُمْ	اِلَّآ	اِيْمَانًا	وَّتَسْلِيْمًا	مِنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ
او زيات نه كړی دوی مؤمنانو ته	مگر	ايمان	او تسليم	ځينی له	مؤمنانو څخه

او زيات نه كړی دغو (لښكرو د كفارو) مؤمنانو ته مگر ايمان او تسليم (احكامو د الله ته) . ځينی له مؤمنانو څخه

رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ				
رِجَالٌ	صَدَقُوْا	مَا عَاهَدُوا	اللّٰهَ	عَلَيْهِ
(داسی) سړی دی	چې رښتيا كړی يئ ده	هغه خبره چې وعده يئ كړی وه دوی	له الله سره	پر هغی باندی

(داسی) سړی دی چې رښتيا كړی يئ ده هغه خبره چې عهد كړی ؤ دوی له الله سره پر هغی باندی

وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا مَا

داحزاب دغزا پاته قصه دلته وګورئ : په مينځ كي ددين او مذهب اختلاف دی او تاسو اهل كتاب او اهل علم ياست اول موږ ته دا خبره وښياست چې ستاسو په نزد زموږ دين ښه دی كه بد دی؟ دغه يهودو دخپل عمل اوضمير څخه بالكل خلاف دوی ته داجواب وركی چې ستاسو دين دمحمد ﷺ ددين څخه ښه دی په دغه باندي دمكي كفار څه مطمئن سول مگر پر دې سربيره معامله داسې مقرره سوله چې شل تنه داراغلي او پنځوس تنه دقريشو دسردارانو څخه به مسجد حرم ته ولاړسي دبيت الله شريفي دديوالونو سره به سينې ولګوي دالله ﷻ په مخكي به داوعده وكړي چې په موږ كي تر څو پوري يو سړی هم ژوندی وي موږ به دمحمد ﷺ خلاف جنګ كوو. دالله ﷻ په كور كي دالله ﷻ دكور سره پيوست سوي دالله ﷻ دښمنان دهغه درسول خلاف دجنګ كولو وعده كوي او مطمئن كيږي او دجنګ دنوي جذبې سره بيرته واپس كيږي دالله ﷻ حلم او كرم څومره فراخه دی ؟

داحزاب دغزا پاته قصه پر راروان مخ وګورئ :

لِّيَجْزِيَ اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ..د
احزاب دغزا پاته قصه دلته
وګوری: دغه یهودیان
دمکې دقریشو سره
دوعدې کولو څخه
وروسته دعربو یولوی
جنګجو قبیلې غطفان ته
ورسیدل او دوی ته یې
وویل چې موږ او دمکې
قریش پر دې متفق سوي
یوچې ددې نوي دین اسلام
دخپروونکو په یوواري
سره په جمع سره خاتمه
وکړو: تاسو هم په دې
زموږ سره وعده وکړی او
دوی ته یې دارشوت هم
پیش کړی چې په خیبر کې
چې څومره خرماوې په یوه
کال پیداکیږي هغه او په
ځینې روایاتوکې دهغه
نیمایې یې قبیله غطفان ته
دورکولو وعده وکړه:
دغطفان قبیلې سردار
عیینه ابن حصن په دې
شرط ددوی سره شرکت
کول منظور کړه او داخلګ
هم په جنګ کې شامل
سول: او په خپل مینځ کې
دقرارداد مطابق دمکې
څخه دقریشو لښکر
دڅلورو زرو ځوانانو او
درې سوه اسانو او دزرو
اوښانو داسبابو سره دابو
سفیان په مشری کې
دمکې مکرمې څخه
رااووتل او په مرّظهران
نومي ځای کې یې قیام
وکی. داحزاب دغزا پاته
قصه پر راروان مخ وګوری

فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ

فَمِنْهُمْ	مَّنْ	قَضٰى	نَحْبَهٗ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ
پس ځینې له دوی	هغه دی	چې تر سره یې کړ	نذر او اقرار خپل	او ځینې له دوی	هغه دی

پس ځینې له دوی هغه دی چې تر سره یې کړ نذر او اقرار خپل (چې مړ سو یا شهید سو) او ځینې له دوی هغه دی

يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ لِّيَجْزِيَ اللّٰهُ

يَّنْتَظِرُ	وَمَا بَدَّلُوْا	تَبْدِيْلًا	لِّيَجْزِيَ	اللّٰهُ
چې انتظار کوی	او بدل یې نه کړی	په بدلولو سره	دپاره د دې چې جزاء ورکړی	الله

چې انتظار کوی (دغه مرګ یا شهادت ته) او بدل یې نه کړی (عهد خپل) په بدلولو سره. دپاره د دې چې جزاء ورکړی الله

الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ

الصّٰدِقِيْنَ	بِصِدْقِهِمْ	وَيُعَذِّبَ	الْمُنٰفِقِيْنَ	اِنْ شَآءَ
رښتنیو ته	په (سبب د) رښتینې د دوی	او په عذاب به کړی	منافقان	که اراده وفرمائی

رښتنیو ته په (سبب د) رښتینې د دوی او په عذاب به کړی منافقان که اراده وفرمائی (دتعذیب یې)

اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا

اَوْ يَتُوْبَ	عَلَيْهِمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	غَفُوْرًا
یا رجوع په رحمت سره وکړی	پر دوی	بیشکه! چې	الله	دی	ښه بخښونکی

یا رجوع په رحمت سره وکړی پر دوی (چې ایمان راوړی) بیشکه! چې الله دی ښه بخښونکی (دخطیاتو)

رَّحِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ

رَّحِيْمًا	وَرَدَّ	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِغَيْظِهِمْ
ډیر رحم والا	او بیرته وشړل	الله	هغه کسان	چې کافران سوی وو	سره له قهره خپله

ډیر رحم والا. او بیرته وشړل الله (له مدینې څخه) هغه کسان چې کافران سوی وو (په ماتې بې له جنګه) سره له قهره خپله

لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ؕ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ؕ

لَمْ يَنَالُوْا	خَيْرًا	وَكَفَى	اللّٰهُ	الْمُؤْمِنِيْنَ	الْقِتَالَ
چې پیدا یې نه کړی	هیڅ خیر	او کفایت وکړ	الله	مؤمنانو ته	د جنګ کولو (په امداد)

(دک زړونه) چې پیدا یې نه کړی هیڅ خیر (بری پر مؤمنانو) ، او کفایت وکړ الله مؤمنانو ته د جنګ کولو (په امداد)

وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ﴿۲۵﴾ وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ

وَكَانَ	اللّٰهُ	قَوِيًّا	عَزِيْزًا	وَاَنْزَلَ	الَّذِيْنَ	ظَاهَرُوْهُمْ
او دی	الله	قوی ښه زورور	ډیر غالبه	او راکښته کړل (الله)	هغه کسان	چې کومک یې کړی ؤ له دوی سره

او دی الله قوی ښه زورور ډیر زبردست. او راکوز کړل (الله) هغه کسان چې کومک یې کړی ؤ له دغو (ډلو) سره

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ

مِّنْ	اَهْلِ	الْكِتٰبِ	مِنْ صَيَاصِيْهِمْ	وَقَذَفَ	فِيْ قُلُوْبِهِمُ
له	اهل	دکتابه	له کلاګانو د دوی	او وغورځوله (الله)	په زړونو ددوی کښې

له اهل د کتابه (چې بنی قریظه ؤ) له کلاګانو د دوی او وغورځوله (الله) په زړونو ددوی کښې

الرُّعْبَ فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ وَتَأْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ﴿۲۶﴾

الرُّعْبَ	فَرِيْقًا	تَقْتُلُوْنَ	وَتَأْسِرُوْنَ	فَرِيْقًا
ییره	یوه ډله	ووژله تاسی	او بندی کوله به تاسی	بله ډله

ییره (د رسول الله او دمؤمنانو) یوه ډله ووژله تاسی او بندی کوله به تاسی بله ډله.

وَاَوْرَثَكُمْ اَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا

وَاَوْرَثَكُمْ	اَرْضَهُمْ	وَدِيَارَهُمْ	وَاَمْوَالَهُمْ	وَاَرْضًا
او په میراث یې درکړه تاسی ته	مځکه د دوی	او کورونه د دوی	او مالونه د دوی	او هغه مځکه

او په میراث یې درکړه تاسی ته مځکه ددوی او کورونه ددوی او مالونه د دوی او هغه مځکه

لَّمْ تَطَـُٔوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۷﴾

لَّمْ تَطَـُٔوْهَا	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرًا
چې نه وه پایمال کړی تاسی هغه	او دی	الله	پر	هر شی باندی (چې اراده وفرمائی)	ښه قادر

چې نه وه پایمال کړی تاسی هغه (په ځغلولو دآسونو سره) او دی الله پر هر شی باندی (چې اراده وفرمائی) ښه قادر

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ

يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	قُلْ	لِّاَزْوَاجِكَ	اِنْ كُنْتُنَّ	تُرِدْنَ
ای	نبی	ووایه ته	ښځو خپلو ته	که چیری یئ تاسی	چې غواړی هم دغه

ای نبی ووایه ته ښځو خپلو ته که چیری یئ تاسی چې غواړی هم دغه

وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ..

داحزاب دغزا پاته قصه دلته وګوری: دلته بیا دقبیله اسلم او قبیله اشجع ،اونوري څه قبیلې ورسره یوځـای سـوې چـې مجموعي شمیر یي دځینو روایتونـو پر بنـا بانـدې پـنځلس زره وو نبـي کـریم ﷺ ته ددې متحده محاذ پـه حرکـت کـې دراتلـو اطـلاع ورکـول سـوه نـو دټولو څخه اوله کلمه چې پـر ژبـه مبارکـه یـې راغلـه هغـه داوه چې: حسبنا الله ونعم الوکیل. یعنی زموږ دپاره الله ﷻ کافي دی او هغه زموږ ښه کارسازه دی ددې څخـه وروسـته یـې دمهـاجرینو او انصـارو مشـران جمع کـړل او ددوی څخه یې مشوره واخیسته که څه هم صاحب وحی ته پـه حقیقـت کـې دمشـورې ضـرورت نـه وي دی سـیدا پـه سـیدا دالله ﷻ پـه اذن او اجـازه سـره کـار کـوي مګـر پـه مشـوره کـې دوې فائدې وې یوه دامت دپاره دمشورې سنت جاري کول: دوهم دمومنانو پـه زړونـو کـې دیوبـل سـره دربـط او اتحـاد تجدیـد کـول او دتعـاون او تناصـر جذبـه راپورتـه کـول ددې څخـه وروسته پر دفاع اود جنګ پر مادي وسائلو فکر وسو داحزاب دغزا پاته قصه پر راروان مـخ وګـورې.

ع ۳ / ۱۹

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ

الْحَيٰوةَ	الدُّنْيَا	وَزِيْنَتَهَا	فَتَعَالَيْنَ	اُمَتِّعْكُنَّ
ژوندون	د دنیا	او ښایست رونق دهغې	پس راسئ	چې څه فایده درورسوم تاسی ته

ژوندون د دنیا او ښایست رونق د هغه پس راسئ چې څه فایده درورسوم تاسی ته (طلاق درکړم)

وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۲۸﴾ وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ

وَاُسَرِّحْكُنَّ	سَرَاحًا	جَمِيْلًا	وَاِنْ	كُنْتُنَّ	تُرِدْنَ	اللّٰهَ
او رخصت کړم تاسی	په ایله کولو	نیکو سره	او که	یئ تاسی	چې اراده لرئ	دالله

او خوشی کړم تاسی په خوشی کولو نیکو سره. او که یئ تاسی چې اراده لرئ دالله

وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ

وَرَسُوْلَهٗ	وَالدَّارَ	الْاٰخِرَةَ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	اَعَدَّ
او درسول د دغه (الله)	او دکور	دآخرت	پس بیشکه!	الله	تیار کړی دی

او درسول د دغه (الله) او دکور د آخرت (او دنعمتونو د جنت) پس بیشکه! الله تیار کړی دی

لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ

لِلْمُحْسِنٰتِ	مِنْكُنَّ	اَجْرًا	عَظِيْمًا	يٰنِسَآءَ	النَّبِيِّ
دپاره دنیکی کوونکو (ښځو)	لەتاسی څخه	اجر	ډیرلوی	ای ښځو	دنبی

دپاره دنیکی کوونکو (ښځو) لەتاسی څخه اجر ډیرلوی (ثواب زیات). ای ښځو دنبی

مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ

مَنْ يَّاْتِ	مِنْكُنَّ	بِفَاحِشَةٍ	مُّبَيِّنَةٍ	يُّضٰعَفْ	لَهَا	الْعَذَابُ
هر څوک چې راسی	لەتاسی	په یوه کار ناکاره	ښکاره	نو دوچنده به کړی سی	هغی ته	عذاب

هر څوک چې راسی لەتاسی په یوه کار ناکاره ښکاره نو دوچنده به کړی سی هغی ته عذاب

ضِعْفَيْنِ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

ضِعْفَيْنِ	وَكَانَ	ذٰلِكَ	عَلَى	اللّٰهِ	يَسِيْرًا
په دوچنده کولو سره	او دی	دغه (دوچندی دعذاب)	پر	الله	آسان

په دوچنده کولو سره (دعذاب د نورو ښځو) او دی دغه (دوچندی د عذاب) پر الله آسان.

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ. داحزاب دغزا پاته قصه دلته وګوری:
دمشورې په مجلس کې حضرت سلمان فارسي ﷺ هم موجود وو کم چې اوس اوس دیویهودي دغلامی څخه نجات حاصل کړی وو داسلامي خدمتونو دپاره تیار سوی وو دمشوره ورکړه چې زموږ په وطن فارس کې پاچاهان په داسې حالت کې ددښمن دحملې ددفع کولو دپارخندقونه کاږي او لاري بندوي نبي کریم ﷺ هم دامشوره قبوله کړه او دخندق کیندلو حکم یې وصحابه کرامو ﷺ ته ورکی او په خپله هم په دې کار کې شریک سو: دغه وخت داسلامي لښکر تعداد ټوله درې زره ۳۰۰۰ کسان وه او او ټول ورسره شپږ دیرش آسونه وه: په اسلامي لښکر کې څه نابالغه بچیان هم دخپل ایماني جوش او جذبې په وجه سره راوتلي وه لیکن نبي کریم ﷺ هغوی بیرته واپس کړل دکمو عمر چې دپنځلس کلو څخه کم وو او دکمو هلکانو عمرونه چې پنځلس کلنی ته رسیدلي وه هغوی یې دځان سره واخیستل او دخندق کیندلو کار شروع سو.
معارف القرآن ج۷ پ۲۱ ص۱۴۶

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا

وَمَنْ	يَّقْنُتْ	مِنْكُنَّ	لِلّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	وَتَعْمَلْ	صَالِحًا
او هر څوک چي	اطاعت وکړي	له تاسي	الله	او رسول د دغه (الله) ته	او عمل کوی	دنیکو

او هر څوک چي (تل) اطاعت وکړي له تاسي الله او رسول د دغه (الله) ته او عمل کوی دنیکو

نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ۝٣١

نُّؤْتِهَآ	اَجْرَهَا	مَرَّتَيْنِ	وَاَعْتَدْنَا	لَهَا	رِزْقًا	كَرِيْمًا
نو وربه کړو موږ هغی ته	اجر د هغی	دوه چنده	او تیار کړی دی موږ	هغی ته	رزق ، روزی	نیکه

نو وربه کړو موږ هغی (ښځی) ته اجر د هغی دوه چنده او تیار کړی دی موږ هغی ته رزق روزی نیکه (زیاته په جنت کښی).

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ

يٰنِسَآءَ	النَّبِيِّ	لَسْتُنَّ	كَاَحَدٍ	مِّنَ النِّسَآءِ	اِنِ	اتَّقَيْتُنَّ
ای ښځو	دنبی	نه یئ تاسی	په شان د یوی	له ښځو	که چیری	پرهیزګاری کوله تاسی

ای ښځو د نبی نه یئ تاسی لکه یو تولګی (په شان د بل تولګی دمحمدی امت) له ښځو ، که چیری پرهیزګاری کوله تاسی

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ

فَلَا تَخْضَعْنَ	بِالْقَوْلِ	فَيَطْمَعَ	الَّذِيْ	فِيْ قَلْبِهٖ
پس مه کوئ نرمی	په ویلو کښی	نو په طمع کښی به پریوځی	هغه څوک	چی په زړه کښی یئ

پس مه کوئ نرمی په ویلو کښی (پس که پسته خبره تاسی وکړه) نو په طمع کښی به پریوځی هغه څوک چی په زړه کښی یئ

مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝٣٢ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ

مَرَضٌ	وَّقُلْنَ	قَوْلًا	مَّعْرُوْفًا	وَقَرْنَ	فِيْ بُيُوْتِكُنَّ	وَلَا تَبَرَّجْنَ
رنځ وی دنفاق	او وایئ تاسی	خبره	ښه	او قرار ونیسئ	په کورونو خپلو کښی	او مه ښکاره کوی ښائست

رنځ وی او وایئ تاسی خبره ښه (ځیږه). او قرار ونیسئ (ای ښځو!) په کورونو خپلو کښی او مه ښکاروئ (ښایست خپل

تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ

تَبَرُّجَ	الْجَاهِلِيَّةِ	الْاُوْلٰى	وَاَقِمْنَ	الصَّلٰوةَ
په شان داظهار د ښائست	دجاهلیت	مخکنیو	او سم دروئ	لمونځ

بیګانه سړیو ته) په شان داظهار (او ښائست) دجاهلیت (دښځو) مخکنیو او سم دروئ لمونځ (چی د بدنی عباداتو اصل دی)

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ پاکو بیبیانو ته خاص هدایتونه
په دغه آیت کښي بیبیانو ته خطاب کړی دی چي دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ اطاعت شرط دی بیا عمل صالح شرط دی سبب دادی چي اجر اوثواب خو هغه وخت حاصلیږي کله چي اطاعت مکمل وي اودسزا دپاره یوه ګناه هم کافي ده :
یانسآء النبيّ لستنّ کاحد من النّسآء ...: په تیروایاتونو کښي یي پاکي بیبیاني دنبي کریم ﷺ څخه دداسي مطالبو څخه منع کړي دي دکمو پوره کول چي دنبي کریم ﷺ دپاره ګران وي یا کم چي ددوی دشان مناسب نه وي او کله چي هغوی دااختیاره کړه نو دهغوی درجه دعامو ښځو څخه لوړه سوه او دهغوی یو عمل یي ددوو قائم مقام جوړ کی مخ ته ددوی دعمل او صلاح او دنبي کریم ﷺ دصحبت او ښځوالي مناسب جوړوولو دپاره یو څو هدایتونه ورکول سوي دي دا ټول هدایتونه که څه هم دپاکو بیبیانو دپاره مخصوص نه دي بلکي ټولي مسلماناني ښځي په دې ماموره دي لیکن ددوی دپاره یي دنورو څخه زیات اهتمام پکار دی.
(معارف القرآن ج ۸ پ ۲۲ ص ۴)

وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ

وَاٰتِيْنَ	الزَّكٰوةَ	وَاَطِعْنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	اِنَّمَا	يُرِيْدُ	اللّٰهُ
او ورکوئ	زکوٰة	او اطاعت کوئ	دالله	او درسول د الله	بيشکه! هم دا خبره ده	چي اراده لري	الله

او ورکوی زکوٰة او (تل) اطاعت کوئ د الله او درسول د دغه (الله). بیشکه! هم دا خبره ده چي اراده لري الله

لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ

لِيُذْهِبَ	عَنْكُمُ	الرِّجْسَ	اَهْلَ	الْبَيْتِ	وَيُطَهِّرَكُمْ
ددی چي لري کړي	له تاسي	ګناه	ای اهل	البيت	او چي پاک کړي تاسي

د دی چي لري کړي له تاسي ګناه ای اهل البيت (کورني د محمد رسول الله) او چي پاک کړي تاسي (له ګناه)

تَطْهِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ

تَطْهِيْرًا	وَاذْكُرْنَ	مَا يُتْلٰى	فِيْ بُيُوْتِكُنَّ	مِنْ اٰيٰتِ
په پاکوالي	او يادوئ تاسي	هغه چي لوستل کيږی	په کورونو ستاسي کښي	له آيتونو

په پاکوالي. او يادوئ تاسي هغه چي لوستل کيږی په کورونو ستاسي کښي له آيتونو

اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّ

اللّٰهِ	وَالْحِكْمَةِ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	لَطِيْفًا	خَبِيْرًا	اِنَّ
دالله	او له حکمته	بيشکه! چي	الله	دی	باريک ليدونکی	ښه خبردار	بيشکه!

دالله (چي قرآن دی) او له حکمته (حديث رسول) بيشکه! چي الله دی ښه عالم الاسرار ښه خبردار. بيشکه!

ع

الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

الْمُسْلِمِيْنَ	وَالْمُسْلِمٰتِ	وَالْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ
چي مسلمانان سړي	او مسلماناني ښځي	او مؤمنان سړي	او مؤمناني ښځي

چي مسلمانان سړي او مسلماناني ښځي او مؤمنان سړي او مؤمناني ښځي

وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ

وَالْقٰنِتِيْنَ	وَالْقٰنِتٰتِ	وَالصّٰدِقِيْنَ	وَالصّٰدِقٰتِ
او اطاعت کوونکي سړي	او اطاعت کوونکي ښځي	او رښتين سړي	او رښتيني ښځي

او اطاعت کوونکي سړي او اطاعت کوونکي ښځي او رښتين سړي او رښتيني ښځي

وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ. پاکو بيبيانو ته د قران کريم نور هدايتونه: د آيت په دغه حصه کي الله ﷻ و پاکو بيبيانو ته دا حکم ورکړی دی چي لمونځ قائم کی او زکوة اداء کی او دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ اطاعت کوی: دوه نور هدايتونه په تفصيل سره تير سوي دي: هغه دا چي د نورو سړو سره په خبرو کي د نرمی او نزاکت څخه ځان ساتل دي او د کورونو څخه بغير د ضرورت څخه نه وتل: دړي هدايتونه په دې کي راغلل دا ټول پنځه هدايتونه دي کم چي د ښځو د پاره د دين د مهماتو څخه دي: د دې ذکر سوو هدايتونو په آخري هدايتونو کي خو هيڅ شک نه سي کيدای چي دا دي د پاکو بيبيانو د پاره خاص وي ځکه چي د لمانځه، زکوة او د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د اطاعت څخه هيڅ مسلمان که نروي که ښځه نه سي مستثنی کيدای او هغه اولني دوه حکمونه چي د پردې دي هغه هم د بيبيانو سره مخصوص نه دي بلکي د ټولو مسلمانانو د ښځو د پاره دا حکمونه د پردې هم لازم دي چي پرده به کوي الخ:
(معارف القرآن ج٨ پ ٢٢ ص ١٢)

وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ

وَالصّٰبِرِيْنَ	وَالصّٰبِرٰتِ	وَالْخٰشِعِيْنَ	وَالْخٰشِعٰتِ
او صبر کوونکی سړی	او صبر کوونکی ښځی	او ېريدونکی سړی	او ېريدونکی ښځی

او صبر کوونکی سړی او صبر کوونکی ښځی، او ېريدونکی عاجزی کوونکی سړی او ېريدونکی عاجزی کوونکی ښځی.

وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ

وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ	وَالْمُتَصَدِّقٰتِ	وَالصَّآئِمِيْنَ	وَالصّٰٓئِمٰتِ
او خيرات کوونکی سړی	او خيرات کوونکی ښځی	او روژه نيوونکی سړی	او روژه نيوونکی ښځی

او خيرات کوونکی سړی او خيرات کوونکی ښځی او روژه نيوونکی سړی او روژه نيوونکی ښځی

وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ

وَالْحٰفِظِيْنَ	فُرُوْجَهُمْ	وَالْحٰفِظٰتِ
او حفاظت کوونکی سړی	ځای د شهوت خپل (له ښځو)	او ساتونکی ښځی

او حفاظت کوونکی سړی ځای دشهوت خپل (له ښځو) او ساتونکی ښځی (ځای دشهوت خپل له سړيو)

وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ

وَالذّٰكِرِيْنَ	اللّٰهَ	كَثِيْرًا	وَّالذّٰكِرٰتِ	اَعَدَّ	اللّٰهُ	لَهُمْ
او ذکر کوونکی سړی	الله لره	ډير	او ذکر کوونکی ښځی	تيار کړی دی	الله	دوی ته

او ذکر کوونکی سړی الله لره (په ذکر) ډير او ذکر کوونکی ښځی (الله لره په ذکر ډير) تيار کړی دی الله دغو (لسوو اړو

مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝٣٥ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ

مَّغْفِرَةً	وَّاَجْرًا	عَظِيْمًا	وَمَا كَانَ	لِمُؤْمِنٍ	وَّلَا مُؤْمِنَةٍ
مغفرت	او اجر	ډير لوی	او نه دی رواء	هيڅ مؤمن سړی ته	او نه هيڅ مؤمنی ښځی ته

سړيو او ښځو) ته مغفرت او اجر ډير لوی (جنت). او نه دی (روا) هيڅ مؤمن سړی او نه هيڅ مؤمنی ښځی ته

اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ

اِذَا	قَضَى	اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗٓ	اَمْرًا	اَنْ يَّكُوْنَ	لَهُمُ
کله چی	حکم وکړی	الله	او رسول د دغه (الله)	په يو امر، کار کښی	داچی وی	دوی ته

کله چی حکم وکړی الله او رسول د دغه (الله) په يو امر، کار کښی داچی وی دوی ته

وَالصّٰـبِرِيْنَ وَالصّٰـبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ. دقران کريم عام خطابونه سړو ته دي او دښځو په کښي ضمنا دشامليدو حکمت: دقرآن کريم په عامو احکاموکي سړي او ښځي دواړي شامل دي مگر په عام طور سره خطاب سړو ته سوی دی ښځي په دي کي ضمنا شاملي دي هر ځای يي الفاظ استعمال کړی دی اکو ښځي يي ددې په ضمني مخاطبي کړي دي په دي کي اشاره ده چي دښځو ټولي معاملې پر ستر او پرده پوشی مبني دي په دي کي ددوی اکرام او عزت دی خصوصا پر ټول قرآن باندي چي فکر وسي نو معلومه به سي چي دحضرت مريم بنت عمران څخه ماسوا دهيڅ ښځي نوم په قرآن کريم کي نه دی اخيستل سوی بلکي چي ذکر يي راغلی دی نو دسړو په نسبت سره راغلی دی لکه امرة فرعون، امراة نوح، امراة لوط په الفاظو سره تعبير سوي دي. دحضرت مريم خصوصيت به شايد داوي چي دحضرت عيسی عليه السلام نسبت دپلار طرفته نه سوای کيدای په دې وجه يي دمور طرف ته نسبت ول وو نو ددغه نسبت په خاطر دانوم دمريم ظاهر سو (معارف القرآن ج٨ پ ٢٢ ص ١٧)

الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ

الْخِيَرَةُ	مِنْ اَمْرِهِمْ	وَمَنْ يَّعْصِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	فَقَدْ
اختيار	له امره کاره خپله هيڅ	او هر څوک چي اطاعت نه کوی	د الله	او د رسول د دغه الله	پس په تحقيق

اختيار له امره کاره خپله (د الله او د رسول) هيڅ او هر څوک چي اطاعت نه کوی د الله او د رسول د دغه الله پس په تحقيق

ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ۝٣٦ وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ

ضَلَّ	ضَلٰلًا	مُّبِيْنًا	وَاِذْ	تَقُوْلُ	لِلَّذِيْٓ	اَنْعَمَ	اللّٰهُ
گمراه سو	په گمراهی	ښکاره سره	او کله چي	وويل تا	هغه (زيد) ته	چي انعام کړی ؤ	الله

گمراه سو په گمراهی ښکاره سره. او (ياد کړه ای محمده!) کله چي وويل تا هغه (زيد) ته چي انعام کړی ؤ الله

عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ

عَلَيْهِ	وَاَنْعَمْتَ	عَلَيْهِ	اَمْسِكْ	عَلَيْكَ	زَوْجَكَ	وَاتَّقِ
پر هغه	او انعام کړی ؤ تا	پر هغه	چي وساته ته	پر ځان	ښځه ستا	او بيريږه

پر هغه (په اسلام سره) او انعام کړی ؤ تا پر هغه (په آزادولو سره) چي وساته ته په ځان ښځه ستا او بيريږه

اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ

اللّٰهَ	وَتُخْفِيْ	فِيْ نَفْسِكَ	مَا اللّٰهُ	مُبْدِيْهِ
له الله	حال دا چي پټوله تا	په زړه خپل کښی	هغه خبره چي الله	ښکاره کوونکی ؤ د هغی

له الله (په طلاق) حال دا چي پټوله (ای محمده!) تا په زړه خپل کښی هغه خبره چي الله ښکاره کوونکی ؤ د هغی

وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا

وَتَخْشَى	النَّاسَ	وَاللّٰهُ	اَحَقُّ	اَنْ تَخْشٰىهُ	فَلَمَّا	قَضٰى	زَيْدٌ	مِّنْهَا
او بيريدی ته	له خلکو	او الله	ډير لايق دی	ددی چي وبيريږی ته له ده څخه	کله چي	تمام کړ	زيد	له دغی څخه

او بيريدی ته له خلکو او الله ډير لايق دی د دی چي وبيريږی ته له ده څخه کله چي تمام کړ زيد له دغی (زينب) څخه

وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْٓ اَزْوَاجِ

وَطَرًا	زَوَّجْنٰكَهَا	لِكَيْ	لَا يَكُوْنَ	عَلَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	حَرَجٌ	فِيْٓ اَزْوَاجِ
خپل غرض	نو په نکاح درکړه موږ تا ته دغه	دپاره د دی	چي نه وی	پر	پر مؤمنانو	سختی	په ښځو

خپل غرض نو په نکاح درکړه موږ تا ته دغه (زينب) دپاره د دی چي نه وی پر مؤمنانو سختی په (نکاح کولو د) ښځو

وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ... شان نزول: دحضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها نکاح دنبي کريم ﷺ په حکم سره دحضرت زيد ابن حارثه رضي الله عنه سره وسوه مگر ددواړو موافقت په طبيعتونو کي رانه غی.: حضرت زيد رضي الله عنه به ددې دتيزي ژبي او نسبي شرافت پر بنا خپل ځان دلوړ گڼلو او په اطاعت کي دکوتاهی کولو شکايت کوی بل طرف ته نبي کريم ﷺ ته په ذريعه دوحی دا ښوول سوې وه چي حضرت زيد رضي الله عنه به دې ته طلاق ورکوي او بيا به دا ستا په نکاح کي راځي: يوه ورځ حضرت زيد رضي الله عنه داشکايتونه دنبي کريم ﷺ په مخکي بيان کړل او خپله دااراده يې ظاهره کړه چي دې ته طلاق ورکي: نبي کريم ﷺ ته که څه هم دالله جل جلاله دطرف څخه دامعلومه سوې وه چي واقعه هم دغسي پېښيدونکې ده چي زيد رضي الله عنه به دې ته طلاق ورکي او دا به دنبي کريم ﷺ په نکاح کي راسي: ليکن په دوو وجهو سره حضور ﷺ حضرت زيد رضي الله عنه دطلاق ورکولو څخه منع کی: اول داچي طلاق ورکول که څه هم په اسلامي شريعت کي جائز دی: پاته قصه پر راروان مخ وگوری.

اَدۡعِيَآئِهِمۡ اِذَا قَضَوۡا مِنۡهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمۡرُ اللّٰهِ مَفۡعُوۡلًا ﴿۳۷﴾

اَدۡعِيَآئِهِمۡ	اِذَا	قَضَوۡا	مِنۡهُنَّ	وَطَرًا	وَكَانَ	اَمۡرُ اللّٰهِ	مَفۡعُوۡلًا
دخولي ويلو سوو زامنو د دوی	کله چی	تمام کړی	له دوی ښځه	حاجت	او دی	حکم د الله	هرومرو کیدونکی

د ادعیاؤ د دوی کله چی تمام کړی (دغه ادعیاء) له دوی ښځه غرض او دی امر ، حکم د الله کیدونکی هرومرو .

مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنۡ حَرَجٍ فِيۡمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ سُنَّةَ

مَا كَانَ	عَلَى النَّبِيِّ	مِنۡ حَرَجٍ	فِيۡمَا	فَرَضَ	اللّٰهُ	لَهٗ	سُنَّةَ
نسته	پر نبی	هیڅ قدر سختی	په هغه خبره کښی	چی مقرر کړی وه	الله	ده ته	طریقه مقرره کړی ده

نسته پر نبی هیڅ قدر سختی (او وبال) په هغه کار کښی چی مقرر کړی وه الله ده ته طریقه مقرره کړی ده

اللّٰهِ فِي الَّذِيۡنَ خَلَوۡا مِنۡ قَبۡلُ ؕ وَكَانَ اَمۡرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَّقۡدُوۡرَا ۙ﴿۳۸﴾

اللّٰهِ	فِي الَّذِيۡنَ	خَلَوۡا	مِنۡ قَبۡلُ	وَكَانَ	اَمۡرُ اللّٰهِ	قَدَرًا	مَّقۡدُوۡرَا
الله	په هغو کښی	چی تیر سوی دی	مخکی له دی ښځه	او دی	حکم د الله	مقرر سوی	پر صحیح اندازه

الله په هغو (انبیاؤ کښی) چی تیر سوی دی اولنی (مخکښی) له دی ښځه ، او دی امر ، حکم د الله یو حکم مقرر کړی سوی

الَّذِيۡنَ يُبَلِّغُوۡنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخۡشَوۡنَهٗ وَلَا يَخۡشَوۡنَ

الَّذِيۡنَ	يُبَلِّغُوۡنَ	رِسٰلٰتِ	اللّٰهِ	وَيَخۡشَوۡنَهٗ	وَلَا يَخۡشَوۡنَ
هغه (انبیاء	چی رسوی	پیغامونه	د الله	او بیریږی له دغه الله ښځه	او نه بیریږی

(په قطع او جزم سره) هغه (انبیاء) چی رسوی پیغامونه د الله (امتیانو خپلو ته) او بیریږی له دغه (الله) او نه بیریږی

اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيۡبًا ﴿۳۹﴾ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ

اَحَدًا	اِلَّا اللّٰهَ	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ	حَسِيۡبًا	مَا كَانَ	مُحَمَّدٌ
د بل هیچا	مگر یوائی له الله	او کافی دی	الله	بنه حساب کوونکی	او نه دی	محمد ﷺ

د بل هیچا مگر یوائی له الله او کافی (بس) دی الله بنه حساب کوونکی (د بندگانو). او نه دی محمد (صلی الله علیه وسلم)

اَبَآ اَحَدٍ مِّنۡ رِّجَالِكُمۡ وَلٰكِنۡ رَّسُوۡلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ

اَبَآ	اَحَدٍ	مِّنۡ رِّجَالِكُمۡ	وَلٰكِنۡ	رَّسُوۡلَ	اللّٰهِ	وَخَاتَمَ	النَّبِيّٖنَ
پلار	د هیڅ یو تن	له سړیو ستاسی	او لیکن	رسول	د الله دی	او مهر (اخیری د ټولو)	انبیاؤ دی

(حقیقی) پلار د هیڅ یو تن له سړیو ستاسی ولیکن رسول د الله دی (په شان د معنوی پلار) او مهر د (ټولو) انبیاؤ دی

حَــــرَجٌ فِيۡٓ اَزۡوَاجِ
اَدۡعِيَــآئِهِمۡ اِذَا قَضَــوۡا
د تیر مخ پاته بیان دلته
وگوری : مگر بنه نه دی
بلکي په جائزو شیانوکي
د ټولو ښځه زیات مبغوض
او مکروه دی او په
تکویني طور سره دیو کار
واقع کیدل تشریعي حکم
نه متاثره کوي. دوهم په
زړه مبارک کي یي دا خیال
پیدا سو چي که حضرت
زید ﷺ طلاق ورکی او بیا
د حضرت زینب سره د دوی
نکاح وسي نو عرب به
د خپل جاهلیت د دستور
مطابق دا طعن ورکوي چي
د خپل زوی د ښځي سره یي
نکاح وکړه که څه هم قرآن
کریم د جاهلیت دا دستور
د سورت احزاب په تیرو
سوو ایاتونو سره ختم کړی
دی ددې ښځه وروسته
چامومن ته خو ددې
وسوسې خطره هم نه وه
مگر کفار کمو چي قرآن نه
مني هغوی د خپل جاهلانه
رسم یعني متبنی زوی په
ټولو احکاموکي د حقیقي
زوی په شان د گڼلو پر بنا
ژبي په طعن باندي
چلوي دا اندیښنه د حضرت
زید ﷺ د طلاق ورکولو
ښځه د منع کولو سبب
جوړه سوه په دې باندي
د الله ﷻ د طرف ښځه
محبوبانه عتاب د قرآن په
دې ایاتونوکي نازل سو.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص ۲۶)

۵ ع ۲ ۲

وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ۝ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا

وَكَانَ	اللّٰهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيمًا	يٰٓأَيُّهَا	الَّذِينَ	اٰمَنُوا	اذْكُرُوا
او دی	الله	پر هر شی	ښه عالم	ای	هغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	یادوئ

(چی پس له دی څخه بل نبی نه ستهٔ) او دی الله پر هر شی ښه عالم. ای هغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی یادوئ

اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ۝ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ۝

اللّٰهَ	ذِكْرًا	كَثِيرًا	وَسَبِّحُوهُ	بُكْرَةً	وَأَصِيلًا
الله	په یادولو	ډیرو سره	او تسبیح وایئ دده ته	په سهار	او په ماښام کښی

الله په یادولو ډیرو سره. او تسبیح وایئ (لمونځ کوئ) دده ته په سهار او په ماښام کښی.

هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ

هُوَ	الَّذِي	يُصَلِّي	عَلَيْكُمْ	وَمَلٰٓئِكَتُهُ	لِيُخْرِجَكُمْ
دی	هغه (الله) دی	چی رحمت (نازلوی)	پرتاسی	او ملائیکی د دغه (الله)	دپاره ددی چی وباسی (الله) تاسی

دی هغه (الله) دی چی رحمت (نازلوی) پرتاسی او ملائیکی د دغه (الله) دپاره ددی چی وباسی (الله) تاسی

مِّنَ الظُّلُمٰتِ إِلَى النُّورِ ۚ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ۝ تَحِيَّتُهُمْ

مِّنَ الظُّلُمٰتِ	إِلَى النُّورِ	وَكَانَ	بِالْمُؤْمِنِينَ	رَحِيمًا	تَحِيَّتُهُمْ
له تیارو (دکفره)	رڼا ته	او دی (الله)	پر مؤمنانو	ډیر رحم والا	دعاء د دوی

له تیارو (دکفره) رڼا ته (داسلام) او دی (الله) پر مؤمنانو ډیر رحم والا. (دالله) پیشکش دوی ته

يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلٰمٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا

يَوْمَ	يَلْقَوْنَهُ	سَلٰمٌ	وَأَعَدَّ	لَهُمْ	أَجْرًا
په هغی ورځی	چی ملاقات وکړ دوی له دغه (الله) سره	سلام دی	او تیار کړی دی (الله)	دوی ته	اجر

په هغی ورځی چی ملاقات وکړی دوی له دغه (الله) سره سلام دی او تیار کړی دی (الله) دوی ته اجر

كَرِيمًا ۝ يٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّآ أَرْسَلْنٰكَ شٰهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيرًا ۝

كَرِيمًا	يٰٓأَيُّهَا	النَّبِيُّ	إِنَّآ	أَرْسَلْنٰكَ	شٰهِدًا	وَّمُبَشِّرًا	وَّنَذِيرًا
دعزت	ای	نبی	بیشکه! موږ	لیږلی مو یئ ته	شاهد	او زیری ورکوونکی	او ویروونکی

ډیر لوی (جنت). ای نبی بیشکه! موږ لیږلی مو یئ ته شاهد او زیری ورکوونکی او ویروونکی.

یٰٓأَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا.. دالله جل جلاله ذکر داسي عبادت دی کم چي په هرحالت کي فرض: او ددي په کثرت سره دکولو حکم دی. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چي الله جل جلاله پر خپلو بندگانو دذکر الله څخه ماسوا هيڅ داسي فرض نه دی عايد کړی دکم چي څه خاص حد مقرر نه وي لمونځ پنځه وخته او دهريوه لمونځ رکعتونه متعين دي: درمضان روژې متعيني اومقرري دي حج هم په خاص مقام کي دخاصو مقررو عملونو نوم دی: زکوة هم په کال کي يو وار فرض وي مگر ذکر الله داسي عبادت دی چي نه ددې څه حد او تعداد متعين دی او نه يي څه خاص وخت او زمانه مقرره ده نه ددې څه خاص هيئت قيام او ناسته مقرره ده او نه ددې دپاره پاکوالی او په اوداسه کي کيدل شرط دي هر وخت په هر حال کي دذکر الله په کثرت سره دکولو حکم دی سفر وي که حضر، تندرستي وي او که بيماري، پروچه وي که په درياب کي، شپه وي او که ورځ په هرحال دذکر الله حکم دی: په دي وجه ددې په پرينښوولو کي دانسان څه عذر مسموع نه دی.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص ۴۶)

وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ

وَّدَاعِيًا	اِلَى اللّٰهِ	بِاِذْنِهٖ	وَسِرَاجًا	مُّنِيْرًا	وَبَشِّرِ
او بلونکی	الله ته	په حکم د ده (الله)	او څراغ	روښانه کوونکی	او زيری وکړه

او بلونکی (دخلکوعبادت د) الله ته په اذن حکم د دی (الله) اوديوه روښانه کوونکی. او زيری وکړه

الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا كَبِيْرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ

الْمُؤْمِنِيْنَ	بِاَنَّ	لَهُمْ	مِّنَ اللّٰهِ	فَضْلًا	كَبِيْرًا	وَلَا تُطِعِ
پر مؤمنانو	په دی چی بیشکه!	سته دوی ته	له (طرفه د) الله	فضل	ډیر لوی (جنت)	او مه منه (حکم)

پر مؤمنانو په دی چی بیشکه! سته دوی ته له (طرفه د) الله فضل ډیر لوی (جنت). او مه منه (حکم)

الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى

الْكٰفِرِيْنَ	وَالْمُنٰفِقِيْنَ	وَدَعْ	اَذٰىهُمْ	وَتَوَكَّلْ	عَلَى اللّٰهِ	وَكَفٰى
دکافرانو	او منافقانو	او پریږده	ضرر د دوی	او توکل وکړه	پر الله	او کافی دی

دکافرانو او منافقانو او پریږده ضرر د دوی (په انتقام اخیستلو کښی) او توکل وکړه پر الله او کافی دی

بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٤٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ

بِاللّٰهِ	وَكِيْلًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِذَا	نَكَحْتُمُ	الْمُؤْمِنٰتِ
الله	وکیل	ای	هغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	کله چی	په نکاح واخلی	مؤمنی ښځی

الله وکیل (کارجوړوونکی) . ای هغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی کله چی په نکاح واخلی مؤمنی ښځی

ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ

ثُمَّ	طَلَّقْتُمُوْهُنَّ	مِنْ قَبْلِ	اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ	فَمَا لَكُمْ	عَلَيْهِنَّ
بیا	طلاقی کړی تاسی دوی	دمخه تر دی چی	تاسی لاس وروړئ دوی ته	پس نسته تاسی ته	پر دغو مطلقاتو

بیا طلاقی کړی تاسی دوی پخوا (دمخه) له دی څخه چی مسه وکړی له دوی سره پس نسته تاسی ته پر دغو مطلقاتو

مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿٤٩﴾

مِنْ عِدَّةٍ	تَعْتَدُّوْنَهَا	فَمَتِّعُوْهُنَّ	وَسَرِّحُوْهُنَّ	سَرَاحًا	جَمِيْلًا
هیڅ شمیر	چی شمیری به تاسو هغه	نو ورکړئ دوی ته څه فائده	او رخصت کړئ دوی	په رخصت کولو	ښو سره

هیڅ شمیر (دورځو) چی شمیری به تاسو هغه، نو ورکړئ دوی ته څه فائده او خوشی کړئ دوی په خوشی کولو ښو سره.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ. دنکاح او طلاق احکام: اولنی حکم دنکاح چي دلته بيان سوی دی هغه دادی چي ديوي ښځي سره دنکاح کولو څخه وروسته دخلوت صحيح څخه مخکي په څه وجه سره دطلاق نوبت راسي نو په طلاقي سوي ښځي څه عده واجب نه ده دافورا بله نکاح کولای سي په ذکر سوي آيت کي دلاس لګولو څخه مراد صحبت او دصحبت حقيقي يا حکمي کيدل او ددواړو يو حکم کيدل دي: او صحبت حکمي خلوت صحيحه کيدل دي: دوهم حکم دادی چي طلاقي سوي ښځي ته په شرافت او حسن خلق سره رخصت دڅه سامانه سره ورکړی څه سامان ورکول او رخصت کول دهري طلاقي سوي ښځي دپاره مستحب او سنت دی او په ځينو صورتونوکي واجب دی. په بدايع کتاب کي ليکلي دي چي دمتعې دطلاق څخه مراد هغه جامه ده کمه چي ښځه دکور څخه دوتلو په وخت کي خامخا استعمالوي په دي کي پرتوګ ، قميص ، او ټادر او يو لوی ټادر کم چي دسر څخه تر پښو پوري بدن پټوي شامل دی.
(معارف القرآن ج٨ پ ٢٢ ص ٥٢)

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَحۡلَلۡنَا لَكَ اَزۡوَاجَكَ الّٰتِيۡٓ اٰتَيۡتَ

يٰٓاَيُّهَا	النَّبِيُّ	اِنَّآ	اَحۡلَلۡنَا	لَكَ	اَزۡوَاجَكَ	الّٰتِيۡٓ	اٰتَيۡتَ
اى	نبى	بيشكه! مونږ	حلالى كړى دى مونږ	تاته	ښځى ستا	هغه ښځى	چى وركړى دى تا

اى نبى بيشكه! مونږ حلالى كړى مو دى تاته ښځى ستا هغه ښځى چى وركړى دى تا

اُجُوۡرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِيۡنُكَ مِمَّآ اَفَآءَ اللّٰهُ

اُجُوۡرَهُنَّ	وَمَا	مَلَكَتۡ	يَمِيۡنُكَ	مِمَّآ	اَفَآءَ	اللّٰهُ
دوى ته مهرونه ددوى	او هغه ښځى	چى مالک سوى دى (دهغو)	راسته لاس ستا	له هغو	چى راګرځولى دى	الله

دوى ته مهرونه ددوى او هغه ښځى چى مالک سوى دى (دهغو) راسته لاس ستا له هغو (وينځو) چى راګرځولى دى الله

عَلَيۡكَ وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ

عَلَيۡكَ	وَبَنٰتِ	عَمِّكَ	وَبَنٰتِ	عَمّٰتِكَ	وَبَنٰتِ	خَالِكَ	وَبَنٰتِ
پر تا	او لونى	داكا ستا	او لونى	دعمه ستا	او لونى	دماما ستا	او لونى

پر تا (له كفارو) او لونى داكا ستا او لونى دعمه ستا او لونى دماما ستا او لونى

خٰلٰتِكَ الّٰتِيۡ هَاجَرۡنَ مَعَكَ ۫ وَامۡرَاَةً مُّؤۡمِنَةً اِنۡ

خٰلٰتِكَ	الّٰتِيۡ	هَاجَرۡنَ	مَعَكَ	وَامۡرَاَةً	مُّؤۡمِنَةً	اِنۡ
دخاله ستا	هغه ښځى	چى هجرت يئ كړى دى	له تا سره	او هغه ښځه	مؤمنه	چى

دخاله ستا هغه ښځى چى هجرت يئ كړى دى له تا سره او هغه ښځه مؤمنه چى

وَّهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ اِنۡ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنۡ يَّسۡتَنۡكِحَهَا ق

وَّهَبَتۡ	نَفۡسَهَا	لِلنَّبِيِّ	اِنۡ اَرَادَ	النَّبِيُّ	اَنۡ يَّسۡتَنۡكِحَهَا
وبخښى	نفس خپل	نبى ته	كه اراده وكړى	نبى	ددى چى په نكاح واخلى دغه (ښځه)

وبخښى نفس خپل نبى ته (بى له مهره) كه اراده وكړى نبى ددى چى په نكاح واخلى (بى مهره) دغه (ښځه)

خَالِصَةً لَّكَ مِنۡ دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ قَدۡ

خَالِصَةً	لَّكَ	مِنۡ دُوۡنِ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	قَدۡ
خالصه (جايزه ده)	تاته	غير له نورو	مؤمنانو	په تحقيق

خالصه (جايزه ده) تاته غير له نورو مؤمنانو په تحقيق

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَحۡلَلۡنَا لَكَ اَزۡوَاجَكَ. دنكاح په حكمونوكي دنبي كريم ﷺ يو څو خصوصيات:

په دغه آيت كي دالله ﷻ ارشاد او خطاب نبي كريم ﷺ ته دى چي مونږ حلالي كړي دي ستا دپار ستا ټولي موجوده بيبياني دكومو مهر چي تا ادا كړى دى: داحكم په ظاهره دټولو مسلمانانو دپاره عام دى مګر په دې كي وجه دخصوصيت داده چي ددغه آيت دنزول په وخت كي ددوى په نكاح كي دڅلورو څخه زياتي بيبياني موجودي وې او دعامو مسلمانانو دپاره دڅلورو څخه زياتي ښځي په يو وخت په نكاح كي لرل جائز نه دي. او په دې آيت كي چي يي كم دافرمايلي دي چي. **تايي مهر اداكړى وي.** داقيد داحتراز نه دى بلكي په حقيقت كي دواقعې اظهار دى چي څومره ښځي دنبي كريم ﷺ په نكاح كي رالي دوى ﷺ دټولو مهر ادا كى تريوې نيتي پوري نه دى پري ايښى دنبي كريم ﷺ عادت مبارک داوو چي چي دكم شي وركول به ددوى پر ذمه عائد سول نو هغه به يي فوراادا كوى كه چيري عذر نه واى الخ.
(معارف القرآن ج۸پ۲۲ص ۵۸)

عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ

عَلِمۡنَا	مَا فَرَضۡنَا	عَلَيۡهِمۡ	فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ	وَمَا	مَلَكَتۡ
معلوم دی موږ ته	هغه چې مقرر کړی دی موږ	پر دوی باندې	په حق د ښځو ددوی	او دهغو (وینځو)	چې مالکان دی

معلوم دی موږ ته هغه (حکم) چې مقرر کړی دی موږ پر دوی باندې په حق د ښځو د دوی او دهغو وینځو چې مالکان دی

أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ

أَيۡمَٰنُهُمۡ	لِكَيۡلَا يَكُونَ	عَلَيۡكَ	حَرَجٞ	وَكَانَ	ٱللَّهُ
راسته لاسونه (دهغو) د دوی	دپاره د دې چې نه وی	پر تا باندې	هیڅ سختی	او دی	الله

(دهغو) راسته لاسونه د دوی دپاره د دې چې نه وی پر تا باندې هیڅ حرج، سختی، او دی الله

غَفُورٗا رَّحِيمٗا ۝٥٠ تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ

غَفُورٗا	رَّحِيمٗا	تُرۡجِي	مَن تَشَآءُ	مِنۡهُنَّ	وَتُـٔۡوِيٓ
بښه بخښونکی	ډیر رحم والا	لیری کوی یې	هر هغه ښځه چې غواړې ته	له دغو (ښځو خپلو)	او رانژدې کوی

ښه بخښونکی ډیر رحم والا. لیرې ته کوی هر هغه ښځه چې غواړې ته له دغو ښځو خپلو او رانژدې کوی

إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا

إِلَيۡكَ	مَن تَشَآءُ	وَمَنِ	ٱبۡتَغَيۡتَ	مِمَّنۡ	عَزَلۡتَ	فَلَا
ځان ته	هر هغه ښځه چې غواړې ته	او هغه چې	بیایې غواړې	له هغو	چې لیرې کړې دی تا	پس نشته

ځان ته هره هغه ښځه (خپله) چې غواړې ته (دغو ښځو خپلو) او هغه چې بیایې غواړې له هغو چې لرې کړې دی پس نشته

جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ

جُنَاحَ	عَلَيۡكَ	ذَٰلِكَ	أَدۡنَىٰٓ	أَن تَقَرَّ	أَعۡيُنُهُنَّ	وَلَا يَحۡزَنَّ
هیڅ ګناه	پر تا باندې	دغه (اختیار) تاته	ډیر نژدې دی	چې یخې او روښانه سی	سترګې د دوی	او نه به غمجنې کیږی

هیڅ ګناه پر تا باندې، دغه تاته ډیر نژدې دی چې یخې او روښانه سی سترګې ددوی او نه به غمجنې کیږی

وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ

وَيَرۡضَيۡنَ	بِمَآ	ءَاتَيۡتَهُنَّ	كُلُّهُنَّ	وَٱللَّهُ	يَعۡلَمُ
او راضي کیږی دوی	په هغه شی	چې ورکوی ته دوی ته	ټولی د دوی	او الله ته	معلوم دی

او راضی (خوشحالیږی) دوی په هغه شی چې ورکوی ته دوی ته ټولی د دوی، او الله ته معلوم دی

قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ. دعامو مسلمانانو دپاره دښځي دمهر حکم: په دغه ایت کي دالله ﷻ ارشاد دی چي ای زما نبي دا ذکر سوي اوتیر سوي احکام ستا دپاره مخصوص دي دباقي مسلمانانو دنکاح دپاره چي موږ کم څه فرض کړي دي هغه موږ ته معلوم دي مثلا دعامو مسلمانانونکاح بغیر دمهر څخه نه سي کیدای اودکتابي ښځو سره ددوی نکاح کیدای سي دغه شان په تیرو احکامو کي چي کم قیدونه او شرطونه ستا دپاره ضروري سوي دي هغه دنورو دپاره نه دي په آخر کي الله ﷻ فرمایي.

لکیلا یکون علیک حرج: یعني دنکاح په معامله کي ستا دپاره دا خصوصي احکام په دې وجه سره دي چي پر تا تنګي نه وي او کم قیدونه او شرطونه چي پر تاباندي په نسبت دنورو مسلمانانو زیات لګول سوي دي که څه هم په ظاهره دایو قسم تنګي ده مګر دکمو مصلحتونو او حکمتونو تر مخه چي ستا دپاره داشرطونه لګول سوي دي په دې کي چي فکر وسي نو هغه هم ستا دروحاني پریشانی دلیري کولو دپاره دي.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص ۶۲)

لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعۡدُ وَلَآ اَنۡ تَبَدَّلَ

دموجوده بيبيانو څخه وروسته بياتاته دنورو ښځوسره نکاح نه ده رواه :

په دغه ايت کي بيآ الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته خطاب کړی دي چي ددې څخه وروسته ستا دپاره دنورو ښځو سره نکاح حلاله نه ده او داهم حلال نه دي چي په موجوده بيبيانوکي چاته طلاق ورکړي او ددوی پر ځای نوري واخلې: په دې آيت کي دلفظ د: مِن بعدُ :دوه تفسيرونه کيدای سي يودا چي مراد داوي چي وروسته ددغو ښځوڅخه کمي چي داوخت ستا په نکاح کي دي دبلي سره نکاح حلا له نه ده دځينو صحابه کرامو څخه او دتفسير شريف داامامانو څخه هم داتفسير نقل دی :لکه چي حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چي کله الله ﷻ بيبيانو ته اختيار ورکی چي ددنيا دطلب کولو د پاره ددوی څخه جدايي اختياروی او که ددوی سره چي څه تنگي يا فراخي راځي په هغه قناعت کوی اوددوی په ښځوالي کي اوسيږی؟ نو تولو پاکو بيبيانو دزياتي نفقي مطالبه پريښووله نو الله ﷻ داانعام دوی ته ورکی چي نوربه پر تاسو بله ښځه دده ﷺ په نکاح کي نه راځي

(معارف القرآن ج۸پ۲۲ص ۶۶)

مَا فِيۡ قُلُوۡبِكُمۡ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَلِيۡمًا ۝۵۱ لَا يَحِلُّ لَكَ

مَا	فِيۡ قُلُوۡبِكُمۡ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلِيۡمًا	حَلِيۡمًا	لَا يَحِلُّ	لَكَ
هر هغه څه	چي په زړونوستاسی کښی دی	او دی	الله	ښه عالم	ډير تحمل والا	نه دی حلالی	تاته

هر هغه څه چي په زړونو ستاسی کښی دی او دی الله ښه عالم ډير تحمل والا . نه دی حلالی تاته ښځی له دغو

النِّسَآءُ مِنۡۢ بَعۡدُ وَلَآ اَنۡ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ اَزۡوَاجٍ

النِّسَآءُ	مِنۡۢ بَعۡدُ	وَلَآ اَنۡ تَبَدَّلَ	بِهِنَّ	مِنۡ	اَزۡوَاجٍ
ښځی	پس له دغو	او نه دای چي بدلی کړی	پر ځای د دوی	له	نورو ښځو

(نهو ښځو چي اوس دی په نکاح دی) او نه (درته روا دغه) چي بدل کړی په دوی له نورو ښځو

وَّلَوۡ اَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِيۡنُكَ ؕ

وَّلَوۡ	اَعۡجَبَكَ	حُسۡنُهُنَّ	اِلَّا	مَا مَلَكَتۡ	يَمِيۡنُكَ
اگر که	تعجب دروِلی تاته	ښائست دهغو نورو هم	مگر	هغه وينځی چي مالک وی	راسته لاس ستا

اگر که تعجب دروِلی تاته ښائست د دهغو نورو هم، مگر (خوروا دی درته) هغه وينځی چي مالک وی راسته لاس ستا

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ رَّقِيۡبًا ۝۵۲ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

وَكَانَ	اللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ شَيۡءٍ	رَّقِيۡبًا	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا
او دی	الله	پر	هر شی باندی	ښه ساتونکی	ای	هغو کسانو	چي ايمان يئ راوړی دی

او دی الله په هر شي باندی ښه ساتونکی . ای هغو کسانو چي ايمان يئ راوړی دی

ع ۳

لَا تَدۡخُلُوۡا بُيُوۡتَ النَّبِيِّ اِلَّاۤ اَنۡ يُّؤۡذَنَ لَكُمۡ اِلٰى طَعَامٍ

لَا تَدۡخُلُوۡا	بُيُوۡتَ	النَّبِيِّ	اِلَّاۤ	اَنۡ يُّؤۡذَنَ	لَكُمۡ	اِلٰى طَعَامٍ
مه ننوځئ	کورونو	دنبی ته	مگر	چي اجازه وکړی سی	تاسی ته	طعام ته

مه ننوځئ کورونو دنبی ته مگر (هغه وخت) چي اجازه وکړی سی تاسی ته (خوړلو د) طعام ته

غَيۡرَ نٰظِرِيۡنَ اِنٰىهُ ۙ وَلٰكِنۡ اِذَا دُعِيۡتُمۡ فَادۡخُلُوۡا فَاِذَا

غَيۡرَ	نٰظِرِيۡنَ	اِنٰىهُ	وَلٰكِنۡ	اِذَا	دُعِيۡتُمۡ	فَادۡخُلُوۡا	فَاِذَا
چي نه اوسی	منتظر	پخلی د هغه ته	او ليکن	کله چي	وبلل سئ تاسی	پس ننوځئ	پس کله چي

په دغه حال کښی چي نه اوسی منتظر پخلی د هغه ته او ليکن کله چي وبلل سئ تاسی پس ننوځئ پس کله چي

طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ اِنَّ

طَعِمْتُمْ	فَانْتَشِرُوْا	وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ	لِحَدِيْثٍ	اِنَّ
طعام وخورئ	نو ولاړ سئ سره	او مه کښېنئ آرام نيوونکى	دپاره د خبرو	بيشکه!

طعام وخورئ نو خواره سئ (نور ځنډ مه کوئ هلته) او مه کينئ آرام نيوونکى دپاره د خبرو (يو له بل سره) بيشکه!

ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى النَّبِىَّ فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ وَاللّٰهُ

ذٰلِكُمْ	كَانَ	يُؤْذِى	النَّبِىَّ	فَيَسْتَحْيٖ	مِنْكُمْ	وَاللّٰهُ
دغه دى	داسى کار	چى تکليف رسوى	نبى ته	پس حياء کوى	له تاسى	او الله

دغه (کښيناستل) دى داسى کار چى تکليف رسوى نبى ته پس حياء کوى (نبى) له تاسى (چى وباسى تاسى) او الله

لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا

لَا يَسْتَحْيٖ	مِنَ الْحَقِّ	وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ	مَتَاعًا
حياء نه کوى	له حق	او کله چى غواړئ تاسى له دغو مطهراتو ازواجو څخه	څه شئ د نفعى

حياء نه کوى له (ويلو دخبرى) حق. او کله چى غواړئ تاسى له دغو (مطهراتو ازواجو) څخه د کوم متاع کار کوم شى

فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ

فَسْـَٔلُوْهُنَّ	مِنْ وَّرَآءِ	حِجَابٍ	ذٰلِكُمْ	اَطْهَرُ	لِقُلُوْبِكُمْ
پس غواړئ له دوى څخه	د باندى	د پردى	دغه کار	ډير پاک ساتونکى دى	د زړونو ستاسى

پس غواړئ هغه له دوى څخه د باندى د پردى دغه (غوښتل د باندى د پردى) د تاسى ډير پاک ساتونکى دى د زړونو ستاسى

وَقُلُوْبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَآ

وَقُلُوْبِهِنَّ	وَمَا كَانَ	لَكُمْ	اَنْ تُؤْذُوْا	رَسُوْلَ	اللّٰهِ	وَلَآ
او د زړونو د دوى	او نه ده روا	تاسى ته	دا چى تکليف ورسوئ	رسول	د الله ته	او نه ده

او د زړونو د دوى ، او نه ده روا تاسى ته دا چى تکليف (او ضرر) ورسوئ رسول د الله ته او نه ده (روا تاسى ته)

اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ

اَنْ تَنْكِحُوْٓا	اَزْوَاجَهٗ	مِنْۢ بَعْدِهٖٓ	اَبَدًا	اِنَّ	ذٰلِكُمْ	كَانَ
دا چى په نکاح واخلئ	ښځى د ده	پس له ده	هيڅکه	بيشکه!	دغه	ده

دا چى په نکاح واخلئ ښځى د ده پس له وفات (يا طلاق) د ده هيڅکله بيشکه! دغه (ايذاء د رسول او د ازواجو نکاح يئ) ده

فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ. دطعام دعوت او ميلمه ځيني اداب: په دغه آيت کي الله جل جلاله دطعام او دعوت او ميلمستيا متعلق ددرو احکامو بيان کړى دى او داحکم که څه هم دټولو مسلمانانو دپاره عام دى مگر سبب دنزول يي چونکي يوه خاص واقعه درسول الله ﷺ په مکان کي سويده په دي وجه يي په عنوان کي دبيوت النبي ذکر وفرمايه: اول ادب: دادى چي دنبي ﷺ کورته بغير داجازت څخه مه داخليږى: لاتدخلوا بيوت النبي الا ان يؤذن لکم. دوهم ادب: دادى چي کله دداخليدو اجازت بلکي دخوراک دعوت هم وي نو دوخت څخه مخکي تلل او دخوراک تياريدو په انتظار کښيناستل نه دي په کار: غير ناظرين اناه. دريم ادب: دادى چي کله دخوراک څخه فارغ سى نو خپلو خپلو کارونو ته ولاړسى ددعوت په کور کي دخبرو کولو دپاره مه کښيني: او داحکم هغه وخت دى کم ځاى چي عادتاً دميلمنو دخوراک څخه وروسته په کښينستلو سره وکوربه ته تکليف وي او که هغه ته تکليف نه وي نو بيا حرج نه لري. (معارف القرآن ج٨ پ٢٢ ص٧٠)

عِنۡدَ اللّٰهِ عَظِيۡمًا ﴿٥٣﴾ اِنۡ تُبۡدُوۡا شَيۡـًٔا اَوۡ تُخۡفُوۡهُ فَاِنَّ

عِنۡدَ اللّٰهِ	عَظِيۡمًا	اِنۡ تُبۡدُوۡا	شَيۡـًٔا	اَوۡ تُخۡفُوۡهُ	فَاِنَّ
پهنزد دالله	ډيره لويه	كه چيرى ښكاره كړئ تاسى	كوم شى	يا يئ پټ وساتى	پس بيشكه!

پهنزد دالله (ګناه) ډيره لويه. كه چيرى ښكاره كړئ كوم شى (تاسى په خوله) يا يئ پټ وساتى پس بيشكه !

اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيۡمًا ﴿٥٤﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيۡهِنَّ فِيۡۤ

اللّٰهَ	كَانَ	بِكُلِّ شَيۡءٍ	عَلِيۡمًا	لَا جُنَاحَ	عَلَيۡهِنَّ	فِيۡۤ
الله	دى	پر هر شى	ښه عالم	نشته ګناه	پر دغو ښځو	په

الله دى پر هر شى (داعمالو ستاسى) ښه عالم. نشته ګناه پر دغو ښځو په (مخامخ كيدلو د)

اٰبَآئِهِنَّ وَلَاۤ اَبۡنَآئِهِنَّ وَلَاۤ اِخۡوَانِهِنَّ وَلَاۤ اَبۡنَآءِ

اٰبَآئِهِنَّ	وَلَاۤ اَبۡنَآئِهِنَّ	وَلَاۤ اِخۡوَانِهِنَّ	وَلَاۤ اَبۡنَآءِ
پلرونو د دوى كښى	او نه په زامنو د دوى كښى	او نه په ورونو د دوى كښى	او نه په زامنو

پلرونو د دوى كښى او نه زامنو د دوى كښى او نه په ورونو د دوى كښى او نه په زامنو

اِخۡوَانِهِنَّ وَلَاۤ اَبۡنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ

اِخۡوَانِهِنَّ	وَلَاۤ اَبۡنَآءِ	اَخَوٰتِهِنَّ	وَلَا نِسَآئِهِنَّ
د ورونو د دوى كښى	او نشته ګناه په زامنو	د خويند د دوى كښى	او نه په ښځو د دوى

د ورونو د دوى كښى او نشته (ګناه پر دغو ښځو په مخامخ كيدلو د) زامنو د خويندو د دوى كښى او نه په ښځو د دوى

وَلَا مَا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُنَّ ۚ وَاتَّقِيۡنَ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى

وَلَا مَا مَلَكَتۡ	اَيۡمَانُهُنَّ	وَاتَّقِيۡنَ	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	عَلٰى
او نه په هغو چى مالكان وى	راسته لاسونه د دغو	او وبيريږئ	له الله	بيشكه!	الله	دى	پر

او نه په هغو (وينځو) چى مالكان وى راسته لاسونه د دغو (ښځو لره)، او وبيريږئ (اى ښځو) له الله! بيشكه! الله دى پر

كُلِّ شَيۡءٍ شَهِيۡدًا ﴿٥٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوۡنَ عَلَى

كُلِّ شَيۡءٍ	شَهِيۡدًا	اِنَّ	اللّٰهَ	وَمَلٰٓئِكَتَهٗ	يُصَلُّوۡنَ	عَلَى
هر شى باندى	شاهد ، عالم	بيشكه!	الله	او ملائيكى دالله	درود وايئ (رحمت ليږى)	پر

هر شى باندى ښه شاهد عالم. بيشكه! الله او ملائيكى دالله درود وايئ (رحمت ليږى) پر

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوۡنَ عَلَى النَّبِيِّ.. پر نبي كريم ﷺ باندي د درود او سلام ليږلو حكم: اصل مقصود په دغه آيت كي دادى چي الله ﷻ و مسلمانانو ته دا حكم وركړى دى چي پر نبي كريم ﷺ باندي درود او سلام وليږي مګر ددې په تعبير او بيان كي يي داسي وفرمايل چي اول الله ﷻ په خپله او په خپلو ملائكو سره پر نبي كريم ﷺ باندي درود او سلام ليږي ددې څخه يي وروسته عامو مسلمانانو ته دا حكم وركى: په دي كي يي ددوى شرف او عظمت دومره لوړ وفرمايي چي درسول الله ﷺ په شان كي دكم كار حكم مسلمانانو ته وركول سوى دى دا كار داسي دى چي په خپله حق تعالى ﷻ او دهغه ملائكو هم دا كار كړى دى او كوي بيا نو عام مومنان پر كم چي دنبي كريم ﷺ احسانات بې شميره دي دوى ته خو ددې عمل لوى اهتمام كول پكار دي: او يوه فائده په دې تعبير كي دا هم ده چي په دې سره د درود او سلام ليږونكو مومنانو يو ډير لوى فضيلت ثابت سو چي الله ﷻ دوى په دې كار كي شريك وفرمايل.
(معرف القرآن ج۸ پ ۲۲ ص ۹۲)

النَّبِيِّ ۚ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا

النَّبِيِّ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	صَلُّوْا	عَلَيْهِ	وَسَلِّمُوْا
نبی باندی	ای	هغوکسانو	چې ایمان يئ راوړی دی	درود ووايئ	پر هغه (نبی) باندی	او سلام (پری) ووايئ

نبی باندی ای هغو کسانو چې ایمان يئ راوړی دی درود ووايئ پر هغه (نبی) باندی او سلام (پری) ووايئ

تَسْلِيْمًا ﴿٥٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

تَسْلِيْمًا	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يُؤْذُوْنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ
په سلام ويلو سره	بیشکه!	هغه کسان	چې ایذاء رسوی	الله ته	او رسول د الله ته

په سلام ويلو سره. بیشکه! هغه کسان چې ایذاء رسوی الله ته (په ولد او شريک) او رسول د الله ته (په نسبت د سحر، جنون، شعر)

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿٥٧﴾

لَعَنَهُمُ	اللّٰهُ	فِي الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةِ	وَاَعَدَّ لَهُمْ	عَذَابًا	مُّهِيْنًا
لری کړی دی دوی	الله	په دنیا	او په آخرت کښې	او تيار کړی يئ دی دوی ته	عذاب	سپکوونکی

لری کړی دی دوی الله (له رحمته خپله) په دنیا او په آخرت کښې او تيار کړی يئ دی دوی ته عذاب سپکوونکی .

وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ

وَالَّذِيْنَ	يُؤْذُوْنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ	بِغَيْرِ
او هغه کسان	چې ایذاء رسوی	مؤمنانو سړیو ته	او مؤمنانو ښځو ته	بغیر

او هغه کسان چې ایذاء رسوی مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته (په اتهام) په غير

مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٥٨﴾ ع

ع ٧ ٤

مَا اكْتَسَبُوْا	فَقَدِ	احْتَمَلُوْا	بُهْتَانًا	وَّاِثْمًا	مُّبِيْنًا
د هغه کار چې کړی يئ وی دوی	پس په تحقيق	باروی دوی پخپل ځان	غټ دروغ	او ګناه	ښکاره

د هغه کار چې کړی يئ وی دوی پس په تحقيق باروی دوی پخپل ځان غټ دروغ او ګناه ښکاره (چې د عقوبت موجب دی) .

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ

يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	قُلْ	لِّاَزْوَاجِكَ	وَبَنٰتِكَ	وَنِسَآءِ
ای	نبی	ووايه	ښځو ته دی	او لوڼو ته دی	او ښځو (د نورو)

ای نبی ووايه ښځو ته دی او لوڼو ته دی، او ښځو (د نورو)

اِنَّ الَّـــذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ..الله ﷻ او د الله ﷻ رسول ﷺ ته ازار ورکول سبب د لعنت دی

په دغه ايت کي د الله ﷻ ارشاد دی چي څوک الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ته آزار رسوي پر داسي کسانو الله ﷻ په دنيا او آخرت کي لعنت کړی دی او دوی ته يو سپکوونکی عذاب ګوري :په دغه آيت کي د آزار رسوولو څخه مراد هغه کارونه او خبري دي کم چي عادتاً د آزار سبب جوړيږي که څه هم د الله ﷻ ذات پاک د هر تاثر او انفعال څخه بالاتر دی د هيچا مجال نسته چي هغه ته څه تکليف ورسوي ليکن داسي کارونه په کمو سره چي عادتاً آزار رسول کيږي هغه يي الله ﷻ ته په آزار رسولو سره تعبير کړه : په دي کي د تفسير د امامانو اختلاف دی چي دلته د الله ﷻ د آزار ورکولو څخه څه مراد دي ؟ ځينو امامانو هغه اقوال او افعال د دغه آزار مصداق مقرر کړي دي د کمو په باره کي چي نبي کريم ﷺ په زباني احاديثو کي ښوولي وي چي د الله ﷻ د آزار سبب دی مثلا د مصيبت په وخت کي زماني ته بد ويل چي په حقيقت کي حقيقي فاعل الله ﷻ دی الـخ.

(معارف القرآن ج٨ پ ٢٢ ص ٩٨)

الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ذٰلِكَ

ذٰلِكَ	جَلَابِيْبِهِنَّ	مِنْ	عَلَيْهِنَّ	يُدْنِيْنَ	الْمُؤْمِنِيْنَ
دغه (پټول دبدن)	تکريو ،پوړونو خپلو څخه	له	پرتولو ځانونو خپلو	چې راکښته ساتي	مؤمنانو ته

مؤمنانو ته چې خواره دې کاندی پرتولو ځانونو خپلو له تکريو (ځادرونو) پوړونو خپلو څخه ، دغه (پټول د بدن)

اَدْنٰٓی اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

غَفُوْرًا	اللّٰهُ	وَكَانَ	فَلَا يُؤْذَيْنَ	اَنْ يُّعْرَفْنَ	اَدْنٰٓی
ښه بخښونکی	الله	او دی	پس ايذاء به ونه سی رسولی دوی ته	چې وبه پيژندی سی دوی	نژدی دی دی ته

نژدی دی دی ته چې وبه پيژندی سی دوی (چې اصيلی دی) پس ايذاء به ونه سی رسولی دوی ته او دی الله ښه بخښونکی

رَّحِيْمًا ۝٥٩ لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

فِيْ قُلُوْبِهِمْ	وَالَّذِيْنَ	الْمُنٰفِقُوْنَ	لَّمْ يَنْتَهِ	لَئِنْ	رَّحِيْمًا
په زړونو د دوی کښی	او هغه کسان چې	منافقان	که منع نسول	قسم دی	ډير رحم والا

ډير رحم والا. قسم دی که منع نسول منافقان (له نفاق څخه) او هغه کسان چې په زړونو د دوی کښی

مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ

لَنُغْرِيَنَّكَ	فِي الْمَدِيْنَةِ	وَّالْمُرْجِفُوْنَ	مَّرَضٌ
نو خامخا مسلط به کړو موږ خامخا تا	په (ښارد) مدينی کښی	او بدی آوازی ګډوونکی	رنځ دی

رنځ دی (دزناء ، بدی کار کولو) او بدی آواز ګډوونکی په (ښارد) مدينی کښی نو خامخا مسلط به کړو موږ خامخا تا

بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ۝٦٠

قَلِيْلًا	اِلَّا	فِيْهَآ	لَا يُجَاوِرُوْنَكَ	ثُمَّ	بِهِمْ
لږ وخت	مګر	په دغه (مدينی کښی)	همسايه توب ونه کړی دتا	بيا به	پردوی

پر دوی بيا به همسايه توب ونه کړی (دوی) دتا په دغه (مدينی کښی) مګر لږ وخت

مَّلْعُوْنِيْنَ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ۝٦١

تَقْتِيْلًا	وَقُتِّلُوْا	اُخِذُوْا	ثُقِفُوْٓا	اَيْنَمَا	مَّلْعُوْنِيْنَ
په وژلو	او وبه وژلی سی	وبه نيولی سی	چې پيدا کړل سی	هرچيری	رټلی ترټلی سوی دی

رټلی ترټلی سوی دی هرچيری چې وموندلی سی وبه نيولی سی او وبه وژلی سی په وژلو (دخواری سره).

يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ذٰلِكَ..

دمنافقينو دوه قسمه ازارونه ومسلمانانو او نبي كريم ﷺ ته رسيدل

دمنافقينو دطرفه څخه دوه قسمه آزارونه مسلمانانو او نبـي كـريم ﷺ تـه رسيدل پـه دي دواړو ازارونو كي يو آزار داوو چي عـام منـافقين او بـې لاري خلـګ مسـلمانانې مينځې چې كله دڅه كار دپاره دباندي ووزي دوی بيي پلټـي او كلـه بـه يـي دمينځو په شك كي آزادي ښځې آزارولې چې ددې په وجه به عـامو مسلمانانو ته او نبـي كـريم ﷺ تـه آزار رسيدی. دوهم آزار داوو چي دې خلګـو بـه هميشـه داسي درواغ خبري كولې چې اوس فلانی دښمن پر مـدينې منـوري حملـه كوونكې دی هغه به هر څه خـتم كـړي: پـه ذكـر ســوو اياتونو كــي داول آزار څخـه دآزادو بيبيـانو دمحفــوظ كولوفــوري او آسـان انتظـام داكيـدای سوچې دوی لره دې خلګو ددوی دخانـداني وجاهـت او حمايت پـه وجـه قصدا دپلټلو جرأت نه سو كولای نو كله كله بـه دمينځو پـه شــك كـي دوی هـم ددې جنجال په منګلو كي راتلې كـه دوی يـې پيژنـدلاې نـو داخبـره نـه پيښيـده. پاتـه بيان پر راروان مخ وګوری

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ

سُنَّةَ	اللّٰهِ	فِي الَّذِيْنَ	خَلَوْا	مِنْ قَبْلُ	وَلَنْ تَجِدَ
دا يوه لاره ايښې ده	الله	(لاره) په حق دهغو کښې	چي تير سوي دي	پخوا له دی څخه	او له سره به پيدا به نه کړې ته

دا يوه لاره ايښې ده الله لاره په حق د هغو (منافقانو مرجفانو) کې چې تير سوي دي پخوا له دې څخه او له سره به نه مومې ته

لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٦٢﴾ يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۭ قُلْ

لِسُنَّةِ	اللّٰهِ	تَبْدِيْلًا	يَسْـَٔلُكَ	النَّاسُ	عَنِ السَّاعَةِ	قُلْ
لاری	دالله ته	هيڅ تبديل تغير	پوښتنه کوی له تا څخه	خلګ	له قيامت	ووايه (محمده)

لارې دالله ته هيڅ تبديل تغير. پوښتنه کوی له تا څخه خلګ له قيامت (دراتلو چې کله دی؟) ووايه(ای محمده! دوی ته)

إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ

إِنَّمَا	عِلْمُهَا	عِنْدَ اللّٰهِ	وَمَا	يُدْرِيْكَ	لَعَلَّ	السَّاعَةَ
بيشکه! هم دا خبره ده	علم دقيامت	په نزد دالله دی	او څه شی	پوه کړی يئ ته	ښايئ چي	قيام دقيامت

بيشکه! هم دا خبره ده علم دقيامت (خاص) په نزد د الله دی او څه شي پوه کړي يئ ته (په قيامت) ښايئ چي قيام دقيامت

تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ إِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾

تَكُوْنُ	قَرِيْبًا	إِنَّ	اللّٰهَ	لَعَنَ	الْكٰفِرِيْنَ	وَأَعَدَّ لَهُمْ	سَعِيْرًا
دی	نژدی وی	بيشکه!	الله	رټلی دی	کافران	او تيار کړي يئ دی دوی ته	سختی لمبی وهونکی اور

دی نژدی وی. بيشکه! الله رټلي دی کافران (منکران) او تيار کړي يئ دی دوی ته سختي لمبي وهونکي اور .

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ أَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا

خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ	أَبَدًا	لَا يَجِدُوْنَ	وَلِيًّا
چي هميشه به اوسيږی	په دغه اور کښی	تل ترتله	نه به پيدا کوی دوی	هيڅ دوست

په دغه حال کښې چې هميشه به اوسيږي په دغه اور کښې تل ترتله نه به پيدا کوی دوی هيڅ دوست

وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ

وَّلَا نَصِيْرًا	يَوْمَ	تُقَلَّبُ	وُجُوْهُهُمْ	فِي النَّارِ	يَقُوْلُوْنَ
او نه کوم مدد ګار	هغه ورځ	چي اړولی را اړولی به سی	مخونه د دوی	په اور کښی	وايئ به دوی

او نه کوم مدد ګار. هغه ورځ چې چورلولی به سی مخونه د دوی په اور کښی وايئ به دوی

يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ قُلْ إِنَّمَا.. دتير مخ پاته بيان دلته وګورئ: نو په دې وجه ضرورت پيښ سو چې دآزادو ښځو څه خاص امتياز او جلاوالي وسي چي په اسانی سره په خپله دوی دغو شريرانو شر څخه په فوري طور محفوظه سي او دمينځو دپاره بل انتظام وسي: بل طرف ته اسلامي شريعت دآزادو ښځو او مينځو په شرعي پرده کي په ضرورت سره يو فرق دا هم ايښي دی چي دمينځو شرعي پرده هغه ده که چي دآزادو ښځو دخپلو محرمانو په وړاندي ده چي مثلا مخ وغيره ښكاره كول كم چي دآزادو ښځو دپاره دخپلو محرمانو په وړاندي جآيز دي. دمينځودپاره دباندي هم ددي اجازت ځكه وركړل سوی دی چي د دوی کاردااووچي دخپلو مالکانو او ددوی د کورونو خدمت وكړي چي ددي دپاره دوی دباندي بار بار وزي او مخ او لاسونه پټ ساتل ورته مشكل دي په خلاف د آزادوښځو چي كه دوی دڅه ضروورت دپاره د باندي هم ووزي نو کله وي چي په دي کي دپوره پردې رعايت ددوی دپاره څه مشكل كار نه دی الخ.
(معارف القرآن ج۸پ۲۲ص۱۰۳)

الربع

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ. بني اسرائيلو پر حضرت موسى عليه السلام باندې تهمت ولګوى الله جل جلاله هغه غلط ثابت كې

دحضرت موسى عليه السلام قصه په خپله نبي كريم ﷺ بيان كړيده او دې آيت تفسير يې كړى دى كمه چې امام بخارى رحمه الله په كتاب التفسير كې او كتاب الانبياء كې په روايت دحضرت ابو هريره رضي الله عنه نقل كړيده چې نبي كريم ﷺ وفرمايل چې حضرت موسى عليه السلام ډير حياكوونكى او دخپل بدن پټوونكى وو دوى بدن به هيچا نه سواى ليدلى كله چې به يې غسل كوى نو په پرده كې دننه به يې غسل كوى ددوى په قوم بنى اسرآئيلو كې په عمومي ډول سره دارواج ووچې سړي به دخلګو په مخكې ځان لغړ كوى او لمبيدى به نو ځينې بنى اسرآئيلو به ويل چې دحضرت موسى عليه السلام دچا په مخكې دنه لمبيدو سبب دادى چې دده په بدن كې څه عيب دى يا خو وربانديې دفيس مرض دى يا يې خصيتين: يعني خوټي ډيرې غټې دي: يا يو بل آفت دى وربانــدې: الله جل جلاله اراده وفرمايله چې حضرت موسى عليه السلام: پاتـه بيـان پـر راروان مـخ وګـورى.

يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴿٦٦﴾ وَقَالُوْا

يٰلَيْتَنَآ	اَطَعْنَا	اللّٰهَ	وَاَطَعْنَا	الرَّسُوْلَا	وَقَالُوْا
اى كاشكې موږ	اطاعت كړې وې موږ	دالله	او اطاعت كړې وې موږ	درسول (دالله)	او وايئ دوى

اى كاشكې موږ اطاعت كړې وې موږ دالله او اطاعت كړې وې موږ د رسول (دالله). او وايئ دوى

رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا

رَبَّنَآ	اِنَّآ	اَطَعْنَا	سَادَتَنَا	وَكُبَرَآءَنَا	فَاَضَلُّوْنَا
اى ربه زموږ	بيشكه! موږ	اطاعت كړې ؤ موږ	دمشرانو خپلو	او دغټانو خپلو	پس وركه كړه دوى له موږ ځينې

اى ربه زموږ بيشكه! موږ اطاعت كړې و موږ د مشرانو خپلو او دغټانو خپلو پس وركه كړه دوى له موږ ځينې

السَّبِيْلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ

السَّبِيْلَا	رَبَّنَآ	اٰتِهِمْ	ضِعْفَيْنِ	مِنَ الْعَذَابِ
سمه لاره	اى ربه زموږ	وركړه دوى ته	دوچنده	له عذابه

سمه لاره. اى ربه زموږ وركړه دوى ته دوچنده له عذابه

وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿٦٨﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا — ع ٨ ٥

وَالْعَنْهُمْ	لَعْنًا	كَبِيْرًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَكُوْنُوْا
او لرى كړه دوى له رحمته خپله	په رټلو ترټلو	لويو سره	اى	هغو كسانو	چې ايمان يئ راوړى دى	مه كيږئ

او لرى كړه دوى له رحمته خپله په رټلو ترټلو لويو سره. اى هغو كسانو چې ايمان يئ راوړى دى مه كيږئ

كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا ؕ

كَالَّذِيْنَ	اٰذَوْا	مُوْسٰى	فَبَرَّاَهُ	اللّٰهُ	مِمَّا	قَالُوْا
په شان دهغو كسانو	چې ايذاء يئ رسولى وه	موسٰى ته	پس پاک كړ دغه	الله	له هغو	چې دوى پرويل

په شان دهغو كسانو چې ايذاء يئ رسولى وه موسٰى ته پس پاک كړ دغه (موسٰى لره) الله له هغو دروغو چې دوى پر ويل

وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ﴿٦٩﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا

وَكَانَ	عِنْدَ اللّٰهِ	وَجِيْهًا	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا
او وو (موسٰى)	په نزد دالله كښې	ډير مخور	اى	هغو كسانو	چې ايمان يئ راوړى دى	وبيريږئ

او وو (موسٰى) په نزد دالله كښې وجيه (مخور خاوند دعزت). اى هغو كسانو چې ايمان يئ راوړى دى وبيريږئ دعذابه

اللّٰهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝٧٠ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ

اللّٰهَ	وَقُوْلُوْا	قَوْلًا	سَدِيْدًا	يُّصْلِحْ	لَكُمْ	اَعْمَالَكُمْ
د الله	او ووايئ	خبره	سمه محكمه، رښتيا	چې نيک ، صالح کړي (الله)	تاسې ته	عملونه ستاسې

دالله او ووايئ خبره سمه محكمه رښتيا! چې نيک صالح کړي (الله) تاسې ته عملونه ستاسې

وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۗ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ

وَيَغْفِرْ لَكُمْ	ذُنُوْبَكُمْ	وَمَنْ	يُّطِعِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	فَقَدْ
او وبخښي (الله) تاسې ته	گناهونه ستاسې	او هرچاچې	اطاعت وکړ	دالله	او د رسول د دغه (الله)	پس په تحقيق

او وبخښي (الله) تاسې ته گناهونه ستاسې او هرچا چې اطاعت وکړ دالله او د رسول د دغه (الله) پس په تحقيق

فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝٧١ اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عَلَى

فَازَ	فَوْزًا	عَظِيْمًا	اِنَّا	عَرَضْنَا	الْاَمَانَةَ	عَلَى
بريالی سو	په بری ډير	لوی سره	بيشکه! موږ	وړاندې کړموږ	امانت	پر

بريالی (کامياب) سو په بری ډير لوی سره. بيشکه! موږ وړاندې کړ موږ امانت (ثواب - عقاب) پر

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَالْجِبَالِ	فَاَبَيْنَ	اَنْ يَّحْمِلْنَهَا
آسمانونو	او پر مځکه	او پر غرونو	پس منع راوړه دوی	له دې چې پورته کړی هغه

آسمانونو او پر مځکه او غرونه (کله چې مو پيدا کړ په دوی کښې فهم او نطق) پس منع راوړه دوی له دې چې پورته کړی هغه

وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ۗ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا

وَاَشْفَقْنَ	مِنْهَا	وَحَمَلَهَا	الْاِنْسَانُ	اِنَّهٗ	كَانَ	ظَلُوْمًا
او وبيريدل دوی	له هغه	او پورته کړی هغه	انسان	بيشکه! چې دغه (انسان)	دی	ظالم

او وبيريدل دوی له هغه (امانت) او پورته کړی هغه (دامانت بار) انسان بيشکه! چې دغه (انسان) دی ظالم

جَهُوْلًا ۝٧٢ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ

جَهُوْلًا	لِّيُعَذِّبَ	اللّٰهُ	الْمُنٰفِقِيْنَ	وَالْمُنٰفِقٰتِ
ډير بې پيری نادان	چې عذاب ورکړی	الله	منافقانو سړيو	او منافقانو ښځوته

ډير بې پيری نادان (په عاقبت خپل) دغه دامانت غرض ددی دپاره وُچې عذاب ورکړی الله منافقانو سړيو او منافقانو ښځوته

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا.. د تير مخ پاته بيان دلته وګورئ: دداسې قسمه عيبونو ځخه پاک او بري وساتې: يوه ورځ حضرت موسى عليه السلام په خلوت کې دغسل کولو دپاره خپلې جامې ويستې او پر يوه ډبره يې کښيښوولې کله چې دغسل کولو ځخه فارغه سو او خپلې جامې يې را اخيستې نو دا ډبره د خدای ﷻ په حکم په حرکت کې راغله او جامې يې واخيستې په ځغستا سوله او وتښتيده حضرت موسى عليه السلام خپله لکړه راواخيسته په ډبري پسې روان سو او ناري يې کړي پسې: ثوبی حجر ، ثوبی حجر . يعنې ای ډبرې زما جامې ، ای ډبرې زما جامې: مګر ډبره روانه وه تر دې چې دا ډبره ولاړه داسې ځای ودريده کم ځای چې دبني اسرائيلو يوه مجمع وه دغه وخت بني اسرائيلو موسى عليه السلام ته د سر ځخه تر پښو پورې وکتل نو بدن يې روغ صحيح سالم وليدی په دغه شان سره الله ﷻ دحضرت موسى عليه السلام برآءت ددغو عيبونو ځخه دهوی په مخکې ظاهر وفرمايي بيا حضرت موسى عليه السلام خپلې جامې واغوستلې. (معارف القرآن ج۸پ۲۲ص۱۰۹)

وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللهُ عَلَى


وَالْمُشْرِكِيْنَ	وَالْمُشْرِكٰتِ	وَيَتُوْبَ	اللهُ	عَلَى
او مشركانو سړيو	او مشركانو ښځو ته	او رجوع په رحمت سره وكړي	الله	پر

او مشركانو سړيو او مشركانو ښځو ته او رجوع په رحمت سره وكړي الله پر

الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَكَانَ اللهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝۷۳ ع ۵ ۹

الْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ	وَكَانَ	اللهُ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا
مؤمنانو سړيو	او مؤمنانو ښځو	او دى	الله	ښه بخښونكى	ډير رحم والا

مؤمنانو سړيو او مؤمنانو ښځو، او دى الله ښه بخښونكى ډير رحم والا (په انعام داجر او ثواب سره).



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاك چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	الَّذِيْ	لَهٗ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا
ټول ثناء صفت	خاص الله لره دى	هغه چې	خاص هغه ته دى	هر هغه	چې په آسمانونو كښې دى	او هر هغه شيان

ټول ثناء صفت خاص الله لره دى هغه چې خاص هغه ته دى هر هغه (شيان) چې په آسمانونو كښې دى او هر هغه شيان

فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝۱

فِي الْاَرْضِ	وَلَهُ	الْحَمْدُ	فِي الْاٰخِرَةِ	وَهُوَ	الْحَكِيْمُ	الْخَبِيْرُ
چې په مځكه كښې دى	او خاص هم دغه (الله) لره	ټوله ثناء صفت	په آخرت كښې	او هم دغه (الله)	ښه حكمت والا	ښه خبردار دى

چې په مځكه كښې دى او خاص هم دغه (الله) لره ده ټوله ثناء صفت په آخرت كښې او هم دغه (الله) ښه حكمت والا ښه خبردار دى

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا

يَعْلَمُ	مَا يَلِجُ	فِي الْاَرْضِ	وَمَا	يَخْرُجُ	مِنْهَا
معلوم دى (الله ته)	هر هغه شى چې كښته ننوځى	په مځكه كښې	او هر هغه شى	چې دباندى راوځى	له دغې (مځكې) څخه

معلوم دى (الله ته) هر هغه شى چې كښته ننوځى په مځكه كښې او هر هغه شى چې دباندى راوځى له دغې (مځكې) څخه

وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللهُ. الله ﷻ به **منافقينو نرو او ښځو ته عذاب او سزا وركوي:** دا يت مطلب دادى چې الله ﷻ به عذاب وركړي منافقينو نرو ته او منافقاتو ښځو ته او مشركينو نرو ته او مشركاتو ښځو ته او په مغفرت او رحمت سره به ونمانځي مومنان سړي او مومناني ښځي: په **ليعذب**: كي لام دعلت او دبيان دغرض دپاره نه دى بلكي دعربي اصطلاح په لحاظ سره لام عاقبت دى يعني كم چي ديو شي انجام بيان كړي لكه په يو عربي شعر كي دي: **لدوا للموت وابنوا للخراب.** يعني پيدا سى دمرگ دپاره او ابادى كى دورانيدو دپاره. مراد دادى چي دهر پيدا كيدونكي انجام مرگ او دهري ابادى انجام ويراني ده: ددې جملې تعلق د. **حملها الانسان** سره دى. يعني دانسان دامانت دبار پورته كولو انجام به داوي چي په نوع انساني كي به دوې فريقې جوړي سي يو كفار او منافقين وغيره كم چي دالله ﷻ داطاعت څخه سركښه سي او امانت ضايع كوونكي سي نو هغوى ته به عذاب وركول سي الخ.

معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۱۱۹

وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ

وَمَا يَنْزِلُ	مِنَ السَّمَآءِ	وَمَا يَعْرُجُ	فِيهَا	وَهُوَ
او هر هغه شی چی راکښته کیږی	له آسمانه	او هر هغه شی چی پورته خیژی	په دغه (آسمان) کښی	او هم دغه (الله)

او هر هغه شی چی راکښته کیږی له آسمانه او هر هغه شی چی پورته خیژی په دغه (آسمان) کښی، او هم دغه (الله)

الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ② وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ

الرَّحِيمُ	الْغَفُورُ	وَقَالَ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	لَا تَأْتِينَا	السَّاعَةُ
ډیر رحم والا دی	ښه بخښونکی دی	او وایئ	هغه کسان	چی کافران سوی دی	چی رابه نسی موږ ته	قیامت

ډیر رحم والا دی ښه بخښونکی دی (دخطیاتو). او وایئ هغه کسان چی کافران سوی دی چی رابه نسی موږ ته قیامت

قُلْ بَلٰى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ

قُلْ	بَلٰى	وَرَبِّي	لَتَأْتِيَنَّكُمْ	عٰلِمِ
وو ایه (محمده!)	ولی نه	قسم دی زما په رب خپل	چی خامخا رابه سی دا قیامت تاسی ته (هسی رب)	چی عالم دی

وو ایه (محمده!) بلکه رابه سی قسم دی زما په رب خپل چی خامخا رابه سی دا قیامت تاسی ته (هسی رب) چی عالم دی

الْغَيْبِ ۚ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ

الْغَيْبِ	لَا يَعْزُبُ	عَنْهُ	مِثْقَالُ	ذَرَّةٍ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَلَا فِي الْأَرْضِ
په غیبو	نه پټیږی	له ده	په اندازه	د یوی ذری	په آسمانونو کښی	او نه په مځکه کښی

په غیبو نه پټیږی له ده په اندازه د یوی ذری په آسمانونو کښی او نه په مځکه کښی

وَلَآ أَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتٰبٍ مُّبِينٍ ③

وَلَآ أَصْغَرُ	مِنْ ذٰلِكَ	وَلَآ أَكْبَرُ	إِلَّا	فِي كِتٰبٍ	مُّبِينٍ
او نه وروکی	له هغی ذری	او نه لوی (تری)	مگر	په کتاب	ښکاره کښی

او نه وروکی له هغی ذری او نه لوی (تری) مگر (چی داټول لیکلی پراته دی) په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کښی.

لِّيَجْزِيَ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۚ أُولٰٓئِكَ

لِّيَجْزِيَ	الَّذِينَ	اٰمَنُوا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	أُولٰٓئِكَ
دپاره د دی چی جزاء ورکړی	(الله) هغو کسانو ته	چی ایمان یئ راوړی دی	او کړی یئ دی	ښه (عملونه)	دغه (نیکوکاران)

دپاره د دی چی جزا ورکړی (الله) هغو کسانو ته چی ایمان یئ راوړی دی او کړی یئ دی ښه (عملونه) دغه (نیکوکاران)

عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ. الله ﷻ عالم الغیب ذات دی او علم یي محیط دی:

داصفت درب دی کم چي لوړ قسم په خوړل سوی دی اودالله ﷻ دټولو صفتونو څخه دلته صفت دعلم غیب او علم محیط شاید په دې وجه سره خاص سوی وي چي خبره دقیامت دمنکرینو په باره کي روانه وه او دقیامت څخه دانکار لوی سبب دکفارو دپاره دا وو چي کله ټول انسانان مړه سي او بیا خاوري سي او ددې خاوري ذرې هم په دنیا کي پاش پاش سي نو دټولي دنیا څخه پاشل سوي ذرې جمع کول بیا دهر یوه انسان ذرې دنورو انسانانو دذرو څخه جلا کول بیا دهر یوه ذرې دده په بدن کي پیوست کول داڅنګه ممکن دي؟ او دغه کار ناممکن ګڼل پر دې بنا باندي وو چي دوی به دالله ﷻ علم او قدرت پر خپل علم باندي قیاس کوی: نو په دې وجه الله ﷻ دا ورته وښووله چي دالله ﷻ علم پر ټول عالم باندي داسي محیط دی چي په آسمانونو او مځکه کي کم شیان دي هغه ته ټول نکته پر نکته معلوم دي.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص ۱۲۴)

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ④ وَالَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْٓ اٰيٰتِنَا

لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّرِزْقٌ	كَرِيْمٌ	وَالَّذِيْنَ	سَعَوْ	فِيْٓ اٰيٰتِنَا
ستەدوی تە	مغفرت ، بخښنە	او رزق، روزی	دعزت	او هغه کسان	چی سعی کوښښ کوی	په آیتونو (دقرآن) زموږ کښی

ستەدوی تە مغفرت بخښنە او رزق روزی ښه (جنت دی) . او هغه کسان چی سعی کوښښ کوی په آیتونو (دقرآن) زموږ

مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ⑤

مُعٰجِزِيْنَ	اُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	عَذَابٌ	مِّنْ رِّجْزٍ	اَلِيْمٌ
په دی حال چی عاجز کوونکی وی	دغه کسان	ستە دوی تە	عذاب	له عذابه	دردناکه څخه

په دی حال چی عاجز کوونکی وی د الله په زعم خپل دغه کسان ستەدوی تە عذاب له عذابه دردناکه څخه .

وَيَرَى الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ

وَيَرَى	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْعِلْمَ	الَّذِيْٓ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	مِنْ
او چی ووینی	هغه کسان	چی ورکړی سوی دی دوی ته	علم	هغه	چی نازل سوی دی	تاته	له

او (بل دپاره ددی) چی ووینی هغه کسان چی ورکړی سوی دی دوی ته علم فهم هغه (قرآن) چی نازل سوی دی تاته له

رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ⑥

رَّبِّكَ	هُوَ الْحَقَّ	وَيَهْدِيْٓ	اِلٰى	صِرَاطِ	الْعَزِيْزِ	الْحَمِيْدِ
(جانبه د) رب ستا	هم هغه حق دی	او سمه لاره ښیی	طرف	دلاری	ښه زبردست	ډیر ثناویلی سوی دی

(جانبه د) رب ستا هم هغه حق دی او سمه لاره ښیی طرف د لاری (دهغه الله ته چی) ښه زبردست ډیر ثناویلی سوی دی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ

وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	هَلْ نَدُلُّكُمْ	عَلٰى	رَجُلٍ
او وایئ	هغه کسان	چی کافران سوی دی	آیا دلالت وکړو تاسی ته	په	یو سړی

او وایئ هغه کسان چی کافران سوی دی آیا (وښیو) دلالت وکړو تاسی ته په یو سړی

يُّنَبِّئُكُمْ اِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ خَلْقٍ

يُّنَبِّئُكُمْ	اِذَا	مُزِّقْتُمْ	كُلَّ	مُمَزَّقٍ	اِنَّكُمْ	لَفِيْ	خَلْقٍ
چی خبر درکوی تاسی ته	کله چی	ذری ذری کړی سی تاسی	په کامل	ذره ذره کیدلو سره	بیشکه! چی تاسی	خامخا	په پیدا ایښت

چی خبر درکوی تاسی ته کله چی ذری ذری کړی سی تاسی په کامل ذره ذره کیدلو سره بیشکه! چی تاسی خامخا په پیدا ایښت

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ. کفارو به نبي کریم ﷺ ته په طور دحقارت ځیني خبري کولې

دلته الله پاک ﷻ دکفارو او دقیامت دمنکرینو یو قول نقل کړی دی کمو چي به په طور دحقارت او مسخرو داسي ویل چي راسی موږ تاسي ته یو داسي عجیبه سړی وښیئو کم چي داسي وایي چي کله تاسي پوره خس خس او ذره ذره سی ددې څخه وروسته به بیا تاسي دنوي سره پیداسی او بیا به تاسي په دې شکل او صورت کي تیار کړي او ژوندي به مو کي: داخبره ظاهره ده چي ددې سړي څخه مراد نبي کریم ﷺ دی کم چي به دقیامت او په دي کي دټولو مړو ددوباره ژوندي کیدو خبر ورکولو او خلګو ته به یي پر دې دایمان راوړلو تاکید کوی او دې ټولو خلګو دوی ﷺ ښه پیژندل مګر دلته یي په داسي انداز سره ذکر وکی چي ګویا داخلګ ددوی متعلق نور هیڅ نه پیژني بغیر ددې څخه چي دوی په قیامت کي دمړو دژوندي کیدو خبرورکوي دخبري داطرز یي دمسخرو او دتحقیر دپاره استعمال کړی.

معارف القرآن ج۸پ۲۲ص۱۲۵

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًاۗ يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ.

حضرت داود علیه السلام ته الله جل جلاله دخپل طرفه څخه فضل ورکړی وو: په دغه آیت کي الله جل جلاله فرمایلي دي چي موږ وداود علیه السلام ته خپل فضل ورکی: دفضل لفظي معنی زیاتی دی: دلته دفضل څخه مراد هغه صفتونه دي کم چي دنورو څخه زیات دوی ته ورکول سوي وه هر نبي او پیغمبر ته الله جل جلاله ځیني خاص امتیازي صفتونه ورکړي دي کم چي ددوی مخصوص فضیلتونه ګڼل کیږي. دحضرت داود علیه السلام مخصوص صفتونه داوه چي ده ته دخپل نبوت او رسالت سره دټولي دنیا سلطنت او حکومت هم ورکول سوی وواو دخوش اوازی داسي صفت ورته ورکول سوی وو چي کله به دی دالله جل جلاله په ذکر یا دزبور په تلاوت کي مشغول وو نو دهوا الوتونکي مرغی به یي اوریدوته جمع کیدی دغه شان ورته ډیر ي خصوصي معجزې ورکول سوي دي **یاجبال اوّبی.** اوّبی دتاویب څخه مشتق دی چي معنی یي ددوباره کولو او بیا دسره کولو ده مراد دادی چي الله جل جلاله غرونوته دده سره دتسبیح دوباره ویلو حکم کړی وو. (معارف القرآن ج٨پ٢٢ص١٢٩)

جَدِيْدٍ ۝٧ اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلِ

جَدِيْدٍ	اَفْتَرٰى	عَلَى اللّٰهِ	كَذِبًا	اَمْ بِهٖ	جِنَّةٌ	بَلِ
نوی کښنی یئ	آیا له خپله ځانه تړلی دی	پر الله باندی	دروغ	یا وریوری	لیونتوب دی	بلکه

نوی کښنی یئ، آیا له خپله ځانه تړلی دی (محمد) پر الله باندی دروغ؟ یا وریوری لیونتوب دی ؟ (فرمائی الله) داسی نه بلکه

اَلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ

الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِالْاٰخِرَةِ	فِي الْعَذَابِ	وَالضَّلٰلِ
هغه کسان	چي ایمان نه راوړی	په آخرت	په عذاب کښی به وی	او په ګمراهی

هغه کسان چي ایمان نه راوړی په آخرت په عذاب کښی به وی (په عقبٰی کښی) او په ګمراهی

الْبَعِيْدِ ۝٨ اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا

الْبَعِيْدِ	اَفَلَمْ يَرَوْا	اِلٰى	مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ	وَمَا
لوی کښنی	ایا نه ګوری	هغه شی ته	چي په مخ کښی د دوی دی	او هغه شی ته

لوی کښنی (لویدلی دی په دنیاکښنی). آیا نه ګوری (دا کافران) هغه شی ته چي په مخ کښی د دوی دی او هغه شی ته

خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ

خَلْفَهُمْ	مِّنَ السَّمَاۗءِ	وَالْاَرْضِ	اِنْ نَّشَاْ	نَخْسِفْ	بِهِمُ
چي وروسته د دوی دی	له آسمانه	اوله مځکی	که چیری اراده وفرمایو	نو ښخ به کړو	دوی

چي وروسته ددوی دی، له آسمانه او له مځکی (چي دوی په کښنی محاط وی) که چیری اراده وفرمایو نو ښیری به کړو په دوی

الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاۗءِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

الْاَرْضَ	اَوْ نُسْقِطْ	عَلَيْهِمْ	كِسَفًا	مِّنَ السَّمَاۗءِ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ
په مځکه کی	یا به وغورځوو	پر دوی باند	یوه ټوټه	له آسمانه	بیشکه!	په دغه (کتلو) کښنی

مځکه (او په کښنی به یئ ډوب کړو) یا به وغورځوو پر دوی باندی یوه ټوټه له آسمانه. بیشکه! په دغه (کتلو) کښنی

لَاٰيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝٩ ۧ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ ع ١ ٩ ٧

لَاٰيَةً	لِّكُلِّ	عَبْدٍ	مُّنِيْبٍ	وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	دَاوٗدَ
خامخا دلائل دی	دپاره دهر	بنده	رجوع کوونکی	او خامخا په تحقیق	ورکړی ؤ موږ	داؤد ته

خامخا دلائل (دقدرت) دی دپاره دهر بنده رجوع کوونکی (الله ته). او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ موږ داؤد ته

مِنَّا فَضۡلًا ۖ يٰجِبَالُ اَوِّبِيۡ مَعَهٗ وَالطَّيۡرَ ۚ وَاَلَنَّا لَهُ

مِنَّا	فَضۡلًا	يٰجِبَالُ	اَوِّبِيۡ	مَعَهٗ	وَالطَّيۡرَ	وَاَلَنَّا	لَهُ
له جانبه خپله	فضل	ای غرونو	تسبيح وايا ست	د ده سره	او مرغانو تاسو هم	او پسته کړې وه موږ	ده ته

له جانبه خپله فضل ای غرونو تسبيح وايا ست د ده سره او مرغانو هم . او پسته کړې وه موږ ده ته

الۡحَدِيۡدَ ۙ﴿۱۰﴾ اَنِ اعۡمَلۡ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرۡ فِي السَّرۡدِ وَاعۡمَلُوۡا

الۡحَدِيۡدَ	اَنِ اعۡمَلۡ	سٰبِغٰتٍ	وَّقَدِّرۡ	فِي السَّرۡدِ	وَاعۡمَلُوۡا
او سپنه	چې جوړوه	ځغرې پراخې اوږدې	او اندازه کوه	په جوړولو کښې	او عمل کوئ تاسې

اوسپنه چې جوړوه ځغرې ارتې اوږدې او اندازه کوه په اوبدلو کښې او عمل کوئ تاسې

صَالِحًا ؕ اِنِّيۡ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۱۱﴾ وَلِسُلَيۡمٰنَ

صَالِحًا	اِنِّيۡ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِيۡرٌ	وَلِسُلَيۡمٰنَ
دنيكيو	بيشكه! زه چې يم	پر هغو كارونو	چې کوئ يئ تاسې	ښه ليدونکی يم	او سليمان ته

دنيكيو بيشكه! زه چې يم پر هغو كارونو چې کوئ يئ تاسې ښه ليدونکی يم. او (مسخرکړې موږ)سليمان ته

الرِّيۡحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهۡرٌ ۚ وَاَسَلۡنَا لَهٗ

الرِّيۡحَ	غُدُوُّهَا	شَهۡرٌ	وَّرَوَاحُهَا	شَهۡرٌ	وَاَسَلۡنَا	لَهٗ
باد	تلل د سهار د هغه	يوی مياشتی	او تلل د مابنام د هغه	ديوی مياشتی وه	او بهيولی مو وه	د ده دپاره

باد دسبائی (منزل) دهغه (د) يوی مياشتی او (د) مابنامی (منزل) دهغه ديوی مياشتی (لاره) وه او بهيولی مو وه د ده دپاره

عَيۡنَ الۡقِطۡرِ ؕ وَمِنَ الۡجِنِّ مَنۡ يَّعۡمَلُ بَيۡنَ يَدَيۡهِ بِاِذۡنِ

عَيۡنَ	الۡقِطۡرِ	وَمِنَ الۡجِنِّ	مَنۡ يَّعۡمَلُ	بَيۡنَ يَدَيۡهِ	بِاِذۡنِ
چينه	دويليو کريو سويو مسو	او له پيريانو	هغه څوک چې کار به يئ کاوه	په مخ د ده کښې	په حکم

چينه د ويليو کريو سويو مسو ، او (مسخر کړی مو ؤ ده ته) له پيريانو هغه څوک چې کار به يئ کاوه په مخ د ده کښې په حکم

رَبِّهٖ ؕ وَمَنۡ يَّزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ اَمۡرِنَا نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ

رَبِّهٖ	وَمَنۡ يَّزِغۡ	مِنۡهُمۡ	عَنۡ اَمۡرِنَا	نُذِقۡهُ	مِنۡ عَذَابِ
درب د ده	او هرچاچې به سرکشي وکړه	له دوی	له امره ، حکمه زموږ	نو وبه څکوو موږ هغه ته	له عذابه

درب د ده او هرچاچې به څنګ سرکشي وکړه له دوی له امره حکمه زموږ نو وبه څکوو موږ هغه ته (په آخرت) له عذابه

وَاَلَنَّا لَهُ الۡحَدِيۡدَ ﴿۱۰﴾ اَنِ اعۡمَلۡ سٰبِغٰتٍ. دحضرت داود علیه السلام دوهمه معجزه:

دوهمه هغه معجزه چي الله جل جلاله وحضرت داود علیه السلام ته ورکړې وه هغه داوه چي الله جل جلاله ده ته اوسپنه نرمه کړې وه دتفسير شريف امامانو فرمايلي دي چي الله جل جلاله په طور دمعجزې اوسپنه دده دپاره دمومو په شان نرمه کړې وه چي ددې څخه په څه شي جوړولو کي دده نه اورته ضرورت راتلی او نه څه چټک يا بلې الې ته: مختته په آيت کي ددې بيان دی چي اوسپنه دده دپاره موږ څکه نرمه کړې وه چي دی داوسپني څخه زغري په آسانی سره جوړې کړي او په بل آيت کي دا هم ذکر دی چي الله جل جلاله دزغرو جوړولو کارده ته په خپله ښوولی وو. فرمايي چي. وعلّمناه صنعة لبوس لكم. يعني موږ وښوول ده ته جوړول دزغرو : دذکر سوي آيت څخه ثابته سوه چي دضرورت دشيانو ايجاد او صنعت يو داسي مهم شی دی چي الله جل جلاله په خپله ددې تعليم ورکولو اهتمام کړی دی او خپلو عظيم الشانه پيغمبرانو ته يي ددې ښوونه اوتعليم ورکړی دی. پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

السَّعِيْرِ ⑫ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ

السَّعِيْرِ	يَعْمَلُوْنَ	لَهٗ	مَا يَشَآءُ	مِنْ مَّحَارِيْبَ
د اوردوزخ	جوړوه دوی	دغه (سلیمان) ته	هرهغه شي چې ده غوښت	له اوچتو کلاؤ

د اوردوزخ. جوړوه (دغو پیریانو) دغه (سلیمان) ته هرهغه شي چې ده غوښت له هسکو (اوچتو) کلاؤ

وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ

وَتَمَاثِيْلَ	وَجِفَانٍ	كَالْجَوَابِ	وَقُدُوْرٍ	رّٰسِيٰتٍ
او تصویرونه	او لوی لګنونه	په شان د تالابونو	او دیګونه	پر نغریو پراته

او تمثالونه او لوی لګنونه په شان د تالابونو او (په شان دلویو کلکو) دیګونو پر نغریو پراته.

اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ؕ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ

اِعْمَلُوْٓا	اٰلَ	دَاوٗدَ	شُكْرًا	وَقَلِيْلٌ	مِّنْ عِبَادِيَ
عمل کوئ	آل	د داؤد	دپاره دشکر	او لږدی	له بندګانو زما

(وفرمایل موږ) عمل کوئ (دنیکیو –ای) آل د داؤد! دپاره د شکر ، او لږ دی له بندګانو زما

الشَّكُوْرُ ⑬ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ

الشَّكُوْرُ	فَلَمَّا	قَضَيْنَا	عَلَيْهِ	الْمَوْتَ	مَا دَلَّهُمْ
شکر ایستونکی	پس کله چې	حکم وکړ موږ	پر سلیمان	د مرګ	نو هیچا خبر کړی نه ؤ دغه پیریان

شکر ایستونکی (احسان منونکی). پس کله چې حکم وکړ موږ پر سلیمان د مرګ نو هیچا خبر کړی نه ؤ دغه پیریان

عَلٰى مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا

عَلٰى	مَوْتِهٖٓ	اِلَّا	دَآبَّةُ	الْاَرْضِ	تَاْكُلُ	مِنْسَاَتَهٗ	فَلَمَّا
پر	مرګ د دغه	مګر	چنجي	د مځکی	چې ویئ خوړه	لکړه د ده	پس کله چې

پر مرګ د دغه (سلیمان) مګر چنجی د مځکی (وینو) چې وئی خوړه همسا د ده پس کله چې

خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ

خَرَّ	تَبَيَّنَتِ	الْجِنُّ	اَنْ لَّوْ كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ	الْغَيْبَ
ولوید	نو معلوم سو	پیریانو ته	دغه که چیری وی	چی پوهیدی	په (علم د) غیب

ولوید (سلیمان پر مځکه) نو معلوم سو پیریانو ته دغه که چیری وی چی پوهیدی په (علم د) غیب

يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری : حضرت داود علیه السلام ته الله جل جلاله دزغرو دښوولو اهتمام کړی وو. او حضرت نوح علیه السلام ته الله جل جلاله دکښتی جوړول ورښوولي وه دغه شان نورو انبیاوو علیهم السلام ته هم الله جل جلاله مختلف کارونه ښوولي او دادځینې روایتونو څخه ثابت هم دي. دالطب النبوی په نوم سره داحادیثو یو کتاب امام حافظ شمس الدین ذهبی رحمة الله علیه طرف ته منسوب چاپ سوی دی په دغه کتاب کې یوروایت دانقل کړی دی چې دانسان دژوند دپاره څومره اهم او ضروري کارونه دي ، مثلا مکان جوړول ، جامه اودل ، درختي بوټي کرل او شنه کول ، دخوراک شیان تیارول ، دحمل او نقل دپاره دپایانو ګاډی جوړول او چلول وغیره داټول ضروري کارونه الله جل جلاله دوحي په ذریعه خپلو پیغمبرانو ته ښوولي وه : ددې څخه دصنعت او حرفت او کسب او کار ډیر لوی فضیلت ثابت سو او داهم ښکاره خبره ده چي یو کسب زده کول تعلیم ته ضرورت لري نو په دې سره دتعلیم اهمیت هم ښکاره سو : (معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۱۳۰)

مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿١٤﴾ لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ

مَا لَبِثُوْا	فِي الْعَذَابِ	الْمُهِيْنِ	لَقَدْ	كَانَ	لِسَبَاٍ
نه به وایئ پاته سوی	په تکلیف، مشقت	سپکوونکی کښی	خامخا په تحقیق	وه	خلکو دسبا ته

نو نه به یئ تیراوه (سلامت یو کال) په تکلیف مشقت سپکوونکی کښی. خامخا په تحقیق وه خلکو دسبا ته

فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّ شِمَالٍ

فِيْ مَسْكَنِهِمْ	اٰيَةٌ	جَنَّتٰنِ	عَنْ يَّمِيْنٍ	وَّ شِمَالٍ
په ځای دهستوګنی د دوی کښی	یوه لویه نښه	چی دوه باغونه دی	له راسته	او چپه

په ځای د هستوګنی د دوی کښی یوه لویه نښه چی (هغه لویه نښه) دوه باغونه دی له راسته او چپه (طرف د مینو د دوی)

كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ

كُلُوْا	مِنْ رِّزْقِ	رَبِّكُمْ	وَاشْكُرُوْا	لَهٗ	بَلْدَةٌ	طَيِّبَةٌ	وَّرَبٌّ
خورئ تاسی	له رزق	درب خپل	او شکر وباسئ	دغه (الله) ته	ښار دی	پاکیزه	او رب دی

(وویلی سو دوی ته) خورئ تاسی له رزق روزئ درب خپل او شکر وباسئ دغه (الله) ته، (دا) ښار دی پاکیزه او رب دی

غَفُوْرٌ ﴿١٥﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ

غَفُوْرٌ	فَاَعْرَضُوْا	فَاَرْسَلْنَا	عَلَيْهِمْ	سَيْلَ	الْعَرِمِ
ډیر بخښونکی	پس مخ واړوی دوی	پس ومولیږه	پر دوی	سیلاب	دیوه زورور بند

ډیر بخښونکی. پس وګرزیدل (له شکره) پس ومولیږه پر دوی سیلاو د یوه زورور خوړ بند

وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ

وَبَدَّلْنٰهُمْ	بِجَنَّتَيْهِمْ	جَنَّتَيْنِ	ذَوَاتَيْ	اُكُلٍ	خَمْطٍ	وَّاَثْلٍ
او بدل ورکړ موږ دوی ته	په ځای د دوو باغونو د دوی کښی	دوه باغونه نور	خاوندان	دمیوو	بی خونده	او درختی دغز

او بدل ورکړ موږ دوی ته په ځای د دوو باغونو د دوی کښی دوه باغونه نور خاوندان د میوو بی مزی تر خو او دنبوره ګز

وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ﴿١٦﴾ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا

وَّشَيْءٍ	مِّنْ سِدْرٍ	قَلِيْلٍ	ذٰلِكَ	جَزَيْنٰهُمْ	بِمَا
او یو قدر	له بیرو هم	خو ډیر لږ	دغه (عذاب)	جزاء ورکړه موږ دوی ته	په سبب دهغه

او یو قدر له بیرو هم خو ډیر لږ. دغه (عذاب) جزاء ورکړه موږ دوی ته په سبب د هغه

لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ. دسبا پر قوم باندي دالله جل جلاله خاص انعامات او د هغوی ناشکري: ابن کثير رحمة الله عليه فرمايي چي سبا ديمن دبادشاهانو او ددې ملک داوسيدونکو لقب دی: تبابعه کم چي ددې ملک مقتداء او پيشواء وو هغه هم په دې قوم دسبا کي ووا او ملکه بلقيس دکمي واقعه چي دحضرت سليمان عليه السلام دقصې سره په سورت نمل کي تيره سويده هغه هم په دې قوم کي وه الله جل جلاله پر دوی باندي دخپل رزق دروازې خلاصي کړي وي: او ددوی په ښار کي يې دارام او عيش ټول اسباب تيار کړي وه او دخپلو انبياوو په ذريعه يي دوی ته دالله جل جلاله دتوحيد او دده داحکامو داطاعت او دنعمتونو دشکرداداء کولو حکم ورکړی وو: تريسوې مودې پوري داخلګ پر دې حال باندي قايم پاته سوه او په هرقسم راحت او عيش کي وه بيا په دوی کي په عيش او عشرت کي په انهماک سره دخدای جل جلاله څخه غفلت بلکي انکار ته نوبت ورسيدی نو الله جل جلاله ددوی دخبرولو دپاره خپل ديارلس کسه انبياء راوليږل هغو ددوی دپوهولو. **پاته بيان پر راروان مخ وګوری:**

كَفَرُوْا ۭ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ﴿١٧﴾ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ

كَفَرُوْا	وَهَلْ	نُجٰزِيْٓ	اِلَّا	الْكَفُوْرَ	وَجَعَلْنَا	بَيْنَهُمْ
چې کافران سوي ؤ	او آيا	جزا ورکوو	مګر	ناشکرو ته	او جوړ کړي وه موږ	په مينځ د دوی

چې کافران سوي ؤ، او آيا جزا ورکوو (يعنې نه ورکوو) مګر ناشکرو ته. او کړځوو موږ په مينځ د دی (اهل دسبا)

وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا

وَبَيْنَ	الْقُرَى	الَّتِيْ	بٰرَكْنَا	فِيْهَا	قُرًى	ظَاهِرَةً	وَّقَدَّرْنَا
او په مينځ	دکليو ښارونو	هغو کښې	چې برکت اچولی وو موږ	په هغه کښې	کلي (ښارونه)	ښکاره	او په اندازه کړي وو موږ

او په مينځ د کليو ښارونو هغو کښې چې برکت اچولی وو موږ په هغه کښې کلي (ښارونه) ښکاره او په اندازه کړي وو موږ

فِيْهَا السَّيْرَ ۭ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ وَاَيَّامًا

فِيْهَا	السَّيْرَ	سِيْرُوْا	فِيْهَا	لَيَالِيَ	وَاَيَّامًا
په هغو کښې	منزلونه	ځي راځي	په دغو کليو کښې	دشپې	او دورځې

په هغو کښې منازل (د تګ او راتګ) (وموفرمايل چې) ځي راځي په دغو کليو (ښارو) کښې دشپې او دورځې

اٰمِنِيْنَ ﴿١٨﴾ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا وَظَلَمُوْٓا

اٰمِنِيْنَ	فَقَالُوْا	رَبَّنَا	بٰعِدْ بَيْنَ	اَسْفَارِنَا	وَظَلَمُوْٓا
په امان	پس وويل دوی	ای ربه زموږ	لريوالی پيدا کړه په مينځ	د سفرونو زموږ کښې	او ظلم وکړ دوی

په امان (له هر آفته). پس وويل دوی ای ربه زموږ لريوالی پيدا کړه په مينځ د منازلو (دسفرو) زموږ کښې او ظلم وکړ دوی

اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۭ

اَنْفُسَهُمْ	فَجَعَلْنٰهُمْ	اَحَادِيْثَ	وَمَزَّقْنٰهُمْ	كُلَّ	مُمَزَّقٍ
پر ځانونو خپلو	پس وګرځول موږ دغه	قصې افسانې	او توتې توتې کړل موږ دوی	په پوره	توتې کولو سره

پر ځانونو خپلو پس وګرځول موږ دغه (اهل السبا) قصې افسانې او تار په تار کړل موږ دوی په پوره تار په تار کيدلو.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿١٩﴾

اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّكُلِّ	صَبَّارٍ	شَكُوْرٍ
بيشکه!	په دغه کښې	خامخا لوی دلائل دی	دپاره دهر	ښه صبر کوونکي	ډير شکر کوونکي

بيشکه! په دغه (تمزيق دسبا) کښې خامخا لوی دلائل (دعبرت) دی دپاره دهر ښه صبر کوونکي ډير شکر کوونکي.

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا.. دتير مخ پاته بيان دلته وګورئ:
او ددوی دنيکي لاري ته دراوستلو ډير کوشش وکړی مګر داخلګ دخپل غفلت دبې هوښۍ څخه واپس نه سول نو پر دوی ديو سيلاب عذاب راوليږل سو کم چي ددوی ښارونه او باغونه ټول وران او برباد کړل. امام احمد ابن حنبل رحمة الله عليه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دا روايت نقل کړی دی چي يو سړي دنبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي قوم دسبا دکم واقعه چي په قرآن کريم کي ذکر سويده دا ديو سړي يا ديوې ښځي نوم دی ؟ او که يا دمځکي ديوې حصې نوم دی ؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم په جواب کي وفرمايل چي دا ديوه سړي نوم دی چي په اولاد کي يې لس زامن سوي دي چي په دغو کي شپږ په يمن کي آباد سول او څلور شام ته ولاړل هغه چي په يمن کي اوسيدله دهغو نومونه دادي: مدجج، کنده: ازد، اشعری، انمار، او حمير، ددې شپږو هلکانو څخه شپږ قبيلې پيدا سوې او دشام ددې نومونه دادي: لحم، جذام و عامله، او غسان، الخ.
(معارف القرآن ج٨ پ٢٢ ص١٤٨)

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا

وَلَقَدْ	صَدَّقَ	عَلَيْهِمْ	إِبْلِيسُ	ظَنَّهُ	فَاتَّبَعُوهُ	إِلَّا	فَرِيقًا
او خامخا په تحقيق	رښتيا كړ	پر دوى	ابليس	گمان خپل	پس متابعت وكړ دوى د دغه	مگر	يوى فرقى

او خامخا په تحقيق رښتيا وموند پر دوى ابليس گمان خپل پس متابعت وكړ دوى ټولو د دغه (ابليس) مگر يوى فرقى

مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝٢٠ وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ

مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ	وَمَا كَانَ	لَهُ	عَلَيْهِم	مِّن سُلْطَانٍ	إِلَّا لِنَعْلَمَ
د مؤمنانو	او نه ؤ	دغه ته	پر دوى	څه تسلط	مگر خاص د پاره د دى چى معلوم كړو

د مؤمنانو . او نه ؤ دغه (ابليس) ته پر دوى څه تسلط مگر خاص د پاره د دى چى معلوم كړو (په علم الشهود)

مَن يُؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِي شَكٍّ

مَن يُؤْمِنُ	بِالْآخِرَةِ	مِمَّنْ	هُوَ	مِنْهَا	فِي شَكٍّ
هغه څوك چى ايمان راوړى	په آخرت	له هغه چا څخه	چى هغه	له دى څخه	په شك كښى وى

سره هم هغه څوك چى ايمان راوړى په آخرت له هغه چا څخه چى هغه له دى آخرت څخه په شك كښى وى

وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ۝٢١ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ ع ۲ ۸

وَرَبُّكَ	عَلَىٰ	كُلِّ شَيْءٍ	حَفِيظٌ	قُلِ	ادْعُوا	الَّذِينَ
او رب ستا	پر	هر شي باندى	ښه ساتونكى دى	ووايه	چى وبولى تاسى	هغه معبودان

او رب ستا پر هر شي باندى ښه ساتونكى دى. ووايه (اى محمده! دوى ته) چى وبولى تاسى هغه معبودان

زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

زَعَمْتُم	مِّن دُونِ	اللَّهِ	لَا يَمْلِكُونَ	مِثْقَالَ	ذَرَّةٍ
چى گمان به كاوه تاسى	غير له	الله	چى نه لرى دوى اختيار	په اندازه	د يوى ذرى

چى گمان به كاوه تاسى (په دى د خدايانو) غير له الله چى نه لرى دوى اختيار په اندازه د يوى ذرى (نه)

فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا

فِي السَّمَاوَاتِ	وَلَا فِي الْأَرْضِ	وَمَا لَهُمْ	فِيهِمَا
په آسمانونو كښى	او نه په مځكه كښى	او نشته (دغو معبودانو) د دوى ته	په دغو كښى

په آسمانونو كښى او نه په مځكه كښى او نشته (دغو معبودانو) د دوى ته په دغو (علوياتو او سلفياتو) كښى

قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ. دحكم رباني په وخت كي دملايكو بې هوښه كيدل په ذكر سوو اياتونوكي دحكم رباني دنزول په وخت كي چي كم دملايكو مدهوشه كيدل بيا په خپل مينځ كي ديوبل څخه دپوښتنو كولو ذكر دى. دا بيان دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت سره داسي راغلي دي چي كله الله جل جلاله په اسمان كي څه حكم نافذ وفرمايي نو ټولي ملايكي په خشوع او خضوع سره خپل وزرونه وهل شروع كړي او مدهوش غوندي سي كله چي ددوى دزړونو څخه دبيري هيبت او جلال هغه اثر ليري سي نو وايي ستاسي رب څه وفرمايل؟ نوري بيا ورته وايي چي فلانى حق حكم يي فرمايلى دى او په بل حديث شريف كي نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي زما رب تبارك اسمه كله چي څه حكم كوي نو دعرش پورته كوونكي ملايكي تسبيح كوي ددوى تسبيح چي واوري نو دوى ته نژدې آسمان والا ملايكي تسبيح شروع كړي بيا چي ددوى تسبيح واوري د دوى څخه دلاندي اسمان والا ملايكي تسبيح شروع كړي تردي چي دا نوبت ددنيا دآسمان ملايكو ته راورسيږي نو هغه هم په تسبيح كي مشغولي سي الخ
معارف القرآن ج۸ پ ۲۲ ص ۱۶۱)

مِنۡ شِرۡكٍ وَّمَا لَهٗ مِنۡهُمۡ مِّنۡ ظَهِيۡرٍ ﴿۲۲﴾ وَلَا تَنۡفَعُ

وَلَا تَنۡفَعُ	مِّنۡ ظَهِيۡرٍ	مِنۡهُمۡ	وَّمَا لَهٗ	مِنۡ شِرۡكٍ
او نه رسوی هیڅ نفع	هیڅ مددګاره	له دوی څخه	او نشته دغه (الله) ته	څه شرکت

څه شرکت او نشته دغه (الله) ته له دوی څخه هیڅ مددګاره او نه رسوی هیڅ نفع

الشَّفَاعَةُ عِنۡدَهٗۤ اِلَّا لِمَنۡ اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰۤى اِذَا فُزِّعَ

اِذَا فُزِّعَ	حَتّٰۤى	لَهٗ	اَذِنَ	لِمَنۡ	اِلَّا	عِنۡدَهٗۤ	الشَّفَاعَةُ
کله چې پورته کړه سی ببره	تر هغه پوری	هغه ته	اجازه ورکړی (الله)	دهغه چا چې	مګر	په نزد دالله کښې	شفاعت، سپارښت

شفاعت سپارښت په نزد د الله کښې مګر دهغه چا چې اذن ورکړی (الله) هغه ته، تر هغه پوری کله چې پورته کړه سی ببره

عَنۡ قُلُوۡبِهِمۡ قَالُوۡا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمۡ ؕ قَالُوا الۡحَقَّ ۚ

الۡحَقَّ	قَالُوا	رَبُّكُمۡ	قَالَ	مَاذَا	قَالُوۡا	عَنۡ قُلُوۡبِهِمۡ
چې حق يئ وفرمائل	نو وايئ دوی	رب ستاسی	وفرمایل	چې څه	وايئ دوی	له زړونو د دوی

له زړونو د دوی وايئ دوی چې څه (حکم) وفرمایل رب ستاسی؟ نو وايئ دوی چې حق يئ

وَهُوَ الۡعَلِيُّ الۡكَبِيۡرُ ﴿۲۳﴾ قُلۡ مَنۡ يَّرۡزُقُكُمۡ مِّنَ السَّمٰوٰتِ

مِّنَ السَّمٰوٰتِ	مَنۡ يَّرۡزُقُكُمۡ	قُلۡ	الۡكَبِيۡرُ	الۡعَلِيُّ	وَهُوَ
له آسمانونو	چې څوک رزق درکوی تاسی ته	ووایه (ای محمده!)	او ډیر لوی دی	ډیر پورته	او هم دغه (الله)

(وفرمایل) او هم دغه (الله) ډیر پورته او ډیر لوی دی. ووایه (ای محمده!) چې څوک رزق درکوی تاسی ته له آسمانونو

وَالۡاَرۡضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّاۤ اَوۡ اِيَّاكُمۡ لَعَلٰى هُدًى

هُدًى	لَعَلٰى	اَوۡ اِيَّاكُمۡ	وَاِنَّاۤ	اللّٰهُ	قُلِ	وَالۡاَرۡضِ
سمی، صافی لاری باندی یو	خامخا پر	اویا تاسی (منکران)	او بیشکه! موږ	چې الله	ووایه (محمده)	او مځکی

او مځکی؟ ووایه (محمده) چې الله، او بیشکه! موږ (مؤمنان) اویاتاسی (منکران) خامخا پر سمی صافی لاری کښې یو؟

اَوۡ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۲۴﴾ قُلۡ لَّا تُسۡـَٔلُوۡنَ عَمَّاۤ اَجۡرَمۡنَا

اَجۡرَمۡنَا	عَمَّاۤ	لَّا تُسۡـَٔلُوۡنَ	قُلۡ	مُّبِيۡنٍ	ضَلٰلٍ	اَوۡ فِىۡ
چې کړی وی موږ	له هغو بدیو	وبه نه پوښتیدلی سی تاسی	ووایه (ای محمده!)	ښکاره کښې یو	ګمراهی	یا په

یا په ګمراهی ښکاره کښې یو؟ ووایه (ای محمده!) وبه نه پوښتیدلی سی تاسی له هغو بدیو چې کړی وی موږ

وَاِنَّاۤ اَوۡ اِيَّاكُمۡ لَعَلٰى هُدًى اَوۡ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ. په بحث او مناظره کي دمخاطب دنفسياتو رعايت او داشتعال انګيزی څخه پر هيزکول: دغه خطاب دمشرکينو او کفارو سره دی: په واضحو دليلونو سره يي دالله ﷻ خالق او مالک والی او قادر مطلق والی بيان او واضح کي دبتانو او غير الله بې وسي او کمزوري يي ونښووله دا دي ټولو خبرو څخه وروسته موقع ددې وه چي مشرکينو ته يي ويلي وای چي تاسي جاهلان او ګمراه يا ست چي خدای ﷻ پريږدی او دشيطانانو پر ستش کوی: مګر قرآن کريم دلته چي کم حکيمانه عنوان اختيار وفرمايه هغه ددعوت او تبليغ او مخالفينو داسلام او اهل باطلو سره دبحث او مناظره کوونکو دپاره يوه مهمه هدايت نامه ده چي په دې آيت کي دوی ته دکافر او ګمراه ويلو پر ځای يي عنوان داسي کښيښوی چي ددې واضحو دليلونو په رڼا کي دا خو يو دعقل خاوند نه سي ويلای چي توحيد او شرک دواړي خبري حقيدي او توحيدوالا او مشرکين دواړه حق پرستان دي بلکي يو په دوی کي پر حق دی چي توحيد دی الخ.
(معارف القرآن ج۸پ۲۲ص۱۶۱)

وَلَا نُسْئَلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۞٢٥ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا

وَلَا نُسْئَلُ	عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ	قُلْ	يَجْمَعُ	بَيْنَنَا
او نه به پوښتيدلی کيږو موږ	له هغو بد يو	چې کوئ يئ تاسی	وو ايه (محمده)	چې جمع به وکړی	په مينځ زموږ کښی

او نه به پوښتيدلی کيږو موږ له هغو بد يو چې کوئ يئ تاسی . وو ايه (ای محمده!) چې جمع به وکړی په مينځ زموږ کښی

رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ۞٢٦ قُلْ

رَبُّنَا	ثُمَّ	يَفْتَحُ	بَيْنَنَا	بِالْحَقِّ	وَهُوَ	الْفَتَّاحُ	الْعَلِيْمُ	قُلْ
رب زموږ	بيا	فيصله به وکړی	په مينځ زموږ کښی	په حق سره	او هم دی دی	ښه فيصله کوونکی	ښه عالم	وو ايه

رب زموږ بيا حکم (فيصله) به وکړی په مينځ زموږ کښی په حق سره او هم دی دی ښه فيصله کوونکی ښه عالم. وو ايه

اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ كَلَّا ؕ بَلْ هُوَ اللّٰهُ

اَرُوْنِيَ	الَّذِيْنَ	اَلْحَقْتُمْ	بِهٖ	شُرَكَآءَ	كَلَّا	بَلْ	هُوَ اللّٰهُ
چې راوښيي ماته	هغه چې	پيوست کړی دی تاسی	له دغه (الله) سره	شريکان	نه ده داسی	بلکه	هم دغه الله دی

چې راوښيي ماته هغه (معبودان) چې پيوست کړی دی تاسی له دغه (الله) سره شريکان؟ نه ده داسی بلکه هم دغه الله دی

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞٢٧ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ

الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ	وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ	اِلَّا	كَآفَّةً	لِّلنَّاسِ
ښه غالب قوی	ښه حکمت والا	او نه يئ ليږلی موږ ته	مگر	په دی حال کښی ټولو	انسانانو ته

ښه غالب قوی ښه حکمت والا. او نه يئ ليږلی موږ ته مگر په دی حال کښی چې جامع يئ خلگو ته

بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞٢٨

بَشِيْرًا	وَّنَذِيْرًا	وَّلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ
زيری ورکوونکی	او ويروونکی	او ليکن	اکثر	خلگ	نه پوهيږی

زيری ورکوونکی (دجنت مؤمنانو ته) او ويروونکی (له دوزخ کفاروته) او ليکن اکثر خلگ (له کفارو) نه پوهيږی.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۞٢٩ قُلْ

وَيَقُوْلُوْنَ	مَتٰى	هٰذَا	الْوَعْدُ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	قُلْ
او وايئ (کفار)	کله به وی	دغه	وعده	که چيری يئ تاسی	رښتينی	وو ايه (محمده)

او وايئ (کفار) کله به وی دغه وعده (دعذاب) که چيری يئ تاسی رښتينی. وو ايه (ای محمده دوی ته)

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا

دنبي کريم ﷺ بعثت ددنيا دټولو قومونو دپاره ترقيامته پوري عام دی:

دنبي کريم ﷺ څخه مخکي چي څومره پيغمبران مبعوث سوي دي ددوی رسالت او نبوت دځه خاص قوم او دمځکي دخاص خطي دپاره وو داد خاتم الانبياء ﷺ خصوصي فضيلت دی چي ددوی نبوت دټولي دنيا دپاره عام دی او صرف دانسانانو دپاره نه بلکي دپيريانو دپاره هم دی او صرف دهغه خلگو دپاره نه کم چي ددوی په زمانه کي وه بلکي تر قيامته پوري دراتلونکو انسانانو دنسلونو دپاره عام دی او ددوی دنبوت او رسالت تر قيامته پوري باقي او مسلسل پاته کيدل ددې مقتضی دی چي دی ﷺ خاتم النبيين وي او ددوی څخه وروسته څوک نبي مبعوث نه سي ځکه چي دوهم نبي هلته مبعوث کيدای سي کله چي اولنی شريعت او تعليمات مسخ او محرّف سي نو بيا دوهم نبي دخلگو داصلاح دمقصد دپاره راوليږل سي او دنبي کريم ﷺ دشريعت دحفاظت ذمه الله ﷻ ترقيامته پوري اخيستي ده. پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

عٌ ۳ نصف

لَّكُمْ مِّيْعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُوْنَ عَنْهُ سَاعَةً

لَّكُمْ	مِّيْعَادُ	يَوْمٍ	لَّا تَسْتَأْخِرُوْنَ	عَنْهُ	سَاعَةً
چي (مقرره) ده تاسی ته	وعده	دیو ورځی	چي نه به وروستي کیږئ	له هغی (ورځی)	یو ساعت

چي (مقرره) ده تاسی ته وعده دیوی ورځی چي نه به وروستی کیږئ له هغی (ورځی) یو ساعت (قدر)

وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ ۳۰ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ

وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَنْ نُّؤْمِنَ
او نه مخکی کیږئ تاسی	او وایئ	هغه کسان	چي کافران سوی دی	له سره به ایمان رانه وړو موږ

او نه مخکی کیږئ تاسی (تری). او وایئ هغه کسان چي کافران سوی دی له سره به ایمان رانه وړو موږ

بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا بِالَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ ۭ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ

بِهٰذَا	الْقُرْاٰنِ	وَلَا بِالَّذِيْ	بَيْنَ يَدَيْهِ	وَلَوْ تَرٰٓى	اِذِ
په دی	قرآن	او نه پر هغه کتابونو	چي راغلی دی پخوا له دی	او که ووینی ته (ای محمده)	کله چي

په دی قرآن او نه پر هغه کتابونو چي راغلی دی په خوا له دی (قرآنه)، او که ووینی ته (ای محمده په آخرت کښی) کله چي

الظّٰلِمُوْنَ مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ښ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى

الظّٰلِمُوْنَ	مَوْقُوْفُوْنَ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	يَرْجِعُ	بَعْضُهُمْ	اِلٰى
دغه ظالمان	ودرولی سی	په نزد	درب د دوی	چي اړوی به	ځینی د دوی	له

دغه ظالمان ودرولی سی په نزد درب د دوی (دپاره دحساب) چي اړوی به ځینی د دوی له

بَعْضِ الْقَوْلَ ۚ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ

بَعْضِ	الْقَوْلَ	يَقُوْلُ	الَّذِيْنَ	اسْتُضْعِفُوْا	لِلَّذِيْنَ
ځینو نورو سره	خبره	وبه وایئ	هغه (تابعان)	چي ضعیف ګڼلی سوی ؤ	هغه (متبوعانو) ته

ځینو نورو سره خبره (داسی چي) وبه وایئ هغه (تابعان) چي ضعیف ګڼلی سوی ؤ هغه (متبوعانو) ته

اسْتَكْبَرُوْا لَوْلَآ اَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ۳۱ قَالَ الَّذِيْنَ

اسْتَكْبَرُوْا	لَوْلَآ اَنْتُمْ	لَكُنَّا	مُؤْمِنِيْنَ	قَالَ	الَّذِيْنَ
چي تکبر به یئ کاوه	چي که نه وی تاسی	نو خامخا وو به موږ	مؤمنان	وبه وایئ	هغه

چي تکبر به یئ کاوه چي که نه وی تاسی (منع کوونکی موږ لره له ایمان) نو خامخا وو به موږ مؤمنان. وبه وایئ هغه

لَّا تَسْتَأْخِرُوْنَ عَنْهُ سَاعَةً وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:
دحضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چي ماته پنځه شیان داسي راکول سوي دي کم چي زما څخه مخکي چاته نه دي ورکول سوي: یو داچي الله جل جلاله زما مدد ماته په داسي رعب راکوي چي دیوې میاشتي تر مسافته پوري پرخلګو زما رعب لویږي. دوهم: داچي زما دپاره دټولي مځکي مخ پاک او جمات مقرر سوی دی. دتیرو انبیاوو په شریعتونو کي ددوی عبادت په خاصو عبادت خانو کي کیدی ددوی دجماتونو څخه دباندي په میدان یا کور کي عبادت نه کیدی الله جل جلاله دامت محمدي دپاره ټوله مځکه په دې معنی سره جمات جوړ کی چي هر ځای لمونځ ادا کیدای سي. او دمځکي خاوره یي داوبو نه پیدا کیدو یاداوبو داستعمال دضرر رسولو په صورت کي پاکوونکې جوړه کړه چي په دې سره تیمم وسي نو د اودس قایم مقام به جوړ سي. دریم داچي مال غنیمت زما دپاره حلال ګرځول سوی دی الخ.
معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۱۶۳)

اسۡتَكۡبَرُوۡا لِلَّذِيۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡۤا اَنَحۡنُ صَدَدۡنٰكُمۡ

اسۡتَكۡبَرُوۡا	لِلَّذِيۡنَ	اسۡتُضۡعِفُوۡۤا	اَنَحۡنُ	صَدَدۡنٰكُمۡ
چې تکبر به يئ کاوه	دپاره د هغو کسانو	چې عاجزان کړې سوي وو	آيا موږ	منع کړي وئ تاسي

چې تکبر به يئ کاوه دپاره دهغو کسانو چې عاجزان کړې سوي وو آيا موږ منع کړي وئ تاسي

عَنِ الۡهُدٰى بَعۡدَ اِذۡ جَآءَكُمۡ بَلۡ كُنۡتُمۡ مُّجۡرِمِيۡنَ ۝٣٢

عَنِ الۡهُدٰى	بَعۡدَ	اِذۡ جَآءَكُمۡ	بَلۡ كُنۡتُمۡ	مُّجۡرِمِيۡنَ
له سمی صافي لاري	پس له هغه	چې راغلي ؤ تاسي ته	بلکه وی تاسي	په خپله مجرمان

له سمی صافي لاري پس له هغه چې راغلي ؤ (دغه هدايت) تاسي ته بلکه وی تاسي په خپله مجرمان (کافران).

وَقَالَ الَّذِيۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡا لِلَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡا بَلۡ

وَقَالَ	الَّذِيۡنَ	اسۡتُضۡعِفُوۡا	لِلَّذِيۡنَ	اسۡتَكۡبَرُوۡا	بَلۡ
او وبه وايئ	هغه کسان	چې عاجزان گڼلي سوي وو	هغه (رئيسانو) ته	چې تکبر به يئ کاوه	بلکه

او وبه وايئ هغه کسان چې عاجزان گڼلي سوي وو هغه (رئيسانو) ته چې تکبر به يئ کاوه بلکه

مَكۡرُ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ اِذۡ تَاۡمُرُوۡنَنَاۤ اَنۡ نَّكۡفُرَ بِاللّٰهِ

مَكۡرُ	الَّيۡلِ	وَالنَّهَارِ	اِذۡ تَاۡمُرُوۡنَنَاۤ	اَنۡ نَّكۡفُرَ	بِاللّٰهِ
دا فريب	د شپي	او د ورځي	کله چې امر به کاوه تاسي موږ ته	چې کافران سو موږ	پر الله

دا فريب (ستاسي ؤ) د شپي او د ورځي کله چې امر به کاوه تاسي موږ ته (هر وخت داسي) چې کافران سو موږ پر الله

وَنَجۡعَلَ لَهٗۤ اَنۡدَادًا ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الۡعَذَابَ ؕ

وَنَجۡعَلَ	لَهٗ	اَنۡدَادًا	وَاَسَرُّوا	النَّدَامَةَ	لَمَّا	رَاَوُا الۡعَذَابَ
او پيدا کړو موږ	دغه (الله) ته	شريکان	او پټه به کړي	پښيماني خپله	کله چې	ووينی عذاب

او پيدا کړو موږ دغه (الله) ته شريکان، او پټه به کړي پښيماني خپله کله چې ووينی عذاب

وَجَعَلۡنَا الۡاَغۡلٰلَ فِىۡۤ اَعۡنَاقِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ؕ

وَجَعَلۡنَا	الۡاَغۡلٰلَ	فِىۡۤ اَعۡنَاقِ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا
او گرځوو به موږ	ځنځيرونه (داور)	په غاړو	دهغو کسانو کښې	چې کافران سوی دی

او گرځوو به موږ ځنځيرونه (داور) په غاړو د هغو کسانو کښې چې کافران سوی دی (تابعان دی که متبوعان)

اسۡتَكۡبَرُوۡا لِلَّذِيۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡۤا اَنَحۡنُ صَدَدۡنٰكُمۡ.. **کفار او مشرکين به دقيامت په ورځ پر يو بل خبري وروغورځوي**: دقيامت په ورځ به دادنی درجي کفار و لويو خلگو ته يعني خپلو مقتداوو ته ووايي چي موږ خو ستاسي په سبب برباد سوکه تاسي نه وای نو موږ به خامخا ايمان راوړی وای په دي به دالوي خلگ ددوی په جواب کي ووايي چي ايا موږ تاسي په عمل کولو دهدايت سره په زور او زبردستی منع کړي واست او حال دادی چي هدايت تاسي ته رسيدلی وو: داسي نه ده بلکي تاسي قصور واره ياست چي دحق ظاهريدو څخه وروسته مو هم قبول نه کی اوس يي زموږ پر سر راتړپي ددوی په جواب کي به دادنی درجي خلگ ووايي هغه لويو خلگو ته چي موږ هم دانه وايو چي تاسي زور کړی وو بلکي ستاسي دشپي او ورځي تدبيرونو موږ لره منع کړي وو کله چي به تاسي موږ ته ويل چي موږ دي په الله ﷻ باندي کفر وکړو او هغه لره دي شريک مقرر کړو او ددغه کار دپاره به تاسي موږ ته ترغيب او تشويق راکوی چي موږ باطل اختياره کی الخ.
معارف القرآن ج٨ پ٢٢ ص١٦٥)

هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا

هَلْ يُجْزَوْنَ	اِلَّا	مَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَمَآ اَرْسَلْنَا
آیا جزا به ورکوله سی دوی ته	مگر خو	دهم دغو (عملونو)	چي دوی کول (په دنیا کښي)	او نه وو لیږلی موږ

آیا جزا به ورکوله سی دوی ته مگر خو د هم دغو (عملونو) چي دوی کول (په دنیا کښي). او نه وو لیږلی موږ

فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا

فِيْ قَرْيَةٍ	مِّنْ نَّذِيْرٍ	اِلَّا	قَالَ	مُتْرَفُوْهَآ	اِنَّا
په هیڅ کلی کښي	هیڅوک بیروونکی	مگر	ویل به	خوشحاله خلکو دهغه (قریي)	چي بیشکه! موږ

په هیڅ کلي (او ښار) کښي هیڅوک بیروونکی (له عذابه) مگر ویل به خوشحاله (خلکو) دهغه (قریي) چي بیشکه! موږ

بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا

بِمَآ	اُرْسِلْتُمْ	بِهٖ	كٰفِرُوْنَ	وَقَالُوْا	نَحْنُ	اَكْثَرُ	اَمْوَالًا
په هغه څه	چي رالیږلی سوي یئ تاسي	په هغه شي	کافران یو	او ویل به دوی	چي موږ	ډیر یو	له جهته د مالونو

په هغه څه چي رالیږلی سوي یئ تاسي په هغه شي کافران یو. او ویل به دوی چي موږ ډیر یو (له تاسي) له جهته د مالونو

وَّاَوْلَادًا وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٣٥﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

وَّاَوْلَادًا	وَّمَا نَحْنُ	بِمُعَذَّبِيْنَ	قُلْ	اِنَّ	رَبِّيْ	يَبْسُطُ	الرِّزْقَ
او د اولاد	او نه یو موږ	په عذاب کړی سوی	وو ایه	چي بیشکه!	رب زما	پراخوی	رزق، روزي

او د اولاد او نه یو موږ په عذاب کړی سوی. وو ایه (محمده) چي بیشکه! رب زما پراخوي رزق روزي

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٦﴾

لِمَنْ يَّشَآءُ	وَيَقْدِرُ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ
دپاره د هر هغه چاچي اراده وفرمائي	او تنگوي یئ	او لیکن	اکثره	د خلکو	نه پوهیږي

دپاره د هر هغه چا چي اراده وفرمائي او تنگوي یئ (پر هر هغه چا چي اراده وفرمائي) او لیکن اکثره خلک نه پوهیږي.

وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ

وَمَآ اَمْوَالُكُمْ	وَلَآ اَوْلَادُكُمْ	بِالَّتِيْ	تُقَرِّبُكُمْ
او نه دي دغه مالونه ستاسي	او نه اولاد ستاسي	داسي شي	چي نژدی کوي تاسي

او نه دي دغه مالونه ستاسي او نه اولاد ستاسي داسي شي (خصلت هغه خصلت) چي نژدی کوي تاسي

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ. **ددنیا دولت او عزت دالله ﷻ په نزد دمقبولیت ددلیل گڼلو پخواني شیطاني فریب:** ددنیا دابتداء څخه ددنیا ددولت او عیش او عشرت په نشه کي مست کیدونکو خلګو همیشه دحق دآواز مخالفت او دانبیاوو علیهم السلام او صالحانو سره دد ښمنی طریقه اختیاره کړیده الاماشآء الله: پر دې سربیره عجیبه داده چي دغه خلګو داهل حق په مقابله کي پر خپل حالت دمطمئن کیدو به دا دلیل پیش کوی چي که زموږ عملونه او عادتونه د الله ﷻ خوښ نه وای نو موږ ته به یي ددنیا دولت او عزت او حکومت ولي راکولای ؟: قرآن کریم ددې جواب په ډیرو ایاتونوکي په مختلفو عنواناتوسره ورکړی دی: دذکر سوو ایاتونو شان نزول هم دغسي دیوې قصي سره متعلق او ددې خطاء دلیل جواب دی **په حدیث شریف کي دي چي په زمانه دجاهلیت** کي دوه سړي په یوکار کي شریک وه بیا په دوي کي یو تن داځای پریښووی او یوې ساحلي علاقې ته ولاړی: کله چي نبي کریم ﷺ مبعوث سو: **پاته بیان پر راروان مخ وګوری:**

ع ١٠

عِنۡدَنَا زُلۡفٰۤى اِلَّا مَنۡ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ

عِنۡدَنَا	زُلۡفٰۤى	اِلَّا	مَنۡ اٰمَنَ	وَعَمِلَ	صَالِحًا	فَاُولٰٓئِكَ
په نزد زموږ	په قربت کښې	مگر	هر هغه څوک چې ايمان راوړي	او کړي يئ وي	ښه (عملونه)	پس دغه

په نزد زموږ نژدې کول مگر (نژدې کوی له تاسی) هر هغه څوک چې ايمان راوړی او کړي يئ وی ښه (عملونه) پس دغه

لَهُمۡ جَزَآءُ الضِّعۡفِ بِمَا عَمِلُوۡا وَهُمۡ فِى الۡغُرُفٰتِ

لَهُمۡ	جَزَآءُ	الضِّعۡفِ	بِمَا	عَمِلُوۡا	وَهُمۡ	فِى الۡغُرُفٰتِ
(مؤمنان) سته دوی ته	جزاء	دوچنده	په سبب دهغه	چې کړي دي دوی	او دوی به	په مانيو (دجنت کښې)

(مؤمنان چې دی) سته دوی ته جزاء دوچنده په سبب د هغه (نيکيو) چې کړي دی دوی او دوی به په مانيو (دجنت کښې)

اٰمِنُوۡنَ ﴿۳۷﴾ وَالَّذِيۡنَ يَسۡعَوۡنَ فِىۡۤ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيۡنَ

اٰمِنُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	يَسۡعَوۡنَ	فِىۡۤ اٰيٰتِنَا	مُعٰجِزِيۡنَ
په امن وی (له آفته)	او هغه کسان	چې سعی کوښښ کوی	په آيتونو زموږ	په دی حال کښې چې عاجزکوونکی وی زموږ

مامون وی (له آفته). او هغه کسان چې سعی کوښښ کوی په (ابطال د) آيتونو زموږ په دی حال کښې چې عاجز کوونکی وی زموږ

اُولٰٓئِكَ فِى الۡعَذَابِ مُحۡضَرُوۡنَ ﴿۳۸﴾ قُلۡ اِنَّ رَبِّىۡ يَبۡسُطُ

اُولٰٓئِكَ	فِى الۡعَذَابِ	مُحۡضَرُوۡنَ	قُلۡ	اِنَّ	رَبِّىۡ	يَبۡسُطُ
دغه کسان	په عذاب کښې	حاضر کړي سوي به وي	وو ايه	بيشکه!	رب زما	پراخوی

(په زعم خپل) دغه کسان په عذاب (د دوزخ کې) حاضر کړي سوي به وی. وو ايه (ای محمده!) بيشکه! رب زما پراخوی

الرِّزۡقَ لِمَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَيَقۡدِرُ لَهٗ ؕ وَمَاۤ اَنۡفَقۡتُمۡ

الرِّزۡقَ	لِمَنۡ يَّشَآءُ	مِنۡ عِبَادِهٖ	وَيَقۡدِرُ	لَهٗ	وَمَاۤ اَنۡفَقۡتُمۡ
رزق، روزی	دپاره دهر هغه چاچي اراده وفرمائی	له بندگانو خپلو	او تنگوی يئ	ورته	او هر هغه څه چې لگوئ يئ تاسی

رزق، روزی دپاره د هر هغه چاچي اراده وفرمائی له بندگانو خپلو او تنگوی يئ ورته، او هر هغه څه چې لگوئ يئ تاسی

مِّنۡ شَىۡءٍ فَهُوَ يُخۡلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ ﴿۳۹﴾

مِّنۡ شَىۡءٍ	فَهُوَ	يُخۡلِفُهٗ	وَهُوَ	خَيۡرُ	الرّٰزِقِيۡنَ
له کوم شی څخه	پس هغه (الله)	عوض درکوی دهغی	او هم دغه (الله)	خير، غوره	دروزی ورکوونکيو دی

له کوم شي څخه (ډيروی که لږ) پس هغه (الله) عوض درکوی دهغی او هم دغه (الله) خير غوره د روزی ورکوونکيو دی.

اِلَّا مَنۡ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمۡ. دتيرمغ پاته بيان دلته وکوری: او دنبي کريم ﷺ دنبوت او درسالت اوازه خپره سوه نو دغه ساحلي ملگري خپل دمکې دي ملگري ته خط وليکی او پوښتنه يي ورڅخه وکړه چې دده دنبوت ددعوې څخه تاسي خلگو څه اثر واخيستی؟. پر دې باندي دمکې ملگري په جواب کي دا ورته وليکل چي په قريشو کي خو هيڅوک هم دده تابع نه سول :صرف غريبان او مسکينان او بې حيثيته خلگ په ده پسي سوي دي ساحلي ملگري هلته خپل تجارت پرېښووی مکې مکرمې ته راغی او خپل ملگري ته يي وويل چي ماته دهغه ادرس وښيه کم چي دنبوت دعوی کړيده : دې ساحلي ملگري دپخواني کتابونو تورات، انجيل وغيره مطالعه کوله دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پوښتنه يي وکړه چي ته دڅه شي طرف ته دعوت ورکوي؟ دوی ﷺ خپل داسلامي دعوت اهم اجزاء ورته ذکر کړل هغه چي دا واوريده نو په خپل عقل او دنښو دليدو څخه متاثره سو ايمان يي راوړی بيا دا آيت نازل سو الخ : (معارف القرآن بتغير يسير ج ٨ پ ٢٢ ص ١٦٧)

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ أَهٰٓؤُلَآءِ

وَيَوْمَ	يَحْشُرُهُمْ	جَمِيْعًا	ثُمَّ	يَقُوْلُ	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	اَهٰٓؤُلَآءِ
او هغه ورځ	چې (الله) ټول به کړي دوی	ټوله	بیا به	فرمائي (الله)	ملائیکوته	آیا دا هغه ګمراهان دی

او (یادکړه) هغه ورځ چې (الله) ټوله به کړي دوی ټول بیا به فرمائي (الله) ملائیکو ته آیا دا هغه ګمراهان دی

إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا سُبْحٰنَكَ أَنْتَ وَلِيُّنَا

اِيَّاكُمْ	كَانُوْا	يَعْبُدُوْنَ	قَالُوْا	سُبْحٰنَكَ	اَنْتَ	وَلِيُّنَا
چې خاص تاسی ته	ؤ دوی	چې عبادت به یې کاوه	وبه وایئ (ملائیکی)	پاکی ده تاته	یئ ته	مولی زموږ

چې خاص تاسی ته (بی له الله ؤ) چې عبادت به یې کاوه؟ وبه وایئ (ملائیکی) پاکی ده تاته یئ ته مولی (معبود) زموږ

مِنْ دُونِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ۚ أَكْثَرُهُمْ

مِنْ دُوْنِهِمْ	بَلْ كَانُوْا	يَعْبُدُوْنَ	الْجِنَّ	اَكْثَرُهُمْ
بی له دوی څخه	بلکه وو دوی	چې عبادت به یې کاوه	دپیریانو ، شیطانانو	او زیاتره د دوی

بی له دوی څخه (نه ده داسی چی دا کفار وایئ) بلکه وو دوی چې عبادت به یې کاوه د پیریانو شیطانانو او زیاتره د دوی

بِهِمْ مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ

بِهِمْ	مُّؤْمِنُوْنَ	فَالْيَوْمَ	لَا يَمْلِكُ	بَعْضُكُمْ
په دغو	مؤمنان وو	پس نن ورځ	نه لري اختیار	ځینی ستاسی معبودان

په دغو (پیریانو شیاطینو باور کوونکی او) مؤمنان وو. (نو الله وفرمائی) پس نن ورځ نه لري اختیار ځینی ستاسی معبودان

لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ۗ وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا

لِبَعْضٍ	نَّفْعًا	وَّلَا ضَرًّا	وَنَقُوْلُ	لِلَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	ذُوْقُوْا
دپاره دځینو نورو	نه دنفعی	او نه دضرر	او وبه وایو موږ	دپاره دهغو کافرانو	چې ظلم یې کړی دی	وڅکئ تاسی

دپاره د ځینو نورو (عابدانو) نه د نفعی او نه د ضرر، او وبه وایو موږ دپاره د هغو کافرانو چې ظلم یې کړی دی وڅکئ تاسی

عَذَابَ النَّارِ الَّتِي كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتْلٰى

عَذَابَ	النَّارِ	الَّتِيْ	كُنْتُمْ	بِهَا	تُكَذِّبُوْنَ	وَاِذَا تُتْلٰى
عذاب	داور	هغه چې	چې وئ تاسی	چې ددی (اور)	تکذیب به مو کاوه	او کله چې ولوستلی سی

عذاب د اور هغه چې وئ تاسی چې د دی (اور) تکذیب به مو کاوه (په دنیا کښی) او کله چې ولوستلی سی

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ. دقیامت په ورځ به پر کفارو باندې دحجت دثابتولو دپاره دفرشتو څخه پوښتنه وسي الله ﷻ فرمايي چې هغه ورځ دذکر کولو قابله ده چې الله ﷻ به دا ټول مخلوقات په یو میدان کې راجمع کړي بیا به الله ﷻ ملایکو ته ارشاد وفرمايي چې آیا دا خلګو ستاسي عبادت کوی ؟ دملایکو څخه دا سوال دمشرکینو دلاجوابه کولو دپاره کیږي کمو کفارو چې به دملایکو او غیر ملایکو عبادت په دې خیال سره کوی چې دوی راضي سي بیا به زموږ شفاعت کوي لکه چې پر دغه طریقه به سوال دحضرت عیسی ؑ څخه هم وسي: ءأنت قلت للناس مطلب دسوال دادی چې آیا ستاسي په رضا دوی ستاسي عبادت کوي. او دارنګه په جواب کې هم ددې قید قرینه ده. ملایکې به اول دالله ﷻ دشریک څخه دبالاتر کیدواو پاکیدو دظاهرولو دپاره عرض وکې چې ته دشریک څخه پاک يي او بیا به عرض وکي چې یا الله ﷻ موږ دوی ته هیڅکله امر نه وو کړی دوی خپله دا کار کړی وو الخ.
(معارف القرآن ج٨ پ٢٢ ص١٧٣)

وَكَذَّبَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ۙ وَمَا بَلَغُوۡا مِعۡشَارَ.. لفظ دمعشار دڅو عددته ويل کيږي؟ لفظ دمعشار ځينو په معنى دعشر ويلى دى يعني لسمه حصه او ځينو عالمانو په معنى دعشر العشير ويلى دى يعني زرمي حصې ته ويل کيږي او داظاهره ده چې په دې لفظ کي په نسبت دعشر مبالغه ده: دآيت معنى داده چي ددنيا ثروت او دولت او حکومت او طويل عمر او صحت قوت وغيره کم چي تيرو امتونو ته ورکول سوى وو: دمکې خلگوته ددې لسمه بلکي زرمه حصه هم حاصله نه ده په دې وجه دوى ته پکار دي چي ددغو تيروقومونو دحالاتو او بد انجام څخه عبرت حاصل کړي ځکه چي دغو خلگو درسولانو تکذيب وکى نودخداى ﷻ په عذاب کي اخته سول او چي دغه عذاب راغى نو دهغوى قوت، شجاعت او مال دولت او محفوظي کلاوى ددوى هيڅ په کار رانه غلې داځکه چي دوى دالله ﷻ باغيان او نافرمانه بندگان وه او هغه وخت چي الله ﷻ دوى ته دامهلت ورکړى وو هغه پوره سو نو بيا عذاب الهي راغى.
معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۱۷۸)

عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوۡا مَا هٰذَاۤ اِلَّا رَجُلٌ يُّرِيۡدُ

عَلَيۡهِمۡ	اٰيٰتُنَا	بَيِّنٰتٍ	قَالُوۡا	مَا هٰذَاۤ	اِلَّا	رَجُلٌ	يُّرِيۡدُ
پر دوى	آيتونه زموږ	چي واضح دى	نو وايئ	نه دى دغه (محمد)	مگر	يو داسي سړى دى	چي اراده لرى

پر دوى آيتونه زموږ په دى حال کښې چې واضح دى نو وايئ نه دى دغه (محمد) مگر يو داسي سړى دى چي اراده لرى

اَنۡ يَّصُدَّكُمۡ عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ اٰبَآؤُكُمۡ ۚ وَقَالُوۡا

اَنۡ يَّصُدَّكُمۡ	عَمَّا كَانَ	يَعۡبُدُ	اٰبَآؤُكُمۡ	وَقَالُوۡا
ددى چي منع کړى تاسى	له هغه چي وو	چي عبادت به کاوه	پلرونو ستاسى	او وايئ دوى (منکران)

ددى چي منع کړي تاسى له هغه شى څخه چي وو (داسى) چي عبادت به کاوه پلرونو ستاسى، او وايئ دغه (منکران)

مَا هٰذَاۤ اِلَّاۤ اِفۡكٌ مُّفۡتَرًى ؕ وَقَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لِلۡحَقِّ لَمَّا

مَا هٰذَاۤ	اِلَّاۤ	اِفۡكٌ	مُّفۡتَرًى	وَقَالَ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	لِلۡحَقِّ	لَمَّا
چي نه دى دغه	مگر	يو دروغ دى	له خپله ځانه جوړ کړى	او وايئ	هغه کسان	چي کافران سوى دى	حق ته	کله چي

چي نه دى دغه (قرآن) مگر يو دروغ دى له خپله ځانه جوړ کړي، او وايئ هغه چي کافران سوى دى حق ته کله چي

جَآءَهُمۡ ۙ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۝۴۳ وَمَاۤ اٰتَيۡنٰهُمۡ

جَآءَهُمۡ	اِنۡ هٰذَاۤ	اِلَّا	سِحۡرٌ	مُّبِيۡنٌ	وَمَاۤ اٰتَيۡنٰهُمۡ
راغى دوى ته	نه دى دغه	مگر	خو دى جادو	ښکاره	حال دا چي نه دى ورکړى موږ دوى ته

راغى دوى ته نه دى دغه مگر خو دى سحر کوډى ښکاره. حال دا چي نه دى ورکړى موږ دوى ته

مِّنۡ كُتُبٍ يَّدۡرُسُوۡنَهَا وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ

مِّنۡ كُتُبٍ	يَّدۡرُسُوۡنَهَا	وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَاۤ	اِلَيۡهِمۡ	قَبۡلَكَ
له کتابونو	چي وايي دوى هغه (کتابونه)	او نه وو ليږلى موږ	دوى ته	پخوا له تا څخه

له کتابونو (منزله وڅخه) چي وايي دوى هغه (کتابونه) او نه وو ليږلى موږ دوى ته پخوا له تا څخه

مِنۡ نَّذِيۡرٍ ۝۴۴ وَكَذَّبَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ۙ وَمَا بَلَغُوۡا

مِنۡ نَّذِيۡرٍ	وَكَذَّبَ	الَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	وَمَا بَلَغُوۡا
کوم بيروونکى	او تکذيب کړى وو	هغو کسانو	چي پخوا وُ له دوى	حال دا چي نه دى رسيدلى دوى

کوم بيرونکى. او تکذيب کړى وو (دانبياؤ هم داسى) هغو کسانو چي پخوا وُ له دوى حال دا چي نه دى رسيدلى دوى

ع ۵ ۱۱

مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ فَكَيْفَ كَانَ

مِعْشَارَ	مَآ اٰتَيْنٰهُمْ	فَكَذَّبُوْا	رُسُلِيْ	فَكَيْفَ	كَانَ
لسمي برخې	دهغه شي ته چې ورکړی مو وو هغو ته	پس تکذيب وکړ هغو	درسولانو زما	پس څرنګه	وُ

لسمي برخې د هغه شي ته چې ورکړی مو وو هغوی ته (له قوت) پس تکذيب وکړ (هغو) درسولانو زما، پس څرنګه وُ

نَكِيْرِ ﴿۴۵﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ اَنْ تَقُوْمُوْا

نَكِيْرِ	قُلْ	اِنَّمَآ	اَعِظُكُمْ	بِوَاحِدَةٍ	اَنْ تَقُوْمُوْا
انکار زما	ووايه (محمده)	بيشکه! هم داخبره ده	چې پند درکوم تاسي ته	په يوې خبرې سره	چې ودرېږئ تاسي

انکار زما . ووايه (ای محمده!) بيشکه! هم داخبره ده چې پند درکوم تاسي ته په يوې خبرې سره چې ودرېږئ تاسي

لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا مَا بِصَاحِبِكُمْ

لِلّٰهِ	مَثْنٰى	وَفُرَادٰى	ثُمَّ	تَتَفَكَّرُوْا	مَا بِصَاحِبِكُمْ
خاص الله ته	دوه دوه	او يو يو	بيا	ښه فکر وکړئ	چې نسته په دغه ملګری ستاسی کښې

خاص الله ته دوه دوه او يو يو بيا ښه فکر (اوغور) وکړئ چې نسته په دغه ملګری ستاسی کښې

مِّنْ جِنَّةٍ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ

مِّنْ جِنَّةٍ	اِنْ هُوَ	اِلَّا	نَذِيْرٌ	لَّكُمْ	بَيْنَ يَدَيْ	عَذَابٍ
هيڅ ليونتوب	نه دی دغه (محمد)	مګر	ييروونکی دی	تاسي ته	په مخ کښې	د عذاب

هيڅ ليونتوب نه دی دغه (محمد) مګر ييروونکی دی تاسي ته په مخ کښې د عذاب

شَدِيْدٍ ﴿۴۶﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ

شَدِيْدٍ	قُلْ	مَا سَاَلْتُكُمْ	مِّنْ	اَجْرٍ	فَهُوَ
سخت	ووايه (محمده!)	هر هغه څه چې وغوښتل ما له تاسي	له	مزدورئ څخه	پس هغه دی

سخت (دقيامت). ووايه (ای محمده!) هر هغه څه چې وغوښتل ما له تاسي له اجر ته (په دغه اندازه) پس هغه دی

لَكُمْ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۴۷﴾

لَكُمْ	اِنْ اَجْرِيَ	اِلَّا	عَلَى اللّٰهِ	وَهُوَ	عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	شَهِيْدٌ
هم ستاسی وی	نه دی اجر زما	مګر	پر الله دی	او هم دغه (الله)	پر	هر شي باندی	ښه شاهد دی

هم ستاسی وی ، نه دی اجر زما مګر پر الله دی، او هم دغه (الله) پر هر شي باندی ښه شاهد (خبردار) دی.

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ. پر اهل مکه باندي دحجت دتمامولو دپاره دحق يوه لنډه لار: په دغه آيت کي الله ﷻ پر اهل مکه باندي دحجت دتمامولو دپاره دوی ته دحق دتحقيق دپاره يوه لنډه لاره ښوولې ده چي تاسي راولاړ سی يو کار وکړی هغه داچي د الله ﷻ دپاره ودرېږی يو، يو يا دوه دوه: او دالله ﷻ ددريدو دپاره حسي دريدل نه دي مراد چي دناستي يا پروتي څخه ودرېږی بلکي ددې څخه مراد دمحاورې مطابق دکار پوره اهتمام کول دي او دلته يي دقيام سره لفظ دالله ﷻ زيات کی دا په حقيقت کي دا ښوول منظور دي چي خالص د الله ﷻ دراضي کيدو دپاره دتيرو عقيدو او خيالاتو څخه خالي الذهنه سی دحق په تلاش کي اخته او شروع سی داسي چي تير خيالات او عملونه دحق قبلولو په لاره کي حائل نه وي: او په دوه دوه يا يو يو کي څه خاص عدد مقصود نه دی مطلب دادی چي دفکر کولو دوې طريقي وي يوه په خلوت کي خپله فکر کول: او دوهم دخپلو احبابو او مشرانو سره مشوره کول هره طريقه چي موخوښه وي هغه وکی الخ.

(معارف القرآن ج ۸ پ۲۲ ص۱۷۹)

قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٤٨﴾

قُلْ	اِنَّ	رَبِّيْ	يَقْذِفُ	بِالْحَقِّ	عَلَّامُ	الْغُيُوْبِ
ووايه	بيشكه!	رب زما	غلبه وركوي	حق (دين) ته	ښه خبردار دى	پر ټولو پټو اشياؤ هم

ووايه (اى محمده! دوى ته) بيشكه! رب زما ويشتل كوى (راليږى) حق (دين) ښه خبردار دى پر ټولو پټو اشياؤ هم.

قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ﴿٤٩﴾

قُلْ	جَآءَ	الْحَقُّ	وَمَا يُبْدِئُ	الْبَاطِلُ	وَمَا يُعِيْدُ
ووايه (محمده)	راغى	حق	او نسى پيدا كولى	باطل (معبودان)	او نه يئ بيا له سره ژوندى راپاڅولى سى

ووايه (اى محمده) راغى حق (قرآن، اسلام) او نسى پيدا كولى باطل (معبودان) او نه يئ بيا له سره ژوندى راپاڅولى سى.

قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰى نَفْسِيْ ۚ وَاِنِ

قُلْ	اِنْ	ضَلَلْتُ	فَاِنَّمَآ	اَضِلُّ	عَلٰى	نَفْسِيْ	وَاِنِ
ووايه (محمده)	كه چيرى	وښوئيدم زه	پس بيشكه! هم دا خبره ده	چې وبه ښوئيږم	پر	ځان خپل	او كه

ووايه (محمده!) كه چيرى وښوئيدم زه (له سمى لارى) پس بيشكه! هم دا خبره ده چې وبه ښوئيږم په ځان خپل او كه

اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِيْٓ اِلَيَّ رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ﴿٥٠﴾

اهْتَدَيْتُ	فَبِمَا	يُوْحِيْٓ	اِلَيَّ	رَبِّيْ	اِنَّهٗ	سَمِيْعٌ	قَرِيْبٌ
سمه لاره مى پيدا كړله	نو په سبب د دى به وى	چې وحى كوى	ماته	رب زما	بيشكه! هم هغه (الله)	ښه اوريدونكى	ډير رانژدى دى

سمه لاره مى پيدا كړله نو په سبب د دى به وى چې وحى كوى ماته رب زما بيشكه! هم هغه (الله) ښه اوريدونكى دى ډير رانژدى دى.

وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٥١﴾

وَلَوْ تَرٰٓى	اِذْ	فَزِعُوْا	فَلَا فَوْتَ	وَاُخِذُوْا	مِنْ مَّكَانٍ	قَرِيْبٍ
او كه ووينى ته	كله چې	وبيريږئ دوى	پس نه به خلاصيږى په تيښته	او وبه نيول سى دوى	له ځايه	نژدى څخه

او كه ووينى ته كله چې وبيريږئ دوى (عند النزع) پس نه به خلاصيږى په تيښته او وبه نيول سى دوى له ځايه نژدى څخه.

وَّقَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍ

وَّقَالُوْٓا	اٰمَنَّا	بِهٖ	وَاَنّٰى	لَهُمُ	التَّنَاوُشُ	مِنْ مَّكَانٍ
او وبه وايئ (داكفار)	ايمان مو راوړى دى	پر دغه (الله)	او له كومه به وى	دوى ته	نيول (دايمان)	له ځايه

او وبه وايئ (داكفار) ايمان مو راوړى دى پر دغه (الله) او له كومه به وى دوى ته نيول (دايمان) له ځايه

قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ. الله ﷻ هميشه حق پر باطل باندي ورولي: په دغه آيت كي الله ﷻ خطاب نبي كريم ﷺ ته كړى دى چي دې كفارو ته ووايه چي زما پروردگار چي علام الغيوب دى هغه حق پر باطل باندي ورولي چي نتيجه يي داوي چي باطل ټكړې ټكړې سي لكه چي الله ﷻ فرمايي: فاذاهو زاهق يعني باطل دحق په مقابل كي ختميدونكى دى: دلفظ دقذف لغوى معنى ده ويشتل: دلته دباطل په مقابله كي دحق پيش كول مراد دي او په لفظ ديقذف سره يي په تعبير كولو كي شايد داحكمت وي چي پر باطل دحق گذارد پريوتلو اثر ښوول مقصود وي داپه حقيقت كي يو تمثيل دى چي لكه څنگه چي يو دروند شى په نازك شي كي ومښلي نو دغه شى په ننوځي: دغه ركم دحق په مقابله كي باطل ذره ذره سي په دې وجه مخ ته فرمايي: ومايبدئ الباطل ومايعيد. يعني دحق په مقابل كي باطل داسي كمزورى او بيكاره پاته سي چي هغه دځه شي دابتدا كولو قابل نه پاته كيږي او نه هم دوباره دواپس كيدو.
معارف القرآن ج٨ پ٢٢ ص١٨٠)

بَعِيۡدٍ ﴿۵۲﴾ وَّقَدۡ كَفَرُوۡا بِهٖ مِنۡ قَبۡلُ ۚ وَيَقۡذِفُوۡنَ

بَعِيۡدٍ	وَّقَدۡ	كَفَرُوۡا	بِهٖ	مِنۡ قَبۡلُ ۚ	وَيَقۡذِفُوۡنَ
لرى	او په تحقيق	كفران سوى وو	په الله	پخوا له دى څخه	او ويشتل به كول دوى

لرى (چې آخرت دى). او په تحقيق كافران سوى وو په الله پخوا له دى څخه (په دنيا كښې) او ويشتل به كول دوى

بِالۡغَيۡبِ مِنۡ مَّكَانٍۭ بَعِيۡدٍ ﴿۵۳﴾ وَحِيۡلَ بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ

بِالۡغَيۡبِ	مِنۡ مَّكَانٍۭ	بَعِيۡدٍ	وَحِيۡلَ	بَيۡنَهُمۡ	وَبَيۡنَ
په غيب	له ځايه	لرى	او پرده به واچولى سى	په مينځ د دوى	او په مينځ

په غيب له ځايه لرى. او پرده (جدائى) به واچولى سى په مينځ د دوى او په مينځ

مَا يَشۡتَهُوۡنَ كَمَا فُعِلَ بِاَشۡيَاعِهِمۡ

مَا يَشۡتَهُوۡنَ	كَمَا	فُعِلَ	بِاَشۡيَاعِهِمۡ
دهغه شي چې ارمان يئ كوى دوى	لكه چې	كړى سوى وو	د دوى غوندى خلكو سره


د هغه شي چې ارمان يئ كوى دوى (لكه ايمان او اعاده الى الدنيا) لكه چې كړى سوى وو (دا كار) له سيالانو د دوى سره

مِّنۡ قَبۡلُ ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا فِىۡ شَكٍّ مُّرِيۡبٍ ﴿۵۴﴾ ع

۱۲ع

مِّنۡ قَبۡلُ	اِنَّهُمۡ	كَانُوۡا	فِىۡ شَكٍّ	مُّرِيۡبٍ
پخوا له دى څخه	بيشكه! هغوى	وو	په داسى شك كښې	چې ډير ترد دا چوونكى وو

پخوا له دى څخه، بيشكه! هغوى وو په داسى شك كښې چې ډير تردد اچوونكى وو (خلكو ته).



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع كوم په نامه د الله پاك چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ جَاعِلِ

اَلۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ	فَاطِرِ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	جَاعِلِ
ټوله ثناء صفت	خاص الله ته دى	چې بى له نمونى څخه پيدا كوونكى دى	دآسمانونو	او دمځكى	گرځوونكى

ټوله ثناء صفت خاص (هغه) الله ته دى چې بى له نمونى څخه پيدا كوونكى دى دآسمانونو او دمځكى گرځوونكى

وَّقَدۡ كَفَرُوۡا بِهٖ مِنۡ قَبۡلُ ۚ وَيَقۡذِفُوۡنَ بِالۡغَيۡبِ. دقذف معنى يو شى ويشتل او راغورځول راځي: په عربو كې دامحاوره ده چې كم سړى بې دليله محضي په خپل خيال سره خبرې كوي دوى دغه درجم بالغيب او قذف بالغيب په الفاظو سره تعبير كوي چې دى په تياره كې غشي چلوي او دده هيڅ نښانه نسته: او دلته دمكان بعيد دالفاظو څخه مراد دادى چې هغوى چې څه وايې دهغوى دزړونو څخه ليرې وي په زړه كې يې عقيده نه لري. مخته الله ﷻ بيا فرمايي: **وحيل بينهم وبين مايشتهون**: يعني دې خلگو ته چې كم شى محبوب او مقصود وي ددوى او دهغه شي په مينځ كې پرده حائله سوه او دوى محرومه سول: دامضمون دقيامت پر حال هم صادقه دى چې په قيامت كې به داخلگ دنجات او جنت طلب كوونكي وي نو دوى به هلته ونه رسيږي او په دنيا كې دمرگ پر وخت باندې هم صادق دى چې په دنيا كې دوى ته ددې ځاى دولت او سامان مقصود وو مرگ ددوى ددې مطلوب په مينځ كې حائله سو او دوى يې دهغه څخه جلا كړل.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۱۸۲)

الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَ ثُلٰثَ وَرُبٰعَ

الْمَلٰٓئِكَةِ	رُسُلًا	اُولِيْٓ	اَجْنِحَةٍ	مَّثْنٰى	وَ ثُلٰثَ	وَرُبٰعَ
دملائيكو دى	رسولان	چى خاوندان	دوزرو	دوه دوه	او دريو دريو	او څلورو څلورو دى

دملائيكو دى رسولان، (هسى ملائيكى) چى خاوندان د وزرو (مثو) دوه دوه او دريو دريو او څلورو څلورو دى

يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ۚ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ①

يَزِيْدُ	فِي الْخَلْقِ	مَا يَشَآءُ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ
زياتوى (الله)	په پيدا ينبت كښى	هومره چى اراده وفرمائى	بيشكه! چى	الله	پر	هر شى باندى	ښه قادر دى

زياتوى (الله) په پيدا ينبت كښى هومره چى اراده وفرمائى (دهغو) بيشكه! چى الله پر هر شى باندى ښه قادر دى.

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ

مَا يَفْتَحِ	اللّٰهُ	لِلنَّاسِ	مِنْ رَّحْمَةٍ	فَلَا	مُمْسِكَ	لَهَا
هر هغه شى چى خلاصوى يئ	الله	دپاره دخلكو	له رحمت خپل	پس نشته	هيڅوك بندوونكى	دهغه

هر هغه شى چى پرانيځى الله دپاره دخلكو له رحمت خپل (لكه صحت وسعت) پس نشته هيڅوك بندوونكى دهغه

وَمَا يُمْسِكْ ۙ فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

وَمَا يُمْسِكْ	فَلَا	مُرْسِلَ	لَهٗ	مِنْۢ بَعْدِهٖ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ
او هر هغه شى چى بند كرى	پس نشته	ليږونكى	دهغه	پس له بندولو دالله	او هم دى (الله) دى	ښه غالب قوى

او هر هغه شى چى بند كرى پس نشته ليږونكى دهغه (هيڅوك) پس له بندولو دالله او هم دى ښه غالب قوى

الْحَكِيْمُ ② يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۭ

الْحَكِيْمُ	يٰٓاَيُّهَا	النَّاسُ	اذْكُرُوْا	نِعْمَتَ	اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ
ښه حكمت والا	اى	خلكو	يادكړئ	نعمت ، احسان	دالله	پر تاسى

ښه حكمت والا. اى خلكو ! ياد كړئ نعمت احسان دالله پر تاسى (چى حيات او روزى او نور يئ دركړى دى)

هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ

هَلْ	مِنْ خَالِقٍ	غَيْرُ	اللّٰهِ	يَرْزُقُكُمْ	مِّنَ	السَّمَآءِ
آيا سته	بل كوم پيدا كوونكى	بى له	الله	هم دغه (الله) روزى دررسوى تاسى ته	له (طرفه)	دآسمانه

آيا سته بل كوم پيدا كوونكى بى له الله (بلكه نشته) هم دغه (الله) روزى دررسوى تاسى ته له (طرفه) دآسمانه (په باران)

جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى ملايكي دالله جَلَّ جَلَالُهُ دپيغامونو رسوونكي دي: ملايكي رسول يعني دالله جَلَّ جَلَالُهُ دپيغام او احكامو رسوونكي جوړولو مطلب دادى چي دوى دانبياوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ طرف ته قاصدان او رسولان جوړيږي او ليږل كيږي: هغوى دالله جَلَّ جَلَالُهُ وحي او احكام دوى ته رسوي او دا هم ممكنه ده چي درسول څخه مراد دلته واسطه وي دالله جَلَّ جَلَالُهُ او دعام مخلوقاتو په مابين كي چي په دوى كي انبياء دټولو څخه افضل او اعلى دي نو دغه ملايكي ددوى يعني دانبياوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او دالله جَلَّ جَلَالُهُ په مينځ كي هم دوحي واسطه جوړيږي او عامو مخلوقاتو ته دالله جَلَّ جَلَالُهُ درحمت يا دعذاب رسولو هم واسطه ملايكي وي: اولى اجنحة مثنى وثلاث ورباع. يعني الله جَلَّ جَلَالُهُ ملايكو لره وزرونو والا جوړي كړي دي په كمو كي چي دوى الوتلى سي حكمت ددې ظاهر دى چي هغوى دآسمان څخه مځكي ته مسافت بار بار طى كوى دا هلته كيداى سي چي هغوى ته دژر تلو طاقت وركول سي او هغه دالوتلو په صورت كي وي.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۱۸۴)

وَالْاَرْضِ ۭ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ڮ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ③ وَاِنْ

وَالْاَرْضِ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	فَاَنّٰى	تُؤْفَكُوْنَ	وَاِنْ
او له ځمکې	نشته لایق د عبادت بل هیڅوک	مګر	هم دی دی	نو کومې خواته	ګرځولی کیږئ	او که

او له ځمکې (په سبب د زرغونولو) نشته لایق د عبادت بل هیڅوک مګر هم دی دی پس له کوم جهته ګرځولی کیږئ. او که

يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ

يُّكَذِّبُوْكَ	فَقَدْ	كُذِّبَتْ	رُسُلٌ	مِّنْ قَبْلِكَ	وَاِلَى	اللّٰهِ
دروغجن وشمیری تا	پس په تحقیق	دروغجن	شمیرلی سوی وو ډیر رسولان	پخوا له تا څخه	او خاص	الله ته

دروغجن وشمیری (دغه کفار ای محمده!) تا پس په تحقیق دروغجن شمیرلی سوی وو ډیر رسولان پخوا له تا نه او خاص الله ته

تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ④ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

تُرْجَعُ	الْاُمُوْرُ	يٰٓاَيُّهَا	النَّاسُ	اِنَّ	وَعْدَ	اللّٰهِ	حَقٌّ
بیرته ګرځولی سی	ټول کارونه	ای	خلګو	بیشکه!	وعده	دالله	حقه ده

بیرته ګرځولی سی ټول کارونه (په آخرت کښې). ای خلګو بیشکه! وعده دالله حقه ده(چې د قیامت حساب دی)

فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۪ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ⑤

فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَا	وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ	بِاللّٰهِ	الْغَرُوْرُ
پس خبردار چې نه دی تیر باسی تاسی	دغه ژوندون	د دنیا	او نه دی تیر باسی تاسی	په الله	چم باز شیطان

پس خبردار چې نه دی کړی مغروره تاسی دغه ژوندون د دنیا او نه دی غرور کړی تاسی په الله غرور کوونکی

اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ۭ اِنَّمَا

اِنَّ	الشَّيْطٰنَ	لَكُمْ	عَدُوٌّ	فَاتَّخِذُوْهُ	عَدُوًّا	اِنَّمَا
بیشکه!	شیطان	تاسی ته	دښمن دی	پس تاسی هم ونیسئ دی	دښمن	بیشکه! هم دا خبره ده

بیشکه! شیطان تاسی ته دښمن دی پس تاسی هم ونیسئ دی (خپل) دښمن بیشکه! هم دا خبره ده

يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ⑥ اَلَّذِيْنَ

يَدْعُوْا	حِزْبَهٗ	لِيَكُوْنُوْا	مِنْ اَصْحٰبِ	السَّعِيْرِ	اَلَّذِيْنَ
چې بولي شیطان	ډله خپله	د پاره د دی چې سی دوی	له ملګرو	د دوزخ (په آخرت کښې)	هغه کسان

چې بولي شیطان ډله خپله د پاره د دی چې سی دوی له ملګرو د دوزخ (په آخرت کښې). هغه کسان

وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ⑤

اِنَّ الشَّيْطٰنَ. شیطان ته په قران کریم کي هم ددوکه باز خطاب ورکول سوی دی

په دغه آیت کي الله ﷻ مسلمانانو ته یوازي خطاب نه دی کړی بلکي خپل ټولو مخلوقاتو ته یي خطاب کړی دی چي دقیامت دورځي راتګ ضروري دی هغه به خامخا راځي او په دغه خطاب کي یي ددوو شیانو ذکر کړی دی چي هغه سبب دغفلت ګرځي دآخرت څخه دغافله کیدو. یو ددنیادژونداولذتو سره محبت چي دانسان څخه دالله ﷻ عبادت او دهغه طرف ته توجه هیره سي شپه او ورځ دهغې په تلاش کي سرګردانه وي حلال او دحرامو تمیز ختم سي فقط دډیریدو په کوشش یي پسي وي. دوهم شي چي الله ﷻ یي ذکر کړی دی هغه دی شیطان: یعني هغه تاسي ته دالله ﷻ په معامله کي دوکه درنه کړي: مطلب دادی چي هسي نه شیطان بد کارونه ښه درته ښکاره کړي او تاسي په کښي مبتلا کړي او ستاسي حال داسي نه سي چي ګناه کوی او بیا داګنې چي موږ دالله ﷻ په نزد مقبول یو زموږ دپاره به عذاب نه وي.
معارف القرآن ج ٨پ٢٢ص١٨٩)

كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۬ۗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

كَفَرُوْا	لَهُمْ	عَذَابٌ	شَدِيْدٌ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
چې کافران سوی دی	ستهدوی ته	عذاب	سخت	او هغه کسان	چې ایمان یئ راوړی دی	او کړی یئ دی

چې کافران سوی دی ستهدوی ته عذاب سخت او هغه کسان چې ایمان یئ راوړی دی او کړی یئ دی

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝٧ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ

الصّٰلِحٰتِ	لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّاَجْرٌ	كَبِيْرٌ	اَفَمَنْ	زُيِّنَ	لَهٗ
ښه (عملونه)	ستهدوی ته	مغفرت، بخښنه	او اجر	ډیر لوی	آیا پس هغه څوک	چې ښایسته کړی سوی وی	ده ته

ښه (عملونه) ستهدوی ته مغفرت بخښنه او اجر ډیر لوی. آیا پس هغه څوک چې ښایسته کړی سوی وی ده ته

سُوْٓءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ۭ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَاۗءُ

سُوْٓءُ	عَمَلِهٖ	فَرَاٰهُ	حَسَنًا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	يُضِلُّ	مَنْ يَّشَاۗءُ
بد	عمل دده	پس ویني یئ دی	ښایسته	پس بیشکه! چې	الله	ګمراه کوی	هر هغه څوک چې اراده وفرمائی

بد عمل دده پس وینی یئ دی ښایسته پس بیشکه! چې الله ګمراه کوی هر هغه څوک چې اراده وفرمائی (دګمراهی یئ)

وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ڮ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ

وَيَهْدِيْ	مَنْ يَّشَاۗءُ	فَلَا تَذْهَبْ	نَفْسُكَ	عَلَيْهِمْ
او سمه صافه لاره ښیی	هر هغه چاته چې اراده وفرمائی	پس نه دی ځی	نفس ستا	په (ګمراهی) د دوی

او سمه صافه لاره ښیی هر هغه چاته چې اراده وفرمائی (دهدایت یئ) پس نه دی ځی نفس ستا په (ګمراهی) د دوی

حَسَرٰتٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝٨ وَاللّٰهُ الَّذِيْٓ

حَسَرٰتٍ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيْمٌۢ	بِمَا	يَصْنَعُوْنَ	وَاللّٰهُ	الَّذِيْٓ
له جهته د افسوسه	بیشکه! چې	الله	ښه عالم دی	په هغو کارونو	چې کوی یئ دوی	او الله	هغه (ذات) دی

له جهته د افسوسه بیشکه! چې الله ښه عالم دانا دی په هغو کارونو چې کوی یئ دوی. او الله هغه (مطلق قادر) دی

اَرْسَلَ الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ

اَرْسَلَ	الرِّيٰحَ	فَتُثِيْرُ	سَحَابًا	فَسُقْنٰهُ	اِلٰى	بَلَدٍ	مَّيِّتٍ
چې لیږلی یئ دی	بادونه	پس راپورته کوی	وریځی	نو موږ روانه کړو هغه وریځ	هغه	کلی (ځمکی)	مړی ته

چې لیږلی یئ دی بادونه پس راپورته کوی (بادونه) وریځی پس راکاږو موږ دغه وریځی هغه کلی (ځمکی) مړی ته

ع ۱۴

وَاللّٰهُ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ سَحَابًا.. دالله ﷻ دقدرت او وحدانیت دښو

بیان: یعني الله ﷻ داسي قادر مطلق ذات دی کم چي دباران څخه مخکي هواګاني رالوزوي بیا دغه هواوي وریځي راپورته کړي بیا الله ﷻ فرمایي چي موږ ددې په ذریعه سره یعني ددې وریځي داوبو په ذریعه سره مځکه په بوټو سره ژوندی کړو وروسته تر هغه چي داوچه سوې وه نو لکه څنګه چي مځکي ته دهغې په مناسب ژوند ورکول سو دغه شان په قیامت کښي دانسانانو ژوندي پورته کیدل دي او دتشبیه وجه یي هم ظاهره ده چي په دې دواړو کي دیوزائل سوي صفت پیداکول او اعاده ده : که څه هم په مځکه کي صرف یو عرضي امر یعني دنشو اونما تعلق سوی دی او په اندامونو کي یو امر جوهري یعني دروح تعلق نسته :ددې څخه وروسته الله ﷻ فرمایي : من کان یرید العزة فلله العزة جمیعا : یعني کم سړی چي په آخرت کي عزت حاصلول غواړي او داحاصلول ضروري هم دي نوعزت دالله ﷻ په اطاعت او فرمانبرداری کي دی الخ. (معارف القرآن ج۸پ۲ص ۱۹۱)

فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذٰلِكَ النُّشُورُ ⑨

فَأَحْيَيْنَا	بِهِ	الْأَرْضَ	بَعْدَ	مَوْتِهَا	كَذٰلِكَ	النُّشُورُ
پس ژوندی کوو موږ	په هغو	مځکه	پس له	مړوالی (وچوالی) دهغی	هم داسی به وی حال	دبیا ژوندی پورته کیدلو هم

پس ژوندی کوو موږ په هغو (اوبو) مځکه پس له مړوالی (وچوالی) دهغی هم داسی به وی حال د بیا ژوندی پورته کیدلو هم

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ

مَنْ كَانَ	يُرِيدُ	الْعِزَّةَ	فَلِلّٰهِ	الْعِزَّةُ	جَمِيعًا	إِلَيْهِ
هر هغه څوک چی وی	چی اراده لری	دعزت	پس خاص الله ته دی	عزت	ټول	خاص هم دغه (الله) ته

هر هغه څوک چی وی چی اراده لری دعزت پس خاص الله ته دی عزت ټول، خاص هم دغه (الله) ته

يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ۚ

يَصْعَدُ	الْكَلِمُ	الطَّيِّبُ	وَالْعَمَلُ	الصَّالِحُ	يَرْفَعُهُ
پورته خيژی	خبری	پاکی	او عمل	نيک	پورته کوی دغه (خپل عامل او عزتمن کوی يئ)

پورته خيژی خبری پاکی (يعنی مقام دقبول او رضاء د ده ته) او عمل صالح نيک پورته کوی دغه الله لوړ

وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ السَّيِّئَاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ

وَالَّذِينَ	يَمْكُرُونَ	السَّيِّئَاتِ	لَهُمْ	عَذَابٌ	شَدِيدٌ
او هغه کسان	چی جوړوی مکرونه	ناکاره	ستاسو دوی ته	عذاب	ډير سخت

او هغه کسان چی جوړوی (تاته) مکرونه ناکاره ستاسو دوی ته عذاب ډير سخت

وَمَكْرُ أُولٰئِكَ هُوَ يَبُورُ ⑩ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ

وَمَكْرُ	أُولٰئِكَ	هُوَ	يَبُورُ	وَاللّٰهُ	خَلَقَكُمْ	مِنْ تُرَابٍ
او مکر ،فريب	ددغو	هم هغه	فاسد ، باطل ، هلاک دی	او الله	پيدا کړی يئ تاسی	له خاوړو

او مکر فريب د دغو (قريشو چی دی ستا په باب کښی) هم هغه فاسد باطل هلاک دی .او الله پيدا کړی يئ تاسی له خاوړو

ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ

ثُمَّ	مِنْ نُطْفَةٍ	ثُمَّ	جَعَلَكُمْ	أَزْوَاجًا	وَمَا تَحْمِلُ
بيا	له څاڅکی څخه دمنی	بيا يئ	وګرځولی تاسی	جوړی جوړی	او نه اخلی حمل

(اول ځلی نيکه ستاسی) بيا (تاسی اولاده يئ پيدا کړی) له څاڅکی (دمنی) بيا يئ وګرځولی تاسی جوړی جوړی او نه اخلی حمل

إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ... پاک کلام او نيک عملونه دالله ﷻ طرف ته خيژي : ددي څخه په مخکي ايت کي دابنوول سويده چي کم سري دعزت او قوت طلبګاره وي نو ده ته پوهيدل پکار دي چي دادالله ﷻ څخه ماسوا دبل چاپه وس کي نسته کم شيان چي دغو خلګو معبودان جوړ کړي دي يادکمو سره چي دعزت په توقع باندي دوستي ساتي هغه چاته عزت نه سي ورکولای : په دي آيت کي دالله ﷻ څخه دعزت او قوت حاصلولو طريقه يي ښوولې ده چي ددې دوه اجزاء دي يوه کلمه طيبه يعني کلمه دتوحيد او دالله دذات او صفاتو علم. دوهم عمل صالح دی يعني په زړه سره ايمان راوړل : بيا ددې دمقتضى موافق دشريعت تابع عمل کول. حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله په موضح القرآن کي فرمايي چي دحصول عزت دانسخه بالکل صحيح او مجربه ده شرط دادی چي دالله ﷻ پر ذکر او عمل صالح باندي مداومت او هميشه توب وي نو بيا دالله ﷻ له طرفه هغه شخص ته لازواله عزت حاصل سي په دنيا او آخرت کي.
معارف القرآن ج ٨پ٢٢ص١٩٣)

مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ

مِنْ اُنْثٰى	وَلَا تَضَعُ	اِلَّا	بِعِلْمِهٖ	وَمَا يُعَمَّرُ	مِنْ مُّعَمَّرٍ
هيڅ ښځه	او نه زيږي (حمل)	مگر	په علم دالله سره	او نسي اوږديدلی عمر	دهيڅ عمر اوږد کړی سوی

هيڅ ښځه او نه زيږي (حمل هيڅ ښځه) مگر په علم دالله سره، او نسي اوږديدلی عمر دهيڅ عمر اوږد کړی سوی

وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

وَّلَا يُنْقَصُ	مِنْ عُمُرِهٖٓ	اِلَّا	فِيْ كِتٰبٍ	اِنَّ	ذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ
او نه هيڅ قدر کمولی سی	له عمر د دغه څخه	مگر	په کتاب کښی	بيشکه!	دغه	پر الله

او نه هيڅ قدر کمولی سی له عمر د دغه (معمر) څخه مگر په کتاب (دلوح محفوظ کښی ليکی دی) بيشکه! دغه پر الله

يَسِيْرٌ ⑪ وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۖ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ

يَسِيْرٌ	وَمَا يَسْتَوِی	الْبَحْرٰنِ	هٰذَا	عَذْبٌ	فُرَاتٌ
ډير آسان دی	او نه برابريږی سره	هغه دواړه بحرونه ، سيندونه	دا	يو خوږدی	تنده لری کوونکی خوندور

ډير آسان دی. او نه برابريږی سره هغه دواړه بحرونه سيندونه دا يو خوږدی تنده لری کوونکی خوندوری

سَآئِغٌ شَرَابُهٗ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ

سَآئِغٌ	شَرَابُهٗ	وَهٰذَا	مِلْحٌ	اُجَاجٌ	وَمِنْ	كُلٍّ	تَاْكُلُوْنَ
ښی هضميدونکی ښی تيريدونکی	او به د ده	او دا بل	تريو دی	تريخ	او له	هر يوه له دغو	خوری تاسی

ښی هضميدونکی ښی تيريدونکی اوبه دده او دابل تريو دی تريخ او له هر يوه له دغو (دواړو بحرونو څخه) خوری تاسی

لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ

لَحْمًا	طَرِيًّا	وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ	حِلْيَةً	تَلْبَسُوْنَهَا	وَتَرَى الْفُلْكَ
غوښی	تازه	او راوباسئ	زيورات	چی اغوندی تاسی هغه	او وينی ته کشتی

غوښی تازه (دماهی) او راوباسئ (له دغه ترخه سينده) گاڼه (دمرغلرو اومرجانو) چی اغوندی ، او (تل) وينی ته کشتی

فِيْهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ

فِيْهِ	مَوَاخِرَ	لِتَبْتَغُوْا	مِنْ فَضْلِهٖ	وَلَعَلَّكُمْ
په دغه کښی	تلونکی ،څيروونکی	دپاره ددی چی طلب کړئ تاسی	له فضله دالله	او دپاره ددی چی تاسی

په دغه (بحر) کښی تلونکی څيروونکی (د اوبو) دپاره ددی چی طلب کړئ تاسی له فضله د الله او دپاره ددی چی تاسی

وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ

دانسانانو عمرونه مخکي لا په لوح محفوظ کي ليکل سوي دي: ددې آيت مطلب دجمهورو مفسرينو په نزد دادی چي الله ﷻ کم سړي ته اوږد عمر ورکړي: هغه داول څخه په لوح محفوظ کي ليکل سوی وي دغه شان دچا عمر چي کم ساتي هغه هم په لوح محفوظ کي داول څخه ليکل سوي وي :ددې خبري خلاصه داده چي دلته دعمر اوږدوالی او کموالی دفرد واحد دپاره مراد نه دی بلکي خبره دنوع انساني متعلق ده چي ددې يوه فرد ته اوږد عمر ورکول کيږي بل ته بيا دده څخه کم: دادجمهورو مفسرينو قول دی: اوځيني حضرات بيا فرمايي چي که دعمر زياتي او کمي ته ده يوه سړي متعلق وويل سي نو په عمر کي دکمي کولو څخه دامطلب دی چي دهر سړي کم عمر چي الله ﷻ ليکلی دی هغه يقيني دی او کمه ورځ چي تيريږي دهغه عمر دمقررې مودې څخه دهغه عمر دمقررې مودې څخه يوه ورځ کميږي چي دوی تيري سي نو دوی کمي سي دغه شان په هره ساه کي دده عمر کميږي.

معارف القرآن ج۸پ۲۲ص۱۹۵)

تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢﴾ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ

تَشْكُرُوْنَ	يُوْلِجُ	الَّيْلَ	فِي النَّهَارِ	وَيُوْلِجُ	النَّهَارَ
شکر وباسئ	ننه باسی (الله)	شپه	په ورځ کښې	او ننه باسی	ورځ

شکر وباسئ (په دغه لوی نعمت). ننه باسی (الله) شپه په ورځ کښې او ننه باسی (الله) ورځ

فِي الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ

فِي الَّيْلِ	وَسَخَّرَ	الشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ	كُلٌّ	يَّجْرِيْ	لِاَجَلٍ
په شپه کښې	او مسخر کړی يئ دی	لمر	او سپوږمی	چی هر يو	روان دی	تر يو نيټې

په شپه کښې او مسخر په کار کښې يئ لګولی دی لمر او سپوږمی چی هر يو بهيږی (روان دی) تر يوی نيټې

مُّسَمًّى ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ وَالَّذِيْنَ

مُّسَمًّى	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبُّكُمْ	لَهُ	الْمُلْكُ	وَالَّذِيْنَ
په نامه کړی سوی	دغه	الله دی	رب ستاسی	خاص هم ده ته دی	ملک، باچاهی	او هغه(بتان)

په نامه کړی سوی (چی ورځ دقيامت ده)، دغه (ذات) الله دی رب ستاسی خاص هم ده ته دی ملک باچاهی او هغه (بتان)

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ﴿١٣﴾ اِنْ

تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِهٖ	مَا يَمْلِكُوْنَ	مِنْ قِطْمِيْرٍ	اِنْ
چی بولی يئ تاسی	بی له دغه (الله)	نه دی مالکان دوی	دخرما دمندکی دنری پوستکی او پردی	که

چی بولی يئ تاسی (ای مشرکانو) بی له دغه (الله) نه دی مالکان دوی دنری پردی دخرماؤ (کښې). که

تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوْا

تَدْعُوْهُمْ	لَا يَسْمَعُوْا	دُعَآءَكُمْ	وَلَوْ	سَمِعُوْا
وبولئ تاسی (منکرانو)	نه آوری دغه بتان	بلنه ستاسی	او که	وايئ وری دوی

وبولئ تاسی (ای منکرانو) دغه بتان نه آوری (دغه بتان) بلنه ستاسی او که (بالفرض) وايئ وری دوی

مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ

مَا اسْتَجَابُوْا	لَكُمْ	وَيَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	يَكْفُرُوْنَ	بِشِرْكِكُمْ
نو نه به سی درکولی جواب	ستاسی	او په ورځ	دقيامت	به منکران سی دوی	په شريک کولو ستاسی

نو نه به سی درکولی جواب ستاسی او په ورځ د قيامت به منکران سی دوی په شريک کولو ستاسی .

يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ.. دالله ﷻ ديوځو نعمتونو ذکر: په دغه آيت کي بيا آ الله ﷻ خپل دنعمتونو بيان کړی دی کم چي پر انسانيت باندي کړي دي مثلا هغه داچي الله ﷻ دشپې اجزآء دورځې په اجزاء کي داخلوي او دورځې اجزاء دشپې په اجزآء کي داخلوي چي په دې سره دورځې او شپې دکميدو او زياتيدو متعلق نفعې حاصليږي او هغه لمر او سپوږمی په کار کي لګولي دي په دوی کي هر يو تر وخت مقرر يعني دقيامت تر ورځې پوري دغه شان چليږي نو همدغه الله ﷻ چي شان يي دادی ستاسي پروردګار دی حکومت هم دهغه دی او دهغه څخه ماسوا څوک چي کفار يي عبادت کوي دخرما دهډوکي د پوستکي په قدر او اندازه هم اختيار نه لري او دا خبره په جماداتو کي ښکاره ده او په ذوات الارواح کي په دې معنی چي بالذات اختيار نه لري او ددوی داحالت دی چي که تاسي دوی وبولی دخپل يو حاجت دپاره نو جمادات خو يي اوري نه او ذوات الارواح که يي هم واوري نو تاسي ته ستاسي دمقصد دپاره جواب نه سي درکولای الخ.
(معارف القرآن ج ٨ پ٢٢ ص ١٩٣)

ع۲/۱۴ الثلثة

وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ﴿۱۴﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ

وَلَا يُنَبِّئُكَ	مِثْلُ	خَبِيْرٍ	يٰٓاَيُّهَا	النَّاسُ	اَنْتُمُ
او خبر به نه کړی تا بل څوک	په شان	دښه خبرداره (الله)	ای	خلکو	تاسی

او خبر به نه کړی تا (له حقیقت دی کار) په شان (دخبرولو دهغه ښه عالم) ښه خبردار (الله). ای خلکو تاسی

الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۱۵﴾ اِنْ يَّشَاْ

الْفُقَرَآءُ	اِلَى اللّٰهِ	وَاللّٰهُ	هُوَ	الْغَنِيُّ	الْحَمِيْدُ	اِنْ يَّشَاْ
فقیران، محتاجان یئ	الله ته	او الله	هم دی دی	غنی، بی پروا	ښه حمد ثناء ویلی سوی	که اراده وفرمائی (الله)

فقیران، محتاجان یئ الله ته، او الله هم دی دی غنی بی پروا ښه حمد ثناء ویلی سوی، که اراده وفرمائی (الله)

يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

يُذْهِبْكُمْ	وَيَاْتِ	بِخَلْقٍ	جَدِيْدٍ	وَمَا ذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ
نو بوبه ځی تاسی	او را به ولی نور	مخلوق	نوی	او نه دی دغه	پر الله

پناه به کړی تاسی او را به ولی نور مخلوق نوی (بدل د تاسی) او نه دی دغه (شړل ستاسی او راوستل د نورو) پر الله

بِعَزِيْزٍ ﴿۱۷﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ وَاِنْ تَدْعُ

بِعَزِيْزٍ	وَلَا تَزِرُ	وَازِرَةٌ	وِّزْرَ	اُخْرٰى	وَاِنْ تَدْعُ
څه سخت مشکل	او نه اخلی	څوک پورته کوونکی	بار د ګناه	دبل نفس	او که راوبولی

څه سخت مشکل، او نه اخلی (هیڅ نفس ګناه کار) بار د ګناه د بل نفس او که راوبولی

مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَّلَوْ كَانَ

مُثْقَلَةٌ	اِلٰى حِمْلِهَا	لَا يُحْمَلْ	مِنْهُ	شَيْءٌ	وَّلَوْ كَانَ
دروند باری	بار دګناهونو خپلو ته	وابه نه ختلی سی	له هغه څخه	هیڅ شی	او اګر که وی

دروند باری (بل څوک) بار دګناهونو خپلو ته وابه نه ختلی سی له هغه څخه هیڅ شی او اګر که وی (دغه بللی سوی)

ذَا قُرْبٰى ۗ اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ

ذَا قُرْبٰى	اِنَّمَا	تُنْذِرُ	الَّذِيْنَ	يَخْشَوْنَ	رَبَّهُمْ	بِالْغَيْبِ
خاوند دخپلوی هم	بیشکه! هم داخبره ده	چی بیروی ته	هغه کسان	چی بیریږی	له ربه خپله	په غیبو سره

خاوند د خپلوی هم، بیشکه! هم داخبره ده چی بیروی ته هغه کسان چی بیریږی له ربه خپله په غیبو سره

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى وَاِنْ تَدْعُ. دقیامت په ورځ به یو سړی دبل سړي دګناهونو بار پورته نه کړي
په دغه آیت کي الله جل جلاله فرمايي چي دقيامت په ورځ به يو سړی دبل سړي دګناهونو بار پورته نه کړي هر يوه ته به خپل بار په خپله پورته کول وي او په سورت عنکبوت کي چي راغلي دي چي: وليحملنّ اثقالهم واثقالامع اثقالهم: يعني ګمراه کوونکي خلګ به دخپل ګمرا کيدو بار هم پورته کوي او دومره باره ددوی نور وي چي دوی نور ګمراه کړي وه: ددې مطلب دانه دی چي کم يي ګمراه کړي وه دهغوی دپاره به داخلګ څه سپک کړي بلکي دهغه بار به پر هغوی پوره پوره وي او دګمراه کوونکو دجرم ددوچنده کيدو په وجه په دې دواړو اياتونو کي څه تعارض نسته: او حضرت عکرمه رضي الله عنه دذکر سوي ايت په تفسير کي فرمايي چي په دغه ورځ به پلار وخپل زوی ته ووايي چي ته پوهيږي چي زه ستا څومره مشفقه او مهربانه پلار وم؟ هغه به ووايي چي هو نو دی به ووايي چي يو څه نيکی نن ماته راکړه نوزوی به يي انکار وکي الخ.
معارف القرآن باختصار يسير ج ۸ پ ۲۲ ص ۱۸۲)

وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ؕ

وَاَقَامُوا	الصَّلٰوةَ	وَمَنْ	تَزَكّٰى	فَاِنَّمَا	يَتَزَكّٰى	لِنَفْسِهٖ ؕ
او قائموي	لمونځ	او هر څوک چي	ځان پاک کړي	پس بيشکه! هم دا خبره ده	چي ځان يئ پاک کړ	دپاره دځان خپل

او قائموي لمونځ او هر څوک چي ځان پاک کړي پس بيشکه! هم دا خبره ده چي ځان يئ پاک کړ دپاره (دنفعی) دځان خپل

وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۞ وَمَا يَسْتَوِى الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۞

وَاِلَى	اللّٰهِ	الْمَصِيْرُ	وَمَا يَسْتَوِى	الْاَعْمٰى	وَالْبَصِيْرُ
او خاص (طرف)	دالله ته	ورتله دى	او نه برابريږي سره	ړوند (کافر)	او ليدونکى (مؤمن)

او خاص (طرف) د الله ته ورتله دى (دهرچا) . او نه برابريږي سره ړوند (کافر) او ليدونکى (مؤمن)

وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ۞ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ۞

وَلَا الظُّلُمٰتُ	وَلَا النُّوْرُ	وَلَا الظِّلُّ	وَلَا الْحَرُوْرُ
او نه تياره	اونه رڼا	او نه سيورى	او نه تودباد

او نه تياره (باطل) او نه رڼا (حق) او نه سيورى (ثواب يا جنت) او نه تود باد (عقاب يا دوزخ).

وَمَا يَسْتَوِى الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ

وَمَا يَسْتَوِى	الْاَحْيَآءُ	وَلَا الْاَمْوَاتُ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُسْمِعُ
او نه برابريږي سره	ژوندي (علما)	اونه مړي (جهلاء)	بيشکه! چي	الله	آوروي

او نه برابريږي سره ژوندي (علما) او نه مړي (جهلاء) ،بيشکه! چي الله آوروي

مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ ۞

مَنْ يَّشَآءُ	وَمَآ اَنْتَ	بِمُسْمِعٍ	مَّنْ	فِى الْقُبُوْرِ
هر هغه چاته چي اراده وفرمائی	او نه يئ ته	اوروونکى	هغو ته	چي په قبرونو کښى دى

هر هغه چاته چي اراده وفرمائی (دآورولو يئ) او نه يئ ته (اى محمده!) اوروونکى هغو ته چي په قبرونو کښى دى

اِنْ اَنْتَ اِلَّا نَذِيْرٌ ۞ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا

اِنْ اَنْتَ	اِلَّا	نَذِيْرٌ	اِنَّآ	اَرْسَلْنٰكَ	بِالْحَقِّ	بَشِيْرًا
نه يئ ته	مګر	ويروونکى	بيشکه! چي موږ	ليږلى مو يئ ته	په ريښتيا سره	زيرى ورکوونکى

نه يئ ته (اى محمده!) مګر ويروونکى ، بيشکه! چي موږ ليږلى مو يئ ته په ريښتيا سره زيرى ورکوونکى (دجنت)

وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ ونه غواړي تر هغه وخته هدايت څوک چاته نه سي ورکولاى : ددغه ايت په شروع کي الله جَلَّ جَلَالُهٗ دکفارو مثال دمړو سره او د مومنانو مثال دژوندو سره ورکړى دى ددې په مناسبت سره دلته د : من فى القبور : څخه مراد کفار دي : مطلب دادى چي لکه څنګه چي ته مړو ته نه سي اورولى دغسي دې ژوندو کفارو ته يي هم نه سي اورولى :دې آيت په خپله داخبره واضحه کړه چي دلته داوريدلو څخه مراد هغه اورول دى کم چي مفيد ، مؤثر او نافع وي که دا مطلب وانه اخيستل سي نو مطلق اورول خو کفارو ته هميشه سوي دي چي دوى ته به تبليغ کيدى او دوى به اوريدى : په دې وجه مراد دآيت دادى چي څنګه ته مړو ته حق خبره اورول او حق ته راوستل نه سي کولاى ځکه چي هغوى ددنيا ددارالعمل څخه دآخرت دار الجزآء ته تللى دى : هلته که څه هم هغوى دايمان اقرار وکړي نو معتبر نه دى دغسي شان دکفارو حال دى چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ ونه غواړي هدايت تاسي نه سى ورکولاى.
معارف القرآن ج ۸ پ ۲۲ ص ۲۰۲

وَّنَذِيْرًا ؕ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيْهَا نَذِيْرٌ ﴿٢٤﴾ وَاِنْ

وَّنَذِيْرًا	وَاِنْ	مِّنْ اُمَّةٍ	اِلَّا	خَلَا فِيْهَا	نَذِيْرٌ	وَاِنْ
او بیروونکی	او نهٔ	هیڅ امت	مګر	چی تیر سوی دی په هغه کښی	کوم بیروونکی	او که

او بیروونکی (له دوزخ) او نهٔ هیڅ امت مګر چی تیر سوی په هغه کښی کوم بیروونکی . او که

يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ

يُّكَذِّبُوْكَ	فَقَدْ	كَذَّبَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
دروغجن بولی تا	پس په تحقیق	دروغجن یې بللی وو	هغو کسانو	چی وو پخوا له دوی څخه

دروغجن بولی (کفار) تا پس په تحقیق دروغجن یې بللی وو (انبیاء خپل) هغو کسانو چی وو پخوا له دوی څخه

جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ

جَآءَتْهُمْ	رُسُلُهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	وَبِالزُّبُرِ	وَبِالْكِتٰبِ	الْمُنِيْرِ	ثُمَّ
چی راغلی ؤ دوی ته	رسولان د دوی	په ښکاره دلائلو	او په صحیفو سره	او په کتاب	روښانه	بیا

چی راغلی ؤ دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو (دقدرت) او په صحیفو سره او په کتاب ښکاره کوونکی. بیا

اَخَذْتُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٢٦﴾ ع اَلَمْ تَرَ

اَخَذْتُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فَكَيْفَ	كَانَ	نَكِيْرِ	اَلَمْ تَرَ
می ونیول	هغه کسان	چی کافران سوی ؤ	پس څرنګه	سو	انکار زما	آیا نه وینی ته

می ونیول هغه کسان چی کافران سوی ؤ پس څرنګه سو انکار زما (او تغیر د دوی په عذاب). آیا نه وینی ته

اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ

اَنَّ	اللّٰهَ	اَنْزَلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَخْرَجْنَا	بِهٖ	ثَمَرٰتٍ
چی بیشکه!	الله	نازلی کړی دی	له (جانبه) د آسمانه	اوبه	پس راویستلی موږ	په وسیله د دی	میوی

چی بیشکه! الله نازلی کړی دی له (جانبه) د آسمانه اوبه پس راویستلی موږ په وسیله د دی (اوبولو) میوی

مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ؕ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ

مُّخْتَلِفًا	اَلْوَانُهَا	وَمِنَ	الْجِبَالِ	جُدَدٌ	بِيْضٌ	وَّحُمْرٌ
چی مختلف دی	رنګونه د دغو	او ځینی	له غرونو	حصی دی	سپینی	او سری چی

په دی حال چی مختلف دی رنګونه د دغو (میوو) . او ځینی له غرونو لاری (توتی توتی) دی سپینی او سری چی

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا. دالله ﷻ په مخلوقاتو کي تفاوت یوخلقي او طبعي امر دی
ځیني علماء کرام فرمايي چي په دغه اياتونو کي دتوحيد مضمون الله ﷻ دخپل قدرت په دليلونو سره بيان کړی دی: او ځيني علماء کرام بيا فرمايي چي په تيرو اياتونو کي دخلګو دحالاتو اختلاف والي او ددي تمثيلات وه دغه بيا ددغه نور زيات بيان او وضاحت دی چي دالله ﷻ په مخلوق کښي تفاوت يو خلقي او طبعي امر دی او ترنباتاتو او جماداتو پوري موجود دی او دا اختلاف صرف په صورت او رنګ کي نه دی بلکي په طبايعو کي هم دی: مختصر علمي او نحوي تحقيق: په ثمراتو کي درنګونو اختلاف يي دترکيب نحوي په اعتبار سره حال جوړ کړی او لفظ دمختلفًا يي منصوب کړی دی او مخ ته بيا په غرونو کي درنګونو اختلاف دغه رکم په انسانانو او څارويو وغيره کي اختلاف يي په صورت دصفت بيان کړی دی دا اشاره ده دي ته چي دثمراتو اختلاف مؤقت وي او دغرونو او د انسانانو اختلاف په نسبت دميوو قائم او پاته کيدونکي وي.
معارف القرآن ج٨پ٢٢ص٢٠٣

ع ٣ / ١٢ / ١٥

مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهَا وَغَرَابِيۡبُ سُوۡدٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ

مُخۡتَلِفٌ	اَلۡوَانُهَا	وَغَرَابِيۡبُ	سُوۡدٌ	وَمِنَ	النَّاسِ
مخالف دی سره	رنگونه دغو	او (ځینې ددوی) تور دی	تک تور دی	او (هم داسی) له	خلکو شخه هم

مخالف دی سره رنګونه ددغو (لارو) او (ځینې ددوی) تک تور دی. او (هم داسی) له خلکو شخه هم

وَالدَّوَآبِّ وَالۡاَنۡعَامِ مُخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ كَذٰلِكَ

وَالدَّوَآبِّ	وَالۡاَنۡعَامِ	مُخۡتَلِفٌ	اَلۡوَانُهٗ	كَذٰلِكَ
اود ژوندیو بنوریدونکو	او څارویو شخه هم	چی سره مخالف دی	رنګونه دهغو	هم داسی (لکه دغه)

او (هم داسی له نورو) ژوندیو خوځیدونکو او څارویو شخه هم چی سره مخالف دی رنګونه د هغو هم داسی (لکه دغه)

اِنَّمَا يَخۡشَى اللّٰهَ مِنۡ عِبَادِهِ الۡعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيۡزٌ

اِنَّمَا	يَخۡشَى	اللّٰهَ	مِنۡ عِبَادِهِ	الۡعُلَمٰٓؤُا	اِنَّ	اللّٰهَ	عَزِيۡزٌ
بیشکه! هم داخبره ده	چی بیریږی	له الله شخه	له بندګانو د دغه (الله)	پوهنده عالمان	بیشکه!	الله	بنه غالب قوی دی

بیشکه! هم داخبره ده چی بیریږی له الله شخه له بندګانو د دغه (الله) پوهنده عالمان، بیشکه! الله بنه غالب قوی دی

غَفُوۡرٌ ﴿٢٨﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَتۡلُوۡنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

غَفُوۡرٌ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	يَتۡلُوۡنَ	كِتٰبَ	اللّٰهِ	وَاَقَامُوا	الصَّلٰوةَ
بنه مغفرت کوونکی دی	بیشکه !	هغه کسان	چی وایئ	کتاب	دالله	او سم اداء کوی	لمونځ

بنه مغفرت کوونکی دی. بیشکه! هغه کسان چی وایئ کتاب د الله (قرآن) او قایموی (سم اداء کوی) لمونځ

وَاَنۡفَقُوۡا مِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرۡجُوۡنَ

وَاَنۡفَقُوۡا	مِمَّا	رَزَقۡنٰهُمۡ	سِرًّا	وَّعَلَانِيَةً	يَّرۡجُوۡنَ
او لګوی	ځینی له هغو شیانو شخه	چی ورکړی مو دی دوی ته	په پټه	او په ښکاره	امید لری دوی

او لګوی (په لاره دالله کښی) ځینی له هغو شیانو شخه چی ورکړی مو دی دوی ته په پټه او په ښکاره امید لری دوی

تِجَارَةً لَّنۡ تَبُوۡرَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمۡ اُجُوۡرَهُمۡ وَيَزِيۡدَهُمۡ

تِجَارَةً	لَّنۡ تَبُوۡرَ	لِيُوَفِّيَهُمۡ	اُجُوۡرَهُمۡ	وَيَزِيۡدَهُمۡ
د داسی تجارت	چی له سره نه هلاک کیږی	لپاره د دی چی پوره ورسوی دوی ته	اجرونه د دوی	او زیات ورکړی دوی ته

د داسی تجارت چی له سره نه هلاک کیږی. لپاره د دی چی پوره ورسوی (الله) دوی ته اجرونه د دوی او زیات ورکړی دوی ته

اِنَّمَا يَخۡشَى اللّٰهَ مِنۡ عِبَادِهِ الۡعُلَمٰٓؤُا. علماء عاملين په حقيقت كي دالله ﷻ شخه بيريدونكي وي: په دغه آيت كي دعلماوو شخه مراد هغه خلګ دي كم چي دالله ﷻ د ذات او صفاتو كما حقه علم لري او په مخلوقاتو دعالم كي دهغه پر تصرفاتو او دهغه پر احساناتو او انعاماتو باندي نظر لري: صرف عربي ژبه يا ددي صرف او نحو او دبلاغت فنون پيژندونكو ته دقرآن په اصطلاح كي عالم نه سي ويل كيداى تر څو پوري چي ده ته دالله ﷻ معرفت په ذكر سوي طريقه حاصل نه وي امام حسن بصري رحمه الله فرمايي چي عالم هغه سړى دى كم چي په پټه او ښكاره دالله ﷻ شخه بيريږي او كم شى ته چي الله ﷻ ترغيب وركړى وي هغه ده ته مرغوب او خوښ وي او كم شى چي دالله ﷻ په نزد مبغوض او ناخوښه وي دهغه شخه دى نفرت كوي او حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي په ډيرو احاديثو يادولو سره يا ډيرو خبرو كولو سره څه علم نسته بلكي علم هغه دى د كم سره چي دالله ﷻ خوف او بيره ورسره وي.
معارف القرآن ج٨ پ٢٢ ص٢٠٤

مِّنْ فَضْلِهٖ اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۳۰﴾ وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

مِّنْ فَضْلِهٖ	اِنَّهٗ	غَفُوْرٌ	شَكُوْرٌ	وَالَّذِيْٓ	اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ
له فضله خپله	بیشکه! چې دغه (الله)	ښه بخښونکی دی	ښه قدردان دی	او هغه چې	وحی کړې ده موږ	تاته

له فضله خپله بیشکه! چې دغه (الله) ښه بخښونکی دی ښه قبلوونکی دی. او هغه چې وحی کړې ده موږ تاته

مِنَ الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

مِنَ الْكِتٰبِ	هُوَ الْحَقُّ	مُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ
له کتابه (قرآنه)	هم هغه ربښتیا ده	په دغه حال کښې چې ربښتینې کوونکی دی	هغو کتابونو ته	چې پخوا له دې څخه وو

له کتابه (قرآنه) هم هغه حق ربښتیا ده په دغه حال کښې چې ربښتینې کوونکی دی هغو کتابونو ته چې پخوا له دې څخه وو

اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۳۱﴾ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ

اِنَّ	اللّٰهَ	بِعِبَادِهٖ	لَخَبِيْرٌۢ	بَصِيْرٌ	ثُمَّ	اَوْرَثْنَا	الْكِتٰبَ
بیشکه!	الله	پر بندګانو خپلو	خامخا ښه خبردار دی	ښه لیدونکی دی	بیا موږ	په میراث ورکړې	کتاب (قرآن)

بیشکه! الله پر بندګانو خپلو خامخا ښه خبردار دی ښه لیدونکی دی. بیا موږ وارث وګرځول دکتاب (قرآن)

الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ

الَّذِيْنَ	اصْطَفَيْنَا	مِنْ عِبَادِنَا	فَمِنْهُمْ	ظَالِمٌ	لِّنَفْسِهٖ
هغو کسانو ته	چې غوره کړي مو دي	له بندګانو خپلو	پس ځینې له دوی	ظالم دی	پر خپل ځان

هغو کسانو ته چې غوره کړي مو دي له بندګانو خپلو پس ځینې له دوی ظالم دی پر خپل ځان

وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ

وَمِنْهُمْ	مُّقْتَصِدٌ	وَمِنْهُمْ	سَابِقٌۢ
او ځینې له دوی	په مینځ دلارې کښې برابر تلونکی دی	او ځینې له دوی	مخکې کیدونکی دی

او ځینې له دوی په مینځ دلارې کښې برابر تلونکی دی او ځینې له دوی مخکې (رومبی) کیدونکی دی

بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿۳۲﴾ ۭ جَنّٰتُ عَدْنٍ

بِالْخَيْرٰتِ	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	ذٰلِكَ	هُوَ الْفَضْلُ	الْكَبِيْرُ	جَنّٰتُ	عَدْنٍ
خیراتونو نیکیو ته	په حکم	دالله	دغه	یو فضل دی	ډیر لوی	جنتونه	دهمیشه هستوګنې دی

خیراتونو نیکیو ته په حکم دالله دغه یو فضل دی ډیر لوی. جنتونه دهمیشه هستوګنې دی

فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ. دامت محمدي درې قسمونه: دلته دالله جل جلاله ارشاد دی چې. فمنهم ظالم لنفسه ومنهم مقتصد ومنهم سابق بالخيرات: داجمله داولنۍ جملې تفسیر او وضاحت دی: یعني موږ چې کم خپل بندګان منتخب او غوره کړي دي هغه مو دقرآن وارثان جوړ کړي دي ددوی درې قسمونه دي، ظالم، مقتصد، سابق ددې درې واړه قسمونو تفسیر امام ابن کثیر رحمه الله داسې بیان کړی دی چې دظالم: څخه مراد هغه سړی دی کم چې په ځینو واجباتو کې کوتاهي کوي او دځینو محرماتو ارتکاب کوي: او مقتصد: یعني په درمیانه حال چلیدونکی هغه سړی دی کم چې ټول شرعي واجبات اداء کوي او دټولو محرماتو څخه ځان ساتي مګر ځینې وخت ځینې مستحبات پریږدي او په ځینو مکروهاتو کې هم اخته کیږي. او سابق بالخيرات: هغه دی کم چې ټول واجبات او مستحبات ادا کوي او دټولو محرماتو او مکروهاتو څخه ځان ساتي او ځینې مباحات په عبادت کې د مشغولیدو یا دحرمت دشبهې په وجه هم پریږدي. (معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۲۱۳

يَدۡخُلُوۡنَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيۡهَا مِنۡ اَسَاوِرَ مِنۡ

يَدۡخُلُوۡنَهَا	يُحَلَّوۡنَ	فِيۡهَا	مِنۡ اَسَاوِرَ	مِنۡ
ننوځي به په هغو کښې	اغوستلولی سی به دوی ته	په دغه (جنت) کښې	له باهوګانو څخه	له

ننوځي به (دغه دری واړه طائفی) په هغو کښې اغوستلولی سی به دوی ته په دغه (جنت) کښې له باهوګانو (وښيو) څخه له

ذَهَبٍ وَّلُؤۡلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمۡ فِيۡهَا حَرِيۡرٌ ﴿۳۳﴾ وَقَالُوا الۡحَمۡدُ

ذَهَبٍ	وَّلُؤۡلُؤًا	وَلِبَاسُهُمۡ	فِيۡهَا	حَرِيۡرٌ	وَقَالُوا	الۡحَمۡدُ
له سرو زرو	او له مرغلرو	او جامې د دوی	په دغه کښې	دوريښمو به وی	او وبه وايئ	ټوله ثناء صفت

له سرو زرو او له مرغلرو او جامې د دوی په دغه (جنت) کښې د وريښمو (مخصوصو) به وی. او وبه وايئ ټوله ثناء صفت

لِلّٰهِ الَّذِيۡۤ اَذۡهَبَ عَنَّا الۡحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوۡرٌ شَكُوۡرُۨ ﴿۳۴﴾

لِلّٰهِ	الَّذِيۡۤ	اَذۡهَبَ	عَنَّا	الۡحَزَنَ	اِنَّ	رَبَّنَا	لَغَفُوۡرٌ	شَكُوۡرٌ
خاص الله ته دی	هغه الله	چی بوييځ ته	له موږ څخه	خفګان	بيشکه !	رب زموږ	خامخا بښونکی	ښه قدردان دی

خاص الله ته دی هغه الله چی بوييځ ته له موږ څخه خفګان بيشکه! رب زموږ خامخا ښه بخښونکی ښه قدردان دی.

الَّذِيۡۤ اَحَلَّنَا دَارَ الۡمُقَامَةِ مِنۡ فَضۡلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا

الَّذِيۡۤ	اَحَلَّنَا	دَارَ الۡمُقَامَةِ	مِنۡ فَضۡلِهٖ	لَا يَمَسُّنَا
هغه (رب)	چی راڅئ وستو موږ	کور د اقامت (جنت ته)	له فضله خپله	چی نه رسيږی موږ ته

هغه (رب) چی راڅئ وستو موږ کور د اقامت (جنت ته) له فضله خپله چی نه رسيږی موږ ته

فِيۡهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيۡهَا لُغُوۡبٌ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِيۡنَ

فِيۡهَا	نَصَبٌ	وَّلَا يَمَسُّنَا	فِيۡهَا	لُغُوۡبٌ	وَالَّذِيۡنَ
په دغه کښې	هيڅ مشقت	او نه رسيږی موږ ته	په دغه کښې	هيڅ ستومانی ، خفګان	او هغه کسان

په دغه (جنت) کښې هيڅ مشقت او نه رسيږی موږ ته په دغه (جنت) کښې هيڅ ستومانی خفګان. او هغه کسان

كَفَرُوۡا لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقۡضٰى عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوۡتُوۡا

كَفَرُوۡا	لَهُمۡ	نَارُ	جَهَنَّمَ	لَا يُقۡضٰى	عَلَيۡهِمۡ	فَيَمُوۡتُوۡا
چی کافران سوی دی	سته دوی ته	اور	د دوزخ	حکم به ونه کولی سی	پر دوی	چی دوی مړه سی

چی کافران سوی دی سته دوی ته اور د دوزخ حکم به ونه کولی سی پر دوی د دوی د مرګ

يَدۡخُلُوۡنَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيۡهَا مِنۡ اَسَاوِرَ مِنۡ ذَهَبٍ وَّلُؤۡلُؤًا

جنتيانو ته به دسروزرو بنګړي او دملغلرو کالي ورواغوستل سي : په دنيا کي سړو ته دسروزرو کالي اچول هم حرام دي او دوريښمو جامې هم حرامي دي ددې په بدله کي به الله جَلَّ جَلَالُهُ دوی ته په جنت کي دا ټول شيان ورکوي : او پر دې باندي دا شبه نه سي کيدای چي کالي اچول خو دښځو کار دی دسړو دشان سره مناسب نه دی ځکه چي دآخرت او جنت حالات ددنيا پر حالاتو قياس کول بې عقلي ده: دحضرت ابو سعيد خدری رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت چي نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چي دجنتيانو پر سرو به دملغلرو مرصع تاجونه وي دهغه دادنی ملغلری رڼا به داسي وي چي دمشرق څخه تر مغربه پوري ټول عالم روښانه کړي: امام قرطبي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِ فرمايي چي مفسرينو حضراتو دلته ليکلي دي چي دهر جنتي لاسونو ته به بنګړي واچول سي يو دسرو ،يو دسپينو، يو دملغلرو او په آيت کي چي کله دسپينو او کله چي دسروزو دبنګړو ذکر دی په دي تفسير سره په هغه اياتونو کي تطبيق هم راغی (معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۲۱۶)

وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ۚ كَذٰلِكَ نَجْزِیْ كُلَّ

وَلَا يُخَفَّفُ	عَنْهُمْ	مِّنْ عَذَابِهَا	كَذٰلِكَ	نَجْزِیْ	كُلَّ
او نه به سپکوالی راسي	له دوی څخه	له عذابه دی (اور)	همداسې	جزاء ورکوو موږ	هر

او نه به سپکوالی کاوه سی له دوی څخه له عذابه ددی (اور د دوزخ) همداسې جزاء ورکوو موږ هر

كَفُوْرٍ ﴿۳۶﴾ وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ فِيْهَا ۚ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا

كَفُوْرٍ	وَهُمْ	يَصْطَرِخُوْنَ	فِيْهَا	رَبَّنَآ	اَخْرِجْنَا
ناشکره ته	او دوی به	ناري چغې به وهي	په دغه دوزخ کښې	(او وايئ) ای ربه زموږ	راوباسه موږ

ناشکره (بی ایمانه) ته. او دوی به ناری سوری وهی په دغه دوزخ کښې (او وايئ) ای ربه زموږ (بیوار) راوباسه موږ

نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِیْ كُنَّا نَعْمَلُ ۚ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ

نَعْمَلْ	صَالِحًا	غَيْرَ	الَّذِیْ	كُنَّا	نَعْمَلُ	اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ
چې عمل وکړو	صالح، نیک	غیر له	هغه چې	وو موږ	چې کاوه به موږ	آیا نه وو درکړی موږ تاسی ته عمر

چې عمل وکړو صالح نیک غیر له هغه چې وو موږ چې کاوه به موږ آیا نه وو درکړی موږ تاسی ته عمر

مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ ؕ

مَّا يَتَذَكَّرُ	فِيْهِ	مَنْ تَذَكَّرَ	وَجَآءَكُمُ	النَّذِيْرُ
دومره چې پند اخلی	په هغه کښې	هر هغه څوک چې پند اخیستل غواړی	او راغلی ؤ تاسی ته	بیروونکی

دومره چې پند اخلی په هغه کښې هر هغه څوک چې پند اخیستل غواړی او راغلی ؤ تاسی ته بیرووونکی

فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿۳۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ

فَذُوْقُوْا	فَمَا	لِلظّٰلِمِيْنَ	مِنْ نَّصِيْرٍ	اِنَّ	اللّٰهَ	عٰلِمُ
پس وڅکئ (عذاب)	پس نسته	ظالمانو ته	هیڅوک مددګار	بیشکه!	الله	ښه عالم دی

پس وڅکئ (عذاب) پس نسته ظالمانو (کافرانو) ته هیڅوک مددګار. بیشکه! الله عالم دی

غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ

غَيْبِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	اِنَّهٗ	عَلِيْمٌ	بِذَاتِ
په راز او پټو	دآسمانونو	او دمځکی	بیشکه! الله	ښه عالم دی	پر هغو خبرو چې پټې دی

په پټو (اسرارو) دآسمانونو او دمځکی بیشکه! الله ښه عالم دی پر هغو خبرو چې پټې دی

اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ.. کفاروته الله جَلَّ جَلَالُهٗ مهلت ورکړی وو خو دوی عبرت وانه اخیستی: یعني کله چي کفار په جهنم کي فریاد کوي چي ای زموږ پروردګاره ته موږ ددې عذابه څخه وباسې اوس به موږ نیک عمل کوو او تیر بد عملونه به پریږدو دغه وخت به دا جواب ورکول سي چي ایا موږ تاسي ته دومره وخت او ددومره عمر مهلت نه وو درکړی په کم کي چي فکر کوونکی فکر وکي او صحیح لاره پیدا کړي: حضرت علی ابن حسن زین العابدین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چي ددې څخه مراد اوولس کلونه عمر دی: قتاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ داتلسو کالو عمر ښوولی دی او مراد ددې څخه عمر دبلوغ دی او داوولسو او اتلسو فرق په بلوغ کي کیدای سي څوک په اوولس کاله کي بالغ کي سي او څوک په اتلس کاله کي: دبلوغ عمر په شریعت کي اولنی حد دی په کم کي چي انسان داخل سي دالله جَلَّ جَلَالُهٗ دطرف څخه ورته دومره عقل ورکول سي چي په خپلو ښو او بدو پوهیږي په دې وجه دا خطاب به عامو کفارو ته وي که یې عمر اوږدوي او که لنډ.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۲۱۸)

ع۴ ۱۶

الصُّدُوۡرِ ﴿۳۸﴾ هُوَ الَّذِیۡ جَعَلَکُمۡ خَلٰٓئِفَ فِی الۡاَرۡضِ

الصُّدُوۡرِ	هُوَ	الَّذِیۡ	جَعَلَکُمۡ	خَلٰٓئِفَ	فِی الۡاَرۡضِ
دسينو	دغه (الله)	هم هغه ذات دی	چې ګرځولی يئ ياست تاسی	خليفګان	په مځکه کښې

په سينو زړونو کښې. دغه (الله) هم هغه ذات دی چې ګرځولی يئ ياست تاسی خليفګان (دتيرو خلګو) په مځکه کښې

فَمَنۡ کَفَرَ فَعَلَیۡهِ کُفۡرُهٗ ؕ وَ لَا یَزِیۡدُ الۡکٰفِرِیۡنَ کُفۡرُهُمۡ

فَمَنۡ	کَفَرَ	فَعَلَیۡهِ	کُفۡرُهٗ	وَلَا یَزِیۡدُ	الۡکٰفِرِیۡنَ	کُفۡرُهُمۡ
پس هر څوک چې	کافر سو	پس پر هغه دی	کفر د ده	او نه زياتوی	کافرانو ته	کفر د دوی

پس هر څوک چې کافر سو پس پر هغه دی (دغه) کفر د ده او نه زياتوی کافرانو ته کفر د دوی

عِنۡدَ رَبِّهِمۡ اِلَّا مَقۡتًا ۚ وَ لَا یَزِیۡدُ الۡکٰفِرِیۡنَ کُفۡرُهُمۡ

عِنۡدَ	رَبِّهِمۡ	اِلَّا	مَقۡتًا	وَلَا یَزِیۡدُ	الۡکٰفِرِیۡنَ	کُفۡرُهُمۡ
په نزد	د رب د دوی	مګر	بې زاری غضب	او نه زياتوی	کافرانو لره	کفر د دوی

په نزد د رب د دوی مګر بې زاری غضب (د رب په دوی) او نه زياتوی کافرانو لره کفر د دوی

اِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾ قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ شُرَکَآءَکُمُ الَّذِیۡنَ

اِلَّا	خَسَارًا	قُلۡ	اَرَءَیۡتُمۡ	شُرَکَآءَکُمُ	الَّذِیۡنَ
مګر	خساره، زيان	ووايه (ای محمده!)	آيا وينئ تاسې	شريکان ستاسی	هغه چې

مګر خساره زيان (په آخرت کښې). ووايه (ای محمده! دوی ته) آيا وينئ تاسې شريکان ستاسی هغه چې

تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ اَرُوۡنِیۡ مَاذَا خَلَقُوۡا مِنَ

تَدۡعُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	اَرُوۡنِیۡ	مَاذَا	خَلَقُوۡا	مِنَ
بلل به مو	غير له	الله	را وښيئ ماته	چې کوم شی	پيدا کړی دی (دغو معبودانو)	له

بلل به مو (او عبادت به مو کاوه د دوی) غير له الله را وښيئ ماته چې کوم شی پيدا کړی دی (دغو معبودانو ستاسی) له

الۡاَرۡضِ اَمۡ لَهُمۡ شِرۡکٌ فِی السَّمٰوٰتِ ۚ اَمۡ اٰتَیۡنٰهُمۡ

الۡاَرۡضِ	اَمۡ لَهُمۡ	شِرۡکٌ	فِی السَّمٰوٰتِ	اَمۡ اٰتَیۡنٰهُمۡ
مځکی څخه	او که سته دوی ته	شريکوالی	په آسمانونو کښې	يا ورکړی دی موږ دوی ته

مځکی څخه او که سته دوی ته (کوم قسم) شريکوالی په (پيدا ښت د) آسمانونو کښې، يا ورکړی دی موږ دوی ته

هُوَ الَّذِیۡ جَعَلَکُمۡ خَلٰٓئِفَ فِی الۡاَرۡضِ. انسانان الله جل جلاله يو په بل پسې ددې مځکي مالکان جوړ کړي دي: خلائف جمع دخليفةٌ ده چې معنی يي ده نائب، او قائم مقام: مراد دادی چې موږ انسانان يو په بل پسې دمځکي او مکان وغيره مالکان جوړ کړي دي يو چې ځي نو بل ته دهغه ځای ورکول کيږي په دي کي دالله جل جلاله طرف ته درجوع کوونکو دپاره لوی عبرت دی: او دا معنی هم کيدای سي چې دا خطاب وامت محمديه ته وي چې موږ دتيرو قومونو څخه وروسته دهغوی دخليفه په حيثيت سره تاسي مالکان او متصرفان جوړ کړي ياست په دې وجه ستاسي فرض دی چې دځان څخه دمخکي خلګو دحالاتو څخه عبرت حاصل کړی او دخپل عمر قيمتي لمحات مو په غفلت سره تيري نه کړی: ان الله يمسک السموات ان تزولا. يعني الله جل جلاله اسمانونه ټينګ کړي دي ددې څخه چې دخپل ځای څخه وښوري اوپر ځنګ سي نو په دې وجه په دې آيت کي داسمان دمتحرک کيدو ياساکن کيدو ديو جانب هم څه دليل نسته.
معارف القرآن ج ۸ پ ۲۲ ص ۲۲۲

كِتٰبًا فَهُمۡ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنۡهُ ۚ بَلۡ اِنۡ يَّعِدُ الظّٰلِمُوۡنَ

كِتٰبًا	فَهُمۡ	عَلٰى	بَيِّنَتٍ	مِّنۡهُ	بَلۡ	اِنۡ يَّعِدُ	الظّٰلِمُوۡنَ
كتاب	پس دوی	پر	پاخه حجت ولاړ دی	له هغه كتابه	بلكه	نه كوی وعده	دا ظالمان

كتاب پس دوی پر پاخه حجت ولاړ دی له هغه كتابه (اودا يوهم نه دی) بلكه نه كوی وعده دا ظالمان (مشركان)

بَعۡضُهُمۡ بَعۡضًا اِلَّا غُرُوۡرًا ﴿۴۰﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُمۡسِكُ

بَعۡضُهُمۡ	بَعۡضًا	اِلَّا	غُرُوۡرًا	اِنَّ	اللّٰهَ	يُمۡسِكُ
ځينی د دوی	ځينو نورو ته	مگر	غره كول، تيرايستل	بيشكه!	الله	ساتئ (دغه)

ځينی د دوی (مشران دی) ځينو نورو ته (كشران دی) مگر غره كول (اوفريب كول). بيشكه! الله ساتئ (دغه)

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ اَنۡ تَزُوۡلَا ۚ وَلَئِنۡ زَالَتَاۤ

السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	اَنۡ تَزُوۡلَا	وَلَئِنۡ	زَالَتَاۤ
آسمانونه	او مځكه	له دی څخه چی زائل سی	او (قسم دی) كه	مخ په زوال سی دا دواړه

آسمانونه او مځكه له دی څخه چی زائل سی او (قسم دی) كه (بالفرض) مخ په زوال سی دا دواړه

اِنۡ اَمۡسَكَهُمَا مِنۡ اَحَدٍ مِّنۡۢ بَعۡدِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيۡمًا

اِنۡ اَمۡسَكَهُمَا	مِنۡ اَحَدٍ	مِّنۡۢ بَعۡدِهٖ	اِنَّهٗ	كَانَ	حَلِيۡمًا
نو و به نه ساتی دغه دواړه	بل هيڅوک	ماسواء له دغه (الله) څخه	بيشكه! دغه (الله)	دی	ښه تحمل والا

نو و به نه ساتی (له زواله) دغه دواړه بل هيڅوک ماسواء له دغه (الله) څخه، بيشكه! دغه (الله) دی ښه تحمل والا

غَفُوۡرًا ﴿۴۱﴾ وَاَقۡسَمُوۡا بِاللّٰهِ جَهۡدَ اَيۡمَانِهِمۡ لَئِنۡ جَآءَهُمۡ

غَفُوۡرًا	وَاَقۡسَمُوۡا	بِاللّٰهِ	جَهۡدَ	اَيۡمَانِهِمۡ	لَئِنۡ	جَآءَهُمۡ
ښه بخښونكی	او قسمونه به خوړل دوی	پر الله	په سختو	قسمونو خپلو سره	خامخا كه چيری	راغلی دوی ته

ښه بخښونكی (دتائبانو)، او قسمونه به خوړل (كفارو) پر الله په سختو قسمونو خپلو سره خامخا كه چيری راغلی دوی ته

نَذِيۡرٌ لَّيَكُوۡنُنَّ اَهۡدٰى مِنۡ اِحۡدَى الۡاُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ

نَذِيۡرٌ	لَّيَكُوۡنُنَّ	اَهۡدٰى	مِنۡ اِحۡدَى	الۡاُمَمِ	فَلَمَّا	جَآءَهُمۡ
كوم بيروونكی	خامخا وی به دوی هرومرو	ښه لاره پيداكوونكی	له هريوه امت	د امتونو	پس كله چی	راغلی دوی ته

كوم بيروونكی (پيغمبر) خامخا وی به دوی هرومرو ښه لاره پيدا كوونكی له يوه د امتونو پس كله چی راغلی دوی ته

وَاَقۡسَمُوۡا بِاللّٰهِ جَهۡدَ اَيۡمَانِهِمۡ لَئِنۡ جَآءَهُمۡ..

قريشو دمكي دنبي كريم ﷺ تر بعثت مخكي غټ غټ قسمونه كړي وه

: په دغه آيت كي الله جل جلاله فرمايي چي دغه دمكي كفارو يعني قريشو دنبي كريم ﷺ تر بعثت مخكي لوی او زوردار قسمونه اخيستي وه چي كه موږ ته يو څوک بيروونكی راغی نو هغه به يعني موږ به دهر هر امت څخه زيات دهدايت قبلوونكي جوړ سو او ديهودو او نصارو اوو په شان به موږ تكذيب نه كوو نو اول خو به يي داسي قسمونه اخيستل بيا چي كله دوی ته يو پيغمبر يعني نبي كريم ﷺ راغی نو ددوی نفرت او تيښته دحق څخه نوره هم زياته سوه : په دنيا كي دځان لوی گڼلو په وجه سره صرف پر نفرت صبر نه سوه بلكي خپل ناكاره تدبيرونه يي داسلام او مسلمانانو او خصوصا دنبي كريم ﷺ خلاف وكارول او الله جل جلاله فرمايي چي داخبره دي هم دوی واوري چي دوی كم تدبيرونه زموږ د رسول ﷺ خلاف كوي دهغه نقصان او تاوان پر دوی باندي په خپله واقع دی ځكه چي الله جل جلاله دخپل حبيب او خپل دين انتقام نه پريږدي :

معارف القرآن ج ۸ پ ۲۲ ص ۲۲۳

نَذِيْرٌ مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ۝٤٢ اسْتِكْبَارًا

نَذِيْرٌ	مَّا زَادَهُمْ	اِلَّا	نُفُوْرًا	اسْتِكْبَارًا
ييروونكى	نو زيات نه كړ دوى ته	مگر	تيښته (له حقه)	دپاره د لوئى غوښتلو

ييروونكى (چې محمد دى) نو زيات نه كړ (دغه راتګ) دوى ته مگر تيښته (له حقه) دپاره د لوئى غوښتلو

فِي الْاَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ؕ وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ

فِي الْاَرْضِ	وَمَكْرَ	السَّيِّئِ	وَلَا يَحِيْقُ	الْمَكْرُ	السَّيِّئُ
په ځمكه كښى	او مكر	بد	او نه چاپيره كيږى	مكر ، فريب	ناكاره

په ځمكه كښى او (دپاره د) مكر بد (په رسول پورى چې هلاک يئ كړى) او نه چاپيره كيږى مكر فريب ناكاره

اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ

اِلَّا	بِاَهْلِهٖ	فَهَلْ	يَنْظُرُوْنَ	اِلَّا	سُنَّتَ	الْاَوَّلِيْنَ
مگر خو	په اهل خپل	پس آيا	انتظار كوى دوى	مگر	دطريقى	دپخوانيو خلكو

مگر خو په اهل خپل (چې مكر كوونكى دى)، پس آيا انتظار كوى دوى مگر دطريقى پخوانيو كښى

فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ

فَلَنْ تَجِدَ	لِسُنَّتِ	اللّٰهِ	تَبْدِيْلًا	وَلَنْ تَجِدَ	لِسُنَّتِ
پس له سره به پيدا نه كړى ته	سنت ، عادت	دالله ته	هيڅ تبديلى	او بيا به له سره نه پيدا كړى ته	سنت ، عادت

پس له سره به پيدا نه كړى ته سنت عادت د الله ته هيڅ تبديل (اړول) او بيا به له سره نه پيدا كړى ته سنت عادت

اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ۝٤٣ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

اللّٰهِ	تَحْوِيْلًا	اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ
دالله ته	هيڅ تحويل (ګرځول)	آيا نه دى ګرځيدلى (كفار)	په ځمكه (ملكونو) كښى

دالله ته هيڅ تحويل (ګرځول). آيا نه دى ګرځيدلى (دغه كفار دمكى) په ځمكه (ملكونو) كښى

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

فَيَنْظُرُوْا	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الَّذِيْنَ
پس چې ووينى	چې څرنګه	ؤ	آخره خاتمه	دهغو كسانو

پس چې ووينى (په دغو اوطانو كښى چې) څرنګه ؤ عاقبت آخره خاتمه دهغو كسانو

وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ فَهَلْ.. دبد تدبير وبال او سزا پر بل چا نه ورځي: دآيت مطلب دادى چي دبد تدبير وبال او سزا پر بل چا نه ورځي بلكي په خپله پر داسي تدبير كوونكي راځي يعني كم سړى چي دنورو بد غواړي هغه په خپله دبدى ښكار سي: پر دي چي كمه شبه داكيدى سي چي په دنيا كي خو ډير واره داسي ليدل سوي دي چي دبد تدبير كوونكي تدبير وچليږي او چاته چي نقصان رسول وي هغه ته نقصان ورسيږي دابل ظالم ته هيچ نه و رسيږي: جواب دادى: چي هغه سړي ته چي كم نقصان يا تكليف ورسيدى هغه خو ددنيا نقصان دى او دداسي ناكاره تدبير كوونكي نقصان دآخرت عذاب دى كم چي سخت هم دى او دايمي هم دى. ددي په مقابله كي دهغه دنيوي نقصان دنيستى برابر دى. دوهم جواب: ځينو علماوو داوركړى دى چي كله كله ديوبې ګناه انسان خلاف تدبير كول او پرهغه دظلم كولو وبال په دې دنيا كي هم راځي: محمدبن كعب قرظى رحمه الله فرمايي چي ددرو كارونو سزا په دنيا كي هم وركول كيږي: پاته بيان پرراروان مخ وګورى.

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ وَكَانُوۡۤا اَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةً ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	وَكَانُوۡۤا	اَشَدَّ	مِنۡهُمۡ	قُوَّةً	وَمَا كَانَ	اللّٰهُ
چې پخوا له دوی څخه دی	او ؤ دوی	ډیر سخت	له دغو (کفارو) څخه	له جهته د قوت	او نه دی	الله (داسی)

چې پخوا له دوی څخه (تیر سوی) دی او ؤ دوی ډیر سخت له دغو (کفارو) څخه له جهته د قوت او نه دی الله (داسی)

لِيُعۡجِزَهٗ مِنۡ شَيۡءٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الۡاَرۡضِ ؕ اِنَّهٗ

لِيُعۡجِزَهٗ	مِنۡ شَيۡءٍ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَلَا فِي الۡاَرۡضِ	اِنَّهٗ
چې عاجز یئ کړی	کوم شی	نه په آسمانونو کښی	او نه په مځکی کښی	بیشکه! چې الله

چې عاجز یئ کړی کوم شی نه په آسمانونو کښی او نه په مځکی کښی بیشکه! چې الله

كَانَ عَلِيۡمًا قَدِيۡرًا ﴿۴۴﴾ وَلَوۡ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ

كَانَ	عَلِيۡمًا	قَدِيۡرًا	وَلَوۡ	يُؤَاخِذُ	اللّٰهُ	النَّاسَ
دی	ښه عالم	ښه قادر	او که چیری	نیولی وی	الله	دا خلک

دی ښه عالم (په احوالو د مخلوقاتو) ښه قادر. او که چیری نیولی وی الله دا خلک

بِمَا كَسَبُوۡا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهۡرِهَا مِنۡ دَآبَّةٍ

بِمَا	كَسَبُوۡا	مَا تَرَكَ	عَلٰى	ظَهۡرِهَا	مِنۡ دَآبَّةٍ
په سبب د هغو	چې کوی یئ دوی	نو نه به یئ پریښی وی	پر	شا د مځکی	هیڅ ژوندی ، ښوریدونکی

په سبب د هغو (بدو اعمالو) چې کوی یئ دوی نو نه به یئ پریښی وی پر شا د مځکی هیڅ ژوندی خوځیدونکی تلونکی

وَّلٰكِنۡ يُّؤَخِّرُهُمۡ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمۡ

وَّلٰكِنۡ	يُّؤَخِّرُهُمۡ	اِلٰۤى	اَجَلٍ	مُّسَمًّى	فَاِذَا جَآءَ	اَجَلُهُمۡ
او لیکن	وروستی کوی (الله) دوی	تر	نیټی	په نه مه کړی سوی پوری	کله چې راسی	اجل (نیټه) د دوی

او لیکن وروستی کوی (الله) دوی تر نیټی په نامه کړی سوی پوری کله چې راسی اجل (نیټه) د دوی

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيۡرًا ﴿۴۵﴾

فَاِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ	بِعِبَادِهٖ	بَصِيۡرًا
پس بیشکه! چې	الله	دی	پر بندګانو خپلو	ښه لیدونکی ، بینا

پس بیشکه! چې الله دی پر بندګانو خپلو ښه لیدونکی بینا (نو وربه کړی دوی ته جزا سم له اعمالو د دوی)

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعۡجِزَهٗ مِنۡ شَيۡءٍ فِي السَّمٰوٰتِ. **دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:**
هغه درې کارونه چې پر دې دنیا یې کوونکو ته سزا ورکول کیږي دادي **اول** : دیوبې ګناه انسان په حق کې بې ځایه او بد تدبیرونه کول او هغه ته آزار رسول. **دوهم** : عام ظلم **دریم** : عهد ماتول: او خاص بیا هغه ظلم چې پر داسي چا باندي وسي کم چې بې کسه او بې وسه وي او پر انتقام اخیستلو باندي قدرت نه لري یا سره دقدرت څخه دانتقام څخه صبرو کړي پر ده دظلم دوبال څخه په دنیا کې هم څوک محفوظ سوی نه دی لیدل سوی خامخا الله ﷻ داسي کس راتینګ کړی دی چې ځینو ته خو دا په تجربه هم معلومه سویده : **پس تجربه کردیم درین دیر مکافات :: بادردکشان هر که درافتادبر افتاد** : په دې دنیا کې چې کور دی د بدل پیدا کولو ډیره تجربه مې وسوه چې څوک د مظلومانو سره په جنګ اخته سو نو بدله یې پیدا کړه او خپل نقصان یې وکړی. ددې مطلب داسو چې په آیت کې کم حصر دلته سوی دی هغه د اکثري قاعدې په اعتبار سره دی کلي نه دی. (معارف القرآن ج۸پ۲ص ۲۲۵)

ع ۵ ۱۷

اٰياتونه ٨٣ | ٣٦ سُوْرَةُ يٰسٓ مَكِّيَّةٌ ٤١ | ركوعوي ٥

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چی ډیر زيات مهربانه او پوره رحم كوونكی ذات دی

يٰسٓ ۞ ١ وَالۡقُرۡاٰنِ الۡحَكِيۡمِ ۞ ٢ اِنَّكَ لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞ ٣

يٰسٓ	وَالۡقُرۡاٰنِ	الۡحَكِيۡمِ	اِنَّكَ	لَمِنَ	الۡمُرۡسَلِيۡنَ
يٰسٓ	قسم دی په دغه قرآن	محكم باندی	چی بیشكه! ته	خامخا له (هغو)	رسولانو څخه يئ

يٰسٓ، قسم دی په دغه قرآن محكم باندی چی بیشكه! ته (ای محمده!) خامخا له (هغو) رسولانو څخه يئ

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ۞ ٤ تَنۡزِيۡلَ الۡعَزِيۡزِ الرَّحِيۡمِ ۞ ٥

عَلٰى	صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِيۡمٍ	تَنۡزِيۡلَ	الۡعَزِيۡزِ	الرَّحِيۡمِ
پر	لاره	سمه	نازل سوی دی	(له جانبه) د ښه غالب	رحم والا ، مهربان

پر سمه لاره (يا ته يئ روان پر سمه لاره) ، نازل سوی دی (ت ته دغه قرآن) دزبردست ښه غالب رحم والا.

لِتُنۡذِرَ قَوۡمًا مَّاۤ اُنۡذِرَ اٰبَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غٰفِلُوۡنَ ۞ ٦

لِتُنۡذِرَ	قَوۡمًا	مَّاۤ اُنۡذِرَ	اٰبَآؤُهُمۡ	فَهُمۡ	غٰفِلُوۡنَ
دپاره د دی چی وبيروی ته	هغه قوم	چی نه وو بيرولی سوی	پلرونه د دوی	پس دوی	غافلان دی

د پاره د دی چی وبيروی ته هغه قوم چی نه وو بيرولی سوی پلرونه د دوی (تر اسماعيل پوری) پس دوی غافلان دی

لَقَدۡ حَقَّ الۡقَوۡلُ عَلٰۤى اَكۡثَرِهِمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۞ ٧ اِنَّا

لَقَدۡ	حَقَّ	الۡقَوۡلُ	عَلٰۤى	اَكۡثَرِهِمۡ	فَهُمۡ	لَا يُؤۡمِنُوۡنَ	اِنَّا
خامخا په تحقيق	ثابته سوه	خبره	پر	اكثرو د دوی كښې	پس دوی	نه راوړی ايمان	بيشكه! موږ

خامخا په تحقيق حقه ثابته سو ی خبره (د عذاب) پر اكثرو د دوی (په ازل كښې) پس دوی نه راوړی ايمان. بيشكه! موږ

جَعَلۡنَا فِىۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ اَغۡلٰلًا فَهِىَ اِلَى الۡاَذۡقَانِ فَهُمۡ

جَعَلۡنَا	فِىۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ	اَغۡلٰلًا	فَهِىَ	اِلَى الۡاَذۡقَانِ	فَهُمۡ
ګرځولی مو دی	په غاړو د دوی كښې	طوقونه	پس دغه طوقونه	تر زنو د دوی پوری دی	پس دوی

ګرځولی مو دی په غاړو د دوی كښې طوقونه پس دغه تر زنو د دوی پوری دی پس دوی

يٰسٓ ۞ ١ وَالۡقُرۡاٰنِ الۡحَكِيۡمِ ۞ ٢
اِنَّكَ لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞ ٣

دسورت يس شريف فضيلتونه: دحضرت معقل بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي: يس قلب القرآن: يعني سورت يس دقرآن كريم زړه دی: او ددغه حديث شريف په ځيني الفاظو كي دا هم راغلي دي چي كم سړی سورت يس خالص د الله جل جلاله او دآخرت دپاره ووايي دهغه مغفرت به وسي او داخپلو مړو ته وايا ست: امام غزالي رحمة الله عليه فرمايي چي سورت يس ته دقرآن زړه دفرمايلو داوجه كيداى سي چي په دې سورت كي دقيامت او حشر او نشر مضامين خاص په تفصيل او بلاغت سره راغلي دي او دايمان په اصولو كي دآخرت عقيده هغه شی دی پر كم چي دانسان دعملونو صحت موقوف دی: دآخرت بيره انسان دنيک عمل دپاره تياروي او هغه دی دناجآئزو خواهشاتو او حرامو څخه منع كوي نو لكه څنګه چي دبدن صحت دزړه پر صحت باندي موقوف دی دغه شان دايمان صحت پر فكر آخرت باندي موقوف دی. پاته بيان پر راروان مخ وګوری

مُّقْمَحُوْنَ ﴿۸﴾ وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ

مُّقْمَحُوْنَ	وَجَعَلْنَا	مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ	سَدًّا	وَّمِنْ
سرونه پورته کړل سوي دي	او ګرځولې مو دي	په مخ د دوی کښې	يو ديوال	او له

جګ (اوچت) سري کړي سوي دي. او ګرځولې مو دي په مخ د دوی کښې سد ديوال او له

خَلْفِهِمْ سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۹﴾

خَلْفِهِمْ	سَدًّا	فَاَغْشَيْنٰهُمْ	فَهُمْ	لَا يُبْصِرُوْنَ
وروسته د دوی	يو ديوال	پس پټې کړې مو دي (سترګې د دوی)	پس دوی	هيڅ نه ويني

وروسته د دوی سد ديوال پس پټې کړې مو دي (سترګې د دوی) پس دوی هيڅ نه ويني.

وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ

وَسَوَآءٌ	عَلَيْهِمْ	ءَاَنْذَرْتَهُمْ	اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ
او برابر دي	پر دوی باندې	چې وېيروې ته دوی (له عذابه)	يا و نه ېيروې ته دوی

او برابر دي پر دوی باندې چې وېيروې ته دوی (له عذابه) يا و نه ېيروې ته دوی

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰﴾ اِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ

لَا يُؤْمِنُوْنَ	اِنَّمَا	تُنْذِرُ	مَنِ اتَّبَعَ	الذِّكْرَ	وَخَشِيَ
(خو دوی) ايمان نه راوړي	بيشکه! هم داخبره ده	چې ېيروې ته	هر هغه چې متابعت کوي	د پند (قرآن)	او ېيرېږي له

(خو دوی) ايمان نه راوړي. بيشکه! هم داخبره ده چې ېيروې ته هر هغه چې متابعت کوي د پند (د قرآن) او ېيرېږي له

الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ﴿۱۱﴾

الرَّحْمٰنَ	بِالْغَيْبِ	فَبَشِّرْهُ	بِمَغْفِرَةٍ	وَّاَجْرٍ	كَرِيْمٍ
رحمٰن څخه	په غيب	پس زيري ورکړه هغه ته	په مغفرت، بخښنې سره	او په اجر	چې عزت والا دي

رحمٰن څخه په غيب (بې د ليدلو) پس زيری ورکړه (ای محمده!) هغه ته په مغفرت بخښنې سره او په اجر لوی (د جنت).

اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ

اِنَّا	نَحْنُ	نُحْيِ	الْمَوْتٰى	وَنَكْتُبُ	مَا قَدَّمُوْا	وَاٰثَارَهُمْ
بيشکه! موږ	هم دا موږ	به ژوندي کوو	مړي	او ليکو موږ	هغه چې مخکښې ليږلې دي دوی	او هغه نښې د قدمونو د دوی

بيشکه! موږ هم دا موږ به ژوندي کوو مړي، او ليکو موږ هغه چې مخکښې ليږلې دي دوی او هغه نښې د قدمونو د دوی

وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ خَلْفِهِمْ.. د تير مخ پاته بيان دلته وګورئ: او د دغه سورت نوم لکه څنګه چې په يس سره مشهور دی دغه شان په يو حديث شريف کې ددې نوم سورت عظيمه هم راغلی دی: او په حديث شريف کې دي چې په تورات کې د سورت يس نوم سورت مُعِمّه راغلی دی: يعني د خپل ويونکي د پاره په دنيا او آخرت کې د خير او برکت دعا کوونکی دی او ددې سورت د ويونکي نوم شريف راغلی دی او فرمايي چې د قيامت په ورځ به دده شفاعت د قبيله ربيعه د خلګو څخه د زياتو د پاره قبول وي: او په ځينو رواياتو کې ددې نوم مدافعه راغلی دی يعني د خپل ويونکي د پاره د بلاګانو څخه دفع کوونکی او په ځينو کې بيا ددې سورت نوم قاضيه راغلی دی يعني د حاجتونو پوره کوونکی. د حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه څخه روايت دی چې کم مړکيدونکی ته سورت يس ويل کيږي نو د هغه د مرګ په وخت کې به هغه ته آساني وي: او په يوه روايت کې دي چې سورت يس تر خپل حاجت مخکې ويل هغه حاجت له پوره کوونکی دی الخ.
معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۲۲۹

وَكُلَّ شَيۡءٍ اَحۡصَيۡنٰهُ فِيۡٓ اِمَامٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۱۲﴾ وَاضۡرِبۡ

وَكُلَّ	شَيۡءٍ	اَحۡصَيۡنٰهُ	فِيۡٓ اِمَامٍ	مُّبِيۡنٍ	وَاضۡرِبۡ
او هر	شی	شمیرلی دی موږ هغه	په کتاب	ښکاره (لوح محفوظ) کښی	او بیان کړه (ای محمده!)

او هر شی شمیرلی دی موږ هغه په اصل ښکاره (لوح محفوظ کښی) . او بیان کړه (ای محمده!)

لَهُمۡ مَّثَلًا اَصۡحٰبَ الۡقَرۡيَةِ ۘ اِذۡ جَآءَهَا الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۱۳﴾

لَهُمۡ	مَّثَلًا	اَصۡحٰبَ	الۡقَرۡيَةِ	اِذۡ جَآءَهَا	الۡمُرۡسَلُوۡنَ
دغو کفارو ته	یو مثل	داوسیدونکیو	دکلیی	کله چی راغلل هغی ته	مرسلان، استاځی

دغو کفارو ته یو مثل د اوسیدونکیو د کلی (د انطاکیی) کله چی راغلل هغی ته مرسلان استاځی.

اِذۡ اَرۡسَلۡنَآ اِلَيۡهِمُ اثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوۡهُمَا فَعَزَّزۡنَا

اِذۡ اَرۡسَلۡنَآ	اِلَيۡهِمُ	اثۡنَيۡنِ	فَكَذَّبُوۡهُمَا	فَعَزَّزۡنَا
کله چی ولیږل موږ	دوی ته	دوه (استاځی)	پس تکذیب وکړ دوی دهغو دواړو	پس قوت ورکړ موږ

کله چی ولیږل موږ دوی ته دوه (استاځی) پس تکذیب وکړ دوی دهغو دواړو پس عزت ورکړ موږ (او قوت دوی ته)

بِثَالِثٍ فَقَالُوۡٓا اِنَّآ اِلَيۡكُمۡ مُّرۡسَلُوۡنَ ﴿۱۴﴾ قَالُوۡا

بِثَالِثٍ	فَقَالُوۡٓا	اِنَّآ	اِلَيۡكُمۡ	مُّرۡسَلُوۡنَ	قَالُوۡا
په دریم سره	پس وویل دوی	بیشکه! موږ	تاسی ته	مرسلان، استاځی یو	وویل (انطاکیانو دغو ته)

په دریم سره پس وویل دوی بیشکه! موږ تاسی ته مرسلان استاځی یو (له طرفه دعیسیٰ) . وویل (انطاکیانو دغو ته)

مَآ اَنۡتُمۡ اِلَّا بَشَرٌ مِّثۡلُنَا ۙ وَمَآ اَنۡزَلَ الرَّحۡمٰنُ مِنۡ شَيۡءٍ ۙ

مَآ اَنۡتُمۡ	اِلَّا	بَشَرٌ	مِّثۡلُنَا	وَمَآ اَنۡزَلَ	الرَّحۡمٰنُ	مِنۡ شَيۡءٍ
نه یئ تاسی	مگر	انسانان	په شان زموږ	او نه دی رالیږلی	رحمٰن	هیڅ شی

(نه یئ تاسی مگر انسانان په شان زموږ او نه دی رالیږلی رحمٰن هیڅ شی (نه وحی او نه رسالت)

اِنۡ اَنۡتُمۡ اِلَّا تَكۡذِبُوۡنَ ﴿۱۵﴾ قَالُوۡا رَبُّنَا يَعۡلَمُ اِنَّآ اِلَيۡكُمۡ

اِنۡ اَنۡتُمۡ	اِلَّا	تَكۡذِبُوۡنَ	قَالُوۡا	رَبُّنَا	يَعۡلَمُ	اِنَّآ	اِلَيۡكُمۡ
نه یئ تاسی	مگر	دروغ وایئ	وویل (استاځیو)	رب زموږ ته	معلوم دی	بیشکه! موږ	تاسی ته

نه یئ تاسی مگر دروغ وایئ (په دغی دعوی کښی) . وویل (استاځیو) رب زموږ ته معلوم دی (داچی) بیشکه! موږ تاسی ته

وَاضۡرِبۡ لَهُمۡ مَّثَلًا اَصۡحٰبَ الۡقَرۡيَةِ. هغه کم کلی وو چي ذکر یي په دي قصه کي راغلی دی ؟
قرآن کریم ددې کلي نوم نه دی ښوولی په تاریخي روایاتو کي دي چي داکلی دانطاکیه کلی وو او جمهورو مفسرینوهم داقول اختیاره کړی دی : دمعجم البلدان کتاب دوضاحت مطابق انطاکیه دشام دملک مشهور عظیم الشان ښار دی کم چي په خپله شادابي او استحکام کي معروف دی: ددې قلعه او دښار دپناه دیوال یو مثالي شی گڼل کیږي په دې ښار کي دنصاراوو عبادتخانې کلیساوي بې شمیره اولوی شانداره دسرو او سپینو په کاریگری سره ښایسته سوی وې داساحلي ښار دی : داسلام په زمانه کي دادشام فاتح حضرت امین الامة ابوعبیدة ابن الجراح ﷛ فتح کړی وو : په معجم البلدان کي دا هم لیکلي دي چي حبیب نجار دکم قصه چي په دغه ایت کي مخ ته راځي دده قبر هم په انطاکیه کي معروف دی دلیري لیري څخه خلک دده دزیارت دپاره راځي نو معلومه سوه چي دقریة څخه مراد په دغه ایت کي دانطاکیه قریة ده : والله اعلم.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۲ ص۲۳۶

لَمُرۡسَلُوۡنَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيۡنَآ اِلَّا الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ ﴿١٧﴾ قَالُوۡٓا

لَمُرۡسَلُوۡنَ	وَمَا عَلَيۡنَآ	اِلَّا	الۡبَلٰغُ	الۡمُبِيۡنُ	قَالُوۡٓا
خامخا درلیږلی سوي یو	او نسته پر موږ	مګر	رسوونه	ښکاره (سره له معجزاتو)	وویل (انطاکیانو)

خامخا درلیږلی سوي یو. او نسته پر موږ مګر (پیغام) رسوونه ښکاره (سره له معجزاتو). وویل (انطاکیانو)

اِنَّا تَطَيَّرۡنَا بِكُمۡ ۚ لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهُوۡا لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ

اِنَّا	تَطَيَّرۡنَا	بِكُمۡ	لَئِنۡ	لَّمۡ تَنۡتَهُوۡا	لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ
بیشکه! موږ	بد فالي مو نیولې ده	په تاسي	قسم دی که	منع نه سوی ته	خامخا سنګسار به کړو موږ هرومرو تاسي

بیشکه! موږ بد فالي مو نیولې ده په تاسي قسم دی که منع نه سوی (له دعوی د دغه رسالته) خامخا سنګسار به کړو موږ

وَلَيَمَسَّنَّكُمۡ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوۡا طَآئِرُكُمۡ

وَلَيَمَسَّنَّكُمۡ	مِّنَّا	عَذَابٌ	اَلِيۡمٌ	قَالُوۡا	طَآئِرُكُمۡ
او خامخا وبه رسیږي هرومرو تاسي ته	له طرفه زموږ	عذاب	دردناک	وویل	چي بد فالي ستاسي

هرومرو تاسي او خامخا وبه رسیږي هرومرو تاسي ته له طرفه زموږ عذاب دردناک. وویل (استاځیو) چي بدفالي ستاسي

مَّعَكُمۡ ؕ اَئِنۡ ذُكِّرۡتُمۡ ؕ بَلۡ اَنۡتُمۡ قَوۡمٌ مُّسۡرِفُوۡنَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ

مَّعَكُمۡ	اَئِنۡ	ذُكِّرۡتُمۡ	بَلۡ اَنۡتُمۡ	قَوۡمٌ	مُّسۡرِفُوۡنَ	وَجَآءَ
له تاسي سره ده	آیا نو که	پند درکړسي تاسي ته	بلکه تاسي	یو قومیئ	مسرفان، دانصاف له حده تیریدونکی	او راغلی

له تاسي سره ده (چي دغه کفر دی) آیا نو که پند درکړسي تاسي ته بلکه تاسي یو قومیئ مسرفان. او راغلی

مِنۡ اَقۡصَا الۡمَدِيۡنَةِ رَجُلٌ يَّسۡعٰى قَالَ يٰقَوۡمِ اتَّبِعُوا الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿٢٠﴾

مِنۡ اَقۡصَا	الۡمَدِيۡنَةِ	رَجُلٌ	يَّسۡعٰى	قَالَ	يٰقَوۡمِ	اتَّبِعُوا	الۡمُرۡسَلِيۡنَ
له لري طرفه دغه	ښار	یو سړی	چي منډې یې وهلې	وویل	ای قومه زما	متابعت وکړئ تاسي	د مرسلانو، استاځیو

له لري طرفه دغه ښار یو سړی چي منډې یې وهلې، وویل ای قومه زما متابعت وکړئ تاسي د مرسلانو استاځیو.

اتَّبِعُوۡا مَنۡ لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ اَجۡرًا وَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿٢١﴾

اتَّبِعُوۡا	مَنۡ	لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ	اَجۡرًا	وَّهُمۡ	مُّهۡتَدُوۡنَ
متابعت وکړئ تاسي	د هغه چا چي	نه غواړي له تاسي څخه	اجر، بدل	حال دا چي دوی پر سمه صافه لاره	رهي (روان) دي

متابعت وکړئ تاسي د هغه چا چي نه غواړي له تاسي څخه اجر بدل حال دا چي دوی پر سمه صافه لاره رهي (روان) دي.

وَجَآءَ مِنۡ اَقۡصَا الۡمَدِيۡنَةِ رَجُلٌ يَّسۡعٰى..د ښار دلیري کونج څخه یو سړی په منډه راغی: قرآن کریم د دغه راتلونکي سړي واقعه مبهم پاته کړیده او د دغه سړي نوم او حال یې نه دی ذکر کړی په تاریخي روایاتو کي دي چي د دې سړي نوم حبیب نجار وو د ده د کسب متعلق مختلف اقوال دي په دي کي مشهوره داده چي دی ترکاڼ یعني نجار وو او تاریخي روایتونه کم چي مفسرینو دلته نقل کړي دي د هغه څخه معلومیږي چي دا سړی بت پرست وو کم دوه رسولان چي اول دې ښارته راغلل نو د دوی سره یې ملاقات وسو او د دغه نبیانو د تعلیم یا معجزه لیدو سره دی د بت پرستی څخه توبه ګاره سو او ایمان یې راوړی او ولاړی په یو غار وغیره کي په عبادت سره مشغول سو کله چي دی خبر سو چي خلګو هغه رسولان درواغجن کړل او ازار یې ورته ورسوی او په قتل یې پسې سول نو دی د خپل قوم د خیرخواهی او د رسولانو د همدردی د جذبې سره په منډه خپل قوم ته راغی او د رسولانو د تابعداری کولو نصیحت یې ورته وکړی الخ.
معارف القرآن ج ٨ پ ٢٢ ص ٢٠٤

وَمَالِيَ لَآ اَعۡبُدُ الَّذِيۡ فَطَرَنِيۡ وَاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿٢٢﴾ ءَاَتَّخِذُ

وَمَالِيَ	لَآ اَعۡبُدُ	الَّذِيۡ	فَطَرَنِيۡ	وَاِلَيۡهِ	تُرۡجَعُوۡنَ	ءَاَتَّخِذُ
او څه عذر دی ماته	چی عبادت نه کوم	دهغه	چی پیدا کړی یئ یم زه	او خاص دغه (اللّٰه ته)	بیولی کیږئ تاسی	آیا ونیسم

او څه مانع ده ماته چی عبادت نه کوم دهغه (اللّٰه) چی پیدا کړی یئ یم زه او خاص دغه (اللّٰه ته) بیولی کیږئ تاسی. آیا ونیسم

مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اٰلِهَةً اِنۡ يُّرِدۡنِ الرَّحۡمٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغۡنِ عَنِّيۡ

مِنۡ دُوۡنِهٖۤ	اٰلِهَةً	اِنۡ يُّرِدۡنِ	الرَّحۡمٰنُ	بِضُرٍّ	لَّا تُغۡنِ	عَنِّيۡ
بی له اللّٰه	نور معبودان	که اراده وفرمائی ماته	رحمٰن	دضرر رسولو	نو دفع به نه کړی	زما څخه

(پیدا کړم) بی له اللّٰه نور معبودان که اراده وفرمائی ماته رحمٰن د ضرر رسولو نو دفع به نه کړی زما څخه

شَفَاعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا وَّلَا يُنۡقِذُوۡنِ ﴿٢٣﴾ اِنِّيۡۤ اِذًا لَّفِيۡ ضَلٰلٍ

شَفَاعَتُهُمۡ	شَيۡـًٔا	وَّلَا يُنۡقِذُوۡنِ	اِنِّيۡۤ	اِذًا	لَّفِيۡ ضَلٰلٍ
شفاعت سپاربنت د دوی	هیڅ شی	او نه به می خلاص کړی	بیشکه! زه	په دغه وخت کښی	خامخا په ګمراهی

شفاعت سپاربنت د دوی هیڅ شی (له هغه ضرره) او نه به می خلاص کړی (په زور) بیشکه! زه کله. خامخا په ګمراهی

مُّبِيۡنٍ ﴿٢٤﴾ اِنِّيۡۤ اٰمَنۡتُ بِرَبِّكُمۡ فَاسۡمَعُوۡنِ ﴿٢٥﴾ قِيۡلَ ادۡخُلِ

مُّبِيۡنٍ	اِنِّيۡۤ	اٰمَنۡتُ	بِرَبِّكُمۡ	فَاسۡمَعُوۡنِ	قِيۡلَ	ادۡخُلِ
ښکاره کښی	بیشکه! زه چی یم	ایمان می راوړی دی	په رب ستاسی	پس واوریٔ تاسی زما څخه	وویل سو	چی ننوځه

ښکاره کښی یم. بیشکه! زه چی یم ایمان می راوړی دی په رب ستاسی پس واوریٔ تاسی له ما څخه، وویل سو چی ننوځه

الۡجَنَّةَ قَالَ يٰلَيۡتَ قَوۡمِيۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِيۡ رَبِّيۡ

الۡجَنَّةَ	قَالَ	يٰلَيۡتَ	قَوۡمِيۡ	يَعۡلَمُوۡنَ	بِمَا	غَفَرَ لِيۡ	رَبِّيۡ
جنت ته	وویل ده	کاشکی چی	دا قوم زما	پوه سوی وی	په دی چی	مغفرت، بخښنه وکړه ماته	رب زما

جنت ته (نو داخل سو جنت ته)، وویل ده کاشکی چی دا قوم زما پوه سوی وی. په دی چی مغفرت بخښنه وکړه ماته رب زما

وَجَعَلَنِيۡ مِنَ الۡمُكۡرَمِيۡنَ ﴿٢٧﴾ وَمَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلٰى قَوۡمِهٖ

وَجَعَلَنِيۡ	مِنَ الۡمُكۡرَمِيۡنَ	وَمَاۤ اَنۡزَلۡنَا	عَلٰى	قَوۡمِهٖ
او ویئ ګرځولمه زه	له عزت ورکړیو سویو	او نه مو ؤ نازل کړی	پر	قوم د دغه (جیب نجار)

او ویئ ګرځولمه زه له عزت ورکړیو سویو (په ادخال د جنت سره). او نه مو ؤ نازل کړی پر قوم د دغه (جیب نجار)

وَمَالِيَ لَآ اَعۡبُدُ الَّذِيۡ فَطَرَنِيۡ وَاِلَيۡهِ. دالله جَلَّ جَلَالُهٗ

ددین په خاطر دحبیب نجار صداقت او قرباني:

دوهب ابن منبه رحمه الله عليه په روایت کي دي چي داسړی دجذام په مرض اخته شخص وو او دده مکان دښار دټولو څخه پر آخري دروازه وو د به خپل د فرضي معبودانو څخه سوال کوی چي ما جوړ کی او په دې سره پره ده باندي اویا کاله تیر سوي وه دغه رسولان ودغه ښار ته پر دغه دروازه باندي اتفاقا داخل سول نو ددې سړي سره يي اول ملاقات وسو نو هغوی ده ته دبت پرستی څخه دمنع کیدو او دیوه خدای جَلَّ جَلَالُهٗ دعبادت طرف ته دعوت ورکی: دغه سړي وویل چي ستاسي سره دخپلي دعوې دصحت دپاره څه نښانه او دلیل سته که یا ؟ هغه رسولانو په جواب کي ورته وویل چي هو سته دورته خپله دجذام مریضي او ناروغي وروښوول او پوښتنه يي ورڅخه وکړه چي تاسي دا ناروغي لیري کولای سی ؟ هغوی وویل چي هو موږ به دخپل رب څخه سوال وکړو هغه به تاروغ کړي هغه وویل چي دا څه عجیبه خبره کوی زه داویا کالو څخه دخپل : پاته قصه پر راروان مخ وګوری.

مِنۢ بَعۡدِهٖ مِنۡ جُنۡدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنۡزِلِيۡنَ ﴿٢٨﴾

مِنۢ بَعۡدِهٖ	مِنۡ جُنۡدٍ	مِّنَ السَّمَآءِ	وَمَا كُنَّا	مُنۡزِلِيۡنَ
وروسته د ده	هیڅ لښکر	لهآسمانه	او نه وو موږ	نازلوونکي (دلښکر دملائیکو)

وروسته (له شهادته) د ده هیڅ لښکر له (جانبه د) آسمانه او نه وو موږ نازلوونکي (دلښکر د ملائیکو).

اِنۡ كَانَتۡ اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمۡ خٰمِدُوۡنَ ﴿٢٩﴾ يٰحَسۡرَةً

اِنۡ كَانَتۡ	اِلَّا	صَيۡحَةً	وَّاحِدَةً	فَاِذَا هُمۡ	خٰمِدُوۡنَ	يٰحَسۡرَةً
نه ؤ (عذاب ددې قوم)	مګر	چغه وه	یوه	بس ناڅاپه دوی	مړه یخ پراته ؤ	ای افسوس دی

نه ؤ عذاب (د دې قوم) مګر چغه وه یوه (د جبریل) پس ناڅاپه دوی مړه یخ کرخ پراته ؤ (لکه ایره داور). ای افسوس دی

عَلَى الۡعِبَادِ ۚ مَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا كَانُوۡا بِهٖ

عَلَى الۡعِبَادِ	مَا يَاۡتِيۡهِمۡ	مِّنۡ رَّسُوۡلٍ	اِلَّا	كَانُوۡا	بِهٖ
پربندګانو	نهدی راغلی دوی ته	هیڅ رسول	مګر	ؤ دوی	چې په هغه پوری به یې

پر بندګانو (کافرانو) نه دی راغلی دوی ته هیڅ رسول مګر ؤ دوی چې په هغه پوری به یې

يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿٣٠﴾ اَلَمۡ يَرَوۡا كَمۡ اَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُمۡ مِّنَ

يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ	اَلَمۡ يَرَوۡا	كَمۡ اَهۡلَكۡنَا	قَبۡلَهُمۡ	مِّنَ
توکې، مسخرې کولې	ایا نه وینی	چې څومره ډیر هلاک کړي دي موږ	پخوا له دوی څخه	له

توکې مسخرې کولې. آیا نه وینی (دغه کفار) چې څومره ډیر هلاک کړی دی موږ پخوا له دوی څخه له

الۡقُرُوۡنِ اَنَّهُمۡ اِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُوۡنَ ﴿٣١﴾ وَاِنۡ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيۡعٌ

الۡقُرُوۡنِ	اَنَّهُمۡ	اِلَيۡهِمۡ	لَا يَرۡجِعُوۡنَ	وَاِنۡ	كُلٌّ	لَّمَّا	جَمِيۡعٌ
اهل دزمانی	چې بیشکه! هغه	دوی ته	بیرته نه راګرځي	او نه دی	داټول	مګر	ټول به

اهل د زمانی چې بیشکه! هغه (هلاک کړی سوی) دوی ته بیرته نه راګرځي. او نه دی داټول (خلائق) مګر ټول به

لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُوۡنَ ﴿٣٢﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الۡاَرۡضُ الۡمَيۡتَةُ ۖۚ اَحۡيَيۡنٰهَا

ع ٢

لَّدَيۡنَا	مُحۡضَرُوۡنَ	وَاٰيَةٌ	لَّهُمُ	الۡاَرۡضُ	الۡمَيۡتَةُ	اَحۡيَيۡنٰهَا
په نزد زموږ	حاضر کړی سوی وی دپاره دجزاء	او یو دلیل دی	دوی ته	مځکه	مړه (وچه)	چې ژوندی کوو موږ هغه

په نزد زموږ حاضر کړی سوی وی دپاره دجزاء. او یو دلیل (دقدرت) دی دوی ته مځکه مړه (وچه) چې ژوندی کوو موږ هغه

اِنۡ كَانَتۡ اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمۡ خٰمِدُوۡنَ

دتیر مخ پاته قصه دلته

وګوری: څخه داسوال کوم چي ما جوړ کی لیکن کومه خاص فائده راته حاصله نه سوه ستاسي رب به په یوه ورځ څنګه داحالت بدل کي؟ هغوی وویل چي هو زموږ رب پر هر څه قادر دی او کم چي تاسي خدایان جوړ کړي دي دهغو هیڅ حقیقت نسته هغه چاته نفع او نقصان نه سي رسولای حبیب نجار چي دا واوریدل نو یي ایمان راوړی او دغه بزرګانو دهغه دپاره دالله ﷻ څخه دعا وکړه الله ﷻ هغه داسي روغ کی چي دناروغی هیڅ اثر پر پاته نه سو اوس نو دهغه ایمان نور هم پوخ سو او داسي وعده یي وکړه چي دټولي ورځي په ګټه کي به نیمه دالله ﷻ په لاره کي خیراتوم: کله چي پر دغه رسولانو دخلګو یلغار شروع سو او دی په خبر سو نو وبیریدی راغی او خپل قوم یي پوه کی چي داسي مه کوی او خپل دایمان اعلان یي هم وکی: بس ددغه اعلانه سره ټول قوم دده دښمن سو او ټولو په جمع سره حمله باندي وکړه په وهلو ټوکولو کي یي په شهادت ورسوی.
(معارف القرآن ج ٨ پ ٢٣ ص ٣)

وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُوْنَ ۝٣٣ وَجَعَلْنَا

وَاَخْرَجْنَا	مِنْهَا	حَبًّا	فَمِنْهُ	يَأْكُلُوْنَ	وَجَعَلْنَا
او راوباسو موږ	له هغې مځکې څخه	دانې	نو له ځينو دغو څخه	خوری	او پيدا کړې مو دی

(په اوبو سره) او راوباسو موږ له هغې مځکې څخه دانې نو له ځينو د دغو (دانو) څخه خوری. او پيدا کړې مو دی

فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ۝٣٤

فِيْهَا	جَنّٰتٍ	مِّنْ نَّخِيْلٍ	وَّاَعْنَابٍ	وَّفَجَّرْنَا	فِيْهَا	مِنَ الْعُيُوْنِ
په دې کښې	باغونه	له خرماګانو	او انګورو	او جاری کړی مو دی	په دغې کښې	له چينو څخه

په دې مځکې کښې باغونه له خرماګانو او انګورو او جاری کړی مو دی په دغې (مځکې) کښې له چينو (داوبو) څخه .

لِيَأْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ۭ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝٣٥

لِيَأْكُلُوْا	مِنْ ثَمَرِهٖ	وَمَا عَمِلَتْهُ	اَيْدِيْهِمْ	اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ
دپاره ددې چې وخوری دوی	له ميوې دهغو	او نه دی پيدا کړې دغه	لاسونو د دوی	آيا پس شکر نه باسی دوی

دپاره د دې چې وخوری دوی له ميوې دهغو ، او نه دی پيدا کړې دغه (ميوې) لاسونو د دوی آيا پس شکر نه باسی دوی.

سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْۢبِتُ

سُبْحٰنَ	الَّذِيْ	خَلَقَ	الْاَزْوَاجَ	كُلَّهَا	مِمَّا	تُنْۢبِتُ
پاکی ده	هغه الله ته	چې پيدا کړې يئ دی	دغه (ټولی) جوړی	ټول	له هغو شيانو	چې زرغونوی يئ

پاکی ده (له هر عيبه) هغه الله ته چې پيدا کړې يئ دی دغه (ټولی) جوړی (انواع اصناف) ټول له هغو شيانو چې زرغونوی يئ

الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٣٦ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ

الْاَرْضُ	وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ	وَمِمَّا	لَا يَعْلَمُوْنَ	وَاٰيَةٌ	لَّهُمُ	الَّيْلُ
مځکه	او له ځانونو د دوی	او له هغو څخه	چې دوی يئ نه پيژني	او يو دليل	دوی ته	شپه ده

مځکه او له ځانونو د دوی او له هغو (مخلوقاتو) څخه چې دوی يئ نه پيژني . او يو دليل (د قدرت د الله) دوی ته شپه ده

نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ۝٣٧ وَالشَّمْسُ

نَسْلَخُ	مِنْهُ	النَّهَارَ	فَاِذَا هُمْ	مُّظْلِمُوْنَ	وَالشَّمْسُ
چې راوباسو موږ	له هغې څخه	ورځ	پس ناڅاپه دوی	ننوتونکي وی په تياروکښې	او (بل دليل) لمر دی

چې راوباسو موږ له هغې (شپې) څخه ورځ پس ناڅاپه دوی ننوتونکي وی په تياروکښې . او (بل دليل) لمر دی

وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ۭ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ. دنباتاتو په پيداوار کې دانسانانو دعمل دخل نشته: جمهورو مفسرينو دلته دا ترجمه کړيده: چې نه دي جوړې کړي داميوې ددغه خلکو لاسونو. دغې جملې غافله انسانان په دې خبرداره کړي دي چې لږ څه په خپل کار او محنت کې غور وکړی چې ستاسي کار په دغه باغ او بهار کې ددې څخه ماسوا څه دی چې تاسي په مځکه کې تخم واچوی او اوبه مو ورکړې او مځکه مو نرمه کړه چې نازک تيغ ته په راوتلو کې خنډ پيدانه سي مگر ددې تخم څخه درخته شنه کول، ددرختې پاڼې او ښاخونه راايستل ،بيا په دې کې قسم قسم ميوې پيدا کول په دې تولو کې ستا څه دخل دی ؟ داکار خو صرف دقادر مطلق حکيم او دانا کار کيدای سي په دې وجه ستا فرض دی چې ددې شيانو څخه دفايدې اخيستو په وخت کې ددې خالق او مالک هير نه کړې : ددې په شان په سورت واقعه کې آيت دی چې معنی او مفهوم يې داسي دی : چې کم شی تاسي کرى ددې په نشو او نما کولو درخته تاسي ورڅخه جوړه کړيده که موږ ؟ نو معلومه سوه چې داد الله ﷻ فضل دی الخ. (معارف القرآن ج٨ پ ٢٣ ص ١٠)

تَجۡرِيۡ لِمُسۡتَقَرٍّ لَّهَا ؕ ذٰلِكَ تَقۡدِيۡرُ الۡعَزِيۡزِ الۡعَلِيۡمِ ﴿٣٨﴾

تَجۡرِيۡ	لِمُسۡتَقَرٍّ لَّهَا	ذٰلِكَ	تَقۡدِيۡرُ	الۡعَزِيۡزِ	الۡعَلِيۡمِ
چې ځي	پخپلې ټاکلې لارې باندې	دغه	اندازه ده	د ښه غالب قوي	ښه دانا (عالم)

چې ځي پخپلې ټاکلې لارې باندې (یا خپل ځای ته) ، دغه (مخصوص حرکت دلمرحکم) اندازه ده دښه غالب قوي ښه دانا .

وَالۡقَمَرَ قَدَّرۡنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالۡعُرۡجُوۡنِ الۡقَدِيۡمِ ﴿٣٩﴾

وَالۡقَمَرَ	قَدَّرۡنٰهُ	مَنَازِلَ	حَتّٰى	عَادَ	كَالۡعُرۡجُوۡنِ	الۡقَدِيۡمِ
او سپوږمۍ ته	اندازه کړې دي موږ دې ته	منزلونه	تر هغه پورې	چې وګرځي	لکه وچه ښانګه د خرما	زړه

او سپوږمۍ ته اندازه کړې (او ویشلې) دي موږ منزلونه تر هغه پورې چې وګرځي (په نظر کې) لکه وچه ښانګه دخرما زړه .

لَا الشَّمۡسُ يَنۡۢبَغِيۡ لَهَاۤ اَنۡ تُدۡرِكَ الۡقَمَرَ وَلَا الَّيۡلُ سَابِقُ

لَا الشَّمۡسُ	يَنۡۢبَغِيۡ	لَهَاۤ	اَنۡ تُدۡرِكَ	الۡقَمَرَ	وَلَا الَّيۡلُ	سَابِقُ
نه دی لمر	لائق	دغه لره	چې لاندې کړي	سپوږمۍ	او نه شپه	مخکې کیدونکې ده

نه دی لمر لائق دغه لره (او له وسه یې پوره نه ده) چې لاندې کړي سپوږمۍ (په زمان کښې) او نه شپه مخکې کیدونکې ده

النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ فِيۡ فَلَكٍ يَّسۡبَحُوۡنَ ﴿٤٠﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمۡ اَنَّا

النَّهَارِ	وَكُلٌّ	فِيۡ فَلَكٍ	يَّسۡبَحُوۡنَ	وَاٰيَةٌ	لَّهُمۡ	اَنَّا
له ورځې	او دغه ټول	په آسمان کښې	روان وي	او یوه ښه، دلیل	دوی ته داده	چې بیشکه! موږ

له ورځې، او دغه ټول په آسمان کښې چورلیدونکي دي (پراخ په کښې روان) . او یوه ښه دلیل دوی ته داده چې بیشکه! موږ

حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي الۡفُلۡكِ الۡمَشۡحُوۡنِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقۡنَا لَهُمۡ مِّنۡ مِّثۡلِهٖ

حَمَلۡنَا	ذُرِّيَّتَهُمۡ	فِي الۡفُلۡكِ	الۡمَشۡحُوۡنِ	وَخَلَقۡنَا	لَهُمۡ	مِّنۡ مِّثۡلِهٖ
سواره کړې دي موږ	اولاد دوی	په کشتۍ	ډکه کړې سوې کښې	او پیدا کړې دي موږ	دوی ته	په شان د دغه

سواره کړې دي موږ اولاد د دوی په کشتۍ ډکه کړې سوې کښې . او پیدا کړې دي موږ دوی ته په شان د دغه (کشتۍ)

مَا يَرۡكَبُوۡنَ ﴿٤٢﴾ وَاِنۡ نَّشَاۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيۡخَ لَهُمۡ

مَا يَرۡكَبُوۡنَ	وَاِنۡ نَّشَاۡ	نُغۡرِقۡهُمۡ	فَلَا صَرِيۡخَ	لَهُمۡ
هر هغه څه چې دوی پرې سپرېږي	او که اراده وفرمایو موږ	غرق کړې به وای موږ دوی	پس نه به وی هیڅ فریاد	دوی ته

هر هغه څه چې دوی پرې سپرېږي .او که اراده وفرمایو موږ نو غرق کړې به موږ وو دغه پس نه به وی هیڅ فریاد دوی ته

تَجۡرِيۡ لِمُسۡتَقَرٍّ لَّهَا ؕ ذٰلِكَ تَقۡدِيۡرُ الۡعَزِيۡزِ الۡعَلِيۡمِ.

ددغه ایت مفهوم او معنی :

دآیت مفهوم دادی چې لمر روان وي دخپل مستقر طرف ته : مستقر دقرار ځای ته هم ویل کیږي او دقرار وخت ته هم ویل کیږي یعني مستقر زماني هم کیدای سي او مستقر مکاني هم کیدای سي:

ځیني مفسرینو حضراتو دلته دمستقر څخه مراد مستقر زماني اخیستی دی

یعني هغه وخت کله چې لمر خپل مقرر حرکت پوره کړي او ختم یې کړي او دغه وخت دقیامت ورځ ده : پر دې تفسیر باندې دآیت معنی داده چې لمر پر خپل مدار باندې په داسې مضبوط او مستحکم نظام سره حرکت کوي په کم کې چې ده یوې دقیقې او یوه ثانیې په اندازه هم فرق نه راځي په زرګونو کلونه پر دې طریقه باندې تیر سوي دي مګر بیا هم دا تول دایمي نه دي ددې یو خاص مستقر دی کم ځای ته چې په رسیدو به دانظام شمسي او حرکت بند سي او دغه دقیامت ورځ ده دغه تفسیر ددغه آیت دحضرت قتاده رضي الله عنه څخه نقل سوی دی او دسورت زمر دآیت څخه هم ددغه تفسیر تایید کیږي الخ.

(معارف القرآن ج۸پ۲۳ ص ۱۳)

وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ﴿٤٣﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿٤٤﴾

وَلَا هُمْ	يُنْقَذُوْنَ	اِلَّا	رَحْمَةً	مِّنَّا	وَمَتَاعًا	اِلٰى	حِيْنٍ
او نه به دوى	خلاصولى كيږى	مګر	په رحمت، مهرباني	خپلى سره	او دپاره دنفعى اخيستلو	تر	نيتى پورى

او نه به دوى خلاصولى كيږى (له غرقه) مګر په رحمت مهرباني خپلى سره او دپاره د نفعى اخيستلو تر نيتى (دمرګ) پورى.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا

وَاِذَا	قِيْلَ	لَهُمُ	اتَّقُوْا	مَا	بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ	وَمَا
او كله چې	وويل سى	دوى ته	چې ځان وساتئ	له هغه چې	په مخكښى ستاسى دى	او له هغه چې

او كله چې وويل سى دوى ته چې ځان وساتئ له هغه (دنيوى عذابه) چې په مخكښى ستاسى دى او له هغه چې

خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ

خَلْفَكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُوْنَ	وَمَا تَاْتِيْهِمْ	مِّنْ اٰيَةٍ	مِّنْ اٰيٰتِ
وروسته درپسى راځى	ښايئ پر تاسى	رحم وكړسى	او نه راځى دوى ته	هيڅ دليل	له دلائلو د (قدرت)

وروسته درپسى راځى ښايئ پر تاسى رحم وكړسى او نه راځى دوى ته هيڅ دليل له دلائلو د (قدرت)

رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا

رَبِّهِمْ	اِلَّا كَانُوْا	عَنْهَا	مُعْرِضِيْنَ	وَاِذَا	قِيْلَ لَهُمْ	اَنْفِقُوْا
درب د دوى ته	مګر ؤ	له هغو څخه	مخ ګرځوونكى	او كله چې	وويل سى دوى ته	چې خرڅوئ تاسي

درب ددوى ته مګر ؤ له هغو (دلائلو) څخه مخ ګرځوونكى . او كله چې وويل سى دوى ته چې نفقه وركړه كوئ (عاجزانو ته)

مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ

مِمَّا	رَزَقَكُمُ	اللّٰهُ	قَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِلَّذِيْنَ
له څينو هغو	چې رزق، روزى دركړى دى تاسى ته	الله	نو وايئ	هغه كسان	چې كافران سوى دى	هغو كسانو ته

له څينو هغو (مالونو) چې رزق، روزى دركړى دى تاسى ته الله نو وايئ هغه كسان چې كافران سوى دى هغو كسانو ته

اٰمَنُوْٓا اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ ۖ اِنْ اَنْتُمْ

اٰمَنُوْٓا	اَنُطْعِمُ	مَنْ لَّوْ يَشَآءُ	اللّٰهُ	اَطْعَمَهٗ	اِنْ اَنْتُمْ
چې ايمان يئ راوړى دى	آيا طعام وركړو موږ	هغه چاته كه اراده فرمائلي وى	الله	نو طعام به يئ وركړى وو هغه ته	نه يئ تاسى

چې ايمان يئ راوړى دى آيا طعام وركړو موږ هغه چاته كه اراده فرمائلي وى الله نو طعام به يئ وركړى وو هغه ته. نه يئ تاسى

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ. دالله ﷻ درزق څينو ته دبالواسطه حاصليدو حكمت : دلته ددې خبري بيان دى چې كله مسلمانان كفاروته دغريبانو فقيرانو سره دامداد كولو او وږو خلګو ته دخوراک وركولو دپاره وايي چې خداى ﷻ چې تاسي ته څه دركړي دي دهغه څخه څه محتاجانو ته وركړى نو داخلګ په طور دمسخرو وايي چې كله تاسي داوايا ست چې رازق دټول مخلوق الله ﷻ دى او هغه دوى ته رزق نه دى وركړى نو موږ يې ولې وركړو تاسي چې موږ ته دا نصيحت كوى چې موږ دوى ته رزق وركړو دا خو ستاسي ګمراهي ده چې زموږ څخه رازقان جوړول غواړي دغه كفارو كه څه هم دالله ﷻ درازق كيدو اقرار كوى لكه چې په قرآن كريم كې چې راغلي دي الله ﷻ فرمايي :چې كه ته دوي خلګو څخه پوښتنه وكړي چې دآسمان څخه اوبه چا نازلي كړي دي چې په دې سره په مځكي نباتات پيدا سوه او قسم قسم ميوې او ګلونه راپورته سوه نو دوى به اقرار وكړي چې دا الله ﷻ نازلي كړي دي.ددې څخه معلومه سوه.پاته بيان پر راروان مخ وګورى

إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ

إِنۡ كُنۡتُمۡ	الۡوَعۡدُ	هٰذَا	مَتٰى	وَيَقُوۡلُوۡنَ	مُّبِيۡنٍ	اِلَّا فِيۡ ضَلٰلٍ
که چيرې يئ تاسې	وعده	دغه	چې کله به وي	او وايئ	ښکاره کښې	مګر په ګمراهۍ

مګر په ګمراهۍ ښکاره کښې. او وايئ (کفار) چې کله به وي دغه وعده (دقيامت؟ وواييئ راته!) که چيرې يئ تاسې

صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ تَأۡخُذُهُمۡ

تَأۡخُذُهُمۡ	وَّاحِدَةً	صَيۡحَةً	اِلَّا	مَا يَنۡظُرُوۡنَ	صٰدِقِيۡنَ
چې وبه نيسي دوی	يوې	دچغې	مګر	چې انتظار نه کوي	رښتيني

صادقين، رښتيني. (نو فرمائي الله) چې انتظار نه کوي (کفار) مګر دچغې يوې (داسرافيل) چې وبه نيسي دوی

وَهُمۡ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ تَوۡصِيَةٗ

تَوۡصِيَةً	فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ	يَخِصِّمُوۡنَ	وَهُمۡ
دوصيت	پس طاقت به يئ نه وي	جګړې سره کوي	حال دا چې دوی به

حال دا چې دوی به جګړې سره کوي. پس توان به يئ ونه سي د وصيت

وَلَآ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٥٠﴾ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم ع ١٨/٢

فَاِذَا هُمۡ	فِي الصُّوۡرِ	وَنُفِخَ	يَرۡجِعُوۡنَ	وَّلَآ اِلٰٓى اَهۡلِهِمۡ
پس ناڅاپه دوی	په شپيلۍ کښې	او بيا به پوکې وکړسي	بيرته ورسي	او نه به خپل اهل ته

او نه به خپل اهل ته بيرته ورسي (له مشاغلو خپلو). او بيا به پوکې وکړسي په شپيلۍ کښې پس ناڅاپه دوی

مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا

يٰوَيۡلَنَا	قَالُوۡا	يَنۡسِلُوۡنَ	رَبِّهِمۡ	اِلٰى	مِّنَ الۡاَجۡدَاثِ
ای هلاک خرابی ده موږ ته	وايئ به دوی	به ځغلي	درب خپل	په طرف	له قبرونو څخه

له قبرونو څخه په طرف د رب خپل به منډې وهي ځغلي. وايئ به دوی ای هلاک خرابی ده موږ ته

مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ

وَصَدَقَ	الرَّحۡمٰنُ	مَا وَعَدَ	هٰذَا	مَّرۡقَدِنَا	مِنۡ	مَنۡۢ بَعَثَنَا
او رښتيا ويلي وو	رحمٰن	هغه دی چې وعده يئ کړې وه	دا	ځايونو دخوبونو زموږ څخه	له	چا راپورته کړو

چا راپاڅولو له ځايونو دخوبونو زموږ څخه، دا هغه (دوهم ژوندون) دی چې وعده يئ کړې وه رحمٰن او رښتيا ويلي وو

وَيَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هٰذَا الۡوَعۡدُ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ.. دتيرسمخ پاته بيان دلته وګورئ: چې کافران هم الله ﷻ رازق مني مګر دمسلمانانو په جواب کي په طور دمسخرويي دا وويل چې کله الله ﷻ رازق دی نو هغه به يي غريبانو ته هم ورکوي موږ يي ولي ورکړو ګويا دې احمقانو دالله ﷻ په لاره کي خرڅ کول او غريبانو ته ورکول دالله ﷻ درازقيت منافي ګڼل او دا يي نه ګڼله چې درازق مطلق حکيمانه قانون دادی چې يو انسان ته يي ورکوي دنورو دپاره دی واسطه جوړوي او بالواسطه يي نورو ته ورکوي: که څه هم هغه په دې هم يقينا قادر دی چې ټولو ته په خپله بې دواسطې رزق ورسوي لکه چې په حيواناتو کي عموما داسې وي دغه رکم هر چينجي او هر درنده او پرنده ته بلاواسطه رزق ورکول کيږي: په دوی کي څوک مالدار څوک غريب نسته يو بل ته څه نه ورکوي ټول يي په جمع دقدرتي دسترخوان څخه خوري مګر په انسانانو کي نظام معيشت او دباهمي تعاون دروح پيداکولو دپاره په رزق رسولو کي ځينو ته دځينو دپاره واسطه جوړوي الخ. (معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص ٢٤)

الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۲﴾ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ

الْمُرْسَلُوْنَ	اِنْ كَانَتْ	اِلَّا	صَيْحَةً	وَّاحِدَةً	فَاِذَا هُمْ
رسولانو	نه به وى	مگر	چغه	يوه	پس ناڅاپه دوى

رسولانو. نه به وى (دغه نفخه الثانيه) مگر چغه يوه (چې وسى نو راژوندى به سى دوى ټول) پس ناڅاپه دوى

جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا

جَمِيْعٌ	لَّدَيْنَا	مُحْضَرُوْنَ	فَالْيَوْمَ	لَا تُظْلَمُ	نَفْسٌ	شَيْـًٔا
ټول	په نزد زموږ به	حاضر كړى سوى وى	پس نن ورځ به	و نه كاوه سى ظلم	په هيڅ نفس باندى	د هيڅ شى

ټول په نزد زموږ به حاضر كړى سوى وى. پس نن ورځ به و نه كاوه سى ظلم په هيڅ نفس باندى د هيڅ شى

وَّلَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۴﴾ اِنَّ اَصْحٰبَ

وَّلَا تُجْزَوْنَ	اِلَّا	مَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ	اِنَّ	اَصْحٰبَ
او نه به جزاء دركوله كيږى تاسى ته	مگر	د هغو (اعمالو) چې وئ تاسى	چې كول به مو	بيشكه!	اصحاب، ياران

او نه به جزاء دركوله كيږى تاسى ته مگر (جزاء) د هغو (اعمالو) چې وئ تاسى چې كول به مو. بيشكه! اصحاب، ياران

الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ

الْجَنَّةِ	الْيَوْمَ	فِيْ شُغُلٍ	فٰكِهُوْنَ	هُمْ	وَاَزْوَاجُهُمْ
د جنت به	نن ورځ	په مشغولتيا كښى	د لذت اخيستونكى وى	دغه (جنتيان)	او ښځى د دوى به

د جنت به نن ورځ په مشغولتيا كښى د لذت اخيستونكى وى. دغه (جنتيان) او ښځى د دوى به

فِيْ ظِلٰلٍ عَلَى الْاَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿۵۶﴾ لَهُمْ فِيْهَا

فِيْ ظِلٰلٍ	عَلَى	الْاَرَآئِكِ	مُتَّكِـُٔوْنَ	لَهُمْ	فِيْهَا
په سيوريو كښى	پر	تختونو باندى	تكيه وهونكى به وى	وى به دوى ته	په دغه جنت كښى

په سيوريو كښى (ناست وى) پر تختونو باندى تكيه وهونكى به وى. وى به دوى ته په دغه جنت كښى (انواع)

فَاكِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿۵۷﴾ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ

فَاكِهَةٌ	وَّلَهُمْ	مَّا يَدَّعُوْنَ	سَلٰمٌ	قَوْلًا	مِّنْ رَّبٍّ
ميوى	او وى به دوى ته	هر هغه شى چې غواړى يئ دوى	وى به دوى ته سلام	په ويلو سره	له (طرفه د) رب

ميوى او وى به دوى ته هر هغه شى چې غواړى يئ دوى (او آرزو يئ كوى). وى به دوى ته سلام په ويلو سره له (طرفه د) رب

اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ. جنتيان به دقيامت په ورځ په خپلو خوشحاليو كي مشغول وي: د دوږخيانو د پريشانيو د ذكر كولو څخه وروسته يې په قيامت كې د جنتيانو حال ذكر كړى چې دوى به په خپلو خوشحاليو كي مشغول وي فكهون د فاكه جمع ده خوشدل او خوشحال ته ويل كيږي او ددې څخه مخ ته د فى شغل دغه مفهوم كيداى سي چې هغوى به د دوږخيانو ته دورپيښيدنكو پريشانيو څخه بالكل بې غمه وي. او دا هم ممكنه ده چې دلته دا لفظ د فى شغل ددې خيال د دفع كولو دپاره زيات سوى وي چې په جنت كي چې به كله نه څه عبادت وي نه څه فرض او واجب او نه د څه كسب معاش كار وي نو ايا په دې بې كارى كي به د بنده زړه بيريږي نه په دې وجه فرمايي چې د دوى سره به د خپلو تفريحاتو لوى شغل وي او هلته د زړه د بيريدو هيڅ سوال نه پيدا كيږي. او په جنت كي به جنتيان او د دوى ښځي او هغه حوري چې الله ﷻ دوى ته وركړي دي تر درختو لاندې په سايو كي ښنگونه وهلي وي الخ.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص ۳۰)

رَّحِیْمٍ ۝۵۸ وَامْتَازُوا الْیَوْمَ اَیُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ۝۵۹ اَلَمْ اَعْهَدْ

رَّحِیْمٍ	وَامْتَازُوْا	اَلْیَوْمَ	اَیُّهَا	اَلْمُجْرِمُوْنَ	اَلَمْ اَعْهَدْ
رحم والا	او راجدا سئ	نن ورځ	ای	مجرمانو	آیا حکم نه وو کړی ما

رحم والا. او (وبه ویل سی) راجدا سئ نن ورځ ای مجرمانو (کافرانو له مؤمنانو څخه). آیا حکم نه وو کړی ما

اِلَیْكُمْ یٰبَنِیْۤ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّیْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ

اِلَیْكُمْ	یٰبَنِیْۤ	اٰدَمَ	اَنْ	لَّا تَعْبُدُوْا	الشَّیْطٰنَ	اِنَّهٗ
تاسی ته	ای زامنو	دآدم	په دی سره	چی عبادت مه کوئ تاسی	دشیطان	بیشکه! دغه شیطان

تاسی ته (په ذریعه د رسولانو سره) ای زامنو د آدم په دی سره چی عبادت مه کوئ تاسی د شیطان بیشکه! دغه شیطان

لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ۝٦۰ وَّ اَنِ اعْبُدُوْنِیْ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ

لَكُمْ	عَدُوٌّ	مُّبِیْنٌ	وَّ اَنِ اعْبُدُوْنِیْ	هٰذَا	صِرَاطٌ
تاسی ته	دښمن دی	ښکاره	او چی عبادت کوئ زما	دغه (عبادت زما)	لاره ده

تاسی ته دښمن دی ښکاره. او (داسی حکم می نه وو کړی) چی عبادت کوئ (یوائې) زما دغه (عبادت زما) لاره ده

مُّسْتَقِیْمٌ ۝٦۱ وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِیْرًا ؕ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا

مُّسْتَقِیْمٌ	وَلَقَدْ	اَضَلَّ	مِنْكُمْ	جِبِلًّا	كَثِیْرًا	اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا
سمه	او خامخا په تحقیق	گمراه کړی وو	له تاسی	خلک	ډیر	آیا پس نه یئ تاسی داسی چی

سمه (چی جنت ته تللی ده). او خامخا په تحقیق گمراه کړی و و (شیطان) له تاسی خلک ډیر، آیا پس نه یئ تاسی داسی چی

تَعْقِلُوْنَ ۝٦۲ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝٦۳

تَعْقِلُوْنَ	هٰذِهٖ	جَهَنَّمُ	الَّتِیْ	كُنْتُمْ	تُوْعَدُوْنَ
عقل وچلوئ	دا	دوزخ دی	هغه چی	وئ تاسی	چی وعده یئ درسره کړی سوی وه

عقل وچلوئ. دا دوزخ دی هغه چی وئ تاسی چی (په دنیا کښی) وعده یئ درسره کړی سوی وه.

اِصْلَوْهَا الْیَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝٦۴ اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰۤی

اِصْلَوْهَا	اَلْیَوْمَ	بِمَا كُنْتُمْ	تَكْفُرُوْنَ	اَلْیَوْمَ	نَخْتِمُ	عَلٰۤی
ځی ننوځی په ده کښی	نن ورځ	په سبب د هغی چی وئ تاسی	چی کافران کیدئ	نن ورځ	به مهر ووهو	پر

ځی ننوځی په ده کښی نن ورځ په سبب د هغی چی وئ تاسی (په دنیا کښی) چی کافران کیدئ. نن ورځ به مهر ووهو پر

اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَیْكُمْ یٰبَنِیْۤ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْا.. الله ﷻ **به دقیامت په ورځ تو له انسانانو او پیریانو ته خطاب وکړي:** او دا به ورته وفرمايي چي آیا ما تاسي ته په دنیا کي هدایت نه وو کړی چي تاسي دشیطان عبادت مه کوی. **دلته دا سوال پیدا کیدای سي** چي کفارو خو عموما دشیطان عبادت نه کوی او دبتانو یا نورو شیانو عبادت یي کوی په دې وجه پر دوی دشیطان دعبادت کولو الزام څنگه ولگیدی؟ **جواب دادی** چي دچا **مطلق اطاعت** کول په هر کار او هر حال کي دده خبره منل ددې نوم عبادت دی چونکي دې خلگو همیشه دشیطاني تعلیم پیروي کړي ده په دې وجه دوی ته دشیطان عابدان وویل سوه **لکه چي په حدیث شریف** کي هغه سړي ته چي دمال یا ښځي په محبت کي راسي هر هغه کار کوي په کم سره چي مال زیاتیږي یا ښځه خوشحالیږي که څه هم خدای ﷻ ناراضه کیږي داسي سړي ته په حدیث شریف کي **عبدالدرهم** او **عبدالزوجة** ویل کیږي یعني ددرهم او دښځي بنده حالانکي دیي عبادت نه دی کړی دهغوی الخ.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۳۱)

أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا۟

أَفْوَاهِهِمْ	وَتُكَلِّمُنَآ	أَيْدِيهِمْ	وَتَشْهَدُ	أَرْجُلُهُم	بِمَا كَانُوا۟
خولو ددوى	او خبرى به وكړى له موږ سره	لاسونه ددوى	او شاهدى به وركړى	پښې ددوى	په هغو كارونو چې وو دوى

خولو د دوى او خبرى به وكړى له موږ سره لاسونه د دوى او شاهدى به وركړى پښى د دوى په هغو كارونو چې وو دوى

يَكْسِبُونَ ۝٦٥ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰٓ أَعْيُنِهِمْ

يَكْسِبُونَ	وَلَوْ نَشَآءُ	لَطَمَسْنَا	عَلَىٰ	أَعْيُنِهِمْ
چې كول به دوى	او كه اراده فرمايلى وى موږ	خامخا هوار والى به راوستلى وو موږ	پر	ستركو د دوى

چې كول به دوى (په دنيا كښى). او كه اراده فرمايلى وى موږ نو خامخا هوار والى به راوستلى وو موږ پر ستركو د دوى

فَٱسْتَبَقُوا۟ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ ۝٦٦ وَلَوْ نَشَآءُ

فَٱسْتَبَقُوا۟	ٱلصِّرَٰطَ	فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ	وَلَوْ نَشَآءُ
پس مخكى سوى به ؤ دوى	هغى لارى ته	پس څرنګه به ليدلى واى دوى	او كه اراده فرمائلى وى موږ

پس وړاندى سوى به ؤ دوى هغى لارى ته (پرى تلل) پس څرنګه به ليدلى وه دوى (هغه لاره) او كه اراده فرمائلى وى موږ

لَمَسَخْنَٰهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ فَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ مُضِيًّا

لَمَسَخْنَٰهُمْ	عَلَىٰ	مَكَانَتِهِمْ	فَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟	مُضِيًّا
نو مسخ كړى به واى موږ	پر	ځايونو خپلو كښى	پس طاقت به يئ نه وو	دتيريدلو

خامخا ميخ كړى به وو موږ دوى په ځايونو خپلو كښى پس طاقت به يئ نه وو د وړاندى تللو

وَلَا يَرْجِعُونَ ۝٦٧ وَمَن نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِى ٱلْخَلْقِ

وَلَا يَرْجِعُونَ	وَمَن	نُّعَمِّرْهُ	نُنَكِّسْهُ	فِى ٱلْخَلْقِ
او نه به بيرته ګرځيدلى	او هر چاته چې	اوږد عمر وركړو موږ هغه ته	نو نسكور به كړو هغه	په پيدا ايښت كښى

او نه به بيرته ګرځيدلى سو (شاته). او هر چاته چې اوږد عمر وركړو موږ هغه ته نو نسكور به كړو هغه په پيدا ايښت كښى

أَفَلَا يَعْقِلُونَ ۝٦٨ وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ ۚ إِنْ هُوَ

أَفَلَا يَعْقِلُونَ	وَمَا	عَلَّمْنَٰهُ	ٱلشِّعْرَ	وَمَا يَنۢبَغِى	لَهُۥ	إِنْ هُوَ
آيا پس نه چلوى دوى عقل	او نه دى	ښوولى موږ دغه ته	شعر	او نه ښائيږى	ورلره (شعر ويل)	نه دى دغه (قرآن)

آيا پس نه كوى دوى عقل. او نه دى ښوولى موږ دغه (محمد) ته شعر او نه ښائيږى ورلره (شعر ويل) نه دى دغه (قرآن)

وَتُكَلِّمُنَآ أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا۟.. الله ﷻ به دقيامت په ورځ دكفارو پر خولو باندي مهرونه ووهي: په محشر كي به دحساب او كتاب لپاره په پيشى كي اول خو هر سړى ته آزادي وي چي څه غواړي وايي به يي دى به عذر پيش كوي مګر مشركين به هلته قسمونه اخلي او دخپل شرك او كفر څخه به منكره سي او داسي به وايي چي.والله ربنا ما كنا مشركين يعني زموږ دي ستا په ذات قسم وي اى پروردګاره چي موږ شرك په دنيا كي نه دى كړى: او ځيني كفار به دا هم ووايي چي ملائكو زموږ په اعمالنامو كي چي څه ليكلي دي موږ خو ددې څخه بري او پاك يو دغه وخت به الله ﷻ ددوى پر خولو باندي مهرونه ولګوي چي دوى به خبره نه سي كولاى او ددوى په مقابله كي به په خپله ددوى لاسونه، پښې او اندامونه سركاري شاهدان جوړ سي دوى ته به الله ﷻ دخبرو كولو صلاحيت وركړي هغه به ددوى د ټولو عملونو شاهدي وركړي حتى ددوى سترګي او ددوى غوږونه، او پوستكي به پر دوى شاهدي اداء كړي الخ. (معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص ۳۲)

ع ۴ / ۳

ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ. نه قران كريم شعر دى او نه نبي كريم ﷺ شاعر وو:

دنبي كريم ﷺ دنبوت منكرين دقرآن كريم دعجيبه تاثراتو اوپرزړونو داثر كولو دكيفيت چي كمه عامه مشاهده وه دهغه ځخه يي انكار نه سوكولاى نوپه دې وجه به يي كله كلام الهي يعني قرآن كريم ته سحر او نبي كريم ﷺ ته ساحر وايه او كله به يي دې كلام ته شعر اونبي كريم ﷺ ته يي شاعر وايه او دا به يي ثابتول چي دا عجيبه تاثرات دكلام الهي كيدو په وجه سره نه دي بلكي يا خو دادجادو كلمات دي كم چي پرزړونو باندي اثر كوي يا شاعرانه كلام دى هغه هم په عامو زړونو باندي: په دغه آيت كي الله ﷻ ددوى دغه فاسده رايه او باطل تهمت ردكى چي چي موږ خپل نبي ته شعر او شاعري نه ده ښوولې او نه هم دادده ده شان سره مناسب ده دوى ته شاعر ويل باطل او غلط دي: كه لږ فكر اوغور وسي دنن سبا په ټولنه كي كه چيري يو عالم دين چي پر خپل حق مذهب او مسلك باندي ولاړ وي او دحق اشاعت كوي او پر باطل باندي ردكوى خوهغه بيا په مختلفو نومانو سره بدناميږي. والى الله المشتكى

معارف القرآن ج٨ پ ٢٣ ص ٣٥

اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ

اِلَّا ذِكْرٌ	وَّقُرْاٰنٌ	مُّبِيْنٌ	لِّيُنْذِرَ	مَنْ كَانَ	حَيًّا	وَّيَحِقَّ
مگر خالص ذکر دی	او قرآن دی	ښکاره کوونکی	چي وبيروى	هرهغه چي وى	ژوندى	او ثابته سى

مگر خالص ذکر، پند دی او قرآن دی ښکاره کوونکی (داحکامو). چي وبیروی هر هغه چي وی ژوندی او ثابته سی

الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٠﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا

الْقَوْلُ	عَلَى	الْكٰفِرِيْنَ	اَوَلَمْ يَرَوْا	اَنَّا	خَلَقْنَا	لَهُمْ	مِّمَّا
خبره	پر	کافرانو	آيا نهويني دوى	چي بيشكه! موږ	پيداكړي مو دي	دوى ته	له هغه

خبره (د عذاب) پر کافرانو. آیا نه وینی دوی (بلکه وینی يئ) چي بیشکه! موږ پیداکړي مو دی دوی ته له هغه

عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنٰهَا

عَمِلَتْ	اَيْدِيْنَآ	اَنْعَامًا	فَهُمْ	لَهَا	مٰلِكُوْنَ	وَذَلَّلْنٰهَا
چي جوړ كړي دي	لاسونو زموږ	چارپايان	پس دوى	دهغوى	مالكان دي	او تابع، عاجزكړي مو دي دغه چارپايان

چي جوړ کړی دی لاسونو (دقدرت) زموږ چارپایان پس دوی دهغوی مالکان دی. او ذلیل، عاجز کړی مودی دغه چارپایان

لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيْهَا

لَهُمْ	فَمِنْهَا	رَكُوْبُهُمْ	وَمِنْهَا	يَاْكُلُوْنَ	وَلَهُمْ	فِيْهَا
دوى ته	پس ځيني له دوى	دسورلۍ د دوى دي	او له ځيني د دوى	خوري	او سته دوى ته	په دغو انعامو كښي

دوی ته پس ځینی له دوی د سورلۍ د دوی دی او له ځینی د دوی خوری. او سته دوی ته په دغو انعامو کښی

مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۭ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ

مَنَافِعُ	وَمَشَارِبُ	اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ	وَاتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِ
نفعي ډيري	او دڅښلو	آيا پس دوى شكر نه باسي	او نيولي دي دوى (مشركانو)	بى له

نفعی ډیری د څښلو (شیان) آیا پس دوی شکر نه باسی (په دی نعماؤ)؟ او نیولی دی دوی (مشرکانو) بی له

اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

اللّٰهِ	اٰلِهَةً	لَّعَلَّهُمْ	يُنْصَرُوْنَ	لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ
الله	معبودان	چي ښايئ د دوى سره	مرسته وكړى سى	نه لري طاقت (دغه معبودان)

الله (نور) معبودان چي ښایئ د دوی سره به مدد وکړی سی. نه لری طاقت (دغه معبودان)

نَصۡرَهُمۡ ۙ وَهُمۡ لَهُمۡ جُنۡدٌ مُّحۡضَرُوۡنَ ﴿۷۵﴾ فَلَا يَحۡزُنۡكَ

نَصۡرَهُمۡ	وَهُمۡ	لَهُمۡ	جُنۡدٌ	مُّحۡضَرُوۡنَ	فَلَا يَحۡزُنۡكَ
دنصرت له دوی سره	حال دا چې دغه (معبودان) به	دوی ته	لښکری	حاضری کړی سوی وی	پس نه دی غمجن کوی تا

دنصرت له دوی سره حال دا چې دغه (معبودان) به دوی ته لښکری حاضری کړی سوی وی. پس نه دی غمجن کوی تا

قَوۡلُهُمۡ ۘ اِنَّا نَعۡلَمُ مَا يُسِرُّوۡنَ وَمَا يُعۡلِنُوۡنَ ﴿۷۶﴾

قَوۡلُهُمۡ	اِنَّا	نَعۡلَمُ	مَا يُسِرُّوۡنَ	وَمَا	يُعۡلِنُوۡنَ
خبری د دوی	بیشکه! موږ ته	معلوم دی	هغه چې پټوی یې دوی	او هغه	چې ښکاره کوی یې دوی

خبری د دوی بیشکه! موږ ته معلوم دی هغه (حسد او بغض) چې پټوی یې دوی او هغه چې ښکاره کوی یې دوی.

اَوَلَمۡ يَرَ الۡاِنۡسَانُ اَنَّا خَلَقۡنٰهُ مِنۡ نُّطۡفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيۡمٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۷۷﴾

اَوَلَمۡ يَرَ	الۡاِنۡسَانُ	اَنَّا	خَلَقۡنٰهُ	مِنۡ نُّطۡفَةٍ	فَاِذَا هُوَ	خَصِيۡمٌ	مُّبِيۡنٌ
آیا نه وینی	انسان	چې بیشکه! موږ	پیدا کړی مو دی	هغه له نطفی	پس ناڅاپه دی	سخت جګړه کوونکی	ښکاره دی

آیا نه وینی نه پوهیږی انسان چې بیشکه! موږ پیدا کړی مو دی هغه له نطفی پس ناڅاپه دی سخت جګړه کوونکی ښکاره دی

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلۡقَهٗ ؕ قَالَ مَنۡ يُّحۡيِ الۡعِظَامَ

وَضَرَبَ	لَنَا	مَثَلًا	وَّنَسِيَ	خَلۡقَهٗ	قَالَ	مَنۡ يُّحۡيِ	الۡعِظَامَ
او بیان کړی دی	موږ ته	یو مثال	او هیر کړی یې دی	پیدا ایښت خپل	وایئ	څوک به ژوندی کړی	دغه هډوکی

او ترې پر موږ پوری مثل (دهډوکی وراسته) او هیر کړی یې دی پیدا ایښت خپل، وایئ څوک به ژوندی کړی دغه هډوکی

وَهِيَ رَمِيۡمٌ ﴿۷۸﴾ قُلۡ يُحۡيِيۡهَا الَّذِيۡۤ اَنۡشَاَهَاۤ اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ

وَهِيَ	رَمِيۡمٌ	قُلۡ	يُحۡيِيۡهَا	الَّذِيۡۤ	اَنۡشَاَهَاۤ	اَوَّلَ	مَرَّةٍ
حال دا چې	هغه زاړه وراسته دی	وو وایه	بیا به ژوندی کړی دغه	هغه چې	پیدا کړی یې دی	اول	ځلی

حال دا چې هغه وراسته دی. وو وایه (ای محمده) بیا به ژوندی کړی دغه هغه (مطلق قادر ذات) چې پیدا کړی یې دی اول ځلی

وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيۡمُ ۙ ﴿۷۹﴾ الَّذِيۡ جَعَلَ لَكُمۡ

وَهُوَ	بِكُلِّ	خَلۡقٍ	عَلِيۡمٌ	الَّذِيۡ	جَعَلَ	لَكُمۡ
حال دا چې دغه (الله)	په هر قسم	پیدا ایښت	ښه عالم دی	هغه (ذات)	چې پیدا کړی یې دی	تاسی ته

حال دا چې دغه (الله) په هر قسم پیدا ایښت ښه عالم دی (که نوی وی او که زوړ). هغه (ذات) چې پیدا کړی یې دی تاسی ته

اَوَلَمۡ يَرَ الۡاِنۡسَانُ اَنَّا خَلَقۡنٰهُ مِنۡ نُّطۡفَةٍ. عاص ابن وائل وروست هډوکی راوړی او جګړه یي کوله: دسورت یس دا اخري پنځه ایاتونه په یوه خاص واقعه کي نازل سوي دي کم چي په ځینو روایتونو کي دابی ابن خلف طرف ته یي نسبت سوی دی او په ځینو کي دعاص بن وائل طرف ته او په دي کي هم څه بعد نسته چي ددواړو سره داسي واقعه پیښه سوې وي. اول: روایت دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل سوی دی هغه دادی چي عاص ابن وائل دبطحی دمکې څخه یو وروست هډوکی راپورته کی او دایي په خپل لاس کي وموړی ذره ذره یي کی بیا یي نبي کریم ﷺ ته وویل چي آیا دا هډوکی به الله جل جلاله ژوندی کړي دکم چي دا حال ته ویني رسول الله ﷺ وفرمایل چي هو الله جل جلاله به تاته مرګ راولي بیا به دي ژوندی کي او بیا به دي جهنم ته داخل کړي. بیا الله جل جلاله فرمايي: خصیم مبین. یعني داد حقیري نطفې څخه پیدا سوی انسان څنګه ښکاره مقابلې ته راغی چي دالله جل جلاله دقدرت څخه انکار کوي او دتعصب څخه کار اخلي.
(معرف القرآن ج۸ پ۲۳ ص ۳۹)

مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ﴿٨٠﴾

مِّنَ الشَّجَرِ	الْاَخْضَرِ	نَارًا	فَاِذَآ	اَنْتُمْ	مِّنْهُ	تُوْقِدُوْنَ
له درختی	شنی شخه	اور	پس ناڅاپه	تاسی	له هغی درختی شخه	بلوئ اور

له ونی شنی شخه اور پس ناڅاپه تاسی له هغی ونی شخه بلوئ اور.

اَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

اَوَلَيْسَ	الَّذِيْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ
آيا نه دی	هغه (ذات)	چي پيدا کړی يئ دی	آسمانونه	او مځکه

آيا نه دی هغه (مطلق قادرذات) چي پيدا کړی يئ دی آسمانونه او مځکه

بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ۚ بَلٰى ۚ وَهُوَ الْخَلّٰقُ

بِقٰدِرٍ	عَلٰٓى	اَنْ يَّخْلُقَ	مِثْلَهُمْ	بَلٰى	وَهُوَ	الْخَلّٰقُ
قادر	په دی باندی	چي پيدا کړی	په شان د دوی	هو !	او هم دی دی	اصلی ډير پيدا کوونکی

قادر په دی باندی چي پيدا کړی په شان د دوی ؟ هو! (قادر دی په دی باندی) او هم دی دی اصلی ډير پيدا کوونکی

الْعَلِيْمُ ﴿٨١﴾ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا

الْعَلِيْمُ	اِنَّمَآ	اَمْرُهٗٓ	اِذَآ	اَرَادَ	شَيْـًٔا
ښه عالم	بيشکه! هم دا خبره ده	چي حکم د الله	هر کله چي	اراده وفرمائی (الله)	ديوه شی

(دمخلوقاتو) ښه عالم. بيشکه! هم دا خبره ده چي امر حکم د الله هر کله چي اراده وفرمائی (دپيدا کولو) ديوه شی

اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٨٢﴾ فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ بِيَدِهٖ

اَنْ يَّقُوْلَ	لَهٗ	كُنْ فَيَكُوْنُ	فَسُبْحٰنَ	الَّذِيْ	بِيَدِهٖ
دا چي وفرمائی	هغه ته	چي سه نو سی	پس پاکی ده	هغه (الله) ته	چي په لاس د ده کښی ده

دا چي وفرمائی هغه ته چي (جوړ) سه نو (جوړ) سی. پس پاکی ده هغه (الله) ته چي په لاس (دقدرت) د ده کښی ده

مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ ع

مَلَكُوْتُ	كُلِّ شَيْءٍ	وَّاِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ
باچاهي	د هر شی	او خاص هم ده ته	بيرته بيا بيولی کيږئ

باچاهي د هر شی او خاص هم ده ته بيرته بيا بيولی کيږئ (په آخرت کښی لپاره د جزاء)

اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ..الله جَلَّ جَلَالُهٗ چي ديوشي دپيداکولو اراده وکړي نو په کلمه دکن يي پيداکړي : دآيت مراد او مطلب دادی چي الله جَلَّ جَلَالُهٗ کله ديو شي پيداکول وغواړي نو دانساني مصنوعاتو په شان هغه ته ددې ضرورت نسته چي اول مواد ورته جمع کړي بيا يي کاريګران راوغواړي بيا تر يوې مودې پورې کار کوي بيا هغه شی تيار سي: بلکي هغه چي کله او څه وخت دڅه شي دپيدا کولو اراده وکړي هغه ته صرف حکم ورکول کافي وي چي پيدا سه نو کم شي ته چي داحکم ورکول سوی وو هغه فورا دده دحکم مطابق په وجود کي راسي ددې څخه دانه لازميږي چي دهر شي تخليق دي دفعي او فوري وي بلکي دخالق دحکمت تابع دکم شي چي فوري پيدا کيدل مصلحت وي هغه فوري طور بې مهلته پيدا سي اود کم شي چي پيدا کيدل دڅه حکمت او مصلحت پر بنا تدريجي وي هغه په دغه تدريج سره په وجود کي راځي برابره خبره ده که صورت يي داسي وي چي ده ته داول څخه په حکم کي خاص په تدريج سره پيداکيدل ښوولی وي يا پر هره مرحله ده ته په جلا حکم دکُنْ سره خطاب کيږي.
معارف القرآن ج ٨ پ ٢٣ ص ٤٠)

اياتونه ١٨٢ — ٣٧ سُوْرَةُ الصّٰفّٰتِ مَكِّيَّةٌ ٥٦ — ركوعي ٥

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالصّٰفّٰتِ صَفًّا ① فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ②

وَالصّٰفّٰتِ	صَفًّا	فَالزّٰجِرٰتِ	زَجْرًا
قسم دی پر (ملائیکو) چې صف ترونکی دی	په صف ترلو سره	بیا پر (هغو) شړونکو	په شړلو سره

قسم دی پر (هغو ملائیکو چې) صف ترونکی دی په صف ترلو سره بیا پر (هغو) شړونکیو (دشیطانانو) په شړلو سره .

فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ③ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ④ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

فَالتّٰلِيٰتِ	ذِكْرًا	اِنَّ	اِلٰهَكُمْ	لَوَاحِدٌ	رَبُّ	السَّمٰوٰتِ
بیا په هغو لوستونکو	د قرآن کریم سره	چې بیشکه!	معبود ستاسی	خامخا یو دی	چې رب	دآسمانونو

بیا په هغو لوستونکو په ذکر کولو سره. چې بیشکه! معبود ستاسی خامخا یو دی. چې رب دآسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ⑤ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ

وَالْاَرْضِ	وَمَا	بَيْنَهُمَا	وَرَبُّ	الْمَشَارِقِ	اِنَّا	زَيَّنَّا	السَّمَآءَ
او دمځکی دی	او دهغو چې	په مینځ د دوی کښی دی	او رب	دمشرقونو	بیشکه! موږ	ښائسته کړی مو دی	دغه آسمان

او دمځکی دی او دهغو چې په مینځ د دوی کښی دی او رب د مشرقونو ، بیشکه! موږ ښائسته کړی مو دی دغه آسمان

الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ الْكَوَاكِبِ ⑥ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ⑦

الدُّنْيَا	بِزِيْنَةِ	الْكَوَاكِبِ	وَحِفْظًا	مِّنْ كُلِّ	شَيْطٰنٍ	مَّارِدٍ
نژدی	په ښائست سره	د ستورو	او ساتلی دی په ساتنی سره	له هره	شیطانه	سرکشه

نژدی په ښائست سره چې ستوری دی. او ساتلی دی (موږ) په ساتنی سره له هره شیطانه سرکشه .

لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ⑧

لَا يَسَّمَّعُوْنَ	اِلَى الْمَلَاِ	الْاَعْلٰى	وَيُقْذَفُوْنَ	مِنْ كُلِّ جَانِبٍ
غوږ نه نیسی	طرف د هغه ټولی	لوی پورته	او ویشتلی سی دوی	له هر طرفه

غوږ نه نیسی (دغه شیاطین) طرف (دخبرو) د هغه ټولی لوی پورته او ویشتلی غورځولی سی له هر طرفه

وَالصّٰفّٰتِ صَفًّا① فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا②

دسورت صافات

مضامين: داسورت مکي سورت دی او دنورو مکي سورتونو په شان ددې بنيادي موضوع هم ايمانيات دي او په دي کي دتوحيد ، رسالت ، او آخرت عقيدې يې په مختلفو طريقو سره مدللي کړي دي : په دي ضمن کي دمشرکينو دعقيدو ترديد هم دی او په آخرت کي دجنت او دوزخ دحالاتو منظر کشي هم ده کمي عقيدې چې د ټولوانبياوو په دعوت کي شاملي دي هغه يې په مدلل کولو او دکفارو دشبهو او اعتراضونو ليري کولو څخه وروسته دابيان کړی دی چې په تير وخت کي کمو خلکو داعقيدې منلي دي دهغوی سره الله ﷻ څه معامله کړيده او چاچي دکفر او شرک لاره اختيار کړه دهغوسره الله ﷻ څه معامله کړيده او دهغوی انجام څه سو؟ چناچي په دي ضمن کي دحضرت نوح عليه السلام ، دحضرت ابراهيم عليه السلام ، او ددوی دزامنو اودحضرت موسی عليه السلام او دحضرت هارون عليه السلام او حضرت الياس عليه السلام او حضرت لوط عليه السلام او دحضرت يونس عليه السلام واقعاتي هم اجمالا راغلي دي : (معارف القرآن ج ٨ پ ٢٣ ص ٤٢)

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ﴿١٢﴾
وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ﴿١٣﴾

کفاروبه په قران کريم او مسلمانانو باندي پسخندونه وهل: په دغه آيت کي الله ﷻ خطاب ونبي کريم ﷺ ته کړی دی چي ته پر دغه کفارو باندي داسي تعجب کوې چي سره دواضحو دليلونو مخ ته د راتلو باوجود دوی حق نه مني ليکن دوی چپه دمسلمانانو په دليلونو او عقيدو پوري مسخرې کوي او که هرڅومره چي يي وپوهوې نه پوهيږي: پاته سول نقلي دليلونه پس ددې په باره کي ددوی رد عمل دادی چي:واذا راوا آية يستسخرون.يعني کله چي يوه معجزه ويني کمه چي ددوی ﷺ پر نبوت اودآخرت پر عقيدې باندي دلالت کوي نو دوی مسخرې ورپوري کوي اوداوايي چي داخو ښکاره جادو دی او ددې ټولو مسخرو او خنداګانو ددوی سره يو دليل دی او هغه دادی چي اءذا متنا وکنّاترابا وعظاما ائنّا لمبعوثون او آباؤنا الاوّلون يعني داخبره زموږ په تصور کي نه راځي چي موږ يا زموږ پلرونه نيکه ګان دخاوري کيدو او هډوکو کيدو څخه وروسته به دوباره څنګه ژوندي سي؟ الخ.
(معارف القرآن ج۸پ۲۳ص ۵۲)

دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ﴿٩﴾ اِلَّا مَنْ خَطِفَ

دُحُوْرًا	وَّلَهُمْ	عَذَابٌ	وَّاصِبٌ	اِلَّا	مَنْ خَطِفَ
دپاره د شړلو	او سته دوی ته	عذاب	دائم سخت	مګر	هغه چې راوتښتوی

دپاره د شړلو او سته دوی ته عذاب دائم سخت. مګر (غوږنيسی) هغه (شيطان) چې غوټه واچوی په يو وار

اَلْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿١٠﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ

اَلْخَطْفَةَ	فَاَتْبَعَهٗ	شِهَابٌ	ثَاقِبٌ	فَاسْتَفْتِهِمْ	اَهُمْ
يو راتښتول	پس ژر ورپسی سی په ده پسی	شعله	لمبه کوونکی	پس وپوښته ته دغه مشرکان	چې دوی

غوټه اچولو سره پس ژر ورپسی راخطا سی لمبه رڼا کوونی سوځونکی. پس وپوښته ته دغه مشرکان چې دوی

اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾

اَشَدُّ	خَلْقًا	اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا	اِنَّا	خَلَقْنٰهُمْ	مِّنْ طِيْنٍ	لَّازِبٍ
سخت دی	په پيدا ايښت کی	که هغه څوک چې پيدا اکړی دی موږ	بيشکه موږ	پيدا اکړی مو دی دوی	له ختې	سرېښناکې څخه

سخت دی له جهته د پيدا ايښت که هغه څوک چې پيدا اکړی دی موږ بيشکه! موږ پيدا اکړی مو دی دوی له ختې سرېښناکې.

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ﴿١٣﴾

بَلْ	عَجِبْتَ	وَيَسْخَرُوْنَ	وَاِذَا	ذُكِّرُوْا	لَا يَذْكُرُوْنَ
بلکه	تعجب کوی ته	حال دا چې مسخری کوی دوی	او هر کله چې	وپوهول سی دوی	نه پوهيږی

بلکه تعجب کوی ته (د دوی پر تکذيب) حال دا چې مسخری کوی دوی (پرتا). او هر کله چې وپوهول سی دوی نه پوهيږی

وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ

وَاِذَا	رَاَوْا	اٰيَةً	يَّسْتَسْخِرُوْنَ	وَقَالُوْٓا	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا	سِحْرٌ
او هر کله چې	ووينی دوی	کوم دليل	نو مسخری پری کوی	او وايئ	چې نه دی دا	مګر	جادو دی

او هر کله چې ووينی دوی کوم نښه دليل (دقدرت) نو مسخری پری کوی. او وايئ (منکران) چې نه دی دا مګر سحر دی

مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا

مُّبِيْنٌ	ءَاِذَا	مِتْنَا	وَكُنَّا	تُرَابًا	وَّعِظَامًا	ءَاِنَّا
ښکاره	آيا هر کله چې	مړه سو موږ	او سو	خاوری	او هډوکی	آيا موږ به

ښکاره. (او وايئ منکران) آيا هر کله چې مړه سو موږ او سو خاوری او (وراسته) هډوکی آيا موږ به

لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ﴿۱۶﴾ اَوَ اٰبَآؤُنَا الۡاَوَّلُوۡنَ ﴿۱۷﴾ قُلۡ نَعَمۡ وَاَنۡتُمۡ

لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ	اَوَاٰبَآؤُنَا	الۡاَوَّلُوۡنَ	قُلۡ	نَعَمۡ	وَاَنۡتُمۡ
خامخا بیا ژوندی راپورته کول کیږو	که پلرونه زموږ	چی مخکنی دی	ووایه (محمده)	هوا حال داچی	تاسی به

خامخا بیا ژوندی راپاځول کیږو که پلرونه مخکنی زموږ (هم راژوندی کیږی؟) ووایه (محمده) هو! حال داچی تاسی به

دَاخِرُوۡنَ ﴿۱۸﴾ فَاِنَّمَا هِیَ زَجۡرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمۡ یَنۡظُرُوۡنَ ﴿۱۹﴾

دَاخِرُوۡنَ	فَاِنَّمَا	هِیَ	زَجۡرَةٌ	وَّاحِدَةٌ	فَاِذَا هُمۡ	یَنۡظُرُوۡنَ
ذلیل هم یئ	پس بیشکه! هم داخبره ده	چی دغه	چغه ده	یوه	پس ناڅاپه به دوی	ګوری

ذلیل هم یئ پس بیشکه! هم داخبره ده چی دغه قیامت چغه ده یوه پس ناڅاپه به دوی ګوری (چی څه راپوری کیږی).

وَقَالُوۡا یٰوَیۡلَنَا هٰذَا یَوۡمُ الدِّیۡنِ ﴿۲۰﴾ هٰذَا یَوۡمُ الۡفَصۡلِ

وَقَالُوۡا	یٰوَیۡلَنَا	هٰذَا	یَوۡمُ	الدِّیۡنِ	هٰذَا	یَوۡمُ	الۡفَصۡلِ
او وایئ به	ای خرابی ده موږ ته	دا خو	هغه ورځ ده	دجزاء	دا هم هغه	ورځ	د فیصلی ده

او وایئ به (منکران) ای خرابی ده موږ ته (نو وایئ به ملائیکی) دا خو هغه ورځ ده دجزاء. دا هم هغه ورځ دفیصلی ده

الَّذِیۡ کُنۡتُمۡ بِهٖ تُکَذِّبُوۡنَ ﴿۲۱﴾ اُحۡشُرُوا الَّذِیۡنَ

الَّذِیۡ	کُنۡتُمۡ	بِهٖ	تُکَذِّبُوۡنَ	اُحۡشُرُوا	الَّذِیۡنَ
هغه (ورځ)	چی وئ تاسی	چی په دی باندی به مو	نسبت د دروغو کاوه	راټول کړئ تاسی	هغه کسان

هغه (ورځ) چی وئ تاسی چی په دی باندی به مو نسبت د دروغو کاوه. (وبه فرمائی الله) راټول کړئ تاسی هغه کسان

ظَلَمُوۡا وَاَزۡوَاجَهُمۡ وَمَا کَانُوۡا یَعۡبُدُوۡنَ ﴿۲۲﴾ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

ظَلَمُوۡا	وَاَزۡوَاجَهُمۡ	وَمَا کَانُوۡا	یَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ
چی ظلم یئ کړی وو	او ښځی د دوی	او هغه چی وو دوی	چی عبادت به یئ کاوه	بی له	الله

چی ظلم یئ کړی وو او ښځی د دوی او هغه چی وو دوی چی عبادت به یئ کاوه (دبتانو) . بی له الله

فَاهۡدُوۡهُمۡ اِلٰی صِرَاطِ الۡجَحِیۡمِ ﴿۲۳﴾ وَقِفُوۡهُمۡ اِنَّهُمۡ

فَاهۡدُوۡهُمۡ	اِلٰی صِرَاطِ	الۡجَحِیۡمِ	وَقِفُوۡهُمۡ	اِنَّهُمۡ
پس روان، برابر کړئ دوی	لاری د	دوزخ ته	او ودروئ دوی	بیشکه! د دوی څخه به

پس روان کړئ برابر کړئ دوی لاری د دوزخ ته . او ودروئ دوی (په دغی لاری) ، بیشکه! د دوی څخه به

فَاِنَّمَا هِیَ زَجۡرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمۡ یَنۡظُرُوۡ دقیامت راتلل به یوه چیغه وي: دزجرةٌ دلفظ په عربي ژبه کي ډیري معناوي راځي په دې معناوو کي یوه معنی ده: حیوانانو ته دتللو دتیارولو دپاره داسي اوازونه راایستل چي په اوریدو یي هغوی ودریږي : دلته ددې څخه مراد هغه دوهمه شپیلی ده کمه چي به حضرت اسرافیل عليه السلام دمړود ژوندي کولو دپاره وهي او ددې څخه یي په : زجرة : سره ځکه تعبیر کړي دی چي لکه څنګه چي دحیوانانو دپورته کولو او روانولو دپاره څه اوازونه را ایستل کیږي دغه رکم دمړو دژوندي کولو دپاره به دا شپیلی وهل کیږي: که څه هم الله جل جلاله پر دې هم قادر دی چي دشپیلی وهلو څخه بغیر مړي ژوندي کړي لیکن داشپیلی به دحشر او نشر دمنظر دهیبتناک کولو دپاره وهل کیږي. ددې شپیلی وهلو اثر به پر کافرانو دا سي وسي چي. فاذاهم ینظرون : چي ناڅاپه به هغوی لیدونکي او کتونکي سي یعني لکه څنګه چي په دنیا کي هغوی په لیدو قادر وه دغه رکم به هلته هم لیدل کیږي. (معارف القرآن ج۸پ۲۳ص۵۵)

ع ۲۱ ۵

الربع

مَّسْـُٔوْلُوْنَ ﴿۲۴﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ

مَّسْـُٔوْلُوْنَ	مَا لَكُمْ	لَا تَنَاصَرُوْنَ	بَلْ هُمُ	الْيَوْمَ
پوښتنه وکړل سی	څه مانع ده تاسی ته	چی مرسته نه کوئ یو له بله سره	بلکه دوی	نن ورځ

پوښتنه وکړل سی . څه مانع ده تاسی ته چی مرسته (مدد) نه کوئ یو له بله سره (په خلاصی کښی) . بلکه دوی نن ورځ

مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۷﴾

مُسْتَسْلِمُوْنَ	وَاَقْبَلَ	بَعْضُهُمْ	عَلٰى	بَعْضٍ	يَّتَسَآءَلُوْنَ
پخپله خپل ځانونه تسلیموی	او مخ به وګرځوی	ځینی د دوی	پر	ځینو نورو	پوښتنه به کوی دوی یو له بله

پخپله خپل ځانونه تسلیموی (او ذلیل دی). او مخ به وګرځوی ځینی د دوی پر ځینو نورو پوښتنه به کوی دوی یو له بله .

قَالُوْٓا اِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿۲۸﴾ قَالُوْا

قَالُوْٓا	اِنَّكُمْ	كُنْتُمْ	تَاْتُوْنَنَا	عَنِ الْيَمِيْنِ	قَالُوْا
وبه وایئ	چی بیشکه! تاسی	وئ تاسی	چی راتلئ به موږ ته	له راسته طرفه	وبه وایئ

وبه وایئ (کشران مشرانو ته) چی بیشکه! تاسی وئ تاسی چی راتلئ به موږ ته له جانبه د قسم یا قوت. وبه وایئ

بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ

بَلْ	لَّمْ تَكُوْنُوْا	مُؤْمِنِيْنَ	وَمَا كَانَ	لَنَا	عَلَيْكُمْ	مِّنْ
بلکه	نه وئ تاسی	پخپله ایمان راوړونکی	او نه وو	موږ ته	پر تاسی باندی	هیڅ

(متبوعان تابعانو ته) بلکه نه وئ تاسی پخپله ایمان راوړونکی. او نه وو موږ ته پر تاسی باندی هیڅ

سُلْطٰنٍ ۚ بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ﴿۳۰﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ

سُلْطٰنٍ	بَلْ كُنْتُمْ	قَوْمًا	طٰغِيْنَ	فَحَقَّ	عَلَيْنَا	قَوْلُ	رَبِّنَآ
زور ، تسلط	بلکه وئ تاسی	یو قوم	سرکښه	پس ثابته سوه	پر موږ	خبره	د رب زموږ

زور تسلط. بلکه وئ تاسی یو قوم سرکښه. پس ثابته سوه پر موږ خبره د رب زموږ

اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿۳۲﴾

اِنَّا	لَذَآئِقُوْنَ	فَاَغْوَيْنٰكُمْ	اِنَّا	كُنَّا	غٰوِيْنَ
بیشکه! موږ	خامخا څکونکی یو	پس موږ ګمراه کړئ تاسی	بیشکه! چی موږ	وو	ګمراهان

بیشکه! موږ خامخا څکونکی یو (د عذاب) پس موږ ګمراه کړئ تاسی بیشکه! (لکه) چي موږ وو ګمراهان.

وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ. لوړه طبقه او لاندي طبقه کافران به دقیامت په ورځ سره مخ سي: په میدان دحشر کي دجمع کیدو څخه وروسته به دکافرانو لوی لوی سرداران کمو چي خپل کشران غولولي وه دخپلو پیروانو په مخکي به راسي نو پر ځای ددي چي یو دبل سره کومک وکړي په خپل مینځ کي به بحث او مباحثه سره شروع کړي په دغه ایاتونو کي الله ﷻ ددغه بحث او تکرار څه نقشه بیان کړیده او دفریقینوبد انجام یي بیان کړی دی: انکم کنتم تأتوننا عن الیمین: یمین هم په عربي ژبه کي دڅو معناوو دپاره استعمالیږي په دي کي یوه معنی دطاقت او قوت ده ددې معنی په لحاظ سره تفسیر داسي سوی دی چي پر موږ ستاسي راتلل ډیر په زور سره کیدل یعني تاسي به پر موږ ډیر زور اچوی موږ به مو ګمراه کولو: او دغه تفسیر دآیت ډیر صفا اوبې غباره دی ددې څخه علاوه دیمین معنی قسم هم راځي په دې وجه ځیني مفسرینو معنی داسي کړي ده چي تاسي به موږ ته په قسمونو اخیستلو سره راتلاست او زموږ باور به مو په قسمونو زیاتو ی. معرف القرآن ج ۸ پ۲۳ ص۵۸)

فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ۝٣٣ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ

فَإِنَّهُمْ	يَوْمَئِذٍ	فِي الْعَذَابِ	مُشْتَرِكُونَ	إِنَّا	كَذَٰلِكَ	نَفْعَلُ
پس بیشکه! چې دوی	نن ورځ	په عذاب کښی	سره شریکان دی	بیشکه! موږ	هم داسی	کوو

(فرمائی الله) پس بیشکه! چې دوی نن ورځ په عذاب کښی سره شریکان دی. بیشکه! موږ هم داسی کوو

بِالْمُجْرِمِينَ ۝٣٤ إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ

بِالْمُجْرِمِينَ	إِنَّهُمْ	كَانُوا	إِذَا قِيلَ	لَهُمْ	لَا إِلَٰهَ	إِلَّا	اللَّهُ
دیتولو مجرمانو سره	بیشکه! دوی	وو	کله چې وبه ویل سوه	دوی ته	نشته بل برحق معبود هیڅوک	مګر یوائې	الله دی

دیتولو مجرمانو سره، بیشکه! دوی وو کله چې وبه ویل سوه دوی ته چې نشته بل برحق معبود هیڅوک مګر یوائې الله دی

يَسْتَكْبِرُونَ ۝٣٥ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ

يَسْتَكْبِرُونَ	وَيَقُولُونَ	أَئِنَّا	لَتَارِكُوا	آلِهَتِنَا	لِشَاعِرٍ
نو تکبر به یې کاوه	او وایئ	چې آیا بیشکه! موږ	خامخا پرېښودونکی یو	دخدایانو خپلو	دپاره د یو شاعر

نو تکبر به یې کاوه. او وایئ (دغه منکران) چې آیا بیشکه! موږ خامخا پرېښودونکی یو دخدایانو خپلو دپاره د یو شاعر

مَجْنُونٍ ۝٣٦ بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِينَ ۝٣٧ إِنَّكُمْ

مَجْنُونٍ	بَلْ جَاءَ	بِالْحَقِّ	وَصَدَّقَ	الْمُرْسَلِينَ	إِنَّكُمْ
لیونی	بلکه راغلی دی	په حق سره	او رښتینی بولی	رسولان	بیشکه! تاسی

لیونی (الله فرمائی نه ده داسی) بلکه راغلی دی (محمد) په حق (دین) سره او رښتینی بولی (محمد) رسولان، بیشکه! تاسی

لَذَائِقُو الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ۝٣٨ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ

لَذَائِقُوا	الْعَذَابِ	الْأَلِيمِ	وَمَا تُجْزَوْنَ	إِلَّا	مَا كُنْتُمْ
خامخا څکونکی یئ	دعذاب	دردناک	او جزاء به نه درکوله کیږی تاسی ته	مګر (په قدر دهغه)	چې وئ تاسی

خامخا څکونکی یئ د عذاب دردناک. او جزاء به نه درکوله کیږی تاسی ته مګر په قدر د هغه (عمل) چې وئ تاسی

تَعْمَلُونَ ۝٣٩ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ۝٤٠ أُولَٰئِكَ لَهُمْ

تَعْمَلُونَ	إِلَّا	عِبَادَ اللَّهِ	الْمُخْلَصِينَ	أُولَٰئِكَ	لَهُمْ
چې کاوه به مو	مګر	بندګان د الله	چې خالص کړی سوی دی	دغه (مخلصین)	سته دوی ته

چې کاوه به مو (په دنیا کښی). مګر هغه کسان د الله چې پاک کړی سوی دی، دغه (مخلصین چې دی) سته دوی ته

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ۝٤٠ أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ. په جنت کي دننه دجنتيانو دمجلس يوه نقشه: يعني جنتيانو ته په جنت كسي رزق اوروزي ښه په پوره عزت او اكرام سره وركول كيږي ځكه كه اعزاز او اكرام نه وي نو دلذيذ څخه لذت او خوند اخيستل بيا ډير مشكل دی: ددې څخه دا هم معلومه سوه چي دميلمه حق صرف په خوراك وركولو كي نه پوره كيږي بلكي دهغه اعزاز او اكرام هم دهغه په حقوقو كي داخل دی: على سرر متقبلين: دادجنتيانو دمجلس نقشه ده چي هغوی به پر تختونويو بل ته مخامخ ناست وي: دځينو به ځينو ته شاوي نه وي نو ددوی عملي صورت به څنګه وي؟ ددې صحيح علم الله جل جلاله ته ښه معلوم دی: البته ځيني حضرات فرمايي چي دمجلس دائره به دومره وسيع وي چي دچا به وچاته دشاكولو ضرورت نه وي او الله جل جلاله به جنتيانو ته دكتلو او ، او ريدلو او خبرو داسي قوت وركي چي هغوی به دليري ناستو خلګو سره ښه په ارام سره خبري كولی سي: او ځينو بيا داهم فرمايلي دي چي دا تختونه به ګرځيدونكي وي سره ګرځي به الخ. (معارف القرآن ج٨پ٢٣ص ٦٢)

رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٤٢﴾ فِيْ جَنّٰتِ

رِزْقٌ	مَّعْلُوْمٌ	فَوَاكِهُ	وَهُمْ	مُّكْرَمُوْنَ	فِيْ جَنّٰتِ
رزق، روزي	معلومه	ميوې	او دوی ته	په عزت ورکړی سوی وی	په جنتونو ودانو

رزق ، روزي معلومه (رنګارنګ) ميوې او دوی ته به عزت ورکړی سوی وی . په جنتونو ودانو

النَّعِيْمِ ﴿٤٣﴾ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ

النَّعِيْمِ	عَلٰى	سُرُرٍ	مُّتَقٰبِلِيْنَ	يُطَافُ	عَلَيْهِمْ	بِكَاْسٍ
له نعمتونو ډکښې	پر	تختونو	سره مخامخ	ګرځولی به سی	پر دوی	له جامونو

له نعمتونو ډکښې . (ناست به وي) پر تختونو سره مخامخ . ګرځولی به سی پر دوی (له طرفه د سقات) له جامونو

مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيْهَا غَوْلٌ

مِّنْ مَّعِيْنٍ	بَيْضَآءَ	لَذَّةٍ	لِّلشّٰرِبِيْنَ	لَا فِيْهَا	غَوْلٌ
دصافو شرابو	تک سپين	خوند ورکوونکی	دپاره د څښونکو	نه به وي په دغو شرابو کښې	څه آفت، علت

دصافو شرابو . تک سپين خوند ورکوونکی دپاره د څښونکو . نه به وي په دغو شرابو کښې څه آفت علت

وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ

وَّلَا هُمْ	عَنْهَا	يُنْزَفُوْنَ	وَعِنْدَهُمْ	قٰصِرٰتُ	الطَّرْفِ
او نه به وي دوی	له هغو شرابو څخه	مست بيهوشه سی	او وي به په نژد د دوی کښې	حورې کښته ساتونکې	دنظر

او نه به وي دوی له هغو شرابو څخه مست بيخوده . او وي به په نژد د دوی کښې حورې ټيټې لرونکې دسترګو

عِيْنٌ ﴿٤٨﴾ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿٤٩﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ

عِيْنٌ	كَاَنَّهُنَّ	بَيْضٌ	مَّكْنُوْنٌ	فَاَقْبَلَ	بَعْضُهُمْ
غټو سترګو والا	ګواکې دوی	هګۍ دی	پټې ساتلی سوي	پس مخ به وګرځوي	ځينې د دوی (جنتيانو)

غټې سترګې، ګواکې دوی هګۍ دي پټې ساتلی سوي (په صفايئ کښې) . پس مخ به وګرځوي ځينې د دي جنتيانو

عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّيْ

عَلٰى بَعْضٍ	يَّتَسَآءَلُوْنَ	قَالَ	قَآئِلٌ	مِّنْهُمْ	اِنِّيْ
پر ځينو نورو جنتيانو	چې پوښتنه به سره کوي يو له بله	نو ويه وايئ	يو ويونکی	له دوی څخه	چې بيشکه! زه

پر ځينو نورو جنتيانو چې پوښتنه به سره کوي يو له بله (له احواله د دنيا) نو ويه وايئ يو ويونکی له دوی څخه چې بيشکه! زه

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ. ديو جنتي دخپل کافر دوست سره ملاقات : په دغه ايـاتو کـي الله ﷻ ديو جنتي په خاص طور سره ذکر کړي دی چي هغه به دجنت مجلس ته درسيدو څخه وروسته خپل يو کافر دوست ياد کړي کم چي په دنيا کي دآخرت څخه منکر وواو بيا به الله ﷻ اجازه ورکړي ودغه جنتي ته چي دهغه جهنمي سره په جهنم کـي وګـوري او خبـري ورسـره وکـړي : پـه قـرآن کـريم کـي ددغـه سـړي څه نـوم او پتـه نـه ده ښـوول سوي په دي وجه په يقين سره نـه سي ويـل کيداى چي دابه څوک وي ؟ خو بيـاهم ځينـي مفسـرينو داخيال ظاهر کړی دی چي ددې مومن سړي نوم يهودا او دده دکـافر ملاقـاتي نوم مطروس دی او دا هغه دوه ملګري دي دکمو ذکر چي دسورت کهف په آيت کـي سوی دی : او علامـه سـيوطي رحمه الله دديـرو تـابعينو څخـه ددې سـړي دتعين يوه بله واقعه نقل کړيده چي خلاصه يي داده چي دوه سړي په کار وبار کـي شريکان وه ددوی اتـه زره دينـاره سـرمايه سـوله او دواړو څلـور څلـور زره دينـاره سـره تقسـيم کـړل. پاتـه قصـه پـر راروان مـخ وګـوری :

كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ ﴿٥١﴾ يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ﴿٥٢﴾ ءَاِذَا مِتْنَا

كَانَ	لِيْ	قَرِيْنٌ	يَّقُوْلُ	اَئِنَّكَ	لَمِنَ	الْمُصَدِّقِيْنَ	ءَاِذَا	مِتْنَا
چې وو	مالره	يو ملګرى	چې ويل يې	آيا بيشكه! ته يې	له	باوركوونكو يې	آيا هركله چې	مړه سو موږ

چې وو مالره يو ملګرى (منكر له بعث) چې ويل يې (ماته) آيا بيشكه! ته يې له باور كوونكو يې. آيا هر كله چې مړه سو موږ

وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ اَنْتُمْ

وَكُنَّا	تُرَابًا	وَّعِظَامًا	ءَاِنَّا	لَمَدِيْنُوْنَ	قَالَ	هَلْ اَنْتُمْ
او سو	خاورى	او هډوكى	آيا بيشكه! موږ ته به	خامخا جزاء راكړه سى؟	بيا وايئ	آيا يئ تاسى

او سو خاورى او هډوكى آيا بيشكه! موږ ته به خامخا جزاء راكړه سى؟. بيا وايئ آيا يئ تاسى

مُّطَّلِعُوْنَ ﴿٥٤﴾ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ

مُّطَّلِعُوْنَ	فَاطَّلَعَ	فَرَاٰهُ	فِيْ سَوَآءِ	الْجَحِيْمِ	قَالَ
كتونكى	پس وبه ګورى	پس وبه وينى هغه	په مينځ د	دوزخ كښى	وبه وايئ

كتونكى (په دوزخ كښى) . پس وبه ګورى (دغه قائل) پس وبه وينى هغه (منكر ملګرى) په مينځ د دوزخ كښى. وبه وايئ

تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ

تَاللّٰهِ	اِنْ كِدْتَّ	لَتُرْدِيْنِ	وَلَوْلَا نِعْمَةُ	رَبِّيْ	لَكُنْتُ
قسم دى په الله	چې نژدى وى ته	چې په كنده د دوزخ كښى مى وغورځوى	او كه نه وى انعام	د رب زما	خامخا وم به زه

قسم دى په الله چې نژدى وى ته چې په كنده د دوزخ كښى مى وغورځوى او كه نه وى انعام (فضل) د رب زما خامخا وم به زه

مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿٥٨﴾ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى

مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ	اَفَمَا	نَحْنُ	بِمَيِّتِيْنَ	اِلَّا	مَوْتَتَنَا	الْاُوْلٰى
له حاضر كړيو سويو	آيا پس نه يو	موږ	مړه كيدونكى	مګر	همغه مرګ زموږ	مخكنى

له حاضر كړيو سويو. آيا پس نه يو موږ(جنتيان) مړه كيدونكى (بلكه نه يو) مګر همغه مرګ زموږ مخكنى

وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٥٩﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٦٠﴾

وَمَا نَحْنُ	بِمُعَذَّبِيْنَ	اِنَّ	هٰذَا	لَهُوَ	الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ
او نه يو موږ	په عذاب كړى سوى	بيشكه! چې	دغه	خامخا هم دغه	په مراد رسيدل ، برى	ډير لوى دى

او نه يو موږ په عذاب كړى سوى. بيشكه! چې دغه (ابدى خوند ور حيات) خامخا هم دغه په مراد رسيدل برى ډير لوى دى.

يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ. دتير مخ پاته قصه دلته وګورى: يوه شريک دخپلو پيسو څخه يو زر ديناره خرڅ كړل يوه مځكه يې واخيسته: دوهم ملګرى يې ډير نيک وو هغه دادعاوكړه چې يا الله فلاني سړي په يو زر ديناره باندي يوه مځكه اخيستې ده زه ستا څخه ديو زر دينارو په عوض كې په جنت كې مځكه اخلم نو يو زر ديناره يې صدقه كړل بيا دده ملګري زر ديناره خرڅ كړل او يو كور يې جوړ كى نو دغه سړي وويل چې يا الله فلاني سړي زر ديناره خرڅ كړل او كور يې په جوړ كى زه په زر ديناره ستا څخه دجنت يو كور اخلم دايي وويل او نور زر ديناره يې صدقه كړل: ددې څخه وروسته دده هغه ملګري ديوې ښځې سره واده وكړى او پر هغې يې زر ديناره خرڅ كړل نو ده وويل يا الله فلاني سړي ديوې ښځې سره واده وكړى او زر ديناره يې پر خرڅ كړي دي او زه دجنت په ښځو كې يوې ته پيغام وركوم او دا زر ديناره نذر كوم دايې وويل هغه زر دينار يې هم صدقه كړل. بيا دده ملګري په زر ديناره څه غلامان او سامان واخيستى. پاته قصه پر راروان مخ وګورى

لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴿٦١﴾ اَذٰلِكَ خَيْرٌ

لِمِثْلِ	هٰذَا	فَلْيَعْمَلِ	الْعٰمِلُوْنَ	اَذٰلِكَ	خَيْرٌ
خاص دپاره دمثل	د دی	پس بنایئ چی	عمل وکړی عمل کوونکی	آیا دغه	غوره دی

خاص دپاره د مثل د دی (نعمتونو) پس بنایئ چی عمل وکړی عمل کوونکی. آیا دغه (نعماء د جنت) غوره دی

نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿٦٢﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٣﴾ اِنَّهَا

نُّزُلًا	اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ	اِنَّا	جَعَلْنٰهَا	فِتْنَةً	لِّلظّٰلِمِيْنَ	اِنَّهَا
له جهته د میلمستیا	یا درخته دزقوم	بیشکه! موږ	گرځولی موده دغه ونه	فتنه، عذاب	دپاره دظالمانو	بیشکه! چی دا

له جهته د میلمستیا یا ونه دزقوم (غوره ده) بیشکه! موږ گرځولی مو ده دغه ونه فتنه عذاب دپاره دظالمانو . بیشکه! چی دا

شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ

شَجَرَةٌ	تَخْرُجُ	فِيْٓ اَصْلِ	الْجَحِيْمِ	طَلْعُهَا	كَاَنَّهٗ	رُءُوْسُ
درخته ده	چی راووځی	په بیخ	د دوزخ کښی	وږی دهغی	گواکی هغه	سرونه دی

ونه ده چی راووځی په بیخ د دوزخ کښی. وږی دهغی گواکی سرونه دی

الشَّيٰطِيْنِ ﴿٦٥﴾ فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا

الشَّيٰطِيْنِ	فَاِنَّهُمْ	لَاٰكِلُوْنَ	مِنْهَا	فَمَالِـُٔوْنَ	مِنْهَا
دشیطانانو	پس بیشکه! دوی	خامخا خوړونکی وی	له هغه څخه	پس ډک کوونکی به وی	له هغه (زقوم)

د شیطانانو . پس بیشکه! دوی خامخا خوړونکی وی له هغه (زقوم) څخه پس ډک کوونکی به وی له هغه (زقوم)

الْبُطُوْنَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٦٧﴾

الْبُطُوْنَ	ثُمَّ	اِنَّ	لَهُمْ	عَلَيْهَا	لَشَوْبًا	مِّنْ حَمِيْمٍ
دنسو خیلو	بیا	بیشکه!	دوی ته	پرهغه	خامخا گډول به وی	له اوبو ایشولیو سویو څخه

دنسو خیلو (له جهته د ډیری لوږی) بیا بیشکه! دوی ته پر هغه (ونه دزقوم) خامخا گډول به وی له اوبو ایشولیو سویو څخه

ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ﴿٦٨﴾ اِنَّهُمْ اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ ﴿٦٩﴾

ثُمَّ	اِنَّ	مَرْجِعَهُمْ	لَاِلَى الْجَحِيْمِ	اِنَّهُمْ	اَلْفَوْا	اٰبَآءَهُمْ	ضَآلِّيْنَ
بیا	بیشکه!	ورتله د دوی به	هرومرو ډیرئ د اورته وی	بیشکه! چی دوی	پیدا کړی دی	پلرونه خپل	گمراهان

بیا بیشکه! ورتله د دوی به هرومرو ډیرئ د اورته وی . بیشکه! چی دوی موندلی دی پلرونه خپل گمراهان

لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴿٦١﴾ اَذٰلِكَ خَيْرٌ

دتیر مخ پاته قصه دلته

وګوری: نو دغه سړي بیا زر دیناره صدقه کړل او دالله ﷻ څخه یي ددي په بدله کي دجنت غلامان او دجنت سامان وغوښتی: ددې څخه وروسته ددي مومن بنده اتفاقا څه سخت حاجت پیښ سو دده خیال راغی چي که زه خپل تیر شریک ته ولاړ سم نو شاید چي هغه دنیکی اراده وکړي چنانچي ده خپل هغه ملګري ته دخپل ضرورت ذکر وکی ملګري یي پوښتنه ځیني وکړه چي ستا مال څه سو؟ ده په جواب کي ورته ټوله قصه وکړه پر دې باندي هغه په حیرانی سره وویل چي ایا واقعي ته داخبره رښتیني ګڼي چي موږ مړه سواو خاوري سو نو موږ ته به بل ژوند راکړه سي او هلته به زموږ دعملونو بدله راکړه سي څه ولاړسه زه تاته هیڅ نه سم درکولای ددې څخه وروسته دغه دواړه مړه سول: **په ذکر سوو ایاتونو کي** دجنتي څخه مراد هغه بنده دی کم چي دآخرت په خاطر ټوله مال صدقه کړی وو او دجهنمي څخه مراد هغه دده دکاروبار شریک دی.

(معارف القرآن ج۸پ۲۳ص۶۴)

فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ۝٧٠ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ

فَهُمْ	عَلٰٓى	اٰثٰرِهِمْ	يُهْرَعُوْنَ	وَلَقَدْ	ضَلَّ	قَبْلَهُمْ
پس دوی	پر	قدمونو دهغوی	پسی ځغلی	او خامخا په تحقیق	گمراه سوی وو	پخوا له دوی څخه

پس دوی پر قدمونو (پلو) د هغوی پسی ځغلی ، او خامخا په تحقیق گمراه سوی وو پخوا له دوی څخه

اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝٧١ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ۝٧٢

اَكْثَرُ	الْاَوَّلِيْنَ	وَلَقَدْ	اَرْسَلْنَا	فِيْهِمْ	مُّنْذِرِيْنَ
اکثر	دمخکنیو ، اولنیو څخه	او خامخا په تحقیق	لیږلی مو وو	په دوی کښی	بیروونکی

اکثر د مخکنیو (اولنیو) څخه . او خامخا په تحقیق لیږلی مو وو په دوی کښی بیروونکی (انبیاء له عذابه)

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ۝٧٣ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

فَانْظُرْ	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُنْذَرِيْنَ	اِلَّا	عِبَادَ اللّٰهِ
پس وگوره	چی څرنگه	وو	عاقبت	دبیرولو سوی	مگر	هغه بندگان دالله

پس وگوره چی څرنگه وو عاقبت آخره خاتمه د بیرولو سوی (له جهته د عذاب) . مگر هغه بندگان دالله

ع ٥٣ ٢ ٢ الْمُخْلَصِيْنَ ۝٧٤ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ۝٧٥

الْمُخْلَصِيْنَ	وَلَقَدْ	نَادٰىنَا	نُوْحٌ	فَلَنِعْمَ	الْمُجِيْبُوْنَ
چی پاک کړی سوی وی	او خامخا په تحقیق	ږغ کړی وو موږ ته	نوح	پس خامخا ښه	جواب ورکوونکی یو موږ

چی پاک کړی سوی وی (له عصیانه) . او خامخا په تحقیق ږغ کړی وو موږ ته نوح پس خامخا ښه جواب ورکوونکی یو موږ

وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۝٧٦ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ

وَنَجَّيْنٰهُ	وَاَهْلَهٗ	مِنَ الْكَرْبِ	الْعَظِيْمِ	وَجَعَلْنَا	ذُرِّيَّتَهٗ
او نجات ورکړ موږ دغه ته	او اهل د ده (نوح) ته	له غمه	ډیر لوی	او وگرځوله موږ	اولاده د دغه (نوح)

او نجات ورکړ موږ دغه (نوح) ته او اهل د دغه (نوح) ته له غمه ډیر لوی او وگرځوله موږ اولاده د دغه (نوح)

هُمُ الْبٰقِيْنَ ۝٧٧ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ۝٧٨ سَلٰمٌ عَلٰى

هُمُ	الْبٰقِيْنَ	وَتَرَكْنَا	عَلَيْهِ	فِي الْاٰخِرِيْنَ	سَلٰمٌ	عَلٰى
هم دوی	باقی پاتی کیدونکی	او پری مو ښودل	پر دغه	په ورستنیو خلکو کښی	سلام دی	پر

هم دوی باقی پاتی کیدونکی . او پری مو ښودل پر دغه (نوح مدح او ثناء) په ورستنیو خلکو کښی . سلام دی (له الله) پر

وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ. حضرت نوح علیه السلام دالله جل جلاله څخه دکافر قوم دهلاکت دعا وکړه : داکثرو مفسرینو قول دادی چي ددغه آواز او نداڅخه مراددحضرت نوح علیه السلام هغه دعا ده کمه چي په سورت نوح کي ذکر ده یعني: ربّ لاتذر علی الارض من الکافرین دیاراً : یعني ای زما پروردگاره پر مځکه باندي دکافرانو څخه یو اوسیدونکی هم مه پاته کوې :یامراد ددې څخه هغه ندا ده کمه چي په سورت قمر کي راغلې ده یعني: انّی مغلوب فانتصر یعني زه مغلوب یم زما مدد وکړې دادعا حضرت نوح علیه السلام دخپل قوم دمسلسل نافرمانی او سرکښی څخه وروسته هغه وخت کړې وه کله چي دده قوم دده پر درواغجن کولو باندي دبس کولو پر ځای سرچپه دده دقتلولو منصوبه کړې وه : وجعلنا ذرّیته هم الباقین. او موږ باقي دده اولاد پاته کړل : داکثرو مفسرینو حضراتو په نزد ددې آیت مطلب دادی چي دحضرت نوح علیه السلام په زمانه کي چي کم طوفان راغلی وو په دي کي ددنیا اکثره ابادي هلاکه سول: پاته بیان پر راروان مخ وگوری :

نُوۡحٍ فِی الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۷۹﴾ اِنَّا کَذٰلِکَ نَجۡزِی الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۸۰﴾ اِنَّهٗ

نُوۡحٍ	فِی الۡعٰلَمِیۡنَ	اِنَّا	کَذٰلِکَ	نَجۡزِی	الۡمُحۡسِنِیۡنَ	اِنَّهٗ
نوح	په مخلوقاتو کښې	بیشکه! موږ	هم داسې	جزاء ورکوو	نیکو کارانو ته	بیشکه! چې دغه وو

نوح په عالمیانو کښې. بیشکه! موږ هم داسې جزاء ورکوو محسنانو نیکوکارانو ته. بیشکه! چې دغه (نوح) وو

مِنۡ عِبَادِنَا الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۸۱﴾ ثُمَّ اَغۡرَقۡنَا الۡاٰخَرِیۡنَ ﴿۸۲﴾ وَاِنَّ

مِنۡ عِبَادِنَا	الۡمُؤۡمِنِیۡنَ	ثُمَّ	اَغۡرَقۡنَا	الۡاٰخَرِیۡنَ	وَاِنَّ
له (خاصو) بندګانو زموږ	مؤمنانو څخه	بیا	غرق کړل موږ	هغه نور	او بیشکه!

له (خاصو) بندګانو مؤمنانو زموږ څخه. بیا غرق کړل موږ (قوم دده) هغه نور (کفار په سؤال د نوح). او بیشکه!

مِنۡ شِیۡعَتِهٖ لَاِبۡرٰهِیۡمَ ﴿۸۳﴾ اِذۡ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلۡبٍ سَلِیۡمٍ ﴿۸۴﴾

مِنۡ شِیۡعَتِهٖ	لَاِبۡرٰهِیۡمَ	اِذۡ جَآءَ	رَبَّهٗ	بِقَلۡبٍ	سَلِیۡمٍ
یو له تابعانو ددغه (نوح)	خامخا ابراهیم دی	کله چې راغی	رب خپل ته	سره له زړه	ښه سالم پاک بې له شکه

یو له تابعانو د دغه (نوح) خامخا ابراهیم دی. کله چې راغی (ابراهیم) رب خپل ته سره له زړه ښه سالم پاک بې له شکه.

اِذۡ قَالَ لِاَبِیۡهِ وَقَوۡمِهٖ مَاذَا تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۸۵﴾ اَئِفۡکًا اٰلِهَةً

اِذۡ قَالَ	لِاَبِیۡهِ	وَقَوۡمِهٖ	مَاذَا	تَعۡبُدُوۡنَ	اَئِفۡکًا	اٰلِهَةً
کله چې وویل (ابراهیم)	پلار خپل	او قوم خپل ته	څه شی دی	چې عبادت یې کوئ تاسې	آیا په دروغو سره	معبودان نور

کله چې وویل (ابراهیم) پلار خپل او قوم خپل ته څه شی دی چې عبادت یې کوئ تاسې. آیا په دروغو سره معبودان نور

دُوۡنَ اللّٰهِ تُرِیۡدُوۡنَ ﴿۸۶﴾ فَمَا ظَنُّکُمۡ بِرَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۸۷﴾ فَنَظَرَ

دُوۡنَ	اللّٰهِ	تُرِیۡدُوۡنَ	فَمَا	ظَنُّکُمۡ	بِرَبِّ	الۡعٰلَمِیۡنَ	فَنَظَرَ
غیر له	الله	غواړئ تاسې	پس څه	ګمان مو دی	پر رب	مخلوقاتو	پس نظر یې واچوه

غیر له الله غواړئ تاسې (او عبادت یې کوئ). پس څه ګمان مو دی پر رب د عالمیانو. پس نظر یې واچوه

نَظۡرَةً فِی النُّجُوۡمِ ﴿۸۸﴾ فَقَالَ اِنِّیۡ سَقِیۡمٌ ﴿۸۹﴾ فَتَوَلَّوۡا عَنۡهُ

نَظۡرَةً	فِی النُّجُوۡمِ	فَقَالَ	اِنِّیۡ	سَقِیۡمٌ	فَتَوَلَّوۡا	عَنۡهُ
یو نظر	په ستورو کښې	پس وویل	چې بیشکه! زه	ناجوړه یم	پس وګرځیدل هغوی	له ده (ابراهیم) څخه

یو نظر په ستورو کښې. پس وویل (ابراهیم) چې بیشکه! زه ناجوړه یم. پس وګرځیدل هغوی له ابراهیم څخه

اِنَّا کَذٰلِکَ نَجۡزِی الۡمُحۡسِنِیۡنَ
دتیر مخ پاته بیان دلته
وګوری: او ددې څخه وروسته دټولې دنیا نسل دحضرت نوح ﷺ ددرو زامنو څخه وچلیدی دیوه زوی نوم یې سام وو او دده داولاد څخه دعربو او فارس وغیره خلګو نسل پیدا سو ددوهم زوی نوم یې حام وو او دده څخه دافریقې ملکونو ابادي په دنیاکي وغوړول سوه څینو حضراتو دهندوستان او سیدونکي هم په دې نسل کې شامل کړي دي: او ددریم زوی نوم یې یافث وو دده څخه دترکو، مغولو او یاجوج ماجوج نسلونه سوي دي: کم خلګ چې دحضرت نوح ﷺ په کښتی کې سپاره وه دطوفان څخه محفوظ سوي وه په دوی کې دحضرت نوح ﷺ ددې درې زامنو څخه علاوه دبل چا نسل نه دی چلیدلی. البته څینې علماء دکمو شمیر چې ډیر کم دی ددې خبرې قائل دي چې دحضرت نوح ﷺ طوفان پر ټوله دنیانه وو بلکې صرف دعربو پر مځکه راغلی وو ددوی په نزد ددې آیت مطلب داده چې دعربو په مځکه کې صرف دحضرت نوح ﷺ اولاد باقي پاته سو او دهغو څخه دعربو نسل وچلیدی.
(معرف القرآن ج۸ پ۲۳ ص ۷۰)

مُدۡبِرِيۡنَ ﴿۹۰﴾ فَرَاغَ اِلٰۤى اٰلِهَتِهِمۡ فَقَالَ اَلَا تَاۡكُلُوۡنَ ﴿۹۱﴾

مُدۡبِرِيۡنَ	فَرَاغَ	اِلٰۤى اٰلِهَتِهِمۡ	فَقَالَ	اَلَا تَاۡكُلُوۡنَ
حال داچې شاکوونکي وه	پس پټ راغى	معبودانو ددوى ته	پس وويل	چې آيا نه خورئ

حال داچې شاکوونکي وه. پس پټ راغى (دغه ابراهيم) معبودانو د دوى ته پس وويل چې آيا نه خورئ (تاسى له دغو)

مَا لَكُمۡ لَا تَنۡطِقُوۡنَ ﴿۹۲﴾ فَرَاغَ عَلَيۡهِمۡ ضَرۡبًۢا بِالۡيَمِيۡنِ ﴿۹۳﴾

مَا لَكُمۡ	لَا تَنۡطِقُوۡنَ	فَرَاغَ	عَلَيۡهِمۡ	ضَرۡبًۢا	بِالۡيَمِيۡنِ
څه سوي دي پر تاسي	چې خبرى نه کوئ	پس پټ ننوت	پر دوى	په وهلو سره	په قوت

څه سوي دي پر تاسي چې خبرى نه کوئ. پس پټ ننوت پر دوى په وهلو سره په قوت (يا قسم يا راسته لاس).

فَاَقۡبَلُوۡۤا اِلَيۡهِ يَزِفُّوۡنَ ﴿۹۴﴾ قَالَ اَتَعۡبُدُوۡنَ مَا تَنۡحِتُوۡنَ ﴿۹۵﴾

فَاَقۡبَلُوۡۤا	اِلَيۡهِ	يَزِفُّوۡنَ	قَالَ	اَتَعۡبُدُوۡنَ	مَا تَنۡحِتُوۡنَ
پس دوى مخامخ سول	دغه (ابراهيم) ته	چې راځغستله يئ	وويل	آيا عبادت کوئ تاسى	دهغه چې تاسو يئ تراشوئ

پس مخامخ سول (نمروديان) دغه (ابراهيم) ته چې راځغستلي يئ. وويل آيا عبادت کوئ تاسى دهغه چې تاسو يئ تراشوئ

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوا ابۡنُوۡا لَهٗ بُنۡيَانًا

وَاللّٰهُ	خَلَقَكُمۡ	وَمَا تَعۡمَلُوۡنَ	قَالُوا	ابۡنُوۡا	لَهٗ	بُنۡيَانًا
حال داچې الله	پيدا کړي يئ تاسي	او هغه چې کوئ يئ تاسي	وويل (کفارو)	چې جوړ کړئ	ده ته	يو مکان

حال داچې الله پيدا کړي يئ تاسي او هغه (عمل) چې کوئ يئ تاسي. وويل (کفارو) چې جوړه کړئ دغه (ابراهيم) ته يوه بناء

فَاَلۡقُوۡهُ فِى الۡجَحِيۡمِ ﴿۹۷﴾ فَاَرَادُوۡا بِهٖ كَيۡدًا فَجَعَلۡنٰهُمُ

فَاَلۡقُوۡهُ	فِى الۡجَحِيۡمِ	فَاَرَادُوۡا	بِهٖ	كَيۡدًا	فَجَعَلۡنٰهُمُ
پس وغورځوى دى	د اور په ډيرى کښى	پس اراده وکړه دوى	له ابراهيم سره	دفريب	پس وموګرځول دوى

پس وغورځوى دغه (ابراهيم) د اور په ډيرى کښى. پس اراده وکړه دوى له ابراهيم سره د فريب پس وموګرځول دوى

الۡاَسۡفَلِيۡنَ ﴿۹۸﴾ وَقَالَ اِنِّىۡ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّىۡ سَيَهۡدِيۡنِ ﴿۹۹﴾

الۡاَسۡفَلِيۡنَ	وَقَالَ	اِنِّىۡ	ذَاهِبٌ	اِلٰى رَبِّىۡ	سَيَهۡدِيۡنِ
ښه لاندى	او وويل (ابراهيم)	بيشکه! زه	تلونکى يم	رب خپل ته	ژربه لاره راوښيي ماته

لاندى (خوار سپک). او وويل (ابراهيم) بيشکه! زه تلونکى يم (مامور به د) رب خپل ته ژر به لاره راوښيي ماته (رب زما)

وَقَالَ اِنِّىۡ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّىۡ سَيَهۡدِيۡنِ. دابراهيم عليه السلام دزوى دقرباني واقعه: په دې اياتونوکي دحضرت ابراهيم عليه السلام دپاک ژوند يوه مهمه واقعه بيان سويده په کمه کي چي حضرت ابراهيم عليه السلام دخپل يوزوى قرباني پيش کړه: وقال انى ذاهب الى ربى سيهدين) ابراهيم عليه السلام وويل چي زه دخپل رب طرف ته ځم داخبره حضرت ابراهيم عليه السلام هغه وخت وکړه کله چي دى دخپل وطن دخلګو څخه مايوسه سو او هلته دده دخوريي حضرت لوط عليه السلام څخه ماسوا بل چا پر ده ايمان رانه وړى: درب طرف دتللو څخه مراد دادى چي زه دارالکفر پريږدم يو داسي ځاى ته ځم کم ځاى ته چي ماته دخپل رب دطرفه څخه حکم سوى دى او کم ځاى چي زه دخپل رب عبادت کولاى سم: چنانچي دوى خپله پاکه بي بي حضرت ساره رضى الله عنها او خپل خوريي حضرت لوط عليه السلام دځان سره ملګري کړل په سفر روان سول او دعراق پر مختلفو حصو باندي تير سول او آخر يي شام ته تشريف يووړى دا وخت ابراهيم عليه السلام هيڅ اولاد هم نه درلودى.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۸۳)

رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝١٠٠ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ۝١٠١

رَبِّ	هَبْ لِيْ	مِنَ الصّٰلِحِيْنَ	فَبَشَّرْنٰهُ	بِغُلٰمٍ	حَلِيْمٍ
ای ربه زما	راوبخښه ماته	له صالحانو	پس زیری وکړو موږ پر ده	په داسی هلک	چی ډیر تحمل والا به وی

ای ربه زما راوبخښه ماته (زوی) له صالحانو پس زیری وکړو موږ پر دغه (ابراهیم) په داسی هلک چی ډیر تحمل والا به وی.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ

فَلَمَّا	بَلَغَ	مَعَهُ	السَّعْيَ	قَالَ	يٰبُنَيَّ	اِنِّيْٓ	اَرٰى فِي الْمَنَامِ
پس کله چی	ورسید اسمٰعیل	سره له پلاره خپل	دځغستا عمرته	وویل (ابراهیم)	ای زویه زما	بیشکه! زه	چی زه وینم په خوب کی

پس کله چی ورسید اسمٰعیل سره له پلاره خپل حد دسعی ته وویل ابراهیم ای زویه زما بیشکه! زه په خوب کښی داسی وینم

اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ؕ قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ

اَنِّيْٓ	اَذْبَحُكَ	فَانْظُرْ	مَاذَا تَرٰى	قَالَ	يٰٓاَبَتِ	افْعَلْ
چی بیشکه! زه	ذبحه کوم تا	پس ته هم نظر وکړه	ستا څه رایه ده؟	وویل (اسماعیل)	ای پلاره زما	وکړه ته

چی بیشکه! زه ذبحه کوم تا پس ته هم نظر وکړه چی څرنګه مصلحت ګڼې؟ وویل (اسماعیل) ای پلاره زما وکړه ته

مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ۝١٠٢ فَلَمَّآ

مَا تُؤْمَرُ	سَتَجِدُنِيْٓ	اِنْ شَآءَ	اللّٰهُ	مِنَ الصّٰبِرِيْنَ	فَلَمَّآ
همغه چی حکم یئ دربا ندی سوی دی	ژر ده چی پیدا به کړی ته ما	که اراده فرمایلی وی	الله	له صبر کوونکو	پس کله چی

همغه چی حکم یئ دربا ندی سوی دی ژر ده چی پیدا به کړی ته ما که اراده فرمایلی وی الله له صبر کوونکو. پس کله چی

اَسْلَمَا وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ۝١٠٣ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰٓاِبْرٰهِيْمُ ۝١٠٤ قَدْ

اَسْلَمَا	وَتَلَّهٗ	لِلْجَبِيْنِ	وَنَادَيْنٰهُ	اَنْ يّٰٓاِبْرٰهِيْمُ	قَدْ
غاړه کښیښوده دواړو	او وای چاوه دلره	پر طرف دتندی اړخ دده	او ږغ وکړو موږ ده ته	داسی چی ای ابراهیم	په تحقیق

غاړه کښیښوده اوو ای چاوه ده دغه (اسماعیل) پر راسته اړخ د ده. او ږغ وکړو موږ ده ته داسی چی ای ابراهیم! په تحقیق

صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝١٠٥ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ

صَدَّقْتَ	الرُّءْيَا	اِنَّا كَذٰلِكَ	نَجْزِي	الْمُحْسِنِيْنَ	اِنَّ هٰذَا	لَهُوَ
رښتیا کړ تا	خوب	بیشکه! موږ هم داسی	جزا ورکوو	نیکو کارانو ته	بیشکه! چی هم دا	خامخا هم دا

رښتیا کړ تا خوب بیشکه! موږ هم داسی جزا ورکوو محسنانو نیکوکارانو ته. بیشکه! چی هم دا (ذبح) خامخا هم دا

رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝١٠٠ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ... حضرت ابراهیم علیه السلام دنیک اولاد دعا دالله جل جلاله څخه وکړه: چي ای پروردګاره ماته نیک اولاد راکړې: چنانچي دده دادعا قبوله سوه او الله جل جلاله دوی ته دیوه اولاد دپیداکیدو خوشخبري ورکړه. فبشرناه بغلام حلیم: پس موږ دوی ته د یو حلیم المزاج زوی خوشخبري ورکړه حلیم المزاج یي وفرمایل او اشاره یي وکړه چي دانوی پیداکیدونکی بچی به په خپل ژوند کي دداسي صبر او بردباری مظاهره وکړي چي دنیا به دده مثال پیش نه کړای سي ددې بچي دپیداکیدو واقعه داسي وسوه چي کله حضرت ساره رضی الله عنها داولیدل چي زما څخه هیڅ اولاد نه کیږي نو هغې داسي وګڼله چي زه وچه سوې یم بل خوا دمصر فرعون حضرت سارا ته خپله لور چي نوم یي بي بي هاجره وه دخدمت دپاره ورکړې وه حضرت ساره هم داهاجره حضرت ابراهیم علیه السلام ته ورکړه او حضرت ابراهیم علیه السلام نکاح ورسره وکړه دحضرت هاجرې څخه دابراهیم علیه السلام دغه یوزوی پیدا سو چي نوم یي اسماعیل پر کښېښووی.
(معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص٨٣)

الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا

الْبَلٰٓؤُا	الْمُبِيْنُ	وَفَدَيْنٰهُ	بِذِبْحٍ	عَظِيْمٍ	وَتَرَكْنَا
امتحان ؤ	ښکاره	او فديه مو ورکړه دده (اسماعيل) ته	په مذبوحي	لويئ کبنی	او باقي پرېښود موږ

ابتلاء ازموينه وه ښکاره . او فديه مو ورکړه دغه (اسماعيل) ته په مذبوحي لويئ (جنتي پسه سره). او باقي پرېښود موږ

عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٠٨﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿١٠٩﴾ كَذٰلِكَ

عَلَيْهِ	فِي الْاٰخِرِيْنَ	سَلٰمٌ	عَلٰى	اِبْرٰهِيْمَ	كَذٰلِكَ
پردہ	په وروستنيو خلکو کښې	داچې سلام دی	پر	ابراهيم	هم داسی

پر ده په وروستنيو خلکوکي ، دا چې سلام دی پر ابراهيم . هم داسې په مثل د نيکی جزاء دابراهيم نيکه

نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٠﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١١﴾

نَجْزِي	الْمُحْسِنِيْنَ	اِنَّهٗ	مِنْ عِبَادِنَا	الْمُؤْمِنِيْنَ
جزاء ورکوو	نيکو کارانو ته	بيشکه! چې دی	له هغو بندګانو زموږ دی	چې (خاص) مؤمنان دی

جزاء ورکوو (نورو) نيکوکارانو ته . بيشکه! چې دی له هغو (خالصو) بندګانو زموږ دی چې (خاص) مؤمنان دی.

وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١١٢﴾ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ

وَبَشَّرْنٰهُ	بِاِسْحٰقَ	نَبِيًّا	مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ	وَبٰرَكْنَا	عَلَيْهِ
او زيرى ورکړ موږده (ابراهيم) ته	په اسحاق سره	چې نبي و	له صالحانو	او برکت اچولی ؤ موږ	پر ده (اسماعيل)

او زيرى ورکړ موږ دغه (ابراهيم) ته په اسحاق سره چې نبي و له صالحانو .او برکت اچولی ؤ موږ پر دغه (اسماعيل)

وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ۭ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ

وَعَلٰى	اِسْحٰقَ	وَمِنْ	ذُرِّيَّتِهِمَا	مُحْسِنٌ	وَّظَالِمٌ	لِّنَفْسِهٖ
او پر	اسحاق	او له	اولادې دې دواړو څخه	څوک نيکوکار دی	او څوک ظالم دی	په ځان خپل

او پر اسحاق (په تکثير داولاد) او له اولادې د دې دواړو څخه څوک نيکو کار دی او څوک ظالم دی په ځان خپل

مُبِيْنٌ ﴿١١٣﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا

مُبِيْنٌ	وَلَقَدْ	مَنَنَّا	عَلٰى	مُوْسٰى	وَهٰرُوْنَ	وَنَجَّيْنٰهُمَا
ښکاره	او خامخا په تحقيق	احسان موکړی ؤ	پر	موسیٰ	او هارون	اونجات مو ورکړ دغو دواړو ته

ښکاره (په کفر او معصيت سره). او خامخا په تحقيق احسان مو کړی ؤ پر موسیٰ او هارون .او نجات مو ورکړ دغو دواړو ته

وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ.. الله جَلَّ جَلَالُهٗ وحضرت ابراهيم عليه السلام ته تر اسماعيل عليه السلام وروسته داسحاق عليه السلام زيرى ورکړی ددغه ايت څخه صفا معلوميږي چي دکم زوى دقرباني حکم چي ورکول سوى وو هغه دحضرت اسحق عليه السلام څخه علاوه بل زوى وو يعني اسماعيل عليه السلام ؤ او د اسحق خوشخبري دهغه دقرباني څخه وروسته ورکول سوه: دحضرت اسحاق عليه السلام په دغه زيري کي دا هم ذکر دي چي حضرت اسحاق عليه السلام به نبي وي ددې څخه علاوه په يو بل آيت کي ذکر دي چي دحضرت اسحق عليه السلام دپيدايش سره دا خوشخبري هم ورکړه سوې وه چي دده څخه به حضرت يعقوب عليه السلام پيدا کيږي. فبشرناها باسحاق ومن ورآء اسحاق يعقوب ددې صفا مطلب دادی چي هغه به تر ډيره عمره پوري ژوندی وي تر دي چي صاحب اولاد به وي: نو بيا په کوچنيوالي کي دده دحلاليدو حکم به څنګه ورکول کيږي؟ نو خبره دغه بالکل ښکاره ده چي ذبيح حضرت اسماعيل عليه السلام وو نه حضرت اسحاق عليه السلام لکه يهود چي دتعصبه څخه وايي.. (معارف القرآن ج ٨ پ ٢٣ ص ٨٩)

ع ٣

وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿١١٥﴾ وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوا هُمُ

وَقَوْمَهُمَا	مِنَ الْكَرْبِ	الْعَظِيمِ	وَنَصَرْنٰهُمْ	فَكَانُوا	هُمُ
اوقوم دوى ته	له غمه	ډيرلوى څخه	اونصرت موورکړدوى ته	پس وُ	هم دوى

او قوم ددوى ته له غمه ډير لوى څخه. او نصرت مو ورکړدوى (سبطيانو) ته پس وُ هم دوى

الْغٰلِبِينَ ﴿١١٦﴾ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِينَ ﴿١١٧﴾

الْغٰلِبِينَ	وَاٰتَيْنٰهُمَا	الْكِتٰبَ	الْمُسْتَبِينَ
بريااليان	او ورکړى مو دى دغو دواړو ته	کتاب (تورات)	ډيربه بيانوونکى

بريااليان(کامياب پر قبطيانو). او ورکړى مو دى دغو دواړو (ورونو) ته کتاب (تورات) ډير به بيانوونکى (شرائعو لره).

وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا

وَهَدَيْنٰهُمَا	الصِّرَاطَ	الْمُسْتَقِيمَ	وَتَرَكْنَا	عَلَيْهِمَا
او ښودلى مو وه دغو دواړو ته	لاره	سمه	او پرى ښود موږ	پر دى دواړو (مدحه او ثناء)

او ښودلى مو وه دغو دواړو (ورونو) ته لاره سمه (رسوونکى مقصود ته). او پرى ښود موږ پر دى دواړو (مدحه او ثناء)

فِي الْاٰخِرِينَ ﴿١١٩﴾ سَلٰمٌ عَلٰى مُوسٰى وَهٰرُونَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي

فِي الْاٰخِرِينَ	سَلٰمٌ	عَلٰى	مُوسٰى	وَهٰرُونَ	اِنَّا	كَذٰلِكَ نَجْزِي
په وروستنيو خلکو کښى	داچې سلام دى	پر	موسٰى	او هارون	بيشکه! موږ	هم داسى جزاء ورکوو

په وروستنيو خلکو کښى، داچې سلام دى (دالله له طرفه) پر موسٰى او هارون بيشکه! موږ هم داسى جزاء ورکوو

الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢١﴾ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٢﴾

الْمُحْسِنِينَ	اِنَّهُمَا	مِنْ عِبَادِنَا	الْمُؤْمِنِينَ
نيکوکارانو ته	بيشکه! دوى دواړه	له هغو بندګانو زموږ دى	چې (خاص) مؤمنان دى

(نورو) محسنانو نيکوکارانو ته بيشکه! دوى دواړه له هغو (خالصو) بندګانو زموږ دى چې (خاص) مؤمنان دى.

وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ

وَاِنَّ	اِلْيَاسَ	لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ	اِذْ قَالَ	لِقَوْمِهٖ
او بيشکه!	الياس	خامخا له رالېږل سوو رسولانو څخه دى	کله چې وويل	قوم خپل ته

او بيشکه! الياس خامخا له مرسلانو څخه دى. کله چې وويئ ويل قوم خپل ته

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوا هُمُ الْغٰلِبِينَ...حضرت موسى عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام ته الله جل جلاله پر دښمنانو باندي غلبه ورکړي وه: په دغه اياتونو کي دريمه واقعه دحضرت موسى عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام بيان سويده دغه واقعه په ډيرو ځايونوکي په تفصيل سره راغلي ده دلته فقط اشاره ورته سويده او ددوى دذکر کولو څخه اصلي مقصد دابسوول دي چي الله جل جلاله دخپلو مخلصو او اطاعت شعاره بندګانو څه رنګه مدد فرمايي او دوى په څنګه څنګه انعاماتو سره نمانځي چانچي دلته پر حضرت موسى عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام باندي دخپلو انعاماتو ذکر فرمايي: خپله انعامات پر دوه قسمه دي. يو مثبت انعامات وي يعني فائدي رسول: په هغه آيت يعني: ولقد مننا على موسى وهارون کي ددغه قسم انعاماتو ذکر دى. دوهم قسم انعامات منفي انعامات وي: يعني دنقصان څخه خوندي کول په ورپسي اياتونو کي ددغه تفصيل راروان دى نور داياتونو مطلب واضح دى زيات تفسير ته ضرورت نه پيدا کيږي. (معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص ٩۴)

اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ

اَلَا تَتَّقُوْنَ	اَتَدْعُوْنَ	بَعْلًا	وَّتَذَرُوْنَ	اَحْسَنَ
آيا نه بيريږئ تاسي	آيا تاسي عبادت كوئ	دبعل بت	او پريږدئ تاسي	(عبادت) دښه

آيا نه بيريږئ (له عذابه د الله څخه) آيا تاسي عبادت كوئ د (هغه بت چي نوم يئ) بعل دى او پريږدئ تاسي (عبادت) دښه

الْخَالِقِيْنَ ﴿١٢٥﴾ اللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوْهُ

الْخَالِقِيْنَ	اللّٰهَ	رَبَّكُمْ	وَرَبَّ	اٰبَآئِكُمُ	الْاَوَّلِيْنَ	فَكَذَّبُوْهُ
دپيداكوونكو	چي الله دى	رب ستاسي	او رب	دهغو پلرونو ستاسي	چي مخكى ؤ	پس تكذيب وكړ دوى دهغه

پيداكوونكى. چي الله دى رب ستاسي او رب دهغو پلرونو ستاسي چي مخكى (اولنى) ؤ. پس تكذيب وكړ دوى دهغه

فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿١٢٧﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٢٨﴾

فَاِنَّهُمْ	لَمُحْضَرُوْنَ	اِلَّا	عِبَادَ اللّٰهِ	الْمُخْلَصِيْنَ
پس بيشكه! دوى	خامخا حاضر كړى سوى دى	مگر تكذيب ونه كړ	بندگانو دالله	چي مخلصان دى

پس بيشكه! دوى خامخا حاضر كړى سوى دى (دوزخ ته) مگر تكذيب ونه كړ بندگانو دالله چي مخلصان دى

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٢٩﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ﴿١٣٠﴾

وَتَرَكْنَا	عَلَيْهِ	فِي الْاٰخِرِيْنَ	سَلٰمٌ	عَلٰٓى	اِلْ يَاسِيْنَ
او پرى ښود موږ	پر دغه	په وروستنيو خلكو كښى	سلام دى	پر	الياسين

او پرى ښود موږ پر دغه (الياس مدح او ثناء) په وروستنيو خلكو كښى سلام دى (له الله) پر الياسين.

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٣١﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

اِنَّا	كَذٰلِكَ	نَجْزِى	الْمُحْسِنِيْنَ	اِنَّهٗ	مِنْ عِبَادِنَا
بيشكه! موږ	هم داسي	جزاء وركوو	نيكو بندگانو ته	بيشكه! چي دى	له هغو بندگانو زموږ دى

بيشكه! موږ هم داسي (په مثل د نيكى) جزاء وركوو نيكو بندگانو ته بيشكه! چي دى له هغو بندگانو زموږ دى

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٢﴾ وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٣٣﴾ اِذْ نَجَّيْنٰهُ

الْمُؤْمِنِيْنَ	وَاِنَّ	لُوْطًا	لَّمِنَ	الْمُرْسَلِيْنَ	اِذْ نَجَّيْنٰهُ
چي (خاص) مؤمنان دى	او بيشكه!	چي لوط وو	خامخا له	مرسلانو څخه	كله چي نجات وركړ موږ ده ته

چي (خاص) مؤمنان دى. او بيشكه! چي لوط وو خامخا له مرسلانو څخه. كله چي نجات وركړ موږ ده ته

اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ **دحضرت الياس عليه السلام ذكر**: په قرآن كريم كي دحضرت الياس عليه السلام ذكر صرف په دوو ځايونوكي راغلى دى يو په سورت انعام كي او بل په سورت صفت كي دلته په سورت انعام كي خو صرف د پيغمبرانو په فهرست كي ددوى نوم مبارك شمار سوى دى او څه واقعه يي نه ده ذكر سوې االبته دلته ډيره لنډه ددوى ددعوت او تبليغ واقعه بيان سويده. دتفسير شريف ديوې لړي ډلې عالمانو وينا داده چي الياس عليه السلام دحضرت ادريس عليه السلام دوهم نوم دى او په دې دواړو شخصيتونو كي هيڅ فرق نسته او ځيني حضرات بيا فرمايي چي په حضرت الياس عليه السلام او حضرت خضر عليه السلام كي هيڅ فرق نسته دادواړه يو كس دي. ليكن محققينو علماوو ددې خبرو ترديد كړى دى. قرآن كريم دحضرت ادريس عليه السلام او حضرت الياس عليه السلام دواړو ذكر جلا جلا فرمايلى دى چي په دې كي ددواړو ديوه گڼلو هيڅ گنجايش نه پيدا كيږي ځكه ابن كثير رحمة الله عليه دوى دواړه جلا جلا رسولان بللي دي الخ.
(معارف القرآن ج٨پ٢٣ص ٩٥)

وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا

وَاَهْلَهٗٓ	اَجْمَعِيْنَ	اِلَّا	عَجُوْزًا	فِي الْغٰبِرِيْنَ	ثُمَّ	دَمَّرْنَا
او اهل دده ته	تیولو ته	مګر	یو زړې ښځې ته چې وه دا	په باقي پاتې کیدونکو کښې	بیا	موږ هلاک کړل

او اهل دده ته تیولو ته ، مګر یو زړې ښځې ته چې وه دا په باقي پاتې کیدونکو (دعذاب) کښې. بیا موږ تول سره هلاک کړل

الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ﴿۱۳۷﴾

الْاٰخَرِيْنَ	وَاِنَّكُمْ	لَتَمُرُّوْنَ	عَلَيْهِمْ	مُّصْبِحِيْنَ
نور (کفار)	او بیشکه! چې تاسې	خامخا تیریږئ	پردوی	په دی حال کښې چې سهار کوونکي یئ

نور (کفار). او بیشکه! چې تاسې خامخا تیریږئ (اې اهل دمکې) پردوی په دی حال کښې چې سهار کوونکي یئ (دورځې)

وَبِالَّيْلِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۹﴾

وَبِالَّيْلِ	اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ	وَاِنَّ	يُوْنُسَ	لَمِنَ	الْمُرْسَلِيْنَ
او دشپې	آیا پس عقل نه چلوئ	او بیشکه! چې	یونس	خامخا	له مرسلانو څخه دی

او دشپې آیا پس عقل نه چلوئ (چې عبرت ترې واخلئ). او بیشکه! چې یونس خامخا له مرسلانو څخه دی .

اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۴۰﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ

اِذْ اَبَقَ	اِلَى الْفُلْكِ	الْمَشْحُوْنِ	فَسَاهَمَ	فَكَانَ	مِنَ
کله چې وتښتید	طرف دډکې کشتې ته	چې ډکه وه	پس قرعه یئ واچوله	پس دی سو	له

کله چې وتښتید (له خپل قوم څخه) طرف د ډکې کشتې ته پس قرعه یئ واچوله (له دغو خلکو) پس سو له

الْمُدْحَضِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۱۴۲﴾

الْمُدْحَضِيْنَ	فَالْتَقَمَهُ	الْحُوْتُ	وَهُوَ	مُلِيْمٌ
مغلوب کړیو سو څخه	پس تیر کړی ترستونی دی	یو ماهي	حال دا چې دی پخپله	دخپل ځان ملامت کوونکی وو

مغلوب کړیو سویو . پس یوه مرې کړ دغه (یونس) لره ماهی حال دا چې دی پخپله دخپل ځان ملامت کوونکی وو .

فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖٓ

فَلَوْلَآ	اَنَّهٗ	كَانَ	مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ	لَلَبِثَ	فِيْ بَطْنِهٖٓ
پس که نه وای دغه خبره	بیشکه! چې دغه (یونس)	وو	له تسبیح کوونکو څخه	خامخا پاتې به وو	په نس ددی ماهی کښې

پس که نه وای دغه خبره بیشکه! چې دغه (یونس) وو له تسبیح کوونکو څخه ، نو خامخا پاتې به وو په نس د دی ماهی کښې

وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ

حضرت یونس علیه السلام هم د رااستول سوو رسولانو څخه وو: ځینو مفسرینو او مؤرخینو پر دغه بحث کړی دی چې حضرت یونس علیه السلام دماهي دواقعې څخه مخکې رسول جوړ سوی وواو که وروسته ؟ دځینو حضراتو خیال دادی چې دماهي دواقعې څخه وروسته دی رسول جوړ سوی وولیکن دقرآن کریم دظاهري اسلوب او دډیرو روایتونو څخه داراجح ده چې حضرت یونس علیه السلام دمخکې څخه پر منصب دنبوت او رسالت باندي فائز سوی وواو دماهي واقعه ترنبوت وروسته پیښه سویده. اذابق الی الفلک المشحون. کله چې دډکې کښتی طرف ته وتښتیدی. لفظ دابق داباق څخه جوړ دی چې معنی یې ده: غلام دخپل مالک څخه تښتیدل دالفظ الله جل جلاله دحضرت یونس علیه السلام دپاره استعمال کړی چې هغه دخپل پروردګار دطرف څخه دوحي دانتظار کولو څخه بغیر روان سوی وو انبیاء علیهم السلام دالله جل جلاله مقرب بندګان دي اوددوی معمولي خطا هم غټه ګڼل کیږي په دې وجه یې داسخت لفظ استعمال کړی دی.

معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۰۴)

ع ۲۵
۸

اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ﴿١٤٥﴾

اِلٰى يَوْمِ	يُبْعَثُوْنَ	فَنَبَذْنٰهُ	بِالْعَرَآءِ	وَهُوَ	سَقِيْمٌ
ترهغې ورځې پورې	چې بيا ژوندی راپورته کړل کيږي	پس ومو غورځوه دی	په ډاګ ميدان کښې	او داچې دی	رنځور وو

ترهغې ورځې پورې چې بيا ژوندي راپاڅولی سي. پس وموغورځوه دغه (يونس) په ډاګ ميدان کښې اوحال داچې دی رنځور وو.

وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ﴿١٤٦﴾ وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ

وَاَنْۢبَتْنَا	عَلَيْهِ	شَجَرَةً	مِّنْ	يَّقْطِيْنٍ	وَاَرْسَلْنٰهُ	اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ
اوزرغونه کړه موږ	پرې	يوه درخته	له	کدو څخه	او بيا موږ وليږه دغه (يونس)	سلو زرو (خلګو) ته

او زرغونه کړه موږ پرې يوه ونه له کدو څخه. او بيا موږ وليږه دغه (يونس) سلو زرو (خلګو) ته

اَوْ يَزِيْدُوْنَ ﴿١٤٧﴾ فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿١٤٨﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ

اَوْ يَزِيْدُوْنَ	فَاٰمَنُوْا	فَمَتَّعْنٰهُمْ	اِلٰى	حِيْنٍ	فَاسْتَفْتِهِمْ
يازيات له دی	پس ايمان راوړ	پس نفع مو ورکړه دوی ته	تر يوی	نيتې پورې	پس وپوښته ته (محمده) دغه کفار

يا زيات له دی ، پس ايمان راوړ (هغوی) پس نفع موورکړه دوی ته تريوی نيتې پورې. پس وپوښته ته (محمده) دغه کفار

اَلِرَبِّكَ الْبَنٰتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ﴿١٤٩﴾ اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ

اَلِرَبِّكَ	الْبَنٰتُ	وَلَهُمُ	الْبَنُوْنَ	اَمْ خَلَقْنَا	الْمَلٰٓئِكَةَ
آيا رب ستا لره	لوڼې دي؟	او دوی لره	زامن دي؟	او که مو پيدا کړي دي	ملائيکې

آيا رب ستا لره لوڼې دي؟ او دوی لره زامن دي؟ او که مو پيدا کړي دي ملائيکې

اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ﴿١٥٠﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿١٥١﴾

اِنَاثًا	وَّهُمْ	شٰهِدُوْنَ	اَلَآ	اِنَّهُمْ	مِّنْ اِفْكِهِمْ	لَيَقُوْلُوْنَ
ښځې (لوڼې د الله)	حال داچې دوی	حاضر وو	خبردار! پوه سه!	چې بيشکه! دوی	له دروغو خپلو	خامخا وايئ

ښځې (لوڼې د الله) حال داچې دوی حاضر وو ، خبردار! پوه سه! چې بيشکه! دوی له دروغو خپلو خامخاوايئ .

وَلَدَ اللّٰهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٥٢﴾ اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ﴿١٥٣﴾

وَلَدَ	اللّٰهُ	وَاِنَّهُمْ	لَكٰذِبُوْنَ	اَصْطَفَى	الْبَنَاتِ	عَلَى	الْبَنِيْنَ
چې اولاد کړی دی	الله	حال داچې بيشکه دوی	خامخا دروغجنان دی	آيا غوره کړی دی دغه (الله)	لوڼې	پر	زامنو

چې ولد راوړی دی الله حال داچې بيشکه! دوی خامخا دروغجنان دی. آيا غوره کړی دی دغه (الله) لوڼې پر زامنو .

فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ. ماهي حضرت يونس عليه السلام لره دالله جل جلاله په امر سره په يوميدان کي وغورځوی: کله چي حضرت يونس عليه السلام دماهي په نس کي دننه دالله جل جلاله تسبيح او استغفار شروع کی نو الله جل جلاله باندي ورحميدی نو يه هغه ماهي ته حکم وکی چي نور دی ددرياب پر غاړه باندي دخپل نس څخه راوغورځوه: دالعرآء :معنی ده خلاص ميدان په کم کي چي څه درخته نه وي: دځينو روايتونو څخه معلوميږي چي دغه وخت حضرت يونس عليه السلام دماهي په خيټه کي دپاته کيدو په وجه انتهايي کمزوری سوی وواو پر بدن يي وينښته هم نه وه پاته سوي: وانبتنا عليه شجرة من يقطين: او موږ پر هغه يوه زيلداره درخته هم شنه کړه : يقطين هري هغي درختي ته وايي چي تنه يي نه وي په روايتونو کي دي چي داد کدو بوټی وو ددې بوټي دشنه کولو منشاء داوه چي حضرت يونس عليه السلام ته سايه پيدا سي او دشجرة لفظ دا ښيي چي يا خودغه بوټی الله جل جلاله درخته او تنه داره کړی وو يا يي بلي درختي ته ورخيژولی وو چي سايه وکړي الخ.
(معارف القرآن ج٨پ٢٣ص١٠٥)

مَا لَكُمۡ ۟ كَيۡفَ تَحۡكُمُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۱۵۵﴾

مَا لَكُمۡ	كَيۡفَ	تَحۡكُمُوۡنَ	اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ
څه وسوه پر تاسي	دغه ځرنګه	حکم کوئ تاسي	آیا پس پند نه اخلئ تاسي

څه وسوه پر تاسي (په دغه حکم د دروغو کبنې) دغه ځرنګه حکم کوئ تاسي آیا پس پند نه اخلئ تاسي (چې الله پاک دی)

اَمۡ لَكُمۡ سُلۡطٰنٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۵۶﴾ فَاۡتُوۡا بِكِتٰبِكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ

اَمۡ لَكُمۡ	سُلۡطٰنٌ	مُّبِيۡنٌ	فَاۡتُوۡا	بِكِتٰبِكُمۡ	اِنۡ كُنۡتُمۡ
آیا سته تاسي ته	کوم دلیل، سند	ښکاره	پس راوړئ تاسي	هغه کتاب خپل	که چیري یئ تاسي

آیا سته تاسي ته کوم دلیل، سند ښکاره (چې الله اولاد لري) پس راوړئ تاسي هغه کتاب خپل که چیري یئ تاسي

صٰدِقِيۡنَ ﴿۱۵۷﴾ وَجَعَلُوۡا بَيۡنَهٗ وَبَيۡنَ الۡجِنَّةِ نَسَبًا ؕ وَلَقَدۡ

صٰدِقِيۡنَ	وَجَعَلُوۡا	بَيۡنَهٗ	وَبَيۡنَ	الۡجِنَّةِ	نَسَبًا	وَلَقَدۡ
رښتیني	او ګرځوي دوی (مشرکان)	په مینځ د دغه (الله)	او په مینځ	د پیریانو کي	نسب قرابت	او خامخا په تحقیق

صادقین، رښتیني. او ګرځوي دغه مشرکان په مینځ د دغه (الله) او په مینځ د پیریانو نسب قرابت، او خامخا په تحقیق

عَلِمَتِ الۡجِنَّةُ اِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُوۡنَ ﴿۱۵۸﴾ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ

عَلِمَتِ	الۡجِنَّةُ	اِنَّهُمۡ	لَمُحۡضَرُوۡنَ	سُبۡحٰنَ	اللّٰهِ
پوهیږي	پیریان	چې بیشکه! دوی	خامخا حاضر کړی سوی دی (دوزخ ته)	پاکي ده	الله ته

پوهیږي پیریان چې بیشکه! دوی خامخا حاضر کړی سوی دی (دوزخ ته)، پاکي ده الله ته

عَمَّا يَصِفُوۡنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ﴿۱۶۰﴾ فَاِنَّكُمۡ

عَمَّا	يَصِفُوۡنَ	اِلَّا	عِبَادَ اللّٰهِ	الۡمُخۡلَصِيۡنَ	فَاِنَّكُمۡ
له هغو څخه	چې وایئ ئې دوی	مګر	هغه بندګان د الله	چې خالص پاک کړی سوی دی	پس بیشکه! تاسو چې یئ

له هغو (خبرو) څخه چې وایئ ئې دوی. مګر هغه بندګان د الله چې پاک کړی سوی دی. پس بیشکه! تاسو چې یئ

وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۱۶۱﴾ مَاۤ اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ بِفٰتِنِيۡنَ ﴿۱۶۲﴾ اِلَّا مَنۡ هُوَ

وَمَا	تَعۡبُدُوۡنَ	مَاۤ اَنۡتُمۡ	عَلَيۡهِ	بِفٰتِنِيۡنَ	اِلَّا مَنۡ	هُوَ
او هغه چې	عبادت یئ کوئ تاسي	نه یئ تاسي	په دغه (بت پرستی سره)	په فتنه کښی اچوونکي	مګر د هغه چا	چې هغه

او هغه چې عبادت یئ کوئ تاسي نه یئ تاسي په دغه بت پرستی سره په فتنه کښی اچوونکي. مګر د هغه چا چې هغه

فَاۡتُوۡا بِكِتٰبِكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ. دعربو دکفارو دعقیدو د تردید دپاره دلیلونه: په دغه آیاتونو کي دعربو دکفارو ددې عقیدې دتردید دپاره دلیلونه پیش سوي دي چي خلاصه یي داده چي اول خو ستاسي داعقیده په خپله ستاسي د رسم او رواج اوعرف په لحاظ سره بالکل غلطه ده یعني چي الله ﷻ لوني لري: په دې خاطر چي تاسي لوني دشرم باعث ګڼی اوس چي کم شی تاسي دځان دپاره عار او شرم ګڼی هغه دالله ﷻ دپاره څنګه ثابتیدای سي؟ او بیا تاسي چي کمسي ملایکسي دالله ﷻ لوني ګڼی ددې ستاسي سره دلیل څه شی دی؟ دیوې دعوې دثابتولو دپاره درې قسمه دلیلونه کیدای سي: یوه: مشاهده. دوهم نقلي دلیل. دریم عقلي دلیل نقلي دلیل دې ته وایي چي دیوداسي ذات قول تاسي پیش کی چي دهغه ذات رښتینوالی منل سوی وي. ترڅو پوري چي دمشاهدې تعلق دی ظاهره ده چي تاسي الله ﷻ دملایکو دپیداکولو په وخت کي خولیدلی هم نه دی په کوم سره چي د ملایکو ښځي والی ثابت سي: پاتـه بیان پر راروان مخ وګوری.

صَالِ الْجَحِيْمِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿١٦٤﴾ وَّاِنَّا

صَالِ	الْجَحِيْمِ	وَمَا	مِنَّآ	اِلَّا	لَهٗ	مَقَامٌ	مَّعْلُوْمٌ	وَّاِنَّا
ننوتونکی	د دوزخ دی	او نشته	له موږ څخه هيڅوک	مګر چې	مقرر دی ورته	يو مقام، ځای	معلوم	او بېشکه! موږ

ننوتونکی د دوزخ دی. او نشته له موږ څخه هيڅوک مګر چې مقرر دی ورته يو مقام ځای معلوم. او بېشکه! موږ

لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ ﴿١٦٥﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ﴿١٦٦﴾ وَاِنْ كَانُوْا

لَنَحْنُ	الصَّآفُّوْنَ	وَاِنَّا	لَنَحْنُ	الْمُسَبِّحُوْنَ	وَاِنْ كَانُوْا
خامخا موږ	صف تړونکي يو	او بېشکه! موږ	خامخا موږ	تسبيح ويونکي يو	او بېشکه! چې وو (دغه کفار)

خامخا موږ صف تړونکي يو . او بېشکه! موږ خامخا موږ تسبيح ويونکي يو . او بېشکه! چې وو (دغه کفار)

لَيَقُوْلُوْنَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٦٨﴾

لَيَقُوْلُوْنَ	لَوْ	اَنَّ	عِنْدَنَا	ذِكْرًا	مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ
خامخا ويل به يې	که چيرې	بېشکه! وی	له موږ څخه	ذکر (کوم کتاب)	له پخوانيو (کتابونو) څخه

خامخا ويل به يې داسې چې که چيرې بېشکه! وی له موږ څخه ذکر (کوم کتاب) له پخوانيو (کتابونو) څخه

لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ

لَكُنَّا	عِبَادَ اللّٰهِ	الْمُخْلَصِيْنَ	فَكَفَرُوْا	بِهٖ	فَسَوْفَ
نو خامخا وو به موږ	بندګان د الله	مخلصان	پس کافران سول	په دغه (کتاب)	پس ژر ده

نو خامخا وو به موږ بندګان د الله مخلصان (بيا چې ورته راغی قرآن) ، پس کافران سول په دغه (کتاب) پس ژر ده

يَعْلَمُوْنَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧١﴾

يَعْلَمُوْنَ	وَلَقَدْ	سَبَقَتْ	كَلِمَتُنَا	لِعِبَادِنَا	الْمُرْسَلِيْنَ
چې پوه به سی دوی	او خامخا په تحقيق	مخکې مقرر سوی دی	حکم زموږ	دپاره د بندګانو زموږ	چې پيغمبران دي

چې پوه به سی دوی . او خامخا په تحقيق پخوا لا صادر سوی دی حکم زموږ دپاره د بندګانو زموږ مرسلينو ته .

اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿١٧٢﴾ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ

اِنَّهُمْ	لَهُمُ	الْمَنْصُوْرُوْنَ	وَاِنَّ	جُنْدَنَا	لَهُمُ
چې بېشکه! دوی	هم له دوی سره	مرسته کړی سوی دی	او بېشکه!	لښکری زموږ	خامخا هم دوی

چې بېشکه! دوی هم له دوی سره مدد کړی سوی دی . او بېشکه! لښکری زموږ خامخا هم دوی

وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿١٦٤﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ
دتير مخ پاته بيان دلته وګورئ: لهذا دمشاهدې خو هيڅ دليل ستاسي سره نشته د: ام خلقنا الملائكة اناثا وهم شاهدون: آيت همدغه مطلب دی: اوس پاته سو نقلي دليل هغه هم ستاسي سره نشته په دې وجه چې قول هم دهغو خلګو معتبر دی دکمو رښتينوالی چې منل سوی وي ددې بر خلاف کم خلګ چې ددې عقيدې قائل دي هغوی درواغجنان دي دهغو خبره هيڅ وخت حجت کيدای نه سي د: الا انّهم من افكهم ليقولون. هم دا مطلب دی: او پاته سو عقلي دليل نو هغه هم ستاسي تاييد نه کوي ځکه چې په خپله ستاسي دخيال مطابق لونې دزامنو په مقابله کي کمه مرتبه لري اوس کم ذات چې دټولو کائناتو څخه افضل دی هغه دځان څخه دکمې رتبې والا شی دځان دپاره څنګه خوښ بولي د: اصطفى البنات على البنين. هم دا مطلب دی اوس صرف يو صورت پاته کيدای سي چې تاسي ته يو اسماني کتاب راغلی وي او په هغه کي داليکلي وي چې الله ﷻ لونې لري او داهم ستاسي سره نشته الخ.
(معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص١٠٩)

الْغٰلِبُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾ وَّاَبْصِرْهُمْ

الْغٰلِبُوْنَ	فَتَوَلَّ	عَنْهُمْ	حَتّٰى	حِيْنٍ	وَّاَبْصِرْهُمْ
غالبه دی	پس مخ وګرځوه ته	له دوی څخه	تر	يوه وخته پوری	او ګوره ته دوی ته

بريالیان (کامیاب) دی (په کفارو). پس مخ وګرځوه ته (محمده!) له دوی څخه تر يوه وخته پوری. او ګوره ته دوی ته

فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ فَاِذَا

فَسَوْفَ	يُبْصِرُوْنَ	اَفَبِعَذَابِنَا	يَسْتَعْجِلُوْنَ	فَاِذَا
پس ژر ده	چې وبه ويني دوی	آيا پس (په راتلو) دعذاب زموږ	تلوار کوی دوی	پس کله چې

پس ژر ده چې وبه ويني دوی (عاقبت خپل) . آيا پس (په راتلو) د عذاب زموږ تلوار کوی دوی . پس کله چې

نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۷﴾ وَتَوَلَّ

نَزَلَ	بِسَاحَتِهِمْ	فَسَآءَ	صَبَاحُ	الْمُنْذَرِيْنَ	وَتَوَلَّ
نازل سی	په ميدان د دوی	پس بد به وی	سهار	دبيروليو سويو	او مخ وګرځوه (ای محمده!)

نازل سی (عذاب) په ميدان (غولی) د دوی پس بد به وی سهار د بيروليو سويو . او مخ وګرځوه (ای محمده!)

عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۸﴾ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ سُبْحٰنَ

عَنْهُمْ	حَتّٰى	حِيْنٍ	وَّاَبْصِرْ	فَسَوْفَ	يُبْصِرُوْنَ	سُبْحٰنَ
له دوی څخه	تر	يوی نيتي پوری	او ګوره	پس ژر ده	چې وبه ويني دوی (احوال خپل)	پاکی ده

له دوی څخه تر يوی نيتي پوری. او ګوره (دوی ته) پس ژر ده چې وبه ويني دوی (احوال خپل). پاکی ده

رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى

رَبِّكَ	رَبِّ	الْعِزَّةِ	عَمَّا	يَصِفُوْنَ	وَسَلٰمٌ	عَلَى
رب ستالره	چې رب	دعزت (قوت) دی	له هرهغه شی	چې نسبت کوی (مشرکان ورته)	او سلام دی	پر

رب ستالره (له هره عيبه) چې رب د عزت (قوت او پاک دی) له هر هغه شی چې (مشرکان ورته) نسبت کوی او سلام دی پر

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾ ع ۵ ۱۴۴ ۹

الْمُرْسَلِيْنَ	وَالْحَمْدُ	لِلّٰهِ	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ
(ټولو) پيغمبرانو	او ټوله ثناء صفت	خاص الله لره دی	چې رب، پالونکی	دټولو مخلوقاتو دی

(ټولو) مرسلينو استاځيو . او ټوله ثناء صفت خاص الله لره دی چې رب پالونکی د ټولو عالميانو دی.

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ...الله جل جلاله دمشرکينو د ټولو هغه تهمتونو څخه پاک دی چي دوی يي وايي: الله جل جلاله سورت صافات په دغه درو اياتونو سره ختم کړی دی او حقيقت دادی چي ددې ښايسته خاتمې دتشريح لپاره ديو لوی دفتر ضرورت دی لنډه داچي الله جل جلاله په دغه دريو لنډو اياتونو کي دسورت ټول مضامين ځای کړي دي. دحضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي کم سړی غواړي چي دقيامت په ورځ ده ته په پورا پيمانه سره اجر ورکول سي ده ته پکار دي چي د خپل هر مجلس په آخر کي دا ووايي: سبحان ربک رب العزّة عمّا يصفون: وسلام على المرسلين: والحمد لله ربّ العلمين: او د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی دی فرمايي چي ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه څو واره اوريدلي دي چي دوی به دلمانځه ختمولو وروسته دا اياتونه ويل: يا الله جل جلاله يا رحمن ياذالجلال والاکرام ذاته ددې روژې مبارکې مياشتي دتقدس او احترام په خاطر زموږ دغه ادنی محنت په خپل درګي په لوی عمل راڅخه قبول کړې آمين: (معارف القرآن ج ۸ پ ۲۳ ص ۱۱۵) (دروژې دمياشتي دوهم ورځ: ۲-۹-۱۴۳۲)

ایاتونه ۸۸ ۳۸ سُوْرَةُ صٓ مَكِّيَّةٌ ۳۸ رکوعوي ۵

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِی الذِّكْرِ ۞١ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ

صٓ	وَالْقُرْاٰنِ	ذِی	الذِّكْرِ	بَلِ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فِيْ عِزَّةٍ
صاد	قسم دی په قرآن	چې خاوند	دپند ، بيان دی	بلکه هغه کسان	چې کافران سوی دی	په کبر ، سرکشی کښی دی

صاد ، قسم دی په رب د قرآن چې خاوند د پند ذکر بيان دی . بلکه هغه کسان چې کافران سوی دی په کبر، سرکشی کی دی

وَّشِقَاقٍ ۞٢ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ

وَّشِقَاقٍ	كَمْ اَهْلَكْنَا	مِنْ قَبْلِهِمْ	مِّنْ قَرْنٍ
او په مخالفت کښی دی	څومره ډير هلاک کړی دی موږ	پخوا له دوی څخه	له اهل دزمانی

او په مخالفت کښی دی . (نه گوری منکران چې) څومره ډير هلاک کړی دی موږ پخوا له دی څخه له اهل دزمانی

فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۞٣ وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ

فَنَادَوْا	وَّلَاتَ	حِيْنَ	مَنَاصٍ	وَعَجِبُوْٓا	اَنْ جَآءَهُمْ
پس ناری به يئ وهلی	چې نه به وو	هغه وخت	دخلاصيدلو	او تعجب کوی (کفار)	له دی څخه چې راغلی دی دوی ته

پس ناری به يئ وهلی حال دا چې نه به وو هغه وخت دخلاصيدلو . او تعجب کوی (کفار) له دی څخه چې راغلی دی دوی ته

مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۞٤ اَجَعَلَ

مُّنْذِرٌ	مِّنْهُمْ	وَقَالَ	الْكٰفِرُوْنَ	هٰذَا	سٰحِرٌ	كَذَّابٌ	اَجَعَلَ
بيروونکی	له دوی څخه	او وايئ	دا کافران	چې دغه	جادوگر دی	دروغجن	آيا ده گرځولی دی

(نبی) بيروونکی له دوی څخه او وايئ دا کافران چې دغه ساحر کوډگر دی دروغجن. آيا ده گرځولی دی

الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ۞٥ وَانْطَلَقَ

الْاٰلِهَةَ	اِلٰهًا	وَّاحِدًا	اِنَّ	هٰذَا	لَشَيْءٌ	عُجَابٌ	وَانْطَلَقَ
دغه معبودان	معبود	يو	بيشکه!	دغه	خامخا يو شی	ډير عجيب دی	او ولاړل په تلوار سره

دغه (۳۶۰) معبودان معبود يو ؟ بيشکه! دغه (گرځول د ډيرو معبودانو) خامخا يو شی ډير عجيب دی . او ولاړل په تلوار سره

بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ. ددې سورت دابتدايي اياتونو نزول : ددې سورت دابتدايي اياتونو پس منظر دادی چې دنبي کريم ﷺ اکا ابوطالب دنه مسلمانيدو باوجود دنبي کريم ﷺ پوره ساتنه کول کله چې ابوطالب په يوه ناجوړی اخته سو نو دقريشو لويو لويو سردارانو دمشورې يو مجلس منعقد کی چې په هغه کښي ابوجهل ، عاص ابن وائل ، اسود ابن مطلب ، او اسود ابن عبد يغوث ، او نور سرداران شريک سول مشوره داوسوه چې ابوطالب ناجوړی دی که هغه ددې دنيا څخه ولاړ سي او دده وروسته موږ محمد ﷺ دده نوي دين څخه دمنع کولو دپاره څه سخت اقدام وکړو نو دعربو خلگ به موږ ته دا پيغور راکوي چې ترڅه وخته ابوطالب ژوندی وو تر هغه وخته دې خلگو محمد ﷺ ته هيڅ نه سوای ويلی او کله چې هغه مړ سو نو دوی هغه ننبانه کی : په دې وجه موږ ته پکار دي چې موږ دابو طالب په ژوند کي دده سره دمحمد ﷺ دمعاملې تصفيه وکړو چې هغه زموږ معبودانو ته ويل پريږدي: پاته بيان پر راروان مخ وگوری.

الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا

الْمَلَاُ	مِنْهُمْ	اَنِ امْشُوْا	وَاصْبِرُوْا	عَلٰٓى	اٰلِهَتِكُمْ	اِنَّ	هٰذَا
مشران	له دوی څخه	چې ځئ	او صبر وکړئ	پر	معبودانو خپلو	بیشکه!	دغه (توحید)

مشران له دوی څخه (له مجلسه) چې ځئ (له دې ځایه) او صبر وکړئ پر (عبادت د) معبودانو خپلو ، بیشکه دغه (توحید)

لَشَيْءٌ يُّرَادُ ۝٦ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ اِنْ هٰذَآ

لَشَيْءٌ	يُّرَادُ	مَا سَمِعْنَا	بِهٰذَا	فِي الْمِلَّةِ	الْاٰخِرَةِ	اِنْ هٰذَآ
خامخا یو شی دی	چې اراده یې کړی سوې ده	نه دی اوریدلی موږ	دغه (توحید)	په دین	وروستني کښې	نه دی دغه (توحید)

خامخا یو شی دی چې اراده ئې کړې سوې ده. نه دی اوریدلی موږ دغه (توحید) په دین وروستني کښې نه دی دغه (توحید)

اِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝٧ ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْۢ بَيْنِنَا ۭ بَلْ هُمْ

اِلَّا	اخْتِلَاقٌ	ءَاُنْزِلَ	عَلَيْهِ	الذِّكْرُ	مِنْۢ بَيْنِنَا	بَلْ هُمْ
مګر	له خپله ځانه جوړ کړی سوی دروغ دی	آیا نازل سوی دی	پر ده	دغه ذکر (قرآن)	له مینځ زموږ	بلکه دوی

مګر له خپله ځانه جوړ کړی سوی دروغ دی. آیا نازل سوی دی پر ده (محمد) دغه ذکر قرآن له مینځ زموږ ، بلکه دوی

فِيْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِيْ ۚ بَلْ لَّمَّا يَذُوْقُوْا عَذَابِ ۝٨ اَمْ

فِيْ شَكٍّ	مِّنْ ذِكْرِيْ	بَلْ	لَّمَّا يَذُوْقُوْا	عَذَابِ	اَمْ
په شک کښې دی	له ذکره، قرآنه زما	بلکه	نه دی څکلی دوی	عذاب زما	آیا

په شک کښې دی له ذکره ، قرآنه، پنده، زما (بل څه منشانه لری) ، بلکه نه دی څکلی دوی عذاب زما . آیا

عِنْدَهُمْ خَزَاۗىِٕنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيْزِ الْوَهَّابِ ۝٩ اَمْ لَهُمْ

عِنْدَهُمْ	خَزَاۗىِٕنُ	رَحْمَةِ	رَبِّكَ	الْعَزِيْزِ	الْوَهَّابِ	اَمْ لَهُمْ
په نزد د دوی دی	خزانې	د رحمت	د رب ستا	چې ډیر غالب قوي	ښه بخښونکی دی	آیا دوی لره دی

په نزد د دوی دی خزانې د رحمت د رب ستا چې ډیر غالب قوي ښه بخښونکی دی؟ آیا دوی لره دی

مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۣ فَلْيَرْتَقُوْا

مُّلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا	بَيْنَهُمَا	فَلْيَرْتَقُوْا
سلطنت	د آسمانونو	او ځمکې	او د هغو ټولو شیانو	چې په مینځ د دوی کښې دی	پس و دې خیژي (دوی آسمان ته)

سلطنت د آسمانونو او ځمکې او د هغو ټولو شیانو چې په مینځ د دغو کښې دی ؟ پس و دې خیژي (دوی آسمان ته)

مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ. د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ:
چنانچې د اخلګ ابوطالب ته راغلل او ده ته یې وویل چې ستا وراره زموږ معبودانو ته ردي بدي وایي ته د انصاف څخه کار واخله او هغه ته ووایه چې هغه د کم خدای غواړي عبادت دي کوي لیکن زموږ معبودانو ته دي څه نه وایي حال دا دی چې نبي کریم ﷺ په خپله هم د دوی بتانو ته د دې څخه ماسوا څه نه وه ویلي چې بې حسه او بې جانه دي نه ستاسي خالقان دي او نه ستاسي رازقان دي او نه ستاسي څه نفع او نقصان د دوی په قبضه کې ده: ابوطالب نبي کریم ﷺ خپل مجلس ته راوغوښتی او ورته یې وویل چې وراره د اخلګ ستا څخه شکایت کوي چې ته د دوی معبودانو ته بد وایي دوی پر خپل مذهب پرېږده او ته د خپل خدای عبادت کوه د اسي خبري د قریشو خلګو هم وکړې. آخر نبي کریم ﷺ ارشاد وفرمایه چې آکا ایا زه دوی ته د هغه شي دعوت ورنه کړم په کم کي چې د دوی بهتري ده ؟ ابو طالب پوښتنه وکړه چې هغه څه شی دی ؟ پاته بیان پر راروان مخ وګورئ.

فِي الْاَسْبَابِ ⑩ جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ

فِي الْاَسْبَابِ	جُنْدٌ مَّا	هُنَالِكَ	مَهْزُوْمٌ
په اسبابو سره	دوی خو یو لښکر ګوتی دی کوم چی به	په دغه ځای کښی	ماته شکست خوری

په اسبابو (رسوونکو) سره. دوی خو یو لښکر ګوتی دی په دغه ځای کښی چی ماتی ورکړی سوی

مِّنَ الْاَحْزَابِ ⑪ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ

مِّنَ الْاَحْزَابِ	كَذَّبَتْ	قَبْلَهُمْ	قَوْمُ	نُوْحٍ	وَّعَادٌ
له هغو ډیرو لښکرو څخه	تکذیب کړی وو	پخوا له دوی څخه	قوم	دنوح	او (قوم د) عاد

له هغو ډیرو لښکرو څخه دی. تکذیب کړی وو پخوا له دوی څخه قوم د نوح او (قوم د) عاد

وَّفِرْعَوْنُ ذُو الْاَوْتَادِ ⑫ وَثَمُوْدُ وَقَوْمُ لُوْطٍ وَّاَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ

وَّفِرْعَوْنُ	ذُو الْاَوْتَادِ	وَثَمُوْدُ	وَقَوْمُ	لُوْطٍ	وَّاَصْحٰبُ	لْـَٔيْكَةِ
او (قوم د) فرعون	چی خاوند د میخونو وو	او (قوم د) ثمود	او قوم	دلوط	او اهل	د ځنګله

او (قوم د) فرعون چی خاوند د میخونو وو. او (قوم د) ثمود او قوم د لوط او اهل د ځنګله (چی شعیب ورمبعوث سوی وو)

اُولٰٓئِكَ الْاَحْزَابُ ⑬ اِنْ كُلٌّ اِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ

اُولٰٓئِكَ	الْاَحْزَابُ	اِنْ كُلٌّ	اِلَّا	كَذَّبَ	الرُّسُلَ
دغه کسان	لویئ لویئ ډلی وی	نه ده هره یوه (د دغو)	مګر	نسبت د دروغویئ کړی ۇ	رسولانو د (الله) ته

دغه کسان (همغه) لویئ لویئ ډلی (اولښکری) وی. نه ده (هره یوه د دغو) مګر نسبت د دروغو یئ کړی ۇ رسولانو د (الله) ته

فَحَقَّ عِقَابِ ⑭ وَمَا يَنْظُرُ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً

فَحَقَّ	عِقَابِ	وَمَا يَنْظُرُ	هٰٓؤُلَآءِ	اِلَّا	صَيْحَةً	وَّاحِدَةً
پس ثابت سو	عذاب زما	او نه کوی انتظار	دغه کسان	مګر	چغی	یوی ته

پس ثابت شو عذاب زما (دوی ته). او نه کوی انتظار دغه کسان (کفار د مکی) مګر چغی یوی ته (د اسرافیل)

مَّا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ ⑮ وَقَالُوْا رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ

مَّا لَهَا	مِنْ فَوَاقٍ	وَقَالُوْا	رَبَّنَا	عَجِّلْ لَّنَا	قِطَّنَا	قَبْلَ	يَوْمِ
چی نسته هغی ته	هیڅ وقفه بیرته ګرځیدل	او وایئ	ای ربه زموږ	ژر راکړه موږ ته	برخه عملنامه زموږ	پخواله	ورځی

چی نسته هغی ته هیڅ ډیل بیرته ګرځیدل. او وایئ ای ربه زموږ ژر راکړه موږ ته برخه عملنامه زموږ پخوا له ورځی

جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ مِّنَ الْاَحْزَابِ.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری :
نبـي کـريم ﷺ ورتـه وفرمايـل چـي زه دوی تـه يوه داسي کلمه ويل غواړم دکم په ذريعه چي بـه ددوی پـه مخکي ټولـه عـرب سر کښتـه کـړي او دوی بـه دپوره عجمو مالکان سي پـر دې بانـدي ابوجهـل وويل ووايـه هغـه څه کلمه ده ستا پـه پـلار قسـم دی چي موږ يوه کلمه نه بلکي لسـو تـه تيـار يـو پـر دې بانـدي نبـي کـريم ﷺ وفرمايل : بس لااله الا الله : ووايـاسـت چـي دايـي واوريـدل نـو ټولـو خلګـو جـامي وځنډلې ولاړ سـول او ويـي ويـل ايـا مـوږ ټـول معبودان پريږدو صرف يو اختيـاره کـړو داخـوډيره عجيبـه خبـره ده پـر دغـه موقـع بانــدي الله ﷻ دسـورت ص دا اياتونـه را نــازل کـــړل : او ددوی دولاړيدلو اونه منلو انداز الله ﷻ په دغه مبارک ايت کـي حکايـت کـړی دی: وانطلـق المـلاء مـنهم ان مشـوا واصــبروا علــی آلهـتکم :يعنـي يـوه ډلـه ددي کفـارو څخـه روانـه سـوه او پـه خپـل مـابين کي دا خبره سره وکړه چي بـس خپـل دمعبودانـو پـر عبادت ټينـګ ولاړ اوسـی هغـه مـه پريـږدی الـخ.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۲۰)

ع ۱۰

الْحِسَابِ ﴿١٦﴾ اِصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ

الْحِسَابِ	اِصْبِرْ	عَلٰى	مَا يَقُوْلُوْنَ	وَاذْكُرْ	عَبْدَنَا	دَاوٗدَ
دحساب	صبر تحمل کوه	پر	هغی خبری چی وایئ دوی	او یادکړه (قصه)	دبنده زموږ	داوُد

د حساب. (فرمائی الله) صبر تحمل کوه (ای محمده!) پر هغی خبری چی وایئ دوی او یادکړه (قصه) د بنده زموږ داوُد

ذَا الْاَيْدِ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿١٧﴾ اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ

ذَا الْاَيْدِ	اِنَّهٗٓ	اَوَّابٌ	اِنَّا	سَخَّرْنَا	الْجِبَالَ	مَعَهٗ
خاوند دقوت	چی بیشکه! دی	ډیر رجوع کوونکی ؤ	بیشکه! چی موږ	تابع کړی مو وو	غرونه	له دغه (داوُد) سره

خاوند د قوت چی بیشکه! دی ډیر رجوع کوونکی ؤ . بیشکه! چی موږ تابع کړی مو وو غرونه له دغه (داوُد) سره

يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ﴿١٨﴾ وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ؕ كُلٌّ لَّهٗٓ

يُسَبِّحْنَ	بِالْعَشِيِّ	وَالْاِشْرَاقِ	وَالطَّيْرَ	مَحْشُوْرَةً	كُلٌّ	لَّهٗٓ
چی تسبیح به یئ ورسره ویلی	ماښام	او په اوله برخه دورځی کښی	او مرغان	حال دا چی ټول کړی سوی ؤ	هر یو به	دده ته

چی تسبیح به یئ ورسره ویلی په آخره او په اوله برخه د ورځی کښی. او مرغان حال دا چی ټول کړی سوی ؤ هر یو به ده ته

اَوَّابٌ ﴿١٩﴾ وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿٢٠﴾

اَوَّابٌ	وَشَدَدْنَا	مُلْكَهٗ	وَاٰتَيْنٰهُ	الْحِكْمَةَ	وَفَصْلَ الْخِطَابِ
رجوع کوونکی ؤ	او قوی محکم کړی ؤ موږ	سلطنت دده (داوُد)	او ورمو کړ ده ته	حکمت	فیصله کول د خبری

رجوع کوونکی ؤ . او قوی محکم کړی ؤ موږ ملک سلطنت د دغه (داوُد). او ور موکړ ده ته حکمت او فصل الخطاب.

وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ ۘ اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ اِذْ

وَهَلْ	اَتٰىكَ	نَبَؤُا	الْخَصْمِ	اِذْ تَسَوَّرُوا	الْمِحْرَابَ	اِذْ
او آیا	راغلی دی تاته	خبر	دجګړه کوونکو	کله چی راوختل	عبادت خانی ته	کله چی

او آیا راغلی دی تاته (ای محمده!) خبر دجګړه کوونکو کله چی راوختل عبادت خانی ته . کله چی

دَخَلُوْا عَلٰى دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوْا لَا تَخَفْ ۚ خَصْمٰنِ

دَخَلُوْا	عَلٰى	دَاوٗدَ	فَفَزِعَ	مِنْهُمْ	قَالُوْا	لَا تَخَفْ	خَصْمٰنِ
ننوتل	پر	داوُد باندی	پس وبیرید	له دوی څخه	وویل دوی	مه بیریږه	جګړه کوونکی یو

ننوتل پر داوُد باندی (او ده ولیدل) پس وبیرید (داوُد) له دوی څخه، وویل دوی مه بیریږه (موږ دوه ډلی) جګړه کوونکی یو

وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ ذَا الْاَيْدِ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ. نبي کریم ته دالله جل جلاله دطرفه تسلي: په دغه ایت کي الله جل جلاله نبي کریم ﷺ ته خطاب کړی دی ددوی دتسلی دپاره چي که چیري تاته دکفارو دطرفه څخه صدمه رسیږي نو زموږ یو بنده حضرت داود علیه السلام درپه یاد کړه چي خاوند دطاقت وو: تقریبا ټولو مفسرینو ددې مطلب دا بیان کړی دی چي حضرت داود علیه السلام به په عبادت کي دلوی قوت او همت ثبوت ورکوی په دې وجه د دې څخه وروسته دا جمله ده چي: انّه اوّاب بیشکه حضرت داود علیه السلام دالله جل جلاله طرف ته ډیر رجوع کوونکی وو: لکه چي په یو حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي دالله جل جلاله په نزد دټولو څخه ښه لمونځ دحضرت داود علیه السلام لمونځ وو هغه به نیمه شپه بیدیدی بیا به یي دریمه حصه شپه عبادت کوی بیا به په شپږمه حصه شپه کي بیده کیدی او یوه ورځ به یي روژه نیوله او یوه ورځ به یي خوړله او چي ددښمن سره به یي مقابله وه نو تیښته به یي نه کوله او دالله جل جلاله طرف ته ډیر رجوع کوونکی وو.

معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۲۲)

بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ

بَغٰى	بَعْضُنَا	عَلٰى بَعْضٍ	فَاحْكُمْ	بَيْنَنَا	بِالْحَقِّ	وَلَا تُشْطِطْ
چي ظلم كړى دى	ځينو زموږ	پر ځينو نورو	پس حكم وكړه	په مينځ زموږ كښي	په حق سره	او بې انصافي مه كوه

چي ظلم كړى دى ځينو زموږ پر ځينو نورو پس حكم وكړه په مينځ زموږ كښي په حق سره او لرى مه غورځوه (ظلم مه كوه)

وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿٢٢﴾ اِنَّ هٰذَآ اَخِيْ لَهٗ

وَاهْدِنَآ	اِلٰى سَوَآءِ	الصِّرَاطِ	اِنَّ	هٰذَآ	اَخِيْ	لَهٗ
او برابر كړه موږ	وسمى	لارى ته	بيشكه! چي	دا (سړى)	وروړ زما دى	ده لره

او برابر كړه موږ سمى لارى (دانصاف ته) . بيشكه! چي دا (سړى) وروړ زما دى ده لره

تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا

تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ	نَعْجَةً	وَّلِيَ	نَعْجَةٌ	وَّاحِدَةٌ	فَقَالَ	اَكْفِلْنِيْهَا
نهه نوي (٩٩)	ميږى دى	او مالره	ميږه	يوه	پس وايئ دى ماته	كفيل وګرځوه ما ددى

نهه نوى (٩٩) ميږى دى او ما لره يوه ميږه ده پس وايئ دى ماته كفيل وګرځوه ما ددى (يوى ميږى، او ماته يئ راكړه)

وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ

وَعَزَّنِيْ	فِي الْخِطَابِ	قَالَ	لَقَدْ	ظَلَمَكَ	بِسُؤَالِ	نَعْجَتِكَ
او غلبه يئ كړى ده پر ما	په خطاب خبرو كښى هم	وويل (داؤد)	خامخا په تحقيق	چي ظلم كړى دى ده پر تا	په غوښتلو	دميږى ستا

او غلبه يئ كړى ده پر ما په خطاب خبرو كښى هم. وويل (داؤد) خامخا په تحقيق چي ظلم كړى دى ده پر تا په غوښتلو دميږى ستا

اِلٰى نِعَاجِهٖ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِيْ بَعْضُهُمْ عَلٰى

اِلٰى	نِعَاجِهٖ	وَاِنَّ	كَثِيْرًا	مِّنَ الْخُلَطَآءِ	لَيَبْغِيْ	بَعْضُهُمْ	عَلٰى
له	ميږو خپلو سره	او بيشكه!	ډير	له شريكانو څخه	خامخا ظلم كوى	ځيني د دوى	پر

له ميږو خپلو سره، او بيشكه! ډير له شريكانو څخه خامخا ظلم (تيرى) كوى ځيني د دوى پر

بَعْضٍ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا

بَعْضٍ	اِلَّا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	وَقَلِيْلٌ مَّا
ځينو نورو	مګر نه كوى هغه كسان	چي ايمان يئ راوړى دى	او كړى يئ دى	ښه (عملونه)	او ډير زيات لږ دى

ځينو نورو مګر (تيرى) نه كوى هغه كسان چي ايمان يئ راوړى دى او كړى يئ دى ښه (عملونه) او ډير زيات لږ دى

إِنَّ هٰذَآ أَخِيْ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً.. دحضرت داود عليه السلام ديوي واقعي ذكر: په دغه اياتونو كي الله جل جلاله د حضرت داود عليه السلام ديوي واقعي ذكر كړى دى: په قرآن كريم كي داواقعه چي په كم انداز سره بيان سويده ددي څخه صرف دومره معلوميږي چي الله جل جلاله دده عبادت گاه ته دوه فريقين په جگړه سره وليږل او دده څخه يي امتحان اخيستى: حضرت داود عليه السلام په دي امتحان پوه سو نو دالله جل جلاله څخه يي بخښنه وغوښته او پر سجدي پريوتى او الله جل جلاله دده مغفرت وكړى: دقرآن كريم اصل مقصد چونكي دلته دا بيانول دي چي حضرت داود عليه السلام به په خپله هره معامله كي د الله جل جلاله طرف ته متوجه كيدى: پر دي دلته داتفصيل بيان نه سو چي هغه امتحان څه وو د حضرت داود عليه السلام څخه څه خطا سوي وه چي دده استغفار پر وكى؟ او كم چي الله جل جلاله بيا معاف كى په دي وجه ځينو محققينو او محتاطه مفسرينو ليكلي دي چي كله الله جل جلاله ددي خطا او امتحان تفصيل ديوه حكمت دوجي ذكر نه كى نو موږ ته هم په هغه پسي كيدل نه دي پكار:

معارف القرآن ج ٨ پ٢٣ ص١٢٦

يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِي الْاَرْضِ..

حضرت داود علیه السلام ته الله جل جلاله دنبوت سره حکومت او سلطنت هم ورکړی وو

چنانچي په دې آيت کي دحکومت او سياست دپاره ده ته يو بنيادي هدايت نامه ورکول سويده په دغه هدايت نامه کي درې بنيادي خبرې ارشاد فرمايل سوي دي: اوله خبره داده: چي موږ ته خپل په مځکه کي خليفه جوړ کړی يې. دوهمه خبره داده: چي په دې حيثيت سره ستا بنيادي کار دحق مطابق فيصله کول دي. او دريمه خبره داده: چي ددې کار دپاره دنفساني خواهش دپيروی څخه محفوظ کيدل ديو لازمي شرط حيثيت لري: تر کمه پوري چي په مځکه کي دخليفه جوړولو تعلق دی ددې مفهوم په سورت بقره کي تير سوی دی او په دې سره داسلامي سياست دا اصل الاصول واضح کيږي چي اعلی اقتدار والله جل جلاله ته حاصل دی دمځکي حکمرانان دده داحکامو مطابق دچليدو مجاز دي ددې څخه دباندي نه سي وتلای څه چي الله جل جلاله فرمايلي دي پر هغه به دی دخپل قوم اورعيت دبيولو کوشش کوي.

(معارف القرآن ج٨پ٢٣ص١٣٥)

هُمْ ۭ وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ

هُمْ	وَظَنَّ	دَاوٗدُ	اَنَّمَا	فَتَنّٰهُ	فَاسْتَغْفَرَ
داسې خلک	او متيقن په وسو	داؤد	چي بيشکه! هم دا خبره ده	چي وازمويه موږ دی	نو بخښنه يئ وغوښته

داسې خلک، او متيقن په وسو داؤد په دی چي بيشکه! هم دا خبره ده چي وازمويه موږ دی نو بخښنه يئ وغوښته

رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ۭ وَاِنَّ لَهٗ

رَبَّهٗ	وَخَرَّ	رَاكِعًا	وَّاَنَابَ	فَغَفَرْنَا	لَهٗ	ذٰلِكَ	وَاِنَّ	لَهٗ
له ربه خپل	او پرمخې پريوت	چې رکوع ، سجده کوونکی ؤ	او رجوع يئ وکړه	پس وموبخښله موږ	ده ته	هغه	او بيشکه!	ده ته

له رب خپل او پرمخې پريوت چي رکوع سجده کوونکی ؤ . او بيرته راجع سو پس وموبخښله موږ ده ته هغه او بيشکه! ده ته

عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٢٥﴾ يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً

عِنْدَنَا	لَزُلْفٰى	وَحُسْنَ	مَاٰبٍ	يٰدَاوٗدُ	اِنَّا	جَعَلْنٰكَ	خَلِيْفَةً
په نزد زموږ کښې	خامخامرتبه ده	او ښه ځای	دورتلو دی	ای داؤد	بيشکه! موږ	ګرځولی مو يئ ته	خليفه

په نزد زموږ کښې خامخا مرتبه ده او ښه ځای د ورتلو دی .ای داؤد بيشکه! موږ ګرځولی مو يئ ته خليفه

فِي الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى

فِي الْاَرْضِ	فَاحْكُمْ	بَيْنَ	النَّاسِ	بِالْحَقِّ	وَلَا تَتَّبِعِ	الْهَوٰى
په مځکه کښې	پس حکم وکړه	په مينځ	د خلکو کښې	په حق سره	او متابعت مه کوه	دخواهش (دنفس)

په مځکه کښې پس حکم وکړه په مينځ دخلکو کښې په حق سره او متابعت مه کوه د هوا (دنفس)

فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

فَيُضِلَّكَ	عَنْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يَضِلُّوْنَ	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ
پس ګمراه به کړي تا	له لاری	دالله	بيشکه!	هغه کسان	چي ګمراه کيږي	له	لاری	دالله

پس ګمراه به کړي تا له لاری دالله ، بيشکه! هغه کسان چي ګمراه کيږي له لاری دالله

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿٢٦﴾ ع وَمَا خَلَقْنَا

لَهُمْ	عَذَابٌ	شَدِيْدٌۢ	بِمَا	نَسُوْا	يَوْمَ	الْحِسَابِ	وَمَا خَلَقْنَا
ستهدوی ته	عذاب	سخت	په سبب	دهيرولو ددوی	ورځي	دحساب لره	او نه دی پيدا کړی موږ

ستهدوی ته عذاب سخت ، په سبب د هيرولو د دوی ورځي د حساب لره. او نه دی پيدا کړی موږ

السجدة ١٠

ع ٢

السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۭ ذٰلِكَ ظَنُّ

السَّمَآءَ	وَالْاَرْضَ	وَمَا	بَيْنَهُمَا	بَاطِلًا	ذٰلِكَ	ظَنُّ
دغه آسمان	او مځکه	او هغه ټول مخلوقات	چې د دغو دواړو په مینځ کښې دی	په باطله سره	دغه	ګمان

دغه آسمان او مځکه او هغه ټول مخلوقات چې د دغو دواړو په مینځ کښې دی په باطله سره ، دغه (پیدا کول) ګمان

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فَوَيْلٌ	لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنَ النَّارِ
دهغو کسانو دی	چې کافران سوی دی	پس عذاب، خرابی ده	دپاره دهغو کسانو	چې کافران سوی دی	له اوره

دهغو کسانو دی چې کافران سوی دی ، پس عذاب هلاک خرابی ده دپاره د هغو کسانو چې کافران سوی دی له اوره

اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ

اَمْ نَجْعَلُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	كَالْمُفْسِدِيْنَ
آیا وبه ګرځوو موږ	هغه کسان	چې ایمان یې راوړی دی	او کړی یې دی	ښه (عملونه)	په شان د فساد کوونکو

آیا وبه ګرځوو موږ هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړی یې دی ښه (عملونه) په شان د فساد کوونکو

فِي الْاَرْضِ ۡ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ

فِي الْاَرْضِ	اَمْ نَجْعَلُ	الْمُتَّقِيْنَ	كَالْفُجَّارِ	كِتٰبٌ	اَنْزَلْنٰهُ
په مځکه کښې	آیا وبه ګرځوو موږ	پرهیزګاران	په شان د بدکارانو	یو کتاب دی	چې نازل کړی مو دی هغه

په مځکه کښې ، آیا وبه ګرځوو موږ پرهیزګاران په شان د بد کارانو ؟ (دغه قرآن) یو کتاب دی چې نازل کړی مو دی هغه

اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا

اِلَيْكَ	مُبٰرَكٌ	لِّيَدَّبَّرُوْٓا	اٰيٰتِهٖ	وَلِيَتَذَكَّرَ	اُولُوا
تاته (محمده!)	برکتناک دی	لپاره د دې چې فکر وکړي	په آیتونو دده کښې	او دپاره د دې چې پند واخلي	خاوندان

تاته (محمده!) برکتناک دی لپاره د دې چې فکر وکړي (کفار) په آیتونو د ده او دپاره د دې چې پند واخلي خاوندان

الْاَلْبَابِ ﴿٢٩﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ۭ نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿٣٠﴾

الْاَلْبَابِ	وَوَهَبْنَا	لِدَاوٗدَ	سُلَيْمٰنَ	نِعْمَ	الْعَبْدُ	اِنَّهٗٓ	اَوَّابٌ
دعقلونو	او وموبخښئ	داؤد ته	سلیمان	چې ښه	بنده ؤ	بیشکه! چې دی	ډیر رجوع کوونکی دی

د عقلونو . او ومو بخښئ داؤد ته سلیمان، چې ښه بنده ؤ بیشکه! چې دی ډیر رجوع کوونکی دی (الله ته)

السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا .. اسمانونه او مځکي الله جَلَّ جَلَالُهٗ دحکمت څخه خالي نه دي پیداکړي
دغه ایاتونه په کمو کي چي داسلام دبنیادي عقیدو په خاص طور سره بیا دآخرت اثبات سوی دی دحضرت داود علیه السلام او حضرت سلیمان علیه السلام دواقعاتو په مینځ کي انتهایي په زړه پوري ترتیب سره راغلي دي : امام رازي رحمه الله فرمايي چي که یو سړی دعناد په وجه نه پوهیږي نودده سره حکیمانه طریقه اختیارول داده چي زیر بحث موضوع پریښوول سي غیر متعلق خبره ورسره شروع سي او کله چي دده ذهن داولي خبري څخه څه واوړي نو په خبرو خبرو کي دی داولنی خبري پر منلو مجبوره سي دلته دآخرت داثبات دپاره داطریقه اختیارسویده: اوس الله جَلَّ جَلَالُهٗ فرمايي چي موږ مځکي او اسمانونه او څه چي ددوی په مینځ کي دي دحکمت څخه خالي نه دي پیداکړي بلکي ډیر حکمتونه دي په کښي چي دټولو څخه لوی حکمت په کښي دادی چي ددې څخه دالله جَلَّ جَلَالُهٗ توحید او دآخرت دورځي ثابتیدل دي الخ.
معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۳۷

اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ﴿۳۱﴾ فَقَالَ اِنِّيْٓ

اِذْ عُرِضَ	عَلَيْهِ	بِالْعَشِيِّ	الصّٰفِنٰتُ	الْجِيَادُ	فَقَالَ	اِنِّيْٓ
كله چي وړاندې كړى سوه	ده ته	په آخر د ورځى كښى	هغه خاص آسونه	تيز رفتاره	نو وويل	بيشكه! زه چي يم

كله چي وړاندې كړى سوه ده ته په آخر د ورځى كښى هغه خاص آسونه تيز رفتاره، نو وويل (سليمان) بيشكه! زه چي يم

اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْۚ حَتّٰى تَوَارَتْ

اَحْبَبْتُ	حُبَّ الْخَيْرِ	عَنْ ذِكْرِ	رَبِّيْ	حَتّٰى	تَوَارَتْ
غوره مى كړه	محبت د مال	په ذكر	د رب خپل	تر هغه پورى	چي پټ سو (لمر)

غوره مى كړه مينه د آسو نو په ذكر د رب خپل تر هغه پورى چي پټ سو (لمر)

بِالْحِجَابِ ﴿۳۲﴾ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۖ فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوْقِ

بِالْحِجَابِ	رُدُّوْهَا	عَلَيَّ	فَطَفِقَ	مَسْحًا	بِالسُّوْقِ
په پرده كښى	بيرته راولئ دغه آسونه	ماته	پس شروع وكړه (سليمان)	په لاس رسولو	پر پنډيو

په پرده كښى. (بيا وويل سليمان) بيرته راولئ دغه آسونه ماته پس شروع وكړه (سليمان) په وهلو د دى آسونو پر پنډيو

وَالْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ

وَالْاَعْنَاقِ	وَلَقَدْ	فَتَنَّا	سُلَيْمٰنَ	وَاَلْقَيْنَا	عَلٰى	كُرْسِيِّهٖ
او غاړو	او خامخا په تحقيق	ازمويلى دى موږ	سليمان	او غورځولى موږ	پر	تخت د ده

او غاړو. او خامخا په تحقيق ازمويلى دى موږ سليمان او غورځولى موږ پر تخت د ده

جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ

جَسَدًا	ثُمَّ	اَنَابَ	قَالَ	رَبِّ	اغْفِرْ لِيْ	وَهَبْ لِيْ
يو جسد	بيا	رجوع وكړه ده	وويل (سليمان)	اى ربه زما	مغفرت وكړه ماته	او راكړه ماته

يو جسد (بى روحه) بيا رجوع وكړه ده (الله ته). وويل (سليمان) اى ربه زما مغفرت، بخښنه وكړه ماته او راكړه ماته

مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾

مُلْكًا	لَّا يَنْۢبَغِيْ	لِاَحَدٍ	مِّنْۢ بَعْدِيْ	اِنَّكَ	اَنْتَ	الْوَهَّابُ
داسى ملك	چي نه ښائيږى	بل هيچا لره	وروسته له ما څخه	بيشكه! ته	هم دا ته	ډير ور كوونكى يې

داسى ملك چي نه ښائيږى بل هيچا لره وروسته له ما څخه، بيشكه! هم دا ته (اى ربه زما!) ډير بخښونكى وركوونكى يئ.

اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ حضرت سليمان عليه السلام دجهاد داسانو په كتلو مصروف سو: په دغه اياتونو كي الله جل جلاله دحضرت سليمان عليه السلام يو واقعه ذكر كړيده: خلاصه دهغې داده چي حضرت سليمان عليه السلام دجهاد يا بل مقصد دپاره چي كم آسان روزل كيدل دهغه آسونو په معاينه باندي داسي مشغوله سو چي دمازديگر په وخت كي چي دده دكم لمانځه معمول او عادت وو هغه ورڅخه پاته سو وروسته چي پوه سو نو ټول آسونه يي ذبح كړل چي ددغو په وجه دالله جل جلاله په ياد كي خلل واقع سوى وو: دالمونځ نفلي هم كيداى سي او په دې صورت كي خو څه سوال او اشكال نسته ځكه چي انبياء عليهم السلام ددومره غفلت هم دتلافي او راگرځولو كوشش كوي، او داهم كيداى سي چي فرض لمونځ وواو دمعايني كولو په شغل كي يي هير سوى وي دهير يدو په صورت كي دفرض لمانځه په قضا كيدو كي گناه خونه كيږي ليكن حضرت سليمان عليه السلام د خپل لوى منصب تر مخه ددې هم تدارك وفرمايي او داقرباني يي پيش كړه.
معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۴۰

فَسَخَّرۡنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦ رُخَآءً حَيۡثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾

فَسَخَّرۡنَا	لَهُ	الرِّيۡحَ	تَجۡرِیۡ	بِاَمۡرِهٖ	رُخَآءً	حَيۡثُ	اَصَابَ
پس تابع کړه مونږ	ده ته	باد	چې چلیده	په امر د ده سره	نرم نرم	هر ځای ته	چې اراده به وسوه دده

پس مسخر، تابع کړ مونږ دغه (سلیمان) ته باد چې چلیده په امر حکم د ده سره نرم نرم هر چیرته چې اراده به وسوه د ده .

وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ

وَالشَّيٰطِيۡنَ	كُلَّ	بَنَّآءٍ	وَّغَوَّاصٍ	وَّاٰخَرِيۡنَ	مُقَرَّنِيۡنَ
او شیطانان	هر	عمارت جوړوونکی	او غوټه وهونکی	او نور	تړلی سوی

او (مسخر کړمو ده ته پیریان) شیطانان هر بنا کوونکی او غوټه وهونکی .او (تابع موکړل) نور تړلی سوی

فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٣٨﴾ هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ بِغَيۡرِ

فِی الۡاَصۡفَادِ	هٰذَا	عَطَآؤُنَا	فَامۡنُنۡ	اَوۡ اَمۡسِكۡ	بِغَيۡرِ
په ځنځیرونو کښی	دغه	عطاء ، بخښنه زمونږ ده	پس احسان کوه	یا یئ وساته	بی له

په ځنځیرونو کښی، دغه (سلطنت) عطاء بخښنه زمونږ ده پس احسان کوه یا یئ وساته (له خپل ځان سره) بی له

حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٍ ﴿٤٠﴾

حِسَابٍ	وَاِنَّ	لَهٗ	عِنۡدَنَا	لَزُلۡفٰى	وَحُسۡنَ	مَاٰبٍ
حسابه	او بیشکه!	چی ده ته	په نزد زمونږ	خامخا نژدی والی دی	او ښه	ځای دورتلو دی

حسابه. او بیشکه! چی ده ته په نزد زمونږ خامخا قرب دی (په دنیا کښی) او ښه ځای دورتلو دی (په عقبیٰ کښی) .

وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ

وَاذۡكُرۡ	عَبۡدَنَاۤ	اَيُّوۡبَ	اِذۡ نَادٰى	رَبَّهٗۤ	اَنِّىۡ	مَسَّنِىَ	الشَّيۡطٰنُ
او یاد کړه	بنده زمونږ	ایوب	کله چی ږغ یئ وکړ	رب خپل ته	چی بیشکه! زه چی یم	رسولی دی ماته	شیطان

او یاد کړه (ای محمده!) بنده زمونږ ایوب کله چی ږغ یئ وکړ رب خپل ته چی بیشکه! زه چی یم مس کړی یم شیطان

بِنُصۡبٍ وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾ ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٌ

بِنُصۡبٍ	وَّعَذَابٍ	اُرۡكُضۡ	بِرِجۡلِكَ	هٰذَا	مُغۡتَسَلٌۢ	بَارِدٌ
تکلیف	او عذاب	ووهه (مځکه)	په پښه خپله	دغه دی	ځای دغسل	یخ

په ایذاء او تکلیف سره. ووهه (مځکه) په پښه خپله دغه دی ځای د غسل یخ

وَاذۡكُرۡ عَبۡدَنَاۤ اَيُّوۡبَ اِذۡ نَادٰى رَبَّهٗۤ اَنِّىۡ. نبي کریم ﷺ ته دصبر دتلقین دپاره دحضرت ایوب علیه السلام قصه راوړل: دغه واقعه په تفصیل سره په سورت انبیاء کي تیره سویده دلته یي یو ځوخبري قابل دذکر دي: مسّنی الشیطان بنصب وعذاب: یعني شیطان ماته رنځ او آزار رسولی دی: ځینو حضراتو درنځ او آزار رسولو تفصیل دابیاان کړی دی چي حضرت ایوب علیه السلام چي په کمه ناجوړی کي مبتلا سوی وو هغه دشیطاني تسلط دوجي څخه راغلي وه او پیښه داسي وسوه چي یوه ورځ ملائکو دحضرت ایوب علیه السلام ډیر زیات تعریف وکړی په دې سره شیطان سخت حسد وکړی او ده دالله جل جلاله څخه سوال وکړی چي ای الله جل جلاله ماته دده پر جسم او مال او اولاد باندي داسي تسلط راکړې چي زه دده سره څه غواړم ویي کړم دالله جل جلاله مقصود هم داوو چي دحضرت ایوب علیه السلام ازمایش وسي په دې وجه شیطان ته دا حق ورکړه سو او هغه دی په دې ناجوړی کي مبتلا کی: لیکن محققینو مفسرینو بیا ددې قصې تردید کړی دی ځکه چي شیطان پر انبیاوو نه سي مسلطه کیدلای: معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۴۹

ع ۳ ۱۲

وَّشَرَابٌ ﴿٤٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً

وَّشَرَابٌ	وَوَهَبْنَا	لَهٗ	اَهْلَهٗ	وَمِثْلَهُمْ	مَّعَهُمْ	رَحْمَةً
او اوبه دڅښلو	او مونږ بخښل	ده ته	اهل دده	او په مثل د دوی	له هغوی سره	له جهته دمهربانۍ

او اوبه د څښلو. او مونږ بخښل ده ته اهل د ده (په بیرته ژوندی کولو) او په مثل د دوی له هغوی سره له جهته د مهربانۍ

مِّنَّا وَذِكْرٰی لِاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿٤٣﴾ وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا

مِّنَّا	وَذِكْرٰی	لِاُولِی	الْاَلْبَابِ	وَخُذْ	بِيَدِكَ	ضِغْثًا
له خپله طرفه	او دپاره دپند اخیستلو	خاوندانو	دصافو عقلونو ته	او ونیسه	په لاس خپل	جارو دخاشو

له خپله طرفه او د پاره د پند اخیستلو خاوندانو د صافو عقلونو ته. او ونیسه په لاس خپل جارو د کهکو

فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ ؕ اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ؕ نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ

فَاضْرِبْ	بِّهٖ	وَلَا تَحْنَثْ	اِنَّا	وَجَدْنٰهُ	صَابِرًا	نِعْمَ	الْعَبْدُ
پس ووهه	په هغه جارو سره	او مه حانثوه ځان خپل	بیشکه! مونږ	پیدا کړ مونږ دغه (ایوب)	صبرناک	ښه	بنده ؤدی

پس ووهه په هغه جارو سره (ښځه خپله) او مه حانثوه ځان خپل بیشکه! پیدا کړ مونږ دغه (ایوب) صبرناک ښه بنده ؤدی

اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿٤٤﴾ وَاذْكُرْ عِبٰدَنَاۤ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

اِنَّهٗ	اَوَّابٌ	وَاذْكُرْ	عِبٰدَنَاۤ	اِبْرٰهِيْمَ	وَاِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ
بیشکه! چی دی	ډیر رجوع کوونکی ؤ الله ته	او یادکړه (محمده!)	بندګان زما	ابراهیم	او اسحاق	او یعقوب

بیشکه! چی دی ډیر رجوع کوونکی ؤ الله ته. او یادکړه (ای محمده!) بندګان زما ابراهیم او اسحاق او یعقوب

اُولِی الْاَيْدِیْ وَالْاَبْصَارِ ﴿٤٥﴾ اِنَّاۤ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ

اُولِی	الْاَيْدِیْ	وَالْاَبْصَارِ	اِنَّاۤ	اَخْلَصْنٰهُمْ	بِخَالِصَةٍ
خاوندان	دلاسونو	او دسترګو	بیشکه! مونږ	خالص کړی مو دی دوی	په یو خاص فضیلت سره

خاوندان دلاسونو او دسترګو. بیشکه! مونږ خالص کړی مو دی دوی په خالص خوی سره

ذِكْرَی الدَّارِ ﴿٤٦﴾ وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ

ذِكْرَی	الدَّارِ	وَاِنَّهُمْ	عِنْدَنَا	لَمِنَ	الْمُصْطَفَيْنَ
چی یاد دی	دکور (دآخرت)	او بیشکه! دوی	په نزد زمونږ	خامخا له	غوره کړیو سویو

په ذکر، یادولو د کور (دآخرت). او بیشکه! دوی په نزد زمونږ خامخا له غوره کړیو سویو

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ

دحیلو شرعي حیثیت:

ددې آیت څخه یوه مسئله داهم معلومه سویده چي دیوې نامناسبي یا مکروه خبري څخه دبچ کیدو دپاره که څه شرعي حیله اختیاره سي نو هغه جائز ده: ظاهره ده چي دحضرت ایوب ﷺ په واقعه کي دقسم اصلي تقاضا داده چي دی خپله پاکه بي بي پوره سل لښتي ووهي لیکن چونکي دده بي بي، بې ګناه وه او دې دحضرت ایوب ﷺ یو بې مثاله خدمت هم کړی وو په دې وجه الله ﷻ په خپله حضرت ایوب ﷺ ته دیوې حیلې تلقین وفرمایي او دا وضاحت یي وفرمایي چي په داسي کولو به دده قسم مات نه سي په دې وجه دا واقعه دحیلې پر جواز دلالت کوي: لیکن دا یاد ساتل پکار دي چي دا قسم حیلې هغه وخت جائز کیږي کله چي دادشرعي مقاصدو دابطال ذریعه جوړه نه سي او که دحیلې مقصد داوي چي دیو حقدار حق باطل سي یا دیو واضح حرام کار دحرمت روح دبر قرار ساتلو سره دځان دپاره حلال سي نو داسي حیله بالکل ناروا ده.

معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص ۱۵۰

الْاَخْيَارِ ﴿٤٧﴾ وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ؕ وَكُلٌّ

الْاَخْيَارِ	وَاذْكُرْ	اِسْمٰعِيْلَ	وَالْيَسَعَ	وَذَا الْكِفْلِ	وَكُلٌّ
بهتروخلکو وو	او یادکړه (محمده)	اسماعیل	او الیسع	او ذوالکفل	او دغه ټول ؤ

بهترو خلکو (دزماني خپلي) وو. او یاد کړه (ای محمده!) اسماعیل او الیسع او ذوالکفل (خاوند دضمانت) ، او دغه ټول ؤ

مِّنَ الْاَخْيَارِ ﴿٤٨﴾ هٰذَا ذِكْرٌ ؕ وَاِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ لَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٤٩﴾

مِّنَ الْاَخْيَارِ	هٰذَا	ذِكْرٌ	وَاِنَّ	لِلْمُتَّقِيْنَ	لَحُسْنَ	مَاٰبٍ
له خاوندانو دخیر	حال داچي دغه	پند دی	او بیشکه!	دپاره دپرهيزګارانو	خامخا ښه	ځای دورتلو دی

له خاوندانو دخیر. حال داچي دغه (بیان دانبیاء) پند دی ، او بیشکه! دپاره د پرهیزګارانو خامخا ښه ځای دورتلو دی.

جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ ﴿٥٠﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ

جَنّٰتِ	عَدْنٍ	مُّفَتَّحَةً	لَّهُمُ	الْاَبْوَابُ	مُتَّكِـِٕيْنَ
جنتونه دی	دهمیشه هستوګنی	چي تل خلاصي وی	دوی ته	دروازی (دجنتونو)	تکیه وهلی (ناست به وی)

جنتونه دی د همیشه هستوګنی په دی حال کښی چي تل پرانستلي وی دوی ته دروازی (دجنتونو). تکیه وهلی (ناست به وی)

فِيْهَا يَدْعُوْنَ فِيْهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ وَّشَرَابٍ ﴿٥١﴾ وَعِنْدَهُمْ

فِيْهَا	يَدْعُوْنَ	فِيْهَا	بِفَاكِهَةٍ	كَثِيْرَةٍ	وَّشَرَابٍ	وَعِنْدَهُمْ
په دغو کښی	چي غواړي به	په هغو کښی	میوی	ډیری	او شیان دڅښلو	او وی به په نزد ددوی

په دغو (جنتونو) کښی چي غواړی به (دغه جنتیان) په هغو کښی میوی ډیری او شیان د څښلو. او وی به په نزد د دوی

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ اَتْرَابٌ ﴿٥٢﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِيَوْمِ

قٰصِرٰتُ	الطَّرْفِ	اَتْرَابٌ	هٰذَا	مَا تُوْعَدُوْنَ	لِيَوْمِ
ښځی کښته ساتونکی	دسترګو	همځولی دیو بل	دا	هغه دی چي وعده به یئ کیده ستاسی سره	د ورځی

ښځی بندوونکی د سترګو (خاوندانو خپلوته) همځولی. دا هغه دی چي وعده به یئ کوله کیده (له تاسی سره) دورځی

الْحِسَابِ ﴿٥٣﴾ اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾ هٰذَا ؕ

الْحِسَابِ	اِنَّ	هٰذَا	لَرِزْقُنَا	مَا لَهٗ	مِنْ نَّفَادٍ	هٰذَا
دحساب	بیشکه! چي	دغه	خامخا داسی رزق زموږ دی	چي نشته ده لره	خلاصیدل ، ختمیدل	دغه

دحساب. بیشکه! چي دغه خامخا داسی رزق زموږ دی چي نشته ده لره خلاصیدل. دغه (حال د مطیعانو وو)

وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ. حضرت یسع عليه السلام څوک وو ؟ حضرت یسع عليه السلام دبنی اسرآئیلو په پیغمبرانو کي دی او په قرآن کریم کي دده ذکر فقط دوه ځایه راغلی دی یو په سورت انعام کي او بل دلته په سورت ص کي په دواړو کي په یوه ځای کي هم ددوی تفصیلي حالات ذکر نه دي بلکي دانبیاوو عليهم السلام په فهرست کي صرف دده نوم مبارک شمیرل سوی دی: دتاریخ په کتابونو کي منقول دي چي دی دحضرت الیاس عليه السلام داکا زوی دی او دحضرت الیاس عليه السلام نائب او خلیفه هم وو او ددوی په ملګرتیا کي به وو دحضرت الیاس عليه السلام څخه وروسته نبوت وده ته ورکول سو دبائبل په کتاب السلاطین کي په اول باب نولس او سلاطین دوهم باب وغیره کي دده تفصیلي حالات بیان سوي دي هلته بیا دده نوم الیشع بن سفط ذکر کړی سوی دی: مخکي بیا دالله جل جلاله ارشاد دی: وعندهم قاصرات الطرف اتراب: یعني دجنتیانو سره به نظر کښته کوونکي حوري ورسره وي او همزولي به هم وي سره. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

الثلثة

وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ لَشَرَّ مَاٰبٍ ۝۵۵ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ

وَاِنَّ	لِلطّٰغِيْنَ	لَشَرَّ مَاٰبٍ	جَهَنَّمَ	يَصْلَوْنَهَا	فَبِئْسَ
او بیشکه!	دپاره د سرکشانو	خامخا بد ځای دورتلو دی	دوزخ دی	چی ننوځی دوی په هغه کښی	پس بده

او بیشکه! دپاره د سرکشانو خامخا بده مرجع ده (چی هغه) دوزخ دی چی ننوځی دوی په هغه کښی ، پس بده

الْمِهَادُ ۝۵۶ هٰذَا ۙ فَلْيَذُوْقُوْهُ حَمِيْمٌ وَّغَسَّاقٌ ۝۵۷ وَّاٰخَرُ

الْمِهَادُ	هٰذَا	فَلْيَذُوْقُوْهُ	حَمِيْمٌ	وَّغَسَّاقٌ	وَّاٰخَرُ
بستره ده	دا دی عذاب	پس ودی څکی دوی دا	ایشیدلی اوبه	او زوی	او څه بل (قسم عذاب)

بستره ده (دا دوزخ) . دا دی عذاب د کفارو پس ودی څکی دوی دا ایشیدلی اوبه او زوی. او څه بل (قسم عذاب)

مِنْ شَكْلِهٖۤ اَزْوَاجٌ ۝۵۸ هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ

مِنْ شَكْلِهٖۤ	اَزْوَاجٌ	هٰذَا	فَوْجٌ	مُّقْتَحِمٌ	مَّعَكُمْ
له قسمه د هغه تیر عذاب	راز راز قسمونه	دغه	یو فوج دی	چی ننوتونکی دی په سختی	له تاسی سره

له قسمه د هغه تیر عذاب راز راز قسمونه. دغه یو فوج دی (د تابعانو) چی ننوتونکی دی په سختی له تاسی سره

لَا مَرْحَبًا بِهِمْ ؕ اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ۝۵۹ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ ۚ

لَا مَرْحَبًا	بِهِمْ	اِنَّهُمْ	صَالُوا	النَّارِ	قَالُوْا	بَلْ اَنْتُمْ
نه دی وی خوشحالی	دوی ته	بیشکه! چی دوی	ننوتونکی دی	اور ته	وایئ دوی	بلکه تاسی چی یئ

نه دی وی خوشحالی ځای د آرامی دوی ته ، بیشکه! چی دوی ننوتونکی دی اور ته ، وایئ دوی بلکه تاسی چی یئ

لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ؕ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ۚ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ۝۶۰ قَالُوْا

لَا مَرْحَبًا	بِكُمْ	اَنْتُمْ	قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا	فَبِئْسَ	الْقَرَارُ	قَالُوْا
نه دی وی خوشحالی	په تاسی	تاسی	رامخکی کړی دی دغه موږ ته	پس بده	هستوګنه ده	وبه وایئ دوی (تابعان)

نه دی وی خوشحالی په تاسی ، تاسی راوړاندی کړی دی دغه (عذاب) موږ ته پس بد قرار ځای دی. وبه وایئ (تابعان)

رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ۝۶۱

رَبَّنَا	مَنْ قَدَّمَ	لَنَا هٰذَا	فَزِدْهُ	عَذَابًا	ضِعْفًا	فِي النَّارِ
ای ربه زموږ	هرچاچی رامخکی کړی ده	موږ ته دغه لاره	پس زیات کړه ده ته	عذاب	دوچنده	په اور کښی

ای ربه زموږ هرچاچی مخکی تیاره کړی ده موږ ته دغه لاره (د کفر) پس زیات کړه ورته عذاب دوچنده په اور کښی.

وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ لَشَرَّ مَاٰبٍ ۝۵۵ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا .. د تیسر مخ پاته بیان دلته وګوری:

دقاصرات الطرف اترابـاً : څخه مراد دجنت حوري دي او دهمزولو مطلب دا هم کیدای سي چي دغه ټولي به په خپل مینځ کي همزولي وي او داهم مطلب کیدای سي چي دغه حوري به دخپلو خاوندانو همزولي وي په اول صورت کي ددوی دهمزولي کیدو فائده داده چي ددوی په مینځ کي به دمحبت او انس او دوستی تعلق وي دبُو په شان بغض نفرت او عداوت به ددوی په مینځ کي نه وي او ظاهره ده چي داشی دخاوندانو دپاره دانتهائي راحت سبب دی : دښځي او خاوند په مینځ کي دعمر دمناسبت رعایت ښه دی : او په دوهم صورت کي کله چي دهمزولو مطلب دا واخیستل سي چي دوی به دخپلو خاوندانو سره همزولي وي ددې فائده داده چي دهمزولتیا په وجه سره به په طبیعتونو کي زیات مناسبت او موافقت وي او دیوبل دراحت او دلچسپی خیال به زیات ساتي نو ددې څخه معلومه سوه چي دښځي او خاوند په مابین کي دعمر دتناسب رعایت پکار دی.

معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۵۵

وَقَالُوْا مَا لَنَا لَا نَرٰى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿٦٢﴾

مِّنَ الْاَشْرَارِ	نَعُدُّهُمْ	كُنَّا	رِجَالًا	لَا نَرٰى	مَا لَنَا	وَقَالُوْا
له بدو خلکو څخه	چې شمیرلی مو وو هغوی	چې وو موږ	هغه سړي	چې نه وینو	څه مانع دی موږ ته	وبه وایئ

وبه وایئ (مشرکان دکفارو) څه مانع ده موږ ته چې نه وینو هغه سړي چې وو موږ چې شمیرلی مو وو هغوی له اشرارو څخه .

اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ﴿٦٣﴾ اِنَّ ذٰلِكَ

ذٰلِكَ	اِنَّ	الْاَبْصَارُ	عَنْهُمُ	اَمْ زَاغَتْ	سِخْرِيًّا	اَتَّخَذْنٰهُمْ
دغه	بیشکه!	سترګی زموږ	له هغوی څخه	یا کږی سوی دی	په مسخرو سره	آیا نیولی مو وو دوی

آیا نیولی مو وو دوی په مسخرو سره یا کږی سوی دی له هغوی څخه سترګی زموږ. بیشکه! دغه (مذکوره قصه)

لَحَقٌّ تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا مُنْذِرٌ

مُنْذِرٌ	اَنَا	اِنَّمَآ	قُلْ	اَهْلِ النَّارِ	تَخَاصُمُ	لَحَقٌّ
بیرووونکی یم	چې زه	بیشکه! هم داخبره ده	ووایه (محمده)	ددوزخیانو په مینځ کښې	جګړه کول	خامخا رښتیا ده

خامخا حقه، رښتیا ده جګړه کول د دوزخیانو. ووایه (محمده) بیشکه! هم داخبره ده چې زه بیرووونکی یم

وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

وَالْاَرْضِ	السَّمٰوٰتِ	رَبُّ	الْقَهَّارُ	الْوَاحِدُ	اللّٰهُ	اِلَّا	اِلٰهٍ	وَّمَا مِنْ
او دمځکی	دآسمانونو	رب	ډیر قهر کوونکی دی	چې یو	الله	بې له	هیڅ بل حق معبود	او نسته

او نسته هیڅ بل حق معبود بې له الله چې یو ډیر قهر کوونکی دی، رب دآسمانونو او دمځکی

وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيْمٌ ﴿٦٧﴾

عَظِيْمٌ	نَبَؤٌا	هُوَ	قُلْ	الْغَفَّارُ	الْعَزِيْزُ	وَمَا بَيْنَهُمَا
ډیره لویه ده	دغه خبره	دوی ته	ووایه	ښه بخښونکی دی	ښه غالب قوی	او دهغو ټولو چې په مینځ د دوی کښې دی

او دهغو ټولو شیانو دی چې په مینځ د دوی کښې دی ښه غالب قوی ښه بخښونکی دی. ووایه دوی ته دغه خبره ډیره لویه ده

اَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰى اِذْ

اِذْ	الْاَعْلٰى	بِالْمَلَاِ	عِلْمٍ	لِيَ مِنْ	مَا كَانَ	مُعْرِضُوْنَ	اَنْتُمْ عَنْهُ
کله چې	ډیر پورته لوی	په هغه ټولی	قدر علم	ما لره هیڅ	نسته	مخ ګرځوونکی یئ	چې تاسی له دی څخه

چې تاسی له دی څخه مخ ګرځوونکی یئ، نسته ما لره هیڅ قدر علم، په هغه ټولی ډیر پورته لوی (دملائیکو) کله چې

قُلْ اِنَّمَآ اَنَا مُنْذِرٌ وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ. دسورت دمضامینو خلاصه: دسورت په شروع کي تاسي ولیدل چي ددي سورت اصل مقصد دنبي کریم ﷺ درسالت اثبات او دکفارو تردید دی په دي ضمن کي دانبیاوو علیهم السلام واقعات په دوو وجهو سره ذکر سوی وي یودا چي نبي کریم ﷺ ته تسلي حاصله سي او دتیرو انبیاوو علیهم السلام په شان دوی هم دکفارو پر بې هوده خبرو صبر وفرمایي: دوهم داچي ددي واقعاتو څخه په خپله دغه خلګ عبرت حاصل کي کم چي دیو نبي برحق درسالت څخه انکار کوي: ددي څخه وروسته په یوه بله طریقه کفارو ته داسلام دعوت ورکول سو او هغه داسي چي دمومنانو نیک انجامي او دکافرانو دسخت عذاب نقشه راښکاره سوه او په خبره خبردار سول چي دکوم خلګو په اتباع کي تاسي نن دافضل الرسل ﷺ تکذیب کوی دآخرت په ورځ به دغه خلګ ستاسي دمدد څخه دست بردار سي هغوی به تاسي ته ردي بدي وایي او تاسي به پر هغوی لعنت لیږی وروسته بیا درسالت داثبات بیان دی.

معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص١٥٨

ع ٤ / ١٤

يَخْتَصِمُوْنَ ۝٦٩ اِنْ يُّوْحٰٓى اِلَيَّ اِلَّآ اَنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧٠

يَخْتَصِمُوْنَ	اِنْ يُّوْحٰٓى	اِلَيَّ	اِلَّآ	اَنَّمَآ	اَنَا	نَذِيْرٌ	مُّبِيْنٌ
هغوی بحث کوی	وحی نه کوله کیږی	ماته	مگر	چې بیشکه! هم داخبره ده	چې زه	بیروونکی یم	ښکاره

سره جګړې یئ کولې. وحی نه کوله کیږی ماته مگر د دې چې بیشکه! هم داخبره ده چې زه بیروونکی یم ښکاره (له عذابه).

اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّىْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ۝٧١ فَاِذَا

اِذْ قَالَ	رَبُّكَ	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	اِنِّىْ	خَالِقٌۢ	بَشَرًا	مِّنْ طِيْنٍ	فَاِذَا
هغه وخت چې وفرمایل	رب ستا	ملائیکو ته	چې بیشکه! زه	پیداکوونکی یم	دیو انسان	له خټې څخه	پس کله چې

(یادکړه) هغه وخت چې وفرمایل رب ستا ملائیکو ته چې بیشکه! زه پیداکوونکی یم د یو بشر له خټې څخه. پس کله چې

سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِىْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ۝٧٢

سَوَّيْتُهٗ	وَنَفَخْتُ	فِيْهِ	مِنْ رُّوْحِىْ	فَقَعُوْا	لَهٗ	سٰجِدِيْنَ
برابر کړما هغه	او پوکړما	په هغه قالب کښې	له روح خپل	پس پریوځئ تاسی	ده ته	سجده کوونکی

برابر کړ ما (قالب د) هغه (په ښه شکل) او پو کړ ما په هغه قالب کښې له روح خپل، پس پریوځئ تاسی ده ته سجده کوونکی.

فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ۝٧٣ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ

فَسَجَدَ	الْمَلٰٓئِكَةُ	كُلُّهُمْ	اَجْمَعُوْنَ	اِلَّآ	اِبْلِيْسَ
پس سجده وکړه	ملائیکو	ټولو دوی	په جمع سره	مگر	ابلیس (ونه کړه سجده)

پس سجده وکړه ملائیکو ټولو دوی په جمع سره مگر ابلیس (چې هغه ونه کړه سجده)

اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝٧٤ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا مَنَعَكَ

اِسْتَكْبَرَ	وَكَانَ	مِنَ الْكٰفِرِيْنَ	قَالَ	يٰٓاِبْلِيْسُ	مَا مَنَعَكَ
او لوئی وکړه	او وو دی	له کافرانو	وفرمایل (الله)	ای ابلیسه	څه شی منع کړی یئ ته له دی څخه

او لوئی وکړه او وو دی (په علم دالله کښې) له کافرانو. وفرمایل (الله) ای ابلیسه څه شی منع کړی ئی ته له دی څخه

اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ ؕ اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ

اَنْ تَسْجُدَ	لِمَا	خَلَقْتُ	بِيَدَيَّ	اَسْتَكْبَرْتَ	اَمْ
چې سجده وکړی	هغه شی ته	چې پیدا کړی دی ما	په دواړو لاسونو خپلو	آیا تکبر دی وکړ	یا

چې سجده وکړی (ته) هغه شی ته چې پیدا کړی دی ما په دواړو لاسونو خپلو آیا تکبر دی وکړ یا

يَخْتَصِمُوْنَ ۝٦٩ اِنْ يُّوْحٰٓى اِلَيَّ اِلَّآ اَنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ.. **یعني ماته دعالم بالا هیڅ خبر نه وو کله چې دغه خبري کیدې**: دادسورص نهه شپیتم آیت دی او داد نبي کریم ﷺ درسالت واضح دلیل دی چې زه تاسي ته دعالم بالا داسي خبري بیانوم کمي چې دوحی څخه ماسوا په بله هیڅ طریقه سره نه سي معلومیدی ددې خبرو څخه مراد یو خو هغه خبري دي کمي چې دحضرت آدم علیه السلام دپیدایش په وخت کي دالله جل جلاله او ملایکو په مینځ کي سوي وي او دکمو ذکر چې په سورت بقره کي راغلي دي ملایکو داویلي وه چې آیا ته په مځکه کي داسي انسان پیداکوي کم چې به هلته فساد غوړوي او خون ریزي به کوي ؟ داخبري یي دلته: داختصام : په لفظ سره تعبیر کړې دي چې لفظي معنی یي ده جګړه یا بحث او مباحثه حال دادی چې واقعه داسي ده چې دملایکو ددغه سوال او جواب ظاهري طرف چونکي دبحث او مباحثې په شان سوی وو په دې وجه یي دااختصام په لفظ سره تعبیر کی که نه نو په حقیقت کي نه جنګ وو او نه جګړا الخ.
(معارف القرآن ج ٨ پ ٢٣ ص ١٥٩)

كُنتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ

كُنتَ	مِنَ الْعَالِيْنَ	قَالَ	اَنَا	خَيْرٌ	مِّنْهُ	خَلَقْتَنِيْ
که یئ ته	له لویانو	وویل (ابلیس)	زه	غوره یم	له دغه (آدم) څخه	پیداکړی دی یم زه

که یئ ته له لویانو . وویل (ابلیس په جواب کښې) زه غوره یم له دغه (آدم) څخه پیداکړی دی یم زه

مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ

مِنْ نَّارٍ	وَّخَلَقْتَهٗ	مِنْ طِيْنٍ	قَالَ	فَاخْرُجْ	مِنْهَا	فَاِنَّكَ
له اوره	او پیداکړی دی دی دغه	له خټو	وفرمایل (الله)	پس ووځه	له دی (جنته)	پس بیشکه! ته

له اوره او پیداکړی دی دی دغه (آدم) له خټو. وفرمایل (الله) پس ووځه له جنته پس بیشکه! ته

رَجِيْمٌ ﴿٧٧﴾ وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْٓ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٧٨﴾ قَالَ

رَجِيْمٌ	وَّاِنَّ	عَلَيْكَ	لَعْنَتِيْٓ	اِلٰى	يَوْمِ	الدِّيْنِ	قَالَ
رټلی سوی یئ	او بیشکه!	پر تا دی	لعنت زما	تر	ورځی	دجزاء پوری	وویل (ابلیس)

رټلی سوی یئ. او بیشکه! پر تا دی لعنت زما تر ورځی دجزاء پوری. وویل (ابلیس)

رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَاِنَّكَ

رَبِّ	فَاَنْظِرْنِيْٓ	اِلٰى	يَوْمِ	يُبْعَثُوْنَ	قَالَ	فَاِنَّكَ
ای ربه زما	پس مهلت راکړه	ماته	تر هغی ورځی پوری	چی پورته کول سی مړی	وفرمایل (الله)	پس بیشکه! ته

ای ربه زما پس مهلت راکړه ماته تر هغی ورځی پوری چی پورته کول سی مړی (له قبرونو) . وفرمایل (الله) پس بیشکه! ته

مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿٨١﴾ قَالَ

مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ	اِلٰى	يَوْمِ	الْوَقْتِ	الْمَعْلُوْمِ	قَالَ
له مهلت ورکړ سویو څخه یئ	تر	ورځی	دوخت	معلوم پوری	وویل (ابلیس)

له مهلت ورکړ سویو څخه یئ، تر ورځی دوخت معلوم پوری. (چی نفخة الاولی ده). وویل (ابلیس)

فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٢﴾ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ

فَبِعِزَّتِكَ	لَاُغْوِيَنَّهُمْ	اَجْمَعِيْنَ	اِلَّا	عِبَادَكَ	مِنْهُمُ
پس قسم دی په عزت ستا	چی خامخا گمراهان به کړم هرومرو دوی	ټول	مگر	هغه بندګان ستا	له دوی څخه

پس قسم دی په عزت ستا چی خامخا گمراهان به کړم هرومرو دوی ټول. مگر هغه بندګان ستا له دوی څخه

كُنتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ

حضرت ادم عليه السلام الله جل جلاله په خپل لاسونو سره جوړ کړی دی: دسورت ص په پنځه اویایم آیت کي د الله جل جلاله دا ارشاد دی چي حضرت آدم عليه السلام ما په خپلو لاسونو سره جوړ او پیداکړی: دجمهور امت پر دغه اتفاق دی چي دلاسونو څخه مراد دانه دی چي دالله جل جلاله داسي لاسونه دي لکه څنګه چي دانسانانو وي ځکه چي الله جل جلاله داعضاوو او جوارحو داحتیاج څخه پاک دی په دې وجه ددې څخه مراد دالله جل جلاله قدرت دی او په عربي ژبه کي لفظ دید ډیر دقدرت په معنی کي مستعمل دی مثلا ارشاد دی: بيده عقدة النكاح: په دې وجه دآيت مطلب دادی چي ما حضرت آدم عليه السلام په خپل قدرت سره پیداکی او هسي خو دکایناتو ټول شیان په قدرت خداوندي سره پیدا سوي دي لیکن چي الله جل جلاله دیوشي خصوصي شرافت ښکاره کول غواړي نو په خاص طور سره يي خپل ځان ته نسبت کوي لکه کعبې ته بیت الله او عیسی عليه السلام ته روح الله او دصالح عليه السلام اوښي ته ناقة الله ویل سوي دي وغیره: (معارف القرآن ج٨پ٢٣ص ١٥٩)

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۸۳﴾ قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ﴿۸۴﴾

اَقُوْلُ	وَالْحَقَّ	فَالْحَقُّ	قَالَ	الْمُخْلَصِيْنَ
زه وایم	او حقه خبره	چي پس حقه خبره همداده	نو وفرمایل (الله)	چي خالص کړی سوی دی

چي خالص کړی سوی دی (له شرک ، چي مؤمنان دی) نو وفرمایل (الله) چي پس حقه خبره همداده او حقه خبره زه وایم.

لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۵﴾

اَجْمَعِيْنَ	مِنْهُمْ	تَبِعَكَ	وَمِمَّنْ	مِنْكَ	جَهَنَّمَ	لَاَمْلَئَنَّ
له ټولو	له دغو (انسانانو) څخه	چي متابعت یې کړی وی ستا	او له هغه چاڅخه	له تا څخه	دوزخ	خامخا ډک به کړم هرومرو

خامخا ډک به کړم هرومرو دوزخ له تا څخه او له هغه چا څخه چي متابعت یې کړی وی ستا له دغو (انسانانو) څخه له ټولو.

قُلْ مَآاَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ﴿۸۶﴾ اِنْ هُوَ

اِنْ هُوَ	مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ	اَنَا	وَّمَآ	مِنْ اَجْرٍ	عَلَيْهِ	مَآاَسْـَٔلُكُمْ	قُلْ
نه دی دغه (قرآن)	له تکلیف کوونکو څخه	زه	او نه یم	هیڅ اجر	په دی (قرآن) ځان ته	نه غواړم زه له تاسی	وو ایه (محمده)

وو ایه (محمده) نه غواړم زه له تاسی په دی (قرآن) ځان ته هیڅ اجر او نه یم زه له تکلیف کوونکو څخه. نه دی دغه (قرآن)

اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ﴿۸۸﴾

بَعْدَ حِيْنٍ	نَبَاَهٗ	وَلَتَعْلَمُنَّ	لِّلْعٰلَمِيْنَ	ذِكْرٌ	اِلَّا
لږ څه موده وروسته	په خبر (دصدق) ددی	او خامخا عالمان به سئ هرومرو تاسی	دپاره دمخلوقاتو	پند دی	مګر

مګر پند دی دپاره د عالمیانو او خامخا عالمان به سئ هرومرو په خبر (دصدق) د دی (قرآن) لږ څه موده وروسته.

ایاتونه ۷۵ ﴿۳۹ سُوْرَةُ الزُّمَرِ مَكِّيَّةٌ ۵۹﴾ رکوعې ۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۱﴾

الْحَكِيْمِ	الْعَزِيْزِ	اللّٰهِ	مِنَ	الْكِتٰبِ	تَنْزِيْلُ
دحکمتونو خاوند دی	چي ډیر بنه قوی غالب	دالله	له (جانبه)	ددی کتاب (قرآن پر محمد دی)	رالیږل

رالیږل د دی کتاب (قرآن پر محمد) دی له (جانبه دهغه) الله چي ډیر بنه قوی غالب دحکمتونو خاوند دی.

وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ﴿۸۶﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ... د تکلف او تصنع بدوالی: اوزه دغانه جوړوونکو څخه نه یم: مطلب دادی چي زه په تکلف او تصنع کولو سره دخپل نبوت او رسالت او علم او حکمت اظهار نه کوم بلکي دالله ﷻ احکام صحیح صحیح رسوم ددي څخه معلومه سوه چي تکلف او تصنع شرعا مذموم دی: چنانچي ددي په مذمت کي ځیني احادیث وارد سوي دي: په صحیحینو کي دعبدالله ابن مسعود ﷺ ارشاد دی چي ای خلګو په تاسي کي چي کم سړي ته دڅه خبري علم وي نو هغه دی خلګو ته وروایي لیکن دچاچي علم نه وي هغه دي په الله اعلم ویلو بسو والی کوي ځکه چي الله ﷻ دخپل رسول ﷺ په باره کي فرمایلي دي: قل ما اسئلکم علیه من اجر وما انا من المکتلفین. یعني ای زما نبي ته دغه کفارو ته ووایه چي زه ستاسي څخه پر دغه دعوت او تبلیغ باندي هیڅ نه غواړم یا روپی یا بل څه شی او نه زه دغانه دجوړوونکو څخه یم چي غیر قرآن ته قران ووایم یا مي دنبوت دعوی دغانه څخه کړي وي الخ. معارف القرآن ج ۸ پ ۲۳ ص ۱۶۰

ع ۵ / ۲۴ / ۱۴

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ

اِنَّآ	اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ	فَاعْبُدِ	اللّٰهَ
بیشکه! موږ	نازل کړی مو دی	تاته	کتاب (قرآن)	په حقه سره	پس عبادت کوه	دالله

بیشکه! موږ نازل کړی مو دی تاته(ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره پس عبادت کوه دالله

مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۞ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ

مُخْلِصًا	لَّهُ	الدِّيْنَ	اَلَا	لِلّٰهِ	الدِّيْنُ	الْخَالِصُ
چې خالص کوونکی يې	دغه (الله) ته	ددين خپل	واورئ، خبردار اوسئ	خاص الله لره دی	دين	خالص

چې خالص کوونکی يې دغه (الله) ته د دين (خپل له شرک) واورئ خبردار اوسئ خاص الله لره دی دين (او اطاعت) خالص

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا

وَالَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِهٖٓ	اَوْلِيَآءَ	مَا نَعْبُدُ	هُمْ	اِلَّا
او هغه کسان	چې نيولی يئ دی	غير له دغه (الله) څخه	نوردوستان	(وايئ) نه کوو عبادت	د دوی	مګر

او هغه کسان چې نيولی يئ دی غير له دغه (الله) څخه نور دوستان (وايئ) نه کوو عبادت د دوی مګر

لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ

لِيُقَرِّبُوْنَآ	اِلَى اللّٰهِ	زُلْفٰى	اِنَّ	اللّٰهَ	يَحْكُمُ	بَيْنَهُمْ
دپاره ددی چې نژدی کړی دوی موږ	طرف دالله ته	ډیر نژدی کول	بیشکه!	الله به	فيصله کوی	په مينځ د دوی کښې

دپاره ددی چې نژدی کړی دوی موږ طرف د الله ته نژدی کول، بیشکه! الله به فيصله (حکم) کوی په مينځ د دوی کښې

فِىْ مَا هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِىْ

فِىْ مَا	هُمْ	فِيْهِ	يَخْتَلِفُوْنَ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهْدِىْ
په هغه شی کښې	چې دوی	په هغه سره	اختلاف کوی	بیشکه!	الله	نه ښيي سمه لاره د هدايت

په هغه شی کښې چې دوی په هغه سره اختلاف کوی، بیشکه! الله نه ښيي سمه لاره د هدايت

مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ۞ لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ

مَنْ هُوَ	كٰذِبٌ	كَفَّارٌ	لَوْ اَرَادَ	اللّٰهُ	اَنْ يَّتَّخِذَ
هغه چاته چې دی	دروغجن وی	ناشکره	که چيری اراده وفرمايلی وی	الله	ددی چې ونيسی

هغه چاته چې دی دروغجن وی ناشکره. که چيری اراده فرمايلی وی الله (په زعم دمشرکانو) ددی چې ونيسی

فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ...نبي کريم ﷺ ته دالله ﷻ دطرفه څخه دعبادت حکم: دلفظ ددين معنی دلته دعبادت يا دطاعت ده کم چې دټولو ديني احکامو پابندي لره عامه او شامله ده ددې څخه په مخکې جمله کې نبي کريم ﷺ ته خطاب وو او حکم ورته سوی دی چې دالله ﷻ عبادت او طاعت خالص دهغه دپاره کوه چې په کښې دغير الله دشرک يا ريا او نمايش شائبه نه وي: دوهمه جمله ددې دتاکيد دپاره ده چې ددين خالص کول صرف دالله ﷻ دپاره لائق دی دهغه څخه ماسوايي بل څوک مستحق نسته. دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو سړي نبي کريم ﷺ ته عرض وکی چې يارسول الله ﷺ زه ځيني وخت څه صدقه او خيرات کوم يا پر چا احسان کوم چې په دي کې زمانيت دالله ﷻ درضا کولو هم دی او دا هم چې خلگ زما ثنا او صفت وکي نبي کريم ﷺ وفرمايل قسم دی په هغه ذات دچا په قبضه کې چې دمحمد ﷺ روح دی چې الله ﷻ داسي هيڅ شی نه قبلوي په کم کې چې بل غير شريک سوي وي.
معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۶۳

وَلَدًا لَّاصۡطَفٰى مِمَّا يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبۡحٰنَهٗ ؕ

وَلَدًا	لَّاصۡطَفٰى	مِمَّا	يَخۡلُقُ	مَا يَشَآءُ	سُبۡحٰنَهٗ
ولد	نو خامخا غوره کړی به یې وی	له هغه مخلوقه	چې پیدا کوی یې	هر هغه چې اراده یې فرمایلې وی	پاکی ده الله لره

ولد (زوی، لور) نو خامخا غوره کړی به یې وی له هغه مخلوقه چې پیدا کوی یې هر هغه چې اراده ئې فرمایلې وی پاکی ده

هُوَ اللّٰهُ الۡوَاحِدُ الۡقَهَّارُ ۝۴ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ

هُوَ	اللّٰهُ	الۡوَاحِدُ	الۡقَهَّارُ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ
هم دی دی	الله	یواځې	ډیر غالب	پیدا کړی دی (الله)	آسمانونه	او ځمکه

الله لره، هم دی دی الله یواځې (بې شریکه) ډیر غالب (پر هر شی)، پیدا کړی دی (الله) آسمانونه او ځمکه

بِالۡحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيۡلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ

بِالۡحَقِّ	يُكَوِّرُ	الَّيۡلَ	عَلَى النَّهَارِ	وَيُكَوِّرُ	النَّهَارَ
په حقه سره	تاووی	شپه	پر ورځې	او تاووی	ورځ

په حقه سره، تاووی (نغاړی داخلوی الله) شپه پر ورځې او تاووی (نغاړی داخلوی الله) ورځ

عَلَى الَّيۡلِ وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجۡرِىۡ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

عَلَى الَّيۡلِ	وَسَخَّرَ	الشَّمۡسَ	وَالۡقَمَرَ	كُلٌّ	يَّجۡرِىۡ	لِاَجَلٍ	مُّسَمًّى
په شپې باندې	او تابع کړی یې دی	لمر	او سپوږمی	چې هر یو	روان دی	تر نیټې	معلومې پورې

په شپه کښې، او مسخر کړی په کار لګولی یې دی لمر او سپوږمی، چې هر یو روان دی تر نیټې په نامه کړی سوی پورې

اَلَا هُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡغَفَّارُ ۝۵ خَلَقَكُمۡ مِّنۡ نَّفۡسٍ

اَلَا	هُوَ	الۡعَزِيۡزُ	الۡغَفَّارُ	خَلَقَكُمۡ	مِّنۡ نَّفۡسٍ
واورئ، خبردار سئ	چې الله	ښه قوی غالب	ښه بخښونکی دی	پیدا کړی یې تاسی	له نفس

(چې ورځ د قیامت ده) واورئ خبردار سئ چې الله ښه قوی غالب ښه بخښونکی دی. (الله) پیدا کړی یې تاسی له نفس

وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَاَنۡزَلَ لَكُمۡ

وَّاحِدَةٍ	ثُمَّ	جَعَلَ	مِنۡهَا	زَوۡجَهَا	وَاَنۡزَلَ	لَكُمۡ
یوه څخه	بیا یې	پیدا کړه	له دغه څخه	جوړه د ده	او نازل یې کړل	لپاره د (نفعې د) تاسی

یوه (آدم) څخه بیا یې پیدا کړه له دغه (نفس) څخه جوړه د ده (حواء) او نازل (پیدا) یې کړل لپاره د (نفعې د) تاسی

وَلَدًا لَّاصۡطَفٰى لَوۡ اَرَادَ اللّٰهُ اَنۡ يَّتَّخِذَ....پر هغه خلکو باندې رد کول چې ملایکو ته د الله ﷻ لوڼې وایي: چې ددوی دا باطل او محال خیال یې په طور د فرض محال وفرمایې چې که د الله ﷻ معاذ الله څوک اولاد وي نو هغه خو بغیر د ارادې او مشیت څخه کیدل محال دي چې په زبر دستی سره پر هغه اولاد نه سي مسلط کولی بیا که بالفرض د هغه اراده وي نو د هغه د ذات څخه ماسوا ټول د هغه مخلوقات دي ددوی څخه به یې څوک اولاد مقرر کړی وای او د اولاد د خپل پلار سره هم جنس کیدل لازم دي او مخلوق د خالق هم جنس کیدی نه سي په دې وجه د مخلوق د اولاد جوړولو اراده کول محال سول.

يكور الليل على النّهار د تکویر معنی یو شی پر بل شي غوړزول او هغه پټول دي. قرآن کریم د شپې او ورځې انقلاب د لته د عامو نظرونو په اعتبار سره په لفظ د تکویر تعبیر کړی دی چې شپه راځي نو ګویا د ورځې پر رڼا یوه پرده وغوړول سي او چې ورځ راځي نو د شپې پر تیاره باندې پرده غوړیږي په همداسي نظم سره لمر او سپوږمی هم په حرکت کې دي.
معارف القرآن ج ٨ پ ٢٣ ص ١٦٥

مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

مِّنَ الْاَنْعَامِ	ثَمٰنِيَةَ	اَزْوَاجٍ	يَخْلُقُكُمْ	فِيْ بُطُوْنِ	اُمَّهٰتِكُمْ
له چارپایانو څخه	اته	جوړې	پیداکوی (الله) تاسی	په نسونو کښی	دمیندو ستاسی کښی

له چارپایانو څخه اته جوړې (نر او ښځې)، پیداکوی (الله) تاسی په ګیډو د میندو ستاسی کښی

خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ

خَلْقًا	مِّنْۢ بَعْدِ	خَلْقٍ	فِيْ ظُلُمٰتٍ	ثَلٰثٍ	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبُّكُمْ
یو قسم پیدا ایښت	وروسته	له یو بل قسم پیدا ایښت	په تیارو	دریو کښی	دغه	الله دی	رب ستاسی

یو قسم پیدا ایښت وروسته له یو بل قسم پیدا ایښت په تیارو دریو کښی، دغه (موصوف په صفاتو) الله دی رب ستاسی

لَهُ الْمُلْكُ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ⑥

لَهُ	الْمُلْكُ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	فَاَنّٰى	تُصْرَفُوْنَ
خاص ده ته دی	ملک	نشته بل هیڅوک	لائق د عبادت	مګر	هم دی یوائې	پس کوم طرف ته	ګرځولی سئ تاسی

خاص ده ته دی ملک، سلطنت. نشته بل هیڅوک لائق د عبادت مګر هم دی یوائې پس کوم طرف ته ګرځولی سئ تاسی

اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۟ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ

اِنْ تَكْفُرُوْا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَنِيٌّ	عَنْكُمْ	وَلَا يَرْضٰى	لِعِبَادِهِ	الْكُفْرَ
که چیری کفر اختیار کړئ تاسی	پس بیشکه!	الله	غنی دی	له تاسی	او نه خوښوی	دپاره د بندګانو خپلو	کفر

که چیری کفر اختیار کړئ تاسی پس بیشکه! الله غنی، بې پروا دی له تاسی او نه خوښوی (الله) دپاره د بندګانو خپلو کفر

وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ

وَاِنْ تَشْكُرُوْا	يَرْضَهُ	لَكُمْ	وَلَا تَزِرُ	وَازِرَةٌ	وِّزْرَ	اُخْرٰى
او که شکر وباسئ	نو خوښوی دغه	تاسی ته	او وا به نه خلی بار	هیڅ بار اخیستونکی	بار د ګناهونو	د بل چا

او که شکر وباسئ نو خوښوی دغه (شکر د الله) تاسی ته، او وا به نه خلی بار هیڅ بار اخیستونکی بار د ګناهونو د بل چا

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ؕ اِنَّهٗ

ثُمَّ	اِلٰى رَبِّكُمْ	مَّرْجِعُكُمْ	فَيُنَبِّئُكُمْ	بِمَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ	اِنَّهٗ
بیا	خاص رب ستاسی ته	بیرته ورتله ستاسی دی	پس خبر به کړی تاسی	په هغو چې وئ تاسی	چې کول به مو	بیشکه! دغه الله

بیا خاص رب ستاسی ته بیرته ورتله ستاسی دی پس خبر به کړی تاسی په هغو چې وئ تاسی چې کول به مو، بیشکه! دغه الله

مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ.. دحیواناتو پیدایش هم دانسانیت دپاره یو نعمت الهي دی: په دغه آیت کي الله ﷻ دحیواناتو پیدا ایښت په انزال یعني دآسمانه څخه په نازلولو سره تعبیر کړی دی او دایي دې طرف ته اشاره وفرمایله چي ددوی په تخلیق کي لوی دخل دهغو اوبو دی کم چي دآسمانه څخه نازلیږي په دې وجه داویل کیږي چي دا هم ګویاا داسمانه څخه نازل سول: په بل ځای کي قرآن کریم دانساني لباس دپاره هم دالفظ استعمال فرمایلی دی: وانزالنا علیکم لباسا یواری سوءاتکم. او دځیني معدني شیانو مثلا اوسپني دپاره هم دا لفظ راغلی دی: وانزلنا الحدید: ددې ټولو مطلب ددې شیانو په خپل قدرت سره پیدا کول او انسان ته ورکول دي: قرطبی: خلقا من بعد خلق فی ظلمات ثلاث: په دي کي دخدای ﷻ دقدرت د هغو رمزونو او رازونو ته اشاره سویده کم چي دانسان په پیدایش کي کار فرما دي چي الله ﷻ په خپل حکمت سره ماشوم دمور په نس کي په مختلفو مراحلو سره پیدا کی وهو اعلم بحکم اموره ومصالحه معارف القرآن ج۸ پ ۲۳ ص ۱۶۶

عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ۝٧ وَاِذَا مَسَّ الۡاِنۡسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ

عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ	الصُّدُوۡرِ	وَاِذَا	مَسَّ	الۡاِنۡسَانَ	ضُرٌّ	دَعَا	رَبَّهٗ
ښه عالم دی په خبرو	دسینو	او هر کله چی	ورسیږی	انسان ته	کوم قسم سختی	نو بولی	رب خپل

ښه عالم دی په خبرو دسینو. او کله چی ورسیږی انسا ن(کافر) ته کوم قسم سختی نو بولی رب خپل

مُنِيۡبًا اِلَيۡهِ ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعۡمَةً مِّنۡهُ نَسِىَ مَا كَانَ

مُنِيۡبًا	اِلَيۡهِ	ثُمَّ	اِذَا	خَوَّلَهٗ	نِعۡمَةً	مِّنۡهُ	نَسِىَ مَا	كَانَ
چی رجوع کوونکی وی	هم ده ته	بیا	هرکله چی	ورکړی (الله) ده ته	نعمت	له خپل جانبه	نو هیر کړی هغه	چی ؤ دی

چی رجوع کوونکی وی خاص هم ده ته بیا هرکله چی ورکړی (الله) ده ته نعمت له خپل جانبه نو هیر کړی هغه چی ؤ دی

يَدۡعُوۡۤا اِلَيۡهِ مِنۡ قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنۡدَادًا لِّيُضِلَّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ

يَدۡعُوۡۤا	اِلَيۡهِ	مِنۡ قَبۡلُ	وَجَعَلَ	لِلّٰهِ	اَنۡدَادًا	لِّيُضِلَّ	عَنۡ سَبِيۡلِهٖ
چی پکښی باله به یئ	هغه (الله) ته	پخوا له دی نعمته	او ګرځوی	الله ته	شریکان	دپاره ددی چی ګمراه کړی	له لاری دالله

چی په کښی باله به ئی هغه (الله) ته پخوا له دی نعمته او ګرځوی الله ته شریکان، دپاره د دی چی ګمراه کړی له لاری دالله.

قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيۡلًا ۖ اِنَّكَ مِنۡ اَصۡحٰبِ النَّارِ ۝٨ اَمَّنۡ

قُلۡ	تَمَتَّعۡ	بِكُفۡرِكَ	قَلِيۡلًا	اِنَّكَ	مِنۡ اَصۡحٰبِ	النَّارِ	اَمَّنۡ
ووایه (محمده)	چی نفع واخله	په کفر خپل	لږ	بیشکه! ته	له یارانو	داور (دوزخ) یئ	آیا هغه څوک

ووایه (محمده) چی نفع واخله په کفر خپل لږ. بیشکه! ته له یارانو د اور (دوزخ) یئ. آیا هغه څوک

هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيۡلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا يَّحۡذَرُ الۡاٰخِرَةَ وَيَرۡجُوۡا

هُوَ	قَانِتٌ	اٰنَآءَ الَّيۡلِ	سَاجِدًا	وَّقَآئِمًا	يَّحۡذَرُ	الۡاٰخِرَةَ	وَيَرۡجُوۡا
چی دی	طاعت کوونکی وی	په ساعتونو دشپی کښی	سجده کوونکی	او ولاړ	بیریږی	دآخرت څخه	او امید لری

چی دی طاعت کوونکی وی په ساعتونو د شپی کښی سجده کوونکی او ولاړ (په لمانځه) بیریږی دآخرت څخه او امید لری

رَحۡمَةَ رَبِّهٖ ؕ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِى الَّذِيۡنَ يَعۡلَمُوۡنَ وَالَّذِيۡنَ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ؕ

رَحۡمَةَ	رَبِّهٖ	قُلۡ	هَلۡ يَسۡتَوِى	الَّذِيۡنَ	يَعۡلَمُوۡنَ	وَالَّذِيۡنَ	لَا يَعۡلَمُوۡنَ
درحمت	درب خپل ته	ووایه (محمده)	آیا برابر دی سره	هغه کسان	چی پوهیږی	او هغه کسان	چی نه پوهیږی

د رحمت درب خپل ته، ووایه (محمده) آیا برابر دی سره هغه کسان چی پوهیږی او هغه کسان چی نه پوهیږی

اَمَّنۡ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيۡلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا.. **دکفارو څخه دالله جل جلاله پوښتني:** ددې جملې څخه مخکي کفاروته داالله جل جلاله دطرفه ويل سوي دي چي ددنيا دڅو ورځو په ژوند کي دخپل کفر او فسق او فجور خوندونه واخلی آخر به تاسي دجهنم خاشاک جوړ سی ددې څخه وروسته په دې جمله کي دفرمانبردارمومن بيان دی کم چي يي د امّن په لفظ سره دسوال څخه شروع کړی دی: دتفسير علماء فرمايي چي ددې څخه مخ ته يوه جمله محذوفه ده چي کافر ته به وويل سي چي ته ښه يي او که هغه فرمانبردار مومن دکم ذکر چي مخ ته راځي دلفظ **قانت**: څوترجمې سويدي ترټولو جامع قول دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه دی ددې معنی ده **اطاعت ګذار**. او دا لفظ کله چي خاص دلمانځه دپاره وويل سي لکه: **قوموا لله قانتين** نو هلته مراد هغه سړی وي کم چي په لمانځه کي خپل نظر کښته ساتي يوې خوا بلې خواته ګوري نه دخپل بدن يا جامو سره بازی کوي نه ددنيا څه شی په خپل اختيار سره په لمانځه کي يادوي. هيره او غير اختياري وسوسه ددې منافي نه ده.

معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص١٧٠

ع ۹ ۱۵

اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٩ قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

اِنَّمَا	يَتَذَكَّرُ	اُولُوا	الْاَلْبَابِ	قُلْ	يٰعِبَادِ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا
بیشکه! هم دا خبره ده	چی پند اخلی	خاوندان	دعقلونو	ووایه	ای بندګانو زما	هغه چی	ایمان یئ راوړی دی

بیشکه! هم دا خبره ده چی پند اخلی خاوندان د خالصو عقلونو. ووایه (محمده) ای بندګانو زما هغه چی ایمان یئ راوړی دی

اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَاَرْضُ

اتَّقُوْا	رَبَّكُمْ	لِلَّذِيْنَ	اَحْسَنُوْا	فِيْ هٰذِهِ	الدُّنْيَا	حَسَنَةٌ	وَاَرْضُ
ویریږئ	له رب خپل	سته هغو کسانو ته	چی نیکی یئ کړی ده	په دغه	دنیا کښی	نیکی بدله ده	او مځکه

ویریږئ له (عذابه د) رب خپل سته هغو کسانو ته چی نیکی یئ کړی ده په دغه دنیا کښی نیکی او مځکه

اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ؕ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝١٠

اللّٰهِ	وَاسِعَةٌ	اِنَّمَا	يُوَفَّى	الصّٰبِرُوْنَ	اَجْرَهُمْ	بِغَيْرِ	حِسَابٍ
دالله	پراخه ده	بیشکه! هم دا خبره ده	پوره به ورکړل سی	صابرانو ته	اجر، ثواب د دوی	بی له	حسابه

د الله ارته ده، بیشکه! هم دا خبره ده پوره به ورکړل سی صابرانو ته اجر ثواب د دوی بی حسابه (ډیر زیات)،

قُلْ اِنِّيْۤ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۝١١

قُلْ	اِنِّيْۤ	اُمِرْتُ	اَنْ اَعْبُدَ	اللّٰهَ	مُخْلِصًا	لَّهُ	الدِّيْنَ
ووایه	بیشکه! زه چی یم	امر کړی سوی دی ماته	ددی چی عبادت کوم	دالله	چی خالص کوونکی یم	ده ته	دین دده

ووایه (محمده) بیشکه! زه امر کړی سوی دی ماته د دی چی عبادت کوم یوازی د الله چی خالص کوونکی یم ده ته دین دده

وَاُمِرْتُ لِاَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝١٢ قُلْ اِنِّيْۤ

وَاُمِرْتُ	لِاَنْ اَكُوْنَ	اَوَّلَ	الْمُسْلِمِيْنَ	قُلْ	اِنِّيْۤ
او امر، حکم کړی سوی دی ماته	چی سم زه	اول	دمسلمانانو	ووایه (محمده)	بیشکه! زه

او امر حکم کړی سوی دی ماته چی سم زه اول د مسلمانانو، ووایه (محمده!) بیشکه زه

اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝١٣ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ

اَخَافُ	اِنْ عَصَيْتُ	رَبِّيْ	عَذَابَ	يَوْمٍ	عَظِيْمٍ	قُلِ	اللّٰهَ	اَعْبُدُ
ییریږم	که چیری نافرمانی وکړم	درب خپل	له عذابه	دورځی	لوئی	ووایه (محمده)	الله ته	عبادت کوم

ییریږم که چیری نافرمانی وکړم د رب خپل له عذابه د ورځی لوئی (قیامت). ووایه (محمده) الله ته عبادت کوم

اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ

دصبر کوونکو ثواب په څه مقرره اندازه او پیمانه نه دی: بغیر دحساب څخه مراد دادی چي دصبر کوونکو ثواب په څه مقرره اندازه او پیمانه نه دی بلکي بې اندازې او بې حسابه به ورکول کیږي لکه چي دحدیث په روایتونو کي مخ ته راځي. او ځیني حضراتو دبغیر حساب معنی درخواست او مطالبه کړیده یعني لکه څنګه چي په دنیا کي دچا څه حق دچا پر ذمه وي نو ده ته دخپل حق په خپله مطالبه کول وي دالله ﷻ په نزد به صابرانو ته ددرخواست او مطالبي څخه بغیر ددوی ثواب ورکول سي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي دقیامت په ورځ به دعدل میزان قائم سي دصدقو خاوندان به راسي نو ددوی صدقې به تول سي او ددغو په حساب به ورته پوره پوره اجرورکول سي بیا نو څه چي کله هغه خلګ راسي چي مصیبتونه او بلاوي په دنیا کي پر راغلي وه نو ددوی دپاره به څه پیمانه او تول نه وي بلکي بغیر دحساب او اندازې څخه به ددوی طرف ته اجر او ثواب ورو بهول سي الخ.

معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۷۱

مُخۡلِصًا لَّهٗ دِيۡنِیۡ ﴿١٤﴾ فَاعۡبُدُوۡا مَا شِئۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖ

مُخۡلِصًا لَّهٗ	دِيۡنِیۡ	فَاعۡبُدُوۡا	مَا شِئۡتُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِهٖ
چي خالص كوونكى يم ده ته	دين خپل	پس عبادت كوئ تاسى	د هر هغه شي چي اراده وكړئ تاسى	غير له الله

چي خالص كوونكى يم ده ته (د) دين خپل (له شركه)، پس عبادت كوئ تاسى د هر هغه شي چي اراده وكړئ تاسى غير له الله

قُلۡ اِنَّ الۡخٰسِرِيۡنَ الَّذِيۡنَ خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ وَاَهۡلِيۡهِمۡ يَوۡمَ

قُلۡ	اِنَّ	الۡخٰسِرِيۡنَ	الَّذِيۡنَ	خَسِرُوۡۤا	اَنۡفُسَهُمۡ	وَاَهۡلِيۡهِمۡ	يَوۡمَ
ووايه (محمده)	بيشكه!	زيان كاران	هغه كسان دي	چي زيان يئ رسولى دى	ځانونو خپلو ته	او اهل خپل ته	په ورځ

ووايه (اى محمده!) بيشكه زيان كاران هغه كسان دي چي زيان يئ رسولى دى ځانونو خپلو ته او اهل خپل ته په ورځ

الۡقِيٰمَةِ ؕ اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الۡخُسۡرَانُ الۡمُبِيۡنُ ﴿١٥﴾ لَهُمۡ مِّنۡ فَوۡقِهِمۡ

الۡقِيٰمَةِ	اَلَا ذٰلِكَ	هُوَ الۡخُسۡرَانُ	الۡمُبِيۡنُ	لَهُمۡ	مِّنۡ فَوۡقِهِمۡ
دقيامت كښى	واورئ خبردار سئ چي دغه (خسران)	هم دغه دى زيان	ښكاره	وى به دوى ته	دپاسه د دوى

د قيامت كښى واورئ خبردار سئ چي دغه (خسران) هم دغه دى زيان ښكاره. وى به دوى ته دپاسه د دوى

ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنۡ تَحۡتِهِمۡ ظُلَلٌ ؕ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ

ظُلَلٌ	مِّنَ النَّارِ	وَمِنۡ تَحۡتِهِمۡ	ظُلَلٌ	ذٰلِكَ	يُخَوِّفُ	اللّٰهُ	بِهٖ
سايوانونه	له اوره	او دلاندى د دوى	سايوانونه	دغه	بيروى	الله	په هغه سره

طبقات له اوره او دلاندى د دوى طبقات (داور)، دغه بيروى الله په هغه سره

عِبَادَهٗ ؕ يٰعِبَادِ فَاتَّقُوۡنِ ﴿١٦﴾ وَالَّذِيۡنَ اجۡتَنَبُوا الطَّاغُوۡتَ اَنۡ

عِبَادَهٗ	يٰعِبَادِ	فَاتَّقُوۡنِ	وَالَّذِيۡنَ	اجۡتَنَبُوا	الطَّاغُوۡتَ	اَنۡ
بندګان خپل	اى بندګانو زما	پس وبيريږئ زما څخه	او هغه كسان	چي ځان يئ ساتلى دى	له بتانو	داسى چي

بندګان (مؤمنان خپل) اى بندګانو زما پس وبيريږئ له ما څخه او هغه كسان چي ځان يئ ساتلى دى له بتانو داسى چي

يَّعۡبُدُوۡهَا وَاَنَابُوۡۤا اِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الۡبُشۡرٰى ۚ فَبَشِّرۡ عِبَادِ ﴿١٧﴾

يَّعۡبُدُوۡهَا	وَاَنَابُوۡۤا	اِلَى اللّٰهِ	لَهُمُ	الۡبُشۡرٰى	فَبَشِّرۡ	عِبَادِ
عبادت وكړى دهغو	او رجوع يئ كړى وى	طرف د الله ته	سته دوى ته	بشارت، زيرى	پس زيرى وكړه	پر بندګانو زما

عبادت وكړى دهغو او رجوع كړى وى طرف د الله ته سته دوى ته بشارت، زيرى، پس زيرى وكړه (محمده) پر بندګانو زما

فَبَشِّرۡ عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِيۡنَ يَسۡتَمِعُوۡنَ الۡقَوۡلَ. دلته دقول څخه څه مراد دى ؟

په دغه ايت كي ده قول څخه مراد يا قرآن كريم يا دقرآن سره سره درسول ﷺ تعليمات مراد دي او هغه ټول حسن او احسن دي په دې وجه مقام مقتضى په ظاهره ددې وو چي يستمعون االقول فيتبعونه يي ويلي واى مگر دلته يي لفظ داحسن اضافه كى او دې طرف ته يي اشاره وكړه چي دې خلگو دقرآن او درسول دتعليماتو تابعداري په ړندو سترگو سره نه ده كړې لكه دبې عقلو خلگو طريقه چي ده چي كمه خبره واوري بغير دڅه تحقيق او نظر كولو څخه يي تابعداري كوي بلكي دې خلگو دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ كلام دحق او احسن ليدو څخه ددې تابعداري كړيده ددې په نتيجه كي دآيت په اخر كي دوى ته دعقل دخاوندانو خطاب وركول سوى دى : ددې نظير په قرآن كريم كي هغه ارشاد دى كم چي حضرت موسى عليه السلام ته دتورات متعلق سوى دى : فخذها بقوّة وأمرقومک يأخذوا با حسنها دلته هم داحسن څخه مراد پوره تورات دى.

معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص١٧٥

الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

الَّذِيْنَ	يَسْتَمِعُوْنَ	الْقَوْلَ	فَيَتَّبِعُوْنَ	اَحْسَنَهٗ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ
هغه چي	اوری	خبره (دقرآن)	پس متابعت کوی دوی	د ډیر ښه دهغه	دا	هغه کسان دی

هغه چي اوری خبره (دقرآن) پس متابعت کوی دوی ډیر ښه دهغه، دا هغه کسان دی

هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝١٨ اَفَمَنْ

هَدٰىهُمُ	اللّٰهُ	وَاُولٰٓئِكَ	هُمْ	اُولُوا	الْاَلْبَابِ	اَفَمَنْ
چی سمه لاره ښوولی ده دوی ته	الله	او دغه کسان	هم دوی دی	خاوندان	دخالصو عقلونو	آیا هغه څوک

چی سمه لاره ښوولی ده دوی ته الله او دغه کسان هم دوی دی خاوندان دخالصو عقلونو. آیا هغه څوک

حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ فِي النَّارِ ۝١٩ لٰكِنِ

حَقَّ	عَلَيْهِ	كَلِمَةُ	الْعَذَابِ	اَفَاَنْتَ	تُنْقِذُ	مَنْ فِي النَّارِ	لٰكِنِ
چی واجب سوی وی	پر ده	حکم	دعذاب	آیا پس ته	خلاصولی سی	هغه څوک چی په اور کښی وی	لیکن

چی واجب سوی وی پر ده حکم دعذاب آیا پس خلاصولی سی ته هغه څوک چی په اور کښی وی. لیکن

الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ

الَّذِيْنَ	اتَّقَوْا	رَبَّهُمْ	لَهُمْ	غُرَفٌ	مِّنْ فَوْقِهَا	غُرَفٌ	مَّبْنِيَّةٌ
هغه کسان	چی ډیریږی	له رب خپله	سته دوی ته	مانۍ	چی له پاسه دهغی	نوری مانۍ	جوړی کړی سوی

هغه کسان چی ډیریږی له رب خپله سته دوی ته مانۍ (په جنت کښی) چی له پاسه د هغی نوری مانۍ بنا کړی سوی دی

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَعْدَ اللّٰهِ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ۝٢٠

تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	وَعْدَ اللّٰهِ	لَا يُخْلِفُ	اللّٰهُ	الْمِيْعَادَ
چی بهیږی	له لاندی د مانیو دهغه	ویالی	وعده کول د الله	نه کوی مخالفت	الله	له وعدی خپلی

چی بهیږی لاندی د مانیو ویالی (وعده کړی ده) وعده کول د الله، نه کوی مخالفت الله له وعدی خپلی.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ

اَلَمْ تَرَ	اَنَّ	اللّٰهَ	اَنْزَلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَسَلَكَهٗ	يَنَابِيْعَ	فِي الْاَرْضِ
آیا نه وینی ته	بیشکه!	الله	نازلی کړی دی	له آسمانه	اوبه	پس روانی کړی دی دا	په چینو روانو	په مځکه کښی

آیا نه وینی ته بیشکه! الله نازلی کړی دی له آسمانه اوبه پس تنه ایستلی یئ دی دا (اوبه) په چینو روانو په مځکه کښی

فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ.. داسمان څخه اوبه نازلول يو عظيم الشان نعمت دی: ينابيع دينبوع جمع ده چي معنی يي ده دمځکي څخه راوتونکي چيني: مطلب دادی چي دآسمان څخه اوبه نازلول يو عظيم الشان نعمت دی مگر ددې نعمت که دمځکي دننه دمحفوظ کولو انتظام نه کيدای نو انسان به ددې څخه صرف دباران په وخت کي ددې متصل يو څو ورځي فائده اخيستی سوه حال داچي اوبه دده دژوند مدار او داسي ضرورت دی دکم څخه چي دی يوه ورځ هم بې حاجته کيدای نه سي په دې وجه الله جَلَّ جَلَالُهُ صرف ددې نعمت په نازلولو بس ونه فرمايل بلکي ددې دمحفوظه کولو عجيبه عجيبه اسباب يي وفرمايل څه خو دمځکي په ژوررو ځايونوحوضونو او تالابونوکي محفوظي کيږي او واوري بيا دډيري لويي ذخيري په شکل کي دغرونو پر سرونو باندي ساتل کيږي په کم سره چي ددې د خرابيدو امکان نه پاته کيږي بيا هغه واوره کرار اورول کيږي دغرونو درگونو په ذريعه په مځکه کي ننوزي.
معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۷۸

ثُمَّ يُخۡرِجُ بِهٖ زَرۡعًا مُّخۡتَلِفًا اَلۡوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيۡجُ فَتَرٰىهُ مُصۡفَرًّا

ثُمَّ	يُخۡرِجُ	بِهٖ	زَرۡعًا	مُّخۡتَلِفًا	اَلۡوَانُهٗ	ثُمَّ	يَهِيۡجُ	فَتَرٰىهُ	مُصۡفَرًّا
بیا	راوباسی	په دغو سره	کښت	داچی مختلف وی	رنګونه دهغه	بیا	وچ سی	پس وینی ته هغه شین رنګی	تک زېړ

بیا راوباسی په دغو (اوبو) سره کښت حال داچی مختلف وی رنګونه د هغه بیا وچ سی پس وینی ته هغه شین رنګی تک زېړ

ثُمَّ يَجۡعَلُهٗ حُطَامًا ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَذِكۡرٰى لِاُولِى الۡاَلۡبَابِ ۝۲۱ ع ۲/۱۲

ثُمَّ	يَجۡعَلُهٗ	حُطَامًا	اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَذِكۡرٰى	لِاُولِى	الۡاَلۡبَابِ
پس	ګرځوی دغه کښت	رژيدلی مات سوی	بیشکه!	په دغو کښی	خامخا ډیر لوی پند دی	خاوندانو	دعقلونو ته

پس ګرځوی دغه کښت رژيدلی مات سوی بیشکه! په دغو کښی خامخا ډیر لوی پند دی خاوندانو د خالصو عقلونو ته.

اَفَمَنۡ شَرَحَ اللّٰهُ صَدۡرَهٗ لِلۡاِسۡلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوۡرٍ

اَفَمَنۡ	شَرَحَ	اللّٰهُ	صَدۡرَهٗ	لِلۡاِسۡلَامِ	فَهُوَ	عَلٰى	نُوۡرٍ
آیا پس هر هغه ښوک چی	چی خلاصه کړی	الله	سینه د ده	اسلام ته	پس وی به دی	پر	رڼا

آیا پس هر هغه ښوک چی پرانستلی او ارته کړی وی الله سینه د ده اسلام ته پس وی به دی په رڼا (د هدایت)

مِّنۡ رَّبِّهٖ ؕ فَوَيۡلٌ لِّلۡقٰسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ مِّنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ

مِّنۡ رَّبِّهٖ	فَوَيۡلٌ	لِّلۡقٰسِيَةِ	قُلُوۡبُهُمۡ	مِّنۡ ذِكۡرِ	اللّٰهِ	اُولٰٓئِكَ
له (طرفه) د رب خپل	پس افسوس دی	(هغو کسانو ته) چی سخت وی	زړونه د دوی	له ذکره	دالله	دغه کسان

له (طرفه) د رب خپل پس افسوس هلاک خرابی د هغو کسانو ته چی سخت وی زړونه د دوی له ذکره د الله، دغه کسان

فِيۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ۝۲۲ اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحۡسَنَ الۡحَدِيۡثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا

فِيۡ ضَلٰلٍ	مُّبِيۡنٍ	اَللّٰهُ	نَزَّلَ	اَحۡسَنَ	الۡحَدِيۡثِ	كِتٰبًا	مُّتَشَابِهًا
په ګمراهی	ښکاره کښی دی	الله	نازل کړی دی	ډیر بهترین	کلام	کتاب	مشابه یو له بل سره

په ګمراهی ښکاره کښی دی. الله تعالی ته نازل کړی دی ډیر ښائسته خوږ کلام کتاب مشابه یو له بل سره

مَّثَانِيَ ۖ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُوۡدُ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ۚ ثُمَّ تَلِيۡنُ

مَّثَانِيَ	تَقۡشَعِرُّ	مِنۡهُ	جُلُوۡدُ	الَّذِيۡنَ	يَخۡشَوۡنَ	رَبَّهُمۡ	ثُمَّ	تَلِيۡنُ
بیا بیا ویلی سی آیاتونه یئ	چی ریږدی	له ده ښخه	پوستکی	دهغو کسانو	چی بیریږی	له ربه خپل	بیا	پاسته سی

مکرر غبرګ (دی). چی لړځیږی ریږدی ځیګ کیږی له ده پوستکی دهغو کسانو چی بیریږی له رب خپل بیا پاسته سی

اَفَمَنۡ شَرَحَ اللّٰهُ صَدۡرَهٗ لِلۡاِسۡلَامِ فَهُوَ. دایمان نورچي دانسان په زړه کي داخل سي نو زړه يي فراخه سي: دشرح صدر معنی دزړه فراخي ده چي مطلب يي دادی چي په زړه کي ددې استعداد موجود وي چي هغه په تکويني اياتونو دالله جل جلاله اسمان مځکه او په خپله په خپل پيدايش وغيره کي فکر وکي او عبرت حاصل کړي دغه رکم دالله جل جلاله کم اياتونه چي په صورت دکتاب او احکامو نازليږي په هغه کي فکر وکي او فائده حاصله کي: دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ښخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم کله دا آيت تلاوت کړی نو موږ پوښتنه ورښخه وکړه چي دشرح صدر ښه مطلب دی؟ دوی وفرمايل چي کله دايمان نور دانسان په زړه کي داخل سي نو دده زړه فراخه سي چي په دې سره دالله جل جلاله په احکامو پوهيدل او عمل په کول دده دپاره آسانه سي موږ عرض وکی چي يا رسول الله ددې شرح صدر نښه ښه ده؟ ده وفرمايل چي دآخرت دکور طرف ته مايله کيدل او ددنيا ښخه ليري اوسيدل او تر مرګ مخکي هغه ته تياري کول
معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۷۹

جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ

جُلُوْدُهُمْ	وَقُلُوْبُهُمْ	اِلٰى ذِكْرِ	اللّٰهِ	ذٰلِكَ	هُدَى	اللّٰهِ	يَهْدِيْ
پوستکی ددوی	اوزړونه ددوی	طرف دیادولو	دالله ته	دغه (قرآن)	هدایت دی	دالله	سمه لاره ښیی

پوستکی د دوی او زړونه د دوی طرف د یادولو د الله ته دغه (قرآن) هدایت دی دالله سمه لاره ښیی الله

بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ٢٣

بِهٖ	مَنْ يَّشَآءُ	وَمَنْ	يُّضْلِلِ	اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ هَادٍ
په دغه سره	هر هغه چاته چي اراده وفرمائی	او هر څوک چي	ویئ ښویوی	الله	پس پيدا به نسی هغه ته	هیڅوک لاره ښوونکی

په دغه سره هر هغه چاته چي اراده وفرمائی او هر څوک چي ویئ ښویوی الله پس پیدا به نسی هغه ته هیڅوک لاره ښوونکی .

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَقِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ	بِوَجْهِهٖ	سُوْٓءَ	الْعَذَابِ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	وَقِيْلَ	لِلظّٰلِمِيْنَ
آیا پس هغه څوک چي ځان ساتی	په مخ خپل سره	له سختی	دعذاب	دورځی	دقیامت	او وبه ویلی سی	ظالمانو ته

آیا پس هغه څوک چي ځان ساتی په مخ خپل سره له سختی دعذاب د ورځی د قیامت او وبه ویلی سی ظالمانو ته

ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ٢٤ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

ذُوْقُوْا	مَا كُنْتُمْ	تَكْسِبُوْنَ	كَذَّبَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
چي وڅکئ	جزاد هغه عمل چي وئ تاسی	چي کاوه به مو	دورغجن شمیرلی وو	هغو کسانو	چي پخوا له دوی څخه وو

چي وڅکئ دهغه عمل چي وئ تاسی چي کاوه به مو (هم داسی) دروغجن شمیرلی وو هغو کسانو چي پخوا له دوی څخه وو

فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ٢٥ فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ

فَاَتٰىهُمُ	الْعَذَابُ	مِنْ حَيْثُ	لَا يَشْعُرُوْنَ	فَاَذَاقَهُمُ	اللّٰهُ	الْخِزْيَ
پس رابه غلی دوی ته	عذاب	له داسی طرفه	چي نه به پوهیدل	پس وبه څکوله په دوی	الله	خواری، رسوایئ

پس رابه غی دوی ته عذاب له داسی طرفه چي نه به پوهیدل. پس وبه څکوله په دوی الله خواری او رسوائی

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ٢٦

فِي الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَلَعَذَابُ	الْاٰخِرَةِ	اَكْبَرُ	لَوْ كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ
په دغه ژوندون	د دنیا کښی	او خامخا عذاب	دآخرت	ډیر لوی دی	که چیری وی دوی	په دی عالمان

په دغه ژوندون د دنیا کښی او خامخا عذاب د آخرت ډیر لوی دی که چیری وی دوی په دی عالمان .

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

دجهنم دعذاب بیان : په دغه ایت کي الله جل جلاله دجهنم د سخت هولناک کیدو بیان کړی دی چي دانسان عادت په دنیا کي دادی چي څه تکلیفي شی مخ ته ورته راسي نو خپل لاسونه او پښي دمخ دمحفوظه کولو دپاره سپر جوړوي او په دوی سره دخپل مخ ساتنه کوي مگر دقیامت په ورځ به جهنمیانو او دوږخیانو ته دغه پناه اخیستل د لاسونواو پښو په ذریعه هم نه وي حاصل. پر دوی چي کم عذاب راسي هغه به سیده ددوی پر مخونو باندي راځي که څه هم دوی مدافعت کول وغواړي نو مخ به سپر جوړوي ځکه چي په جهنم کي به دی په لاسونو او پښو تړلی غورزول کیږي نعوذ بالله منه. دتفسیر شریف په امامانو کي حضرت عطاء ابن زید رحمة الله علیه فرمایي چي جهنمي به جهنم ته په لاسونو او پښوتړلی وغورزول سي نو الله جل جلاله فرمایي کم سړی چي خپل مخ دقیامت دورځي سخت عذاب ته سپر کوي نو داسي ظالمانو ته به حکم وسي چي تاسي څه په دنیا کي کول اوس د هغه خوند وڅکی الخ.

معارف القرآن ج٨ پ٢٣ ص١٨١

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ

وَلَقَدْ	ضَرَبْنَا	لِلنَّاسِ	فِيْ هٰذَا	الْقُرْاٰنِ	مِنْ كُلِّ مَثَلٍ
او خامخا په تحقيق	بيان كړى دى موږ	خلكو ته	په دغه	قرآن كښى	له هر قسم مثالونه

او خامخا په تحقيق بيان كړى دى موږ خلكو ته په دغه قرآن كښى له هر مثله ددينى امورو چې ضرورت ورته وى

لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ

لَّعَلَّهُمْ	يَتَذَكَّرُوْنَ	قُرْاٰنًا	عَرَبِيًّا	غَيْرَ ذِيْ	عِوَجٍ
دپاره د دې چې دوى	پند واخلى	دا قرآن دى	په عربي ژبې سره	چې نه دى خاوند	دكوږوالى

دپاره د دې چې دوى (پرى) پند واخلى. دا قرآن دى لوستلى سوى په عربي ژبې سره چې نه دى خاوند دكوږوالى

لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۲۸﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ

لَّعَلَّهُمْ	يَتَّقُوْنَ	ضَرَبَ	اللّٰهُ	مَثَلًا	رَّجُلًا	فِيْهِ
دپاره ددې چې دوى	پرهيزګاران سى	بيانوى	الله	يو مثل	چې يو سړى وى (مريى)	چې وى په ده كښې

دپاره ددې چې دوى وساتلى سى (له معاصيوو) . ترې الله يو مثل چې يو سړى وى (مريى) چې وى په ده كښې

شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ

شُرَكَآءُ	مُتَشٰكِسُوْنَ	وَرَجُلًا	سَلَمًا	لِّرَجُلٍ	هَلْ يَسْتَوِيٰنِ	مَثَلًا
(ډير) شريكان	ټول بدخويه سره ناسازه	او يو بل سړى وى	سلامت ټول	ديوه سړى وى	آيا برابر دى سره دغه دواړه	په مثال كى

(ډير) شريكان ټول بدخويه سره ناسازه او يو بل سړى وى سلامت ټول د يوه سړى وى آيا برابر دى سره دغه دواړه مثلونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ

اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	بَلْ	اَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	اِنَّكَ	مَيِّتٌ	وَّاِنَّهُمْ
ټوله ثناء صفت	خاص الله ته دى	بلكه	زياتره دخلكو	نه پوهيږى	بيشكه! چې ته	هم مړكيدونكى يئ	او بيشكه! دوى هم

ټوله ثناء صفت خاص الله ته دى ، بلكه زياتره د خلكو نه پوهيږى ، بيشكه! چې ته هم مړ كيدونكى يئ او بيشكه! دوى هم

مَّيِّتُوْنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴿۳۱﴾ ع

مَّيِّتُوْنَ	ثُمَّ	اِنَّكُمْ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	عِنْدَ	رَبِّكُمْ	تَخْتَصِمُوْنَ
مړه كيدونكى دى	بيا	بيشكه! تاسى به	په ورځ	دقيامت كښى	په نزد	درب خپل	جګړه كوى د يو بل سره

مړه كيدونكى دى بيا بيشكه! تاسى به په ورځ دقيامت كښى په نزد درب خپل جګړه كوى د يو بل سره

ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ

دمحشر په عدالت كي دمظلوم حق دظالم څخه دوصولولو صورت:

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي دلته په لفظ د انكم: كي مومن او كافر او مسلمان ظالم او مظلوم ټول داخل دي دوى ټول به خپل خپل مقدمات دخپل رب په عدالت كي پيش كړي او الله جل جلاله به دظالم څخه دمظلوم حق واخلي او وربه يي كړي هغه كه كافر وي او كه كه مومن. او صورت ددغه حقوقو داداء كولو به داوي كم چي په صحيح بخاري كي دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت راغلى دى چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي دكم سړي پر ذمه دچا حق دى هغه ته پكار دي چي په دنيا كي هغه اداء كي يا يي ورڅخه معاف كړي چي حلال سي ځكه چي په آخرت كي به روپى او پيسې نه وي كه دظالم سره څه نيک عملونه وي نو په مقدار دظلم به داعملونه دده څخه اخيستل كيږي او مظلوم ته به وركول كيږي او كه نيكى نه وي نو دمظلوم بدى او گناهونه به دهغه څخه واخيستل سي پر ظالم به وغورځول سي.

معارف القرآن ج۸ پ۲۳ ص۱۸۳

ع ۳ / ۱۷